فتح الرحمٰن

فی

ترجمة القرآن وتفسیر الفرقان

جلد اول

مکتبہ

جامعہ تعلیم القرآن

توحید آباد ترخو

باجوڑ

★ اَلرَّحْمٰنُ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ۝ خَلَقَ الْاِنْسَانَ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ۝ (سورۃ الرحمن)

★ وَقُرْاٰنًا فَرَقْنٰهُ لِتَقْرَاَهٗ عَلَى النَّاسِ عَلٰى مُكْثٍ وَّنَزَّلْنٰهُ تَنْزِيْلًا ۝ (سورۃ بنی اسرائیل)

★ وَلَا يَاْتُوْنَكَ بِمَثَلٍ اِلَّا جِئْنٰكَ بِالْحَقِّ وَاَحْسَنَ تَفْسِيْرًا ۝ (سورۃ فرقان)

فتح الرحمٰن

فی

ترجمۃ القرآن و تفسیر الفرقان

لاحقر عباد اللہ الباری محمد عبد الجبار الباجوری عفی عنہ

غفرلہ ولوالدیہ ولمشائخہ ولاھل بیتہ ولجمیع المؤمنین
والمؤمنات الاحیاء والاموات

جلد اول

جامعہ دار العلوم تعلیم القرآن توحید آباد ترخو باجوڑ ایجنسی

نــــوم : فتح الرحمن
فی ترجمة القرآن وتفسیر الفرقان

مصنف : شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا محمد عبد الجبار حفظه الله تعالی
مدیر: جامعه تعلیم القرآن توحید آباد ترخو باجوړ ایجنسی

زیراهتمام : ابو حسان عبدالسبحان "ظهیر"
خادم درس وافتاء جامعة هذه 0301-4054855

تــعــداد : ۱۱۰۰

پـریـس : الهدی پرنټرز محله جنګی پېښور 0300-5991873 / 2580182

چــاپ : طبع نهم

میلاو پته

- الهدی پرنټرز ندیم ټریډ سنټر محله جنګی پېښور
- مکتبة الزبیر پنج پیر صوابی
- اشاعت اکیډمی محله جنګی پېښور
- مکتبة الاشاعت محله جنګی پېښور
- مرکزی کتب خانه لغړی بازار باجوړ ایجنسی
- مکتبه رحیمیه خار باجوړ ایجنسی
- اسلامی کتب خانه خار باجوړ ایجنسی
- مکتبة الخیر عنایت کلی باجوړ ایجنسی
- مکتبه زاهد الرحمن پنج پیر صوابی

ناشر

مکتبه جامعه تعلیم القرآن توحید آباد ترخو باجوړ

دَ مُصنِّف دَ ژوند حالات

اُستاذ محترم حضرت شیخ القرآن له چه الله کوم صفات او کمالات ورکړی دی دهغې احاطه په یو څو پاڼو کښې سمندر په کوزه کښې دَ بندولو مترادف دی لیکن " مالا یدرك کله لا یترك کله " په بناء باندې دَ قلم دَ اوچتولو زړه ورتیا کوم. بل طرفته مولانا صاحب په عوامی او عِلمی حلقو کښې محتاج تعارف نه دے ځکه چه دَ هر عام وخاص په خوشحالئ او غم کښې دَ شرکت او دَ دِین دَ خدمت له کبله دَ هر یو انسان زړهٔ پورته دے بلکه زمونږه تعارف هم دَ هغوی په نسبت مونږ کیږی. ځنګه چه دَ اولیاؤ ذات باعثِ برکت و رحمت وی نو دغه رنګ دَ هغوی تذکره هم باعثِ برکت او نزولِ رحمت وی. لکه سُفیان بن عُیینه" فرمائی. " عند ذکر الصالحین تنزل الرحمة " (دَ نیکانو دَ تذکرے په وخت رحمت نازلیږی) نو په دے بناء باندے دَ حصولِ برکت دَ پاره دَ هغوی تذکره فقط دَ محبت او عقیدت تذکره ده چه دَ بلا واسطه او بالواسطه تلامذهٔ په زړونو کښې دَ دوی په تذکره سره محبت او عقیدت مزید پوخ شی.

نوم او نسب : دَ مولانا صاحب نسب نامه څهٔ په دا سے طریقه ده. محمد عبد الجبار بن جناب مغل خان صاحب بن جناب عمر خان بن جناب عبد الرحیم بن جناب محمد سلیم (غفر الله له ولهم اجمعین)

تاریخ پیدائش او وطن : یقینی تاریخ پیدائش خو نه دے معلوم ځکه چه پښتنو کښې عموماً او باجوړ کښې خصوصاً پخوا دَ داسے معلوماتو اهمیت نه وُو لیکن دَ دوی دَ والدے محترمے (رحمها الله) دَ وینا مطابق دَ دوی پیدائش غالباً ۱۳۴۳ھ یا ۱۹۲۵ء کښې دَ باجوړ ایجنسی لوئ ماموند وګواتی کلی کښې په یو عِلمی او مذهبی کورنئ کښې اوشو. دَ دوی نه مخکښې ځلور خویندے پیدا شوے وے نو دَ دوی په پیدائش خاندان ته ډیره خوشحالی مِلاؤ شوه. دَ دوی نوم جناب قاضی صاحب معروف به "بنوته قاضی" چه دَ ګواتی مولانا صاحب ورور وُو کیښودو دَ دوی دَ پیدائش نه تقریباً یو کال مخکښې دَ دوی والد صاحب بل واده هم کړے وُو.

خط و کتابت او ابتدائی تعلیم :- دَ مشرانو دَ وینا مطابق مولانا صاحب په ماشوموالی کښې کما موحلکا نو پشان دَ لهو لعب شوق نه لرلو بلکه دَ خپل سبق په یادولو کښې به همه وقت مصروف وُو.

ناظره قرآن او ابتدائی کتابونه دوی دَ خپل والد محترم او دَ مختلفو استاذانو نه ویلی دی. تقریباً په ۱۳۴۸ھ ۱۳۴۹ھ کښې دوی دَ فارسی پښتو خطونه انشاء کریم او مراسلات دَ ترخو کلی په مکتب کښې چه دَ افغانستان دَ طرفه وُو او دَ دے ترهٔ الحاج مرزا فضلِ احمد مرحوم پکښې مُعلم وُو، اینده کړل او په خوشخطئ او کتابونو کښې دَ مکتبهٔ

ملګرو بانډې فائق وُو بلکه کله به چه استاذ محترم موجود نه وُو نو دوی به دَ هغوی وظیفه اجرا کوله، په ملګرو به ئے ځواری کوله ګویا دوی دَ مکتب نائب مُعلّم وُو. دَ خط او کتابت نه بعد ئے دَ علمِ دین حاصلولو دپاره طالب علمی اختیار کړه او پېښور کښې "مسجد مهابت خان ګلاب خانه - ډهکی دالګران - یکه توت وغیره کښې وسیدلو او دَ ډېرو علماءِ کرامو نه ئے فیض حاصل کړو چه دَ هغوی ذکر به روستو راځی - په مدرسه اشرفیه، قاسمیه، کریم پوره وغیره مدرسو کښې ئے داخلے وکړے -

دورۂ تفسیر القرآن الکریم

په ۱۳۸۵ھ کښې اول ځل ترجمه او تفسیر مولانا صاحب په جامعه اشرفیه پښاور کښې چه دغه وخت په مسجد مهابت خان کښې وه دَ مولانا میاں ضیاء الدین رحمه الله نه او په دویم ځل ئے جامعه قاسمیه پېښور کښې دَ مولانا محمّد عزیز صاحب مدّ ظلّه نه کړے وه - دَدے ځائے نه دَ مولانا صاحب پنجپیر دَ تللو شوق پیدا شو ځکه چه دا دواړه دَ حضرت شیخ القرآن رحمه الله شاګردان وُو او بیا دَ مولانا میاں ضیاء الدین باجوړی په دے الفاظو سره "شفقة" ترغیب فرمائیل، فرق ئے قابل سړے ئے او ترتیا مته وضد تېنګ کړے دے ا ترجمه نکوے -

دَ حضرت شیخ القرآن رحمه الله شفقت

نو ۱۳۸۶ھ کښې مولانا صاحب پنجپیر ته تشریف یوړو او دَ شیخ القرآن رحمه الله نه ئے دورۂ تفسیر وکړه - شیخ القرآن رحمه الله خو دَ "المؤمن ینظر بنور الله" نمونه وُو نو دَ مولانا صاحب استعداد، قابلیت، صلاحیت او وفاداری ورته ښکاره وه نو په دے وجه ئے دَ دوی سره خصوصي شفقت فرمائیلو، "مشت نمونهٔ خروار" دَ ترجمے دَ سند ورکولو دپاره دَ شیخ القرآن رحمه الله دوه شرطه وُو لیکن هغوی بیا هم بغیر دَ چېلنج دوی له سند ورکړو - دَ فراغت نه بعد هم وړے دورے له تللو. په آخری دورۂ تفسیر کښې دَ چهارشنبے په ورځ ۱۷ شوال ۱۴۰۶ھ — ۲۵ جون ۱۹۸۶ء کښې حضرت شیخ القرآن رحمه الله اوفرمائیل چه دَ باجوړ ملګری دِ راځی کښې شي او نور طلباء دِ بهر ته کېني او دَ نورو خبرو نه علاوه ئے اوفرمائیل: چه دَ چا تائید عبد الجبار تنکوی هغه دَ سند واپس کیف دَ دهٔ طالبان خپل طالبان دی، دَ دهٔ مدرسه خپله مدرسه ده، دَ دهٔ سره تعاون وکړئ. دَ تنظیم المدارس دَ شورئ دَ پاره صرف دا حاضر شوے وُو، نور څوک نهٔ وُو راغلی. شیخ القرآن رحمه الله په "بقیة الآثار" قلمي کښې دَ یو خو وفادارانو شاګردانو نومونه لیکلي دی. منجمله دَ هغوی نه دَ دوی نوم هم وُو. دَ سورۂ انعام په درس کښې ئے یو ځل اوفرمائیل: که چرے څوک دَ ملګرو چغه اوکړم نو دَ سوات افضل خان

د باجوړ عبدالجبار اوډ بارے سمیع الحق به پاتے شی۔ تول عمرئے مولانا موصوف سره د خطاء نه ښوو زغلے او بیا د باجوړ پرنټ پسماندہ علاقے ته د دوی په دعوت راتلل بلکه یو ځل ئے اوفرمائیل چه د ښورو خلقو په د ګرامونه وی نو زه به وخت ورکوم او عبدالجبار چه کله او واؤ نو زه به ور سره ځم۔ د اولے دورۂ تفسیر نه بعد بیا ورپړ دورۂ تفسیر وته بار بار حاضر شویے۔

موقوف علیه او دورۂ حدیث

په ۱۳۸۸ھ کښې د فنونو د تحصیل نه بعد چه کله دوی د موقوف علیه اراده اوکړه نو شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا محمد طاهر رحمه الله دوی له د شیخ الحدیث حضرت مولانا عنایت الرحمٰن رحمه الله اچه په دغه وخت کښې د جماعت اشاعة التوحید والسنة نائب امیر وو او په مدرسه رحمانیه خوشحال ګړهـ ضلع مردان کښې موقوف علیه درس کوُلو په دغه وخت کښې د امشهوره دورۂ وه ؛ په نوم یو خط ورکړه چه په دوی باندې ئے د خپل اعتماد اظهار کړے وو چه خواری کوو سکلے تلے ته قابلیت ان درلیږم منجمله د ځغونه حامل رُقعه دے۔ او بیا په ۱۳۸۹ھ کښې هم د شیخ القرآن رحمه الله په اجازت د غه مدرسے ته لاړو۔ او دورۂ حدیث ئے اوکړه او د دورۂ حدیث د افتتاح د پاره شیخ الحدیث د شیخ القرآن رحمه الله نه وخت اخستے وو۔ هغوی تشریف راوړو او د بخاری شریف افتتاح ئے وکړه د موقوف علیه نه مخکښې دوی د مولانا عبدالرحیم چترالی صاحب نه په پېښور کښې مشکوٰة المصابیح اعزازی ویلے وُو نو دغه امتحان کښې په ټولو ملګرو او مدرسه کښې اول نمبر راغلے وُو او د مشکوٰة ټولے نمبرے ۵۰ وے او دوی له ئے دوه نمبرے اعزازی یعنی ۵۲ ورکړے وے او ۱۵ روپئی ورته انعام مِلاؤ شوے وُو چه په دغه وخت کښې دا کافی روپئی وے۔ او بیا دلته موقوف علیه او دورۂ حدیث کښې هم ښے نمبرے اخستے وے۔ د دورۂ حدیث په امتحان کښې پخپل هم درس ملګرو کښې اول نمبر راغلے وُو۔ د بخاری شریف او ابو داؤد شریف قراءة هم د دوی په ذمه وُو۔ د خپل په ورځ ۸۔ شعبان ۱۳۹۰ھ کښې د دوی فراغت اوشو او تقریبًا د ۲۰ کالو د تعلیم دا دورانیه اختتام ته اورسیده۔

د طالب العلمئ د دور انجمنے

څنګه چه په عام مدارسو کښې د طلبا د انجمن منعقد کیږی او په هفته کښې د تقریر او بیان مشق کیږی او نوے نسل د اَئنده چیلنجز د مقابلے د پاره تیارے کوی نو دغه رنګه په زمانه د طالب العلمئ پېښور او شیر ګړهـ کښې به هم د طلباؤ انجمن منعقد کیدو چه مولانا صاحب به د ناظم اعلیٰ په حیثیت سره یکښې خپل جوهر ښکاره کړُلو او دیته به کله اساتذه کرام هم حاضریدل لکه

په دغه کال [illegible]

شیخ القرآن رحمه الله مولانا عنایت الرحمن رحمه الله مولانا عبد السلام صاحب وغیره او په یو ۲ موقعه کښې دوی په عربۍ کښې خطبهٔ استقبالیه هم پیش کړے وه چه هغه بیا روستو چهاپ شوه - دا ابیات د دار القرآن فنجفیر په حقله ورته بعض ابیات دادی،

وهذا انّ هذه الاکبحر ۞ غزیر ماءه عذب المجاری
وعم الفیض منه لکل فرد ۞ وسار من الدیار الی الدیار
الی سوات وباجور و دیر ۞ ومهمند ز امن فیض الباری
وافغان ونورستان ایضا ۞ وبنیر وشترال فاشعار الخ

دَ اهلِ بدعت سره مناظرے

کله چه الله تعالی مولانا موصوف ته دَ

شیخ القرآن رحمه الله شرف تلمذ ورنصیب کړو نو دَ شرك بدعت رسم رواج سره دَ دوی نفرت شو او دَدے دَ ختمولو دپاره ئے جد وجهد شروع کړو نو دَ هغے دپاره دَ بیانا تونه علاوه اهلِ بدعت سره مناظرے هم شاملے دی. دَمنَ مقابل په زړه کښې چه اخلاص او دَ حق قبلولو جذبه نه وی نو مناظره فقط تضیع وقت دے لیکن بیا هم دَدے په ذریعه سره دَ عوامو مخے ته دَ مدّ مقابل باطل پرستی ښکاره شي نو دوی دَ احقاق حق او دَ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ دَ تقاضو دَ پوره کولو دپاره براه راست دَ طالبئ او روستو دَ ورکښې مناظرے هم کړی دی او مخالفین ئے شکست سره مخامخ کړیدی - دَ دَهکئ پیښور دَ سکونت په دور کښې یو پیر سره دَ مُریدانو راغے او ذکر جهری ئے شروع کړو نو دَ هغه سره ئے بحث مباحثه اوکړه بیا دغه پیر په دے کتاب ولیکلو چه دَ اغلاطونه ډك وُو او دوی هم دَ هغه په رَد کښې کتاب ولیکلو. دَ خوشحال ګړهي په دَور کښې په ۱۱ محرم ۱۳۳۹ھ دَ بد عتیانو سره دَ قضاء عُمرئ په مسئله مناظره کړے وه - په ۲۲ صفر ۱۳۳۹ھ کښې په مسئله دَ بیرکهٔ فلان مناظره کړے وه او مدّ مقابل ته ئے مسکت جوابات ورکړی وُو - په ۲۷ ربیع الثانی ۱۳۳۸ھ کښې دَ مولوی حمد الله جان ډاګئ سره مناظره کړے وه او هغه په دے چه دَ مولانا صاحب یو ملګری دا مسئله کړے وه چه دَ کومو ځمکو دَ اوبو مالیه حکومت اخلی نو هغه کښې نصف العشر یعنی شلمه حصه ده او لسمه بهتره ده. مولانا محمد ګلاب افغانی مناظر وُو او مولانا صاحب او مولوی عبد الله افغانی او مولوی محمد زمین صاحب دیروجی معاونین وُو. مناظره اُوشوه او ثالث دَ مولانا موصوف او دَ دوی دَ ملګرو په حق کښې فیصله اوکړه. بیا دوی دَ بیا مناظرے چیلنج ورکړو لیکن هغه عُذر اوکړو. په شرقي افغانستان کښې دَ یو سری په مجلس کښې دُعا بعد الثنن بهیئهٔ اجتماعی مستحسن ګڼړل او دَ مولانا موصوف مسکت جوابات ورکړل . په ورځ دَ جمعے ۱۷ رمضان المبارک

۱۳۹۱ھ دَ قلعه ګواني دَ زوړ جمات دَ کوټې دَ پاسه دَ یو مولوي صاحب سره دَ حیله٬ اسقاط مروجه په موضوع بحث مباحثه او دَ هغهٔ لاجوابه کیدلُ وُو چارمنګ کښ دَ یو صاحب سره په شومره مناظره شوے وه۔ دلائل ئے دَ غنمو (جوالګئ) جالونه وُو۔ مسکت جوابات ورکړے شول بیا بل تاریخ مقرر شو لیکن هغه دَ وېرے نه هغه تاریخ ته حاضر نشو۔ په ۳ رجب المرجب ۱۳۹۲ھ کښ جناب مولانا حیات فقیر صاحب رالغلو او دَ تند اتوک سلارزو جناب عبد الحمید صاحب الحق وروړ ورسره وُو دوی اوفرمائیل چه تند اتوک کښ بد عتیان راجمع شوی دی او دوی ته ئے دَ مناظرے چیلنج ورکړے دے۔ دوی ورسره لاړل لیکن هغوی خبر شوی وُو او د وقت مقرره دَ ویرے دَ وجه حاضر نشول بیا دوی بیانات وکړل او واپس شول۔

بیعت

حضرت شیخ القرآن رحمه الله دَ نقشبندی مجددی طریق سلوک کښ دَ خپل استاد شیخ القرآن مولانا حسین علی رحمه الله نه بیعت وُو نو مولانا موصوف په ورځ دَ جمعے ۱۸۔ شوال ۱۳۹۵ھ دَ سحر مانځه نه بعد دَ خپل شیخ دَ نقشبندی په سلسله کښ بیعت اوکړو او دَ ذکر خفی سبق ئے واخستلو اګرچه دَ دینه مخکښ رسمی طور بانے دَ شیخ الحدیث والفنون حضرت مولانا محمد عبد الخالق نور الله مرقده دَ کتکوت باجوړ نه هم بروز زیارت ۲۲۔ جمادی الاولی ۱۳۹۲ھ په کلمه طیبه او په ورځ دَ سه شنبے ۲۳۔ رمضان المبارک ۱۳۹۳ھ په الله الله او په ماه شوال ۱۳۹۵ھ په هو الله او په ذکر خفی الله الله بانے هم بیعت اخستے وُو دَ همه رنګه دَ پیر طریقت و شریعت خطیب بے بدل حضرت مولانا شاه عنایت الله شاه بخاری نه ئے هم وظائف اخستی وُو۔

شعر او شاعری

مولانا موصوف له الله تعالی دَ شعر او شاعری ملکه هم ورکړے ده او یو ښکلے شاعر دے، په مختلفو موقعو لکه دَ جهاد په موضوع، دَ حج نه دَ واپسئ په موقعه، دَ وفات مرثیه، دَ حجاجو رخصتیو په موقعه ئے بهترین اُوبده او لنډی اشعار لیکلی دی۔ دَ دوی اشعار دَ غم او درد نه ډک او انسان عمل طرفته راکاږی۔ بطور نمونه یو څو کړئ ذکر کوم:

① اے ورورونو مؤمنانو وخت راغلے دَ جهاد
خوریږی په نړئ کښ نن ازمونه دَ الحاد
یو لاس شئ یو طاقت شئ یو موټے کړئ اتحاد
په یو آواز غبرګ وکړئ کمیونزم مرده باد

② حرم شریف راته یادیږی ❊ زړهٔ نهٔ صبریږی دَ حرم کوی یادونه

③ زړهٔ مې غمژن دے په افسوس افسوس تیریږم
دَ بیت الله نه رخصتیږم

④ اوښکے مې څاڅي زړهٔ غمژن لوند مې ګریوان دے ❊ دَ مدینے حرمه افسوس ارمان دے

دا د الوداع نظمونو شروع نه دی، نور اوږده اوږده نظمونه دی۔

رَدِّ بدعات او رسومات او دَ توحید او سُنّت دِپاره جدّ و جهد:

مولانا موصوف چه کله ۱۳۸۲ھ کښې فارغ شو او خپل وطن ته راغے نو علاقه کښې هر قسمه بدعات، رسومات او رسم و رواج عام وُو، دُعا بعد الجنازه، شومه، اسقاط مروجه، دَ قبرونو پخول، ذکر بالجهر، دَ قبرونو ښکلول، طواف ئے کول، قضا عمری وغیره او باطل پرستو مُلایانو ئے سرپرستی کوله او عوام ئے دَ قرآن نه لرے ساتل بلکه دَ قرآن ترجمه به ئے گناه گنړله۔ دوی دَ دعوت و تبلیغ، وعظ و ارشاد په ذریعه سره دَدے قباحتو دَ ختمولو او دَ بدعاتو مُنکراتو سخت تردید شروع کړه او دَ قرآن بنیادی موضوع توحید ئے خپله مشغله اوګرځوله ځکه قرآن واحد کتاب دے چه په دے سره دَ شرکیاتو او بدعاتو خاتمه کیږی۔ دَدے دِپاره به دوی مختلفو کلو ته تلل او دَ توحید مسئلے ئے کوله۔ په جلسو جلوسونو کښې، دَ جُمعے، استسقاء او جنازے په اجتماعاتو کښې، په بسه روزو دَ مناظرو په ذریعه سره ئے تردید دَ بدعاتو او شرکیاتو شروع کړو۔ له دے کبله دَ علاقے بدعتیان مُلایان او عوام دَ دوی مخالف شول او عداوت ئے شروع کړو او دَ مولانا موصوف او دَ هغه دَ خپلوانو دَ کورونو سوزولو دِپاره لښکرے اوشوے او قسما قسم الزامات پرے اولګیدل لیکن هغوی دا سفر جاری اوساتلو او دَ خپل استاد شیخ القرآنؒ دَ اعتماد حق ئے ادا کړو۔ دَ دیوے نه ډیوه بله شوه او ټوله علاقه ئے روښانه کړه۔ او دَ کومو باطل پرستو مُلایانو چه به عوامو کښې کوم شهرت او قوت وُو هغه الله تعالیٰ ختم کړو او س ئے په خپل کلی کښې هم لمنځی نه څوک نه شته۔ او س چه باجوړ کښې دَ کوم ځائے نه دَ قرآن اواز راځی دَ هغه محرک مولانا موصوف دے۔

دَ دروسِ قرآن ابتداء

هم په دے سلسله کښې مولانا صاحب دَ قرآن دَ درسونو اهتمام اوکړو۔ په ۱۳۹۰ھ کښې په خپل آبائی کلی ګوالئ کښې دَ خپلوانو دَ اصرار او دَ خپل شوق په بِنا دَ دورهٔ تفسیر آغاز وکړو بیا اتنده کال ۱۳۹۱ھ کښې په ترخو کلی کښې دورهٔ تفسیر وکړه او کلی والو ته ئے دَ مشکوٰة دَ درس نه علاوه په ۱۱ جمادی الاولیٰ ۱۳۹۱ھ کښې دَ سحر درس شروع کړو۔ دا درس اوس دَ مُستقل کید ونه بعد ما سخوتنی دَ دغه ځائے کلی والو ته کیږی۔ دَدے نه علاوه دَ روزے دَ میاشتے درس تر اوسه پورے قائم او دائم دے۔ او په جُمعه کښې یو ځل دَ ګټل په ورځ ۱۳۹۰ھ نه تر اوسه پورے دَ مقامی علماء کرامو په اصرار دَ باجوړ ایجنسی په مرکز ښار میرا علی قلعه ځات کښې درسِ قرآن ورکوی چه دَ لرے او نزدے ځائے علماء، طلباء او عوام پکښې شرکت کوی اګرچه اکثریت پکښې دَ علماؤ وی۔

دَمدرسے بُنیاد :

په ۲۳ ذی الحجه [illegible] کښ دَ خپلو دوستانو او دَعلاقے دَ با اثره خلقو په اصرار دَجامعه تعلیم القرآن ترخو بنیاد کیښودو او ۲۹ کاله دوی درس وتدریس وعظ وارشاد سلسله جاری وساتله او دَدوی دَپاره په ترخوکښ په ورځ دَ اتوار ۲ شعبان [illegible] دَکور دَ اباد‌ئ افتتاح اوشوه او دَ تعمیر نه بعد په ورځ دَ خپلی ۳ ذوالقعده [illegible] کښ دَ کوا‌ټ ته دلته منتقل شول۔

بیا دَ څه نامساعده حالاتو په بناء باندے دا مدرسه دَ ترخو کلی نه باهر ته رامنتقل شوه۔ دَ الله تعالیٰ په فضل وکرم سره دَمولانا موصوف دَ اخلاص او دَ استاذانو، دوستانو دَدعا په برکت سره په ورځ دَ زیارت ۱۱ رجب المرجب [illegible] کښ په نوی وخت کښ دَ ځپه مدرسے نه یوه مدرسه جوړه شوه او دَمدرسة البنات او دَ جمات اباد‌ی هم وشوه او مولانا موصوف په خپل ذاتی رقم او دَ مخصوص ملګرو په تعاون سره دَمدرسے سره متصل خپل کور هم تعمیر کړو۔

په مدرسه کښ دَ موقوف علیه او دورهٔ حدیث اغاز

دَ څوکلونو پورے دوی دَ شورو استاذانو سره فنونو درس کوو بیا څه موده روستو موقوف علیه شروع شوه او بیا [illegible] کښ دَ شیخ الحدیث حضرت مولانا ابوالتراب دوست محمد صاحب مدظلہ په عمر سره دَ دورهٔ حدیث ابتداء هم اوشوه او الحمدلله تاحال جاری ده۔

دَحضرت شیخ القرآن باجوړ ته تشریف اوری

دَمولانا موصوف په قربانئ سره

باجوړکښ الحمدلله دَ توحید او سُنت مینه دَ خلقو په زړونوکښ پیدا شوے وه نو دَ مولانا موصوف په زړه کښ دا داعیه پیدا شوه چه دَحضرت شیخ القرآن رحمہ اللہ په راتلو سره په دیکښ مزید پختګی پیدا شی. نو په دے غرض سره دوی پنجپیر ته لاړل چه حضرت شیخ صاحب له دعوت ورکړی۔ ملګرو تبصره اوکړه چه د‌ے سره لاړ به نشی لیکن کله چه مولانا صاحب هغوی ته دعوت ورکړو نو فوراً ئے اوفرمائیل چه په دے وار سترګو او بیا دَ وعدے مطابق په ۲۵ ربیع الثانی ۱۳۹۵ھ ئے باجوړ ترخوکلی ته تشریف راوړو او شیخ الحدیث حضرت مولانا یار بادشاه صاحب او شهید اذان حضرت

مولانا خان بادشاه صاحبؒ ورسره وُو - په علاقه کښې ورته دَ یُوے جُمع نه ویره لویه تیاری شوے وه - دَ سلارزو ، ریاست ، انبار ، چارمنګ ، ماموندو نه علاوه هند وراج ته اطلاع شوے وه - ددوی په استقبال کښې نظم پیش کړے شو چه شر ئے دا وُو سے

هرکله راشه پخیر راغلے مهربانه زمونږ :
شیخ القرآنه زمونږ :

پُرجوش استقبال ئے اوشو - دَ اجتماع دَ طعام دَپاره دوی یُوه میښه په شپاړس زره روپئ اخستے وه - هغه ئے حلاله کړه او هرچاته اُورسیده - دَ ماز یګر نه پخکښې شهیدِ اذان پُرجوش بیان اوکړو او بیا دَ ماښوتن دَ ۹ بجو نه تر ۱۱/۳۵ بجو پورے بیان اوشو او بیا تحرد چائے دَ وقفے نه بعد دَ سوالاتو جوابا تو سلسله هم وشوه.

بیا دریم ځل دَ دوی په دعوت سره دَ سه شنبے په ورځ رجب ۱۴۰۱ھ کښې ئے دَ حضرت مولانا عبدالسلام په معیت کښې تشریف راؤړو او علاقه ئے بیا په توحید اوسنت سره منوّره کړه ، داخل ورته دا نظم پیش کړے شوے وُو - سے

ن بیا په باجوړ خپلے نمردے ❊ راغلے دا خبردے ❊ رازی شیخ القرآن +

بیا په دریم ځل ۹ ، رجب ۱۴۰۲ھ - ۳ رمئ ۱۹۸۲ء باجوړ ته رونق افروز شو. بیا په څلورم ځل چارته راغلے وُو او دَ دغه ځلے نه دَ مولانا موصوف په دعوت بانډ ے ۹ ، رجب ۱۴۰۳ھ ترخوګلی ته ئے تشریف راؤړو - دا دَ هغه وخت خبره دی - اوس خو هرطرفه فتوحات دی ګنی دا ئے شر مسلک ته دا ئے هستی راوستل څه اسان کار نه وُو ، لیکن دَ مولانا موصوف په اخلاص او زاری سره الله تعالیٰ دا اسانه کړه - په اول ځل راتلو کښې ورله دَ خار نواب ؒ هم دعوت کړے وُو او دَ شیخ القرآن ؒ نه پښتی شا شهید اذان او مولانا صاحب دا دعوت قبول کړو په دے نسبت چه خار مرکزی ځائے دے چه دوی خومره حصار شی نو خلق به ترینه فائده واخلی - بیا شیخ القرآن رحمه الله سره دَ مشائخ عظامو ، علماء کرامو موحدینو په معیت کښې دَ هغوی په دعوت کښې شمولیت اوکړو او علمی مباحثے اوشوے او هغوی ته ئے دَ علماء حقه دَ تائید ترغیب ورکړو -

عقدِ نکاح

دَ فراغت نه بعد اولنے واده دَ خپل تره مولانا عبدالجلیل صاحب مرحوم دَ لور سره په تاریخ ۱۰ ، رجمادی الثانیه ۱۳۹۳ھ په ورځ دَ یکشنبے پس دَ ما نبام نه اوشو او بیا څه موده بعد دویم واده دَ جناب سیّد سعید صاحب ګبری دَ لور سره ۱۱ ، رمحرم ۱۴۰۳ھ باند اوشو - دَ دواړو بیبیانو نه ئے اولاد نشته لیکن الحمد لله دواړو اهلِ بیتو دَ قرآن کریم ترجمه او دَ درس نظامی نصاب ویلے دے او تولو له الله تعالیٰ بے شماره روحانی اولاد ورکړے دی چه دَ خپل اولاد نه پرے زیات خفه کیږی. دَ مستوراتو دَ سه روزو او درس وتدریس په ذریعے سره دَ دین اشاعت کوی -

جهادِ افغانستان او کشمیر کښې شمولیت

من کان لله کان الله له، په بناء باندې الله تعالیٰ مولانا صاحب له په هر میدان کښې دَ شمولیت موقعه ورکړې ده او یو کارِ خیر هم دَ الله تعالیٰ په توفیق سره دَ هغوی نه نه دې فوت شوې. کله چه روس په افغانستان یلغار اوکړو. نو دوی دَ باجوړ په مختلفو سیمو کښې دورې اوکړې او خلق ئې جهاد دَ پاره تیار کړل او دَ کومو عُلماؤ یا عوامو په زړونو کښې چه کوم شبهات وُو هغه ئې ختم کړل منجمله دَ هغې نه تیچار (تنګ) کوتکی کښې دَ عُلماءِ باجوړ یوه غونډه اُوشوه. دَ جهاد په حقله او دَ کُفری نظام سوشلزم په رَد دوی بیان اوکړو. بیا په خار باجوړ کښې ترخو کلی کښې او دغه رنګ پالن ګټو کښې درې غونډې اُوشوې او دغه رنګ دَ جُمعې په بیانا تو کښې دَ جهاد اعلان او جهاد طرفته ترغیب ورکړې شو. عُلماءِ اشاعة الحمد لله بښه کردار ادا کړو. په ۲۸ ربیع الثانی ۱۳۹۹ھ کښې دَ علماءِ اشاعة یوه غونډه اُوشوه او دَ یو پوستر منظوری پکښې اوشوه. بنام اعلانِ جهاد چه ذمه داری ئې دَ دوی په غاړه شوه. دوی اولیکو او بیا ئې چاپ کړو. او ټولو علاقو ته اولیږلې شو. دا دَ دې نوعیت اولنې پوستر وُو. مولانا صاحب به په خپله وفد ونه جهادِ افغانستان ته لیږل. اولنې وفد دَ کواټې دَ مُلایانو وُو چه دَ مولانا صاحب دَ رهبرئ لاندې رُخصت شو. دَ دینه علاوه مولانا صاحب هند و راجه، او نورو دَرو ته دورې اوکړې او دَ خلقیانو دهریتو رَد او خلق ئې جهاد طرفته مرغوبه کړل په دې موضوع باندې دَ کُفر خوښول کُفر دې، او تحفة المجاهدین فی تردید الملحدین، وغیره رسالې ئې اولیکلې او هر طرفته خورې شوې. مولانا صاحب په دغه وخت کښې دَ جهادی دَرو او مالی تعاون په وجه دَ کُفارو او تالی څټو دَ سترګو اَزغې وُو. نو په دې باندې یو ځل په شیګل کښې دَم منه پرې بمباری اُوشوه. اخوا دیخوا آبادی اولګیده. الله تعالیٰ دوی او د دوی ملګری امیر کشمیر خان وغیره بچ کړل. په دویم ځل په هند و راجه کښې دَ جناب محمود قوماندان په دیره کښې وُو چه سپیره ی پرې شوې وه. او مخته بمباری روسیانو اوکړه. الله تعالیٰ دوی بچ کړل. دا دَ ۱۸ رجب ۱۴۰۱ھ واقعه ده. په دې دَرو کښې دوی دَ رِباط هغې فریضه هم ادا کړې وه. په جهادِ کشمیر کښې هم دوی حصه اخیستې ده جهادِ کشمیر دَ پاره ئې وقتاً فوقتاً ترغیب چلولو. او په ربیع الاوّل ۱۴۱۲ھ کښې دَ مشرانو او ملګرو سره ئې دَ آزاد کشمیر جهادی او تبلیغی دوره اوکړه. چه دَ هغه ځائ دَ حالاتو مطابق ئې بیا "تحفة الفقیر لمجاهدی جمون وکشمیر" اولیکلو دهغوی دَ عقیدې او دَ اصلاح دَ پاره. او دَ کشمیر مجاهدینو ته ئې اولیږلو.

تبلیغی اسفار

دَ درس وتدریس نه علاوه مولانا صاحب تبلیغی اسفار هم کړی دی. او حتی الوسع دَ تبلیغی اعمالو پابندی کوی. په دې سلسله کښې بنګله دیش ته دَ دوُو میاشتو په تبلیغی سفر ۲ رجب ۱۴۱۲ھ

۱۷ دسمبر ۱۹۹۳ء کښې تلے وُو. دَ دے نه علاوه په پاکستان کښې دننه هم پنځلس ورځے درش ورځے او څلي سفرونه بلوچستان، پنجاب، سندھ او دَ صوبه سرحد مختلفو علاقو ته کړی دی. او وَس هم دَ سه روزو او دَ نورو تبلیغی اعمالو لکه مشوره تعلیم وغیره پابندی کوی. اوله سه روزه دَ دوی په ۱۸ ربیع الاول ۱۳۹۰ھ کښې مردی باغ او ټیری ته تکلیدلے وه. او دا سلسله وَس هم جاری ده.

دَحج باسعادت اسفار

مولانا صاحب ته الله ﷻ دَ حج او دَ عمرو سعادت هم بار بار ورکړیدے. په اول ځل دَ حج سفر په ورځ دَ جمعے ۲۳ ذوالقعدة ۱۴۱۱ھ ۷ جون ۱۹۹۱ء کښې شوے وُو. دویم سفرِ حج په ۳ ذوالقعدة ۱۴۱۵ھ ۳ اپریل ۱۹۹۵ء کښې شوے وُو په دے سفر کښې اولا اراده دَ عمرے وه چه الله ﷻ په حج بدله کړه. په دریم ځل دَ عمرے سفر په ۲۷ رمضان ۱۴۱۸ھ ۲۵ جنوری ۱۹۹۸ء کښې شوے وُو. په څلورم ځل دَ حج سفر سره دَ دوارو اهلِ بیتونه په ورځ دَ پنجشنبے ذوالقعده ۱۴۲۳ھ جنوری ۲۰۰۳ء کښې شوے وُو په پنځم ځل دَ عمرے سفر سره دَ اهلِ بیتو الله ﷻ خپل کور ته راوبلل. ۹ رجب ۱۴۲۸ھ ۲۳ جولائی ۲۰۰۷ء په دے سفر کښې ورسره زما تره جناب حاجی عبدالمالک صاحب دَ خدمت په جذبه تلے وُو چه بیمار شو او دَ پریشانئ سبب اوګرځید و. دَ حج په موقعو کښې دَ مولانا صاحب ویلی شوی اشعارو شنه کړئ ؎

زمونږه راتلل ستا په توفیق دی ؛ دَ حده زیات دا یو مولیٰ تاله حمدُ نه
دَ الفراق وقت نزدے کیږی ؛ زړهٔ مو غمژن دے بیا به ندوی زیارتونه
زړګیه صبر شه آرام شه ؛ دُنیا فانی ده پکښې شته فراقتونه
دا حرم پاتے به یو ځل شی ؛ رسول الله ته هم کړی هجرتونه

دَ مرکز سره وفاداری

دَ حضرت شیخ القرآنؒ خپلو شاګردانو ته دا وصیت کړے وُو چه زما نه پس به مرکز نه پریږدئ نو په دے بناء باندے دَ هغوی دَ رحلت نه پس هم مولانا صاحب څو ځله سره دَ اهلِ بیتو دَ دورهٔ تفسیر وَرځو دَوروته حاضر شوے دے او حاضریږی او موجوده امیر محترم صاحب ضمیر دِلی محبت لری.

دُنیا دَ پریشانیو او دَ غم ځائ دے. دَ مولانا صاحب په حیات کښې څو ډیر حوادث راغلی دی. لیکن دا لاندینی غمونه داسے دی چه دَ هغه په راتلو سره دوی ته په خپله زندګئ کښې ډیر لوئی دَرد، غم او خلاء محسوسه شوے ده.

دَ مولانا صاحب دَ تره، سخر او اُستاد مولانا عبدالجلیل صاحب وفات

دَ دوی وفات ماز یګر څو منټه دَ بره څلور بجے دَ جمعے مُبارکے په ورځ ۲۶ ذوالقعدة ۱۴۲۰ھ مطابق ۲۴ آګست دَ یوُلسو میاشتو دَ بیمارئ نه پس وُو چه مرض ئے کینسر وُو. دَ دارِفانی نه دارِباقی ته پرواز اوکړو. دَ دوی مرګ هم دَ مولانا صاحب دَ پاره یوه

سانحه او صاعقه عظیمه وه. لکه مولانا صاحب په خپله فرمائي. مرحوم د نا چیز 2
مشفق تره، تخر او د ورکوټي والي استاد او ما لي حاني نیکئ نه راتره کړنه ورته
حتی دا چه خپله لخت جګر ئې په بجاړ راکړے وه. او د مسئلو تا ئید ئے راله کړے
وو او مفیدے مشورے به ئے راکولے. د دوی په وفات زهٔ د یو ډیر مشفق او
لوئي رهبر نه محروم شوم. د دوی تلل د خپلوانو د پاره عموماً او نا چیز د پاره خصوصاً
د یو لوئي سوري نه محرومه کیدل وو. جنازه ئې احقر اوکړه. مولانا د مدرسه
امینیه دهلي نه فارغ شوے عالم وو. مجاهد، مبلغ، حاجي، موځد، متبع، متقي، ذاکر
تالي قرآن، مصلي کثیر الصیام او د لغویاتو نه پرهیز کوونکے وو. د سخاوت خاوند
مهمان نواز، د سفري ملګرو خیرخواه او نهایت متواضع وو. د غیر محارمو زنانو
نه سترګے پټوونکے او بردبار، حلیم الطبع انسان وو. د ترخو د مدرسے رکن او د فیق
فجور، رسوماتو او بدعاتو نه متنفره وو. ۱۴۰۳ھ کښې د شیخ القرآن پنج پیر نه
د شوال دورهٔ تفسیر کړے وه. هغوی سند هم ورکړے وو. په دغه سفر کښې ورسره
مولانا صاحب هم وو. د هغه په وفات قلمبند شوي اشعارو یو څو ګړئ. ؎

چه د لالا صاحب سفر را په یاد کړمه ؞ اوښکے نے خاڅي نه اودریږي
غوچیه ژوندے یم دُعا به در ته کړمه ؞ ستا اخري سلګئي مے یاد دي
هم دے نه نصیب شه د جنت ښکلي باغونه ؞ خدائي دے نه نصیب حورے غلمان کړه

د والد محترم وفات

د دوی وفات ۷ بجے ماښکر په ورځ د اتوار ۱۳ ذي الحجه ۱۴۰۳ھ
د ۷۶ کالو په عمر کښې د شیږو ورځو بیمارئ نه پس اوشو
او د زړه د ابریشن په وجه ئے د حدیث پاک په موجب شهادت نصیب شو. جنازه او
تکفین د سنتو مطابق د مولانا صاحب په لاس د نورو برادرانو په موجودګئ کښې اوشو
د دوی په وفات هم مولانا صاحب ته ډیره لویه صدمه ملاؤ شوے وه. ځکه چه څا منو
کښې دوی مشر وو او ټوله ذمه واریئ په دوی راغلے. د دوی په باره کښې مولانا صاحب
په خپله فرمائي. جناب والد صاحب په علماؤ ډیر غیرت کولو او د خپل لاس محنت
ئے خوښولو حتی دا چه بیماری هم د خپلو پټو د خدمت نه شروع شوه. جناب والد
صاحب پخوا د انګریزانو مقابله کښې د نیکنړي مهمند وغیره غزا کړے وه او دغه دور
کښې ئے هم د روسیانو مقابله کښې څو څو ځله جهاد کښې شمولیت کړے وو. او د مجاهدینو
سره ئے ډیره مینه محبت ساتلو دوی په خپله ابائي مقبره کواټي کښې دفن شو. د دوی په
وفات د هغه وخت د مولانا صاحب وئیلے شوے یو څو مصرعے: ؎

خلق ګمان د لیونی په ما کوینه ؞ د واجي وفات غمژن کړمه
ځکه یتیم شوم زما زړه کوي دردونه ؞ په ژړا ژړمه حیران یمه
مادي لیدلي د دادا روښتي حالونه اهٔ ؞ اوچے به اوښکے زما څنګ شي

؞ ؞ ؞

د والدے صاحبے وفات

والده محترمه د ډیرے مودے نه په مختلفو بیمارو بیماره وه. په دے دوران کښے به کله صحت منده شوه. او کله به بیا د بیمارئ حمله اوشوه. اخر د پنجشنبے په شپه د ذوالقعدۀ ۲۲ او ۲ بجے تقریباً د ماسخوتن د مانځه د پاره ئے تیمم شروع کړو. یو ضرب ئے اوکړو او دبل ضرب سره ئے داعی اجل ته لبیك اوویلو. د دوی وفات هم د مولانا صاحب د پاره یو لویه صدمه وه. لکه پخپله فرمائی. " د والدے محترمے صدمه د تره جناب مولنٰنا عبدالجلیل صاحب او والد محترم او نورو خپلوانو نه څکه زیاته په احقره وه چه هغوی نه احقر ځکه اُوسید و او داخود تنګو او توحید اباد د سکونت دور کښے یو ځائی وه. نو د ارام، مونږ، درس ځائی خالی شو. د بجی لفظ سره اواز کولو مزه او شفقت مادری نه محرومه شوم. مرحومه د دنیا نه لاړه خو باقیات صالحات ئے باقی دی د والدے محترمے په وفات یو شو مصرع؛

د دنیا فانی ژوند وته دے	اخر بیلتون دے خیل خپلوان کوینه
د والدے وفات غمژن کړم	ویرے درد مند کړم څکه اوښکے توئومه
زمونږ د اعمال ښکلی نصیب کړے	هغه له درکړے یکښے ښکلی بنه اجرونه

د مولانا صاحب موجوده دور کښے درے علاقی ورونړه مولانا سید جلال صاحب او مولنٰنا محمد طاهر فارغ شده او حاجی موسیٰ خان دی چه او هم پیالئه عمر دور قصیٰ کوی او دوئ اعیانی ورونړه جناب مولنٰنا محمد اسمٰعیل نائب خادم مدرسه او محمد ابراهیم صاحب دی چه مجذوب حاله دے. او دوه سکه خویندے او نهٔ علاقی خویندے ژوندی دی. باری تعالیٰ د ورله په عمر کښے برکت واچوی. امین.

د علماء باجور سره تعلقات

د مولنٰنا صاحب تعلق اګرچه د جماعت اشاعة سره دے لیکن چونکه دوی د اخلاص او للهیت مجسمه دی. علماء پوهیږی چه د دوی زړه هم په اخلاص مبنی او د اغراضو نه پاك وی نو په دے وجه د دوی ذات د یو جامع او متفق علیه عالم دے او بتول علماء ورته د احترام په نظر ګوری او خپلو مجالسو ته ئے راغواړی. اګرچه اکثر علماء د مولنٰنا په تلمذ کښے هم راغلی دی. په باجور کښے د بدعاتو، شرکیاتو رد د پاره کوششونه د هیځ یو عامی او علماء نه پټ نه دی. د باجور مشرانو وفات شده علماء حق ته به دوی درونه نظر کولو. او هغوی به د دوی سره ډیر شفقت کولو. او د موجوده علماء کرامو تعلق د جنازو، ختم القران او د خار د موجوده درس نه معلومیږی.

د حضرت شیخ القرآنؒ وفات

د دوی سره چه د مولانا صاحب کوم تعلق وو هغه تاسو اولوستلو نو د دوی په وفات هم دوی ته ډیر غم رسیدلے وو لکه پخپله فرمائی " د حضرت علامة الزمان عمدة الاقران شیخ القران والحدیث سیدنا ومرشدنا وشیخنا وفات خبر مې چه واوریدو نو په ځائی

کیناستم او انا لله وانا الیه راجعون م او وئیں دُهغه حالت پته باری ته دا چه څومره خفګان وو. خو انسان ته توفیق الله ورکوی ورنه دَ زړه دَ چاوَدو موقعه وه. مولنا صاحب په دغه وخت کښې په چله کښې وو چه تشکیل نه بلوچستان ته شوی وو. ذبیح القرآن په شان کښې که دا شعر اولیکم نو مبالغه به نه وی۔ ؎

هیهات لا یاتی الزمان بمثله ❁ ان الزمان بمثله لبخیل

دَمولانا صاحب آساتذه کرام

دَ مولنا صاحب دَ قرآن استاذانو ذکر شوی نه علاوه کوم چه مفسرؒ تفسیر فتح الرحمٰن کښې ذکر دی. بعض مشهور استاذان دا دی. حضرت مولنا محمد مظفرشاه صاحب هزاروی رحمه الله، حضرت مولنا عبدالواسع صاحب پشاوری رحمه الله، حضرت مولنا فضل احد صاحب شاپلین رحمه الله، حضرت مولنا حسن الابرار چکیسری رحمه الله، حضرت مولنا حبیب الرحمٰن صاحب باجوری رحمه الله، حضرت مولنا فضل حق صاحب کوهستانی حفظه الله، حضرت مولنا محمد حنیف صاحب سواتی حفظه الله، حضرت مولنا محمد عبدالحیٔ صاحب نورستانی حفظه الله وغیره کوم چه دَ دوی کتاب "التذکرة لاوقات التعلم واسماء الاساتذه" کښې لیک دی.

دَمولانا صاحب یو څو معروف تلامذه

دَ مولنا صاحبؒ دَ افغانستان دَ مختلفو علاقو طلباء کرامو او په پاکستان کښې دَ صوبه سرحد او بلوچستان او صوبه سنده ډیر طلباء مستفیض شوی دی. نو زما دَ ذهن مطابق کوم تلامذه چه درس کوی. دَهغوی نه څه معروف تلامذه دا دی. حضرت مولنا عبدالمتین صاحب پښاتک، حضرت مولنا روح الامین صاحب چمرکنی، حضرت مولنا عبدالعزیز صاحب چمرکنی برادر مصنف حضرتؒ مولنا اسمٰعیل صاحب توحید آباد ترخو، حضرت مولنا عبدالرحمٰن صاحب کبری، حضرت مولنا عبیدالله صاحب ابراب، حضرت مولنا صلاح الدین صاحب بیلوټ، حضرت مولنا سمیع الله صاحب بارکام، حضرت مولنا عبدالحق صاحب کواتی، حضرت مولنا جمشید صاحب ارنګ بارو، حضرت مولنا فضل معبود صاحب پېښور، حضرت مولنا عمران صاحب کبری، حضرت مولنا حضرت یوسف صاحب ومه ډوله، حضرت مولنا قائد شهدا و باجوړ لیاقت صاحبؒ، حضرت مولنا قاری رحمت الله صاحب باندو، حضرت مولنا عبدالغنی صاحب لوئی سم، حضرت مولنا سردار صاحب مهمند، حضرت مولنا عصمت الله صاحب شیګل، حضرت مولنا شیرالله صاحب ترخو اوبو، حضرت مولنا جمال الدین ابن حضرت مولنا میاں حیاء الدین صاحبؒ ګخی، حضرتؒ مولنا عثمان الدین صاحب چمرکره، حضرت مولنا مفتی محمد ضمین صاحب کراچی، حضرت مولنا ولی محمد صاحب لوئی سم، حضرت مولنا محمد طیب صاحب برنګ، حضرت مولنا عبدالعزیز صاحب برنګ، حضرت مولنا عبدالجبار صاحب داګی، حضرت مولنا محمد جمیل صاحب مردان، حضرت مولنا عبدالهادی صاحب هلمند، حضرت مولنا

منیب الرحمٰن صاحب بدخشان، حضرت مولنا عبد الخبیر صاحب ترکستان، حضرت مولنا عبد الرحمٰن شهید نورستان، حضرت مولنا عبد الحق صاحب دیر، مولنا مفتی عبد الله صاحب رمتګ حضرت مولنا سعید الرحمٰن صاحب آبری، حضرت مولنا یوسف صاحب کواټی، حضرت مولنا تاج محمد صاحب تهکوټ، حضرت مولنا کفایت الله صاحب ګواټی، حضرت مولنا سید محمود صاحب خورچی، حضرت مولنا محمد یوسف صاحب آبری، حضرت مولنا احسان الله صاحب تانګوټا، او ابن عمه راقم الحروف ابو حسان عبد السبحان ظهیر ترخو مخزم مولنا تاج محمد صاحب انبار، حضرت مولنا خورشید احمد صاحب پاټک، حضرت مولنا عبید الرحمٰن صاحب چار، حضرت مولنا محمد طاهر صاحب ماندل وغیره وغیره داخو شت نو نه فرو[ا] و و رنه ددوی تلامذه ونږ لګو دی دهغوی معلومات د سند القرآن او سند الاحادیث اخستلو نه معلومیږي او د بنار په درس کښې چه غومره علماء کرام مشران شاملیږي نو هغوی هم ددوی په شاګردانو کښې شامل دی.

صفات کمالات او معمولات

مولانا صاحب جامع الصفات شخصیت دے کوم صفات، همت او استقامت چه الله ددوی له ورکړے دے غوندې دهغوی ثانی په اوس زمانه کښې نشته. لیدے اوتږے د بیمار تیوس، د منګرو په غم او خوشحالئ کښې شریکیدل. د خپلو شاګردانو، عوامو د رتبې مطابق لحاظ کول. د تعلیم تدریس، وعظ وارشاد نه علاوه منګري به خپلو علاقو کښې پروګرامونه منعقد کوي او ددوی پروګرام ته حاضریږي دا دے یوه ورځ نه دي مګر د دوی څه پروګرام کښې شمولیت دی. د توحید وترک په بیان کښې جبل الاستقامة د لا یخافون لومة لائم صفت حامل د قرآن کریم ترجمه او مطالب په داسے عام فهم انداز کښې بیانوي. چه هر عام وخاص ترینه مستفیض کیږي. دغه رنګ د مضامینو استحضار. د سورتونو، آیتونو مینځ کښې ربطونه. د تکلفاتونه ځان لرے ساتي. د ریا نمود نه لرے. په طبیعت کښې نهایت سادګی. که چه خبره یا بیان کوي نو په نهایت فصیح او صف لیټو کښې خبره کوي. د نورو ژبو د الفاظو نه پاک او صفا خوراک ئے ساده البته میلمنو له قدرے تکلف کوي. د دُنیا دارو، سرکاری خلقو نه لرے زیاده تر وقت ئے په تدریس مطالعه تصنیف و تالیف کښې تیریږي. ماسخوتن نه پس مقامي خلقو ته درس په جمعه کښې یو ځل د خار درس ورکوي غلط و نه. عارف بالله کامل متبع سُنت چه څوک ئے یو ځل په مجلس کښې کیني نو بار بار د راتلو خواهش مند کیږي. خطیب عظیم مدرس مناظر، استاذ العلماء، داعی توحید وسُنت د طریقت او شریعت مجمع البحرین. په علم وعمل، فضل وکمال، زهد وتقوی، صورت و سیرت کښې نمونهٔ سلف، د جامعه تعلیم القرآن بانی د تبلیغی جماعت کارکن. د جماعة اشاعة التوحید والسنة د مجلس شوری رکن. د جامعه تعلیم القرآن شیخ القرآن وشیخ الحدیث. د جماعة اشاعة التوحید والسنة باجوړ ناظم اعلی.

الله تعالیٰ دا ټول صفات ورکړیدی چه په خپل ذات کښے یو انجمن دے. غرض دَ دُنیا او دین ټول خوبیانے الله تعالیٰ ورکړی دی. ... ولیس علی الله بمستنکر ؛ ان یجمع العالم فی واحد. مصداق دی.

تصنیفات وتالیفات

دَ درس وتدریس، وعظ وارشاد، خطابت او امامت، دعوت وتبلیغ، تنظیمی نظم ونسق، دَ مدرسے دَ انتظام او اهتمام او دَ کور کلی وطن دَ مصروفیاتو باوجود دوی په تصنیفی او تالیفی میدان کښے گرانقدر کتابونه لیکلی دی. په هره زمانه کښے چه کومه فتنه راوچته شوے ده. دَ هغے دَ سرکوبئ دَ پاره مولانا تصنیف کړیدے دَ زمانه طالبئ نه دَ دوی دَ تصنیف وتالیف شوق وُو. او روستو دور کښے بیا دے کښے ترقی راغله. دَ دوی په تصنیفاتو کښے بعض تصانیف ډیر مشهور ومقبول دی. لکه الهام الرحمن فی حل مشکلات القرآن، تفسیر فتح الرحمن (ترجمه وتشریح) رَدِّ بدعات وغیره اکثر کتابونه مطبوع دی. او څهٔ غیر مطبوع هم شته. ټول لاندے ذِکر کولے شی. وبالله التوفیق.

(۱) الهام الرحمن فی حل مشکلات القرآن (۲) التعلیق الصحیح علیٰ مشکوٰة المصابیح (۳) رد بدعات (اردو، پښتو) (۴) انعام الرحمن فی تفسیر اصول القرآن (۵) غایة الاصلاح لمنکرات النکاح (۶) تحفة الاحباب فی عصمة الانبیاء وحفاظة الاصحاب (۷) اسلام میں عورت کا مقام اور موجوده انتخابات (۸) تحفة المجاهدین (۹) هجرت او نصرت (۱۰) جهاد فی سبیل الله (۱۱) دَ جهاد اعلان (۱۲) الخطبة الاستقبالیة (۱۳) اصول الجهاد لدفع اهل الشرك والالحاد (۱۴) تحفة الفقیر لمجاهدی جمون وکشمیر - (۱۵) ذ کفر خوبنول کفر دے (۱۶) تفسیر فتح الرحمن پښتو (ترجمه وتشریح)

او غیر مطبوع دا دی: (۱۷) فیض الودود علیٰ سنن أبی داؤد (۱۸) التنبیه الضروری - (۱۹) المسك الشذی علیٰ مقدمة الترمذی (۲۰) تحفة الباجوری لمن اراد ان یتبصر فی الصحیح للامام البخاری (۲۱) زما مستعار ژوند (۲۲) خیر المسالك فی احکام المناسك.

اولئك ابائی فجئنی بمثلهم ؛ اذا جمعتنا یا جریر المجامع

تحریر وترتیب

ابن عم المصنف ابوحسان عبد السبحان ظهیر

خادم درس وافتاء جامعه دار العلوم تعلیم القرآن توحید آباد ترخو باجوړ ایجنسی پاکستان. ۹ ربیع الثانی ۱۴۲۹ھ

۱۵ مئی ۲۰۰۸ء

پیش لفظ
او
باعثِ تحریرِ مقدمه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۝ اَلرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۝ مٰلِكِ یَوْمِ الدِّیْنِ ۝ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّیْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّكَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ ۝ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّكَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ ۝

اَمَّا بَعْدُ! بنده حقیر پر تفسیر دَ قرآن حکیم ترجمه او مختصر تفسیر شروع کړے وُو دَ تیر شوی کال نه او سکالے چه کله تعلیمی کال ختم شو او ختم دَ بخاری شریف او جلسهٔ دستاربندی وشوه نو دَ حرمینو شریفینو دَ سفر اراده م وه، او مسوده مکمل شوے نه وه ـ دَ زړهٔ تمنا م وه چه دَ سفر نه مخکښ مخکښ پوره شي. الله کریم او رحیم په خپله مهربانئ سره دُوه درے ورځے دَ سفر نه مخکښ تکمیل ته ورسوله او ورسره ورسره دَ جناب کاتب اَبُوطَلحه ګلزار احمد حَفَظَهُ اللهُ الصَّمد دَ خوارلسو پاړو لیکلو شوو تصحیح هم وشوه. دَ کُل په ورځ ۲۳ جولائی ۲۰۰۷ء موافق ۹ رجب المرجب ۱۴۲۸ھ دَ ما سپخین مونځ نه بعد سفر شروع شو، شپه پیښور کښ وشوه. بیا پنډئ کښ وقفه وشوه او ماز یګر دَ سه شنبے په ورځ پرواز وشو. دَ چارشنبے په شپه ۲۵ جولائی (۱۱ رجب المرجب) سره دَ دوارو اَهلیو نه راته دَ عُمرے سعادت الله تعالیٰ نصیب کړو او دَ بَیْتُ اللهِ الْعَتِیْق په دیدار مو سترګے یخے او ارمانونه پوره شو. دَ لسو شپو نه بعد دَ مدینے منورے سفر اوشو او مسجدِ نبوی او حرمِ نبوی او ګنبدِ خضراء او نور مقامات و مقدسه ته حاضري وشوه؛ او زیارة یا دونه تازه شو. دَ ځلورو شپو نه بعد اَلْوِدَاع په غمژن زړهٔ او په ژړا ژړا سره وشوه او بیرته حرم مکي شریف ته واپسي وشوه او دَ ذُوالحلیفے نه بیا دَ عُمرے کولو

سعادت الله تعالیٰ را نصیب کړو ۔ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۔ الحاصل ځما
دلی تمنا وه چه د تفسیر د پاره یوه مقدمه هم ولیکم څکه چه په تفسیرکښ ځینے
اصطلاحګانے او موضوعګانے دی چه مبتدیان به پرے نۀ پوهیږی او په
مقدمه کښ به د هغے ذکر او بیا نو روستو تفسیر کتلو کښ به په هغوی څۀ
اشکال نۀ راځی ۔ خو دا سفر عجیبه سفر وی، په المسجد الحرام کښ د طواف
ذکر، تلاوت، مونځونو او د بیت الله شریف د دیدار شوق وی ۔ او په
المسجد النبوی کښ د درود سلام، ذکر، تلاوت، مونځونو او ګنبدِ خضراء
ته د کتلو او حاضرۍ شوق وی او واقعی دا یو لوئے سعادت دے ۔ الله تعالیٰ
دِ ځما او د ټولو مسلمانانو بار بار همیشه د پاره نصیب کړی ۔ خو دا هم
دا کارونه انفرادی دی، د ځان د نفع د پاره دی او د دے امت ذمه داری
اجتماعی ده ۔ كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ ؛ خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ
الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ ؛ خَيْرُ النَّاسِ مَنْ يَنْفَعُ النَّاسَ ؛ بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَةً ؛
نو د الله تعالیٰ په امداد م په ۲/۳۰ بجے د چارشنبے په ورځ ۲۵ جولائی
۲۰۰۷ء موافق ۱۱ رجب المرجب ۱۴۲۸ھ شروع وکړه او مقدمه په اولسو
ورځو کښ ولیکلے شوه او لږ لږ وخت م ورته فارغه کړه ؛ چونکه وخت هم
کم وُو ؛ او کتابونه راسره هم موجود نه وُو نو د خپل بل تصنیف "انعام
الرحمٰن" نه م خلاصه خلاصه مضامین را واخستل او د مقدمے شکل م
ور له ورکړو ؛ څومره غلطی چه پکښ وی الله تعالیٰ دِ مے راته معاف
کړی او ځما دا مقدمه دِ مے د ناچیز د سعادت د دارینو ذریعه وګرځوی ۔
او الله تعالیٰ دِ دا مقدمه او تفسیر په عوامو او خواصو کښ د استفادے او افادے د پاره
مقبول وګرځوی ۔ آمین ۔ وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيزٍ ۔

باقی د تفسیر د نوم په باره کښ ذهن ته ډیر نومونه راغلی وُو او د ملګرو
د سوال په جواب کښ به ما ویلے چه د پښتو په ژبه کښ مختصر تفسیر لیکم ۔
نن م الله رب العزت په زړه کښ دا نوم واچولو "**فتح الرحمٰن فی ترجمة القرآن و تفسیر الفرقان**" څکه چه "فتح الرحمٰن" د شاه ولی الله رحمه الله
د تفسیر نوم دے چه په فارسی ژبه دے، او مختصر دے ؛ شیخ القرآن رحمه الله
به ئے صفت بیانولو او ما ترینه هم ترجمه او تفسیر کښ اخذ کړے دے ۔
بل دا چه زمونږ د ټولو شیوخو رحمهم الله د قرآن کریم او د احادیثو سند
هم حضرت شاه صاحب ته رسیږی ګویا هغوی "استاذ الکل" دے ۔ نو ما
ناچیز هم دا ترجمه او مختصر تفسیر د هغوی د کتاب په نوم مسمّٰی
کړو ۔ الله تعالیٰ دِ دے د هغوی د تفسیر پشان ئے بلکه زیات مقبولیت ورکړی ۔
آمین ۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰہ دَ اذان خانے خوا ته مقابل رکن حجرِ اسود او بیت الله شریف ته دَ جُمعے دَ مانځه په انتظار کښې ناست یم او خپل لیک بائے ته رسوم.

غرض نقشے است کز ما یاد ماند ✤ که هستی را نمی بینم بقائے
مگر صاحب دلے از روئے رحمت ✤ کند در حال درویشاں دعائے

اِنْ اُرِیْدُ اِلَّا الْاِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ ۚ وَمَا تَوْفِیْقِیْٓ اِلَّا بِاللّٰہِ ؕ عَلَیْہِ تَوَکَّلْتُ وَ اِلَیْہِ اُنِیْبُ ۝

بله اخر کښې بعض صفه دعا کوم. کومه چه حضرت سیدنا ابراهیم او سیدنا اسماعیل علیهما الصلوٰة والسلام دَ خانه کعبے دَ جوړولو په موقعه کړے وه:
رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ؕ اِنَّکَ اَنْتَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ۝ وَتُبْ عَلَیْنَا ۚ اِنَّکَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِیْمُ ۝

وقت ۱۰:۱۲ بجے ۱۰ اگست ۲۰۰۷ء بمطابق ۲۶ رجب المرجب ۱۴۲۸ھ ✤
الاحقر محمد عبد الجبار الباجوړی غفرله ولوالدیه ولشاکره ولجمیع المؤمنین ✤

فضیلت دَ قرانِ حکیم

دَ الله تعالیٰ په خپلو بندګانو باندې ډیر احسانات دي چه شمیرل ئے دَ بندګانو دَ وسع نه بهر دي. سورة ابراهیم ۳۴ او نحل ۱۸ کښې فرمائي: وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَةَ اللّٰہِ لَا تُحْصُوْهَا "که شمارئ تاسو نعمتونه دَ الله تعالیٰ نو طاقت دَ شمارلو ئے نه لرئ." منجمله دَ الله تعالیٰ دَ لوئے نعمتونو نه دا دي چه رحمان ذات (سورة رحمٰن) په رحمة للعالمین رسول (انبیاء ۱۰۷) دَ رحمت کتاب (سورة یونس ۵۷) مومنانو ته ورکړے دے. دَ بخاري حدیث دے رسولِ اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائي: خَیْرُکُمْ مَّنْ تَعَلَّمَ الْقُرْاٰنَ وَعَلَّمَهٗ: (مشکوٰة ص۱۸۳) "چه غوره او بهترین ستاسو نه هغه څوک دی چه ایزده کوي قران لره او تعلیم ئے کوي نورو ته."

اداب

دَ قرآن دَ لوستلو او ایزده کولو ډیر اداب دي؛ ځینے ترینه دا دي:
① اول کښې اَعُوْذُ بِاللّٰہِ او بِسْمِ اللّٰہِ الخ لوستل. دَ ګورئ معارف ج۵ص۹ : ② او ځنے دا دي چه اودس به ئے وي او مسواک به ئے وهلے وي دَ ګورئ اتقان ج۱ص۱) او بے اودسه به لاس نه وروړی. سورة واقعه ۷۹ بناء په یو تفسیر باندې: لَا یَمَسُّهٗٓ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ۝ چه نه دِ مسه کوي دِے لره

مکر پاک خلق : (۳) ځینې وادي چه دَ لوستلو په وخت کښې به ورته غوږ بږدي: وګورئ اعراف ۲۰۴ : وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا : (۴) او ځینې اداب ئې داوي چه تدبر به پکښې کوي . سورۃ ص ۲۹ کښې دي، لِّیَدَّبَّرُوْۤا اٰیٰتِهٖ چه سوچ او فکر وکړئ دوئ په ایتونو دَدې کښې :

تعریف دَ قران کریم، او اسماء، او حکمت دَ نزول دَدې

زمونږ دَ اُستاذانو رحمهم الله طریقه داده چه دَ قران کریم دَ تفسیر او ترجمې شروع کولو نه وړاندې (۱) تعریف دَ قران حکیم ؛ (۲) نومونه دَ قران پاک او (۳) حکمت دَ نزول دَ قران کریم : دَ قرانِ پاک نه پیش کوي . "آفتاب آمد دلیل آفتاب : لکه اَحقر" انعام الرحمٰن" کښې تفصیلي ذکر کړی دی . تعریف ئې ۱۹۲ سورۃ شعراء نه شروع شوے دے : فرمائي : وَاِنَّهٗ لَتَنْزِیْلُ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ نَزَلَ بِهِ الرُّوْحُ الْاَمِیْنُ ۙ الخ " او یقینًا دا قران نازل کړے شوے دے دَ رب دَ مخلوقاتو نه ، راکوز کړی په دے روح الامین په زړۀ ستا باندې ". او نومونه ئې ډیر زیات دي ، احقر "انعام الرحمٰن" کښې ۲۲ ذکر کړي دي : لکه یو نوم بقره ۱ کښې دے . هُدًی لِّلْمُتَّقِیْنَ : او حکمتونه دَ نزول دَ قران مجید ډیر زیات دي ، دَ انساني طاقت دَ احاطې نه بهر دي ؛ احقر په الانعام کښې اووه غټ غټ حکمتونه دَ نزول ئې ذکر کړي دي . منجمله دَ سورۃ ابراهیم اول سر وګورئ ، نوم دَدې کتاب ئې ذکر کړے دے ، بیا تعریف هم دے او حکمت دَ نزول هم ذکر شوے دے ؛ كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَیْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَی النُّوْرِ الخ : "دا عظیم الشان کتاب دے چه رالیږلے دے مونږ دَ تا ته چه راوباسې ته خلقو لره دَ تورتمونو نه رڼا ته :

اُصولُ القرآن

پوهه شه چه اُصول مُهمّه دَ قران حکیم اتۀ دي چه هر رسخئ دَ مخکنی دپاره تائید کونکے دے : (۱) توحید ؛ (۲) رسالت ؛ (۳) صداقت دَ کتاب ؛ (۴) ایمان په آخرت ؛ چه دا سوابق (اولنی) دي او په دے پسے لواحق (پیوسته څلور نور دي ؛ (۱) جهاد فی سبیل الله ؛ (۲) انفاق فی سبیل الله ؛ (۳) تنظیم ؛ (۴) اداب : اداب دپاره دَ تنظیم دي او تنظیم دپاره دَ انفاق ؛

او انفاق دپاره د جهاد او جهاد دپاره د آخرت او ایمان په آخرت دپاره د تصدیق د کتاب الله او دا دپاره د تصدیق د رسول الله صلی الله علیه وسلم او هغوی لیږلی شوی دی په وحدانیت د الله تعالی باندې ۞

توحید

توحید الله تعالی په زړه کښې یو گڼل، نه په خوله ویل (معارف ص ۹ ۱۳ ج ۱) ۔ په شرح مقاصد ج۲ کښې دی: اعتقاد عدم الشریک فی الألوهیة وخواصها؛ چه توحید عقیده ساتل دی د دې چه د الله تعالی ملگرے (شریک) په الوهیت او د دې په خواصو کښې نشته دے ۔ د توحید وضاحت په تعریف د شرك سره راځی ځکه چه دائے ضد دے: او مشهوره خبره ده: وَ بِضِدِّهَا تَتَبَيَّنُ الْأَشْيَاءُ: په ضد د دې سره واضحه کیږی شیونه ۞

د شرك تعریف

شرك په لغت کښې حصه داری ته ویلے شی الخ ۔ راغب اصفهانی رحمه الله "مفردات ص۲۶۰" کښې فرمائی چه شرکت او مشارکت د دوو ملکونو خلط کولو ته وائی او شرعًا کښې ثابتول د صفاتو مختصو د الله تعالی دی غیر خدائے تعالی له ۔ (راه مسائل ص ۱۰) ۔ د محمد شانے شاه اسحاق رحمه الله په صفحه ۹ باندې هم لیکی چه شریك گرزول غیر د خدائے تعالی له د الله تعالی سره په کارسازئ کښې یا په استحقاق د عبادت کښې ۔ شیخ القرآن رحمه الله فرمائی چه د شرك معظم غټ قسمونه دوه دی: یو اعتقادی او بل فعلی؛ د اعتقادی لوئے لوئے قسمونه څلور دی: یو شرك فی العلم، دویم فی الدعاء، دریم فی التصرف، څلورم فی العبادة؛ او د فعلی غټ قسمونه دوه دی: یو د ځان نه حلال حرامول، دویم نذر لغیر الله ۔ تفصیل ئے دا دے ۞

الشرك فی العلم

شرك په علم کښې دا دے چه عقیده وساتی په دے باندې چه الله تعالی نه غیر بل څوك په مَا كَانَ وَمَا يَكُونُ او په پټو او ښکاره وو پوهان د الله تعالی پوهیږی بغیر د وحی او الهام نه ۔ دا مسئله چه علم غیب خاصه د باری تعالی ده بل څوك غیب دان نشته په گنړو ایتونو ثابته ده ۔ یو جامع ایت کریمه د قاعدے په شکل د سورة نمل ۶۵ دے: قُلْ لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللّٰهُ ۚ وَمَا يَشْعُرُوْنَ أَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ۞ او وایه چه نه پوهیږی هغه څوك چه په اسمانونو او زمکه کښې دی د غیب یو الله تعالی پرے پوهیږی او دوی نه پوهیږی چه کله به بیا راپورته کولی شی ۞

الشرك فی التصرف

دا عقیده ساتل دی چه د الله تعالی نه بغیر هم مالك د نفع او ضرر او تصرف شته په دے عالم کښې یعنی د اسبابو نه اوچت؛ سورة یونس ۱۰۷ کښې ارشاد دے: وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗ إِلَّا هُوَ ۚ وَإِنْ يُرِدْكَ بِخَيْرٍ

فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهٖ ؕ يُصِيْبُ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ وَ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ○
"کچرے ورسوی تاته الله تعالیٰ څه ضرر نو نشته لرے کوونکے د هغے لره مګر یو الله تعالیٰ، او کچرے ورسوی تاته څه خیر نو نشته واپس کوونکے فضل د هغه لره څوک، رسوی الله تعالیٰ فضل خپل لره چا لره چه نے خوښه شی او الله تعالیٰ بخښونکے رحم کوونکے دے."

اَلشِّرْكُ فِي الدُّعَآءِ

دا دیته ویلے شی چه یو انسان عقیده لری چه د الله تعالیٰ نه سوا بل څوک حاجت غیبی چغه یعنی بے د اسبابو ظاهرو نه اوری، کوم اسباب چه الله تعالیٰ بندګانو ته ورکړی دی: سورة الفاطر ۱۴ کښ ارشاد دے: إِنْ تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا دُعَآءَكُمْ ۚ وَلَوْ سَمِعُوا مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ ۖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُونَ بِشِرْكِكُمْ ۚ "کچرے رابلئ تاسے هغو لره، نه اوری بلنه ستاسے او که بالفرض واورے نو قبولیت نشی کولے تاسے لره: او په ورځ د قیامت به انکار وکړی په شرك ستاسے باندې."

فائده:- د دے آیتِ کریمه کښ نے د غیر الله چغے ته شرك ویلے دے.

اَلشِّرْكُ فِي الْعِبَادَةِ

دا عبارت دے د دینه چه یو انسان دا عقیده لری چه د الله تعالیٰ نه بغیر هم بل څوک د عبادت (بندګئ) حقدار شته. سورة الانعام ۵۶ کښ ارشاد کرامی دے: قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ (الآیة): "ووایه یقیناً څه منعه کړے شوے یم د دے نه چه عبادت وکړم د هغه کسانو چه تاسے بلئ سوا د الله تعالیٰ نه؛" سه انعام ۵۶-۱۳۶

شِرْكِ فِعْلِیْ

تحریمت العباد من عند نفسه

د دے څلور قسمونه دی: یو اَلتَّحْرِيْمُ لِغَيْرِ اللهِ: چه عقیده لری د حرامولو د هغه چه حلال کړی دی الله تعالیٰ: سورة مائده ۸۷ کښ ارشاد دے: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ○: "اے ایمان والو! مه حراموئ پاکیزه هغه شیونه چه حلال کړی دی الله تعالیٰ تاسے لره او تجاوز مه کوئ د حد نه، یقیناً الله تعالیٰ مینه نه ساتی د تجاوز کوونکو سره."

بل قِسم النَّذْرُ لِغَيْرِهٖ تعالیٰ

دا عبارت دے د دے نه چه معین کړی یو شے د مال، فصل، حیوان او یا عبادت نه په نوم د غیر الله باندې او دا عقیده لری چه هغه مالك د نفع او د ضرر دے، که وفا وکړم نو په مال او اولاد کښ م برکت اچوی او که وفا ونکړم نو بیا تکلیف او ضرر رارسوی: سورة بقره ۱۷۳ کښ ارشاد دے:

وَمَآ اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ: او هغه شے حرام کړے شوے دے چه او از پورته کړے شي په هغې باندې د پاره د تقرب د غير الله: د دے دواړو په مقابله کښې د دوه حکمونه درست دی. يعنې کوم نذر چه د الله تعالیٰ د پاره مقرر کړے شوے دے هغه پوره کړي. سورة الحج ۲۹ کښې فرمان دے: وَلْيُوْفُوْا نُذُوْرَهُمْ "پوره دې کړي دوی په نذرونو خپلو". اَوَ بَل اَلنَّحْرِيْمُ لِمَا حَرَّمَ اللّٰهُ: چه الله تم کوم شے حرام کړے دے هغه حرام گڼل. سورة المائده ۹۶ کښې فرمائی: وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا: "او حرام کړے شوے دے پتاسے ښکار د اوچے خوپورے چه يئ تاسے احرام کونکی".

دَمُشرکانو اَقسامُ

شرک چه په چا کښې وی هغه ته مُشرک وئيلے شي او د مشرکانو ګڼر اقسام دی ځکه چه معبودان ئے ډير او مختلف دی لاکن لوئے لوئے قسمونه پکښې ښکاره دی:

① اَلْمُشْرِكُوْنَ بِالْعِبَادِ الصَّالِحِيْنَ

د شيخ القرآن رحمه الله نه په العرفان ۱۸ کښې نقل شوی دی چه دا شرک د نوح علیه السلام د قوم وو چه د نيکانو مجسمے ئے جوړے کړے وے او تبرک ئے پرے حاصلولو. سورة نوح ۲۳ کښې د "وَد، سُواع، يغوث، يعوق او نَسر" نومونه ذکر شوی دی. بخاری شريف (ص ۳۳۲ ج ۲) کښې راځی چه دا نومونه د نيکانو بندګانو وو چه د شيطان په لمسون ئے شکلونه جوړ کړے شوی وو. کله چه مشران مړه شو علم اوچت کړے شو نو عبادت ئے شروع شو: الهام الرحمٰن د (ص ۵۰۵) نه احقر ګنهګار حواله ذکر کړی دی هلته ئے تفصيل وګورئ.

② اَلْمُشْرِكُوْنَ بِالْكَوَاكِبِ

حضرت شيخ القرآن رحمه الله فرمائيلی دی: هر چه مشرکون بالکواکب دی نو هغه کسان دی چه عقيده د تصرف لری په ستورو کښې او دوی ته صَابِئُوْنَ وئيلے شي او دوی وائی چه ستوری تا ثير کونکی دی په عالَم کښې: او دوی دا هم عقيده لری چه نيک بختی د انسان او بد بختی د هغه د ستورو نه معلوميږی لکه نن صبا دا عقيده د نجوميانو هم ده: (العرفان ص ۲۶). دا دوېم قِسم شرک دے چه په انسانانو کښې رواج راغلے دے: سورة الانعام ۷۵ ۷۶ کښې راځی د حضرت سيدنا ابراهيم عليه الصلوٰة والسلام په واقعه کښې چه هغوی د ستوری. او د سپوږمۍ

او نمر په باره کښې وفرمایل چه دا زموږ نه خواښتی کیږی او په اخر کښې ئې هغوی ته مشرکان ویلی دی: فَلَمَّآ اَفَلَتْ قَالَ يٰقَوْمِ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿﴾: کله چه نمر پریوتو نو وے فرمایل اے قومه زما! زه بیزاره یم د هغو نه چه تاسو ئې د الله تعالیٰ شریکان جوړوئ.

③ اَلْمُشْرِكُوْنَ بِالْمَلٰٓئِكَةِ

دا قسم شرک په صابئینو او د حضرت ابراهیم علیہ السلام په قوم او مشرکینو د عربو کښې موجود وو، او په هغه فلاسفو کښې چه د ملائکو علیهم السلام په باره کښې عقیده ساتی چه دا تدبیر کونکی د عالم دی. قرآن کریم کښې د دوی رد په ګڼو طریقو سره راغلے دے: منجمله د ایاتِ کریمه دے. سورة سبا ۴۱ کښې فرمائی چه: کله را جمع کړی الله تعالیٰ دوی ټول بیا به ووائی ملائکو ته آیا دوی تاسو لره عبادت کولو نو ملائک علیهم السلام به ووائی: سُبْحٰنَكَ اَنْتَ وَلِيُّنَا مِنْ دُوْنِهِمْ: "چه پاکی ده تا لره، ته زموږ مددګار ئې بے له دوی نه".

④ اَلْمُشْرِكُوْنَ بِالْجِنِّ

کفارو او مشرکانو به د جناتو (پیریانو) په حقله د الوهیت عقیده ساتله او په هغوی به ئې پناه حاصلوله او په مصائبو کښې به ئې ورته چغې وهلے، او عبادت به ئې ورله کولو. "انعام الرحمٰن" کښې ګڼ ایتونه د دوی په تردید کښې ذکرشوی دی یو ترینه دا دے: سورة الجن ۶ کښې ارشاد دے: وَّاَنَّهٗ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْاِنْسِ يَعُوْذُوْنَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوْهُمْ رَهَقًا ﴿﴾ او یقیناً شان دا دے چه یو څو خلقه د سړو د انسانانو چه پناه به ئې حاصلوله په څو سړو د پیریانو نو پیریانو زیات کړے وو هغوی دوی لره ویره.

د یهودیانو بیان

قرآن مجید کښې چه څنګه د مشرکانو، صابئینو رد ذکر کوی نو دغه شانے د یهودو، نصاراؤ او منافقانو تردید هم کوی. دغه ټولے ډلے د کفارو مشرکانو دی خو نوموونه او قوموونه ئې جدا دی. لهٰذا د مشرکین عرب په مناسبت د دغو ډلو ذکرهم مناسب ګڼړم: حضرت شیخ القرآن رحمه الله په "العرفان ص ۳۶" کښې فرمایلی دی: حاصل ئې دا دے چه یهود به عربو کښې اوسیدل او اکثر د باهر نه راغلی وو او په مختلفو علاقو کښې خوارهٔ شوی وو لکه حمیر او بنی کنانه، او بنی حارث، او کندة، او بنی قریظه او بنی قینقاع، او مدینه منوره کښې ئې "بَيْتُ الْمِدْرَاس" مدرسه جوړه کړے وه او د تورات ترجمانی

به ئې مربوط نه کړله او هغوی ته به ئې وعظ کړلو، تر دې چه "اوس او خزرج" به ورله د اولاد په شان ګڼل. د قرآن پاک په ډیرو سورتونو کښې دَ دوی ګڼ قباحتونه ذکر شوی دی، دَ دې دَ پاره چه مؤمنان دَ هغوی دَ غلطو عملونو صفتونو نه ځان بچ وساتي. بطور مثال سورة نساء ع۲۱ کښې قباحت دَ دوی ذکر دی:

يَسْئَلُكَ أَهْلُ الْكِتٰبِ أَنْ تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتٰبًا مِّنَ السَّمَآءِ الخ: "سوال کوی ستا نه اهل کتاب چه راوړې په دوی باندې کتاب (په یو ځل)." شاه ولی الله رحمة الله فرمائی چه دَ دې ځائے نه الله تعالیٰ رد دَ شبهو دَ یهودو کوی. انشاء الله تفسیر کښې به نور تفصیلی قباحتونه دَ دوی ځائے په ځائے ذکر شی او نشاندهی به اوشی چه دا دَ یهودو قباحتونه دی۔

دَ نصاراؤ بیان

دا هغه کسان دی چه دَ دین دَ عیسیٰ علیه السلام او دَ انجیل دَ اتباع دعوی کوی او اکثر دَ دوی نه امیان دی، په کتاب صحیح پوهیږی نه. دَ دوی رد هم باری تعالیٰ په ګڼو سورتونو کښې کړے دے. منجمله سورة نساء ع۲۳ کښې فرمائی:

يٰٓأَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ وَلَا تَقُولُوا عَلَى اللّٰهِ إِلَّا الْحَقَّ إِنَّمَا الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ اللّٰهِ وَكَلِمَتُهُ الخ: "اے کتاب والو! زیاتے مکوئ په دین خپل کښې او مه وایئ په الله تعالیٰ باندې مګر حقه وینا. یقیناً عیسیٰ ځوئے دَ مریم علیهما السلام رسول دَ الله تعالیٰ دے او کلمه دَ هغه ده." شاه صاحب رحمة الله په دے ځائے هم فرمائی چه دَ دے ځائے نه الله تعالیٰ رد دَ نصاراؤ کوی۔

دَ منافقانو بیان

ښکاره ده چه قرآن حکیم ئې ډیر سخت تردید کوی منافقان دی کوم چه دهوکے کوی دَ الله تعالیٰ سره او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره او دَ مؤمنانو سره، او دا په دے امت کښې پیدا شوی دی او دا سخت دشمنان دَ مؤمنانو دی ځکه چه دشمنی دَ دوی پټه ده او خباثت ئې زیات دے او دَ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په دور کښې دوی په مدینه منوره او چار چاپیره کښې اوسیدل. چونکه دوی زیات ضرر رسونکی وو اسلام ته نو سزائے هم سخته ده. سورة نساء ع۲۱ کښې ارشاد دے، إِنَّ الْمُنٰفِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ: "یقیناً منافقان په لاندینی طبقه کښې به وی دَ اور نه." منافق په دوه قسمه دے: عملی او اعتقادی: دَ منافقانو په رد کښې سورة منافقون مستقل سورة راغلے دے، او نورو سورتونو کښې ئې هم قباحتونه دی خصوصاً دَ سورة توبے

دریمه حِصه دَدوی په قبائحو او ګمراهیانو مشتمله ده : دَحضرت شیخ القرآن رحمه الله دَ ارشاد مطابق څنګه دَ بره شپیته څپ تتونه ذکر دی . تفسیر کښې هم ذکر را روان دے.

دَ مشرکانو عقائد او اعمال

دَ کفارو او مشرکانو دَ بیان نه بعد دَ هغوی بعض عقائد او بعض اعمال هم ذکر کولے شي، تفصیل ئے "انعام الرحمٰن" دَ ۵۹ نه وګورئ: په سورة یونس ۳۱ کښې دَ هغوی عقائد ذکر کولے شي، فرمائي: قُلْ مَنْ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أَمَّنْ يَمْلِكُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَمَنْ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَنْ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ: "وَوایه څوک رزق درکوي تاسو ته دَ بره او دَ ښکته نه او څوک راوباسي ژوندی لره دَ مړي او راوباسي مړے دَ ژوندي نه او څوک تدبیر دَ کارونو کوي نو دوی به په جواب کښې ووائي چه الله تعالیٰ: فَسَيَقُولُونَ اللَّهُ ، او دَ بدو عملونو ذکر سورة التوبة ۱۹ کښې راځي: أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَوُونَ: "ایا ګرځولې دې تاسے خړوبول دَ حاجیانو او اباد ول دَ جُمات عزتمند پشان دَ (ایمان) دَ هغه چا چه ایمان ئے راوړے دے په الله تعالیٰ او په ورځ روستنۍ او جهاد ئے کړے دے په لاره دَ الله تعالیٰ کښې: نه دي برابر ،

الحاصل : اصل کښې شرک کوي دوی انکار دَ توحید نه وکو لکه سورة ص ۵ کښې راځي: أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلَٰهًا وَاحِدًا إِنَّ هَٰذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ "ایا ګرځوي دا پیغمبر ګسترخدایانو لره مدد ګار یو: یقیناً دا یو شے ډیر عجیبه دے" او بیا ئے شفاعت قهري منلو: لکه ۱۸ یونس کښې راځي، وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَٰؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِنْدَ اللَّهِ "او بندګي کوي دوی سوا دَ الله تعالیٰ نه دَ هغو چه نه ضرر رسولے شي دوی ته او نه نفعه او وائي دا سفارشیان زمونږ دي په دربار دَ الله تعالیٰ کښې" امام رازي رحمه الله لیکي چه دوی دَ نیکانو مجسمے جوړے کړے وے: او دا ئے عقیده وه چه کله ئے دوی تعظیم وکړي نو دوی لره سفارش کوي په دربار دَ الله تعالیٰ کښې او بیا اَخوالیکي : ونظیره في هذا الزمان اشتغال كثير من الناس الخ: "چه نظیر ئې په دے زمانه کښې مشغولیدل دَ ډیرو خلقو دي په تعظیم دَ قبرونو دَ نیکانو په دے عقیده چه کله ئے دوی تعظیم دَ قبرونو وکړي نو هغوی دَ دوی سفارشیان جوړیږي؛" انعام الرحمٰن او الهام الرحمٰن وګورئ.

عنوانات دَ مسئلے دَ توحید

چونکه دا اَهمه مسئله ده نو الله تعالیٰ ورله په خپل کلام پاک کښې ګڼ عنوانات په بیلو بیلو الفاظو سره ذکر کړی دی چه مسئله ښه واضحه او څرګنده شي:
① په لفظ دَ عبادت سره؛ وګورئ بقره ۲۱؛ ② په لفظ دَ تسبیح سره؛ وګورئ ۱ حدید؛ ③ په عنوان دَ حمد سره، ۱ فاتحه؛ ④ په اُلوهیت سره؛ ۱۶۳ بقره؛ ⑤ په برکت سره: ۱ سورة ملك، ⑥ په مُلك سره؛ ۱۸۹ آل عمران؛ ⑦ په دُعا سره: اعراف ۵۵ (وَسَبِّحَ إِذَا رَجَعْتُمْ) ؛

دَ مُشرکانو په توحید باندې اعتراضونه

چونکه اَصلي مسئله .... دَ قرآن حکیم مسئله دَ توحید ده؛ په دې وجه دَ دې دَ نه منلو دَپاره کافرانو قسما قسم حیلے، بهانے، شبهے به کولے: لکه حوامیمو کښې ۲۵ دَ هغوی — ۱۱ شبهات او دَ هغو جوابات په تفسیر کښې وګورئ — اِنشاءَ الله تعالیٰ را به شي. شیخ القرآن رحمه الله په "سمط الدرر" کښې ذکر کړیدي او "العرفان" کښې هم دَ هغوی نه نقل شوي دي: دلته هم دَ یو څو نورو شبهو ذکر کولے شي:
① اِتباعُ الاٰبآء: دَ توحید په مقابله کښې دوی ویلے چه مونږ تابعداري کوو دَ هغه چه پلاران خپل مو پرے موندلي دي: وګورئ: بقره ۱۷۰، مائده ۱۰۴، زخرف ۲۲، ۲۳ او نور: ② مشرکانو به دَ خپل شرکي فعل دَپاره په الله تعالیٰ باندې دروغ ویل: اعراف ۲۸ وګورئ: ③ دا به ئے هم ویلے چه: اِتَّخَذَ اللهُ وَلَدًا: الله تعالیٰ ناز ولي نیولي دي: بقره ۱۱۶، کښې ئے په پنځو طریقو سره جواب شوے دے: ④ قیاس فاسد به ئے کولو نو الله تعالیٰ فرمائي: فَلَا تَضْرِبُوا لِلّٰهِ الْأَمْثَالَ: "پس مه بیانوئ الله تعالیٰ لره مثالونه: یقیناً الله تعالیٰ په هر څه پوهیږي او تاسے نه پوهیږئ: (النحل ۷۴) :—
⑤ هسے په ګمان پسے به تلل: سورة یونس ۳۶ کښې ارشاد دے: وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ إِلَّا ظَنًّا: "او تابعداري نکوي زیات دَ دوی نه مګر دَ ګمان: بیا اخوا الله تعالیٰ فرمائي: او یقیناً ګمان دَ حق په مقابله کښې دَ هیڅ شي فائده نه ورکوي ؛

دوېيم اَصل : صداقت دَ رَسول ﷺ دے

قرآنِ حکیم کښې دَ رَسُول الله ﷺ صداقت په کاملے طریقے سره ذکر شویدے دَ پاره دَدے چه دَ منکرینو څه عُذر پاتے نشي او دَدے دَ پاره مستقل سورتونه نازل شوي دي لکه سورة والضّحیٰ او سورة الانشراح۔ انشاء الله تعالیٰ په تفسیر کښې به دا موضوع گورئ چه دلته کښې صداقت دَ رَسُول ﷺ دے : بطورِ مثال سورة بقره ع۱۳ ، سورة آل عمران ع۳۴ ، سورة نساء ع۱۳ کتلے شئ ؛

شُبهات دَ کُفارو

څنگه چه دَ مشرکانو په توحید باندې اعتراضونه وُو نو دغه رنگے په نبی اکرم ﷺ باندې ئے هم شبهات کول . منجمله ترینه دا دي : ① دَ هغوی تکذیب به ئے کولو : شبهه سره دَ جواب نه : ع۱۹ آل عمران کښې وگورئ ؛ ② لیونے به ئے ورته ویلو : وگورئ حجر ع۱ ؛ ③ ساحر او کذاب به ئے ورته ویلو : وگورئ سورة صٓ ع۱ ؛ ④ فرمایشي معجزے به ئے ترینه غوښتلے : دَ سورة اسراء ع۱۰ نه وگورئ ، په آخر کښې ارشاد دے : قُلْ سُبْحَانَ رَبِّيْ هَلْ كُنْتُ اِلَّا بَشَرًا رَّسُوْلًا ۝ ؛ ⑤ استهزاء به ئے ورپسے کوله : وگورئ انبیاء ع۳ ؛ ⑥ کله به ئے ویلے چه دوی خوراک او بازارونو کښې گرزي : وگورئ فرقان ع۱ ، انعام ، الرحمٰن : او تفسیر کښې ئے تفصیل دے ، نور اعتراضونه به ئے هم کول ؛

درېيم اَصل صَداقت دَ قرآنِ پاک دے

او دا اَصل پخپله قرآن حکیم په ګڼو طریقو سره واضحه کړے دے : " آفتاب آمد دلیلِ آفتاب " ؛ سورة اقرا کښې اولنے حکم او اولنئ وحی په لوستلو دَ قرآن راغلے ده : کله چه نبی اکرم ﷺ غارِ حرا کښې تشریف فرما وُو . سورة القدر کښې عظمت دَ قرآن دے . سورة المزمل ع۱ کښې ترغیب په لوستلو دَ قرآن ورکړے شوے دے او سورة المدثر کښې حکم په تبلیغ دَ قرآن پاک شویدے انشاء الله تفسیر کښې به دا موضوع او اَصل ځائے په ځائے وگورئ ، انتظار ئے کوئ ؛

په قرآنِ پاک دَ کُفارو اعتراضونه

دَ مشرکانو ګڼ شبهے او اعتراضونه په قرآن کریم باندې وُو ، او دَ هغوی جوابونه باری تعالیٰ ذکر کړی : بعض ترینه دا دي چه قرآن پاک ته به ئے اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ؛

دَ دروغو قصے دَ بچّو انو ویلے : وګورئ انعام ع۲۵ : (۲) کله به ئے ویلے : إِنْ هٰذَآ إِلَّآ إِفْكٌ افْتَرٰىهُ الخ چه نهٔ دے دا قرآن مګر دروغ دی چه جوړ کړی ئے دی دَ ځان نه، وګورئ فرقان ع۱ : (۳) کله بیئے ویلے چه په یو ځلے پورے وَلے نهٔ دے نازل شوے لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْاٰنُ جُمْلَةً وَّاحِدَةً ، وګورئ فرقان ع۳ : (۴) کله بئے ویلے، إِنَّمَا يُعَلِّمُهٗ بَشَرٌ "دا یقیناً بنو د نه کوی دهٔ ته یو انسان" (ع۱۴ نحل) ، (۵) کله به ئے ویلے چه دا سے کتاب به مونږ هم نازل کړو - الله تعالیٰ ارشاد کوی، وَمَنْ قَالَ سَأُنْزِلُ مِثْلَ مَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ : " او څوک دے غټ ظالم دَ هغه چا نه چه وائی زهٔ چه نازل به کړم په مثل دَ هغه چه نازل کړی الله تعالیٰ " وګورئ انعام ع۱۱ : إِنْ شَآءَ اللّٰهُ تفسیر کښ به دغه شبهے او جوابونه دَ هغو مطالعه کړئ - او انعام الرحمٰن هم وګورئ ۞

څلورم اصل ایمان په آخرت

دا دَ ټولو آسمانی کتابونو اهم اصولی مسئله ده او قرآن حکیم په مختلفو طریقو ذکر کړے ده او اکثرئے بطور تمثیل او شرے سره ذکر کوی: سورة الحج ع۱ کښ فرمائی : وَتَرَى الْأَرْضَ هَامِدَةً الخ : " چه وینے به ته زمکه او چه نو کله چه راولیږو مونږ په دے باندے او به حرکت وکړی او پړسیږی بیا په ع۱ کښ فرمائی وَأَنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيهَا وَأَنَّ اللّٰهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُورِ ۝ " او یقیناً قیامت راتلونکے دے شک پکښ نشته او یقیناً الله تعالیٰ به دوباره راژوندی کړی هغه څوک چه په قبرونو کښ دی " په دے باندے مستقل سورتونه راغلی دی، لکه الزلزال: او القارعة: شو ۞

دَ کفارو دَ آخرت نه انکار

کفارو، مشرکانو به قیامت هم نهٔ منلو چه دا دَ عقل نه بعیده خبره ده: او په دے به ئے قسمونه کول ، او ضدی عنادی تپوسونه به ئے کول. بطور مثال وګورئ سورة مؤمنون ع۵ ع۸ : قَالُوٓا ءَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ۝ لَقَدْ وُعِدْنَا نَحْنُ وَاٰبَآؤُنَا هٰذَا مِنْ قَبْلُ إِنْ هٰذَآ إِلَّآ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ۝ : وائی دوی آیا کله چه مونږ مړهٔ شو ، او شو مونږ خاورے او هډوکی آیا مونږ به دوباره راژوندی کړے شو، یقیناً وعدے کړے شوے وے زمونږ سره دَدے او پلارانو زمونږ ته سره ئے دی دا مګر دَ دروغو قصے دَ پخوانو. په سورة اعراف ع۲۳ کښ راځی : يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ السَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسٰهَا : تپوس دری ستا نه دَ قیامت په باره کښ چه کله به ئے وی قائمیدل دَ هغے بیا ر و ستو باری تعالیٰ په ګڼړو طریقو سره جوابونه کوی: تفسیر کښ راروان دی : په سورة الملك کښ

دی : وَيَقُولُونَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۰ او وائی دوی کله به وی دا وعده دَ قیامت کچیرے یئ تاسے رشتونی. بیا په ۳۰ کښ جواب دے ؛

الفائدة دا څلور ذکرشوی اصول اصلی اصول دی او دوی ته "سوابق" څلنی ویلے شی. قرآن پاک کښ کله مرتب ذکر کړلے شی او کله غیرمرتب او دا دَ قرآن کریم تفنن دے : وګورئ سورة بقرة کښ توحید دے، يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ بیا په ۲۳ کښ صداقت دَ رسول صلی الله علیه وسلم او صداقت دَ قرآن حکیم دے : وَاِنْ كُنْتُمْ فِيْ رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا الخ : او بیا په ۲۴ ۲۵ کښ تخویفِ اُخروی او بشارتِ اُخروی دے. (۲) سورة الطلاق ۳ کښ تخویف اُخروی (یعنی بیان دَ قیامت) دے : بیا په ۱۰ ۱۱ کښ صداقت او رسالت دے نو په آخری آیت ۱۲ کښ وحدانیت ذکر دے ؛ (۳) سورة سبا ۱ کښ توحید، په ۳ کښ اثبات دَ قیامت، په ۶ کښ صداقت دَ قرآن دے او (۴) سورة تغابن ۱ کښ توحید، ۲ کښ رسالت ۷ کښ قیامت، ۸ کښ صداقتِ قرآن دے،

پنځم اصل جهاد فی سبیل الله دے

جهاد په اصل کښ دَ مخکنی څلورو اصولو دپاره دَ اشاعت او خورولو ذریعه ده. جهاد لغوی معنیٰ سره کوشش او محنت کولو ته ویلے شی لکه مجمع البحار ۴۲۳ کښ راځی : هُوَ الْمُبَالَغَةُ وَاسْتِفْرَاغُ مَا فِي الْوُسْعِ وَالطَّاقَةِ مِنْ قَوْلٍ وَفِعْلٍ؛ "چه ډاکوشش کول دی او خرچ کول دَ هغه قوت دی چه په وسع او طاقت کښ دَ انسان وی که وینا وی او که فعل" سورة لقمان ۱۵ ایت کښ لغوی معنیٰ سره ذکر دے : او شرعی تعریف ئے ملا علی قاری رحمه الله کړے دے، فرمائی ؛ وَشَرْعًا بَذْلُ الْمَجْهُودِ فِي قِتَالِ الْكُفَّارِ مُبَاشَرَةً اَوْ مُعَاوَنَةً بِالْمَالِ اَوْ بِالرَّأْيِ اَوْ بِتَكْثِيْرِ السَّوَادِ اَوْ غَيْرِ ذٰلِكَ ؛ (مرقاة ص ۲۶۳ ج ۸)؛ "او په شرع کښ خپل ټول طاقت دَ کفارو په جنګ کښ صرف کول دی که په نفس سره وی او که معاونت کولو سره وی په مال سره یا په رائے سره وی یا په ډلے زیاتولو سره وی یا غیر دَدے نه وی"؛ شیخ القرآن نوّر الله مرقده فرمائی ؛ وَالْقِسْمُ الْمُعَظَّمُ مِنْهَا هُوَ الْقِتَالُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ : "چه لوئے قسم دَ دغو نه جنګ کول دی په لاره دَ الله تعالیٰ کښ. (العرفان ص ۹۳)۔

دَ جهاد اقسام

حافظ ابن قیم رحمه الله زاد المعاد (ص ۱۰۶، ۱۰۷) کښ دَ جهاد دیارلس قسمونه

ذکر کړی دی: حاصل ئے دا دے چه څلور مرتبے دَ جهاد النفس دی: او دوه مرتبے دَ جهاد الشیطان سره دی: او څلور مرتبے دَ جهاد الکفار والمنافقین سره دی: او درے مرتبے دَ جهاد دَ ظالمانو او خاوندانو دَ بدعتونو او منکراتو سره دی: بیا دَ تفصیل نه بعد فرمائی: فهٰذه ثلثة عشر مرتبة مِنَ الجهاد ومن مات ولم یغزُ ولم یحدِّث نفسه بالغزو مات علٰی شعبةٍ من النفاق: "پس څوک چه مړ شو او غزا ئے ونکړه او نفس ته په غزا باندے دعوت هم ورنکړو نو مړ شو دے په یوه شعبه دَ منافقت باندے" (داحدیث متفق علیه دے، وګورئ مشکوٰة ص ۳۳۱ ۲۵): حاصل دَ ټولو قسمونو واشو ۴-۲-۳-۳ جمع ؛ ۱۳- دَ انعام الرحمٰن دَ ط ۱ نه تفصیل وګورئ، احقر غفرله! په "تحفة الفقیر" او "اصول الجهاد" کښی هم دَ ډیارلس واړه قسمونه دَ زاد المعاد نه نقل کړی دی:

فائده:- قرآن پاک کښی کله لفظ دَ جهاد عام ذکر کوی: لنډ نمونے انعام الرحمٰن کښی ذکر دی، یو آیت کریمه دا دے: یَآ اَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَابْتَغُوْٓا اِلَیْهِ الْوَسِیْلَةَ وَجَاهِدُوْا فِیْ سَبِیْلِهٖ لَعَلَّکُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝ (مائده ع۵) "اے ایمان والو! ویره وکړئ دَ الله تعالیٰ نه او ولټوئ هغهٔ ته وسیله او جهاد وکړئ په لاره دَ هغهٔ کښی دَدے دَپاره چه تاسے کامیاب شئ" او کله دَ قتال فی سبیل الله خاص ذکر کوی: دَدے په باره کښی هم ناچیز لنډ آیتونه "انعام الرحمٰن" کښی تحریر کړی دی- یو ترینه سورة بقره ع۲۴ کښی ارشاد دے: وَقَاتِلُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ الَّذِیْنَ یُقَاتِلُوْنَکُمْ وَلَا تَعْتَدُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا یُحِبُّ الْمُعْتَدِیْنَ ۝: " او وجنګیږئ په لاره دَ الله تعالیٰ کښی دَ هغه کسانو سره چه جنګیږی لتاسے سره او تیرے مه کوئ دَ حد نه یقیناً الله تعالیٰ محبت نه ساتی دَ تیرے کونکو سره:

شپږم اصل انفاق فی سبیل الله تعالیٰ دے

دا یو قسم دَ جهاد نه (یعنی مالی جهاد) دے لاکن زمونږ شیخ رحمه الله مستقل اصل ذکر کړے دے ځکه چه بناء دَ قتال فی سبیل الله دَ مال په خرچ کولو سره ده: تفسیر کښی به دَ ترغیب الی الانفاق موضوع او دعویٰ ځائے په ځائے ګورئ، او "انعام الرحمٰن" کښی خو ښهٔ تفصیل دے، خصوصاً سورة الحدید کښی ترغیب دے په پنځو طریقو سره. شیخ القرآن رحمه الله په "نمط الدرر" کښی دَ هغهٔ وضاحت کړے دے: په سورة بقره ع۳۷ کښی ترغیب دے خرچ کولو دَ پاکیزه او حلال مال ته؛ فرمائی: یَآ اَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْفِقُوْا مِنْ طَیِّبٰتِ مَا کَسَبْتُمْ وَمِمَّآ اَخْرَجْنَا لَکُمْ مِّنَ الْاَرْضِ (الآیة) "اے ایمان والو! خرچ وکړئ دَ پاکو هغو مالونو نه چه ګټلی دی تاسو او دَ هغو

چه راویستلی دی موږ. ۵ تا سولړ ۲ د زمکے نه: "سُورة منافقون ع۱ کښ رټنه ده هغه چا لره چه د انفاق نه منعه کړی، هُمُ الَّذِيْنَ يَقُولُوْنَ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوْا الخ: " دوی هغه کسان دی چه وائی خرڅ مکوئ په هغه چا چه په نزد د رَسُول الله ﷺ کښ دی، دے د پاره چه خوارۀ شی د خوا د هغهٔ نه ؛

اُووم اَصل تنظیم دے

دا دَ جهاد او انفاق سره تعلق لری ، دَ دے مقصد دا دے چه مؤمنانو لره په خپل مابین کښ مُنظم او سیدل پکار دی؛ په دے کښ څو اَهم مباحث دی؛

① تهذیب الاخلاق :- یعنی دَ مؤمن مجاهد دَ تربیت لپاره صفات : او اودا په سُورة بقرة ع۲۲ کښ ذکر دی؛ پنځهٔ دَ عقیدے سره او پنځهٔ دَ سلوک و انډ امو نو سره تعلق لری او ټول لسٌ ذکر شوی دی؛

② السیاسة المدنیة :- دَ مُلک دَ امن اصول او سورة بقرة کښ دَ دے دَ پاره څلور احکام ذکر دی ، دَ ظالم نه بدله واخلئ : ع۲۲ ، مال په قانون شرعی تقسیم کړئ ع۲۳ : زوړے و نیسئ دَ پاره دَ ارتباط دَ نفس دَ ع۲۴ نه : منعه شئ دَ رشوتو و رکولو نه : وګورئ ع۲۸ ؛

③ تدبیر المنزل :- یعنی دَ کور دَ جوړیت احکام چه هغه سورة بقرة کښ دَ ع۲۸ نه تر ع۳۱ پورے اتلس ذکر شوی دی: دَ تفسیر په خلاصه کښ به راشی او شیخ القرآن رحمه الله به ورته دَ لطیفے په طور دَ محبت تعوین ویلو۔

④ دَ تاسیس الجماعة اصول :- او دا څلور دی؛ اوّل عقیدة بریو ۵ وی : وګورئ آل عمران ع۱ ، دوئیم قانون به قرآن وی ع۳ ، دریئم ارکان به فعال وی ع۱۰ : څلورم او مال به لکوی په جماعت : وګورئ ع۱۰ آل عمران او پنځم قانون دَ جماعت دَ حفاظت دَ پاره دے چه اغیار به رازدار نه جوړوی او دَ دے لسٌ نقصانات دی: وګورئ دَ ع۱۱ نه آل عمران؛ ان شاء الله تفصیل به تفسیر کښ وګورئ ؛

⑤ پنځم احکام دَ رعیت دی او دا سورة نساء کښ تپارس ذکر شوی دی : تفصیل به په اولے حصه دَ سورة نساء کښ معلوم کړئ۔

⑥ شپږم احکام سلطانیه دَ راعی او رعیت په مابین کښ احکام : سورة نساء دَ دویمے حصے کښ اتلسٌ ذکر دی ،

⑦ اُووم دَ امیر صاحب اطاعت: سورة نساء ع۹ کښ الله تعالی فرمائی ، يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَ اُولِى الْاَمْرِ مِنْكُمْ ؛ "اے د ایمان خاوندانو ! اطاعت وکړئ دَ الله تعالی او اطاعت وکړئ دَ رَسُول ﷺ او

دَ خاوند انو دَ مشرئ ستاسے نه: حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی (ص۵۱۸ ج۱): چه ظاهره دا ده (والله اعلم) چه دا ایت عام دے په ټولو اُولِی الامر کښې که اُمراء دی او که علماء دی: البته خلاف شرع کارونو کښې اطاعت نشته؛ لا طاعة لمخلوق فی معصیةِ الخالق: (قرطبی ص ۲۶۰ ج ۲)؛

اَتم اَصل آداب دی

اَدب ویلے شی استعمال دَ صفه شی ته چه محمود وی، ستائیلے شوے وی، قول وی او که فعل، او ښائیسته ویلے شی عمل کولو ته په ښو اخلاقو باندې او ښائیسته ویلے دی چه دَ ښو کارونو سره او دریدلو ته ویلے شی: و قیل التعظیم لمن فوقک و الرِّفق بمن دونک؛ (مرقات ص ۳۵ ج ۹) - دیندارئ شیخ رحمه الله په "جواهر ص ۲۱۱" کښې دا شعر ذکر کړے دے: ؎

بے ادب تنها نه خود را داشت بد ؛ بلکه آتش در همه آفاق زد

په دیکښې هم یو څو مباحث دی، (۱) دَ جماعت دَ حفاظت آداب: او دا اوه دی په سورة الحجرات کښې ذکر دی. تفسیر کښې وګورئ. (۲) دَ جهاد دَ پاره دَ امیر ضرورت: سورة بقره ۲۴۶ نه دَ طالوت صاحب واقعه په دے ذکر شوې ده، شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل دوران درس کښې، (چه ادیانو قسمته که نه جهاد لاندے دَ حکم دَ یو امیر نه دے) یعنی دَ مجاهد ینو به یو امیر وی، دا نو چه کور کښې به کور کے وی: دَ امیر دَ انتخاب طریقه هم دغه واقعه کښې ذکر ده: او دَ امیر اخلاق ۱۵۹ آل عمران کښې دی: فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ (الآیة): پس په سبب دَ مهربانئ دَ الله تعالی نرم شوے ته دوی ته او که چرے وے ته بدخوئ ژبے، سخت زړے نو خامخا خوارۀ شوی وے دوی لتا نه؛ دغه رنګے امیر به خائن نه وی وګورئ آل عمران ۱۶۱: آمیر به معلّم وی دَ قرآن او دَ سنت، وګورئ ۱۶۴ آل عمران:

(۳) مؤمنان به دَ شورئ پابند وی او امیر به دَ ملګرو نه مشوره اخلی: دَ سورة شوری ۳۶ نه ترمخه پورے دَ مؤمنانو ګڼ صفات ذکر شوی دی: اووم صفت ئے دا دے: وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ: "چه کار دَ دوی به مشورے والا وی په مینځ دَ دوی کښې: او په سورة آل عمران ۱۵۹ کښې أمر راغلے دے، وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ: او مشوره کوه دَ دوی سره په اهمو کارونو کښې؛

(۴) دَ جماعت ارکان به درے قسمه وی، شیخ القرآن رحمه الله به دوران درس کښې په سورة المزمل کښې دا بیانولو، چه یو قسم به عالمان وی دَ قرآن درس به کوی: فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ: دویم قسم به تاجران وی مال به په جماعت لګوی:

وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِن فَضْلِ اللَّهِ: او دَ ئيم قسم ہ مجاهدين دِ باغ كلانكي وي دَ جماعت دَ مسكرو خپلو نه: وَآخَرُونَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ،

فائده ۱:- دا أته أصول دي دَ قرآن حكيم چه بطور خلاصه عرض كيهے شو، دَ دوے دَ پاره چه دَ تفسير په مطالعه كښ آساني وي او دَ تفسيل دَ پاره دَ احقر كتاب "انعام الرحمٰن" كتلے شي چه دَ كوم نه دا خلاصه زير تحرير شوه ؛

بروز پنجشنبه ۳۰/۹ سعوري وقت فريضة الظهر، بالسفلة: مكة المكرمة ۲۱، اگست ۲۰۰۷ء - ۱۹ رجب المرجب ۱۴۲۸ھ

نظر ثاني ۶، اگست ۲۰۰۷ء - ۲۳ رجب المرجب ۱۴۲۸ھ المسجد النبوي بالمدينة المنورة ؛

دَ دعوے او دَ ثمرے بيان

پوهه شه چه دَ هر سورت دَ پاره يو مقصد وي چه بتول سورت په راغونډيږي او دغه مقصد ته دعوي دَ سورت او موضوع ويلے شي څنګه چه دَ هر علم دَ پاره موضوع وي نو چه دلائل په رو ستو ذكر كولي شي نو دغه دعوي دَ سورت وي او په هغې كښ ترينه دلائل وي نو بيا ورته ثمره ويلے شي. انشاء الله تعالى تفسير كښ به دا هغې كښ ځاي په ځاي كوري ؛

فائده ۱: (۱) كله دَ سورت دعوي يوه وي لكه چه دَ سورة اخلاص دعوي توحيد ده ؛ (۲) كله دوه وي لكه دَ سورة نمل: غيب دان يو الله تعالى دے ۶۵، سلامتيا وركولو والا يو الله تعالى دے ۵۹ ؛ (۳) كله درے وي لكه دَ سورة اعراف: رد په منه تنكوه او قرآن او رسول ۲: اتباع دَ مَا أُنزِلَ إِلَيْكُم؛ وكړئ ۳ ستو توحيد ۲۹ ؛ (۴) كله څلور وي لكه سورة بقره ۲۱ كښ توحيد، ۱۰۱ كښ صداقت دَ رسول عليه السلام، ۱۹۰ كښ قتال في سبيل الله، ۲۴۵ كښ انفاق في سبيل الله ؛

دَ دعوو اقسام

دَ سورتونو دَ دعوو ګڼ اقسام دي: انعام الرحمٰن كښ دَ ص ۱۵۳ نه دَ شپږ ويشتو [۲۶] دعوو ذكر شوے دے تفصيلاً ئے هلته وګورئ دلته "مشت نمونه از خروارے" عرض

کلام : ۱ : دعوی دَ توحید ملا بقره ، ۲ : صداقت دَ رسُول صلی الله علیه وسلم سورة ضحی ملا ملا ملا : ۳ : صداقتِ قرآن ملا اقرأ ؛ ۴ : اثبات دَ قیامت ملا سورة القیمة ؛ ۵ : قتال فی سبیل الله ملا۱۹ بقره ؛ ۶ : انفاق فی سَبیل الله ملا حدید ؛ ۷ : دَ جماعت جوړیدو اصول ملا ال عمران نه ؛ ۸ : آداب او امور انتظامیه دَ ملا حجرات نه : وغیره وغیره ❊

دَ ثمرو مثالونه

۱ : وګورئ سورة یونس ملا : ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؛ ۲ : سورة انعام ملا۱۰۲ : ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ خَالِقُ كُلِّ شَیْءٍ فَاعْبُدُوْهُ ؛ ۳ : سورة مؤمنون ملا : فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِیْنَ ۝ ؛ ۴ : سورة عنکبوت ملا ، قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ : او ؛ ۵ : سورة مؤمن ملا : فَادْعُوا اللّٰهَ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ ملا او ؛ ۶ : سورة یونس ملا ، سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰی عَمَّا یُشْرِكُوْنَ ۝ ؛ ۷ : سورة جاثیه ملا۲ : وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ، وغیره : (وسبعة اذا رجعتم) ❊

دَ دلائلو بیان

پوهه شه چه دعوے چه ثابتیږی نو دَ هغوی دَ پاره دَ دلائلو ضرورت وی ځکه هر عقلمند پوهیږی چه په خالی دعوی کولو څه نه ثابتیږی څو پورے چه پرے دلیل ذکر شوے نه وی او چونکه الله تعالیٰ دَ چا عذر او بهانه نه پاتے کوی نو له دے وجے نه قرآنِ پاک کښ ئے دلائل ذکر کړی دی ، کله عقلی وی ، کله نقلی ، کله وحی وی ، او کله خلف ؛ او قرآن پاک کښ دَ دلائلو نه تعبیر په "آیات" سره شوے دے : وګورئ سورة انعام ملا۱۰۵ ❊

عقلی دلائل

عقلی دلائل په دوه قِسمه دی : ۱ : عقلی محض : ۲ : عقلی اعترافی ؛ عقلی محض دیته وئیلے شی چه عقل سلیم ئے منی او مقدمات ئے دَ مقابل په نزد مُسلم وی ؛ او تعرض پکښ اعتراف ته نه وی ، او اعترافی دیته وئیلے شی چه خصم ئے منی او اقرار او اعتراف پرے کوی صراحةً ؛ او یا سکوت پرے کوی نو ګویا که سکوت ئے په دغه ځائے کښ دلیل دَ رضا وی : دَ اول مثالونه : سورة نحل ملا کښ راځی : خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ تَعٰلٰی عَمَّا یُشْرِكُوْنَ "پیدا کړی دی الله تعالیٰ آسمانونه او زمکه دَ پاره دَ اظهار دَ حق او چت دے دَ هغه نه چه دوی ئے دَ الله تعالیٰ سره شریکوی" ؛ بیا ملا کښ فرمائی : خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ فَاِذَا هُوَ خَصِیْمٌ مُّبِیْنٌ ۝ "پیدا کړے الله تعالیٰ

انسان د نطفې نه نو ناڅاپه دے جهګړالو ښکاره دے.

فائده:- سورة انعام کښې ۲۵، سورة نحل کښې ۲۲، سورة روم کښې ۱۷ — دلائل عقلیه دي: تفسیر کښې ئے بیان راروان دے: شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل چه دوه قسمه دلائل عقلیه په قرآن کښې ویردي: یو دا چه د هر شي پیدا کوونکو والا الله تعالیٰ دے نکه ذکرشو: دویم دا چه عالم په هرشي الله تعالیٰ دے لکه نحل ۱۹ کښې فرمائي: وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُسِرُّوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ ۝ او الله تعالیٰ پوهیږي په هغه چه تاسو ئے پټ کوئ، او هغه چه تاسو ئے ښکاره کوئ.

د اعترافي دلائلو مثالونه

دا هم په ګڼړو سورتونو کښې دي، منجمله ترینه سورة یونس ۳۱ کښې راځي: "ووایه څوک رزق درکوي تاسو ته د اسمان نه او د زمکے نه؟ آیا څوک واکدار دے د غوږونو او سترګو؟ او څوک راوباسي ژوندے د مړي نه او راوباسي مړے د ژوندي نه؟ او څوک تد بیر د کارونو کوي؟ فَسَيَقُوْلُوْنَ اللّٰهُ: نو زر دے چه ووبه وائي دوی الله تعالیٰ." دغه شان ئے سورة زخرف ۹ کښې راځي: وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ خَلَقَهُنَّ الْعَزِيْزُ الْعَلِيْمُ ۝ "او که چرے تپوس وکړے ته د دوی نه چه چا پیدا کړي اسمانونه او زمکه نو خامخا یقیناً وبه وائي چه پیدا کړي دي دوی لره زورور او پوهه ذات."

د عقلي الزامي مثالونه

یعني هغه دلائل چه مخالف پرے صراحتاً اعتراف نکوي خو (مُسکِتُ) چپ کوونکے وي هغه لره: سورة انعام ۱۲ کښې راځي: قُلْ لِّمَنْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط قُلْ لِّلّٰهِ: "ووایه چه د چا دپاره دي هغه چه په اسمانونو کښې دي او په زمکه کښې (نو دوی به غلي شي)، نو ووایه چه الله تعالیٰ لره دي: سورة یونس ۳۴ کښې دي: قُلْ هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ط قُلِ اللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ۝ "ووایه آیا شته د شریکانو ستاسو نه هغه څوک چه پیدا ئش د مخلوق کوي بیا ئے اعاده کوي (نو دوی به غلي شي)، ووایه الله تعالیٰ شروع کوي د پیدائش بیا ئے اعاده کوي نو کوم خوا اړولي شئ تاسو؟ یعني د الله تعالیٰ د توحید نه:

دلائلِ نقلیّه:

دلائلِ نقلیه دیته ویلے شي چه دلیل نیول پکښې په نقل سره وي یا د عزتمند انسان نه په نفسُ الامر کښې یا د مخاطب په نزد یا د تسلیم شوي کتاب نه یا د داسے

شي نه چه باطل ته مائل نه وي: دَ قرآن پاک دَ مطالعې نه ښکاري چه دلائل نقليه معلوميږي: ۱: دَ انبياء عليهم السلام نه: ۲: دَ ملائكو عليهم السلام نه: ۳: دَ ښو انو اولياء كرامو رحمهم الله نه: ۴: دَ جنّاتو اپيريانو نه: ۵: دَ ښو انو كتابونو نه: ۶: دَ مرغانو او وحوشو نه ۞

التفصيل دَ انبياء عليهم السلام نه كله اجمالي اجماعي دليل وي لكه سورة انبياء ع۲ كښې ارشاد دے: وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِيْٓ اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ ۝ او مونږ نه دي ليږلي مخكښې ستا نه هيڅ يو رسول مگر وحي مو ورته كړے دَ دے خبرے چه لشته حق الٰه بندگئ سوا زما نه، نو عبادت كوئ زما: سورة نحل ع۵ او سورة زخرف ع۵ : او نورو سورتونو كښې هم دي: او كله انفرادي تفصيلي وي: لكه واقعات دَ پيغمبرانو عليهم السّلام په ګڼړو سورتونو كښې دي: بطور مثال سورة هود ع۳ نه دَ نوح عليه السلام، دَ ع۵ نه دَ هود عليه السلام، دَ ع۶ نه دَ صالح عليه السلام دَ ع۸ نه دَ شعيب عليه السلام واقعے ذكر دي ۞

فائده :- قصص دَ انبياؤ عليهم السّلام دلائل نقليه دي دَ هغوي نه او په دغو كښې بے شماره حكمتونه دي چه دَ انسان علوم پرے احاطه نشي كولے: انعام الرحمن كښې دَ طٰلٰکا نه لس حكمتونه ذكر شوي دي او تفسير كښې هم دَ واقعاتو حكمتونه او فائدے په ګوته شوي دي ۞

نقلي دَ ملائك عليهم السلام نه

دَ دے نه مراد دَ هغوي اقوال او احوال دي چه هغوي دَ الوهيت حقدار نه دي او دَ دوي اقوال او احوال دَ الله تعالى په وحدانيت باندې دلائل دي: بطور مثال سورة بقره ع۴ كښې رازي چه دوي وائي: سُبْحٰنَكَ لَا عِلْمَ لَنَآ اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا ؕ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ۝ "پاكي ده تا لره، نشته پوهه مونږه لره مگر هغه چه تا راكړے ده يقيناً ته پوهه او دَ حكمت والا يے": سورة تحريم ع۱ كښې رازي: لَا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَآ اَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ "چه خلاف نكوي دوي دَ الله تعالىٰ او كوي هغه چه دوي ته پرے امر كولے شي،

نقلي دَ ښو انو نيكانو نه

سورة يٰسٓ كښې دَ هغه نيك سړي رحمه الله بيان دے چه دَ دريو پيغمبرانو تائيد ئے كړے وو، دَ ع۲ نه ترخنه پورے: په ع۲ كښې رازي: وَمَا لِيَ لَآ اَعْبُدُ الَّذِيْ فَطَرَنِيْ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝ "او څه دي ما لره چه عبادت نكوم دَ هغه ذات چه پيدا كړے دے ما لره او خاص هغه ته به واپس كيږئ تاسے" او سورة

لقمان کښې دَحکیمُ الدُّنیا رحمه الله نقلي دلیل په ۱۳ کښې راذي، یٰبُنَیَّ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ٥ ''اے بچوړیه! شرک مکوه د الله تعالیٰ سره، یقیناً شرک ګوَل خامخا ظلم لوئے دے.'' نور مثالونه به دَ قرآن کریم په تفسیر کښې په ګوته کیږي:

نقلي دَ جناتونه

سورة احقاف کښې دَ ۲۹ نه ترمتا پورے: وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ ۚ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوا أَنصِتُوا ۖ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ ٥'' او کله چه را وګرځوله مونږ تا ته یوه ډله دَ پیریانو نه، غوږ به ئې ږدلو قرآن ته نو کله چه حاضر شو ورته نو وئیلې چپ شئ، پس کله چه تلاوت ختم شو وګرزیدې قوم خپل ته ویره ورکوونکي.'' او سورة الجن خو مستقل دلیل نقلي دے دَ جناتونه دَ ۱ نه تر ۱۳ پورے دیارلس بیا ثابت دی دَ هغوی او په ۲ کښې راذي: وَلَن نُّشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا ٥ ''او هیچرے نه شریکوو مونږه دَ رب خپل سره څوک'':

نقلي دَ پخوانو کتابونو نه

یعنی پخواني کتابونه او صحیفې هم تصدیق دَ توحید او دَ قرآن او دَ رسول ﷺ کوي: بطور مثال سُورَةُ الْأَعْلَىٰ ۱۸ ۱۹ کښې راځي: إِنَّ هَٰذَا لَفِي الصُّحُفِ الْأُولَىٰ ٥ صُحُفِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ ٥ ''یقیناً دا مضمون په صحیفو مخکنو کښې دے چه صحیفې دَ ابراهیم او دَ موسیٰ (علیهما السلام) دي.'' سورة اسراء ۲ کښې دي: وَآتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَجَعَلْنَاهُ هُدًى لِّبَنِي إِسْرَائِيلَ أَلَّا تَتَّخِذُوا مِن دُونِي وَكِيلًا ٥ ''او ورکړے وُو مونږ موسیٰ ؑ ته کتاب او ګرزولے مونږ هغه لره هدایت دَپاره دَ بني اسرائیلو، (مضمون ئې کښې دا وُو) چه مه نیسئ سوا زما نه کارساز.'' څنګه چه دا مسئله په ۹ المزمل کښې هم ده: رَّبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيلًا ٥ ''رب دَ مشرق او دَ مغرب دے، نشته حقدار دَ بندګۍ سوا دَ هغه نه، نو ونیسه هغه لره کارساز'':

نقلي دلائل دَ مرغو او وحوشو نه

قرآن پاک کښې دَ دوی حال هم ذکر دے اګرچه دَ ذُو العقول نه نه دي لاکن بیا هم دَ باري تعالیٰ په توحید قائل دي او په دے ورله شعور ورکړے شوی دے سورة النحل ۶۹ کښې دَ مچۍ ذکر دے چه الله تعالیٰ ورته الهام کړے دے

او د رب د حکم تابع دی: فرمائی: ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ الثَّمَرٰتِ فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا: "بیا خوره د هر قسمه میوو نه پس ته په لارو د رب خپل چه تابع شوی یه وی: دغه شانے سورة نمل کښې رازی: قَالَتْ نَمْلَةٌ يّٰاَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوْا مَسٰكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمٰنُ وَجُنُوْدُهٗ وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝: وویلے میږئ، اے میږیانو! داخل شئ سورو خپلو ته چه د ل نکړی تلے لره سلیمان علیه السلام او لښکر د هغه او دوی به خبر نه وی" معلومه شوه چه د میږی عقیده دا وه چه سلیمان علیه السلام او د هغه ملګری غیب دان نه دی: شیخ القرآن رحمه الله به بطور لطیفه فرمایل چه مُلا صاحب به څنګه میږان جوړیږی: دغه شانے د هُدهُد نه هم نقلی دلیل سورة نمل ۲۵ کښې وګورئ،

دلائلِ وَحیّه

څکښې چه څومره دلائل عقلیه او نقلیه ذکر شو، دغه هم وحی دلائل ذکر په دے معنی سره چه په قرآن پاک کښې ذکر شوی دی او نبی اکرم ﷺ ته د قرآن مجید وحی شوے ده څو ولته مقصد دا دے چه د دے مسئلے وحی نبی ﷺ ته خصوصی طور سره شوے ده او هغوی مامور شوی دی په دے بانږ چه وئے رسوه، د دے څلور قسمه تعبیرات "انعام الرحمن" کښې وګورئ: دلته دوه مثالونه عرض کولے شی: سورة کهف ۱۱۰ کښې ارشاد دے، قُلْ اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰى اِلَيَّ اَنَّمَا اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ الخ: "ووایه چه یقینًا څه بشر یم پشان ستاسے، وحی کولے شی ما ته چه یقینًا معبود ستاسے معبود کاریګو دے" سورة انعام ۱۹ کښې ارشاد دے: وَاُوْحِيَ اِلَيَّ هٰذَا الْقُرْاٰنُ لِاُنْذِرَكُمْ بِهٖ وَمَنْۢ بَلَغَ ؕ: "او وحی شوے ده ما ته د دے قرآن چه ویرؤم تاسے په دے او هغه څوک چه دا ورته ورسیږی"

دَحلف (قسم) بیان

د شیخ القرآن رحمه الله نه العرفان ۵۶ کښې نقل شوی دی چه څنګه مدعی په دلائلو ذکر شوے ثابتیږی، نو دغه شانے مدعی په قسم هم ثابتیږی لکه ویلے شوی دی: ؎

فَاِنَّ الْحَقَّ مَقْطَعُهٗ ثَلَاثٌ ۞ يَمِيْنٌ اَوْ لِقَاءٌ اَوْ جِلَاءٌ

"چه یقینًا د حق د قطع والی د پاره درے شیونه دی: قسم، یا ملاقات، یا ښکاره والے."

د پیر شیخ رحمه الله په "جواهر القرآن ۵۸۳" کښې د شیخ المشائخ

مولٰنا حُسین علی رحمه الله په نقل لیکی چه دَ "مُقسَم بِه" یعنی پهٔ کوم شی چه قسم خوړلے شی، په اعتبار سره دَ قسم څلور قِسمونه دی: "انعام الرحمٰن" او "تفسیر دوامږو کښې کتلے شی. او دا ئے هم فرمایلی دی چه دَ قرآن اکثر او بیشتر قسمونه دَ دے قِسمه نه یعنی بطورِ شاهد او ګواه دی: لکه سُورة العصر ۱ کښې دی، وَالْعَصْرِ شاهد دے زمانه ـ ابن القیم رحمه الله په دے کتاب لیکلے دے "التبیان فی احکامِ القرآن" هغه قابلِ دید کتاب دے ؛

زواجر او تخویفات

کله چه حق بیان شی نو خلق درے ډلے وګرزی: ۱: هغه چه وئے مَنی: ۲: هغه چه ښکاره ئے ومنی او زړهٔ کښې پټ ئے نهٔ منی: ۳: هغه چه پټ او ښکاره ترینه انکار وکړی: لکه سورة الحج ۵۲ کښې ارشاد دے: وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ "چه موږ نهٔ دی رالیږلی مخکښې ستا نه هیڅ رسول او نهٔ نبی مګر چه کله ئے بیان او قراءت کولو نو اچولے به شیطان "وسوسے" په وقت دَ بیان دَ هغهٔ کښې نو زائله به کړه الله تعالیٰ هغه چه غورزولے به شیطان بیا به ئے مضبوط کړه آیتونه خپل، او الله تعالیٰ پوهه او دَ حکمت والا دے." بیا په ۵۳ کښې دَ منافقانو، ۵۴ کښې دَ مؤمنانو، ۵۵ کښې دَ کافرانو حال ذکر کوی. او کله دَ مخکښې نه تنبیه ورکوی چه خبر شه ستا دَ بیان نه بعد به خلق درے ډلے ګرزی لکه ۱ بقره کښې اصلی مسئله دَ توحید ده، نو دَ مخکښې نه مؤحّد نه درے ډلے بنائی: ۲ تر ۵ کښې دَ متقیانو او ۶، ۷ کښې دَ کافرانو او دَ ۸ نه تر ۲۰ پورے دَ منافقانو صفات ذکر کړی دی۔ لهٰذا دَ دغه ټولو په حقله قرآن پاک کښې فیصلے ذکر کوی، دَ منونکو دَ پاره هم او دَ منکرینو دَ پاره هم۔ منجمله دَ هغو نه زجر دے ؛

دَ زَجر بیان ؛

زَجر دَ عربی لفظ دے او قرآن پاک کښې سُورة صٰفٰت ۲ کښې ذکر شوے دے: فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا "پس شاهد دی شړونکی ملائک په شړلو سره: بیا ۱۹ کښې رازی: فَاِنَّمَا هِیَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ "پس یقیناً دا چغه یوه ده"؛ "دغه شانے سُورة نازعات ۱۳ کښې هم دی۔ حافظ ابن کثیر رحمه الله (ص ۲۶۷ ج ۳) دَ حسن بصری رحمه الله په حواله لیکی چه دَ زجر معنیٰ چغه دَ غضب ده ؛

فائده:۔ دَ زجر ډیر اقسام دی ځکه چه چا له زجر (رټنه) ورکولے شی هغه ډیر دی: دغه شانے کله ئے په اقوالو سره وی او کله په افعالو سره وی، او کله مؤمنانو لره وی: لکه سورة آلِ عمران ۱۵۲ کښې په سُستئ او مخالفت

سره دے او په سورة صف ملا کښې په اقوالو سره دے: لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ او زجرونه منافقانو لره ډیر زیات دی د هغوی په غلطو اقوالو او ناکاره افعالو سره. منجمله ترینه سورة توبه کښې ۳۸ نه وګورئ چه د جهاد په باره کښې تاسے ته وینا اوشی: اِثَّاقَلْتُمْ اِلَى الْاَرْضِ "نو درانه شئ زمکے ته" او همدا رنګه په ۴۹ کښې زجر ورله دے په غلط قول سره: وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُولُ ائْذَنْ لِّيْ وَلَا تَفْتِنِّيْ "او بعضې د دوی نه هغه څوک دی چه وائي اجازه وکړه ماته (د پاتے کیدو) او په امتحان کښې مه اچوه ما لره" د غه رنګے یهودو لره په ۱۸ مائده کښې، نصاراؤ لره په ۷۳ مائده کښې زجرونه دی او نورو سورتونو کښې: د غه رنګے مشرکانو لره په نه منلو د توحید ۴ صٰفّٰت کښې په نه منلو د رسول علیه السلام په ۴۳ رعد کښې په نه منلو د قرآن ۶۰ فرقان کښې په نه منلو د قیامت سورة ملک ۲۵ کښې زجرونه دی: انشاء الله تفسیر کښې به ځائے په ځائے په دیځ نشاندهی کیږی.

دَ تخویف بیان

مُراد د تخویف نه ویره ورکول دی نه منونکو لره د دُنیا په عذاب څنګه چه په زړو قومونو راغلی وو — او ویره ورکول دی د آخرت په عذاب باندې، د تخویف لفظ په قرآن کښې سورة اسراء ۵۹ ۶۰ کښې او زمر ۱۶ کښې راغلے دے:

مثالونه

د دے ډیر مثالونه دی: دلته په یو یو مثال اکتفاء کوله شی. سورة عنکبوت کښې د زړو قومونو هلاکت ذکر شو بیا اونومونو نے اختلی شوی دی؛ نو ۴۰ کښې فرمائی: فَكُلًّا اَخَذْنَا بِذَنْۢبِهٖ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ اَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْاَرْضَ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ اَغْرَقْنَا ۚ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ "پس هر یو ونیوّل مونږ که په ګناه د هغه: نو بعضې د دوی نه هغه وو چه رالیږلے وو مونږ په هغوی باران د ګټو، او بعضې د دوی نه هغه وو چه ونیولو دوی لره چغې، او بعضې هغه وو چه ومنډل مونږ هغه په زمکه باندې، او بعضې د دوی نه هغه وو چه ډوب کړه مونږ هغوی لره او نه دے الله تعالیٰ چه ظلم وکړی په دوی باندې لاکن وو دوی په ځانونو خپلو نے ظلم کولو" او سورة بقره ۲۴ کښې فرمائی: فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا وَلَنْ تَفْعَلُوْا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ۖ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ "که چرے دا کار مو اونکړو، او هیچرے نے نشئ کولے نو ویریږئ د اور هغه نه چه خشاک نے خلق او ګټے دی، تیار شوے دے د پاره د کافرانو".

برزخي تخويف

تخويفاتو کښې يو قسم تخويف دَ قبر او دَ برزخ دے او دا دَ دنيا او اخرت په مابين کښې دے. شيخ القرآن رحمه الله به فرمايل چه قرآن پاک کښې دَ اتلس ايتونو نه عذاب قبر او برزخ ثابت دے. سورة مؤمن ع۵ ايت ۴۶ بانديعامو مفسرينو رحمهم الله ليکلي دي چه دا دليل دے په اثبات دَ عذاب قبر باندې؛ الهام الرحمٰن او انعام الرحمٰن او دے تفسير کښې پرے حوالے ورکړے شي: ايت دا دے: اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا "اور پيښ کړلے شي دوي په اور سحر او بيګاه" دغه شانے دَ سورة نوح ايت ۲۵ باندې هم مفسرينو رحمهم الله ليکلي دي:

دَ ختم القلب يعني دَ زړه دَ ټاپے بيان

کله چه مبلغ بيان وکړي او معانِدَ يے نه مني نو دَ دے دپاره څلور مرتبے دي، اول شک کوي، بيا ګمراه شي، بيا جګړه کوي، بيا يے په زړه مهر ولګي نو دَ هدايت اميد يے ختم شي. سورة مؤمن ع۴ ۳۴ کښې دا څلور واړه دَ رجل مؤمن په بيان کښې ذکر دي او دَ دے دپاره کثر الفاظ په قرآن پاک کښې ذکر دي، انشاء الله مخے ته به راشي او قرآن پاک چونکه په عُرف او محاوره راغلے دے نو کله دَ مهر لګولو نسبت الله تعالیٰ ځان ته کوي. بقره ۷: او کله دوي يے خپل ځانونو ته کوي لکه ختم سجده ۵ کښې: او کله دَ دوي عملونو ته نسبت کړے شي لکه مطففين ۱۴ کښې: انشاء الله تعالیٰ نور وضاحت به تفسير کښې ويني:

دَ تسلئ بيان

تسلي په لُغت کښې غم لرے کولو ته وائي: مختار الصحاح ص۳۴۲ کښې راځي: سَلَاهُ وَمِنْ هَمِّهِ تَسْلِيَةً وَاسْلَاهُ "چه تسلي يے ورکړه دَ غم دَ هغه نه په تسلي ورکولو سره او غم يے تري نه لرے کړو." مطلب دا چه کله مصائب راشي په مؤمنانو باندې او کفار تکذيب او استهزاء شروع کړي نو الله تعالیٰ نبي کريم صلى الله عليه وسلم او مؤمنانو ته حکم کوي په صبر کولو سره او په تثبت او مضبوطيا سره او داوه کوي دوي لره: لکه انعام ع۱ کښې فرمائي: وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَحَاقَ بِالَّذِيْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ o او يقيناً ټوقے شوے وے په ډيرو رسولانو پسے مخکښې ستا نه پس احاطه وکړه په هغه کسانو چه مسخرے يے کولے په دوي پسے عذاب دَ هغه چه په دوي پسے

مسخرے کولے ." او سورۃ عنکبوت ملا کښ راځی ؛ اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ یُّتْرَکُوْا اَنْ یَّقُوْلُوْا اٰمَنَّا وَ هُمْ لَا یُفْتَنُوْنَ ۝ وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ الخ: ایا گمان کوی خلق چه پرے به ښودے شی چه وائی مونږ د ایمان راوړے دے او په دوی به امتحان نشی کولے ؛ یقیناً امتحان کړے ؤو مونږ په هغه کسانو چه مخکښ تېر ؤو ، پس بیل کړی واو الله تعالی هغه کسان چه رښتیا ئے ویلی ؤو او بیل کړی هغه کسان چه دروغژن ؤو ."

دَ بشارت بَیان

دَ بشارت (زیری) لفظ قرآن پاک سورۃ بقرہ ع۳ او په سورۃ زمر ع۲ کښ ذکر دے . راغب اصفهانی رحمه الله "مفردات ص۴۸" کښ فرمائی چه دَ خوشالئ خبرته بشارت او بُشری ویلے کیږی ؛ په بشارت مستقل سورتونه راغلی دی - او کله دَ دُنیا وی او کله دَ عُقبی (آخرت) وی : دَ اول مثال لکه سورۃ النصر شو ، چه دَ فتحے او نصرت زیرے پکښ ذکر دے او دَ آخرت زیرے لکه ع۳ بقره کښ دی ؛ وَبَشِّرِ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ : " او زیرے ورکړه هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړے دے او عملونه کوی نیک چه یقیناً دوی لره باغونه دی ، چه بهیږی ئے لاندے دَ هغونه ویالے :" انعام الرحمن " کښ دَ وارو قسمو مثالونه ذکرشوی دی :

دَ بشارتِ برزخی بیان

څنګه چه دَ تخویفاتو په لړکښ دَ تخویف برزخی ذکر هم ؤو نو دلته دَ بشارتِ برزخی ذکرمناسب گنړم ؛ سورۃ ابراهیم ع۴ کښ ارشاد دے ؛ یُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا وَفِی الْاٰخِرَةِ ۝ ۲۷ "مضبوطوی الله تعالی هغه کسانو لره چه ایمان ئے راوړے په وینا مضبوطے سره په ژوند دَ دُنیا کښ او په آخرت (قبر) کښ :" مفسرینو رحمهم الله فرمائیلی دی چه دَ وَفِی الْاٰخِرَةِ معنی فِی الْقَبْرِ ده : انعام او الهام - او دے تفسیر کښ حوالے وګورئ :

فائده :- دا خبره قابله دَ ذکر ده چه برزخ او قبر دَ شرعے په اصطلاح کښ نوم دَ هغه مکان دے چه دَ انسان رُوح ورته بوتلے شی او باقی دا خبره چه دَ جسم سره ئے څنګه تعلق دے ، دَ هغے په کیفیت یو الله تعالی پوهه او خبر دے :

دَ ربط القلب بیان

دا یوه درجه ده چه دَ "ختم القلب" په مقابله کښ ده ؛ یعنی څرنګه چه

دَ بَد و عملونو په وجه دَ کافرانو په زړونو باندې مُهر لګیږی. همدغه شانے دَ مؤمنانو په زړونو دَ ښو عملونو په وجه رَبط راځی : دَ شیخ القرآن رحمه الله په "العرفان منا" کښې منقول دی چه ربط القلب سکینه او اطمینان دے په زړونو دَ مؤمنانو باندې، دَ پنج پیری شیخ رحمه الله (ص ۱۷، ۵۰) کښې فرمائی چه دَ هدایت څلور مرتبے دی: اَنابت، هدایت، وګورئ رعد ۲۷، استقامت : وګورئ خم سجده ۳۰، او رَبط القلب : وګورئ کهف ۱۴، دَ سورة کهف آیت کریمه دا دے : وَرَبَطْنَا عَلٰی قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُوا فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ لَنْ نَّدْعُوَا مِنْ دُونِهِ إِلٰهًا لَّقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا. "او پیتے لګولے وه مونږ په زړونو دَ اصحاب کهفو کله چه ودریدل (دَ باچا دربار کښې) نو وې ویلے رَب زمونږ رَب دَ اسمانونو او دَ زمکے دے، هیچرے نه رابلو سوا دَ هغه نه کارساز، یقیناً وبه وایو زیاتے خبره." انشاء الله تفصیل به ئے تفسیر کښې ګورئ ❊

تحریر شد در دار المسند : قریب مسجد قبس :
المدینة المنورة : ۱۵/ اګست ۲۰۰۷م موافق
۲۲ رجب المرجب ۱۴۲۸ھ بوقت ۱۵/۱ بجے
❊ پاکستانی وقت ❊ ❊ ❊

یو څو اَهم قواعد

دَ منکرینو او معتقدینو دَ احوالو نه بعد یو څو اَهم مباحث او قواعد دَ فهم دَ قرآن پاک دپاره ذکر کوم ځکه چه زمونږ شیوخو تقریرًا او تحریرًا بیان کړی دی، چه مبتدیانو او لوستونکو ته بیا آسانی وی : وبالله التوفیق ❊

① التزهید فی الدُّنیا

یعنی بے رغبتی او بے توجهی په دُنیا کښې : قرآن پاک کښې هم دا مضمون ځائے په ځائے راځی ځکه چه دَ دُنیا محبت او دے لره په زړه کښې ځائے ورکول سبب دَ زوال دَ محبت دَ الله تعالیٰ دے او سبب دَ عذاب دے : دَ سورة "تکاثر" دعویٰ هم دا ده : سورة کهف کښې خساست دَ دُنیا په درې طریقو سره ذکر دے : وګورئ دَ ۴۵ نه : سورة الزخرف ۳۳، ۳۴، ۳۵ کښې ارشاد دے:

وَلَوْلَا أَنْ يَكُونَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَنْ يَكْفُرُ بِالرَّحْمٰنِ لِبُيُوتِهِمْ

سُقُفًا مِّنْ فِضَّةٍ وَّمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُوْنَ ۙ وَلِبُيُوْتِهِمْ اَبْوَابًا وَّسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِـُٔوْنَ ۙ وَزُخْرُفًا ؕ وَاِنْ كُلُّ ذٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَالْاٰخِرَةُ عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِيْنَ ۝ :" او کچیرے دا ویره نه وے چه خلق به ټول یوه دله شي "په کفر باندې" نو خامخا گرځولی به وے مونږ. هغه خلقو ته چه کفر کوي په مهربان ذات د پاره د کورونو د دوي چتونه د سپینو زرو او پروي چه په هغو دوي ختلي او د کورونو د دوي د پاره دروازے او کټونه چه په هغو دوي تکیه لګوي: او دا ټول به مو ورله ګرځولي وے) د سرو زرو نه: او نه دي دغه ټول مګر څه ګټه د ژوندِ دُنیا ده او اٰخرت په نزد د رب ستا د پاره د مُتقیانو دے."

۲ الامثال

کله قرآن پاک کښې مثالونه د پاره د وضاحت او پند او نصیحت حاصلولو ذکر کیږي: د عربو مشهور مثال دے، اَلْمَثَلُ بِلَا امْثَالٍ كَالْفَرَسِ بِلَا لِجَامٍ وَّ النَّاقَةِ بِلَا زِمَامٍ: "یعنی چه د کوم شي د پاره مثال نه وي، دا سے دے لکه چه د آس د پاره واګه نه وي او د اوښ د پاره چلب نه وي." سورة عنکبوت "ع ۴" کښې فرمائي: وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ۚ وَمَا يَعْقِلُهَآ اِلَّا الْعٰلِمُوْنَ ۝ "او دغه مثالونه بیانوو مونږ دغولره د پاره د فائدے د خلقو او نه پوهیږي په دغو مګر عالمان." د شیخ القرآن رحمه الله د ارشاد مطابق چه ابن القیم رحمه الله فرمائي چه قرآن کښې څلور څلویښت مثالونه دي او شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل چه د اوربو او د اورمثالونه قرآن کښې ذکر دي ځکه چه اوربه او اور بقدر ضرورت رحمت دے او چه د حد نه زیات شي نو زحمت شي: یعنی مُفید هم دي او مُضِر هم. د اوربو مثال سورة ۵ ع ۹۵ اعراف کښې، او د اور مثال بقره ع ۲ کښې راروان دي.

۳ القصص فی القرآن

قرآن پاک کښې د انبیاء علیهم السلام او د نورو نیکانو رحمهم الله واقعات ذکر شوي دي او د هغو ګڼ فوائد دي: دا د نورو قِصو غوندے قصے نه وي دا دلائل نقلیه وي په مختلفو دعوو کانو باندې: کله غیر مکرر وي او دا په ځائے خپل وي: او کله مکرر وي او تکرار کښې ئے هم ګڼ فوائد وي: مکرر واقعات سورة اعراف، هود، شعراء وغیره کښې وګورئ: فوائد یے تفسیر کښې مطالعه کړئ: او غیر مکرر لکه واقعه د طالوت رحمه الله، واقعه د اصحاب کهف، واقعه د خضر علیه السلام، واقعه د ذوالقرنین رحمه الله، واقعه د خسف د قارون لعنه الله: او تفصیلي واقعه د یوسف علیه السلام شوه ۞

④ اَلْاُمُوْرُ الْمُصْلِحَةُ

کله قرآن مجید کښې ترغیب ورکوي نیکو عملونو ته چه تاثیر کوونکي وي د پاره د مُصلح او دفع کوونکي وي د هغه نه عذاب۲ او تسلي وي داعي د حق لره ۱ سورة عنکبوت ۴۵ کښې پس د عذاب د هلاک شوو قومونو نه ارشاد دے: اُتْلُ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ "لولوه هغه چه وحی نے کیږي تا ته د کتاب نه او قائموه مانځه لره یقیناً مونځ منع کوي د بے حیاء او بدو کارونو نه." سورة الاسراء کښې د دفع د عذاب د پاره درې کارونه ذکر شوي دي: شرک مکوئ ۲۳: د الله تعالیٰ مخلوق سره نیکي کوئ او د دے مخلور نمونے دي ۳۴ بظلم مکوئ: او د دے شپږ نمونے د ۳۱ نه، تفسیر کښې راروان دي هلته به په غور سره مطالعه کړئ ۞

⑤ اَلْاِدْخَالُ الْاِلٰهِيُّ

(یعنی مینځ کښې معترض کلام) دا په دوه قسمه دے: یو دا چه یو مضمون روان وي او بیا بل مضمون شروع شي خکه چه اول مستلزم وي دوېم د پاره او دیته تنویر او روښنائي اچول هم وائي: لکه سورة بقره ۱۹۶ کښې فرمائي: وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ ؕ "او پوره کړئ حج او عمره د پاره د رضا د الله تعالیٰ؛ مخکښې نے جهاد او انفاق في سبیل الله ذکر کړے دے، نو روستو حج او عمره د پاره د تنویر ذکر کوي لکه چه "سمط الدرر" کښې شیخ القرآن رحمه الله ذکر کړي دي او تفسیر کښې به راشي. او بل قسم دا دے چه یو مضمون روان دي نو مینځ کښې یو عبارت په طور د جمله معترضه راشي لکه سورة نمل ۳۴ کښې د بلقیس بیان شروع دے چه "باچایان کله کوم ښار ته داخل شي نو برباد وي ئے او کړوي عزتمند اهل د هغه ذلیله؟" نو الله تعالیٰ د پاره د تصدیق د قول د هغې وفرمایل: وَكَذٰلِكَ يَفْعَلُوْنَ ۝ او همدغه رنګے کوي دوي؛ "الوسي رحمه الله فرمائي (ص ۱۹۸ ج ۱۹) روح المعاني کښې چه دا تصدیق دے د الله پاک له طرفه نه بلقیس لره چه واقعي دغسے کوي ۞

⑥ اَلْاِنْدِمَاجُ

د دے مطلب دا دے چه یو ځائے کښې عبارت حذف شوے وي او ذکر شوے عبارت پرے دلالت کوي: انشاء الله تعالیٰ تفسیر او ترجمه کښې به د دے نمونے

راځي: بطور مثال سورة بقره کښې ارشاد دے، مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ نَارًا، دلته مثلهم جمع دے او د مضاف اليه په وجه او كمثل الذي الخ مفرد دے معنې نه صحیح کیږي، گنځه توجیه گانې مفسرین رحمهم الله کوي، يوه توجيه شيخ المشائخ مولنا حسين علي رحمه الله کړې ده چه دلته انډ ماځ دے، بيا د پنډوئ شيخ رحمه الله په "جواهر" کښې دا عبارت ليکلی: وَعِنْدَهُ رِجَالٌ أَحَدُ أَو په خوا د ده کښې سړي ناست وو؛ او د پنجپير شيخ القرآن رحمه الله به دوران درس کښې فرمايل: وَهُنَالِكَ رِجَالٌ قَاعِدُونَ، او دغلته سړي ناست وو، د دواړو مطلب يو دے ؛

(ختم شد نظر ثاني د بعد سحر د وقت بعد از نماز عصر در مسجد نبوي مدينه منوره قريب ديوار قبله : ۲۰ اگست ۲۰۰۷ء موافق ۲۳ رجب المرجب ۱۴۲۸هـ)

(بعون الله وحسن توفيقه)

⑦ د نسخ بيان

امام زرکشي رحمه الله په "البرهان" کښې ليکلي دي، قَالَ الْأَئِمَّةُ وَلَا يَجُوزُ لِأَحَدٍ أَنْ يُفَسِّرَ كِتَابَ اللهِ تَعَالَى إِلَّا بَعْدَ أَنْ يَعْرِفَ مِنْهُ النَّاسِخَ وَالْمَنْسُوخَ؛ "چه اماما نو ويلي دي چه جائز نه دي هيچا لره چه تفسير كوي د كتاب د الله تعالی مگر پس د هغه نه چه وپيژني د دغه نه ناسخ او منسوخ لره." د نسخ معنی نسفي رحمه الله "مدارك ص ۶۱ ج ۱" کښې کړے ده: حاصل ئې دا دے چه په لغت کښې بدلولو ته ويلے کيږي؛ او په شريعت کښې بيان د ختميدو د موده د حکم شرعي دے چه مطلق وي په طريقے د روستوالي سره کوم چه زمونږه وهمونو کښې هميشه وي ؛ نو نسخ بدلول د حکم دي زمونږه په حق کښې او خالص بيان دے په حق د صاحب د شريعت کښې؛ يعنې مونږ ته بدلول ښکاري او شرعے ورله هم دغه وقت مقرر کړے وي ختم شي؛ قرآن پاك د سورة بقره کښې راځي، مَا نَنْسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنْسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِنْهَا أَوْ مِثْلِهَا؛ "کچرے بدل کړو مونږ کوم آيت لره يا پخلي پريږدو هغه لره نو راتلے کوو مونږ په غوره د هغه نه او يا په مثل د هغه." شاه ولي الله رحمه الله "الفوز الكبير ص ۲۲-۲۳" کښې فرمائي چه بعض د سختو مواضعو نه په تفسير کښې معرفت د ناسخ او د منسوخ دے او وجه د سختۍ ئې اختلاف دے په اصطلاح د متقدمينو او متأخرينو کښې. بيا هغوي تفصيل ليکلے دے، حاصل ئې دا دے چه د متقدمينو علماؤ په نزد معمولي تبديلۍ ته هم نسخ ويلے شي نو تقريبًا د پنځه شپږ سوو نه زيات آيتونه ئې منسوخ منلي دي: امام سيوطي رحمه الله

په "اتقان ص۲۳ ج۲" کښې ۲۰ پورې منلې دي او شاه صاحب رحمة الله پنځو پورې منلې دي، وګورئ "الفوز الکبیر"، د نسخ شلوګړ اقسام "انعام الرحمن ص۲۳۵" کښې وګورئ؛ او تفسیر کښې د منسوخو ایتونو نښاندهي به راشي ان شاء الله تعالیٰ.

⑧ اَسبابُ النُّزول

شاه صاحب رحمة الله دا هم د سختو مواضعو نه ذکر کړیدي او وجه د سختئ ئې واضحه کړې ده، الفوز الکبیر او انعام الرحمن وګورئ؛ شاه صاحب رحمة الله اخیر کښې فرمائي: کوم تکلف چه خلق کوي د ځاګوړو ځاګوړو واقعاتو، د غولړه هیڅ اعتبار نشته، مګر بعض ایتونه چه تعریض پکښې شوے وي او یو واقعه ته د واقعاتو نه چه موجوده شوے وي په زمانه د نبي علیه السلام کښې یا مخکښې د دے نه: او نه راتلونکې بیزې هغه انتظار چه سامع ته پیښیږي مګر په تفصیل د دے قصې سره؛ احقر په تفسیر د سورة تحریم، سورة ممتحنة وغیره کښې هم منشاء د نزول ښودلے ده.

⑨ اَلْمُحْكَمَاتُ وَالْمُتَشَابِهَاتُ

د قرآن پاک ځنې ایتونه محکمات او ځنې متشابهات دي لکه د سورة ال عمران مه ایت کښې ذکر دي؛ علماء کرام فرمائي چه: متشابهات په دوه قسمه دي، یو دا چه نه ئې معنیٰ لغوي معلوم ته معلومه وي او نه شرعي: لکه د ۲۹ سورتونو سر کښې ټکي چکي، حروف مقطعات راڅي: او بل دا چه لفظي معنیٰ ئې معلومه ته معلومه وي او معنیٰ مراد ئې الله تعالیٰ ته معلومه وي "وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ" د پکړئ شیخ رحمة الله "جواهر القرآن ص۱۳۳" کښې د امام طحاوي رحمة الله په حواله لیکي: چه محکمات هغه دي چه اتفاق ئې په تاویل باندې شوے وي او متشابهات هغه دي چه اختلاف ئې په تاویل کښې وي؛ نو لهذا د قرآن پاک د فهم د پاره د محکم او د متشابه پېژندل هم ضروري دي؛ ان شاء الله تعالیٰ تفسیر کښې به نور بیان راشي، منتظر اوسئ.

⑩ ترتیب مصحفي او نزولي، یا مکّي او مَدني

پوهه شه چه د قرآن پاک ترتیب په دوه قسمه دے: یو مصحفي لکه د سورة فاتحې نه شروع دے او په سورة النّاس باندې ختم شویدے؛ او بل نزولي دے لکه اولنۍ سورة اقرأ دے او آخري سورة النصر دے؛ د هر سورت په سر کښې نا چیز دا دواړې خبرې لیکلي دي، او دا هم ذکر شوي دي چه دا سورت مکي دے که مدني دے: مکي سورتونه ۸۶ دي او مدني سورتونه ۲۸ دي، په

مکي سورتونو کښې زیات تر توحید، رسالت، صداقت، اٰخرت بیانوي، او مدني سورتونو کښې زیات ترجهاد، انفاق او احکام ذکرکوي ⁘

فائده: سیوطي رحمه الله په "الاتقان ص ۱۱ ج ۱" کښې د مکي او مدني سورتونو په باره کښې درې اصطلاح گانې ذکرکړې دي، خومشهوره اصطلاح نے دا ذکر کړے ده چه مکي هغه دي چه د هجرت نه مخکښې نازل شوي دي او مدني هغه دي چه د هجرت نه پس نازل شوي دي ⁘

⑪ ترتیب د اٰیتونو او سورتونو

قراٰن پاك کښې چه دا موجوده کوم ترتیب دے د اٰیتونو او سورتونو، د دے په باره کښې اٰلوسي رحمه الله روح المعاني ص ۲۰ ج ۱ کښې فرمائي، هرچه ترتیب د اٰیتونو دے چه دا توقیفي دے، په دے کښې څه شبهه نشته: حتیٰ نقل جمعٌ منهم الزركشي و ابوجعفر الاجماع علیه من غیر خلافٍ بین المسلمین والنصوص متظافرةٌ علیٰ ذٰلك، "تر دے چه نقل کړے یو جماعت چه د هغوی نه زرکشي او ابوجعفر دی اجماع په دے باندې په غیر د خلاف نه په مابین د مسلمانانو کښې او نصوص د یوبل امداد کونکي دي په دے باندې" او هرچه ترتیب د سورتونو دے نو دا اجتهادي دے او که توقیفي دے، فالجمهور علی الثاني: نو جمهور علماء په دویمه خبره دي: اٰخر سورة توبه کښې دے مسئلے ته اشاره کړے ده ⁘

⑫ علوم د قراٰن مجید

قراٰن پاك یو جامع کتاب دے او د دُنیا او د اٰخرت د هدایت او د نجات علوم پکښې راجمع دي، یو سالك رحمه الله فرمائي:

جَمِیْعُ الْعِلْمِ فِي الْقُرْاٰنِ وَلٰكِنْ ⁘ تَقَاصَرَعَنْهُ اَفْهَامُ الرِّجَالِ

زرکشي رحمه الله د ابن العربي رحمه الله په حواله لیکي چه علوم د قراٰن (۷۷۴۵۰) اووه اویا زره څلورسوه پنځوس دي او بیا لیکي چه علوم د قراٰن درے قسمه دي: توحید، تذکیر، احکام (برهان ص ۱۶ ج ۱) دغه رنگے "العرفان" کښې دي ص ۱۱، ان شاء الله تعالیٰ تفسیر کښې د دعوو ذکرکولو په وخت به دے اقسامو ته اشاره کړې شي ⁘

⑬ مناسبت د اٰیتونو او د سورتونو

زمونږه د شیوخو رحمهم الله طرز او طریقه داده چه د هر سورة د ماقبل سره ربط او مناسبت ذکرکوي ځکه چه قراٰن پاك یو فصیح، بلیغ، مرتبط،

کتاب دے، دَ لیونو دَ کلام پشانے بے ربطه نه دے: دغه وجه ده چه دَ پنځم ځ شیخ القرآن رحمه الله په "جواهر القرآن" کښ او دَ پنجپیر شیخ القرآن رحمه الله په "سماالدر" کښ ربطو نه لیکلی دی: امام سیوطی رحمه الله په دے باندے "تناسق الدرر" لیکلے ؟ زرکشی رحمه الله "البرهان ص۳۶" کښ لیکلی دی چه په دے مستقل تصنیف استاذ ابوجعفر بن زبیر، المتوفی ۸۰۷ھ لیکلے دے: او برهان ص۳۵ کښ لیکلی دی: وَاعْلَمْ اَنَّ عِلْمَ الْمُنَاسَبَةِ عِلْمٌ شَرِيْفٌ تَحْرُزُ بِهِ الْعُقُوْلُ وَيُعْرَفُ بِهِ قَدْرُ الْقَائِلِ فِيْمَا يَقُوْلُ، په دے وجه احقر په تفسیر کښ دَهر سورت دَ ما قبل سورت سره څرګوز ربطونه او مناسبتونه ذکر کړی دی: او دا سلسله تر اخره پورے ده: فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ عَلٰى ذٰلِكَ ؛

⑭ دَ قرآن، او سورت، او ایت معانی

زرکشی رحمه الله ج۱ ص۲۶۶ کښ فرمائی چه دَ ایت درے معنے دی په لغت کښ (۱) جماعة الحروف: (۲) عجیبه: (۳) علامه: او جعبری رحمه الله فرمائی چه په اصطلاح کښ: حَدُّ الْاٰيَةِ قُرْاٰنٌ مُرَكَّبٌ مِنْ جُمَلٍ وَلَوْ تَقْدِيْرًا ذُوْ مَبْدَءٍ اَوْ مَقْطَعٍ مُنْدَرِجٌ فِىْ سُوْرَةٍ وَاَصْلُهَا الْعَلَامَةُ: چه تعریف دَ ایت دا دے چه دا قرآن دے مرکب شوے دے دَ جملو نه اګر چه تقدیرًا وی شروع پرے کیږی او قطع پرے هم راځی: داخل وی په سورة کښ او په اصل (لغت) کښ ئے علامے ته وائی؛

راغب اصفهانی رحمه الله "مفردات ص۲۴۸" کښ فرمائی چه سورة اوچتے مرتبے ته ویلے شی، شاعر وائی: ؎

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَعْطَاكَ سُوْرَةً ؛ تَرٰى كُلَّ مَلِكٍ دُوْنَهَا يَتَذَبْذَبُ

"ایا نه ګورے (خبر نه ئے) چه یقینًا الله درکړے تا ته اوچته مرتبه، چه وینے به هر باچا دیخوا دَ هغے نه حیرانیږی به."

او سور المدینة هغه دیوال ته ویلے شی چه مشتمل وی په بنا ربانو: او سورت دَ قرآن مشابه دے دَ دیوال دَ بنار سره څکه چه احاطه ئے په اینو نو باندو کړے ده څنګه چه دیوال دَ بنار په بنار ربانو احاطه کوی او یا دا مرتبه (منزله) ده پشان دَ منازلو دَ سپوږمئ. شیخ القرآن رحمه الله نه په "العرفان ص۲۳" کښ منقول دی چه قرآن مشتق دے دَ دے قول نه: قَرَاْتُ الْمَاءَ فِى الْحَوْضِ: "راجمع دِ کړے اوبه په حوض کښ" نو قرآن هم راجمع کونکے دے دَ هغو مضامینو چه په پخوانو او روستنو کتابونو کښ دی: دَ علامه ابن القیم رحمه الله کتاب "الفوائد ص۲۴۳" کښ دی چه دوئیمه معنیٰ ئے اظهار او بیان دے: لِاَنَّهٗ اَظْهَرَ عِلْمَ الْاَوَّلِيْنَ وَالْاٰخِرِيْنَ: دریم په معنیٰ دَ مانځه راځی، سورة اسراء ۷۸ کښ دی: وَقُرْاٰنَ الْفَجْرِ: څلورم په معنیٰ دَ قرأت راځی. سورة قیامه ۱۸ کښ

دی: اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ ۚ فَاِذَا قَرَاْنٰهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ ۚ

فائده:- دَ قران تعریف مخکښې دَ قران په لهجه هم سرکښې ذکر شوې دی.

۱۵ تفسیر او تاویل

دَ تفسیر لفظ په سورة فرقان ۳۳ کښې او دَ تاویل لفظ سورة اعراف ۵۳ کښې مستعمل شوے دے. زرکشی رحمه الله "برهان ۱۴۷" کښې فرمائی چه دَ تفسیر معنے په لغت کښې اظهار او کشف ده او دا په اصل کښې دَ "تفسره" نه ماخوذ دے او دا هغه لږے اوبه دی چه طبیبان پکښې گوری: فکما ان الطبیب بالنظر فیه یکشف علة المرض فکذلک المفسر یکشف عن شان الاٰیة وقصصها ومعناها والسبب الذی انزلت فیه: راغب اصفهانی رحمه الله په "مفردات ۳۱" کښې فرمائی چه تاویل د اول نه ماخوذ دے یعنی رجوع کول دی اصل ته او دے ته الموئل ماخوذ دے، هغه ځائے ته وائی چه رجوع کیږی هغه ته، ابن جزی رحمه الله فرمائی چه معنیٰ دَ تفسیر شرح دَ قرآن ده او بیان دَ معنے د هغه دے.

۱۶ فرق په مابین دَ دواړو کښې

علامه ابن جزی رحمه الله په مقدمه دَ تسهیل (ص ۳۳ ج ۲) کښې دَ سوال په جواب کښې فرمائی چه په تفسیر او تاویل کښې درې قوله دی، اول دا دے چه دواړه په یو معنیٰ دی: دویم دا چه تفسیر دَ لفظ دَ پاره وی، او تاویل دَ معنے دَ پاره: او دریم قول چه هغه حق قول دے چه تفسیر شرحه وی، او تاویل حملول دَ کلام وی په داسے معنیٰ چه غیر وی دَ هغه معنیٰ نه چه تقاضا ئے ظاهر کوی په داسے سبب باندې چه تقاضا کوی چه حمل کړے شی په دغه باندې او را ولوزی په ښکاره معنیٰ باندې.

۱۷ دَ تفسیر بالرائ مذمت

دَ پښتو شیخ رحمه الله په مقدمه دَ "جواهر ۲" کښې لیکلی دی چه حدیث پاک کښې راځی: مَنْ قَالَ فِی الْقُرْاٰنِ بِغَیْرِ عِلْمٍ فَلْیَتَبَوَّاْ مَقْعَدَهٗ مِنَ النَّارِ (ابوداؤد) "چا چه وینا وکړه په قران کښې په غیر دَ علم نه (په رائے خپلے سره) پس تیار دے کړه ځان لره ځائ دَ اوسیدو دَ اور نه." (فرمائی چه) دَ حدیث پاک نه معلومیږی چه په خپلے رائے سره تفسیر کول ناجائز او گناه ده، خو په مطلب دَ حدیث کښې علامه خازن رحمه الله داسے فرمائی: چه علماء وائی چه نهی دَ وینا نه په قران کښې په رائے سره یقیناً راغلے ده

چه ماتوی لوظونه د الله تعالی پس د مضبوطیا د دے نه او پریکوی هغه څیز

مَاۤ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖۤ اَنْ يُّوْصَلَ وَيُفْسِدُوْنَ فِي

چه امر کړے الله چه پیوست دے شی او فساد کوی په

الْاَرْضِ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۲۷﴾ كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ

زمکه کښ دغه کسان هم دوی تاوانیان دی. څنګه کفر کوئی تاسی

بِاللّٰهِ وَكُنْتُمْ اَمْوَاتًا فَاَحْيَاكُمْ ۚ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ

په الله پاندے او وئی تاسو نیست پس ژوندی کړی تاسو بیا مړه به مو کړی بیا به مو ژوندی کړی

ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۸﴾ هُوَ الَّذِيْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِي

تاسی بیا به د الله په طرف واپس کړے شئ الله هغه ذات دے چه پیدا کړے ستاسو دپاره دے

الْاَرْضِ جَمِيْعًا ۗ ثُمَّ اسْتَوٰۤى اِلَى السَّمَآءِ فَسَوّٰىهُنَّ

د پاره هغه چه په زمکه کښ دی ټول بیا نے قصد وکړو طرف د اسمان ته پس برابر نے کړو

سَبْعَ سَمٰوٰتٍ ؕ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۲۹﴾ وَاِذْ قَالَ

اووه آسمانونه او هغه الله په هر شی باندے پوهه دے. او کله چه اووئیلے

رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّيْ جَاعِلٌ فِي الْاَرْضِ خَلِيْفَةً ؕ

رب ستا ملائکو ته زه پیدا کوونکے یم په زمکه کښ خلیفه. فیصله کوونکے

قَالُوْۤا اَتَجْعَلُ فِيْهَا مَنْ يُّفْسِدُ فِيْهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَآءَ ۚ

اووئیل دوی آیا کرځوے په زمکه کښ خلیفه هغوی لره چه فساد به کوی په دے کښے او توئی به وینے په

وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ؕ قَالَ اِنِّيْۤ اَعْلَمُ

تاسو سره او مونږ پاکی بیانوو ستا سره د ستائنے ستا او پاکی بیانوو ستا الله او وئیل چه زه پوهیږم

مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۰﴾ وَعَلَّمَ اٰدَمَ الْاَسْمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ

په هغه چه تاسو پرے نه پوهیږئ. او اوښودل الله آدم ته نومونه ټول چه څومره ضرورت وو بیا

كُلَّهَا :- دلته کُلّ د استغراق حقیقی دپاره نه دے بلکه کُلّ اضافی دے او دوے نه مراد هغه اشیاء دی کوم چه د آدم علیه السلام سره مناسب وو هر شے ترینه مراد نه دے. (رحمة بریشی) د ابتونه وګورئ ۵۹ الانعام. ۸۳ کهف. ۶۵ نمل. سُبْحٰنَكَ :- په دے کښ نفی د علم غیب ده د ملائکو علیهم السلام نه. امام قرطبی رحمه الله فرمائی : ای تنزیها لك من ان یعلم الغیب احد سواك. چه پاکی ده تا لره

ورڅخه نه چه په عیبو او پوهه ئې غوښتلی سوا استاسی نه (ص ۲۸۹ ج ۱) اُسْجُدُوْا: سجده په عربئ کښې تذلل او عاجزئ ته وائي (قرطبی) دلته مراد دا دے چه عاجزی وکړئ آدم علیه السلام ته. یا قرطبی ص ۲۹۲ کښې فرمائي: ومعنی لآدم الی آدم یعنی آدم علیه السلام ته سجده کوئ او کرئي یعنو دا به قبله شي. امام رازی رحمه الله ص ۲۲ فرمائي

عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلٰٓئِكَةِ فَقَالَ اَنْۢبِـُٔوْنِیْ بِاَسْمَآءِ
بیا وړاندې کړل هغه شیان ملائکو ته نو ويې ويل خبر راکړئ ما ته په نومونو ددغه
هٰٓؤُلَآءِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ۳۱ قَالُوْا سُبْحٰنَكَ لَا عِلْمَ
شیانو که چیرې یاستئ رشتینی ۔ هغوی وویل دوی چه پاکی ده تا لره نشته علم
لَنَآ اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا ؕ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَلِیْمُ الْحَكِیْمُ ۳۲ قَالَ
موږ لره مګر هغه چه تا راکړی دے یقینا ته یې هر څه پوهه او حکمت والا ۔ وفرمائیل
یٰٓاٰدَمُ اَنْۢبِئْهُمْ بِاَسْمَآئِهِمْ ۚ فَلَمَّآ اَنْۢبَاَهُمْ بِاَسْمَآئِهِمْ ۙ
اے آدمه خبر ورکړه دوی ته په نومونو ددغه شیانو پس هرکله چه خبر ورکړو په نومونو ددغو
قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ اِنِّیْۤ اَعْلَمُ غَیْبَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ۙ
او ویل الله آیا نه وو ویلی ما تاسو ته یقینا زه پوهیږم په پټو د آسمانونو او د زمکې پا تاسو
وَ اَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَ مَا كُنْتُمْ تَكْتُمُوْنَ ۳۳ وَ اِذْ قُلْنَا
او پوهیږم په هغه چه تاسو ښکاره کوئ او په هغه چه تاسو پټوئ ۔ او کله چه وویل موږ
لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْۤا اِلَّاۤ اِبْلِیْسَ ؕ
ملائکو ته چه سجده وکړئ آدم ته پس سجده وکړه ټولو مګر ابلیس، انکار ئے
اَبٰى وَ اسْتَكْبَرَ ۗ وَ كَانَ مِنَ الْكٰفِرِیْنَ ۳۴ وَ قُلْنَا یٰٓاٰدَمُ
وکړو او غاړه ئې وګړوله او ووو دے د کافرانو نه ۔ او وویل موږ اے آدمه
اسْكُنْ اَنْتَ وَ زَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَ كُلَا مِنْهَا رَغَدًا
اوسیږه ته او بي بي ستا په دې جنت کښې او خورئ دواړه ددغه نه فراخه
حَیْثُ شِئْتُمَا ۪ وَ لَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوْنَا
هر چیرته مو چه خوښه شي او مه نزدې کیږئ دغې ونې ته ۔ پس شئ به
مِنَ الظّٰلِمِیْنَ ۳۵ فَاَزَلَّهُمَا الشَّیْطٰنُ عَنْهَا
د ظالمانو نه ۔ پس وښویول دوی لره شیطان ددغه نه
فَاَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِیْهِ ۪ وَ قُلْنَا اهْبِطُوْا
پس راوویستل دوی دهغه ځائ نه چه وو دوی په کښې او وویل موږ چه کوز شئ

چه د عبادت سجده تربینه مراد نه ده ځکه چه عبادت د غیر الله کفر دے. حافظ ابن کثیر ص ۸۰ فرمائي چه دا سجده په پخوانو شریعتونو کښې روا وه لیکن زموږ په شریعت کښې منسوخه شوي ده. مفتی صاحب رحمه الله معارف ص ۱۸۰ کښې لیکلي دي چه د تعظیم د سجدې د غیر الله نه حدیث شلو صحابه کرامو رضی الله عنهم نقل کړیدے او تدریب الراوی کښې دي چه کوم حدیث لس صحابه کرامو نقل کړی هغه متواتر وي. اَلْجَنَّةَ: تفسیر روح المعانی ص ۲۳۳ کښې د دې جنت په باره کښې مختلف اقوال ذکر کړیدي په اخر کښې فرمائي چه د دلیلونو متعارض دي نو بیا احتیاطی و روغه طریقه منع والی ده قطعی او د قطعی حکم نه دے او د دیته میلان کړیدے صاحب د روح. اَلشَّجَرَةَ: قاضی بیضاوی رحمه الله په دې کښې هم مختلف اقوال نقل کړیدي. په اخر کښې فرمائي: اولیٰ عدم قطع او تعیین دے ص ۳۵۰. حافظ ابن کثیر رحمه الله هم فرمائي چه موږ ته د دې تعیین هیڅ علم نشته ځکه الله تعالی ورته څه دلیل په قرآن کښې نه دے قائم کړے د پاره د دې نو معلومولو نو او نه ورته حدیث صحیح شته دلیل شته. الحاصل جنت یو باغ د بلیونو ونو او میوو دے او نوم د ونې ئې زلهما: امام قرطبی رحمه الله فرمائي چه جمهور فقهاؤ د ملګرو د مالک او ابو حنیفه او شافعی رحمهم الله تعالی دي چه انبیاء علیهم السلام معصوم دي د ورو ګناهونو نه هم لکه څنګه چه معصوم دي د لویو ګناهونو نه (ص ۲۰۸) او معارف القرآن ص ۱۸۵ کښې دي چه د جمهورو امت او علماوو دا مذهب دے او اتفاق ذکر کړیدي. ګناه آدم: مفسرین رحمهم الله لیکي چه د ګناه نه نه د سورة اعراف ص ۲۳ آیت مراد دے. وګورئ ص ۲۳۵ روح المعانی

مِنْ ابن کثیر، مث جلالین، ص۱۸۵ التسهیل، ص۱ الهام الرحمن. فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم: تتمه په بشارت او تخویف سره راغله. يَٰبَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ نه دریم باب دے په دیکښې یولس اوامر او پنځه نواهي دي او شیخ القرآن رحمه الله په سمط الدرر کښې فرمائي ص۱۱ چه دے ناکاره صفتونه د یهودو دي چه مؤمنان ترینه ځان بچ کړي. تحریف، کتمان حق، ترک عمل، او درے بنه صفتونه دي

بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۖ وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ

بعضے ستاسي به وي د بعضو دښمنان دي: او تاسي لره به په زمکه کښې ځائي د قرارې

وَمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٣٦﴾ فَتَلَقَّىٰ آدَمُ مِن رَّبِّهِ كَلِمَاتٍ

او ګټه وي تر وخته پورے: پس ایزده کړه آدم د رب خپل نه ځنو کلمے

فَتَابَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿٣٧﴾ قُلْنَا

پس الله رجوع اوکړه په هغه یقینا دا رب دے بیرته قبلوونکے او مهربان دے. وویل موږ

اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا ۖ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى

کوز شئ د جنت نه ټول. پس اګر چه راشي تاسے ته زما د طرفنه هدایت

فَمَن تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ

پس چا چه تابعداري اوکړه د هدایت زما پس نه به وي ویره په هغوي باندے او نه به هغوي

يَحْزَنُونَ ﴿٣٨﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا

خفه کیږي. او هغه کسان چه کفر اوکړي او دروغ تښیا وکړي زما په ایتونو.

أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٣٩﴾ يَا بَنِي

نو دغه کسان د اور خاوندان دي او دوي به په هغے کښې همیشه اوسیږي: اے اولاده د

إِسْرَائِيلَ اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ

بنده د الله یعقوب یاد کړئ نعمت زما هغه چه ما انعام اوکړو په تاسو (او شکر ئې اوکړئ)

وَأَوْفُوا بِعَهْدِي أُوفِ بِعَهْدِكُمْ وَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ ﴿٤٠﴾

او پوره کړئ لوظ زما زه به پوره کړم لوظ ستاسو او خاص ما نه اوویریږئ

وَآمِنُوا بِمَا أَنزَلْتُ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ وَلَا

او ایمان راوړئ په هغه چه نازل کړے مې دے تصدیق کوونکے د هغه کتاب چه تاسو سره دے او مه

تَكُونُوا أَوَّلَ كَافِرٍ بِهِ ۖ وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا

کیږئ اول انکار کوونکي په دې باندے او مه خرڅوئ زما ایتونه په مقابله کښې د قیمت

قَلِيلًا وَإِيَّايَ فَاتَّقُونِ ﴿٤١﴾ وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ

لږ او خاص ما نه اوویریږئ او مه ګډوئ حق

منزل ۱

چه مؤمنان ترینه ځان بچ کړي. تحریف، کتمان حق، ترک عمل. او درے بنه صفتونه دي صبر، صوم او ایمان په آخرت. وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي: د عامو الي ولفظ په بناء د ایصال ثواب ختم تر قرآن شامل دے چه په هغه خوراک او څښاک او پیسے اخستل حرام دي. علامه شامي رحمه الله په دے مستقله رساله لیکلې ده او د پنځوسو نه زیاتے حوالے ئې را جمع کړي دي د تاج الشریعة په حواله لیکي چه نه د مړي ثواب کیږي او نه د لوستونکي. او د عیني په حواله لیکي چه اخستونکي او ورکوونکي دواړه ګناهګار دي ارچه د قاري ثواب اونشو ځکه چه نیت ئې صحیح نه دے نو ځکه به ثواب اورسیږي. مستاجر (مزدوري) نیونکي) ته او تیا دو دفع د سوال د پاره لیکي کچرے نه زور نوي نو هیڅوک به د چا د پاره لوستل اونکړي په دے زمانه کښې بلکه قرآن ئې ذریعه د کسب او وسیله د راجمع کولو د دنیا ګرځولے ده. إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ. رسائل ابن عابدین ۱۸۰/۱، شامي ص۵۶، الهام الرحمن ص۳۱ او تدبیعات د احقر د ص۱۳۱ نه وګورئ.

بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٤٢﴾ وَأَقِيمُوا

د باطل سره او مه پټوئ حق او (حال دا چه) تاسو پوهیږئ. او درولئ

الصَّلٰوةَ وَآتُوا الزَّكٰوةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾

مونځ لره او ورکړئ زکوٰة او رکوع وکړئ سره د رکوع کوونکو نه.

أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ وَأَنْتُمْ

آیا حکم کوئ خلقو ته په نیکئ سره او (حال دا چه) هیروئ ځانونه خپل، او تاسو

تَتْلُونَ الْكِتٰبَ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٤٤﴾ وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ

لولئ کتاب لره. آیا و عقل نه کاروئ (عقلمند نه یئ). او مدد حاصل کړئ په صبر او

وَالصَّلٰوةِ ۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخٰشِعِينَ ﴿٤٥﴾ الَّذِينَ

او مونځ باندې او یقیناً دا ګران دے ګمر په عاجزی کوونکو باندې. هغه کسان دي

يَظُنُّونَ أَنَّهُمْ مُلٰقُوا رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رٰجِعُونَ ﴿٤٦﴾

چه یقین کوي چه دوی ملاویدونکي دي خپل رب سره او یقیناً خاص هغه ته واپس کیدونکي دي.

يٰبَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ الَّتِيٓ أَنْعَمْتُ

اے ځامنو د یعقوب! یاد کړئ نعمت زما هغه چه کړے م دے

عَلَيْكُمْ وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾ وَاتَّقُوا

په تاسو او یقیناً ما غوره کړي یئ تاسو لره په ټول عالم د زمانے خپلے: او ویریږئ د

يَوْمًا لَّا تَجْزِي نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ شَيْـًٔا وَّلَا

هغه ورځے نه چه نشی خلاصولے یو نفس د بل نفس نه څه شے: او نه به

يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَّلَا

قبولیږي د هغه نه څه سفارش او نه به اخستے شي د هغه نه څه جرمانه: او نه به

هُمْ يُنْصَرُونَ ﴿٤٨﴾ وَإِذْ نَجَّيْنٰكُمْ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ

دوی سره امداد وکولے شي. او کله چه خلاص کړو تاسو لره د فرعونیانو نه چه

يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ الْعَذَابِ يُذَبِّحُونَ

څکولو به ئے تاسو ته ناکاره عذاب = حلالول به ئے

ع ۵

وَإِنْ كَفَرُوا:- امام قرطبي رحمه الله په ج ۱ کښ په دې معنی باندې د مونځو مسئله لیکلے ده - آخر کښ ئے د ابن المنذر رحمه الله فتوی رانقل کړیده چه کوم بے عقله په بد عت نے کفر ته رسولے وی نو مونځ ورپسے روا نه دے لوکه چیرے د غه سړی نو مونځ پسے روا دے لاکن محققین کوزل ئے جائز نه دی.

أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ: د دے مطلب دا نه دے چه بے عمله له وعظ جائز نه دے بلکه مطلب ئے دا دے چه واعظ لره بے عملی کیدل مناسب نه دی. (معارف ص۲۱۹ ج۱)

يٰبَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ: په دیکښ اعاده ده د ترغیب او ترهیب. په دنیا کښ د خلاصی لارے خلور وے آخرت کښ به نه وی.

شَفَاعَةٌ:- په دیکښ نفی د شفاعت قهری ده. القاضی ابوالسعود رحمه الله په ص۹۸ ج۱ کښ فرمائی چه دا آیت خاص دے په کفارو پسے د وجے د هغه آیتونو او حدیثونو نه چه د شفاعة په باره کښ راغلی دی.

وَإِذْ نَجَّيْنٰكُمْ:- د دځائے نه تفصیلی باب شروع شو او په دیکښ شپږ خطابات دی. په دے اول کښ اته نعمتونه او دوه لعنونه دی او تتمه ئے په ترغیب او بشارت ده هغکښ خطاب عام و د په ص۲۱ کښ نو اوس خاص شروع شو. آلوسی رحمه الله په روح المعانی ص۲۵۵ کښ لیکلی دی چه هغکښ باری تعالی د نعمتونو اجمالی ذکر او کړو نو اوس ئے تفصیلی ذکر کوی.

يَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ: دوه معنی وي (۱) ژوندۍ به يې پاتې کولې لونړه ستاسو . (۲) حَيَا . به يې آخستله د بنځو ستاسو (روح ص۲۵۳) . وَأَغْرَقْنَآ ءَالَ فِرْعَوْنَ : معنی دا شوه چه ډوب موکړل فرعونيان او وانه چه

أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ ۚ وَفِى ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن
ځامن ستاسو او ژوندۍ به يې پرېښودې ښځې ستاسو او په دې نجات کښې نعمت لوئے وو
رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿٤٩﴾ وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ ٱلْبَحْرَ فَأَنجَيْنَٰكُمْ
د رب ستاسو له طرفه . او کله چه بېل کړو ستاسو دپاره دریاب پس خلاص موکړئ تاسو لره
وَأَغْرَقْنَآ ءَالَ فِرْعَوْنَ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴿٥٠﴾ وَإِذْ وَٰعَدْنَا
او ډوب موکړل فرعونيان — او تاسو وردته کتلې : او کله موچه وعده وکړه
مُوسَىٰٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ ٱتَّخَذْتُمُ ٱلْعِجْلَ مِنۢ
(موسیٰ سره د څلوېښتو شپو . بيا تاسو نيولے و خسے په خدائی توب پس د
بَعْدِهِۦ وَأَنتُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿٥١﴾ ثُمَّ عَفَوْنَا عَنكُم مِّنۢ بَعْدِ
تللو د هغهٔ او تاسو ظالمان ياستئ . بيا عفوه اوکړه مونږ تاسو نه پس د دې نه
ذَٰلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٥٢﴾ وَإِذْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ
دپاره د دې چه تاسو شکر وباسئ ، او کله چه ورکړه مونږ موسیٰ ته کتاب
وَٱلْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿٥٣﴾ وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ
او فرق کوونکے معجزے دپاره د دې چه هدايت قبول کړئ : او کله چه ووئيل موسیٰ
لِقَوْمِهِۦ يَٰقَوْمِ إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنفُسَكُم بِٱتِّخَاذِكُمُ
قوم خپل ته يا قومه يقيناً تاسو ظلم کړے دے په ځانونو خپلو په سبب د نيولو ستاسو
ٱلْعِجْلَ فَتُوبُوٓا۟ إِلَىٰ بَارِئِكُمْ فَٱقْتُلُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ
خسي لره خدائی پس توبه وکړئ پيدا کوونکي خپل ته پس مړه کړئ هم جنس خپل ،
ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِندَ بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ ۚ إِنَّهُۥ
دا غوره دی تاسو لره په نزد د خالق ستاسو نو بيا توبه قبوله کړه ستاسو يقيناً دا الله
هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٥٤﴾ وَإِذْ قُلْتُمْ يَٰمُوسَىٰ لَن
توبه قبلوونکے مهربانه دے ، او کله چه ووئيل تاسو يا موسیٰ ! هيڅ کله به
نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْكُمُ
ايمان نه راوړو ستا باندې تر دې چه وګورو الله لره ښکاره ، پس اونيولو تاسو لره

فرعون خلاص شوے وو - وګورئ سورة يونس ۹۲ او بني اسرآئيل ۱۰۳ . أَرْبَعِينَ لَيْلَةً : اول ديرش ورځے وے بيا په تياری تياری کښې لس زيات شوے نو څلوېښت شوے - وګورئ سورة اعراف ۱۴۲ - فَتَابَ عَلَيْكُمْ : پس متصل نے مهربانی وکړه او توبه نے درله قبوله کړه . لنډه چه مفسرينو رحمهم الله ډېر لو شوشمير ذکر کړيدے ، شيخ القرآن رحمه الله به فرمائيل چه دا ګپ شپ د مفسرينو دے . يعني هسے مبالغه ده . فَٱقْتُلُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ معنی ئے دا ده چه مړه کړئ بعض ستاسو بعض لره يعني أمر وُ شو هغه چاته چه د خسي عبادت ئے نه وو کړے چه مړه ئې کړی هغه چا لره چه د خسي عبادت ئې کړے وو . (روح ص۲۶۰ ج۱)

وَإِذْ قُلْتُمْ لَن نُّؤْمِنَ : دا دے نه مخکښې سورة اعراف وګورئ ۱۵۵ . امام قرطبي په ۴۰۲ کښې فرمائي چه اکثر مبتدعين د الله تعالیٰ د ديدار نه انکار کوي او اهل سنت او سلف رحمهم الله فرمائي چه امکان ئے په دنيا او آخرت دواړو کښې دے او وقوع ئے په آخرت کښې دی .

(۱) په دې ... (۲) ... علامه ... سورة ... سورة يونس ...

اَلْمَنَّ وَالسَّلْوٰى: دَ مَنّ معنیٰ احسان، ترنجبین او دَ سلوىٰ معنیٰ مرزات وی۔ حافظ ابن کثیر رحمه الله ص ۱۹۵ کښې فرمائی چه ظاهره دا ده و یلے شو چه دَ مرزا دتریته هر څه نعمت دے چه لتقوا

الصّٰعِقَةُ وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿۵۵﴾ ثُمَّ بَعَثْنٰكُمْ مِّنْ
تندر ، او تاسو ورته کتل ۔ بیا ژوندی موکړی تاسو پس دَ

بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۵۶﴾ وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ
مرګ ستاسو نه دپاره دَ دے چه شکر اوباسئ او سورے مو کړو پر تاسو

الْغَمَامَ وَاَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ؕ كُلُوْا مِنْ
وریځه او رامو لیږل پر تاسو ترنجبین ، او مرزات ، او وئیلے مو خورئ دَ

طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ؕ وَمَا ظَلَمُوْنَا وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ
پاکو څیزونو نه چه مونږ درکړی دی تاسو ته او ظلم او نه کړو دوی په مونږ او لیکن وو دوی چه په

يَظْلِمُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَاِذْ قُلْنَا ادْخُلُوْا هٰذِهِ الْقَرْيَةَ فَكُلُوْا
ځانونو ظلم به ئے کولو ، او کله چه ووئیل مونږ ننوزئ دے کلی ته ، پس خورئ

مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَّادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا
دَ دے نه چرته چه خوښه مو شی فراخه او ننوزئ دروازے ته عاجزی کوونکی

وَّقُوْلُوْا حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطٰيٰكُمْ ؕ وَسَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۸﴾
او وائی چه سوال مونږ دَ معافی کوو بخښو ګناهونه ستاسو او زیاتی احسان به وکړو نیکی کوونکو ته

فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا قَوْلًا غَيْرَ الَّذِيْ قِيْلَ
پس په بدل کښې واخست ظالمانو ، وینا غیر دَ هغه نه چه وئیلے شوے وه

لَهُمْ فَاَنْزَلْنَا عَلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا رِجْزًا مِّنَ
دوی ته پس رامو لیږلو په ظالمانو سخت عذاب دَ

السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَاِذِ اسْتَسْقٰى
آسمان نه په سبب دَ فسق د دوی ۔ او کله چه طلب دَ اوبو اوکړو

مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ فَقُلْنَا اضْرِبْ بِّعَصَاكَ
موسیٰ دپاره دَ قوم خپل پس او وئیل مونږ او وهه په همسا خپله

الْحَجَرَ ؕ فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ؕ
دَ غه ګټه پس روانے شوے دَ دے نه دولس چینے

اتمه تعالیٰ په دوی کیږے وو دَ خوراک او څښاک او نورو شیانو نه چه دَ دوی څس اوستو ما ئی نه بغیر وو۔ وَقُوْلُوْا حِطَّةٌ: او ووائی چه سوال مو دَ ګټ کولو دَ ګناهونو او دَ معافی دے عکرمه رحمه الله فرمائی: ای سوالنا حطة (الاطراف ص ۲۰)

فَبَدَّلَ: معنیٰ ئے دا شوه چه په بدله کښې واخسته دوی وینا غیر دَ هغه نه چه دوی ته وئیلے شوے وه او دَ حِطَّةٌ په ځائے حِنْطَةٌ شروع کړه۔ ابوبکر جصاص رحمه الله احکام القرآن ص ۳ کښې لیکلی دی چه په دے آیت دلیل نیولے کیږی چه په اذکارو او اقوالو کښې توقیف دے تبدیل او تغییر ئے نه دے روا۔ بِعَصَاكَ الْحَجَرَ: دلته فَضَرَبَ پټ دے یعنی ګټه ئے او وهله نو پس روانے ترینه شوے دولس چینے۔ دلته فَانْفَجَرَتْ دے او سورة اعراف ص ۱۶ کښې فَانْبَجَسَتْ دے یا خو دوا ړه په یو معنیٰ دی او یا خو سورة اعراف کښې ابتدائی حال دے او دلته روستنے یعنی لږے لږے اوبه روانے شوے روستو بیا ډیرے شوے۔ بخاری رحمه الله په ص ۴۶ کښې دَ دواړو یو معنیٰ لیکلے دے۔

قَدْ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ: يعنې وپيژندلو هرې ډلې گودر خپل. دوی دولس قبيلې وې او د هرې قبيلې ديپاره ئې بيله بيله چينه جاري كړه چه بهرته د اوبو په څكلو كښې په خپل ما بين كښې جنګ نشي.

(روح ۱/۲۸۲، جواهر ۱/۳۹)

قَدْ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ۭ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا

يقينا وپيژندلو هرې ډلې گودر خپل خورئ او څكئ

مِنْ رِّزْقِ اللّٰهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ۝۶۰

د رزق د الله تعالیٰ نه او مه گرځئ په زمكه كښې فساد كوونكي

وَاِذْ قُلْتُمْ يٰمُوْسٰى لَنْ نَّصْبِرَ عَلٰي طَعَامٍ وَّاحِدٍ

او كله چه اوويل تاسو اے موسیٰ هيڅكله صبر نكوو په يو قسم طعام

فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنْۢبِتُ الْاَرْضُ

پس دعا اوغواړه زمونږ د پاره د رب خپل نه چه راوباسي مونږ لره د هغه نه چه را زرغونوي زمكه

مِنْۢ بَقْلِهَا وَقِثَّاۗىِٕهَا وَفُوْمِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا ۭ

سبزي او ترے (بادرنگ) او دوړی او نسكو او پياز د زمكے نه

قَالَ اَتَسْتَبْدِلُوْنَ الَّذِيْ هُوَ اَدْنٰى بِالَّذِيْ هُوَ

دويل موسیٰ آيا په بدل كښې اخلئ هغه شے چه هغه لاندے دے په عوض د هغه كښې چه

خَيْرٌ ۭ اِھْبِطُوْا مِصْرًا فَاِنَّ لَكُمْ مَّا سَاَلْتُمْ ۭ وَضُرِبَتْ

هغه غوره دے لاړ شئ يو ښار ته پس يقينا تاسو لره هغه به وي چه غواړئ ئې او ولګولے شو

عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ ۤ وَبَاۗءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ

په دوی باندې ذلت او غريبي او راغلل دوی په غضب د الله تعالیٰ

اللّٰهِ ۭ ذٰلِكَ بِاَنَّھُمْ كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَ

باندې دا خكه چه يقينا دوی كفر كوو په ايتونو د الله تعالیٰ باندې او

يَقْتُلُوْنَ النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۭ ذٰلِكَ بِمَا

وژل ئې نبيان عليهم السلام په ناحقه دا دوی په سبب د هغه دا په وجه چه

عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ۝۶۱ۧ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

نافرماني ئې كوله او د زياتي كوونكي يقينا هغه كسان چه ايمان ئې راوړے

وَالَّذِيْنَ ھَادُوْا وَالنَّصٰرٰى وَالصّٰبِـــِٕيْنَ

او هغه كسان چه يهوديان دي او نصارىٰ او صابئين دي

ع ۷ منزل ۱ ۱۷

عَلٰى طَعَامٍ وَّاحِدٍ: يو قسم طعام ئې ورته ووئيل حالانكه ورسره دوه، مَنّ، سَلْوىٰ، او شفه. ابوبكر رازي رحمه الله په «المسائل» كښې ليكي چه مراد دا دے چه دا طعام هيڅ وخت بدليږي نه. فَادْعُ لَنَا: د شيخ القرآن رحمه الله په الجواهر كښې فرمائي چه دوى ته د ډونګاني بزرګانو نه د دعا غوښتلو جواز راوزي.

اِهْبِطُوْا مِصْرًا: معنى ئې دا ده چه يو ښار د ښارونو نه لاړشئ او د دا ته چه كوز شئ. ابن كثير رحمه الله تعالیٰ كښې فرمائي مِصْرًا مِّنَ الْاَمْصَارِ. يو ښار د ښارونو نه او مشهور مصر ترينه مراد نه دے.

وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ: د ذلت د بني اسرائيلو غلبه او د دهشت گردئ اعتراض وارديږي خو حقيقت كښې سوال نه راځي ځكه چه د اسرائيلو مستقل حكومت نه دے بلكه د امريكې او برطانيې د چهاونئ نه زيات څه حقيقت نلري كه چرے هغوی ترينه خپل امداد بيرته كړي نو هيڅ به پاته نه وي. (وګورئ جواهر القرآن ۱/۲۴ او معارف ۱/۲۳)

وَالصّٰبِـِٕيْنَ: په ديكښې ډير اقوال دي. حافظ ابن كثير رحمه الله په كښې يولس اقوال ذكر كړي دي. دويم قول په كښې دا دے چه دا يوه ډله د اهل كتابو نه ده چه زبور لولوي. (ص ۱/۲۸) ⁂

وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ: دوے خاوند ترمنځ پوره ذکر دوتے څپاشتونو دمشرانو دیهودو او نصارو پایځ یبنتي د موجوده افراد و موجوده ؤ نه هغه دی چه موجود وو په زمانه د نبي ﷺ کښې. وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّوْرَ: جبریل علیه السلام ... دلته ... او دا په قبلولو د احکامو او دا جبر دی. د غره د اوچت ... سورة بقره ... او سورة اعراف کښې ذکر دی او د ...

مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا

چا چه ایمان راوړو ... په الله او په ورځ روستنۍ او عمل ئے اوکړو نیک

فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ

پس دوی لره اجر دوی ... نزد د رب د دوی او نه به وي ویره په دوی باندې

وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٦٢﴾ وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا

او نه به دوی غمژن کیږی. او کله چه واخستو مونږ ... او اوچت کړو مونږ

فَوْقَكُمُ الطُّوْرَ ۭ خُذُوْا مَآ اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّاذْكُرُوْا

د پاسه ستاسو طور او وئیل هغه چه درکړے دے ... په مضبوطیا او یاد کړئ

مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿٦٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ مِّنْ بَعْدِ

هغه چه دکښې دی ... بیا او ګرځیدئ تاسو پس د دے نه

ذٰلِكَ ۚ فَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ

— که چرے نه وے فضل د الله تعالیٰ په تاسو او رحمت د هغه

لَكُنْتُمْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٦٤﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِيْنَ

نو شوي به وئ تاسو ... او یقینًا پوهه یئ تاسو په حال د هغه چا

اعْتَدَوْا مِنْكُمْ فِي السَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً

زیاتے کړے ستاسو نه په ... ورځ د خالی کښې پس او وئیل مونږ دوی ته شئ شادوګان

خٰسِئِيْنَ ﴿٦٥﴾ فَجَعَلْنٰهَا نَكَالًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا

ذلیله. پس وګرځوله مونږ دا واقعه عبرت د هغه دپاره چه حاضر وو دے ته او د

وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٦٦﴾ وَاِذْ قَالَ

هغه دپاره چه روستو ترے وو او پند د پاره د متقیانو. او کله چه او وئیل

مُوْسٰى لِقَوْمِهٖٓ اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تَذْبَحُوْا

موسیٰ قوم خپل ته یقینًا الله تعالیٰ امر کوی تاسو ته چه حلال کړئ

بَقَرَةً ۭ قَالُوْٓا اَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ۭ قَالَ اَعُوْذُ

یو غواه. او وئیل دوی آیا نیسے مونږ ... او وئیل هغه پناه غواړم

... کښې. جوړ شوی دے ... سورة اعراف ... نو دوی ... الوسی رحمه الله په ... کښې لیکلی دی چه ... او ... حافظ ابن کثیر رحمه الله په ... کښې لیکلی دی چه ... مفتی صاحب رحمه الله لیکلی دی چه د مسخ شوی قوم نسل نه چلیږی (معارف ج ۱ ص ۲۳۲) **فائده**: الوسی رحمه الله په ... کښې لیکلی دی چه په دے آیت کښې دلیل نیولے شی په حرام والی د حیلو کولو په هغه کارونو کښې چه روا شوی نه وی. مسخ شوی شو. اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تَذْبَحُوْا بَقَرَةً: مفسرین رحمهم الله لیکی چه بنی اسرائیلو کښې قتل شوے و ...

بِاللّٰهِ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا ادْعُ لَنَا
په الله ځنې چه شم د نا پوهانو نه . اوویل دوی اوبله موږ دپاره
رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا هِيَ ۭ قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ
رب خپل چه بیان کړي موږ ته چه څه رنګ ده هغه، وویل چه یقیناً الله فرمائي چه
اِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ وَّلَا بِكْرٌ ۭ عَوَانٌۢ بَيْنَ
یقیناً دا یو غوا ده چه نه ده زړه او نه ده ځوانه، میانه حاله ده په مابین
ذٰلِكَ ۭ فَافْعَلُوْا مَا تُؤْمَرُوْنَ ﴿٦٨﴾ قَالُوا ادْعُ لَنَا
د دې کښې پس وکړئ هغه چه تاسو ته یې امر کولے شي اوویل دوی وبله موږ دپاره
رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا لَوْنُهَا ۭ قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ
رب خپل چه بیان کړي موږ ته چه څه رنګ د هغې، وویل چه الله تعالیٰ فرمائي
اِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَاۗءُ ۙ فَاقِعٌ لَّوْنُهَا تَسُرُّ النّٰظِرِيْنَ ﴿٦٩﴾
یقیناً دا غوا ده تکه زیړه خالص رنګ ده د هغې خوشاله کوي کتونکو لره .
قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا هِيَ ۙ اِنَّ الْبَقَرَ
وویل دوی اوبله زموږ دپاره رب خپل چه بیان کړي موږ ته چه څه صفت ده د هغې یقیناً
تَشٰبَهَ عَلَيْنَا ۭ وَاِنَّآ اِنْ شَاۗءَ اللّٰهُ لَمُهْتَدُوْنَ ﴿٧٠﴾
غواګانې په موږ مشتبه شوي دي او یقیناً موږ ان شاء الله لاره موندونکي یو .
قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا ذَلُوْلٌ تُثِيْرُ
وویل چه یقیناً الله فرمائي چه دا غوا ده، نه ده زبیده شوې چه قلبه کوي او چه واړوي
الْاَرْضَ وَلَا تَسْقِي الْحَرْثَ ۚ مُسَلَّمَةٌ لَّا شِيَةَ
زمکه او نه ده چه خړوبه کوي فصل (اوبه) روغه ده نشته نخه داغ په هغه
فِيْهَا ۭ قَالُوا الْـٰٔنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ ۭ فَذَبَحُوْهَا
کښې وویل دوی اوس دې راتلل وکړه په پوره بیان پس ذبحه یې کړه
وَمَا كَادُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿٧١﴾ وَاِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا
او نزدې نه وو چه دا کار یې کړے وے او کله چه قتل کړو تاسو یو نفس لره

عث د مقتول د ژوندی کولو
دپاره د غوا د بحه کولو حکم شوے
وو لیکن بیا تقدیم او تاخیر
راغی- بنه خبره داده چه
قتل نه جدا خباثت دے
او تال مقتول نه په حکم الهی
کښ جدا خباثت دے او
د غوا د ذبح کولو حکمت
دا وو چه عقیده نه صحیح
شي- علامه نسفي رحمه الله
په ۲۹ کښ لیکلي دي چه بیو
خوغوا نه بهتره قربانی وه
او بل دا چه دوی د غسی
عبادت کرے وو نو اراده وکړه
الله تعالی چه د دوی معبود
د دوی په نزد ذلیله کړي.
جِئْتَ بِالْحَقِّ :- تفسیر
جلالین په ۱۱ کښ
لیکي چه اوس د پوره
بیان اوکړو - او دا
مطلب نه دے چه مخکښ د
حق نه وو ویلے .
(العیاذ بالله)

فَادّٰرَءْتُمْ فِيهَا ۖ وَاللّٰهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنْتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿٧٢﴾
پس مختلف شوئ تاسو په هغه کښې او الله ښکاره کوونکے دے د هغه څه چه تاسو پټ کوئ ـ
فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا ۚ كَذٰلِكَ يُحْيِ اللّٰهُ الْمَوْتٰى
پس وویل موږ او وهئ دا مړے په بعض د غوا ـ دغه رنګ راژوندی کوی الله تعالیٰ مړو لره ـ
وَيُرِيكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٧٣﴾ ثُمَّ قَسَتْ
او ښائی تاسو ته نښې خپلې د دې دپاره چه د عقل نه کار واخلئ ـ بیا سخت شول
قُلُوبُكُمْ مِّنْ بَعْدِ ذٰلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ اَوْ
زړونه ستاسو پس د دې نه ـ پس دا زړونه ستاسو په شان د کانړو دی بلکه
اَشَدُّ قَسْوَةً ۚ وَاِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ
زیات دی په سختوالی کښې ـ ځکه چه یقیناً بعضې د کانړو هغه دی چه روان شی ترې
مِنْهُ الْاَنْهٰرُ ۚ وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ
نهرونه ـ او یقیناً بعض ترینه هغه دی چه څیری شی ـ پس راوځی ترینه
مِنْهُ الْمَآءُ ۚ وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ
اوبه ـ او یقیناً بعض ترینه هغه دی چه رغړی د ویرے د الله تعالیٰ
اللّٰهِ ۗ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٧٤﴾
نه ـ او نه دے الله تعالیٰ ناخبره د هغه څه نه چه تاسی کوئ ـ
اَفَتَطْمَعُونَ اَنْ يُّؤْمِنُوا لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ
ایا پس طمع کوئ تاسے چه دوی به ایمان راوړی ستاسے د وجے نه حال دا دے چه دے یوه ډله
مِّنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلٰمَ اللّٰهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهٗ مِنْ
د دوی نه چه واوری کلام د الله تعالیٰ بیا ئے بدلوی پس د هغے
بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾ وَاِذَا لَقُوا الَّذِينَ
نه چه پرے پوهه شو ـ او دوی پوهیږی (چه ګناه ده) او کله چه ملاوېږی د
اٰمَنُوا قَالُوٓا اٰمَنَّا ۚ وَاِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ
مؤمنانو سره وائی موږ ایمان راوړے دے او کله چه خلاص شی بعض د دوی نور بعضو ته ـ نو

فَادّٰرَءْتُمْ فِيهَا: تاسو پکښې مختلف شوی ـ د ابن عباس او مجاهد قول دے اِخْتَلَفْتُمْ (زاد المسیر ج ۱)

اِضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا: او وهئ دغه مړی لره په بعض د غوا ـ "ه" ضمیر مړی ته دے او "ها" نفس ته ـ (شیخ القرآن رحمه الله)

اَفَتَطْمَعُونَ: ایا طمع لرئ اے مؤمنانو! چه دوی به ومنی خبرے ستاسے او ایمان به راوړی ستاسے د وجے نه ـ

فَرِيقٌ مِّنْهُمْ: مجاهد رحمه الله وائی چه تحریف او کتمان حق به ملایانو د دوی کولو ـ

(ابن کثیر ص ۱۱۵ ج ۱)

✣

قَالُوٓا اَتُحَدِّثُوْنَهُمْ - وائي دوى آيا بيانوئ تاسې مؤمنانو ته هغه چه واضح كړى او بيان كړيدى الله تعالىٰ
پتاسې چه نتيجه به ئې داشي چه حجت به ونيسي تاسې سره په دربار د رب ستاسې كښې. يَعْلَمُ: وګورئ
سورة النحل ۲۳ - اِلَّآ اَمَانِيَّ - مګر د دروغو قيصې علامه ابن الجوزي رحمه الله فرمائي. تلاوت بغير د فهم نه

قَالُوْٓا اَتُحَدِّثُوْنَهُمْ بِمَا فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَآجُّوْكُمْ
وائي آيا بيان كوئ دوى ته هغه چه واضح كړيدى الله تاسو ته چه دليل ونيسي تاسې
بِهٖ عِنْدَ رَبِّكُمْ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۷۶﴾ اَوَلَا يَعْلَمُوْنَ اَنَّ
په هغې نزد د رب ستاسې، آيا د عقل نه كار نه اخلئ. آيا دوى نه پوهيږي چه يقينا
اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿۷۷﴾ وَمِنْهُمْ اُمِّيُّوْنَ
الله تعالىٰ پوهيږي په هغه چه دوى پټ كوي او ښكاره ئې كوي. او بعض د دوى نه اُمي دى
لَا يَعْلَمُوْنَ الْكِتٰبَ اِلَّآ اَمَانِيَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا يَظُنُّوْنَ ﴿۷۸﴾
نه پوهيږي په كتاب، مګر په تشو آرزوګانو او نه دي دوى مګر ګمان كوونكي.
فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ يَكْتُبُوْنَ الْكِتٰبَ بِاَيْدِيْهِمْ ثُمَّ يَقُوْلُوْنَ
پس هلاكت دے د هغه كسانو دپاره چه ليكي كتاب په لاسونو خپلو بيا وائي چه
هٰذَا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ لِيَشْتَرُوْا بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ فَوَيْلٌ
دا حكم د الله د طرفه دے چه واخلي په دې قيمت لږ، پس هلاكت دے
لَّهُمْ مِّمَّا كَتَبَتْ اَيْدِيْهِمْ وَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا يَكْسِبُوْنَ ﴿۷۹﴾
دوى له د هغه چه ليكلي لاسونو د دوى او هلاكت دے دوى له د هغه نه چه دوى ئې كوي.
وَقَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ اِلَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدَةً ؕ قُلْ
او وائي دوى چه هيڅكله به اونه رسيږي مونږ ته اور مګر درځې شمارلې شوې. اووايه
اَتَّخَذْتُمْ عِنْدَ اللّٰهِ عَهْدًا فَلَنْ يُّخْلِفَ اللّٰهُ
آيا نيولے دے تاسې د الله تعالىٰ سره وعده؟ پس هيڅكله به خلاف ونكړي الله تعالىٰ
عَهْدَهٗٓ اَمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۰﴾
د لوظ خپل نه بلكه وايئ په الله تعالىٰ باندې هغه خبرې چه تاسې پرې نه پوهيږئ
بَلٰى مَنْ كَسَبَ سَيِّئَةً وَّاَحَاطَتْ بِهٖ خَطِيْٓئَتُهٗ
ولې نه كوم چا چه بدى (شرك) وكړه او احاطه اوكړه په ده ګناه د ده،
فَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۸۱﴾
پس دغه كسان خاوندان د اور دي، دوى به په اور كښې هميشه او سيدونكي وي

يا د دروغو قيصے يا هغه څه دوى تصنيف كړي يا آرزوګانې دي
كوي. (التسهيل ۱۱) (ابن كثير)
ليكي د دروغو جوړې شوې قيصې چه دوى د خپلو ملايانو او ريدلے دي او په تقليد كښې
رانقل كړيدي. (ابن كثير)
فائده: - ننن صبا هم خلقو د نا پوهئ د وجه نه يكانو بندګانو پسې د دروغو قيصې ترلے دي - خوك وائي شمس تبريز بابا په مليتان نمر راكوز كړے دے او خوك وائي شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله د ډوبو كالو غرقه بيړئ راويستلې ده. خوك وائي پير بابا رحمه الله اخوند درويزه بابا د كوه قاف نه اخوا اوړلے وو او بيا د جذبې په حال كښې په لوښو كښې بيرته واپس شو. دا بے بنيا دو خبرې دي د دې نمنځان سا تل پكار دي او د غلطو خلقو صفتونه دي. فَوَيْلٌ: پس هلاكت دے. لفظ د وَيْل دے آيت كريمه كښې درے ځله راغلے دے د پاره د تاكيد - پښتانه وائي په دريم ځل رښتيا كيږي. وَقَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ: مطلب دا چه مونږ لره جنت خاص كړے او وائي چه د جنت ټهيكه داران مونږ يو. وګورئ البقرة ۱۱۱، المائدة ۱۸. اِلَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدَةً: ترې مراد هغه موده د خپلو پيشو ورځو ده كوم كښې چه دوى د خسي عبادت كړے وو. يا اووه ورځې د دنيا. وګورئ التسهيل ۱۱. يا
مطلب دا دے چه دين د موسىٰ عليه السلام منسوخ نه دے او مونږ د مؤمنان يو د عيسىٰ عليه السلام او محمد صلى الله عليه وسلم د انكار په وجه دوى نه كافر كيږي. كله چه دے د غه ګمان په وجه دوزخ ته لاړ هم نو بيا به راويستلے شي. وګورئ معارف القرآن جلد ۱ صفحه ۲۵۳.

وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ: دوے څائے نه دريم خطاب شروع شو ـ په دېكښې اول ددوى ذاتي امرو او اتيان دوى يه نواهيو باندې پكار رخو دوا چه اوامر په ځملے وړے او دنواهيو نه منع شوے وے خو دوى عكس اوكړو. ځلور اوامر او ځلور نواهي ذكر شويدى ـ لَا تَعْبُدُوْنَ: عبادت مكوئ مګر دپو الله تعالى. زمخشري

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ

او هغه كسان چه ايمان ئے راوړے او نيك عمل كوي دوى خاوندان د

الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٨٢﴾ وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ

جنت دي ـ دوى به جنت كښ هميشه اوسيدونكي دي ـ او كله مو چه واخستو پوخ لوظ

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ لَا تَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ ۟ وَبِالْوَالِدَيْنِ

د بني اسرائيلو نه چه بندګي به نكوئ مګر د الله تعالى او كوئ د مور او پلار سره

اِحْسَانًا وَّذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ

نيكي ـ او د خپلوانو او يتيمانو او مسكينانو سره

وَقُوْلُوْا لِلنَّاسِ حُسْنًا وَّاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا

او وايئ خلقو ته ښې خبرے او پابندي كوئ د مانځه او وركوئ

الزَّكٰوةَ ۭ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْكُمْ وَاَنْتُمْ

زكوة ـ بيا واوړيدئ تاسے مګر لږ ستاسو نه او تاسے ياستئ

مُّعْرِضُوْنَ ﴿٨٣﴾ وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ لَا تَسْفِكُوْنَ

مخ اړوونكي ـ او كله چه واخستو موږ مضبوط وعده ستاسو نه چه نه به توئ كوئ

دِمَآءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُوْنَ اَنْفُسَكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ ثُمَّ

وينے خپل مينځ كښې او نه به باسئ يو بل لره د كورونو خپلو نه ـ بيا

اَقْرَرْتُمْ وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ﴿٨٤﴾ ثُمَّ اَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ

تاسے اقرار اوكړو او تاسے په دے ګواهي كوئ ـ بيا تاسو دغه كسانو

تَقْتُلُوْنَ اَنْفُسَكُمْ وَتُخْرِجُوْنَ فَرِيْقًا مِّنْكُمْ مِّنْ

وژنئ يو بل لره او باسئ يو ډله ستاسے نه د كورونو

دِيَارِهِمْ ۡ تَظٰهَرُوْنَ عَلَيْهِمْ بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۭ وَاِنْ

د هغوى نه غلبه كوئ په يو بل باندې په ګناه ـ او ظلم سره ـ

يَّاْتُوْكُمْ اُسٰرٰى تُفٰدُوْهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ

او كه راشي دوى تاسى ته قيديان نو چرمانه وركوئ د دوى خلاصون او دا حرام

سره

بشارت
ع ۹
يهودو

زمخشري رحمه الله فرمائي چه خبر په معنى د طلب وے او دا تاكيدي خبر دے ـ (ابن كثير ص ۱۱۹) وَقُوْلُوْا لِلنَّاسِ حُسْنًا: او وائي خلقو ته ښے خبرے ـ تفسير قرطبي كښې د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه نقل كوي چه مناسب دى دا ئے د پاره چه وينا ئے خلقو ته نرمه او مخ ئے فراخه كولاؤ وي سره د نيك او بد او سني او بد عتي نه بغير د مداهنت نه ـ جناب مفتي صاحب رحمه الله فرمائي چه تعليم او تبليغ كښې سخت كلام د كافر سره هم درست نه دے خو د دين په باره كښې مداهنت او حق پوشي نه كوي (معارف القرآن ص ۲۵ ج ۱) ـ لَا تَسْفِكُوْنَ دِمَآءَكُمْ: د پنج پير شيخ رحمه الله په جواهر القرآن كښې ليكلي دي (ص ۴۳) چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه كښې دوه مشهور قبيلے اوس او خزرج د سوو نو كلونو نه د يو بل سره جنګ كولو او دا خلے وے ـ مدينه او چاپيره كښې يهوديان هم د اقليت په حيثيت آباد وو او د هغوى دوه قبيلے بني قريظه او بني نضير مشهورے وے ـ د اقليت هميشه د نورو په څنګ پورے تړوند تيرول وي ددے وجے نه بنو قريظه د قبيله اوس سره معاهده اوكړه او بني نضير د قبيله خزرج سره معاهده شو ـ د اوس او خزرج په مابين كښې په روزانه جنګونه كيدل ددے وجے نه ددوى معاهد يهوديانو به د خپلے ملګري

ولے سره يو ځائے په دغه جنګونو كښې حصه اخستله او دغه رنګ د يو طرف يهوديانو لاس نو په د بل طرف يهوديان وژل كيدل په د آيت كښې د دغه طرف نه اشاره ده ـ تُفٰدُوْهُمْ اوكړه په د مخالف د لے خوك كتابي په قيد كښې راغے نو دوى به د هغه د خلاصولو د پاره چنده كوله ـ الوسي د عمر رضي الله عنه نه نقل كوي چه هغوى فرمايلي دي چه يقيناً بني اسرائيل

تېر شوي دي او تاسو مړه دوی شې. دې ته وسې ... او چا چې د ... ګوري باندې يا امت د محمد صلی الله علیه وسلم ... (روح ... ۲۲)
وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ: دوی ځايه دی ته ترمینځ پورې ځلورم خطاب دی چې ډکه ... دوی انکار

عَلَيْكُمْ اِخْرَاجُهُمْ ۭ اَفَتُؤْمِنُوْنَ بِبَعْضِ الْكِتٰبِ
شوي دی په تاسې ويستل د هغوی. آيا ايمان راوړئ تاسې په بعض کتاب
وَتَكْفُرُوْنَ بِبَعْضٍ ۚ فَمَا جَزَاۗءُ مَنْ يَّفْعَلُ
او کفر کوئ په بعض کتاب باندې پس نه دی بدله د هغه چا چې دا کار
ذٰلِكَ مِنْكُمْ اِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَ
کوي ستاسې نه مګر رسوائي په ژوند نږدې کښې. او په
يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يُرَدُّوْنَ اِلٰٓى اَشَدِّ الْعَذَابِ ۭ وَ
ورځ د قيامت به وګرځولی شي ډير سخت عذاب ته، او نه دی
مَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝۸۵ اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ
الله تعالیٰ ناخبر د هغه عملونو چې تاسې کوئ. دا هغه کسان دي چې
اشْتَرَوُا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ ۡ فَلَا يُخَفَّفُ
اخيستې يې دی ژوند نږدې په بدله د آخرت کښې پس سپک به نکړې شي
عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ۝۸۶ ۧ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا
د دوی نه عذاب (هغه) او نه به دوی امداد وکړې شي. او يقيناً ورکړې مونږ
مُوْسَى الْكِتٰبَ وَقَفَّيْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ بِالرُّسُلِ ۡ وَ
موسیٰ ته کتاب او پرله پسې مونږ راولیږل د روستو د هغه نه ډير رسولان، او
اٰتَيْنَا عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ
ورکړې مونږ عيسیٰ ځوی د مريم ته واضح دلائل او مضبوط کړې مونږ هغه په روح
الْقُدُسِ ۭ اَفَكُلَّمَا جَاۗءَكُمْ رَسُوْلٌۢ بِمَا لَا تَهْوٰٓى
القدس. آيا پس هرکله چې راشي تاسې ته رسول په هغه حکمونو چې نه يې خوښوي
اَنْفُسُكُمُ اسْتَكْبَرْتُمْ ۚ فَفَرِيْقًا كَذَّبْتُمْ ۡ وَفَرِيْقًا تَقْتُلُوْنَ ۝۸۷
نفسونه ستاسې تکبر کوئ تاسې پس يو ډله دروغژن ګڼلې او يوه ډله وژنۍ.
وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا غُلْفٌ ۭ بَلْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ
او وويل دوی زړونه زمونږ پنډ دي بلکه لعنت کړی دی په دوی باندې الله په سبب د کفر د دوی

د زړو انبياء کرامو عليهم السلام نه دی. وَقَفَّيْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ: روح المعاني ۱/۳۲۰ کښې ليکلي دي چې د زمانې د عيسیٰ عليه السلام پورې څلور زره انبياء وو. بِرُوْحِ الْقُدُسِ: د دې مراد جبريل عليه السلام دی. د حسان رضي الله عنه شعر دی:
وَجِبْرِيْلُ رَسُوْلُ اللّٰهِ فِيْنَا ... وَرُوْحُ الْقُدُسِ لَيْسَ بِهٖ خَفَاءُ
او جبريل امين د الله په حکم کښې وي او روح يې ځکه چې غټه حصه يې روح ده ... (ابن کثير ۱/۱۲۲، قرطبي ۲/۲۴)
غُلْفٌ: د لام په سکون سره جمع د اَغْلَفُ ده. اغلف نا سنته ته وائي. يعنې په زړونو زمونږ پردې دي. د کوم له امله ... او د لام په پيښ سره جمع د غلاف ده. غلاف ځلور لوښي ته وائي يعنې زمونږ زړونه لوښي د علم دي ستاسو علم ته مونږ حاجت نشته. تائيد يې سورة المؤمن کښې دی. وګورئ قرطبي ۲/۲۵ او ابن کثير ۱/۱۲۳.

وَكَانُوا مِنْ قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ: معنی ئې داده چه خبر به ئې ورکولو کافرانوته په راتللو د اخری پېغمبر ﷺ. او ابن عباس رض فرمائي چه استمداد به ئې غوښتلو د الله تعالی نه او وئیل به ئې چه مونږ ته به مرسته وکړې د محمد علیه السلام

فَقَلِيلًا مَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمْ كِتَٰبٌ مِّنْ عِندِ
پس لږ ایمان راوړي دوی. او هرکله چه راغې دوی ته کتاب د طرف د الله

ٱللَّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ وَكَانُوا۟ مِن قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ
نه رښتیا کوونکې د هغه کتاب چه دوی سره دی او وو دوی مخکښې دې نه چه خبر به ئې ورکولو

عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فَلَمَّا جَآءَهُم مَّا عَرَفُوا۟ كَفَرُوا۟
په راتللو د نبي کافرانوته، پس هرکله چه راغې دوی ته هغه سړی چه دوی پېژندلو، کفر ئې وکړو

بِهِۦ ۚ فَلَعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٨٩﴾ بِئْسَمَا ٱشْتَرَوْا۟ بِهِۦٓ
په هغه، پس لعنت د الله دې وي په دا کافرانو باندې، بد دی هغه شې چه خرڅ کړې دوی

أَنفُسَهُمْ أَن يَكْفُرُوا۟ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بَغْيًا أَن
ځانونه خپل په کفر کولو دوی په هغه کتاب چه نازل کړې دې الله، د وجې د حسد نه په دې چه

يُنَزِّلَ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ
رالېږي الله د فضل خپل نه په هغه چا چه خوښه شي د بندګانو خپلو نه،

فَبَآءُو بِغَضَبٍ عَلَىٰ غَضَبٍ ۚ وَلِلْكَٰفِرِينَ عَذَابٌ
پس راغلل دوی په غضب باندې د پاسه د غضب نه، او دپاره د کافرانو عذاب

مُّهِينٌ ﴿٩٠﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ ءَامِنُوا۟ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُوا۟
خوارکوونکې دې، او کله چه ووئیل شي دوی ته چه ایمان راوړئ په هغه کتاب چه نازل کړې دې الله

نُؤْمِنُ بِمَآ أُنزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُونَ بِمَا وَرَآءَهُۥ وَهُوَ
وائي دوی چه ایمان راوړو مونږ په هغه کتاب چه نازل شوې دې په مونږ او کفر کوي په هغه چه غیر دی ده نه

ٱلْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ ۗ قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُونَ
او حال دا چه دا حق دې رښتیا کوونکې د هغه کتاب چه دوی سره دې، ووایه، ولې وژل تاسو

أَنۢبِيَآءَ ٱللَّهِ مِن قَبْلُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٩١﴾ وَلَقَدْ
نبیان د الله ته مخکښې د دې نه که چرې یاست مؤمنان، او یقیناً

جَآءَكُم مُّوسَىٰ بِٱلْبَيِّنَٰتِ ثُمَّ ٱتَّخَذْتُمُ ٱلْعِجْلَ مِنۢ
راغلې وو تاسو ته موسی په واضحه دلیلونو بیا ونیولو تاسو خسي په خدائي باندې پس

او وئ مې نشو بلکه دروغ ئې وکړو. (زبدة ٣٢ ابن کثیر) او د عبدالملك بن هارون بن عنترة په نقل چه رازي چه بحق محمد به ئې دعا کوله او خلق ترینه وسیله ذاتي پیغمبر توحاقظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه دارقطني فرمائي چه پلار او ځوی دواړه ضعیفان دي او امام یحیی وائي چه عبدالملك کذاب غټ دروغژن دې. او ابن ابي حاتم رح فرمائي چه حدیث ئې اولوئي وي رجعه لسان المیزان.) شیخ القرآن رح په البصائر ص ٢٥ کښې فرمائي چه د یهودو علماؤ الحاق په ګړي دې چه د اعمل د یهودو وو او دوی وسیله رعان دي او دوائې وین کرخوځله دې او شك نشته چه هر عمل په خپل امام پسې اقتدا کوي او د خپلو پلارانو نښانو پسې ځي. پس مبارك دې وي دوی لره اقتدا د خپلو مشرانو (یهودو).

فَبَآءُو بِغَضَبٍ: ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي چه یو غضب د وجې د عبادت د خسي نه او بل غضب د وجې د کفر د دوی نه په محمد علیه السلام باندې. او عکرمه رح وائي چه دوی کفر په عیسی علیه السلام کړې وو او بیائې کفر په محمد ﷺ اوکړو (قرطبي ٢/٢). وَلَقَدْ جَآءَكُم ٩٢: دوې ځائې نه شپږم خطاب دې او تتمه د ما سبق ده. یعنی زاړه احکام یکښې را معاد کوي.

قُلْ اِنْ كَانَتْ لَكُمُ ۹۴: دوے مخاطب ته اعلان مباهله دے. مطلب دا دے چه که چرے تا سو ته جنت تنکه دار ان یا ستی نو را ځئی چه خیرے او کړو چه څوک دروغژن وی چه الله تعالیٰ ئے هلاک کړی. د لته مباهله دیهود سره ده او سورة آل عمران کښې د نصارا سره ده او مجمع کښې هم دیهود سره ده.

بَعْدِهٖ وَاَنْتُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿٩٢﴾ وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ وَ

وروستو د هغه نه او تاسو ظالمان یئ. او یاد کړئ هغه وخت چه اخستے وو مونږ مضبوط لوظ ستاسو نه او

رَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّوْرَ ؕ خُذُوْا مَآ اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّ

اوچت مو کړو د پاسه ستاسو طور (غر) او وئیل مونږ واخلئ هغه چه مونږ درکړے دے په قوت سره او

اسْمَعُوْا ؕ قَالُوْا سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا ۗ وَاُشْرِبُوْا فِيْ قُلُوْبِهِمُ

واورئ، وویل دوی واؤرېدلو مونږ او نافرمانی اوکړوه او اخکلے شوے دے په زړونو د دوی کښې

الْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْ ؕ قُلْ بِئْسَمَا يَاْمُرُكُمْ بِهٖٓ اِيْمَانُكُمْ

مینه د خسی په سبب د کفر د دوی او وایه بد دے هغه امر کوی تاسو ته په هغې ایمان ستاسو

اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٩٣﴾ قُلْ اِنْ كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ

که یئ تاسو ایمان دار. او وایه که چرے وی ستاسو دپاره کور

الْاٰخِرَةُ عِنْدَ اللّٰهِ خَالِصَةً مِّنْ دُوْنِ النَّاسِ

د روستنی په در بار د الله کښې خالص د نورو خلقو نه،

فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٩٤﴾ وَلَنْ يَّتَمَنَّوْهُ

نو غواړئ مرګ (په دروغژن باندې) که چرے یاستی رښتونی. او هیڅکله به نه غواړی مرګ

اَبَدًا ۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ ۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿٩٥﴾

تل په سبب د هغې چه مخکښې کړی دی لاسونو د دوی او الله ښه عالم دے په ظالمانو باندې.

وَلَتَجِدَنَّهُمْ اَحْرَصَ النَّاسِ عَلٰى حَيٰوةٍ ۚ وَمِنَ

او خامخا یقیناً بیا به مومې دوی لره ډیر حریصان د خلقو نه په ژوند باندې او د هغه کسانو

الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا ۚ يَوَدُّ اَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ اَلْفَ

نه چه شرک ئے کړے دے، خواړی هر یو د دوی نه چه عمر ورکړے شی زر

سَنَةٍ ۚ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهٖ مِنَ الْعَذَابِ اَنْ

کاله او نه دے هغه خلاصونکے د دوی لره د عذاب نه عمر

يُّعَمَّرَ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌ ۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٦﴾ قُلْ مَنْ

ورکول د ده او الله تعالیٰ بینا دے په هغه عملونو چه دوی ئے کوی. او وایه څوک چه

رُبُعُ الْحِزْب

ع ۱۰ / ۱۱

تفسیر جامع البیان ص۱۰ کښې دی چه مراد د دے نه مباهله ده څنګه چه ابن عباس رضی الله عنه او نورو سلفو نه صحیح نقل شوی دی او حافظ ابن کثیر رحمه الله په ص۱۳۰ کښې لیکی چه د اصحاب حقیقت ده او دا دعا ده په دروغژنے باندې د دوی او مسلمانانو نه په طریقے د مباهلے سره.

وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهٖ ۹۶ او نه دے دغه کس خلاصونکے د ده لره د عذاب نه عمر ده. تفسیر نسفی ص۱۰ کښې راځی، ای وما احدهم بمن یزحزحه من النار تعمیره - او بل معنی ئے ـــ هم کړے ده.

قُلْ مَنْ كَانَ ۹۷: د دے خاتمے نه تر ۱۰۳ پورے د دیهود په صداقت د رسول ﷺ باندې ده. ماخذات ئے دا دی: ۹۲، ۸۹، ۸۸، ۸۸ - او نهمه خباثتونه دیهودو - دا حصه هم د شلو بابونو ته تقسیم ده اول باب د ۱۰۰ پورے - په دیکښې د اوو - شبهو جوابونه دی. اول شبهه دا ده چه تا ته جبرئیل علیه السلام وحی را وړی او هغه زمونږ دښمن دے. جواب ئے په ۹۸ کښې دے. الوحیی والزهری شعبي رحمه الله په حواله په ص۱۳۰ کښې لیکلی دی چه عمر رضی الله عنه یو ورځ د یهودو مدرسے ته ورغے د جبرئیل علیه السلام ذکر ئے تر دے پورے اوکړه نو هغوی او وئیل چه دغه زمونږ دښمن دے او خاوند د خسف د په ځمکه د منولو او د عذاب دے او میکائیل علیه السلام خاوند د نر اختی او د سلامتیا دے.

فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ ، د علت دجواب دے، جامع البیان ص۱۵ کښې جواب داسې ذکر کړے دے. فَلَا اِنْصَافَ لَهُ . چه
دده سره انصاف لفته بې انصافه دے . مَنْ کَانَ عَدُوًّا :- روح المعانی ۳۳۲ کښې لیکي چه دلته شوې دی

کَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِیْلَ فَاِنَّهٗ نَزَّلَهٗ عَلٰی قَلْبِکَ بِاِذْنِ
وي دشمن د جبرئيلؑ پس یقیناً هغه نازل کړے دے په زړه ستا باندې په حکم د
اللّٰهِ مُصَدِّقًا لِّمَا بَیْنَ یَدَیْهِ وَهُدًی وَّبُشْرٰی
الله تعالیٰ ریښتونے کوونکے د هغه کتابونو چه مخکښې ترینه دي او هدایت او زیرے دے
لِلْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۹۷﴾ مَنْ کَانَ عَدُوًّا لِّلّٰهِ وَمَلٰٓئِکَتِهٖ وَ
د پاره د مؤمنانو ؛ څوک چه وي ، دشمن د الله تعالیٰ او د ملائکو د هغه ، او د
رُسُلِهٖ وَجِبْرِیْلَ وَمِیْکٰىلَ فَاِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ لِّلْکٰفِرِیْنَ ﴿۹۸﴾
رسولانو د هغه او د جبرئيلؑ او میکائیلؑ پس یقیناً الله تعالیٰ دشمن دے د دغه کافرانو :
وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَیْکَ اٰیٰتٍۭ بَیِّنٰتٍ ۚ وَمَا یَکْفُرُ بِهَآ اِلَّا
او یقیناً رالیږلي دي مونږ تا ته آیتونه واضح ، او کفر نه کوي په دغه مګر
الْفٰسِقُوْنَ ﴿۹۹﴾ اَوَکُلَّمَا عٰهَدُوْا عَهْدًا نَّبَذَهٗ
فاسقان : آیا هر کله چه لوظ وکړي دوي لوظ لره غورزوي دغه لره
فَرِیْقٌ مِّنْهُمْ ؕ بَلْ اَکْثَرُهُمْ لَا یُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ وَلَمَّا
یوه ډله د دوي نه ، بلکه زیات د دوي نه ایمان نه راوړي . او هر کله چه
جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا
راغلو دوي ته محمد ﷺ رسول د طرفه د الله تعالیٰ نه ریښتونے کوونکے د هغه
مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِیْقٌ مِّنَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْکِتٰبَ ۙ
دوي سره دي نو غورځولو یوې ډلې د هغه کسانو نه چه ورکړے شوے ؤ کتاب :
کِتٰبَ اللّٰهِ وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ کَاَنَّهُمْ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۱﴾
کتاب د الله تعالیٰ د روستو د شا د خپلو نه ګویا که دوي نه پوهیږي :
وَاتَّبَعُوْا مَا تَتْلُوا الشَّیٰطِیْنُ عَلٰی مُلْکِ سُلَیْمٰنَ ۚ
او تابعداري وکړه دوي د هغه څه چه لوستلو به شیطانانو په زمانه د حکومت د سلیمانؑ باندې
وَمَا کَفَرَ سُلَیْمٰنُ وَلٰکِنَّ الشَّیٰطِیْنَ کَفَرُوْا
او کفر نه دے کړے سلیمانؑ او لاکن شیطانانو کفر کړے دے :
منزل ۱

چه جواب ئے حذف دے فَهُوَ کَافِرٌ مُجَازِیٌ بِاَشَدِّ الْعَذَابِ او وئیلے شي چه جواب دے فَاِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ دے . وَاتَّبَعُوْا مَا تَتْلُوا الشَّیٰطِیْنُ ؛ د دے ځائے نه د دویم شبهې جواب کوي . شبه دا ده چه ته سلیمان علیه السلام ته پیغمبر وائې او حال دا چه هغه ساحر ؤ . الله تعالیٰ جواب کوي ؛ وَمَا کَفَرَ سُلَیْمٰنُ الخ چه جادو کفر دے او سلیمانؑ کفر نه دے کړے . د پښتو شیخ رحمه الله په جواهر القرآن ص۵۸ کښې د ابن جریر ص۳۵۹ په حواله نقل دي ؛ حاصل ئے دا دے چه د حضرت قتادهؒ بیان دے چه د حضرت سلیمان علیه السلام په زمانه کښې شیطانانو یو کتاب تیار کړو چه په هغه کښې جادو او شرک ؤ او په خلقو کښې ئے د هغې اشاعت وکړو او په دغه کښې لیکلے شوي وو چه دا د هغه علم دے چه سلیمان علیه السلام به ورباندې خلقو ته بندولو کله چه سلیمان علیه السلام ته د دغه علم او شو نو دغه کتاب ئے حاصل کړو او د خپل تخت لاندې ئے دفن کړو . کله چه د هغوي وفات اوشو نو بیرته شیطانانو هغه کتابچې بیا راوویستلې او په خلقو کښې ئے دا مشهور کړل شروع کړل چه

دا د سلیمان علیه السلام مخصوص نوشتې او خاص علمي خزانې وې چه هغوي رموز په پټه کښې ساتلي وو او د بعضو په نیز کښې دغه خبیثانو دا الفاظ هم زیات کړي وو چه آصف بن برخیا د بادشاه سلیمان بن داؤد دپاره لیکلي وو د ذخیره د خزانو د علم نه ؛

اَلسِّحْرَ:- اٰلوسي رحمه الله په روح المعاني ص ۳۳۸ کښې ليکي چه سحر د سَحَرَ يَسْحَرُ په وزن د مَنَعَ يَمْنَعُ کلمې په دا ډول وکښې مصدر دے چه ښکاره کړي باريک او پټ اثر لره او مستعمل دي دغه په هغه کښې چه باريک وي او سبب ئې پټ وي او مراد په دے سره هغه نا اشنا کاره دے چه مشابه وي د معجزے سره او معجزه نه وي ځکه چه چلېدي په

يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ وَمَا أُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ

چه خودنه کړي خلقو ته د جادو او هغه څه چه نازل کړے شوي په دوه ملائکو

بِبَابِلَ هَارُوتَ وَمَارُوتَ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ

په بابل ښار کښې چه هاروت او ماروت وو، خو دوئ به نه ښودل هيچا ته

حَتَّى يَقُولَا إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ فَيَتَعَلَّمُونَ

ترو پورے چه ويل به دوئ (په نصيحت کښې) بيشکه مونږ امتحان يو، پس کفر مه کوه پس زده به کړل

مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ وَمَا

کولو به دوئ د دواړو نه هغه څه چه جدائي به ئې راوسته په هغې سره د سړي او ښځې ترمنځ او نه وو

هُمْ بِضَارِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ وَ

دوئ ضرر ورکونکي په جادو سره هيچا ته مګر په حکم د الله تعالیٰ او

يَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَلَقَدْ عَلِمُوا

زده کول به ئې هغه څه چه ضرر ورکوي دوئ ته او نفع نه رسوي دوئ ته او يقيناً پوهه شوي وو

لَمَنِ اشْتَرَاهُ مَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ وَ

چه چا اخستو جادو لره نشته دے لره په اخرت کښې هيڅ برخه او

لَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهِ أَنْفُسَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿۱۰۲﴾

ډېر بد دے هغه څيز چه خرڅ کړي دي په هغې نفسونه خپل که وو دوئ چه پوهيدے

وَلَوْ أَنَّهُمْ آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَمَثُوبَةٌ مِنْ عِنْدِ

او که چرے دوئ ايمان راوړے وے او ځان ئې ساتلے وے (د جادو نه) نو ثواب به وو د طرف

اللَّهِ خَيْرٌ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿۱۰۳﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ

د الله غوره وو، که وو دوئ چه پوهيدے. اے ايمان والو!

آمَنُوا لَا تَقُولُوا رَاعِنَا وَقُولُوا انْظُرْنَا وَ

مه وايئ په خبرو کښې: راعنا، او وايئ (د دې په بدله کښې) انظرنا: او

اسْمَعُوا وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿۱۰۴﴾ مَا يَوَدُّ

واورئ، او د کافرانو دپاره عذاب دردناک دے. او نه غواړي

ع ۱۲

ربع

بحر کښې ابن دا کثر او دا حاصله شي په حاصلولو د جادو کښې په نزديکت سره د شيطان ته زيات تفصيل کړے شوے چه کله قولي وي او کله عملي او کله اعتقادي. وګوره الهام الرحمن ص ۱۳۰. وَمَا أُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ: دلته دوه قوله دي. يو مَا نافيه دے معني ئې دا شوه چه نه دے نازل شوے جادو په دوه ملائکو. دا د امام قرطبي رجحان دے. وګوري ص ۵۰ جلد. نو بيا د فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا معني دا شوه چه زده به کول په خلقو دوي د ضد نه. بل قول دا دے چه مَا موصوله دے معنی ئې دا شوه چه تابعداري کوي دغه جادو چه نازل شوے وو په دوه ملائکو. دا د ابن جرير رجحان دے. وګوره ص ۳۶ تفسير ابن کثير. نو بيا سوال راځي چه ملائکو ولے خودو نو جواب دے دا دے چه خلق ترينه ځان بچ کړي او عمل پرے نکوي خو هغوي ځان ترينه بچ نکړو او عمل ئې پرے وکړه نو دا د خلقو ګناه شوه نه د ملائکو.

فائده:- ملائک عليهم السلام معصوم دي ځکه چه د هاروت او ماروت قصه ذکر کوي او ورته ګناه نسبت کوي هغه قصه غلط ده او د قرآن نه خلاف ده وګوره ص ۲۰ الاعراف، ص ۱۳ الرعد، ص ۴۹ النحل، ص ۲۷ الانبياء، ص ۱۶۵ الصفت، ص ۶ التحريم او وګوره د تفسير ونه ص ۲۳۰ کبير، ص ۵۲ قرطبي، ص ۳۲۳ بحر محيط،

ص ۷۸ خازن، ص ۳۳۸ روح المعاني او ص ۱۳۰ الهام الرحمن. - لَا تَقُولُوا رَاعِنَا: د دغه شبه په باره د لفظ رَاعِنَا کښې - يهود به پوهه شول چه په دا مجلس په مؤمنانو کښې شرک نشو خو رولے نو په خبرو کښې به ئې رَاعِنَا کلمه استعمالوله او دا د دوي په ژبه والا کلمه وه. ظاهره مطلب ئې دا دے چه ته زمونږ لحاظ کوه او مونږ به ستا لحاظ کوو

عــه او یهودو به دا ویل او مراد ئې لو به ئې معنی و رعونت ویاره د ضرر و رکولو نبی علیه السلام ته. رَاعِنَا حماقت او بیوقوفتوب ته وائی به تفسیر التسهیل (طبقه) کښ لیکلی دی چه الله تعالیٰ مسلمانان منع کړه د دویلو د دې کلمې نه د دې د شر یکوالی د معنې . ووے نه د هغې معنې سره چه قصد ئې مسلمانانو کولو او که هغه چه قصد ئې یهودو کولو پس نهی د پاره د بند ولو د هغې د شرک نه ده. الهام الرحمٰن ملـد ژرو څه.

مَّا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَلَا الْمُشْرِكِينَ أَن

هډو نه غواړی چه کافران دی د اهل کتاب نه ، او نه مشرکان چه نازل

يُنَزَّلَ عَلَيْكُم مِّنْ خَيْرٍ مِّن رَّبِّكُمْ ۗ وَاللَّهُ يَخْتَصُّ

کړے شی په تاسو، هیڅ خیر د جانبه د رب ستاسو نه او الله خاص کوی

بِرَحْمَتِهِ مَن يَشَاءُ ۚ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿١٠٥﴾

رحمت خپل په هغه چا پورے چه خوښ ئې شی او الله خاوند د فضل لوئے دے

۞ مَا نَنسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَا

کوم چه بدل کړو هغه آیت او یا ئې هیر کړو ستا نه راولو په غوره د هغې نه

أَوْ مِثْلِهَا ۗ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ

یا په مثل د هغې، آیا ته نه پوهیږے چه یقیناً الله په هر شی باندے

قَدِيرٌ ﴿١٠٦﴾ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ

قدرت والا دے: آیا ته نه پوهیږے چه یقیناً الله خاص د ده لره بادشاهی د اسمانونو

وَالْأَرْضِ ۗ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ

او زمکے ده. او نشته تاسو لره سوا د الله تعالیٰ نه هیڅ دوست

وَلَا نَصِيرٍ ﴿١٠٧﴾ أَمْ تُرِيدُونَ أَن تَسْأَلُوا رَسُولَكُمْ

او نه امداد کوونکے. آیا اراده لری تاسو چه تپوس وکړئ د رسول خپل نه

كَمَا سُئِلَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ ۗ وَمَن يَتَبَدَّلِ الْكُفْرَ

لکه چه سوال کړے شو د موسیٰ نه اعتراضاً مخکښ د دے نه او چا چه بدله کړه په نعمت کفر

بِالْإِيمَانِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ ﴿١٠٨﴾ وَدَّ كَثِيرٌ

په ایمان سره، پس یقیناً بے لارے شو د سمے لارے نه. خوښه کړه ډیرو

مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّن بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا

اهل کتاب نه چه واپس کړی تاسے لره پس د ایمان ستاسو نه کافران

حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ

د وجے د کینے د طرفه د نفسونو د دوی نه پس د هغه نه چه واضح شو دوی ته

یَا نَنسَخْ ملـد: دا د پښتنے جواب دے. الوسیط لیکلی دی په ص ۲۵ کښ چه مشرکانو یا یهودیانو دویل چه آیا نه گورئ محمد ﷺ ته چه امر کوی صحابه کرامو ته په یو امر او بیائے منع کوی د هغه نه او د هغه په خلاف ورته امر کوی او نن یو خبره کوی او صبا له تربینه رجوع کوی نه دے دا قرآن مګر د محمد ﷺ (۲) د دے د خپل طرفه نه وائی. نسخ په معنی د تبدیل او ازالے راځی په لغت کښ وګورئ ۹۹ الحجر. او شرعی تعریف ئې امام نسفی رحمه الله په ص ارك ص ۶۶ کښ کړے دے چه حاصل ئې دا دے چه نسخ بیان د انتهائی موده د حکم شرعی مطلق دی د کوم هیڅوالے چه زمونږ په ذهنونو کښ راغلے دے. په ــ طریقه د روستو والی نزول کښ تبدیل دے زمونږ په حق کښ او خالص بیان دے په حق د صاحب شرع کښ. د پښتو شیخ ؒ په جواهر ص ۸ کښ لیکلی دی چه د نسخ نه مراد دا دے چه حکم ئې اوچت شی او د إِنْسَاء نه مراد دا دے

چه حکم او تلاوت ئې دواړه اوچت شی ۴ باقی د نسخ اهمیت په الهام الرحمٰن ص ۳ کښ او اقسام ئې په الهام الرحمٰن ص ۳۲ ته وګورئ. أَمْ تُرِيدُونَ: دا دے هغه ته پخه زواجر: ص ۱ ، ملـ ۱۴ ملـ ۱۵ ، ملـ ۱ ملـ ۲ کښ دی

ب. جوابونه په ملـ ۱ ، ملـ ۲ کښ شوی دی.

فاعفوا الخ :- دا دے خاطرنه و چه مخه اسور مصلحت بیان دے . وَقَالُوا الخ :- یعنی هر یو ډله به دا دعوه کوله چه جنت زمونږ خاطر دے . مختص په ... کښې د یهود و دا دے بکواس هم ذکرشوے دے .

الْحَقُّ ۚ فَاعْفُوا وَاصْفَحُوا حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ؕ

حق پس عفو وکړئ او مخه واړوئ تر هغه وخته پورې چه راولي الله حکم خپل

اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝۱۰۹ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ

یقیناً الله په هر شي قدرت والا دے . او ودروئ مانځه لره

وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ؕ وَمَا تُقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ

او ورکوئ زکوٰة لره او هغه چه مخکښې ولیږئ د ځانونو د پاره څه خیر

تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝۱۱۰

بیا به موموئ هغه په نزد د الله یقیناً الله ستاسو په عملونو لیدونکے دے .

وَقَالُوْا لَنْ يَّدْخُلَ الْجَنَّةَ اِلَّا مَنْ كَانَ هُوْدًا اَوْ

او وائي دوی هیڅ وخت به داخل نشي جنت ته مګر هغه څوک چه وي یهود یان او یا

نَصٰرٰى ؕ تِلْكَ اَمَانِيُّهُمْ ؕ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ اِنْ

عیسایان دغه ارزوګانې د دوی دي او ووایه چه راوړئ دلیل خپل که چرې

كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝۱۱۱ بَلٰى ۚ مَنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ

یاستئ رښتونی . ولې نه چا چه تابع کړو ځان خپل الله ته او دغه

مُحْسِنٌ فَلَهٗۤ اَجْرُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ۪ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ

نیکوکار وي پس دغه لره بدله د ده په نزد د رب د ده او نه به وي ویره په دوی باندې

وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝۱۱۲ وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ لَيْسَتِ النَّصٰرٰى

او نه به دوی غمژن کیږي . او وائي یهود : نه دي نصارٰی

عَلٰى شَيْءٍ ۪ وَّقَالَتِ النَّصٰرٰى لَيْسَتِ الْيَهُوْدُ عَلٰى شَيْءٍ ۙ

په څه شي (دین) باندې او وائي نصارٰی : نه دي یهود په څه شي (دین) باندې

وَّهُمْ يَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ ؕ كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ

او حال دا چه دوی لولي کتاب لره دغه رنګ وویل هغه کسانو چه نه پوهیږي

مِثْلَ قَوْلِهِمْ ۚ فَاللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا

په مثل د خبرو د دوی پس الله به فیصله کوي په مینځ د دوی کښې په ورځ د قیامت په

مشرکان

بَلٰى مَنْ اَسْلَمَ : حافظ ابن کثیر رحمه الله په ... کښې لیکلي دي چه یقیناً د عمل د قبلیدو د پاره دوه شرطونه دي یو دا چه خالص وي د ایک یو الله د پاره او بل دا چه صواب موافق د شریعت دي او چه کله خالص وي خو مطابق د شریعت نه وي نو نه قبلیږي . تائید د پاره ... هود ، ... ملک وګورئ .

وَمَنْ اَظْلَمُ :- (دا متن په راتلونکي صفحه دے) . د قران په ډیرو ځایونو کښې دا سے لفظ راغلے لکه په ... ۹۳ ، ... الانعام ، ... الکهف ، ... الم السجدة . او دا صیغه د اسم تفضیل ده نو چه ډیر ځنو ظالمانو نوبل نه لوئے ظالمان ویلے شي . شیخ القران رحمه الله به فرمایل چه دا اظلم ... نوعیه دے لکه د لته معنی دا شوه چه په مانځه کښې لوئے ظالم هغه څوک دے چه د جماعت نه خلق منع کوي او په ورانولو کښې لوئے ظالم هغه څوک دے چه د جماعت په ورانولو کښې کوشش کوي . تفسیر مدارک په ... کښې لیکلي دي چه دا حکم عام دے ټولو جماتونو د الله تعالٰی لره شامل دے . تفسیر ابن کثیر ... کښې لیکلي دي چه د جماتونو د اباد ولو نه مراد یوازې بنا نسته کول

او اقامت د ظاهري شکل نه دے بلکه اباد ی د جماتونو د الله تعالٰی په یاد او په قانونو د شریعت د ه - الله تعالٰی په هغه کښې دے او د شرک او خبرو نه ئے پاک ساتل دي . دا ایتونه هم اوګورئ : ... بقره ،

ځا توبه، عـ۳۱ نور، عـ۱ جن - فائده ۲: افسوس او بیا افسوس دا دے چه جماعت د الله تعالیٰ کورونه
او خلق پکښې شرک کوی او د محراب په یو طرف یَا اَللهُ وی لیکلے او په بل طرف یَا مُحَمَّدُ - چا لیکلی وی یا چهاریار - چا
لیکلی وی یا غوث الاعظم - اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَیْهِ رٰجِعُوْنَ ۔

كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿۱۱۳﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ مَنَعَ

هغه کښې چه دوی پکښې اختلاف کوی = او څوک دے غټ ظالم د هغه چا نه چه منع کوی

مَسَاجِدَ اللَّهِ أَنْ يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ وَسَعَىٰ فِي

جماتونه د الله تعالیٰ چه یاد کړے شی په هغو کښې نوم د الله او کوشش کوی په ورانولو

خَرَابِهَا ۚ أُولَٰئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَنْ يَدْخُلُوهَا إِلَّا

د هغو کښې دغه کسان نه دی مناسب دوی لره چه ننوزی جماتونو ته ۔ مګر

خَائِفِينَ ۚ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ

ویره کوونکی، دوی لره په دنیا کښې رسوائی ده او دوی لره په اخرت کښې

عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿۱۱۴﴾ وَلِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ۚ فَأَيْنَمَا

عذاب لوئے دے = او خاص الله لره د نمر خاته او غروبیدو طرف دے پس کوم طرف ته

تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿۱۱۵﴾ وَقَالُوا

چه مخ کړی هلته مخ د الله دے: یقیناً الله فراخ اختیار لرونکے ښه پوهه دے = او وائی دوی

اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا ۗ سُبْحَانَهُ ۖ بَلْ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ

نیولے دے الله ولد، پاکی ده الله تعالیٰ لره بلکه هغه لره هغه څه دی کوم چه په اسمانونو

وَالْأَرْضِ ۖ كُلٌّ لَهُ قَانِتُونَ ﴿۱۱۶﴾ بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَ

او زمکه کښې دی، ټول هغه ته عاجزی کوی - بے مثله پیدا کونکے د اسمانونو او د

الْأَرْضِ ۖ وَإِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُنْ

زمکے دے، او کله چه فیصله کړی د یو کار پس یقیناً وائی هغه ته: شه

فَيَكُونُ ﴿۱۱۷﴾ وَقَالَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ لَوْلَا يُكَلِّمُنَا اللَّهُ

پس موجود شی - او وائی هغه کسان چه نه پوهیږی ولے خبرے نه کوی الله تعالیٰ زمونږ سره

أَوْ تَأْتِينَا آيَةٌ ۗ كَذَٰلِكَ قَالَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ

یا ولے نه راځی مونږ ته معجزه - دغه رنګے وئیل هغه کسانو چه مخکښې د دوی نه وو:

مِثْلَ قَوْلِهِمْ ۘ تَشَابَهَتْ قُلُوبُهُمْ ۗ قَدْ بَيَّنَّا الْآيَاتِ

په مثل د وینا د دوی، مشابه شو یی زړونه د دوی، یقیناً واضحه بیان کړو مونږ ایتونه

پینسم / تجسیم — تحریف — تخصیص / تعمیم — تحریف / فوائد — اُمُور / تجسیم — مشرک

دوی ته خاص شوی - وَقَالُوا اتَّخَذَ: - د دے خاطر د تهمت شبهے چه الله تعالیٰ
نازه ولے نیولی دی جواب دے
او په پنځو طریقو سره ئے
جواب ورکړے - بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ،
معنی ئے دا ده چه بے مثله
پیدا کونکے د اسمانونو او زمکے
دے - بدعت په لغت کښې
نوی پیدا شوی شی ته وئیلے شی
لکه ولغت کتابونه پرے دلالت
کوی - او ګوره: مجمع البحار صـ
منتهی الارب صـ لکه صـ
ضیاء النور کښې دی - حافظ ابن کثیر
رحمه الله په صـ کښې لیکلی دی معنے
د عبارت ئے دا ده چه هر چه
اهل سنت او جماعت دی نو وائی
په هر قول او فعل کښې چه د
اصحابو کرامو رضی الله عنهم نه ثابت
نه وی دا بدعت دے، ولے
کوم چه بَدِيعُ وئیلے نو هغوی په
زمونږ نه مخکښې وائے کړے وے
دغه ته مخکښ چه هغوی د خیر د
کارونو نه یو کار هم نه دے
پریښے بلکه مخکښې شوی هغه
ته - بدعت بیا په دوه قسمه دی
یو هغه چه د سره ئے نه په شریعت
کښې وجود نه وی او د دے ته
بدعت حقیقی وئیلے شی او بل
دا چه وجود ئے وی خو بدعتی
ورله د خپل طرفنه کیفے زیاتے
یا طرز او طریقه ور کړے وی او
د دے ته بدعت اضافی وئیلے شی
د شیخ القرآن رحمه الله کتاب ضیاء النور
صـ کښې د دے موضوع قابل د لیدو
کتاب دے - د احقر رد بدعات پښتو او اردو کښې هم په دے کښے شی - وَقَالَ الَّذِينَ: - دے ځائے نه او وم شبهه او د هغے
جواب دے چه الله تعالیٰ د زمونږ سره خبرے ولې نه کوی او یا د فرمائشی معجزه راوړی - په ۱۶۲ اَیَسْئَلُکَ کښې ص مفصل
شو کوم د یا دلاچه دویمه حصه د سورة بقرے چلیږی د ده -

لِقَوۡمٍ يُّوۡقِنُوۡنَ ﴿۱۱۸﴾ اِنَّاۤ اَرۡسَلۡنٰكَ بِالۡحَـقِّ بَشِيۡرًا وَّ

دهغه قوم دپاره چه یقین کوي - یقینا مونږ لیږلے یې ته په حقه سره زیرے ورکوونکے او

نَذِيۡرًا ۙ وَّلَا تُسۡـئَلُ عَنۡ اَصۡحٰبِ الۡجَحِيۡمِ ﴿۱۱۹﴾ وَلَنۡ

ویروونکے او ته به نه پوښتلے کیږې د خاوندانو د دوزخ نه (دوزخیانو نه) - او هیچرې به

تَرۡضٰى عَنۡكَ الۡيَهُوۡدُ وَلَا النَّصٰرٰى حَتّٰى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمۡ

راضي نشي ستا نه یهود او نه نصارٰی تر هغه چه تابع نه شې د دین د دوي

قُلۡ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ الۡهُدٰىؕ وَلَئِنِ اتَّبَعۡتَ

ووایه یقینا هدایت د الله هم دا هدایت دے او که چیرې تابع شوې ته

اَهۡوَآءَهُمۡ بَعۡدَ الَّذِىۡ جَآءَكَ مِنَ الۡعِلۡمِ ۙ مَا لَكَ

د خواهشاتو د دوي پس د هغه نه چه راغلو تاته علم (د قرآن) ، نشته وي تا لره

مِنَ اللّٰهِ مِنۡ وَّلِىٍّ وَّلَا نَصِيۡرٍ ﴿۱۲۰﴾ اَلَّذِيۡنَ اٰتَيۡنٰهُمُ

د طرفه د الله نه څوک دوست او نه امداد ګر - هغه کسان چه ورکړے مونږ هغوی ته

الۡكِتٰبَ يَتۡلُوۡنَهٗ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ ؕ اُولٰٓـئِكَ يُؤۡمِنُوۡنَ بِهٖ ؕ

کتاب لولي یې په حقه لوستلو سره ، دغه کسان ایمان راوړي په هغې باندې

وَمَنۡ يَّكۡفُرۡ بِهٖ فَاُولٰٓـئِكَ هُمُ الۡخٰسِرُوۡنَ ﴿۱۲۱﴾ يٰبَنِىۡۤ

او چا چه انکار اوکړو د هغې پس دغه کسان هم دوي دي تاوانیان - اے اولاده

اِسۡرَآءِيۡلَ اذۡكُرُوۡا نِعۡمَتِىَ الَّتِىۡۤ اَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَ

د یعقوب! یاد کړئ نعمت زما هغه چه انعام مې کړے دے په تاسو باندې او

اَنِّىۡ فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۱۲۲﴾ وَاتَّقُوۡا يَوۡمًا

یقینا ما بهتر کړي وو تاسو لره په مخلوق د زمانے خپلے = او ویرېږئ د هغه ورځے نه

لَّا تَجۡزِىۡ نَفۡسٌ عَنۡ نَّفۡسٍ شَيۡـئًا وَّلَا يُقۡبَلُ

چه نشي خلاصولے یو نفس د بل نفس نه هیڅ شے او نشي قبلیدے

مِنۡهَا عَدۡلٌ وَّلَا تَنۡفَعُهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا هُمۡ يُنۡصَرُوۡنَ ﴿۱۲۳﴾

د هغه نه بدله او نفع نشي ورکولے هغه ته سفارش او نه به څوک د هغوی امداد کوي

وَلَنۡ تَرۡضٰى: نه تسلي ده - وَلَئِنِ اتَّبَعۡتَ: حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه په دیکښې تهدید او سخت وعید دے د امت دپاره د تابعدارۍ د طریقو د یهودیانو او نصارو نه پس د هغه نه چه بلد شو په قرآن او سنت - بِمَاذَا یاتون من ذلک - ابن الحسین هم دګوري - الَّذِيۡنَ اٰتَيۡنٰهُمُ: دا دلیل نقلي دے د حق پرستو اهل کتابو نه - يَتۡلُوۡنَهٗ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ: یو معنٰی دا ده چه تابعداري ئې کوي څنګه چه د تابعدارۍ حق دے - دګورئ تفسیر قرطبي او بله معنٰی ئې دا ده چه قراءت کوي څنګه چه نازل شوے دے د الله نه دګورئ تفسیر کبیر - يٰبَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ: په دیکښې د ترغیب او ترهیب اعاده ده - او تفسیر مدارک په دیکښې د تکرار دوه وجې خودلي دي - یو د وجې د تکرار د ګناهونو د دوي نه او بل ختمول د قصے د بني اسرائیلو دي په هغه باندې چه شروع پرے شوې وه -

وَاِذِ ابۡتَلٰٓى: (دا متن دا تلو صفحے دے) دوه څلاښتے نه د پارے ختمیدو پورې دویم باب دے او په دیکښې شو خبرے دي (۱) عظمت شان د ابراهیم علیه السلام - (۲) عظمت د خانه کعبے (۳) دعاګانې د ابراهیم علیه السلام (۴) او قسمه زجرونه او رټنې - شیخ القرآن رحمه الله په فرمائیل چه دوه څلاښتے نه دي مقصد دا دي (۱) بیت الله جوړ شوے دے دپاره د توحید والو نه پکښې شرک کوي ۱۲۵ - (۲) په دے پیغمبر ابراهیم علیه السلام زیرے ورکړو بیا وصیت ئې پرے کړے دے نو وړلے ئې منځې ۱۲۹ - (۳) او توحید دین د ټولو پیغمبرانو ۲۴ دے نو ولے ترینه انکار کوئ ۱۳۶ دګورئ سمط الدرر ۵۱ - بِكَلِمٰتٍ: د کلمات په بارے معنے مفسرینو رحمهم الله کړے دي - الله تعالٰی دې د هغوی دا سعي قبوله کړي لاکن مونږ شیخ القرآن رحمه الله په فرمائیل چه د قرآن د مطالعے نه ورمعلومیږي چه

دوے نه اُوو احتحانات مراد دی، اوپه تفسیر دقرآن په قرآن دے . وا قاعده ابن کثیر رحمه الله کښې لیکلی ده . و آحقر اعمام الرحمن ص۱۰۷ نه مطالعه وکړئ : (۱) ص۵۵ بقره (۲) ص۱۲۵ انعام (۳) مریم کښې (۳) ص هذه سوره مکه

وَإِذِ ابْتَلَىٰٓ إِبْرٰهٖمَ رَبُّهُ بِكَلِمٰتٍ فَأَتَمَّهُنَّ ۖ قَالَ

او کله چه امتحان اوکړو د ابراهیم علیه السلام رب هغه په څو خبرو نو هغه پوره کړې رب ورته اووئیل

إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا ۖ قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِي ۖ

یقیناً زه به تا ګرځوم د خلقو دپاره پیشوا . او وئیل هغه او د اولاد نه مې هم

قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي الظّٰلِمِينَ ﴿١٢٤﴾ وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ

او وئیل الله نه رسیږی لوظ د امامت ما ظالمانو ته : او کله چه مونږ وګرځولو بیت الله لره

مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْنًا وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرٰهٖمَ

ځائے د راټولیدو خلقو دپاره او ځائے د امن او نیسئ د مقام ابراهیم سره ځائے

مُصَلًّى ۖ وَعَهِدْنَآ إِلَىٰٓ إِبْرٰهٖمَ وَإِسْمٰعِيلَ أَن طَهِّرَا

د مانځه : او حکم مو اوکړو ابراهیم ته : او اسمٰعیل ته چه پاک کړئ دواړه

بَيْتِيَ لِلطَّآئِفِينَ وَالْعٰكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ ﴿١٢٥﴾

کور زما دپاره د طواف کونکو او اعتکاف کونکو او رکوع کونکو سجده کونکو :

وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهٖمُ رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا بَلَدًا ءَامِنًا وَ

او کله چه اووئیل ابراهیم اے ربه زما اوګرځوه دا ښار د امن او

ارْزُقْ أَهْلَهُ مِنَ الثَّمَرٰتِ مَنْ ءَامَنَ مِنْهُم بِاللَّهِ

رزق ورکړه اهل د دې ته د میوو هغه چاته چه ایمان ئې راوړے وی دوی نه په الله هم

وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۖ قَالَ وَمَن كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُ قَلِيلًا

او په ورځ د آخرت . او وئیل الله او چاچه کفر کړے دے پس نفع به ورکړم لږ :

ثُمَّ أَضْطَرُّهُۥٓ إِلَىٰ عَذَابِ النَّارِ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿١٢٦﴾

بیا به ئې راکاږم : عذاب د اور ته : او بد ځائے د واپسئ دے .

وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرٰهٖمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَ

او کله چه پورته کول ابراهیم علیه السلام تادونه = د بیت الله او

إِسْمٰعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ السَّمِيعُ

اسمٰعیل (دواړو اوویل) اے ربه زمونږ قبول کړه زمونږ نه یقیناً ته خاص ته اورېدونکے

انعام کښې (۳) ص۹۵ انبیاء کښې (۵) ص۳۲ عنکبوت کښې (۶) ص۵ سورة ابراهیم کښې (۷) ص۱۰۴ صافات کښې . لَا يَنَالُ عَهْدِي الظّٰلِمِينَ : په دے آیت نه مفسرینو لیکلی دی چه انبیاء علیهم السلام د نبوت نه مخکښې (یعنی د تبلیغ شروع کیدو نه مخکښې) هم د لویو ګناهونو نه معصوم او پاک دی . اګورئ تفسیر کبیر ص۳۲ ، بیضاوی ص۱۰۳ ، روح المعانی ۳۰۰/۱ ، احکام القرآن د ظفر احمد عثمانی رحمه الله ۷۰/۱ او الهام الرحمٰن د آحقر ص۳۳ . وَارْزُقْ أَهْلَهُ ..... : په دے باره کښې د حدیث د بخاری شریف ص۴۷۳ کښې راغلی چه کله ابراهیم علیه السلام اسمٰعیل او د هغه مور علیهما السلام راوستل او د خانه کعبه خوا کښې کینول او بیا ترینه روان شو نو د اسمٰعیل علیه السلام مور ورپسے شوه او ورته ئے وئیل چرته ځے او مونږ په داسے وادئ کښې چه نه پکښې څوک انسان او نه بل شے اوسی پریږدې ؟ ... ورته ئے دا خبره بار بار اووئیل او هغوی هیڅ ئې ورته اونه کتل نو بیا ئې ورته اووئیل آیا الله تعالیٰ درته په دے حکم کړے دے ؟ هغوی اوفرمایل آو . نو هغے اووئیل چه بیا ئې الله تعالیٰ مونږ نه ضائع کوی . (قَالَتْ إِذًا لَّا يُضَيِّعُنَا) . رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا : جناب مفتی صاحب رحمه الله په معارف القرآن ص۳۳۵ کښې لیکلی دی چه

په دے کښې خپل نیک عمل باندې بهروسه او د قناعت نه کولو ترغیب دے . حافظ ابن کثیر رحمه الله په ص۱۸۴ کښې لیکی چه دوی دواړه به نیک عمل کښې دی او د الله تعالیٰ نه سوال د قبولیت د عمل کوی .

رَسُوْلًا مِّنْهُمْ :- تفسیر قرطبی ۲/۱۳۱ کښ لیکلی دی چه د اصحابو کرامو دسوال په جواب کښ رسول الله ﷺ
اوفرمائیل چه : "آنا دعوة ابی ابراهیم وبشری عیسی" . څه شمره دُعا دخپل پلار ابراهیم علیه السلام
اود زیری د عیسی علیه السلام یم .

الْعَلِيْمُ ﴿١٢٧﴾ رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ
او پوهه دے . اے رب زمونږ او ګرځوے موږ دواړه تابعدار تا لره . او د اولاد
ذُرِّيَّتِنَآ اُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ وَاَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ
زمونږ کښ ځله تابعداری کوونکے تا لره او وښایه موږ ته کارونه د بندګئ (حج) او
عَلَيْنَا ۚ اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿١٢٨﴾ رَبَّنَا وَابْعَثْ
مهربانی وکړه په موږ یقیناً ته خاص ته توبه قبلوونکے مهربان ئے . اے رب زمونږ او ولیږه
فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ
په دوی کښ پیغمبر د جنس د دوی نه چه لولی به دوی باندے آیتونه ستا او ښائی دوی ته
الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيْهِمْ ۭ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ
کتاب او سُنت او پاکوی دوی لره یقیناً ته خاص ته زورور او
الْحَكِيْمُ ﴿١٢٩﴾ وَمَنْ يَّرْغَبُ عَنْ مِّلَّةِ اِبْرٰهٖمَ اِلَّا مَنْ
حکمت والا ئے . او څوک نه اړوی د دین د ابراهیم نه مګر هغه کس
سَفِهَ نَفْسَهٗ ۭ وَلَقَدِ اصْطَفَيْنٰهُ فِي الدُّنْيَا ۚ وَ
کم عقل کړے وی نفس خپل او یقیناً غوره کړے دے موږ دے لره په دنیا کښ . او
اِنَّهٗ فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿١٣٠﴾ اِذْ قَالَ لَهٗ
یقیناً هغه په آخرت کښ خامخا د نیکانو نه دے . کله چه اووئیل دهٔ ته
رَبُّهٗٓ اَسْلِمْ ۙ قَالَ اَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٣١﴾ وَ
رب دهٔ تابعداری وکړه نو ووئیل دهٔ تابعداری م کړے ده رب د مخلوقاتو ته . او
وَصّٰى بِهَآ اِبْرٰهٖمُ بَنِيْهِ وَيَعْقُوْبُ ۭ يٰبَنِيَّ
وصیت کړے وو په کلمه د توحید ابراهیم خامن خپلو ته او یعقوب ، یا ځامنو زما :
اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰى لَكُمُ الدِّيْنَ فَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا
یقیناً الله تعالیٰ غوره کړے دے تاسی لره دین (توحید) پس مه مرئ تاسی مګر په
وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿١٣٢﴾ اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَاۤءَ اِذْ حَضَرَ
حالت کښ چه تاسے مسلمانان یاستی : آیا وئ تاسے حاضر کله چه نزدے راحاضر شو

ع ۱۵

اوځ زیرلی د عیسی علیه السلام یم .
وَوَصّٰى بِهَآ : او وصیت کړے په دے توحید باندے ابراهیم علیه السلام ځامنو خپلو ته او یعقوبؑ . حافظ ابن کثیر رحمه الله په ۱/۱۸۵ کښ لیکلی دی چه په کلمه د اَسْلَمْتُ باندے تائید د پاره سورة زخرف ۲۸ وګوره .
اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ (۱۳۳) :- تفسیر روح المعانی په ۱/۳۹۰ کښ لیکلی دی چه دوی نبی علیه السلام ته دا ووئیل چه ولے تاته پته نشته چه یعقوب علیه السلام خپلو ځامنو ته په یهودیت وصیت کړے وو دے آیت نه او وړاندے زجر د نه شروع دی . (۱) ۱/۱۳۲ (۲) ۱/۱۳۳ (۳) ۱/۱۳۵ (۴) ۱/۱۳۸ (۵) ۱/۱۳۸ (۶) ۱/۱۳۹ (۷) ۱/۱۴۰ .
تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ : (دا متن په راتلونکے صفحه دے . تفسیر ئے دا دے :) دوی به ووئیل چه پلرونه او نیکونه به مو خلاصوی که موږ غلطی کړے وی . نو جواب ئے راغلو تِلْكَ اُمَّةٌ . شاه پور شیخ رحمه الله لیکلی دی چه خدائ تعالیٰ ئے جواب ورکړو چه د هغوی عمل د هغوی دے او ستاسو عمل ستاسو دے . (افضل التراجم ۲۵) .
هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى :- یعنی هر یو په خپل خپل دین تلبلنه کوله په کوم چه دو . تفسیر قرطبی ۲/۱۳۹ . ملا بقره هم وګوری . حَنِيْفًا : چه مائله دی باطلو دینونو نه . راغب اصفهانی رحمه الله په مفردات ۱۳۳ کښ لیکی چه د "حنف" معنیٰ میلان دے د ضلالت نه هدایت ته .

لَا نُفَرِّقُ :- معنیٰ ئے دا ده چه دا سے نه کوو چه ایمان په بعضو راوړو او کفر په بعضو اوکړو څنګه چه یهودیانو او نصارا ؤ کړیدے . وګوری قرطبی ۲/۱۴۱ .

تائید نے سورت نساء منځ کښ وسے ۔ او دا مطلب نے نه دے چه الله او رسولان یوشان وګڼړو ،
داخو شرک عقیده ده لکه بعض غالیانو وئیلی دی ۔ او دغه شان مینیي مصطفیٰ بوکړ ...

يَعْقُوبَ الْمَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِنْ
یعقوب ته مرګ کله چه نے اوویل خامنو خپلو ته چه د عبادت به کوئ تاسو روستو د مرګ

بَعْدِي قَالُوا نَعْبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ
زمانه نه اوویل دوی عبادت به کوو د معبود ستا او د معبود د پلرونو ستا ابراهیم

وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ إِلَٰهًا وَاحِدًا وَنَحْنُ لَهُ
او اسمٰعیل او اسحٰق دی یعنی د معبود یو - او مونږ هغه لره

مُسْلِمُونَ (۱۳۳) تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۖ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَ
مسلمانان یو ۔ دغه یوه ډله ده چه تیره شوې ده د هغوی لره هغه عمل چه کړے ئے او

لَكُمْ مَا كَسَبْتُمْ ۖ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ (۱۳۴)
تاسو لره هغه عمل چه تاسو کړی او تاسو به پوښتنه نشئ کیدے د هغه عملونو چه هغوی کول ۔

وَقَالُوا كُونُوا هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ تَهْتَدُوا ۗ قُلْ بَلْ
او وائي دوی شئ یهودیان او یا نصرانیان هدایت به بیا مومئ ، ووایه بلکه

مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ (۱۳۵)
(تابع یو) دین د ابراهیم چه مائل د باطل نه وو او نه وو دے د شرک کونکو نه ۔

قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنْزِلَ إِلَىٰ
ووایئ ایمان مو راوړے په الله تعالیٰ او په هغه چه نازل شوے دے مونږ ته او په هغه چه نازل

إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ
شوے دے ابراهیم او اسمٰعیل او اسحٰق او یعقوب او اولاد د دوی ته

وَمَا أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَا أُوتِيَ النَّبِيُّونَ
او هغه چه ورکړے شوې موسیٰ او عیسیٰ ، او په هغه چه ورکړے شوې نبیانو ته

مِنْ رَبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْهُمْ وَنَحْنُ
د رب د دوی نه جدائي نه کوو مونږ هیڅ یو د دوی نه (په ایمان راوړلو کښې) او مونږ هغه

لَهُ مُسْلِمُونَ (۱۳۶) فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ
الله لره تابعداری کونکی یو کچرے ایمان راوړو دوی په مثل د ایمان ستاسو

السیاق بالله کم ۔ مطلب دا چه
عرش با نو برابر شه نو خدای
شه او چه مدینے ته راغے نو
مصطفیٰ رسول شو ۔ د دغه
غالیانو دا شعر به خپل د
ترجمه اولنی استاذ محترم
میاں حیاء الدین صاحب
رحمه الله درس کښ وئیلو ۔
بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ ع ۱۳۶ علامه
نسفی رحمه الله فرمائی چه دا
آیت مشکل دے ځکه چه د
نه معلومیږی چه د الله تعالیٰ
مثل شته او الله تعالیٰ د دینے
اوچت دے نو وئیلے شوی دی
چه "ب" زائد ده او مثل
صفت د مصدر محذوف دے
تقدیر ئے دا دے ، فَإِنْ
آمَنُوا إِيمَانًا مِثْلَ إِيمَانِكُمْ
کچرے دوی ایمان راوړی د
داسے ایمان څنګه چه ستاسو
دے ۔ او "ه" ضمیر الله ته
دے یعنی په الله تعالیٰ باندې .
(۲) او وئیلی شوی دی چه
مثل زائد دے ، ای فَإِنْ
آمَنُوا بِمَا آمَنْتُمْ ۔ یعنی کچرے
دوی ایمان راوړی په هغه
الله چه تاسو ایمان
راوړے دے (مدارک)
د دے جواب نے وکړو ۔ او
عسکری رحمه الله په "الاصلاح
صفحه ٦٦" کښ د "به" د رے
معنیٰ کانے لیکلی دی (۱) په
الله تعالیٰ باندې (۲) په محمد ﷺ
باندې (۳) په قران باندې ۔
فائده :- د شاه پوپلزئی شیخ
رحمه الله لیکلی دی چه معلومه

شوه چه ایمان د اصحابو د نورو خلقو د ایمان د پاره تله ده ۔ نو ظاهر بیا په اصحابو غرق دے عقلاً دا
چه د اصحابو به د خیر بحث کوے د پاره د ترغیب اتباع ته الخ ۔ (ص ۲۵ افضل التراجم) ۔

بِهٖ فَقَدِ اهْتَدَوْا ۚ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا هُمْ فِيْ

په دې الله تعالیٰ باندې نو بیشکه دوی هدایت وموندلو او که چیرته مخ وګرځوی دوی نو بیشکه دوی په

شِقَاقٍ ۚ فَسَيَكْفِيْكَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿١٣٧﴾

عناد کښې دی پس خامخا بچ به کړی تا لره الله دوی نه او دا الله اوریدونکی پوهه دے.

صِبْغَةَ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ صِبْغَةً ۖ وَّ

قبول کړے مونږ رنګ د الله او څوک دے ډیر ښائسته د الله تعالیٰ نه په رنګ کښې. او

نَحْنُ لَهٗ عٰبِدُوْنَ ﴿١٣٨﴾ قُلْ اَتُحَآجُّوْنَنَا فِي اللّٰهِ وَ

مونږ خاص الله لره عبادت کونکی یو. ووایه ایا جګړه کوئ مونږ سره په دین د الله کښې

هُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ۚ وَلَنَآ اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ۚ

او هغه رب زمونږ دے او رب ستاسو دے. او مونږ لره خپل عملونه دی او تاسو لره خپل عملونه

وَنَحْنُ لَهٗ مُخْلِصُوْنَ ﴿١٣٩﴾ اَمْ تَقُوْلُوْنَ اِنَّ

او مونږ د خاص هغه لره اخلاص کونکی یو. ایا وایئ تاسو چه یقیناً

اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَ

ابراهیم ؑ او اسمٰعیل ؑ او اسحٰق ؑ او یعقوب ؑ او

الْاَسْبَاطَ كَانُوْا هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى ۗ قُلْ ءَاَنْتُمْ

اولاد د هغه دوی یهودیان او یا نصاریٰ، او ووایه ایا تاسو

اَعْلَمُ اَمِ اللّٰهُ ۗ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَتَمَ شَهَادَةً

ښه پوهیږئ یا الله تعالیٰ او څوک دے ډیر ظالم د هغه چا نه چه پټوی ګواهی چه ورسره

عِنْدَهٗ مِنَ اللّٰهِ ۗ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٤٠﴾

ده د هغه، د الله تعالیٰ د طرف نه او نه دے الله تعالیٰ ناخبره د هغه عملونو نه چه تاسو یې کوئ.

تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَّا

دغه یوه ډله وه چه تیره شوه، هغوی لره هغه دی چه ګټلی دی او تاسو لره هغه دی

كَسَبْتُمْ ۚ وَلَا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٤١﴾

چه تاسو ګټلی او تاسو نه به پوښتنه نشی کیدے د هغه عملونو چه هغوی به کړی.

منزل ١

صِبْغَةَ اللّٰهِ :- تفسیر مدارک
په شرح کښې لیکلی دی چه
نصاراؤ به خپل بچی په یو زیړ
رنګ کښې غوپه کړل او دا
به ئے ویل چه دا ئے پاک کړلے
وشو او چا چه دا عمل د خپل
بچی سره وکړو نو ویل به ئے
اَلْاٰنَ صَارَ نَصْرَانِيًّا حَقًّا :
چه اوس پوخ فرنګے شو. نو
الله تعالیٰ امر وکړو مومنانو ته
چه صِبْغَةَ اللّٰهِ چه قبول کړے
مونږ رنګ د الله تعالیٰ. د الله
دین ته ئے رنګ مشاکلة ویلے
دے هغوی خپل دین ته
ظاهری رنګ نه عبارت
ګرځولے وو. شیخ القرآن
مولانا محمد طیب طاهری
مدظله العالی فرمائی چه مونږ
قبول کړیدے دے دین د الله تعالیٰ
تائید کښې سورة نساء ع ١٢٥
وګورئ. ءَاَنْتُمْ اَعْلَمُ اَمِ اللّٰهُ
تائید کښې سورة آل عمران
ع ٦٥ وګورئ. تِلْكَ اُمَّةٌ
قَدْ خَلَتْ :- دا جمله د تاکید
د پاره دوباره مکرره شوه.
(مدارک ص ٦٥ ج ١) د دیارلسم
پاره حم د چار شنبے ٨ صفر المظفر
١٤٢٨ھ مطابق ٨ مارچ
٢٠٠٧ء د سحر د مونځ نه
مخکښې ختمه شوه او د تصحیح
د پاره نظر ثانی په ورځ د
سه شنبے ١٦ صفر المظفر ١٤٢٨ھ مطابق ٦ مارچ ٢٠٠٧ء ٣/١٥ بجے په توحید آباد تر خو کښې وشوه -
فالحمد لله علیٰ ذلك. یا الله محمد اسحٰق د باقی لیکلو او د چاپ کولو توفیق را کړے - آمین ثم آمین ؛

سَيَقُولُ السُّفَهَاءُ: دوے مخالفینو درېم باب ترسته پورے دے ویکښې تحویل دقبلے او طواف دصفا او مروه مابین کښې ځو باقي دوو شبهو جوابونه، او دے شیځ دوه (حماي جوابونه) وَلَئِنْ اَتَيْتَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ ۱۴۵ ، او دوه تفصیلي جوابونه کړي ۱۵۰ وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الخ ، لِئَلَّا يَكُوْنَ حُجَّةٌ ۱۵۰ - او په ویکښې حجه او عمرہ تحویل دقبلے، ورسے نبي صلى الله عليه وسلم او دوه امت ته . ورېم مناد دتعلی کتابو ۱۵۲ - څلورم تېزي درکال په بعض امورو ۱۵۳ - پنځم تخویف ۱۵۵ او زجر ۱۶۱ ، د سفهاء نه مراد یا یهود دي یا مشرکان یا منافقان (ابن کثیر ۱۹۰) وَسَيَكْفِيْكَهُمْ رحمه الله په جواهر ۱/۱۸ کښې فرمائي چه نبوکیه ے شي غرض حسنې منه اتي پاتېن غرض دا چه تو مره خلق وي هغومره ے خبره وي. اُمَّةً وَّسَطًا: غوره امت (مدارک ۱/۶۲) او وعده الا امت اکبیر (۴/۹۰) زیهیرانو نه بنکله او دنورو امتونو نه ایمت (قرطبي ۲/۱۵۳) سورة آل عمران ۱۱۰ کښې ورته هم غوره امت ویلے شوې دے - اِلَّا لِنَعْلَمَ: معنی نے دا ده چه بیل کړو هغه علم په معنی د تمیز دے ځکه چه په علم (بیلتون) تمیز راځي وګوري تفسیر مدارک ۱/۶۳ .
قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ: عام مفسرین رحمهم الله فرمائي چه نبي عليه السلام کله هجرت وکړو نو ۱۶ یا ۱۷ میاشتے نے بیت المقدس طرف ته مونځ کولو څو اهل کتابو د ایمان راوړلو نه مایوسه شوے نو نو مینه نے دا چه خانه کعبے ته مخ وګرزوی ځکه چه براد پلار ابراهيم عليه السلام دې روایت منه معلومیږي : وَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ

سَيَقُوْلُ السُّفَهَآءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلّٰىهُمْ عَنْ
زر دے چه ووائي : کم عقلان د خلقو نه چه څه شي وګرزول دوی مومنان د قبلے
قِبْلَتِهِمُ الَّتِيْ كَانُوْا عَلَيْهَا ؕ قُلْ لِّلّٰهِ الْمَشْرِقُ
د دوی نه هغه چه دوی وو په هغے باندې، او وایه خاص الله لره مشرق دے او
وَالْمَغْرِبُ ؕ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ
مغرب هم هغه ښوونه کوي چاله چه نے خوښه شي ، د لارے :
مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۱۴۲﴾ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا
نیغے : او هم هغه شان ګرځولي مونږ تاسے لره ډله غوره چه شئ تاسې
شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ
ګواهان په خلقو باندې : او شي رسول عليه السلام په تاسے باندې
شَهِيْدًا ؕ وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِيْ كُنْتَ عَلَيْهَآ
ګواه : او نه مونږ مقرر کړے قبله هغه طرف چه ته پرے وے ،
اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يَّتَّبِعُ الرَّسُوْلَ مِمَّنْ يَّنْقَلِبُ
مګر د دې د پاره چه بیل کړو هغه څوک چه تابعداري کوي د رسول د هغه چانه چه ګرزي
عَلٰى عَقِبَيْهِ ؕ وَاِنْ كَانَتْ لَكَبِيْرَةً اِلَّا عَلَى
په پوندو خپلو، او یقیناً دا ګرزیدل قبلے نه خامخا ګران دي ګر ګران نه دي په
الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ ؕ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيْعَ
هغو کسانو چه هدایت ورته کړے الله او نه دے الله چه برباد کړي، ایمان
اِيْمَانَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۴۳﴾
(مونځونه) ستاسو یقیناً الله په خلقو خامخا مهربان او عفو کوونکے دے :
قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ ۚ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ
یقیناً وینو مونږ ګرځول د مخ ستا په طرف د آسمان پس خامخا یقیناً وبه ګرزوو تا
قِبْلَةً تَرْضٰىهَا ۪ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ
دا قبلے ته چه ته به پرے راضي شے پس وګرزوه مخ خپل په طرف : د جهات ،

صلى الله عليه وسلم يحب ان يحول نحو الكعبة فنزلت : چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم مینه وه چه کعبے ته وګرزي نو دا ایت نازل شو (ابن کثیر ۱/۱۹۲) په دے صورت کښې به تَرْضٰىهَا مضارع په معنی د ماضي رَضِيْتَهَا شي . دویمه توجیه شیخ المشائخ مولانا حسین علي رحمه الله کړے ده او د سباق سیاق او لغت سره برابره هم ده ، په تفسیر بالرائے

کښې نه راځي. فرماني چه تقلب: هغه ګرځيدو ته راګرځيدو وته وائي چه د تکليف په وجه وي. په صراح کښې دي تقلب الشيء ظهرا لبطن کالحية تتقلب في الرمضاء. چه ځي اړوا راړوا شو (اړخونه بدلوي) شو لکه مار چه اوړي راوړي په تودو شګو کښې. د کوزې جواهر ص٢٧ - اصل کښې وحي ته انتظار دے. داوچه ځکه سورة نور

الْحَرَامِ ۚ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ

عزتمن ؛ او چرته چه ياسئ تاسي ؛ پس وګرځوئ مخونه خپل

شَطْرَهُ ۗ وَإِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَيَعْلَمُونَ

په طرف د دغه ؛ او يقينا هغه کسان چه ورکړے شوي کتاب ؛ خامخا پوهيږي چه

أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا

يقينا اګرځول حق دي د رب د دوي نه ؛ او نه دے الله تعالى ناخبره د هغه عملونو نه

يَعْمَلُونَ ﴿١٤٤﴾ وَلَئِنْ أَتَيْتَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ

چه دوي يې کوي ؛ او که چيرے راوړے وکړے هغه کسانو ته چه ورکړے شوے کتاب

بِكُلِّ آيَةٍ مَّا تَبِعُوا قِبْلَتَكَ ۚ وَمَا أَنتَ بِتَابِعٍ

په هرے نښے تابعداري نکوي ستا د قبلے ؛ او نه يې ته تابعداري کونکے

قِبْلَتَهُمْ ۚ وَمَا بَعْضُهُم بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ ۚ وَلَئِنِ

د قبلے د دوي ؛ او نه دي بعض د دوي تابعدار د قبلے د بعضو ؛ او که چيرے

اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُم مِّن بَعْدِ مَا جَاءَكَ

تابعداري وکړے ته د خواهشاتو د دوي ؛ پس د هغے نه چه راغلے تا ته

مِنَ الْعِلْمِ ۙ إِنَّكَ إِذًا لَّمِنَ الظَّالِمِينَ ﴿١٤٥﴾ الَّذِينَ

علم د قرآن ؛ يقينا ته به په دغه وخت کښې خامخا د ظالمانو نه شے ؛ هغه کسان چه

آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ

ورکړے مونږ دوي ته کتاب ؛ پيژني دے پيغمبر لره هغسې لکه چه ؛ پيژني

أَبْنَاءَهُمْ ۖ وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ

خامن خپل ؛ او يقينا يوه ډله د دوي نه ؛ خامخا پټوي

الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٤٦﴾ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ

حق لره ؛ او دوي پوهيږي ؛ دا حق دي د رب ستا نه

فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿١٤٧﴾ وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ

پس مه کيږه ته هيڅ کله د شک کوونکو نه ؛ او د هر يو د پاره قبله ده چه

هم د بيت المقدس په طرف پاتے شم. قرينه برے ايت ص١٤٥ - ولئن اتبعت اهواءهم ولئن اتيت الذين اوتوا الکتب ص١٤٥ دي. د تقلب په تائيد کښې ص٢٤ سورة نور او ص٢٤ احزاب د کورئ او دوا معنے په الہام الرحمن ص٢٣ کښې وګورئ. شطر المسجد الحرام: پس وګرځوه مخ خپل په طرف د جمات عزتمند. دوے معلوم شوه چه الله تعالى د قبلے د پاره کښې اساني مقرر کړيده د که وجے نه د قطب ستورے او قبله نما او آلات رصديه او د رياضي حسابونو ته ضرورت پاتے نشو. جناب مفتي صاحب رحمه الله د ابن رجب رحمه الله په حواله ليکلي دي چه چيرے د قبلے په باره کښې د غه باريکو له اعتبار ورکړے شي نو بيا به هسې جماعت د مسلمانانو باطل کړے شي او په اصحابو کرامو او تابعينو به عقيده د خطائي راځي او دا باطله ده (معارف ١/٣٨٢، الہام ١/٣٠) - يعرفونه:- پيژني محمد صلى الله عليه وسلم لره يا قرآن لره يا ګرځيدو د قبلے لره خو اوله معنی ډيره ظاهره ده د وجے د قرينے د كما يعرفون ابناءهم (مدارک ١/٨٢) ومن حيث خرجت ص١٥٠:- دوباره راتلے د تاکيد د پاره ذکر کړے ځکه چه نسخ کښې احتمال د فتنے او د شبهے وي (مدارک ١/٨٢) او ځکه چې د حضر (د کور) حکم ورو اوس د سفر. لئلا يكون للناس:- دا دويم تفصيلي جواب دے مطلب دا دے چه د خلقو حجت پټاتے پاتے نشي چه د آخري امت قبله به خانه کعبه ته مونږ کول وي لاکن هغه خو لا چه ظالمان دي معاندين دي نو

هُوَ مُوَلِّيهَا فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ ۗ أَيْنَ مَا تَكُونُوا

هغه مخ گرځوونکی دی هغه ته پس تلوار وکړئ نیکو ته ، چرته چه یاستئ تاسو ،

يَأْتِ بِكُمُ اللّٰهُ جَمِيعًا ۗ إِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

راوړلی به تاسو لره الله تعالیٰ ټول ؛ یقیناً الله تعالیٰ په هر شی باندې

قَدِيرٌ (١٤٨) وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ

قدرت والا دی ؛ او د کوم ځائی نه چه وځې ته پس وګرځوه مخ خپل په طرف د

الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۖ وَإِنَّهُ لَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ ۗ وَمَا

جمات عزتمند ، او یقیناً دا حق دی د رب ستا نه ؛ او نه دے

اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ (١٤٩) وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ

الله تعالیٰ ناخبره د هغه کارونو نه چه تاسو یې کوئ ؛ او د کوم ځائی نه چه ووځې ته

فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ

پس وګرځوه مخ خپل په طرف د جمات عزتمند ، او چرته چه یاستئ تاسو ،

فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ

پس وګرځوئ مخونه خپل په طرف د هغه ، د پاره د دې چه نه وی خلقو لره په تاسو باندې

حُجَّةٌ ۙ إِلَّا الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ

څه دلیل ، مګر هغه کسان چه ظلم کړی دی د دوی نه ، پس مه وېرېږئ د دوی نه

وَاخْشَوْنِي ۗ وَلِأُتِمَّ نِعْمَتِي عَلَيْكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ (١٥٠)

او وېرېږئ زما نه ، او د دې د پاره چه پوره کړم نعمت خپل په تاسو ، او د دې د پاره چه تاسو لار ومومئ

كَمَا أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولًا مِنْكُمْ يَتْلُوا عَلَيْكُمْ آيٰتِنَا

لکه چه مو لیږلی دی په تاسو کښې رسول ستاسو د جنس نه چه لولی په تاسو باندې آیتونه زمونږ

وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُمْ

او پاکوی تاسو ، او تعلیم درکوی تاسو ته د قرآن او د سنت ؛ او ښائی تاسو ته

مَا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ (١٥١) فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ

هغه چه تاسو په هغې نه پوهېدئ ؛ پس یاد وی ما لره زه به یاد وم تاسو لره

هغوی په اوس هم اعتراض کوی۔ وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ : چه هدایت حاصل کړی چیرته نه داسے هدایت تمام چه مولیږلے دے پتا سے کښې رسول او ټیا پوره کړی پتا خپل نعمت په دا سے پوره والی سره شکه چه مورالیږلے دے پتاسے کښې رسول خپل او یا دا سے نعمت لکه چه مورالیږلے دے په تاسے کښې رسول خپل (رازاد صفحه)

يَتْلُوا عَلَيْكُمْ : په دے آیت کریمه کښې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم پنځه ذمه دارئ ذکر شوی دی —

فَاذْكُرُونِي : د دے ځائے نه پنځه امور د تیارئ د پاره ذکر کوی او صبر پکار قسمه پیر شخود و د معاصو او کنا هونو دے بل په کولو د طاعتونو دے او دریم صبر په زغملو د مصیبتونو دے . وګورئ تفسیر ابن کثیر ص ۱۱۱ .

وَلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُونَ : ربط دا دے چه د دین د احکامو په رسولو کښې مجاهدین راځی د مالونو او بدنونو . نو ګڼې د بدن قربانۍ راشی نو دا خیال مکوئ چه هغے مړه شوی دی .

قاضي بيضاوي رحمه الله فرمائي : او په دېکښې تنبيه ده چه ژوند د شهيدانو جسدي نه دے او نه د جنس د هغه نه چه احساس پوے د حيواناتو راځي بلکه دا يو امر دے چه په عقل نه معلومېږي بلکه په وحي معلومېږي (بيضاوي)

وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ ﴿١٥٢﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

او شکر وباسئ ما لره او ناشکري مه کوئ زما : اے ايمانداراو !

اسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ ۚ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴿١٥٣﴾

امداد حاصل کړئ په صبر کولو او مانځه سره يقيناً الله تعالیٰ ملګرے د صابرانو دے

وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ ۚ

او مه وايئ د هغه کسانو باره کښې چه قتل کړے شي په لاره د الله کښې چه دوي مړه دي

بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَٰكِنْ لَا تَشْعُرُونَ ﴿١٥٤﴾ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ

بلکه ژوندي دي ولاکن تاسو پرے نه پوهېږئ : او خامخا يقيناً امتحان به کوو

بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِنَ

ستاسو په يو شي (لږ) ډوېرے : او د لوږے : او د کموت : د

الْأَمْوَالِ وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرَاتِ ۗ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ ﴿١٥٥﴾

مالونو : او نفسونو : او د مېوو ! او زېرے ورکړه صبر کوونکو ته۔

الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا

دا هغه کسان دي چه کله ورسېږي دوي ته مصيبت نو وائي دوي يقيناً موږ د الله دپاره يو او

إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ﴿١٥٦﴾ أُولَٰئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِنْ رَبِّهِمْ

يقيناً موږ هغه ته واپس کېدونکي يو ۔ دغه کسان دي په دوي شاباسے دي د رب د دوي نه

وَرَحْمَةٌ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ ﴿١٥٧﴾ إِنَّ الصَّفَا

او رحمت دے : او هم دوي لار موندونکي دي : يقيناً صفا چې يې

وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ ۖ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ

او مروه د يادګار د نښو دين د الله نه دي پس څوک چه حج د بيت الله کوي : او يا

اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا ۚ وَ

عمره کوي پس نشته څه ګناه په دوي باندې چه سعي کوي په دواړو : او

مَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ ﴿١٥٨﴾

چا چه خوشي سره نېکي وکړه پس يقيناً الله قدردان پوهه دے :

پېرو حي معلومېږي (بيضاوي) نسفي رحمه الله فرمائي چه تاسے پرے نه پوهېږئ ځکه چه ژوند د شهيد په عقل سره نه معلومېږي (مدارک) وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ : په دې آيت کريمه کښې ربتيني امتحانونو ذکر دے۔ أُولَٰئِكَ عَلَيْهِمْ : د صلوات معنی عامه مهرباني او د رحمت نه مراد خاصه مهرباني دي۔ د صلوات بل معنی آفرين او شاباسے دے۔ علامه زجاج رح فرمائي چه صلوٰة د الله تعالیٰ له طرفه بخښنه او ښه ثنا صفت دے (قرطبي) عمر رضي الله عنه فرمائي : نِعْمَ الْعِدْلَانِ وَنِعْمَ الْعِلَاوَةُ ۔ چه ډېر ښه دي دواړه انډې او ډېر ښه ئے سربارے دے

إِنَّ الصَّفَا : دا نښتے شبهے جواب دے۔ شعبي رح وائي چه د جاهليت په زمانه کښې په صفا اساف بت او په مروه نائله بت وو۔ د طواف په وخت به خلقو مسح کوله نو مسلمانانو ترينه منع کوله نو دا آيت نازل شو (قرطبي ص ۱۸۰ ج ۲) مطلب دا چه هغه بتان اوس ختم شوي دي او دا سعي د الله د دين د علامو نه ده۔ سعي ئے کوئ منع ئے پرے نه دي ۔

إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ : په دېکښې زجر دے پټونکو د حق لره۔ سيد آلوسي رحمه الله فرمائي چه ډېره نږدې دا خبره ده چه دا آيت د يهودو په باره کښې نازل دے خو حکم ئے عام دے۔ (روح ص ۲۶ ج ۲)

إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا: شیخ القرآن رحمہ اللہ فرمائیل چہ پہ دے ایت کښ د عالم ملا توبہ ذکر دہ او درے شرطونہ پکښ دی او پہ ۱۴۶ ال عمران کښ د ملا توبہ ذکر دہ۔ دوہ شرطونہ پکښ دی او پہ ۴۶ کښ د منافق توبہ ذکر دہ او څلور شرطونہ پکښ دی۔ وَ بَیَّنُوا: ای بینوا خلاف ما کانوا علیہ: چہ بیان کړی خلاف د هغه عمل چہ دوی پرے وو (قرطبی ۲/۱۸۹)

إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَ
یقیناً هغه کسان چہ پټوی هغه چہ رالیږلی دی مونږ د ښکاره حکمونو نہ دی او
الْهُدَىٰ مِنْ بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَابِ
هدایت څخه پس د هغے چہ بیان کړے دے مونږ خلقو دپارہ پہ کتاب کښ
أُولَٰئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللَّاعِنُونَ ﴿١٥٩﴾ إِلَّا الَّذِينَ
دغه کسان لعنت کوی پہ دوی باندے اللہ او لعنت پرے وائی لعنت ویونکی مګر هغه کسان چہ
تَابُوا وَأَصْلَحُوا وَبَيَّنُوا فَأُولَٰئِكَ أَتُوبُ عَلَيْهِمْ ۚ
توبہ وباسی او نیک عمل اوکړی او بیان اوکړی پس دغه کسان توبہ قبلوم د دوی
وَأَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿١٦٠﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا
او زه یم توبہ قبلوونکے مهربان یقیناً هغه کسان چہ کفر یې کړے او مړه شو
وَهُمْ كُفَّارٌ أُولَٰئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ
او دوی کافران وی دغه کسان دوی باندے لعنت د اللہ دے او د ملائکو
وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿١٦١﴾ خَالِدِينَ فِيهَا ۖ لَا يُخَفَّفُ
او د خلقو ټولو همیشہ به وی پہ هغه کښ سپک بہ نشی
عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ ﴿١٦٢﴾ وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ
د دوی نہ عذاب او نہ بہ دوی تہ مهلت ورکړے شی او معبود ستاسو معبود
وَاحِدٌ ۖ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ ﴿١٦٣﴾ إِنَّ فِي
یو دے نشتہ لائق د عبادت مګر هغه چہ مهربان او بخښونکے دے یقیناً پہ
خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ
پیدائش د اسمانونو او زمکے کښ او پہ تلو راتلو د شپے او ورځے کښ
وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ
او پہ بیړی هغه کښ چہ چلیږی پہ دریاب کښ پہ هغه شی چہ نفع ورکوی خلقو تہ
وَمَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ مَاءٍ فَأَحْيَا بِهِ
او پہ هغه کښ چہ راکوزے کړے اللہ د بره نہ د اوبو نہ پس تازه کوی پہ دغه

مشرک

وَ بَیَّنُوا: ای بینوا خلاف ما کانوا علیہ: چہ بیان کړی خلاف د هغه عمل چہ دوی پرے وو (قرطبی ۲/۱۸۹) فَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ دوے خانے نہ څلورم باب شروع شو پہ دیکښ اعاده د دعوے د توحید سره دہ۔ اثنا د دلیلونو (۲) زجر مشرکانو لره سره د تخویف نہ (۱۶۵) (۳) رد د تحریمات العباد پہ ۱۶۸ سره د دلیل د مشرکانو پہ ۱۷۰ او رد د نذر غیر اللہ ۱۷۳ (۴) مثال ۱۷۱ (۵) زجر او تخویف پټونکو د حق لره ۱۷۴ نہ —

ربط:- هر کله چہ نے ویره ورکړه د کتمان د حق نہ نو بیان نے وکړو چہ اول مسئلہ چہ اظهار نے واجب دے او پټول نے روا نہ دی مسئلہ د توحید دہ (قرطبی ۲/۱۹۰) ځکښ پہ ۱۶۳ کښ دعوی د توحید ده د پاره د رد د شرک فی الدعاء او بیا نے دلائل پرے کړو۔ او پس د دوی دپاره د رد د شرک فعلی ۱۶۵ او اثنا دلائل پرے دی — د پنځو شیخ رحمہ اللہ فرمائیلی دی چہ دلتہ پہ لطیف انداز سره د نذر غیر اللہ رد دے ځکہ چہ نذر پہ درے شیونو باندے ورکولے شی (۱) د زمکے پیداوار (۲) څناور وړوکښ او (۳) پیسو کښ۔ غلے میوے پہ زمکہ کښ پیدا کیږی هغه د اللہ دہ۔

باران پہ ذریعہ اللہ تعالیٰ کوی۔ د ستورو سپوږمئی پہ ذریعہ پکښ خوند وند او رنګونہ پیدا کوی او د نمر ګرمئی پہ وجہ پکښ پخلے راولی او زمکہ کښ حیوانات اللہ خواره کړیدی او کښتئی د تجارت د پاره اللہ مسخر کړیدی الخ۔
(کورنئی جواهر القرآن ص ۸۶ ج ۱)۔

يحبونهم :- يعني برابر ے کوي په محبت خپل کښي ـ ما بين دخپل ا، نو خپلو او د الله تعالى کښي (۱/۲۰۰ مدارک) بیا به
قيامت کښي ارمان کوي چه وَلے مو د الله سره برابر ول. دگورئ سورة شعراء ۹۸. ولو يرى الذين : دلته دوه ترکيبه

الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَابَّةٍ وَ
زمکه پس د مرګ والي نه: او خوارۀ کړي يې دې کښي د هر ژوندي ساکښه: او په

تَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ
ګرزولو د سيلۍ: او ورېځې چه زور ورکړي شوي په مينځ د آسمان:

وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿١٦٤﴾ وَمِنَ النَّاسِ
او زمکه کښي خامخا نښې (دلائل) دي د قوم عقلمند دپاره = او بعضې د خلقو نه،

مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ اللَّهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ
هغه دي چه نيسي بيوا د الله تعالى نه حصه داران، خپله ورسره کوي پشان د مينې:

اللَّهِ ۖ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِ ۗ وَلَوْ يَرَى
د الله سره او هغه کسان چه ايمان لرې (او) زيات کلک دي په مينه کښي د الله سره، او ارمان چه :

الَّذِينَ ظَلَمُوا إِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ أَنَّ الْقُوَّةَ
پوهيږي ظالمان: کله چه ويني: عذاب به وي چه طاقت ټول

لِلَّهِ جَمِيعًا وَأَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعَذَابِ ﴿١٦٥﴾ إِذْ
الله لره دي ټول، او يقيناً الله د سخت عذاب خاوند دے. کله چه

تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُوا مِنَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا وَرَأَوُا
بيزاره شي هغه کسان چه تابعداري د هغوي کړے شوې وه د هغه کسانو نه چه تابعداري يې کړې وه، او وويني

الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْأَسْبَابُ ﴿١٦٦﴾ وَقَالَ الَّذِينَ
عذاب: او پرې کړے شي به دوي سره ټول تعلقات = او ووائي هغه کسان چه

اتَّبَعُوا لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُوا مِنَّا ۗ
تابعداري يې کړې وه ارمان يقيناً چه موږ لره واپسي وه نو موږ به بيزاره شو د دوي نه لکه چه دوي

كَذَٰلِكَ يُرِيهِمُ اللَّهُ أَعْمَالَهُمْ حَسَرَاتٍ عَلَيْهِمْ ۖ
بيزاره شول زموږ نه همداسې به وښائي دوي ته الله عملونه د دوي افسوسونه به دوي باندے

وَمَا هُم بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ ﴿١٦٧﴾ يَا أَيُّهَا النَّاسُ
او نه به وي دوي وتونکي د اور نه = اے خلقو !

دي يرو دا چه لو شرطيه دے او
جواب ورشي په العذاب نه بعد
پټ دے لتنا تعلموا ـ معنى دا
شوه که چرے ليدلے ظالمانو حال
خپل کله چه ويني عذاب چه ټوله
چه قوت ټول د الله دے
او يقيناً الله د سخت عذاب والا
دے نو شرک به نه کولے.
دويم ترکيب دا دے چه لو د
تمنا دپاره دے جواب نه غواړي
معنى دا شوه چه ارمان چه
ظالمانو خان خپل ليدلے. اوګورئ
جواهر ۱۴۰. او شيخ القرآن رحمه الله
به هم دا دواړه معنے کولے.
• اذ تبرأ الذين اتبعوا :
دوے نه سرداران او مشران
دانسي مشرکانو مراد دي
(۲۳ ابن کثير). فنتبرأ منهم :
پس بيزاره شوي به وے د دوي
نه. دا آيا تونه اوګورئ ۳۸
اعراف، ۲۱ ابراهيم، ۶۳
قصص، ۶۷ احزاب، ۲۹
فصلت، ۴۷ حٰم سجده، ۴۷
مؤمن ...
• حلالا طيبا : حلال هغه ته
ويلے شي چه د اصل نه حرام
شوے نه وي او طيب هغه ته
ويلے شي چه د بل حق ورسره نه
وي (شيخ القرآن) نسفي رحمه الله
فرمائي چه طيب هغه دي چه
پاک وي د هرے شبهے نه ...
سهل بن عبد الله رحمه الله فرمائي
چه نجات په درے شيونو کښې
دے، خوړل د حلالو او اداء
د فرائضو او اقتداء په نبي
عليه السلام پسے. (قرطبي ۲/۲۱۸)

وَ إِذَا قِيلَ لَهُمْ : په دے آيت کښي د مشرکانو بحوالے دليل دے. نور سورتونه هم اوګورئ: ۱۰۴
مائده، ۲۸ اعراف، ۲۱ لقمان، ۷۴ شعراء، ۲۲-۲۳ زخرف. مسئله :- امام قرطبي رحمه الله په

ملا کښې لیکلي دي چه یو قوم به دے ایت باندې دلیل نیولے دے په بدو والي د تقلید باندې خکه الله تعالیٰ بدي بیان کړیده د کفارو د مشرانو پلرونو تابعداري په باطل کښې دو په اقتدا کولو هغوی سره په کفر او ګناه کښې.

كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا

خورئ د هغو څه نه چه په زمکه کښې دي: حلال پاکیزه: او تابعداري مکوئ:

خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ ۚ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ ﴿١٦٨﴾ إِنَّمَا

د قدمونو د شیطان: یقیناً دغه ستاسو د پاره دشمن ښکاره دے: یقیناً

يَأْمُرُكُمْ بِالسُّوءِ وَالْفَحْشَاءِ وَأَنْ تَقُولُوا عَلَى

امر کوي تاسو ته په بدے ویناو او کارو کارونو: او چه ووایئ: په

اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿١٦٩﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا

الله هغه څه کار چه تاسو نه پوهیږئ: او کله چه ورته ووئیلے شي د تابعداري وکړئ د هغه

أَنْزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا ۗ

چه رالیږلې دي الله تعالیٰ وائي بلکه تابعداري کوو د هغه چه موندلي وي په هغه پلرونو د پلار نیکه

أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلَا

ایا اګر څه هم چه وي پلرونه د دوی په عقل نه پوهیږي هیڅ شي او نه دوی

يَهْتَدُونَ ﴿١٧٠﴾ وَمَثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا كَمَثَلِ

لاره موندونکي: او مثال د دا کسانو چه کفر یې کړے دے د هغه

الَّذِي يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ إِلَّا دُعَاءً وَنِدَاءً ۚ صُمٌّ

کس دے چه اواز کوي هغه څاروي ته چه نه اوري مګر بلنه: او اواز: دوی کاڼه

بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿١٧١﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

چاړګان ړانده دي پس دوی د عقل نه کار نه اخلي: اے ایمان دارو!

كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ

خورئ د پاکو: هغو نه چه درکړي دي موږ تاسو ته او شکر وکړئ د الله تعالیٰ

إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿١٧٢﴾ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ

که چرے یاست خاص هغه لره عبادت کوونکي: یقیناً حرام کړیدي الله په تاسو:

الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ

مردار او وینه: او غوښه د خنزیر: او هغه شے چه اواز کړے شي

او دا دلیل نیول په باطل تقلید کولو باندې صحیح دے او هر چه تقلید په حق کښې دے نو دا یو دلیل دے د لا شلو د دین نه او د چا د ذریعو نه یوه ذریعه ده چه پناه ای ورته حاصلوي هغه خلک چه خبر نه وي او قاصره وي د موندلو د دلیل نه. جناب مفتي صاحب په معارف ص ۴۱۳ کښې لیکلي دي چه جاهلانه تقلید او د اماماتو مجتهدینو تقلید کښې فرق دے. "وَمَثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا" دا ایت مشکل دے. علامه نسفي رحمه الله د دفع د اشکال د پاره فرمایلي دي په مدارک کښې چه دلته مضاف محذوف دے "وَمَثَلُ دَاعِي الَّذِينَ كَفَرُوا" حاصل یې دا دے چه مثال د دعوت ورکوونکي کافرانو ته پشان د هغه چا دے چه اواز کوي هغه څاروي ته چه نه اوري مګر بلنه او اواز او نور څه نه پوهیږي. "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا" په مشکوة شریف ص ۲۴۱ کښې د ابوهریره رضی الله عنه نه حدیث نقل دے او ابن کثیر ص ۲۰۳ کښې هم دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: اے خلقو! یقیناً الله پاک دے، نه قبلوي مګر پاک او الله تعالیٰ امر کړیدے مؤمنانو ته په هغه چه امر یې کړیدے پیغمبرانو ته پس ویلي یې دي "يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا" اے رسولانو خورئ د پاکیزه ؤ نه او عمل کوئ نیک یقیناً زه په هغه چه تاسو یې کوئ خبردار یم (رکوع مؤمنون) او وئیلي دي: اے ایماندارو خورئ د پاکو هغو نه چه موږ درکړي دي (رکوع بقره) بیا یې د یو سړي ذکر وکړو چه اوږد سفر یې کړے وي، بیرسره دوړو والا وي، لاسونه اوچتوي اسمان طرفته یارب یارب وائي

خو بالله نے حرام وی خکاک نے حراموی او الوسلی نے حرام وی نو خنګه - قول شی دعا ودغه د پاره ۔
ـ إِنَّمَا حَرَّمَ :- مشرکانو دغان نه بحیرے ، سائبے ، وصیلے ، حام حرام کړی وو ۔ باری تعالی فرمائی چه حرام نه دی

بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ

په هغه د پاره د نزدیکت غیر د الله ، پس هغه څوک چه مجبور کړے شو غواړونکے نه وی خوند او نه تیری کوونکے

فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۷۳﴾ اِنَّ

او د حد نه تیری کوونکے نه وی نو پس نشته ګناه په ده ، یقینا الله بخښونکے ډیر مهربان دے ، یقینا

الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ الْكِتٰبِ وَ

هغه کسان چه پټوی هغه چه نازل کړے دے الله د کتاب نه او

يَشْتَرُوْنَ بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ۙ اُولٰٓئِكَ مَا يَاْكُلُوْنَ

غوره کوی په دے قیمت لږ ، دغه کسان نه خوری

فِيْ بُطُوْنِهِمْ اِلَّا النَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ

په ګیډو خپلو کښې مګر اور ، او خبرے به ونکړی د دوی سره الله په ورځ د

الْقِيٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيْهِمْ ۖۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۷۴﴾

قیامت ، او پاک به نے نکړی ، او خاص دوی لره عذاب دردناک دے

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى وَ

دا هغه کسان دی چه غوره کړے ئے ګمراهی په بدله د هدایت کښې او

الْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ ۚ فَمَآ اَصْبَرَهُمْ عَلَى

عذاب په بدل د بخښنے کښې ، پس څه عجیب صبر کوونکی دی په

النَّارِ ﴿۱۷۵﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ نَزَّلَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ ؕ

اور باندے ، دا عذاب په سبب د دے دے چه یقینا نازل کړے الله کتاب په حقه سره

وَاِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِي الْكِتٰبِ لَفِيْ شِقَاقٍۭ

او یقینا هغه کسان چه اختلاف کوی په کتاب کښې خامخا په ضد لرے

بَعِيْدٍ ﴿۱۷۶﴾ لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ

کښې دی ، ادا حق نه دے ، نیکی خاص چه واړوئ مخونه خپل

قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلٰكِنَّ الْبِرَّ

په طرف د مشرق او مغرب باندے ، و لیکن نیکی دغه

منزل ۱

بلکه مردار ، وینه ، غوښه د خنزیر او نن رلغیر الله حرام دی او په دے څلورو واړو کښې دا ونی نه ترقی ده ۔ إِهْلَالٌ د عربی لفظ دے په ورته دالی د اواز ته وئیلے شی ؛ الاهلال اصله رفع الصوت ۔ او ګوری کبیر ، ابن کثیر ، قرطبی ، شوکانی ، معارف ۔ معنی نے دا شوه چه هغه شے حرام دے چه آواز پرے پورته شی د پاره د نزدیکت د غیر الله ۔ امام رازی رحمه الله په تفسیر کبیر کښې لیکلی دی ، وئیلی دی علما ؤ که څوک مسلمان یو ذبحه اوکړی او په ذبح سره نزدیکت غیر الله ته قصد کړی دا مرتد شو او ذبحه ئے د مرتد ده ۔ د فقهے مشهور کتاب درمختار کښې لیکلی دی چه په هغه شے چه حلال نه دے په رسول طرفه د مرو د پاره واقع کیږی او هغه چه رلفشے شی د زوږو شمعو نیلونه او د ورے په مثل د هغه نه چه ورلے شی قبرونو د اولیاء کرامو ته د پاره د نزدیکت د دوی پس دغه په اجماع سره باطل حرام دی او خلق پکښې ګرفتار شوی دی او خاصکر په دے زمانه کښې ۔ اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ : د کتمانو د حق د پاره په پټو طریقو تخویف دے ۔ فَمَآ اَصْبَرَهُمْ صیغه د تعجب ده معنی ئے دا شوه څه صابره دی په اور ۔ لَيْسَ الْبِرَّ : دے ځائے نه د دی حصه په قتال فی سبیل الله کښې شروع شوه ۔ وګوری ... او دا حصه تر ... پورے ده او په دے کښې هم څلور بابونه دی اول باب ... په دے کښې د صفات دی ، پنځه اول د عقیدے سره تعلق لری او پنځه اخری د نورو احکامو سره ۔ حافظ ابن کثیر په ... کښې لیکلی دی چه دا ایت کریمه مشتمل دے په لویو جملو او په عامو قواعدو

مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَ

چا ده چه ایمان نے راوړی په الله او په ورځ د اخرت: او په ملائکو: او په

الْكِتٰبِ وَالنَّبِيّٖنَ ۚ وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ ذَوِى

کتابونو: او نبیانو باندې: او ورکوي مال: په مینه د هغه: خپلوانو

الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ۙ

ته: او یتیمانانو ته: او مسکینانو ته: او مسافرو ته:

وَالسَّآئِلِيْنَ وَفِى الرِّقَابِ ۚ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَ

او سوالګرو ته او په ازادولو د څټونو کښې: او دروي مانځه لره: او

اٰتَى الزَّكٰوةَ ۚ وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ اِذَا عٰهَدُوْا ۚ

ورکوي زکوٰة: او پوره والے کونکي دي په لوظونو خپلو کله چه لوظ وکړي: او

وَالصّٰبِرِيْنَ فِى الْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ وَحِيْنَ

(خصوصاً) په صبر کونکو په ولږه کښې: او په مرضونو کښې: او په وخت د جنګ

الْبَاْسِ ۭ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا ۭ وَاُولٰٓئِكَ

د کفارو کښې: دغه کسان: ریشتني دي: او دغه کسان:

هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴿۱۷۷﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ

هم دوي پرهیزګاران دي: اے هغه کسانو چه تاسو ایمان راوړے دے فرض شوے دے

عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِى الْقَتْلٰى ۭ اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ

پناسې (چا له کوي) په قصاص په باره د وژلو شوو کښې: ازاد په هم وژلے شي په بدل د ازاد

وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْاُنْثٰى بِالْاُنْثٰى ۭ فَمَنْ

او مريي هم وژلے شي په بدل د مريي او ښځه په: ښځه باندې: پس هغه څوک چه

عُفِىَ لَهٗ مِنْ اَخِيْهِ شَىْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوْفِ

عفوه وشي دغه لره د ورور د ده نه د څه شي پس لازم دي پسے تلل په ښه طریقے:

وَاَدَآءٌ اِلَيْهِ بِاِحْسَانٍ ۭ ذٰلِكَ تَخْفِيْفٌ مِّنْ

او ادا کول هغه ته په نیکئ سره: دغه اسانتیا ده: د طرفه:

 او نیغه عقیده د بانی۔ علامه تھانوی رحمه الله په بیان القرآن ص۱۱۱ کښې عنوان لیکلے دے: ابواب البر: د نیکئ دروازے۔

مَنْ اٰمَنَ: تقدیر د عبارت داده: ولٰکن البر بر من اٰمن، معنیٰ ئے دا شوه لکن نیکي نیکي د هغه چا ده چه ایمان ئے راوړے وي۔ (قرطبي)

اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ: دوے څائے نه ظلور احکام دي د ملک د امن د پاره، یو د ظالم نه بدله واخلی۔ او د اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ معنیٰ داده چه ازاد به هم وژلے شي په ازاد او مريي به هم وژلے شي په مريي۔ حصر مقصود نه دے بلکه په قصاص کښې مساوات بیانول دي قرینه په دے سورة مائده ۶ ایت ۴۵ دے۔ وګورئ تفسیر جواهر القرآن ص۸۸

"وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ": ابو العالیه رحمه الله وائی چه الله تعالیٰ قصاص ستاسو ژوند گرځولے دے حکم څو کسانو ته چه
وقتل اراده لری څو منع کوی ئے ویره د دے چه ونه وژلے شی (ابن کثیر جلد ۱). "كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ": دویم حکم

رَبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ ۗ فَمَنِ اعْتَدَىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَلَهُ

د رب ستاسو او رحمت دے. پس هغه څوک چه زیاتے وکړی پس د دے نه پس د هغه لره

عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٨﴾ وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِي

عذاب دردناک دے. او تاسو لره په بدله اخستلو کښی (قصاص) ژوند دے اے خاوندانو

الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٧٩﴾ كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ

د عقلونو! د دے د پاره چه تاسو بچ شئ. مقرر کړے شو په تاسو باندے کله چه راشی

أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا ۖ الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ

یو کس ستاسو ته مرګ، که پریږدی مال، وصیت کول = مور او پلار

وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ ﴿١٨٠﴾

او خپلوانو ته په ښه طریقے سره، لائق دی په پرهیزګارانو باندے.

فَمَنْ بَدَّلَهُ بَعْدَمَا سَمِعَهُ فَإِنَّمَا إِثْمُهُ عَلَى الَّذِينَ

پس هغه څوک چه بدل کړی (وصیت) لره پس د هغه نه چه واؤریدو، پس یقیناً ګناه د دے په هغه

يُبَدِّلُونَهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٨١﴾ فَمَنْ خَافَ

کسانو ده چه بدلوی ئے لره، یقیناً الله تعالیٰ اوریدونکے پوهه دے. پس هغه څوک چه ویره وکړی

مِنْ مُوصٍ جَنَفًا أَوْ إِثْمًا فَأَصْلَحَ بَيْنَهُمْ

د وصیت کوونکی نه د خطائی او یا د ګناه، پس اصلاح ئے وکړه په مابین د دوی کښی

فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١٨٢﴾

پس نشته ګناه په دغه باندے، یقیناً الله تعالیٰ بخښونکے مهربانه دے.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ

اے ایماندارو! فرض شوی دی په تاسو باندے روژے نیول:

كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ

لکه چه فرض شوی دی په هغه کسانو چه مخکښی ستاسو نه وو د دے د پاره چه

تَتَّقُونَ ﴿١٨٣﴾ أَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ ۚ فَمَنْ كَانَ

پرهیزګار شئ. په ورځو شمارلی شوو کښی، پس څوک چه وی

مال په قانون شرعی تقسیم کړی ډیرو مفسرینو لیکلی دی چه دے ایت کښی چه کوم حکم ذکر دے د ورثو د پاره په وصیت کیدو کله چه میراث مقرر شو نو دا حکم منسوخ شو. (الکورنی روح ج۵، ابن کثیر جلد ۱، قرطبی ج۲، تسهیل جلد ۱). څو تنکی رحمه الله یوه توجیه دا هم کړیده چه د مور او پلار او خپلوانو نه هغه مراد دی چه د کفر په وجه حقدار د میراث نه وی نو بیا هم ورله وصیت وکړی او دا حکم استحبابی دے او بیا د "کُتِبَ" معنیٰ دا ده چه مقرر شوی دی پتا دے او فرض ترینه مراد نه دی (مدارک جلد ۱). او شیخ المشائخ مولانا حسین علی رحمه الله فرمائی چه د وصیت نه مراد هغوی د پاره وصیت کول نه دی بلکه د هغوی وصیان ګرځول دی په دے چه مال د قانون شرعی مطابق تقسیم کړی او په یو بل باندے ظلم مکوئی. "كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ": د دے ځائے نه د ملک د امن د پاره دریم حکم دے چه روژه ونیسئ د پاره د ارتباط نفس او د روژے متعلق پنځه احکام.

"كَمَا كُتِبَ": د لته څو توجیه کانے دی یوه دا چه تشبیه د که په اصل د روژه وکښی یعنی یواځے په تاسو فرض نه دی په مخکښو هم فرض وے (رسائل الرازی جلد ۱).

"لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ": په دے کښی لے د روژے فلسفه او حکمت اوخودو. "وَعَلَى

اَلَّذِیْنَ یُطِیْقُوْنَهٗ :- ولته هم شو توجیه گانے وی یوه دا چه دا په ابتداء د اسلام محمول دے بیا منسوخ شوید ے - دویمه توجیه دا ده چه یُطِیْقُوْنَهٗ اصل کښ لَا یُطِیْقُوْنَهٗ دے یعنی چه طاقت د روژے نیولو

مِنْكُمْ مَّرِیْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَیَّامٍ اُخَرَ ؕ
ستاسو نه ناجوړه یا په سفر کښ وی پس لازم دی په ده باندے شمیرل د ورځو نورو ،

وَ عَلَى الَّذِیْنَ یُطِیْقُوْنَهٗ فِدْیَةٌ طَعَامُ مِسْكِیْنٍ ؕ
او په هغه کسانو چه په ډیر تکلیف سره روژه نیولے شی فدیه ده چه خوراک د یو مسکین دے

فَمَنْ تَطَوَّعَ خَیْرًا فَهُوَ خَیْرٌ لَّهٗ ؕ وَ اَنْ تَصُوْمُوْا خَیْرٌ
پس چا چه په خوشی سره نیکی وکړه پس دا غوره ده ده لره او روژه نیول ستاسو غوره دی

لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۴﴾ شَهْرُ رَمَضَانَ
تاسو لره که چرے پوهیږئ - : میاشت د رمضان هغه

الَّذِیْۤ اُنْزِلَ فِیْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَ
ده چه نازل کړے شوے په دیکښ قرآن چه هدایت دے د خلقو دپاره او

بَیِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰى وَ الْفُرْقَانِ ۚ فَمَنْ شَهِدَ
واضح احکام دی د هدایت او فرق کونکی دی د حق او باطل ، پس هغه څوک چه حاضر وی

مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْیَصُمْهُ ؕ وَ مَنْ كَانَ مَرِیْضًا
ستاسو نه میاشت ته پس روژه دِ ونیسی او څوک چه وی ستاسو نه مریض

اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَیَّامٍ اُخَرَ ؕ یُرِیْدُ
او یا په سفر یا نو پس لازم دی په ده شمیرل د ورځو نورو : اراده کوی

اللّٰهُ بِكُمُ الْیُسْرَ وَ لَا یُرِیْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ ؗ وَ
الله په تاسو د آسانتیا او اراده نه کوی په تاسو د تنګسیا : او دے

لِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَ لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ
دپاره چه پوره کړئ شمیر لره او لوئی بیان کړئ د الله په هغه طریقه چه خودلے ئے تاسو ته

وَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۸۵﴾ وَ اِذَا سَاَلَكَ عِبَادِیْ
او دے دپاره چه شکر اوباسئ - او کله چه تپوس وکړی تا نه بندګان زما

عَنِّیْ فَاِنِّیْ قَرِیْبٌ ؕ اُجِیْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا
زما په باره کښ پس یقیناً زه نزدے یم قبلوم سوال د سوال کونکی کله چه

منزل ۱

نه لری او مراد ترینه بوډاګان دی چه هغه به فدیه ورکوی ذریعه توجیه دا ده چه د یطیقونه معنی دا ده چه طاقت ئے سلب شوے او ختم شوے وی ځکه دا باب افعال دے او د هغه خاصیتونو نه یو دا دے چه د سلب دپاره وی - په دے صورت کښ ترینه هم بوډاګان مراد دی او منسوخ نه دے : الهام الرحمٰن ص ۱۳۹ کښ شپږ توجیهګانے لیکلی شوی دی . وَمَنْ كَانَ مَرِیْضًا :- دوباره ئے ذکر کړو چه دا وهم راشی چه دا حکم به هم منسوخ شوے وی - روح ص ۶۲ ج ۲ . وَاِذَا سَاَلَكَ عِبَادِیْ : د دعا متعلق حکم د روژے د احکامو په مابین کښ ئے ذکر دے د دپاره را اوړو چه د روژے د پوره کولو په وخت بلکه د روژه ماتی په وخت کښ په دعا کښ کوشش کول پکار دی - د عبدالله بن عمرو رضی الله عنه نه روایت دے چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی چه فرمائیل ئے چه د روژه دار د روژے ماتولو په وخت دعا قبوله ده . او عبدالله رض به چه روژه ماتوله نو اهل او اولاد به ئے راغونډ ټول او دعا به ئے وکړه (ابن کثیر ص ۲۱۹ ج ۱)

اِذَا دَعَانِ :
شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل چه ولته ورسره د سورة انعام ص ۴۱ آیت یاد ساتئ ، فَیَكْشِفُ مَا تَدْعُوْنَ اِلَیْهِ اِنْ شَآءَ ؕ

فضیلت رمضان

حَتّٰی یَتَبَیَّنَ لَکُمُ: دوے مطلب وادے چه تر څو چه تاسو ته او وهمی مزاج خلقو پښان دَ صبا ختلو نه مخکښې خوراک څښاک او سول مکوی او منع وایے بے فکری کوئ چه د صبا رڼا ختلو یقین وی او بیا هم خوراک څښاک کوی۔

دُعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ

ماته غواړي پس قبول دې کړي حکم زما او ایمان دې راوړي په ما پاتې به وي په لاره د چه

يَرْشُدُونَ ﴿۱۸۶﴾ أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ

هدایت بیاموۍ۔ حلال کړے شوی دی تاسو لره په شپه د روژو کښې یو ځائے کیدل

إِلَىٰ نِسَائِكُمْ ۚ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ

د ښځو ستاسو سره، دوی جامے دی تاسو لره او تاسو جامے یاستئ د

لَّهُنَّ ۗ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ

هغوی دپاره پوهه دے الله چه یقیناً تاسو ستئ چه خیانت کښې واچوئ نفسو خپل

فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْ ۖ فَالْآنَ بَاشِرُوهُنَّ

پس مهربانی ئے وکړه په تاسو او عفوه ئے وکړه ستاسو نه پس اوس نزدے کیدئ دوی سره

وَابْتَغُوا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ ۚ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا

او ولټوئ هغه چه مقرر کړے الله تاسو لره او خورئ او څښئ

حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ

تر دے چه ښکاره شي تاسو ته مزے سپین د

الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ۖ ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ

مزي تور نه (یعنی صبا) (او خورئ) بیا پوره کړئ روژه

إِلَى اللَّيْلِ ۚ وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ عَاكِفُونَ

تر شپے پورے او مه یو ځائے کیږئ د دوی سره او حال دا چه تاسو اعتکاف کونکی یئ

فِي الْمَسَاجِدِ ۗ تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا ۗ

په جماتونو کښې دغه پولے دَ الله تعالی دی پس مه نزدے کیږئ دغو ته

كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ

دغه رنګے بیانوی الله تعالی آیتونه خپل لوګو دپاره د خلقو دپاره دے دپاره چه

يَتَّقُونَ ﴿۱۸۷﴾ وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ

متقیان شی او مه خورئ مالونه خپل په مینځ خپل کښې په باطله طریقه

د لته دکښی او زیاتی احتمالونه نے ختم کړل۔ وګورئ "معارف ج۱ ص۲۳۲" وَأَنتُمْ عَاكِفُونَ: حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی په ج۱ ص۲۲۳ کښی: فقهاء مصنفین، کتاب الاعتکاف د کتاب الصوم نه پس ذکر کوی د دے دپاره چه اقتداء نه په قرآن پاک پسے جنګه قرآن پاک تنبیه و رکړیده په اعتکاف پس د روژے نه۔

مسئله د احنافو رحمهم الله په نزد د روژے په اخری عشره کښی په واړه جمات کښی اعتکاف سنت مؤکده دے په کوم کښی چه پنځه وخته جمع کیږی۔ او دا سنت کفائی دے چه یو کس ئے اوکړی نو د نورو غاړه پرے خلاصه شوه — وګورئ (جواهر القرآن ص۸۸)۔ او اعتکاف کونکی ته معتکف وئیلے وائی۔ ابن عباس رضی الله عنه روایت کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی: "هُوَ يَعْتَكِفُ الذُّنُوبَ" چه دا د ګناهونو نه ځان بندوی۔ (ابن ماجه کذا فی ج۱) ۔ وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ: د دے آیت کریمه کښی غلور د حکم د ملک دامن دپاره دے چه رشوت نه مه ورکوئ۔ وَتُدْلُوا: مطلب دا دے: وَلَا تُدْلُوا۔ یعنی مه ئے ورانه کوئ حاکمانو ته او باطل هغه طریقه ده چه شریعت مباح کړے او روا کړے نه وی۔ (مدارک ۱/۹۶) يَسْئَلُونَكَ په دیکښی تادیب ورکول دی او دیو ناکاره رسم بندیز دے۔ ابن جریر رحمه الله په ص۱۸۳ ج۲ کښی لیکلی دی چه یو ډله د عربو نه وه چه حج به ئے وکړو نو کورونو ته به نه داخلیدل د دروازو د هغونه او د

وَتُدْلُوا بِهَآ إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِّنْ أَمْوَالِ

او مه وړاندې کوئ دا مالونه حاکمانو ته (د رشوت دپاره) چه وخورئ یوه حصه د مالونو د

النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿۱۸۸﴾ يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ

خلقو نه په ګناه سره او تاسې په هم پوهیږئ. تپوس کوي د وی ستا نه د میاشتو

الْأَهِلَّةِ ۖ قُلْ هِيَ مَوَاقِيتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ ۗ وَ

په باره کښې، ووایه دا میاشتې د وختونو معلومولو دپاره د خلقو او د حج دپاره دي؛ او

لَيْسَ الْبِرُّ بِأَن تَأْتُوا الْبُيُوتَ مِن ظُهُورِهَا وَ

نه دی نیکي چه راشئ خپلو کورونو ته د شا د طرف نه، او

لَٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقَىٰ ۗ وَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا ۚ

لیکن نیکي د هغه چا ده چه وویریږي د الله نه او راځئ کورونو ته د دروازو د طرف نه

وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿۱۸۹﴾ وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ

او وویریږئ د الله نه دپاره د دې چه کامیاب به شئ: او جنګ کوئ په لاره د

اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ

الله کښې د هغه کسانو سره چه جنګیږي تاسې سره او زیاتې مه کوئ، یقیناً الله تعالی

لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ﴿۱۹۰﴾ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ

مینه نه ساتي د زیاتي کوونکو سره: او مړه ئې کړئ دوی لره په هغه ځائې کښې چه

ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُم مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ ۚ

ومومئ تاسې دوی لره او راوباسئ دوی لره د هغه ځائې نه چه تاسې ئې ویستلي یاستئ

وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ۚ وَلَا تُقَاتِلُوهُمْ

او شرک کول ډیر سخت دي د وژلو نه؛ او مه جنګیږئ دوی سره

عِندَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتَّىٰ يُقَاتِلُوكُمْ فِيهِ ۖ

په نزد د حرم: عزتمند؛ ترو به چه جنګیږي تاسې سره په دې کښې

فَإِن قَاتَلُوكُمْ فَاقْتُلُوهُمْ ۗ كَذَٰلِكَ جَزَآءُ

پس که دوی جنګ شروع کړو تاسې سره پس مړه ئې کړئ دوی لره، همدغه رنګې بدله

ع ۲۳

ښا وطرفه بے کنم د وهلو.

ربط: د ما قبل سره دا دے چه سوال راتلو چه روژه په څیله د الله تعالی د نزد په ذریعه د نوو دے د پاره د میاشتے لیدلو د تخصیص څه ضرورت دے. نو جواب ورشو قُلْ هِيَ مَوَاقِيتُ لِلنَّاسِ الخ (جواب) وَقَاتِلُوا ۱۹۰: په دیکښې د دریمے حصے اهمه دعوه قتال فی سبیل الله دے او قتال جنګ کول یواځے نه دی. وَاقْتُلُوهُمْ: سره نے کړی او دفع د سوال نے وکړه: وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ: چه کفر او شرک سخت دے د وژلو نه. په ۱۹۳ کښ نے حکمت د قتال وخودلو چه شرک پاتے نشي او دین ټول خالص یو الله لره شي. فِتْنَةٌ د فتنے معنی عام مفسرین رحمهم الله شرک کوي. وګوری صـ ۲۸ جلالین، صـ ۲ ابو السعود، صـ ۲۸۸ ج ۱ ابن کثیر، صـ ۹۹ ج ۱ مدارك. صـ ۳ ج ۲ روح المعانی، و صـ ۳۲ الهام الرحمٰن.

الشَّهْرُ الْحَرَامُ: په ديکښې د عزتمند و مياشتو حکم دے ، دا مياشتې څلور دي: رجب ، ذوالقعده ، ذوالحجه ، محرم ، سورة توبه هم کښې ئې ذکر ايت ۳۶ . وَأَنْفِقُوا : چونکه جهاد بغير

الْكٰفِرِيْنَ (۱۹۱) فَإِنِ انْتَهَوْا فَإِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ (۱۹۲)
د کافرانو دا ده: پس که چرے منع شو دوی د شرک نه پس يقيناً الله تعالىٰ بخښونکے مهربانه دے:
وَقٰتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ
او جنګ کوئ د دوی سره ترهغې چه پاتے نه شی شرک : او شی : دين : د
لِلّٰهِ ۖ فَإِنِ انْتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ إِلَّا عَلَى الظّٰلِمِيْنَ (۱۹۳)
الله د پاره ، پس که منع شو دوی پس نشته زياتے : مګر په ظالمانو باندے:
اَلشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَالْحُرُمٰتُ
مياشت عزتمنه ده په بدله د مياشتو عزتمنو کښې وی او تول د عزت شيونه،
قِصَاصٌ ۚ فَمَنِ اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ
بدله والا دی، پس چا چه زياتے وکړو : په تاسو پس سزا د زياتی ورکړئ هغه ته
بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ ۖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْا
په مثل د هغه چه زياتے ئې کړے په تاسو : او ويريږئ د الله نه او پوهه شئ چه
أَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ (۱۹۴) وَأَنْفِقُوْا فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ
يقيناً الله خاص ملګرے د متقيانو دے : او خرچ وکړئ : په لار د الله تعالىٰ کښې
وَلَا تُلْقُوْا بِأَيْدِيْكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ ۛ وَأَحْسِنُوْا ۛ إِنَّ
او مه غورځوئ : لاسونه د خانونو خپل هلاکت ته : او نيکی کوئ : يقيناً
اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ (۱۹۵) وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ
الله تعالىٰ مينه ساتی د نيکی کوونکو سره : او پوره کړئ : حج : او عمره :
لِلّٰهِ ۚ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۖ
د پاره د رضا د الله پس که چرے منع کړے شوئ تاسو پس لازم دی در باندے هغه چه آسان وی قربانی
وَلَا تَحْلِقُوْا رُءُوْسَكُمْ حَتّٰى يَبْلُغَ الْهَدْيُ
او مه خروئ : سرونه خپل ترڅو چه و رسيږی قربانی ځای د
مَحِلَّهٗ ۚ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا أَوْ بِهٖٓ أَذًى
حلالے خپلے ته ، پس څوک چه وی ستاسو نه : ناجوړه : يا وی په هغه کښې ضرر :

وماله لګولو نه نه راځی نو متصل ئې د انفاق مسئله ذکر کړه.
وَلَا تُلْقُوْا بِأَيْدِيْكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ: مطلب دا دے چه مال او لګول د جهاد د کړئ چه د کفارو زور ختم شی او تاسے د هلاکت نه بچ شئ. الوسی رحمه الله په روح کښې ليکی: "بترك الغزو والانفاق فيه" چه خان مه غورځوئ هلاکت ته په پريخودو د غزا او د مال لګولو نه په ديکښې. "وَأَتِمُّوا الْحَجَّ": د دے ځائے نه تر ۲۰۳ پورے د حج باب شروع شو. پنځه احکام د حج متعلق: شيخ القرآن رحمه الله په سمط الدرر ص ۵۲ کښې ليکلی دی چه ذکر د حج روښنائی
اچول دی په مخکښې مضمون باندې چه څنګه په حج کښې مال لګی او بدن پکښې ستړے کيږی نو د غه رنګے جهاد هم دے. انعام الرحمن ص ۲۲۹ هم وګورئ. د پنځه احکامو تفصيل دا دے په ۱۹۶ بيان د احصار او د فدیے او د امن دے په ۱۹۷ کښې وخت د حج او منهيات د حج دی. په ۱۹۸ کښې حکم د وقوف په مزدلفه کښې، په ۱۹۹ کښې وقوف د عرفات او په ۲۰۰ کښې حکم د وقوف په منیٰ کښې ؛

مِّن رَّأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ
دَ سر درد وي نو پس لازم دي په ده بانډې فديه: دَ (درے) روژو نو يا دَ صدقے نه: يا دَ

نُسُكٍ ۚ فَإِذَا أَمِنتُمْ ۚ فَمَن تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ
قربانئ نه، پس چه کله په امن کښې شئ تاسو، پس هغه چا نفع اخستے دي په عمرې بانډې سره دَ حج نه

فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۚ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ
پس لازم دي په ده چه اسان وي دَ قربانئ نه، پس هغه څوک چه نه بيا مومي قرباني پس روژے

ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ ۗ تِلْكَ
دَ دريو ورځو دي په حج کښې او اوو کله چه فارغ شئ ، دغه

عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ۗ ذَٰلِكَ لِمَن لَّمْ يَكُنْ أَهْلُهُ حَاضِرِي
لس پوره دي په ثواب کښې، دا حکم دَ هغه چا دپاره چه نه وي اهل دده نزدے

الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ
جمات عزتمند ته، او ويريږئ دَ الله نه او پوهه شئ يقيناً الله تعالیٰ

ع ۸

شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿١٩٦﴾ الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ ۚ فَمَن
سخت عذاب ورکوونکے دے. او وخت دَ حج مياشتے معلومے دي، پس هغه چا چه

فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا
فرض کړو په ځان حج په دغو کښې نو پس نه دي کوي دَ ښځو خبرے او نه دي کوي ګناه: او نه

جِدَالَ فِي الْحَجِّ ۗ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللَّهُ ۗ
جنګ په وخت دَ حج کښې، او هغه چه کوئ دَ نيکئ کار، پوهيږي په هغه الله تعالیٰ،

وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَىٰ ۚ وَاتَّقُونِ
او توښه تيار کړئ پس يقيناً غوره توښه ځان ساتل دي دَ سوال نه: او ويريږئ زما نه

يَا أُولِي الْأَلْبَابِ ﴿١٩٧﴾ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن
اے خاوندانو دَ عقل. : نشته په تاسو باندې هيڅ ګناه : چه

تَبْتَغُوا فَضْلًا مِّن رَّبِّكُمْ ۚ فَإِذَا أَفَضْتُم مِّنْ
ولټوئ فضل ، دَ رب خپل نه ، پس کله چه واپس شوئ ، دَ

"فَمَنْ تَمَتَّعَ": دَ حج درے قسمه دی: افراد، تمتع، قِران - دلته دَ تمتع معنیٰ نفع اخستل دی نو حج قران او تمتع دواړو له شامليږي. چاچه عمره او حج غوښتلو، يا اول عمره بيا حج په يو سفر کښې وکړل نو په هغه بانډې دَ شکر دَ وجے نه دَ قربانئ ورکول لازم دي، که قربانی ونه کړي نو لس روژے دې ونيسي درے دَ حج نه مخکښې او اوه روستو په وطن کښې. او حج او عمره په يو سفر کښې دَ هغه چا دپاره دي چه مسجد حرام ته نزدے نه وي بلکه دَ ميقاتونو نه بهر وي.

"تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ": دَ دے مطلب دا دے چه دغه لس روژے پوره دي په ثواب کښې او په بدل واقع کيدو کښې دَ قربانئ نه. (مسائل الرازی ص۱۳۱)

"فَلَا رَفَثَ": پس نه دي کوي دَ ښځو خبرے او نه ګناه او نه جنګ - دا کارونه خو هر وخت منع دي خو دَ حج په وخت کښې خصوصي طور بانډې منع دي.

"وَتَزَوَّدُوا": نسفی رحمه الله په مدارک کښې ليکلي دي چه يمن خلقو به توښه نه وړله او ويل به ئې چه مونږ ه توکل کوونکي يو نو په خلقو به بوجه کيدل نو دا ايت دَ هغوی باره کښې نازل شو. "لَيْسَ عَلَيْكُمْ": امام رازی رحمه الله په مدارک کښې ليکلي دي چه دا ايت دَ هغه چا په رد کښې راغلے دے چه حج دَ تاجرانو او مزدورانو او کرايه وړونکو دپاره نه کيږي. ف

ثُمَّ اَفِيْضُوْا: بيا واپس شئ د هغه ځائے نه چه عام خلق ترینه واپس کیږی چه عرفات دے په دې کښې د اُمت په مابین کښې د مساوات او اُخوت بوه بنائسته نمونه ده چه کوم شاهٔ وی او که ګدا ، عرب وی که عجم د یو مقام نه به واپسی کوی . او په

عَرَفٰتٍ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ ۪

عرفات نه ، پس یاد وئ الله تعالیٰ لره په نزد د یادګار عزتمند (مزدلفے کښې)

وَاذْكُرُوْهُ كَمَا هَدٰىكُمْ ۚ وَاِنْ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلِهٖ

او یاد وئ الله لره په هغه طریقه چه ښودلے ئے کړې تاسو ته ، او اګر چه وئ تاسو مخکښې د دے نه

لَمِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿١٩٨﴾ ثُمَّ اَفِيْضُوْا مِنْ حَيْثُ اَفَاضَ

خامخا د ناخبرو نه : بیا (وا ورئ) واپس شئ د هغه ځائے نه چه واپس کیږی

النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٩٩﴾

نور خلق او بخښنه غواړئ د الله تعالیٰ نه ، یقیناً الله بخښونکے مهربانه دے :

فَاِذَا قَضَيْتُمْ مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَذِكْرِكُمْ

پس کله چه مو پوره کړل کاروبار د حج خپل پس یاد وئ الله لره په شان د یادولو ستاسو

اٰبَآءَكُمْ اَوْ اَشَدَّ ذِكْرًا ۭ فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ

پلرونو خپلو لره بلکه زیات تر یادولو ، پس بعضې د خلقو نه هغه دی چه وائی :

رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ

اے ربه زمونږه راکړه مونږ ته په دنیا کښې ، او نشته دۀ لره په آخرت کښې هیڅ

خَلَاقٍ ﴿٢٠٠﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا

برخه : او بعضې د دوی نه هغه څوک دی چه وائی اے ربه زمونږه راکړه مونږ ته په دنیا کښې

حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿٢٠١﴾

خوشحالی ښه زندګی او په آخرت کښې نیکی (خوشحالی) او بچ کړه مونږ لره د عذاب د اور نه

اُولٰٓئِكَ لَهُمْ نَصِيْبٌ مِّمَّا كَسَبُوْا ۭ وَاللّٰهُ سَرِيْعُ

دغه کسان دوی لره برخه ده د هغه عملونو چه دوی کړی دی : او الله تعالیٰ ژر کوونکے دے

الْحِسَابِ ﴿٢٠٢﴾ وَاذْكُرُوا اللّٰهَ فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ ۭ

حساب والا دے : او یاد وئ الله تعالیٰ لره په ورځو شمارلو شوو کښې :

فَمَنْ تَعَجَّلَ فِيْ يَوْمَيْنِ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۚ وَمَنْ

پس چا چه جلتی وکړه په پوره کولو د دوه ورځو کښې پس نشته ګناه په دۀ باندې او چا چه

منزل ۱

و دکښې دیو جاهلی زمانه هم وشو . حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی چه قریش او د هغوی پیروکار به په مزدلفه کښې ودریدل او دوی ته به حُمس یعنی بهادران ویلے کیدل . پس کله چه اسلام راغلو نو الله تعالیٰ خپل نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته امر اوکړو چه عرفات ته لاړ شئ یا هلته وقوف اوکړئ او بیا د هغه ځائے نه واپس شئ (ابن کثیر ص ۲۴۴ ، روح المعانی ج ۲ ، الهام الرحمٰن ص ۲۴۳) . فَمِنَ النَّاسِ : د دے ځائے نه د حاجیانو دوه قسمونه دی . د ابن عباس رضی الله عنه روایت دے چه مشرکانو به د وقوف په وخت کښې داویل : اے الله ! مونږ ته راکړه اوښان او غواګانے او ګډے بزے ، او مریزونه او وینزے او دوی به د آخرت مغفرت نه غوښتلو (کبیر ص ۲۵) . حَسَنَةً امام قرطبی رحمه الله فرمائی چه دا آیت ډیر جامع دعا ګانو ده دے چه دنیا او آخرت لره شامل دے . حضرت انس رضی الله عنه ته ووئیل شو چه دعا مونږ د لره وکړه هغه اوویل : اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا نو هغوی ورته ووئیل چه زیات کړه راله نو انس رضی الله عنه وفرمائیل چه ما خو د دنیا او آخرت دواړو سوال وکړو (قرطبی ص ۲۵) . فَمَنْ تَعَجَّلَ فِيْ يَوْمَيْنِ : د دے آیت کښې د منی احکام دی او د دے آیت سره تعلق لری او په دے آیت کښې د منی د قیام دوه صورتونه بیان کړیدی . یو دا چه د لسم تاریخ نه بعد دوه ورځے حصاروی او په ۱۲ تاریخ ماز یګر مخکښې مکرمے ته واپس شی . دویم صورت دا دے چه په ۱۳ تاریخ هم جمرات ولی او بیا مکے ته واپسی وکړی . الله تعالیٰ دواړه صورتونو اختیار ورکړیدے (ګوره جواهر ص ۹۹ ج ۱) .

وَمِنَ النَّاسِ الخ ۲۰۴ نه د نورو دوو ولو ذکر کوي. یو دَ بد بختو ۲۰۴ او بل د نیک بختو ۲۰۷ . شانِ نزول ئے
د یو منافق په باره کښې دے خو امام رازی رحمه الله وویيم قول چه هغه د اکثرو محققینو مفسرینو مختار
قول دے ذکر کړې دے چه

تَأَخَّرَ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ ۚ لِمَنِ اتَّقَىٰ ۗ وَاتَّقُوا اللَّهَ
روستو دا لے ډکړي نو هم څه ګناه په دَه باندي نشته دا رخصت هغه دپاره دے چه پرهیز ګار وي او ویریږئ تاسو دَ الله

وَاعْلَمُوٓا أَنَّكُمْ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ۝٢٠٣ وَمِنَ النَّاسِ
او پوهه شئ چه یقیناً تاسو خاص هغه ته به راجمع کړے شئ. او بعضې د خلقو نه

مَن يُعْجِبُكَ قَوْلُهُۥ فِى الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ
هغه دي چه تعجب کښې اچوي تا لره خبره د هغه په ژوند د دنیا کښې. او ګواه کوي

اللَّهَ عَلَىٰ مَا فِى قَلْبِهِۦ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ ۝٢٠٤ وَإِذَا
الله لره په هغه څه چه په زړه د ده کښې دي او دا سخت جګړه ماروي. او کله چه

تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِى الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ
ګرځي ستا د مجلس نه کوشش کوي په زمکه کښې چه فساد وکړي په دې کښې او هلاک کړي

الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ ۝٢٠٥ وَ
فصل او نسل د خلقو. او الله تعالیٰ نه خوښوي فساد لره. او

إِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللَّهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْإِثْمِ ۚ
کله چه وویلې شي ده ته چه ووېرېږه د الله نه ونیسي ده لره غیرت په ګناه باندي:

فَحَسْبُهُۥ جَهَنَّمُ ۚ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ۝٢٠٦ وَمِنَ النَّاسِ
پس کافي ده ده لره دوزخ: او هر اینه بد بستره ده دا اور: او بعضې د خلقو نه

مَن يَشْرِى نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ
هغه دي چه خرڅوي خان خپل دپاره د لټولو د رضا د الله تعالیٰ او الله تعالیٰ

رَءُوفٌۢ بِالْعِبَادِ ۝٢٠٧ يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا ادْخُلُوا
ډېر مهربان دے په بندګانو خپلو: اے ایمان دارو: ورننوزئ

فِى السِّلْمِ كَآفَّةً ۖ وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَٰتِ الشَّيْطَٰنِ ۚ
په اسلام کښې پوره: او تابعداري مه کوئ د قدمونو د شیطان:

إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ۝٢٠٨ فَإِن زَلَلْتُم مِّنۢ بَعْدِ
یقیناً دے تاسو دپاره دښمن ښکاره دے. پس که ګوزار شوئ تاسو پس د هغه نه

دا آیت عام دے په حق د هر هغه چا کښې چه په دغه صفاتو ذکر شوو باندې موصوف وي (کبیر ۵/۱۹۰) دَ اِذَا تَوَلّٰی او کله چه واکمن شي دَ مجلس نه دا د حسن بصري رحمه الله قول دے او یا چه کله غالب شي او والي او حاکم وګرځي. دا د ضحاک رحمه الله قول دے (روح ص ۹۵ ج ۲) الْحَرْثَ او ویلے شي چه حرث زنانه. او نسل اولاد د خلقو (قرطبي ص ۲) شاه ولي الله رحمه الله معنی کوي چه هلاک کړي فصل او څاروي یا نو لره. (فتح الرحمن ص)

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي: شانِ نزول ئے د صهیب رومي رضی الله عنه په باره کښې دے خو حکم ئے عام دے. مراد دا دے چه د منافقانو په مقابله کښې مخلص کسان هم شته چه د الله تعالیٰ د رضا دپاره ځان او مال قربانوي. اُدْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً: كَآفَّةً یا د اُدْخُلُوا د ضمیر نه حال دے نو معنی ئے دا شوه چه داخل شئ په اسلام کښې پوره پوره یعنی ستاسو لاس خپې، سترګے، غوږونه، زړونه، دماغ ټول په ټول په دائره د اسلام کښې او د الله تعالیٰ په اطاعت کښې داخلیدل پکار دي او یا د سِلْم نه حال دے یعنی په مکمل اسلام کښې داخل شئ او دا سے مه کوئ چه د اسلام بعضې احکام قبول کړئ او په بعضو کښې مخکښې روستو شئ

ځکه چه اسلام د مکمل ضابطهٔ حیات دپاره نوم دے د کوم چه قرآن او سنت کښې بیان دے (معارف ص ۵۱۴) فائده:
د دے ځائے نه ترغیبات جهاد ته دي (۱) په ص ۲ (۲) ص ۲۱۴ (۳) ص ۲۱۶ او په منځ کښې تخویف اُخروي او په ص ۲۱۷ دنیوي او په
هغه کښې جواب د یو سے شبهے دے.

أَنْ يَأْتِيَهُمُ اللّٰهُ: راتلل د الله تعالیٰ د متشابهاتو نه دی څنګه چه د باری تعالیٰ د شان عالیه مناسب وی
اوځایه واچه دا آیت کریمه د پاهو ... په عقیده راغلے دے. هغوی په الله تعالیٰ ته د تللو او راتلو نسبت کولو او وایئے
ویل چه الله تعالیٰ تجلی کړے وه
موسیٰ علیه السلام ته په سوره
ډ ور کښی او دا شان نے مطالبه
ئے کوله په نعمات د محمد ﷺ کښی
ذکور دی کبیر ۲۱۶/۵ او جواهر
تفسیر ۱. زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا الاٰية
په دیکښی جواب دے شبهے د
چه کافران وائے په مونږ څه
کښی دی؟ جواب دادے چه
دا چند روزه زندګی ده ــ او
مؤمنان به اوچت وی د دوی
په ورځ د قیامت کښی. وَيَسْخَرُونَ
ذکور دی مطففین ۲۹، مؤمنون
۱۱۰، ص ۶۲، همزه ۲، ۳.
أُمَّةً وَّاحِدَةً: د خلق ټول
په توحید بانډو. دلیل د سورة
یونس ۱۹ آیت کړی. فَاخْتَلَفُوا
پس اختلاف ئے شروع کړو نو
الله تعالیٰ نبیان راولیږل. وَمَا
اخْتَلَفَ فِيهِ: تائید کښی دا
آل عمران ۱۹، یونس ۹۳، نحل
۹۳، نحل، ۱۷ جاثیه ذکور دی.
د دے نه دره خبرے معلومیږی
(۱) اختلاف کوم خلقو وکړو ... کله
ئے وکړو او راس وَلے وکړو یعنی
اختلاف هیڅ ملا پانو کړے دے
او د پوهے باوجود ئے کړے دے
او خالص د ضد او عناد د وجے
ئے کړے دے. ذکور غی جواهر ...
فائده: نا کاره هغه
اختلاف دے چه په اصولو او
عقائدو کښی وی او فروعی اختلاف
کوم چه د اماماتو مجتهدینو ترمینځه
پکښی دے هغه نا کاره نه دے
بلکه رحمت دے. د هغوی ټولو
مقصد د الله تعالیٰ رضا ته رسیدل

مَا جَآءَتْكُمُ الْبَيِّنٰتُ فَاعْلَمُوٓا اَنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۰۹﴾
چه راغلی تاسو ته ښکاره دلائل پس پوه شئ چه یقیناً الله زورور حکمت والا دے.

هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيَهُمُ اللّٰهُ فِيْ ظُلَلٍ مِّنَ
انتظار نکوی دوی مګر ددې چه راشي دوی ته الله تعالیٰ په ... سوری د وریځي

الْغَمَامِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَقُضِيَ الْاَمْرُ ۭ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ
کښی او ملائک او فیصله شی کار د عذاب دوی، او خاص الله ته واپس کیږی

الْاُمُوْرُ ﴿۲۱۰﴾ سَلْ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ كَمْ اٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ اٰيَةٍۭ
ټول کارونه. تپوس وکړه د بنی اسرائیلو نه چه څومره معجزه ورکړی مونږ دوی ته ښکاره

بَيِّنَةٍ ۭ وَمَنْ يُّبَدِّلْ نِعْمَةَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُ
واضحې او چا چه بدل کړو نعمت (ناشکری) د الله پس د هغه نه چه راغلو هغه

فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۲۱۱﴾ زُيِّنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوا
پس یقیناً الله سخت عذاب والا دے. ښائسته کړی شوی ده هغه کسانو ته چه کفر کړے

الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَيَسْخَرُوْنَ مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۘ
ژوند دنیوی، او مسخرے کوی په هغه چا پسے چه ایمان ئے راوړے دے

وَالَّذِيْنَ اتَّقَوْا فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ وَاللّٰهُ
او هغه کسان چه متقیان دی اوچت به وی د دوی نه په ورځ د قیامت، او الله تعالیٰ

يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۲۱۲﴾ كَانَ النَّاسُ
رزق ورکوی چاله چه خوښه شی بے حسابه. وو خلق

اُمَّةً وَّاحِدَةً ۣ فَبَعَثَ اللّٰهُ النَّبِيّٖنَ مُبَشِّرِيْنَ
یو ډول په توحید (او اختلاف ئے وکړو) پس راولیږل الله تعالیٰ نبیان زیری ورکوونکی (ایمان والو له)

وَمُنْذِرِيْنَ ۠ وَاَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ
او ویروونکی (نه منونکو ته) او را وے لیږلو د دوی سره کتاب په حقه سره چه

لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيْمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ۭ وَمَا
فیصله وکړی په مینځ د خلقو کښی په هغه شی کښی چه دوی پکښی اختلاف کړے وو، او

وی خو لارے بیلے بیلے دی. د شاه یوسف شیخ رحمه الله نثر المرجان ۲۸۳/۱ کښی د رومی رحمه الله شعر لیکلے دے چه
هر نبی و هر ولی را مسلکے است ۞ لیکن تا حق میبرد جمله یکے است ــ فائده ۲: د دے آیت کریمه نه معلومه شوه
چه باری تعالیٰ آسمانی کتابونه د اختلافی مسائلو د حل د پاره رالیږلی دی ۞

اَمْ حَسِبْتُمْ: تر غیب دے جہاد ته چه امتحانونه به راځي. وګورئ ے سکټ احزاب. مَثَلُ الَّذِیْنَ: یعني
حال دهغوی چه هغه مثال دے په سختئ کښی (مرکب ۱۰/۱) حَتّٰی یَقُوْلَ الرَّسُوْلُ: شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل چه

اِخْتَلَفَ فِیْهِ اِلَّا الَّذِیْنَ اُوْتُوْهُ مِنْۢ بَعْدِ مَا
اختلاف نه وو کړے په هغے کښی مګر هغه کسانو چه ورکړے شوے وو دا کتاب پس د هغے نه چه

جَآءَتْهُمُ الْبَیِّنٰتُ بَغْیًاۢ بَیْنَهُمْ ۚ فَهَدَی اللّٰهُ
راغلی وو ورته واضح دلیلونه د وجے د ضد نه په خپلو مینځ کښی پس هدایت وکړو الله تعالیٰ

الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لِمَا اخْتَلَفُوْا فِیْهِ مِنَ الْحَقِّ
هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړے وو هغه شی چه اختلاف کړے وو دوی په دګښی په هغه حق کښی

بِاِذْنِهٖ ؕ وَاللّٰهُ یَهْدِیْ مَنْ یَّشَآءُ اِلٰی صِرَاطٍ
په حکم خپل سره او الله ښوونه کوی چا له چه خوښه شی طرف د لارے

مُّسْتَقِیْمٍ ﴿۲۱۳﴾ اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَ
نیغے ته. آیا خیال کوئی تاسی چه داخل به شئ جنت ته او

لَمَّا یَاْتِكُمْ مَّثَلُ الَّذِیْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ ؕ
لا نه دی راغلے تاسو ته مثال د هغه کسانو چه تیر شوی دی مخکښی ستاسے نه

مَسَّتْهُمُ الْبَاْسَآءُ وَالضَّرَّآءُ وَزُلْزِلُوْا حَتّٰی
رسیدلی وو هغوی ته ویرے او مرضونه او جرقولے شوی وو تر دے چه

یَقُوْلَ الرَّسُوْلُ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ مَتٰی نَصْرُ
ووئیلے رسول او تسلی خبرے او وئیل هغه کسانو چه ایمان ئے راوړے وو د هغه سره کله به وی امداد

اللّٰهِ ؕ اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِیْبٌ ﴿۲۱۴﴾ یَسْــَٔلُوْنَكَ
د الله. خبردار یقیناً امداد د الله تعالیٰ نزدے دے. تپوس کوی ستا نه

مَاذَا یُنْفِقُوْنَ ؕ قُلْ مَاۤ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ خَیْرٍ
چه څه خرچ کړی دوی اووایه هغه چه خرچ کوئی د مال نه

فَلِلْوَالِدَیْنِ وَالْاَقْرَبِیْنَ وَالْیَتٰمٰی وَ
پس د پاره د مور او پلار او خپلوانو او یتیمانو او

الْمَسٰکِیْنِ وَابْنِ السَّبِیْلِ ؕ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ
مسکینانو او مسافرو دی او هغه چه کوئی د

ولله مفعول به محذوف دے او د اَلَّذِیْنَ فعل پټ دے. معنیٰ دا شوه چه تردے پورے پیغمبر علیه السلام د تسلی خبرے او د ښو ایماندارو چه کله به وی امداد د الله تعالیٰ نو رسول به وفرمایل: اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِیْبٌ، خبردار! امداد د الله تعالیٰ نزدے دے. دوهم معنیٰ تائید په ملک ۲۶ تفسیر کبیر او په صت املا کښی کتلے شی او په دے سره د رسول په شان کښی کمے نه راځی او نه د اصحابو فوقیت په رسولانو راځی. وګورئ احزاب ۲۲. یَسْــَٔلُوْنَكَ ۲۱۵: د دے څائے نه تر ۲۴۲ پورے دریم باب د دریمے حصے دے او په دے کښی اتلس احکام و تدبیر المنزل ذکر او د جوړښت ذکر کوی. شیخ القرآن رحمه الله په سمط الدرر ۲۱۵ کښی لیکلی دی: ۲۱۵ کښی انفاق، ۲۱۶ کښی قتال، ۲۱۷ کښی حکم د قتال په عزتمند میاشتو کښی، ۲۱۹ کښی منع د شرابو او جوارئ نه، ۲۲۰ کښی اصلاح د یتیمانانو، ۲۲۱ کښی حکم د نکاح د مشرکو ښځو سره، ۲۲۲ کښی جماع په حالت حیض کښی، ۲۲۳ کښی مقصد د جماع، ۲۲۴ کښی تعظیم د نوم د الله تعالیٰ، ۲۲۶ کښی د ایلاء حکم، ۲۲۸ کښی د طلاقو بیان، ۲۲۹ کښی د ښځو د ورکولو بیان، ۲۳۱ کښی د کونډو د عدت بیان، ۲۳۲ کښی د کونډو د کوژدے بیان ۲۳۶ د غیر مسّ شوے ښځے طلاق، ۲۳۸ کښی د مانځه بیان، ۲۴۰ کښی د کونډو د پاره وصیت، ۲۴۱ کښی د متعے بیان. سوال دا شوے وو چه څه خرچ کړو د مال نو خپلو نه او چا ته ئے خرچ کړو، نو

خَيْرٌ فَإِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿۲۱۵﴾ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ

نیکئی نو پس یقیناً الله په هغې پوه دے: فرض کړے شوے دے پاسې جنګ کول

وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ۚ وَعَسٰٓى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْئًا وَّهُوَ خَيْرٌ

او دا بد لګي تاسې ته: او کیدے شي چه بد ګنړئ یو شے او هغه بهتره وي

لَّكُمْ ۚ وَعَسٰٓى اَنْ تُحِبُّوْا شَيْئًا وَّهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ۗ وَاللّٰهُ

تاسې لره او قریب دی چه مینه ساتئ تاسې د یو شي سره: او هغه بد وي تاسې لره: او الله

ع يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۱۶﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الشَّهْرِ

پوهیږي او تاسې نه پوهیږئ: تپوس کوي له تا نه د میاشتې عزتمندې

الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيْهِ ۗ قُلْ قِتَالٌ فِيْهِ كَبِيْرٌ ۗ وَصَدٌّ

په باره کښې ریعنې د جنګ کولو نه په دې کښې؟ ووایه جنګ کول په دې کښې لویه ګناه ده: او راګرځول

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَكُفْرٌۢ بِهٖ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۗ

د لارې د الله نه: او کفر په الله او منع کول د جمات عزتمن نه:

وَاِخْرَاجُ اَهْلِهٖ مِنْهُ اَكْبَرُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَالْفِتْنَةُ

او ویستل د اهل د هغه د جمات نه ډیر لوئے دي په نزد د الله: او شرک

اَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ ۗ وَلَا يَزَالُوْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ حَتّٰى

ډیر لوئے دے د وژلو نه: او همیشه به وي دوي چه جنګیږي به تاسې سره تر دے چه

يَرُدُّوْكُمْ عَنْ دِيْنِكُمْ اِنِ اسْتَطَاعُوْا ۗ وَمَنْ

وګرځوي تاسې لره د دین ستاسې نه که چرے وس یې وشي: او څوک چه

يَّرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ

واوړي ستاسې نه د دین خپل نه پس مړ شو: او دے کافر وو:

فَاُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ

پس دغه کسان برباد شو عملونه د دوي په دنیا: او آخرت کښې:

وَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۱۷﴾

او دغه کسان ملګري د اور دي او دوي به په هغې کښې همیشه او سیدونکي وي

دویم جزء لره ئے اهمیت ورکړو او په دا که ئے جواب وشو او د اول جزء جواب ضمني طور سره وشو. مطلب دا چه خو مره لګوئ هغه ولګوئ خو مصرف ئے وپیژنئ. د کورنۍ الهام الرحمن صـ ۳۵ - عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ: د مسلمانانو په خطائي کښې یو کافر قتل شوے وو. خیال ئے دا وو چه د جمادی الثانیة روستۍ (آخره) شپه ده او هغه د رجب (اوله) ورځ شپه وه نو مشرکانو سوال اوکړو. نو جواب ئے وشو او د کفارو پنځه خباثتونه ئے ذکر کړل - د پښتو متل دے چه غلبیل را پاسیده کوزے ته وائي تا کښې دوه سوري دي. - اِنِ اسْتَطَاعُوْا: په دې کښې تسلي ده مؤمنانو لره چه دا بعید دے چه د دوي لاس به پتاسې بر شي. - وَمَنْ يَّرْتَدِدْ کښې تنبیه ده مؤمنانو لره چه په اسلام ثابت قدم پاتے شي ځکه چه د مرتد عمل دنیا او اخرت کښې برباد دے.

.إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا: وکیں بشارت دے . يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ: د شرابو حرمت تدریجي ورو په ورو راغلې دے
کوم چې ملا نحل، ملا نساء، ملا بقره ۲ سره مائده ۹ . جناب مفتي صاحب رحمه الله درے وجه واضحه ذکر کړيده ۲ چه دغول

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَجَاهَدُوا
یقینا هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے او هغه کسان چه هجرت ئې کړے دے او جهاد ئې کړے دے
فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَتَ اللَّهِ وَاللَّهُ
په لاره د الله کښې دغه کسان امید ساتي د رحمت د الله تعالیٰ او الله
غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٢١٨﴾ يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ
بخښونکے مهربان دے . تپوس کوي دوی ستا نه د شرابو او د جوارۍ (کاره) نه اووایه چه په دواړو کښې
فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ
دواړو کښې لوئے ګناه ده او نفع دی د پاره د خلقو او ګناه د دواړو لویه ده
مِنْ نَفْعِهِمَا وَيَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ قُلِ
د نفع د دواړو نه او تپوس کوي دوی ستا نه چه څه شے خرچ کړي دوی ؟ اووایه
الْعَفْوَ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ
زیاتي خرچ کړئ همدغسې بیانوي الله تاسو ته آیتونه د پاره د دے چه
تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١٩﴾ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ
فکر وکړئ . په دنیا او آخرت کښې او تپوس کوي دوی ستا نه د
الْيَتَامَىٰ قُلْ إِصْلَاحٌ لَهُمْ خَيْرٌ وَإِنْ تُخَالِطُوهُمْ
یتیمانو په باره کښې او وایه اصلاح د دوی د پاره غوره ده او که شریک خرچ کړئ د دوی سره
فَإِخْوَانُكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ
پس ورونړه ستاسو دي او الله تعالیٰ پیژنی فساد کونکے د اصلاح کونکي نه
وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَأَعْنَتَكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٢٠﴾ وَ
او که رضا شوے وه د الله یقینا په تکلیف کښې به ئې اچولي وئ تاسو یقینا الله زورور حکمت والا دے . او
وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتَّىٰ يُؤْمِنَّ وَلَأَمَةٌ
او نکاح مه کوئ د شرکې ښځو سره ترڅو چه ایمان راوړي او یقینا وینځه
مُؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ
ایمان داره غوره ده د مشرکې ښځې نه اګر چه تعجب کښې اچوي تاسے لره
مسرك

عمر عادت خصوصاً رنګ عادت پریخودل په انسانی طبیعت باندې انتهائی ګران دی. علماء فرمائی چه: فِطَامُ الْعَادَةِ أَشَدُّ مِنْ فِطَامِ الرَّضَاعَةِ . چه د عادت پریښودل د ... د قطع کولو نه زیات دی . په دے حکیمانه انداز کښې نے اول د دے بدی ذهن کښې کینولو او بیا ئے د دے ضرر او قباحت کښې منعه اوکړه او بیا ئے د دے خاتمے موده نه پس په قطعي طور سره حرام کړل . (معارف ۵۲۲/۱) الْمَيْسِرِ: د کښې د جوارۍ ټول قسمونه داخل دی امام رازي رحمه الله د ابن سیرین، مجاهد او عطاء رحمهم الله په قول فرمائی چه کوم شی کښې شرط وی نو هغه د میسر جواری نه دی ترده څو د ورو لوبے په غوزانو باندې . (کبیر ص۴۳ ج ۲) الْعَفْوَ: راغب اصفهانی رحمه الله په مفردات ص۳۴۲ کښې لیکی هغه شے چه خرچ کول ئے اسان وی . تر مکی رحمه الله په ص کښې لیکی چه هغه شے چه زیاتی وی ستاسو د حاجت نه . وَإِنْ تُخَالِطُوهُمْ: د دیتنهی شیخو رحمه الله فرمائی ، کهچرے تاسے د دوی خوراک مکان انتظام د دکان سره یوځائے وکړئ نو د دے هم اجازت دے ځکه چه دوی ستاسے ورونړه دی او کچرے د دوره نو په رضالیو په اخوا دیخوالی نو هم باک نشته . (جواهر ص۱۰۱) وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ: شاه

عبدالقادر رحمه الله په موضح القرآن ص۵۵ کښې لیکلي دي چه کوم سړي یا ښځه شرک وکړي د دوي نکاح مات شو . شرک داوے چه د الله صفت په بل چا کښې وګنړی مثلا دچا په باره کښې خیال کوی چه ده ته هر څه معلوم دی ، یا هغه چه څه غواړی نو کولے شي یا زموږ : ښه یا بد هغه په اختیار کښې دی الخ . (انوار الرحمٰن ص۴۳ ج ۱)

ویسئلونک عن المحیض : (الطیفه) شیخ القرآن رحمه الله فرمایلی چه تر بد عتی ملازانو وییل چه ته معتزلی شوی یې ، وواه هغه : زه نو ماورته وویل چه کله تا سره حائضه شوی — بد عتیان اشاعت والوته معتزلیان وائی

وَلَا تُنكِحُوا الْمُشْرِكِينَ حَتَّىٰ يُؤْمِنُوا ۚ وَلَعَبْدٌ

او مه نکاح ورکوئ مشرکانو ته (لونړه خوینده) تر هغه پورې چه ایمان راوړی دوی ، او یقیناً مریې

مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ ۗ أُولَٰئِكَ

مؤمن غوره دے تر مشرک (آزاد) نه اگرچه تعجب کښې اچوی تاسې لره ، دغه کسان

يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ ۖ وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَى الْجَنَّةِ

بلنه کوی طرف د اور ته ، او الله تعالیٰ بلنه کوی طرف د جنت ته

وَالْمَغْفِرَةِ بِإِذْنِهِ ۖ وَيُبَيِّنُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ

او بخښنے ته په حکم خپل سره ، او بیانوی آیتونه خپل خلقوته د پاره د دې چه دوی پند

يَتَذَكَّرُونَ (221) وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ ۖ قُلْ

قبول کړی دوی ، او پوښتنه کوی دوی ستا نه په باره د حیض کښې ، ووایه

هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ فِي الْمَحِيضِ ۖ وَ

دا گند گی ده ، پس وړه دو کړئ د ښځونه په حیض کښې ، او

لَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ ۖ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ

مه نزدې کیږئ دوی ته تر دے چه پاکے شی ، پس کله چه ښے پاکے شی

فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللَّهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ

پس راشئ دوی ته د هغه ځائے نه چه امر درکړے دے الله ، یقیناً الله مینه کوی

التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ (222) نِسَاؤُكُمْ

د توبه ایستونکو سره او مینه کوی د ځان پاکے ساتونکو سره ، ښځے ستاسے

حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ ۖ وَقَدِّمُوا

ځائے د فصل دی تاسے لره ، پس راشئ کروندے خپلے ته په کوم طریقه چه ستاسو خوښه وی ، او وړاندې لیږئ

لِأَنفُسِكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّكُم مُّلَاقُوهُ ۗ

نیک عمل د پاره د ځانونو خپلو ، او ویریږئ د الله نه او پوهه شئ یقیناً تاسے ملاقات کونکی یئ دهغه

وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ (223) وَلَا تَجْعَلُوا اللَّهَ عُرْضَةً

او زیرے ورکړه ایماندارو ته ، او مه گرځوئ نوم د الله د پاره مانع

خو المسئلة بالعکس ده اهل سنت والجماعت دی نو ځکه شیخ القرآن رحمه الله الزامی جواب ورکړو . حتی یطهرن : د پښتو شیخ رحمه الله فرمائیلی دی چه دلته عبارت کښې تقدیر وشے . حتی یطهرن ویطهرن فاذا طهرن وتطهرن معنی دا شوه تر دے چه پاکے شی یعنی د وینې ورځونه او بیا پاکے شی په غسل کولو سره پس دلته ورځونه کله چه پاکے شوے او بیا پاکے شوے نو راځئ دوی ته د هغه ځائے نه چه الله تعالیٰ درته حکم کړے دے . وکورئ نجوامع . حرث لکم : مواضع حرث لکم (مدارک) یعنی ښځونه د فصل ستاسے یعنی کروندے دی . د پښتو شیخ رحمه الله فرمائی په حیض کښې د نرم غلق چه د خاندانی منصوبه بندئ د پاره د پیدائش منع کولو دپاره آله لگیږی د وادو د اصل مقصد او فائدے نه ناخبره دی . وقدموا لانفسکم : او وړاندې کړئ نیت وکړئ د عا د نو د پاره د نیک عمل لکه بسم الله ویل د کور والی نه (جلالین ص ۳۴) چه هغه طلب د اولاد دے او بسم الله ویل په کور والی پاندې (مدارک ۱/۱۰۲) حدیث کښې د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت راغلی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه کله یو کس اهل ته ورځی او دا دعا ووائی : اللهم جنبنا الشیطان وجنب الشیطان ما رزقتنا : او فیصله د اولاد شوے وی نو ضرر به ورته شیطان هیچرے ونه رسوی . (روح المعانی ص ۱۲۵) . أن تبروا : امام رازی رحمه الله فرمائی چه هغه گرځول د ذکر د الله تعالیٰ مانع په سبب د قسمونو ستاسو د نیکئ کولو نه یا په نیکئ کولو کښې (کبیر ۶/۷۵) .

بِاللَّغْوِ: لغوه قسم چه بې اراده وي یا په هېره قسم وکړي. د شاه پور شیخ رحمه الله فرمائي چې افضل التراجم ۲ کښې یعني کله په هېره قسم وخوري نو معاف دے. یُؤْلُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ: په دے ایت کښې د ایلاء حکم دے. د قسم

لِّاَيْمَانِكُمْ اَنْ تَبَرُّوْا وَتَتَّقُوْا وَتُصْلِحُوْا بَيْنَ

د وجې د قسمونو ستاسې د نیکۍ کولو نه او د تقوی کولو نه او د اصلاح کولو نه په مینځ د

النَّاسِ ۗ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۲۴﴾ لَا يُؤَاخِذُكُمُ

خلقو کښې او الله تعالیٰ اورېدونکے پوهه دے. نه نیسي تاسې لره

اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا

الله تعالیٰ په بې اراده قسمونو ستاسې کښې او لیکن نیسي تاسې لره په هغه قسمونو چه

كَسَبَتْ قُلُوْبُكُمْ ۗ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۲۲۵﴾ لِلَّذِيْنَ

قصد ئے وکړو زړونو ستاسې او الله تعالیٰ بخښونکے صابر دے. د پاره د هغه کسانو

يُؤْلُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ اَرْبَعَةِ اَشْهُرٍ ۚ

چه قسم وخوري ایلاء کوي د ښځو خپلو نه انتظار د څلورو میاشتو دے

فَاِنْ فَآءُوْ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۲۶﴾ وَاِنْ عَزَمُوا

پس که چرته رجوع ئے وکړه پس یقیناً الله بخښونکے مهربانه دے. او که چرته ئے اوکړو قصد

الطَّلَاقَ فَاِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۲۷﴾ وَالْمُطَلَّقٰتُ

د طلاق وکړه پس یقیناً الله تعالیٰ اورېدونکے پوهه دے. او طلاق شوې ښځې به

يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ ۗ وَلَا يَحِلُّ

انتظار کوي په ځانونو خپلو درے حیضونه. او حلال نه دي

لَهُنَّ اَنْ يَّكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللّٰهُ فِيْٓ اَرْحَامِهِنَّ

دوی لره چه پټ کړي هغه څه چه پیدا کړي الله تعالیٰ په رحمونو د دوی کښې

اِنْ كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۗ وَبُعُوْلَتُهُنَّ

که چرته دي دوی چه ایمان لري په الله او په ورځ روستنۍ. او خاوندان د دوی

اَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِيْ ذٰلِكَ اِنْ اَرَادُوْٓا اِصْلَاحًا ۗ

لائق دي په رجوع کولو کښې د دوی په زمانه د عدت کښې که چرته اراده لري د جوړه جاړي

وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِيْ عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ۠

او دوی لره حقوق دي په مثل د هغه چه په دوی دي په ښه طریقے سره

د هغه د نزدیکت و ځنې نه. د شاه پور شیخ رحمه الله یعني دي یعني که یو سړے د ښځے ځنې د نزدیکت نه قسم وخوري څلور میاشتے یا زیات نو که په څلورو میاشتو کښې نزدے شو نو د قسم کفاره به ورکوي او که نزدے نشو نو ښځه ئے طلاقه شوه (افضل التراجم ۲) وَالْمُطَلَّقٰتُ: د دے ځائے نه د طلاقو او د عدت او د خلع بیان دے. ښځے به اعتبار د عدت سره په اوو قسمونو دي: (۱) ماشومه (۲) بالغه د عمر په وجه چه لا حیض ئے نه وي راغلے (۳) بوډۍ چه حیض ئے بند شوے وي (۴) حامله، د دے څلورو واړو عدت په سورة طلاق په څلورم کښې ذکر شوے دے. (۵) چه حامله نوي او کونډه شوے وي د دے بیان په ۲۳۴ بقره کښې دے (۶) او چه طلاقه شي او ائسه، صغیره، حامله نه وي نو عدت ئے په دے ایت کښې دے (۷) او چه د خلوت صحیحه نه مخکښې طلاقه شي نو بیان ئے په سورة احزاب ۴۹ کښې دے: وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِيْ: الوسي رحمه الله فرمائي چه مراد د مماثلت نه برابري ده په وجوب د حقوقو کښې نه په جنس فعل کښې (روح ۱۳۴) قرینه پرے دا روستو کلام دے: وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ: جناب مفتی صاحب پرزانو د جاهلیت مظالم ذکر کړي دي چه د سړو نه برے

ورته انسان نه وېلو حتی دا چه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ولادت نه بعد او د نبوت نه مخکښې په ۱۳۳ قرانس کښې په ښځه ئے دا احسان وکړو چه انسان دے مګر یا هم د سړي د خدمت د پاره پیدا شوے ده. اوس په دے زمانه کښې چه د اسلام دا غطاط زکید او دور دے د جاهلیت اخري دور شروع شو نو د مخکښې

غلطئ په مقابله کښ بله غلطي شروع شوه چه ښځو ته د دوی سړه آزادئ کوښش شروع شو چه ځما شئ او بے حیائ عامه شوه او دُنیا د فساد او د جګړو د کور رجوع رشو . جاهل یا کمے کوی او یا زیاتے ، اِلَّا جَاهِلٌ اِمَّا مُفْرِطًا اَوْ مُفَرِّطًا

مشهوره مقوله ده عربو ده (معارف

وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ۗ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۲۸﴾ ع ۱۲

او سړو ته د دوی په ښځو باندې درجه ده . او الله تعالیٰ زور اور حکمت والا دے .

اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ ۪ فَاِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ تَسْرِيْحٌۢ

او طلاق (رجعي) د کول دوه کرته دی او بیا ساتل د ښځو دی په ښه طریقه سره او یا پریښودل دی

بِاِحْسَانٍ ۗ وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَاْخُذُوْا مِمَّآ

په ښائسته طریقه سره او حلال نه دی تاسے لره : چه واخلئ د هغه نه چه

اٰتَيْتُمُوْهُنَّ شَيْئًا اِلَّآ اَنْ يَّخَافَآ اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ

ورکړی وی تاسو ښځو ته څه شے مګر هغه وخت چه ویریږی دوارو چه قائم نه کړی حدونه

اللّٰهِ ۗ فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ۙ فَلَا

د الله تعالیٰ پس که ویریږئ تاسو چه قائم به نه کړی دوارو حدونه د الله پس نشته

جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيْمَا افْتَدَتْ بِهٖ ۗ تِلْكَ حُدُوْدُ

ګناه په دوارو په هغه مال کښ چه فدیه ورکړی ښځه . هغه حدونه دی د الله

اللّٰهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا ۚ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ

دی پس تجاوز مه کوئ د دے نه او چا چه تجاوز وکړو د حدونو د الله تعالیٰ نه

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۲۹﴾ فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا

پس دغه کسان هم دوی ظالمان دی . پس که ورکړے طلاق ښځے ته (یعني دریم طلاق) پس

تَحِلُّ لَهٗ مِنْۢ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ ۗ

حلاله به نه وی ده لره پس د دریم طلاق نه تر دے چه نکاح وکړی د خاوند بل سره .

فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ اَنْ يَّتَرَاجَعَآ

پس که دویم طلاق ورکړو ښځے لره پس نشته ګناه په دوارو باندې چه یو بل ته رجوع وکړی

اِنْ ظَنَّآ اَنْ يُّقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ۗ وَتِلْكَ

که دوی ګمان کړی چه قائم به کړی حدونه د الله تعالیٰ = او دغه

حُدُوْدُ اللّٰهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۲۳۰﴾ وَاِذَا

حدونه د الله تعالیٰ دی بیانوی د هغه قوم دپاره چه پوهیږی . او کله چه

مشرک

۵۵۰/۵۳۹) د پښتنو مثل دے یا نه کوی یا شل هغه د دره کوی . اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ : یعني طلاق رجعي ورکول دوه کرته دی . بیا د اعام دی که ښځه بے ساتی او که په ښه د مال کښ ورکوی چه هغه ته خلع ویلے شی . فَاِنْ طَلَّقَهَا : کښ د دریم طلاق ذکر دے په جاهلیت کښ طلاقونه ډیر وو شریعت درے طلاقه پریښودل نور ئے ختم کړل . مسئله : کوم ښځه چه په دریم طلاق طلاقه شی نو د اول خاوند دپاره د جواز پنځه شرطونه دی (۱) د مخکنی خاوند نه به ئے عدت پوره شوی (۲) د عدت نه پس به د بل خاوند سره شرعي عقد وکړی (۳) دویم خاوند به ورسره کور وړلے وکړی (۴) د نزدیکت نه بعد به ورله هغه په خپله خوښۍ طلاق ورکړی (۵) د هغه نه به ئے هم عدت پوره شی . دا شرطونه د دے آیت کریمه او مشهور حدیث نه معلومیږی هغه ته حدیث العُسیلة وائی . وګورئ مشکوٰة ص۲۸۴ . مسئله : جمهور علماء کرام فرمائی چه په یو ځل درے طلاقه ورکول واقع کیږی بلکه ابن عبد البر رحمه الله پدے اجماع رانقل کړے ده او وائی چه د دے نه خلاف د ده سړه ته نظر نشی کولے . (زرقانی شرح مؤطا ص۱۶۷) علامه نووی رحمه الله فرمائی په شرح د مسلم ص۴۷۸ کښ چه فرمائیلی دی شافعی او مالک او ابو حنیفه او احمد او جمهورو علماؤ د مخکنو او روستنو چه درے طلاقه واقع کیږی او طاؤس او بعض اهل ظواهر وئیلی دی چه دریو نه واقع کیږی مګر یو . وګورئ معارف ۵۶۶/۱ ، الهام الرحمٰن ص۳۰ . فائده : لفظ صریح طلاق رجعي دے او غیر صریح بائن دے او درے طلاقه مغلظه دی رجوع په قول یا فعل سره کیدے شی ،

تفصیل ئے په فقه کښې دے. (افضل التراجم ص۱۳۲) نوټ:- د تحلیل د پاره پنځه شرطونه محکښې ذکر شویدي.
"ازکیٰ لکم" معنیٰ ئے داده چه پاکیزه دي ستاسې نفسونو د پاره، او معنیٰ د اطهر پاکي ده ستاسې د دین،

طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ
طلاق ورکړئ تاسې ښځو لره پس نزدې شي نیټې خپلې ته پس حصار ئے کړئ هغوی لره
بِمَعْرُوْفٍ اَوْ سَرِّحُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ وَّلَا تُمْسِكُوْهُنَّ
په ښه طریقې سره (په رجوع سره) او یا خوشې کړئ هغوی لره په ښه طریقې سره او مه حصار وئ دوی لره
ضِرَارًا لِّتَعْتَدُوْا ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ
د پاره د ضرر چه زیاتې پرې وکړئ او چا چه وکړو دا کار پس یقیناً ظلم ئے وکړو
نَفْسَهٗ ؕ وَلَا تَتَّخِذُوْٓا اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا ؗ وَّاذْكُرُوْا
په ځان خپل او مه نیسئ آیتونه د الله تعالیٰ په ټوقو سره او یاد کړئ
نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَمَآ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنَ
نعمتونه د الله چه کړې دي په تاسې او هغه چه نازل کړې دي په تاسې باندې د کتاب
الْكِتٰبِ وَالْحِكْمَةِ يَعِظُكُمْ بِهٖ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ
(قرآن) او سُنت نه وعظ کوي تاسې ته په دې باندې او ویریږئ د الله نه او
اعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٢٣١﴾ وَاِذَا طَلَّقْتُمُ
پوهه شئ چه یقیناً الله په هر شي باندې پوهه دے او کله چه طلاق کړئ
النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ اَنْ
ښځو لره پس ورسیږي عدت خپل ته پس مه منع کوئ هغوی لره چه
يَّنْكِحْنَ اَزْوَاجَهُنَّ اِذَا تَرَاضَوْا بَيْنَهُمْ
نکاح وکړي د خاوندانو خپلو سره کله چه راضي شي په مینځو خپلو کښې
بِالْمَعْرُوْفِ ؕ ذٰلِكَ يُوْعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ
په جائزه طریقه سره، دا حکم چه وعظ کولے شي په دې باندې هغه چا ته چه وي ستاسې نه
يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ ذٰلِكُمْ اَزْكٰى
ایمان لري په الله تعالیٰ او په ورځ د روستنۍ، دا حکم تاسې ته ډیر پاکیزه
لَكُمْ وَاَطْهَرُ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٣٢﴾
د تاسې د پاره او پاک کوونکے دے او الله پوهیږي او تاسې نه پوهیږئ

او د عزت د پاره. (التسهیل ج۱) "یتراضون" د طلاقو په ما بین کښې د ټي ورکولو ذکر په دے وجه او شو چه د طلاقو ورکولو نه بعد د ټي ورکولو، او د ماشوم د پرورش جهګړے په ما بین کښې راځي. د دے وجے نه په دے آیت کریمه کښې ئے د دوارو د پاره معتدل احکام بیان کړه چه د دوارو د پاره آسان وي.

مسئله:- د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد د ټي ورکولو زیاته موده دوه نیم کاله دي او د سورة احقاف ۱۵ نه دلیل نیسي. "وَحَمْلُهٗ وَفِصٰلُهٗ ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا" معنیٰ ئے داسې کوي چه په خیټ کښې د ماشوم او د ټي نه قطع کول دیرش میاشتې دي او د صاحبینو په نزد دوه کاله دي دلیل ئے دا آیت او د سورة لقمان ۱۴ دے او حمل معنیٰ کوي ګیډې حمل. د ښکلي شیخ رحمه الله په "جواهر" کښې د فتح القدیر ج۳ په حواله لیکي، "فکان الاصح قولهما وهو مختار الطحاوي" "پس ډیر صحیح قول د صاحبینو دے او دا مختار د امام طحاوي رحمه الله دے" ❊

وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ: او په وارث باندې په مثل د هغه دي چه په پلار د ماشوم مانو دي يعني خرچه کول دي په مور د ماشوم او د هغې د حقوقو لحاظ او ضرر نه رسول هغې ته: او دا قول د جمهورو دے (ابن کثیر ص ۲۹۳ ج ۱)، د احکم

وَالْوَالِدٰتُ يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ

او میاندے چه دي تي به ورکوي : اولاد خپل ته : دوه کاله :

كَامِلَيْنِ لِمَنْ اَرَادَ اَنْ يُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ ؕ

پوره : چه اراده لري څوک چه پوره کړي موده د تي ورکولو ،

وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ

او په هغه چا چه پیدا شوے لره دے خوراک د دغو ښځو او جامے د دغو ښځو د

بِالْمَعْرُوْفِ ؕ لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ اِلَّا وُسْعَهَا ۚ

عرف موافق ، تکلیف نشي ورکیدے هیڅ یو نفس ته مګر د وس د دغه :

لَا تُضَآرَّ وَالِدَةٌ ۢ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُوْدٌ لَّهٗ

ضرر نشي ورکیدے مور ته په اولاد د دے : او نه پلار ته :

بِوَلَدِهٖ ۚ وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ ۚ

په بچي د هغه : او په وارث باندې په مثل د دغه خرچه دي ،

فَاِنْ اَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَ

پس که چیرے اراده وکړه دواړو د تي پریکولو د تي نه د رضا د دواړو نه ، او د

تَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا ؕ وَاِنْ اَرَدْتُّمْ

مشورے د دواړو نه پس نشته ګناه په دواړو : او که چیرے اراده وکړه تاسو :

اَنْ تَسْتَرْضِعُوْۤا اَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ

چه طلب د تي وکړئ د دائي ګانو نه اولاد خپل لره پس نشته ګناه په تاسو :

اِذَا سَلَّمْتُمْ مَّاۤ اٰتَيْتُمْ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ وَاتَّقُوا

کله چه وسپارئ هغه چه مقرر کړے وي تاسو ښه طریقه سره : او ویریږئ د

اللّٰهَ وَاعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۲۳۳﴾

الله نه او پوهه شئ یقیناً الله تعالیٰ په هغه څه چه تاسو کوئ لیدونکے دے -

وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا

او هغه کسان چه وفات شي له تاسو نه : او پریږدي : ښځے :

هغه دے چه د ماشوم مال نه وي او که چیرے د دوئ د هغه او د مور اخراجات به د هغه د مال نه اداکیږي (جواهر ص ۱۲۱ ج ۱) " وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ: په دے ایت کریمه کښې د کونډے د عدت ذکر دے - مسئله :- د مومنانو د مینده ام حبیبه او ام سلمه نه نقل دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي چه حلال نه دي د هغه ښځے د پاره چه ایمان لري په الله تعالیٰ او په ورځ د اخرت دي چه غم کیني وکړي په یو مړي زیات د دریو شپو نه مګر په خاوند څلور میاشتے او لس ورځے دي. (متفق علیه مشکوٰة ص ۲۸۸ ملاذه) شاه محمد اسحٰق رحمه الله لیکلي دي چه تعزیه کول د وخت د مرګ نه تر دریو ورځو پورے جائز دي او پس د دریو ورځو نه مکروه دي مګر چه تعزیه کونکي یا هغه څوک چه د هغه خواله تعزیت لري حاضر نه وي غائب وي. (مسائل اربعین ص ۳۲) ❁

يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَّعَشْرًا ۚ
انتظار دې کوي په ځانونو خپلو : څلور میاشتې او لس ورځې،
فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا
پس کله چې ورسیږي نیټې د عدت خپل ته پس نشته څه گناه په تاسې باندې په هغه کار کښې چې
فَعَلْنَ فِيٓ أَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۗ وَاللَّهُ بِمَا
کړي دوي په باره د ځانونو خپلو کښې په جائزه طریقه - او الله تعالیٰ په هغه چې
تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿۲۳۴﴾ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُمْ
تاسې کوئ خبردار دے : او نشته څه گناه په تاسې باندې په هغه خبره کښې چې اشاره کړئ
بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَآءِ أَوْ أَكْنَنْتُمْ فِيٓ أَنْفُسِكُمْ ۚ
په هغې سره د مرکې د ښځو ته : او یا پټه اراده کړئ په زړونو خپلو کښې،
عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ سَتَذْكُرُونَهُنَّ وَلَٰكِنْ لَّا
پوهه دے الله چې یقیناً تاسې به ضرور یاد کړئ دوي لره او لکن وعده مه
تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّآ أَنْ تَقُولُوا قَوْلًا
کوئ دوي سره په پټه باندې، مگر دا چې وایئ تاسې : خبره
مَّعْرُوفًا ۚ وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّىٰ
نیکه (اشاره دار) او قصد مه کوئ د تړلو : د نکاح : تر دې چې
يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ ۚ وَاعْلَمُوٓا أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ
ورسیږي عدت (مقرر) خپل نیټې ته : او پوهه شئ چې یقیناً الله تعالیٰ پوهیږي
مَا فِيٓ أَنْفُسِكُمْ فَاحْذَرُوهُ ۚ وَاعْلَمُوٓا أَنَّ
په هغه چې ستاسو نفسونو کښې دي پس ویریږئ د هغه نه او پوهه شئ چې یقیناً
اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿۲۳۵﴾ لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ
الله بخښونکے صابره دے . نشته څه گناه په تاسې باندې که چرې
طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ أَوْ تَفْرِضُوا
طلاق کړئ زنانه تر هغه پورې چې نه وي مسه کړي تاسو دوي لره او نه وي مو مقرر کړے

مِنْ خِطْبَةِ النِّسَآءِ :-
د ښځې د کوندې د کوژدې نه
بیان دے او دوه جائزه
صورتونه او دوه ناجائزه
صورتونه ذکر کړي —
امام نسفي رحمه الله تعالیٰ
فرمائي چې تعریض دے
ته وئیلے شي چې ته ډېره
او وایې یقیناً ته ښائسته
یې یا ځکه یې یا څه
غرض وا د کول دي یا
نورے داسې خبرې
چې خیال کښي ئې راولي
چې دا د نکاح اراده
لري د پاره د دې چې
کله د هغې رغبت وي
نو ځان به هغه ته
حصار کړي ؛
(مدارک ص ۱۱۹ ج ۱)
❖ ❖ ❖

لَهُنَّ فَرِيضَةً ۚ وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ

دوی لره یو مقرر شیٔ (مهر) او سامان ورکړئ دوی ته [illegible] مالدار باندې په قدر د وس د هغه [illegible]

وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا

هغه [illegible] او په غریب باندې په قدر د طاقت د هغه [illegible] سامان په ښه طریقه لازم دی

عَلَى الْمُحْسِنِينَ ﴿۲۳۶﴾ وَإِن طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن

په نیکو کارانو باندې. او که چیرې طلاق ورکړئ تاسو دوی لره

قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ

مخکښې د مس کولو نه او حال دا چې مقرر کړی وی تاسو دوی لره

فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ إِلَّا أَن يَعْفُونَ

مقرر شیٔ (مهر) نو لازم دی نیم د هغه چې مقرر کړی وی تاسو مګر دا چې عفوه وکړی ښځې

أَوْ يَعْفُوَ الَّذِي بِيَدِهِ عُقْدَةُ النِّكَاحِ ۚ وَأَن

یا عفوه وکړی هغه کس چې په لاس د هغه کښې غوټه د نکاح ده، او عفوه کول

تَعْفُوا أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۚ وَلَا تَنسَوُا الْفَضْلَ

ستاسو ډیر نزدې ده پرهیزګارۍ ته، او مه هیروئ مهربانی

بَيْنَكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿۲۳۷﴾

په مینځ کښې. یقینًا الله تعالیٰ ستاسو په عملونو باندې لیدونکے دے.

حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَىٰ

ساتنه وکړئ په ګرد لمونځونو او د خاصکر په مونځ مینځنی (مونځ) او

وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ ﴿۲۳۸﴾ فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا

او ودریږئ الله تعالیٰ ته عاجزی کوونکی. پس که چیرې ویریږئ تاسو نو مونځ کوئ پیاده

أَوْ رُكْبَانًا ۖ فَإِذَا أَمِنتُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَمَا

یا په سورلۍ. پس کله چې امن کښې شوئ تاسو یاد وئ الله تعالیٰ لکه چې

عَلَّمَكُم مَّا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ ﴿۲۳۹﴾ وَالَّذِينَ

ښودلے دے تاسو ته هغه چې نه وئ تاسو پوهیدلے. او هغه کسان چې

وَمَتِّعُوهُنَّ: متعه ورله ورکړئ. سامان ورته ورکړئ. امام ابو حنیفہ رحمه الله فرمائی چې متعه قمیص، زړوکی او څادر دی. (روح ۲/۱۵۳). اَلَّذِیْ بِیَدِهٖ عُقْدَةُ النِّکَاحِ: هغه سړے چې په لاس د هغه کښې غوټه (قبضه) د نکاح ده. په یو روایت کښې راغلی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی "وَلِیُّ عُقْدَةِ النِّکَاحِ الزَّوْجُ" چې مالک د غوټې د نکاح خاوند دے. (قرطبی ۳/۲۰۶، ابن کثیر ۱/۲۸۸، معارف ۱/۵۰۶) وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰی: او خاصکر په مونځ مینځنی باندې. د احکامو په مابین کښې د مانځه د احکامو بیانولو اشاره دې طرفته ده چې مقصود اصلی توجه حق طرفته ده. (معارف ۱/۵۰۶) د قرآن قانون دے چې احکام ذکر کړی نو روستو ترې د مانځه یا د روژې یا د حج حکم وکړی چې د سړی په طبیعت کښې صلاحیت پیدا شی د قبلولو د احکامو (التفسیر المنیر ۲/۳۸۲). په صلوٰة وسطیٰ کښې ډیر اقوال دی. د جمهورو قول دادے چې مونځ د مازیګر دے (مدارک ۱/۱۲۱) ځکه چې مخکښې ترینه دوه مونځونه د ورځې دی او دوه د شپې دی. (قرطبی ۲/۲۱۰) د بخاری شریف ۲/۵۹۰ حدیث کښې راغلی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خندق په غزا کښې وفرمایل کله چې ترینه د مازیګر مونځ فوت شو ورو، چې الله تعالیٰ دې د دوی کورونه او قبرونه د اور نه ډک کړی په دې وجه چې مونږ ئې مشغوله کړو د مونځ مینځنی نه تر دې چې نمر پریوتلو. فَرِجَالًا: معنیٰ دا شوه چې مونځ وکړئ پیدل په زمکه او یا د سورلۍ د پاسه. حضرت تهانوی رحمه الله په بیان القرآن کښې فرمائی چې پیدل تللو کښې مونځ نه کیږی البته چې کله داسې ممکنه نه وی او عین د جنګ وخت وی نو مونځ به قضا کړے شی په بل وخت کښې به وکړے شی. د کورئ معارف ۱/۵۰۹

وَصِيَّةً لِّأَزْوَاجِهِم: "وصیت دې وکړي بیبیانو خپلو لره د نفع ورکولو د — کاله پورې. ډېرو مفسرینو وئیلي دي چه دا حکم په ابتداء د اسلام کښې وو بیا منسوخ شو او عدت څلور میاشتې او لس ورځې دی او په میراث کښې هم برخه شته. (وګورئ ۱۲۲/۱ مدارک، ۵۹۱/۱ معارف ۲۹۲/۱ ابن کثیر، ۲۲۶/۲ قرطبي، ۳۱۸/۱ جصاص، ۱۵۸/۶ کبیر، ۱۵۹/۲ روح، (الهام الرحمٰن ۱۵۵) شیخ القرآن مولانا حسین علی رحمه الله فرمائي چه دا وصیت په استحباب بانو حمل شي نو بیا د منسوخ وئیلو ضرورت نشته او دا استحبابي حکم اوس هم باقي دی. (جواهر ۱۱۶).

أَلَمْ تَرَ ع ۲۴۳: دې ځائې نه ځلورم باب د دریم حصې شروع کیږي او دا د آیت ۲۴۳ پورې دې په دې کښې ترغیب دی قتال ته په مثالونو د مختلفو، په ۲۴۳، ۲۴۴ او په ۲۴۶ کښې قتال او په ۲۴۵ کښې انفاق في سبیل الله دی او په ۲۴۷ کښې شرائط د امیر او په ۲۵۱ او ۲۵۲ کښې حکمت د جهاد او په ۲۵۲ کښې صداقت د رسول ﷺ دی. قاضي ابو السعود حنفي رحمه الله په خپل تفسیر ۲۴۳ کښې لیکلي دي چه دا قوم د بني اسرائیلو نه وو، د دوی بادشاه جهاد ته راوبللو پس دوی وتښتیدل د ویرې د مرګ نه پس مړه کړه دوی لره الله تعالی او ورځې بیا ئې راژوندي کړل. "یُقْرِضُ اللّٰهَ" ترغیب دی انفاق ته حکه جهاد کښې د مال لګولو ضرورت وي. او قرض ئې ورته په دې وجه اوفرمائیل چه بدله به ئې خامخا ورکوي ۱۷ تغابن، ۱۱ حدید، ۲۰ مزمل وګورئ.

يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا ۖ وَصِيَّةً

وفات شي ستاسو نه او پریږدي دوی بیبیانې: وصیت دې وکړي (دوی)

لِّأَزْوَاجِهِم مَّتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ ۚ

د بیبیانو خپلو دپاره د نفع ورکولو: د کاله پورې: نه به دی وباسل د کوري

فَإِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِي مَا فَعَلْنَ فِي

پس که ووتې دوی په خپله پس نشته څه ګناه په تاسو باندې په هغه عمل کښې چه دوی وکړي د

أَنفُسِهِنَّ مِن مَّعْرُوفٍ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٤٠﴾ وَ

ځانونو خپلو دپاره کښې د نیک کار نه، او الله تعالی زورور حکمت والا دی. او

لِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ ﴿٢٤١﴾

طلاق شوو ښځو دپاره سامان ورکول دي د عرف برابر لازم شوي دي په پرهیزګارانو باندې

كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢٤٢﴾

د هغه رنګ بیانوي الله تعالی تاسو دپاره ایتونه خپل دپاره د دې چه د عقل نه کار واخلئ

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا مِن دِيَارِهِمْ وَهُمْ

آیا نه ګورې ته هغه کسانو ته چه وتلي وو: د کورونو خپلو نه: او دوی

أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ اللَّهُ مُوتُوا

په زرګونو وو، د ویرې د مرګ نه پس ووئیل دوی ته الله تعالی مړه شئ (نو

ثُمَّ أَحْيَاهُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ

مړه شول) بیا ئې ژوندي کړل یقینا الله تعالی خاوند د فضل دی په خلقو باندې

وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٢٤٣﴾ وَقَاتِلُوا

ولیکن ډیر د خلقو نه شکر نه وباسي: او جنګ کوئ

فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ

په لاره د الله تعالی کښې او پوهه شئ چه یقینا الله تعالی: اوریدونکی او

عَلِيمٌ ﴿٢٤٤﴾ مَّن ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا

پوهه دی، څوک دی هغه کس چه قرض ورکړي: الله تعالی ته قرض: ښه

مسئله: دنهم ۱۲۱، تنهم ۱۵، قتال، انفاق

فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗۤ اَضْعَافًا كَثِيْرَةً ؕ وَاللّٰهُ يَقْبِضُ وَ

پس زیات به ئے کړي دغه قرض ده ته زیاتیانه ډیر ډیر سره : او الله تعالیٰ تنګي راولي ، او

يَبْصُۜطُ ۪ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۴۵﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الْمَلَاِ

فراخي راولي ، او خاص دغه ته به ورپسې تاسو ورګرزولی شئ ۔ آیا نه ګورې ته دې طرف د ډلې ته

مِنْۢ بَنِیْۤ اِسْرَآءِيْلَ مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰی ۘ اِذْ قَالُوْا

د بني اسرائیلو نه ، پس د موسیٰ ؑ نه ، کله چې وویل دوی

لِنَبِیٍّ لَّهُمُ ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَاتِلْ فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ

نبي خپل ته مقرر کړه زمونږ د پاره یو بادشاه چې جنګ به کوو په لاره د الله تعالیٰ کښې

قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ اِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ

وویل هغه : یقیناً نزدې یئ تاسو ستاسو کچرې فرض کړے شي په تاسو باندې جنګ کول ،

اَلَّا تُقَاتِلُوْا ؕ قَالُوْا وَمَا لَنَاۤ اَلَّا نُقَاتِلَ فِیْ سَبِيْلِ

چې ونه به جنګیږئ ، وویل دوی : او څه دي مونږ لره چې نه جنګیږو مونږ په لاره د

اللّٰهِ وَقَدْ اُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا وَاَبْنَآئِنَا ؕ فَلَمَّا

الله کښې او حال دا دے چې را وشړلي شوي یو مونږ د کورونو خپلو نه او د ځامنو خپلو نه ، پس هر کله چې

كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ ؕ

فرض کړے شو په دوی جنګ کول ، نو وګرزیدل ، مګر لږ د دوی نه ،

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۴۶﴾ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ

او الله تعالیٰ ښه خبر دے په ظالمانو باندې : او وویل دوی ته : نبي د دوی

اِنَّ اللّٰهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوْتَ مَلِكًا ؕ قَالُوْۤا

چې یقیناً الله مقرر کړے تاسو لره : طالوت : بادشاه ، وویل دوی

اَنّٰی يَكُوْنُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ اَحَقُّ بِالْمُلْكِ

څنګه به شي ده لره بادشاهي په مونږ باندې او مونږ ډیر حقدار یو په بادشاهۍ

مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ ؕ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ

د ده نه او نه دے ورکړے شوے ده ته فراخي د مال : وویل نبي : یقیناً الله تعالیٰ

اَلَمْ تَرَ ﴿۲۴۶﴾ : دا دویم ترغیب دے ۔ د نبي نصرت شمویل علیه السلام دے په نزد د ډیرو مفسرینو (روح ص ۱۶۴) د دې نه معلومه شوه چې جهاد بغیر د امیر او د هغه د اطاعت نه بغیر نشي کیدے ۔ دا واقعه د حضرت عیسیٰ علیه السلام نه تقریباً زر کاله مخکښې وه (ابن کثیر) ۔ هَلْ عَسَيْتُمْ ۔ د عسیتم خبر اَنْ لَا تُقَاتِلُوْا دے او شرط اِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ په مابین کښې راغلے دے ۔ معنیٰ دا شوه چې کچرې په تاسې جنګ کول فرض شي نو بیا یقیناً نزدې یاستئ تاسې چې جنګ به ونکړئ ۔ دغه ترکیب اصلاح ص ۱۰۳ کښې ذکر شوي ۔

فَلَمَّا كُتِبَ : پس هر کله چې په دوی جنګ فرض شو نو ښځې اوشوه شک چه ورته د وخت نبي علیه السلام وئیلي وو ۔ دلته اجمال دے تفصیل ئے راروان دے چه طالوت چه ورله بادشاه مقرر شو نو هغوی پرے اعتراض وکړو بیا شرائط د امیر ذکر شوي دي ❊

فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ: دَعلم نه مراد بعلم د دين او د سياست دے او د جسم نه مراد زيات همت او شجاعت دے
مطلب دا دے چه په جنګي امورو ښه پوهيږي او همت ناک هم دے ميدان ته حاضريږي: اَلتَّابُوْتُ:

اصْطَفٰىهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهٗ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ ؕ

غوره کړے دے دَهٔ لره ستاسو باندې او زيات کړے يې دَهٔ لره فراخي په علم او جسم (همت) کښې

وَاللّٰهُ يُؤْتِيْ مُلْكَهٗ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۴۷﴾

او الله ورکوي بادشاهي خپله چا لره چه خوښه يې شي او الله فراخ (احسان) کوونکے په هر څه

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اٰيَةَ مُلْكِهٖۤ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ

او ويل دوي ته نبي د دوي يقينًا نښه د بادشاهۍ دده دا ده چه راشي تاسو ته

التَّابُوْتُ فِيْهِ سَكِيْنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا

صندوق چه وي په هغه کښې ډاډګيرنه (تسلي) د رب ستاسو نه او پاتې شوي (علم) د هغه

تَرَكَ اٰلُ مُوْسٰى وَاٰلُ هٰرُوْنَ تَحْمِلُهُ الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ

چه پرېښې دي خاندان د موسٰی او خاندان د هارون راوړي به دي هغه لره ملائک:

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۲۴۸﴾ ع ۳۲

يقينًا په دې کښې دي ستاسو دپاره لوئي نښه که چرې يئ تاسو ايمان راوړونکي

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوْتُ بِالْجُنُوْدِ ۙ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ

پس هر کله چه راووتلو طالوت سره د لښکرو نه نو وې ويل يقينًا الله

مُبْتَلِيْكُمْ بِنَهَرٍ ۚ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّيْ ۚ وَ

امتحان کوونکے دے ستاسو په نهر سره پس چا چه وڅښلے د هغه نه نو نه دے زما د ملګرو او

مَنْ لَّمْ يَطْعَمْهُ فَاِنَّهٗ مِنِّيْۤ اِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ

چا چه ونه څکلو د هغه نه پس يقينًا هغه زما د ملګرو دے مګر هغه څوک چه راواخلي

غُرْفَةًۢ بِيَدِهٖ ۚ فَشَرِبُوْا مِنْهُ اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ ؕ

ګوټ په لاس خپل پس اوبه وڅښلې د هغه نه مګر لږو د دوي نه

فَلَمَّا جَاوَزَهٗ هُوَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ۙ قَالُوْا

پس هر کله چه پورې وتلو دَهٔ طالوت او هغه کسان چه ايمان ئې راوړے وو د ده سره نو وې ويل

لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ ؕ

و طاقت نشته مونږ لره نن په مقابله د جالوت او د لښکرو د هغه کښې

منزل ۱

صندوق چه په هغې کښې تورات وي د زړه تسلي نه او پاتې شوي په دې خاندان د موسٰی او خاندان د هارون. يا آل يعني ذاتي دے پاتې شوي د موسٰی او هارون علیهما الصلاة د تسکين نه مراد تورات دے ځکه چه دا الله تعالی کتاب سبب د تسلي او د زړه د آرام وي او د بَقِيَّةٌ نه مراد نور احکامات وي چه د هغوي دواړو نه ثابت شوي دي ځکه بقيه علم او عقل ته ويلے شي. وګورئ سورة هود ۸۶ ۱۱۶. **مسئله:-** کچرې د باقي نبيانو نه مراد د هغوي نور نبيانو وي او تبرکات وي نو شاه نور شيخ رحمه الله په نثر المرجان ۲۳۸ کښې ليکلي دي چه د اصول فقهي مسئله ده چه کوم شے معقول نه وي لکه تبرک او نص کښې راغلي لکه ويښتهٔ د نبي علیه السلام په حجة الوداع کښې تقسيم شوي په دغه به قول کوو او ورباندې به نه تعديت نکوو. شيخ القرآن رحمه الله به فرمائيل چه قياس د غير معصوم په معصوم باندې چه انبياء علیهم السلام دي نه شي کيدے تَحْمِلُهُ الْمَلٰٓئِكَةُ چه راوړے به وي ملائکو. ابن عباس رض فرمائي چه ملائکو په مابين د آسمان او زمکې کښې راوړې وه او د طالوت مخې ته ئې کيښودو او خلقو ورته کتل (ابن کثير ۲۲۳). فَلَمَّا فَصَلَ کوم چه د طالوت سره لښکرے راووتلے نو هغوي د غير مخلصا نو نه

مخلصانو د بيلولو دپاره وفرمائيل چه الله تعالی امتحان کوي ستاسو باندې په ولے سره. مطلب دا چه جهاد په هوش سره وکيږي نه په خوښ سره (...) نه کيږي. فَلَيْسَ مِنِّيْ مطلب دا چه هغه زما د ملګرو نه دے د جنګ کښې نه وي. (قرطبي ۳/۲۵۱) وَمَنْ لَّمْ يَطْعَمْهُ چا چه ونه څکلے ولے ترے (ذوق) څکل مراد دي. (مسائل الرازي ۳۵) اِلَّا قَلِيْلًا [illegible]

وَسْكُمْ: بخاری شریف ۲/۵۶۳ کښې د براء رضی الله عنه نه نقل راغلی چه مونږ به ویل چه څاوندان د بدر د غزا د بدر د بره دریے
سوه او څو پاسه ووه په اندازه د شهید د ملګرو د طالوت صاحب کوم چه د هغه سره د نهر نه پورے وتلی وو. او دغه
پوره وتی د هغه سره ملګر (کامل) مؤمنان وو. تفسیر مظهری ۲/۷۱۲

قَالَ الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوا اللّٰهِ ۙ كَمْ
نو ویل هغه کسانو چه یقین ئے کولو چه یقیناً دوی ملاقات کونکی دی الله سره، ډیر کرته
مِّنْ فِئَةٍ قَلِيْلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيْرَةً ۢ بِاِذْنِ
ډله لږه غالب شوے ده په ډلے ډیرے، په حکم د
اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿٢٤٩﴾ وَلَمَّا بَرَزُوْا
الله پاک او الله تعالی خاص ملګرے د صبر کونکو دے. او هر کله چه میدان کښې وړاندے شو
لِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ قَالُوْا رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَيْنَا
دوی جالوت او لښکر د هغه ته نو ویل دوی اے رب زمونږه راتوئ کړه په مونږ
صَبْرًا وَّثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى
صبر لره او مضبوط کړه قدمونه زمونږ، او امداد او کمک وکړه زمونږ ته په
الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٥٠﴾ فَهَزَمُوْهُمْ بِاِذْنِ
قوم کافرانو باندے. پس شکست ورکړه دوی هغوی لره په حکم د
اللّٰهِ ۙ وَقَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوْتَ وَاٰتٰىهُ اللّٰهُ
الله تعالی او مړ کړو داؤد علیه السلام جالوت کافر لره او ورکړه دغه ته الله پاک
الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهٗ مِمَّا يَشَآءُ ۗ وَلَوْلَا
بادشاهی او پوهه د دین (نبوت) او وئے ښودلو ده ته د هغه څیزونو نه الله، او که چرے نه وے
دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ ۙ لَّفَسَدَتِ
دفع کول د الله تعالی خلقو لره بعض د دوی نه په بعض باندے نو خامخا وران شوے به وو
الْاَرْضُ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٥١﴾
زمکه ولاکن الله تعالی څاوند د فضل دے په مخلوق باندے.
تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ؕ
دغه آیتونه دالله دی چه لولو دغه لره په تا باندے په حقه سره.
وَاِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٢٥٢﴾
او یقیناً ته خامخا د لیږلے شوو پیغمبرانو نه ئے.

منزل ۱

کښې دی چه دوی درے سوه دیارلس (۳۱۳) وو. جنګ چه د بدر په ورځ شهید دے. رَبَّنَآ اَفْرِغْ دا د مجاهدینو دعا ده. وَقَتَلَ دَاوٗدُ: او داؤد علیه السلام جالوت کافر لره مړ کړو. داؤد د طالوت صاحب په لښکر کښې وو. د طالوت صاحب نه بعد ورته نبوت او حکومت دواړه ورکړے شو. مِمَّا يَشَآءُ: د هغه نه چه الله ئے خوښ کړل. یعنی زغرے به ئے د جهاد دپاره جوړولے. سورت انبیاء ۸۰ او سورت سبا ۱۱ وګورئ. وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ: په دیکښې حکمت د مشروعیت د جهاد دے. سورت حج ۴۰ کښې هم حکمت د جهاد ذکر دے.

واقعه:

حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی چه په اسرائیلیاتو کښې ذکر دی چه طالوت صاحب ورته وئیلی وو، که جالوت د مړ کړے نو لور به درله درکړم او نیم حکومت به درکړم. (ابن کثیر) مطلب دا چه دا د یهودیانو قصے دی. د الله نبی د لالچ په بنیاد جهاد نکوی هغه معصوم وی د لالچ نه. هغه چه څه کوی نو د الله تعالی د رضا دپاره ئے کوی. وَاِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ: په دیکښې صداقت د رسول الله صلی الله علیه وسلم ذکر دے چه څوک امی واقعه د بیان کړی نو دا په وحی سره نو خامخا ته رسول لیږلے شوے ئے.

دوهم ځل تصحیح ۸ صفر المظفر ۱۴۳۸ھ ــ ۱۰/۱۲/۲۰۱۶ء
نظرثانی: ورځ د سه شنبے ۲۳ صفر ۱۴۲۸ھ ــ ۱۳ مارچ ۲۰۰۷ء

تِلْكَ الرُّسُلُ :- مخکښې ئې وفرمائیل : وَإِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ، اوس داخبره واضحه کوي چه پیغمبران علیهم السلام د ټولو مخلوقو نه غوره دي او افضل دي البته د دوی په مابین کښې جزئي فضیلت شته دے. او د دوي پیغمبرانو ذکرئه تفصیلي وکړو (۱) د بعضو سره الله تعالیٰ خبرے کړے وے چه هغه موسیٰ کلیم الله دے (۲) بعضو له ئې درجے اوچتے کړې دي چه هغه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دے (۳) او عیسیٰ علیه السلام ته ئې واضح معجزے ورکړے وے او تائید ورله په روح پاک باندې کړے و. امام رازي رحمه الله په تفسیر کبیر ص۲۵ کښې فرمائي چه اجماع کړیده امت په دے باندې چه بعض انبیاء افضل د نورو نه دي او په دے باندې چه محمد صلی الله علیه وسلم افضل د ټولو نه دے.

وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ : دا دوېم علت د مشروعیت د قتال دے. او د دوه ځلے ذکر دے ځکه آیت کښې د تاکید د پاره. يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ۲۵۴ :- د دے ځائے نه څلورمه حصه په انفاق في سبيل الله کښې شروع شوه او دا هم څلور کرته ذکر ده. (۱) ۲۵۴ (۲) ۲۶۱ (۳) ۲۶۵ (۴) ۲۷۴.

او په دیکښې څلور بابونه دي: اول باب تر ۲۶۰ پورے په دیکښې څلور خبرے دي: ۱: دعوی د انفاق ۲۵۴. ۲: دعوی د توحید د پاره نفي شفاعت قهري ۲۵۵. ۳: ذکر د دوه فریقونو ۲۵۶ کښې. ۴: د بچ شالو نه ئې د اولیاء الشیطان په ۲۵۸ کښې. دوه د پاره د اولیاء الرحمن په ۲۵۹، ۲۶۰ کښې. أَنفِقُوا مِمَّا :- مدارک فرمائي په ص۱۲۶ کښې چه ترجیح ورکړې ده په جهاد في سبيل الله کښې او دا عام دے هرې

البقرة ۲ ۶۵

تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۘ مِّنْهُم

دغه رسولان غوره کړي دي موږ د بعض د دوی نه په بعض د دوی باندې، بعض د دوی

مَّن كَلَّمَ اللَّهُ ۖ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَاتٍ ۚ وَآتَيْنَا

هغه دي چه خبرې ورسره کړي الله، او اوچتې کړې ئې بعض د دوی په درجو، او ورکړې موږ

عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنَاتِ وَأَيَّدْنَاهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ ۗ

عیسیٰ ځوی د مریم ته ښکاره معجزے، او مضبوط کړے مو دے په روح پاک سره

وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا اقْتَتَلَ الَّذِينَ مِن بَعْدِهِم مِّن

او که خوښه الله نو جنګ به نه وے کړے هغه کسانو چه روستو وو د دوی نه روستو د

بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَلَٰكِنِ اخْتَلَفُوا فَمِنْهُم

هغه نه چه راغلے وے دوی ته ښکاره دلیلونه، ولا کن اختلاف ئې وکړو پس بعض د دوی

مَّنْ آمَنَ وَمِنْهُم مَّن كَفَرَ ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا اقْتَتَلُوا

هغه دي چه ایمان ئې راوړو او بعض د دوی هغه دي چه کفر ئې وکړو، او که خوښه الله نو جګړه به ئې نه وے کړے

وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴿٢٥٣﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

ولا کن الله کوي هغه چه اراده ئې وکړي. اے ایمان والو!

أَنفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا

خرچ کړئ د هغه څیز نه چه درکړے مو دے تاسو ته مخکښې د دے نه چه راشي هغه ورځ چه نه به وي

بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خُلَّةٌ وَلَا شَفَاعَةٌ ۗ وَالْكَافِرُونَ

خرڅول په هغې کښې او نه دوستانه او نه سفارش (کافرانو له) او کافران هم

هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿٢٥٤﴾ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ

دوی لوئے ظالمان دي. الله نشته لائق د عبادت سوا د هغه نه، همیشه ژوندے او

الْقَيُّومُ ۚ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ ۚ لَّهُ مَا فِي

انتظام کوونکے دے، نه نیسي هغه لره پرکالي او نه خوب، خاص هغه لره دي هغه چه دي

السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ مَن ذَا الَّذِي

په اسمانونو کښې او هغه چه په زمکه کښې دي، څوک دے هغه کس چه

منزل

صدقے واجبے لره. وَلَا خُلَّةٌ :- د کافرانو دوستانے به نه وي او د متقیانو به وي. وګورئ سورة زخرف ع۶۷ -
وَالْكَافِرُونَ :- او کافران ځکه ظالمان دي چه لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ مسئله د توحید نه مني. اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ :
دے آیت کریمه ته آية الكرسي ویلے شي ځکه چه د کرسي ذکر پکښې دے او په حدیث کښې ورته اعظم آية ویلے

کښې ویلوئے ایت دَقرآن وِتلے شوی دے. (تفسیر قاسمی منه، وګورئ ۲: اندلسی رحمه الله په "النهر الماد" منه، کښې فرمائی چه دا ایت په لښتو والی چه (الظر په بغوی) لوستلو دے کښې ډیر ثواب (ابن کثیر رحمه الله په منه).

مستقل جملو مشتمل دے. شیخ القرآن رحمه الله په فرمایل چه دَ الله تعالیٰ نو مونه کښې څه صراحةً او څه ضمناً شروپه ضمن کښې ۱۷ یا ۱۸ ځلے ذکر دی. لآ اِكْرَاهَ فِي الدِّيْنِ:- دا دَ مخکښې ایت سره لګی چه عقیده په بغیر دَ ادراک زړه نو بانو زور نشی کیدے یا دَ قتال او انفاق سره لګی چه قتال وکړی او انفاق وکړی دَ پاره دَ دفاع، نه دَ پاره دَ اِكراه. اِكراه: زور لګول په منلو دَ دین کښې ځکه نشته چه دَ ایمان تعلق زړه سره دی او په زړه باندی (جبر) زبردستی نشی کیدے. بل وجه دَ ایمان خوبی په داګه وه نو ولی خیر خیر دے نو جبر ته څه ضرورت دے وګورئ جواهر منه "دَ جهاد مقصد هم دا دے چه دَ دُنیا نه ظلم او ستم ختم او شی او عدل او انصاف او امن و امان قائم شی. حضرت عمر رضی الله عنه یو نصرانی بوډی ته دَ اسلام دعوت ورکړو هغے اوویل څه بوډی یم او مرګ راته نزدے دے نو آخری وخت کښې خپل مذهب څنګه پریږدم. عمر رضی الله عنه وفرمایل: اے الله! ته ګواه شه. او دا ایت ئے تلاوت کړو. مطلب دا چه هغه ئے مجبوره نکړه. وګورئ معارف منه. قرطبی منه. اَلطَّاغُوْتُ جوهری رحمه الله وائی چه طاغوت ترو بتی او شیطان او هر مشر د ګمراهئ کښې (قرطبی منه) سورة نساء ملاحظه. سورة نحل منه وګورئ. خا تمه اِلَی الَّذِیْ

يَشْفَعُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ

سفارش وکړی په وړاندې دَ هغه کښې مګر په اجازه دَ هغه، پوهیږی په هغه چه مخکښې دَ دوی دی

وَمَا خَلْفَهُمْ ۚ وَلَا يُحِيْطُوْنَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖٓ

او په هغه چه روستو دَ دوی دی او احاطه نشی کولے دوی په یو شی دَ علم دَ الله تعالیٰ

اِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ۚ

مګر په هغه چه وغواړی الله، راګیر کړی دی کرسئ دَ هغه دَ اسمانونو او زمکے نه

وَلَا يَئُوْدُهٗ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ﴿٢٥٥﴾ لَآ

او نه ستړے کوی هغه لره ساتل دَ دواړو او الله دَ اوچتو صفتونو لوئے دے. نشته

اِكْرَاهَ فِي الدِّيْنِ ۙ قَدْ تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ ۚ

زور کول په منلو دَ دین کښې، یقیناً ښکاره شویده سمه لاره دَ ګمراهئ نه.

فَمَنْ يَّكْفُرْ بِالطَّاغُوْتِ وَيُؤْمِنْ ۢ بِاللّٰهِ فَقَدِ

پس چا چه انکار وکړو په بندګئ دَ ماسوی الله او ایمان ئے راوړو په الله، پس یقیناً

اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى ۗ لَا انْفِصَامَ لَهَا ۗ

منګلے ئے ولګولے په کړئ مضبوطے، نشته شکیدل دَ دے لره،

وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٥٦﴾ اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او الله ښه اوریدونکے پوهه دے. الله دوست امداد کوونکے دَ هغه کسانو دے چه ایمان ئے راوړے

يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۬ ؕ وَالَّذِيْنَ

راوباسی دوی لره دَ تورتمونو نه رڼا ته، او هغه کسان چه

كَفَرُوْٓا اَوْلِيٰٓـــُٔهُمُ الطَّاغُوْتُ ۙ يُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ

کفر ئے کړے دوستان ئے شیطانان دی، راوباسی دوی لره دَ رڼا

النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ؕ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ

نه طرف دَ تورتمونو ته، دغه کسان خاوندان دَ اور دی،

هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢٥٧﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْ حَآجَّ

دوی به په دغه کښې همیشه اوسیدونکی وی. ایا ته نه ګورے هغه کس ته چه جګړه ئے وکړه

ترجمه:- دا مثال دَ اولیاء الشیطان دے. معنی ئے دا ده چه ایا ته نه ګورے هغه کس ته چه جګړه ئے وکړه دَ ابراهیم علیه السلام سره په وجود دَ رب دَ هغه کښې ځکه چه دا منکر وو چه بل اِلٰه دَ غیر دَ هغه نشته دی وګورئ ابن کثیر منه. آلوسی رحمه الله لیکلی دی چه مراد ترینه نمرود خوئے دَ کنعان دے او دا اولنے دَ

جب برو نه وُو چه دعوی ئے د رُبوبیّت کړے وه خُکه چه مباهثہ اونور و دلیلی دی. (روح المعانی ص۲)
شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل چه هغه دومره کم عقل وو څکه ئے نوم په قرآن کښې نه دے ذِکر شوے. د ابراهیم

اِبْرٰهٖمَ فِیْ رَبِّهٖٓ اَنْ اٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ ۘ اِذْ
د ابراهیم سره په رب د هغه کښې لدې وجې چه ورکړے وو هغه ته الله بادشاهی، کله چه
قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّیَ الَّذِیْ یُحْیٖ وَ یُمِیْتُ ۙ قَالَ
او وئیل ابراهیم رب زما هغه ذات دے چه ژوندی کول کوی او مړه کول کوی، نو وئیل هغه
اَنَا اُحْیٖ وَ اُمِیْتُ ؕ قَالَ اِبْرٰهٖمُ فَاِنَّ اللّٰهَ یَاْتِیْ
چه زه ژوندی کول کوم او مړه کول کوم، وئیل ابراهیم پس یقیناً الله تعالیٰ راولی
بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَاْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ
نمر لره — د مشرق نه، پس ته راوله دا د مغرب نه،
فَبُهِتَ الَّذِیْ كَفَرَ ؕ وَ اللّٰهُ لَا یَهْدِی الْقَوْمَ
پس حیرانه کړے شو هغه کس چه کفرئے کړے وو، او الله تعالیٰ هدایت نکوی قوم
الظّٰلِمِیْنَ ۚ﴿۲۵۸﴾ اَوْ كَالَّذِیْ مَرَّ عَلٰی قَرْیَةٍ وَّ هِیَ
ظالمانو ته — او آیا نه گورے هغه کس چه تیر شو په یو کلی باندې، او هغه
خَاوِیَةٌ عَلٰی عُرُوْشِهَا ۚ قَالَ اَنّٰی یُحْیٖ هٰذِهِ اللّٰهُ
نسکور راپرېوتے وو په چتونو باندې، وئیل چه څنګه به ژوندی کوی دا کلے الله تعالیٰ
بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ فَاَمَاتَهُ اللّٰهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهٗ ؕ
پس د مرګ د دې نه، پس وفات کړو دے لره الله تعالیٰ سل کاله، بیائے ژوندے کړو دے لره
قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ؕ قَالَ لَبِثْتُ یَوْمًا اَوْ بَعْضَ یَوْمٍ ؕ
وئیل الله تعالیٰ څومره موده تیره کړې تا؟ وئیل هغه دا یوه ورځ تیره کړے وه یا بعضے د ورځې
قَالَ بَلْ لَّبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ فَانْظُرْ اِلٰی طَعَامِكَ
وئیل الله تعالیٰ بلکه تا تیر کړی سل کاله، پس وګوره خوراک خپل ته،
وَ شَرَابِكَ لَمْ یَتَسَنَّهْ ۚ وَ انْظُرْ اِلٰی حِمَارِكَ وَ
او څکاک خپل ته، نه دے خراب شوے، او وګوره خره خپل ته چه ډیلی ئے ورستی او
لِنَجْعَلَكَ اٰیَةً لِّلنَّاسِ وَ انْظُرْ اِلَی الْعِظَامِ
چه وګرځوو تا لره نښانه د خلقو د پاره، او وګوره هډوکو د خره ته چه

علیه السلام دلیل لاینحل شوے نه وو چه دا د غبرے په سینه کښې راوړو اشکال او وئے وئیل چه اَنَا اُحْیٖ وَاُمِیْتُ چه زه هم ژوندی کول او مړه کول کولے شم. کله چه ابراهیم علیه السلام دلیل پوره کړو نو دے حیرانه او لاجوابه شو. اَوْ كَالَّذِیْ: کاف پکښې زیاتی دے او اَلَّذِیْ په تکښې اَلَّذِیْ باندې عطف دے معنی داشوه: او آیا نه ګورے هغه سړی ته — (مدارک). اَوْ كَالَّذِیْ مَرَّ: اکثر مفسرین رحمهم الله فرمائی چه مراد تری عُزیر علیه السلام دے. اراده ئے لدې چه د مړو د ژوندی کولو معاینه وکړی چه بصیرت ئے زیات شی څنګه چه دا د مطالبه ابراهیم علیه السلام هم کړے وه (مدارک ص۱۳۵) دا مثال د اولیاء الرحمٰن دے. فَلَمَّا تَبَیَّنَ لَهٗ: اووتو دا عبارت د راتلونکے صفحې نه سره متعلق دے. فاعل ئے پټ دے قرینه په دې د آیت آخری سر دے او په هغه اکتفاء شوے ده. معنی دا شوه چه کله واضح شو هغه ته دا خبره چه الله تعالیٰ په هر شی باندې قادر دے — (وګورئ مدارک ص۱۳۵) —
مسئله: — ددے واقعے معلومه شوه چه په حالت د مرګ کښې دا جلیل القدر پیغمبر علیه السلام د شپې او ورځې د اختلاف او د زمانے د انقلاباتو نه بالکل بے خبره ؤو، او ددے واقعے نه د مړو د اوریدو نفی هم کیږی. (وګورئ جواهر ص۲۰).

وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِيمُ :- دا دوېيم مثال دَ اولياء الرحمن دے. قرطبي رحمه الله ليكلي دي چه دَ إبراهيم عليه السلام شك نه وو، بلكه دَ معائنې مطالبه ئے كوله ج٣ ص٢٩٧. دَ پښتنو مثل دے "دَ لیدو او آوريدو ډېر فرق دے"

كَيْفَ نُنْشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًا فَلَمَّا تَبَيَّنَ

څنګه خوزوو دغه هډوكي بيا اغوندوو دغو ته غوښه. پس هر كله چه ښكاره شو

لَهُ قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ اللّٰهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٥٩﴾

دَه ته، دا وئيل پوهېږم چه يقيناً الله تعالیٰ په هر څيز باندې قدرت والا دے.

وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِيمُ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِ

او كله چه او وئيل ابراهيم عليه السلام رب زما ما ته ښكاره كړه چه څنګه ژوندي كوے ته

الْمَوْتَىٰ قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِن قَالَ بَلَىٰ وَلٰكِن

مړو لره؟ او وئيل الله: آيا او ته يقين نه لرے؟ دَه وئيل هغه ولې نه، او لېكن

لِيَطْمَئِنَّ قَلْبِي قَالَ فَخُذْ أَرْبَعَةً مِّنَ الطَّيْرِ

دَ دې دپاره چه مضبوط شي زړه زما، او وئيل الله: پس راونيسه څلور لره دَ مارغانو نه،

فَصُرْهُنَّ إِلَيْكَ ثُمَّ اجْعَلْ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٍ

پس آموخته كړه دغه لره ځان سره، بيا وګرځوه په هر غره باندې

مِّنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ادْعُهُنَّ يَأْتِينَكَ سَعْيًا

دَ دغو نه يوه ټكړه، بيا راوبله دغو لره، را به شي تا ته تاته - په منډه به،

وَاعْلَمْ أَنَّ اللّٰهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٦٠﴾ مَّثَلُ الَّذِينَ

او پوهه شه يقيناً الله تعالیٰ زور او حكمت والا دے. مثال دَ هغه كسانو چه

يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ

لګوي مالونه خپل په لاره دَ الله تعالیٰ كښې، په مثل دَ دانې دے

أَنبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنبُلَةٍ مِّائَةُ

په زرغون كړي، اووه وږي، په هر وږي كښې سل

حَبَّةٍ وَاللّٰهُ يُضَاعِفُ لِمَن يَشَاءُ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ

دانې دي، او الله تعالیٰ زياتوي دغه څو چنده دَ هغه چا دپاره چه رضا ئے وي، او الله تعالیٰ فراخي والا دے

عَلِيمٌ ﴿٢٦١﴾ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي

پوهه دے. هغه كسان چه لګوي مالونه خپل، په

فَصُرْهُنَّ :- دَ صاد په پېښ سره معنیٰ داده چه آموخته ئے كړه دَ ځان سره او په زير سره معنیٰ داده چه ټوټې ټوټې (قيمه) ئے كړه. دَ كورئ مظهري ج١ ص٣٧٣. عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٍ :- دَ څلورو شا غرونه ترينه مراد دي، ټول غرونه مراد نه دي. دَ كورئ "جواهر" ج١. فائده :- دَ څلورو مرغو په تعيين كښې دَ مفسرينو رحمهم الله اختلاف دے اګرچه څه فائده ئے په تعيين كښې نشته. څکه چه څه فائده ئے په تعيين كښې وے نو قرآن به ئې وضاحت كړے وے. (دَ كورئ تفسير ابن كثير ج١ ص٣١٥) —

مَثَلُ الَّذِينَ :- دَ دے ځائے نه تر ص٢٧٣ پورے دوېم باب دے. په دې كښې درې خبرې دي (١) څلور مثالونه دي دَ خرچ كونكي في سبيل الله ص٢٦١ ص٢٦٥ او دوه دَ خرچ كونكو في غير سبيل الله په ص٢٦٤ ص٢٦٦ (٢) پنځه شرطونه دَ إنفاق دوه سلبي په ص٢٦٢ او درې ايجابي په ص٢٦٥ كښې دوه اوبل په ص٢٦٧ كښې. (٣) او دوه امور چه تعلق لري دَ إنفاق في سبيل الله سره. فِي سَبِيلِ اللّٰهِ :- قرطبي رحمه الله وائي چه دَ الله تعالیٰ لارے ډېرے دي او لويه ترينه جهاد دے چه كلمه دَ الله تعالیٰ اوچته شي. ج٣ ص٣٠٣. فائده :- په يو حديث كښې دَ عمران بن حصينؓ

راځي چه رسول الله ﷺ فرمایلي دي چه څوک نفقه په لاره د الله تعالیٰ کښې ولیږي او ورسره په کور کښې اوسیږي د هر درهم په بدل کښې اوه سوه روپئ او اوه سوه روپئ دي په ورځ د قیامت؛ او چه څوک په غزا وکړي په لاره

سَبِيلِ اللّٰهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُوْنَ مَآ اَنْفَقُوْا مَنًّا وَّلَآ

لارې د الله تعالیٰ بیا نه ورپسې کوي هغه چه خرچ کړي وي احسان او نه

اَذًى ۙ لَّهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ

ضرر، دوی لره اجر د دوی دی په نزد د رب د دوی – او نه به وي ویره

عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٢٦٢﴾ قَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ وَّ

په دوی باندې او نه به دوی غمژن کیږي – وینا ښه او

مَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّنْ صَدَقَةٍ يَّتْبَعُهَآ اَذًى ۗ

بخښنه غوره ده د هغه صدقې نه چه ورپسې کیږي ضرر،

وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَلِيْمٌ ﴿٢٦٣﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا

او الله تعالیٰ غني دے صبر ناک دے – اے ایمان والو! مه

تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى ۙ كَالَّذِيْ

برباد وئ خیراتونه خپل په رټلو سره او په تکلیف ورکولو، په شان د هغه چا

يُنْفِقُ مَالَهٗ رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ

چه لګوي مال خپل د پاره د ښودلو د خلقو او ایمان نه راوړي په الله تعالیٰ

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۖ فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ

او ورځ د روستنۍ باندې، پس مثال د ده په شان د ... او چه وي په هغه

تُرَابٌ فَاَصَابَهٗ وَابِلٌ فَتَرَكَهٗ صَلْدًا ۗ لَا

خاوره بیا ورسیده ورته باران سخت نو پرېښودو هغه تش ... نه وي قادر

يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ مِّمَّا كَسَبُوْا ۗ وَاللّٰهُ

په یو شي – د هغه نه چه دوی کړي دي، او الله تعالیٰ

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٦٤﴾ وَمَثَلُ الَّذِيْنَ

هدایت نه کوي قوم کافرانو ته: او مثال د هغه کسانو چه

يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ

خرچ کوي مالونه خپل د پاره د لټولو د رضا د الله تعالیٰ

شرط

شرط

مثال

مثال

د الله تعالیٰ کښې او خرچ په دغه کښې وکړي پس د هغه لره په هر درهم کښې اووه لاکهه روپئ دي او بیا ئې دا آیت تلاوت کړه. وګورئ ابن کثیر ص۳۱، مشکوٰة ص۳۳۵، زوجر ص۳۰، شوکاني ص۲۸۱. او په یو بل حدیث کښې د معاذ رضي الله عنه نه نقل راځي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي چه مونځ او روژه او ذکر زیاتیږي په نفقې في سبیل الله باندې په اووه سوه چنده. وګورئ ابن کثیر ص۳۱۷، فتح القدیر ص۲۸۴، شوکاني ص۲۸۴، ابو داود ص۳۳۸؛ نو اووه لاکهه لره چه په اووه سوو کښې ضرب ورکړے شي نو ۴۹ کروړه ترینه جوړیږي.

فائده:- په اول حدیث کښې خلیل څوک دے د عبد الله دے. ابن حجر رحمه الله فرمائي چه خلیل بن عبد الله او د ده ورور دواړه مجهوله دي – (لسان المیزان ص۴۰۲) او په دویم حدیث کښې زبان بن فائد دے امام احمد رحمه الله فرمائي: احادیث ئې نا اشنا دي. ص۳۲۷، خلاصه ص۱۳۵، میزان. وګورئ الهام الرحمان ص۸۵. بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى: مَنّ په قول سره او اذٰی په فعل سره. (ابن کثیر ص۳۱۷) معنی ئې دا شوه په ژبه سره او په ضرر رسولو سره – صَفْوَانٍ: د ګټو ډېر نرم کلک صفوان او ره او صفاة ګټه

پښتو کښې ورته ترنګ وائي. لَا يَقْدِرُوْنَ:- ښتانه وائي چه هغه لاس به ئې پرے تور نشي. وَمَثَلُ الَّذِيْنَ ع۲۶۵: د ریا کارو د مثال نه بعد د مؤمنانو د صدقې مثال دے. کېږے اخلاص ئې ډېر وي نو اجر ئې زیات دے او کېږے اخلاص د اعلیٰ درجې نه وي نو ایمان او د نیت صحت ورله هم کافي دے.

وَتَثْبِيتًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍ بِرَبْوَةٍ

او د زړه دو مضبوطولو د نفسونو دوی نه ، مثال په مثل د باغ دے چه وی په لوړه ځای

أَصَابَهَا وَابِلٌ فَآتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ

چه ورسیږي ورته شیبه باران ، پس ورکړی میوه خپله - دوچنده ،

فَإِن لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ ۗ وَاللَّهُ بِمَا

پس که چرې ونه رسیږي دغه ته ښځیبه باران پس کافي دے ورله نرم باران ، او الله په هغه چه تاسی

تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٦٥﴾ أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَن تَكُونَ

یې عملونه کوئ ښه لیدونکے دے . آیا خواړی یو کس ستاسی نه ؛ چه وی

لَهُ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَابٍ تَجْرِي

د هغه لره باغ - د کجورو - او د انګورونه ، چه بهیږي

مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ لَهُ فِيهَا مِن كُلِّ

د لاندې د ونو د هغه نه - ویالے ، وی د هغه لره په دغه کښې ، د هر قسمه

الثَّمَرَاتِ وَأَصَابَهُ الْكِبَرُ وَلَهُ ذُرِّيَّةٌ

میوې نه ، او ورسیږي دغه ته بوډا والے ، او وی دغه لره بچې

ضُعَفَاءُ فَأَصَابَهَا إِعْصَارٌ فِيهِ نَارٌ

کمزوری ، پس ورسیږي دغه باغ ته تیزه سیلۍ چه په کښې اور وی

فَاحْتَرَقَتْ ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ

پس وسوزیږي ، دغه رنګے - بیانوی الله تاسی ته - آیتونه

لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٦٦﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

د دې د پاره دے چه فکر وکړئ : اے د ایمان خاوندانو !

أَنفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا

خرچ وکړئ د پاک (ګټه) هغه مال نه چه تاسې ګټلے دے او د بعضي د هغه نه

أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ ۖ وَلَا تَيَمَّمُوا

چه راویستلے دے موږ تاسې د پاره ، د زمکې نه ، او قصد مه کوئ

أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ : دا د ریا کارانو د عمل د برباديدو اوږده خیبه کیدو دوهم مثال دے چه قیامت کښې به په خالي میدان پاتے شي ، بچيله بوډا ، بچې به کیتے وار وي ، او د صدقے باغ ئے په ریا کارئ سره سوے وي . یَا أَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا : - په دې کښې ترغیب دے خرچ کولو پاک او ګټه مال ته . فائده : - په مَا كَسَبْتُمْ باندې مدارك صـ۱۳۵ کښې لیکلي دي چه په دې کښې دلیل دے په وجوب د زکوٰة په مال د تجارت کښې . وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ جناب مفتي صاحب رحمه الله لیکلي دي په صـ۳۲ کښې د أَخْرَجْنَا نه اشاره دے طرفته دې چه په عُشري زمکه کښې لسمه حصه واجبه ده . د دې آیت د عموم نه امام ابو حنیفه رحمه الله دلیل نیولے دے چه د عُشري زمکې په لږ او ډیر پیداوار باندې لسمه حصه واجبه ده ٭

٭ ٭ ٭

اَلْخَبِيْثَ: يعني ردي مال (روح ص٣٨). دَ اَلْفَحْشَآءِ نه مراد دلته بخل او پرېښودل دَ صدقې دي. (روح ص٣٩) يُؤْتِي الْحِكْمَةَ: په حکمت کښې دي چه دَ حکمت ١٩ معنې دي دَ اصل علمو چه بعضې بعضو ته نږدې دي. بعضو ته هم ډېر ده نه شمېرلی مې. (روح ص٣٢) او محدار لکه په ص٢٥ کښې يوه معنی دا ليکلې ده چه عِلْمُ الْقُرْاٰنِ وَالسُّنَّةِ علم دَ قرآن او سُنت. او قاسمي رحمه الله په ص٢٣٥ کښې ليکي چه ډېر علماء وائي: کره والې دَ علم او عمل. اندلسي رحمه الله په النهر الماد ص٢٦ کښې ليکي قرآن او پوهه په دين کښې. اَوْ نَذَرْتُمْ مِّنْ نَّذْرٍ: يا چه منخته وکړئ څه منخته. مطلب دا چه دَ الله تعالیٰ دَپاره وي او که دَ غير الله دَپاره، الله تعالیٰ په ئې پوهيږي. دَ ظالمانو نه مراد دا دے چه دَ غير الله دَپاره نذر رونه ورکوي. يو ډېر بله معنی شيخ الشا محمد مولانا حسين علي رحمه الله کوي چه دَ نذر معنی عهد دے. معنی دا شوه چه تاسو عهد او لوظ وکړئ چه دَ الله تعالیٰ دَپاره به مې ورکوي. نو لهذا دغه عهد پوره کړئ. او مال ورکوي دا معنی دے دَپاره ده چه حديث نه خلاف رانشي. وګورئ جواهر ص٤٤: حديث دَ ابوهريرة او ابن عمر رضي الله عنهما په نقل دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائيلي دي چه نذر رونه منئ منئ يقيناً نذر دَ تقدير نه څه شے نشي بدلولې او يقيناً په دے باندې دَ بخيل نه مال راويستلی شي. (متفق عليه مشکوٰة ص٢٩٥ ج١).

اَلْخَبِيْثَ مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ وَلَسْتُمْ بِاٰخِذِيْهِ اِلَّاۤ ١
ردي مال ته چه دَ هغه نه خرچ وکړئ، او نه ياست تاسو اخستونکي دَ هغه لره مګر
اَنْ تُغْمِضُوْا فِيْهِ ؕ وَاعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ
چسترګې پټې کړئ په هغه کښې، او پوهه شئ يقيناً الله تعالیٰ بے پرواه
حَمِيْدٌ ﴿٢٦٧﴾ اَلشَّيْطٰنُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَاْمُرُكُمْ ٢
ستائيلے شوي دے، شيطان ويروي تاسو لره دَ غريبۍ نه او امر کوي تاسو ته
بِالْفَحْشَآءِ ۚ وَاللّٰهُ يَعِدُكُمْ مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَ
په بخل سره، او الله تعالیٰ وعده کوي تاسو سره دَ بخښنے دَ خپل طرفه او
فَضْلًا ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٦٨﴾ يُؤْتِي الْحِكْمَةَ
دَ فضل، او الله تعالیٰ فراخ اختيار او ستر پوهه دے. ورکوي پوهه دَ دين
مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَمَنْ يُّؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ اُوْتِيَ
چا لره چه خوښه ئې شي او چا ته چه ورکړے شوه پوهه دَ دين پس يقيناً ورکړے شو
خَيْرًا كَثِيْرًا ؕ وَمَا يَذَّكَّرُ اِلَّاۤ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿٢٦٩﴾
خير ډېر، او پند نه حاصلوي مګر خاوندان دَ خالصو عقلونو.
وَمَاۤ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ نَّفَقَةٍ اَوْ نَذَرْتُمْ مِّنْ نَّذْرٍ ٣
او هغه چه لګوئ تاسو دَ څه خرچے نه يا منخته کوئ دَ څه منخته نه،
فَاِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُهٗ ؕ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ
پس يقيناً الله تعالیٰ په هغې پوهيږي، او نشته دَپاره دَ ظالمانو څوک
اَنْصَارٍ ﴿٢٧٠﴾ اِنْ تُبْدُوا الصَّدَقٰتِ فَنِعِمَّا ٤
امداديان. که چرے ښکاره ورکوئ صدقې لره، پس ښه دي
هِيَ ۚ وَاِنْ تُخْفُوْهَا وَتُؤْتُوْهَا الْفُقَرَآءَ فَهُوَ
دا، او که چرے پټې کوئ او ورکړئ دا فقيرانو ته، پس دا
خَيْرٌ لَّكُمْ ؕ وَيُكَفِّرُ عَنْكُمْ مِّنْ سَيِّاٰتِكُمْ ؕ
ډېر غوره دے تاسو لره، او لرې به کړي ستاسو نه ګناهونه ستاسو،

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿٢٧١﴾ لَيْسَ عَلَيْكَ

او الله تعالیٰ په هغه عملونو چه تاسی ئې کوئ خبر دار دے. نشته په تا باندې

هُدٰىهُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ؕ

سمول د دوی، ولیکن الله تعالیٰ هدایت کوی چا ته چه د غواړی،

وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَلِاَنْفُسِكُمْ ؕ وَمَا

او هغه چه لګوئ تاسی د خه مال نه پس ستاسی د نفسونو د پاره دی، او خرچ

تُنْفِقُوْنَ اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ اللّٰهِ ؕ وَمَا تُنْفِقُوْا

مه کوئ تاسی مګر د پاره د غوښتلو د رضا د الله تعالیٰ، او هغه چه لګوئ د

مِنْ خَيْرٍ يُّوَفَّ اِلَيْكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ ﴿٢٧٢﴾

خه مال نه پوره پوره به درکړے شی ثواب د هغه او په تاسی به ظلم نشی کیدے.

لِلْفُقَرَآءِ الَّذِيْنَ اُحْصِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ

(دا صدقې) د پاره د فقیرانو هغو دی چه بند کړے شویدی په لاره د الله تعالیٰ

اللّٰهِ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ضَرْبًا فِي الْاَرْضِ ؗ

کښې، طاقت نلری د سفر کولو په زمکه کښې،

يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ اَغْنِيَآءَ مِنَ التَّعَفُّفِ ۚ

خیال کوی په دوی نا خبره کس د غنیانو د وجې د نه سوال کولو نه،

تَعْرِفُهُمْ بِسِيْمٰهُمْ ۚ لَا يَسْـَٔلُوْنَ النَّاسَ

پیژنے به ته دوی لره په علامو د دوی، سوال به نکوی د خلقو نه

اِلْحَافًا ؕ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ

په وازه خوله، او هغه چه لګوئ د خه مال نه، پس یقینا الله تعالیٰ

بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿٢٧٣﴾ اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ

په هغه باندې پوهه دے. هغه کسان چه خرچ کوی مالونه خپل

بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً فَلَهُمْ

د شپې او د ورځې، پټ او ښکاره، پس د دوی د پاره

لَيْسَ عَلَيْكَ هُدٰىهُمْ: په دے ایت کښې بحث د خیرات د انفاق سره متعلق دے. مطلب دا چه خرچ کول جاری ساتی ځکه هدایت د الله تعالیٰ په قبضه کښې دے. تفسیر قرطبی په ص ٣٣٧ کښې د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل شوی دی چه

د ځنی کسانو د انصارو خپلوانی وے د بنو قریظه او بنو نضیر سره او صدقې ئې ورکولے د پاره د سیمې د دوی په اسلام راوړلو د هغوی کښې چه کومه تنګي وه. نو ایت په سبب د دغو نازل شو. وَمَا تُنْفِقُوْنَ: لفظ د مَا په دے ایت کښې درے ځله راغلے دے. اول او دریم موصوله دے او دوهم نافیه دے. معنیٰ ئې لا تنفقوا شوے ده. تفسیر مدارک ص ١٣٧ کښې لیکلی دی چه دا نفی په معنیٰ د نهی ده یعنی خرچ مکوی مګر د پاره د رضا د الله تعالیٰ. لِلْفُقَرَآءِ: په دے ایت کښې مصرف د خرچې دے چه هغه فقیرانو ته ئې ورکړی چه دا پنځه صفات پکښې وی. اِلْحَافًا: د سوالا محذوف صفت دے او مطلب دا دے چه په بے صبرئ او ټینګوالی سوال نکوی البته که په وخت د ضرورت کښې بغیر د زاری نه سوال اوکړی نو جائز دی. (سورة توبه ع ٨ جواهر ص ١٣٢) فائده: د شاه پور شیخ رحمه الله په نشر المرجان ص ١٣١ کښې لیکلی دی معلومه شوه چه اعلیٰ مصرف د صدقاتو طالب علم دے. تهانوی رحمه الله هم په بیان القرآن ص ١٤٥ کښې لیکلی دی او د پنج پیری شیخ رحمه الله په جواهر القرآن ص ١٣٢ کښې لیکلی دی چه مراد ترینه مجاهدین او طالبان د علوم دی. احقر هم د شیخ القرآن د پنج پیر رحمه الله په عقد المرجان ص ٣٠ کښې لیکلی دی چه مراد ترینه طالبان او مجاهدین دی. ذکورئ الهام الرحمان ص ٣٣ اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ: په دے کښې اووم خبره عموم الاوقات والاحوال ذکر کوی یعنی هر وخت او هر حال کښې که شپه دی او که ورځ، پټ وی او که ښکاره خرچ کوی.

أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ

اجر د دوی په نزد د رب د دوی، او نه به وی ویره په دوی باندې

وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٤﴾ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ

او نه به دوی غمژن کیږی. هغه کسان چه خوری

الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي

سُود، نه به پاڅیږی (د قبرونو نه) مګر په شان د پاڅیدو د هغه کس چه

يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ

حیران کړے وی ده لره شیطان د وجے د رسیدو نه، دا په دے وجه چه یقیناً دوی

قَالُوا إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا ۗ وَأَحَلَّ

وائی، بے شکه خرڅول په مثل د سُود دی، او حلال کړے دے

اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا ۚ فَمَنْ جَاءَهُ

الله تعٰ خرڅول، او حرام کړے دے سُود لره، پس هغه څوک چه راشی ده ته

مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّهِ فَانْتَهَىٰ فَلَهُ مَا

وعظ د جانب د رب د ده نه، پس منع شی، پس ده لره هغه مال دے چه

سَلَفَ وَأَمْرُهُ إِلَى اللَّهِ ۖ وَمَنْ عَادَ

مخکښے ورکړے، او فیصله د ده حواله ده الله تعٰ ته، او څوک چه واپس شی (خلا لوائی ته)

فَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٢٧٥﴾

سو دغه، پس دغه کسان خاوندان د اور دی، دوی به په دغه کښی همیشه او سیدونکی وی.

يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ ۗ

ختموی الله تعٰ مال د سُود لره، او زیاتوی مال د صدقے لره،

وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ ﴿٢٧٦﴾ إِنَّ

او الله تعٰ مینه نه ساتی د هر غټ کافر (حلالونکی د سود) او کنا ګار سره. یقیناً

الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَ

هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے او عملونه کوی نیک - او

الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا :- دوے غانے نه وریبه باب ترمخه ۲۸۱ پورے دے - په دیکښ تخویف دے سُود خورو لره په پنځه دفعو سره او په ۲۷۷ کښ بشارت دے په ۲۸۰ کښ ترغیب او ترهیب په ۲۸۲ ۲۸۳ کښ امور انتظامیه دی. الرِّبَوا :- ابن عربی رحمه الله په احکام القرآن ۱/۲۴۱ کښ لیکلی دی چه ربوا په لغت کښ زیاتوالی ته وائی او مراد په دے سره په دے ایت کښ هر هغه زیاتے دے چه مقابله کښ ئے عوض نه وی. جصاص رحمه الله په احکام القرآن ۱/۴۶۶ کښ لیکی چه بعض د سُود نه په خرڅولو کښ وو او بعض هغه وو چه بیع په نه وه او دا سُود د جاهلیت والو وو چه قرض کښ به نیټه شرط شوه او زیاتوالے د مال به په قرض اړی مقرر شو - مسئله : په مشکوٰة شریف ۲۴۶ کښ حدیث دے چه رسول الله ﷺ فرمائی چه یو درهم روپئی د سُود چه سړے خوری او دا پوهیږی سخت ګناه ده د ۳۶ شپږ دیرش زنا ګانو نه - جناب مفتی صاحب رحمه الله په معارف القرآن ۱/۶۶۵ کښ لیکلی دی چه نن صبا چه کوم سُود د انسانی معیشت مدار ګرځولے شوے دے او د سُود په مسئله کښ زیر بحث دے دا هغه سُود دے چه د هغه جرم د قرآن د اوو ایتونو او د څلویښتو نه زیات احادیثو او د اجماع د امت نه ثابت دے.

(اللهم احفظنا منه)

فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِّنَ اللَّهِ: حافظ ابن کثیر رحمه الله په ...... کښې لیکلي دي چه څوک ټینګ وي په سُود اخستلو او منع ترې نه کېږي نو لازم دي په بادشاه د مسلمانانو چه توبه پرې وباسي. کچرې منع شو توبه اوکړه نو

أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ

دُرُوي مونځ، او ورکوي زکوٰة، خاص دي لره اجر ددوي د

عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ

په نزد د رب د دوي، او نه به وي ويره په دوي باندې، او نه به دوي

يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٧﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ

غمژن کېږي. اے ایماندارو! وویرېږئ د الله تعالیٰ

وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِن كُنتُم

او پرېږدئ هغه مال چه پاتې دے د سُود نه، کچرې یاستئ

مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٧٨﴾ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا

ایمان راوړونکي. پس کچرې ونکړئ تاسو داکار، پس خبر شئ

بِحَرْبٍ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ ۖ وَإِن تُبْتُمْ

په جنګ د الله تعالیٰ او د رسول د هغه، او کچرې توبه مو وویسته

فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا

پس تاسو لره سرونه (اصل) مالونه ستاسو دي، ظلم به نکوئ تاسو او ستاسو به

تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٩﴾ وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ

ظلم نشي کیږي. او کچرې (قرضدار) خاوند د غریبۍ، پس انتظار دي ستاسو

إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ ۚ وَأَن تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ إِن

تر مالداری پورې، او صدقه کول ستاسو غوره دي تاسو دپاره، کچرې

كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٨٠﴾ وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ

یاستئ چه پوهېږئ. او وویرېږئ د هغه ورځې نه چه بېرته به ورلي شئ تاسو

فِيهِ إِلَى اللَّهِ ۖ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا

په دیکښې الله ته، بیا پوره پوره ورکړے شي هر نفس ته بدله د هغه

كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٨١﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ

عمل چه کړے وي او په دوي ظلم نشي کیدے. اے د ایمان

منع کیږي نو ختمولو د ورله اووهي. فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ: پس انتظار پرے دے تر مالداری د هغه پورے — حدیث د مسند احمد کښې راځي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي چه د چا پاره په یو سړي حق وي او هغه روستو ترې نه کړي نو کیږي دغه لره په بدله د هر ورځې کښې صدقه. (مشکوٰة ...)

وَأَن تَصَدَّقُوا: حدیث کښې د ابو هریره رضي الله عنه په روایت راځي چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي چه یو سړي به لین دین کولو د خلقو سره او خپل نوکر ته به ئے ویل چه کله غریب له ورشې نو معافي ترې نه وکړه شاید چه الله تعالیٰ زمونږ نه درګذر (معافي) وکړي. فرمائي چه کله ملاؤ شو د الله تعالیٰ سره نو درګذر ئے ترې نه وکړو. (متفق علیه مشکوٰة ص ...)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا: دا د قرآن اوږد آیت دے او دے ته آیة المداینة ویلے شي او په دیکښې تنمه د امورو انتظامیو ده.

آمَنُوٓا إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَىٰٓ أَجَلٍ

خاوندانو! کله چه معامله کوئ په یو پور قرض سره: تر نیټې

مُّسَمًّى فَٱكْتُبُوهُ ۚ وَلْيَكْتُب بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌۢ

مقرر شوې پورې، پس ولیکئ هغه، او ولیکي دې په منځ ستاسې کښې لیکونکي

بِٱلْعَدْلِ ۚ وَلَا يَأْبَ كَاتِبٌ أَن يَكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ

په انصاف سره، او انکار دې نه کوي لیکونکے د لیکلو نه، لکه چه خودنه کړې ده ورته

ٱللَّهُ ۚ فَلْيَكْتُبْ وَلْيُمْلِلِ ٱلَّذِى عَلَيْهِ ٱلْحَقُّ

الله تعالیٰ، پس و دې لیکي، او بیان دې وکړي هغه کس چه په ده باندې حق دے،

وَلْيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥ وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْـًٔا ۚ فَإِن

او و دې ویریږي د الله نه چه رب د ده دے، او نه دې کموي د هغه نه څه، پس که چرې

كَانَ ٱلَّذِى عَلَيْهِ ٱلْحَقُّ سَفِيهًا أَوْ ضَعِيفًا أَوْ

وي هغه کس چه په ده باندې حق دے، بے وقوفه، او یا کمزورے، او یا

لَا يَسْتَطِيعُ أَن يُمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهُۥ

طاقت نلري د بیان کولو د هغه، پس بیان دې وکړي نائب د ده

بِٱلْعَدْلِ ۚ وَٱسْتَشْهِدُوا۟ شَهِيدَيْنِ مِن رِّجَالِكُمْ ۖ

په انصاف سره، او گواهان ونیسئ دوه گواهان، د سړو ستاسې نه،

فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَٱمْرَأَتَانِ

پس که چرې نه وي — دوه سړي، پس گواهي دې وکړي یو سړے او دوه ښځې،

مِمَّن تَرْضَوْنَ مِنَ ٱلشُّهَدَآءِ أَن تَضِلَّ إِحْدَىٰهُمَا

د هغو چه تاسو خوښوئ ئې د گواهانو نه، چرې هیره شي د یوې د دوي نه،

فَتُذَكِّرَ إِحْدَىٰهُمَا ٱلْأُخْرَىٰ ۚ وَلَا يَأْبَ ٱلشُّهَدَآءُ

پس یاد به کړي یوه د دوي نه بلے ته، او انکار دې نه کوي گواهان،

إِذَا مَا دُعُوا۟ ۚ وَلَا تَسْـَٔمُوٓا۟ أَن تَكْتُبُوهُ صَغِيرًا

کله چه راوبللے شي گواهۍ ته، او مه ستړي کیږئ د لیکلو د حق (دین)، نه وړوکے وي

منزل ١

إِذَا تَدَايَنتُم: د پښتو شیخ رحمه الله په جواهر ص ٣۵ کښې لیکلي دي چه تمام تجارتي معاملات په څلورو قسمونو کښې بند دي: (١) لاس په لاس، د دې حکم راروان دے یعنې إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً حَاضِرَةً کښې — (٢) قرض په قرض دوارو نسيأ دا بیع ناجائزه ده. (٣) خریدار مال واخلي او د رقم د ادا کولو وعده وکړي (۴) خریدار رقم مخکښې ادا کړي او مال روستو وصول کړي او دے ته په اصلاح د شریعت کښې بیع سلم وائي. د دې دوارو قسمونو حکم په دے آیت کښې بیان شوید دے ——

فَاكْتُبُوهُ: جمهور علماء فرمائي چه دا حکم استحبابي دے (روح ص ۵۵) وَلْيُمْلِلِ الَّذِي: په دے کښې د دے بیان دے چه د چا په ذمه حق وي نو د لیک ذمه واري او د بیان په هغه ده. مِن رِّجَالِكُمْ: د سړو ستاسې نه. مدارك په ط کښې لیکي، د ایتا نه ازرو سړو نه آزاد والے او بالغ والے شرط شوي سره د اسلام.

وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٌ: (نوټ، دا راتلونکے مخ سره متعلق دے) دا یوه عامه قاعده ده چه څوک هم ته ضرر نه رسیږي، نه لیکونکي ته او نه گواه ته.

وَإِن كُنتُمْ عَلَىٰ سَفَرٍ: یعنې که چرې د حالت سفر وي او لیکونکے نه ملاویږي نو د چا په ذمه چه حق دے نو هغه دې ورسره څه شے گرو کیږدي چه د هغه اطمینان اوشي او د مال د بربادیدو خدلره درکه شي. د سفر قید احترازي نه دے خو غالبه داوي: نو رکلو لیکو او سفر دوارو کښې روا ده ـ ـ.

امام رازی رحمه الله په "تفسیر کبیر ص۱۳۱" کښې فرمائي چه اتفاق د فقهاؤ دے اُوس زمانه کښې چه گرو کول په حالت د سفر او کور کښې برابر دی او په حال د وجود د کاتب او نشتوالی د هغه کښې. **مسئله:**

أَوْ كَبِيرًا إِلَىٰ أَجَلِهِ ۚ ذَٰلِكُمْ أَقْسَطُ عِندَ اللَّهِ وَ

او که لوئے، تر نیټې پورے، دا (طریقه) ډیره انصاف والا ده په نزد د الله تعالیٰ، او

أَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ وَأَدْنَىٰ أَلَّا تَرْتَابُوا ۖ إِلَّا أَن

ډیره پاخه ده د گواهئ لره، او ډیره نزدے ده دے ته چه شک به نه کوئ تاسو مگر چه

تَكُونَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ

وی معامله، سودا گری د سمدستی چه لاس په لاس ئے ورکوئ په مینځ خپل کښې پس نشته

عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَلَّا تَكْتُبُوهَا ۗ وَأَشْهِدُوا إِذَا تَبَايَعْتُمْ ۚ

پر تاسو څه گناه په دے چه نه لیکئ دے لره، او گواهان ونیسئ کله چه تاسو خرڅول کوئ

وَلَا يُضَارَّ كَاتِبٌ وَلَا شَهِيدٌ ۚ وَإِن تَفْعَلُوا فَإِنَّهُ

او ضرر دې نه رسیږی لیکونکی ته، او نه گواه لا ته، او که چرے ورکړو تاسو دا کار، پس یقیناً دا

فُسُوقٌ بِكُمْ ۗ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۖ وَيُعَلِّمُكُمُ اللَّهُ ۗ وَاللَّهُ

گناه ده ستاسو، او ویریږئ د الله تعالیٰ نه او ښوده درکوی تاسو ته الله تعالیٰ، او الله تعالیٰ

بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٨٢﴾ وَإِن كُنتُمْ عَلَىٰ سَفَرٍ وَلَمْ

په هر شی باندې پوهه دے. او که چرے وئ تاسو په سفر کښې، او نه

تَجِدُوا كَاتِبًا فَرِهَانٌ مَّقْبُوضَةٌ ۖ فَإِنْ أَمِنَ

جصاص رحمه الله په "احکام القرآن ص۲۵۳" کښې لیکلی دی چه فرمائیلی دی ابو حنیفه او ابو یوسف او محمد او حسن بن زیاد او زفر په روایت دی د گرو اخستونکی د پاره نفع اخستل په یو شی د گروی باندې او نه د گرو ورکونکی د پاره. د شاه پور شیخ رحمه الله په "نشر المرجان ص۱۴۹" کښې لیکلی دی (فائده:) رهن عقد د وثیقه د دین دے نه چه ازسر نو روپئ ورکوی د پاره د پیټې رهن کولو او خوړنا د هغه شانے یو "افضل التراجم ص۱۵" کښې لیکی: مگر نوه صرف د وثیقے د پاره ده، د گانړے نفع اخستل حرام دی.

مقبوضة: قبضه کړے شوے. جناب مفتی صاحب رحمه الله په معارف "ص۶۷" کښې فرمائی چه د لفظ مقبوضة نه دے طرف ته اشاره موندلے کیږی چه د گرو شوی شی نه نفع

فِي الْأَرْضِ ۗ وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ
چه په زمکه کښې دي، او که چېرې ښکاره کړئ تاسې هغه چه په زړونو ستاسو کښې دي، او یا ئې
تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللَّهُ ۖ فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَشَاءُ وَ
پټ کړئ، حساب به وکړي تاسې سره په هغه الله، پس بخښنه کوي دَ چا دَ پاره چه خوښه شي او
يُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٨٤﴾
عذاب ورکوي چا له چه خوښه شي، او الله تعالیٰ په هر شي باندې قدرت والا دے۔
آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ
ایمان راؤړو رسول ﷺ، په هغه چه نازل کړے شوې دي دَه ته، دَ رب ده خپل نه؛
وَالْمُؤْمِنُونَ ۚ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَ
او ایمان والو، هر یو ایمان راؤړے په الله تعالیٰ، او په ملائکو دَ هغه، او
كُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ
کتابونو دَ هغه، او په رسولانو دَ هغه، (او وائي دوی) چه جدائي نه کوو په مینځ دَ هیچ دَ
رُسُلِهِ ۚ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۖ غُفْرَانَكَ
رسولانو دَ هغه کښې، او وائي: اؤرېدلي دي موږ، او تابعداري مو وکړه، بخښنه غواړو ستا نه
رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ﴿٢٨٥﴾ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا
اے ربه زموږه! او خاص تا ته واپسي ده۔ نه کړوي — الله تعالیٰ هیچ یو نفس له،
إِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا
تکلیف مګر دَ طاقت دَ هغه، دَ هغه له ثواب دے دَ هغه نیک عمل چه کړے وي، او په هغه تاوان دَ هغه
اكْتَسَبَتْ ۗ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ
بد عمل چه کړے وي، اے ربه زموږه! مه نیسه موږ له که چېرې موږ هېر کړي دي، او یا
أَخْطَأْنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا
موږ خطا کړې وي، اے ربه زموږه! او مه بارؤه په موږ باندې درون بوج لکه چه
حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا
بار کړے وو تا په هغه کسانو چه مخکښې وو زموږ نه، اے ربه زموږه! او مه

مَا فِي أَنْفُسِكُمْ: شیخ القرآن رحمه الله به فرمائیل چه مراد ترینه عقائد دي. دَ پنځهي شیخ رحمه الله فرمائي چه مراد ترینه اعتقادات اختیاري دي نه وَسوسے (جواهر ص۱۳۴) شاه ولي الله رحمه الله فرمائي:

مِنَ الْإِخْلَاصِ وَالنِّفَاقِ: چه مراد ترینه اخلاص او منافقت دے. (الفوز الکبیر ص۲۲) حاصل دا شو چه که چېرې ښکاره کړئ هغه عقیدې چه ستاسې په زړونو کښې دي او یا ئې پټې وساتئ نو حساب به در سره وکړي په هغې الله تعالیٰ. نو په دے توجیه سره نسخ ته ضرورت پاتې نشو. إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا: معنیٰ ئې دا ده چه که چېرې پرېښے مووي او یا مو ګناه کړے وي دَ نسیان نه. دلته پرېښودل او دَ خطاء نه ګناه کول مراد دي — وګورئ "جواهر ص۱۳۶ او روح المعاني ص۷۸، الهام الرحمن ص۲۷".

إِصْرًا: درون بوج، پېټے. دَ دے نه مراد هغه احکام دي چه مشکل وي او انسان ئې په مشقت سره برداشت کوي. (جواهر ص۱۳۶) ✣

فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ مراد تربيه دا دکافران دی (ابن مسعود رضی). فضیلت :- دعبدالله بن مسعود رضی نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه څوک دا دوه آیتونه دَ آخر دَ سورة بقرے نه په شپه کښې ولوستے نو کافی کیږی دغه لره. متفق علیه مشکوٰة ص۱۸۵، ابن کثیر ص۳۴۳ (تمام الرحمٰن ص۲۷۶) امتیازات دَ سورة بقرے دَ تفسیر ختمید و نه بعد را واضحه شوه چه دَ دے سورت ګڼر امتیازات دی: (۱) ذکر دَ بنی اسرائیلو تفصیلاً. (۲) دفع دَ شبهو چه وارید لے په رسالت (۳) صفات انبیاء علیهم السلام (۴) قوانین دَ ملک دَ امن. (۵) احکام دَ کورني ژوند (۶) واقعه دَ طالوت جالوت (۷) ذکر دَ آیة الکرسی.

لَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ ۚ وَاعْفُ عَنَّا ۗ

مه بار کوه په مونږ هغه څه چه نه وي طاقت مونږ ته په هغه، او عفوه وکړه دَ مونږ نه،

وَاغْفِرْ لَنَا ۗ وَارْحَمْنَا ۗ اَنْتَ مَوْلٰىنَا

او بخښنه وکړه مونږ ته، او رحم وکړه په مونږ، ته مولا زمونږ یې

فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٨٦﴾

پس امداد وکړه زمونږ له په قوم کافرانو باندې.

سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ مِائَتَا ۲۰۰ اٰيَةٍ وَّعِشْرُوْنَ رُكُوْعًا

آل عمران مدنی سورة دے په دے کښې دوه سوه آیتونه او شل رکوعگانے دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه دَ الله چه ډیر مهربانه اولوئے بخښونکے دے.

الٓمّٓ ﴿١﴾ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ﴿٢﴾ نَزَّلَ

الم، مراد دَ الله دے، الله چه نشته هیڅ معبود بر حق سوا دَ هغه نه، ژوندے دے، قائم ساتونکے دَ انتظام کونکے عالم

عَلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ

دَ، نازل کړے ئے په تا باندې کتاب په حقه سره، تصدیق کونکے دَ هغه کتابونو چه مخکښې دي

يَدَيْهِ وَاَنْزَلَ التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ﴿٣﴾ مِنْ

ده ته، او رالیږلے ئے تورات او انجیل لره، مخکښې دَ

قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَاَنْزَلَ الْفُرْقَانَ ؕ

قرآن نه، لاره ښودونکي دَ خلقو دپاره، او رالیږلے ئے فرق کونکے کتاب.

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ

یقیناً هغه کسان چه کفر ئے کړے په آیتونو دَ الله تعالیٰ، خاص دوي لره عذاب

شَدِيْدٌ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ﴿٤﴾ اِنَّ اللّٰهَ

سخت دے، او الله تعالیٰ زور آور، خاوند دَ بدلے اخستو دے. یقیناً الله تعالیٰ

لَا يَخْفٰى عَلَيْهِ شَيْءٌ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي

نه پټیږي په هغه باندې څه شے، په زمکه کښې، او نه په

سورة آل عمران :- وجه دَ تسمیه په ۳۳ آیت کښې ده. شان نزول :- مفسرینو کرام لیکلی دی چه دَ نجران دَ نصاراؤ یو وفد مدینے منورے ته دَ نبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شو چه دَ دوی په څورلسو شپیتو کسانو باندې مشتمل وو. په وفد کښې درے مشران عاقب، سید او ابو حارثه وو. دوی دَ نبی علیه السلام سره دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام په باره کښې جګړه (مناظره) کوله چه په دے باندې دَ سورة آل عمران ابتدائی آیتونه نازل شو. (خازن ص۲۱۲، جواهر ص۱۴۳) دعوے: (۱) توحید مثلاً ۲ وغیره (۲) رسالت دَ ۱۴۳ نه په دفع دَ شبهو دَ قبائلو دَ منکرینو دَ رسالت. (۳) جهاد (۴) انفاق دَ ۱۰۲ نه. اجمالی خلاصه :- دا سورت درے حصے دي. اوله دَ ۳۳ پورے، دویمه تر ۱۲۰ پورے، دریمه دَ آخره پورے.

ربطونه :- (۱) اثبات دَ هغه څلورو اصولو کوم چه بقره کښې ذکر شوي وو په زیات توضیح سره. (۲) نصرت په دلائلو کوم چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ وغيره. (۳) بقره کښې زیات دَ یهود سره خطاب وو نو دلته زیات خطاب دَ نصاراؤ سره دے. (۴) بقره کښې دَ یهودو شبهو ذکر شو نو دلته دَ ۳۳ قبائلو ذکر کوی. (۵) هلته دَ

جهاد۔ مبارزہ ورسرہ مبادی ذکر شو نو دلته قواعد ورتہ سیس الحاجة ذکر کوی۔ د اوّلے حصے خلاصه : په دیکښی درسته بابونه، اول توحید، دوهم تو مثنه، دریم تو بکلی پورته۔ پکښی اول باب کښی شپږ خبرے : (۱) دعوی د توحید (۲) په وسرے دلائل درسره قسمه (۳) تخویف په ښکه۔ مثلا مثله، خلا (۴) جواب د شبهے مثه (۵) تعیم دوه بار شوے (۶) ترهیب مع البشارة د ښکه نه۔ الٓمّٓ : په وسرے باب بقرہ کښی بحث شوے دے۔ اَلْحَیُّ الْقَیُّوْمُ :- ابتدا الکرتثه صم د کوری۔ نَزَّلَ عَلَیْكَ : د عقلی دلیل نه بعد په درے ایت کښی وحی او دوه نقلی دلائل دی۔ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ : د دلائلو نه بعد دا ثمره د توحید ده۔ هُوَ الَّذِیْ مثه : جواب د شبهے شبهه دا وه چه عیسی علیه السلام ته په انجیل کښی ابن الله ویلے شوے دے۔ حاصل د جواب دا دے چه دے الفاظ په انجیل کښی دی نو د متشابهاتو نه دے۔ (رسیط البرہ صفحہ) مُحْكَمٰتٌ : چه معنی ئے واضحه وی او دلالت ئے په معنی ښکاره وی، محفوظ وی د اشتباه او احتمال نه ...... مُتَشٰبِهٰتٌ : محتمله د کثرت معانیو وی بعض د بعضو نه نه بیلیږی په اراده کولو کښی۔ وکوری روح المعانی صفحه۔ اُمُّ الْكِتٰبِ :- اصل د کتاب چه رجوع کیږی دغه ته (نهر صفحه) زَیْغٌ : میلان د حق نه خواهشاتو باطلو ته (ابن سعود صفحه) او اهل زیغ بدعتیان دی۔ وکورئ مدارك صفحه، تفسیر احمدی صفحه، الهام الرحمن

السَّمَآءِ ۝٥ هُوَ الَّذِیْ یُصَوِّرُكُمْ فِی الْاَرْحَامِ

آسمان کښی۔ الله هغه ذات دے چه شکلونه در کوی تاسو ته په رحمونو د میندو کښی

كَیْفَ یَشَآءُ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ ۝٦

څنګه چه خوښه شی، نشته حق دار د بندګئ مګر هغه الله دے چه زورآور۔ حکمت والا دے۔

هُوَ الَّذِیْٓ اَنْزَلَ عَلَیْكَ الْكِتٰبَ مِنْهُ اٰیٰتٌ

الله هغه ذات دے چه رالیږلے ئے دے په تا باندے کتاب لره، بعض د دغه ایتونه

مُّحْكَمٰتٌ هُنَّ اُمُّ الْكِتٰبِ وَاُخَرُ مُتَشٰبِهٰتٌ ؕ

ښکاره مراد والا دی دغه اصل د کتاب دی، او نور پټ مراد والا دی،

فَاَمَّا الَّذِیْنَ فِیْ قُلُوْبِهِمْ زَیْغٌ فَیَتَّبِعُوْنَ مَا

پس هغه کسان چه په زړونو د هغوی کښی کوږوالے دے پس تابعداری کوی د هغه چه

تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَآءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَآءَ تَاْوِیْلِهٖ ؕ

متشابه وی د دغه نه، د پاره د لټولو د ګمراه کولو د خلقو او د پاره د لټولو د معنے د هغے،

وَمَا یَعْلَمُ تَاْوِیْلَهٗٓ اِلَّا اللّٰهُ ؕ وَالرّٰسِخُوْنَ

او نه پوهیږی په معنی د هغه، مګر یو الله دے، او هغه کسان چه مضبوط دی

فِی الْعِلْمِ یَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِهٖ ۙ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ

په علم کښی، وائی ایمان مو راوړے په دے، دا ټول د جانب د رب

رَبِّنَا ۚ وَمَا یَذَّكَّرُ اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝٧ رَبَّنَا

زمونږ نه دی، او نصیحت نه قبلوی مګر خاوندان د صفا عقلونو والا۔ (دا وائی) اے ربه

لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا بَعْدَ اِذْ هَدَیْتَنَا وَهَبْ لَنَا

زمونږه! مه کږوه زړونه زمونږه، پس د هغے چه هدایت دې کړے مونږ ته او وبخښه مونږ ته

مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ۝٨

د خپل طرفه چه مهربانی، یقینا هم ته بخښونکے یې۔

رَبَّنَآ اِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِیَوْمٍ لَّا رَیْبَ

اے ربه زمونږه! یقینا ته جمع کونکے ئے خلقو لره په داسے ورځ کښی چه شک پکښی

صفحه ۵۵ :- او امام قرطبی په صفحه ۱۳ کښی فرمائی چه دا آیت عام دے هر سړی لره که کافر وی که زندیق وی که جاهل وی که بدعتی وی اګرچه اشاره پرے دغه وخت کښی نصارا د نجران ته وه ۔

كَذَّبَ اٰلِ فِرْعَوْنَ: اول تخويف دُنيوي بيا اُخروي دے۔ سورة انفال ۵۲ ۵۴ کښې هم ذکر دی۔ يَرَوْنَهُمْ مِّثْلَيْهِمْ
۱۳:- جناب مفتي صاحب رحمه الله په معارف القرآن ج۲ کښې ليکي چه تماشا دا وه چه هر يو سړی ته د
مقابل ډله دوچنده په نظر راتله

فِيهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ ﴿٩﴾ إِنَّ الَّذِينَ
نشته، يقيناً الله تعالیٰ خلاف نه کوي د وعدې خپلې نه۔ يقيناً هغه کسان چه
كَفَرُوا لَن تُغْنِيَ عَنْهُمْ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُم
کفر ئې کړے دے هيڅ دفع به نه کړي د دوی نه مالونه د دوی، او نه اولاد د دوی
مِّنَ اللَّهِ شَيْئًا ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمْ وَقُودُ النَّارِ ﴿١٠﴾
د عذاب د الله نه څه شے، او دغه کسان هم دوی خاشاک د اور دی (حال د دوی)
كَدَأْبِ آلِ فِرْعَوْنَ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ
په شان د فرعونيانو دے او د هغه کسانو چه د دوی نه مخکښې وو۔
كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ ۗ وَاللَّهُ
دروغ ئې وګڼلے آيتونه زمونږ پس ونيول دوی الله په ګناهونو د دوی، او الله تعالیٰ
شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿١١﴾ قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوا
سخت عذاب ورکونکے دے۔ اووايه هغه کسانو ته چه کفر ئې کړے دے،
سَتُغْلَبُونَ وَتُحْشَرُونَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ ۚ وَبِئْسَ
ژر ده چه مغلوبي به کړے شئ او راجمع به کړے شئ جهنم ته، او بد ځائے
الْمِهَادُ ﴿١٢﴾ قَدْ كَانَ لَكُمْ آيَةٌ فِي فِئَتَيْنِ
تيار شوے دے (جهنم) يقيناً شته تاسو ته نښه په دوو ډلو کښې چه
الْتَقَتَا ۖ فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَ
مخامخ شوې، يوه ډله جنګيده په لارے د الله تعالیٰ کښې، او
أُخْرَىٰ كَافِرَةٌ يَرَوْنَهُم مِّثْلَيْهِمْ رَأْيَ
بله ډله کافره وه، ليدل ئې هغوی ته د ځان نه دوچنده، خيال په ښکاره د
الْعَيْنِ ۚ وَاللَّهُ يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهِ مَن يَشَاءُ ۗ
ليدلو سترګو، او الله تعالیٰ مضبوطوي په کومک خپل سره چا لره چه خوښه ئې وي،
إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّأُولِي الْأَبْصَارِ ﴿١٣﴾ زُيِّنَ
يقيناً په دې کښې خامخا عبرت دے د پاره د خاوندانو د ليدو۔ ښائسته کړے شوے

منزل ١

مقابل ډله دوچنده په نظر راتله چه د هغه تعجب واشي چه د کفارو په زړونو کښې د مسلمانانو د ويرې والي رعب راشي او چه مسلمانان ئې دوچند او وينې نو چه نور حق تعالیٰ طرف ته متوجه شي۔ سوال: دلته فرمائي چه يو بل ته دوچنده په نظر راتلل او سورة انفال ۴۴ کښې راغلي چه يو بل ته ئې لږ لږ کړه۔ جواب:- ابوبکر رازي رحمه الله فرمائي په مسائل مختلف کښې چه اول ئې يو بل ته لږ لږ ښکاره کړل چه هر يو ډله د واړه شي په جنګ د ليدلو او روستو ئې چير ښکاره کړه چه مشرکان بُزدله او هيبت زده شي او مؤمنانو د الله تعالیٰ د وعدې په صداقت يقين وکړي کوم چه په ۶۵ انفال کښې ذکر دے — علامه نسفي رحمه الله هم فرمائي چه تقليل او تکثير په حالتونو مختلفو کښې وو۔ (مدارک ج۱)

زُيِّنَ لِلنَّاسِ:- په دې آيت کښې بے رغبتي د دنيا ده۔ شيخ القرآن رحمه الله به فرمائيل چه د دنيا اوګټه ورځے دی او هيڅوک په ورباندے کړے په دے اوګټه د اموروانې۔ تحقيقي به فرمائيل چه د دنيا لږ تړونه دے او ساده ئې کاروے مسئله د توحيد بيان کړه او تکلفات په ژوند کښې مکوه۔

اَلشَّهَوٰتِ :- جمع دَ شهوت دی ۔ دَ نفس میلان دے هغه څه ته چې ئې اراده کوی ۔ دلته ترې مراد مُشتَهیات دی کوم شیونو ته چې دَ نفس میلان کولے شی معنیٰ دا شوه چې دَ نفس خوښېدونکو شیونو نه ۔ وګورئ

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِيْنَ

ښائسته کړے شوې ده خلقو له مینه دَ زړه خوښوونکو شیونو ، دَ ښځو نه ، او دَ ځامنو نه ،

وَالْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ

او خزانې ، راجمع کړے شوې ، دَ سرو ، او سپینو نه ،

وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْاَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ؕ

او اسونه ، نښاندار شوی ، او دَ څارویو ، او فصل نه ،

ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ

دغه فائده ده ، دَ ژوندون نږدې دے ، او الله تعالیٰ خاص هغه سره

حُسْنُ الْمَاٰبِ ﴿١٤﴾ قُلْ اَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ مِّنْ ذٰلِكُمْ ؕ

ښه ځائے دَ واپسئ دے ، او وایه : آیا خبر درکړم تاسو ته په غوره شی دَ دغه نه ،

لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ

دَ پاره دَ هغه کسانو چې ویرېږی د الله نه نږدې رب دَ دوی باغونه ، بهېږی په لاندې دے

تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَاَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَّ

دَ هغو نه وَلے ، همیشه به وسیږی په هغو کښې ، او ښځې پاکې کړے شوې ، او

رِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿١٥﴾ اَلَّذِيْنَ

رضامندی دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه ، او الله تعالیٰ بینا دے په بنده ګانو ۔ په هغه کسانو چې

يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اِنَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَقِنَا

وائی اے ربه زمونږه یقیناً مونږ ایمان راوړے دے پس بخښنه وکړه مونږ له ګناهونو زمونږ او بچ کړه

عَذَابَ النَّارِ ﴿١٦﴾ اَلصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰدِقِيْنَ وَالْقٰنِتِيْنَ

دَ عذاب دَ اور نه ، صبر کوونکی دی ، او رښتونی دی ، او تابعداری کوونکی

وَالْمُنْفِقِيْنَ وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْاَسْحَارِ ﴿١٧﴾ شَهِدَ اللّٰهُ

او خرچ کوونکی دی ، او بخښنه غوښتونکی دی په وخت دَ سحر ګانو کښې ۔ ګواهی کوی الله تعالیٰ

اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۙ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ قَآئِمًۢا

چې یقیناً شان دا دے چې نشته معبود ګر هغه الله او ملائکو او خاوندان دَ علم دی په حال کښې چې ولاړ دی

منزل ١

تفسیر شوکانی ص٣٢١ ج١)
اَلْقَنَاطِيْرِ : جمع دَ قِنطار ده ډیر مال ته وائی ۔ (مدارک ص١٢٥)
فائده ٢ :- دَ ښځو ذکر ئے اول اوکړو دَ وجې دَ ډیروالی دَ میلان دَ نفسونو نه دوی ته ځکه چې دا دامونه دَ شیطان دی او فتنه ده دَ سړو دپاره ۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چې ما نه وروستو دَ ځان نه ډیره لویه فتنه په سړو باندې دَ ښځونه ۔ (بخاری و مسلم ، قرطبی ص٢٩) شَهِدَ اللّٰهُ : دَ دے ځائے نه تر ص٥٥ پورې دویم باب دے ۔ په دیکښې همه شپږ خبرے دی : (١) دَ توحید دعویٰ سره دَ دریم دلائلو نه ص٤٠ ۔ (٢) جواب دَ شبهې (٣) طریقه دَ دعوت ص٤٢ (٤) تشجیع په تبلیغ ص٤٤ (٥) حال دَ یهودو ص٤٦ (٦) تخویف ص٥٢ ۔ شیخ القرآن رحمه الله فرمائی چې شهادت دَ الله تعالیٰ دلیل وحی دے او شهادت دَ ملائکو او اُولُوا الْعِلْمِ نقلی دی ۔ او قَآئِمًا بِالْقِسْطِ عقلی دے ۔ (بسط البنان ص٣٣) او دَ بنوی شیخ رحمه الله فرمائی چې دیکښې درے نقلی دلائل دی دَ الله کتابونو نه او دَ ملائکو نه او دَ علماء ربانیینو نه ۔ (جواهر ١٣٦/١) فائده ٤ :- په دے ایت کښې دلیل دے په فضیلت دَ علم او شرافت دَ عالمانو او په بهتری دَ دوی ۔ ولے چې بل څوک ډیر شرافت والا وے دَ عالمانو نه نو الله تعالیٰ به دَ ځان

نوم او دَ ملائکو دَ نوم سره پیوسته کړے وے ۔ (قرطبی ص٤١) حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی چې دا لوئے خصوصیت دے دپاره دَ عالمانو په دے مقام کښې (ص٣٥٣) علامه شوکانی رحمه الله فرمائی چې مراد ترینه عالمان دَ کتاب او دَ سُنت دی او هغه چې رسائی پرے کیدے شی معرفت دَ قرآن او دَ سُنت ته ۔ (فتح القدیر ص٣٢٥ ج١) ❖❖

بِالْقِسْطِ ۚ لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١٨﴾ إِنَّ الدِّينَ

په انصاف. نشته معبود مګر الله چې زورور او حکمت والا دے. یقیناً دین (غوره)

عِنْدَ اللّٰهِ الْإِسْلَامُ ۗ وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ

په نزد د الله تعالیٰ اسلام دے، او اختلاف نه دے کړے هغه کسانو چې ورکړے شوے ورته کتاب

إِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۗ وَ

مګر پس د هغے چې راغے دوی ته علم. د وجې د ضد نه چې په مینځ د دوی کښې وو

مَنْ يَّكْفُرْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَإِنَّ اللّٰهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿١٩﴾

چا چې کفر وکړو په آیتونو د الله تعالیٰ، پس یقیناً الله تعالیٰ جلد حساب والا دے.

فَإِنْ حَآجُّوكَ فَقُلْ أَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلّٰهِ وَمَنِ

پس که جګړه کوی بحث کوی تا سره، پس ووایه چې سپاره کړو ما مخ خپل الله تعالیٰ ته او هغه چا چې

اتَّبَعَنِ ۗ وَقُلْ لِّلَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ وَالْأُمِّيِّينَ

تابعداری کړې ده زما، او ووایه هغه کسانو ته چې ورکړے شوے ورته کتاب، او اُمیانو ته.

ءَأَسْلَمْتُمْ ۚ فَإِنْ أَسْلَمُوا فَقَدِ اهْتَدَوْا ۖ وَّإِنْ تَوَلَّوْا

آیا اسلام مو راوړو؟ پس که چرته اسلام ئے راوړو، پس یقیناً دوی هدایت شول، او که چرته مخ ئے وګرځولو

فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ ۗ وَاللّٰهُ بَصِيرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿٢٠﴾ إِنَّ

دوی، پس یقیناً په تا باندې رسول دی، او الله تعالیٰ بینا دے په بندګانو خپلو. یقیناً

الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّنَ

هغه کسان چې کفر کوی په آیتونو د الله تعالیٰ او وژنی ..... پیغمبران

بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ وَّيَقْتُلُونَ الَّذِينَ يَأْمُرُونَ بِالْقِسْطِ مِنَ

په ناحقه، او وژنی هغه کسان چې امر کوی په انصاف سره، د

النَّاسِ ۙ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢١﴾ أُولٰٓئِكَ الَّذِينَ

خلقو نه، پس خبر ورکړه دوی ته په عذاب دردناک باندې. دغه هغه کسان دی چې

حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۖ وَمَا لَهُمْ مِّنْ

برباد شوی عملونه د دوی په دنیا او آخرت کښې، او نشته دوی لره څوک

بَغْيًا بَيْنَهُمْ: د وجې د ضد نه نه د وجې د قصد نه وبیل شو. (زاد المسیر ص٣١) بغیاً و منه اد شوری ص٤٢ وګوره.

وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّنَ: د ابو عبیده بن الجراح رضی الله عنه نه روایت دے چې ما عرض وکړو چې کوم خلق د سخت عذاب والا دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل هغه کس چې نبی لره قتل کړی او یا هغه چا لره چې امر په ښو او منع د بدو نه کوی. بیا نبی علیه السلام دا آیت اولوستلو بیا ئے وفرمائیل اے ابا عبیده! بنی اسرائیلو درے څلویښت نبیان په اول سر د ورځے کښې وژلی وو په یو ساعت کښې، بیا یو سل او اویا کسانو قاتلانو ته امر بالمعروف او نهی عن المنکر شروع کړو پس هغه هم قتل کړے شو په آخر د ورځے کښې. دا هغه کسان دی چې الله تعالیٰ ذکر کړی دی. وګورئ: ابن کثیر ص٣٥٥، بیان القرآن ص١٨١، معارف ص٢، روح ص١، ابن جریر ص١٣٢، الهام الرحمن ص٢.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ : په دې کښې حال د يهودو بيانوي چه د الله تعالیٰ د کتاب نه اوري او حال دا دے چه وائي مونږ ته ثواب زمونږ د پاره دے . ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ : په دې آيت کښې ئې د دغه اړولو وجه بيان کړې ده . فَكَيْفَ : په دې کښې تخويف اخروي

نَّصِرِينَ ﴿٢٢﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِّنَ
امداديان . آيا نه دي کتلي تا هغه کسانو ته چه ورکړے شوے وو دوي ته څه برخه
الْكِتٰبِ يُدْعَوْنَ إِلٰى كِتٰبِ اللّٰهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ
د کتاب نه ، رابللې شي کتاب د الله تعالیٰ ته چه فيصله اوکړي د دوي په مينځ کښې بيا
يَتَوَلّٰى فَرِيقٌ مِّنْهُمْ وَهُمْ مُّعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ
ګرزي يوه ډله د دوي نه او دوي هميشه ګرزيدونکي دي . دا په سبب د دې چه يقينا دوي
قَالُوا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَّعْدُودٰتٍ وَّغَرَّهُمْ
وائي هيڅکله به ونه رسيږي مونږ ته اور مګر ورځې شمارلے شوے ، او دهوکه کړې دوي ته
فِي دِينِهِمْ مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٢٤﴾ فَكَيْفَ إِذَا جَمَعْنٰهُمْ
په دين د دوي کښې هغه دروغو چه دوي به ئې جوړول . پس څه حال به وي د دوي چه کله جمع کړو مونږ دوي
لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيهِ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَ
په هغه ورځ کښې چه نشته شک په هغې کښې او پوره پوره به ورکړے شي هر نفس ته هغه عمل چه دوي کړے وي او
هُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٥﴾ قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي
په دوي به ظلم نشي کيدے . ووايه اے الله اے خاونده د بادشاهئ ، ورکوے
الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَآءُ وَتُعِزُّ
بادشاهي چا له چه وخوښه شي او اخلې بادشاهي د چا نه چه وخوښه شي ، او عزت ورکوے
مَنْ تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلٰى
چا له چه وخوښه شي او ذلت ورکوے چا له چه وخوښه شي په لاس ستا کښې ده ټوله خير ، يقينا ته په
كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٦﴾ تُولِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَتُولِجُ النَّهَارَ
هر شي باندې قدرت والا ئې . ننباسے شپه لره په ورځ کښې ، او ننباسے ورځ لره
فِي الَّيْلِ وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ
په شپه کښې ، او اوباسے ژوندي لره د مړي نه ، او راوباسے مړي لره
مِنَ الْحَيِّ وَتَرْزُقُ مَنْ تَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢٧﴾
د ژوندي نه ، او رزق ورکوے چا له چه وخوښه شي بے حسابه پوره کوے حاجت ئې .

دے . قُلِ اللّٰهُمَّ : دا دے ته متعلق پوره درېيم باب دے چه په دې کښې هم شپږ څيزونه دي .
اوّل توحيد صريح د لا تتولو عقيده دے . درېيم منع د دوستئ د کفارو نه . درېيم د آخرت تخويف . څلورم ترغيب په اتباع النبي ﷺ . شپږم جواب تفصيلي د شبهې ، شپږم اعلان د مباهله . شيخ القرآن رحمه الله فرمائيل چه ۳۳ نکتې دي په عبديت د عيسی عليه السلام چه دے عبد (بنده) دے إله نه دے . لطيفه : شيخ القرآن رحمه الله فرمائيل چه دلته عاجزي د شيخ د عمران په ... کښې او د مريم ... کښې او د زکريا په ... کښې او د ملائکو په ... کښې او د عيسی عليه السلام په ... کښې ده . په ... بنظير . اَللّٰهُمَّ : زجاج وائي چه خليل او سيبويه او ټول نحويان وائي چه د کوم په علم اعتماد دے چه دا په معنی د يا الله دے ... او ... يو درحمن يعني ... دلائل عقليه دي . زمخشري رحمه الله فرمائي چه مقصود بالنداء دلته محذوف دے : اِقْضِ حَاجَتِيْ (جواهر) اے الله ! حاجت پوره کړه . بِيَدِكَ الْخَيْرُ : دلته سوال راځي چه ... کښې مونږ وايو : وَالْقَدَرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى ، نو دلته ئې ولې خير ذکر شو او شر ورسره ذکر نشو . نو جواب دا دے چه دلته د واړه مراد دي خو يو په ذکر کښې اکتفاء وکړه د بل نه . (مرکز ... تسهيل ... ، قرطبي ...) لکه چه سورة نحل کښې راځي : تَقِيْكُمُ الْحَرَّ چه بچ کوي تاسو لره د ګرمئ نه او يخني ورسره هم مراد ده .

لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ: ولته منع دَ موالاتو دَ كفارونه دَه. دَ هغوى سره دَ تعلق كولو څلور درجې دي (۱) مُوَالات: دَ زړه تعلق او محبت دا دَ غير مسلمو سره منع دي (۲) مُدَارات: خوش اخلاقه دَ دينى نفع رسولو په بنا يا دَ كفارو دَ ضرر نه دَ بچ كيدو په خاطر، دا غير مسلمو سره جائز دي. ولته دا دواړه حکمونه ذکر دي. (۳) مواسات: همدردي او خير خواهي دا هم دَ غير مسلمو سره جائز دي خو چه محاربين نه وي دَ مسلمانانو سره جنګ نه کوي. دا سورة ممتحنه کښ ذکر دي. (۴) مُعَاملات: خريد او فروخت دا جائز دي خو چه په داسې حالات نه چه عام مسلمانانو ته ترې نقصان رسيږي فقهاء کرامو په کفارو باندې دَ اسلحې دَ خرڅولو نه منع فرمائيلې ده. دا مضمون احقر په الهام الرحمن ملا کښ تفصيلي دَ معارف القرآن مفتي صاحب نه نقل کړې هلته ئې وګورئ. ولته ئې ترې اجمالاً دا نقل کړو. په آيت مذکوره کښ زور نه ده هغې باندې چه دَ کفارو سره دوستي کوي او په مذکښ ورله تخويف ورکړے شوے.

لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ

نه دې نيسي مؤمنان، كافران لوئ دوستان، سوا دَ

الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ فِيْ

ايمانداروڼه. او چا چه وکړو دغه کار، پس نه به وي دَ الله سره هيڅ

شَيْءٍ اِلَّآ اَنْ تَتَّقُوْا مِنْهُمْ تُقٰىةً ۭ وَيُحَذِّرُكُمُ

شى کښ، مګر کله چه ځان ساتئ دَ دوي نه په ځان ساتلو سره، او ويروي تاسې له

اللّٰهُ نَفْسَهٗ ۭ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿۲۸﴾ قُلْ اِنْ تُخْفُوْا

الله دَ ځان نه، او الله ته واپسي ده ستاسو. ووايه که پټ ساتئ

مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ اَوْ تُبْدُوْهُ يَعْلَمْهُ اللّٰهُ ۭ وَيَعْلَمُ

هغه چه په سينو ستاسو کښ دي او يا ئې ښکاره کوئ پوهيږي پرې الله، او پوهيږي

مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰي

په هغه چه په آسمانونو کښ دي او هغه چه په زمکه کښ دي، او الله په

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۹﴾ يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا

هر شى باندې قدرت والا دے. په کومه ورځ به بيا موندي هر نفس هغه عمل چه

عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا ڔ وَّمَا عَمِلَتْ مِنْ

کړے وي دَ نيکئ نه حاضر کړے شوے، او هغه عمل چه کړے وي دَ

سُوْۗءٍ ڔ تَوَدُّ لَوْ اَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهٗٓ اَمَدًۢا بَعِيْدًا ۭ

بدئ نه، خوښوي به چه وې په مينځ دَ دوي او دَ عمل کښ فاصله لرې،

وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ۭ وَاللّٰهُ رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۳۰﴾

او ويروي تاسې له الله دَ ځان نه. او الله ډير مهربان دے په بندګانو خپلو.

قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ

ووايه که چرې تاسو چه مينه کوئ دَ الله سره پس تابعداري وکړئ زما، مينه به وکړي تاسو سره

اللّٰهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳۱﴾

الله او بخښنه به وکړي تاسو له دَ ګناهونو ستاسو او الله بخښونکے رحم کوونکے دے.

وَمَا عَمِلَتْ مِنْ سُوْۗءٍ: نه روستو مُحْضَرًا پټ دے. معنى دا شوه او هغه عمل چه دوي کړے دَ بدئ نه به هم دَ اګه حاضر. قُلْ اِنْ كُنْتُمْ: ترغيب دے اتباع ته او دوه بشارتونه دي (۱) يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ (۲) وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ. عمل دے، روښانه غوارې مکرر دوه ستر ګے. حافظ ابن کثير رحمه الله په ج۱ ص۳۵۸ کښ فرمائيلي دي چه دا آيت کريمه فيصله کوونکے دے په هر هغه چا باندې چه دعوه کوي دَ محبت دَ الله تعالى او نه وي په طريقه محمدي باندې پس يقيناً دغه په واقع کښ دروغژن دے په خپله دعوه کښ تر دے چه دَ شرع محمدي او دين نبوي تابعداري په ټولو اقوالو او افعالو خپلو کښ لکه چه ثابت شوي دي په صحيح حديث کښي دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم نه چه فرمائيلي ئې دي چا چه عمل وکړو داسې عمل چه په هغه زمونږ حکم نه وي نو هغه مردود دے. علامه نسفي رحمه الله ليکي په مدارک کښ: پس څوک چه دعوه دَ محبت دَ الله تعالى کوي او مخالفت دَ سنتو دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم کوي نو دغه

خلق وروغوښتل دي او دَ الله تعالیٰ کتاب ئې دروغجن کوي. ﴿اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰی﴾: دَ دې څائے نه کښې ترمیکتے (دلائل په عبدیت دَ عیسیٰ علیه السلام پیش کوي. او کښې رښتیا هم دا وائي چه نصاراؤ دَ نجران غلو (زیاتے) کړے وو چه عیسیٰ علیه السلام ئې دَ الله تعالیٰ ځوئے ګرځولے وو او هم دګاړے ګرځولے وو. نو دا آیت په هغوی باندې دَ رَد دَ پاره نازل شو. (روح ۳/۱۳۰)

قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ

وواوایه چه اطاعت کوئ دَ الله تعالیٰ او دَ رسول ۴، پس که بیا ګرځي تاسو (روګرځي) نو یقیناً الله تعالیٰ

لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۳۲﴾ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰۤى اٰدَمَ وَ نُوْحًا

مینه نه ساتي دَ کافرانو سره. یقیناً الله تعالیٰ غوره کړے دے آدم ۴ او نوح ۴

وَّ اٰلَ اِبْرٰهِيْمَ وَ اٰلَ عِمْرٰنَ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۳﴾ ذُرِّيَّةً

او اولاد دَ ابراهیم ۴ او اولاد دَ عمران په ټول عالم باندې، اولاد

بَعْضُهَا مِنْۢ بَعْضٍ ؕ وَ اللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۳۴﴾ اِذْ قَالَتِ

بعض دَ دوي پیدا شوي دي دَ بعضو او الله تعالیٰ اوریدونکے پوهه دے. کله چه ووئیل

امْرَاَتُ عِمْرٰنَ رَبِّ اِنِّيْ نَذَرْتُ لَكَ مَا فِيْ بَطْنِيْ

ښځې دَ عمران اے ربه زما! ما نذر کړو تا لره هغه چه په ګیډه زما کښې دي

مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّيْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۳۵﴾

آزاد شوي، نو ته ئې قبول کړه زما نه، یقیناً هم ته اوریدونکے پوهه یې.

فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ اِنِّيْ وَضَعْتُهَاۤ اُنْثٰى ؕ

پس کله چه ئې وزیږوله هغه لره نو وئې ویل اے ربه زما! یقیناً ما وزیږوله دَ نجلۍ جینۍ،

وَ اللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ ؕ وَ لَيْسَ الذَّكَرُ كَالْاُنْثٰى ۚ

او الله تعالیٰ ښه خبر دے په هغه چه ئې وزیږوله، او نه دے هلک په شان دَ جینۍ،

وَ اِنِّيْ سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَ اِنِّيْۤ اُعِيْذُهَا بِكَ وَ

او یقیناً ما نوم کیښودو دَ هغې مریم، او یقیناً زه پناه ورکوم دې ته په تا سره، او

ذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ﴿۳۶﴾ فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا

دَ اولاد دَ هغې، دَ شیطان رټلي شوي نه. پس قبوله کړه هغه، رب دَ هغې

بِقَبُوْلٍ حَسَنٍ وَّ اَنْۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا ۙ وَّ كَفَّلَهَا

په قبولیت ښه سره، او وې غټوله په غټولو ښه سره، او ورسپارله هغه لره

زَكَرِيَّا ۚؕ كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ ۙ

زکریا ۴ ته، هر واري چه داخل به شو په هغې زکریا ۴، عبادت خانې ته،

﴿اِمْرَاَتُ عِمْرٰنَ﴾: دَ عمران دَ پلار نوم ماثان وو او دَ ښځې نوم ئې حنه لور دَ فاقوذا وه (مدارک ۱/۱۵۳)

﴿اِنِّيْ نَذَرْتُ لَكَ﴾: معنیٰ ئې دا ده چه ستا دَ کور دَ خدمت دَ پاره به مې منلے ده (روح) او دا نذر دَ هغوی په شریعت کښې روا وو. وګورئ مدارک ۱/۱۵۳ او جواهر ۱/۱۵۳.

﴿اِنِّيْ وَضَعْتُهَاۤ اُنْثٰى﴾: یقیناً ما وزیږوله جینۍ دا ئې دَ افسوس په شکل ووئیل ځکه چه عام طور جینکو نو دَ خدمت دَ پاره نا اهله وي دلته دَ کور کښې معتکفې دي. یعنې ځکه ئې ﴿وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ﴾ او دغه رنګ ﴿وَ لَيْسَ الذَّكَرُ كَالْاُنْثٰى﴾ دَ پاره دَ تعظیم دَ دغه ما شومې ذکر شوي دي (روح المعاني ۳/۱۳۵) وګورئ.

﴿سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ﴾: او یقیناً ما نوم کیښودو دَ دې جینۍ لره مریم او مریم دَ هغوی په ژبه کښې په معنیٰ دَ عابده وو.

فائده: ددې نه معلومه شوه چه دَ مور دَ پاره دَ خپل بچي دَ تعلیم او تربیت دَ پاره یو قسم نه حق حاصل دے ځکه کیږي دَ مور دَ پاره په بچي باندې ولایت حاصل نه وے نو دَ حضرت مریم نه ربه نذر منلے شوے او دا نه شرعیه هم ثابته شوه چه مور ته دا هم حق دے چه دَ خپل بچي نوم په خپله تجویز کړي. (معارف القرآن ۲/۵۲) او کرینه دا دلیل نیولے شي چه دَ پیدائش په ورځ هم ما شوم ته نوم ایښودلے شي. وګورئ ۳/۱۳۵ روح، ۱/۲۰۵ تسهیل، ۱/۳۵۸ ابن کثیر.

وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا ۚ قَالَ يٰمَرْيَمُ اَنّٰى لَكِ هٰذَا ۖ

بیا به ئې موندل د هغې سره رزق، اوویل ده: اے مریم، د کوم ځائے نه دی تا ره دا؟

قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۖ اِنَّ اللّٰهَ يَرْزُقُ مَنْ

وویل هغې: دا د طرفه د الله تعالیٰ نه دی، یقیناً الله تعالیٰ رزق ورکوي چاله چې

يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٧﴾ هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهٗ ۚ

وغواړي بے حسابه. په دغه وخت کښې سوال وکړو زکریا د رب خپل نه

قَالَ رَبِّ هَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ۚ

وویل اے ربه زما! او بخښې ماته د دربار خپل نه، خوئې ... پاک،

اِنَّكَ سَمِيْعُ الدُّعَآءِ ﴿٣٨﴾ فَنَادَتْهُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٌ

یقیناً ته اوریدونکے د دعا ئې. پس آواز وکړو ده ته ملائکو، او ده ولاړ وو

يُّصَلِّيْ فِي الْمِحْرَابِ ۙ اَنَّ اللّٰهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيٰى

مونځ ئې کولو په عبادت خانه کښې، چې یقیناً الله تعالیٰ زیرے درکوي تا ته په یحییٰ سره،

مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَسَيِّدًا وَّحَصُوْرًا وَّ

چې تصدیق کوونکے به وي په کلمې د الله تعالیٰ سره، او سردار به وي، او پاک لمانځه به وي، او

نَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٣٩﴾ قَالَ رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ

نبي به وي، د کاملو نیکانو نه. اوویل هغه: اے ربه زما! په کوم طریقه به شي ماته د ...

غُلٰمٌ وَّقَدْ بَلَغَنِيَ الْكِبَرُ وَامْرَاَتِيْ عَاقِرٌ ۖ قَالَ كَذٰلِكَ

هلک او یقیناً رسیدلے ماته بوډا توب، او ښځه زما شنډه ده، وویل الله تعالیٰ همدغسې

اللّٰهُ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴿٤٠﴾ قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِّيْ

الله تعالیٰ کوي څه چې غواړي. وویل ده اے ربه زما! وګرزوه ما له

اٰيَةً ۖ قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ

نښه، وویل الله: نښه ستا دا ده چې به نه شې کولے خبرې د خلقو سره، درې ورځې،

اِلَّا رَمْزًا ۗ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ كَثِيْرًا وَّسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ

مګر په اشاره، او یادوه رب خپل ډیر، او پاکي بیانوه، په بیګاه

وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا: امام رازی رحمه الله په کبیر ۲۰۳/۸ کښې لیکلي دي چې متواتر روایات په دې راغلي دي چې زکریا علیه السلام به د هغې سره د ژمي میوے په اوړي کښې او د اوړي میوے به د ژمي کښې موندلے. حافظ ابن کثیر رحمه الله په ۱/۳۶۰ کښې فرمائي چې په دې کښې دلالت دے په کرامت د اولیاؤ باندې او په حدیثونو کښې د دے په باره کښې ډیر نظیرونه شته. فائده: شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل چې کرامت حق دے خو دومره خبره یاد دے ساتل پکار دي، چې دا چې ولي په علم کښې نه وي، دویم دا چې د هغه قدرت هم نه وي. فائده: شاه محمد اسحق رحمه الله په مائة مسائل کښې خرق عادت ناآشنا کاروته شیئ ذکر کړیدي. د مشرکینو کرامت د اور د هغه ناآشنا کار ته ویلے شي چې د ولي نه صادر شي پس د هغه نه چې ولایت ئې ثابت شوے وي. هُنَالِكَ: په دغه مکان کښې کوم ځائے چې دے ناست وو د بي بي مریم سره په عبادت خانه کښې او یا په دغه وخت کښې (رازي ۸/۲۰۳)، يُبَشِّرُكَ: چې دعا ئې کوله (مسائل منه)، حَصُوْرًا: پاکباز، په مدارج السالکین ۲/۲۳ کښې دي چې حصور هغه چا ته ویلے شي چې بخوا ته نه راځي سره د قدرت نه په دغه باندې. په کبیر ۸/۲۰۸ کښې لیکلي چې هغه کس دے چې نه راځي بخوا ته نه د وجې د عجز نه بلکه د وجې د عفت او زهد نه. اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ: دلته اشکال دا دے چې اول خو ئې مطالب کړي او چې بشارت ملاو شي نو بیا وائي: اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ نو جواب ئې دا دے: ابو حیان رحمه الله په البحر ۲/۴۶۴ کښې فرمائي او یقیناً دا ئې او ویل سره د هغه نه چې مخکښې ئې دعا هم کړے وه چې ټول باندې او مضبوط یقین هم د الله تعالیٰ په قدرت باندې وو. او بیا خصوصاً په مشاهده سره د دوي نه مخکښې شواهد ولیدل د باره د تپوس د دوي د کیفیت د هغې پیدا کیدو نه چې آیا ورکوي به ئې د بوډا توب په حالت کښې او د ښځې د شنډ توب په حالت کښې او که حالت به ئې بدلیږي. دا هغه

وَالْإِبْكَارِ ﴿٤١﴾ وَإِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ يٰمَرْيَمُ إِنَّ اللّٰهَ ع ١١ ١٢

او په سحر- او کله چه ووییل ملائکو، اے مریمې! یقینًا الله

اصْطَفٰىكِ وَطَهَّرَكِ وَاصْطَفٰىكِ عَلٰى نِسَآءِ

غوره کړې یې ته ته او (دے) پاکه کړې او (دے) غوره کړې یې ته په ښځو

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٢﴾ يٰمَرْيَمُ اقْنُتِيْ لِرَبِّكِ وَاسْجُدِيْ

د عالمونو باندے. اے مریمې! تابعداري کوه د رب خپل، او سجده کوه،

وَارْكَعِيْ مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴿٤٣﴾ ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ

او رکوع کوه سره د رکوع کوونکو. دغه بعض د خبرونو د غیبو نه دي چه

نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ ۚ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْ يُلْقُوْنَ

وحی کوو یې تاته، او نه وے ته، د دوی سره، کله چه یې غورزول

اَقْلَامَهُمْ اَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ ۪ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ

قلمونه خپل چه کوم یو د دوی به پرورش (کفالت) کوي د مریمې، او نه وے ته له دوی سره

اِذْ يَخْتَصِمُوْنَ ﴿٤٤﴾ اِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ يٰمَرْيَمُ اِنَّ

کله چه دوی بحث کولو- کله چه ووییل ملائکو، اے مریمې! یقینًا

اللّٰهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ ۖ اسْمُهُ الْمَسِيْحُ عِيْسَى

الله زیرے درکوي تاته په کلمے سره د خپل طرف نه، نوم یې مسیح عیسی

ابْنُ مَرْيَمَ وَجِيْهًا فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ

ځوئے د مریمې دے، خاوند د عزت به وي په دنیا او آخرت کښې،

وَمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿٤٥﴾ وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ

او د نزدے کړے شوو نه به وي- او خبرے به کوي خلقو سره په زانګو کښې،

وَكَهْلًا وَّمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٤٦﴾ قَالَتْ رَبِّ اَنّٰى

او په بلوغ او تو کښې، او د کاملو نیکانو نه به وي- ووییل مریمې اے ربه زما! څنګه به

يَكُوْنُ لِيْ وَلَدٌ وَّلَمْ يَمْسَسْنِيْ بَشَرٌ ۗ قَالَ

شي ما لره هلک، او نه دے رسیدلے ماته هیڅ انسان؟ ووییل الله

حسن بصري رحمه الله او سُدّي او قرطبي رحمه الله فرمائي چه (أَنّٰى) په معنٰی د کَيْفَ دے (سِلِّيك) حاصل دا چه یقین ئے پوره مضبوط ؤ لاکن د کیفیت درخواست ئے کولو. (آیت ۴۷)

يُكَلِّمُ النَّاسَ: مثلاً سورة مريم اوګورئ. يٰمَرْيَمُ: په دیکښې ډیر ورده دے. ذٰلِكَ مله: دا د پاره د صداقت د رسول عليه السلام دے. اِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ: د دے ځائے نه په عبديت د عیسٰی علیه السلام دلیلونه ذکر کوي. وَكَهْلًا: په دیکښې اشاره ده چه اِله نه دے. ابو السعود رحمه الله په منځ کښې لیکلي دي چه په ذکر کولو د مختلفو حالاتو کښې اشاره ده دے ته چه عیسٰی علیه السلام لره دے د الوهیت نه. ابوبکر رازي رحمه الله یو توجیه دا هم ذکر کړے ده چه دا ئے مور بي ته زیرے دے په اوږدوالي د عمر چه پوخ عمر ته به رسیږي. (رسائل قاسم)

الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ: لیکل: او بیان دَحلالو او دَحرامو (مدارک ص۱۵۹) چې کله دَ اسمان نه راکوزشي نو دغه وخت کښې به ورته دَ قرآن او سُنت علم دَ الله نه په وحیې طور ورکړے شي (جواهر ص۱۵۲) وَرَسُوْلًا اِلٰى بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ: او اِنجیل ص۱۶:

كَذٰلِكِ اللّٰهُ یَخْلُقُ مَا یَشَآءُ ؕ اِذَا قَضٰٓى اَمْرًا فَاِنَّمَا

دغه رنګې الله پیدا کوي هغه څه چې خوښ وي، کله چې اراده وکړي دَ یو کار، پس یقینًا

یَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَیَكُوْنُ ﴿۴۷﴾ وَیُعَلِّمُهُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ

وائي هغه ته: موجود شه پس موجود شي - او ورښائي به ده ته کتاب (قرآن) او پوهه دَ دین

وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِیْلَ ﴿۴۸﴾ وَرَسُوْلًا اِلٰى بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ

او تورات او انجیل - او به یې ګرزوي رسول — بني اسرائیلو ته،

اَنِّیْ قَدْ جِئْتُكُمْ بِاٰیَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۙ اَنِّیْٓ اَخْلُقُ لَكُمْ

چې یقینًا راغلے یم تاسو ته په معجزه سره دَ رب ستاسو نه، یقینًا زه جوړوم تاسو له

مِّنَ الطِّیْنِ كَهَیْـَٔةِ الطَّیْرِ فَاَنْفُخُ فِیْهِ فَیَكُوْنُ

دَ خټې نه، په شان دَ شکل دَ مرغۍ، پس پوکے کوم په دغه کښې، پس کیږي

طَیْرًۢا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَاُبْرِئُ الْاَكْمَهَ وَالْاَبْرَصَ

مرغۍ په حکم دَ الله سره، او جوړوم ړوند زیږیدلے، او برګی مرض والا،

وَاُحْیِ الْمَوْتٰى بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا تَاْكُلُوْنَ

او ژوندي کوم مړي په حکم دَ الله سره، او خبروم کوم تاسو ته په هغه څه چې تاسو خورئ،

وَمَا تَدَّخِرُوْنَ ۙ فِیْ بُیُوْتِكُمْ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً

او هغه څه چې تاسو ذخیره کوئ په کورونو خپلو کښې، یقینًا په دې کښې، خامخا نښې دي

لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ ﴿۴۹﴾ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَیْنَ یَدَیَّ

تاسو له که چرته یئ تاسو ایمان راوړونکي - او رښتونے کوونکے دَ هغه څه چې مخکښې نه ما نه دي،

مِنَ التَّوْرٰىةِ وَلِاُحِلَّ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِیْ حُرِّمَ عَلَیْكُمْ

په تورات کښې، او دَ دې دپاره چې حلال کړم تاسو له بعضې هغه څیزونه چې حرام شوي وو په تاسو،

وَجِئْتُكُمْ بِاٰیَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۫ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِیْعُوْنِ ﴿۵۰﴾

او راغلے یم تاسو ته په نښه دَ رب ستاسو نه، پس ووېرېږئ دَ الله نه او تابعداري وکړئ زما.

اِنَّ اللّٰهَ رَبِّیْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِیْمٌ ﴿۵۱﴾

یقینًا الله رب زما دے او رب ستاسو دے، پس عبادت وکړئ دَ هغه، دا لاره نیغه ده۔

منزل ۱

او به یې ګرځوي آستازے بني اسرائیلو ته. (زاد المسیر ص۱۳۵) اَخْلُقُ: شکل جوړوم اندازه کومه ئې - (قرطبي ص۹۴) بِاِذْنِ اللّٰهِ: په حکم دَ الله تعالیٰ باندې - دَ الفظ باربار مکرر شو دَپاره دَ دفع دَ وهم دَ هغه چا چې په عیسیٰ علیه السلام کښې دَ اُلوهیت عقیده ساتي (مدارک ص۱۶۰) دَ شاه پور شیخ رحمه الله په افضل التراجم کښې لیکي چې په شکل دَ مبارغه جوړولو کښې هغه کاسب یم نه خالق یم" دَ عیسیٰ علیه السلام په زمانه کښې دَ یونان دَ طب لویه چرچه ؤ او کېبه ورته نو عیسیٰ علیه السلام ته داسې معجزې ورکړے شوے چې دَ علاج سره تعلق لري او نور حکیمان تربې عاجزه وي. وَلِاُحِلَّ لَكُمْ: شیخ القرآن رحمه الله په فرمایل چې بیان دَ حلال وګرم تاسے ته عګه حلالونکے او حرامونکے یو الله تعالیٰ دے - اِنَّ اللّٰهَ رَبِّیْ: په دے ماشد دَ ص۱۸۱، مریم ص۳۶، زخرف ص۶۴ هم وګورئ. مَنْ اَنْصَارِیْٓ اِلَى اللّٰهِ: (فاعل) دا عبارت راتلونکے تو ص۱۳ سره متعلق دے: څوک دي امداد یاران خما دین دَ الله تعالیٰ ته - دا دَ اَسبابو لاندې مدد غوښتل دي دا شرک نه دے څنګه چې کهف ص۹۵ کښې هم دي - قَالَ الْحَوَارِیُّوْنَ: حواری دَ حور نه جوړ دے چې په لغت کښې معنیٰ دَ سپین والي ده او په اصطلاح کښې دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام مخصوص ملګرو ته دَ هغوی دَ اِخلاص او صفائي دَ زړونو په وجه دَ حواري لقب ورکړے شوے وو. (معارف ص۵۲) معنیٰ دا شوه چې وویل مخصوص ملګرو دَ هغه. شیخ القرآن رحمه الله به دا معنیٰ کوله چې وویل شهزادګانو. (الهام الرحمن ص۲۹۵) امام قرطبي رحمه الله په ص۹۷ کښې او امام رازي رحمه الله په ص۷۱ کښې لیکي چې وئیلې شوي دي چې دوی

منصفه داده چه ولا تقدیم او تاخیر کے یعنی اوس دِ اوچتوم بیا به وژنم په اخره زمانه کښ. (۱) امام رازی رحمه الله فرمائی چه دا اے تقدیم او تاخیر جوړ راځی په قرآن کښ (کبیر ص۳۲). فَاَمَّا الَّذِیْنَ کَفَرُوْا دکښی

فَيُوَفِّيهِمْ أُجُورَهُمْ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ ﴿٥٧﴾
پس پوره به ورکړی الله بدلې ددوی او الله نه خوښوی ظلم کوونکو ته.

ذَٰلِكَ نَتْلُوهُ عَلَيْكَ مِنَ الْآيَاتِ وَالذِّكْرِ
دغه تلاوت کوو مونږ په تا باندې، د آیتونو، او نصیحت

الْحَكِيمِ ﴿٥٨﴾ إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ اللَّهِ كَمَثَلِ
حکمت نه ډک. یقیناً مثال د عیسیٰ په نزد د الله، په مثل د

آدَمَ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿٥٩﴾
آدم دے چه پیدا کړو الله هغه د خاورے نه، بیا ووئیل الله هغه ته، شه، نو شو.

الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُن مِّنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿٦٠﴾
دا حق دے د رب ستا نه، پس مه کیږه ته د شک کوونکو نه.

فَمَنْ حَاجَّكَ فِيهِ مِن بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ
پس هر څوک چه جګړه کوی تا سره په باره د عیسیٰ کښے پس د هغه نه چه راغله تا ته، پوهه،

فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ وَنِسَاءَنَا
پس ووایه راشئ راوبلو خامن زمونږ، او خامن ستاسو، او ښځے زمونږ

وَنِسَاءَكُمْ وَأَنفُسَنَا وَأَنفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل
او ښځے ستاسو، او ځانونه زمونږ، او ځانونه ستاسو، بیا به عاجزی وکړو پس وبه ګرځوو

لَّعْنَتَ اللَّهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ ﴿٦١﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ
لعنت د الله په دروغ ویونکو باندے. یقیناً دغه، خامخا دا

الْقَصَصُ الْحَقُّ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا اللَّهُ وَإِنَّ
بیان، حق دے، او نشته لائق د بندګۍ سوا د الله نه، او یقیناً

اللَّهَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٦٢﴾ فَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّ
الله، خامخا هغه زورور حکمت والا دے. پس که وګرځی دوی مخ وارولو، پس یقیناً

اللَّهَ عَلِيمٌ بِالْمُفْسِدِينَ ﴿٦٣﴾ قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ
الله پوهه دے په وانے مفسدانو باندے. او وایه: اے اهل کتابو!

ع ۹ / ۱۳

منزل ۱

تخویف دے. وَاَمَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا دکښی بشارت دے. فَمَنْ حَآجَّكَ په دیکښی اعلان د مباهلے دے چه ایا تاسو سره د دغوی تیار نشو. نَبْتَهِلْ: مباهله به وکړو، ښیرے به وکړو. بکبیر ص۳۲ کښی چه کوشش به وکړو چه ښیرے وکړی او لعنت به وکړو دوی په دروغژن باندے. اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ دا مضمون په ختمیدو شو نو نتیجه دا شوه چه دغه بیان حق دے او مسئله دا ثابته شوه چه: مَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّا اللهُ چه تصرف کار مکرتیو الله تعالیٰ دے او عیسیٰ علیه السلام مدد ګار نه دے او الله عز وجل مفسدان پیژنی کوم چه د توحید نه اعراض کوی. قُلْ یٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ: قدر مشترك ته دعوت دے چه تصدیق د رسول الله صلی الله علیه وسلم کښی. تر رکوع ملت خلا اول دعوه د توحید ذکر وه هغه چه مقصد اعلیٰ دے بیا تر دی پورے رسولان المیثاق دی بیا (۲) قباحتونه د اهل کتابو چه منکر وو د رسالت د نبی علیه السلام (۱) د پیر انو او ملایانو په تحریم او تحلیل کښی اطاعت کول ۱۳. (۲) دا دعوه کول چه ابراهیم زمونږ په دین وو ۱۵ (۳) ګمراه کول د خلقو ۱۶ (۴) کفر په آیتونو د الله باندے ۱۷ (۵) تلبیس د حق د باطل سره ملګ (۶) ټه ببیه کپاره د ګمراهی کولو د ضعیفانو د اسلام نه (۷) وصیت په یهودیت منسوخه باندی ۱۷ (۸) ټینګولے د دوی په خیانت باندی ۱۸ (۹) تحریف د دوی ۱۸ (۱۰) نسبت د شرك نیکانو ته ۱۹

(۱۱) اعراض د دوی د تابعداری د رسول صلی الله علیه وسلم نه ۱۸ (۱۲) ارتداد د دوی ۲۰ (۱۳) افتراء د دوی په انبیاؤ باندے په حلال او حرمت کښی ۱۰ (۱۴) چه زمونږ قبله ستاسو د قبلے نه غوره ده ۹۶ او د ۹۷ نه زجر دے منکرینو ته، په ۲۰۰ کښی منع د دوستانو له د دغوی د اطاعت نه.

يَا أَهْلَ الْكِتٰبِ: دا د وفد د نجران سره خطاب دے. (قرطبي ۲/۱۰۶) دا د دوا ړو ولو په باره کښې نازل شوې ده. (کبير ۸/۸۴) د کلمې نه مراد کلام دے او د سَوَاءٍ نه مراد داد دے چه تورات او انجيل او قرآن پکښې مختلف نه وي.

تَعَالَوْا إِلٰى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا

راشئ يو خبرے ته چه برابره ده زمونږ په مينځ او ستاسو په مينځ کښې چه بندګي به نه کوو مګر د

اللّٰهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَيْئًا وَّلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا

يو الله او نه به شريکوو د هغه سره هيڅ شي لره او نه به نيسي بعض زمونږ بعض نور و څخه لره

أَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۚ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا

پالونکي سوا د الله تعالیٰ نه، پس که دوی مخ واړوي پس ووايئ چه ګواه شئ

بِأَنَّا مُسْلِمُوْنَ ﴿۶۴﴾ يَا أَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تُحَاجُّوْنَ فِيْ

په دې باندې چه يقيناً مونږ مسلمانان يو. اے کتاب والو! ولے جګړے کوئ په باره د

إِبْرٰهِيْمَ وَمَا أُنْزِلَتِ التَّوْرٰىةُ وَالْإِنْجِيْلُ إِلَّا مِنْۢ

ابراهيم کښې، او نه دي نازل کړے شوے تورات او انجيل مګر روستو

بَعْدِهٖ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۵﴾ هٰۤأَنْتُمْ هٰۤؤُلَاۤءِ حَاجَجْتُمْ فِيْمَا

د هغه نه، آيا پس د عقل نه کار نه اخلئ؟ خبردار تاسو اے خلقو! جګړه کوله تاسو په هغه څيز کښې

لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ فَلِمَ تُحَاجُّوْنَ فِيْمَا لَيْسَ لَكُمْ بِهٖ

چه تاسو له په هغه باندې پوهه وه، پس ولے جګړه کوئ په هغه کښې چه نشته تاسو له په هغه باندې

عِلْمٌ ۗ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۶۶﴾ مَا كَانَ

پوهه، او الله پوهيږي او تاسو نه پوهيږئ. نه وو

إِبْرٰهِيْمُ يَهُوْدِيًّا وَّلَا نَصْرَانِيًّا وَّلٰكِنْ كَانَ

ابراهيم يهودي، او نه نصراني، او لاکن وو، مائل د

حَنِيْفًا مُّسْلِمًا ۗ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۶۷﴾ إِنَّ

باطلو دينو نه، مسلمان، او نه وو د شرک کونکو نه. يقيناً

أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرٰهِيْمَ لَلَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ وَهٰذَا

ډير لائق د خلقو نه په نسبت سره د ابراهيم خامخا هغه کسان دي چه تابعداري کړے ده د هغه او دا

النَّبِيُّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۗ وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۶۸﴾

نبي او هغه کسان چه ايمان ئے راوړے دے او الله دوست د مؤمنانو دے.

(روح المعاني ۳/۱۹۲) أَلَّا نَعْبُدَ وا: دا د کلمې تفسير دے. وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا: او نه به نيسي بعض زمونږ. لا بعضو لره خدايان يعني په تحريم او تحليل کښې. وګورئ په "مدارک ۱/۱۹۲" او کبير ۸/۸۶: په حديث د عدي بن حاتم رضي الله عنه کښې رازي چه مونږ خو عبادت نه کولو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمايل: آيا نه وو دوی چه تحريم او تحليل به ئے ستاسو دپاره کولو او تاسو به ئے په قول عمل کولو نو عدي رضي الله عنه ووئيل ولے نه؟ نو نبي صلی الله علیه وسلم وفرمايل: هُوَ ذَاكَ. او دا دغه ده. وګورئ روح المعاني ۳/۱۹۳، ترمذي ۲/۱۳۰: امام رازي رحمه الله داهم ليکي چه دوی به سجدے خپلو مشرانو ته کولے (کبير ۸/۸۹) وګورئ خازن هم ملکا ۳ ج ۱.)

وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ: او نه وو ابراهيم علیه السلام د شرک کونکو نه او نه د بُت پرستو نه او نه د کوکب پرستو نه او نه د يهودو نه او نه د نصارا و نه. (روح ۳/۱۹۶) يهود او نصارٰی هم مشرکان دي. وګورئ ملخ سورت توبه.

لِمَ تَلْبِسُوْنَ الْحَقَّ، بقره ۴۲ وګورئ. شیخ القرآن رحمه الله ـ فرمایل: ولې ګډوئ بد عت سُنّت د مصطفیٰ ﷺ سره ؟ پیښي به وګورئ په مختصره مجتبیٰ سره «وَقَالَتْ طَّائِفَةٌ» : الوسي رحمه الله لیکلي دي په طرف ۱۰۰۰، ۹۹، کښې چه

وَدَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْ يُضِلُّوْنَكُمْ ۭ وَ
خوښه کړې ده یوې ډلې ، د اهل کتابو نه چه ګمراه کړي تاسې لره ، او

مَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَھُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۶۹﴾ يٰٓاَھْلَ
نشي ګمراه کولې ، مګر خپل ځانونه ، او نه پوهیږي دوی . اې

الْكِتٰبِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ﴿۷۰﴾
کتاب والو ! ولې کفر کوئ تاسې په آیتونو د الله ، او تاسې ګواهي کوئ .

يٰٓاَھْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَلْبِسُوْنَ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوْنَ
اې کتاب والو ! ولې ګډوئ تاسې حق لره د باطل سره ، او ولې پټوئ

الْحَقَّ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۷۱﴾ وَقَالَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ اَھْلِ
حق لره ، او تاسې پوهیږئ . او ووئیل یوې ډلې د اهل کتابو

الْكِتٰبِ اٰمِنُوْا بِالَّذِيْٓ اُنْزِلَ عَلَي الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَجْهَ
نه چه ایمان راوړئ په هغه چه نازل شوی دی په هغه کسانو چه ایمان ئې راوړی دی اول د

النَّهَارِ وَاكْفُرُوْٓا اٰخِرَهٗ لَعَلَّھُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۷۲﴾ وَلَا
ورځې کښې او کفر وکړئ په آخر سره د ورځې کښې دپاره د دې چه دوی واپس شي . او مه

تُؤْمِنُوْٓا اِلَّا لِمَنْ تَبِعَ دِيْنَكُمْ ۭ قُلْ اِنَّ الْهُدٰى
مني د هیچا خبره مګر د هغه چا چه تابعداري کوي د دین ستاسې ، ووایه : یقیناً ـ هدایت

هُدَى اللّٰهِ ۙ اَنْ يُّؤْتٰٓى اَحَدٌ مِّثْلَ مَآ اُوْتِيْتُمْ اَوْ
هدایت د الله دی ، آیا ورکولې شي یو کس ته په مثل د هغه چه درکړې شوي تاسې

يُحَاۗجُّوْكُمْ عِنْدَ رَبِّكُمْ ۭ قُلْ اِنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ ۚ
او یا جګړه به وکړي تاسې سره په نزد د رب ستاسې ، ووایه یقیناً ، فضل په لاس د الله کښې دی ،

يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۷۳﴾ يَّخْتَصُّ
ورکوي به چالره چه خوښه شي ، او الله فراخ اختیار والا ښه پوهه دی . خاص کوي

بِرَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۷۴﴾
رحمت خپل په هغه چا پورې چه رضا لري ورته ، او الله خاوند د فضل لوی دی :

منزل ۱

اتفاق وکړه د ولسو کسانو یهودو د خیبر او د کلو د عُرینه نه او بعضو بعضو ته وویل چه داخل شئ په دین د محمد کښې په اول سر د ورځې کښې او وائئ چه موږ نظر وکړو په کتابونو خپلو کښې او مشوره مو وکړه علما ؤ خپلو سره ، پس بیا مو موندلو محمد لره چه پیغمبر نه دے او موږ ته ئې دروغ او بطلان د دین ښکاره شو . پس کله چه دا وکړئ نو شک به شي مګرې دوی او دا وائي چه دوی د کتاب والا دي او دوی ښه پوهه دي په دوی باندې پس واپس به شي د دین خپل نه ستاسې دین ته . اَنْ يُّؤْتٰٓى اَحَدٌ : ولته همزه د انکار پټه ده . اَوْ يُحَاۗجُّوْكُمْ پورې عطف دے . معنیٰ دا شوه ، آیا ورکولې شي یو چاته ستاسې غوندې کتاب او یا به جګړه وکړي تاسې سره . یعني نشي ورکیدے او نه ورسره جګړه کولې شي په دربار د رب ستاسې کښې . وګورئ جواهر ص ۱۶۰ شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل چه قُلْ اِنَّ الْهُدٰى هُدَى اللّٰهِ د اَنْ يُّؤْتٰٓى اَحَدٌ جواب دے او قُلْ اِنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ د اَوْ يُحَاۗجُّوْكُمْ جواب دے . خو اِنَّ الْهُدٰى ئې مخکښې ذکر کړو دپاره د دفعې د دے وهم چه دا دواړه به د اَوْ يُحَاۗجُّوْكُمْ سره لګي . (عقد المرجان ص ۸۵ قلمي) ❖

وَمِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مَنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ يُّؤَدِّهٖٓ

او بعض د اهل کتابو نه، هغه څوک دي چه امانت ورکړې هغه ته په ډېر مال هغه به اداکړي

اِلَيْكَ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِدِيْنَارٍ لَّا يُؤَدِّهٖٓ

تاته، او بعض د دوی نه هغه څوک دي چه که امانت ورکړې هغه ته یو اشرفۍ نه به یې ادا کړي

اِلَيْكَ اِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَآئِمًا ۗ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

تاته، مګر چه همیشه ئې ته د هغه په سر باندې ولاړ، دا په دې وجه چه یقیناً دوی

قَالُوْا لَيْسَ عَلَيْنَا فِى الْاُمِّيّٖنَ سَبِيْلٌ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ

وائی، نشته په موږ باندې په مال اخستلو د امیانو کښې څه ګناه، او وائی

عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿٧٥﴾ بَلٰى مَنْ اَوْفٰى

په الله تعالی باندې دروغ، او دوی پوهیږي۔ ولې نه چا چه پوره والی وکړو

بِعَهْدِهٖ وَاتَّقٰى فَاِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٧٦﴾ اِنَّ

په لوظ خپل او ویریدو د الله نه پس یقیناً الله تعالی مینه ساتي د دارې متقیانو سره. یقیناً

الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَاَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا

هغه کسان چه اخلي په لوظ د الله تعالی، او په قسمونو خپلو، قیمت

قَلِيْلًا اُولٰٓئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ وَلَا

لږ، دغه کسان، نشته برخه دوی لره په آخرت کښې او خبرې به

يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ وَلَا يَنْظُرُ اِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

دوی سره ونکړي الله تعالی، او او به نه ګوري دوی ته، په ورځ د قیامت،

وَلَا يُزَكِّيْهِمْ ۪ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٧٧﴾ وَاِنَّ مِنْهُمْ

او پاک به نکړي دوی لره، او دوی لره عذاب دردناک دے. او یقیناً بعض د دوی نه

لَفَرِيْقًا يَّلْوٗنَ اَلْسِنَتَهُمْ بِالْكِتٰبِ لِتَحْسَبُوْهُ

خامخا یوه ډله چه اړوي ژبې خپلې، په کتاب سره، چه تاسو ئې خیال وکړئ په هغه

مِنَ الْكِتٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ الْكِتٰبِ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ

د کتاب د الله تعالی نه، او نه دی هغه د کتاب د الله تعالی نه، او وائی

تحریف

لَيْسَ عَلَيْنَا فِى الْاُمِّيّٖنَ سَبِيْلٌ: چه نشته په موږ باندې په مال اخستلو د امیانو کښې څه ګناه. اوس هم وائی: مال موذی بخورد غازی. چه د موذیانو مال غازیان خوري. ابن کثیر رحمه الله فرمائی په ص۳۸۳ کښې چه یقیناً دوی باعثه کړي ای په انکار د حق بانډو (سره د خبرې) چه دوی وائی نشته په موږه باندې په دین زموږ کښې څه ګناه په خوړلو د مال د امیانو چه عرب دی پس یقیناً موږه لره ئې حلال کړي دي۔ بَلٰى: دا ئې جواب دے۔

اِنَّ الَّذِيْنَ: په دې کښې ورله تخویف دے په پنځه طریقو سره۔ سورة بقره ۱۷۴ هم وګورئ: وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ: او خبرې به ورو سره د رحمت ونکړي بلکه وائی به چه سپو! کوسه شئ په دوزخ کښې۔ وګورئ سورة مؤمنون ۱۰۸۔

يَلْوٗنَ اَلْسِنَتَهُمْ: چه اړوي ژبې خپلې په کتاب د الله تعالی سره یعنی تحریف کوي۔ (ابن کثیر ص۳۸۳) ✤

مَا كَانَ لِبَشَرٍ: علامه خازن رحمه الله په ص ۲۵۹ کښې لیکلي دي چه وئیلے شوي دي چه نصاراؤ د نجران وویل چه یقیناً عیسیٰ علیه السلام دوی ته امر کړے دے چه دوی له رب ونیسئ نو الله تعالیٰ پرے رد وکړو. او تفسیر جواهر ص ۱۹۳، معارف ص ۱۹۹، عثمانی ص ۸۰، ابوالسعود ص ۵۵ هم وګورئ (الہام الرحمن ص ۲۶)

هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَ

دا د طرفه د الله تعالیٰ نه دے، او نه دے دغه د طرف د الله تعالیٰ نه، او

يَقُولُونَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿۷۸﴾

وائي په الله تعالیٰ باندې دروغ، او دوی ښه پوهیږي.

مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُؤْتِيَهُ اللّٰهُ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ

نه دي مناسب هیڅ بنده له داره چه ورکړي هغه ته الله تعالیٰ کتاب، او پوهه د دین،

وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُوا عِبَادًا لِّي

او پیغمبري بیا وائي خلقو ته، شئ بندګي کوونکي ما لره،

مِنْ دُونِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ كُونُوا رَبَّانِيِّينَ بِمَا كُنْتُمْ

سوا د الله تعالیٰ نه، او لاکن وائي، شئ تاسو خدائي خلق په سبب د دے چه

تُعَلِّمُونَ الْكِتٰبَ وَبِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُونَ ﴿۷۹﴾ وَلَا

ښودونکي وئ خلقو ته د کتاب او په سبب د دے چه یاستئ په ایاده کړی درس کوونکي تاسو. او

يَأْمُرَكُمْ أَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلٰٓئِكَةَ وَالنَّبِيّٖنَ أَرْبَابًا ۗ

امر کوي تاسو ته الله په دې چه ونیسئ ملائکه، او نبیان خدایان د بندګۍ حقداران

أَيَأْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنْتُمْ مُّسْلِمُونَ ﴿۸۰﴾

ایا امر کوي تاسو ته په کفر پس د هغه نه چه تاسے مسلمانان یئ.

وَإِذْ أَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ النَّبِيّٖنَ لَمَا آتَيْتُكُمْ

او کله چه واخستلو الله تعالیٰ مضبوطه وعده د نبیانو نه، چه هغه دکوم تاسو ته

مِّنْ كِتٰبٍ وَّحِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُولٌ

د کتاب او پوهے د دین نه، بیا راشي تاسے ته رسول،

مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ ۗ

رښتونے کونکے د هغه چه تاسے سره دی نو خامخا یقیناً ایمان به راوړئ تاسے په هغه، او خامخا یقیناً امداد به

قَالَ ءَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلٰى ذٰلِكُمْ إِصْرِي ۗ

اووئیل الله ایا اقرار وکړو تاسے او واخستو له په دے شرط باندې، وعده خما،

منزل ۱

دا خو د قرآن نه نو عقیده داده چه دا نه چه دوی بزرګانو ته حاجت روا

عقیده وه چه فلاني بابا وصیت کړیدے چه په چا فلانے مرض راغلو او مالدار ته اومر شونو خون نے په خپله عباره (اسید رضه) داخوډ فرکیانو عقیده ده. سورة انبیاء ص ۱۵ هم وګورئ.

كُونُوا رَبَّانِيِّينَ: چه شئ حکیمان عالمان حلیمان. (ابن کثیر ص ۳۷۷)

تُعَلِّمُونَ الْكِتٰبَ: چه نورو ته ایزده کړه کوئ او په سبب دد ے چه ځان له درس نه کوئ — علامه نسفي رحمه الله لیکلي دي چه دا آیت کافي دلیل دے په بربادۍ د کوشش د هغه چا چه محنت کښې نفس اچولې دی او روح نے ستړے کړے وي په جمع کولو د علم کښې او بیا نے ذریعه د عمل اونه ګرزوي. (مدارک ۱۶۲/۱) أَرْبَابًا: خدایان یا لوئکي، د عبادت او بندګۍ حقداران. ځکه چه رب خو صرف یو الله تعالیٰ دے. فائده ص ۷۵ وګورئ او ص ۶۱ یوسف. وَإِذْ أَخَذَ اللّٰهُ عهد: او کله چه واخستلو الله تعالیٰ مضبوطه وعده د نبیانو نه. ولته سوال راځي چه د امتیانو نه خو د وعده اخستلو ذکر نشته نو بیا په روستو ایت کښې ورله ولے زړهنه ورکوی؟ نو تفسیر جلالین ص ۵۵ کښې جواب کوي چه امتونه د نبیانو تابع دي دوی له په دے لوظ اخستلو کښې.

او تفسیر زاد المسیر ص ۳۵۵ کښې جواب کوي چه بعض اهل علمو ویلي دي چه لوظ نے د نبیانو او امتونو نه اخستے وو خو اکتفا نے وکړه په ذکر د نبیانو نو بیا نبی د ذکر د امتونو نه ځکه چه په اخستلو د وعدے کښې د متبوع نه دلالت دے په اخستلو د وعدے د تابع نه. او دا معنیٰ د قول د ابن عباس رضی الله عنه او زجاج رحمه الله ده.

فَمَنْ تَوَلّٰى: پس څوک چه وګرځیدو پس د دے نه، پس دغه کسان یقیناً ظالمان دی: "تفسیر قرطبی صفحا" کښې دی پس څوک چه وګرځیده د اُمتونو د نبیانو نه د ایمان نه، پس دا د ُخشِلو دَ لوظ نه.

قَالُوْٓا اَقْرَرْنَا ؕ قَالَ فَاشْهَدُوْا وَاَنَا مَعَكُمْ مِّنَ

دوی ویل وویل اقرار مو وکړو، وفرمایل الله پس ګواه شئ، او زه ستاسو سره د

الشّٰهِدِیْنَ ﴿٨١﴾ فَمَنْ تَوَلّٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ

ګواهانو نه یم. پس هغه څوک چه وګرځیدو پس د دے نه، پس دغه کسان

هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٨٢﴾ اَفَغَیْرَ دِیْنِ اللّٰهِ یَبْغُوْنَ وَ

یقیناً فاسقان دی. آیا بغیر د دین د الله تعالیٰ نه، لټوی دوی، او خاص

لَهٗٓ اَسْلَمَ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ طَوْعًا

الله له تابع شویدی هغه چه په اسمانونو کښې دی، او زمکه کښې دی، په خوشحالۍ

وَّكَرْهًا وَّاِلَیْهِ یُرْجَعُوْنَ ﴿٨٣﴾ قُلْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَ

او په ناخوشۍ، او خاص الله ته به واپس کړے شی دوی. او وایه موږ ایمان راوړے په الله تعالیٰ او

مَآ اُنْزِلَ عَلَیْنَا وَمَآ اُنْزِلَ عَلٰٓى اِبْرٰهِیْمَ وَ

په هغه چه نازل شوی دی په موږ، او په هغه چه نازل شویدی په ابراهیم علیه السلام، او

اِسْمٰعِیْلَ وَاِسْحٰقَ وَیَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَمَآ اُوْتِیَ

اسمٰعیل علیه السلام، او په اسحٰق، او په یعقوب علیه السلام، او په اولاد د هغه، او هغه چه ورکړے شوی

مُوْسٰى وَعِیْسٰى وَالنَّبِیُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ ۪ لَا

موسیٰ ته، او عیسیٰ ته، او نورو نبیانو ته، د رب د دوی نه، جدا نۀ

نُفَرِّقُ بَیْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ۫ وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿٨٤﴾

کوو په مینځ د یو کس د دوی نه، او موږ د الله ته تابعداران یو.

وَمَنْ یَّبْتَغِ غَیْرَ الْاِسْلَامِ دِیْنًا فَلَنْ یُّقْبَلَ

او څوک چه لټوی غیر د اسلام نه بل دین، پس هیڅکله به قبول نۀ کړے شی

مِنْهُ ۚ وَهُوَ فِی الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِیْنَ ﴿٨٥﴾ كَیْفَ

د هغه نه، او هغه به په آخرت کښې د تاوان کوونکو نه وی. څنګه به

یَهْدِی اللّٰهُ قَوْمًا كَفَرُوْا بَعْدَ اِیْمَانِهِمْ وَ

هدایت وکړی الله تعالیٰ هغه قوم ته چه کفر یے وکړو پس د ایمان خپل نه، او

اَفَغَیْرَ دِیْنِ اللّٰهِ: آیا بغیر د دین د الله تعالیٰ نه لټوی دوی بل دین لره. دا زجر دے. قُلْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ: په دے کښې بیان د دین د الله تعالیٰ دے او ترغیب دے. سورۃ بقره ص۱۳۶ هم وګورئ.

لَا نُفَرِّقُ: جدا نۀ کوو په مینځ د یو کس د دوی کښې په تصدیق او تکذیب کښې چه بعض یا نبیانو ته ایمان راوړو او په بعضو ئے نۀ راوړو بلکه ټول منو. وګورئ "روح المعانی ص۲۱۵" او سورۃ نساء ص۱۵۰ کښې ئے وضاحت شوے دے. ص۱۳۶ بقره هم وګورئ.

وَمَنْ یَّبْتَغِ غَیْرَ الْاِسْلَامِ: څوک چه ولټوی غیر د اسلام نه بل دین (قانون). "الوسی رحمه الله" په ص۲۱۵ کښې لیکی چه دا نفی کوی قبول والے د هغه دینونو چه مخالف (ضد) وی د دین اسلام نه. كَیْفَ یَهْدِی اللّٰهُ: امام قرطبی رحمه الله په دفع د سوال کښې دا سے فرمائیلی دی چه معنیٰ ئے دا ده چه الله تعالیٰ دوی ته هدایت نۀ کوی تر څو پورے چه تینګ ولاړ دی په کفر خپل او ظلم خپل، او کچرے اسلام ته راوړی او توبه ئے وکړه نو بیا خو ئے توفیق ورکړے دوی ته د هدایت. ص۱۲۹/۳، ص۱۳۰/۴.

شَهِدُوْٓا اَنَّ الرَّسُوْلَ حَقٌّ وَّجَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ ط

گواهي کړې چې يقيناً رسول حق دے، او راغلي دوي ته ښکاره دليلونه،

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٨٦﴾ اُولٰٓئِكَ

او الله تعالیٰ هدايت نکوي قوم ظالمانو ته. دغه کسان

جَزَآؤُهُمْ اَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ اللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالنَّاسِ

بدله د دوي دا ده چې يقيناً په دوي باندې لعنت د الله تعالیٰ، او د ملائکو، او د خلقو

اَجْمَعِيْنَ ﴿٨٧﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ

ټولو دے. هميشه به وي دوي په هغه کښې، سپک به نکړے شي د دوي نه عذاب

وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿٨٨﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِ

او نه به دوي ته مهلت ورکولے شي. مګر هغه کسان چې توبه وکړي، پس د دے

ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٨٩﴾ اِنَّ

نه، او نيک عملونه وکړي، پس يقيناً الله تعالیٰ بخښونکے مهربان دے. يقيناً

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ ثُمَّ ازْدَادُوْا كُفْرًا

هغه کسان چې کفر ئے وکړے پس د ايمان خپل نه، بيا زياتے کړي کفر لره،

لَّنْ تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ ج وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الضَّآلُّوْنَ ﴿٩٠﴾

هيچرے به قبوله نشي توبه ددوي، او دغه کسان هم دوي ګمراهان دي.

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَمَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ

يقيناً هغه کسان چې کفر ئے کړے، او مړه شي، او دوي وي کافران،

فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْ اَحَدِهِمْ مِّلْءُ الْاَرْضِ

پس هيچرے به قبول نکړے شي د هيڅ يو د دوي نه، ډکوالے د زمکے

ذَهَبًا وَّلَوِ افْتَدٰى بِهٖ ط اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ

د سرو زرو نه، او اګر که فديه ورکوي په دے سره، دغه کسان خاص دوي لره عذاب

اَلِيْمٌ وَّمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٩١﴾ ع

دردناک دے، او نشته د دوي دپاره هيڅوک امداد کونکے.

ع ۱۱ / ۹ / ۱۷

منزل ۱

اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا: په دے ايت کښې د اميانو توبه ذکر ده او د هغه شرطونه بيان کړي دي.

لَنْ تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ: هيچرے به قبوله نشي توبه د دوي. ابوبکر رازي رحمه الله په دفع د سوال کښې ډير جوابونه کړي دي اخري جواب ئے دا دے فرمائي چه هيچرے به قبوله نشي توبه د دوي په وخت د حاضر والي د مرګ کښې. (مسائل ص ۳۳) دګورئ ص ۹۰ يونس، ص ۱۵۸ انعام، ص ۸۵ مؤمن.

فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْ اَحَدِهِمْ: تائيد کښې سورة بقره ص ۴۸ زمر ص ۴۷ وګورئ. دے کښې تخويف دے. فائده: شيخ القرآن رحمه الله په سمط الدرر ص ۳۵ کښې د اهل کتابو د قباحتونو او شبهو ذکر کولو نه پس ليکلي دي «کچرے ته سوچ وکړے نو بيا به مومے دا حيلے او شبهے نن ورځے په نا کاره عالمانو کښې برابر سرابر.»

تمت بالخير

(درځ د څلور ۲۷ صفر المظفر ۱۴۲۷ هـ، ۲۷ مارچ ۲۰۰۶ء) توحيد اباد ترخو باجوړ.

نظر ثاني ختم شه بشب پنجشنبه ۱۹ شعبان المعظم ۱۴۲۷ هـ بمطابق ۱۳ ستمبر ۲۰۰۶ء بمقام مذکوره بالا. نظر ثالث برائے تصحيح بعد از کتابت کاتب صاحب بمقام باړوړانګ مسجد مدرسه مظاهر العلوم جناب مولوي محمد خورشيد صاحب بموخه ۲۹ مارچ ۲۰۰۷ء ۹ ربيع الاول ۱۴۲۸ هـ. الله تعالیٰ د زيات ليکلو او چاپ کولو توفيق نصيب راکړي.

لن تنالوا البرّ: هیڅ ورے به ونه رسیږئ حقیقت د نیکئ ته او یا هیڅ ورے به ښې نیکئ ته او یا هیڅ ورے به حاصله نکړئ نیکي د الله تعالی چې ثواب د نیکئ وي. (مدارک ۱۲۹/۱) شیخ القرآن رحمه الله فرمائي چې ترغیب لے ورکړو انفاق ته او بې رغبتي لے ورکړه د مالونو نه ځکه د مالونو او اولاد کوئ د دین نه او دوستانو نه بې لا اسې شوي وو یهود او تحریف لے کړے وو د دین خپل کښې. (معالم المرسلین ۲۲۶) جناب مفتي صاحب رحمه الله په معارف کښې د ۱۲۲ "نه د صحابه کرامو واقعات ذکر کړي دي چې هغوي به محبوب مالونه خرچ کول. په ۱۲۲ کښې فرمائي چې د ماتو سامان او د حاجت نه زيات شیونه د الله په لاره کښې خرچ کول هم د ثواب نه خالي نه دي. د آیت اخرې حصه په دې دلیل دے. کُلُّ الطَّعَامِ: دلته د هغوي کارلسم قباحت دے. علامه خازن په ۱/۲۵ کښې لیکلي دي چې سبب د نزول د دې آیت دا دے چې یهودو نبي علیه السلام ته ووئیل چې ته خیال کوے چې ته په ملت د ابراهیم علیه السلام باندې ئې او هغه به د اوښانو غوښه او د هغوي شودې نه خوړل او ته ئې خورې نو ته په دین د هغه نه ئې. نو نبي علیه السلام ورته وفرمائیل چې دا حلال وو هغه دپاره. نو دوی د طعام نه منع راغله دي په کوم کښې چې نزاع وه، او نه ځے د مخکښې نه هم حرام وو لکه مُردار او وینه. (مدارک ۱۰۵/۱) اِلَّا مَا حَرَّمَ اِسْرَآءِيْلُ: مګر هغه چې منع کړي د یعقوب علیه السلام په ځان خپل. حرام دلته په معنی د منع دے. د کورنئ ۲۲۲ تصص مفسرینو رحمهم الله لیکلي دي چې یعقوب علیه السلام د عرق النساء د یوے بیمارئ په وجه د طبیبانو په مشوره د اوښ غوښه نه خورله او د دې نه پرهیز کولو او دا پرهیز محض د بیمارئ په وجه وو.

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ۚ وَمَا

هیڅکله حاصله نکړئ نیکي، تر هغه چې خرچ کړئ د هغه څه نه چې تاسې ئې خوښوئ او هغه څه چې

تُنْفِقُوْا مِنْ شَيْءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ (٩٢) كُلُّ

چې خرچ کوئ څه شئ، پس یقیناً الله په هغه ښه پوهه دے. ټول

الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اِلَّا مَا حَرَّمَ

طعامونه وو حلال د بني اسرائیلو دپاره مګر هغه چې منع کړي وو

اِسْرَآءِيْلُ عَلٰى نَفْسِهٖ مِنْ قَبْلِ اَنْ تُنَزَّلَ التَّوْرٰىةُ

یعقوب علیه السلام په ځان خپل، مخکښې د نازلیدو د تورات نه،

قُلْ فَاْتُوْا بِالتَّوْرٰىةِ فَاتْلُوْهَآ اِنْ كُنْتُمْ

وواېه پس راوړئ تورات، پس ولولئ هغه که یئ تاسې

صٰدِقِيْنَ (٩٣) فَمَنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ

رښتونی، پس څوک چې وتړلو په الله تعالی باندې دروغ

مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ (٩٤) قُلْ

پس د دې نه، پس دغه کسان هم دوی ظلم کوونکي دي. وواېه

صَدَقَ اللّٰهُ فَاتَّبِعُوْا مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ۭ وَمَا

رښتیا وئیلي دي الله، پس تابعداري وکړئ د دین د ابراهیم په داسې حال کې چې ... او نه وو

كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ (٩٥) اِنَّ اَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ

د مشرکانو نه. یقیناً اولنی کور چې جوړ شوے

لِلنَّاسِ لَلَّذِيْ بِبَكَّةَ مُبٰرَكًا وَّهُدًى لِّلْعٰلَمِيْنَ (٩٦)

دپاره د خلقو، هغه دے چې په مکه کښې دے برکت ناک او هدایت دے دپاره د ټولو خلقو.

فِيْهِ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ مَّقَامُ اِبْرٰهِيْمَ ۚ وَمَنْ

دکښې نښې واضحې دي، ځائې د ابراهیم دے، او څوک چې

دَخَلَهٗ كَانَ اٰمِنًا ۭ وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ

داخل شو دې ته، شو د امن والا، او فرض دے د الله دپاره په خلقو باندې حج د

منزل ١

نه د حرمت شرعي په وجه. (د کورنئ جواهر ۱۲۵، کشاف ۳۸۴، ابو السعود ۵، ماجدي ۱۳۵) اِنَّ اَوَّلَ بَيْتٍ: دا ئې خوارلسم قباحت او شبه ده چې زمونږ قبله ستاسې د قبلې نه مخکښې ده. نو دا جواب راغلو. د مفسرینو رحمهم الله دلته دوه قوله دي یو دا چې دا اولنئ ابادي ده. دویم دا چې اولنئ عبادتځائي دے. امام رازي رحمه الله اولنے

قول غوره کړی (کبیر ص۲۳۴) او حافظ ابن کثیر رحمه الله په ص۳۴۳ کښی دویم قول غوره کړی او صحیح ورته وائی.
دوی د علی رضی الله عنه نه نقل فرمائی چه کوم ځای کښی دے نو هغه اولنی کور دے او چه جوړه شوے وه دوباره وسائی
د الله تعالی. بنګۀ: دواړه لغتونه مکه ته نوم دے. حافظ ابن کثیر رحمه الله په ص۳۴۳ کښی تقریباً شل نومونه د مکی مکرمه

الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ۚ وَمَنْ كَفَرَ
بیت الله د په هغه چا چه طاقت لري هغه ته د لارے، او چا چه کفر وکړو (انکار یې وکړو)
فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ ﴿٩٧﴾ قُلْ يَا أَهْلَ
پس یقیناً الله تعالی غنی دے، د ټولو خلقونه. ووایه: اے
الْكِتَابِ لِمَ تَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَاللَّهُ شَهِيدٌ
اهل کتابو! ولے کفر کوئ، په آیتونو د الله تعالی، او الله تعالی ګواه دے
عَلَىٰ مَا تَعْمَلُونَ ﴿٩٨﴾ قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ
په هغه عملونو باندے چه تاسے کوئ. ووایه، اے اهل کتابو! ولے
تَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ مَنْ آمَنَ تَبْغُونَهَا
اړوئ —— د لارے د الله تعالی نه هغه چا لره چه ایمان یې راوړے دے، لټوئ تاسے دے لره
عِوَجًا وَأَنْتُمْ شُهَدَاءُ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا
کږوالے، او تاسے ګواهان یاست په حقه والی د دے، او نه دے الله تعالی ناخبره، د هغه نه چه
تَعْمَلُونَ ﴿٩٩﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تُطِيعُوا
تاسے کوئ. اے هغه کسانو چه ایمان یې راوړے دے! که چیرے اطاعت وکړئ تاسے د
فَرِيقًا مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ يَرُدُّوكُمْ
یوے ډلے د هغه کسانو چه ورکړے شوے ده کتاب، واپس به ګرځوی تاسے لره
بَعْدَ إِيمَانِكُمْ كَافِرِينَ ﴿١٠٠﴾ وَكَيْفَ تَكْفُرُونَ وَأَنْتُمْ
پس د ایمان ستاسے نه، کفر کونکی. او څنګه به کفر کوئ تاسے، او تاسے چه
تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ آيَاتُ اللَّهِ وَفِيكُمْ رَسُولُهُ ۗ وَ
باندی لوستلی کیږی تاسے، آیتونه د الله تعالی، او په تاسو کښی رسول د الله تعالی دے. او
مَنْ يَعْتَصِمْ بِاللَّهِ فَقَدْ هُدِيَ إِلَىٰ صِرَاطٍ
چا چه منګولے اولګولے په دین د الله، پس یقیناً هدایت ورته وشو لارے
مُسْتَقِيمٍ ﴿١٠١﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ
نیغے ته. اے ایمان والو! او ویریږئ د الله تعالی نه

ع ۱۰ / ۱

دَبارہ ذکر کړی دی او بنګۀ ورته
مکه وائی چه د ظالمانو او جابرو
څټونه ماتوی او عاجزه کوی او
وربطے شی چه دلته خلق ازدحام
کوی. باری تعالی ئے څو خصوصیتونه
او فضیلتونه ذکر کړی. مقام
ابراهیم تاثیف د پاره د سورة
بقره ص۱۲۵ وګورئ.
وَمَنْ كَفَرَ: او چا چه کفر وکړو
ابن کثیر په ص۳۴۳ د ابن عباس
او د مجاهد او د نورو په
روایت لیکی چه حج نه منکر شی
د فرضیت د حج نه. الوسی
فرمائی په ص۱۳ کښی چه معنی
ئے دا ده چه حج نے ترک کړو
او کفر ئے ورته تغلیظاً او تشدیداً
وئیلی دی او مفتی صاحب
رحمه الله ص۱۲۳ کښی یو توجیه
دا ذکر کړے ده چه د کافرانو
غوندے عمل کښی مبتلا شی
په آیت ۹۸ ۹۹ کښی زور ورکړے
دی. ص۱۰۰ کښی هم د وړتیا
د اهل کتابو نه. یٰٓاَیُّهَا
الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا: د دیمه حصه
شروع شوه. دا حصه جهاد
او انفاق کښی ده. خلاصه
بابونه او ترص۱۲۹ پورے.
الله تعالی د جماعت د جوړولو
د پاره یو څو اصول ذکر کړی دی
(۱) چه جماعت به په یو عقیده
وی ص۱۰۲. (۲) قانون به ئے
قرآن وی ص۱۰۳. (۳) ارکان به
داعیین وی ص۱۰۴. (۴) مال به
لګوی په جماعت ص۱۱۰. (۵) اجتماع
اصل دے د پاره د حفاظت
په ص۱۱۸ ص۱۱۹ ص۱۲۰ کښی.

منزل ۱

خلق کثیر: رنوټ دا ملک مره متعلق دے) په خطے وړے مره. شاه ولی الله رحمه الله فرمائی چه ویریږی
په شرک کولو کښی او په هغه کښی چه رجعه نے اعتقاد ته کیږی. (الفوز الکبیر ص۲۱) سورة تغابن هم
وګورئ ص۱۶. بِحَبْلِ اللّٰهِ: عام مفسرین رحمهم الله فرمائی او منګلے ولګوئ په قرآن باندے. وګورئ ص۳۳ ابن کثیر

۱۰/۴ روح المعاني، ۱۵۹/۴ قرطبي، ۱۵/۱ تسهيل، ۳۰۰ ابن جرير، ۱۳۰/۲ جواهر، ۳۶/۲ مدارک، جنگ الامام الرحمانؒ په
۳۶ کښې د صحابه کرامو دغو منقبتونه ذکر کړي دي. يعنو چه ورونه ورونه شو، د وړليم و چه د جهنم

حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ (۱۰۲)
په حق ويريدو سره، او مه مرئ تاسو، مګر په داسې حال کښې چه تاسې مسلمانان يئ.

وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا وَّلَا تَفَرَّقُوْا
او منګولې ولګوئ په رسئ د الله ټول شو، او مه جدا کيږئ د دې نه.

وَاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَآءً
او ياد کړئ نعمت د الله تعالى په تاسو باندې، کله چه وئ تاسې دښمنان،

فَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهٖۤ اِخْوَانًا
پس مينه ئې واچوله په مينځو د زړونو ستاسو کښې، پس اوګرځيدئ په نعمت د الله، ورونه،

وَكُنْتُمْ عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَاَنْقَذَكُمْ مِّنْهَا
او وئ تاسې په غاړه د کندې کښې د اور، پس خلاص ئې کړئ تاسې لره د هغه نه.

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ (۱۰۳)
دغه رنګې بيانوي الله تعالى تاسې ته ايتونه خپل د پاره د دې چه تاسې هدايت ومومئ.

وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَ
او دې وي ستاسې نه يوه ډله چه بلنه کوي خير طرفته، او

يَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ
امر کوي په ښو باندې، او منعه کوي د بدو نه،

وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ (۱۰۴) وَلَا تَكُوْنُوْا
او دغه کسان، خاص دوي کامياب دي. او مه کيږئ

كَالَّذِيْنَ تَفَرَّقُوْا وَاخْتَلَفُوْا مِنْۢ بَعْدِ مَا
په شان د هغه کسانو چه جدا شو، او اختلاف ئې کړي دې پس د هغه نه چه

جَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ ۭ وَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ
راغله دوي ته واضحو دليلونه، او دغه کسان دوي لره عذاب

عَظِيْمٌ (۱۰۵) يَّوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوْهٌ وَّتَسْوَدُّ وُجُوْهٌ
لوئ دے. کله چه سپين شي څه مخونه، او تور شي څه مخونه،

منزل ۱

ــه خلاص شو په سبب د نزول د قرآن او اسلام راوړو باندې.
اِلَى الْخَيْرِ: امام رازي رحمه الله په تفسير کبير ۱۸۲/۸ کښې فرمائي چه دعوت اِلَى الْخَيْرِ جنس دے لاندې ئې ترتيب دوه نوعې دي، يو ترتيب د ترغيب دے کولو د هغه ته چه مناسب وي؛ او هغه اَمر بالمعروف دے او دوئيم په ينبو دل د هغه څه چه مناسب نه وي او هغه نهي عن المنکر دے. پس اول ئې جنس ذکر کړو او بيائې دواړه نوعې ورپسې کړې دي د دواړه د مبالغې په بيان کښې. علامه قرطبي رحمه الله په ۱۶۵/۴ کښې فرمائي چه مِنْكُمْ کښې مِنْ د پاره د تبعيض دے. نو معنى ئې دا شوه چه په اَمر کوونکو واجب دي چه دا به علماوي او نه دي ټول خلق عالمان او ويلي شوي دي چه مِنْ د پاره د بيان د جنس دے نو معنى ئې دا شوه چه تاسې ټول د داسې يعني اَمر کوونکي په نيکو او منع کوونکي د بدو نه). ۲۰۲۰ کښې منع د تفرق او اختلاف نه دا په دوه پيرو بار بار نو او مراد د تفرق او اختلاف نه اصولي اختلاف دے چه د عقيدې سره تعلق لري. جناب مفتي صاحبؒ په ۱۲۳ معارف کښې ليکلي دي چه اجتهادي اختلافاتو کښې هيڅ يو جانب منکر نه دے په دے انکار کول جائز نه دي.

يَوْمَ تَبْيَضُّ: کله چه سپين شي څه مخونه او تور شي څه مخونه. مفسرين رحمهم الله فرمائي چه سپين به وي مخونه د اهل سنت والجماعت، او تور به وي مخونه د اهل بدعت او فرقت ۱ ابن کثير ۳۹۰/۱، قرطبي ۱۶۷/۴، معارف ۱۲۳/۲، نشر المرجان ۱۷۵).

أَكَفَرْتُم: دلته فَيُقَالُ لَهُمْ پټ دے. دوے معنیٰ دا شوه پس اوبه ویلے شی دوی ته آیا کفر مو کړے وو پس د ایمان خپل نه. آیت مشته کښ صفات د رسول ﷺ ذکر شو او په ۱۰۹ کښ ترغیب د توحید او په ۱۱۰ کښ دعوت

فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ أَكَفَرْتُم بَعْدَ

پس هغه کسان چه — تور شی مخونه د دوی (او به ویلے شی دوی ته) آیا کفر مو کړے وو پس د

إِيمَانِكُمْ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿١٠٦﴾

ایمان خپل نه پس وڅکئ — عذاب په سبب د هغه چه تاسو به کفر کولو

وَأَمَّا الَّذِينَ ابْيَضَّتْ وُجُوهُهُمْ فَفِي رَحْمَةِ اللَّهِ

او هغه کسان چه — سپین شی — مخونه د دوی پس دوی به په رحمت د الله کښ وی

هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿١٠٧﴾ تِلْكَ آيَاتُ اللَّهِ نَتْلُوهَا

دوی به په دغه کښ همیشه اوسیدونکی وی. دغه آیتونه د الله تعالیٰ دی چه لولو مونږ

عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۗ وَمَا اللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِّلْعَالَمِينَ ﴿١٠٨﴾

پر تا باندے په حقه سره، او نه دے الله تعالیٰ چه اراده لری د ظلم په مخلوقاتو باندے.

وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَإِلَى اللَّهِ

او خاص الله لره دی هغه چه په اسمانونو کښ دی او هغه چه په زمکه کښ دی او خاص الله تعالیٰ ته

تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿١٠٩﴾ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ

واپس کولے شی ټول کارونه. یاستئ تاسو غوره د ټله چه راویستلے شوی ده د فائدے د خلقو

تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَ

امر کوئ تاسو په نیکئ سره او منع کوئ تاسو د بدئ نه، او

تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ۗ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ

ایمان راوړئ په الله تعالیٰ، او که چرے ایمان راوړے وے اهل کتابو، نو خامخا وو به

خَيْرًا لَّهُم ۚ مِّنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ

غوره دوی لره، بعض د دوی نه مومنان دی، او زیات د دوی نه

الْفَاسِقُونَ ﴿١١٠﴾ لَن يَضُرُّوكُمْ إِلَّا أَذًى ۖ وَإِن

فاسقان دی. هیچرے ضرر نشی رسولے تاسو ته مګر لږ تکلیف ورکول، او که

يُقَاتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ﴿١١١﴾

جنګ کوی تاسو سره، نو واړوی به تاسو ته شاګانے، بیا به ورسره امداد او نه کړے شی.

ته. كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ: حضرت تهانوی رحمه الله ترجمه دا سے کوی: اے امت محمد ﷺ! تاسی خلق د ټولو اهل مذاهبو نه ښه (غوره) جماعت یئ. چه د اجابت د (عامو) خلقو د نفعے هدایت رسولو د پاره ظاهر کړے شوے وئ. (بیان القرآن ص۲۲۰ او ترجمه معارف القرآن ص۱۸۳).

تَأْمُرُونَ: علامه خازن رحمه الله په ص۲۹۳ کښ لیکی چه دیکښ بیان د علت د دغه غوره والی دے. آلوسی رحمه الله په ص۲۷ کښ فرمائی چه د معروف نه مراد طاعات دی. او د منکر نه مراد دغه معاصی دی چه شرعے بدګڼلی دی. د پښتو شیخ رحمه الله په جواهر القرآن ص۱۸۳ کښ لیکلی دی چه کومو مفسرینو رحمهم الله چه معروف او منکر په توحید او شرک سره خاص کړیدی نو دوی د معروف او منکر کاملو افرادو ته اشاره کړے ده.

فائده:

دوے آیت کریمه نه د عالمانو دوه قسمونه بیانیږی او د هر یو قسم د پاره شپږ شپږ صفات ذکر کوی:

اِلَّا بِحَبۡلٍ مِّنَ اللّٰهِ: مګر چه منګلې لګولی وی په رسۍ د الله تعالیٰ یعنی د قرآن او سُنت په منلو سره به د ذلت نه بچ شی. د کورنۍ ۱۱۲ ال عمران. مفتی صاحب رحمه الله په معارف ۱۲۰ کښې د کشاف په حواله لیکی چه، په یهودو به ذلت او خواری لګید لے وی مګر صرف دوه صورتونو کښې به هغوی د ذلت نه بچ کید ے شی. یهود د الله عهد مثلاً د نا بالغ ماشوم یا د ښځے توب په بناء، بل په حکم د الله هغوی د قتل وغیره نه مامون وی. دریم بِحَبۡلٍ مِّنَ النَّاسِ یعنی د خلقو سره د معاهدے له په بنا سره به دوی بانو د ذلت او د خوارئ ظهور نه وی. بیا اخوا مفتی صاحب فرمائی چه حاصل نے دا دے چه بِحَبۡلٍ مِّنَ النَّاسِ عام دے مؤمن، کافر ټولو لره شامل دے. نو نا په دے د اسرائیلو د موجوده حکومت سوال نه پیداکیږی —

لَیۡسُوۡا سَوَآءً: د دے خاصه نه ذیلے وړلے صفات دی. شیخ المشائخ مولانا حسین علی رحمه الله فرمائی چه کله په قومونو د الله تعالیٰ عذاب راځی نو د دغو هر یو فرد بد کار نه وی بلکه په دوی کښې بعض نیکو کار هم وی او دغه سنګریزو په په ډیرو کښې کوم کومے ریښتو نے ملغلرے هم وی. (جواهر ۲۹)

وَمَا یَفۡعَلُوۡا مِنۡ خَیۡرٍ: او هغه چه دوی نے کوی د نیکئ نه نو هیڅ به محرومه نشی د ثواب د دغے نه. (تسهیل ۹۱) شیخ القرآن رحمه الله

ضُرِبَتۡ عَلَیۡهِمُ الذِّلَّةُ اَیۡنَ مَا ثُقِفُوۡۤا اِلَّا بِحَبۡلٍ

لګولے شوے دے په دوی باندے ذلت، چرته چه بیا موندے شی، مګر منګلے لګولی د رسۍ

مِّنَ اللّٰهِ وَحَبۡلٍ مِّنَ النَّاسِ وَبَآءُوۡ بِغَضَبٍ مِّنَ

د الله نه، او په رسۍ د خلقو، او راستنیږی په غضب د

اللّٰهِ وَضُرِبَتۡ عَلَیۡهِمُ الۡمَسۡکَنَةُ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمۡ کَانُوۡا

الله او هغه شوے په دوی باندے خواری (غریبی) دا په وجه د دے چه یقیناً دوی وو

یَکۡفُرُوۡنَ بِاٰیٰتِ اللّٰهِ وَیَقۡتُلُوۡنَ الۡاَنۡۢبِیَآءَ بِغَیۡرِ

کفر کولو به ایتونو د الله تعالیٰ او وژلے نبیان، په

حَقٍّ ؕ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوۡا وَّکَانُوۡا یَعۡتَدُوۡنَ ﴿۱۱۲﴾ لَیۡسُوۡا

ناحقه، دا په وجه د نافرمانئ کولو د دوی چه تیر اوزے کولو وحد نه. نه دی دوی

سَوَآءً ؕ مِنۡ اَهۡلِ الۡکِتٰبِ اُمَّةٌ قَآئِمَةٌ یَّتۡلُوۡنَ

برابر، بعض د اهل کتابونه یو ډله معتبرے ولاړه ده په حق لوستل کوی

اٰیٰتِ اللّٰهِ اٰنَآءَ الَّیۡلِ وَهُمۡ یَسۡجُدُوۡنَ ﴿۱۱۳﴾ یُؤۡمِنُوۡنَ

ایتونه د الله تعالیٰ په وختونو د شپے کښې او دوی سجدے کوی (الله ته) ایمان راوړی

بِاللّٰهِ وَالۡیَوۡمِ الۡاٰخِرِ وَیَاۡمُرُوۡنَ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَ

په الله، او په ورځ روستنئ، او امر کوی په ښو خبرو، او

یَنۡهَوۡنَ عَنِ الۡمُنۡکَرِ وَیُسَارِعُوۡنَ فِی الۡخَیۡرٰتِ ؕ

منع کوی د بد نه، او جلتی کوی په ښو کارونو کښې،

وَاُولٰٓئِكَ مِنَ الصّٰلِحِیۡنَ ﴿۱۱۴﴾ وَمَا یَفۡعَلُوۡا مِنۡ خَیۡرٍ

او دغه کسان، د نیکانو نه دی، او هغه چه دوی کوی د نیکئ نه

فَلَنۡ یُّکۡفَرُوۡهُ ؕ وَاللّٰهُ عَلِیۡمٌۢ بِالۡمُتَّقِیۡنَ ﴿۱۱۵﴾ اِنَّ

پس هیڅ محرومه به نشی د ثواب ترے نه او الله پوهه دے په حال د پرهیزګارو. یقیناً

الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا لَنۡ تُغۡنِیَ عَنۡهُمۡ اَمۡوَالُهُمۡ وَلَاۤ اَوۡلَادُهُمۡ

هغه کسان چه کفر ئے کړے هیڅ به بچ نکړی د دوی نه مالونو د دوی او نه اولاد د دوی،

فرمائی چه جماعت د پاره ۳ لاندی ده د مال او تو بیے نه نو ترغیب ئے انفاق ته ورکړو او بیا ئے تخویف ورکړو بخلاؤ ته چه د دوی مالونه دوی ته نفع نشی ورکولے او د مثال کښے ورله مثال ورکړو. (سمط الدرر ۲۹)

صِرٌّ عطا: يخ د شديدې. تحقيق م - ق - ر - ک - غ. الهام الرحمن ج ۱ ص ۱. يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ... د دې
خاے نه پخپله تعلق ... د ... ضعفائو د جماعت چه خپل رازونه به د دشمنانو ته ښکاره کول او

مِّنَ اللّٰهِ شَيْــًٔا ۗ وَاُولٰۗىِٕكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا
د عذاب د الله څخه هیڅ. او دغه کسان خاوندان د اور دي. دوی به په دې کښې
خٰلِدُوْنَ ﴿۱۱۶﴾ مَثَلُ مَا يُنْفِقُوْنَ فِيْ هٰذِهِ الْحَيٰوةِ
همیشه وي. مثال د هغه چه دوی لګوي یې په دې ژوند
الدُّنْيَا كَمَثَلِ رِيْحٍ فِيْهَا صِرٌّ اَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ
نزدې کښې ... د ... دې ... کښې ... فصل د یو قوم ته
ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَاَهْلَكَتْهُ ۭ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ وَلٰكِنْ
چه ظلم کړی دی په ځانونو خپلو ... هلاک کړی ... فصل ... او ظلم نه دی کړی په دوی الله ولیکن
اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا
دوی په ځانونو خپلو ظلم کوي. اے د ایمان والو! مه نیسئ
بِطَانَةً مِّنْ دُوْنِكُمْ لَا يَاْلُوْنَكُمْ خَبَالًا ۭ وَدُّوْا مَا
رازدار دوست بغیر له ستاسو نه ... کمے نه کوي په نقصان ستاسو کښې. خوښوي هغه څه
عَنِتُّمْ ۚ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاۗءُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ښ وَمَا تُخْفِيْ
مشقت کښې اچوي تاسو. یقیناً ښکاره شوې د غصې ... د خولو د دوی نه او هغه چه پټوي
صُدُوْرُهُمْ اَكْبَرُ ۭ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ اِنْ كُنْتُمْ
سینې د دوی لوے ترې دی. یقیناً بیان کړو تاسو ته آیتونه. که چرے یاست چه
تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۱۸﴾ هٰٓاَنْتُمْ اُولَاۗءِ تُحِبُّوْنَهُمْ وَلَا يُحِبُّوْنَكُمْ
د عقل نه کار واخلئ. خبردار تاسو ... دوی سره او دوی نه کوي مینه ستاسو سره
وَتُؤْمِنُوْنَ بِالْكِتٰبِ كُلِّهٖ ۚ وَاِذَا لَقُوْكُمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا ڱ
او ایمان لرئ تاسو په کتاب ټول باندې. او کله چه ملاو شي دوی تاسو سره وائي ایمان راوړے مونږ
وَاِذَا خَلَوْا عَضُّوْا عَلَيْكُمُ الْاَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ ۭ
او کله چه یواځې شي ... چیچي په تاسو ... د غصے نه
قُلْ مُوْتُوْا بِغَيْظِكُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۱۹﴾
او ... مړه شئ په غصه خپله ... یقیناً الله ښه خبر دے په رازونو د سینو باندې.

اغیار به رازدار دوستان نه جوړوي
او د هغوی لښکر ته عتر نه. بطانة:
رازدار دوست (جواهر بحواله) راغب
اصفهاني ... په مفردات ... کښې
لیکلي دي چه بطانة ... په اصل
کښې هغه وخت کښې ویلي شي چه
جامه لاندے د بدن ... او بیا
مستعار شوے دی. (الفقه ... د
هغه چا دپاره چه ... خاص
کړے ... خبر ... په ...
باطنو کارونو ... جناب
مفتي صاحب ... لیکي چه په
روس او په چین کښې ... بیا
سری لره چه په کمیونزم ایمان نلري
... د عمومی عهدے باندې
نه کامیابوي او ... د ... کمیونسټ
رازدار او مشیر نه جوړوي. د
اسلامي مملکتونو د زوال قصے چه
ولولی نو د زوال د ... اسبابو
په کثرت سره ... ملاویږي
چه مسلمانانو د خپلو کارونو
رازدار ... غیر د مسلمانانو
نه جوړ کړي دي ...
لَا يَاْلُوْنَكُمْ خَبَالًا: ... لفظ د
... ای في خبالكم
... معنی دا شوه چه
ضرر نکوي ستاسو په فساد کښې ...

وَاِذْ غَدَوْتَ: جمهور علماء
په وے دي چه دا د احد
غزا ده. (قرطبي ...) معنی دا
ده چه د کوم کلي د احد خپل
نه. مدارک فرمائي مراد
دادے چه ... وتل دی
احد ته د کوم کلي د ... نه
(...) دا په ... د شوال

په ... کښې وه ... روښانه ... زړه ... او چه ... کښې د ... او اغوستونکي
... دوه ... په ... سورلو ... سند ... او

د مسلمانانو د ساز او سامان حال دا وو چه د مجاهدینو تعداد صرف ۳۱۳ وو او صرف په ټول فوځ کښې صرف دوه آسونه وو او د ټولو مجاهدینو سره ټو ټوې هم نه وې. او بیا په عین وخت کښې چه د دشمن

إِنْ تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِنْ تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ

که ورسي تاسې ته خوشالي خفه کوي دوی لره، او که ورسیږي تاسو ته تکلیف

يَفْرَحُوا بِهَا وَإِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ

نو خوشالیږي دوی په هغې، او که صبر وکړئ او پرهیزګاري وکړئ، ضرر نشي رسولې تاسو ته مکر

شَيْئًا ۗ إِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ۝١٢٠ وَإِذْ غَدَوْتَ

د دوی هیڅ، یقیناً الله په هغه څه چه دوی کوي، احاطه کوونکې دې. او کله چه سحر وختي ووتلې

مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِينَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ۗ

د اهل خپل نه، ځایونه ورکول مؤمنانو ته، ځایونه د کیناستو مورچې) دپاره د جنګ

وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ۝١٢١ إِذْ هَمَّتْ طَائِفَتَانِ مِنْكُمْ

او الله اوریدونکې پوهه دې. کله چه قصد وکړو دوه ډلو ، ستاسو نه

أَنْ تَفْشَلَا وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا ۗ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ

چه ویره زړې شي، او الله مدد ورکوونکې دې د دوی او په الله باندې دې توکل وساتي

الْمُؤْمِنُونَ ۝١٢٢ وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنْتُمْ

ایماندار. او یقیناً امداد وکړې ستاسو الله په بدر کښې، او تاسې

أَذِلَّةٌ ۖ فَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ۝١٢٣ إِذْ تَقُولُ

کمزوري وئ پس ویریږئ د الله نه دپاره د دې چه تاسې شکر وباسئ. کله چه ویلې

لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَنْ يَكْفِيَكُمْ أَنْ يُمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ

مؤمنانو ته، آیا نه کافي کیږي تاسې لره، چه امداد وکړي ستاسې رب ستاسې

بِثَلَاثَةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُنْزَلِينَ ۝١٢٤ بَلَىٰ ۚ إِنْ

په درې زرو ، ملائکو سره، نازل شوي د آسمان نه. ولې نه چرې

تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا وَيَأْتُوكُمْ مِنْ فَوْرِهِمْ هَٰذَا

صبر مو وکړو، او ویریدئ د الله، او راشي دوی تاسې ته په جوش د دوی نو په دا

يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ

امداد به وکړي رب ستاسې په پنځه زره ، د ملائکو نه ،

ځکه لښکر راغې او مسلمانان د ځمریو ماتو کښې مصروف وو چه رئیس المنافقین عبد الله بن ابي د درې زرګو سپاهیانو ملګرو سره د مید ان جنګ نه واپس شو. (جواهر ص ۱۵۱، مشعل) اذ همّت: کله چه خیال وکړو دوه ډلو. مدارک په ص کښې لیکې چه بنو سلمه د خزرج نه او بنو حارثه د اوس نه. جنګ بدر په غزا په میاشت د رمضان سنه ۲ کښې شوې وه. (معارف ص) د کفارو شمیر زر وو. او د مسلمانانو تعداد صرف ۳۱۳ وو د ټول فوج سره صرف دوه آسونه او اوه اوښان او صرف شپږ تورې اته زغرې (ښکلې). شیخ القرآن رحمه الله په سمط اللآلي (ص) کښې لیکلي دي: او ذکر شوې واقعه د احد او د بدر دپاره ده او صحیح دا ده چه د ټیرو ذکر شوو اصولو چه تاسې ته ورکړې شو په نظر کښې او په تاسو کښې نور هم منافقانو او منکلا سلانو له ثلثي خوړلې کښې پیوه کلمه وکړه په اطاعت د امیر کښې نو الله تعالی دله امداد وکړو هلته او ویره وکړه په غزوه د احد کښې نو د امیر خلاف مو وکړه او په تاسو کښې سستي او منافقانو ته نو پوهه دله شوې او اختلاف مو وکړو نو شکست درله الله درکړو. بثلثة الآف: د پندي شیخ رحمه الله لیکلي دي په جواهر ص ۱۵۱ کښې چه حاصل ئې دا دے چه په بدر کښې زر ملائکه بالفعل د کفارو د شمیر

مطابق رالیږلې وې ځکه چه په سورة انفال ۹ کښې دي لیکن د دې نه روسته چه کافرانو دا افواه خوره کړه چه کرز بن جابر محاربي د درې زرو سپاهیانو سره د کفارو لښکر دپاره راروان شو نو په دغه وخت الله تعالی د درې زره فرښتو د کمک رالیږلو وعده وکړه چه مسلمانان مطمئن شي او ثابت قدم شي. دوې نسبت

وے چه کله چې د پنځه زره سپاهیانو زیاتې کمک مشرکانو ته راسي نو مسلمانان دوسے خبره پر غمزن شو نو الله ته د مزید پنځه زرو (۵۰۰۰) فرښتو د نازلولو وعده اوفرمایله لیکن کله چه کرز د مشرکانو د شکست خبر واوریدو نو د

مُسَوِّمِينَ ﴿١٢٥﴾ وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ لَكُمْ وَ

نښے لګوونکي د جنګ ۔ او نه دې ګرځولې الله دا امداد مګر زیرے ستاسو دپاره ۔ او

لِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِ ۗ وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ

چه مطمئن شي زړونه ستاسو په دې ۔ او نشته امداد مګر د طرفه د

اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ﴿١٢٦﴾ لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ الَّذِينَ

الله نه چه زور اور حکمت والا دے ۔ دپاره د دې چه پرې کړي لاچه د هغه کسانو چه

كَفَرُوا أَوْ يَكْبِتَهُمْ فَيَنقَلِبُوا خَائِبِينَ ﴿١٢٧﴾ لَيْسَ لَكَ

کافر شوي ۔ او یا دې ذلیله کړي هغوي او وګرځي نا امیده ۔ نشته تالره د

مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ

امر اختیار هیڅ څه ۔ تر دې چه مهرباني اوکړي په دوي او یا ورله عذاب ورکړي

فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ ﴿١٢٨﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي

پس بیشکه دوي ظالمان دي ۔ او خاص الله لره دي هغه چه په اسمانونو کښې دي او هغه چه

الْأَرْضِ ۚ يَغْفِرُ لِمَن يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَن

په زمکه کښې دي ۔ بخښنه کوي چا لره چې خوښه یې شي ۔ او عذاب ورکوي چا لره چه

يَشَاءُ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢٩﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ

خوښه یې شي ۔ او الله تعالیٰ بخښونکے رحم کوونکے دے ۔ اے ایمان والو

آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُّضَاعَفَةً ۖ

مه خورئ سود لره په دوچنده دوچنده سره ۔

وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٣٠﴾ وَاتَّقُوا النَّارَ

او ویریږئ د الله نه دپاره د دې چه تاسو کامیابه شئ ۔ او ویریږئ د اور

الَّتِي أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴿١٣١﴾ وَأَطِيعُوا اللَّهَ

هغه چه تیار شوي دے دپاره د کافرانو ۔ او اطاعت وکړئ د الله

وَالرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٣٢﴾ وَسَارِعُوا إِلَىٰ

او د رسول د هغه دپاره د دې چه تاسو رحم کړے شئ ۔ او جلتي وکړئ بخښنے

امداد کولو اراده ختمه په پیښود ه له دے وجے نه پنځه زره فرښتے هم نازلے نه شوے ۔

لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ : نشته تالره د اختیار نه څه ۔ علامه نسفي رحمه الله فرمائي چه دا جمله معترضه ده په مابین د معطوف او معطوف علیه کښې ۔ حاصل دا چه د دے نه روستو واقع جملے په ماقبل ایت کښې په لِيَقْطَعَ باندې ورعطف دي ۔ د کافرانو په باره کښې الله ته خلګو د عین وته ذکر کړه ۔ امام رازي رحمه الله په کبیر کښې لیکلي دي چه أَوْ يَتُوبَ کښې أَوْ په معنیٰ د حتّیٰ او یا إِلَّا أَنْ ترده پورے ۔ خدام قرآن اولني استاذ میان ضیاء الدین رحمه الله فرمایل چه نشته تالره اختیار د فتح ۔ بلکه صبر کوه ترده چه الله تعالیٰ توبه قبول کړي د دوي او یا ورله عذاب ورکړي ځکه چه دوي دي ظالمان ۔

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا : د دے ځائے نه تر ختمه پورے د ورځے دویم باب دے ۔ په دې کښې ترغیب دے انفاق ته او ذکر د صفتونو نیکو د جهاد دے چه مانع دي د هزیمت نه او صفت اول دي : ۱۳۰ ، ۱۳۱ ، ۱۳۲ ، ۱۳۳ ، ۱۳۴ ، ۱۳۵ ، ۱۳۶ ، ۱۳۷ ، ۱۳۸ ، ۱۳۹ ۔ دا خلاصه د رسالو شیخ القرآن حفظه الله د دړ منظومات نه واخلے شوه ۔ شیخ المشائخ مولانا حسین علي رحمه الله فرمائي : الله تعالیٰ د دے ځائے نه انفاق في سبیل الله طرفته په یو عجیب انداز سره ترغیب ورکړے دے ۔ ځکه چه په مختلفو طریقو سره د مسلمانانو په زړونو کښې د جهاد سپرټ پیدا کړه ۔ د دے نه پس ئې نا غایه د سود خوړلو نه د ممانعت احکام نازل کړه (یعني) کوم سړے چه

چه د وصره قدرے کنجوس او بخیل وي چه چا ته قرض ورکړي نو ..... ډالر هم سود وصول کوي او د خدائي وېاره د قرض حسنه په طور ورکړي ..... برابر ..... همهه دي سکوي نو د ..... نه دو ..... نو قسم په ..... طور کوي لکشي چه هغه د ..... خوږ روح قرباني ورکړي . (جواهر ۱ .....)

مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ

ته ، د رب ستاسې نه ، او جنت ته چه فراخي د هغې په اندازه د اسمانونو

وَالْأَرْضُ ۙ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ﴿۱۳۳﴾ الَّذِينَ يُنفِقُونَ

او زمکې ده ، تيار شوے دے د پاره د متقيانو ، هغه کسان چه خرچ کوي

فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَ

په خوشحالئ کښې او تکليف کښې ، او خوږ ونکي دي غصې لره ، او

الْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ ۗ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿۱۳۴﴾

او عفوه کوي د خلقو نه ، او الله تعالىٰ مينه ساتي د نيکي کونکو سره .

وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ

او هغه کسان چه کله وکړي بې حيائي ، او يا ظلم وکړي په ځانونو خپلو

ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَن يَغْفِرُ

ياد کړي الله تعالىٰ لره ، پس بخښنه غواړي د ګناهونو خپلو ، او څوک دے چه بخښنه

الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَىٰ مَا فَعَلُوا

وکړي د ګناهونو سوا د الله تعالىٰ نه ، او نه ټينګيږي په هغه چه دوي کړي ،

وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿۱۳۵﴾ أُولَٰئِكَ جَزَاؤُهُم مَّغْفِرَةٌ

او دوي پوهيږي ، دغه کسان ، بدله د دوي ، بخښنه ده ،

مِّن رَّبِّهِمْ وَجَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا

د رب د دوي نه ، او باغونه دي چه بهيږي به لاندې د درختو نه ،

الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ وَنِعْمَ أَجْرُ

ويالې ، هميشه به وسيږي په دغه کښې ، او ښه ده بدله

الْعَامِلِينَ ﴿۱۳۶﴾ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِكُمْ سُنَنٌ ۙ

د عمل کوونکو . يقينًا تير شوي دي ، مخکښې ستاسې نه واقعات

فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ

پس وګرځئ په زمکه کښې ، پس وګورئ چه څرنګه وو ،

منزل ۱

مُضٰعَفَةً : د دوچنده قيد احترازي نه دے چه يو چندې دې پکښې روا وي بلکه ——— د زيات زيات د پاره دے ځکه دوي به په جاهليت کښې دا سے سود کولو . وګورئ قاسمي ص۲۳۲ ، خازن ص۳۲۰ : وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ : امام ابو حنيفه رحمة الله فرمائيلي دي چه دا ډير ويروونکے ايت دے په قران کښې چه الله تعالىٰ وعيد ورکړے ايماندارو ته د هغه اور نه چه تيار شوے دے کافرانو لره بچ شه دوي منع نشي د ګناه ستاسو د محارمو نه ، (مدارک ص۱۴۸ ، روح ص۵۶ ——— ابوالسعود ص۶۴ ، قاسمي ص۲۳۳ ، جواهر ص۱۷۷ ، البحر ص۵۷) ۞

وَلَمْ يُصِرُّوا :

او نه ټينګيږي په ناکاره فعل خپل ۞ (شوکاني ص۳۹۳) ۞

عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ ﴿۱۳۷﴾ هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ
انجام د تکذیب کوونکو. دا قرآن بیان دې د پاره د خلقو،
وَهُدًى وَّمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ ﴿۱۳۸﴾ وَلَا تَهِنُوا
او هدایت او نصیحت دې د پاره د متقیانو. او مه سستي کېږئ،
وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم
او مه غمژن کېږئ، او تاسو به اوچت یئ، که چرې یئ تاسې
مُّؤْمِنِينَ ﴿۱۳۹﴾ إِن يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ
کامل مؤمنان. که چرې رسیدلې دې تاسې ته زخمونه نو بېشکه رسیدلي دي
الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهُ ۚ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا
دغه قوم ته زخمونه په مثل د دې. او دغه ورځې دي چه اړوو راړوو یې مونږ
بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا
په مینځ د خلقو کښې، او د پاره د دې چه ښکاره کړي الله هغه کسان چه ایمان یې راوړی دی
وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَاءَ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ
او چه جوړ کړي ستاسو نه شهیدان، او الله نه خوښوي د
الظَّالِمِينَ ﴿۱۴۰﴾ وَلِيُمَحِّصَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا
ظالمانو سره. او د پاره د دې چه خالص کړي الله هغه کسان چه ایمان یې راوړی دی
وَيَمْحَقَ الْكَافِرِينَ ﴿۱۴۱﴾ أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا
او ختم کړي کافرانو لره. آیا خیال کوئ تاسې چه داخل به شئ
الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا
جنت ته او لا ندی ښکاره کړي الله هغه کسان چه جهاد کوي
مِنكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ ﴿۱۴۲﴾ وَلَقَدْ كُنتُمْ
ستاسو نه، او لا ندي ښکاره کړي صبر کوونکو لره. او یقیناً وئ تاسې چه
تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِن قَبْلِ أَن تَلْقَوْهُ فَقَدْ
آرزو مانې مو کولو د مرګ، مخکښې د دې نه چه مخامخ شئ د هغه سره، پس یقیناً

هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ: حسن او قتادهؒ او ابن جریجؒ او ربیعؒ فرمائي چه دا اشاره ده قرآن ته. (بحر ۳ ماجدي ۱۵۵ جواهر ۱۹۱)

وَتِلْكَ الْأَيَّامُ: او دغه د دنیا ورځې دي اړوو راړوو یې په مینځ د خلقو کښې د نعمتونو او عذابونو نه، کله یې دوی له ورکوو او کله یې هغوی له. (مدارک ۱۸۱) ۞

وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ: رنوت، دا د هغه سره متعلق دي د نبي علیه السلام د اصحابو نوم په دې ایت کښې او احزاب ۴۰ او محمد ۲ او فتح ۲۹ کښې دې. د احد په غزا کښې نبي علیه السلام زخمي شو. یو ورځ شیطان لعنتي دا افواه خوره کړه چه محمد علیه السلام شهید شو په وجه د مسلمانانو همتونه سست شو نو دا ایت نازل شو. فائده: د لفظ د محمد مبارک نسبت نبي علیه السلام ته وشو. او ۱۳۳ بقره کښې د یعقوب علیه السلام او په ۱۲ سبا کښې سلیمان علیه السلام ته او په ۲۳ مؤمن کښې یوسف علیه السلام ته شوې دې. او بخاري شریف ۲/۴۵ کښې اوږد حدیث وی چه حاصل یې دا دې چه کله نبي علیه السلام وفات شو، ابوبکر رضي الله عنه د سنح مقام نه راغلو د عائشې رضي الله عنها کور ته ننوتلو د نبي علیه السلام مخ مبارک یې بربنډ کړو او خکل یې کړو او

سه وے فرمایل چې ښلاره وصور په تاسو قربان شه، په الله تعالیٰ قسم، الله تعالیٰ په تاسو د وه مرګه نه جمع کوی، کوم مرګ چې په تاسو باندې مقرر وو په هغه وفات شو. او په دا روایتونو کښې عمر رضی الله عنه ته

رَأَيْتُمُوهُ وَأَنْتُمْ تَنْظُرُونَ ﴿١٤٣﴾ وَمَا مُحَمَّدٌ
او مو لیدلو هغه او تاسو ورته کتل. او نه دے محمد ﷺ
إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِنْ
مگر رسول، یقیناً تیر شوی دی مخکښې د دهٔ نه رسولان، آیا پس که چرے
مَاتَ أَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ وَمَنْ
وفات شو او یا قتل شو، او رې ګرځې تاسو په پوندو خپلو باندې، او څوک چې
يَنْقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَضُرَّ اللَّهَ شَيْئًا وَ
واپس شي په پوندو خپلو، پس هیچرې ضرر نشي رسولے الله تعالیٰ ته هیڅ شے، او
سَيَجْزِي اللَّهُ الشَّاكِرِينَ ﴿١٤٤﴾ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ
زر دے چې بدله به ورکړي الله شکر کوونکو ته. او نشته د هیڅ یو نفس د پاره
أَنْ تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ كِتَابًا مُؤَجَّلًا وَمَنْ
چې مړ شي، مگر په اذن د الله تعالیٰ، لیک لیکلے شوی دے په نیټه دارې، او څوک چې
يُرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ مِنْهَا وَمَنْ يُرِدْ
اراده لري د بدلے د دنیا، ورکوو به ده ته د دے نه، او څوک چې اراده لري
ثَوَابَ الْآخِرَةِ نُؤْتِهِ مِنْهَا وَسَنَجْزِي
د بدلے د آخرت، ورکوو به ده ته د دے نه، او زر دے چې بدله به ورکړو
الشَّاكِرِينَ ﴿١٤٥﴾ وَكَأَيِّنْ مِنْ نَبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ
شکر ایستونکو ته. او ډیر د نبیانو نه، جنګ کړے دے د دوی سره ملګرو
رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُوا لِمَا أَصَابَهُمْ فِي
خدائي خلقو ډیرو، پس سست شو د وجې د هغه تکلیفونو نه چې رسیدلي وو دوی ته په
سَبِيلِ اللَّهِ وَمَا ضَعُفُوا وَمَا اسْتَكَانُوا
لار د الله تعالیٰ کښې، او نه کمزوري شو او نه ذلیل شو د دښمن ته،
وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ ﴿١٤٦﴾ وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ
او الله تعالیٰ مینه ساتي د صبر کوونکو سره. او نه وو ویینا د دوی

رکوع ۶ — منزل ۱

فرمایل چې کېنه او مسجد کښې ئې بیان وکړو چې څوک د محمد ﷺ عبادت کوی پس یقیناً هغوی وفات شو او چې څوک د الله تعالیٰ عبادت کوی نو الله حَیٌّ لَا یَمُوتُ او بیائې دا ایت او د سورۃ زمر ۳۰ ایتونه اولوستل.

فائده: د عمر رضی الله عنه د ذهن نه او د نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم د فکرونو نه د غم د وجې نه دا ایتونه وتلی وو او بیا په تلاوت کولو دا لوستل کویا چې دا اجماع شوه چې نبی ﷺ د دنیا نه لاړو او د آخرت په طرف روان شو او د دنیا زندګی ئې ختمه شوه. دا حدیث ذکر شوے دے په دے تفسیرونو کښې، وګورئ ابن کثیر ۱/۴۰۹، ابوالسعود ۲/۹۵، جواهر ۲/۹۳.

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ: ترغیب دے جهاد ته چې بے اجله مرګ نشته.

رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ: جماعتونو ډیرو — نسبت ئې شوے دے رِبّۃ ته او دا جماعت ته وئیلے شي. (قرطبي ۴/۲۳۰) او ساړک فرمائي منسوب دے ربّه ته: په معنیٰ د رَبَّا نِیُّوْنَ: خدائي خلقو ډیر واستاد ۱/۱۸۶ وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ: په دے ایت کښې دُعا د مجاهدینو ده او بل ایت کښې ورله بشارت دے.

وَحُسْنَ ثَوَابِ الْآخِرَةِ : او ښه بدله د آخرت ـ الوسي رحمه الله فرمائي په ... کښې چه ... بهترۍ او زیاتوالي ته بدلے د آخرت او د الله تعالی په دربار کښې اعتماد دی هم دغه بدله ده ـ په ایت ... کښې

إِلَّا أَن قَالُوا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا

مګر دا چه ویلے ئے ... زمونږ ... ته ګناهونه زمونږ او زیاتے زمونږ

فِي أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانصُرْنَا عَلَى

په کار کښې زمونږ او مضبوط کړه قدمونه زمونږ ، او مدد راکړه مونږ ته په

الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴿١٤٧﴾ فَآتَاهُمُ اللَّهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا

قوم کافرانو باندې ـ پس ورکړه دوی ته الله ، بدله د دنیا ،

وَحُسْنَ ثَوَابِ الْآخِرَةِ ۗ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٤٨﴾

او ښه بدله د آخرت ، او الله خوښه ساتي د احسان کوونکو سره

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تُطِيعُوا الَّذِينَ

اے ایمان والو ! که چرے اطاعت وکړئ د هغه کسانو چه

كَفَرُوا يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ فَتَنقَلِبُوا

کفر ئے کړے ، ویه ګرځوي تاسے لره په پونډو ستاسو ، پس شئ به تاسو ،

خَاسِرِينَ ﴿١٤٩﴾ بَلِ اللَّهُ مَوْلَاكُمْ ۖ وَهُوَ خَيْرُ

تاوانیان ـ بلکه الله تعالی مولا ستاسے دے ، او دا غوره

النَّاصِرِينَ ﴿١٥٠﴾ سَنُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا

نصرت کوونکے دے ـ ژر به واچوو ، په زړونو د هغه کسانو چه کفر ئے کړے

الرُّعْبَ بِمَا أَشْرَكُوا بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ

ویره په سبب د هغه چه دوی شریک کړي د الله سره ، هغه چه نه دے رالیږلے د هغه

سُلْطَانًا ۖ وَمَأْوَاهُمُ النَّارُ ۚ وَبِئْسَ مَثْوَى

څه دلیل ، او ځاے د اوسیدو د دوی اور دے ، او ډیر بد ځاے دے د اوسیدو د

الظَّالِمِينَ ﴿١٥١﴾ وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُ

ظالمانو ـ او یقینا رښتونے کړے وو تاسے سره الله ، وعده خپله

إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا فَشِلْتُمْ وَ

کله چه وژل تاسو دوی لره په حکم د الله ، تر دے چه ویره زړه شوئ ، او

وَحُسْنَ ثَوَابِ الْآخِرَةِ : او ښه بدله ... بهترۍ او زیاتوالي ته بدلے د آخرت ... مونږ ته نه زغم دے یعنی د کفارو چه کوم نتیجه ارتداد وه ـ په ایت ۱۵۰ کښې فرمائي چه الله تعالی ستاسے مولی او غوره امدادي دے ـ په ایت ۱۵۱ کښې فرمائي چه د کفارو په زړونو کښې به رعب واچوم او ضعف وجه بنائي چه دوی د الله تعالی سره شریکان کړي هغه چه د هغوی په معبودیت او الوهیت الله تعالی څه دلیل نه دے رالیږلے ـ

۱۵۲ ـ وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُ : د احد د جنګ د شکست د وجے نه دا یو شبهه ازاله کوي چه دا شکست ولے راغے ؟

وعده ئے : د کوم وعدے سورت ... او ... ایات ته ، إِذْ تَحُسُّونَهُم کله چه مونږ ژل هغوی لره او نوح مونږ لره ایستلو (قرطبي) او محمد ارزک په ... کښې لیکي چه جلد جلد مو وژل هغوی لره ـ د دے ځائے نه پاتے وړاندې د شکست ذکر کوي ـ

مِّن بَعْدِ مَا أَرَاكُم مَّا تُحِبُّونَ : (فتح وه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مرسله ...) پس د هغه نه چه وے خودل تاسو ته هغه چه تاسے ورسره مینه لرئ ـ قرطبي په ... کښې فرمائي چه کامیابي او غلبه وه په کفارو د سورة صف ... هم معلومیږي چه فتح په کفارو باندې ـ مِنكُم مَّن يُرِيدُ الدُّنْيَا : بعضے ستاسے نه هغه وو چه اراده د دنیا ئے لرله ـ فائده : نبي علیه السلام د عبدالله بن جبیر رضی الله عنه په مشرۍ کښې د پنځوس کسانو یو جماعت په یوه دیرۍ مقرر کړے وو ـ کله چه فتح شروع شوه نو دوی کښې اختلاف راغے چه زمونږ د دلته په دیرۍ باندې څه ضرورت نشته او د امیر د حکم خلاف راغے چه د هغے په وجه فتح په شکست بدل شوه ـ خو دلته دا خبره قابل غور ده چه کوم دوی په ځلے مورچے باندې پاتے هم وے نو

د غنیمت نه ورله حصه ملاویده نو دوی محض اراده د دنیا نه لرله بلکه د مجاهدینو سره د کمک کولو او خدمت دوی په غنیمت راټولولو کښې مصروف شوي وو. جناب مفتي صاحب رحمه الله په معارف القرآن ۲ کښې فرمائي چه په قیمتي طوري د دے مقصد کښې ... غنیمت حاصل ... کښې ... د الله تعالی او رسول الله ﷺ د حکم ... نه هم ... ښکاره ... په مال کښې د تصرف کولو په نیت ... طلب ... دنیا ... وَلَقَدْ عَفَا عَنكُمْ ۗ یقیناً الله تعالی عفوه وکړه ستاسو نه. په دے آیت کښې د کومو صحابو نه اجتهادي خطائي شوے وه د عفوه اعلان وشه. وَتَمَّ تفصیل شیخ ... په ... کښې لیکي، بیا ... الله تعالی عفوه وکړه د دوی نه نو اوس د خطائي د یاره د اعتراض څه ځائې پاتے نشو. شیخ القرآن ... فرمایلي چه الله تعالی د صحابه کرامو د ... کښې ... استعمال کړے دی: اول دا وئیلي چه ۱۵۲ وَلَقَدْ عَفَا اللَّهُ عَنْهُمْ ۱۵۵ او باقي د دے په ۱۵۹ کښې دي. فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ ... چه یقیناً الله تعالی عفوه کړے ستاسو نه او یقیناً الله تعالی عفوه کړے د دوی نه، او ته عفوه وکړه د دوی نه، او بخښنه وغواړه د دوی د پاره، او مشوره ورسره کوه په کارونو کښې. جناب مفتي صاحب رحمه الله په معارف ۲/۲ کښې لیکلي دي چه په عقائد نسفیه کښې دي د ذکر د صحابو نه په صفت کولو کښې هیڅ مکر په نیکئ سره، او په شرح مواقف کښې دي چه واجب دے تعظیم د ټولو صحابو او منعه د عیب لګولو نه په حقوي باندې. غَمًّا بِغَمٍّ: پس په بدله کښې ئې درکړو تاسو ته غم په سبب د غم رسولو د تاسو. پیغمبر ﷺ ته په سبب د عصیان او مخالفت ستاسو د حکم. (روح المعاني) لِّكَيْلَا تَحْزَنُوا: شاه ولي الله صاحب رحمه الله په فتح الرحمن ص ۸۵ کښې معنی داسے کوي: دا نصیحت درکول د پاره د دے دي چه غمژن نشئ ...

تَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَعَصَيْتُمْ مِّنْ بَعْدِ مَا

اختلاف مو وکړو په امر (حکم) کښې او نافرماني مو وکړه، پس د هغې نه چه ښکاره

أَرَاكُمْ مَّا تُحِبُّونَ ۚ مِنكُم مَّن يُرِيدُ الدُّنْيَا وَ

تاسو ته هغه څه چه تاسو خوښوله، ستاسو نه بعضې هغه دي چه اراده کوي د دنیا، او

مِنكُم مَّن يُرِيدُ الْآخِرَةَ ۚ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ

بعضې ستاسو نه هغه دي چه اراده کوي د آخرت، بیا ئې واپس کړلئ تاسو د هغوی نه

لِيَبْتَلِيَكُمْ ۖ وَلَقَدْ عَفَا عَنكُمْ ۗ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ

چه امتحان وکړي ستاسو، او یقیناً عفوه کړې ده ستاسو نه، او الله تعالی خاوند د فضل دے

عَلَى الْمُؤْمِنِينَ ﴿۱۵۲﴾ إِذْ تُصْعِدُونَ وَلَا تَلْوُونَ

په مومنانو باندې. کله چه روان وئ (ختلئ) او نه مو کتل

عَلَىٰ أَحَدٍ وَالرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ فِي أُخْرَاكُمْ

هیچا ته، او رسول ﷺ آواز کولو تاسو ته په روستو ډله ستاسو کښې

فَأَثَابَكُمْ غَمًّا بِغَمٍّ لِّكَيْلَا تَحْزَنُوا عَلَىٰ مَا

پس بدله ئې درکړه تاسو ته غم په سبب د غم، او د پاره د دې چه غمژن نشئ په هغه څه

فَاتَكُمْ وَلَا مَا أَصَابَكُمْ ۗ وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا

چه فوت شول ستاسو نه او نه په هغه چه ورسیدو تاسو ته، او الله تعالی خبر دے په هغه

تَعْمَلُونَ ﴿۱۵۳﴾ ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّن بَعْدِ الْغَمِّ

تاسو ئې کوئ. بیا ئې نازل کړو الله تعالی په تاسو پس د غم نه

أَمَنَةً نُّعَاسًا يَغْشَىٰ طَائِفَةً مِّنكُمْ ۖ وَطَائِفَةٌ

امن لره پوکالی، چه پټوله ئې یوه ډله ستاسو، او بله ډله

قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنفُسُهُمْ يَظُنُّونَ بِاللَّهِ غَيْرَ

چه په غم کښې اچولي وو دوی لره نفسونو د دوی، گمان ئې کولو په الله تعالی ناحقه

الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ ۖ يَقُولُونَ هَلْ لَّنَا

گمان لکه د جاهلیت، وائي دوی: آیا شته مونږ لره

ده په هغه چه تاسو ته رسیدلی دی. په آیت ۱۵۳ کښې د منافق نو بیعنی فاحتونه دویره د زړونے ذکر دی په

مِنَ الْأَمْرِ مِنْ شَيْءٍ ۗ قُلْ إِنَّ الْأَمْرَ كُلَّهُ لِلَّهِ ۗ
د اختیار رسیدلی، ته ووایه: یقینا، اختیار ټول الله ته دی
يُخْفُونَ فِي أَنْفُسِهِمْ مَا لَا يُبْدُونَ لَكَ ۖ
پټوي دوی په زړونو خپلو کښې هغه چه نه یې ښکاره کوي تا ته
يَقُولُونَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ مَا قُتِلْنَا
وائي دوی: که چرې وے مونږ لره د اختیار نه څه شے، نو نه به وژلے شوے
هَاهُنَا ۗ قُلْ لَوْ كُنْتُمْ فِي بُيُوتِكُمْ لَبَرَزَ الَّذِينَ
دلته، ووایه که چرې وئ تاسو په کورونو خپلو کښې، نو خامخا به راوتے هغه کسان
كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ إِلَىٰ مَضَاجِعِهِمْ ۖ وَلِيَبْتَلِيَ
چه مقرر شوی په هغوی قتل، ځائے د وژلو خپلو ته، او د دې لپاره چه امتحان وکړي
اللَّهُ مَا فِي صُدُورِكُمْ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِي
الله، د هغه چه ستاسو په سینو کښې دی، او د دې لپاره چه خالص کړي هغه چه ستاسو په
قُلُوبِكُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿١٥٤﴾
زړونو کښې دی. او الله پوهه دے په هغه رازونو چه په سینو کښې دی.
إِنَّ الَّذِينَ تَوَلَّوْا مِنْكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ
یقینا هغه کسان چه وګرځیدل ستاسو نه، په هغه ورځ چه مخامخ شوې دوه ډلې.
إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطَانُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا ۖ
یقینا خو ښویولي وو دوی لره شیطان په سبب د بعض هغه عملونو چه دوی کړي وو.
وَلَقَدْ عَفَا اللَّهُ عَنْهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ
او یقینا عفوه کړې ده الله تعالی د هغوی نه، یقینا الله تعالی بخښونکے
حَلِيمٌ ﴿١٥٥﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَكُونُوا
صابر دے. اے ایمان دارو! مه کیږئ
كَالَّذِينَ كَفَرُوا وَقَالُوا لِإِخْوَانِهِمْ إِذَا ضَرَبُوا
په شان د هغه کسانو چه کفر یې کړے او وائي په باره د خپلو ورونو کښې چه کله سفر کوي

منزل ۱

هَلْ لَنَا مِنَ الْأَمْرِ: آیا شته وے مونږ لره د امداد او فتحے نه څه شے. یعنی نشته. مطلب دا چه ظاهره یې استفهام طلب دے په یو شي کولو او مقصد انکار دے. وګورئ قرطبي ۴/۲۴۲

قُلْ لَوْ كُنْتُمْ فِي بُيُوتِكُمْ: د وخت نه معلومه شوه چه وخت د مرګ او ځائے د مرګ په تقدیر نه بدلیږي. الْجَمْعَانِ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا: په بعض هغه عمل چه دوی کړے وو. معلومه شوه چه یو ګناه د بل سبب ګرځي. بیا باري تعالی د صحابه کرامو نه د عفوے اعلان وکړو چه اوس د دې پاره د چا د طعن ویلو حق پاتے نشي. لِإِخْوَانِهِمْ: اے ایماندارو! مه کیږئ په شان د هغه کسانو چه کافران دی او وائي په باره د ورونو خپلو کښې. مدارک وائي په ۱/۱۹۱ کښې مراد د ورته نسبي ورونړه دي.

د شاه کبیر شیخ رحمه الله فرمائي په ۲۱۰ افضل التراجم کښې چه د انصارو قتل د منافقانو خپل قتل وو ☆

وَلَئِن قُتِلْتُمْ : په دے آیت کښې د شهید الوشان او صفت ذکر دے۔ فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ په دے آیت کښې
د نبي عليه السلام اخلاق کريمه ذکر شوي او وئيلے او صاف د امير وئيلے شوي چه هغه به سخت زړے او پوچ ژبے نه

فِي الْأَرْضِ أَوْ كَانُوا غُزًّى لَّوْ كَانُوا عِندَنَا

په زمکه کښې ، او يا وي دوی غزا کونکي که وو دوی موږ سره خوا کښې

مَا مَاتُوا وَمَا قُتِلُوا لِيَجْعَلَ اللَّهُ ذَٰلِكَ

نه به وو مړه شوي او نه به وو قتل شوي چه وګرزوي الله تعالی دا خبره

حَسْرَةً فِي قُلُوبِهِمْ ۗ وَاللَّهُ يُحْيِي وَيُمِيتُ

افسوس، په زړونو د دوی کښې ، او الله تعالی ژوندی کول کوي او مړه کول کوي

وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ (۱۵۶) وَلَئِن قُتِلْتُمْ

او الله په هغه عملونو چه تاسو کوئ ليدونکے دے . او که چرته قتل شوئ تاسو

فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللَّهِ وَ

په لاره د الله تعالی کښې، او يا مړه شوئ نو خامخا بخښنه د طرفه د الله تعالی او

رَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ (۱۵۷) وَلَئِن مُّتُّمْ أَوْ

مهرباني، غوره ده د هغه څه نه چه دوی راجمع کوي - او که چرته مړه کړے شوئ او يا

قُتِلْتُمْ لَإِلَى اللَّهِ تُحْشَرُونَ (۱۵۸) فَبِمَا رَحْمَةٍ

وژلی شوئ تاسو نو خامخا الله تعالی ته به راجمع شئ ، پس په سبب د مهربانۍ

مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ ۖ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ

د الله تعالی، نرم شوې ته دوی ته، او که چرته وې ته پوچ ژبے، سخت

الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَاعْفُ عَنْهُمْ

زړے، نو خامخا خواره شوي به وو دوی د ستا د چاپېره، پس عفوه وکړه د دوی نه

وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ ۖ فَإِذَا

او بخښنه وغواړه د دوی دپاره، او مشوره ورسره کوه په کار کښې ، پس کله چه

عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ

قصد وکړه تا، پس توکل وکړه په الله تعالی، يقينًا الله تعالی مينه ساتي

الْمُتَوَكِّلِينَ (۱۵۹) إِن يَنصُرْكُمُ اللَّهُ فَلَا غَالِبَ

د توکل کونکو سره. که چرته امداد د کړي ستاسو الله تعالی، پس نشته زور اور ،

وي چه خلق ورانه چه ملګري ئې راغونډ وي. بابا سعدي رحمه الله فرمائي : د شعر ورنړو معنی دا ده چه هيڅوک نه دي ليدلے چه ترې ګړه شو تهاز ، چه غاړه ورته کښې سوړه وي ګوره واخله
ئې راغونډ شوي وي. ګوره ګمانے کښې چه خوږ ده جينه وي خلق او مرغان او مارغان چاپېره راغونډيږي. وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ او مشوره ورسره کوه په اهم کارونو کښې - والعفا د عَزَمْتَ الْفِعْلَ نه راخستلے شوي دے. دا په هغه وخت کښې وئيلے شي چه د کښينه زړچه د کښېن راوباسي. مطلب دا چه امير به خوږ ژبے خوږ ژبے رانه کانے د ملګرو نه اخلي. د ګودري ماخذ په مفردات بلاغت کښې.

فائده : مفتي صاحب رحمه الله ليکلي دي چه د عمر رضي الله عنه ارشاد دے چه نه به وي خلافت مګر پس د مشورے نه. (کنز العمال) اسلامي آئين چه څنګه د الله تعالی مخلوق د کسری او د قيصر او د نورو شخصي بادشاهانو د ظلم او د جبر د پنجے نه نجات ورکړے دے او د ملګرو د الله تعالی نه بيګانه مغربي جمهوريتونو ته ئې د الله تعالی سره د آشنائی او خدا پرستۍ لاره خودلے ده او دا ئې ښودلے دي چه د مملکت حکام دې او که عوام وي د الله تعالی د دور کړے شوي قانون به پابند وي. (معارف القرآن) جناب قاضي شمس الدين رحمه الله د موجوده

انتخاباتو او جمهوريت به باره کښې يو قصيده ليکلے ده يو شعر ئې دا دے : ترک کرد نقل صحابه بحول : اسوه غير نبي کرده قبول :
چه وِ ئے خلقو د صحابه کرامو نقل پريښودو : او د فرنګيانو طريقه ئې قبوله کړه :

لَكُمْ وَإِنْ يَخْذُلْكُمْ فَمَنْ ذَا الَّذِي يَنْصُرُكُمْ

پناه به نه ورکوی، او که رسوا کړی تاسې لره، نو څوک دی هغه څوک چې امداد او کمک به وکړی ستاسې

مِنْ بَعْدِهِ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١٦٠﴾

پس د ده نه، او خاص په الله تعالی توکل او سپارل دی وکړی، مؤمنانو.

وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَغُلَّ وَمَنْ يَغْلُلْ يَأْتِ

او نه دی مناسب نبی لره چې خیانت وکړی، او هغه چې خیانت وکړی، راوړه به ئې

بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ تُوَفَّى كُلُّ نَفْسٍ مَا

هغه چې خیانت کړی ئې وی په ورځ د قیامت، بیا به پوره ورکړی شی هر نفس ته، بدله د هغه

كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٦١﴾ أَفَمَنِ اتَّبَعَ

عمل چې کړی ئې وی، او دوی به ظلم نشی کیدے. آیا پس هغه څوک چې تابع شوے

رِضْوَانَ اللَّهِ كَمَنْ بَاءَ بِسَخَطٍ مِنَ اللَّهِ وَ

د رضا د الله تعالی، په شان د هغه چا دے چې راغے په غصې د الله تعالی، او

مَأْوَاهُ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿١٦٢﴾ هُمْ دَرَجَاتٌ

ځائے د او سیدو ئې دوزخ دے، او بد ځائے د واپسی دے. او دوی دی مختلفو درجو والا

عِنْدَ اللَّهِ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿١٦٣﴾ لَقَدْ

په نزد د الله تعالی، او الله تعالی لیدونکے دے په هغه عملونو چې دوی ئې کوی. یقیناً

مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا

احسان کړے الله تعالی په مؤمنانو باندې، کله چې راولیږلے ئې دے په دوی کښې پیغمبر،

مِنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَ

د جنس د دوی نه، چې تلاوت کوی په دوی باندې، آیتونه د هغه، او

يُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَ

پاکوی دوی لره، او ښائی دوی ته، کتاب (قرآن) او پوهه د دین (سنت) او

إِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ ﴿١٦٤﴾

او یقیناً وو دوی، مخکښې د دے نه خامخا په ګمراهۍ ښکاره کښې.

وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَغُلَّ: او نه دی مناسب د نبی د پاره چې خیانت وکړی. مطلب دا چې امیر به خائن نه وی. تفسیر خازن رحمه الله په ج ۱ کښې د ابن عباس رضی الله عنهما په روایت ذکر کوی چې بدر کښې تور څادر ورک شوے وو نو بعض منافقو وویل چې دا به نبی علیه السلام د ځان د پاره اخستے وی. نو جواب ئې په غلول و طریقو سره ورکړے. نو په دے ایت کښې، بیل په ص ۱۶۲ کښې، بیل په ص ۱۶۲ کښې، بیل په ص ۱۶۲ کښې.

امام رازی رحمه الله فرمائی چې نبوت او خیانت نه جمع کیږی. (کبیر ص ۹) اندلسی رحمه الله فرمائی چې یقیناً غلول ګناه ده او نبی د ګناه نه معصوم وی. (بحر ص ۱۰۲)

مفتی صاحب رحمه الله فرمائی چې په وګړی مالونو او سرکاری خزانه کښې غلا په حکم د غلول کښې ده. (معارف ص ۲۳۲)

هُمْ دَرَجَاتٌ: د درجو والا دی. (قرطبی ص ۲۶۳)

لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ: دا هم د رد جواب دے چې نبی خو د الله نعمت دے نو څنګه به خیانت وکړی.

يَتْلُوا عَلَيْهِمْ: سورة بقره ص ۱۲۹ او سورة جمعه کښې هم وګوری.

أَوَلَمَّا أَصَابَتْكُمْ: دلته زجر دے ملامت نو لره. مطلب دا دے چه په وختی طور شکست یا نیم ملومت نو تعجب کولو چه دا شکست را غے د جواب دا وشو چه د کښی ستاسے عمل لره دخل شته. چه سورت هم په یخو دی. او

أَوَلَمَّا أَصَابَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَدْ أَصَبْتُم مِّثْلَيْهَا

آیا او هر کله چه ورسیده تاسو ته مصیبت حال دا چه رسولے وو تاسو دوه چنده دے نه

قُلْتُمْ أَنَّىٰ هَٰذَا ۖ قُلْ هُوَ مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ ۗ إِنَّ

وائی ووئیل تاسو چه دا؛ ووایه دا د طرفه د نفسونو ستاسو دے. یقیناً

اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (۱۶۵) وَمَا أَصَابَكُمْ يَوْمَ

الله په هر شی باندے قدرت والا دے. او هغه چه ورسیده تاسو ته په هغه ورځ

الْتَقَى الْجَمْعَانِ فَبِإِذْنِ اللَّهِ وَلِيَعْلَمَ الْمُؤْمِنِينَ (۱۶۶)

چه مخامخ شوے وو دوه ډلے پس دا په حکم د الله وو. او د دے دپاره چه ښکاره کړی مومنان لره

وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ نَافَقُوا ۚ وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوا

او ښکاره کړی هغه کسان چه منافقت ئے کړے او ورته ووئیلے شو. راشئ جنګ وکړئ

فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوِ ادْفَعُوا ۖ قَالُوا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّا

په لاره د الله تعالیٰ کښی او یا دفع کړئ دښمن لره. وائی دوی که مونږ پوهیدے جنګ

اتَّبَعْنَاكُمْ ۗ هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنْهُمْ

نو خامخا تابعداری به مو کړے وه ستاسو. دوی کفر ته په هغه ورځ ډیر نزدے وو په نسبت د

لِلْإِيمَانِ ۚ يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِم مَّا لَيْسَ فِي

ایمان ته، وائی دوی په خلو خپلو هغه چه نشته په

قُلُوبِهِمْ ۗ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ (۱۶۷) الَّذِينَ

زړونو خپلو کښی او الله ښه پوهه دے په هغه چه دوی پټوی. دا هغه کسان دی چه

قَالُوا لِإِخْوَانِهِمْ وَقَعَدُوا لَوْ أَطَاعُونَا مَا

وائی دوی په باره د ورونو خپلو کښی او ناست وو که چیرے منلے وے دوی زمونږ خبره نو نه

قُتِلُوا ۗ قُلْ فَادْرَءُوا عَنْ أَنفُسِكُمُ الْمَوْتَ إِن

قتل شوی. ووایه دفع کړئ د ځانونو خپلو نه مرګ، که چیرے

كُنتُمْ صَادِقِينَ (۱۶۸) وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا

یاست تاسو ریښتیا ویونکی. او هیچرے خیال مکوه په هغه کسانو چه قتل شوی

منزل ۱

په: قَدْ أَصَبْتُم مِّثْلَيْهَا کښی اشاره ده د بدر غزا ته چه هلته کفار کښی مړه شوی وو او اویا کښی قیدیان شوی وو. او په: بِإِذْنِ اللَّهِ کښی اشاره ده سبب حقیقی ته چه هغه د الله تعالیٰ حکم کیږی او په هغه کښی د منافقانو خلوص قبا حتونه ذکر شوی دی.

أَوِ ادْفَعُوا: د بعضو شیخ رحمه الله فرمائی چه که چیرے د الله د خوشالی کولو او ثواب آخرت دپاره نه جنګیږئ نو کم از کم د خپل مال او د ځان او د خپل ښار نه د دفاع کولو دپاره خو د کافرانو سره وجنګیږئ (جواہر ص۱۴۷) مطلب دا چه دفاع ښهری خو وکړه. قاضی ابو السعود رحمه الله په تفسیر کښی هم لیکی چه دفاع وکړئ د اهل او د ښار او د حریم خپل نه که چیرے نه جنګیږئ په لاره د الله تعالیٰ کښی. هُمْ لِلْكُفْرِ: مطلب دا چه منافقانو کښی کفر پټ او ایمان ښکاره وو. اوس ئے هغه کفر هم ښکاره شو. د ایمان نه لرے او کفر ته ډیر نزدے شو. د شاه پور شیخ رحمه الله فرمائی چه اوس په ظاهر کښی کفر ته او مخکښی په ظاهر کښی ایمان ته نزدے معلومیدل. (فضل التراجم ص۱۰۹)

لِإِخْوَانِهِمْ: په باره د ورونو خپلو کښی مراد ترینه نسبی ورونه دی. وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ: کښی بشارت دے شهیدانو لره.

بقره ص۱۴۲ او محمد ص۵ هم وګورئ. مطلب دا دے چه د نورو عامو مومنانو غوندے خیال او ګمان پرے مکوئ.

عِنْدَ رَبِّهِمْ، علامه خازن رحمه الله ليكلي دي چه دوي ژوندي دي په دربار د رب خپل كښي په عالم غيب كښي،
شكه چه دوي تل دي اخرت ته ... په كتاب "د حديث كښي راځي - مسروق رحمه الله واي چه مونږ د ابن مسعود

فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا ۚ بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ
په لار د الله تعالى كښي (مړه) او مه گمانوه هغوى ته مړي بلكه ژوندي دي په دربار د رب خپل كښي
يُرْزَقُونَ (۱۶۹) فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ
رزق وركولے شي۔ خوشالي كوي په هغه څه چه وركړي دي الله، د فضل خپل نه،
وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِمْ مِنْ
او خوشالي كوي په هغه كسانو چه لا ندي پيوسته شوي په دوي پورے روستو
خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ (۱۷۰)
د دوي نه چه نشته په دوي ويره په دوي باندے او نه به دوي غمژن كيږي.
يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ
خوشاليږي، په نعمت د الله تعالى او په فضل د هغه، او يقينا
اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ (۱۷۱) الَّذِينَ اسْتَجَابُوا
الله تعالى نه ضايع كوي بدله د ايماندارو۔ هغه كسان چه قبول ئے وكړو،
لِلَّهِ وَالرَّسُولِ مِنْ بَعْدِ مَا أَصَابَهُمُ الْقَرْحُ ۚ
الله تعالى او رسول ﷺ لره، پس د هغه نه چه ورسيده دوي ته زخم،
لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا أَجْرٌ عَظِيمٌ (۱۷۲)
لپاره د هغه كسانو چه نيكي كړي ده د دوي نه او ويره ئے كړي د الله، بدله لويه ده۔
الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا
دا هغه كسان دي چه ووئيل دوي ته خلقو (سيدو) چه يقينا دښمنانو (كفارو) جمع واري كړے
لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا وَقَالُوا حَسْبُنَا
تاسو لره پس ويريږئ د دوي نه، پس زيات كړو دوي لره ايمان او ووئيل دوي كافي دے مونږ لره
اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ (۱۷۳) فَانْقَلَبُوا بِنِعْمَةٍ مِنَ اللَّهِ
الله تعالى، او ښه كارساز دے هغه۔ پس واپس شوي دوي په نعمت د الله تعالى،
وَفَضْلٍ لَمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ وَاتَّبَعُوا رِضْوَانَ
او په فضل سره، و نه رسيده دوي ته څه تكليف او تابعداري ئے وكړه د رضا د

رضي الله عنه نه تپوس اوكړو، هغه واي چه مونږ د رسول الله ﷺ نه تپوس وكړے په باره كښي كړے وو، هغوي وفرمائيل چه روحونه د شهيدانو په جسمونو د شنو مرغو كښي دي دوي لره پنجيه دي كړے اويزان دي په عرش پورے او ګرځي ي په جنت كښي چرته ئے چه خوښه شي او بيا د غه كمرو پنجيرو لره راځي (الحديث)، وګورئ مسلم شريف ص۱۳۵، ترمذي ج۱۳۵، ابن ماجه ص۲۰۲، ابن جرير ص۱۱، ابن كثير ص۴۳۶، الهام الرحمن ص۲۰۲۔ مسلك العلماء كاساني رحمه الله په بدائع الصنائع ص۳۱۵ كښي ليكلي دي، هر چه په احكامو د دنيا كښي دي نو شهيد مړو دے. الَّذِينَ اسْتَجَابُوا د پنځه ئي شيخ رحمه الله فرماي چه په دې كښي د حمراء الاسد واقعې ته اشاره ده چه د احد د جنګ نه پس نبي ﷺ او صحابه كرامو رضي الله عنهم ورسيده تر لشكر تعقيب لي ؤ او رعب پرے راغلے وو، دا عام مفسرين واي او شيخ القرآن مولانا حسين علي رحمه الله فرماي چه په بدر صغرى ته اشاره ده. ابوسفيان د احد په جنګ كښي وعده كړے وه چه اينده كال به بيا په بدر جنګيږو ليكن د مقرر وخت نه مخكښي الله تعالى د هغوي په زړونو كښي ويره او رعب واچوله او د جنګ اراده ئے پريښوده. وګورئ جواهر ص۲۰۰ او الهام الرحمن ص۲۰۲.
حَسْبُنَا اللَّهُ: حافظ ابن كثير په ص۴۲۸ كښي ليكي چه امام بخاري رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنه نه نقل كوي چه دا هغه كلمے دي چه ابراهيم عليه السلام وئيلے وے كله چه اور ته غورزولے شوے وو او محمد ﷺ وئيلے وے چه كله ورته خلقو ووئيل چه هغه خلقو تاسو ته جمع واري كړے ده، پس ويريږئ د هغوي نه۔ پس زيات كړو دوي لره ايمان او وے وئيل: حسبنا الله ونعم الوكيل

سره حَسْبُنَا اللّٰهُ وَ نِعْمَ الْوَكِيْلُ — نا چېرې وايي چه موږ ته د شاه عنايت الله شاه بخاري رحمه الله نه د وظيفې مطالبه وکړه نو حضرت ورته فرمايل چه دا کلمات ورد وبېروا ايي. إِنَّمَا ذٰلِكُمُ الشَّيْطٰنُ: يقيناً دغه

اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۷۴﴾ إِنَّمَا ذٰلِكُمُ

الله د، او الله خاوند د فضل لوئے دے. يقيناً دا جاسوس ستاسو

الشَّيْطٰنُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَآءَهٗ ۖ فَلَا تَخَافُوْهُمْ وَ

شيطان دے، وېروي تاسے د دوستانو خپلو نه، پس مه وېرېږئ د دوی نه، او

خَافُوْنِ إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷۵﴾ وَلَا يَحْزُنْكَ

وېرېږئ زما نه که چرې يئ تاسو ايمان دار، او غمژن دې نه کړي تا لره

الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ فِي الْكُفْرِ ۚ إِنَّهُمْ لَنْ يَّضُرُّوا

هغه کسان چه جلتي کوي په کار د کفر کښې، يقيناً دوی هيڅ ضرر نشي رسولے

اللّٰهَ شَيْئًا ۗ يُرِيْدُ اللّٰهُ أَلَّا يَجْعَلَ لَهُمْ حَظًّا فِي

الله ته هيڅ، اراده کوي الله چه ونه ګرځوي دوی لره هيڅ برخه په

الْاٰخِرَةِ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۶﴾ إِنَّ الَّذِيْنَ

آخرت کښې، او د دوی د پاره عذاب لوئے دے. يقيناً هغه کسان

اشْتَرَوُا الْكُفْرَ بِالْإِيْمَانِ لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْئًا ۚ

چه اخستے دے کفر په بدله د ايمان کښې، هيڅ ضرر نشي رسولے الله ته هيڅ

وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ ﴿۱۷۷﴾ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ

او د دوی د پاره عذاب دردناک دے. او هيچرې دې خيال نه کوي هغه کسان چه

كَفَرُوْا أَنَّمَا نُمْلِيْ لَهُمْ خَيْرٌ لِّأَنْفُسِهِمْ ۚ إِنَّمَا

کفر ئې کړے دے چه مهلت ورکوو دوی ته خير دے د پاره د ځانونو د دوی، يقيناً مهلت

نُمْلِيْ لَهُمْ لِيَزْدَادُوْٓا إِثْمًا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ

ورکوو دوی ته د دې د پاره چه زيات کړي ګناه، او د دوی د پاره عذاب

مُّهِيْنٌ ﴿۱۷۸﴾ مَا كَانَ اللّٰهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلٰى مَآ

خوارونکے دے. نه دے الله چه پرېږدي مومنانو لره په هغه حال

أَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتّٰى يَمِيْزَ الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ ۗ

چه تاسو په هغه باندې يئ تر دې چه بېل کړي پليت د پاک نه

منزل ۱

شيطان دے او په دېکښې صفه پروپيګنډو ته د وکلاو ته اشاره ده. يُخَوِّفُ: روح المعاني ملکا کښې معنی کوي يُخَوِّفُكُمْ: وېروي تاسے لره. يعنی مفعول به دلته محذوف دے. وَلَا يَحْزُنْكَ: دا تسلي ده رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ته او په مخلا کښې د منافقانو ذکر دے او په دغه کښې يتمه ده او دغه د يو سوال دے چه کافرانو ته ولې مالونه او عمرونه ورکړے شويدي. إِنَّمَا نُمْلِيْ لَهُمْ: يقيناً مهلت ورکوو دوی لره چه زيات ګناهونه وکړي. اسنا د محترم ميان حياء الدين رحمه الله به فرمايل د قربانئ ګمراه ترينه جوړېږم. مَا كَانَ اللّٰهُ: دا د بل سوال جواب دے الوسي رحمه الله په ۱۳۸ کښې ليکي چه مومنانو مطالبه وکړه چه دوی ته يو داسے علامه ورکړے شي چه بېلتون پرے وکړي د مؤمن او کافر. نو نازل شو دا آيت. مسئله: مشرکان د دې آيت نه د علم غيب کلي د نبي صلی الله عليه وسلم د پاره دليل نيسي ځکه چه په الطَّيِّب کښې الف او لام د استغراق د پاره دی نو مراد ترينه ټول غيب دی. جوابونه: (۱) په تلويح ۳۰ کښې راځي چه په تعريف کښې استغراق لازم نه دے بلکه عهدي پکښې اصل دے.

مطلب دا چه اصل په الف لام کښې عهدي دی او ولته هم خاص علامه ده. لکه چه محققين د روح المعاني حواله ذکر شوه. (۲) مفسرينو رحمهم الله ترينه بعض غيب اخستې دی او هغه هم د وحي په ذريعه وی. نو غيب پاتے نشو. وګورئ: ص۸۶ بيضاوي، ص۱۲۴ مظهری، ص۴۳۲ خازن، ص۱۹۳ جواهر او الهام الرحمن ص۲۲۳

(۴۳) اوکلہ عالم الغیب کلی شی نو بیا به ډوی آیتونو سره یکو او راتلی ملا خشا نو به ، ملا تحریم ، ملا منافقون ، ملا الانعام ، ملا الاعراف ۔ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ : زر ده چه امیل به کړے شی دوی

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ

او نه دے الله تعالیٰ چه خبر کړی تاسو په پټو خبرو باندې ، او لیکن الله تعالیٰ

يَجْتَبِي مِنْ رُّسُلِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ۖ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ۚ

غوره کوی ، د رسولانو خپلو نه ، چا لره چه وغواړی ، نو ایمان راوړی تاسو په الله او رسولانو د هغه

وَاِنْ تُؤْمِنُوْا وَتَتَّقُوْا فَلَكُمْ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۹﴾ وَلَا

او که ایمان راوړئ او ځان وساتئ نو تاسو لره اجر لوئے دے ۔ او هیڅکله

يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ بِمَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ

دې گمان نه کوی هغه کسان چه بخل کوی په هغه څه چه ورکړی دی دوی ته الله تعالیٰ ، د فضل

فَضْلِهٖ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ ۭ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ۭ سَيُطَوَّقُوْنَ

خپل نه ، چه دا غوره دے دوی لره ، بلکه دا بد دے دوی لره ، زر ده چه طوق به اچولے شی په هغه

مَا بَخِلُوْا بِهٖ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَ

څه چه دوی بخل کړے په هغه ، په ورځ د قیامت ، او خاص الله لره میراث د آسمانونو او

الْاَرْضِ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۸۰﴾ لَقَدْ سَمِعَ

د زمکے دے ، او الله تعالیٰ په هغه عملونو چه تاسو کوئ خبردار دے ۔ یقیناً واوریده

اللّٰهُ قَوْلَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ وَّنَحْنُ

الله تعالیٰ وینا د هغه کسانو چه وائی یقیناً الله تعالیٰ محتاج دے او مونږ

اَغْنِيَاۗءُ ۘ سَنَكْتُبُ مَا قَالُوْا وَقَتْلَهُمُ الْاَنْۢبِيَاۗءَ

غنیان یو ، خامخا به لیکو هغه چه دوی وائی ، او وژل د دوی ، نبیانو لره ،

بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ وَّنَقُوْلُ ذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿۱۸۱﴾

ناحقه د دوی په خیال هم ، او به وایو ، وڅکئ ، عذاب د اور سوزونکی ۔

ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْكُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ

دا عذاب په سبب د هغه عمل دے چه مخکښ کړے لاسونو ستاسو او یقیناً الله تعالیٰ نه دے

بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۱۸۲﴾ اَلَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ عَهِدَ

هیڅ ظلم کونکے په بندګانو باندې ، دا هغه کسان دی چه وائی یقیناً الله تعالیٰ ، لوظ کړے

نه هغه چه دوی پرے شوم بخیل کوی په ورځ د قیامت ۔ د بخاری شریف ملا حدیث دے او مشکوۃ ملا کښی هم دے چه نبی علیه السلام فرمائی چا ته الله تعالیٰ مال ورکړی او زکوۃ تری نه ادا نکړی نو د هغه به شی تری گنجے مار او دا لره به ډوه ټکی په سر وی او د غاړے نه به ئے تاؤشی په ورځ د قیامت او بیا د خلکو به ورله نیکونه ورکوی او ورته وائی په څه د مال یم ، څه د خزانه یم ، بیائے دا آیت تلاوت وفرمائیه ۔ وګورئ قرطبی ملا ، ابن کثیر ملا ، جواهر ملا ، الهام الرحمن ملا

لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ : د دے خائے نه ترملا پورے دریم باب دے ۔ په دیکښی د دے قبا حتونه د اهل کتابو ملا ، ملا ، ملا او ما بین کښی ترغیب الی الجهاد والانفاق دے ۔ ملا ملا ۔

اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ : کله چه الله تعالیٰ په جهاد کښی ترغیب مال لګولو ته په قرض سره ورکړو نو دوی ووئیل چه الله تعالیٰ فقیر شوے قرض غواړی نو باری تعالیٰ ورته زورنه ورکړه ۔ وګورئ بقره ملا حدید ملا ملا ۔ بِظَلَّامٍ چه : دا د مبالغے صیغه ده ۔ معنیٰ ئے ډیر ظلم کونکی ، خو دلته مبالغه نه ده مراد بلکه معنیٰ ئے دا ده چه نه دے هیڅ ظلم کونکے ۔ وګورئ ملا ال عمران ، ملا یونس ؛

اِلَیۡنَاۤ اَلَّا نُؤۡمِنَ لِرَسُوۡلٍ حَتّٰی یَاۡتِیَنَا بِقُرۡبَانٍ
مونږ سره چه ایمان به نه راؤړو په رسول باندې ، ترڅو چې راؤړي مونږ ته داسې قرباني
تَاۡکُلُهُ النَّارُ ؕ قُلۡ قَدۡ جَآءَکُمۡ رُسُلٌ مِّنۡ
چه خوري هغه لره اور ، او وایه ، یقیناً ، راغلي تاسو ته ډیر رسولان ، مخکښې
قَبۡلِیۡ بِالۡبَیِّنٰتِ وَ بِالَّذِیۡ قُلۡتُمۡ فَلِمَ
مانه ، په واضحه دلیلونو ، او په هغه شي چه تاسې وایئ ، پس ولې مو
قَتَلۡتُمُوۡهُمۡ اِنۡ کُنۡتُمۡ صٰدِقِیۡنَ ﴿۱۸۳﴾ فَاِنۡ کَذَّبُوۡکَ
وژل هغوی لره ؟ که چیرې یاست تاسې رښتیني وینکي . پس که چیرې دروغژن کوي تا لره ،
فَقَدۡ کُذِّبَ رُسُلٌ مِّنۡ قَبۡلِکَ جَآءُوۡ بِالۡبَیِّنٰتِ
پس (صبر کړه) یقیناً دروغژن کړے شوي دي ډیر رسولان مخکښې ستانه ، راغله وو ګړي ذوي په واضحه دلیلونو
وَ الزُّبُرِ وَ الۡکِتٰبِ الۡمُنِیۡرِ ﴿۱۸۴﴾ کُلُّ نَفۡسٍ ذَآئِقَةُ
او صحیفو ، او کتاب روښنائي کوونکي : هر نفس ، څکونکي د
الۡمَوۡتِ ؕ وَ اِنَّمَا تُوَفَّوۡنَ اُجُوۡرَکُمۡ یَوۡمَ الۡقِیٰمَةِ ؕ
مرګ دے . او یقیناً پوره به درکړے شي بدلے ستاسې په ورځ د قیامت ،
فَمَنۡ زُحۡزِحَ عَنِ النَّارِ وَ اُدۡخِلَ الۡجَنَّةَ فَقَدۡ
پس څوک چه لرې کړے شو ، د اور نه ، او داخل کړے شو جنت ته ، پس یقیناً
فَازَ ؕ وَ مَا الۡحَیٰوةُ الدُّنۡیَاۤ اِلَّا مَتَاعُ الۡغُرُوۡرِ ﴿۱۸۵﴾
کامیاب شو ، او نه دے ژوند نړدے ، مګر څیز د دھوکے دے .
لَتُبۡلَوُنَّ فِیۡۤ اَمۡوَالِکُمۡ وَ اَنۡفُسِکُمۡ ۟ وَ لَتَسۡمَعُنَّ
خامخا یقیناً امتحان به وکړے شي په تاسو په مالونو ستاسو کښې او نفسونو ستاسو کښې او خامخا یقیناً به واورئ
مِنَ الَّذِیۡنَ اُوۡتُوا الۡکِتٰبَ مِنۡ قَبۡلِکُمۡ وَ مِنَ
تاسې د هغه کسانو نه چه ورکړے شوې کتاب ، مخکښې ستاسو نه ، او د هغه
الَّذِیۡنَ اَشۡرَکُوۡۤا اَذًی کَثِیۡرًا ؕ وَ اِنۡ تَصۡبِرُوۡا وَ
کسانو نه چه شرک ئے کړے ، ډیر بدے خبرې ، او که چیرې صبر مو وکړو ، او

اِنَّ اللّٰهَ عَهِدَ اِلَیۡنَا : شاه عبد القادر رحمه الله فرمائي چه دا د دروغو بهانے دے . (موضح القرآن) او مدارك په صفحه ١٩١ کښې فرمائي چه دا دعوی باطله او دروغ تړل دي په الله تعالیٰ باندے . فارسي کښې مثل دے : "خري را بهانه بسيار" فَاِنۡ کَذَّبُوۡکَ : دلته جزاء محذوفه ده . یعني صبر کوه یا مه خفه کيږه ، او دے ایت کښې تسلي ده . وګورئ ٢٠ ج ، ٣٣ فاطر . کُلُّ نَفۡسٍ ذَآئِقَةُ الۡمَوۡتِ : سورة انبياء ٣٥ وګورئ . پښتو کښې مصرعه ده : چه

نمايه مرګ خوشحالي مکړه : مرګ شمال دے هره ونه خوزوينه

فَقَدۡ فَازَ : پس یقیناً کامیاب شو . شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل پس دا شو زنده باد . لَتُبۡلَوُنَّ : په دے ایت کښې تشجیع ده په جهاد او انفاق باندے .

نسقي

نیم

مِنْ عَزْمِ الْأُمُوْرِ: د مضبوطو کارونو نه دي. د دې نه مراد هغه کارونه دي چه نهايت اهم او تاکيدي دي او د هغو د کولو باره هو يو ته د عزم او د پخې ارادې کول مناسب وي (جواهر ۴). ابو السعود

تَتَّقُوْا فَاِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿۱۸۶﴾ وَاِذْ
تقوی سره وکړئ، پس يقيناً دغه ... د مضبوطو کارونو نه دي. او کله چه
اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ
واخسته الله تعالیٰ مضبوط لوظ د هغه کسانو نه چه ورکړے شوے و ورته کتاب،
لَتُبَيِّنُنَّهٗ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُوْنَهٗ فَنَبَذُوْهُ
چه خامخا بيان به کوئ دا خلقو ته، او نه به پټوئ دا سو هغه، پس وغورځولو
وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ وَاشْتَرَوْا بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ
دوی دا شاته د شاګانو خپلو نه، او واخستلو په دغه ... قيمت ... لږ (د دنيا)،
فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُوْنَ ﴿۱۸۷﴾ لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ
پس بد دے هغه چه دوی يې اخستلو، هيڅ کمان مکوه ته هغه کسانو
يَفْرَحُوْنَ بِمَآ اَتَوْا وَّيُحِبُّوْنَ اَنْ يُّحْمَدُوْا
خوشاليږي په هغه کار چه کړی دی (حق پټول)، او خوښوي چه ستائنه وکړې شي،
بِمَا لَمْ يَفْعَلُوْا فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَفَازَةٍ مِّنَ
په هغه کار چه نه دې کړے، پس يقيناً ګمان مکوه په دوی باندې چه خلاصيدونکي دي د
الْعَذَابِ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۸۸﴾ وَلِلّٰهِ مُلْكُ
عذاب نه، او خاص دوی لره عذاب دردناک دے، او خاص الله تعالیٰ لره بادشاهي
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۗ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ
د اسمانونو ... او د زمکې ده، او الله په ... هر ... شي د ے
قَدِيْرٌ ﴿۱۸۹﴾ اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ
قدرت لرونکے. يقيناً په پيدا کښې، د اسمانونو، او زمکې کښې،
وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي
او په تلو راتلو ... د شپې ... او د ورځې کښې خامخا ډير دليلونه دي لره د
الْاَلْبَابِ ﴿۱۹۰﴾ الَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيَامًا
خاوندانو د عقلونو. هغه کسان چه ياد وي ... الله تعالیٰ لره، په ولاړه سره

منزل ۱

ذکر: کښې فرمائي، کوم چه صبر سره وکړو او تقوی سره وکړو. فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ: پس دا غوره دي ستاسو دپاره. تنبيهه: حسن بصري او قتاده رحمهما الله فرمائي چه دا آيت عام دے د هر عالم دپاره (فتح القدير ۳)، او مدارک په ۱ کښې ليکي چه دا دليل دے په دې باندې چه واجب دي په علماؤ باندې د اسرار چه بيان کړي حق لره خلقو ته او نه پټوي دغه نه شي لره د وجې د غرض فاسد نه چه اخلاق او رسول په طلبانو دي او د هغوی زړه نه خوشالول دي او يا ترتيب نفع او خکل دي او يا دفع د ضرر د هغوی وه او يا بخل په علم باندې دي. فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُوْنَ: پس بد دے هغه چه دوی اخستلو يا غوره کړے کړو. شيخ القرآن رحمه الله د لطيفي په طور فرمائيل چه دا په د افعال مدح عونه وي. يَفْرَحُوْنَ بِمَآ اَتَوْا: چه خوشالي کوي په هغه چه دوی کړي. تسهيل کښې په ۱ کښې راځي مِنْ كِتْمَانِهِمْ: چه حق پټول د دوی دي. وَيُحِبُّوْنَ اَنْ يُّحْمَدُوْا: علامه نسفي رحمه الله په ۱ کښې ليکي چه په دې آيت کښې وعيد دے هغه چا دپاره چه نيکي وکړي او خوشالي پرې کوي د تکبر په وجه، او صفت سازي چه خلق صفت وکړي په هغه چه دا کښې نه وي. وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ: د دې نه ماقبل علوم بابت شو او اعاده د علوم او راوړه د هغو وه. توحيد، رسالت علا، کتاب ... القرآن ... او دعا کانې دي په لفظ د رَبَّنَا بخشه علی، او ورپسې صفات د مومنانو او هغوی لره بشارت، او اخري آيت کښې اعاده د هغه کانو د سورت ده. اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ: دليل عقلي دے او بقره ۱۶۴ کښې هم تفصيلي ذکر شوے: لاٰيٰتٍ: خامخا واضح دليلونه دي په توحيد د الله تعالیٰ باندې. معارف ... کښې پرے د اشعر ليکلے دے.

سه عجیب دے که از زمین روید ... وحشت دا شرک لازم دے ... یعنی هر څه کیاره چه دزړه که نه راپوره او زړغونه شي نو والي چه الله یو دے شریک نے نشته: الّذین یذکرون: په دې کښې پنځه صفات د اولي الالباب دي. د

وَّقُعُوْدًا وَّعَلٰى جُنُوْبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ

او ناست او په اړخونو خملو باندې، او فکر کوي دوی

خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ

په پیدائیښت د آسمانونو او ځمکې کښې (او وائي دوی) اے ربه زمونږه! نه دي پیدا کړي تا

هٰذَا بَاطِلًا ۚ سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿١٩١﴾

دا بې فائدې، پاکي بیا ده ستا، پس بچ کړه مونږ د عذاب د اور نه.

رَبَّنَآ اِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ اَخْزَيْتَهٗ ؕ

اے ربه زمونږه! یقیناً ته چې څوک داخل کړې اور ته، پس یقیناً تا رسوا کړو هغه لره،

وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ﴿١٩٢﴾ رَبَّنَآ اِنَّنَا سَمِعْنَا

او نشته ظالمانو لره هیڅ امداد ګران. اے ربه زمونږه! یقیناً مونږه واوریدو

مُنَادِيًا يُّنَادِيْ لِلْاِيْمَانِ اَنْ اٰمِنُوْا بِرَبِّكُمْ

د یو آواز کوونکي چه آواز به کولو ایمان ته، چه ایمان راوړئ په رب خپل

فَاٰمَنَّا ۖ رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا

پس مونږ ایمان راوړو، اے ربه زمونږه! پس بخښنه اوکړه مونږ لره د ګناهونو زمونږه، او لرې کړه زمونږ نه

سَيِّاٰتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْاَبْرَارِ ﴿١٩٣﴾ رَبَّنَا وَاٰتِنَا

بدۍ زمونږه، او وفات مونږ کړه په ملګرتیا د نیکانو کښې. اے ربه زمونږه! او راکړه مونږ ته

مَا وَعَدْتَّنَا عَلٰى رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ

هغه چه وعده دې کړې ده مونږ سره په (ژبه) د رسولانو ستا، او مه رسوا کوه مونږ په ورځ د

الْقِيٰمَةِ ۗ اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿١٩٤﴾ فَاسْتَجَابَ

قیامت کښې، یقیناً ته خلاف نه کوې د وعدې څخه. پس قبول کړه

لَهُمْ رَبُّهُمْ اَنِّيْ لَآ اُضِيْعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنْكُمْ

دوی لره رب د دوی چه یقیناً زه نه بربادوم عمل د یو عمل کوونکي ستاسو نه

مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى ۚ بَعْضُكُمْ مِّنْ بَعْضٍ ۚ

که نارینه وي او که زنانه، بعض ستاسو نه د جنس د بعضو نه دي،

منزل ۱

انسان ذکر دے حالتونه دي، چه درته وار وکښې د الله تعالی ذکر کوي. سورة نساء ۱۰۳ هم وګورئ. وَيَتَفَكَّرُوْنَ: او سوچ او فکر کوي. سفیان بن عیینه فرمائي: اِذَا الْمَرْءُ كَانَتْ لَهٗ فِكْرَةٌ فَفِيْ كُلِّ شَيْءٍ لَّهٗ عِبْرَةٌ چه کله د انسان د پاره فکر وي نو په هر شي کښې د ده د پاره عبرت وي. (ابن کثیر ۳۰۳) خازن کښې دي:

وَفِيْ كُلِّ شَيْءٍ لَّهٗ اٰيَةٌ ... تَدُلُّ عَلٰى اَنَّهٗ وَاحِدٌ

او په هر شي کښې د الله تعالی د پاره دلیل دے چه دلالت کوي په دے چه الله یو دے. مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا: چه نه دي پیدا کړي تا دے لوبه بې فائدې. لبید شاعر وائي:

اَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَّا خَلَا اللّٰهَ بَاطِلٌ ... وَكُلُّ نَعِيْمٍ لَّا مَحَالَةَ زَائِلٌ

خبردار! هر شے سیوا د الله تعالی نه باطل دے او هر نعمت خامخا زائل کیدونکے دے. (روح ۱۵۸ قرطبی ۳۱۴). مُنَادِيًا: آواز کوونکے. ابن کثیر رحمه الله فرمائي ۳۳۲ کښې چه مراد ترے نه رسول الله صلی الله علیه وسلم دے او روح المعاني په ۱۶۳ کښې لیکي ویلي شي چه مراد ترے قرآن دے. مَعَ الْاَبْرَارِ: په ملګرتیا د نیکانو کښې. مدارک ۲۰۳ کښې دي چه ابرار هغه خلق دي چه سنتونو سره مینه لري او په سنتو باندې عمل کوي. ۱۹۸

آل عمران، ش و هر، مطففین. عَلٰى رُسُلِكَ: ابن کثیر رحمه الله په ۳۳۹ کښې لیکي عَلٰى اَلْسِنَةِ رُسُلِكَ یعنی په ژبو د پیغمبرانو ستا. آیت ۱۹۵ کښې بشارت او پنځه صفات دي. لَآ اُضِيْعُ: نه بربادوم. مومن ۴۰، نساء ۱۲۴، طه ۱۱۲ هم وګورئ.

لَا يَغُرَّنَّكَ ، دلته ترهیب من الدنیا : بے رغبتي د دنیا نه ده ، مثلاً انعام ... کهف ... مؤمن ... احد په وګورئ ۔ دا ایت ... کښې بشارت او ... کښې صفات د حق پرستو علماؤ دي ۔ لَا يَشْتَرُونَ ... : (نوټ : د دوے خاتمه نه د راتلونکی ... تفسیر شروع شی د بقره ... ال عمران ... ماخذ ... هم وګورئ :

فَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَأُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ

پس هغه کسان چه هجرت ئے کړے ، او ویستلی شوی دی د کورونو خپلو نه ،

وَأُوذُوا فِي سَبِيلِي وَقَاتَلُوا وَقُتِلُوا لَأُكَفِّرَنَّ

او ضرر رسولے شوے په لاره زما کښې ، او جنګ ئے کړے او وژلی شوی دی خامخا پټوم به زه

عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَلَأُدْخِلَنَّهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي

د دوی نه بدئ د دوی ، او خامخا داخل به ئے کړم باغونو ته چه بهیږی

مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ثَوَابًا مِّنْ عِندِ اللَّهِ ۗ وَ

لاندے د هغو نه نهرونه ، بدله ده د جانبه د الله تعالیٰ نه ، او

اللَّهُ عِندَهُ حُسْنُ الثَّوَابِ ﴿١٩٥﴾ لَا يَغُرَّنَّكَ

الله ، هغه سره ، ښه بدله ده ۔ هیڅ دے دهوکه درنکړی تګ راتګ

تَقَلُّبُ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي الْبِلَادِ ﴿١٩٦﴾ مَتَاعٌ

او تګ راتګ د هغه کسانو چه کفر ئے کړے په ښارونو کښې ، ګټه ورله

قَلِيلٌ ثُمَّ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۚ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿١٩٧﴾

لږه ده ، بیا ځائے د اوسیدلو د دوی دوزخ دے او بد ځائے تیار شوے دا جهنم دے ۔

لَٰكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنَّاتٌ

لاکن هغه کسان چه ویریږی د ربه خپل نه ، خاص دوی لره باغونه دی

تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ

بهیږی لاندے د دغو ونه ، ویالے ، همیشه به اوسیږی ،

فِيهَا نُزُلًا مِّنْ عِندِ اللَّهِ ۗ وَمَا عِندَ

په دغو کښې میلمستیا به ورکړے شی د طرفه د الله تعالیٰ نه ، او هغه چه الله تعالیٰ

اللَّهِ خَيْرٌ لِّلْأَبْرَارِ ﴿١٩٨﴾ وَإِنَّ مِنْ أَهْلِ

سره دی ، غوره دی د پاره د نیکانو ۔ او یقیناً ، بعض د اهل

الْكِتَابِ لَمَن يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَمَا أُنزِلَ

کتاب نه ، خامخا هغه څوک دی چه ایمان راوړی په الله او هغه کتاب چه نازل کړے شوی

يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا : دا ایت د ټول سورت خلاصه ده ۔ مدارک صفحې کوی په ... کښې چه صبر وکړئ په دین او تکالیفو د هغه باندې ، شیخ الهند رحمه الله فرمائي : وَصَابِرُوا : او په مقابله کښې مضبوط وسیږئ ۔ جلالین په ... کښې لیکی وَرَابِطُوا ای ثبتوا او سیږئ په جهاد باندی او قرطبي ... کښې دی چه د ساتنې دښمنانو د پاره اسونه ۔ حاصل دا چه اِصْبِرُوا کښې اشاره ده توحید او رسالت ته او صَابِرُوا کښې جهاد ته او رَابِطُوا کښې اتفاق ته او په اتَّقُوا اللَّهَ کښې هم توحید ته اشاره ده ۔ او رباط د اسلامي ملک سرحد ساتلو ته هم وائی ۔ حدیث کښې راځی رسول الله ﷺ فرمائی چه د یوے ورځے رباط د الله تعالیٰ په لاره کښې د دنیا او ما فیها نه بهتر دی (بخاری ، ... قرطبي) او د جمع د ماخذ پابندی او د یو موقع نه بلے موقع ته په انتظار کښې اوسیدل هم رباط في سبیل الله دے ۔ (معارف ...) حافظ ابن کثیر رحمه الله په ... کښې د عبد الله بن مبارک رحمه الله د جهاد په باره کښې لیکلے شوے قصیده د فضیل بن عیاض رحمه الله ته رانقل کړیده ، احقر په الهام الرحمن ... کښې هم لیکلے ده ۔ هلته ئے وګورئ ۔

امتیازات د سورت د ختمیدو نه پس دا واضحه شوه چه ډیر امتیازات ئے دی ، بعض دا دی : (۱) جوابونه د هغه شبهې چه د الله په باره د عیسیٰ کښې (۲) کمزوري د یهودو (۳) پنځه قوانین د جوړولو د جماعت (۴) واقعه بدر او د احد (۵) غوره والے د دے امت ... (۶) مباهله د نصاراو ... (۷) شان د صحابه ... (۸) د اولوا الالباب

په حیث د قرآن ، مدنی سورتونو کښې ډیره په ترتیب کښې او په نزول کښې ۹۲ . پس ډ مقتضی خوشې ۴

صفات ډ ... نه ۔ **تسمیه** ، لفظ د نساء پکښې تقریباً شل ځایه راغلی دے نو ځکه ورته سورة نساء وائی او وارثې ډ ښځو حقوق او احکام پکښې ذکر دی . **دعوٰی** ، ارشاد ډ امورو مصلحو دے چه اعلام کوی ډ جهاد او تائید ډ توحید کوی . **ربط ورته**

(۱) مخکښې مقاصد ذکر شو نو دلته امور منتظمه ذکر کوی (۲) مخکښې اصلاح ډ عقیدے دلا نو اوس اصلاح ډ معاشرے ذکر کوی . (۳) سورة بقره کښې زیات خطاب یهودو سره وو او په آل عمران کښې نصارا ؤ سره وو . نو دلته زیات خطاب ډ مؤمنانو سره دے او دا هغه ورسے ولے دی چه فاتحه کښې بیان شوی دی . (۴) آل عمران په تقوی ختم شو او دا سورت په تقوی شروع شو . (۵) بقره کښې ډ مجاهد صفات ، ډ کور جوړښت او ډ ملک ډ امن قواعد ذکر شو او آل عمران کښې ډ جماعت ډ جوړولو اصول نو دلته ډ ... او رعیت احکام ذکر کوی . **اجمالی خلاصه** دا سورت د رے حصے دے . اوله ترځه پورے او په دیکښې ډ رعیت ۱۶ احکام دی . دوهمه حصه تر ۱۳۳ پورے او په دیکښې شپږ احکام دی ډ راعی او رعیت په مابین کښې . او دریمه حصه تر اخره پورے دے او په دیکښې تخویفات ، زواجر او بشارات دی . وګوره شمط الدرر ... **تفصیلی خلاصه** ؛ اولنی حصه کښې ورسے پابونول تر ... پورے ، په دیکښې اول ترغیب ... بیا شپاړس احکام [illegible] ۔ مابین کښې درے تخویفات دی مؤمنانو لره ... ، ... ، ...

إِلَيْكُمْ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِمْ خَٰشِعِينَ لِلَّهِ لَا

تاسو ته او په هغوی نازل کړے شوی دی ، دوی نه ، عاجزی کوونکی دی الله تعالیٰ ته ، نه

يَشْتَرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ۗ أُو۟لَٰٓئِكَ

اخلی ، په ایتونو د الله تعالیٰ ، عوض لږ (دنیا) ، دغه کسان ،

لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ

دوی لره اجر ددوی دے په نزد د رب ددوی ، یقیناً ، الله تعالیٰ ، جلتی

ٱلْحِسَابِ ۝١٩٩ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱصْبِرُوا۟

حساب کوونکے دے . اے ایمان والو ! صبر کوئی ،

وَصَابِرُوا۟ وَرَابِطُوا۟ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ

او زیات د صبر کوئی ، او تیاری کوئی د جهاد ، او ویریږئ د الله تعالیٰ نه ، دپاره د دے چه تاسو

رکوع ۲۰ / ۱۱

تُفْلِحُونَ ۝٢٠٠

کامیاب شئی .

سُورَةُ ٱلنِّسَآءِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَسِتٌّ وَسَبْعُونَ ءَايَةً وَأَرْبَعٌ وَعِشْرُونَ رُكُوعًا

سورة نساء مدنی دے او دا ۱۷۶ ایتونه او ۲۴ رکوعګانے دے .

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝

په نوم د الله تعالیٰ ، چه بخښونکی ، مهربان دے (شروع کوم)

رکوع ۱ / ۵

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم

اے خلقو ! ویریږئ د رب خپل هغه ذات نه چه پیدا کړی یئ تاسو

مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا

د نفس یو نه ، او پیدا کړے ئے د جنس د هغه نه جوړه د هغه ،

وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَآءً ۚ وَٱتَّقُوا۟

او خوارۀ کړی ئے د دواړو نه ، سړی ډیر ، او ښځے (ډیرے) ، او ویریږئ

ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلْأَرْحَامَ ۚ

د الله هغه ذات نه چه د یو بل نه سوال کوئ د هغه په نوم ، او ویریږئ د پریکولو د خپلولئ نه ،

منزل ۱

دی مؤمنانو لره ... ، ... ، ... . **يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ** : په اول ایت کښې لفظ د تقوی دوه ځله ذکر کړے دے اود نفس واحدۃ نه مراد آدم علیه السلام دے . **وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا** : معنی ئے دا ده او پیدا کړی د جنس د هغه نه جوړه د هغه چه حواء رضی الله عنها ده . وګوره کبیر ... او زوج ... تائید ئے په ...

لوی په اوحکمه تحمل کښ دے . او کوم حدیث کښ چه راغلی چه ښځه د پښتۍ نه پیدا شوې ده نو هغه کښ
ذکر د آدم او حوا علیهما السلام نشته بلکه محض د ښځې د پیدائش د کږوالي بیان دے (ماجدی ﷫، بخاری ﷫)

إِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا ﴿١﴾ وَآتُوا الْيَتَامَىٰ

بیشکه الله دے په تاسو باندې نګران . او ورکړئ یتیمانو ته

أَمْوَالَهُمْ وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيثَ بِالطَّيِّبِ

مالونه د هغوی او مه بدلوئ پلیت (حرام) په پاک (حلال) باندې،

وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَهُمْ إِلَىٰ أَمْوَالِكُمْ إِنَّهُ كَانَ

او مه خورئ مالونه د هغوی سره د مالونو خپلو نه، بیشکه دا دے

حُوبًا كَبِيرًا ﴿٢﴾ وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي

ګناه لویه . او که چرې ویریږئ چه انصاف به ونکړئ په

الْيَتَامَىٰ فَانكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاءِ

یتیمانو کښې نو نکاح وکړئ هغو سره چه حلالې وي تاسو ته د ښځو نه،

مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا

دوه دوه او درې درې او څلور څلور، پس که چرې ویریږئ چه انصاف به ونکړئ نو

فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ

پس یوه ښځه کوئ او یا هغه چه مالک دے دې ښي لاسو ستاسو، دا ډیره نژدې ده دې ته

أَلَّا تَعُولُوا ﴿٣﴾ وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً

چه ظلم به ونکړئ . او ورکړئ ښځو ته مهرونه د دوی په خوشحالۍ سره،

فَإِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَيْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ

پس که وبخښي دوی تاسو ته څه نه د مهر نه په خوشحالۍ د زړه سره نو پس خورئ هغه

هَنِيئًا مَّرِيئًا ﴿٤﴾ وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمُ

په مبارک هضم کیدلو . او مه ورکوئ بې وقوفو ته مالونه د هغوی چه تاسې

الَّتِي جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ قِيَامًا وَارْزُقُوهُمْ

دي هغه چه ګرځولي دي الله تعالی تاسې ته د ژوند ذمه داري، او رزق ورکړئ دوی ته

فِيهَا وَاكْسُوهُمْ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴿٥﴾

په دغه کښې او جامې ورله ورکوئ او وایئ دوی ته خبره ښه .

کښ راغلي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي ښځه پیدا ده د پښتۍ نه او که ته ښځه کوښه نو ماته به شي
او که نفع ترې اخلې نو نفع به ترې اخلې او په دغه کږوالي وي . نو دلته یې عامه ښځه ذکر
کړې ده . وَالْأَرْحَامَ : معنی یې دا ده چه ویریږئ د قطع کولو د خپلوانۍ نه . (مدارک ﷫) په
دې کښې اول حکم د یتیمانو سره د انصاف او په دې کښې دویم حکم د یتیمانو جینکو سره انصاف دے .
فَوَاحِدَةً : پس یوه ښځه کړئ .
أَلَّا تَعُولُوا : دا ډیره نژدې ده چه ظلم به ونکړئ . (ابن کثیر ﷫)
صَدُقَاتِهِنَّ : مهرونه د هغوی . مهر ته یې صدقه او صداق ځکه ویلي دي چه په دے ظاهرېږي
صداقت د میلان د سړي ښځې ته (معارف ﷫) نِحْلَةً : په خوشحالۍ سره . غریب القرآن ﷫
کښ دي : أَيْ عَنْ طِيبِ نَفْسٍ . په دے آیت کښ دریم حکم (اعطاء المهور) ورکول د مهرونو دي
ښځو ته . په دے آیت کښ څلورم حکم دے چه سفیهانو ته مال مه ورکوئ او هغه دوی ته ورکړئ .
وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا : (۱) د صفحه ۱۲۳ سره متعلق دے ، شیخ القرآن ﷫ به فرمائیل چه څوک غني وي د
تصرف او د کسب نه په مال یتیم کښ . وَمَنْ كَانَ فَقِيرًا : او څوک چه محتاج وي په کسب کښ مال
د یتیم نه . په دے کښ پنځم حکم

دے چه میراث د نابالغو او زنانو دواړو د پاره دے ، د جاهلیت ظلم یې منع کړه . وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ :
دا آیت کریمه د مشکلو د آیتونو د قرآن پاک دے . څو توجیه کوے یې کښ دي : (۱) دا حکم او لنډي او بیا

پہ ایت دَ میراث باندې منسوخ شو. وګوره روح المعاني ۲۱۵/۴ ، قرطبي ۴۸/۵ . (۲) دا حکم استحبابي دے او مراد دَ اُولُوا القُرْبٰی نه غیر ورثه دي او دَ یتیمانو او مسکینانو نه جنبیان دي. وګوره مدارك ۲۱۳/۱ ، الفوز الکبیر ۶۵ : لاکن په دے توجیه باندې دا اعتراض راځي چه

وَابْتَلُوا الْيَتٰمٰى حَتّٰى إِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ فَإِنْ اٰنَسْتُمْ
او امتحان کوئ دَ یتیمانو تر دے چه کله ورسي نکاح ته، پس که معلوم موکړه دَ
مِّنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوْٓا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ وَلَا تَأْكُلُوْهَآ
دوی نه هوښیاري پس ورکړئ دوی ته مالونه دَ دوی، او مه خورئ مالونه دَ دوی
إِسْرَافًا وَّبِدَارًا أَنْ يَّكْبَرُوْا وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا
په زیاتي او په جلدۍ دَ دے نه چه لوئے به شي، او هغه څوک چه وي مالدار بے حاجته دَ
فَلْيَسْتَعْفِفْ وَمَنْ كَانَ فَقِيْرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوْفِ
کسب نه پس ځان دې وساتي، او هغه څوک چه وي محتاج پس خوراك دې وکړي (دَ هغه نه) په ښه طریقه
فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ فَأَشْهِدُوْا عَلَيْهِمْ
پس کله چه ورکوئ دوی ته مالونه دَ دوی پس ګواهان ونیسئ په دوی باندې،
وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا ۶ لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ مِّمَّا
او کافي دے الله حساب کونکے. دَ پاره دَ سړو برخه ده، دَ هغه مال نه
تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْأَقْرَبُوْنَ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيْبٌ مِّمَّا
چه پریخي مور او پلار، او خپلوانو، او دَ ښځو دَ پاره برخه ده، دَ هغه
تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْأَقْرَبُوْنَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ
چه پریخي مور او پلار، او خپلوانو دَ دوی، دَ هغه مال نه چه کم دی دَ هغه نه یا
كَثُرَ نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا ۷ وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ
زیات وي، برخه مقرر کړے شوے. او کله چه حاضر شي دَ تقسیم کولو دَ پاره
أُولُوا الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنُ فَارْزُقُوْهُمْ
خاوندان دَ خپلولۍ او یتیمانان، او مسکینانان، پس خرچه ورکړئ دوی ته
مِّنْهُ وَقُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۸ وَلْيَخْشَ
دَ هغه نه، او وایئ دوی ته، وینا ښه کړے شوے. او دې ویریږي،
الَّذِيْنَ لَوْ تَرَكُوْا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعٰفًا
هغه کسان که پریږدي، دَ روستو خپلو نه، اولاد، کمزوره،

پردوستو ایتونو کښې وعید دَ راځي او په ترك دَ مستحب باندې وعید نه راځي نو دریمه توجیه دے ایت کښې دا ده چه دَ اولی القربٰی نه مراد خپلوان میراث خوارهٔ دي او الْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنُ ورله عطف تفسیري دے او دا وَدے دَپاره چه حقوق ئے ضائع نشي او په دے توجیه سره ایت منسوخ نشو: او راروان زجرونه پرے قرینه ده. وګوره جواهر ۲۱۲/۲ : شیخ القرآن رحمه الله هم فرمائیل چه منسوخ نه دے او حکم مېراثونو دَ ورثو ته دے، چه یتیمانانو او مسکینانو وَرثوته خرچه ورکړی او ښهٔ وینا ورته وکړی چه تقسیم به په قرار وکړو. وَلْيَخْشَ : دا تاکید دے دَ مخکښې دَ پاره : مطلب دا چه په خپلو وړو

هر څوك رحم کوي نو دَ غیرے په بچو ضعیفانو هم رحم وکړي ❖ ❖ ❖

اِنَّ الَّذِیْنَ ... جنت وهیں دے. د مشکوٰۃ شریف ... کښې حدیث دے چه نبی ﷺ فرمائی چه د اوو
هلاک کوونکو گناهونو نه ځان وساتئ. نو صحابه کرامو عرض وکړو چه اے د الله رسوله! هغه کوم دی دغه؟ . هغوی

خَافُوْا عَلَیْهِمْ ۪ فَلْیَتَّقُوا اللّٰهَ وَلْیَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِیْدًا ۝۹

ویره کوی په هغوی باندې پس اوویریږی د الله نه، او دې اووائی، وینا نیغه (حقه).

اِنَّ الَّذِیْنَ یَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْیَتٰمٰی ظُلْمًا اِنَّمَا

یقیناً، هغه کسان چه خوری، مالونه د یتیمانو په ظلم سره، یقیناً

یَاْكُلُوْنَ فِیْ بُطُوْنِهِمْ نَارًا ؕ وَسَیَصْلَوْنَ سَعِیْرًا ۝۱۰

خوری په خیټو د خپلو کښې، اور او زر دے چه داخل به شی سوزونکی اور ته.

یُوْصِیْكُمُ اللّٰهُ فِیْۤ اَوْلَادِكُمْ ۗ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ

وصیت حکم کوی تاسو ته الله په باره د میراث د اولاد ستاسو کښې د نارینه لره مثل د برخې د

الْاُنْثَیَیْنِ ۚ فَاِنْ كُنَّ نِسَآءً فَوْقَ اثْنَتَیْنِ فَلَهُنَّ

دوو زنانو دی، او که وی زنانه دوه او یا زیات د دوو نه پس دوی لره

ثُلُثَا مَا تَرَكَ ۚ وَاِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ ؕ

دوه حصې د هغه مال چه پریښے یې مړی، او که وی یوه، پس دغې لره نیم مال دے،

وَلِاَبَوَیْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ

او د مور او پلار د مړی د هر یو دوارو لره شپږمه حصه ده د هغه نه چه دے پرې ایښے،

اِنْ كَانَ لَهٗ وَلَدٌ ۚ فَاِنْ لَّمْ یَكُنْ لَّهٗ وَلَدٌ وَّوَرِثَهٗۤ

که چرته وی د دۀ لره اولاد، پس که نه وی د دۀ لره هیڅ اولاد او میراث ئې شو وړی

اَبَوٰهُ فَلِاُمِّهِ الثُّلُثُ ۚ فَاِنْ كَانَ لَهٗۤ اِخْوَةٌ

مور او پلار د دۀ، پس د مور د دۀ لره دریمه حصه ده، پس که وی د دۀ لره وروڼه،

فَلِاُمِّهِ السُّدُسُ مِنْۢ بَعْدِ وَصِیَّةٍ یُّوْصِیْ بِهَاۤ

پس د مور د دۀ لره شپږمه حصه ده، پس د وصیت نه، چه وصیت وکړی دۀ په دغه،

اَوْ دَیْنٍ ؕ اٰبَآؤُكُمْ وَاَبْنَآؤُكُمْ ۚ لَا تَدْرُوْنَ اَیُّهُمْ اَقْرَبُ لَكُمْ

او پس د اداء کولو د قرض نه، پلاران ستاسو او زامن ستاسو، نه پوهیږئ چه کوم یو د دوی نه زیات نژدې دے

نَفْعًا ؕ فَرِیْضَةً مِّنَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِیْمًا حَكِیْمًا ۝۱۱

په نفع کښې، حصې مقرر کړے شوې دی د طرف د الله نه، یقیناً الله دے پوهه، حکمت والا.

منزل ۱

وفرمایل (۱) شریک کول د الله سره (۲) او جادو کول (۳) او وژل د نفس هغه چه حرام کړے الله تعالیٰ مګر په حقه سره (۴) او خوړل د سود، (۵) او خوړل د مال د یتیم (۶) او په شا راګرځیدل په ورځ د جنګ د کفارو (۷) او تهمت لګول په پاک لمنو مؤمنانو نا خبرو باندې (متفق علیه). **واقعه:** جناب مفتی صاحب رحمه الله په معارف ج ۲ کښې لیکی: والد صاحب د یو بزرګ واقعه نقل کوی چه د هغه مسئله نور زیاته واضحه کیږی. یو بزرګ د یو مسلمان د عیادت د پاره تشریف یوړو. لیکن هغه د مرض خراته ناست وو چه د هغه روح پرواز وکړو. په دغه موقعه چه کوم څیز وو هغه بلید اوښو فوراً هغه سره کړه او د ځان طرف نه پیسې ورکړے او تیل ئې راوغوښتل او رڼا ئې وکړه. په رساله قشیریه ص د عبدالکریم قشیری رحمه الله کښې دی چه دے فرمایل چه دے وخت پورے تیل د هغه دو او اوس د وارثو شو. احقر په الهام الرحمن ج ۳ او روح المعانی کښې هم دا واقعه ذکر کړے ده. **یُوْصِیْكُمُ اللّٰهُ:** شپږم حکم. مال په بچو باندې شرعی ډول تقسیم کړی. حافظ ابن کثیر رحمه الله په ج ۲ کښې لیکی چه اهل جاهلیت به تول میراث سړو له ورکولو او ښځو ته به ئې نه ورکولو نو الله تعالیٰ امر وکړو په برابرۍ سره په مابین د دوی کښې په اصل میراث کښې. په دے آیت کریمه کښې ښځو، سړو ته د میراث دی او په ... کښې هم شپږ ... نو ټول دوولس صورتونه شو. **فوائد:** معنیٰ ئې داده چه دوه یا زیاتے. د دوو نه ځکه چه میراث کښې د دوو حکم د ډیرو دے. وګورئ روح المعانی ج ۴ ص ۲۳۰ . **ثُلُثَا:** د دوه حصے د دریو نه مطلب دا چه مال به درے حصے شی نو دوه به ترینه دوی ته ورکړے شی، یوه به د نورو وارثو شی.

مِنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ : د دې وصيت مخكښې شوې دے په قرض باندې حالانكه اجماع د علماؤ ده په دې باندې چه قرض مخكښې دے په وصيت پوره كولو باندې. (كوري ابن كثير ص ١٩٢) او فتح الباري كښې د ترمذي په حواله د علي رضي الله عنه نه نقل دے چه تاسو دا آيت لولئ او رسول الله صلی الله علیه وسلم فيصله كړے په قرض ادا كولو مخكښې د وصيت پوره كولو نه. علامه ابن الجزي رحمه الله په تسهيل ص ١٣٣ كښې د دې وجه بيان فرمائي چه وصيت ئے مخكښې كړو په قرض باندې او قرض مقدم دے په وصيت باندې په شريعت كښې د پاره د اهتمام په پوره كولو د دې او د تاكيد د پاره د وجے د امر نه په دې او چه سخت وي په وصيانو او قرض ئے روستو كړو ځكه چه قرض اروے غواړي نو حاجت پكښې تاكيد ته نشته په امر كښې. كَلٰلَةً : د ابوبكر او عمر او ابن عباس او نورو صحابو رضي الله عنهم نه نقل دي چه كلاله هغه چا ته ويلے شي چه نه اولاد پريږدي او نه پلار. (تفسير ابن جرير ص ٤٤ ابن كثير، فتح القدير او روح المعاني). وَلَهٗٓ اَخٌ اَوْ اُخْتٌ : د ورور او د خور نه مراد ولنه اخيافي دي چه د مور نه وي او د پلار نه نه وي ځكه چه اعياني او علاتي ورونو خويندو حكم د دے سورت په آخر كښې دے. فائده : په اول آيت كښې د ذوي الفروض نسبي - او په دې آيت كښې سببي، او د ذوي الارحام ذكر شوي دي. او دا تيرحكم د احكامو د ترتيب نه دے چه مال په قانون شرعي تقسيم كړئ. غَيْرَ مُضَآرٍّ : شيخ القرآن رحمه الله فرمايل چه معنىٰ ئے داده : شي نه ضرر رسونكي. كوګنا غير مضار

وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّهُنَّ
او تاسو لره نيمائي حصه ده د هغه چه پريښے ئے وي ښځو ستاسو كه نه وي د دوئ د پاره
وَلَدٌ فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ
هيڅ اولاد، پس كه وي دوئ لره اولاد، پس تاسو لره څلورمه حصه ده د هغه چه پريښے وي دوئ
مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ وَلَهُنَّ
پس د وصيت پوره كولو نه چه وصيت كړے وي په هغه او پس د ادا كولو د قرض نه او دوئ لره
الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّكُمْ وَلَدٌ فَإِن كَانَ
څلورمه حصه ده د هغه چه پريښي وي تاسو كه نه وي تاسو لره، او لاد، پس كه وي
لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُم مِّن بَعْدِ وَصِيَّةٍ
تاسو لره اولاد، پس دوئ لره اتمه حصه ده د هغه مال نه چه تاسو پريښے وي، پس د پوره كولو د وصيت نه
تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ وَإِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَالَةً
چه وصيت سړے كړے وي په هغه او پس د ادا كولو د قرض نه، او كه وي سړے چه ميراث ئے وړے شي كلاله
أَوِ امْرَأَةٌ وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا
او يا ښځه ميراث، او د هغه لره ورور يا خور اخيافي وي، پس د هر يو د دوئ د پاره
السُّدُسُ فَإِن كَانُوا أَكْثَرَ مِن ذَٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَاءُ
شپږمه حصه ده، پس كه وي دوئ زيات د دے نه، پس دوئ شريكان دي
فِي الثُّلُثِ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَىٰ بِهَا أَوْ دَيْنٍ
په دريمه حصه كښې پس د پوره كولو د وصيت نه چه وصيت وشي په هغه، او د ادا كولو د قرض نه
غَيْرَ مُضَارٍّ وَصِيَّةً مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ ⑫
شي نه ضرر رسونكي. حكم كړے شوے د الله د طرف نه او الله تعالیٰ پوهه او صابر دے.
تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ
دغه پولے د الله دي، او چا چه تابعداري وكړه د الله او د رسول د هغه
يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ
داخل به ئے كړي باغونو ته چه بهيږي به لاندے د هغو نه ويالے

په آيت ۱۲ كښې بشارت دے منونكو د ميراث لره - او په ۱۴ كښې سخت تخويف دے د نه منونكو د پاره. تِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ : احكام الهيه ته پولے ځكه وائي چه په هغے كښې زياتے كمے كول منعه دي.

وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ : دَ پنج پیری شیخ رحمه الله په جواهر ص۲۱۵ کښې فرمائی چه دَ عصیان نه مراد دَ ملته کامله درجه دګه.
یعنی چه څوک په وے احکامو ایمان نه راوړی نو سزا ئے داده چه همیشه به په جهنم کښې اوسیږی. تائید

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۳﴾ وَمَنْ
همیشه به وسیږی په هغو کښې او دغه کامیابی لویه ده. او چا چه

يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ يُدْخِلْهُ
نافرمانی وکړه دَ الله او دَ رسول دَ هغه او تجاوز ئے وکړو دَ پولو دَ هغه نو داخل به ئے کړی

نَارًا خَالِدًا فِيْهَا ۠ وَلَهٗ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۱۴﴾ وَالّٰتِيْ
اور ته همیشه به وی په هغه کښې او دَ هغه لپاره عذاب خوار کوونکے دے. او هغه زنانه

يَأْتِيْنَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِّسَآئِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوْا
چه راځی بے حیائی ته، دَ ښځو ستاسو نه، پس ګواهان ونیسئ

عَلَيْهِنَّ اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ ۚ فَاِنْ شَهِدُوْا فَاَمْسِكُوْهُنَّ
په هغوی باندے څلور دَ سړو ستاسو نه، پس که ګواهی وکړی دوی پس حصارے کړئ دوی

فِي الْبُيُوْتِ حَتّٰى يَتَوَفّٰهُنَّ الْمَوْتُ اَوْ يَجْعَلَ
په کورونو کښې، تر دے چه مرګ ئے کړی دوی لره، مرګ یا مقرر کړی

اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيْلًا ﴿۱۵﴾ وَالَّذٰنِ يَاْتِيٰنِهَا مِنْكُمْ
الله تعالیٰ دوی لره څه لاره. او هغه دوه کسان چه راشی بے حیائی ته ستاسو نه،

فَاٰذُوْهُمَا ۚ فَاِنْ تَابَا وَاَصْلَحَا فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمَا ؕ
پس زورنه ورکړئ دوی لره، پس که توبه ئے وکړه او اصلاح دَ عمل ئے وکړو پس مخ وا ړوئ دَ دوی نه

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ﴿۱۶﴾ اِنَّمَا التَّوْبَةُ
یقیناً الله تعالیٰ دے توبه قبلوونکے رحم کوونکے. یقیناً قبلول دَ توبے

عَلَى اللّٰهِ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السُّوْٓءَ بِجَهَالَةٍ
په الله تعالیٰ دَ هغه کسانو لپاره دی چه عمل کوی بد، په ناپوهئ سره

ثُمَّ يَتُوْبُوْنَ مِنْ قَرِيْبٍ فَاُولٰٓئِكَ يَتُوْبُ
بیا توبه اوباسی ـــ دَ نزدے نه، پس دغه کسان، مهربانی کوی

اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۱۷﴾
الله تعالیٰ په دوی باندے، او دے الله تعالیٰ پوهه، حکمت والا.

منزل ۱

ربع ۱۳

مائده ص۳۴۳ کښې دے هغه وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ په معنیٰ دَ لَمْ يَعْتَقِدْ دے چه عقیده ئے نه ساتی.
وَالّٰتِيْ يَأْتِيْنَ الخ : په دے آیت کریمه کښې او وړمبے حکم جلس المتهمين دے چه په جا
ئمت اولګی نو قید ئے کړی. دَ پنج پیری شیخ رحمه الله فرمائی په ربط کښې چه څوک وو مرور په میراث
کښې حصے ورکړی لیکن که دوی نه زنا ښکاره شوه نو شرعی حکم به ئے نافذ کړی (جواهر ص۲۱۳)
اَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيْلًا : هغه مقرره لار دَ دوی دَ پاره رجم دے چه محصنه وی، او څلویښت دُرے
دی که غیر محصنه وی. بخاری شریف ص۶۵ کښې دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه راغلی یعنی رجم دَ
ثیبو دَ پاره او دُرے دی دَ پیغلو ښځو دَ پاره. سورت نور ص... هم ذکر دی. وَالَّذٰنِ :
دا دَ ما قبل سره متعلق دے او مراد ترینه دوه نارینه دی چه بد فعل وکړی. فَاٰذُوْهُمَا : پس
زورنه ورکړئ دوی لره، دَ قاضی صاحب اختیار دے چه څنګه سزا ورله ورکوی. علامه نسفی
رحمه الله فرمائی په مدارک کښې او دلیل ظاهر دے دَ ابو حنیفه رحمه الله دَ پاره چه تعزیر به ورکولے
شی په لواطت کښې او حد به نشی ورکیدے. په مشکوٰة ص۳۱۳ کښې دَ ترمذی شریف حدیث
دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه څوک دَ اشخاص چه غالب او لوئے دے
ضعف سړی ته چه راځی سړی یا ښځے ته په روستو لارے کښې ـــ اِنَّمَا التَّوْبَةُ : ترغیب دے توبے
ته. ابوبکر رازی رحمه الله په مسائل ص۳۴ کښې لیکی: ای قبول التوبة: چه قبولول دَ توبے دَ هغه چا
دَ پاره دے چه بد عملونه کوی. بِجَهَالَةٍ : په ناپوهئ سره. دَ مجاهد رحمه الله نه مدارک په ص۲۱۵ کښې

نقل کوی چه څوک چه نافرمانی د الله تعالیٰ کوی هغه جاهل دے ترڅو چه منع نه وی د خپل جهالت نه. مِنْ قَرِيبٍ:
د غرغرے او مرګ نه مخکښ (قرطبی ۹۲)، و هغه کلبی ( ). تائید کښ د یونس ۹۰ مومن ۸۴ کوری.

وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ حَتَّىٰ
او نشته قبولول د توبے د هغه کسانو دپاره چه عملونه کوی د بدو ترڅو چه
إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ إِنِّي تُبْتُ الْآنَ وَلَا
راشی یو ته دوی نه مرګ (وائی) یقیناً ما توبه اُوویستله اوس او نه د
الَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمْ كُفَّارٌ ۚ أُولَٰئِكَ أَعْتَدْنَا
هغه کسانو چه مړه کیږی، او دوی دوی کافران، دغه کسان تیار کړی مونږ
لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٨﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ
دوی لره عذاب دردناک. اے ایمان والو! حلال نه دی تاسو لره
أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا ۖ وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا
چه میراث کښ واخلئ ښځو لره په زور، او مه تنګوئ دوی لره چه واخلئ
بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ
بعضی هغه مهر چه ورکړے مو دوی ته مګر که راوړی دوی په بے حیائی
مُبَيِّنَةٍ ۚ وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۚ فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ
ښکاره، او ژوند تیر کړئ دوی سره په ښه طریقه، پس که بد ګڼئ دوی لره
فَعَسَىٰ أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا
پس نزدے ده چه بد ګڼئ تاسو څه شے او پیدا کړی الله تعالیٰ په هغه کښ خیر
كَثِيرًا ﴿١٩﴾ وَإِنْ أَرَدْتُمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَكَانَ
ډیر لره. او که اراده وکړئ تاسو د بدلولو د یوے ښځے په ځائے د بلے
زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا
ښځے، او ورکړے وی تاسو یوے د دوی ته ډیر مال، پس مه اخلئ
مِنْهُ شَيْئًا ۚ أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا ﴿٢٠﴾
د هغه نه څه شے، آیا اخلئ تاسو هغه په بهتان او ګناه ښکاره سره.
وَكَيْفَ تَأْخُذُونَهُ وَقَدْ أَفْضَىٰ بَعْضُكُمْ إِلَىٰ
او څنګه اخلئ دغه لره او حال دا چه رسیدلی کړی دی بعضو ستاسو

آیت ۱۲ کښ أَتَمَّ حُكْمٌ دے
په جواهر ص۲۱ کښ دی چه په
وراثت کښ مال ملاویږی
ښځے نه ملاویږی، هاں که
دوی په رضامندئ سره
د دوی سره نکاح کولے شی.
وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ: مه لے
منعه کوئ د نکاح نه. (جامع
البیان ص۲۵)، دا خطاب دے
خاوندانو ته چه ستاسو
دا خپلے ښځے چه خدمت کوی
نو هسے ولے تنګوئ د مهر
د واپسئ دپاره. (افضل تراجم ص۱۰)
قِنْطَارًا: ډیر مال (بیضاوی ۲۷۱)،
تائید آل عمران ۱۴. فی تدبر،
په دے آیت کښ دلالت دے
په جائز والی د مهر مقرر کولو
په ډیر مال سره او عمر بن
الخطاب رضی الله عنه منعه کوله
د ډیر والی د مهر مقررولو نه
بلکے رجوع وکړه د دے نه.
(ابن کثیر ۲۶۶)، عمر رضی الله عنه یو
ځل خطبه او تقریر کښ
د ډیروالی د مهر نه منعه
کوله پس یوے ښځے ووئیل
چه الله تعالیٰ لے راکوی او ته
مونږ ترینه محرومه کوے او دا
آیت ئے ولوستلو. پس

عمر رضی الله عنه وفرمایل حق ته ورسیده یوه ښځه او خطا شو عمر۔ په یو روایت کښ راځی شرمنده کړو
عمر۔ او بیا ئے وفرمایل چه ټول خلق ښه پوهه دی د عمر نه. (قرطبی ص۹۹) .

وَلَا تَنْكِحُوْا : په دې کښې نهم حکم دے چه د پلار منکوحه سره نکاح مه کوئ. شيخ القرآن رحمه الله به فرمايل چه په دې کښې تعظيم د مشرانو دے. حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ : لسم حکم. په دے ايت کښې ۱۳ محرمات

بَعْضٍ وَّاَخَذْنَ مِنْكُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ﴿۲۱﴾ وَلَا

بعضو ته، او اخستے دے دوئ ستاسو نه، لوظ مضبوط ... او نکاح

تَنْكِحُوْا مَا نَكَحَ اٰبَآؤُكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا قَدْ

مکوئ د هغو سره چه نکاح ورسره کړې وي پلارانو ستاسو د ښځو نه، مګر هغه چه تېرے

سَلَفَ ؕ اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً وَّمَقْتًا ؕ وَسَآءَ

شوې دي، يقيناً دا ده بے حيائي، او سبب د غصے، او بد دے

سَبِيْلًا ﴿۲۲﴾ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ اُمَّهٰتُكُمْ وَبَنٰتُكُمْ وَ

لار دا، حرامے شوې په تاسو (نکاح) د ميندو ستاسو، او لونړو ستاسو، او

اَخَوٰتُكُمْ وَعَمّٰتُكُمْ وَخٰلٰتُكُمْ وَبَنٰتُ الْاَخِ

خويندو ستاسو، او د ترورګانو ستاسو، او د موريانو ستاسو، او د لونړو د ورور،

وَبَنٰتُ الْاُخْتِ وَاُمَّهٰتُكُمُ الّٰتِيْۤ اَرْضَعْنَكُمْ

او د لونړو د خور، او د ميندو ستاسو هغه چه ئے ورکړې دے تاسو له،

وَاَخَوٰتُكُمْ مِّنَ الرَّضَاعَةِ وَاُمَّهٰتُ نِسَآئِكُمْ

او خويندے ستاسو د ئي رودلو نه، او ميندے د ښځو ستاسو،

وَرَبَآئِبُكُمُ الّٰتِيْ فِيْ حُجُوْرِكُمْ مِّنْ نِّسَآئِكُمُ

او پرکټي ستاسو هغه چه پرورش ستاسو کښې وي، د ښځو ستاسو هغو

الّٰتِيْ دَخَلْتُمْ بِهِنَّ ؗ فَاِنْ لَّمْ تَكُوْنُوْا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ

نه چه صحبت کړے وي تاسو هغوي سره، پس که نه وي تاسو چه صحبت مو کړے د هغو سره

فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ ؗ وَحَلَآئِلُ اَبْنَآئِكُمُ الَّذِيْنَ

پس نشته څه ګناه په تاسو باندې، او ښځے د ځامنو ستاسو هغه چه پيدا دي

مِنْ اَصْلَابِكُمْ ۙ وَاَنْ تَجْمَعُوْا بَيْنَ الْاُخْتَيْنِ

د شا ګانو ستاسو نه، او دا چه جمع راولے کړئ په مابين د دوو خويندو کښې،

اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۲۳﴾

مګر هغه چه مخکښې تېر شوي، يقيناً الله تعالیٰ دے بخښونکے، مهربانه.

زنانو بيان دے. يو قسم په مخکښې ايت کښې او يو قسم په راروان ايت کښې دے نو ټول پنځلس شول او دا د وے سورت کښې امتياز نو نه يو امتياز دے.
بَنٰتُ الْاُخْتِ : په ورور او خور زوکښې اعيائي او علاتي او اخيافي ټول داخل دي.
اَرْضَعْنَكُمْ : د الله د رضاع حرمت صرف دوه صورتونه دي حديث د مسلم کښې راځي چه حرام ميږي د رضاع نه هغه چه حرام دي د نسب نه. (ابن بحر ۳ ...) ... مولوي نصرالله مرجان ... د شعر ليکلے دے او په دې کښې د رضاع مسئله صورتونو ته شمول دي شعر دا دے : —
از جانب شير ده همه خويش شوند
واز جانب شير خوار زوجان و فروع
معنى ئے دا ده چه د طرف د شودو ورکونکے نه د ښځے ټول خاندان د رودونکي د پاره خپلوان شو، او د طرف د شودو رودونکي نه صرف خاوند او بچي د دوي. مطلب دا ګه رودونکے هلک وي نو د دۀ ښځه د رضعي پلار اينګور شوه او که جينۍ وي نو د دے خاوند د رضعي مور د پاره زوم شو او د دوي بچي د رضعي مور او پلار د پاره نمسي شو.
فِيْ حُجُوْرِكُمْ : چه ستاسو پرورش کښې وي، دا قيد اتفاقي او عادي دے. غالبًا داده

منزل ۱

چه پرکټۍ د مور سره د پلندرګره وي نو دا حکم عام دے وګورۍ تفسير روح المعاني. مِنْ اَصْلَابِكُمْ : د ستاسو د شا نه، په دې کښې د متبنۍ د ښځے نه احتراز شوے هغه اينګور نه دے. وګورۍ احزاب ۳۷: هلته ئے د جاهليت د رسم ترديد کړے دے.

وَالْمُحْصَنٰتُ: او هغه ښځې چه په قلعه کښې بندې شوې وي. دَ ښځې دپاره قلعه خاوند دے يعني خاوندانو والا مطلب دا چه خاوندې زوندي وي نو نکاح ور سره حرامه ده. اِلَّا مَا مَلَكَتْ: مگر هغه چه مالکان شي نيولاسونه والمحصنٰت

وَّالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ

او حرامې شوې دي خاوندانو والا ښځې، مگر هغه چه مالکان شي ستاسو لاسونه ستاسو

كِتٰبَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ اَنْ

دا حکم فرض شوے دَ الله تعالیٰ ستاسو، او حلالې شوې تاسو ته هغه چه سوا دَ ذکر شوو ښځو دي، چه

تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ مُّحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ فَمَا

طلب کړئ په مالونو خپلو، چه نکاح به کوئ، نه به زنا کوونکي، پس هغه ګټه

اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ فَرِيْضَةً

چه نفع حاصله کړې په هغې ښځې سره، پس ورکړئ دوی ته مهرونه د دوی، مقرر کړے شوي

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا تَرٰضَيْتُمْ بِهٖ مِنْ بَعْدِ

او نشته گناه په تاسو په هغه کښې چه يو بل سره راضي شئ په هغه پسې دَ

الْفَرِيْضَةِ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۲۴﴾ وَ

مقرر شوي نه، يقيناً الله تعالیٰ دے پوهه حکمت والا. او

مَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا اَنْ يَّنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ

هغه څوک چه نلري ستاسو نه طاقت دَ نکاح کولو دَ ازادو ښځو

الْمُؤْمِنٰتِ فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِّنْ

ايماندارو، پس نکاح وکړي دَ هغو چه مالکان دي نيولاسو ستاسو، دَ وينځو

فَتَيٰتِكُمُ الْمُؤْمِنٰتِ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِكُمْ

ستاسو ايماندارو، او الله تعالیٰ ښه پوهه دے په ايمان ستاسو

بَعْضُكُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ فَانْكِحُوْهُنَّ بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ

بعض ستاسو دَ بعضو نه دي، پس نکاح وکړئ دوی سره په اذن دَ مالکانو دَ دوی،

وَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ مُحْصَنٰتٍ

او ورکړئ دوی ته مهر دَ دوی په ښه طريقه سره، پاک لمنې به وي،

غَيْرَ مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا مُتَّخِذٰتِ اَخْدَانٍ فَاِذَآ

نه به وي بدکاره ګناه کوونکې او نه به وي نيوونکې پټ يارانو لره، پس کله چه

ستاسې په مدارک ج۱۰ کښې وي چه په قيد کښې راولي او خاوند يې په دارالحرب کښې وي. اَنْ تَبْتَغُوْا: چه ورته التوئ په مالونو خپلو يعني مهر ورکړئ. فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ: هغه چه نفع ترې حاصله کړې مطلب دا چه نکاح ور سره وکړئ. فائده: دا دے نه مراد وختي نکاح متعه نه ده. هغه حرامه ده. دَ علي رضي الله عنه په نقل ترمذي شريف ۱/۱۳۳ کښې حديث راغلے چه نبي ﷺ منع کړې ده دَ نکاح متعې دَ نبيولو او دَ غوښو دَ کورنو خرو نه په زمانه دَ غزا دَ خيبر کښې. او شوکاني رحمه الله وائي چه دا احاديث په بخاري او مسلم او نورو کښې هم دي. دَ فتح القدير ۱/۴۴۹. مفتي محمد شفيع رحمه الله په معارف القرآن ۲/۳۶۷ کښې فرمائي چه دَ اجماع خبره ده چه کومه خلق دَ متعې دَ حلالوالي قائل ده سبق نه دے چه دوی دَ علي رضي الله عنه دَ محبت دعوی کوي په دې مسئله کښې هم دَ هغه نه خلاف دي. سَيَعْلَمُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اَيَّ مُنْقَلَبٍ يَّنْقَلِبُوْنَ. وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ: او هغه څوک چه طاقت نلري دَ نکاح دَ اصيلو مؤمنانو. دَ دې ايت نه ظاهره دا معلوميږي چه دَ اصيلې دَ نکاح طاقت نلري نو دَ وينځو سره دَ نکاح وکړي او هغه به هم مؤمنانې وي. حالانکه په وجود دَ طاقت دَ اصيلې کښې نکاح دَ وينځې دَ رو مسلمانې سره هم روا ده او دَ کتابيو وينځو سره هم. علامه نسفي رحمه الله په مدارک ۱/۲۱۳ کښې فرمائي چه دا قيد ونه دَ استحباب دپاره دي.

وکوري ط۲۰ اسراء ۳۲، آل عمران ۱۳۵، مؤمنون ۵. (بعض ايات) مُحْصَنٰتٍ: شيخ القرآن رحمه الله په حاصل معنی دا سے کوله چه پاک لمنې وي او نه وي اوبه تويونکې او نه وي يارانو شنونکې. فائده: په دې ځای کښې دَ مُحْصَنٰت لفظ څلور ځله راغلے دے. اول په معنی دَ خاوندانو والو، دويم او څلورم په معنی دَ اصيلو، دريم په معنی دَ پاک لمنو.

ٱلْعَنَتَ: عنت په اصل کښې ماتوالے د هډوکي دے پس د بیخي لګولو نه ، او بیا مستعار شوے دے د هر کشت
او ضرر د پاره او لوئي ضرورت د غور زید لونه په کمپاو کښې او د ابن عباس رضي الله عنهما نقل دي چه دا زنا ده خکه
واسبب د هلاکت دے (امر کثیر)

أُحْصِنَّ فَإِنْ أَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ

نکاح کړي شي نو بیا که راشي دوي په بے حیائي ، پس په دوي ، نيمائي د هغه

مَا عَلَى الْمُحْصَنٰتِ مِنَ الْعَذَابِ ذٰلِكَ لِمَنْ

چه واجب دي په آزادو ښځو ، د عذاب نه ، دا نکاح د وینځو د هغه چا دپاره

خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ وَأَنْ تَصْبِرُوا خَيْرٌ لَكُمْ وَاللّٰهُ

چه ویریږي د هلاکت نه ستاسو نه ، او که صبر ووکړئ ، غوره دے ستاسو د پاره ، او الله

غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿۲۵﴾ يُرِيدُ اللّٰهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ

بخښونکے مهربان دے ۔ اراده لري الله چه بیان کړي تاسو ته احکام او ښکاره کړي تاسو ته

سُنَنَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَيَتُوبَ عَلَيْكُمْ وَاللّٰهُ

طریقے د هغو کسانو چه مخکښې ستاسو نه وو ، او مهرباني وکړي په تاسو ، او الله

عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿۲۶﴾ وَاللّٰهُ يُرِيدُ أَنْ يَتُوبَ عَلَيْكُمْ وَ

پوهه حکمت والا دے ، او الله اراده لري چه مهرباني وکړي په تاسو باندي ، او

يُرِيدُ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الشَّهَوٰتِ أَنْ تَمِيلُوا مَيْلًا

اراده لري هغه کسان چه تابع کیږي د خواهشاتو پسے چه کاږه شئ تاسو کوږوالے

عَظِيمًا ﴿۲۷﴾ يُرِيدُ اللّٰهُ أَنْ يُخَفِّفَ عَنْكُمْ وَخُلِقَ

لوئے سره ، اراده لري الله تعالیٰ چه اساني راولي ستاسو نه ، او پیدا کړے شوے دے

الْإِنْسَانُ ضَعِيفًا ﴿۲۸﴾ يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا لَا

انسان ، کمزورے ۔۔ اے ایمان والو ! مه

تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ

خورئ ، مالونه د یو بل په منځ کښې په باطله طریقه سره ، مګر که وي دا معامله

تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ

تجارت ، د رضا ، ستاسو نه ، او مه وژنئ ، ځانونه خپل ،

إِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴿۲۹﴾ وَمَنْ يَفْعَلْ

یقیناً الله تعالیٰ دے په تاسو مهربانه ۔ او څوک چه وکړي دا کار (نافرماني) د کمزورو

يُرِيدُ اللّٰهُ: په دے دریو آیاتو کښې ترغیبات دي ۔ يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ: دا اتم حکم دے چه مال په باطله طریقه مه خورئ ۔ قاضي ابو السعود رحمه الله په تفسیر کښې دا ربط ذکر کړے چه دا شروع ده په بعض حرماتو مالیه کښې پس د حرماتو متعلقو په عورتونو د ذکر نه پورے ۔

بِالْبَاطِلِ: بقره ۱۸۸ هم ذکر دي ۔ جناب مفتي صاحب فرمائي چه څنګه په باطله طریقه د بل چا مال خوړل ناجائز دي هم دغسے خپل مال هم په باطله طریقه سره خرڅ کول جائز نه دي (معارف ۳/۴۰۰) حافظ ابن کثیر رحمه الله په تفسیر کښې لیکي د باطل په مصداق کښې بعض قسمونه چه غیر شرعي وي ۔ لکه د سود قسمونه ، اجواري او هغه چه د دې په ګمان چلیږي د باقي قسمونو د حیلو نه ۔ عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ: د ابو سعید خدري رضي الله عنه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي چه تاجر رښتونے امانتدار به د نبیانو او صدیقانو او شهیدانو سره وي (مشکوٰة ۲۴۳ ، ترمذي ۱/۱۴۵)

وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ: مدارك ۱/۲۲۰ کښې څلور معنے کړي دي ۔ فرمائي چه (۱) مه وژنئ هغه څوک چه د جنس ستاسو نه وي د مؤمنانو نه ځکه چه مؤمنان ټول یو نفس دي (۲) او یا چه وژني سرهٔ ځان خپل ، د فعل بعض جاهلان کوي (۳) او یا معنی د قتل خوړل د مالونو دي په باطله طریقه سره ۔ پس ظلم کوونکے په بل باندے پښتان د هلاکو لو د ځان دے (۴) یا تابعداري مکوئ د خواهشاتو پس قتل به کړئ ځانونه (۵) او یا مکوئ داسے کار چه واجبوي قتل لره ۔ په ۲۵ کښې تخویف دے او په ۲۶ کښې بشارت دے ۔

كبائر: غټ ګناهونه. مراد ترینه هغه ګناهونه دي چه کوم مخکښې دې سورت کښې ذکر شو. وَلَا تَتَمَنَّوْا: دې
ایت کښې د ژوندانه حکم دے. په دیکښې نهي د عدوان نه ده. وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا: په دې ایت کښې د یاړانې حکم

ذٰلِكَ عُدْوَانًا وَّظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَارًا ۚ

د ظلم، په زیاتي، او ظلم سره، پس زر دے چه داخل به یې کړو، اور ته،

وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيرًا ﴿٣٠﴾ إِنْ تَجْتَنِبُوا

او دے دا کار په الله تعالیٰ باندې اسان. که چرې ځان وساتئ، د غټو

كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَنُدْخِلْكُمْ

غټو ګناهونو نه چه ترینه منع شوي یاست د هغو، (نو) لرې به کړو تاسو نه بدئ ستاسو او داخل به مو کړو

مُّدْخَلًا كَرِيمًا ﴿٣١﴾ وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ

ځائے د ننوتلو عزتمند ته. او ارزو مه کوئ د هغه چه غوره کړي الله تعالیٰ په هغه باندې

بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۚ لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوْا ۚ

بعض ستاسو په بعضو باندې، د سړو د پاره برخه ده، د هغه نه چه دوی ګټلي دي،

وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ ۚ وَاسْـَٔلُوا اللّٰهَ مِنْ

او د ښځو د پاره برخه ده د هغه نه چه دوی حاصل کړي دي، او سوال کوئ د الله تعالیٰ نه د

فَضْلِهٖ ۚ إِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٣٢﴾

فضل د هغه، یقیناً الله تعالیٰ دے په هر شي باندې ښه پوهه.

وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ

او د هر یو د پاره مقرر کړي مونږ وارثان د هغه مال نه چه پریخي مور او پلار،

وَالْأَقْرَبُوْنَ ۚ وَالَّذِيْنَ عَقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ

او خپلوان، او هغه کسان چه تړونه شوي وي سره، قسمونو ستاسو،

فَاٰتُوْهُمْ نَصِيبَهُمْ ۚ إِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

پس ورکړئ دوی له برخه د دوی، یقیناً الله تعالیٰ دے په هر شي باندې،

شَهِيدًا ﴿٣٣﴾ الرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ

حاضر ناظر سړي په ښځو باندې (امیران) دي، په سبب د هغه چه غوره کړي

اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ وَّبِمَا أَنْفَقُوْا مِنْ أَمْوَالِهِمْ ۚ

الله تعالیٰ بعض د دوی په بعضو باندې، او په سبب د هغه چه خرچ کړي دي دوی د مالونو خپلو نه،

منزل ۱

دے یعني چا سره موخه د دوستي عقد کړے وي نو حق د موالات د هغه پوره کړئ په روح المعاني ج۲ کښې دي امداد ورسره وکړئ، بخشش ورسره وکړئ او خیر خواهي ورله وکړئ او میراث نے ختم شوے دے.
الرِّجَالُ: څلورم حکم دے چه امیران به سړي وي. مفسرین رحمهم الله فرمائي چه سړي به امیران وي په ښځو باندې. فتح القدیر ج۱، ابن کثیر ج۱.
بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ: یوه وجه ئے وادا چه سړي غوره کړي دي الله تعالیٰ په ښځو باندې (او فضل الله) د دے ښځو شت وجے ذکر کړي دي ج۱. او بله وجه دا ده چه سړي خرچ کوي په ښځو باندې. ابن کثیر رحمه الله فرمائي له دے وجے نه نبوت خاص شوے هم په سړو پورے او دغه رنګ لوئے حکومت ج۱، په بخاري شریف ج۲ کښې حدیث دے چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دا خبره راورسیده چه اهل فارس یو ښځه په ځان باندې لوئے بادشاه کړې ده نو وے فرمائیل چه هیڅکله به کامیاب نشي هغه قوم چه وے سپارلو اختیارات خپل ښځے ته. مشکوة ج۱، نسائي ج۲، ترمذي ج۲، مسند احمد ج۵، بلوغ المرام ج۲ هم وګورئ.
د عقائدو په کتابونو کښې د حکومت د شرطونو نه یو شرط نارینه والے ذکر کړے دے. وګورئ شرح فقه اکبر ص۱۸۹، شرح عقائد ص۱۵۰، مسامره ص۳۱۷، شرح مواقف ج۸، شرح مقاصد ج۲، ازالة الخفاء ج۱. د احقر کتاب "اسلام میں عورت کا مقام" په دے موضوع کښلے شي ☆

فَالصّٰلِحٰتُ: دَ نیکو بیبیانو درې صفات او دَ بعضو دَ اصلاح دپاره درې طریقې ذکروي. لِلْغَیْبِ:
په وخت دَ نشتوالي او غائبوالي دَ خاوند کښې. اَحْفَظ والي چه صبر دا او چرګه به ئې دوي چه څنګه مال
یا عزت دَ باتي او په کوښو کښې چرچې وهي.

فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ حٰفِظٰتٌ لِّلْغَیْبِ بِمَا حَفِظَ

پس نیکې زنانه، تابعدارې کونکې دي، ساتونکې دي دَ غائب او دَ مال په هغه شي چه ساتلي دي

اللّٰهُ ؕ وَالّٰتِیْ تَخَافُوْنَ نُشُوْزَهُنَّ فَعِظُوْهُنَّ وَ

الله تعالی، او هغه زنانه چه ویریږئ تاسو دَ بدخوئی دَ هغوی، پس وعظ ورته وکړئ، او

اهْجُرُوْهُنَّ فِی الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوْهُنَّ ۚ فَاِنْ

جدا شئ دَ هغوی نه په ځایونو دَ ویدې کیدو کښې، او ووهئ دوی لره، پس که دوی

اَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوْا عَلَیْهِنَّ سَبِیْلًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

اطاعت وکړو ستاسو پس مه لټوئ په دوي باندې لار (طلاق)، یقیناً الله تعالی دے

عَلِیًّا كَبِیْرًا ﴿۳۴﴾ وَاِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَیْنِهِمَا فَابْعَثُوْا

اوچت په صفتونو کښې او لوئې دے، او که ویریږئ تاسو دَ خلافې په مینځ دَ دوارو کښې، پس ولیږئ

حَكَمًا مِّنْ اَهْلِهٖ وَحَكَمًا مِّنْ اَهْلِهَا ۚ اِنْ یُّرِیْدَاۤ

یو فیصله کونکې دَ خپلوانو دَ سړي او یو فیصله کونکې دَ خپلوانو دَ ښځې نه، که اراده لري دوارو

اِصْلَاحًا یُّوَفِّقِ اللّٰهُ بَیْنَهُمَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِیْمًا

دَ اصلاح، جوړجاړے به راولي الله تعالی په مینځ دَ دوارو کښې، یقیناً الله تعالی دے، پوهه

خَبِیْرًا ﴿۳۵﴾ وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَیْـًٔا وَّ

خبردار. او عبادت کوئ دَ الله تعالی، او مه شریکوئ دَ هغه سره هیڅ شے، او

بِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًا وَّبِذِی الْقُرْبٰی وَالْیَتٰمٰی

نیکي وکړئ دَ مور پلار سره نیکي، او دَ خپلوانو سره، او دَ یتیمانو سره،

وَالْمَسٰكِیْنِ وَالْجَارِ ذِی الْقُرْبٰی وَالْجَارِ الْجُنُبِ

او دَ مسکینانو سره، او دَ ګاونډي خپل سره (نږدې)، او دَ ګاونډي پردي (لرې) سره،

وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْۢبِ وَابْنِ السَّبِیْلِ ۙ وَمَا مَلَكَتْ

او دَ ملګري دَ اړخ سره، او دَ مسافر سره، او دَ هغه سره چه مالک دي ستاسو

اَیْمَانُكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا یُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُوْرَا ﴿۳۶﴾

ښي لاسونه ستاسو، یقیناً الله تعالی مینه نه ساتي دَ هغه چا سره چه وي متکبره، فخر کونکې.

مسترا

یا صرته وباسي او په کوښو کښې چرچې وهي.

وَاِنْ خِفْتُمْ: په دې کښې حکم دے دَ اَلصُّلْحُ بَیْنَ الْمُتَنَازِعَیْنِ دَ ښځې او خاوند په مابین کښې صلح کول.
دَ لته درې معنې دي: (۱) که اراده لري دواړه حکمان دَ اصلاح نو جوړښت به راولي الله تعالی دَ ښځې خاوند په مابین کښې. (۲) که اراده لري حکمان دَ جوړښت نو موافقت به راولي الله تعالی دَ حکمانو په مابین کښې. (۳) که اراده لري ښځه خاوند دَ اصلاح نو جوړښت به راولي الله تعالی دَ ښځې خاوند په مینځ کښې.

وَاعْبُدُوا اللّٰهَ: په دې کښې شپږ لسم حکم دے او دوه حقونه دَ باري تعالی او نهه حقونه دَ مخلوق. بقره ۸۳، اسراء ۲۳، انعام ۱۵۱ هم ذکور دي. دَ پښتو شیخ رحمه الله فرمائي چه دَ احکام رعیت بیانولو نه بعد ئې دَ اصل مسئلې یعنې دَ توحید ذکر وکړو.
(جواهر ط ۱۳)

وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْۢبِ: ملګري دَ اړخ نه مراد ملګرے دَ سفر، طلب علم، تجارت وغیره، دے یا بی بی ده. (جواهر ط ۱۳) مَنْ كَانَ مُخْتَالًا: دَ دې ځائے نه دویم باب تر ۴۴ پورې، په دې کښې ش قبائح دَ منافقانو دي او په ۴۰ کښې تخویف او په ۴۲ کښې امر مصلح ذکر دے.

الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ: چه بخل کوی. د سعيد بن جبير رحمه الله نه نقل دی چه دا ملاوو د بنی اسرائيلو په بخل کولو
کښې نازل شوی دی. ... و آيت نازل کړو (در منثور، بيان القرآن). او حافظ ابن کثير
رحمه الله په تفسير کښې ليکی چه

الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ وَيَأْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ وَ
هغه کسان چه بخل کوی، او امر کوی خلقو ته په بخل باندې او
يَكْتُمُوْنَ مَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۭ وَاَعْتَدْنَا
پټوی هغه څه چه ورکړی دی ورته الله تعالیٰ د فضل خپل نه، او تيار کړی دی موږ
لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا ۝٣٧ وَالَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ
د کافرانو د پاره عذاب خوار وونکی، او هغه کسان چه خرچ کوی مالونه خپل
رِئَاۗءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۭ
د پاره د ښودلو د خلقو او ايمان نه راوړی په الله او په ورځ د روستنی،
وَمَنْ يَّكُنِ الشَّيْطٰنُ لَهٗ قَرِيْنًا فَسَاۗءَ قَرِيْنًا ۝٣٨ وَمَاذَا
او هغه څوک چه وی شيطان د هغه د پاره ملګری پس بد دی ملګری. او څه به
عَلَيْهِمْ لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا
وی په دوی باندې که ايمان راوړی په الله او په ورځ روستنی او خرچ کړی د هغه نه
رَزَقَهُمُ اللّٰهُ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمْ عَلِيْمًا ۝٣٩ اِنَّ اللّٰهَ لَا
چه ورکړی دی الله، او دی الله تعالیٰ په دوی باندې ښه خبردار. يقيناً الله ظلم
يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ۚ وَاِنْ تَكُ حَسَنَةً يُّضٰعِفْهَا
نه کوی په اندازه د يو ذرې، او که شی دا ذره نيکی نو زيات به ئې الله کړی
وَيُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝٤٠ فَكَيْفَ اِذَا
او ورکوی د خپل طرف نه اجر لوئي. پس څه حال به وی کله چه
جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍۢ بِشَهِيْدٍ وَّجِئْنَا بِكَ عَلٰي
راولو د هر امت نه گواه، او راوبه ولو تا لره په
هٰٓؤُلَاۗءِ شَهِيْدًا ۝٤١ يَوْمَىِٕذٍ يَّوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
دوی باندې گواه. په دغه ورځ خوښه به کړی هغه کسان چه کفر ئې کړے
وَعَصَوُا الرَّسُوْلَ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْاَرْضُ ۭ وَلَا
او نافرمانی ئې کړې د رسول نو چه برابره شی په دوی زمکه، او نه به شی

بخل کولو څه ... فائده نه وي او د بخیل نه داده چه بخل په مال کښې وی اګرچه بخل په علم کښې هم وی. په هغه کښې په فرق اوزی سره د خير کښې خپل عکس مضمون په انفاق کښې په خپلو او ضعيفانو باندې وشو. حديث شريف کښې دی چه هره ورځ سحر دوه ملائکې کښې نازليږی يو وائی يا الله! ورکړه خرچ کونکو ته عوض او بل وائی يا الله! ورکړه منع کونکو ته هلاکت. (بخاری
مسلم مشکوٰة ١٦٤) رِئَاۗءَ النَّاسِ: د ښودلو د خلقو حديث کښې راغلی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائی چا چه مونځ وکړو په ريا سره نو شرک ئې وکړو او چا چه روژه ونيوله په ريا سره نو شرک ئې وکړو او چا چه صدقه ورکړه په ريا سره نو شرک ئې وکړو. (مشکوٰة ٤٥٤) عَلٰى هٰٓؤُلَاۗءِ شَهِيْدًا: (البقره ١٤٣) نقل کوی عبد الله بن مسعود رضى الله عنه وائی چه ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائیل چه ماته قرآن دوايه. ما ووئيل اے د الله رسوله! تا سو ته قرآن ولولوم او پتا سو خو نازل شوی دے؟ هغوی وفرمائیل او يقيناً خه ميني ساتم چه د بل چا نه ئې واورم. نو ما سورة نساء شروع کړو تر دے چه دے آيت ته راورسيدم
نو ماته ئې وفرمائيل بس که اوس. ناڅاپه د دوی د سترګو نه اوښکې راروانې وې. (بخاری ٦٥٩، مشکوٰة ...،
ابن کثير ... روح ...، ابن الرحمن ...) لَوْ تُسَوّٰى: چه برابره شی په دوی زمکه. النبأ ٤٠ کښې ګورئ.

يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا: وړېکښې د امر مفصل (مونځ) بيان دے حکه چه مونځ د ټولو عبادتونو د قبول ذريعه ده او
په دے نوکښې د اُلفت ما حصلولو سبب دے. وَلَا جُنُبًا: دلته اِلَّا په معنىٰ د غير دے او د عَابِرِي سَبِيْلٍ نه مراد

يَكْتُمُوْنَ اللّٰهَ حَدِيْثًا ﴿٤٢﴾ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا

پټولے دوي د الله نه هيڅ خبره ﴿٤٢﴾ اے هغه کسانو چه ايمان مو راوړے دے مه نږدے کيږئ

الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ

مانځه ته او حال دا چه تاسو نشه يئ، ترڅو چه پوهه شئ په هغه چه تاسے وايئ،

وَلَا جُنُبًا اِلَّا عَابِرِيْ سَبِيْلٍ حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا وَاِنْ

او نه په حالت د جنابت کښې مګر چه تيريدونکي د لارے، ترڅو چه ولامبئ، او که وئ

كُنْتُمْ مَّرْضٰى اَوْ عَلٰى سَفَرٍ اَوْ جَآءَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ

تاسے ناجوړه، او يا په سفر باندے، او راشي يو کس ستاسو نه، د ځاے

الْغَآئِطِ اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً فَتَيَمَّمُوْا

متيازو نه، او يا مو مسه کړې زنانه، پس ونه مومئ اوبه، پس تيمم ووهئ

صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ وَاَيْدِيْكُمْ اِنَّ

په خاورو پاکه، پس مسح وکړئ په مخونو خپلو، او په لاسونو خپلو، يقينًا

اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُوْرًا ﴿٤٣﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا

الله تعالىٰ دے معافوونکے بخښونکے ﴿٤٣﴾ آيا نه دي ګورلي تا هغه کسانو ته چه ورکړے

نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يَشْتَرُوْنَ الضَّلٰلَةَ وَيُرِيْدُوْنَ

شوے دوي ته برخه د کتاب نه، چه اخلي ګمراهي لره، او اراده لري

اَنْ تَضِلُّوا السَّبِيْلَ ﴿٤٤﴾ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاَعْدَآئِكُمْ وَكَفٰى

چه وګرځوي تاسے د لارے نه ﴿٤٤﴾ او الله تعالىٰ ښه پوهه دے په دښمنانو ستاسو، او کافي دے

بِاللّٰهِ وَلِيًّا وَّكَفٰى بِاللّٰهِ نَصِيْرًا ﴿٤٥﴾ مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا

الله ته دوست، او کافي دے الله تعالىٰ مدد ګار ﴿٤٥﴾ بعض د هغه کسانو نه چه يهوديان دي

يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ سَمِعْنَا

بدلوي کلمو لره د ځايونو خپلو نه، او وائي دوي: واوريدو مونږ

وَعَصَيْنَا وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ وَّرَاعِنَا لَيًّۢا بِاَلْسِنَتِهِمْ

او ونه منلو، او واوره، واورولي نشے، او وائي راعنا، اړوي ژبے خپلے،

مسافر دے. معنىٰ دا شوه اے ايماندارانو مه نږدے کيږئ مانځه ته په داسے حال کښې چه تاسے نشه يئ، ترڅو چه پوهه شئ په هغه چه تاسے وايئ او مه نږدے کيږئ مانځه ته چه تاسے جنبان يئ مقيمان يئ غير مسافر يئ ترڅو چه غسل وکړئ. وګورئ مدارک [illegible]. صَعِيْدًا: مخه د زمکے زجاج رحمه الله وائي چه صعيد مخه د زمکے ته وئيلے شي خاوره وي او که بل څه (مدارک [illegible]). فقهاؤ کرامو فرمائي چه په داسے شي تيمم وکړه چه د جنس د زمکے نه وي او داهغه دي چه نه اوريږي او نه ويلے کيږي اګر که ګرم کړے شي او که د جنس د زمکے نه نه وو نو تيمم پرے نه کيږي مګر هغه چه ګرد پرے وي. وګورئ عمدة الرعاية [illegible] په شرح الوقاية. اَلَمْ تَرَ: دا دے ځائے نه تر څلور ويشتم باب دے په دے کښې اتباع د اهل کتابو او زجر ونه، په هغے کښې تحريف او نقض عهد هم وګورئ. سَمِعْنَا: واورېده مو قول ستا او نه منو حکم ستا. (قرطبي [illegible]) مدارک وائي په [illegible] چه عَصَيْنَا په زړه پټ ويلو. غَيْرَ مُسْمَعٍ: دا موهم لفظ دے احتمال د بد هم لري معنىٰ دا شوه چه واوره زمونږ خبره درته وانه وړولے شي يعني کونړ شے او احتمال د مدح هم لري. معنىٰ دا شوه چه

واوره زمونږ خبره وګورئ مدارک [illegible]. رَاعِنَا: بقره [illegible] کښې تير شوے دے وګوره
(٣) واوونه او وړولے شي تا ته بدے خبرے

وَلَوْ أَنَّهُمْ : مطلب دا دے چه کهٔ دوی دَ سَمِعْنَا پهٔ ځائی أَطَعْنَا ویلے وے او دَ إِسْمَعْ - پسے غَيْرَ مُسْمَعٍ
نهٔ وے ویلے او دَ رَاعِنَا پهٔ ځائے أَنظُرْنَا ویلے وے نو دا بهٔ غوره وے. دَ دوی دَ پاره او برابر به وے. فے
شرح سره . لٰكن لعنت کړیے

وَطَعْنًا فِي الدِّينِ ۚ وَلَوْ أَنَّهُمْ قَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا
او عیب لګوی پهٔ دین کښې، او کهٔ چرے دوی ویلے وے، او مونږ واورېدو او اطاعت مو وکړو
وَاسْمَعْ وَانظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَقْوَمَ وَلَٰكِن لَّعَنَهُمُ
او واوره، او او ګوره مونږ ته نو خامخا غوره به ګرځېدو دَ دوی لپاره او برابر به وے، او لٰكن لعنت کړیے
اللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا (46) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ
دے پرې الله پهٔ سبب دَ کفر دَ دوی، پس ایمان نهٔ راوړی مګر لږ : ا ے
أُوتُوا الْكِتَابَ آمِنُوا بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُم
کتاب والو ! ایمان راوړئ پهٔ هغه چه نازل کړیے مونږ تصدیق کونکے دَ هغه چه تاسو سره دی
مِّن قَبْلِ أَن نَّطْمِسَ وُجُوهًا فَنَرُدَّهَا عَلَىٰ أَدْبَارِهَا
مخکښې دَ دینه چه ورانے کړو مخونه، پس وې ګرزوو، پهٔ شاتو دَ هغوی
أَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّا أَصْحَابَ السَّبْتِ ۚ وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ
او یا لعنت وکړو پهٔ دوی لکه څنګه چه مو لعنت کړے وو پهٔ خاوندانو دَ خالی او دے حکم دَ الله تعالیٰ
مَفْعُولًا (47) إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا
کړے شوے. یقیناً الله تعالیٰ نهٔ بخښی ګناه دَ دې چه شرک وشی ورسره، او بخښی هغه
دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ
سوا دَ دې نه دی چا له وې چه خوښه شی، او چا چه شرک وکړو دَ الله تعالیٰ سره، پس
افْتَرَىٰ إِثْمًا عَظِيمًا (48) أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُزَكُّونَ
وے تړلو، ګناه لویه. آیا نهٔ ګورے هغه کسانو ته چه پاکوی
أَنفُسَهُمْ ۚ بَلِ اللَّهُ يُزَكِّي مَن يَشَاءُ وَلَا يُظْلَمُونَ
ځانونه خپل، بلکه الله تعالیٰ پاکوی چا له چه رضا وشی، او نهٔ به ورباندې ظلم وشی کیږی
فَتِيلًا (49) انظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ ۖ
پهٔ اندازه دَ تاګې دَ کجورے. او ګوره څنګه ، تړی ، پهٔ الله تعالیٰ باندې ، دروغ ،
وَكَفَىٰ بِهِ إِثْمًا مُّبِينًا (50) أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ
او کافی دی دا دروغ ګناه ښکاره . آیا نهٔ ګورے هغه کسانو ته چه

ع ۸ ۴

شرح سره . لٰكن لعنت کړیے الله تعالیٰ پهٔ دوی باندې پهٔ سبب دَ کفر دَ دوی پس ایمان نهٔ راوړی مګر لږ . او لږ ایمان معتبر نهٔ دے . وګورئ ۸۸ بقره . سدارک واقی : مګر ایمان لږ ضعیف چه څهٔ اعتبار پرے نشی کیدے . ۲۲۶ ۵۱) . أَصْحَابَ السَّبْتِ : یعنی هغه کسان چه دَ زیاتے کړے دَ خالی پهٔ ورځ . مرتکب شوی پیلي کبنی . پس مسخ شو شادو بیمان او خنزران . (ابن کثیر ...) وګورئ بقره ۶۵ او اعراف ۱۶۳ . إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ : یقیناً الله بخښنه نکوی دَ دے چه شرک ورسره وکړے شی . وګورئ ۱۱۶ دا سورة نساء . پهٔ مشرک الله جنت حرام کړے دے . وګورئ ۷۲ مائده . او شرک لوئے ظلم دے . ۱۳ لقمان . فَتِيلًا : دَ کجورے دَ هډوکی پهٔ مابین کښې چه څهٔ تاروی هغه ته فتیل بائی ویلے شی . او دَ پاسه پرے سپینے پردے ته قطمیر ویلے شی . او دَ هډوکی پهٔ شا کوتی ته نقیر ویلے شی . مراد ترینه معمولی شے دے .

بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوتِ : (او تېر دا دَ راتلونکی څو سره متعلق دے . شیخ القرآن رحمه الله پهٔ معنیٰ کوله

پهٔ کوډو ، منترو او شیطان سره . مفسرین رحمهم الله ګنړے معنے کوی . ابن کثیر رحمه الله پهٔ ۵۱۲ کښې دَ عمر رضی الله عنه پهٔ نقل سره دَ الْجِبْتِ معنیٰ سحر (جادو) او دَ طاغوت معنیٰ شیطان سره کړے دہ .
او دَ مجاهد رحمه الله پهٔ حواله : چه طاغوت شیطان پهٔ شکل دَ انسان کښې چه خلق ورله فیصلے راوړی او دغه

أُوتُوا نَصِيبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يُؤْمِنُونَ بِالْجِبْتِ وَ
ورکړے شوے یو برخه د کتاب نه، ایمان راوړی په جادو او
الطَّاغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا هٰؤُلَاءِ
په شیطان، او وائی په باره د هغه کسانو کښې چه کفر ئے کړے دے چه دوی به
أَهْدٰى مِنَ الَّذِينَ اٰمَنُوا سَبِيلًا ﴿٥١﴾ أُولٰٓئِكَ الَّذِينَ
سم وګڼی دی د هغه چا نه چه ایمان ئے راوړے دے په لاره کښې. دا هغه کسان دی چه
لَعَنَهُمُ اللّٰهُ ۖ وَمَنْ يَلْعَنِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهُ نَصِيرًا ﴿٥٢﴾
لعنت کړے دے په دوی الله، او په چا چه لعنت وکړی الله نو هیچرې به ونه مومې تۀ هغه له مددګار، آیا دی
أَمْ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّنَ الْمُلْكِ فَإِذًا لَّا يُؤْتُونَ النَّاسَ
آیا شته دوی لره برخه د بادشاهۍ نه، پس په دغه وخت کښې ورنه کړی خلقو ته
نَقِيرًا ﴿٥٣﴾ أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلٰى مَا اٰتٰهُمُ اللّٰهُ
د کهجورې، آیا کینه کوی په خلقو باندې په هغه چه ورکړی دی دوی ته الله
مِنْ فَضْلِهِ ۚ فَقَدْ اٰتَيْنَا اٰلَ إِبْرٰهِيمَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ
د فضل خپل نه، پس یقینًا ورکړے دے موږ اولاد د ابراهیم ته کتاب او پوهه، او ورکړے دے
وَاٰتَيْنٰهُمْ مُّلْكًا عَظِيمًا ﴿٥٤﴾ فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ بِهٖ وَمِنْهُمْ
او ورکړے مو دوی ته بادشاهی لویه، پس بعضې د دوی نه هغه دی چه ایمان ئے راوړو په ده او بعضې
مَّنْ صَدَّ عَنْهُ ۚ وَكَفٰى بِجَهَنَّمَ سَعِيرًا ﴿٥٥﴾ إِنَّ الَّذِينَ
ترې منع دی، او کافی ده جهنم سوزونکې. یقینًا هغه کسان چه
كَفَرُوا بِاٰيٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِيهِمْ نَارًا ۖ كُلَّمَا نَضِجَتْ
کفر ئے کړے دے په آیتونو زمونږ، زر دے چه ننباسو اور ته، هر وارے چه وسوزیږی
جُلُودُهُمْ بَدَّلْنٰهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا
څرمنې د دوی، بدل به کړو دوی لره څرمنې نورې، چه څکی
الْعَذَابَ ۗ إِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿٥٦﴾ وَالَّذِينَ
عذاب لره، یقینًا الله دے زورور او حکمت والا. او هغه کسان چه

نے اختیار صندوی. تائید کښې ...... لَعَنَهُمُ اللّٰهُ: مفتی صاحب رحمه الله
ګنړحد بتونه د لعنت د مستحقینو په باره کښې ذکر کړیدی. یو روایت ئے د بخاری شریف ذکر کړے دے
چه لعنت کړیدے الله تعالیٰ سود
خوړونکی او بل باندې خوړونکی
په خال وهونکی او د خال مطالبه
کونکی باندې (معارف ...) او
بیوبل روایت ئے د بخاری شریف
ذکر کړیدے چه لعنت کړیدے
الله تعالیٰ په خال وهونکې او د خال
مطالبه کونکې او په ورو نرۍ
کونکو او غابښونو کښلاوو نکو
د پاره د ښائست چه تغیر راوړی
په پیدائش د الله تعالیٰ کښې (...
...) او د ترمذی شریف
حدیث ئے پیش کړے دے چه
رسول الله ﷺ فرمائی:
چه نۀ دے مؤمن سړے
طعنه کونکے او نۀ لعنت کونکے او
نۀ بیهوده ویونکے. (معارف ۲/۴۳۲)
الحاصل: په چا چه قرآن
او سنت کښې لعنت شویدے
په هغه لعنت ویلے شی او که نه
وی نو نه دے ویل. أَمْ
يَحْسُدُونَ النَّاسَ: آیا کینه کوی
په خلقو باندې. نووی رحمه الله
په شرح مسلم ... کښې د حسد
معنیٰ لیکی چه ارمان کول دی د
زائله کیدو د نعمت د بل چا. ابوداود
شریف ... کښې راځی چه حسد
وساتئ ځکه چې حسد نیکو لیکی
داسې خوری لکه چې اور لرګی خوری
(سوزوی). كُلَّمَا نَضِجَتْ: هر
وارے چه وسوزیږی (یعنی پوره
اندازے ته ورسیږی) نو بدلے
به کړو دوی لره څرمنې چه همیشه
وڅکی عذاب لره. وَالَّذِينَ
اٰمَنُوا: (د ذاکرونکو حاشیه) د
تخویف نه بعد بشارت راوړی
دے. بقره ۲۵ وګورئ. إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ: دوے ځائے نه تر ۱۳۳ پورې دویمه حصه ده. په
دې کښې آته احکام دی د راعی او رعیت، او په دې کښې هم درې بابونه دی: اول د ۵۸ نه پورې، دویم
تر ۱۰۴ پورې، دریم تر ۱۳۳ پورې. په اول باب کښې درې حکمونه دی په ۵۸، ۵۹، ۶۰ کښې ...، ترغیب

وے اطاعت د امیر تہ ... (۳) بشارت
وے ... امام قرطبی ... کښې لیکلي چې
د خطاب ... او امیرانو ته دے او ...

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي
... عملونه ئې وکړل نېک ... ژر به ئې داخل کړو ... باغونو کښې چې بهیږي
مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ لَّهُمْ فِيهَا
... ویالې وي ... همیشه به ... په هغو کښې همیشه ... دوی لره به په هغو کښې وي
أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۖ وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا (۵۷) إِنَّ اللَّهَ
... ښځې پاکې ... او داخل به ئې کړو ... سورې ګڼ ته ... یقینًا الله تعالیٰ
يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم
... حکم کوي تاسو ته چې اورسوئ ... حقونه ... اهل ته د هغې ... او کله چې فیصله کوئ
بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ ۚ إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا
... په مینځ د خلقو کښې چې فیصله کوئ په انصاف سره ... یقینًا الله تعالیٰ ...
يَعِظُكُم بِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا (۵۸) يَا أَيُّهَا
... نصیحت کوي تاسو ته ... یقینًا الله ... دے اورېدونکے لیدونکے ... اے
الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ
... هغه کسانو ... اطاعت کوئ د الله او اطاعت کوئ د رسول ﷺ
وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ ۖ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ
او د خاوندانو د امر ستاسو نه ... پس که جګړه وکړه تاسو په څه شي کښې
فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ
پس ګرځوئ ئې ... الله ته او رسول ته ... که چرته ئې تاسو ... ایمان لرئ
بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ
په الله او په ورځ روستۍ ... دا کار ... غوره دے او ښائسته
تَأْوِيلًا (۵۹) أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ
... انجام ... آیا نه ګورې ته هغه کسانو ته چې خیال کوي ... چې یقینًا دوی
آمَنُوا بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن
ایمان راوړے ... هغه کتاب چې نازل شوے ... او په هغه کتابونو چې نازل شوي

رکوع ۷ ... ع ۸ ۵

رو سکښو فرما ذ دوی ته - علامه خازن ... کښې لیکلي چې شان نزول ئې په عثمان بن طلحه حجبي کښې دے او چې عمومًا د ... شیخ القرآن ... فرمایلي چې ... د ... امانتونه ... حقونه د خلقو مراد دي. (... الرحمان ...) مفتي صاحب ... معارف کښې لیکلي چې د امانات ... نه دي په ... کښې د حکومت عهدے هم داخل دي. وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ: په دے آیت کریمه کښې د اطاعت ... صورتونه دي (معارف ...) د اولوا الامر معنی مفسرین علماء او امیرانو کوي ... خازن ... مدارک ... حافظ ابن کثیر ... کښې فرمائي چې ظاهر دا دے وَاللَّهُ أَعْلَمُ چې دا عام دے په ټولو اولي الامر کښې که امیران وي او که عالمان وي. مفتي صاحب ... په معارف ... کښې فرمائي چې فقهي تحقیقاتو کښې د فقهاؤ اطاعت او په انتظامي امورو کښې د حاکمانو او امیرانو اطاعت واجب شو. فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ: د پښتو شیخ ... په ... جواهر کښې فرمائي چې په ... خطاب حاکمانو او رعیت ته دے. کله چې د حاکمانو او د رعیت ما بین کښې په کوم معامله کښې اختلاف راشي نو د ختم کولو صورت ئې دا دے: إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ: پس واپس ګرځئ ...

فیصله د هغې کتاب الله ته او سنت د رسول ﷺ ته (ابن کثیر ...) قرآن او رسول ﷺ ته په ګرځولو د هغه او د ... وفات نه پس د هغه ... (مدارک ...، قرطبي ...، خازن ...) جناب مفتي صاحب ... فرمائي چې کتاب او سنت طرفته د رجوع کولو دوه صورتونه دي. یو دا چې د کتاب او سنت نه

سره منصوص هي احکام وته رجوع وشي. فَرُدُّوهُ الفاظ عام دي دواړو صورتونو لره شامل دي. (معارف ۴۹۵) او آلوسي رحمه الله فرمائي چه دا آیت دلیل دے په اثبات د قیاس بلکه راقتضی دے ته تولو دلیلونو ته رجوع لره.
(روح ۲۹). اَلَمۡ تَرَ: په دیکښې یو دے واقعې ته اشاره ده. د یو منافق او یهودي لانجه وه. منافق به کعب یهودي ته خوښولو او یهودي به نبي علیه السلام

قَبۡلِكَ يُرِيدُونَ اَنۡ يَّتَحَاكَمُوۤا اِلَى الطَّاغُوۡتِ وَ
مخکښې ستا نه ارادو لري، چه فیصله یوسي، شرکښ ته، او

قَدۡ اُمِرُوۡۤا اَنۡ يَّكۡفُرُوۡا بِهٖ ؕ وَيُرِيۡدُ الشَّيۡطٰنُ اَنۡ
یقیني امر شوے دے دوی ته چه انکار وکړي په هغه، او اراده لري شیطان، چه

يُّضِلَّهُمۡ ضَلٰلًاۢ بَعِيۡدًا ﴿۶۰﴾ وَاِذَا قِيۡلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡا
بے لارے کړي دوی لره په بے لارے کولو لرے سره. او کله چه ووئیلے شي دوی ته، راشئ،

اِلٰى مَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوۡلِ رَاَيۡتَ الۡمُنٰفِقِيۡنَ
هغه ته چه نازل کړے دے الله تعالی، او رسول ته، وبه وینې ته: منافقانو لره،

يَصُدُّوۡنَ عَنۡكَ صُدُوۡدًا ۚ﴿۶۱﴾ فَكَيۡفَ اِذَاۤ اَصَابَتۡهُمۡ
چه اوړي به، ستا نه، په اوړیدو سره. پس څنګه حال به وي چه کله اورسیږي دوی ته

مُّصِيۡبَةٌ ۢ بِمَا قَدَّمَتۡ اَيۡدِيۡهِمۡ ثُمَّ جَآءُوۡكَ يَحۡلِفُوۡنَ ۖ
مصیبت سبب د هغه عمل چه مخکښې کړے دے لاسونو د دوی، بیا راشي تا ته، قسمونه کوي،

بِاللّٰهِ اِنۡ اَرَدۡنَاۤ اِلَّاۤ اِحۡسَانًا وَّتَوۡفِيۡقًا ﴿۶۲﴾ اُولٰٓئِكَ
په الله تعالی چه نه ده اراده کړے موږ، مګر نیکي او جوړښت لره. دا هغه کسان دي

الَّذِيۡنَ يَعۡلَمُ اللّٰهُ مَا فِىۡ قُلُوۡبِهِمۡ فَاَعۡرِضۡ
چه پوهیږي، الله تعالی په هغه څه چه په زړونو د دوی کښې دي، پس مخ واړوه،

عَنۡهُمۡ وَعِظۡهُمۡ وَقُلۡ لَّهُمۡ فِىۡۤ اَنۡفُسِهِمۡ قَوۡلًاۢ
د دوی نه، او وعظ وکړه دوی ته، او ووایه دوی ته، په حق د نفسونو د دوی کښې، وینا

بَلِيۡغًا ﴿۶۳﴾ وَمَاۤ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ رَّسُوۡلٍ اِلَّا لِيُطَاعَ
اثرناکه: او مونږ نه دے لیږلے هیڅ رسول لره، مګر چه اطاعت یې وشي

بِاِذۡنِ اللّٰهِ ؕ وَلَوۡ اَنَّهُمۡ اِذۡ ظَّلَمُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ جَآءُوۡكَ
په حکم د الله تعالی، او که چرے دوی خلقو کله چه ظلم وکړو په ځانونو خپلو، راغلي وے تا ته،

فَاسۡتَغۡفَرُوا اللّٰهَ وَاسۡتَغۡفَرَ لَهُمُ الرَّسُوۡلُ
پس بخښنه یې غوښتے وے د الله تعالی نه، او بخښنه غوښتے وے دوی لره، رسول

خوښولو لکه چه هغه رشوت نه اخستلو. نبي علیه السلام یهودي لره فیصله وکړه. منافق بیا فیصله عمر رضی الله عنه ته یوړله نو عمر رضی الله عنه فیصله وکړه او ختم ئے کړو نو بیا منافقانو خون بها غوښته. وګورئ جواهر ۲۱ ، الفضل القرام ملکې ، الهام الرحمن ۲۱ . الطاغوت بناء په دے د طاغوت نه مراد د یهودو ملا کعب حوي د اشرف مراد دے . وګورئ: خزن ، روح ، قرطبي ، مدارك . اِلَّا لِيُطَاعَ بِاِذۡنِ اللّٰهِ: امام رازي رحمه الله په کبیر کښې لیکلي دي چه دا آیت دلیل دے چه انبیاء علیهم السلام معصوم دي د ګناهونو نه لکه چه دا آیت دلالت کوي په وجوب د تابعداري د دوی مطلقاً بے د څه قید نه. وَلَوۡ اَنَّهُمۡ اِذۡ ظَّلَمُوۡۤا: که چرے دوی کله چه ظلم وکړو په ځانونو خپلو - د دیکښې نه معلومه شوه چه دا یوه خاصه واقعه وه چه د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په ژوند کښې راغلے وه او د هغوی د وفات نه پس ئے هیڅ تعلق نشته.

واقعه: - خلقو دلته یوه دروغژنه واقعه ذکر کړے ده چه د نبي علیه السلام د وفات نه بعد درے ورځے پس یو زمیندار راغے قبر د نبي علیه السلام ته او په سر ئے خاورے راواچولے او دا آیت ئے ولوستلو او وے وئیل چه ما ظلم کړے په ځان خپل او راغلے یم چه ته را لره بخښنه وغواړے نو آواز ورته اوشو د قبر نه چه بخښنه شوے تا ته. علامه محمد بن عبدالهادي رحمه الله په الصارم المنکی ۲۱۲ او علامه سهسواني رحمه الله په صیانة الانسان ۲۱ کښې فرمائي چه دا خبر ناشنا جوړ کړے شوے او اثر د دروغو جوړ کړے شوے. صلاحیت نلري اعتماد په دے باندې او بنا نه دي تلل د دے طرف ته او سند ئے تورتمونه د پاسه

معلوم شول چه دا روایت منکر دے او بیا د دے سند به دا راوی هیثم بن عدی دے سخت اعتراضونه کړیدی شیخ القرآن رحمه الله به ابیضا تو فرمائی چه زمینه ا ریه وین کنی هیڅ نه دے او په سند کنی هیثم غټ دروغژن دے او بیا د سند کنی هم مجهوله راویان شته ۞

لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ﴿٦٤﴾ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ

نو خامخا مونده به دوی الله توبه قبلونکے مهربان . نو قسم دے په ربّ ستا ، دوی ایماندار نشی

حَتّٰى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي

جوړیدے تر څو چه فیصله کوونکے وګرځوی تا په هغه کښې چه اختلاف شی په مینځ د دوی کښې بیا نه پیدا کوی

أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴿٦٥﴾

زړونو خپلو کښې خفګان د هغه چه فیصله کړی ده تا ، او ومنی فیصله ستا په منلو سره

وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ أَنِ اقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ أَوِ اخْرُجُوا

او که چیرته مونږ فرض کړی وے په دوی باندے چه صراحةً کړی نفسونه خپل ، او یا وځی

مِن دِيَارِكُم مَّا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٌ مِّنْهُمْ ۖ وَلَوْ أَنَّهُمْ

د کورونو خپلو نه ، نه به وو کړی دا کار مګر لږ د دوی نه ، او که چیرے دوی

فَعَلُوا مَا يُوعَظُونَ بِهِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَشَدَّ تَثْبِيتًا ﴿٦٦﴾

کړے وے هغه چه وعظ کولے شی دوی ته په هغے ، نو خامخا به وو دا ډیر غوره د دوی دپاره او سخت به وو دوی لره په ټینګښت کښې

وَإِذًا لَّآتَيْنَاهُم مِّن لَّدُنَّا أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٦٧﴾ وَلَهَدَيْنَاهُمْ

او بیا به ضرور ورکړے وے مونږ دوی ته د طرف زمونږ نه اجر لوئے ، او خامخا ښودنه به کړے وے مونږ دوی ته

صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٦٨﴾ وَمَن يُطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُولَ

د دی ته د لارے سیدھے (برابرے) ، او چا چه تابعداری وکړه د الله تعالی ، او د رسول صلی الله علیه وسلم

فَأُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِم مِّنَ

پس دغه کسان به ملګری وی د هغه کسانو چه انعام کړے الله تعالی په هغوی باندے ، چه

النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِينَ ۚ

نبیان دی ، او ډیر رښتینی دی ، او شهیدان دی ، او نیکان دی ،

وَحَسُنَ أُولٰٓئِكَ رَفِيقًا ﴿٦٩﴾ ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ ۚ

او ښائسته دی دغه په ملګرتیا کښې . دغه فضل دے ، د الله تعالی د طرفه

وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيمًا ﴿٧٠﴾ يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا خُذُوا

او کافی دے الله تعالی په پوهه په هر څه باندے . اے ایمان والو ! را واخلئ سامان

ع ١٠ ٦

فَلَا وَرَبِّكَ : په دے آیت کښې د ایمان د پاره درے شرطونه ذکر کړل . (جواهر ص ٢٣٥)

وَمَن يُطِعِ اللّٰهَ : د مسروق رحمه الله نه نقل دے چه صحابوؤ د رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ووئیل چه نه دی مناسب مونږ ته دا چه جدا شو ستا نه په دنیا کښې او ته چه کله جدا شے زمونږ نه نو ته به زمونږ نه اوچت یے نو دا آیت نازل شو . (ابن جریر ص ٢١٢) قرطبی رحمه الله په ص ٢٤١ کښې لیکی چه دا آیت تفسیر د اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ۝ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ دے .

خُذُوا حِذْرَكُمْ : دلته دوئیم حکم دے . محققین فرمایلی دی چه حقداران حقونه ورکړئ . او بعض فرمائی چه تیاری د جهاد وکړئ کله چه جهاد فرض کړے شی نو دغه ته اشاره ده په ثُبَاتٍ : سره جدا جدا او که فرض عین وی نو دغه ته اشاره ده په جَمِيعًا سره . فقهاء کرام ورته نفیر عام وائی . شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل چه امامِ انقلاب مولانا عبید الله سندهی رحمه الله به فرمایل چه بسترہ تیاره سات تئی ۞

حِذْرَكُمْ فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ اَوِ انْفِرُوْا جَمِيْعًا ۝۷۱ وَاِنَّ
ذ بچاؤ، پس وځئ ډلے ډلے، او یا وځئ ټول یو ځائے: او یقینًا
مِنْكُمْ لَمَنْ لَّيُبَطِّئَنَّ فَاِنْ اَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةٌ قَالَ
بعض ستاسو نه خامخا ځنډ کوی، پس که اورسیږی تاسو ته مصیبت وائی
قَدْ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيَّ اِذْ لَمْ اَكُنْ مَّعَهُمْ شَهِيْدًا ۝۷۲
یقینًا انعام کړے الله په ما باندے کله چه نه وم، ذ دوی سره، حاضر۔
وَلَئِنْ اَصَابَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ اللّٰهِ لَيَقُوْلَنَّ كَاَنْ لَّمْ
او که درسیږی تاسو ته فضل ذ الله تعالی نه، نو خامخا وائی دوی، ګویا نه
تَكُنْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهٗ مَوَدَّةٌ يّٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ مَعَهُمْ
وه ستاسو په مینځ او د دوی په مینځ کښې دوستانه، هائے ارمان مالره چه وے زه د دوی سره،
فَاَفُوْزَ فَوْزًا عَظِيْمًا ۝۷۳ فَلْيُقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ
پس کامیاب شوے وے په کامیابئ لوئے سره۔ پس ورجنګیږی په لاره د الله کښې، هغه کسان چه
يَشْرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ ۗ وَمَنْ يُّقَاتِلْ
خرخوی، ژوندد دنیوی په آخرت باندے، او څوک چه وجنګیږی
فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيُقْتَلْ اَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا
په لاره د الله کښې، پس قتل شی، او یا زورور شی، پس زر دے چه ورکړو هغه ته اجر
عَظِيْمًا ۝۷۴ وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ
لوئے: او څه ګټه ده تاسو لره چه نه جنګیږئ په لاره د الله کښې، او
الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالْوِلْدَانِ
د پاره د خلاصولو د کمزورو شوو، سړو، او ښځو، او ماشومانو،
الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ
هغه کسان چه وائی دوی اے ربه زمونږه اوباسه مونږ لره، د دے کلی نه چه
الظَّالِمِ اَهْلُهَا ۚ وَاجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ۚ وَّاجْعَلْ
ظالمان دی اوسیدونکی د دے، او وګرځوه مونږ لره د طرف ستا نه، دوست، او وګرځوه

وَلَئِنْ اَصَابَكُمْ: او که چرے ورسیږی تاسو ته فضل د الله تعالی د طرف نه وائی، يٰلَيْتَنِيْ هائے افسوس مالره۔ عسکری رحمه الله په الاصلاح ۱۰۴ کښې فرمائی چه دا کلام: كَاَنْ لَّمْ تَكُنْ الخ په مینځ کښې راغلے دے د قول او د محکی منه مقولے د مینځ کښې۔ فَلْيُقَاتِلْ: دریم حکم چه قتال ورکړی په لاره د الله تعالی کښې هغه کسان چه خرڅوکړے دے ژوند دنیوی په آخرت باندے۔ شوکانی رحمه الله فرمائی چه يَشْرُوْنَ په معنی د يَبِيْعُوْنَ دے چه خرڅ کړی دی او مراد ترینه مؤمنان دی۔ (فتح القدیر ۱/۴۸۹)، وَمَا لَكُمْ نه ترغیب دے جهاد ته۔ قاضی ابوالسعود رحمه الله او نسفی رحمه الله فرمائی چه وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ مجرور دے عطف دے په سَبِيْلِ اللّٰهِ باندے نو معنی دا شوه او څه دی تاسو لره چه نه جنګیږئ په لاره د الله تعالی کښې او په خلاصولو د کمزورو کړے شوو کښې۔ (ابوالسعود ۲/۱۹۸، مدارک ۲/۲۳۵) الْقَرْيَةِ: د کلی نه مراد مکه مکرمه ده چه ظالمان دی اوسیدونکی د دے مراد ترینه کافران او مشرکان دی او کله به ښار ته هم کلے ویلے شی وګورئ سورة یوسف ۸۲، زخرف ۳۱ ۞

اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا: دا ترغیب دے جهاد ته چه مؤمنان جنګیږی د الله تعالیٰ د رضا دپاره او کافران جنګیږی په لاره د شیطان کښی. د مؤمنانو مقصد اعلیٰ دے او د کافرانو مقصد ادنیٰ دے. فَقَاتِلُوْٓا: پس وجنګیږئ د مکر د شیطان سره، یقینًا تدبیر د شیطان کمزورے دے.

لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ نَصِیْرًا ﴿٧٥﴾ اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا یُقَاتِلُوْنَ

مونږ لره د طرف خپل نه مددګار. هغه کسان چه ایمان ئے راوړے جنګ کوی

فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ۚ وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا یُقَاتِلُوْنَ فِیْ

په لاره د الله کښی او هغه کسان چه کفر ئے کړے جنګ کوی په لاره

سَبِیْلِ الطَّاغُوْتِ فَقَاتِلُوْٓا اَوْلِیَآءَ الشَّیْطٰنِ ۚ اِنَّ

د طاغوت شیطان کښی پس جنګ وکړئ د دوستانو د شیطان سره، یقینًا

كَیْدَ الشَّیْطٰنِ كَانَ ضَعِیْفًا ﴿٧٦﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِیْنَ

تدبیر د شیطان دے کمزورے. آیا نه ګورے ته هغه کسانو ته چه

قِیْلَ لَهُمْ كُفُّوْٓا اَیْدِیَكُمْ وَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا

وئیلی شوی وو دوی ته منع کړئ لاسونه خپل (د جنګ) او ودروئ مانځه لره او ورکوئ

الزَّكٰوةَ ۚ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَیْهِمُ الْقِتَالُ اِذَا فَرِیْقٌ مِّنْهُمْ

زکوٰة لره، پس هرکله چه فرض شو په دوی باندے جنګ کول ناګهانه یوه ډله د دوی نه

یَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْیَةِ اللّٰهِ اَوْ اَشَدَّ خَشْیَةً ۚ

ویریږی د خلقو نه لکه څنګه چه ویریږی د الله نه یا ډیر زیات ویریدل

وَقَالُوْا رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَیْنَا الْقِتَالَ ۚ لَوْلَآ اَخَّرْتَنَآ

او ووئیل اے ربه زمونږه ولے دے فرض کړو په مونږ باندے جنګ کول ولے دے وروستو نکړو مونږ لره

اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِیْبٍ ؕ قُلْ مَتَاعُ الدُّنْیَا قَلِیْلٌ ۚ وَ

تر نیټے نزدے پورے، ووایه ته فائده د دنیا لږ ده، او

الْاٰخِرَةُ خَیْرٌ لِّمَنِ اتَّقٰى ۫ وَلَا تُظْلَمُوْنَ فَتِیْلًا ﴿٧٧﴾

آخرت غوره دے هغه چا دپاره چه پرهیزګاری کوی او نه به کیږی ظلم په تاسو باندے اندازه د دهاګی

اَیْنَ مَا تَكُوْنُوْا یُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ

چرته چه یاست تاسے را به ګیر کړی تاسو لره مرګ، اګر که یاست

فِیْ بُرُوْجٍ مُّشَیَّدَةٍ ۗ وَاِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ

په قلاګانو محکمو کښی، او که ورسیږی دوی ته خوشالی

منزل ١

تدبیر د شیطان کمزورے دے.

سوال: دلته الله تعالیٰ فرمائی چه تدبیر د شیطان کمزورے دے او سورۂ یوسف کښی دی چه تدبیر د ښځو لوئی دے.

جواب: وائی مونږ چه تدبیر د شیطان کمزورے دے په مقابل د نصرت د الله تعالیٰ کښی — او مراد د دغه بل آیت نه دا دے چه تدبیر د ښځو لوئی دے په نسبت سړو سره ته. دویم جواب دا دے چه اِنَّ كَیْدَكُنَّ عَظِیْمٌ قول د عزیز مصر دے نه قول د الله تعالیٰ نو تناقض او معارضه نشته. (رسائل الرازی ص٥٠)

اَلَمْ تَرَ: د دے نه ترصفحه ٩١ پورے دویم باب دے. په دے کښی زجرونه دی منافقانو لره او ذکر د اشکالاتو د هغوی او ترغیب جهاد ته په ۱۴ او توحید په ۱ او په ۵ کښی جدائی د منافقانو نه ۶ او بیا په ۱۲، ۱۰ لاهو ته. الذین قیل منافقانو دی. یَخْشَوْنَ النَّاسَ: ویریږی د خلقو نه. اګر مراد تری نه منافقان وی خو ښکاره خبره ده. او که مراد تری نه مؤمنان وی تفسیر مدارک ۲۳۸ کښی د شیخ ابو منصور رحمه الله قول نقل کړے چه دا ویره طبعی ده، نه داچه دوی به انکار کولو د الله تعالیٰ او امر د دغه د عقیدے په بنیاد.

وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَیِّئَةٌ: (ر د راتلونکی حاشیے): او که ورسیږی دوی ته تکلیف نو وائی دا ستا د طرفه دی یعنی په فالِ بد ئے نیوله او دا د مشرکانو زړه عقیده ده. وګوری ۱۳۱ اعراف، ۴۷ نمل، ۱۸ یٰس. قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ: ووایه چه واړه د جانبه د الله نه دی یعنی مسبب حقیقی ئے یو الله دے. وګورئ آل عمران ۱۲۶

يَقُولُوا هٰذِهِ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ
وائي دوي دا د طرفه د الله نه ده، او كه ورسيږي دوي ته تكليف

يَقُولُوا هٰذِهِ مِنْ عِنْدِكَ ۚ قُلْ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۖ
نو وائي دا د طرفه ستا نه ده، او وايه ټول د طرفه د الله تعالىٰ نه دي،

فَمَالِ هٰؤُلَاءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا ﴿۷۸﴾
پس څه دي دے قوم له، چه نزدے نه دي چه پوهه شي په خبره باندې.

مَا أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ ۖ وَمَا أَصَابَكَ
هغه چه رسيږي تا ته څه خوشالي نو پس د طرفه د الله نه ده، او هغه چه رسيږي تا ته

مِنْ سَيِّئَةٍ فَمِنْ نَفْسِكَ ۚ وَأَرْسَلْنَاكَ لِلنَّاسِ
څه تكليف نو پس د طرفه د نفس ستا نه دي، او ليږلے يو مونږ تا لره، د خلقو دپاره

رَسُولًا ۚ وَكَفَىٰ بِاللّٰهِ شَهِيدًا ﴿۷۹﴾ مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ
رسول، او كافي دے الله گواهي كونكے. چا چه تابعداري وكړه د رسول ﷺ

فَقَدْ أَطَاعَ اللّٰهَ ۖ وَمَنْ تَوَلَّىٰ فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ
پس اطاعت ئے وكړو د الله، او څوك چه وگرځيدو، پس نه يو ليږلے مونږ تا په هغوئي باندې

حَفِيظًا ﴿۸۰﴾ وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ فَإِذَا بَرَزُوا مِنْ
ساتونكے. او وائي دوي د مونږ كار تابعداري دے، پس كله چه دوي ووځي ستا د

عِنْدِكَ بَيَّتَ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ غَيْرَ الَّذِي تَقُولُ ۖ
خوا نه، مشوره كوي د شپے يوه ډله د دوي نه، غير د هغه چه وائي دوي،

وَاللّٰهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُونَ ۖ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ
او الله تعالىٰ ليكي هغه چه دوي مشورے كوي د شپے، پس مخ واړوه د دوي نه، او توكل وكړه

عَلَى اللّٰهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللّٰهِ وَكِيلًا ﴿۸۱﴾ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ
په الله تعالىٰ باندې، او كافي دے الله كارجوړونكے. آيا پس دوي سوچ نه كوي

الْقُرْآنَ ۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ لَوَجَدُوا
په قرآن كښې، او كه چرے وے د طرفه د غير الله نه، نو ضرور به موندلے وے دوي

فَمِنْ نَفْسِكَ: پس ستا د طرفه دي. د پښتو ې شيخ رحمه الله فرمائي په دے كښې ظاهره خطاب نبي كريم ﷺ سره دے ليكن مراد عام دے او دا خطاب هر مخاطب لره شامل دے. مطلب دا چه انسان ته كومه فائده او خوشالي ورسيږي نو دا محض د الله تعالىٰ فضل او احسان دے او كوم چه دغه نه نقصان يا تكليف ورسي خالق ئے هم اگرچه الله تعالىٰ دے ليكن د دے سبب د انسان خپله بد عملي او كوتاهي وي. تيږي سورة شورىٰ ۳۰. وَأَرْسَلْنَاكَ رَسُولًا: مفتي صاحب رحمه الله فرمائي چه د نبي ﷺ رسالت د ټول عالم دپاره عام دے. (معارف ...) سورة ابراهيم ... او سورة فرقان اوگورئ.

مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللّٰهَ: څوك چه اطاعت وكړي د رسول ﷺ پس اطاعت ئے وكړو د الله تعالىٰ. امام رازي رحمه الله ليكي چه دا آيت د ډير قوي دلائلو نه دے چه نبي ﷺ معصوم دے په ټولو اوامرو او نواهيو كښې او په ټولو هغه كښې چه تبليغ ئے كوي د الله تعالىٰ د طرفه نه، ولے كه چرے خطا غلطي پرے شوي كړے نه نو طاعت ئے طاعت د الله تعالىٰ نه شو. (كبير ...) (احمد ...) د عصمت په مسئله د احقر كتاب "تحفة الاحباب" كتلے شئ. وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ: او وائي دوي كار د مونږ منل دي. مدارك ... كښې ليكي چه طَاعَةٌ خبر د مبتدا محذوف دے: أَيْ أَمْرُنَا وَشَأْنُنَا طَاعَةٌ. أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ: آيا پس دوي ولے سوچ او فكر نكوي په قرآن كښې. سورة محمد ... هم وگورئ. شوكاني رحمه الله په فتح القدير ... كښې ليكي چه دا دواړه آيتونه دلالت كوي چه واجب والي د سوچ او فكر په قرآن كښې چه معلومه شي معنىٰ د قرآن. په تسهيل ... كښې دي: تيزي ورزگري د الله په فكر كولو باندې په معانيو د قرآن كښې چه ښكاره شي دليلونه او حجتونه د قرآن. سورة محمد ۲۴ هم اوگورئ. لَوَجَدُوا فِيهِ: او كه چرے وے دا قرآن د طرفه د غير الله نه نو ضرور به موندلے وے دوي په دے كښې اختلاف ډير.

اوسي رحمه الله فرمائي چه بعض غيبي خبرونه به ئې د واقع سره برابر نه وي نو خبر كول د پټو رازونو د منافقانو شو ورسره متصل (وَإِذَا جَاءَهُمْ) ابن عباس رضي الله عنه فرمائي چه رسول عليه السلام به چه كله يو ډله د جهاد ولېږله پس زورور او د

فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا ﴿٨٢﴾ وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ

به ديكښې اختلاف ډېر . او كله چه راشي دوى ته يو خبر د

الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ ۖ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى

امن يا د وېرې نو خوروي دغه لره . او كه رجوع ئې كړې وے دغه ته رسول

الرَّسُولِ وَإِلَىٰ أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ

ته او خاوندانو د حكم ته د دوى نه نو خامخا پوهه شو به په دې سره هغه كسان

يَسْتَنبِطُونَهُ مِنْهُمْ ۗ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَ

چه تحقيق كوي د دې د دوى نه ، او كه نه وے فضل د الله تعالى په تاسو باندې او

رَحْمَتُهُ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٨٣﴾ فَقَاتِلْ فِي

رحمت د هغه نو خامخا تابعداري به كړې وے تاسو د شيطان مګر لږ . پس جنګ كوه په

سَبِيلِ اللَّهِ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ ۚ وَحَرِّضِ

لاره د الله تعالى كښې ، د مه دار شوې نه ئې مګر د ځان خپل او تيزوه ورکوه

الْمُؤْمِنِينَ ۖ عَسَى اللَّهُ أَن يَكُفَّ بَأْسَ الَّذِينَ

مؤمنانو لره په جنګ ، نزدې ده چه الله تعالى به منع كړي جنګ د هغه كسانو چه

كَفَرُوا ۚ وَاللَّهُ أَشَدُّ بَأْسًا وَأَشَدُّ تَنكِيلًا ﴿٨٤﴾ مَّن

كفر ئې كړے او الله تعالى ډېر سخت دے په جنګ كښې او ډېر سخت دے په سزا وركولو كښې . څوك چه

يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَكُن لَّهُ نَصِيبٌ مِّنْهَا ۖ وَمَن

سفارش كوي سفارش ښه ، شي به د هغه لره برخه د دغه نه ، او څوك چه

يَشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَكُن لَّهُ كِفْلٌ مِّنْهَا ۗ وَكَانَ

سفارش وكړي سفارش بد ، شي به د هغه لره برخه د دغه نه ، او دے

اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيتًا ﴿٨٥﴾ وَإِذَا حُيِّيتُم

الله تعالى په هر شي باندې طاقت والا . او كله چه سلام دركړے شي تاسو ته

بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا ۗ إِنَّ اللَّهَ

په سلام سره نو تاسو ئې جواب وركړئ په غوره د دغه نه ، او يا جواب وركړئ د هغه ، بېشكه الله تعالى

منزل ١

يا عقلو به پوهېدو نو دوى به بيان كولو او دا خبره به ئې خوروله او صبر به ئې نه كولو (كبير ص١٩٣) ، حافظ ابن كثير رحمه الله فرمائي (ص٥٢٩) چه په دې كښې انكار دے په هغه چا چه كښې والے كوي خبرونه مخكښې د تحقيق نه او خبر به ئې وركوي او خوروي او نشروے ئې كوي او كله خو هغوى بالكل صحت هم نه وي .

أُولِي الْأَمْرِ : د دوى نه اهل علم او فقاهت مراد دى او ويلے شوي دي چه اميران او حكام مراد دي . (قرطبي ص٢٩١) . يَسْتَنبِطُونَهُ : چه را اوباسي دغه لره يعني لټون او تحقيق ئې كوي . (كوره مفردات ص٤٩٩) . فَقَاتِلْ كا ، مفسرين رحمهم الله فرمائي چه دا ايت دليل دے په جواز د قياس او اجتهاد باندې كله چه نص (قرآن او سنت) او اجماع نه وي (كوره قرطبي ص٢٩٢ ، خازن ص٣٦١ ، جصاص ص٢١٥ . د كرخي الفال ص٤٤ هم ذكر دى) .

مَن يَشْفَعْ : د دغه ايت سره تعلق لري ، د ښه سفارش اجر په دے حديث شريف كښې دے چه دلالت كوونكے په نيكئ باندې د كوونكي د هغه په شان دے (بزار طبراني) او د بد سفارش سزا په دے حديث كښې ده : څوك چه امداد او كومك په قتل د مؤمن باندې كړے وي ، ملاقات به ئې د الله تعالى سره داسے شي چه دواړو سترګو ته به ئې ليكلے وي چه نا اميده دے د رحمت د الله تعالى نه (مشكوٰة ص٣٠٠) .

مُقِيتًا : كلبي : أي شي مِن أُخْتَتِم اللّٰه :

وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ : د ډېرو شيخ رحمه الله فرمائي چه دا هم د مخكښې سره متعلق دے او په دې كښې خطاب رعيت ته دے يعني كله چه تاسو ته خوك كوم واعظ د جهاد د ترغيب د پاره راغلو او تاسو ته ئې سلام اوكړو نو تاسو د هغه د الفاظو په نسبت په ښه جواب

وركړي. (جواهر عن) حافظ ابن كثير رحمه الله (ص ۵۳۰) كښې ليكي چه زيادت په جواب كښې مستحب شوے دے او مماثلت فرض او واجب كړے شويدے ... اَللّٰهُ : دغه دعوى د توحيد ده. مطلب دا چه جهاد به د دې

كَانَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ حَسِيْبًا ﴿٨٦﴾ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا

دے په هر شي باندې حساب كوونكے. الله هغه ذات دے چه نشته بل لائق د عبادت سوا

هُوَ لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ وَ

د هغه نه، خامخا راجمع به كړي تاسو په ورځ د قيامت كښې چه هيڅ شك په كښې نشته، او

مَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ حَدِيْثًا ﴿٨٧﴾ فَمَا لَكُمْ فِى

څوك دي زيات رښتونے د الله نه په خبره كښې. پس څه دي تاسو له چه شوئ

الْمُنٰفِقِيْنَ فِئَتَيْنِ وَاللّٰهُ اَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوْا ؕ

په منافقانو كښې دوه ډلے، او الله تعالى واپس كړي دي دوئ په سبب د هغه عملونو چه دوئ

اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَهْدُوْا مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ؕ وَمَنْ

كړي. آيا اراده كوئ چه هدايت وكړئ هغه چا ته چه بے لارې كړے دے الله تعالى، او چا له چه

يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ﴿٨٨﴾ وَدُّوْا لَوْ

بے لارې كړي الله تعالى پس هيڅكله به نه مومې ته هغه ته لاره. غواړي دوئ چه

تَكْفُرُوْنَ كَمَا كَفَرُوْا فَتَكُوْنُوْنَ سَوَآءً فَلَا تَتَّخِذُوْا

كافران شئ تاسو لكه چه دوئ كافران دي پس شئ تاسو برابر، پس مه نيسئ

مِنْهُمْ اَوْلِيَآءَ حَتّٰى يُهَاجِرُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ فَاِنْ

د دوئ نه دوستان تر هغه چه هجرت وكړي دوئ په لاره د الله تعالى كښې، پس كه مخ وګرځوي

تَوَلَّوْا فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ ص

دوئ نو ونيسئ دوئ او ووژنئ دوئ چرته چه ومومئ تاسو دوئ

وَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿٨٩﴾ اِلَّا

او مه نيسئ د دوئ نه دوست او نه امداد ګر. مګر

الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ اِلٰى قَوْمٍۭ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ

هغه كسان چه تعلق لري هغه قوم سره چه ستاسو په مينځ او د هغوئ په مينځ كښې تړون دے:

اَوْ جَآءُوْكُمْ حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ اَنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ

او يا راشي تاسو ته چه تنګ شوي وي سينے د دوئ، د جنګ كولو نه تاسو سره،

مطلب دا پاره ۲ وي. فَمَا لَكُمْ په دے آيتونو كښې د منافقانو قسمونه ذكر كوي چه بعضو سره جنګ پكار دے. په دے آيت كښې هغه منافقان مراد دي چه هجرت ئے نه وي كړے او په دار الحرب كښې اوسيږي او د كافرانو سره ملګرتيا كوي. اَرْكَسَهُمْ : رِكس واپس كول د شي دي اول ته (كبير ص...) راغب اصفهاني رحمه الله په مفردات (ص...) كښې ليكي چه الله تعالى واپس كړي دي كفر د دوئ ته په سبب د هغه عمل چه دوئ كړے دے. آلوسي رحمه الله روح المعاني (ص...) كښې ليكي چه هغه عمل ئے ارتداد او پيوستوالے دے په مشركانو پسے او په شان د دے. اِلَّا الَّذِيْنَ : په دے آيت كښې د منافقانو دوه قسمونه ذكر كوي چه هغوئ سره جنګ جائز نه دے. يو چه د معاهد و سره تړون لري يعني مُعَاهِد الْمُعَاهِد وي. مطلب دا چه د مسلمانانو چا سره معاهده وي او دوئ د هغوئ سره تړون لري. دويم هغه چه باتكلف على ناست وي نه تاسو سره جنګ كوي او نه د كفارو سره ملګرتيا كوي په ښتنهل (ز ت) (د راتلونكي حاشيه)؛ دا بله ډله د منافقانو ده چه لري بري ته ګوري او چه لاس ئے برتي نو كفر ښكاره كوي او د مومنانو سره جنګ كوي. آلوسي رحمه الله ليكي چه الله تعالى تنبيه وركړه په دے خبره چه دهوكه كوونكي دي. (بحر ص...) اُرْكِسُوْا فِيْهَا : نسكورولے شي په فتنه (كفر) كښې په توبير قسيم او نا كاره نسكورولو سره (مدارك ص ۲۳۴ ج ۱) وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ : د دې

خائے نه ترسره پورے درشېه باب وے او په وکېن. ق شېه احکام دی ورنه قتل نشی ملا. تخم تحقیق کوی چه قتل کېږی. ښتوره حکم و قضیت مذکه

أَوْ يُقَاتِلُوا قَوْمَهُمْ ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ

یا جنگ کوی دوی قوم خپل سره. او که غوښتی وی الله نو خامخا زور اور به کړی دوی پاندے ستاسو

فَلَقَاتَلُوكُمْ ۚ فَإِنِ اعْتَزَلُوكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوكُمْ وَأَلْقَوْا إِلَيْكُمُ

پس خامخا جنګ به یې کړے وه ستاسو سره. پس که یو طرف شی له تاسو نه نو جنګ ونه کړی ستاسو سره او وړاندے کړی تاسو ته

السَّلَمَ فَمَا جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيلًا ﴿٩٠﴾ سَتَجِدُونَ

روغه. پس نه دے ګرځولے الله تاسو له په دوی باندے هیڅ لار. ژر به ومومئ تاسو

آخَرِينَ يُرِيدُونَ أَنْ يَأْمَنُوكُمْ وَيَأْمَنُوا قَوْمَهُمْ

نور منافقان چه اراده لری چه امن کی دوی ستاسو نه او په امن شی د قوم خپل نه

كُلَّمَا رُدُّوا إِلَى الْفِتْنَةِ أُرْكِسُوا فِيهَا ۚ فَإِن لَّمْ

هر وارے چه واپس کړے شی فتنے شرک ته نسکور راولی شی په هغے کښې. پس که نه

يَعْتَزِلُوكُمْ وَيُلْقُوا إِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوا أَيْدِيَهُمْ

یو طرف شی ستاسو نه او وړاندے کوی تاسو ته صلحه او منع کوی لاسونه خپل

فَخُذُوهُمْ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ ۚ وَ

پس ونیسئ دوی لره او مړه کړئ دوی هر چرته چه بیامومئ دوی لره او

أُولَٰئِكُمْ جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطَانًا مُّبِينًا ﴿٩١﴾ وَمَا

دغه کسان ګرځولی دی مونږ تاسو له په دوی باندے دلیل ښکاره. او نه دی

كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَن يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَأً ۚ وَمَن

جائز مؤمن ته چه قتل کړی مؤمن سړی لره مګر په خطا سره. او هغه څوک چه

قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ

وژنی مؤمن په خطا سره پس لازم دی آزادول د غاړے مؤمن

وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ إِلَّا أَن يَصَّدَّقُوا ۚ

او دیت سپارلے شوے وارثانو د هغه ته مګر چه صدقه کړی په معاف کولو سره

فَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ

پس که وی مقتول د داسے قوم نه چه دشمنان ستاسو وی او هغه مؤمن وی

تنویر: حکم دا دے چه مسلمان و ته حکم وما علی شعرهه د ــــ کښې دی. اخه چه مللت متوشی نوی توب. قرآن وی په کښې تخویف او په ـــ کښې ترغیب او بشارت دے او په ـــ کښې تشجیع په جهاد او مشر زجر. او تخویف د مخالفینو د رسول علیه السلام په ـــ او مشرکانو ته په ـــ او رد د شرک فی الدعاء په ـــ کښې او رد د شرک فعلی په ـــ او بشارت دے په ـــ کښې او دعوی د توحید په ـــ او ـــ نه تنهم حکم تنویر په عکسی مضمون او دعوی د توحید یا ربا د

ربط: د منوی حکم فرمائی چه لاره کښې خپل کول دی ځکه نه چوسره په غلطی سره ستاسو په لاسونو مسلمان قتل شی او کله په خطا سره او شی نو تکوره د دے. ـــ وه ایت کریمه کښې درے صورتونه د قتل خطا دی په دوو کښې دیت او کفاره دواړه او په یو کښې صرف کفاره دی حکم د دار الاسلام نه دے راغلے. الا خطا: لاکن کله په خطا سره چه ولی کافر او ورپی مسلمان ته او ولی نو سره په وے اراده چه دا کافر دے پس هغه مسلمان وی. او ــــ او کله خطا په فعل کښې وی او وړیه خطا په اراده کښې وی. ابوبکر رحمه الله په مسائل نشه کښې او په معنی د ولا ذکر کړے نو معنی وا شو چه نشته مؤمن لره چه مرګ کړی مؤمن لره قصداً

وته په خطا سره او ګرے مرے کړو په خطا سره نو حکم ئے دا دے. ودیة: فقهاء کرام په دیت کښې تشل اوښان یا زر مثقال اشرفئی یا لس زره روپئ شرعی. د یوی د مرګوی په تقریباً دره زره او ووه سوه تلویشت تولے سپین یا د هغے قیمت دے. او په درے کاله کښې ئے ورکوے شی.

وَمَن يَقْتُلْ: په دې آيت کښې د قصدي قتل حکم ذکر شوے دے. سوال راځي چې قاتل خو کافر نه شو
نو څنګه به همېشه په دوزخ کښې وي. تفسير مدارك کښې د دې جواب دے ورکړے دے چې فرمائي چې قصد کوي ... وکړي او دا قتل

فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۚ وَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ بَيْنَكُمْ

پس لازم دي آزادول د مريي مؤمن، او که وي د داسې قوم نه چې ستاسې په منځ

وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ

او د هغوي په منځ کې عهد وي، پس لازم دي ديت سپارلے شوے وارثانو د هغه ته او آزادول د

رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۖ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ

مريي مؤمن، پس څوک چې نه مومي (مريي مؤمن) پس په ده باندې روژې دي د دوو مياشتو

مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِّنَ اللَّهِ ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا

پرله پسې، توبه ده د طرف د الله تعالی نه، او دے الله تعالی پوهه

حَكِيمًا ﴿٩٢﴾ وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ

حکمت والا. او څوک چې قتل کړي مؤمن لره په قصد سره پس بدله د هغه

جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَ

دوزخ دے همېشه به وي په دغه کښې او غضب کړے الله په دغه باندې او لعنت ئې کړے او

أَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا ﴿٩٣﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

تيار کړے ئې هغه لره عذاب لوئے. اے ايمان والو!

إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَتَبَيَّنُوا وَلَا

کله چې سفر وکړئ په لاره د الله کښې پس ښه تحقيق کوئ، او مه

تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَىٰ إِلَيْكُمُ السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا

وايئ هغه چا ته چې پيش کوي تاسو ته کلمه د اسلام چې نه ئې ته مؤمن،

تَبْتَغُونَ عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَعِندَ

چې غواړئ سامان د ژوند د دنيا، پس الله تعالی سره

اللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ ۚ كَذَٰلِكَ كُنتُم مِّن

دي غنيمتونه ډېر، دغسې وئ تاسې مخکښې

قَبْلُ فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ

د دې نه، پس احسان وکړو الله تعالی تاسې باندې پس تحقيق کوئ، يقيناً الله تعالی

منزل ۱

ځکه مؤمن دے چې د ايمان وجهه نه او د کفر وجې او يا ئې صرف قتل حلال ګڼلو نو دا د قتل وجهه او هم کفر دے. فَتَبَيَّنُوا: يعنې ښه تحقيق کوئ. صدارت والي چې دوه ځلے امر په تحقيق او ثبوت سره وکړو چې تاکيد زيات په دې باندې شي. مطلب د آيت کريمه دا دے چې په دوران سفر جهاد کښې تاسو ته څوک کلمه اسلام او وائي نو تاسو ئې په دے بهانه مه وژنئ چې دا د خان بچ کولو ذريعه وائي. تاسو هم مخکښې داسې وئ نو الله تعالی تاسې مهرباني وکړه او د پوره اسلام او د رسولو توفيق ئې درکړو. په دې آيت کښې پنځه حکمه وشو.

مسئله: جناب مفتي صاحب رحمه الله فرمائي خلاصه دا ده چې د قرآن او حديث نه دا ثابت ده چې څوک خان ته مسلمان وائي د هغه کافر ويل يا ئې کافر ګڼل جائز نه دي د دې واضح مطلب دا دے چې څو پورې چې د هغه نه د کوم داسې قول يا فعل صدور نه وي شوے چې د کفر يقيني علامه وي........

ليکن کوم کس چې د اظهار اسلام او اقرار ايمان سره سره کلمه کفر هم وائي يا کوم بت ته سجده کوي يا د اسلام د داسې حکم نه انکار کوي چې د هغه اسلامي حکم کيدل قطعي او بديهي وي، يا د کافرانو کوم مذهبي شعار اختيار وي لکه په غاړه کښې زنار وغيره اچول نو بلاشبه د هغه د خپلو اعمالو کفريه د وجه کافر ګڼړلے شي. فَتَبَيَّنُوا کښې وشه ته اشاره ده. معارف

لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ: ترغیب دے جهاد ته ورسره وړلے یکښې ذکر کوی . ایت لره مُشکل هم دے
اشکال دا دے چه یو ځل فرمائی چه مجاهدین نه ناستوکسانو باندې په یوه درجه اوچت دی او
وَكَانُوْا عَلَيْهِ شُهَدَآءَ ۚ فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ

او وو دوی په هغه باندې نګران پس مه وېرېږئ د خلقو نه

وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا

او وېرېږئ زما نه او مه اخلئ په بدل د آیتونو زما قیمت

قَلِيْلًا ۚ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ

لږ، او چا چې فیصله ونه کړه په هغه چې نازل کړی الله تعالی

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٤٤﴾ وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ

پس دغه کسان هم دوی کافران دي. او فرض کړي دي موږ په دوی باندې

فِيْهَآ اَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ ۙ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ

په تورات کښې چې نفس په نفس بدل دی او سترګه په بدل د سترګې

وَالْاَنْفَ بِالْاَنْفِ وَالْاُذُنَ بِالْاُذُنِ وَ

او پوزه په بدل د پوزې او غوږ په بدل د غوږ او

السِّنَّ بِالسِّنِّ ۙ وَالْجُرُوْحَ قِصَاصٌ ۚ فَمَنْ

غاښ په بدل د غاښ او زخمونو کښې بدله ده پس چا چې

منزل ٢

شوي وو دوی د کتاب د الله (غريب القرآن) وكانوا عليه شهداء او وو دوی په هغه باندې نګران چې بدل نشي. ولا تشتروا او مه اخلئ د خوراک د پاره خپل د آیتونو په بدل کښې قیمت لږ. یعنی ... او ومن لم يحكم ... شيخ القرآن رحمه الله [illegible] دا معنی کښې په فرض باندې او خوار چې عقیده د دې فیصلې نه لري په هغه کتاب چې رالیږلی الله، پس یقیناً دغه هم دوی کافران دي. ترڅو چې ... اي معتقدا ذلك ومستحلا له. چې د دې فیصله کولو عقیده و لري او حلال یې ګڼي. لکه الوسي رحمه الله لیکي چې ابن عباس رضي الله عنه فرمائي من لم يحكم جاحدا فهو كافر. چې څوک د دې فیصله انکار د ربه ... نو کافر دی ... منکر نه وي نو فاسق او ظالم دی. وكتبنا عليهم: دا د تورات د احکامو نه یو حکم دی د قصاص د پاره. د امن ... او دا ... شريعت حکم هم دی، لکه چې قرآن کښې ذکر شوی دی او ... په هغوی پورې ئې تخصیص شوی دی. فائده: په دې آیت کریمه کښې د پنځه شیانو د قصاص ذکر دی ځکه چې د انسان ظاهري حواس پنځه دي. په اول کښې قوت لامسه، په دویم کښې قوت باصره، په دریم کښې قوت شامه، او په څلورم کښې قوت سامعه، او په پنځم کښې قوت ذائقه ذکر دي. والجروح قصاص: او زخمونه بدله والا دي. پس چا چې صدقه وکړه په بدله اخستو سره د کفاره وه د هغه صدقه ګوناهو د پاره. (الهام الرحمن ...)

تَصَدَّقَ بِهٖ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ ؕ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ
صدقه وکړو په قصاص اخستو پس دا کفاره ده د ګناه هغه دده او څوک چې فیصله نه کوي
بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ (۴۵) وَ
په هغه چې نازل کړے الله تعالیٰ پس دغه کسان همدوي ظالمان دي۔ او
قَفَّيْنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا
راولیږلے وو موږ په نقش قدم د دوي عیسیٰ ځوئے د مریم رښتونکے ګڼونکے د
لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ ۪ وَاٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ
هغه کتاب چې د ده نه مخکښې وو چې تورات دے او ورکړے وو موږ ده ته انجیل
فِيْهِ هُدًى وَّنُوْرٌ ۙ وَّمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ
په ده کښې هدایت او رڼا ده او تصدیق کوونکے د هغه چې مخکښې د دوي نه وو
مِنَ التَّوْرٰىةِ وَهُدًى وَّمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ (۴۶)
چې تورات دے او هدایت او وعظ وو دپاره د پرهیزګارانو۔ او د دې
وَلْيَحْكُمْ اَهْلُ الْاِنْجِيْلِ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فِيْهِ ؕ
د پاره چې فیصله وکړي انجیل والا په هغه حکم چې نازل کړے الله په هغه کښې
وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ
او څوک چې فیصله ونکړي په هغه چې نازل کړے الله پس یقیناً دغه همدوي
الْفٰسِقُوْنَ (۴۷) وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ
فاسقان دي۔ او رالیږلے موږ تا ته کتاب په حقه سره
مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتٰبِ وَ
تصدیق کوونکے د هغو چې مخکښې د دے نه دي د کتابونو نه او
مُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ اَنْزَلَ
نګهبان دے په دغو باندې پس فیصله کوه په مینځ د دوي کښې په هغه چې رالیږلے
اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ
الله تعالیٰ او پیروي مکوه د خواهشاتو د دوي چې واپس روي تا د هغه چې راغلے تا ته

وَقَفَّيْنَا: او لیږلے موږ روستو د نورو نبیانو نه عیسیٰ علیه السلام او هغه ته مو انجیل ورکړے وو۔ مطلب دا چې انجیل هم الله تعالیٰ د نبي تلاوت د پاره نه وو رالیږلے بلکه د نیکو کولو د پاره لکه ایت ۶۶ کښې ذکر وشه۔ وَاَنْزَلْنَا اِلَيْكَ: او رالیږلے موږ تا ته کتاب قرآن په حقه سره رښتونے ګڼونکے دے مِنَ الْكِتٰبِ د جنس د کتابونو نه په باره چې سوا د قرآن نه دي۔ وَمُهَيْمِنًا: او نګهبان دے په هغه کتابونو چې تحریف شوي د غیر تحریف شده نه جدا کړي۔ (فتح ۲) وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ: او تابعداري مکوه د خواهشاتو د دوي عَادِلًا عَمَّا جَآءَكَ: چې ګرځیدونکے شې د هغه نه چې راغلي تا ته د حق نه۔ (مدارک ۲) شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا: د راتلو نکو حواشیو شریعت او لاره فرقه دوارو لفظونه د یو بے معنے والا دي او دوارو نه مراد

دین دے۔ شِرْعَةً ورته د ظهور او واضح والي په وجه او منهاج ورته د تللو په اعتبار سره ویلے شي۔ (جواهر ۲) وَاَنِ احْكُمْ: د پنځوي شیخ رحمه الله فرمائي چې دا د اَمَرْنَاكَ محذوف د پاره

مفعول په دے او په الکتب کښې بائي معطوف دے. يعني شک چه مونږ په تا باندې کتاب نازل کړے
دغه شان مونږ هر يو ته شرعه ګرځولې ده ... اَنْ يَّفْتِنُوْكَ او ويريږه د دوی نه د دې نه چه
نه چه وانه ړوي تا. ګرځولې

مِنَ الْحَقِّ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا ؕ
د حق نه. د هر يو د پاره ګرځولې ده مونږ تاسو نه شريعت او لاره روښانه ،
وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ
او که اراده کړې وے الله نو ګرځولي به يې وو تاسو امت واحد يو ، ــ و لاکن چه
لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ اٰتٰكُمْ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ ؕ اِلَى اللّٰهِ
امتحان وکړي ستاسو په هغه څه کښې چه درکړي يې دي تاسو ته، پس منډې وکړئ نيکيو ته ، الله ته ستاسو
مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ۙ(۴۸)
واپس ګرځيدل دي ټولو ، پس خبر به درکړي تاسو ته په هغه څه چه وئ تاسو په هغې کښې چه اختلاف کولو
وَاَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ
او امر کوو چه فيصله کوه د دوی په مينځ کښې په هغه څه چه نازل کړي دي الله او پسې مه ځه د خواهشاتو
وَاحْذَرْهُمْ اَنْ يَّفْتِنُوْكَ عَنْۢ بَعْضِ مَآ اَنْزَلَ
د دوی او ويريږه د دوی نه چه وانه ړوي تا د بعض د هغه څه نه چه نازل کړي دي
اللّٰهُ اِلَيْكَ ؕ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ اَنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ
الله تا ته ، پس که دوی وګرځيدل نو پوهه شه يقيناً اراده لري الله
اَنْ يُّصِيْبَهُمْ بِبَعْضِ ذُنُوْبِهِمْ ؕ وَاِنَّ كَثِيْرًا
چه ورسوي دوی ته عذاب په سبب د بعض ګناهونو د دوی ، او يقيناً ډير
مِّنَ النَّاسِ لَفٰسِقُوْنَ (۴۹) اَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ
د خلقو نه ، خامخا فاسقان دي. آيا فيصله د جاهليت
يَبْغُوْنَ ؕ وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ
غواړي دوی ، او څوک دی ښه تر الله نه په فيصله کښې ، د هغه قوم د پاره
يُّوْقِنُوْنَ (۵۰) يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا
چه يقين کوي = اے ايماندارو ! مه نيسئ تاسو
الْيَهُوْدَ وَالنَّصٰرٰۤى اَوْلِيَآءَ ؕ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ
يهود ، او نصارا لره ، دوستان ، بعض د دوی نه ، دوستان

اَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُوْنَ : فيصله د جاهليت دوی غواړي . د دے نه مراد هغه قوانين او فيصلے دي چه د قرآن او سنت نه خلاف وي . حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائي چه تاتاريانو به په ملکي سياست کښې د چنګيز خان د قانون نه فيصلے کولے او دا مجموعه د کتاب وو د مختلفو مذهبونو د يهوديت ، نصرانيت ، اسلام وغيره نه جوړه شوې وه . او په دغه کښې ډير احکام داسې وو چه د خپل نظر او خواهش نه جوړ کړي شوي وو . او دا سے ورته د خلقو نه ډير لوے وو چه د کتاب الله او سنت رسول الله ﷺ د فيصلے نه هم مقدم به يې ګڼلو . لهٰذا هغوی به يقيناً کافران وو ، چا چه داسې وکړل نو واجب دے قتل د هغه او قتال واجب دے تر هغې چه فيصلے د الله او رسول ته واپس شي او نه فيصله کوي په بل ، لږ او ډير کښې . (ابن کثير)

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا : د دے ځائے نه تر شپږ رکوع پورے بيان دے . په دے کښې زور شوے دے مؤمنانو لره په دوستئ د اهل کتابو او رټنه ده منافقانو لره د ځکه چه دوستانے بائي . په دے کښې فرمائي

چه د دوی دوستانه سبب د ارتداد دے . په دے کښې صفتونه بيان دي چه دوستي ورسره پکار ده .

فَإِنَّهُ مِنْهُمْ: آلوسی رحمه الله په روح المعانی کښی فرمائی چه دا حکم د اېستلے شوے دے په خاطر د تشدید او په مبالغه ... او ویلے شوی چه دے کافر شو د هغو غوندی په حقیقة. او دا د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل شوے دی.

بَعْضٍ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ

د بعضو دی، او چا چه دوستی او کړه د دوی سره ستاسو نه پس یقیناً هغه د هغوی نه دے، یقیناً الله تعالی

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿٥١﴾ فَتَرَى الَّذِينَ فِي

هدایت نه کوی قوم ظالمانو ته. پس وبه وینے ته هغه کسان چه په

قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ

زړونو د دوی کښی مرض دے، جلتی به کوی په دوستئ د دوی کښی، وائی دوی،

نَخْشَىٰ أَن تُصِيبَنَا دَائِرَةٌ ۚ فَعَسَى اللَّهُ أَن

وېرېږو مونږ چه ورسیږی مونږ ته مصیبت، پس نزدې ده چه الله تعالی

يَأْتِيَ بِالْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِ فَيُصْبِحُوا عَلَىٰ

راوړی فتح، او یو کار د خپل طرف نه، پس شی به دوی په هغه

مَا أَسَرُّوا فِي أَنفُسِهِمْ نَادِمِينَ ﴿٥٢﴾ وَيَقُولُ الَّذِينَ

چه دوی پټ ساتلی په زړونو خپلو کښی پښیمانه. او وبه وائی هغه کسان چه

آمَنُوا أَهَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ أَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ

ایمان راوړے، آیا دا هغه کسان دی چه قسمونه به ئے کول په الله تعالی، سخت

أَيْمَانِهِمْ ۙ إِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ ۚ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ

قسمونه خپل، چه یقیناً دوی خامخا ستاسو سره دی، برباد شو عملونه د دوی،

فَأَصْبَحُوا خَاسِرِينَ ﴿٥٣﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَن

پس وګرځېدل دوی تاوانیان. اے ایمان والو! څوک چه

يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ

مرتد شو ستاسو نه د دین خپل نه، پس زر ده چه راولی الله تعالی یو قوم چه

يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ

مینه به کوی د هغوی سره او دوی به مینه کوی د هغه سره، نرم به وی په مومنانو باندی،

أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ

سخت به وی په کافرانو باندی، جهاد به کوی په لارے د الله تعالی

ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل شوی دی او شاید دا هغه چه دا دوستی نه وی بلکه د وجے د دے نه وی چه دا یهود او نصاری دی. أَن تُصِيبَنَا دَائِرَةٌ: چه اوبه رسیږی مونږ ته مصیبت، حادثه د زمانے. امام رازی فرمائی چه هغوی منافقان وو او د دوی سره به ئے امداد کولو چه مسلمانانو د دوی کښی او ترض به ئے ورکولو (کبیر ۱۲). احقر غفرلهٔ وائی چه اوس فرنګی دوستے مسلمانان وائی چه خپیږ مو په امریکه کښی دی او اقتصادی امداد به راباندی او لګوی.

حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ: برباد شوی عملونه د دوی. احتمال لری چه دا کلام د مومنانو وی او دا احتمال هم لری چه کلام د الله وی (کبیر ۱۲).

مَنْ يَرْتَدَّ مِنْكُمْ: څوک چه مرتد خوشے شو.

ربط: د دے آیت کښی ئے واضحه کړه چه دوستانو د هغوی به ونه ده آخر لوی د دین نه (روح ۱۲) او په دے کښی بعض صفات د نیکانو دی. د الله تعالی سره به مینه کوی. نرم به وی مومنانو ته. سخت به وی په کافرانو. جهاد به ... کوی په لارے د الله کښی او د چا په نکوی د ملامتیا د ملامت ګرو نه (ابن کثیر).

إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللَّهُ: (حاشیه د رکوع کی موضح) مهائمی رحمه الله فرمائی

چه هر کله ئے منع وکړه د موالات د یهودو او نصاراو نه نو اشاره ئے وکړه تعین د دوستئ د هغه چا سره چه موالات ورسره بکار دی. (تیسیر الرحمن ۱۲) وَمَن يَتَوَلَّ اللَّهَ: په دے کښی بشارت د هغه چا د پاره دے چه

دوستي کوي د الله تعالیٰ سره او د هغه د رسول ﷺ سره او د مؤمنانو سره ـ فَاِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ يقيناً ډله د الله تعالیٰ غالب
ده ـ دلته ئے دا نه ده اووئیل: فَاِنَّهُمْ هُمُ الْغٰلِبُوْنَ چه دوی به غالب وي ځکه چه اشاره ده دې صفت د مؤمنانو
ته چه دا حِزْبَ اللّٰهِ ډله د الله تعالیٰ

اللّٰهِ وَلَا يَخَافُوْنَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ ؕ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ
کښې او نه به ویریږي د ملامتیا د ملامت کوونکي، دغه فضل د الله دے
يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۵۴﴾ اِنَّمَا
ورکوي ئے چا له چه وغواړي او الله تعالیٰ فراخ فضل والا پوهه دے یقیناً
وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوا
دوست ستاسو الله دے او رسول د هغه دے او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے
الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ
هغه کسان چه پابندي کوي د مانځه او ورکوي زکوٰة لره
وَهُمْ رٰكِعُوْنَ ﴿۵۵﴾ وَمَنْ يَّتَوَلَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ
او دوی رکوع کوونکي دي الله ته ـ او هر څوک چه دوستي کوي د الله سره او د رسول د هغه سره
وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَاِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿۵۶﴾ ع ۱۲
او د هغه کسانو چه ایمان ئے راوړے دے پس یقیناً ډله د الله هم دوی غالب کیدونکي دي ـ
يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِيْنَ
اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے مه نیسئ هغه کسان دوستان لره چه
اتَّخَذُوْا دِيْنَكُمْ هُزُوًا وَّلَعِبًا مِّنَ الَّذِيْنَ
نیولے دے دین ستاسو په توقو او لوبو سره، د هغه کسانو نه چه
اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ اَوْلِيَآءَ ۚ
ورکړے شوے کتاب مخکښې ستاسو نه او کافرانو لره دوستان
وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۵۷﴾ وَاِذَا نَادَيْتُمْ
او وویریږئ د الله نه که یئ تاسو ایمان راوړونکي، او کله چه اواز کوئ تاسو
اِلَى الصَّلٰوةِ اتَّخَذُوْهَا هُزُوًا وَّلَعِبًا ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ
مانځه ته نیسي دغه لره په توقو او لوبو، دا په دې وجه چه یقیناً دوی
قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿۵۸﴾ قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ هَلْ تَنْقِمُوْنَ
دالے قوم دي چه عقل نه لري ـ ووایه اے کتاب والو! په مونږ عیب ګیري تاسو

ده ـ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا په دې
ایت کریمه کښې د منافقانو او د نورو
د دوستئ نه منع کوي پس د منع
کولو د دوستئ د اهل کتابو نه
ذکر او سره شو ـ اتَّخَذُوْهَا نیسي دغه
لره ـ ضمیر د هَا یا مانځه ته دے او
یا مناداة او ازان کولو ته دے (کبیر
بحر) په دویم صورت کښې معنیٰ دا
شوه چه نیسي اذان لره په توقو
او مسخرو باندې ـ شاه صاحب رحمه الله
فرمائي چه اذان پورے ټوقې کوي
(موضح) ـ مدارک وائي په دې ایت
کښې په دې کښې دلیل دے چه
ثبوت د اذان په نص د کتاب الله
دے نه یوازې په خوب د صحابي ؓ
دلته رنګ کبیر بحر کښې هم دی.
فائده: شیخ القرآن رحمه الله په
سمط الدرر کښې یو ښکلے مقاله د
علماؤ سوؤ په باره کښې لیکلې ده،
اَعَاذَنَا اللّٰهُ مِنْ ذٰلِكَ ـ معنیٰ ئے
دا ده: آیا نه دي هغه کسان چه
په شکل د عالمانو کښې دي پشان
د اهل کتابو په دې صفتونو کښې
لکه چه دین ئے کړے دے د نیولو او
پټولو حق لره او تحریف کوي په
ایتونو د الله تعالیٰ کښې او خوري حرام
د عالمانو د یتیمانانو نه او هغه
نه روان چه ورځې وهي قبرونو ته او
یا په نومونو د بزرګانو بندګانو نذرونه
کوي د اسقاط او اجرت اخلي په
تلاوت د قرآن سره لره او وقایه ای
د شرک او د بدعاتو وي او هغه
کوي په عرسونو او میلادونو کښې.
قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ الخ: د دغه خبرے نه
تر پورے اتم باب دے په دې کښې

رورنده د عالمانو سوؤ لره او د هغوی رسوائي ده چه دوی نه کاره د ختلو نه دي او ترغیب دے اظهار د حق ته او دفعه
د وسوسے د شیطان ده چه حق بیان کړي نو غریبانان به تیري کړي ـ شیخ القرآن رحمه الله فرمائي چه د دې رونه
پوهن وا ورکے کوم چه حق پټوي چه طریقې ئے منعه کوي د بیان د حق نه. (سمط الدرر ۱۳۴) ✿

اِنْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ : چه مونږ د ایمان راوړے دے په الله تعالیٰ ... شپږ ډوله وجوهات شي . یعني
دا خو سبب د بد ګڼلو نه دے ... مونږ مؤمنان ...

مِنَّآ اِلَّآ اَنْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ

[illegible]

مِنْ قَبْلُ وَاَنَّ اَكْثَرَكُمْ فٰسِقُوْنَ قُلْ هَلْ

[illegible]

اُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكَ مَثُوْبَةً عِنْدَ اللّٰهِ مَنْ

[illegible]

لَّعَنَهُ اللّٰهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ

[illegible]

وَالْخَنَازِيْرَ وَعَبَدَ الطَّاغُوْتَ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا

[illegible]

وَّاَضَلُّ عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ وَاِذَا جَآءُوْكُمْ قَالُوْٓا

[illegible]

اٰمَنَّا وَقَدْ دَّخَلُوْا بِالْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوْا بِهٖ وَاللّٰهُ

[illegible]

اَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا يَكْتُمُوْنَ وَتَرٰى كَثِيْرًا مِّنْهُمْ

[illegible]

يُسَارِعُوْنَ فِى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاَكْلِهِمُ

[illegible]

السُّحْتَ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ لَوْلَا

[illegible]

يَنْهٰىهُمُ الرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ عَنْ قَوْلِهِمُ

[illegible]

الْاِثْمَ وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا

[illegible]

وَاَنَّ اَكْثَرَكُمْ : واو زائده دے معنیٰ لے دا ده لِاَنَّ اَكْثَرَكُمْ ، چه یقیناً زیات ستاسو نه فاسقان دي . (روح)

او شیخ المشائخ مولانا حسین علی رحمه الله فرمائي چه چه دلته اِعْلَمُوْا ایت دے معنیٰ دا شوه چه پوهه شئ چه زیات ستاسو نه فاسقان دي . (جواهر)

قُلْ هَلْ اُنَبِّئُكُمْ : ووایه ایا خبر درکړم تاسو ته . علامه خازن رحمه الله په ... کښې فرمائي چه دا جواب دے یهودو ته کله چه دوی ووئیل مؤمنانو ته چه مونږ که نه پیژنو نا کاره دین د دین ستاسو نه .

فِى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ : اِثْمٌ دروغ ، حرام کلمه د شرک . عُدْوَان د حد نه تجاوز . سُحْت : رشوت او د غیر الله نذرونیاز .

لَوْلَا يَنْهٰىهُمُ الرَّبّٰنِيُّوْنَ : په ... ایت کښې ذمه دے د ملایانو د پاره ، او په اول کښې د عامو د پاره . (مدارک) .

مفتي صاحب رحمه الله فرمائي چه ... د عملونو ... (معارف) او دا ایت دلالت کوي چه پریښودل د نهي عن المنکر پشان د کولو د منکر دے . (قرطبي)

يَصْنَعُونَ ﴿٦٤﴾ وَقَالَتِ الْيَهُودُ يَدُ اللَّهِ مَغْلُولَةٌ ۚ

کوی. او وائی يهودان، لاس د الله تعالیٰ بند کړے شوے دے،

غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُوا بِمَا قَالُوا ۘ بَلْ يَدَاهُ

بند دې کړے شی لاسونه د دوی، او لعنت دې کړے شی په سبب د وینا د دوی، بلکه لاسونه د هغه

مَبْسُوطَتَانِ يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ ۚ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا

فراخه کړے شوی دی، خرچ کوی څنګه چه وغواړی، او خامخا زیاتوی به ډیرو د

مِنْهُمْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ طُغْيَانًا وَكُفْرًا ۚ

دوی کښې هغه کتاب چه نازل شوے تا ته، د رب ستا نه، سرکشی، او کفر لره،

وَأَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ إِلَىٰ يَوْمِ

او غورزولې دی مونږ په مینځ د دوی کښې دشمنی او بغض لره، تر ورځے د

الْقِيَامَةِ ۚ كُلَّمَا أَوْقَدُوا نَارًا لِلْحَرْبِ أَطْفَأَهَا

قیامت پورې، هر وارے چه بل کړی دوی اور، د پاره د جنګ، مړ کړی هغه لره

اللَّهُ ۚ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا ۚ وَاللَّهُ لَا

الله تعالیٰ، او کوشش کوی په زمکه کښې، د فساد، او الله تعالیٰ مینه

يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ ﴿٦٤﴾ وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْكِتَابِ

نه ساتی، د فساد کونکو سره. او که چیرے اهل کتاب

آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَ

ایمان راوړی او ځان بچ کړی نو خامخا لرے به کړو دوی نه بدئ د دوی، او

لَأَدْخَلْنَاهُمْ جَنَّاتِ النَّعِيمِ ﴿٦٥﴾ وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا

خامخا یقیناً داخل به کړو دوی لره باغونو د نعمت ته. او که چیرے دوی عمل او کړی

التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِمْ مِنْ

په تورات او انجیل، او په هغه چه نازل شوی دی ته، د رب

رَبِّهِمْ لَأَكَلُوا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ

د دوی، نو خامخا خوراک به وکړی د پاسه خپل نه او لاندے د خپو

وَقَالَتِ الْيَهُودُ: ابن عباس رضی الله عنهما او عکرمه او ضحاک رحمهما الله وائی چه الله تعالیٰ یقیناً په یهودو رزق فراخه کړے وو. پس هر کله چه نافرمانی وکړه د امر د رسول ﷺ نه نو منعه کړو ترینه الله تعالیٰ بعضې هغه چه فراخه کړی وو الله تعالیٰ نو دوی دا ویل (روح ۳۸)

بَلْ يَدَاهُ: څنګه چه د الله تعالیٰ سره یدان مناسب وی (احسن القرآن)

لَأَكَلُوا مِنْ فَوْقِهِمْ: نو خوراک به وکړی د پاسه خپل نه او د لاندے د خپو خپلو نه یعنې باران به په وخت کیږی او زرغونه به هم ښه کیږی.

فائده:- مفتی صاحب رحمه الله فرمائی چه په احکام الهی باندې عمل په دنیا کښې هم سبب د برکتونو دے (معارف ۲/۲۰۱) په مدارک ۲/۲۰۱ کښې دی چه دلالت کوی دا آیت چه عمل په طاعت د الله تعالیٰ سبب د فراخئ د رزق دے او قرطبی په ۲/۲۲۱ کښې لیکی چه الله تعالیٰ تقوی د اسبابو د رزق نه کرځولے ده څنګه چه په دے آیتونو کښې دی: ۹۶ اعراف، ۱۲ جن، ۲ طلاق.

أَرْجُلِهِمْ مِنْهُمْ أُمَّةٌ مُقْتَصِدَةٌ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ سَاءَ

د ښپو د دوی نه، بعضې د دوی نه ډله برابره ده. او ډېر د دوی نه بد دي

مَا يَعْمَلُونَ (٦٦) يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ

هغه عمل چې دوی کوي. اے رسوله! ورسوه ټول هغه چې نازل شوی تا ته

مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ

د جانب د رب ستا نه، او که او نه کړو تا دا کار پس او نه رسولو تا پیغام د هغه لره،

وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي

او الله به بچ کوي تا لره د خلقو نه، یقیناً الله تعالیٰ هدایت نه کوي

الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ (٦٧) قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَسْتُمْ عَلَى

قوم کافرانو لره. او وایه، اے کتاب والو! نه یئ تاسو په هیڅ

شَيْءٍ حَتَّى تُقِيمُوا التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ وَمَا أُنْزِلَ

شي د دین، تر دې چې عمل وکړئ په تورات او انجیل، او په هغه چې نازل شوی

إِلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ مَا

تاسو ته د رب ستاسو نه، او خامخا زیاتوي به ډېرو د دوی کښې هغه چې

أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ طُغْيَانًا وَكُفْرًا فَلَا تَأْسَ

نازل شوی تا ته د جانب د رب ستا نه سرکشي او کفر لره، پس مه خفه کیږه د

عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ (٦٨) إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا

په قوم کافرانو باندې. یقیناً هغه کسان چې ایمان ئے راوړے

وَالَّذِينَ هَادُوا وَالصَّابِئُونَ وَالنَّصَارَى

او هغه کسان چې یهودیان دي، او صابیان دي، او نصاریٰ دي،

مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَعَمِلَ

چا چې ایمان راوړو په الله، او په ورځ روستنۍ باندې، او عمل کوي

صَالِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ (٦٩)

نیک، پس نه به وي هیڅ ویره په دوی باندې، او نه به دوی غمژن کیږي.

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ: دا دوه ایت کریمه نه ترشا پورې تهم باب وشه په دیکښې ترغیب وشه تبلیغ ته او په شا کښې او شانې تبلیغي مسئلے په ... کښې تخویف د نبوي او زجر وشه په ترک د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په دې کښې او په مثال کښې ورته بندګي د همت نو وړه چې د علماؤ نو شرک همت وشه د عوامو نه ... کښې د نیکانو صفات مع البشارت وشه او په ... کښې تخویف وشه. بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ: ورسوه ټول هغه چې نازل شوی تا ته. دا ایت کریمه شامل وشه رسولو د قرآن او احادیثو او دلته لفظ د ما عام وشه حدیث مبارک کښې راځي: خبردار! یقیناً ما ته چې ... شوے ما ته قرآن او مثل د دے. خبردار! قریب ده چې یو سړے موړ په پالنګ به ... ووائي به لازم ونیسئ دا قرآن نو په چې مو کښې حلال بیا موندل نو حلال ئے وګڼئ او هغه چې مو کښې حرام بیا موندل نو حرام ئے وګڼئ او یقیناً هغه چې حرام ورته رسول ﷺ ویلی دی پشان د هغه دی چې حرام کړی الله. (ابوداؤد، ابن ماجه، دارمي، مشکوٰة ص۲۹). فَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ: که تا دا و نکړه نو و نه رسولو پیغام د رب خپل. فائده: پس دلالت کوي دا ایت په رد د قول د هغه چا چې وائي چې نبي ﷺ پټ کړي دي څه شے د امر د دین نه د وجې د تقیه نه چې هغه رافضي دي (قرطبي ج۲۲). وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ: او الله به بچ کوي تا لره د ضرر د خلقو نه. علامه عبد الماجد دریابادي رحمه الله د سوال په جواب کښې لیکي چې د ټولو نه زیات صاف او بې تکلفه جواب د مفسر تهانوي رحمه الله د قلم نه را وتے چې وعده د محفوظیت د تبلیغ په حیثیت وکښې شوې ده او د دې تعلق هم قدرة د و سره محفوظیت د ے چې د هغوی ﷺ د نر اعضو په تبلیغ کښې مانع نه وي بالکلیه نه مقصود دے

مطلب کېږي ... [illegible] ... تبلیغي مسئله ده. ... آیت کښې ترغیب دے. بقره
... آیت کښې زجر دے ... وکوری ؛

لَقَدْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ وَأَرْسَلْنَآ
[illegible] ... او رالیږل مو وو
إِلَيْهِمْ رُسُلًا ۖ كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُولٌۢ بِمَا لَا
[illegible]
تَهْوَىٰٓ أَنفُسُهُمْ فَرِيقًا كَذَّبُوا۟ وَفَرِيقًا يَقْتُلُونَ ﴿٧٠﴾
[illegible] ... وژل دوی .
وَحَسِبُوٓا۟ أَلَّا تَكُونَ فِتْنَةٌ فَعَمُوا۟ وَصَمُّوا۟ ثُمَّ
[illegible]
تَابَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُوا۟ وَصَمُّوا۟ كَثِيرٌ
[illegible]
مِّنْهُمْ ۚ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿٧١﴾ لَقَدْ كَفَرَ
[illegible] ... یقیناً کافران دی
ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ مَرْيَمَ ۖ
[illegible] ... مسیح ... مریم دے .
وَقَالَ ٱلْمَسِيحُ يَٰبَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ
[illegible] ... عبادت وکړئ د الله تعالیٰ
رَبِّى وَرَبَّكُمْ ۖ إِنَّهُۥ مَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ
[illegible] ... حرام کړے
ٱللَّهُ عَلَيْهِ ٱلْجَنَّةَ وَمَأْوَىٰهُ ٱلنَّارُ ۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ
[illegible]
مِنْ أَنصَارٍ ﴿٧٢﴾ لَّقَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّ ٱللَّهَ
[illegible] ... یقیناً ... الله تعالیٰ
ثَالِثُ ثَلَٰثَةٍ ۘ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّآ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ۚ وَ
[illegible] ... دے ... ذات ، او

أَلَّا تَكُونَ ... [illegible]
چه ... ازمائش او ابتلاء
نه دی. ... [illegible]
... [illegible]
نه ... لَقَدْ كَفَرَ
ٱلَّذِينَ ... وسته آیت کښې
... [illegible]
... تبلیغي مسئله ده. شاه
ولی الله رحمه الله فرمائي چه
اعتقاد ... [illegible]
... [illegible]
ملک کښې د عیسیٰ علیه السلام بیان
ذکر شوے دے. إِنَّ ٱللَّهَ ثَالِثُ
ثَلَٰثَةٍ یعنی کافران دی
هغه خلک چه وائي چه الله تعالیٰ
دریم د دریو دے. ... [illegible]
تبلیغي مسئله ده ... [illegible]
... [illegible] ... دے.
آخر وائي چه اوس خوبونو
علاقه ... چه خو ... د
هغه د کافرانو نښې دی.
الله ... حفاظت وکړي
آمین ؛

كَانَا يَأْكُلَانِ ٱلطَّعَامَ ... د
دا ... متعلق ده
او دواړه چه طعام به ئې
خوړلو. مطلب دا چه دا پالل
شوے وو نو ... صلاحیت مربوب
لري چه رب وشي. ... [illegible]
مولانا شبیر احمد عثماني رحمه الله
فرمائي: د خوراک نه ... [illegible]
... [illegible] ... حیوانات ... [illegible]
نه هم ... [illegible] ... مطلب دا دے چه اله بے حاجته ذات وی . اللَّهُ الصَّمَدُ

د اخلاص . او دوی نو محتاج وو نو څنګه الٰهان شو . قُلْ اَتَعْبُدُوْنَ مِنْ ، شوروب تبلیغی مسئله . دوی ایا عبادت کوئ تاسو د هغه چه . واک اری نه دی تاسو ته د ضرر او نه د نفع . الوحی رحمه الله فرمائی چه مراد

اِنْ لَّمْ يَنْتَهُوْا عَمَّا يَقُوْلُوْنَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِيْنَ

که دوی منع نشو د هغه نه چه دوی وائی خامخا او رسیږی به هغو کسانو ته چه

كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٧٣﴾ اَفَلَا يَتُوْبُوْنَ

کفر ئے کړے د دوی نه عذاب دردناک . آیا پس دوی نه توبه نه وباسی

اِلَى اللّٰهِ وَيَسْتَغْفِرُوْنَهٗ ۚ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٧٤﴾

الله تعالٰی ته او بخښنه نه غواړی د هغه نه او الله تعالٰی بخښونکے مهربان دے .

مَا الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ مِنْ

نه دے مسیح ځوئے د مریم مګر رسول دے . یقیناً تیر شوی دی مخکښی

قَبْلِهِ الرُّسُلُ ۚ وَاُمُّهٗ صِدِّيْقَةٌ ۚ كَانَا يَاْكُلَانِ

د دوی نه ډیر رسولان او مور ئے ښځه رښتونې ده . دوی دواړه به خوړلو ئے

الطَّعَامَ ۗ اُنْظُرْ كَيْفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ الْاٰيٰتِ ثُمَّ انْظُرْ

طعام لره . او ګوره ته څنګه واضحی بیانوو دوی ته ایاتونه بیا وګوره

اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿٧٥﴾ قُلْ اَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

کوم ځائے ته اړولی شی دوی . ووایه آیا عبادت کوئ تاسو سیوا د الله تعالٰی نه

مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا ۚ وَاللّٰهُ هُوَ

د هغه چا چه واک نه لری تاسو ته د ضرر او نه د نفع . او الله تعالٰی خاص هغه

السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٧٦﴾ قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا

اوریدونکے پوهه دے . ووایه اے اهل کتابو ! زیاتے

تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ غَيْرَ الْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوْۤا

مکوئ په دین خپل کښی په غیر د حق نه . او تابعداری مکوئ

اَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوْا مِنْ قَبْلُ وَاَضَلُّوْا

د خواهشاتو د هغه قوم چه یقیناً ګمراه شوی مخکښی د دے نه او ګمراه کړی ئے دی

عِ ۱۱ كَثِيْرًا وَّضَلُّوْا عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴿٧٧﴾ لُعِنَ

ډیر خلق او ګمراه شوی دوی د سمے لارے نه . لعنت کړے شوے

(نوٹ : درمیانی متن کے ساتھ حاشیہ)

ترینه عیسٰی یا عیسٰی او وخته مور علیها السلام دی . نسخ ۲۰۶
لَا تَغْلُوْا : تجاوز مکوئ د حد نه . ۱ الرازی نسخ ۲۰۲ سورت نساء ۱۷۱ کښی هم ذکر شوی وو . قتاده رحمه الله فرمائی چه
لَا تَبْتَدِعُوْا : چه بدعت مکوئ . ۱ درمنثور نسخ ۲۰۲ . قَدْ ضَلُّوْا : چه بے لارے شوی دی اِنجیل نه . وَاَضَلُّوْا كَثِيْرًا
او ګمراه کړی دی ډیر ولره . وَضَلُّوْا : او خطا شوی دی د سمے لارے نه چه قرآن دے .
(اساس الدعوہ) شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل : ضَلُّوْا وَاَضَلُّوْا او ضَلُّوْا کے درے ځله ویلی دی .

عَلٰى لِسَانِ دَاوٗدَ : احاشیه د راتلونکی مخ کښی : په ژبه د داؤد علیه السلام . عراق وګوری وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ۵۲ د سورت وګوری . ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا : په بقره وګوری . كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ : او دوی چه یو بل به ئے نه منع کولو د بد کارونو نه چه هغوی به کولو . شیخ القرآن رحمه الله به دوران درس کښی تفسیر مدارک به لاس کښی راوچت کړو او د اعبارت به ئے بار بار ویلو . وفیه دلیل انه ... مدارک والا وائی چه په دیکښی

دلیل دے په وجے باندی . چه په پرېښودلو د نهی د منکر — د لوئے کارونو نه دی . پس اے افسوس په مسلمانانو باندی په اعراض کولو د دوی د هغه نه (مدارک) ماجدی ۲۶۶ هم وګوری . د ابوسعید خدری رضی الله عنه روایت دے

او دا چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي چه هغه تن چه د كعبه د حق وده ... د بادشاه د ظلم نه ... (ابن كثير)
مشكوة ﷺ كتاب ... لتجدن په دے آيت كښې ورته بندې د دشمنانو دده چه سخت په دشمنئ كښې
يهود دي او مشركان دي او په دوستئ كښې نصارى مؤمنو ته نزدے دي. فائده: د پښتو شيخ رحمة الله چه جواهر ... او قاضي ثناء الله رحمة الله په مظهري كښې د معالم التنزيل نه نقل كوي چه مراد په ټول نصارى نه دي لكه چه دوي په دشمنئ د مؤمنانو كښې يشان د يهودو دي چه ژړلو د دوي كښې مسلمانو لره او په قيدي كولو د دوي كښې او په وژلو د ښارونو د دوي كښې او په نړولو د جماتونو د دوي كښې او په سوزولو د قرآنونو د دوي كښې هيڅ كرامت نشته دوي لره بلكه آيت په هغه چا كښې دے چه اسلام ئے راوړے دے چه بعض د هغوي نه نجاشي او د هغه ملګري دي. قسيسين: قاموس كښې دي چه قسيسين رئيس د نصاراو دي په علم كښې. (مظهري) يعني لوئے لوئے عالمان او زاهدان دي.

لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ
لعنت كړے شو په هغه كسانو چه كفر ئے كړے دے د بني اسرائيلو نه په ژبه د
دَاوُۥدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُوا
داؤد او د عيسى ځوئے د مريم، دا په سبب د دے چه نافرماني كوله دوي او دوو دوي
يَعْتَدُونَ ۝٧٨ كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنكَرٍ فَعَلُوهُ
چه تجاوز ئے كولو حد نه ۝ دوو دوي چه يو بل به ئے منع كولو د هغه كار نه چه كولو دوي هغه لره
لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ۝٧٩ تَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ
خامخا ډير بد دے هغه كار چه دوي كولو ۝ وينے به ته ډيرو د دوي لره چه
يَتَوَلَّوْنَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ
دوستي كوي د هغه كسانو سره چه كفر ئے كړے، خامخا بد دے هغه عمل چه مخكښې كړے دے دوي لره
أَنفُسُهُمْ أَن سَخِطَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ
نفسونو د دوي چه غصه شوے الله تعالى په دوي باندي او په عذاب كښې به دوي
خَالِدُونَ ۝٨٠ وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالنَّبِيِّ وَمَآ
هميشه اوسيدونكي دي ۝ او كه چرته دوي چه ايمان لري په الله تعالى او په نبي او په هغه څه باندي
أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَآءَ وَلَٰكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ ۝٨١
چه نازل شوے دے هغه ته نو نه به ئے نيولي دوي لره دوستان ولكن ډير د دوي نه فاسقان دي ۝
لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَدَٰوَةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الْيَهُودَ وَ
خامخا بيا به مومي ته سخت د خلقو په دشمنئ كښې هغه كسانو لره چه ايمان ئے راوړے يهود او
الَّذِينَ أَشْرَكُوا وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ
هغه كسان چه شرك ئے كړے، او خامخا يقينا بيا به مومي ته نزدے د دوي په دوستئ كښې هغه كسانو لره
آمَنُوا الَّذِينَ قَالُوٓا إِنَّا نَصَارَىٰ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ
چه ايمان ئے راوړے هغه كسان چه وائي يقينا مونږ نصارى يو، دا په دے سبب چه يقينا بعض د دوي
قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ۝٨٢
نه عالمان دي او ډير د كونكي دي او يقينا دوي دان غټ نه كوي د حق نه.

الحمد لله په ٢٩ اپريل شپږمه پاره ختمه شوه، وخت ٨ بجے ... په روز شنبه په مقام ... سكونت. توحيد آباد. خاكي غفرله.
ونظرثاني هم د غلته په ١٦ ستمبر ٢٠٠٦ ختم شوه. توفيق الله تعالى ...

وَإِذَا سَمِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَى الرَّسُولِ تَرَىٰ
او کله چه واوري دوی هغه کتاب چه نازل شوے رسول ﷺ ته ، وبه وینې ته
أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوا مِنَ الْحَقِّ ۚ
سترګې د دوی چه وایږي به د اوښکو ، د وجې د دې چه پیژندلے دے دوی حق لره ،
يَقُولُونَ رَبَّنَا آمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ (۸۳) وَمَا
وائي دوی اے رب زموږه ! ایمان راوړے موږه ، پس ولیکه ته موږه د شاهدانو سره . او څه دي
لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَمَا جَاءَنَا مِنَ الْحَقِّ وَنَطْمَعُ
موږ لره چه ایمان نه راوړو په الله او په هغه څیز چه راغلے موږ ته د حق نه او طمع لرو ،
أَن يُدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصَّالِحِينَ (۸۴) فَأَثَابَهُمُ
چه داخل به کړي موږ لره رب زموږ ، سره د قوم نیکانو . پس بدله ورکړه دوی لره
اللَّهُ بِمَا قَالُوا جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ
الله په عوض د دې وینا د دوی ، باغونه چه بهیږي لاندې د هغوی نه نهرونه ، همیشه به وسیږي
فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْمُحْسِنِينَ (۸۵) وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَ
په هغوی کښې او دغه بدله ده د نیکی کونکو ده . او هغه کسان چه کفر یې کړے او
كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ (۸۶) يَا أَيُّهَا
دروغجن ګڼلي یې دي آیتونه زموږ ، دغه کسان خاوندان د دوزخ دي . اے
الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللَّهُ
ایمان والو ! مه حراموئ پاکیزه هغه څه چه حلال کړي الله تعالیٰ
لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ (۸۷) وَ
تاسو لره او زیاتے مه کوئ ، یقیناً الله تعالیٰ مینه نه ساتي د زیاتي کونکو سره . او
كُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ حَلَالًا طَيِّبًا ۚ وَاتَّقُوا
خورئ د هغه نه چه درکړي الله تعالیٰ حلال پاکیزه ، او وویریږئ د
اللَّهَ الَّذِي أَنتُم بِهِ مُؤْمِنُونَ (۸۸) لَا يُؤَاخِذُكُمُ
الله تعالیٰ هغه ذات نه چه تاسو په هغه ایمان لرونکي یئ . نه نیسي تاسو لره

ع ۱۱ — ربع — منزل ۲

تفیض: دا رے په وجه د اوښکو نه . دا نه دے مبالغه وکړه شوه سترګے دا رسے نه وهي بلکه اوښکے دا رسے وهي .
علامه قرطبي رحمه الله لیکي او دغه احوال د علماؤ دي زاري او بے خود کیږي په نه او سوالونه کوي او چیغه په نه وهي
او مخزن کیږي او خان په نه ورلی خښکه چه الله تعالیٰ فرمائي په سورة زمر ، سورة انفال کښې ... او
ماجدي ۲۹۶ هم ذکر وي . مَعَ
الشَّاهِدِينَ : یعنی سره د اُمت د
محمد ﷺ نه کوم چه ګواهي
کوي په حق باندې (خازن ۲۹۶/۱)
او له حصب په ... باندې په
بشارت او تخویف ختمه شوه .
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا : د دغه
نه دویمه حصه یا بالفاظ دیګر
تیسم باب شروع شو . په دې کښې
اعاده د ځلور وسلو کوي تحریمات
العباد په ... کښې ، تحریمات
الله په ۹۰ ، ۹۳ ، ۹۵ ، ۹۶ کښې ، نذر
لغیر الله په ... کښې ، نیازات الله
په ... کښې . شپږم ادب په لفظ د
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا سره په ۹۰
۹۳ ، ۹۵ ، ۱۰۱ ، ۱۰۵ ، ۱۰۶ . او نفی د
علم غیب د ماسوا نبیانو نه په
... او د عیسیٰ علیه السلام نه په ۱۱۶
کښې پس د ذکر کولو د نعمتونو نه
په هغه او هر کله چه قسم متضمن
دے په خبره لره چه په چا
قسم خوړلے شي هغه غیب دان
وي نو ذکر ئے کړو یوه واقعه چه
قسم به په الله تعالیٰ وي نه په بل چا
... په آخري آیت کښې دعوت
د توحید او نفی د شرک دے ۱۲۰ .
مسئله : د کوم حلال شي حرام
ګرځول په درے قسمه دي اعتقاداً
ئے حرام ګڼړي دا کفر دے . دویم
قولاً چه قسم ئے کړے وي نو
د قسم حکم پرې روان دے . دریم
اعتقاداً او عملاً نه وي خو تل عمر
ئے نه استعمالوي او دا ثواب ګڼړي
نو دا رهبانیت او ګناه ده او که د څه جسماني یا روحاني بیمارئ په وجه ئے نه استعمالوي نو دا پرهیز دے ګناه پکښې نشته .
د ګورئ ... انعام ، مائده ۱۰۵ ، حدید ۲۷ ، آل عمران ۹۳ . مفتي صاحب رحمه الله په معارف کښې په وضاحت سره
دا مسئله لیکلې ده .

لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ مطلب دا دے چہ کہ قسم سوګند کړے وی د غلا لوبو ، نو صرف نے کړی او کفاره ورکړے .

اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْ اَيْمَانِكُمْ وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا

الله په بیهوده قسمونو ستاسو کښی ، ولیکن نیسی تاسو لره په هغه

عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ فَكَفَّارَتُهٗۤ اِطْعَامُ عَشَرَةِ

چه ټینګ کړی تاسو قسمونو لره ، پس کفاره د دے خوراک ورکول دی لسو

مَسٰكِيْنَ مِنْ اَوْسَطِ مَا تُطْعِمُوْنَ اَهْلِيْكُمْ اَوْ

مسکینانو ته د مینځنی حال هغه چه ورکوئ تاسو اهل خپل ته ، او یا

كِسْوَتُهُمْ اَوْ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ ۭ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ

جامے ورکول دی او یا آزادول د مریی دی ، پس چا چه ونه موندو ، پس روژے د

ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ ۭ ذٰلِكَ كَفَّارَةُ اَيْمَانِكُمْ اِذَا حَلَفْتُمْ ۭ

دریو ورځو دی ، دا کفاره د قسمونو ستاسو ده ، کله چه قسمونه وکړی ،

وَاحْفَظُوْٓا اَيْمَانَكُمْ ۭ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ

او ساتئ تاسو قسمونه خپل ، دغسے بیانوی الله تاسو ته ایتونه خپل

لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝۸۹ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا الْخَمْرُ

د پاره د دے چه تاسو شکر وباسئ ، اے هغه کسانو چه ایمان ئے راوړے ، یقینا شراب پخښ

وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ وَالْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ

او جواری کول او هغه څیزونه د تعظیم او د فال لیکونو غشی ، پلیتی ده د

عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝۹۰ اِنَّمَا

عمل د شیطان نه ، پس ځان ترے ګرځئ د دے د پاره چه تاسو کامیاب شئ ، یقینا

يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّوْقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاۗءَ

اراده لری شیطان ، چه وغورزوی په مینځ ستاسو کښی دښمنی او ترکښی ،

فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَ

په شرابو او جوارۍ کښی او وګرځوی تاسو د یاد د الله نه ، او

عَنِ الصَّلٰوةِ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ ۝۹۱ وَاَطِيْعُوا

د مونځ نه ، پس ایا تاسو منع کیدونکی یئ ، او تابعداری وکړئ

لفظ ، ان په ، د ابن مسعود رضی الله عنه قرات دے متتابعات پوله چه پس مقید کیږی په دے مطلق ، دے قول کړے ابوحنیفه او ثوری رحمهما الله ، او د اکثر دوو قولونو د شافعی رحمه الله دے او د امام مالک رحمه الله خوره کړی ده ، ترمذی

وَاحْفَظُوْٓا اَيْمَانَكُمْ یعنی ساتئ قسمونه خپل ، لسفی رحمه الله فرمائی چه بری پاتے شئ په دغو کښی او غه نے ماتوی کله چه ماتول د قسم خوره نه وی اولیا دا چه قسمونه مه کوئ بالکل ، امر کړے دے . وَالْمَيْسِرُ په دیکښی د جوارئ ټول قسمونه داخل دی تر دے چه تیشان او غوزان او هغه چه وا ره ډیر ے لوبے کوی ، الکښ

فائده : په رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ کښی د دوو حالی او معنوی خرابو بیان دے او په اِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ کښی د دنیاوی او ظاهری مفاسدو بیان دے او په يَصُدَّكُمْ کښی د دینی بیان دے . فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ پس ایا یئ تاسو منع کیدونکی ؟ حدیث شریف کښی راځی ، د انس رضی الله عنه په روایت باندے چه زه ساقی د قوم وم په کور د

ابوطلحه کښی نو ما ته هغه ورسیده چه (شراب) وارده پس بهیدل به شراب په کوڅو د مدینے کښی ، بخاری

اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاحْذَرُوْا ۚ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ

د الله، او تابعداري وکړئ د رسول، او ځان ساتئ (د مخالفت نه)، پس که تاسو وګرځېدئ نو

فَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿٩٢﴾ لَيْسَ

پس پوهه شئ یقیناً په رسول زمونږ باندې رسول واضح دي. نشته

عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جُنَاحٌ فِيْمَا

په هغو کسانو چې ایمان ئې راوړے او عمل ئې کړی نیک، څه ګناه په هغه کې چې

طَعِمُوْٓا اِذَا مَا اتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

دوی خوړلي، کله چې ځان ئې ساتلے د شرک نه او ئې راوړے ایمان او عمل ئې کړی نیک،

ثُمَّ اتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا ثُمَّ اتَّقَوْا وَّاَحْسَنُوْا ۭ وَاللّٰهُ يُحِبُّ

بیا ئې ځان ساتلے او ایمان ئې راوړے بیا ئې ځان ساتلے او نیکي ئې کړې، او الله خوښوي

ع ٢ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٩٣﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللّٰهُ

نیکي کوونکي. اے ایمان والو! خامخا یقیناً امتحان به کوي ستاسو الله

بِشَيْءٍ مِّنَ الصَّيْدِ تَنَالُهٗٓ اَيْدِيْكُمْ وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ

په څه شي سره د ښکار نه، چې رسیږي هغه ته لاسونه ستاسو او نېزې ستاسو، د دې دپاره چې معلوم کړي

اللّٰهُ مَنْ يَّخَافُهٗ بِالْغَيْبِ ۚ فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ

الله، هغه څوک چې ویریږي د هغه نه په غیب سره، پس چا چې زیاتے وکړو، پس وروستو

ذٰلِكَ فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٩٤﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

د دې، پس د هغه دپاره عذاب دردناک دے. اے ایمان والو!

لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ۭ وَمَنْ قَتَلَهٗ مِنْكُمْ

مه وژنئ ښکار په داسې حال کې چې تاسو په احرام یئ، او چا چې مړ کړو ښکار له تاسو نه

مُّتَعَمِّدًا فَجَزَاۗءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ

په قصد سره، پس بدله په هغه د مثل د هغه چې قتل کړي دي د څارویو نه، فیصله به کوي

بِهٖ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ هَدْيًۢا بٰلِغَ الْكَعْبَةِ اَوْ

په هغه دوه څوک منصفان ستاسو نه، هدیه به وي رسیدونکې کعبې ته، او یا به

منزل ٢

لیس قال: دا دفع د یو سوال دے چې اوس چا چې مخکې شراب استعمال کړي څو بیا ئے توبه ایستلے نو څه حکم دے دې ولګه. اِتَّقَوْا لفظ درے ځله راغلے دے. علامه نسفی رحمه الله په مدارک کښ فرمائي: اِذَا مَا اتَّقَوْا: کله چې ځان ئې بچ کړی د شرک نه او ایمان ئې راوړے په الله تعالیٰ باندې او نیک عمل ئې کړی پس د ایمان نه او بیا ځان بچ کړي د شرابو او جوارۍ نه پس د حراموالي نه او ایمان راوړي په حرمت د دغو. بیا ځان وساتي د باقي محرماتو نه. او یا د اولے تقوی نه ځان ساتل د شرک نه او په دویم کښ د محرماتو نه او په دریم کښ د شبهاتو نه. وَاَحْسَنُوْا: او نیکي کوي د خلقو سره. يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا: په دے ایت کښ علت د تعظیم د شعائر الله دے. (سعد الدرر) یعنی د ښکار منع الله تعالیٰ ځکه اوګرځوله چې الله تعالیٰ له د غیب دان معلوم شي چې څوک ویریږي چې هرځائے کښ حاضر ناظر دے او د هغه د اطاعت نه ثواب او د هغه د مخالفت نه عذاب راځي. (جواهر ص٩٢٠٩٢ ج١)

فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ: پس لازم دے په ده باندې جزاء په مثل د هغه په وی چې د وژلي دی د ښکار نه چې هغه قیمت د هغه دے چې په کوم ځائے کښ ښکار شوے وي (مدارک ص٢٣٠) مثل بدل د جزاء نه دے. او مِنَ النَّعَمِ د مَا قَتَلَ بیان دے (جواهر ص٣٥١) بیا اختیار مونږ دے که قربانی پرې اخلي او که فدیه تقسیموي او که روژے نیسي. د شاه پور شیخ رحمه الله فرمائي چا چې په احرام کښ ښکار وکړو نو د هغه په قیمت به څاروے واخلي هدیه به ئے کړي د حرم شریف یا به په دغه قیمت غنم واخلي او نیم نیم اوګے به په غریبانو تقسیم کړي یا به د هر نیم اوګي په بدله کښ روژه ونیسي او که غنم د نیم اوګي نه زیات وي نو هغه به خیرات کړي یا به روژه ونیسي د هغه په بدله کښ. (افضل التراجم ص١٦١)

وَمَنْ عَادَ : او څوک چې راوګرځي او قتل د ښکار ته بیا وکړي نو دا به په وخت د احرام کښې ...
صَيْدُ الْبَحْرِ : ښکار د درياب که خوړل کېږي او که نه - وَطَعَامُهٗ او هغه چې خوړلے کېږي د ښکار د ...

كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسٰكِيْنَ اَوْ عَدْلُ ذٰلِكَ صِيَامًا
کفاره دي، خوراک د مسکینانو، او یا برابر د دے، روژے دي،
لِّيَذُوْقَ وَبَالَ اَمْرِهٖ ؕ عَفَا اللّٰهُ عَمَّا سَلَفَ ؕ وَ
چې وڅکي سزا د کار خپل، عفوه کړے الله د هغه نه چې تېر شوي دي، او
مَنْ عَادَ فَيَنْتَقِمُ اللّٰهُ مِنْهُ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ﴿۹۵﴾
څوک چې راوګرځي ... نو بدله به واخلي الله د هغه نه، او الله زورور دے ...
اُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهٗ مَتَاعًا لَّكُمْ وَ
حلال کړے شوے تاسو ته ښکار د درياب او خوراک د هغه، نفع دپاره ستاسو، او د
لِلسَّيَّارَةِ ۚ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا ؕ
قافلو والو دپاره، او حرام کړے شوے په تاسو ښکار د وچې، څو چې یئ تاسو محرمان،
وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۹۶﴾ جَعَلَ اللّٰهُ
او ووېرېږئ د الله نه هغه ذات چې هغه ته به جمع کړے شئ. مقرر کړے الله د
الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيٰمًا لِّلنَّاسِ وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ
کعبه ... کور ... عزتمند، سبب د قیام د خلقو، او میاشت عزتمنده،
وَالْهَدْيَ وَالْقَلَآئِدَ ؕ ذٰلِكَ لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ
او قرباني، او ګړوالا، دا د دے دپاره چې یقین پوهه شئ تاسو چې یقیناً الله
يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَاَنَّ اللّٰهَ
پوهېږي په هغه چې په اسمانونو کښې دي او هغه چې په زمکه کښې دي، او یقیناً الله
بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۹۷﴾ اِعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ
په هر شي باندې پوهه دے. پوهه شئ چې یقیناً الله سخت
الْعِقَابِ وَاَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۹۸﴾ مَا عَلَى الرَّسُوْلِ
عذاب والا دے، او یقیناً الله بخښونکے مهربانه دے. نشته په رسول باندې
اِلَّا الْبَلٰغُ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا تَكْتُمُوْنَ ﴿۹۹﴾
مګر رسول دي، او الله تعالى پوهېږي په هغه چې تاسو ښکاره کوئ او په هغه چې تاسو پټ کوئ.

نه. (معارف ۳/۲۳۸) قاضي ابوالسعود رحمه الله په تفسیر کښې لیکي چې دا تخصیص دے پس د تعمیم نه. جَعَلَ اللّٰهُ : په دے ایت کریمه کښې د زیارات الله بیان دے. قِيٰمًا : یعنی صلاحیت او معاش د امن د خلقو د پاره دے. (قرطبي ۶/۳۲۳) په بحر محیط ۴/۲۵ کښې دي چې کله چې خلقو حرم ته کوځے پرېښودو نو مهلت به ورله ورنکړے شي او نه به روستو کړے شي. (معارف ۳/۲۳۸)
اِعْلَمُوْٓا : په دے ایت کریمه کښې تخویف او بشارت دے.
مَا عَلَى الرَّسُوْلِ : نشته په رسول علیه السلام باندې مګر رسول. بابا سعدي رحمه الله فرمائي :
بر رسولان بلاغ باشد وبس
چې په پیغمبرانو رسول دي فقط. وګورئ یس ۱۷، نحل ۸۲، نور ۵۴.
قُلْ لَّا يَسْتَوِي الْخَبِيْثُ : اشاره د راتلونکي ته یعنی حلال او حرام. (قرطبي ۶/۳۲۷) — شاه صاحب رحمه الله فرمائي په فتح الرحمن کښې یعنی مال حرام او مال حلال برابر نه دي اګرچه حرام ډېر جمع شي. (الهام) تهانوي رحمه الله په مسائل السلوک ۱۷۱ کښې فرمائي: په دې کښې نه دهوکه کېدل دي په ډېروالي د ممنوعو په مقابله د اصل حقائقو کښې. يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا : په دے ایت کریمه کښې تادیب دے. جواهر ۲/۳۵ کښې

دي چه دَ ما قبل سره ئے ربط داد ے چه کله دَ مسئلے دَ توحید اصول او مبادي بیا نولے شي نو دغه وخت کښ دَ دواسے جزئي مسائلو تپوس مکوئ - معارف ۲/۳ کښ دلته شرح ده . لیکي چه : دَ بے ضرورته سوالونو ولو احعرا .

قُلْ لَّا يَسْتَوِي الْخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوْ أَعْجَبَكَ
او وايه نه دي برابر پلیت او پاک اګرچه تعجب کښ اچوي تا را
كَثْرَةُ الْخَبِيثِ ۚ فَاتَّقُوا اللَّهَ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ
ډیروالے دَ ناپاکو پس ویریږئ دَ الله تعالیٰ نه اے خاوندانو دَ خالصو عقلونو دپاره دَ دے چه
تُفْلِحُونَ ﴿١٠٠﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ
کامیاب شئ. اے ایمان والو سوال مکوئ دَ داسے شیونو
إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ وَإِنْ تَسْأَلُوا عَنْهَا حِينَ يُنَزَّلُ
که ښکاره شي تاسو ته رنجور به کړي دغه تاسو خفه کړي به تاسو او که تپوس وکړئ دَ دغو په باره کښ کله چه نازلیږي
الْقُرْآنُ تُبْدَ لَكُمْ ۖ عَفَا اللَّهُ عَنْهَا ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ
قرآن ، ښکاره به کړے شي تاسو ته جواب ، معاف کړي الله دغه ، او الله بخښونکے
حَلِيمٌ ﴿١٠١﴾ قَدْ سَأَلَهَا قَوْمٌ مِنْ قَبْلِكُمْ ثُمَّ أَصْبَحُوا
صابر دے . یقیناً تپوس کړو دَ داسے شیونو یو قوم مخکښ ستا سو نه بیا وګرزیدل دغوی
بِهَا كَافِرِينَ ﴿١٠٢﴾ مَا جَعَلَ اللَّهُ مِنْ بَحِيرَةٍ وَلَا سَائِبَةٍ
په سبب دَ دغو کافران . نه دي مقرر کړي الله تعالیٰ غوږ پرې کړے شوے او نه ازاد کړے شوے
وَلَا وَصِيلَةٍ وَلَا حَامٍ ۙ وَلَٰكِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا
او نه پیوسته کړے شوے او نه بچ ساتلے ، ولیکن هغه کسان چه کفر ئے کړے
يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ ۖ وَأَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿١٠٣﴾
تړي په الله تعالیٰ باندے دروغونه ، او زیات دَ دوی نه پوهیږي .
وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَإِلَى
او کله چه ووئیلے شي دوی ته راشئ هغه ته چه نازل کړے الله او راشئ
الرَّسُولِ قَالُوا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا ۚ
رسول دَ هغه ته وائي دوی کافي دي موږ لره هغه چه موندلي دي موږ په هغه پلاران خپل
أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ شَيْئًا وَلَا
اګرچه وو پلاران دَ دوی چه نه پوهیدل په هیڅ شي ، او نه دي

نه مبالغت؛ حِيْنَ يُنَزَّلُ الْقُرْآنُ: چه کله نازلیږي قرآن نو ښکاره به کړے شي تا سو ته جواب دَ هغه " معارف ۲/۳" کښ په دے خائے لیکلي چه نبي ﷺ نه بعد دَ نبوت او دَ وحي سلسله ختمه ده . قَدْ سَأَلَهَا : الله تعالیٰ رحمته لیکي چه یقیناً تپوس کړے دَ دغه قدرے په امثالو باندي یو قوم مخکښ ستاسو نه . (انهر ۲/۱۶۲) مطلب دا چه دَ یهودو او نصارا او پیشان بے ځایه او بے ضرورته تپوسونه مکوئ . وګورئ ۱۳۸ مائده، ۵۵ بقره . مَا جَعَلَ اللّٰهُ: په دے ایت کښ دَ څلورو خاصو تحریماتو دَ دوی رد دے چه مخلوط دَ نذر دَ غیرالله سره هم دي . بَحِیرَة : چه ټي به ئے وقف شوي دَ تقرب دَ غیرالله دپاره . دَ دے اوښے غوږونه څیرے کړے دَ علامے دپاره . سائبه : دَ غیرالله په نوم به کلاوَ ازاده شوه دغه اوښه . وصيلة : کومے اوښے به چه لسم بچي راوړل نو هغه به ئے دَ غیرالله په نوم ازاده کړه . حامٍ : کوم اوښ چه به لس اوښے بلاربے کړے نو هغه به کافرو دَ غیرالله په نوم ازاد کړو . (افضل التراجم ۲/۲۳۸) وَاِذَا قِیْلَ : په دے ایت کریمه کښ دَ مشرکانو دَ زور دلیل رد دے . بقره ۱۷۰ کښ هم تیرشوي دي . اَوَلَوْ کَانَ : ایا تابعداري کوي دوی دَ پلارانو خپلو اګرچه دي پلاران دَ دوی چه نه پوهیږي

په هیڅ شي باندے او نه دي لارموندونکي . امام رازي رحمته الله په دَ دے ایت کریمه باندے لیکلي دي چه پوهه شه چه اقتداء یقیناً جائز ده په عالم مهتدي پسے او عالم مهتدي هغه دے چه قول ئے بناء وي په حجت او دلیل باندے ، او کله چه داسے نه وي نو عالم مهتدي نه دے . پس واجب دي چه جائز نشي اقتداء په دغه پسے . (کبیر ۱۲/۱۱) +

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا الخ (١٠٥) : دا ايت مشكل دے ځكه چه ظاهر كښ داسے ښه معلوميږي چه كله تاسے په هدايت يئ نو بيا لاړے كسان تاسو ته څه ضرر نشي رسولے حالانكه تبليغ ضروري دے نو ځكه بيا ئے په خپل هدايت نشي خلاصيدے. حل د اشكال: امام رازي رحمه الله په كبير كښ او ابوبكر رازي رحمه الله په مسائل كښ او نورو مفسرينو اشكال حل كړے دے. حاصل ئے دا دے چه دا ويرتاكيدي ايت دے په وجوب د امر بالمعروف او نهي عن المنكر باندې. او عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ معنى دا ده چه لازم دے پتاسو بچاؤ د خپلو اهل دينو خلقو چه وعظ به كوي بعض بعضو ته او ترغيب به دركوي بعض بعضو ته په نيكئ او نفرت به دركوي د بدو څخه ارتيا تو نه. او د لَا يَضُرُّكُمْ الخ مطلب دا دے چه تاسے ته ضرر نشي رسولے هغه خلك چه ګمراه شوے وي كله چه تاسے په هدايت باندې وئ او پوره مو كړه فريضه د امر بالمعروف او نهي عن المنكر. (ابن جرير بحواله ... الخ)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ الخ : شان نزول
د دے ايت مذكوره د نزول واقعه دا ده چه يو سړے بديل نوم چه مسلمان وو، د دوو سړو تميم او عدي سره چه دغه وخت كښ عيسايان وو، د تجارت په غرض د شام ملك طرف ته لاړه. شام ته چه ورسيده نو بديل بيمار شو، دوئ د خپل مال فهرست وليكه او سامان كښ كيخودو او خپلو دوارو ملګرو ته ئے اطلاع ونكړه. مرض ئے چه زيات شو نو دغه دوارو نصرانيانو ملګرو ته ئے وصيت وكړو چه ټول سامان په ما وارثانو ته ورسوئ. (معارف القرآن) ... فَيُقْسِمَانِ بِاللَّهِ مقصود دي ...

يَهْتَدُونَ (١٠٤) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لَا
لاره موندونكي. اے ايمان دارو! لازم دي پتاسو بچ د خپلو نفسو، ضرر
يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ
نه رسوي تاسو ته هغه څوك چه ګمراه شو كله چه تاسو هدايت يئ، خاص الله ته واپسي ستاسو د
جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ (١٠٥) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ
ټولو ده، پس خبر به دركړي تاسو ته په هغه څه چه تاسے كوئ. اے ايمان والو!
آمَنُوا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ
شهادت په مينځ ستاسو كښ، كله چه نزدے شي يو ستاسو ته مرګ،
حِينَ الْوَصِيَّةِ اثْنَانِ ذَوَا عَدْلٍ مِنْكُمْ أَوْ آخَرَانِ
په وخت د وصيت كولو كښ ګواهي د دوو كسانو، خاوندان د انصاف ستاسو نه، او يا نور دوه تنه
مِنْ غَيْرِكُمْ إِنْ أَنْتُمْ ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَأَصَابَتْكُمْ
بے ستاسو نه، كه چرے تاسو سفر كولو په زمكه كښ، پس ورسيده تاسے ته
مُصِيبَةُ الْمَوْتِ تَحْبِسُونَهُمَا مِنْ بَعْدِ الصَّلَاةِ
مصيبت د مرګ، منعه به وي هغه دواړه، پس د مانځه نه
فَيُقْسِمَانِ بِاللَّهِ إِنِ ارْتَبْتُمْ لَا نَشْتَرِي بِهِ ثَمَنًا
پس قسم به كوي دواړه په الله كه شك كوئ تاسے چه نه اخلو موږ په دې څه عوض
وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَى وَلَا نَكْتُمُ شَهَادَةَ اللَّهِ إِنَّا
اګر كه وي خاوند د خپلوئ، او نه پټوو موږ ګواهي د الله، يقيناً موږ
إِذًا لَمِنَ الْآثِمِينَ (١٠٦) فَإِنْ عُثِرَ عَلَى أَنَّهُمَا
په دغه وخت كښ د ګناهګارو نه شو. كه خبر دار شوے د چه يقيناً دغه دواړه
اسْتَحَقَّا إِثْمًا فَآخَرَانِ يَقُومَانِ مَقَامَهُمَا
كړے ده ګناه، پس نور دوه كسان به ودريږي په ځائے د دغو دواړو،
مِنَ الَّذِينَ اسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْأَوْلَيَانِ
د هغه كسانو چه دعوي د حق شوے په هغوي باندې، چه نزدے وي مړي ته

(جزء الحديث)، لَا نَشْتَرِي بِهِ : چه نه اخلو په دے قسم. وَلَوْ كَانَ : اګر كه وي هغه څوك چه د چا د پاره قسم كوو. اسْتَحَقَّا : چه فعل د ګناه ئے كړے. فَآخَرَانِ : پس نور دوه ګواهان. اسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ : چه استحقاق د ثبوت كړے ... الْأَوْلَيَانِ : چه لائق دي په ګواهئ باندې د وجه د خپلوئ نه. (مدارك ص ٣٠٤ ج ١)

يَوْمَ يَجْمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ: كله چه را جمع كړي الله تعالىٰ رسولان — قَالُوْا لَا عِلْمَ لَنَا: وائي دوى نشته علم موږ ته لره. بعض وائي چه رسولان عليهم السلام به دا د وېرې د وجې او د هيبت نه وائي خو

فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ لَشَهَادَتُنَآ اَحَقُّ مِنْ شَهَادَتِهِمَا

پس قسم دې وکړي دوى په الله چې يقيناً ګواهي زموږ ډېره حقه ده له ګواهۍ د هغوى نه،

وَمَا اعْتَدَيْنَآ ۖ اِنَّآ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٠٧﴾ ذٰلِكَ اَدْنٰٓى

او زياتے نه دے کړے موږ، يقيناً موږ به په دې وخت کښې له ظالمانو نه شو. دا طريقه ډېره نزدې ده

اَنْ يَّاْتُوْا بِالشَّهَادَةِ عَلٰى وَجْهِهَآ اَوْ يَخَافُوْٓا اَنْ

چې راوړي به دوى ګواهي په طريقه د هغې سره، او يا به ووېرېږي چې

تُرَدَّ اَيْمَانٌۢ بَعْدَ اَيْمَانِهِمْ ۭ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاسْمَعُوْا ۭ

واپس به شي قسمونه پس د قسمونو د دوى نه، او ووېرېږئ د الله نه، او واورئ،

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿١٠٨﴾ يَوْمَ يَجْمَعُ

او الله تعالىٰ توفيق د هدايت نه ورکوي قوم فاسق ګوکوره، کله چه را جمع کړي

اللّٰهُ الرُّسُلَ فَيَقُوْلُ مَاذَآ اُجِبْتُمْ ۭ قَالُوْا لَا عِلْمَ

الله تعالىٰ رسولان، پس وبه وائي څه جواب درکړے شو تاسو ته، وبه وائي دوى: نشته پوهه

لَنَا ۭ اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿١٠٩﴾ اِذْ قَالَ اللّٰهُ

موږ ته، يقيناً همدا ته ښه پوهه يې په غيبو باندې. کله چه ووائي الله تعالىٰ:

يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِىْ عَلَيْكَ وَعَلٰى

اے عيسىٰ ځويه د مريمې! ياد کړه نعمت زما چه په تا باندې دے او په

وَالِدَتِكَ ۘ اِذْ اَيَّدْتُّكَ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ۣ تُكَلِّمُ

مور باندې ستا، کله چه مضبوط کړے ما ته په روح پاک سره، خبرې به دې کولے

النَّاسَ فِى الْمَهْدِ وَكَهْلًا ۚ وَاِذْ عَلَّمْتُكَ

خلقو سره په زانګو کښې او په عمر کښې، او کله چه ما ښودلو تا ته

الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ۚ وَاِذْ

کتاب (قرآن) او حکمت (سنت) او تورات او انجيل لره، او کله چه

تَخْلُقُ مِنَ الطِّيْنِ كَهَيْـَٔةِ الطَّيْرِ بِاِذْنِىْ

جوړولو تا د خټې نه پشان د شکل د مرغۍ په حکم زما،

دا خبره د سورت انبياء ٢١ نه خلاف ده بلکه مفسرين رحمهم الله فرمائي چه يقيناً موږ خبر يو په ظاهره باندې، نشته علم موږ لره په باطن د هغه (ابن كثير ٢/١٣٠) (٢) او نه پوهېږو په هغه څه چه دوى نه وروستو پس د وفات زموږ شوي دي. (كبير ١٢/١٢٣)

(٣) نشته علم موږ لره په اخلاص د قوم زموږ.

(٤) او يا په هغه څه چه ايجاد كړي دي پس زموږ نه. (مدارك ١/٣٠٥)

اِذْ قَالَ: د عامو رسولانو نه بعد د عيسىٰ عليه السلام نه نفى د علم غيب كوي خو اول پرې خپل نعمتونه ذكر كوي او د ځينو معجزاتو چه هغوى لره ئے وركړي وو.

بِاِذْنِىْ: كښې اشاره ده چه دا معجزات د الله تعالىٰ په حكم او اذن وو، د عيسىٰ عليه السلام په اختيار كښې نه وو. سورة آل عمران ٤٩ كښې هم بِاِذْنِ اللّٰهِ بار بار ذكر دى.

فَتَنفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِي وَتُبْرِئُ

پس پو به کړې ته په دغې کښې پس کیده به مرغئ په اذن زما، او جوړ ولو به دې

الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ بِإِذْنِي وَإِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتَىٰ

مورزادي روند او برګي لره په حکم زما، او کله چه راویستو دې (زیګې) مړو لره

بِإِذْنِي وَإِذْ كَفَفْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَنكَ إِذْ

په حکم زما، او کله چه منعه کړه ما بني اسرائيل له ستا نه، کله چه

جِئْتَهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ

راغلې دوی ته ته په واضحو دلائلو باندې، پس ووېل هغه کسانو چه کفر کړې وو دوی نه

إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿١١٠﴾ وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى

یقیناً نه دې دا، مګر جادو ښکاره. او کله چه زړونو کښې واچوله ما

الْحَوَارِيِّينَ أَنْ آمِنُوا بِي وَبِرَسُولِي قَالُوا آمَنَّا

حواریونو ته، چه ایمان راوړئ په ما او په رسول زما، دوی ووېل ایمان راوړو مونږ

وَاشْهَدْ بِأَنَّنَا مُسْلِمُونَ ﴿١١١﴾ إِذْ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ

او ګواه شه په دې چه یقیناً مونږ مسلمانان یو. کله چه ووېل حواریونو

يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ هَلْ يَسْتَطِيعُ رَبُّكَ أَنْ

اے عیسیٰ حوئے د مریم، ایا وبه کړي رب ستا، چه

يُنَزِّلَ عَلَيْنَا مَائِدَةً مِّنَ السَّمَاءِ قَالَ اتَّقُوا

راولیږي په مونږ باندې خوانچه د اسمان نه، ووېل عیسیٰ، ووېرېږئ

اللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١١٢﴾ قَالُوا نُرِيدُ أَنْ

د الله نه که چرې یاست ایمان راوړونکي. ووېل دوی، اراده لرو چه

نَّأْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَئِنَّ قُلُوبُنَا وَنَعْلَمَ أَن قَدْ

خوراک وکړو د هغې نه او مطمئن شي زړونه زمونږ او وبه پوهه شو چه تا رښتیا

صَدَقْتَنَا وَنَكُونَ عَلَيْهَا مِنَ الشَّاهِدِينَ ﴿١١٣﴾ الربع

ویلي دي مونږ ته، او شو مونږ په هغې باندې د ګواهي کوونکو نه.

أَوْحَيْتُ، د وحی نه مراد الهام دے یعنی په زړه کښې مې ورته واچول. نحل ۶۸، قصص ۷ وګورئ. إِلَى الْحَوَارِيِّينَ: د حواریونو معنیٰ سورة آل عمران ۵۲ لاندې ذکر شوے ده. هَلْ يَسْتَطِيعُ ایا وبه کړي رب ستا. وګورئ تسهیل ۱۹۳. مَائِدَةً

فائده: شیخ الهند رحمه الله معنیٰ کړی ده شوے دسترخوان. اندلسي رحمه الله په النهر الماد ۶۳۳ کښې لیکي چه واقعه دسترخوان دے چه په هغه باندې طعام وي او چه طعام پرې نه وي نو مائده نه ده. په ایت ۱۱۴ کښې دعاء د عیسیٰ علیه السلام ده او په ۱۱۵ کښې تخویف دے نا شکرئ کوونکو ته.

⁂ ⁂ ⁂

عِيدًا لِأَوَّلِنَا: اختر او خوشالي او اختر موږ لره او زمونږ موږ لره او ... وَقَدْ شَأْنُهُ إِنِّي مُنَزِّلُهَا: يعني خدائے رالېږي ولکې
هم۔ اختلاف کړے علماء په مائده کښې چه نازل شوے وه او که نه؟ اصحیح او د جمهورو قول دا دے چه نازله

قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا أَنزِلْ عَلَيْنَا

اووئيل عيسىٰ ځوئے د مريم: اے الله ربه زمونږ! نازل کړه په مونږ

مَائِدَةً مِّنَ السَّمَاءِ تَكُونُ لَنَا عِيدًا لِّأَوَّلِنَا وَآخِرِنَا

خوان د آسمانه، چه شي زمونږ د پاره اختر، د اولنو زمونږ او د وروستنو زمونږ

وَآيَةً مِّنكَ ۖ وَارْزُقْنَا وَأَنتَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿١١٤﴾ قَالَ

او نښه وي ستا د طرف نه، او رزق راکړه مونږ ته، او ته غوره د رزق ورکونکو يې۔ وفرمايل

اللَّهُ إِنِّي مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ ۖ فَمَن يَكْفُرْ بَعْدُ مِنكُمْ فَإِنِّي

الله: بېشکه زه نازلوونکے يم دا په تاسو، پس چا چه کفر وکړو ورستو ستاسو نه پس يقيناً

أُعَذِّبُهُ عَذَابًا لَّا أُعَذِّبُهُ أَحَدًا مِّنَ الْعَالَمِينَ ﴿١١٥﴾

زه به عذاب ورکړم هغه ته عذاب چه نه به يې ورکوم هيچا ته د خلقو نه۔

ع ٥

وَإِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ أَأَنتَ قُلْتَ

او کله چه ووئيل الله تعالىٰ: اے عيسىٰ ځويه د مريم! آيا تا ووئيل

لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيْنِ مِن دُونِ اللَّهِ ۖ

خلقو ته چه ونيسئ ما او مور زما دوه معبودان سيوا د الله تعالىٰ نه

قَالَ سُبْحَانَكَ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أَقُولَ مَا لَيْسَ

ووائي: پاکي ده تا لره، نه دي مناسب ما لره چه ووايم هغه چه نه دي

لِي بِحَقٍّ ۚ إِن كُنتُ قُلْتُهُ فَقَدْ عَلِمْتَهُ ۚ تَعْلَمُ

ما لره حق۔ که چرته ما ووئيلي وي دا نو يقيناً تا ته به معلوم وي، ته پوهيږې

مَا فِي نَفْسِي وَلَا أَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِكَ ۚ إِنَّكَ

په هغه چه زما په زړه کښې دي او زه نه پوهيږم په هغه چه ستا په ذات کښې دي۔ يقيناً

أَنتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴿١١٦﴾ مَا قُلْتُ لَهُمْ إِلَّا مَا

ته ښه پوهېدونکے د غيبونو يې۔ ما نه دي ويلي دوي ته، مګر هغه چه

أَمَرْتَنِي بِهِ أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ ۚ

تا امر کړے په هغه، چه بندګي وکړئ د الله، چه رب زما او رب ستاسو دے۔

منزل ٢

شوے وه۔ وګورئ ترمذي ٢/١٣٣، کبير، مدارک، ابن کثير، روح، السراج المنير۔ د ترمذي شريف په حديث کښې دي چه مائده به نازليدله د آسمان نه ورو ډوډۍ او غوښه او دوي ته امر و شوے چه خيانت به نکوئ او نه د صبا د پاره به ذخيره کوئ نو دوي خيانت وکړو او ذخيره ئے کړه او بيرته ئے کړو د صبا د پاره نو مسخ شو شادو ګانو او خنزيران (ترمذي ٢/١٣٣ کتاب التفسير)

وَإِذْ قَالَ: د دے نه ځائے نه نفي د علم غيب دلالة د عيسىٰ عليه السلام نه او تفصيلي دليل دے۔ د مفسرينو شيخ رحمه الله فرمائي د قيامت په ورځ به الله تعالىٰ عيسىٰ عليه السلام د خپلو نصرانو تنبيهه لوله بعد د هغوي نه د اصل سوال پوښتنه وکړي چه تا خلقو ته ويلي دي؟ او مطلب ځواب عيسىٰ عليه السلام به په ډير تفصيل ئے راوړان دے۔ سُبْحَانَكَ: پاکي ده الله تعالىٰ لره۔ مَا يَكُونُ لِي: وګورئ آل عمران ٧٩، انبياء ٢٩۔ وَلَا أَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِكَ: او زه نه پوهيږم په هغه چه ستا په ذات کښې دي معنىٰ دا شوه چه ته پوهيږې خما په معلوم باندې او زه نه پوهيږم ستا په معلومو باندې۔ وَكُنتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا: (١) راتلونکي مخ ته ستره مسئله (٢) حديث کښې راځي د ابن عباس رضي الله عنهما نه چه بيان وکړو رسول الله صلى الله عليه وسلم پس وئے

فرمايل: اے خلقو! يقيناً تاسو به راجمع کړے شئ الله تعالىٰ ته پښې ابلغه، ناسنتنه۔ بيا ئے وفرمايل: كَمَا
بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُ ۚ وَعْدًا عَلَيْنَا ۚ إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ (الانبياء) بيا ئے وفرمايل چه اول د خلقو نه چه جامې به
اغوستلي شي ابراهيم عليه السلام به وي۔ خبردار! رابه وستلي شي څه سړي د امت زما نو پس وبه نيولي شي د طرف

ځینې طرفته پس ځه به اووایم اے ربه! دا خو ملګري دي. پس راته به ووییلے شي چه یقیناً ته نه پوهیږې چه څه ځه
وبجا ګړي وو وي ستا نه پس. نو زه به هم دغسې ووایم څنګه چه نیک بنده عیسیٰ ؑ ویلي دي وَكُنتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا [illegible] پس ووییلے شي چه یقیناً دا
همیشه د ګرزیدو ونکي په پوندو خپلو د هغه وخت نه چه ته ترې نه جدا شوے. (بخاري [illegible] - ونوري مشکوٰة [illegible])

وَكُنتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَّا دُمْتُ فِيهِمْ ۖ فَلَمَّا

او وم زه په دوی باندې ګواه (څارونکے) ترهغه پورې چه وم زه په دوی کښې، پس هرکله چه

تَوَفَّيْتَنِي كُنتَ أَنتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ ۚ وَأَنتَ عَلَىٰ

تا واخستم، نو وې ته هم نګران په دوی باندې، او ته په هر

كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿١١٧﴾ إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۖ وَ

شي باندې ګواه یې. که عذاب ورکړې دوی ته پس دوی ستا بندګان دي، او

إِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١١٨﴾

که بخښنه کوې دوی ته پس یقیناً ته زور اور، حکمت والا یې.

قَالَ اللَّهُ هَٰذَا يَوْمُ يَنفَعُ الصَّادِقِينَ صِدْقُهُمْ ۚ

وبه وائي الله ﷻ دا ورځ ده چه فائده به ورکړي رښتیا ویونکو ته رښتیا د هغوی

لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ

خاص دوی له باغونه دي چه بهیږي لاندې د هغوی نه ویالې، همیشه به وسیږي

فِيهَا أَبَدًا ۚ رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ۚ ذَٰلِكَ

په هغوی کښې تل تر تله. راضي شوي الله ﷻ له دوی نه او دوی راضي وي د هغه نه، دغه

الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿١١٩﴾ لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

کامیابي لویه ده. خاص الله ﷻ لره بادشاهي ده د اسمانونو، او د زمکې

وَمَا فِيهِنَّ ۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٢٠﴾

او هغه چه په دغو کښې دي، او هغه په هر شي باندې، قدرت والا دے.

سُورَةُ الْأَنْعَامِ ٦ — مَكِّيَّةٌ ٥٥ — آيَاتُهَا ١٦٥ — رُكُوعَاتُهَا ٢٠

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ

هر صفت خاص ثابت دے الله ﷻ لره هغه ذات چه پیدا کړي یې اسمانونه او زمکه،

وَجَعَلَ الظُّلُمَاتِ وَالنُّورَ ۖ ثُمَّ الَّذِينَ كَفَرُوا

او پیدا کړي یې تیارې او رڼا، بیا هغه کسان چه کفر یې کړے،

ابن کثیر [illegible]، قرطبي [illegible]، درمنثور
[illegible] - إِن تُعَذِّبْهُمْ: روح المعاني
کښې دي چه هرچا ته عذاب ورکوے شي
هغه ته پیوسته کیږي. ستا پورې چه
عذاب ورکولو د دوی ځنې اعتراض
کولے نه شي دا ستا مطلق حق دے. وَإِن تَغْفِرْ
لَهُمْ: او که بخښنه کوې دوی ته
نه پیوسته کیږي، ستا په څه عاجزي
ځکه چه ته قوي غالب یې (روح ج ٧)
يَنفَعُ الصَّادِقِينَ: وبه فرمائي الله
چه دا ورځ ده چه فائده به
ورکړي رښتونو ته رښتیا د دوی
د ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دے
چه فائده به ورکړي موحدینو ته
توحید د هغوی. (ابن کثیر [illegible]
درمنثور [illegible]) شیخ القرآن رحمه الله
په هم دا معنیٰ کوي. (١) اثبات
اجتباء زات ساتنه [illegible] تشریع
غلو او مسلو (٢) کفاره د قسم [illegible]
(٣) ذکر د بحیره، سائبه، وصیله او
حام [illegible] (٤) واقعه د دوو خائنو
د دوه طبقو [illegible] (٥) اعلان د
پوره والي د دین [illegible]، او نور هم شته
دے.

سُورَةُ الْأَنْعَامِ:

وجه د تسمیه ئے دا ده چه په دې کښې
لفظ د انعام شپږ ځله [illegible] ذکر
دے. دعوے: رد د شرک
اعتقادي او فعلي، رد د شرك في
التصرف، [illegible]
رد د شرك في العلم، [illegible]
[illegible] - رد د شرك في العبادة، [illegible]
[illegible] - رد د شرك في الدعاء:
[illegible] - رد د مشرکینو
بالعباد الصالحین [illegible] بالكواكب
[illegible] بالملائكة [illegible] بالجن [illegible]
رد د تحریمات العباد [illegible] - رد د نذر لغیر الله [illegible] -

اجمالي خلاصه: دا سورت دوه حصے دے. اوله تر [illegible] پورې ده - په اوله کښې رد د غلو او اوشرکونو - او مناظره
د ابراهیم علیه السلام [illegible] او ګنړ دلائل عقلیه - دویمه حصه کښې رد د شرك فعلي او باقي دلائل په طور [illegible]

سمه (۱) اوله حصه ختمه شوه نو دويمه شروع شوه . (۲) سورت مائده ختمه شوه په دے چه بادشاهي خو الله تعالی لره ده نو دا سورت پرے تفريع شو چه خپله ورله ووائی (۳) نساء او مائده کښې اصلاح د معاشرے وشو نو دلته مقصد اعلیٰ ذکر کوی چه توحيد دے (۴) دا سورت په عکس د مائدے دے په رد د شرك اعتقادی او فعلی کښې (۵) هلته رد د شرك وشو نو دلته پرے کثير دلائل ذکر کوی۔ تفصيلی خلاصه: په اوله حصه کښې شپږ بابونه: اول باب ترشلو پورے په دے کښې شپږ خبرے دی (۱) دعویٰ د ترحيب سره د دلائلو نه مسئله . دويم د زجر نه مسئله . دريم تخويف مسئله . څلورم جوابات د سوالونو په هغه مسئله کښې . پنځم تسلی مسئله کښې

وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ : په دے کښې د شرکيانو رد تنويه رد وشو . دوی وائی چه رڼا او تورتم قديم دی۔

(اهريک ۳۸) ثُمَّ الَّذِيْنَ : دا ثُمَّ د استبعاد د پاره دے او يَعْدِلُوْنَ يا د عدل دے برابری نه وائی او يا د عدول نه دے، اعراض ته وائی . معنیٰ دا شو چه ليرے خبره ده دا خبره چه کافران د رب خپل سره نور برابر وی (۲) يا لرے ده دا خبره چه کفر کوونکی په رب خپل باندے اعراض کوی د هغه نه .

اهريک ۳۸) ثُمَّ اَنْتُمْ تَمْتَرُوْنَ : يعنی لرے ده دا خبره چه تاسے شك کوئ او يا جګړه کوئ۔

(اهريک ۳۸) يَعْلَمُ : شيخ القرآن رحمه الله فرمائيل چه د انسان درے قسمه عملونه دی - د زړه، د ژبے د نورو اندامونو - په دے ايت کښې د درے واړو ذکر دے۔

وَهُوَ اللّٰهُ : او الله تعالیٰ متصرف فرمان روا دے په اسمانونو

بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ① هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ طِيْنٍ

د رب خپل سره نور برابروی . الله هغه ذات دے چه پيدا کړی يې تاسو د خټے نه،

ثُمَّ قَضٰۤى اَجَلًا ؕ وَاَجَلٌ مُّسَمًّى عِنْدَهٗ ثُمَّ

بيا يې فيصله کړے د ژوند موده، او بله موده مقرر شوے ده په دربار د هغه کښې، بيا

اَنْتُمْ تَمْتَرُوْنَ ② وَهُوَ اللّٰهُ فِى السَّمٰوٰتِ وَفِى

تاسو شك کوئ - او الله تصرف کوونکے دے په اسمانونو او په

الْاَرْضِ ؕ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا

زمکه کښې، هغه پوهيږی په پټو ستاسو، او په ښکاره ستاسو، او پوهيږی په هغه

تَكْسِبُوْنَ ③ وَمَا تَاْتِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ مِّنْ اٰيٰتِ

چه تاسے کوئ . او نه راځی دوی ته هيڅ نښه، د نښانو د

رَبِّهِمْ اِلَّا كَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ④ فَقَدْ كَذَّبُوْا

رب د دوی نه مګر دوی د هغے نه مخ اړونکی دی . پس يقينا دروغ ګڼلے دے دوی

بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ؕ فَسَوْفَ يَاْتِيْهِمْ اَنْبٰٓؤُا مَا

د حق، کله چه راغلے دوی ته پس زر ده چه راشی دوی ته خبرونه د هغه چه

كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ⑤ اَلَمْ يَرَوْا كَمْ اَهْلَكْنَا

وو دوی په هغه پورے ټوقے کولے . آيا نه ګوری دوی چه څومره هلاك کړی دی مونږ

مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ مَّكَّنّٰهُمْ فِى الْاَرْضِ

مخکښې د دوی نه، ډيرې زمانے - حال دا چه ورکړے وو قوت هغوی ته په زمکه کښې،

مَا لَمْ نُمَكِّنْ لَّكُمْ وَاَرْسَلْنَا السَّمَآءَ عَلَيْهِمْ

هغه چه نه مونږ درکړے تاسو ته او رالیږلے وو مونږ باران په هغوی باندے

مِّدْرَارًا ۪ وَّجَعَلْنَا الْاَنْهٰرَ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهِمْ

ښيبے، او ګرزولی وو مونږ، ويالے چه بهيدلے لاندے د دوی نه،

فَاَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ وَاَنْشَاْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ

پس هلاك کړل مونږ هغوی په ګناهونو د هغوی او پيدا کړه مونږ روستو د هغوی نه

او زمکه کښې (الج مشك) مَا لَمْ نُمَكِّنْ لَّكُمْ : په هغه اندازه چه طاقت مونږ دے درکړے تاسو لره . د کوری شوره سبا ۳۸ - وَاَرْسَلْنَا السَّمَآءَ : او راليږلے دے مونږ باران په دوی باندے شيبے شيبے (روح ۳۸ کبير ۳۸)

وَلَوْ نَزَّلْنَا: دا جواب دَ شبهې دے. کفارو به ویلې چه مونږ ته دَ الله تعالیٰ نه لیکلے شوے کتاب په کاغذ باندې راوړه چه دا خبا کتاب او رسول دے. دَ کوع شتے اعراف. دَ دغه سوال داد وچه ملائک ورته ولے

قَرْنًا اٰخَرِيْنَ ⑥ وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتٰبًا فِيْ قِرْطَاسٍ

پیدا کړی نور . او که مونږ راکوزه کړے وے په تا باندې کتاب لیکلے شوے په کاغذ و نو لمس کړی

فَلَمَسُوْهُ بِاَيْدِيْهِمْ لَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ

پس لمس کړی وو دوی به هغه په لاسونو خپلو خامخا ویلی به هغه کسانو چه کافران شوی نه دے دا

اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ⑦ وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ ۭ

مگر جادو ښکاره . او وائی دوی ولې نه دے نازل کړے شوے په ده باندې ملائک

وَلَوْ اَنْزَلْنَا مَلَكًا لَّقُضِيَ الْاَمْرُ ثُمَّ لَا يُنْظَرُوْنَ ⑧

او که مونږ نازل کړے وو ملائک نو خامخا به فیصله شوې وه دکار دوی بیا به دوی ته مهلت نه ورکولے شوے

وَلَوْ جَعَلْنٰهُ مَلَكًا لَّجَعَلْنٰهُ رَجُلًا وَّلَلَبَسْنَا عَلَيْهِمْ مَّا

او که مونږ ګرځولے وو رسول ملائک نو خامخا به مو ګرځولے وو هغه سړے او مشتبه کړے به مو وو په دوی هغه

يَلْبِسُوْنَ ⑨ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ

هغه چه دوی یې اشتباه کوی . او یقیناً توقے شوے وو په پیغمبرانو باندې مخکښ ستا نه

فَحَاقَ بِالَّذِيْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ⑩ ع

پس چاپیره شوے په هغه کسانو چه مسخرې کړې به هغوی نه عذاب د هغه چه دوی دوی به مسخرې کولې

قُلْ سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ ثُمَّ انْظُرُوْا كَيْفَ

ووایه ګرځئ په زمکه کښې . بیا وګورئ . څنګه

كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ⑪ قُلْ لِّمَنْ مَّا فِي

وو انجام د دروغ ګڼونکو . او ووایه د چا د پاره دی هغه چه په

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ قُلْ لِّلّٰهِ ۭ كَتَبَ عَلٰي نَفْسِهِ

اسمانونو او زمکه کښې دی ووایه الله لره دی . لازم ګرځولې ده په ځان خپل

الرَّحْمَةَ ۭ لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰي يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ ۭ

مهربانی خامخا جمع به کړی تاسو لره په ورځ د قیامت کښې . شک پکښې نشته

اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ⑫

هغه کسان چه تاوان کښې اچولی دی ځانونه خپل پس دوی ایمان نه راوړی .

نه راځی ؟ جواب په ۸ کښې دے. دغه سوال د بشر په ځائے ملائک ولے نه راځی ؟ جواب په ۹ کښې دے. وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ: او یقیناً توقے شوے په ورو پیغمبرانو پسے. خطیب شربینی رحمه الله فرمائی چه په دې کښې تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته په هغه چه لیدل ئے د خپل قوم نه. (سراج منیر ۱/۹۰۹). قُلْ سِيْرُوْا: دا متعلق دے د لسم آیت سره. قُلْ لِّمَنْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ: د دے ځائے نه تر ۳۰ پورے دویم باب دے او په دے کښې یوولس دی (۱) عقلی دلائل په توحید ۱۳ کښې (۲) دریم طریقه د تبلیغ ۱۹ کښې (۳) شهادة د توحید ۱۹ (۴) صداقت رسول ۱۹ (۵) زجر مشرکانو ته ۲۱ (۶) تخویف اخروی ۲۲ (۷) زجر منکرینو د کتاب الله ته ۲۵ (۸) زجر په انکار د آخرت ۲۹ (۹) ترهیب ۳۰ (۱۰) درے تسلی ۳۳، ۳۴، ۳۵ (۱۱) د ځلورم سوال جواب ۳۷.

قُلْ لِّمَنْ: دے آیت کښې عقلی دلیل او جبر کولو دے د خصم د پاره، او نفی د شرک فی التصرف هم ده. د پنجرے شیخ رحمه الله فرمائی چه د لِمَنْ استفهام تقریری پښتو دے. (جواهر ۲۳) ووایه چا لره دی هغه چه اسمانونو کښې دی او په زمکه دی ؟ ووایه ایا الله تعالیٰ لره دی ؟ یعنی دوی به غلی شی او سکوت به وکړی یعنی آؤ .

وَ النَّهَارِ ؕ: معنیٰ ئې دا دہ چه کوم څه چه ورځ کښې. تائید کښې سورة فرقان ۱۲ وګورئ. قُلۡ اَغَیۡرَ اللّٰهِ اَتَّخِذُ وَلِیًّا: وایه ایا غیر دَ الله تعالیٰ نه ونیسم کارساز (مرتب) اتباع دی (معبود) (مرتب) وَهُوَ یُطۡعِمُ ؕ: او هغه

وَلَهٗ مَا سَكَنَ فِی الَّیۡلِ وَ النَّهَارِ ؕ وَ هُوَ السَّمِیۡعُ الۡعَلِیۡمُ ﴿۱۳﴾
او خاص الله لره دی هغه څه چه آرام کوي دې شپه کښې او څو ورځ کښې او هغه اوریدونکے پوهه دے.
قُلۡ اَغَیۡرَ اللّٰهِ اَتَّخِذُ وَلِیًّا فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ
وایه ایا غیر دَ الله نه او ونیسم خدائے مددګار پیدا کونکے دَ آسمانونو او دَ زمکے دے
وَ هُوَ یُطۡعِمُ وَ لَا یُطۡعَمُ ؕ قُلۡ اِنِّیۡۤ اُمِرۡتُ اَنۡ اَكُوۡنَ
او هغه خوراک ورکوي او هغه له خوراک نشي ورکیدے. وایه بیشانه امر کړے شوے دے چه شم زه
اَوَّلَ مَنۡ اَسۡلَمَ وَ لَا تَكُوۡنَنَّ مِنَ الۡمُشۡرِكِیۡنَ ﴿۱۴﴾ قُلۡ
اول د هغه چا چه اسلام ئې راوړے او مه شه چرته ته دَ شرک کونکو نه. وایه
اِنِّیۡۤ اَخَافُ اِنۡ عَصَیۡتُ رَبِّیۡ عَذَابَ یَوۡمٍ عَظِیۡمٍ ﴿۱۵﴾
بیشانه زه ویریږم که چرته نافرماني وکړم دَ رب خپل دَ عذاب دَ ورځے لوئے نه.
مَنۡ یُّصۡرَفۡ عَنۡهُ یَوۡمَئِذٍ فَقَدۡ رَحِمَهٗ ؕ وَ ذٰلِكَ الۡفَوۡزُ
هغه څوک چه واړولے شي عذاب دَ هغه نه په دغه ورځ پس یقینا الله پرے رحم وکړو او دغه کامیابي
الۡمُبِیۡنُ ﴿۱۶﴾ وَ اِنۡ یَّمۡسَسۡكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ
ښکاره ده. او که چرے رسوي تا ته الله تعالیٰ تکلیف نشته لرے کونکے
لَهٗۤ اِلَّا هُوَ ؕ وَ اِنۡ یَّمۡسَسۡكَ بِخَیۡرٍ فَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیۡءٍ
هغه لره مګر هم الله. او که رسوي تا ته خیر پس هغه په هر شي باندے
قَدِیۡرٌ ﴿۱۷﴾ وَ هُوَ الۡقَاهِرُ فَوۡقَ عِبَادِهٖ ؕ وَ هُوَ الۡحَكِیۡمُ
قدرت والا دے. او الله زور آور دے دپاسه دَ بندګانو خپلو. او الله دَ حکمت والا
الۡخَبِیۡرُ ﴿۱۸﴾ قُلۡ اَیُّ شَیۡءٍ اَكۡبَرُ شَهَادَةً ؕ قُلِ اللّٰهُ ۟ۙ
خبردار دے. وایه کوم شے لوئے دے دَ ګواهۍ کښې، وایه الله تعالیٰ
شَهِیۡدٌۢ بَیۡنِیۡ وَ بَیۡنَكُمۡ ۟ وَ اُوۡحِیَ اِلَیَّ هٰذَا
ګواه دے زما په مینځ کښې او ستاسو په مینځ کښې او وحي شوے ما ته دا
الۡقُرۡاٰنُ لِاُنۡذِرَكُمۡ بِهٖ وَ مَنۡۢ بَلَغَ ؕ اَئِنَّكُمۡ
قرآن، دَ دے دَ پاره چه ویروم تاسو په دے او هغه چا له چه ورسیږي هغه ته دا قرآن ایا تاسو

طعام او رزق ورکوي او هغه ته رزق نشي ورکیدے. (ذاریات ۵۸) وَ اِنۡ یَّمۡسَسۡكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ معنیٰ: که چرے ورسوي تا ته الله تعالیٰ ضرر، مرض یا غربي، یا نور مصیبتونه. (مرتب) فَلَا كَاشِفَ لَهٗۤ اِلَّا هُوَ: پس نشته لرے کونکے دغه لره مګر هغه الله تعالیٰ. وَ اِنۡ یَّمۡسَسۡكَ بِخَیۡرٍ: او که ورسوي تا ته الله تعالیٰ صحت یا غنا. (روح ۱۱۳) سورة یونس ۱۰۷ وګورئ هلته دي: فَلَا رَآدَّ لِفَضۡلِهٖ: چه نشته لرے کونکے فضل دَ الله تعالیٰ لره څوک. امام رازي رحمه الله فرمائي پس ثابت شوه چه دفع کول دَ ټولو ضررونو نه حاصلیږي مګر په الله تعالیٰ سره او حاصلول دَ ټولو خیرونو او نفعونو نه راځي مګر په فضل دَ الله تعالیٰ سره (کبیر ۱۴۵) تهانوي رحمه الله فرمائي چه دا واضح دلیل دے په نفي دَ تصرف کولو دَ مخلوق نه حتیٰ دا چه دَ قبولو شوو کسانو نه هم. قُلۡ اَیُّ شَیۡءٍ ۔۔۔ الخ: دا طریقه دَ تبلیغ ده او دلیل وي. او ثمره دَ توحید په دے آیت کښې هم ذکر ده. لِاُنۡذِرَكُمۡ بِهٖ وَ مَنۡۢ بَلَغَ ؕ: چه ویروم تاسو په دے قرآن او هغه چالره چه دا قرآن ورته ورسیږي. فائده: معلومه شوه چه نبي علیه السلام او قرآن کریم عالمي دي یواځے دَ عربو دَ پاره نه دي. (مرتب) کښې دي او هغه چالره چه قرآن

ورته ورسیږي دَ قیامته پورے. (مظهري ۲۲۳) کښې دي چه ورته ورسیږي قرآن دَ پیریانو او انسانانو نه. تائید کښې ۱۹ انعام، ۱ فرقان، ۲۸ سبا ..... ته وګورئ.

الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ په دې کښې دليل لفظي دے د حق پرستو اهل کتابو په اوصداقت د رسول عليه السلام دے. وګورئ بقره ۱۴۶ حدث ولی الله رحمة الله فرماني هغه کسان چه ورکړے موږ دۀ کتاب،

لَتَشْهَدُونَ أَنَّ مَعَ اللَّهِ آلِهَةً أُخْرَىٰ ۚ قُل لَّا

ايا ګواهي کوئ تاسو يقينا چه شته دے د الله سره نور معبودان نور (شته). او وايه چه زۀ نه

أَشْهَدُ ۚ قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ وَإِنَّنِي بَرِيءٌ

ګواهي کوم، او وايه يقينا الله معبود يو دے او يقينا زۀ بيزار يم له

مِّمَّا تُشْرِكُونَ ⑲ الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ

هغه چه تاسو يې شريکوئ. هغه کسان چه ورکړے موږ هغوي ته کتاب، پيژني صداقت د نبي

كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمُ ۘ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ

لکه چه پيژني ځامن خپل لره، هغه کسان چه تاوان کړے دے ځانونو خپلو،

فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ⑳ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ

پس دوي ايمان نه راوړي. او څوک دے لوئے ظالم د هغه چا چه تړي

عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ ۗ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ

په الله تعالى باندې دروغ، او دروغ ګڼي آيتونو د هغه، يقينا شان دا دے چه نه

الظَّالِمُونَ ㉑ وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ

کامياب کيږي ظالمان. او کله چه راجمع کړو دوي ټولو لره، بيا به وايو موږ د

لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا أَيْنَ شُرَكَاؤُكُمُ الَّذِينَ كُنتُمْ

هغه کسانو ته چه شرک يې کړے، چرته دي شريکان ستاسو هغه کسان چه وئ تاسو چه

تَزْعُمُونَ ㉒ ثُمَّ لَمْ تَكُن فِتْنَتُهُمْ إِلَّا أَن قَالُوا

ګمان مو پرې کولو. بيا به نه وي، بهانه د دوي، مګر دا چه وائي به دوي،

وَاللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ ㉓ انظُرْ كَيْفَ

قسم په الله رب زمونږ، نۀ وو موږ د شرک کونکي. وګوره څرنګه

كَذَبُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ ۚ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا

دروغ ووئيل دوي په ځانونو خپلو، او ورک شو د دوي نه هغه څه چه وو دوي

يَفْتَرُونَ ㉔ وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ ۖ وَجَعَلْنَا

په ځان جوړول. او بعض د دوي نه هغه دي چه غوږ ږدي تا ته، او ګرځولي موږ د

په ځان کښې حقيقت د دے قول لره يعني کلمے د توحيد لره (فتح الرحمن ۱۷۵). وَمَنْ أَظْلَمُ: او څوک دے لوئے ظالم د هغه چا نه چه دروغ تړي په الله تعالى باندي يعني په افتراء کونکو کښې دا لوئے ظالم دے. وګورئ ۱۴۴ انعام.

وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ: د تخويف دے. ثُمَّ لَمْ تَكُن فِتْنَتُهُمْ: بيا به نه وي کفر د دوي (۲) بيا به نه وي جواب د دوي (ابن کثير) (۳) بيا به نه وي دين د دوي (۴) بيا به نه وي حجت د دوي (غريب القرآن ۵۰۲) (۵) بيا به نه وي انجام د کفر د دوي. (۶) بيا به نه وي معذرت د دوي (قرطبي ۴۰۲) (۷) بيا به نه وي ګنده جواب د دوي (ابن ۳ جواهر) مګر دا چه وائي به قسم په الله تعالى به نۀ وو موږ شرک کونکي. سورت مؤمن ۷۴، حم سجده ۴۷ هم وګورئ.

أَن يَفْقَهُوهُ: دا د اتلو کې چه د ټولو متعلق دے (د وجه د نه پوهيدلو) د ے نه چه پوهه شي په دے باندې (ابوالسعود ۴۶۱). په دے آيت کريمه کښې زجر د منکرينو د قرآن نه. وګورئ ۵۷ کهف. کفار به قرآن پاک ته قصے د پخوانو ويلے لکه د موجوده

ذور ملحدان ورته فرسوده نظام وائی. دکوری مثه فرقان مثه نحل مثه انفال. وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ: يوه معنی ئے دا ده چه دوی منع کوی خلقو له د قران نه او يَنْئَوْنَ منه کيږی ډو شے نه. دويمه معنی ئے دا ده چه دوی د تکليف ورکولو د پيغمبر نه خلق منع کوی او ځيځله ئے نه منی لکه ابوطالب شو. لکه چه د هغه په اره د قصيده کښی دا بيت وائی:

والله لن يصلوا اليك بجمعهم
حتی أوسد فی التراب دفينا

چه خدائے په الله تعالیٰ قسم وی چه هيڅ رنګ به دوی تا ته ضرر ونه رسوی تر هغه پورې تر دے چه کيخودے شی ما ته با لخت په رنګ حال کښی چه په خاورو کښی دفن شم. او بيا اخر کښی وائی:

لولا الملامة أو حذار مسبة
لوجدتنی سمحا بذاك يقينا

که چرے ملامتيا او ويره د کنځلو نه وے نو ته به وموندلے مونږ په دغه بانديه کنوامرد يقينی طور سره. وګورئ فتح قرطبی روح قرطبی زاد المسير، السراج المنير. وَلَوْ تَرَىٰ: دا تخويف أخروی دے. فَقَالُوا يَا لَيْتَنَا: پس وبه وائی دوی هائے ارمان زمونږ ده. ندا د ولتنه دا ده ورية د ياره نه ده بلکه دا افسوس د پاره ده. (جواهر ۱/۳۱۳)

مَا كَانُوا يُخْفُونَ: جناب مولانا حسين علی رحمه الله فرمائی چه دا له باب افعال د وجدان د پاره دے

عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَنْ يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا ۚ

په زړونو د دوی پردے چه چرته هغه ونه پوهيږی دے او په غوږونو د دوی کښی درنوالے دے

وَإِنْ يَرَوْا كُلَّ آيَةٍ لَا يُؤْمِنُوا بِهَا ۚ حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوكَ

او که وينی دوی هره نښه ايمان به نه راوړی په هغے تر دے چه راشی دوی تا ته

يُجَادِلُونَكَ يَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ هَٰذَا إِلَّا

جګړه به کوی تا سره وائی به هغه کسان چه کفر ئے کړے نه دی دا مګر

أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٢٥﴾ وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْأَوْنَ عَنْهُ ۖ

قصے د ړومبنو دی. او دوی منع کوی خلق د دے نه او ځيځه منع کيږی د هغه نه

وَإِنْ يُهْلِكُونَ إِلَّا أَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٦﴾

او نه هلاکوی دوی مګر ځپل ځانونه او دوی نه پوهيږی.

وَلَوْ تَرَىٰ إِذْ وُقِفُوا عَلَى النَّارِ فَقَالُوا يَا لَيْتَنَا

او که ته ووينے هغه وخت چه اودرولے شی دوی په اور باندے پس وبه وائی هائے ارمان زمونږ

نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِآيَاتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٧﴾

چه واپس کړے شو مونږ او دروغ به نه ګڼړو ايتونه د رب زمونږ او شو به مونږ مومنان نو ته

بَلْ بَدَا لَهُمْ مَا كَانُوا يُخْفُونَ مِنْ قَبْلُ ۖ وَلَوْ رُدُّوا

بلکه ښکاره شی دوی ته هغه چه وو دوی پټ به ئے ګڼړو مخکښی د دے نه، او که واپس کړے شی

لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿٢٨﴾ وَ

نو خامخا راوبه ګرځی هغه ته چه دوی ته منع شوے وه او يقيناً دوی خامخا دروغژن دی. او

قَالُوا إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ

وبه وائی دوی نشته دا مګر ژوند زمونږ د دنيا دے، او نه يو مونږ

بِمَبْعُوثِينَ ﴿٢٩﴾ وَلَوْ تَرَىٰ إِذْ وُقِفُوا عَلَىٰ رَبِّهِمْ ۚ

بيا راژوندی کړے شوی. او که ته ووينے هغه وخت چه اودرولے شی دوی مخے د رب خپل ته نو

قَالَ أَلَيْسَ هَٰذَا بِالْحَقِّ ۚ قَالُوا بَلَىٰ وَرَبِّنَا ۚ

وبه وائی الله ايا نه دے دا ژوند حق؟ وبه وائی دوی ولے نه او په رب زمونږ قسم دے

او يُخْفُونَ معنی د له يجدون اما مخفيا يعنی هغه شی لره چه په دنيا کښی به دوی نه ليدلو بلکه دوی به پټ ګڼړلو هغه ټے به د قيامت په ورځ ښکاره شی چه هغه اور د جهنم دے. (جواهر ص ۳۱۳)

وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا: دا ترهيد من الدنيا، بې رغبتي د دنيا نه ده. وګورئ آل عمران ۱۹۰، ۴۶ کهف، ۴۰ مؤمن، ۲۰ حدید. وَلَلدَّارُ الْاٰخِرَةُ: او خامخا کور د آخرت. وګورئ ۶۰ قصص، ۶۴ عنکبوت. قَدْ نَعْلَمُ (۱)

ع قَالَ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿٣٠﴾ قَدْ
وړاندې الله ووايي پس وڅکئ عذاب لره په سبب د هغه چې وئ تاسې چې کفر به موکولو. یقیناً
خَسِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِلِقَآءِ اللّٰهِ ۭ حَتّٰۤى اِذَا جَآءَتْهُمُ
تاوان اوکړو هغه کسانو چې دروغ ګڼلي یې دي ملاقات د الله ته، تر دې چې کله راشي دوی ته
السَّاعَةُ بَغْتَةً قَالُوْا يٰحَسْرَتَنَا عَلٰى مَا فَرَّطْنَا فِيْهَا
قیامت، ناڅاپه، او به وائي دوی افسوس دے په هغه کوتاهۍ چې مونږ کړې ده په باره د قیامت
وَهُمْ يَحْمِلُوْنَ اَوْزَارَهُمْ عَلٰى ظُهُوْرِهِمْ ۭ اَلَا سَآءَ
کښې او دوی به باروي، بوجونه به په شا باندې، خبردار! بد دے
مَا يَزِرُوْنَ ﴿٣١﴾ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ۭ
هغه چې دوی به باروي، او نه دے ژوند د دنیا وي، مګر لوبې او بې ځایه خبرې.
وَلَلدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ۭ اَفَلَا
او خامخا کور آخرت غوره دے د هغه کسانو دپاره چې ویریږي، آیا پس نه
تَعْقِلُوْنَ ﴿٣٢﴾ قَدْ نَعْلَمُ اِنَّهٗ لَيَحْزُنُكَ الَّذِيْ يَقُوْلُوْنَ
عقل کوئ. یقیناً پوهیږو مونږ چې خامخا غمګین کوي تا لره هغه خبرې چې دوی وائي،
فَاِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُوْنَكَ وَلٰكِنَّ الظّٰلِمِيْنَ بِاٰيٰتِ
پس یقیناً دوی دروغژن نه ګڼي تا لره او لاکن ظالمان، په آیتونو
اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ
د الله نه انکار کوي - او یقیناً دروغژن وګڼلی شوي ډیر رسولان نو ته مخکښې
قَبْلِكَ فَصَبَرُوْا عَلٰى مَا كُذِّبُوْا وَاُوْذُوْا حَتّٰۤى
ستا نه، پس صبر یې کړے په هغه چې دروغژن ګڼلے شوي وو دوی او ضرر ورکړے شو دوی ته تر دې چې
اَتٰىهُمْ نَصْرُنَا ۚ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ۚ وَلَقَدْ
راغله دوی ته زمونږ امداد او نشته بدلونکے کلمو د الله تعالی لره، او یقیناً
جَآءَكَ مِنْ نَّبَاِى الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٣٤﴾ وَاِنْ كَانَ كَبُرَ
راغلي تاته د خبرونو د لیږل شویو نه - او که چرے وي په تا ګران لګي،

په دے آیتونو کښې تسلي ده د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم لره - ډیرو مفسرینو رحمهم الله د اخنس او د ابوجهل واقعه را نقل کړیده چې اخنس ابوجهل نه وویل چې خبر راکړه د محمد (ﷺ) په باره کښې چې ریښتونے دے او که دروغژن؟ ځکه چې دلته د قریشو سوا څوک هم نشته چې زمونږ خبرې واوري. نو ابوجهل وویل خدائے قسم په الله تعالی محمد (ﷺ) خامخا ریښتونے دے او دروغ یې نه دي ویلي محمد هیڅکله ولیکن بنو قصي (کورنۍ) چې بیرغ، حجابه (غلاف کعبه) او سقایه (د زمزم) او نبوت حاصل کړي نو څه به د باقي قریشو دپاره شي. وګورئ ابن جریر ۱۸۲، ابن کثیر ۱۳۶، روح ۱۳۷، مظهري ۲۳۳، معارف ۳۱۵، جواهر ۳۱۵، الهام ۵۶.

اشکال: ولنه نعلم نه معلومیږي چې دوی د رسول الله ﷺ تکذیب نه کولو او د سورتونو شایعو نه معلومیږي چې تکذیب یې کولو. وګورئ ... امام رازي رحمه الله د اشکال په جواب کښې لیکي چې دوی به پټ تکذیب نه کولو لاکن دوی به تکذیب ښکاره کولو او د قرآن او نبوت نه منکر وو. (کبیر ۲۰۴)

(۲) جناب مفتي صاحب رحمه الله فرمائي: یعني دا کفار په حقیقت کښې د حضور صلی الله علیه وسلم تکذیب نه کوي بلکه د آیتونو د الله تعالی تکذیب کوي. (معارف ۳۱۵) وَاِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ: دا هم تسلي ده د دے. د دے آیت کریمه نه معلومه شوه چې معجزه راوړل د نبي په قدرت کښې نشته. وګورئ ۳۸ رعد، ۷۸ مؤمن.

فَتَاْتِيَهُمْ بِاٰيَةٍ: پس راوړې دوی ته نښانه معجزه . ولته جواب پټ دے ابن جزی رحمه الله فرمائي. فَافْعَلْ
پس وکړه کره راځه ورته . او ته قدرت په ورته نه لرے پس عبارة کیده ، امر د الله تعالی ته . (تسهيل ص...)

عَلَيْكَ اِعْرَاضُهُمْ فَاِنِ اسْتَطَعْتَ اَنْ تَبْتَغِيَ نَفَقًا
پټاوالی ، مخ اړول دَ دوی ، پس که ستا طاقت وی ، چه ولټوے ، څه سوری
فِي الْاَرْضِ اَوْ سُلَّمًا فِي السَّمَآءِ فَتَاْتِيَهُمْ بِاٰيَةٍ ؕ
په زمکه کښی ، او یا لګینه درشل په اسمان کښی پس راوړے دوی ته معجزه (نو راوړه)
وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَى الْهُدٰى فَلَا تَكُوْنَنَّ
او که خوښه الله شو ، نو خامخا راجمع کړی به وے په هدایت باندے ، پس هیڅ مه کیږه ته
مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿۳۵﴾ اِنَّمَا يَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ يَسْمَعُوْنَ ؔ
د ناپوهانو نه ، یقیناً قبلوی حق لره هغه کسان چه اوری ،
وَالْمَوْتٰى يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ ثُمَّ اِلَيْهِ يُرْجَعُوْنَ ﴿۳۶﴾ وَقَالُوْا
او دا مړی (کفار) راپورته به کړی دوی لره الله بیا به هغه ته واپس کړے شی . او وائی دوی ،
لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ
ولے نه نازله کړے شی په ده څه نښانه د ربه د ده نه ، ووایه ، یقیناً الله تعالی
قَادِرٌ عَلٰٓى اَنْ يُّنَزِّلَ اٰيَةً وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا
قدرت والا دے په دے چه راولیږی څه نښانه ، او لیکن زیات د دوی نه ، نه
يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۷﴾ وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا طٰٓئِرٍ
پوهیږی . ونشته هیڅ ژوندے سرے په زمکه کښی ، او نه مرغئ چه
يَّطِيْرُ بِجَنَاحَيْهِ اِلَّآ اُمَمٌ اَمْثَالُكُمْ ؕ مَا فَرَّطْنَا
الوزی په وزرو خپلو ، مګر ډلے دی په شان ستاسو ، کمے نه دے پریخے مونږه ،
فِي الْكِتٰبِ مِنْ شَيْءٍ ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ يُحْشَرُوْنَ ﴿۳۸﴾
په دے کتاب کښی د هیڅ ضروری شی (دوی) بیا به رب خپل ته دوی را جمع کړے شی .
وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا صُمٌّ وَّبُكْمٌ فِي
او هغه کسان چه دروغجن ګڼی زمونږه په ایتونو ، کانړه دی ، چاړا ګان دی ، په
الظُّلُمٰتِ ؕ مَنْ يَّشَاِ اللّٰهُ يُضْلِلْهُ ؕ وَمَنْ يَّشَاْ
تورتمونو کښی ، چا لره چه وغواړی الله تعالی ګمراه دے کړی ، او چا لره چه وغواړی الله

وَالْمَوْتٰى: مراد ترینه هغه عنادی کافران دی چه په نړ اوریدو کښی په شان د مړو دی . آلوسی رحمه الله فرمائی چه کافرانو ته مړه ویل ځکه چه د دوی کفر او جهل ئے مشابه کړے د مړی سره . (روح ص۱۴۲ ج۷) وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ: دا زورته دلا په سوال د مشرکانو او قُلْ اِنَّ اللّٰهَ قَادِرٌ: دا ئے جواب دے . وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ (۳۸): د دے ځائے ترسته پورے دریم باب شروع په ... یکښی یونس دی . اول لس دلائل عقلیه ص... ص... ص... ص... ص... ص... ص... ص... دوئیمه خبره زجر ص... . دریمه ابتلاء په نعمتونو او عذابونو ص... . څلورمه خبره بشارت ص... مع تخویف اخروی . پنځمه جوابونه د دریم سوالونو ص... . شپږمه ترغیب په دوستی سره د مؤحدینو ص... . اووَمه دوه قاعدے د بیاره د مبلغ په لفظ د کُلِّ اٰيَةٍ سره ص... . اتمه خلور طریقے د تبلیغ او تعلیم ص... ص... . نهمه زجر په مجالست د مشرکانو او په عشیانو ص... . لسمه تخویف اخروی ص... . یوولسمه نتیجه د دلائلو ص... . وَلَا طٰٓئِرٍ: تائید ونه ص... کور ص... ملک . ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ يُحْشَرُوْنَ: بیا به رب خپل ته واپس کړے شی . شیخ القرآن رحمه الله په فرمائیل

چه ولته په مِنْ شَيْءٍ باندی کلام ختم شو او هغوی په ورته تقطیع ویلی او د ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ نه ځان له کلام دے او مراد ترینه پیریان او انسانان دی . ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی په مرګ د څاروو حشر د هغوی دے .
ابن جریر ص... ، ابن کثیر ص... ، سراج منیر ص... ، در منثور ص... ج...

يَجْعَلْهُ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٣٩﴾ قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ

پوځ نے کړي پر لارے نیغے برابر. ووایه خبر راکړئ ، که چیرے

اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ اَوْ اَتَتْكُمُ السَّاعَةُ اَغَيْرَ اللّٰهِ

راشي تاسو ته عذاب د الله څخه او یا راشي تاسو ته قیامت ، آیا غیر د الله نه

تَدْعُوْنَ ۚ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٤٠﴾ بَلْ اِيَّاهُ تَدْعُوْنَ

بلئ تاسو ، که یئ تاسو رښتوني په (دعوه خپله) بلکه خاص هغه لره به بلئ تاسو

فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُوْنَ اِلَيْهِ اِنْ شَآءَ وَ تَنْسَوْنَ

پس لرے کوي به هغه چه تاسو یې هغه ته بلئ که وغواړي ، او هیروئ به

مَا تُشْرِكُوْنَ ﴿٤١﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ

هغه چه شریک یې ګڼئ ، او یقینا رالیږلي وو مونږ ډیرو امتونو ته چه مخکښې ستا نه (رسولان)

فَاَخَذْنٰهُمْ بِالْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُوْنَ ﴿٤٢﴾

پس ونیول هغوی په سختیو ، او په مرضونو ، دپاره د دے چه دوی عاجزي وکړي (الله ته)

فَلَوْلَآ اِذْ جَآءَهُمْ بَاْسُنَا تَضَرَّعُوْا وَلٰكِنْ قَسَتْ

پس ولے دوی ونکړه ژړا دوی ، کله چه راغلو دوی ته عذاب زمونږ ، ولیکن کلک سخت شو

قُلُوْبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٤٣﴾

زړونه د دوی ، او ښائسته کړي وو دوی ته شیطان هغه عملونه چه دوی کول .

فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ اَبْوَابَ كُلِّ

پس کله چه هیر کړل هغه چه نصیحت ورکړے شوے وو دوی ته په هغه ، پرانستل مونږ په دوی دروازے د هر

شَيْءٍ ۚ حَتّٰٓى اِذَا فَرِحُوْا بِمَآ اُوْتُوْٓا اَخَذْنٰهُمْ

شي ، تر دے چه کله دوی خوشحاله شول په هغه چه ورکړے شوي وو دوی ته ، ونیول مونږ دوی

بَغْتَةً فَاِذَا هُمْ مُّبْلِسُوْنَ ﴿٤٤﴾ فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ

ناګهانه پس ناڅاپه دوی ناامیده شول ، پس بېخ وکښلے شو د قوم

الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۚ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٥﴾

هغه چه ظلم یې کړے وو ، او ټول ستائینه الله لره ده چه رب د مخلوقاتو دے .

ع ١١ ١٠

اَرَءَيْتَكُمْ : په دے آیت کښې دلیل عقلي او رد د شرك في الدعا هم دے . بَلْ اِيَّاهُ تَدْعُوْنَ : بلکه یو الله ته بلئ . وګورئ ١٢ یونس ، ١٧ اسراء ، ٦٥ عنکبوت . وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ : د دے خائے نه ابتلاء په نعمتونو او صبر ابو ذکر کړي . وګورئ سورة اعراف ٩٤ فَلَوْلَآ : په دے عبارت کښې تقدیم تاخیر دے اصل کښې داسے دے فَلَوْلَا تَضَرَّعُوْا اِذْ جَآءَهُمْ بَاْسُنَا : پس ولے نے عاجزي وکړه کله چه راغلو دوی ته زمونږ عذاب . اَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ : هر سیره دګیرے مونږ په دوی دروازے د هر شي . یعنې په طور د استدراج مو فراخي راوستله تر دے چه قسمت شو په هغه باندې چه دوی ته ورکړے شوي وو نو مونږ ونیول دوی ناڅاپه او دوی ناامیده وو . او بیا ورسره د دوی الهو څخه مدد او فرسته ونکړه . ١٢١ هود ، احقاف ٢٨ .

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ : او حمد ونه دي الله رب د مخلوقاتو لره په هلاکولو د دوی (قرطبي ٢٢٤) په دیکښې خبر ورکول دي په واجب والي د اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ په وخت د هلاکت د ظالمانو کښې او دا د لویو نعمتونو نه دي . (مدارك ٢٣١)

سورة مؤمنين ٢٨ هم وګورئ .

إِنْ أَخَذَ اللّٰهُ الخ: كه چېرته واخلي الله تعالىٰ غوږونه ستاسو او سترګې ستاسو حق کوم ته او زړونه ذکر کړي. سورة مريم ۱۲۰ مطلب وا شو چه بيا ئې کله اوبينو او نه ليدو نه زده دا رخوت دوينه چه الله ذکر کړي ته ټه دغه هر په هم. قُلْ

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ اللّٰهُ سَمْعَكُمْ وَأَبْصَارَكُمْ وَ
ووايه خبر راکړئ ماته که چېرې واخلي الله تعالىٰ غوږونه ستاسې او سترګې ستاسې او
خَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُم مَّنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَأْتِيكُم بِهِ ۗ انظُرْ
مهر ولګوي په زړونو ستاسې نو څوک دی معبود غير د الله چه راوړي تاسې ته دغه. وګورئ
كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُونَ ﴿٤٦﴾ قُلْ
څرنګه بيا بيا راوړو موږ ايتونه، بيا دوی مخ اړوي. ووايه
أَرَءَيْتَكُمْ إِنْ أَتَاكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ بَغْتَةً أَوْ جَهْرَةً
خبر راکړئ ماته که چېرې راشي تاسې ته عذاب د الله تعالىٰ ناڅاپه يا ښکاره
هَلْ يُهْلَكُ إِلَّا الْقَوْمُ الظَّالِمُونَ ﴿٤٧﴾ وَمَا نُرْسِلُ
نه به هلاک کړی شي مګر قوم ظالمان. او نه رالېږو موږ
الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ۖ فَمَنْ
پيغمبران مګر زېري ورکوونکي او وېره ورکوونکي. نو هر چا چه
آمَنَ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٤٨﴾
ايمان راوړو او نېک عمل ئې وکړو نو نشته وېره په دوی باندې او نه به دوی غمژن کېږي.
وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا يَمَسُّهُمُ الْعَذَابُ بِمَا
او هغه کسان چه دروغ ئې وګڼل زموږ ايتونه ورسېږي دوی ته عذاب په سبب د هغې
كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿٤٩﴾ قُل لَّا أَقُولُ لَكُمْ عِندِي
چه دوی به فسق کولو. ووايه نه وايم زه تاسو ته چه ما سره دي
خَزَائِنُ اللّٰهِ وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَا أَقُولُ لَكُمْ
خزانې د الله تعالىٰ او نه پوهېږم زه په غيبو باندې او نه وايم زه تاسو ته چه
إِنِّي مَلَكٌ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ ۚ قُلْ هَلْ
يقيناً زه ملائک يم، تابعداري نه کوم مګر د هغه چه وحي کولی شي ما ته. ووايه، ايا
يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ ۚ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ ﴿٥٠﴾
برابر دي ړوند او بينا؟ ايا نو فکر نه کوئ تاسې.

د
ع
۹
۱۱

أَرَءَيْتَكُمْ الخ: دا هم دليل عقلي دے چه عذاب د الله تعالىٰ ختمولي نشي. وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ الخ: وموږ نه رالېږو پېغمبران مګر زېري ورکوونکي او وېره ورکوونکي نه منونکو له. د آيت کريمه د ۴۳ ايت سره تعلق او دفع د سوال ده چه موږ ستا نه غوښتو عذاب راولي. د جواب حاصل دا دے چه پېغمبر د پوهې زېري ورکول او وېره ورکول دي، او عذاب راوستل د هغه په اختيار کښي نشته. فَمَنْ آمَنَ: په دې کښي بشارت دے. وَالَّذِينَ كَذَّبُوا ۴۹: په دې کښي تخويف دے. د قرآن کريم قاعده دا ده چه کله بشارت مخکښي ذکر کړي نو تخويف ورپسې روستو ذکر کوي او کله ئې عکس کوي. دا قاعده په سورة بقره کښي هم وه. هلته امام رازي رحمه الله د عبارت معنیٰ ذکر شوې ده. قُل لَّا أَقُولُ لَكُمْ: په دې ايت کريمه کښي آداب د تعليم او دفع د سوالونو ده. يو سوال دا و چه که ته رسول وې نو بيا به هم مالدار وې. وګورئ سورة زخرف. بل سوال دا و چه ته رسول يې نو موږ ته د ملک شام د ميوو څخه نو رخونه اوښايه. بل سوال دا و چه ته رسول يې نو بيا خوراک څښاک ولې کړې؟ وګورئ سورة فرقان. بل سوال دا و چه بيا خو موږ ته او نه سو برابر نو جواب نه په ترتيب سره دي.

وګورئ جواهر وغيره. وَأَنذِرْ بِهِ الَّذِينَ (حاشيه د راتلونکي مخ ۵۱): مطلب دا دے چه دوی اعتراضونه هم کوي خو ته د قرآن بيان مه پرېږده. او دې ايت کښي نفي د شفاعت قهري هم ده.

وَلَا تَطْرُدِ الَّذِيْنَ ۵۲ : په دے آیت کریمه کښې ترغیب په موالات (دوستانې) د موحدینو دے. مشرکانو ویل چه موږ به نه راضي کیږو وچه دے غریبو کسانو سره کینو. نو دا آیت نازل شو. ذکورنې قرطبي ایجا معارف ۳۴۳ ، سورة کهف ۲۸ ، سورة

وَاَنْذِرْ بِهِ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ اَنْ يُّحْشَرُوْٓا اِلٰى رَبِّهِمْ

او ویره ورکړه په دې (قرآن) هغه کسانو ته چه ویریږي چه راجمع به کړے شي دوي رب خپل ته

لَيْسَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ لَّعَلَّهُمْ

نه به وي دوي ته سوا د الله تعالی نه څوک دوست او نه سفارشي د پاره د دې چه دوي

يَتَّقُوْنَ ۵۱ وَلَا تَطْرُدِ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ

پرهیز وکړي ډېر لره او مه شړه هغه کسان چه بللي دوي رب خپل لره

بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ ؕ مَا عَلَيْكَ

صبا او بیګا اراده لري دوي د رضا د الله تعالی نشته په تا باندې

مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ وَّمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِمْ

د حساب د دوي نه هیڅ شے او نشته د حساب ستا نه په دوي باندې

مِّنْ شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُوْنَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۵۲

هیڅ شے پس وبه شړې دوي لره پس شې به د ظالمانو نه

وَكَذٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لِّيَقُوْلُوْٓا اَهٰٓؤُلَآءِ

او دغسې امتحان کړے دے موږ د بعضو د دوي په بعضو سره چه وائي منکرین آیا دغه کسان

مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنْ بَيْنِنَا ؕ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ

دي چه احسان کړے الله دے په دوي باندې د مینځ زموږ نه آیا نه دے الله تعالی ښه پوهه

بِالشّٰكِرِيْنَ ۵۳ وَاِذَا جَآءَكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ

په شکر کوونکو باندې او کله چه راشي تاته هغه کسان چه ایمان راوړي

بِاٰيٰتِنَا فَقُلْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلٰى نَفْسِهِ

په آیتونو زموږ پس ووایه سلام دے په تاسو باندې لازم کړے دے رب ستاسو په ځان خپل

الرَّحْمَةَ ۙ اَنَّهٗ مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ سُوْٓءًۢا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ

رحمت لره شان دا دے چه چا عمل وکړو ستاسو نه بد عمل په ناپوهۍ سره بیا ئے

تَابَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَاَصْلَحَ فَاَنَّهٗ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۵۴

توبه وکړه پس د دے نه او نیک عمل ئے وکړو پس یقیناً الله بخښونکے مهربان دے

هود ۱۱۴ هم ذکورنې او روستو آیت ۵۴ الوا م هم ذکوري. شیخ القرآن رحمه الله په فرمایل چه ځما د ذرفقاؤ د سستۍ سبب یو نه عمل کول دي په هغه آیتونو چه پکښې ترغیب د موحدینو د موالات وشه او بیا خپل مشن چه د توحید مسئله ده مقصدي نه ګرزوي. حُسنِ ظن: شیخ القرآن رحمه الله په ۱۳۰۳ کښې په ورځ دوره کښې په وے خانې وفرمایل څه ځو ګے د ملګرو چانړ ولګرم نو د سوات خان افضل، د باجوړ عبدالجبار او د باړے سمیع الحق په باندې شي. بقیة الاثار کښې ما ذکر کړیدي. ما زه ګو نوکښې پو ځو شنو چه کړیسے (معقد الرحمن قل) دا د شیخ القرآن رحمه الله حسن ظن ؤو. باري تعالی د څه ساسیه کار استقامت نصیب کړي. ما د خپلے اوږدې قصیدې په آخر کښې لیکلي دي: "د ګومه نصیحت په عینه تا ته غاړه نه، فالیره محبت سا تا لے ځه د هر چا نه، همدا به وی یارشي د دنیا او ما فیها نه، که وي ګرد د پیرشي خو بوځل د انتقال، پښګل درس او تدریس مکنمی لره خوشاله" وَكَذٰلِكَ ۵۳ : دے سورت کښې تیر عقبات په لفظ وَكَذٰلِكَ سره دي. هر مبلغ باندې دا راځي دا اوله عقبه ده. قرطبي رحمه الله فرمائي تپ کښې څنګه چه موږ امتحان کړے په هغکینو باندې ذرګه امتحان کړو به دوي باندې. اَلَيْسَ اللّٰهُ : دا ئے جواب دے. شیخ القرآن رحمه الله په هم فرمایل: وږوے پښې او ښتې ښبرے. پیرون جولاوے او بڼ ښځې یتومے. ته هغه قلائے نه یے؟ نو ستا جواب الله تعالی کوي چه آیا نه دے الله تعالی ښه پوهه په شکر کوونکو باندې، یعني څه د الله تعالی شکر کوونکے بنده وه. قرآن مزده ګیهٔ او ښ علم د ذکر وه او س بیان کوم مسئله بیانتوم. فَقُلْ سَلٰمٌ : دا هم د ۵۴ سره لګي. سلام دلته په معنی د امن

ځمکې وي - بِجَهَالَةٍ: په نا پوهئ سره. قرطبي وائي په ص ۳۴ کښي شوک چه عمل د خطاګوي نو هغه به کي جاهل وي - دګورئ مثل نساء - وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ ۵۵ : او دغه رنګي واضح بيانوو ايتونو له - دا دويمه

وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ وَلِتَسْتَبِيْنَ سَبِيْلُ
او دغه رنګي (لکه) واضح بيانوو ايتونه او چه ښه واضح شي لار د
الْمُجْرِمِيْنَ ۵۵ قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ
د مجرمانو . ووايه يقيناً ما منع کړې شوي يم له عبادت د هغو کسانو چه
تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۭ قُلْ لَّآ اَتَّبِعُ اَهْوَاۗءَكُمْ ۙ
تاسي يي بلئ سوا د الله تعالى نه . او وايه تابعداري نه کوم د خواهشاتو ستاسو
قَدْ ضَلَلْتُ اِذًا وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ۵۶ قُلْ
يقيناً ګمراه به شم په دغه وخت کښي او نه به يم له لاره موندونکو نه . ووايه
اِنِّيْ عَلٰي بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَكَذَّبْتُمْ بِهٖ ۭ مَا عِنْدِيْ مَا
يقيناً زه په ښکاره دليل يم د رب خپل . او تاسي دروغ ګڼلي دي هغه . نشته ما سره هغه
تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ ۭ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ۭ يَقُصُّ الْحَقَّ
چه تلوار کوئ تاسي په هغې سره . نشته اختيار مګر خو الله لره . بيانوي حق لره ،
وَهُوَ خَيْرُ الْفٰصِلِيْنَ ۵۷ قُلْ لَّوْ اَنَّ عِنْدِيْ مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ
او هغه غوره د فيصله کوونکو دي . ووايه که چرته وي ما سره هغه چه تاسي ورته تلوار کوئ
بِهٖ لَقُضِيَ الْاَمْرُ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالظّٰلِمِيْنَ ۵۸
هغه به يقيني فيصله شوې وه کار زما او ستاسي ترمينځ . او الله ښه پوهيږي په ظالمانو باندې
وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَآ اِلَّا هُوَ ۭ وَ
او خاص الله تعالى سره دي کنجيانې د غيبو . نه پوهيږي په هغې مګر خو الله تعالى ، او
يَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۭ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ
پوهيږي په هغه چه په وچه کښي دي او په درياب کښي او نه غورځيږي هيڅ
وَّرَقَةٍ اِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِيْ ظُلُمٰتِ الْاَرْضِ وَلَا
پاڼه مګر پوهيږي په هغې الله تعالى ، او نه څه دانه په تيارو د ځمکه کښي ، او نه
رَطْبٍ وَّلَا يَابِسٍ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ۵۹
لامده او نه وچه ، مګر په کتاب واضحه کښي دي

عقبه ده - دوئ به وائي بيله مسئله د هغه وايزوده نه وه نو جواب وادي چه يا ربار دا مسئله ځکه بيانوو چه د مجرمينو او غير مجرمينو لاره واضحه او بيله شي. وَلِتَسْتَبِيْنَ: شاه ولي الله رحمه الله فرمائي چه دا واو زيادي وي لکه په ځائے د زمر کښي. (فتح ص ۱۷۰) دلته د مجرمان ذکر کړي دي او غير مجرمان ئے حذف کړي دي او په معنى کښي مراد دي لکه تحمل ص ۸ کښي هم معطوف حذف دي. قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ: په دے ايت کريمه کښي هم طريقه د تعليم ده او ورسره نفي د شرک في العبادة ده - خلاصه مشي ګورئ. قُلْ اِنِّيْ عَلٰي بَيِّنَةٍ: دا هم طريقه د تعليم ده او نفي د تصرف ده د نبي عليه السلام نه. اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ: ټول دي اختيارات مګر خو الله تعالى لره چه يو وخت پخير ذوے نه په ځه شي غير د هغه نه رحم په يو ۲ وجه د وجهو نه شته. (روح ص ۱۹۷) ګورئ سورة يوسف ص ۴۰ ، او ايت ۵۷ د مخکښي سره لګي. وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ: دا دليل عقلي دے او نفي د علم غيب د مخلوقاتو نه او خاص الله تعالى سره کنجياني د غيبو وے. تفسير کبير ص ۳ کښي دي چه د خاص د الله تعالى سره دي نه دليل چا سره. تهانوي رحمه الله ليکي چه خاص وے قدرت او علم تام او عام په باري تعالى پورې (بيان القرآن ص ۲۳) وَمَا تَسْقُطُ: او نه راغورځيږي هيڅ پاڼه مګر الله تعالى پرے پوهيږي. مخکښي ئے د کلياتو ذکر وکړو. اوس د جزئياتو ذکر کوي. په دے ځائے کښي قاضي بيضاوي رحمه الله ليکي چه دا مبالغه ده په احاطے د علم د الله تعالى په جزئياتو باندي - (ص ۳۱) ○

وَهُوَ الَّذِي وَفِه: دَ پاره دليل عقلي. ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيهِ: فيه ضمير ليل ورځې ته راجع دے چه مراد ترينه دروغ ذ قيامت دے. معنى ئے داده او الله هغه ذات دے چه روحونه اخلي د خوب استاسو نه د شپے او

وَهُوَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُم بِاللَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُم

او الله هغه ذات دے چه قبض کوي ستاسو روحونه د شپے او پوهيږي په هغه چه کوئ ئے تاسو

بِالنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيهِ لِيُقْضَىٰ أَجَلٌ مُّسَمًّى

د ورځے. بيا په راپورته کوي تاسو په دې کښې د دې دپاره چه پوره کړے شي نيټه مقرره،

ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ يُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ٦٠

بيا به هغه ته واپسي ستاسو وي بيا به خبردار کړي تاسو په هغه عمل چه تاسو کوئ.

وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ ۖ وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ

او الله زورور دے د پاسه د بندګانو خپلو د. او رالیږي په تاسو باندې

حَفَظَةً حَتَّىٰ إِذَا جَاءَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ

ساتونکي ملائکې، تر دې چه راشي يو کس ستاسو ته مرګ، وفات کوي ئے

رُسُلُنَا وَهُمْ لَا يُفَرِّطُونَ ٦١ ثُمَّ رُدُّوا إِلَى اللَّهِ

استازي زمونږ او دوي په قصور نه کوي. بيا به واپس کړے شي الله ته،

مَوْلَاهُمُ الْحَقِّ ۚ أَلَا لَهُ الْحُكْمُ وَهُوَ أَسْرَعُ

چه مالک د دوي حق دے، خبردار خاص الله لره اختيار دے، او هغه زر دے د

الْحَاسِبِينَ ٦٢ قُلْ مَن يُنَجِّيكُم مِّن ظُلُمَاتِ

حساب کونکو نه دے. ووايه څوک نجات درکوي تاسو ته د تيارو د

الْبَرِّ وَالْبَحْرِ تَدْعُونَهُ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً لَّئِنْ

وچے او د دریاب نه چه بلئ هغه لره په عاجزۍ سره او په پټه سره، که چرے

أَنجَانَا مِنْ هَٰذِهِ لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ ٦٣

خلاص کړو مونږ د دې مصيبت نه خامخا يقيناً شو به مونږ، د شکر کونکو نه.

قُلِ اللَّهُ يُنَجِّيكُم مِّنْهَا وَمِن كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ

ووايه الله تعالى نجات درکوي تاسو ته د دې نه، او د هر غم نه، بيا

أَنتُمْ تُشْرِكُونَ ٦٤ قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَىٰ أَن

تاسو شرک کوئ؟ ووايه الله تعالى قدرت والا دے، په دې چه

پو ضميري په هغه چه تاسو کوئ د ورځے. بيا به راپورته کوي تاسو په ورځ کښې. تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا: دے ايت کښې ۳ عقلي دليل دے. سبب د غيبو والي چه د روح قبض کولو دپاره بيوه فرښته ده. بيشک الله تعالى د کښې دي نو چه هغه هر ځائے ته حاضر نه دے نو نبي عليه السلام په طريق اولى سره حاضر ناظر شو. جواب دا چه د روح د قبض کولو ديره کسان ملائک دي او د ملک الموت نه په السجده کښې جنس مراد دے. نور ايتونه هم شته: لا يُفَرِّطُونَ: مخصوص نه، معنى اسراف نه، افعال نه، نحل. قُلْ مَنْ يُنَجِّيكُمْ: دليل عقلي او نره شرک في الدعا. مِنْ ظُلُمَاتِ الْبَرِّ: مراد ترينه هغه تکاليف او مشکلات دي چه په وچه يا سمندر کښې انسان راګيريږي. (بحر محيط) قُلْ هُوَ الْقَادِرُ: دليل عقلي دے او دريم قسم عذابونه په دے ايت کښې ذکر دي. د پاسه نه لکه په قوم د نوح او عاد باندې شوي او په قوم د لوط او خاوندانو د څانګو باندې. او د لاندې نه لکه په قوم د نوح او په ډوبولو د فرعون او په زمکه ننوتل د قارون شو. (مظهري) د پاسه نه اميران او د لاندې نه غلامان. (ابن کثير ...) وَيُذِيقَ: د اختلاف د رانولو نکي ... او يو به بل سره جنګ کړي تاسو لره. شاه صاحب رحمه الله فرمائي چه فوجونه مختلف به پيدا شي او د يو بل سره به جنګ کوي (فتح ...) مفتي صاحب رحمه الله فرمائيلي دي: دا ديني او دنيوي هر حيثيت سره د مسلمانانو د ښکته والي او د بربادۍ

په اسبابو باندې غور او کړے شي نو د اکثرو مصيبتو نو سبب به خپل مابين کښې اختلاف او ډلے ډلے کيدل دي
(معارف ۳/۳۶۳) وَكَذَّبَ بِهِ قَوْمُكَ دا ذو رندو په متعلق کښې ـ د يو سوال جواب دے چه عذاب ولے نه راځي؟

يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّن فَوْقِكُمْ أَوْ مِن تَحْتِ
راوليږي په تاسو باندې عذاب د پاسه ستاسو نه، او يا لاندې د
أَرْجُلِكُمْ أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُم بَأْسَ
خپو ستاسو نه، او يا اګډ کړي تاسو ډلے ډلے، او وڅکوي بعضو ستاسو ته جنګ
بَعْضٍ ۗ انظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُونَ ﴿٦٥﴾
د بعضو، اوګوره څرنګه بار بار بيانوو آيتونه د پاره د دے چه دوي پوهه شي.
وَكَذَّبَ بِهِ قَوْمُكَ وَهُوَ الْحَقُّ ۚ قُل لَّسْتُ عَلَيْكُم
او دروغ اوګڼلو دا قوم ستا، او دا حق دے، ووايه نه يم زه په تاسو باندې
بِوَكِيلٍ ﴿٦٦﴾ لِّكُلِّ نَبَإٍ مُّسْتَقَرٌّ ۚ وَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٦٧﴾
ذمه وار. د هر خبر د پاره وخت مقرر دے، او زر دے چه پوهه به شئ.
وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ
او کله چه ووينے ته هغه کسان چه بحث کوي په آيتونو زمونږ کښې نو واړوه ځان
عَنْهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ ۚ وَإِمَّا
د دوي نه، تر دے چه بحث شروع کړي په خبره بله کښې، او که چرے
يُنسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَىٰ
هير کړي ستا نه شيطان، پس مه کيناسه پس د ياد د وو نه
مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٦٨﴾ وَمَا عَلَى الَّذِينَ
سره د قوم ظالمانو، او نشته په هغه کسانو چه
يَتَّقُونَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَيْءٍ وَلَٰكِن
ځان ساتي د ګناهونو، د حساب د دوي نه هيڅ شے، او لاکن (په دوي باندې)
ذِكْرَىٰ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٦٩﴾ وَذَرِ الَّذِينَ اتَّخَذُوا
نصيحت کول دي، د پاره د دے چه بچ شي. او پريږده هغه کسان چه نيولے ئے دے
دِينَهُمْ لَعِبًا وَلَهْوًا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا
دين خپل په لوبو او بے ځايه، او دهوکه ورکړي ده دوي ته ژوند د دنيا

نو جواب وادے چه عذاب لپاره خپله نيټه مقرره ده. وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ: په دے آيت کښې منع ده د شموليت نه په مجلسونو د شرک او بدعت کښې. مفتي صاحب رحمه الله فرمائي چه "د اهل باطل د مجلسونو نه د پرهيز حکم دے." (معارف ۳/۳۶۸) جصاص رحمه الله فرمائي چه دا دلالت کوي چه په موږ باندې لازم دي ترک د کيناستلو د مجلسونو د ملحدانو او د ټولو کفارو چه کله کفر او شرک ظاهروي (احکام القرآن ۳/۶) وَلَٰكِن ذِكْرَىٰ: مدارک ۲/۹۶ کښې راځي چه خبر ئے محذوف دے. وَلَٰكِن ذِكْرَىٰ عَلَيْهِمْ چه نصيحت کول په دے لازم دي. لَعِبًا وَلَهْوًا: چه جوړ کړے دے دين خپل لوبے او ټوقے يعنے دين پورے ټوقے او مسخرے کوي لکه کفار، مشرکان، دهريان شو. آو يا د لوبو ئے دين جوړ کړے لکه عرسونه په قبرونو او قوالي کول شو. عبدالله صاحب د نوبنار شعر کښې ويلے دي:
"حقيقت ګڼلے وائي د شرو د سرو، د غير په نوم باندې قوال وما ناډي". (لاهوري تفسير ماجدي ۲/۹۵ کښې او جواهر ۳/۳۳ کښې د عرسونو والو په رد کښې دا آيت پيش کړے دے چه د بدعاتو او منکراتو مجموعه ده او سرود د وحي او د معرفت الهي ـــ د حاصلولو دعوے کوي. وګورئ الهام الرحمن ۱/۵۹. تهانوي رحمه الله په مسائل السلوک ۲/۳۳ کښې ليکي چه حق واضح په دے کښې اکثر عرسونه د وخت د صوفيانو د زمانے زمونږ ده د وجے د اشتمال د هغونه په منکراتو د لهو يا تو او بدعاتو باندے.

أَنْ تُبْسَلَ: اصل عبارت داسے دے. لِئَلَّا تُبْسَلَ. معنیٰ داشوه چه راګیر نشی یو نفس. (روح ۱۹۹). دَ دے
ایت کښی منعه ده دَ مجلسونو دَ مشرکانو او بد عتیانو نه. او نفی دَ شفاعت زهری او تخویف اخروی هم دے.

وَذَكِّرْ بِهِ أَنْ تُبْسَلَ نَفْسٌ بِمَا كَسَبَتْ لَيْسَ لَهَا

او پند ورکوه په قرآن چه راګیر نشی یو نفس په سبب دَ هغه عمل چه کړے ئے دے. نشته دے دَ هغه لره

مِنْ دُونِ اللّٰهِ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيعٌ وَإِنْ تَعْدِلْ

سوا دَ الله تعالیٰ نه نه څوک دوست او نه سفارشی. او که چرته ئے بدله ورکړی

كُلَّ عَدْلٍ لَّا يُؤْخَذْ مِنْهَا أُولٰٓئِكَ الَّذِينَ أُبْسِلُوا

پوره بدله. نو به نشی اخستے دَ هغه نه. دا هغه کسان دی چه ګیر کړے شی

بِمَا كَسَبُوا لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَّعَذَابٌ أَلِيمٌ بِمَا كَانُوا

په هغه عمل چه دوی کوی. دوی لره څکل دَ ګرمو اوبو نه او عذاب دردناک دے په سبب دَ هغه چه

يَكْفُرُونَ ﴿٧٠﴾ قُلْ أَنَدْعُوا مِنْ دُونِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُنَا

دوی کفر کولو. او وایه آیا رابللے شو موږ سوا دَ الله تعالیٰ نه هغه چه نفع نه رسوی موږ لره

وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلٰٓى أَعْقَابِنَا بَعْدَ إِذْ هَدٰىنَا اللّٰهُ

او ضرر راکوی موږ ته او واپس کړے شو موږ په پونده خپلو پس دَ هغه نه چه هدایت راکړے الله

كَالَّذِي اسْتَهْوَتْهُ الشَّيٰطِينُ فِي الْأَرْضِ حَيْرَانَ

او شو پریشان دَ هغه کس په شان چه بے لارے کړے ئے شیطان. په زمکه کښی حیران دے.

لَهٗٓ أَصْحٰبٌ يَّدْعُونَهٗٓ إِلَى الْهُدَى ائْتِنَا قُلْ إِنَّ

دَ لره ملګری دی. بلی دَ لره طرف دَ هدایت ته چه راشه موږ ته. وایه یقیناً

هُدَى اللّٰهِ هُوَ الْهُدٰى وَأُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ

هدایت دَ الله تعالیٰ هغه هدایت دے. او امر شوے موږ ته چه تابع شو دَ پاره دَ رب

الْعٰلَمِينَ ﴿٧١﴾ وَأَنْ أَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّقُوهُ وَهُوَ الَّذِي

دَ عالمونو. او دا چه ودروئ مونځ. او ویریږئ دَ هغه نه. او الله هغه ذات دے

إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٧٢﴾ وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

چه هغه ته به راجمع شئ تاسو. او الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړی ئے اسمانونه

وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ وَيَوْمَ يَقُولُ كُنْ فَيَكُونُ

او زمکه په حقه سره. او کله چه ووائی شه نو شی.

ع ۱۰

قُلْ أَنَدْعُوا: دَ کښی یو تشبیه خبره ده. دَ دے باب چه تشبیه او تمره ده دَ لا تلوم او نفی دَ شرک فی الدعا دے. دَ مشرک مثال دَ هغه بیوقی دے چه په شرو رواں وی کله بیوه ولاړ ته او کله بل دربارته او حیران او پریشان وی. قُلْ إِنَّ هُدَى اللّٰهِ: او وایه هدایت دَ الله هغه هدایت دے. سورت ال عمران ۷۳ کوری. په ایت ۷۳ کښی دلائل عقلیه: چه خالق الله تعالیٰ دے. اختیار مند دَ بادشاهئی الله تعالیٰ دے. عالم دَ غیبو او په بنکاره دو الله تعالیٰ دے.

وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِيمُ: (حاشیه رانلوکی موتشان): دَ دے ځائے نه ترنه پورے څلور ګر باب دے او څلور خبرے پکښی ذکر دی (۱) دلیل نقلی تفصیلی دَ ابراهیم علیه السلام نه (۲) دَ اولس پیغمبرانو نه دلیل نقلی اجمالی: په توحید باندے یعنی دَ ابراهیم علیه السلام فتوی او دَ اولس پیغمبرانو پرے دستخط: په ۸۹ کښی دَ نهه نومونه. په ۸۸ کښی دَ څلورو په ۸۵ کښی دَ څلورو. او دَ نبیه خبره ترغیب توحید ته په ۹۰ کښی. آزَرَ: آزر دَ ابراهیم علیه السلام دَ پلار نوم دَ او. او څنی وائی نوم ئے تارخ وو (ابن کثیر) ابن جریر رحمه الله فرمائی چه حقه خبره داده چه نوم ئے آزر وو او څوک چه وائی چه نوم ئے تارخ وو نو وجه ئے داده چه دَ ده نومونه بل وو لکه دَ ډیرو خلقو دَ پاره دوی نومونه وی کوم چه ورکښی (ابن جریر ۱۵۹، ابن کثیر ۱۵۴). اَصْنَامًا: بتان. محمد بن عبد الکریم شهرستانی رحمه الله لیکلی دی چه دَ بتانو جوړول

او ایښودل د معبود غائبه په صورت او شکل وی نائب وی په خائی د هغه او قائم وی د هغه په مقام او
بوله اسے نه وی نو موتږه په قطعی طور په هغه و چه هغه عاقل نه تو یوی مجسم لري په خپل لاس په شکل ئے

قَوْلُهُ الْحَقُّ وَلَهُ الْمُلْكُ يَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ عَالِمُ
الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ (۷۳) وَإِذْ قَالَ
إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ آزَرَ أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا آلِهَةً إِنِّي أَرَاكَ
وَقَوْمَكَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ (۷۴) وَكَذَٰلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ
مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنَ الْمُوقِنِينَ (۷۵)
فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ اللَّيْلُ رَأَىٰ كَوْكَبًا قَالَ هَٰذَا رَبِّي فَلَمَّا
أَفَلَ قَالَ لَا أُحِبُّ الْآفِلِينَ (۷۶) فَلَمَّا رَأَى الْقَمَرَ بَازِغًا
قَالَ هَٰذَا رَبِّي فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمْ يَهْدِنِي رَبِّي
لَأَكُونَنَّ مِنَ الْقَوْمِ الضَّالِّينَ (۷۷) فَلَمَّا رَأَى الشَّمْسَ
بَازِغَةً قَالَ هَٰذَا رَبِّي هَٰذَا أَكْبَرُ فَلَمَّا أَفَلَتْ
قَالَ يَا قَوْمِ إِنِّي بَرِيءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ (۷۸)
إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ

جوړ کړی او ربیان وے عقیده لري چه دا هم مدد ګار او خالق دے (النحل والنحل ...) او په دے آیت کریمه کښې د مشرکینو یا ایجاد د الصالحین رد وشو. او د حافظ ابن کثیر رحمه الله د وینا مطابق د ملائکو شکلونه ئے جوړ کړی وو نو د مشرکین بالملائکه رد وشو او ربیا دا د انو ایتونو کښې د مشرکینو بالکواکب رد وشو. د [illegible] تفسیر کښې مونږ د ابراهیم علیه السلام د تبلیغ بیان درے قسمه خلق ذکر کړی وو. هلته بادشاه سره مناظره ذکر شوے وه ... او د قوم سره بیان دے. وَكَذَٰلِكَ نُرِي: د ... په دے کښې مونږ. د لته مضارع حکایت د حال ماضیه وه (ابو السعود ...) د ملکوت معنی شیخ الهند رحمه الله عجائبات لیکلے ده. وَلِيَكُونَ: د لته معطوف علیه محذوف دے. جلالین ... کښې لیکی لِيَسْتَدِلَّ چه دلیل ونیسی په دے او شی د یقین کونکو نه. فائده: د دینو شیخ رحمه الله فرمائی چه بعض خلق وائی چه ابراهیم علیه السلام ته د ولس کاله په غار کښې وو بیا راوتلے شو. دا بے بنیاده وو (جواهر ...) هَٰذَا رَبِّي: ایا دا به ځما رب وی؟ مقدر ئے کښې دی چه دا انکار په هغوی دے او عرب اکتفاء کوی د حرف د استفهام نه ... (...) فَلَمَّا أَفَلَتْ: مولانا ... فرمائی:

خپل اسا او ملک یقین زن ... لا احب الآفلین ... (معارف ...) حَنِيفًا: (حاشیه ...)، وګوري
۳۵ بقره، ۶۷ آل عمران، ۱۲۰ نحل . وَحَاجَّهُ قَوْمُهُ: معلومه شوه چه خلکو د توحید اعلان کوی نو مخالفین به

ورسره جګړه کوي. (انفس الزراعم ص۹۱) وَسِعَ رَبِّي الخ: راګیر دی رب زما هر شي لره په علم خپل کښې. وګورئ ص۱۵۵ بقره، ص۱۷۱ نساء، ص۱۲ طلاق، ص۸۹ اعراف. مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ: هغه چه نه دے رالیږلے الله تعالی په هغه باندې تاسو ته هیڅ دلیل. وګورئ یوسف ص۴۰

وَالْأَرْضَ حَنِيفًا وَّمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٧٩﴾ وَحَاجَّهٗ

او زمکه، یو طرف کیدونکے (په توحید)، او نه یم زه د شرک کوونکو نه. او جګړه وکړه د ده سره

قَوْمُهٗ ؕ قَالَ أَتُحَاجُّوْٓنِّيْ فِي اللّٰهِ وَقَدْ هَدٰىنِ ؕ وَلَآ

قوم د ده، وویل ده: آیا جګړه کوئ تاسو زما سره په (توحید د) الله کښې او یقیناً هدایت کړے دے ما له، او

أَخَافُ مَا تُشْرِكُوْنَ بِهٖٓ إِلَّآ أَنْ يَّشَآءَ رَبِّيْ شَيْئًا ؕ

نه ویریږم زه د هغه څیز نه چه شریکوئ تاسو د هغه سره، مګر دا چه وغواړي رب زما څه شے لره،

وَسِعَ رَبِّيْ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ؕ أَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٨٠﴾ وَ

راګیر دے رب زما هر شي لره په علم کښې، آیا پس ولې نصیحت نه قبلوئ تاسو. او

كَيْفَ أَخَافُ مَآ أَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُوْنَ أَنَّكُمْ

څنګه به ویریږم زه د هغه نه چه شریک کړي دي تاسو او تاسو نه ویریږئ په دې چه یقیناً تاسو

أَشْرَكْتُمْ بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا ؕ

شریک کړي دي تاسو د الله سره هغه چه نه دے رالیږلے الله په هغه باندې تاسو ته هیڅ دلیل،

فَأَيُّ الْفَرِيْقَيْنِ أَحَقُّ بِالْأَمْنِ ۚ إِنْ كُنْتُمْ

پس کوم یو د دواړو ډلو نه ډیر لائق دے په امن سره، که چرے یئ تاسو

تَعْلَمُوْنَ ﴿٨١﴾ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْٓا إِيْمَانَهُمْ

پوهیږئ. هغه کسان چه ایمان ئې راوړے او نه ئې دي ګډ کړي ایمان خپل

بِظُلْمٍ أُولٰٓئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿٨٢﴾ وَ

د شرک سره، دغه کسان دوی لره امن دے، او دوی لاره موندونکي دي. او

تِلْكَ حُجَّتُنَآ اٰتَيْنٰهَآ إِبْرٰهِيْمَ عَلٰى قَوْمِهٖ ؕ

دغه دلیل زمونږ دے چه ورکړے وو مونږ ابراهیم ته په قوم د هغه باندې،

نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ ؕ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيْمٌ

اوچتوو درجې د چا لره چه وغواړو، یقیناً رب ستا حکمت والا

عَلِيْمٌ ﴿٨٣﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗٓ إِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ؕ كُلًّا

پوهه دے. او وبخښلو مونږ هغه ته اسحٰق او یعقوب، هر یو ته مو

[Margin: رکوع ٩]

ال عمران، ص۱۶ نجم. فَأَيُّ الْفَرِيْقَيْنِ: کومه یوه ډله د دواړو ډلو نه لائقه ده په امن سره. ترڅو چه ځان ته وله واني. سورة نحل ص۱۲ کښې هم ورته امت ویلے شوے دے. شیخ القرآن رحمه الله فرمایل چه بې غیرته هلک چه لوئے ته راوزي نو واني څه زه څا سکرے یم او غیرتي چه لوئے ته راوزي نو واني زما ملګري څوک دي؟ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا الخ: دا بیا ترکیب اِدخال الٰهي دے. او د ظلم نه مراد شرک دے. وګورئ لقمان ص۱۳. حدیث شریف کښې راغلي د ابن مسعود رضي الله عنه نه روایت چه دا آیت کله نازل شو نو صحابه کرامو وویل چه کوم یو دے زمونږ نه چه په ځان ئې ظلم نه دے کړے. نبي علیه السلام ورته وفرمایل چه نه دی څه چه تاسو خیال کوئ. تاسو نه دي اوریدلي چه نیک بنده ویلي دي: يٰبُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ. وګورئ بخاری ص۶۸۶، ابن کثیر ص۱۵۰، ابن جریر ص۱۶۹، سراج منیر ص۴۳۸، در منثور ص۲۲ (ج۳ ص۲۳). وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ: دغه دلیل زمونږ دے. شیخ رحمه الله لیکي چه اشاره ده قول د "مقصود" ته چه ابراهیم علیه السلام پرے دلیل نیولے وو په قوم خپل باندې. (زر۶۳م). وَوَهَبْنَا لَهٗ: دې ځای ته د باب دویمه خبره ذکر کوي چه د اولس پیغمبرانو نه اجمالي دلیل دے او عجب ترتیب پکښې دے. ابراهیم، اسحٰق، یعقوب، نوح اصول د پیغمبرانو دي. داؤد، سلیمان نبیان هم وو او بادشاهان هم. ایوب، یوسف باندې ابتلاګانې ډیرې راغلې دي. موسیٰ، هارون د ډیر معجزو خاوندان وو. زکریا، یحییٰ، عیسیٰ، الیاس زاهدان وو. اسمٰعیل، الیسع، یونس، لوط د دوی شریعتونه ډیر نه وو مشهور شوي. وګورئ جواهر ص۱۳۲ ❖

هَدَيْنَا وَنُوحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهٖ

هدایت کړې وه موږ، او نوح ته موږ هدایت کړې وه، مخکې له دې نه، او د اولاد د نوح ؑ نه،

دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ وَاَيُّوْبَ وَيُوْسُفَ وَمُوْسٰى وَ

داؤد ؑ، او سلیمان ؑ، او ایوب ؑ، او یوسف ؑ، او موسیٰ ؑ، او

هٰرُوْنَ ۚ وَكَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۸۴﴾ وَزَكَرِيَّا وَ

هارون ؑ، او دغه رنګه بدله ورکوو موږ نیکو کارو ته۔ او زکریا ؑ، او

يَحْيٰى وَعِيْسٰى وَاِلْيَاسَ ۚ كُلٌّ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۸۵﴾

یحییٰ ؑ، او عیسیٰ ؑ، او الیاس ؑ، ټول وو د نیکانو نه۔

وَاِسْمٰعِيْلَ وَالْيَسَعَ وَيُوْنُسَ وَلُوْطًا ۚ وَكُلًّا فَضَّلْنَا

او اسمٰعیل ؑ، او الیسع ؑ، او یونس ؑ، او لوط ؑ، او هر یو لره غوره کړې وو موږ

عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۶﴾ وَمِنْ اٰبَآئِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَاِخْوَانِهِمْ ۚ

په مخلوقو باندې۔ او د بعض د پلارانو د دوی نه، او د اولاد د دوی، او د وروڼو د دوی نه

وَاجْتَبَيْنٰهُمْ وَهَدَيْنٰهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۸۷﴾

او غوره کړي وو موږ هغوی لره، او بوتلي وو موږ هغوی، د سیخې لارې ته۔

ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ

دغه هدایت د الله تعالیٰ دی، هدایت کوي په دې سره چا لره چه وغواړي، د بندګانو

عِبَادِهٖ ۚ وَلَوْ اَشْرَكُوْا لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا

خپلو نه، او که چرې شرک کړې وې دوی، ضائع به شوي وو د دوی نه هغه عمل چه

يَعْمَلُوْنَ ﴿۸۸﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ

دوی کول۔ دغه هغه کسان دي چه ورکړې وو موږ دوی ته کتاب،

وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ۚ فَاِنْ يَّكْفُرْ بِهَا هٰٓؤُلَآءِ فَقَدْ

او پوهه د دین او نبوت، پس که چرې کفر وکړي په دې دغه، د اکسان، پس یقیناً

وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَّيْسُوْا بِهَا بِكٰفِرِيْنَ ﴿۸۹﴾ اُولٰٓئِكَ

ورسپارلي دي موږ دا، داسې قوم ته چه نه دي په دې سره کفر کوونکي۔ دغه هغه

وَمِنْ اٰبَآئِهِمْ ۸۷: دا ولسو پیغمبرانو د نومونو د ذکر کولو نه بعد د نورو پیغمبرانو علیهم السلام نه اجمالي ذکر کوي. مطلب دا چه د ذکر شوو پیغمبرانو نه علاوه ډېر پلرونه او ځامن او وروڼه نبیان دي او هغوی ته هم هم هدایت کړې وو.

وَلَوْ اَشْرَكُوْا ۸۸: په دې کښې د شرک مذمت دے. او دا فرضي مثال دے ځکه چه پیغمبران د شرک نه معصوم دي لکه زمرٍ ۶۵ کښې دي. ابن کثیر رحمه الله فرمائي په دې آیت کښې چه دا شرط دے او شرط تقاضا د وقوع نه کوي. وګورئ ۸۱ زخرف، ۲۲ انبیاء. فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا ۸۹: یعنی که چرې دا مکې والا توحید نه مني نو مونږ سپارلي دي داسې قوم ته چه نه دي په دې سره کفر کوونکي چه هغه مدینې والا انصار دي او یا اصحاب د نبي صلی الله علیه وسلم مطلقاً دي او یا هر مؤمن د اولاد د آدم علیه السلام نه. (روح ص ۲۱۶ ج ۵)

✤ ✤ ✤

لَآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ۹۰: نه غواړم تاسو نه په قرآن یا په تبلیغ باندې هیڅ اجر بدله. (سراج المنیر ص...) فائده: په دې کښې دلیل دې چې بدله اخستل په تعلیم د قرآن او فقهې او روایت د احادیثو روا نه دی (ابن کثیر، مدارک، مظهری ...)

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ فَبِهُدٰىهُمُ اقْتَدِهْ ؕ قُلْ لَّآ

کسان دی چې هدایت ورکړی الله تعالیٰ پس په هدایت د دوی ګام ایږده، ووایه نه

اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٰى لِلْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۰﴾

غواړم تاسو نه په تبلیغ د قرآن هیڅ بدله، نه دی دا مګر نصیحت دی د پاره د ټول مخلوق.

وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖۤ اِذْ قَالُوْا مَآ اَنْزَلَ

او قدر ونه کړو دوی د الله د لائق قدر ده، کله چې اوویل دوی نه دی راکوز کړی

اللّٰهُ عَلٰى بَشَرٍ مِّنْ شَیْءٍ ؕ قُلْ مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ

الله تعالیٰ په هیڅ بشر باندې هیڅ شی، ووایه چا را نازل کړی دی کتاب

الَّذِیْ جَآءَ بِهٖ مُوْسٰى نُوْرًا وَّهُدًى لِّلنَّاسِ

هغه چې راوړی وه هغه موسیٰ علیه السلام رڼا او هدایت د پاره د خلقو

تَجْعَلُوْنَهٗ قَرَاطِيْسَ تُبْدُوْنَهَا وَتُخْفُوْنَ كَثِيْرًا ۚ وَ

ګرځوئ تاسو هغه جدا جدا پاڼې، ښکاره کوئ دغه پاڼې او پټوئ ډیرې، او

عُلِّمْتُمْ مَّا لَمْ تَعْلَمُوْٓا اَنْتُمْ وَلَآ اٰبَآؤُكُمْ ؕ قُلِ اللّٰهُ ۙ

ښودلی شو تاسو ته هغه څه چې نه پوهیدئ تاسو او نه پلار نیکونه ستاسو، ووایه الله تعالیٰ

ثُمَّ ذَرْهُمْ فِیْ خَوْضِهِمْ یَلْعَبُوْنَ ﴿۹۱﴾ وَهٰذَا كِتٰبٌ

بیا پریږده دوی په بیهوده خبرو کښې لوبې کوي. او دا کتاب دی

اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ مُّصَدِّقُ الَّذِیْ بَیْنَ یَدَیْهِ

راښکته کړی مونږ دا برکتی تصدیق کوونکی د هغه کتابونو چې مخکښې تیر شوي دي

وَلِتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ حَوْلَهَا ؕ وَالَّذِیْنَ

او د پاره د دې چې ویره ورکړې ته ام القریٰ (مکې) او هغه چا ته چې چاپیره ده ددې، او هغه کسان چې

یُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ یُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَهُمْ عَلٰى

ایمان راوړی په آخرت، دوی ایمان راوړی په دې (قرآن)، او دوی په

صَلَاتِهِمْ یُحَافِظُوْنَ ﴿۹۲﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ

مونځونو خپلو ساتنه کوي. او څوک دی لوی ظالم د هغه چانه چې

په تعلیم او تبلیغ باندې هیڅ معاوضه نه اخستل په تمامو انبیاء علیهم السلام کښې همیشه راچلیدلی دی او د تبلیغ مؤثر کیدو لو کښې ډیر لوی دخل دی. (معارف ...) تائیدات: یونس ۷۲، هود ۵۱، یوسف ۱۰۴، شعراء ۱۰۹، ... وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ: ددې خلقو نه تر ۹۴ پورې پنځم باب دی. خلاصه ئې پنځه امور دي: (۱) رد د منکرینو د نزول د وحی ۹۱، ۹۳ (۲) ترغیب قرآنی ۹۲ (۳) تخویف اُخروی سره د نفی شفاعت قهریه ۹۳، ۹۴ (۴) نقلی دلائل عقلیه ... (۵) رد په مشرکانو ... وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ: (۱) دوی تعظیم ونکړو د الله تعالیٰ لائق تعظیم (۲) دوی صفت ونکړو د الله لائق صفت بیان نه کړو (روح ...) (۳) دوی او نه پیژندلو الله تعالیٰ په حق پیژندلو سره. (زاد المسیر ...) قُلْ مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ: حاصل د جواب دا دې چې دا خو منې چې موسیٰ علیه السلام ته کتاب ورکړې شوې وو او هغه بشر وو، نو څنګه وائي چې الله تعالیٰ په هیڅ بشر باندې هیڅ شی وحی کتاب نه دې نازل کړې. وَلِتُنْذِرَ: او چې ویره ورکړې ته مرکز کلی والا او هغه چې چاپیره دی ددې. دې نه معلومه شوه چې قرآن د ټول عالم د انذار دپاره دې. سورة فرقان ۱ کښې او ابراهیم ۵۲ کښې هم دی. زاد المسیر ... کښې دی چې ابن عباس رضی الله عنه فرمائي چې الله تعالیٰ د ټولې زمکې اراده کړې ده (یعنې په دې آیت کښې) مثلاً شوری ۷ کښې هم ذکر دی. وَمَنْ اَظْلَمُ ۹۳: او څوک دې لوی ظالم د هغه چا نه چې تړی په الله تعالیٰ دروغ لکه عمرو خزاعی لحی سائبه، بحیره وغیره جوړې کړې وې. اَوْ قَالَ: او یا وائي چې وحی شوې ده ما ته او حالانکه وحی نه ده شوې هغه ته هیڅ شی لکه مسیلمه کذاب شو. (مظهری ...) وَمَنْ قَالَ: او د هغه چا نه چې وائي ...

ځه به نازل کړم ځو مثل دهغه چه نازل کړي دي الله تعالیٰ لکه ځینکے مشرکانو به ویل وګورئ سورة انفال ۳۱ -
او وے نه الظّلِمونَ فِي تو جه واي یعني لوئے ظالمو به افتراء کوونکي دا دے په تفسیر د سورة بقره ۱۴ کښ

افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ قَالَ اُوْحِيَ اِلَيَّ وَلَمْ
تړي په الله تعالیٰ باندے دروغ . او یا وائي وحی شوے ماته . او وحی
يُوْحَ اِلَيْهِ شَيْءٌ وَّمَنْ قَالَ سَاُنْزِلُ مِثْلَ مَا اَنْزَلَ
نه شوے هغه ته هیڅ شے او هغه څوک چه وائي چه ځه به نازل کړم مثل دهغه چه نازل کړے دے
اللّٰهُ ۗ وَلَوْ تَرٰى اِذِ الظّٰلِمُوْنَ فِيْ غَمَرٰتِ الْمَوْتِ وَ
الله او که ته وینے کله چه ظالمان . په سختو د مرګ کښ وي . او
الْمَلٰٓئِكَةُ بَاسِطُوْٓا اَيْدِيْهِمْ ۚ اَخْرِجُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ۗ اَلْيَوْمَ
ملائک اوږده وړکړي وي . لاسونه خپل دوي ته . راوباسئ . ساګانے خپلے . نن ورځ
تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ
به ورکولے شي تاسو ته عذاب خوارئ کولو په سبب د هغے چه یئ تاسو چه وایئ به الله تعالیٰ باندے
غَيْرَ الْحَقِّ وَكُنْتُمْ عَنْ اٰيٰتِهٖ تَسْتَكْبِرُوْنَ ٩٣ وَلَقَدْ جِئْتُمُوْنَا
ناحقه خبرے ، او وئ د ایتونو د هغه نه تکبر کولو . او یقیناً راغلئ تاسو ماته ،
فُرَادٰى كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّتَرَكْتُمْ مَّا خَوَّلْنٰكُمْ
یکل یواځے لکه چه پیدا کړي وو مونږ تاسو اول ځلے . او پریخودو تاسو هغه چه درکړي وو مونږ تاسو
وَرَآءَ ظُهُوْرِكُمْ ۚ وَمَا نَرٰى مَعَكُمْ شُفَعَآءَكُمُ الَّذِيْنَ
روستو د شاګانو خپلو نه . او نه وینو مونږ تاسو سره سفارشیان ستاسو هغه چه
زَعَمْتُمْ اَنَّهُمْ فِيْكُمْ شُرَكٰٓؤُا ۗ لَقَدْ تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ
خیال کړے وو تاسو چه یقیناً دوي په تاسو کښ برخه والا دي . یقیناً غوڅ شو تعلق ستاسو ، او ورک شو ،
عَنْكُمْ مَّا كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ٩٤ اِنَّ اللّٰهَ فَالِقُ الْحَبِّ
تاسو نه هغه چه تاسو به ګمان کولو . یقیناً الله تعالیٰ څیرونکے . د دانو ،
وَالنَّوٰى ۗ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ
او د زړو دے ، راوباسي . ژوندے . د مړي نه ، او راویستونکے
الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ ۗ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ٩٥
د مړي دے ، د ژوندي نه ، دغه صفتونو والا الله دے ، بیرته اړولے شئ ؟

ع ١٢
١٤ ركوع

واقعه د بیان شوے وه په
لَقَدْ تَّقَطَّعَ : یقیناً غوڅ شو ،
پریکړه شو تعلق ستاسو
بَيْنَكُمْ ، وَضَلَّ : هم وینځ شي
او ځوځان څخه ایښے ته هم ، وټه
په اُولے معنیٰ سره دے لسني
رحمه الله پیره د عربي شعر ذکر
کړیدے رجنّا ، اِنَّ اللّٰهَ ۹۵
د دے نه دلائل عقلیه
شروع شو . حَبّ جمع د
حَبَّة ده . او نوی جمع د
نواة ده . معنیٰ دا شوه چه
الله تعالیٰ شکوونکے د دانو ،
او زړو ، هم وګورئ فصل
او ګلے ترینه هغه زرغونوي
ډیکښ ست ده ځه اختیارلفظ
وګورئ نمل ۶۰ . يُخْرِجُ
الْحَيَّ : راوباسي ژوندي لره
د مړي نه او راویستونکے د
مړي دے د ژوندي نه .
سورة آل عمران ۲۷ ویونس
یونس وګورئ ؟

فَالِقُ الْاِصْبَاحِ : (حاشیه د
راتلونکي مخ ۲۲۲ شروع شو) :
سورة فلق ۱ : حُسْبَانًا :
مفتي صاحب رحمه الله په دے
مقام لیکي چه د قرآن کریم
د دے ارشاد نه دے طرفته
اشاره کړے ده چه کلونو او
میاشتو حساب شمسي هم
کیدے شي او قمري هم ،
دواړه د الله جل شانه
انعامات دي . بیا روستو لیکي
چه چونکه اسلامي تاریخ او د
اسلامي احکامو تعلق مدار په

په قمري حساب باندې دے ، ځکه وجه نه په امت باندې فرض دي چه دوي دا حساب قائم او باقي وساتي
نور حسابونه شمسي وغیره که د څه ضرورت د وجے نه اختیار کړے شي نو څه ګناه نشته . لیکن قمري

Scanned by CamScanner

دي. په دغه ايت کښې هم ذکر شوي دي. چه ورځ او شپه ستاسو دپاره ګټور دي. انسانانو ته د اخبرهم نه وي
حساب لره بالکل نظر اند ازګول او محوه ګول لوبه ګنډه وه چه د هغې د وجے نه انسانانو ته د اخبرهم نه وي (معارف منيعې ٣٢) لِتَهْتَدُوا بِهَا : چه لاره د حاصله

فَالِقُ الْإِصْبَاحِ ۚ وَجَعَلَ اللَّيْلَ سَكَنًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ
شګافوونکے د صبا دے، او ګرځولے ده شپه د آرام دپاره، او نمر، او سپوږمۍ
حُسْبَانًا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ ﴿٩٦﴾ وَهُوَ الَّذِي
د حساب دپاره، دغه اندازه د زورور او پوهه والا ده. او الله هغه ذات دے چه
جَعَلَ لَكُمُ النُّجُومَ لِتَهْتَدُوا بِهَا فِي ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۗ
پيدا کړي ئې تاسو دپاره ستوري، چه لاره حاصله کړئ په هغې سره په تيارو د وچې، او درياب کښې
قَدْ فَصَّلْنَا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٩٧﴾ وَهُوَ الَّذِي
يقيناً واضحه بيان کړو ايتونه د پاره د هغه قوم چه پوهيږي. او الله هغه ذات دے چه
أَنشَأَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ وَمُسْتَوْدَعٌ ۗ قَدْ
پيدا کړي ئې يئ تاسو د يو نفس نه، پس تاسو له ځائے د قرارې او د امانت دے، يقيناً
فَصَّلْنَا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَفْقَهُونَ ﴿٩٨﴾ وَهُوَ الَّذِي أَنزَلَ
تفصيل سره بيان کړو ايتونه د هغه قوم د پاره چه پوهيږي. او الله هغه ذات دے چه رالېږلې ئې دي
مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ نَبَاتَ كُلِّ شَيْءٍ فَأَخْرَجْنَا
د بريخ نه، اوبه، پس راوباسو په هغه، شينکې د هر شي نه، پس راوباسو
مِنْهُ خَضِرًا نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا وَمِنَ النَّخْلِ
د هغه نه شينکي، راوباسو د هغه نه دانے په يو بل سورے، او د کهجورو نه
مِن طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وَجَنَّاتٍ مِّنْ أَعْنَابٍ
د غوټې د هغه نه ګنګوري نژدے، او باغونه د انګورو نه،
وَالزَّيْتُونَ وَالرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا وَغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ۗ
او خونه، او انار، چه يو شان دي په رنګ، او غير يو شان دي په خوند کښې،
انظُرُوا إِلَىٰ ثَمَرِهِ إِذَا أَثْمَرَ وَيَنْعِهِ ۚ إِنَّ فِي
وګورئ ميوے د دے ته، کله چه ميوه ونيسي، او پخيدو د هغې ته، يقيناً په دې کښې
ذَٰلِكُمْ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٩٩﴾ وَجَعَلُوا لِلَّهِ
تاسو ته دي نښې دي د هغه قوم د پاره چه ايمان راوړي. او جوړ کړي دي الله لره

حساب لره بالکل نظر انداز ګول او
چه رمضان به کله وي او ذوالحجه به کله
کيږي په دغو معره. سورت نحل ځائے
کښې هم دي او سورت ملک ځائے
کښې وره ئي ندے نور ئے هم ذکر
دي. پښے د رڼے فائده ئے دي.
مِنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ : د يو
نفس نه مراد آدم عليه السلام دے.
د نسل. فَمُسْتَقَرٌّ : پس تاسو له
ځائے د قرارې دے په رحمونو
کښې او ځائے د امانت دے په
شاګانو کښې (٢) يا مستقر دے
د پاسه د زمکے نه او مستودع د
لاندے د زمکے نه. (٣) يا بعضي
ستاسو نه قرار ے مونده شي
او بعضي امانت اېښودل شوي دي.
(مدارک سېڅا) وَهُوَ الَّذِي ٩٩
په دې کښې بل عقلي دليل دے او
د رب العزت د قدرت نوعي
نمونے ښکښې دي. مُشْتَبِهًا :
شاه صاحب رحمه الله فرمائي چه
بعضے په صورت کښې ورته او بعضے
يو شانے دي او په خوند کښې
مخالف دي. خوږه او بله تروه
يا ترخه دي. (فتح الرحمن ڝ)
وَجَعَلُوا لِلَّهِ : په دې کښې د مشرکانو
ترديد دے چه څوک پيدا کړي دي
الله تعالى لره شريکان جوړ کړيدي
او څو ورله ځامن او څو
ورله لونړه ثابتے کړيدي. په
شپږ طريقو سره جواب ذکر شوے
دے. د سُبْحٰنَهٗ نه تر وَهُوَ
بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ : بقره ١١٦
١١٧ هم وګورئ.
بَدِيعُ السَّمٰوٰتِ : (حاشيه د
راتلونکي مخ ٢٢٣) : خطيب
شربيني رحمه الله معني ليکي چه
پيدا کوونکے د اسمانونو او د زمکے
دے بغير د مخکښې والي د مثال نه (سراج منير ٣٣١) ذٰلِكُمُ اللّٰهُ : دے ايت کريمه کښې ثمرات د دلائلو ذکر
دي سورة مؤمن ٦٢ وګورئ. لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ : نشي رالګيدلے الله تعالى لره نظرونه د دنيا.

مَسْئَلَه: ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي چه نشي احاطه کولې پرې نظرونه په دنيا کښې او مؤمنان به ويني په اخرت کښې ځکه چه الله تعالیٰ خبره ذکر کړې په سورة قيامه ٢٢، ٢٣ کښې. (رازي ٢٣). حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائي چه متواتر خبرونه د ابو سعيد، ابو هريره، انس، جرير او دا نه مرفوع او ډېرو صحابه کرامو په روايت د نبي صلى الله عليه وسلم نه راغلي دي چه يقيناً مؤمنان به ويني الله تعالیٰ لره په کور د اخرت کښې په ميدانونو د قيامت کښې او په باغيچو د جنت کښې. الله تعالیٰ دې موږ لره د دغو کسانو نه وګرځوي په خپل احسان او کرم باندې. امين. (ابن کثير، البحر المحيط ٢٣٤). د شاه ولي الله شيخ رحمه الله ليکي: دا ديدار اعلیٰ نعمتونو د جنت کښې لوئي نعمت دے او رضوان د الله هم تر ټولو لوئي نعمت دے. (نيل المرام ٢٣٣). سورة توبه ٧٢ کښې دي: ورضوان من الله اکبر: او رضا د طرفه د الله نه ډېر لوئي نعمت دے. اللطيف: رزق ورکونکے. قد جاءکم بصائر: ترغيب دے قرآن ته. بصائر: د زړه کتيا دلائل. اعراف ٢٠٣ او جاثيه ٢٠ کښې. وکذلک نصرف: دا دے ايتونه باندې راګرځوو او پوره شو مضمون چه خبرې کښې دادی. په دې کښې دريم عقبه ته بيانو هم عقبه د پاره د تشجيع او طريقه د دعوت په ... او زجرونه په ... او په ... کښې جواب دے او دعوت ورکول دي ... او دفع د سوال چه ولې ځينې ګمراه شوي

شُرَكَاءَ الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ وَخَرَقُوا لَهُ بَنِينَ وَبَنَاتٍ

شريکان پيريان، او الله پيدا کړي دي هغوي او جوړ کړي دي دوي الله لره ځامن او لوڼه

بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٠٠﴾ بَدِيعُ

بغير د پوهې نه، پاکي ده الله لره او اوچت دی د هغه څه چه دوي بيانوي. په ځل پيدا کوونکے

السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُ وَلَدٌ وَلَمْ تَكُن

د اسمانونو او د زمکې دے. څنګه به شي هغه لره ځوې او نشته هغه

لَّهُ صَاحِبَةٌ ۖ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ

لره ملګرې (ښځه) او پيدا کړې ده هر شي لره، او هغه په هر شي باندې

عَلِيمٌ ﴿١٠١﴾ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ ۖ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ خَالِقُ كُلِّ

پوهه دے. دغه صفتونو والا الله دے رب ستاسو، نشته لائق د بندګۍ مګر هغه پيدا کوونکے د هر

شَيْءٍ فَاعْبُدُوهُ ۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ ﴿١٠٢﴾

شي دے پس عبادت وکړئ د هغه او هغه په هر شي باندې کارساز دے.

لَّا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ ۖ وَهُوَ

نه لائق کوي هغه لره سترګې په دنيا کښې او هغه رالوئي دي نظرونو لره او هغه

اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ ﴿١٠٣﴾ قَدْ جَاءَكُم بَصَائِرُ مِن رَّبِّكُمْ ۖ

مهربان، خبردار دے. يقيناً راغلي تاسو ته د زړه کتيا دلائل د طرفه د رب ستاسو نه

فَمَنْ أَبْصَرَ فَلِنَفْسِهِ ۖ وَمَنْ عَمِيَ فَعَلَيْهَا ۚ وَمَا

پس چا چه بصيرت حاصل کړو، نو دا خپل ځان لره دے، او چا چه ړوند شو نو دا ورله په ځان دے، او

أَنَا عَلَيْكُم بِحَفِيظٍ ﴿١٠٤﴾ وَكَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ

يم زه په تاسو باندې نګهبان. او دغه رنګه بار بار بيانوو موږ ايتونو لره

وَلِيَقُولُوا دَرَسْتَ وَلِنُبَيِّنَهُ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿١٠٥﴾

او چه ووائي دوي چه ايزده کړې دي تا، او چه بيان يې کړو دغه قوم لره چه پوهيږي.

اتَّبِعْ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ۖ لَا إِلَٰهَ إِلَّا

تابعداري د هغه کتاب کوه چه وحي کړے شي تا ته د طرفه د رب ستا نه، نشته لائق د عبادت مګر

ع ١٨

هغه سبب ګمراهۍ دے. وکذلک: او دغه رنګه بار بار بيانوو ايتونو لره. شيخ القرآن رحمه الله فرمائي چه دا دريمه عقبه ده د مبلغ د پاره چه مشرکين به وائي چه د چا نه دې دا مسئلې ايزده کړې دي. استاذ دې څوک دے. درست: قرأت وتعلمت: لوستل دې کړي او زده کړه دې کړې ده (روح ٢٣٤) په نبي عليه السلام باندې اعتراض دے

مه کړے وَلو: إِنَّمَا يُعَلِّمُهُ بَشَرٌ: يقينًا خوده کوي دا ته بشر (سورة نحل ت) . وَلِنُبَيِّنَهُ: چه واضح ئے بيان کړو. دَيْنَهُ ئي شيخو رحمه الله فرمائي چه د وَلِيَقُولُوا دَرَسْتَ نه څکمي معطوف عليه محذوف دے چه

هُوَ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٦﴾ وَلَوْ شَاءَ

هغه دے او مخ واړوه د مشرکانو نه . او که اراده کړے وے د

اللَّهُ مَا أَشْرَكُوا وَمَا جَعَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا

الله تعالیٰ دوي به شرک نه وے کړے او نه يو ګرزولے مونږ تا باندے دوي باندے نګهبان ،

وَمَا أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ ﴿١٠٧﴾ وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ

او نه ئے ته په دوي باندے ذمه وار . او کنځل مه کوئ هغه کسانو ته ،

يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ فَيَسُبُّوا اللَّهَ عَدْوًا

چه دوي ئے بلي سوا د الله نه ، پس کنځل به وکړي دوي الله ته په دشمني سره

بِغَيْرِ عِلْمٍ كَذَٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ أُمَّةٍ عَمَلَهُمْ

بغير د پوهے نه . دغسے ښائسته کړے مونږ هر يو ډلے ته عمل د دوي ،

ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِم مَّرْجِعُهُمْ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُوا

بيا رب د دوي ته واپسي د دوي ده ، پس خبر به ورکړي دوي ته په هغه کارونو چه

يَعْمَلُونَ ﴿١٠٨﴾ وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ

دوي کوي . او قسمونه کوي دوي په الله باندے پوره قسمونه خپل ،

لَئِن جَاءَتْهُمْ آيَةٌ لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا قُلْ إِنَّمَا

چه راشي دوي ته معجزه ، خامخا ايمان به راوړي دوي په هغے . ووايه يقينًا

الْآيَاتُ عِندَ اللَّهِ وَمَا يُشْعِرُكُمْ أَنَّهَا إِذَا

معجزے په نزد د الله دي ، او څه شي خبر کړي تاسو له چه دغه معجزه که

جَاءَتْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠٩﴾ وَنُقَلِّبُ أَفْئِدَتَهُمْ وَ

راشي نو هم ايمان نه راوړي دوي . او اړوو مونږ زړونه د دوي ، او

أَبْصَارَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا بِهِ أَوَّلَ مَرَّةٍ

سترګے د دوي ، ځکه چه دوي ايمان نه دے راوړے په دے قرآن ، اول ځل ،

وَنَذَرُهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١١٠﴾ ١٣ ع ٩

او پريږدو دوي لره په سرکشئ د دوي کښ چه ډاريږي په سترګو ړانده دي .

منزل ٢

نيك بخته شي په دغه يو قوم ته بد بخته پرے شي نور نو وائي: درست: تعلمت وقرأت (روح ٢٣٣/٧) (جواهر) اتَّبِعْ مَا أُوحِيَ: دا جواب دے چه د کتاب الله تابع شه او صرف يو مسئله کوه. لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ چه مسئله د توحيد ده او مخ د دوي نه واړوه او تبرے ګمان نه يے او د دوي اِلهوته زړه بد مه وايه. فَيَسُبُّوا اللَّهَ: دوي به زړه بدے الله تعالیٰ ته وائي — آلوسي رحمه الله د اشکال په جواب کښ فرمائي چه کله غضب او غصه باعث شوي دوي لره په کنځلو باندے. (روح ٢٥١/٧) مفتي صاحب رحمه الله ليکي چه د کوم ګناه سبب جوړيدل هم ګناه ده. (معارف ٣٣٢/٣) وَأَقْسَمُوا: دلته زجر دے. وَمَا يُشْعِرُكُمْ: او تاسو څه شي خبر کړي د دوي په ايمان باندے. أَنَّهَا: أَيْ لِأَنَّهَا: ځکه چه دا معجزه راشي نو هم ايمان نه راوړي. او يا معنیٰ دا ده لَعَلَّهَا: شايد چه دا معجزه راشي نو هم ايمان نه راوړي (م) دريمه توجيه دا ده چه په لا يؤمنون کښ لا زائد دے او دا دويم مفعول دے معنیٰ دا شوه او تاسو له څه شي خبر کړي چه ايمان دوي چه دغه معجزه راشي. (ابو مسعود ٩٣/٣)

وَنُقَلِّبُ: ځکه چه آړوو زړونه د دوي. دا علت د ما قبل شو، او كَمَا په معنیٰ د لِمَا دے. دا هم علت شو.

وَلَوْ اَنَّنَا نَزَّلْنَا: دا د ما قبل تفصیل دے یعنی کچرے مونږ. د دوی مطلوبه معجزے دوی ته اوښایو نو هم ایمان نه راوړی. وَكَلَّمَهُمُ الْمَوْتٰى: او خبرے ورسره وکړی مړی. جواب د هغه دے چه دوی به وویل زمونږ پلرونه راژوندی کړی.

وَلَوْ اَنَّنَا نَزَّلْنَآ اِلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ الْمَوْتٰى

او کچرے مونږ راولیږو دوی ته ملائک، او خبرے ورسره وکړی مړی،

وَحَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ قُبُلًا مَّا كَانُوْا

او راجمع کړو مونږ په دوی باندے هر شے، مخامخ، نه دی دوی اچه

لِيُؤْمِنُوْٓا اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ

ایمان راوړی، مګر که رضا وشی د الله تعالی، و لیکن زیات د دوی نه،

يَجْهَلُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا

جاهلان دی. او دغه رنګے ګرځولی دی مونږ د هر نبی دپاره، دشمنان،

شَيٰطِيْنَ الْاِنْسِ وَالْجِنِّ يُوْحِيْ بَعْضُهُمْ اِلٰى

شیطانان د انسی، او د جنی، وسوسه اچوی بعض د دوی، بعض

بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُوْرًا ۚ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ

نورو ته، ښائسته شوی خبرے دپاره د دوکے، او که رضا شوے وے د رب ستا،

مَا فَعَلُوْهُ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۱۲﴾ وَلِتَصْغٰٓى

نه به یې کړے وے، پس پریږده دوی، او هغه چه دوی یې جوړوی. او د دے دپاره چه مائله شی

اِلَيْهِ اَفْـِٕدَةُ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ وَ

د ے ته زړونه د هغه کسانو چه ایمان نه راوړی، په آخرت باندے، او

لِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُوْا مَا هُمْ مُّقْتَرِفُوْنَ ﴿۱۱۳﴾

په غوره کړی هغه، او چه وکړی دوی هغه چه دوی یې دے د ځان نه کوی.

اَفَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْتَغِيْ حَكَمًا وَّهُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ

آیا پس د غیر د الله نه، ولټوم زه فیصله کوونکے، او الله هغه ذات دے چه رالیږلے

اِلَيْكُمُ الْكِتٰبَ مُفَصَّلًا ۚ وَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ

تاسو ته، کتاب، واضح بیان کړے شوے، او هغه کسان چه ورکړے مونږ هغوی ته

الْكِتٰبَ يَعْلَمُوْنَ اَنَّهٗ مُنَزَّلٌ مِّنْ رَّبِّكَ

کتاب، په پوهیږی چه دا کتاب، نازل شوے دے، د رب ستا نه،

سورة دخان ۲۹ وګوره چه تللا د دوی مخ ته یعنی مخامخ. وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ: دا خلور مستقبله ده. مطلب دا چه کله نے د ډیرشت نتوی وکړو نو بیا به پیران او ملایان مناظرے راوړی او لوړو والی کتابونه به ورسره وی. یو به وائی دا کتاب نه منی بل به وائی دا نه منی کومو کښی چه د شرک خبرے وی. زُخْرُفَ الْقَوْلِ: ښائسته شوی خبرے ملمع خبرے. چه ګیلټ وی او د سرو زرو او سپینو زرو په وی. دا تعبیر د غلطو روایاتو او اقوالو نه دے. سورة حج کښی ۵۲ وګوره چه د هر رسول او نبی دوران بیان کښی شیطانان وسوسے اچوی. وَلِتَصْغٰى: او چه مائله شی د دوی زړونه د هغه کسانو چه ایمان نه راوړی په آخرت باندے او چه غوره ئے کړی. مطلب دا چه ایمان به ختم وکړی راکوی ماته مکرر. او ستا د مرلے دپاره به وائی چه زما پیران ته کمی چه کله او لوته نے کړی. آخر به شیخو وائی خاموش. خلق به غلی شی نو شیخ به وائی توبه وباسه. بل به وائی چه د له خرهم تیره موقعه وګرځی نو ته به بروالے. اَفَغَيْرَ اللّٰهِ: آیا بغیر د کتاب د الله نه حکم ولټوم فیصله کوونکے؟ شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل ستاید د توحید آیتونه بنسټیا ددی او زړه شرے ورولے. بعض به وائی چه هر څه کوی نو صفت کړه نو به وائی کښی ستا جواب دے.

فائده: په ۱۱۲ کښی تسلی ده نبی علیه السلام ته چه د نورو نبیانو اقتدا وکړه. (تسهیل ۱۹) فائده: مالک بن شوبه دینار رحمه الله فرمائی چه انسی شیطانان په ما سخت دی د جنی شیطانانو نه ځکه چه کله اعوذ بالله ووایم نو لاړ شی جنی شیطان خو انسی شیطان رازی ما ته او راکاږی ما په ګناه ته. (مدارک) فائده: حافظ ابن کثیر رحمه الله

فرمائی چه قرآن رښتیا دے په اخبارکښی او عدل دے په طلب کښی. وَلَا تُطِعْ: ویر محبت نه دے لکه چیرو پسے لاړ شے او گمراه به دِکړی. سورة یوسف ۱۰۳ وگورئ. اِنْ یَّتَّبِعُوْنَ: تابعداری کوی دوی مگر دُ گمان، گمان دُهم ولیل نه دے. وگورئ یونس ۳۶. فَکُلُوْا: دَ دے خائے نه دَ سورت انعام دویم حصه په رد دَ

بِالْحَقِّ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿١١٤﴾ وَتَمَّتْ
په حق سره، پس هیڅکله مه کیږه ته دَ شک کوونکو نه. او پوره شوے دے

كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا ۚ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ ۚ
کلمه دَ رب ستا په رښتیا وائی او انصاف کښی، نشته بدلوونکے کلمو دَ هغه لره، او هغه

وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿١١٥﴾ وَإِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ
دَ الله اوریدونکے پوهه دے. او که تابعداری وکړے دَ ډیرو هغه چه

فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ ۚ إِنْ
په زمکه کښی دی گمراه به کړی تا لره دَ لارے دَ الله نه، نه تابعداری

يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴿١١٦﴾
کوی دوی مگر دَ گمان، او نه دی دوی مگر اټکل گمان کوونکی.

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ مَنْ يَضِلُّ عَنْ سَبِيلِهِ ۖ وَ
یقینا رب ستا هغه ښه پوهه دے په هغه چا چه گمراه کیږی دَ لارے دَ هغه نه، او

هُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿١١٧﴾ فَكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ
دَ الله ښه پوهه دے په لاره موندونکو باندے. پس خورئ دَ هغه چه یاد کړے شوے دی نوم

اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كُنْتُمْ بِآيَاتِهِ مُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾ وَمَا
دَ الله په هغه باندے که چرے یئ تاسو په آیتونو دَ هغه ایمان راوړونکی. او څه دی

لَكُمْ أَلَّا تَأْكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَقَدْ
تاسو لره چه نه خورئ دَ هغه نه چه یاد شوے دی نوم دَ الله تعالیٰ په هغه باندے او یقینا

فَصَّلَ لَكُمْ مَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ
واضح بیان کړی دی تاسو ته هغه چه حرام کړے شوے دی په تاسو باندے، مگر چه مجبور کړے شئ تاسو

إِلَيْهِ ۗ وَإِنَّ كَثِيرًا لَيُضِلُّونَ بِأَهْوَائِهِمْ بِغَيْرِ
هغه ته، او یقینا ډیر خلق خامخا گمراه کوی (خلق لره) په خواهشاتو خپلو بغیر دَ

عِلْمٍ ۗ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِالْمُعْتَدِينَ ﴿١١٩﴾ وَ
علم نه، یقینا رب ستا هغه ښه پوهه دے په زیاتی کوونکو باندے. او

شرک فعلی کښی دَ ۶ او په دیکښی درے بابه۔ اول ترهغه پورے دویم ترهغه پورے دریم تر هغه پورے۔ اول باب کښی غنم معنا مینځ دی (۱) رد دَ تحریمات العباد (۲) او نذر لغیر الله (۲) ترغیب قرآن ته (۳) تخویف او شبهے عقب (۴) زجر په انکار دَ رسالت (۵) تخویف اخروی. فَکُلُوْا: علامه نسفی رحمه الله په مدارک کښی ورلره شرط محذوف لیکی: اِنْ کُنْتُمْ مُتَحَقِّقِیْنَ بِالْاِیْمَانِ یعنی که تاسو ثابت یئ په ایمان پس خورئ دَ هغه نه چه یاد کړے شوے وی نوم دَ الله تعالیٰ په هغه باندے دَ ذبح په وخت او مه خورئ دَ هغه نه چه یاد شوے وی په هغه نوم دَ غیر الله دَ اِلٰهو دَ دوی نه او نه مړشوے وی بخپل مرگ. وَمَا لَکُمْ اَلَّا: تهانوی رحمه الله لیکی او څه دی تاسو لره چه نه خورئ دَ هغه نه چه یاد کړے شوے وی نوم دَ الله تعالیٰ په هغه باندے بغیر دَ شرکت نه. (ترجمان القرآن ص ۳۶۱) وَقَدْ فَصَّلَ: دا صیغه دَ ماضی ده کیږے مراد تری نه تفصیل په سورة مائده کښی نه دے ځکه دا صحیح کیږی ځکه سورة انعام مکی دے او مائده مدنی دے او دَ انعام نه پس نازل شوے دے او که سورة نحل ۱۱۵ مراد شی نو دا هم نه صحیح کیږی ځکه چه هغه هم په نزول کښی دَ انعام نه بعد دے دَ اِنَّکُمْ ... او هغه (۶۰) دے

بل هلته تفصیل نشته صرف ځلور محرمات ذکر دی په دے وجه زمونږ دَ تسیوح لک دَ پنج پیر شیخ او دَ بنځفیر شیخ رحمهما الله دَ خیل شیخ مولینا حسین علی رحمه الله نه نقل کوی چه دلته ماضی په معنیٰ دَ مضارع ده چه واضحه بیان کړی به تاسو ته. او مراد تری نه دا دے چه سورت کښی دَ محرماتو تفصیل دے چه راروان دے. وگورئ جواهر

سه ۲۳۸ او الهام الرحمن ۲۹۶: امام رازی رحمه الله هم په کبیر کښې ذا اشکال او جواب کړی دی او دا سے فرمائیلی دی چه ظاهرِ
الاثم او باطنه: ښکاره ګناه لکه شرک فعلی او پټه ګناه لکه شرک اعتقادی (جواهر ۳۲ ج ۲) او صحیح خبره
ولو اننا ۸ — داده چه ۱ — په ښکاره هم په پټه

ذَرُوا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَكْسِبُونَ

پریږدئ ښکاره ګناه، او پټه ګناه، بیشکه هغه کسان چه کوی،

الْإِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوا يَقْتَرِفُونَ ﴿١٢٠﴾ وَلَا

ګناه، ژر ده چه بدله به ورکړے شی په هغه چه دوی کوی. او مه

تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ

خورئ د هغه نه چه نوم نه دے یاد کړے شوے په هغې د الله تعالیٰ، او بیشکه دا

لَفِسْقٌ ۗ وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰ أَوْلِيَائِهِمْ

خامخا نافرماني ده، او بیشکه شیطانان، خامخا وسوسے اچوی دوستانو خپلو ته،

لِيُجَادِلُوكُمْ ۖ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ ﴿١٢١﴾

چه جګړه وکړی تاسو سره، او که تاسو اطاعت وکړو د هغوی بیشکه تاسو به خامخا مشرکان شئ،

أَوَمَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا

آیا او هغه څوک چه وو مړ، پس ژوندے کړو مونږ هغه لره، او وګرځولو مونږ هغه لره رڼا،

يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُ فِي الظُّلُمَاتِ

چه ګرځی په هغه سره، په خلقو کښې، برابر دے هغه کس سره چه مثال ئې په تیارو کښې وی،

لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكَافِرِينَ

نه وزی، وتونکے، د دې نه، دغه رنګ ښائسته کړے شوی دی کافرانو ته،

مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٢٢﴾ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا فِي كُلِّ

هغه عمل چه دوی به کوی. او دغه رنګ ګرځولی دی مونږ، په هر

قَرْيَةٍ أَكَابِرَ مُجْرِمِيهَا لِيَمْكُرُوا فِيهَا ۖ وَمَا

کلی کښې، مشران جرم کونکی د هغې چه فریب وکړی په هغې کښې، او نه کوی

يَمْكُرُونَ إِلَّا بِأَنفُسِهِمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿١٢٣﴾

فریب، مګر په نفسونو خپلو، او شعور نه لری.

وَإِذَا جَاءَتْهُمْ آيَةٌ قَالُوا لَن نُّؤْمِنَ حَتَّىٰ

او کله چه راشی دوی ته معجزه، وائی دوی، ایمان نه راوړو، ترڅو چه،

تو لو ګناهونو کښې: (زاد المسیر ۱۲۲) ﴿اِنَّكُمْ لَمُشْرِكُوْنَ﴾: یقینا تاسو به خامخا مشرکان شئ — خو دا ډول نکته یاد ساتل پکار دی چه په کومو دلیلونو سره چه خلق حلال شی ګڼل کیږی د هغه نه چه حرام کړے دی الله تعالیٰ او یا حرام ګڼل شی د هغه نه چه حلال کړے دی الله تعالیٰ نو هغه مشرک کیږی او شرکِ الاطاعت نه عکه و ویلے شو چه دا ثابت کړی — حاکم سوا د الله تعالیٰ نه او څوک غوښته شرک دے. (کبیر ۱۴۰، روح، خازن، قرطبی، الهام الرحمن ۱۹۶، انعام الرحمن ۲۳۲) ﴿اَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا﴾ ۱۲۲: مفتی صاحب رحمه الله فرمائی مؤمن ژوندے دے او کافر مړ دے. (معارف ۳/۴۳۵) ﴿مَثَلُهٗ فِی الظُّلُمٰتِ﴾: چه صفت ئې دا وی چه نور تلونکے وی په تیاروکښې، (مدارک ۲۹) ﴿وَكَذٰلِكَ﴾: دا یعنی عقیده د ده د مبلغ د پاره او څنګه چه ګرځولی دی مونږه فاسقان د مکے مشران: دغه رنګ ګرځولی دی مونږه فاسقان د هر کلی مشران د هغه (زاد المسیر ۱۱۲) شیخ القرآن رحمه الله به فرمائیل چه ملایان او پیران به پوهه شی چه دوی چالاکه دی مناظرے وغیره نشی کیدے او که پوهه هم ترینه نه زوریاسی — ابن قیم رحمه الله قصیده نونیه ۲۵۱-۲۵ کښې اشعار ذکر کړیدی چه قاضیانو ته

پیسے رشوت ورکړی هغوی به پرے فیصله وکړی او که نه وی نو باچاته او دا ورته ووائی چه دا د حکومت
بے عزتی کوی بیکه ورانوی مثل د فلانی؛ او دا د قصیده ده. قال اشتکوا الی القضاة فانهم حکموا والا اشتکوا الی السلطان
قولوا له هذا یحل الملك بل هذا یزیل الملك مثل فلان: او س هم په حق پرستو د دهشت ګردو فتوے جاری

نُؤْتَىٰ مِثْلَ مَا أُوتِيَ رُسُلُ اللَّهِ ۘ اللَّهُ أَعْلَمُ
زمونږ ته به ورکړ شي مثل د هغه چه ورکړے شوي وو رسولانو د الله تعالیٰ ته، الله تعالیٰ ښه پوهه دے
حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُ ۗ سَيُصِيبُ الَّذِينَ أَجْرَمُوا
په هغه ځائے چه ګرځوي پيغمبري خپله، زر دے چه ورسيږي هغو کسانو ته چه جرم کوي
صَغَارٌ عِندَ اللَّهِ وَعَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا كَانُوا
ذلت په نزد د الله تعالیٰ او عذاب سخت په سبب د هغه چه دوي
يَمْكُرُونَ ﴿١٢٤﴾ فَمَن يُرِدِ اللَّهُ أَن يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ
مکر کولو - پس هغه څوک چه اراده وکړي الله چه هدايت وکړي هغه ته، پرانيزي
صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ ۖ وَمَن يُرِدْ أَن يُضِلَّهُ يَجْعَلْ
سينه د ده اسلام ته، او هغه څوک چه اراده وکړي الله چه ګمراه کړي هغه، وګرځوي
صَدْرَهُ ضَيِّقًا حَرَجًا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَاءِ ۚ
سينه د هغه تنګه، ډېره تنګه، ګويا که خيږي هغه اسمان ته،
كَذَٰلِكَ يَجْعَلُ اللَّهُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِينَ لَا
دغه رنګ ګرځوي الله تعالیٰ ګندګي د شرک په هغه کسانو چه ... ايمان
يُؤْمِنُونَ ﴿١٢٥﴾ وَهَٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيمًا ۗ قَدْ
نه راوړي - او دا قرآن لاره د رب ستا ده، نيغه، يقيناً
فَصَّلْنَا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٢٦﴾ لَهُمْ
واضح بيان کړي مونږ ايتونه، د هغه قوم د پاره چه نصيحت قبلوي - دوي د پاره
دَارُ السَّلَامِ عِندَ رَبِّهِمْ ۖ وَهُوَ وَلِيُّهُم بِمَا كَانُوا
کور د سلامتيا دے په نزد د رب د دوي، او دا دوست د دوي دے په سبب د هغه عملونو چه
يَعْمَلُونَ ﴿١٢٧﴾ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا يَا مَعْشَرَ
دوي کوي - او کله چه راجمع کړي دوي ټول (او وبه وائي) اے ډلے د
الْجِنِّ قَدِ اسْتَكْثَرْتُم مِّنَ الْإِنسِ ۖ وَقَالَ
پيريانو، ډېر مو تابع کړي وو، د انسانانو نه، او وبه وائي

اَللّٰهُ اَعْلَمُ: الله تعالیٰ ښه پوهه دے هغه ځائے چه ګرځوي پکښې پيغمبري او رسالت خپل ځکه چه نبوت وهبي شے دے، کسبي نه دے. شيخ حياء الدين رحمه الله د لغة او شعر ويلو، کلام د فسروي ...

په دے ايت کښې زجر دے انکار د رسالت دے او په ... کښې بشارت او بيا تخويف دے - وَهٰذَا صِرَاطُ ١٢٦: الاردين هغه چه مونږ مقرر کړے تا لره: اے محمده ! په سبب د دے چه وحي مو کړے تا ته د قرآن لاره نيغه د الله تعالیٰ ده - (ابن کثير ١٩٥) لَهُمْ دَارُ السَّلٰمِ: دوي لره کور د سلامتيا دے يا کور د سلام مونږ دے - وګورئ اعراف ٥٦، رعد ٢٣، او ١٠ يونس، عنتر يونس —

يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ ١٢٨: شاه صاحب رحمه الله معنیٰ کوي ډېر تاسو تابع کړي وو د انسانانو نه (١٦٦ فتح) ابن قتيبه رحمه الله ليکي چه ګمراه کړي وو تاسو ډېر د دوي نه - (غريب القرآن ١٦٠) دے ايت کريمه کښې تخويف دے د پاره د مشرکانو په پيريانو باندې - مفسرين رحمهم الله ليکي چه نفع د انسانانو به پيريانو داوه چه کله به دوي سفر کولو او ويريدو به د پيريانو نه نو ويلي به: اَعُوْذُ بِسَيِّدِ هٰذَا الْوَادِي: چه پناه غواړم په مشر پيري د دے ځوړي. او د پيريانو نفع په انسانانو داوه چه هغوي به اقرار کولو چه دوي قدرت لري په اعانت او پناه د دوي (روح ٢٦، ابن جرير ٢٥) نور معنے هم شته: الهام الرحمن ١٦١ وګورئ

وَكَذٰلِكَ نُوَلِّي ۱۲۹: د اشیخ مه عقیده ده. مطلب دا چه ظالمان به بعض بعضو سره ملاوېږي لکه د نبي علیه السلام په باره کښې دا الله د وکښي ذکر کړے دے. شیخ القرآن رحمه الله فرمائي چه د مو اسونه ملایانو ته بیا پیرانو ته بیا بادشاهانو ته به راشي تیل په یو شي اوته به نماند پاکے شي دا عقیبات په دائي د حق راځي او په اتباعوهم خوبیا په اساني وي. نسفي رحمه الله درے معنې لیکلي دي. (۱) پیوسته کوو بعض ظالمانو لره په بعضو پسے په اور کښې. (۲) او یا مسلط کوو بعض په بعضو باندې (۳) او یا ګرځوو بعض دوستان د بعضو (مدارک) بهرحال ددے شیخ محقق نه بعد به یا اساني راځي ځکه چه شیخ القرآن رحمه الله فرمائي اویا د اشیخ مه عقیده ستا د کامیابي ده. شاه صاحب رحمه الله فرمائي: مسلط به کړو بعض ظالمان په بعضو (موضح القرآن) ابن کثیر رحمه الله دیو شاعر شعر پیش کړے دے. په ... کښې ...

وَمَا مِنْ يَدٍ إِلَّا يَدُ اللّٰهِ فَوْقَهَا

وَلَا ظَالِمٍ إِلَّا سَيُبْلٰى بِظَالِمٍ

چه نشته یو لاس مګر د الله لاس پرے اوچت دے. او نشته یو ظالم مګر عذاب به ورکړے شي په بل ظالم.

يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ ۱۳۰: ضحاک رحمه الله فرمائي چه پیریانو ته هم د هغوئ نه رسولان لیږلي شوي دي ځکه چه انسانانو ته د دوي د جنس نه لیږلي شوي دي. خو نور عالمان رحمهم الله وائي چه رسولان د انسانانو نه یو راغلي دي. او د ګډ خطاب

أَوْلِيٰٓؤُهُمْ مِّنَ الْإِنْسِ رَبَّنَا اسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ وَّ

دوستان د دوي د انسانانو نه، اے ربه زمونږه! فائده واخسته بعضو زمونږ په بعضو او

بَلَغْنَآ أَجَلَنَا الَّذِيٓ أَجَّلْتَ لَنَا ۚ قَالَ النَّارُ مَثْوٰىكُمْ

ورسیدلو مونږ نیټې خپلې ته چه مقرر کړے وه تا زمونږ لره. اووائي الله: اور ځائے د اوسیدو ستاسو دے

خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ إِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ۗ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيْمٌ

همیشه وسیدونکي به یئ په دې کښې مګر هغه چه وغواړي الله. بیشکه رب ستا حکمت والا

عَلِيْمٌ ﴿۱۲۸﴾ وَكَذٰلِكَ نُوَلِّيْ بَعْضَ الظّٰلِمِيْنَ بَعْضًا

پوهه دے. او دغه رنګ مسلط کوو بعض ظالمانو لره په بعضو

بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۲۹﴾ يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ أَلَمْ

په سبب د هغه عمل چه دوي کوي. اے ډلے د پیریانو او انسانانو! آیا نه وو

يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَقُصُّوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِيْ وَ

راغلي تاسو ته پیغمبران د جنس ستاسو نه چه بیانوي په تاسو باندې آیتونه زما او

يُنْذِرُوْنَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ۚ قَالُوْا شَهِدْنَا

ویروي تاسو له ملاقات د ورځې د دې ستاسو نه چه دا ده؟ وبه وائي دوي: ګواهي کوو مونږ

عَلٰٓى أَنْفُسِنَا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَشَهِدُوْا

په ځانونو خپلو، او دهوکه کړي وو دوي لره ژوند د دنیا وي، او ګواهي به وکړي

عَلٰٓى أَنْفُسِهِمْ أَنَّهُمْ كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ﴿۱۳۰﴾ ذٰلِكَ

په ځانونو خپلو چه یقیناً دوي وو کفر کوونکي. دغه لیږل د رسولانو

أَنْ لَّمْ يَكُنْ رَّبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ وَّ

په دې وجه چه نه دے رب ستا هلاکوونکے د کلو والو په ظلم سره، او

أَهْلُهَا غٰفِلُوْنَ ﴿۱۳۱﴾ وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا

چه اهل ئې ناخبره وي. — او د هر قوم دپاره درجې دي د هغه چه

عَمِلُوْا ۚ وَمَا رَبُّكَ بِغٰفِلٍ عَمَّا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳۲﴾

دوي کوي، او نه دے رب ستا ناخبره د هغه نه چه دوي کوي.

دواړو ته دا سے دے لکه سورة رحمن ۲۲ کښې: يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ: دے ځکه چه ملغلرے د ترږو دریاب نه راوځي نه د خوږو نه. د لورځ مدارک ۲۳۵، ابن کثیر ۱۸۰، ابن جریر ۲۷، تائید ۱۶۳، ۱۶۳ ملغلرې نسک ۱۳۱ انعام. بِظُلْمٍ: اسراء ۱۶.

وَيَسْتَخْلِفْ، وګورئ ۱۱ ابراهیم ۱۲ فاطر ۱۳ محمد ۱۴ انبیاء. دے ایتونو کښې تخویف دے. اِنِّیْ عَامِلٌ: په ویکښې اعلان د مقاطعے پس د بیان د حقیقت وګورئ ۱۵ زمر ۱۶ کافرون. وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ ۱۳۶ دوهم کال ئې ترن ۱۵۱ پورے دوهم باب دے.

وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ ذُو الرَّحْمَةِ ۚ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَ
او رب ستا غني دے، خاوند د رحمت دے. که وغواړي بوځي تاسو، او
يَسْتَخْلِفْ مِن بَعْدِكُم مَّا يَشَاءُ كَمَا أَنشَأَكُم
خلیفه کوي پس کړي روستو ستاسو نه هغه چه خوښ ئې شي، لکه چه پیدا کړي ئې تاسو
مِّن ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ آخَرِينَ ﴿١٣٣﴾ إِنَّ مَا تُوعَدُونَ
د اولاد د قوم نورو نه. یقینا هغه چه وعده ئې کولے شي تاسو سره،
لَآتٍ ۖ وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴿١٣٤﴾ قُلْ يَا قَوْمِ
خامخا راتلونکې دی، او نه یئ تاسو عاجزه کوونکي الله تعالیٰ لره. ووایه اے زما قومه!
اعْمَلُوا عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّي عَامِلٌ ۖ فَسَوْفَ
عمل کوئ په ځائے خپل، یقینا زه عمل کوونکے یم، پس زر دے چه
تَعْلَمُونَ مَن تَكُونُ لَهُ عَاقِبَةُ الدَّارِ ۗ إِنَّهُ
پوهه شئ چه څوک دے چه وي هغه لره ښه انجام د اخرت، یقینا شان دا دے
لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ ﴿١٣٥﴾ وَجَعَلُوا لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ
نه کامیابیږي ظالمان. او مقرر کړي دي دوي الله لره برخه هغه چه پیدا کړي ئې دي
مِنَ الْحَرْثِ وَالْأَنْعَامِ نَصِيبًا فَقَالُوا هَٰذَا
د فصل، او څاروو نه برخه، او د بتانو لره برخه پس وائي دوي، دا د
لِلَّهِ بِزَعْمِهِمْ وَهَٰذَا لِشُرَكَائِنَا ۖ فَمَا كَانَ
الله لره ده په ګمان د دوي، او دا د شریکانو زمونږ ده، پس هغه چه دي
لِشُرَكَائِهِمْ فَلَا يَصِلُ إِلَى اللَّهِ ۖ وَمَا كَانَ
د شریکانو د دوي، پس نه رسیږي الله تعالیٰ ته، او هغه چه د الله تعالیٰ
لِلَّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَىٰ شُرَكَائِهِمْ ۗ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿١٣٦﴾
لره دي پس هغه رسیږي شریکانو د دوي ته، بد دے هغه چه دوي ئې فیصله کوي.
وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ قَتْلَ
او همدارنګه ښائسته کړي دي ډیرو مشرکانو ته د قتل

(۱) زجر او رد په نذر لغیر الله ۱۳۶ تا ۱۴۵، ۱۳۶ (۲) تفصیلی بیان د تحریمات العباد ۱۵۱، ۱۳۶ (۳) دلائل عقلیه ۱۴۱ ترن ۱۴۴ پورے (۴) مطالبه د دلائلو د کفارو نه ۱۴۳، ۱۴۴ (۵) ذکر د تحریم قهري په یهودو باندې ۱۴۶ (۶) رد د دلیل باطله د مشرکانو ۱۴۸. وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ: دے ایت کښې رد د نذر د غیر الله بیان دے عبارت کښې تقدیر دے. مدارك ۲۴ کښې دي: وَلِلْاَصْنَامِ نَصِيْبًا. معنی دا شوه چه مقرر کړي دي دوي د الله تعالیٰ د پاره حصه چه الله تعالیٰ پیدا کړي دي د فصل او د څارپایانو نه برخه او د بتانو د پاره برخه. پس دوي وائي دا د الله تعالیٰ د پاره دي دا د دوي په خیال او دا زمونږ د شریکانو د پاره دي. اِلَی اللّٰهِ یعنی نه رسیږي الله تعالیٰ ته. مراد ترینه دا دے چه مسکینانو ته نه رسیږي یعنی نه ئې ورکوي مسکینانو ته کوم چه مصرف د حصے د الله تعالیٰ دے. وَمَا كَانَ لِلّٰهِ: او هغه چه دوي متعین کړي د الله تعالیٰ د پاره نو څه ګوله شي هغه حصه نو ته چه کوم ته صرف کیږي هغه چه متعین شوي دي د پاره د الهو د دوي. وګورئ قرطبي ۷، روح ۸. مطلب دا چه د قلت نه مسکینانو ته نه ورکوي د بتانو شیخ رحمه الله لیکي چه مشرکانو نه صرف د څارپایانو نه د غیر الله حصے وباسي بلکه هغوي د غلو او د میوو نه هم د غیر الله نذر او نیاز مقرر کوي. (جواهر ص ۳۴۲) ☆

قَتْلَ أَوْلَادِهِمْ: او دغه رنګې ښائسته کړي دي ډیرو د مشرکانو ته وژل د اولاد د دوی شریکانو د دوی. د شریکانو نه مراد شیطانان دي څکه چه دوی ـــ ئے اطاعت کړے وو په دغه ناجائزه عمل کښې. د قتل د اولاد ګڼ صورتونه روح المعاني کښې ذکر کړي دي: (۱) څنو به ویل چه ملائک د الله تعالیٰ لونړه دي نو الله تعالیٰ لائق دے په دے لوړنو. (۲) څنو به وژلے د وچے د خوف نه. (۳) او څنو به د وېرے د شرم نه. (۴) څنو به نذر منلو چه کا من سے لسو ته ورسي نو یو به ئے ذبح کاوو د دغو. لکه د عبدالمطلب قصه مشهوره.

أَوْلَادِهِمْ شُرَكَاؤُهُمْ لِيُرْدُوهُمْ وَلِيَلْبِسُوا عَلَيْهِمْ

د اولاد د دوی شریکانو د دوی دپاره د هلاک کړي دوی لره او دپاره د ګډ کړي په دوی باندې

دِينَهُمْ ۖ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا فَعَلُوهُ ۖ فَذَرْهُمْ وَمَا

دین د دوی او که اراده کړې وے الله تعالیٰ نو نه به ئے کړے دغه پس پریږده دوی او هغه لره چه

يَفْتَرُونَ ﴿١٣٧﴾ وَقَالُوا هَٰذِهِ أَنْعَامٌ وَحَرْثٌ حِجْرٌ

دوی ئے ترلي. او وائي دوی: دا څارویان او فصل دے منع دي

لَا يَطْعَمُهَا إِلَّا مَنْ نَشَاءُ بِزَعْمِهِمْ وَأَنْعَامٌ

نه به خوري دا مګر هغه څوک چه مونږ غواړو په خیال د دوی او څه څاروي دي چه

حُرِّمَتْ ظُهُورُهَا وَأَنْعَامٌ لَا يَذْكُرُونَ اسْمَ اللَّهِ

منع کړې شوي دي شا ګانې د هغو او څه څاروي دي چه نه یادوي دوی نوم د الله تعالیٰ

عَلَيْهَا افْتِرَاءً عَلَيْهِ ۚ سَيَجْزِيهِمْ بِمَا كَانُوا

په هغو باندې دروغ ترلو سره په هغه. ژر دے چه بدله به ورکړي دوی ته په سبب د هغه چه

يَفْتَرُونَ ﴿١٣٨﴾ وَقَالُوا مَا فِي بُطُونِ هَٰذِهِ الْأَنْعَامِ

دوی دروغ ترلي. او وائي دوی: هغه چه په ګیډو د دے څارویو کښې دي

خَالِصَةٌ لِذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَىٰ أَزْوَاجِنَا ۖ وَ

خالص دي دپاره د نارینه زمونږ او منع کړے شوي دي په ښځو زمونږ باندې او

إِنْ يَكُنْ مَيْتَةً فَهُمْ فِيهِ شُرَكَاءُ ۚ سَيَجْزِيهِمْ

که وي هغه مړ نو دوی په هغه کښې شریک دي. ژر دے چه بدله به ورکړي دوی ته

وَصْفَهُمْ ۚ إِنَّهُ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿١٣٩﴾ قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ

بیان د دوی. یقیناً الله تعالیٰ حکمت والا پوهه دے. یقیناً تاوانی دي هغه کسان چه

قَتَلُوا أَوْلَادَهُمْ سَفَهًا بِغَيْرِ عِلْمٍ وَحَرَّمُوا مَا

وژلي دي اولاد خپل په بیوقوفئ سره بغیر د پوهے نه او حرام کړي دي هغه چه

رَزَقَهُمُ اللَّهُ افْتِرَاءً عَلَى اللَّهِ ۚ قَدْ ضَلُّوا

ورکړې دي الله تعالیٰ دروغ ترلو سره په الله تعالیٰ باندې. یقیناً ګمراه شوي دي

۶۰- وَقَالُوا هَٰذِهِ أَنْعَامٌ: د دے ځائے نه د تحریم العباد څلور قسمونه ذکر دي. إِلَّا مَنْ نَشَاءُ: مګر هغه چه مونږ ئے غواړو: یعني سړي به ئے خوري او ښځے به ئے نه خوري او یا سړي او خادمان د بتانو (مجاوران) به ئے خوري او نور به ئے نه خوري. کذا في روح المعاني، مدارک، مظهري، ابوالسعود.

وَإِنْ يَكُنْ مَيْتَةً: او که چرے دغه بچے به مړ شو نو ټول به پکښې شریکان وو. "بیا ټول د مړو اریسه تیهو سان وو".

قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ: ایت خسته ئے رامعا د کړو.

وَهُوَ الَّذِي أَنْشَأَ: الخ حاشیه د (تلوکي صفحه) د دے ځائے نه دریم دلائل عقلیه

او الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړي دي باغونه چتونو والا لکه انګور او نور ئے غیر انګووالا چه په ځمکه باندې خوریږي. وَغَيْرَ مَعْرُوشَاتٍ: او غیر چتونو والا چه په خپلو تنو ولاړ دي. مُخْتَلِفًا أُكُلُهُ:

چه مختلف دي ميوې د هر يو متشابه دي په رنګ کښې او نه دي متشابه په خوند کښې. مِنْ ثَمَرِهٖ: خوري د ميوې د هر يو نه کله چه ميوه ونيسي او ورکوئ حق د هر يو په وخت د کټ کولو د هغې کښې. مدارک کښې
دِ مِنْ ثَمَرِهٖ معنیٰ ليکلي د ميوې د هر يو نه.

وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ ﴿١٤٠﴾ وَهُوَ الَّذِي أَنْشَأَ جَنَّاتٍ
او نه دي دوي لاره موندونکي. او الله هغه ذات دے چه پيدا کړي باغونه
مَعْرُوشَاتٍ وَغَيْرَ مَعْرُوشَاتٍ وَالنَّخْلَ وَالزَّرْعَ
چترونو والا، او غير چترونو والا، او کجورے، او فصل،
مُخْتَلِفًا أُكُلُهُ وَالزَّيْتُونَ وَالرُّمَّانَ مُتَشَابِهًا
چه مختلف دي خوراکونه د هغه او خوږ، او انار چه يو شان دي په رنګ کښې
وَغَيْرَ مُتَشَابِهٍ كُلُوا مِنْ ثَمَرِهٖ إِذَا أَثْمَرَ وَآتُوا
او نه دي يو شان په ميوه کښې، خورئ د ميوې د هر يو نه، کله چه ميوه ونيسي او ورکړئ
حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهٖ وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ
ورکړئ حق د هغې په ورځ د کټ کولو، او زياتے مه کوئ، يقينا الله مينه نه ساتي
الْمُسْرِفِينَ ﴿١٤١﴾ وَمِنَ الْأَنْعَامِ حَمُولَةً وَفَرْشًا
د زياتي کونکو سره، او پيدا کړي يې بار وړلو والا، او چپټ قد والا،
كُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللهُ وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ
خورئ د هغه نه چه درکړي تاسو ته الله، او تابعداري مه کوئ، د قدمونو د
الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ ﴿١٤٢﴾ ثَمَانِيَةَ أَزْوَاجٍ
شيطان، يقينا دا تاسو له دښمن ښکاره دے. پيدا کړي، اته قسمونه،
مِنَ الضَّأْنِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ
د ګډو نه، دوه، او د بزو نه، دوه،
قُلْ آلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ الْأُنْثَيَيْنِ أَمَّا
ووايه آيا دواړه نران، حرام کړي الله، که دوه ښځے؟ آيا هغه چه
اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ أَرْحَامُ الْأُنْثَيَيْنِ نَبِّئُونِي
احاطه پرے کړے، رحمونو د دواړو ماده، خبر راکړئ ما ته،
بِعِلْمٍ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٤٣﴾ وَمِنَ الْإِبِلِ
په دليل سره که ياستئ رښتوني ----- او د اوښانو نه،

د ميوې د هر يو نه. وَآتُوا حَقَّهُ: کېيد عليه کښې دي چه فصل زر کولو د حق ورکړئ په وخت د کټ کښې او هغه نے روستو کړئ د کول وخت نه چه مسکين دي په هغه کښې ورکول. مسئله ١- د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دے چه مراد تري عشر او نيمائي عشر دے (روح ٧/٤٩) مفتي صاحب رحمه الله په معارف ٣ کښې فرمائي چه د حضرت معاذ بن جبل او ابن عمر او جابر بن عبد الله رضي الله عنهم په روايت سره په تمامو کتابونو د حديثو کښې منقول دي چه: مَا سَقَتِ السَّمَاءُ فَفِيهِ الْعُشْرُ، وَمَا سُقِيَ بِالسَّانِيَةِ فَنِصْفُ الْعُشْرِ: چه کوم فصل په باران خړوبيږي نو په هغې کښې لسمه ده او کوم چه په اوبو خړوبيږي نو نيمائي د لسمې ده. وَلَا تُسْرِفُوا: مقاتل رحمه الله فرمائي چه مراد دا دے: لَا تُشْرِكُوا الْأَصْنَامَ فِي الْحَرْثِ وَالْأَنْعَامِ: چه مه شريکوئ بتانو له په فصلونو او څارويو کښې (روح ٨/٣٨، خازن ٥٩/٢، کبير ١٣/٢١٣، مظهري ٢٩٦/٣). حَمُولَةً وَفَرْشًا: او د څارويو نه نے پيدا کړي دي بار وړونکي او چپټ. د اول نه مراد هغه حيوانات دي چه بار اوچتوي او د دويم نه هغه مراد دي چه په ځمکه پاتے وي د وجه د غوږوالي شي يا د هغوي د وړکتوب نه جوړ شوي قالين نه په ځمکه غوړولي شي (جواهر ٣). ثَمَانِيَةَ

أَزْوَاجٍ: اته قسمه، اته افراد نے پيدا کړي. دلته زوج په معنی د جوړے نه دے. بيا نو ١٦ شيان جوړيږي بلکه په معنی د فرد دے. وګوره شوکاني ٢/١٦٣، قرطبي. نَبِّئُونِي: په دې کښې مطالبه د دليل ده د مشرکانو نه. شاه ولي الله رحمه الله فرمائي: يعني نقل صحيح راوړئ د ابراهيم او اسمعيل عليهما السلام او د کتابونو الهيو نه. (فتح تفسير) ۞

قُلْ ءَآلذَّكَرَيْنِ : په دې کښې استفهام دَ پاره دَ انکار او دَ توبیخ دے، چه تاسو حِلّت دَ حُرمت دَ کورت پیش کوئ او که اُنُوثت، او که اشتمال دَ رحمونو مطلب دا دے چه نه درسره عقلي دليل شته او نه نقلي. فَمَنْ أَظْلَمُ : پس لوئے ظالم دَ هغه چا نه څوک دے چه ترړی په الله تعالیٰ باندې دروغ ... قُلْ لَّآ أَجِدُ : ... شاه ولی الله رحمه الله په فتح الرحمن ... کښې چه مراد حصر اضافي دے په نسبت سره بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ ته او هغه اَتَّه قسمونه ذکر شویدی چه منزر دے، باز وغیره اګر چه حرام دي خو دَ بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ نه ندي او په دغه کښې بحث ونکړلو - بقره ... ماشده مئ ... وکوری - أَوْ فِسْقًا : او يا دَ فِسق شے وي. او مولانا حسین علی رحمه الله فرمائي : او يا کلمه دَ فِسق والا وي. مطلب دا چه دغه کلمه او واز حرام دے یا کے لا دغه شے. وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا : په دے آيت کريمه کښې ذکر دَ تحريم قهري دے په يهودو باندې او دَفع دَ سوال دَه چه په يهودو خو بعضي شيونه حرام شوي وو. نو جواب ئے دَ آيت کريمه په آخر کښې را غلو ذَٰلِكَ جَزَيْنَٰهُم بِبَغْيِهِمْ : دغه موږ ده سزا ورکړے وه په سبب دَ بغاوت او سرکشي دَ دوي باندې. امام قرطبي رحمه الله فرمائي چه دا تحريم په يهودو باندو دَ ابتلاء او عقوبت دَ پاره وو. (...) وکورئ نساء مثلا. كُلَّ ذِي ظُفُرٍ : هر خاوند دَ نوک. يعني اُوبن او شتر مرغ. (فتح الرحمن ...) هغه

ٱثْنَيْنِ وَمِنَ ٱلْبَقَرِ ٱثْنَيْنِ ۗ قُلْ ءَآلذَّكَرَيْنِ
دوه، او دَ غواګانو نه دوه، ووايه آيا دواړه نران (ذکور) ئے
حَرَّمَ أَمِ ٱلْأُنثَيَيْنِ أَمَّا ٱشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ أَرْحَامُ
حرام کړي الله تعالیٰ که دواړه ښځې، آيا هغه چه راتاو کړے دے په هغه باندې رحمونو
ٱلْأُنثَيَيْنِ ۖ أَمْ كُنتُمْ شُهَدَآءَ إِذْ وَصَّىٰكُمُ ٱللَّهُ بِهَـٰذَا ۚ
دَ دواړو ماده، آيا وئ تاسو حاضر، کله چه حکم کړو تاسو ته الله تعالیٰ په دے؟
فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا لِّيُضِلَّ
پس څوک دے لوئے ظالم دَ هغه چا نه چه ترړي په الله تعالیٰ باندې دروغ، چه ګمراه کړي
ٱلنَّاسَ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ
خلق بغير د پوهے نه، يقيناً الله تعالیٰ هدايت نکوي قوم
ٱلظَّـٰلِمِينَ (١٤٤) قُلْ لَّآ أَجِدُ فِى مَآ أُوحِىَ إِلَىَّ مُحَرَّمًا
ظالم لره هيڅ کله. ووايه، زه نه مومم په هغه کښې چه وحي کړے شوے ده ما ته حرام کړے
عَلَىٰ طَاعِمٍ يَطْعَمُهُۥٓ إِلَّآ أَن يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا
په خوړونکي چه خوري ئے، مګر چه وي، مُردار، او يا وينه
مَّسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ فَإِنَّهُۥ رِجْسٌ أَوْ فِسْقًا
بهيدلے شوے، او يا غوښه دَ خنزير، پس يقيناً دا غير پليت دے، او يا وي (دَ شي) دَ فسق والا
أُهِلَّ لِغَيْرِ ٱللَّهِ بِهِۦ ۚ فَمَنِ ٱضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا
چه آواز کړے شوے وي دَ غير الله په هغه باندې، پس هغه څوک چه مجبور کړے شو نو خوند غوښتونکي نه وي او
عَادٍ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (١٤٥) وَعَلَى ٱلَّذِينَ
نه تيرے کونکے، پس يقيناً رب ستا بخښونکے مهربان دے. او په هغه کسانو چه
هَادُوا۟ حَرَّمْنَا كُلَّ ذِى ظُفُرٍ ۖ وَمِنَ ٱلْبَقَرِ وَ
يهوديان دي حرام کړي وو موږ، هر نوکونو والا، او دَ غواګانو نه، او د
ٱلْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُومَهُمَآ إِلَّا مَا حَمَلَتْ
ګډو نه حرام کړي وو موږ په دوي باندې وازګے دَ هغو، مګر هغه چه بار کړي وي

حيوان چه دَ هغه دَ ګوتو په مينځ کښې پرده وي لکه اُوبن او هيلئي وغيره. (افضل التراجم ص ...)

اَوِالْحَوَايَا: او یا هغه چه کیږمے لے اُچولے وی یا کلمو بانبو (مدارک ۲/۳۰) او یا هغه چه بارګړے وی په هډکو نو (شیخ القرآن) حدیث شریف کښی راغلی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه تباه دې کړی الله تعالیٰ یهودو ولره، حرام کړے شوے په دوی وازګے پس ویلے ئے کړے

ظُهُوْرُهُمَآ اَوِ الْحَوَايَآ اَوْ مَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍ ؕ ذٰلِكَ

شا کانو د هغو، او یا هغه چه بارګړے وی په کولمو دهغو او یا هغه چه خلط شوے وی هډوکو سره دا

جَزَيْنٰهُمْ بِبَغْيِهِمْ ۖ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۱۴۶﴾ فَاِنْ كَذَّبُوْكَ

بدله ورکړے مونږ دوی ته په سرکشئ د دوی او یقیناً مونږ خامخا رښتونی یو. پس که دروغژن دې ګڼی (دا خلق) نو

فَقُلْ رَّبُّكُمْ ذُوْ رَحْمَةٍ وَّاسِعَةٍ ۚ وَلَا يُرَدُّ بَاْسُهٗ

پس ووایه ته چه رب ستاسو خاوند د رحمت فراخه دے. او نه واپس کولے شی عذاب د هغه

عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۴۷﴾ سَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا

د قومه مجرمانو نه. زر دے چه ووائی هغه کسان چه شرک ئے کړے دے

لَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَآ اَشْرَكْنَا وَلَآ اٰبَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا

که خوښه ګڼی الله نو نه به وو مونږ شرک کړے او نه پلاران زمونږ او نه به مونږ حراموو

مِنْ شَیْءٍ ؕ كَذٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

هیڅ شے. دغه رنګے دروغژن ګڼلی وو هغه کسانو چه مخکښی د دوی نه وو

حَتّٰى ذَاقُوْا بَاْسَنَا ؕ قُلْ هَلْ عِنْدَكُمْ مِّنْ

تر دې چه وڅکلو عذاب زمونږ. ووایه آیا شته ستاسو سره څه

عِلْمٍ فَتُخْرِجُوْهُ لَنَا ؕ اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَ

علم (دلیل) پس چه راوباسئ هغه مونږ ته. تابعداری نه کوئ تاسو مګر د ګمان. او

اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا تَخْرُصُوْنَ ﴿۱۴۸﴾ قُلْ فَلِلّٰهِ الْحُجَّةُ

نه یئ تاسو مګر اټکل کاروونکی. ووایه پس الله تعالیٰ لره دے دلیل

الْبَالِغَةُ ۚ فَلَوْ شَآءَ لَهَدٰىكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۴۹﴾ قُلْ هَلُمَّ

پوره دے، پس که وغواړی نو خامخا هدایت به ئے کړے وو تاسو ټولو ته. ووایه راولئ

شُهَدَآءَكُمُ الَّذِيْنَ يَشْهَدُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ هٰذَا ۚ

عالمان خپل، هغه چه ګواهی ورکړی چه یقیناً الله تعالیٰ حرام کړے دے دا

فَاِنْ شَهِدُوْا فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ ۚ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَ

پس که ګواهی ورکړی نو ته ګواهی مه ورکوه دوی سره، او تابعداری مه کوه د خواهشاتو

هډوکو سره اوږده شوی وی، وازګے پس ویلے ئے کړے او هغه ئے خرڅولے. پس د هغه قیمت ئے خوړلو. (متفق علیه، مشکوٰة ۱/۲۴۱، ابن کثیر ۲/۱۸۵)

په یو بل حدیث شریف کښی راغلی دی د ابوهریرة رضی الله عنه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: لا ترتکبوا ما ارتکبت الیهود: چه مکوی هغه چه یهودو کړی دی پس حلال به وګڼئ محارم د الله په کمزورو حیلو بانو (احیۃ بن بطۃ، النشاط د شیخ القرآن ص ۱۰۳)

فَاِنْ كَذَّبُوْكَ: دے آیت کریمه کښی تسلی ده نبی ﷺ ته او په آخر کښی تخویف د مجرمانو لره.

سَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا: دلته رد دے په دلیل د مشرکانو باندې. جواب په درې طریقو سره دے. (۱) كَذٰلِكَ: دغه رنګے دروغژن ګڼیا کړے هغه کسانو چه مخکښی تیر شوی دی نه وو. (۲) قُلْ هَلْ عِنْدَكُمْ: چه دلیل پیش کړی. (۳) اِنْ تَتَّبِعُوْنَ: چه تابعداری د ګمان کوئ او دلیل در سره نشته. سورة اعراف ۲۸، نحل ۳۵ هم وګورئ. قُلْ فَلِلّٰهِ: په دے آیت کښی دلیل دے په توحید باندې خو هدایت د الله تعالیٰ په اختیار کښی دے. قُلْ هَلُمَّ شُهَدَآءَكُمُ: مطالبه د عالمانو د دوی نه ده. شاه صاحب رحمه الله معنی کړے چه ووایه چه راولئ عالمانو خپلو لره. (فتح ۱۸۳) فَاِنْ شَهِدُوْا: مطلب دا چه کوم دلیل ئے بیان او ګواهی ورکړه نو ته ورسره ګواهی مکوه او د دوی په خواهشاتو پسے مه ځه.

قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ: (حاشیه د راتلونکی مخ ص ۲۳۵) د دے ځائے نه تر آخره سورة سورت پورے درېم باب دے او په دے کښی پنځه مضامین دی: (۱) تحریمات الٰهیه ۱۵۱ تر ۱۵۳ (۲) ترغیب قرآن پاک ته ۱۵۴ تر ۱۵۷ (۳) دلیل نقلی د کتاب د موسیٰ علیه السلام نه ۱۵۴ (۴) تخویف سره د بشارت نه ۱۵۸ تر ۱۶۰ (۵) اعلانات ثلاثه د

نبی لا اسرائیلا ت ۳۳ ، (۲) ترغیب انتقا و ته دپاره د احکامو د سورت ۱۵۱ ، **فائده** : په دې ایتونو کښې تقریباً لس تحریمات الهیه دی ، (۱) شرک الله حرام کړے (۲) د مور او پلار نافرماني ئے حرام کړے ده (۳) قتل اولاد ئے حرام کړے (۴) فواحش ئے حرام کړی (۵) ناحقه قتل ئے حرام کړے (۶) د یتیم مال خوړل په ناجائزه طریقه ئے حرام کړے (۷) په پیمانه او (۸) په تول کښې ظلم ئے حرام کړے دے (۹) په وینا کښې ناانصافي ئے حرام کړے ده (۱۰) او د الله عهد ماتول ئے حرام کړی دی۔ فائده : د ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چا ځوک چه اراده لری چه وګوری هغه وصیت د نبی صلی الله علیه وسلم ته چه کوم چه په هغه مهر دے نو و دې لولی دا ایتونه (ابن کثیر، درمنثور ۱۵۱) أَنْ لَا تُشْرِكُوا : مدارک وائی چه آن تفسیر د تلاوت دپاره اولا د لفی دپاره دے ، معنیٰ دا شوه چه نه به شریکوئ د الله سره هیڅ شے۔ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا او نیکی کوئ د مور پلار سره نیکی (تفصیل ئے او سورت نساء وګورئ۔ وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ : او مه وژنئ اولاد خپل د وجه د ویرے د ولږے نه ، مونږ به رزق درکوو تاسو ته اودوی ته۔ سورت هود ۲ وګورئ۔ فائده : مولینا عبدالماجد دریابادی رحمه الله لیکی چه ن ن صبا د جاهلیت فرنګ د سورۍ لاندې چه کوم شاندار تحریک د قتل اولاد په مخفی او باریک صورت (منع حمل) په نوم سره جاری دے او غه تحریک هم ویره د افلاس ده۔ ما لتهیس نوم ئے یو ماهر د معاشیات چه په برطانیه کښې د تولنے سره په ابتداء کښې وو او د قتل اولاد دغه منع حمل تحریک د هغه نه چلیدلے وو ، د هغه د تولنے نظریے بنیاد هم دا ویره د افلاس د ملک وه۔ (ماجدی ۳۲۱) فائده : مفتی صاحب رحمه الله فرمائی چه د اولاد تعلیمی تربیت نه کول او د بے دینی دپاره ازاد پریښودل هم یو قسم ته قتل اولاد دے (معارف القرآن ۳۸۴) وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ : سورت بنی اسرائیل ۳۳ وګورئ۔ وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ : سورت نساء ۱۰ ، ۲ اسراء وګورئ۔ وَأَوْفُوا : مفتی صاحب فرمائی چه

الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَالَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ

او د هغو کسانو چه دروغ وائی په ایتونو زمونږ ، او د هغه کسانو چه ایمان نه راوړی

بِالْآخِرَةِ وَهُمْ بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ ﴿١٥٠﴾ قُلْ تَعَالَوْا

په اخرت باندې او دوی د رب خپل سره نور خلق برابروی۔ ووایه راشئ چه

أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلَّا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَ

ولولم تاسو ته هغه چه حرام کړی دی رب ستاسو په تاسو باندې چه مه شریکوئ د هغه سره هیڅ شے او

بِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ مِنْ إِمْلَاقٍ

نیکی وکړئ د مور پلار سره نیکی ، او مه وژنئ اولاد خپل د وجه د ولږے نه

نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ

مونږ رزق درکوو تاسو ته او هغوی ته ، او مه نزدے کیږئ بے حیائیو ته ، هغه چه ښکاره وی

مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ

د هغو او هغه چه پټه وی ، او مه وژنئ نفس ، هغه چه حرام کړے الله

إِلَّا بِالْحَقِّ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿١٥١﴾ وَلَا

مګر په حقه سره ، دا تاسو ته حکم کړے شوے په دې سره دپاره د دې چه تاسو د عقل کار واخلئ۔ او

تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ

مه نزدے کیږئ مال د یتیم ته ، مګر په هغه طریقه چه هغه ښه وی ، ترڅو چه

يَبْلُغَ أَشُدَّهُ وَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ لَا

ورسیږی خپل ځوانی ته ، او پوره ورکوئ پیمانه او تول په انصاف سره ، نه تکلیف

نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوا وَلَوْ

ورکوو هیچا ته مګر د هغه د طاقت سره ، او کله چه خبره کوئ نو انصاف کوئ اګر که وی

كَانَ ذَا قُرْبَىٰ وَبِعَهْدِ اللَّهِ أَوْفُوا ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُمْ

خپلوان ، او د الله عهد پوره کړئ ، دا هغه حکم کړے ستاسو الله

بِهِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٢﴾ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا

په دې دپاره چه تاسو نصیحت قبول کړئ۔ او بیشکه دا لار زما ده سیده ،

منزل ۲

دَ افسرانو ملازمانو، مزدورانو خپلے مقررے موبو تهي اوخدمت کښ کوتاهي کول دَ قول پیمانے په کمی کولو کښ داخل دی (معارف ۳۴۸)، امام مالک رحمه الله په موطا کښ لیکی چه عمر بن خطاب رضی الله عنه دَ مازیګر دَ مونځ نه راوګرځیدو نو یو سړی ملاو شو دَ یو سړی سره چه دَ مازیګر جمع ته نه وو حاضر شوے. عمر رضی الله عنه ورته وفرمایل څه شی حصار کړے وے دَ مانځه دَ مازیګر نه

فَاتَّبِعُوْهُ ۚ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۚ

پس تابعداری کوئ دَ دے، او مه تابعداری کوئ دَ نورو لارو، پس تیت به کړی تاسو دَ لارے دَ هغه نه

ذٰلِكُمْ وَصّٰكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ (۱۵۳) ثُمَّ اٰتَيْنَا مُوْسَى

دا حکم وصیت کړے دے الله تاسو ته په دے، دَ دے دپاره چه متقیان شئ. بیا ورکړے وو مونږه موسیٰ ته

الْكِتٰبَ تَمَامًا عَلَى الَّذِيْٓ اَحْسَنَ وَتَفْصِيْلًا لِّكُلِّ

کتاب، دَ پوره کولو دَ نعمت په هغه سړی چه نیک عمل ئے کړے وی، او تفصیل دَ هر

شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُوْنَ (۱۵۴)

ضروری شی، او هدایت دَ او رحمت وو، دَ دے دپاره چه دوی په ملاقات دَ رب خپل ایمان راوړی

وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ فَاتَّبِعُوْهُ وَاتَّقُوْا لَعَلَّكُمْ

او دا کتاب دے چه رالیږلے مونږ دا، دَ برکت نه ډک دے، پس تابعداری ئے کوئ او وویریږئ دَ دے دپاره چه

تُرْحَمُوْنَ (۱۵۵) اَنْ تَقُوْلُوْٓا اِنَّمَآ اُنْزِلَ الْكِتٰبُ عَلٰى

تاسو باندے رحم وکړے شی، چه ونه وائی یقیناً نازل کړے شوے وو کتاب، په

طَآئِفَتَيْنِ مِنْ قَبْلِنَا ۪ وَاِنْ كُنَّا عَنْ دِرَاسَتِهِمْ

دوو ډلو، مخکښ زمونږ نه، او یقیناً وو مونږه دَ درس دَ دوی نه

لَغٰفِلِيْنَ (۱۵۶) اَوْ تَقُوْلُوْا لَوْ اَنَّآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْكِتٰبُ

خامخا ناخبره. او یا اووائی چه که چرے مونږ ته نازل شوے وے په مونږه کتاب،

لَكُنَّآ اَهْدٰى مِنْهُمْ ۚ فَقَدْ جَآءَكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ

وے به مونږه بنه لار موندونکی دَ دوی نه، پس یقیناً راغلو تاسو ته، واضح بیان،

رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ ۚ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ

دَ رب ستاسو، او هدایت او رحمت، پس څوک دے لوئے ظالم دَ هغه چا نه چه

كَذَّبَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَصَدَفَ عَنْهَا ۗ سَنَجْزِي

دروغ ئے اوګڼل ایتونه دَ الله تعالیٰ او مخ ئے واړوو دَ هغو نه، زر دے چه بدله به ورکړو

الَّذِيْنَ يَصْدِفُوْنَ عَنْ اٰيٰتِنَا سُوْٓءَ الْعَذَابِ

هغه کسانو ته چه مخ اړوی دَ ایتونو زمونږ نه، ناکاره عذاب.

پس هغه سړی ورته عذر ذکر کړو، پس عمر رضی الله عنه ورته ووئیل طففت چه کمے دے وکړو. مالک رحمه الله وائی: دَ یقال لکل شئ وفاء وتطفیف. چه ویلے شی چه دَ هر شی دپاره پوره والے او کمے وی. وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ: دَ دے دَ کږو ولاړو په معنیٰ سره. سدی رحمه الله چه مراد تر ینه دَ یهودیت او نصرانیت او مجوسیت او دَ باقی بدعتونو او کږو لارے دی. (مدارک ۳۴۸)، مجاهد رحمه الله فرمائی چه بدعات او شبهات دی (ابن جریر ۸۸). تَمَامًا: دے ایت کښ دلیل نقلی دے. تَمَامًا په معنیٰ دَ اتمام دے او دَ الَّذِيْٓ اَحْسَنَ نه مراد موسیٰ علیه السلام دے یا عام محسنان تر ینه مراد دی. معنیٰ دا شوه: دَ پاره دَ پوره کولو دَ نعمت خپل په هغه بنده ته چه بنه تابعداری ئے کړے وه په رسولو دَ هغه باندے چه ورته پرے امر شوے وو. (مدارک ۳۴۸). لِّكُلِّ شَيْءٍ: مراد تر ینه هغه ضروری شیونه دی چه حاجت ورته په دین کښ وی. (وګورئ جلالین ۱۲۳، ابو السعود ۲/۲۰۲، مظهری ۳/۳۰۲). اَنْ تَقُوْلُوْٓا: دلته لفظ دَ لا پټ دے معنیٰ دا شوه چه بیا داُونه وائی. تاسو معنیٰ قاطع کښ دے.

قَدْ جَآءَكُمْ بَيِّنَةٌ: مطلب دا دے چه اوس بهانے مکوئ، یقیناً راغلے تاسو ته واضح بیان، واضح دلیل دَ رب ستاسو نه هَلْ يَنْظُرُوْنَ (۱۵۸): (حاشیه دَ راتلونکی مخ ۲۳۷): دا ایت کریمه مشکل دے. ویکښ درے قسمه تخویف دے. معنیٰ ئے دا ده چه دوی انتظار نکوی مګر دَ دے چه دَ مرګ

فرښتے ورته راشي - اوښکاره راشي دوی ته رب يا عذاب د رب . او يا د قيامت د نښانو نه يوه نښانه چه هغه دی راختل د نمر د مغرب نه
را ؤ رلو ته مجبوره کړی مګر په دغه وخت وارد صورتونو کښې ايمان راوړل به فائده نه وی . وګورئ سورة يونس
ننه ,مؤمن ۸۵ . اشکال : د

بِمَا كَانُوا يَصْدِفُونَ ﴿١٥٧﴾ هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا أَن
په سبب د هغه چه دوی انکار کولو . انتظار نه کوی دوی مګر د دے چه
تَأْتِيَهُمُ الْمَلَائِكَةُ أَوْ يَأْتِيَ رَبُّكَ أَوْ يَأْتِيَ بَعْضُ آيَاتِ
راشي دوی ته ملائک ، او راشي رب ستا (لپاره د فيصلے) يا راشي بعض نښانے
رَبِّكَ ۗ يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفْسًا
د رب ستا ، کوم ورځ چه راشي بعض نښانے د رب ستا ، نفع به ورنکړی هيڅ نفس ته
إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِن قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي
ايمان د هغه چه نه وی ايمان يے راوړے دے مخکښې ترے نه او يا نه وی ګټلے په
إِيمَانِهَا خَيْرًا ۗ قُلِ انتَظِرُوا إِنَّا مُنتَظِرُونَ ﴿١٥٨﴾ إِنَّ
ايمان خپل کښې نيکی ، ووايه انتظار کوئ يقيناً موږ انتظار کونکی يو . يقيناً
الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ
هغه کسان چه ټوټے کړی دين خپل ، او وو دوی ډلے ډلے ، نه يے ته د دوی نه ،
فِي شَيْءٍ ۚ إِنَّمَا أَمْرُهُمْ إِلَى اللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا
په هيڅ شي کښې ، يقيناً فيصله د دوی سپارلے شوے الله ته ، بيا به خبر ورکړی دوی ته په هغه
كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿١٥٩﴾ مَن جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ
کار ولو چه دوی کولو : هر چا چه راوړله ورځ د قيامت نيکی سره ، پس د هغه لره لس
أَمْثَالِهَا ۖ وَمَن جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَىٰ إِلَّا مِثْلَهَا
برابره ګڼه ده ، او چا چه راوړله ورځ د قيامت بدی ، پس بدله به نشي ورکولے مګر په مثل د هغے
وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٦٠﴾ قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي
او دوی به ظلم نشي کولے = ووايه يقيناً زه چه يم هدايت کړے دے ما ته رب زما
إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ دِينًا قِيَمًا مِّلَّةَ إِبْرَاهِيمَ
طرف د لارے سيخے ته چه دين سيخ دے ، دين د ابراهيم ع ،
حَنِيفًا ۚ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٦١﴾ قُلْ إِنَّ
چه ګرځيدونکے وو د باطل نه او نه وو د شرک کونکو نه . ووايه يقيناً

پښتو کښې شيخ رحمه الله فرمائی : د دے آيت کريمه نه په ظاهر کښې دا معلوميږی چه دلته د ايمان غير نفع مند کيدل د دواړو صورتونو بيان شويدی هم دا چه اضطراری حالت کښې ايمان راوړی او دويم دا چه په حالت د ايمان کښې يے نيک عمل نه وی کړے ، د دے ايمان به کار نه ورکوی او نه نجات ته ملاويږی حالانکه دا خبره د کتاب او د سنت د صريحو نصوصو او د اهل سنت او جماعت د متفق عليه مسلک نه خلاف ده او معتزله د دے قائل دی . (جواهر ٢٥٠/١)
حل د اشکال دا دے ، شيخ المشائخ مولينا حسين علی رحمه الله فرمائی چه دلته عبارت کښې تقديم د اصل کښې داسے دے : لَا يَنفَعُ نَفْسًا عَمَلُهَا لَمْ تَكُنْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا ، يعنی په دويم شق کښې د مخکښې ايمان د نفع مند کيدلو نفی نه ده بلکه د دے شق نه مقصد عمل د نفع مند کيدلو نفی مقصود ده چه د اضطراری حالت نه پس واقع شی . (جواهر ٢٥١) دغه رنګ عثمانی ٢٠١ ، روح المعانی ج ٨ ، ٦٦ وګورئ - حاصل دا دے چه اضطراری حالت يعنی د مرګ په وخت کښې ايمان راوړل

فائده : ورکوی چه مخکښې يے ايمان نه وی راوړے او دغه شانے په اضطراری حالت کښې نيک عمل مفيد نه دے چه مخکښې يے نيک عمل نه وی کړے . وَكَانُوا شِيَعًا : د عائشے رضی الله عنها نه روايت دے چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم د دے نه فرمائيلی دی چه دوی خاوندان د بدعتونو او د خواهشاتو د دے امت نه دی . (مظهری ٢٠٠/٣)

په قرطبي ج ۸) قُلْ إِنَّنِي، دَ دے ځائے نه ورپسے إعلانات دَنبي عليه السلام دي. په آخري ايت کريمه کښې ترغيب
وے الفيادو احکامو دَ سورت ته هو خَلٰٓئِفَ الْاَرْضِ ملا : خليفه ګان مشران دَ زمکے. يا اباد شو عمه پوبل
پسے. وګورئ اعراف ۱۲۹ دَ

صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّٰهِ

مونځ زما، او قرباني زما، او ژوندون زما، او مرګ زما، الله تعالی لره دی

رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۶۲﴾ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَبِذٰلِكَ اُمِرْتُ وَ

چه رب دَ مخلوق دے. نشته شريک هيڅ لره، او په دغه خبره امر کړے شوے يم، او

اَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۱۶۳﴾ قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِيْ رَبًّا

زه اول دَ منونکو يم ... ووايه آيا غير دَ الله نه (اللهٰ) و لټوم پالونکے

وَّهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ ؕ وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ اِلَّا

او هغه پالونکے دَ هر شي دے، او عمل نکوي هيڅ يو نفس، مګر بوج په وي

عَلَيْهَا ۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ۚ ثُمَّ اِلٰى

په هغه، او نه شي پورته کولے پور وړونکے بوج دَ بل نفس، بيا رب

رَبِّكُمْ مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۶۴﴾

ستاسو واپسي ستاسو ده، پس خبره درکړي به په هغه څيز چه تاسو په هغه کښې اختلاف کولو

وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ الْاَرْضِ وَرَفَعَ

او الله هغه ذات دے چه تاسو ئے ګرځولي خليفه ګان دَ زمکے، او پورته کړي

بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجٰتٍ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ

بعضو لره، دَ پاسه دَ بعضو نه، په درجو کښې چه امتحان او کړي په تاسو په هغه کښې

اٰتٰىكُمْ ؕ اِنَّ رَبَّكَ سَرِيْعُ الْعِقَابِ ۖ وَ

چه درکړي ئے دي تاسو ته. يقيناً رب ستا، دَ جلد عذاب والا دے، او

اِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۶۵﴾

يقيناً هغه بخښونکے، مهربانه دے.

(۷) سُوْرَةُ الْاَعْرَافِ مَكِّيَّةٌ : اٰيَاتُهَا ۲۰۶ رُكُوْعَاتُهَا ۲۴ (۳۹)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ : او پورته کړي بعضو ستاسو نه په بعضو باندے په شرافت او په رزق کښې او غيره دَ وے کښې (مدارک ۲۲۳) په فقر او غنا کښې (بيضاوي ۲۳۲) په بيد الشن او رزق او قوت او په فضل او په علم کښې (سوکاني ۲۸۵). ابن کثير رحمه الله په ۲۹۴ کښې فرمائي چه الله تعالی لره حکمت دے په دے تفاوت کښې. وګورئ زخرف ۳۲.

امتيازات دَ سورة انعام: (۱) شپږ عقليات دَ مسلکو په لفظ دَ کذلك سره (۲) مناظره دَ ابراهيم عليه السلام او دَ اولسو پيغمبرانو ذکر. (۳) رد دَ تحريماتو دَ شرک (۴) رد دَ تولو قسمونو دَ مشرکانو (۵) دَ دلائل عقليه په توحيد باندے.

سورة اعراف: وجه دَ تسميه لفظ دَ اعراف دَ ايت ۴۶ کښې راغلے دے ؛

دعوے: دَ دے سورت درے دعوے دي (۱) تشجيع په تبليغ او انذار (۲) اتباع دَ ما انزل او رد دَ شرک فعلي (۳) دعوی دَ توحيد او رد دَ شرک اعتقادي ۵۹ ۱۵۸. **ربطونه:** (۱) سورت انعام کښې شپږ عقليات وُو او دلته شپږ واقعات. (۲) هلته دلائل عقليه دلته دلائل نقليه (۳) هغه سورت اخر کښې اِنَّ رَبَّكَ سَرِيْعُ الْعِقَابِ ذکر وو او دلته ئے تفصيل شوے (۴) هلته وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ وُو دلته دَ هغه نمونے. (۵) هلته اول نفي دَ شرک اعتقادي او بيا دَ فعلي. دلته دَ هغه عکس.

خلاصه: دا سورت منقسم دے دوو قسمونو ته: اول ۵۸ پورے په دے کښې رد دَ شرک فعلي، دويم قسم تر اخره پورے. په دے کښې رد دَ شرک اعتقادي. په اول قسم کښې درے ابوابه اول باب ترسه پورے، په دے باب کښې شپږ خبرے (۱) اول دعوی ۳ (۲) دوه وعيد دعوی ۴ کښې (۳) تخويف دنيوي دَ

نه او (۴) تخویف أخروي ذکر دے نه (۵) ترغیب ورکړے انقیاد ته دے. ﴿كِتٰبٌ﴾: دا عظیم الشان کتاب دے چه نازل کړے شوے دے تا ته پس نه دي وي په سینه ستا کښې تنګیا د رسولو ورسته نه، یا قبلولو ﴿ولو اننا﴾. ﴿اتَّبِعُوا مَا أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ﴾.

الٓمّٓصٓ ﴿۱﴾ كِتٰبٌ اُنْزِلَ اِلَيْكَ فَلَا يَكُنْ فِيْ صَدْرِكَ
الله جل جلاله ډیر ښه پوهیږي په مراد د خپل کلام. دا (قرآن) کتاب دے چه نازل کړے شوے دے تا ته، پس نه دي وي په سینه ستا کښې
حَرَجٌ مِّنْهُ لِتُنْذِرَ بِهٖ وَذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۲﴾
تنګیا د رسولو د دے، د دے دپاره چه ویروې ته په دے سره خلق او پند دے دپاره د مؤمنانو.
اِتَّبِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوْا
تابعداري وکړئ د هغه چه نازل شوے دے تاسو ته د طرف د رب ستاسو نه، او تابعداري مه کوئ
مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ ۗ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۳﴾ وَكَمْ
سوا د هغه نه د نورو دوستانو ډیر لږ نصیحت قبلوئ تاسو. او ډیر ډیر
مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا فَجَآءَهَا بَاْسُنَا بَيَاتًا اَوْ
کلیو (والو) نه، هلاک کړي دي مونږ هغوی لره، پس راغلو هغوی ته عذاب زمونږ د شپے او یا
هُمْ قَآئِلُوْنَ ﴿۴﴾ فَمَا كَانَ دَعْوٰىهُمْ اِذْ جَآءَهُمْ
دوی آرام کوونکي وو د غرمے، پس نه وو کلام د دوی کله چه راغلو دوی ته
بَاْسُنَآ اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿۵﴾
عذاب زمونږ، مګر دا چه ویلے دوی یقیناً وو مونږ ظالمان.
فَلَنَسْئَلَنَّ الَّذِيْنَ اُرْسِلَ اِلَيْهِمْ وَلَنَسْئَلَنَّ
پس خامخا تپوس به وکړو د هغه کسانو نه چه لیږلے شوي دي دوی ته (پیغمبران) او خامخا تپوس به کوو
الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۶﴾ فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِمْ بِعِلْمٍ وَّمَا
د لیږلے شوو پیغمبرانو نه. پس خامخا بیان به وکړو مونږ په دوی باندے په علم خپل، او
كُنَّا غَآئِبِيْنَ ﴿۷﴾ وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذِ ۣ الْحَقُّ ۚ
نه وو مونږ غائب د دوی نه. او تلل په دغه ورځ حق دے.
فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ
پس هغه څوک چه درانه شي تللي شوي عملونه د هغه، پس دغه کسان هم دوی
الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۸﴾ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ
کامیاب دي. او هغه څوک چه سپک شي تللي شوي عملونه د هغه پس دغه کسان

د تابعدارۍ وکړئ د هغه چه نازل کړے شوے دے تاسو ته د رب ستاسو نه یعني قرآن او سنت. (سراج منیر ۲/۴۰۰).

﴿وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ﴾: او تابعداري مه کوئ سوا د الله تعالیٰ نه د نورو دوستانو چه څوک شیطانان او انسان دي، پس باعث به کړي تاسے په عبادت د بتانو او خواهشاتو او بدعاتو باندے. (کبیر ۲/۳۰). ﴿بَيَاتًا﴾: د شپے، لکه قوم د لوط علیه السلام ته، او یا دوی د غرمے په خوب ویده وو لکه قوم د شعیب علیه السلام ته. (مظهري ۳/۳۲۲). ﴿فَلَنَسْئَلَنَّ الَّذِيْنَ﴾: پس خامخا تپوس به وکړو د هغه کسانو نه چه لیږلي شوي دي دوی ته پیغمبران. د تپوس قصص. او خامخا تپوس به وکړو د لیږلے شوو پیغمبرانو نه د تبلیغ [illegible]. ﴿وَالْوَزْنُ﴾: او تلل په دغه ورځ حق دے. ﴿مَوَازِيْنُ﴾ جمع د میزان یا د موزون ده. په اول صورت کښې معنیٰ دا شوه: هغه څوک چه درانه شي تلے د نیکو عملونو د دوی. په دویم صورت کښې معنیٰ دا ده: هغه څوک چه درانه شي تللي شوي عملونه د دوی. وګورئ [illegible] (مظهري ۳/۳۲۴).

فائده: د تول کیفیت طریقه دا ده: حافظ ابن کثیر فرمائي خلاصه د وینا دا ده چه عملونه به تللي شي، اګرچه عملونه اعراض دي مګر الله تعالیٰ به په ورځ د قیامت اجسام وګرځوي...

(۲) عملنامے به تللے کیږي لکه حدیث د بطاقے او ورکے برخے (کښې راغلي دي) او ویلے شوي دي چه صاحب د عمل به تللے شي لکه په حدیث کښې راغلي دي چه راوړے به شي په ورځ د قیامت غټ او چاغ سړے پس برابر به نه وي په تول کښې د الله تعالیٰ په وړاندې د وزر برابر. بیا آخر کښې حافظ صاحب لیکي چه جمع د دے ټولو آثارو ممکنه ده، کله به عملونه تللے کیږي او کله به سړے... کښې د ماشي د وزن برابر.

وَلَقَدْ مَكَّنّٰكُمْ: او يقيناً ځائے ورکړے تاسو ته په زمکه کښې اوګرځولې دی مونږ تاسو لره په دغه کښې ذريعي
د ګذران د ژوند تيرولو. په دے آيت کښې ترغيب دے عمل کولو او حکم وو سورت ته. وَلَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ: دوهم
ځائے نه دوهم باب ترڅه پورے

الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ بِمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَظْلِمُوْنَ ⑨

ضرر دی چه تاوان کړے دے ځانونو خپلو ته په سبب د هغه چه وو دوی چه په آيتونو زمونږ ظلم کولو.

وَلَقَدْ مَكَّنّٰكُمْ فِي الْاَرْضِ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيْهَا

او يقيناً ځائے مو ورکړے تاسو ته په زمکه کښې، او ګرځولې دی مونږ تاسو لره په دغه کښې

مَعَايِشَ ۭ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ⑩ وَلَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ

ذريعي د ګذران، ډير لږ شکر وباسئ تاسو. او يقيناً پيدا کړي مو تاسو لره

ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ ڰ

بيا مو جوړ کړي يئ شکلونه مو درکړي، بيا مو ووئيل ملائکو ته چه سجده وکړئ آدم ته،

فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ۭ لَمْ يَكُنْ مِّنَ السّٰجِدِيْنَ ⑪

پس سجده وکړه هغوی ټولو مګر ابليس وګرځيده، نه شو، د سجده کوونکو نه.

قَالَ مَا مَنَعَكَ اَلَّا تَسْجُدَ اِذْ اَمَرْتُكَ ۭ قَالَ اَنَا

ووئيل الله تعالیٰ څه شی منع کړو ته له؟ د سجدے کولو نه، کله چه ما امر وکړو تا ته، ووئيل هغه، زه

خَيْرٌ مِّنْهُ ۚ خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ

غوره يم د دهٔ نه، ته پيدا کړے يم د اور نه، او پيدا کړے دے تا هغه لره د

طِيْنٍ ⑫ قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُوْنُ لَكَ اَنْ

خټے نه. ووئيل الله پس کوز شه د جنت نه، پس نه دی مناسب تا له، چه

تَتَكَبَّرَ فِيْهَا فَاخْرُجْ اِنَّكَ مِنَ الصّٰغِرِيْنَ ⑬

لوئي وکړے په دے کښې، پس ووځه، يقيناً ته، د ذليلانو نه ئے.

قَالَ اَنْظِرْنِيْٓ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ⑭ قَالَ اِنَّكَ

ووئيل هغه، مهلت راکړه ماته ترهغه ورځے چه دوی به پاڅولے شی. ووئيل الله يقيناً ته

مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ⑮ قَالَ فَبِمَآ اَغْوَيْتَنِيْ لَاَقْعُدَنَّ

د مهلت ورکړے شوو نه ئے. ووئيل هغه، په سبب د ګمراه کولو ستا ما لره، خامخا به کينم

لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيْمَ ⑯ ثُمَّ لَاٰتِيَنَّهُمْ مِّنْۢ

دوی له په لاره ستا سيده باندے. بيا به خامخا يقيناً راشم دوی ته د

اودويم دا چه هم په څه اموره دی: (١)
واقعه د ابليس او د آدم علیه السلام چه
تعلق لري د دويمے امر سره.
اوواقعه د بيبي آدم علو رخلقه چه دا
دوے سورت ابتدا رهم دے
(٢) تذکير د نعمت (٣) رد د
شرک فعلي (٤) اوبه د دويل
د مشرکانو (٣) تحريمات الهيه
(٥) بشارت او تخويف
وَلَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ: دا معنی
داده چه يقيناً مونږ پيدا کړے
پلار ستاسے آدم علیه السلام بيا مونږ تاسو
لره صورتونه درکړيدی. کذا في
مدارك، سراج منير
دويمه معنی دا ده چه ولفظ ثُمَّ
د تعقيب ذکری دپاره دے چه
يقيناً پيدا کړيدی مونږ تاسو لره
بيا دا هم واوره چه صورتونه مو
درکړيدی تاسو لره. وګوری
جواهر. اُسْجُدُوْا: بقره کښې
تيرشويدی. علامه وديابادی
ليکی چه د سجدے دپاره دا ضروری
نه دی چه د خامخا د سجدے پشانے
متعارفه او خاصه وی. د سجدے
لفظي معنی تواضع او تذلل دے او
دلته دا مراد دے (ماجدی)
اَلَّا تَسْجُدَ: په دے ځائے کښې
لفظ د لَا زائد دے معنی نلری.
اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ: څه غوره دره نه
يم، تکبر نے وکړو. بابا سعدی
فرمائی: تکبر عزازيل را خوار کرد
بزندان لعنت ګرفتار کرد
ابن کثير رحمه الله فرمائی چه غلط
او فاسد قياس ئے وکړو د الله
د حکم په مقابله کښې. پس لدے

وجے نه ابليس نا اميده شو د الله تعالیٰ د رحمت نه پس خطا شو (تفسير). شيخ القرآن رحمه الله به فرمائيل چه
د شيطان سر چه نسی فرعون هم د موسیٰ علیه السلام باره کښې ويلی وو چه څه د دهٔ نه غوره يم وګوری زخرف
ثُمَّ لَاٰتِيَنَّهُمْ مِّنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ: مطلب دا چه د ټولو طرفونو نه به د انسان د ګمراه کولو کوشش وکړم. ص

دَ کتهٔ نه څلور طرفونه ذکر کړی دی - دَ پاسه او دَ لاندے نه نه دے ونه ویل قاضی بیضاوی رحمه الله فرمائی چه دَ پاسه نه رحمت نازلیږی او دَ لاندے نه انسان بیا په وحشت کښې غورځیږی ۳۲۰ شکرین: مفسرین

بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ اَيْمَانِهِمْ وَ

مخے دَ دوی نه، او دَ شا دَ دوی نه، او دَ ښی طرفونو دَ دوی نه او دَ

عَنْ شَمَآئِلِهِمْ ۚ وَلَا تَجِدُ اَكْثَرَهُمْ شٰكِرِيْنَ ﴿١٧﴾

گس طرفونو دَ دوی نه، او نه به بیا موے اکثر دَ دوی نه، توحید والا۔

قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُوْمًا مَّدْحُوْرًا ۭ لَمَنْ

ووئیل الله اُوځه دَ جنت نه بد کړے شوے، رټلے شوے، خامخا چا چه

تَبِعَكَ مِنْهُمْ لَاَمْلَـَٔنَّ جَهَنَّمَ مِنْكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿١٨﴾

تابعداری وکړو ستا دَ دوی نه، خامخا یقیناً ډک به کړم جهنم ستاسو دَ ټولو نه۔

وَيٰٓاٰدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ فَكُلَا

او اے آدمه! اوسیږه ته او بی بی ستا په جنت کښې پس خورئ،

مِنْ حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ

دَ کوم ځائے نه چه خوښه شی ستاسو او نزدے کیږئ مه دَ دے ونے ته (په قصد)

فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٩﴾ فَوَسْوَسَ لَهُمَا

پس شئ به دواړه دَ ظالمانو نه: پس وسوسه واچوله دواړو ته

الشَّيْطٰنُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وٗرِيَ عَنْهُمَا

شیطان لپاره د انجام دا شو چه ښکاره کړی دوی ته هغه چه پټ شوی وو دَ دواړو نه

مِنْ سَوْاٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهٰىكُمَا رَبُّكُمَا

دَ عورتونو دَ دوی نه، او وئیلے نه وی منع کړی تاسو له رب ستاسو

عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَا مَلَكَيْنِ

دَ دے ونے نه، مګر چه شئ به دواړه ملائکے،

اَوْ تَكُوْنَا مِنَ الْخٰلِدِيْنَ ﴿٢٠﴾ وَقَاسَمَهُمَآ اِنِّيْ

او یا شئ به دواړه دَ همیشه پاتے کیدونکو نه او قسمونه ئے وکړه دواړو ته چه یقیناً

لَكُمَا لَمِنَ النّٰصِحِيْنَ ﴿٢١﴾ فَدَلّٰىهُمَا بِغُرُوْرٍ

تاسو له دَ خیر خواهانو نه یم۔ پس راکوز ئے کړه دواړه په دهوکے سره

مفسرین رحمهم الله معنیٰ نیکی او بیا به نه مومے زیاتو دَ دوی لره شکر ګذارے والا۔ وګورئ مظہری، خازن، قرطبی، ابن کثیر رحمهم الله۔ فوسوس لهما: حاصل دَ وسوسے دا دے چه دَ دے ونے دَ خوراک نه دَ ملائک والی قوت او همیشه زندګی پیدا کیږی مګر په شروع کښی ستاسو وجود دَ دے طاقتور خوراک قابل نه وو دَ دے وجے نه منع کړے شوی وئ۔ اوس ستاسے په حالت او قوت کښی ترقی شوے ده او ستاسو په قوت کښی دَ دے برداشت کیدے شی نو اوس ممانعت باقی نه ده (معارف ۵/۳۲ اشرف)

لِيُبْدِيَ لَهُمَا: لام دَ عاقبت دے۔ معنیٰ دا شوه چه انجام ئے دا شو چه ښکاره کیږی۔ دواړو ته هغه چه پټ شوی وُو دَ عورتونو دَ دوی نه۔ وګورئ خازن رحمه الله۔ او تفسیر سراج المنیر رحمه الله کښی دَ وهب خبره دَ منبه رحمه الله په دینا لیکی چه دَ نور جامے دَ دواړو په عورتونو وے یو بل ئے نه لیدل

پس کله چه خطائی ئے ورسیدل نو دواړو ته خپل عورتونه ښکاره شو۔

قَالَا رَبَّنَا ۲۳: عام مفسرین رحمهم الله فرمائي چه دا هغه کلمې دي چه آدم علیه السلام د خپل رب نه زده کړے وے. ابن کثیر ۲/۲۰۷، ابن جریر ۸/۱۴۳، سراج منیر ۱/۴۶۵، فتح القدیر ۲/۱۹۸، تسهیل ۲/۳۵، خازن ۲/۲۸، درمنثور ۳/۸۴، احسن الرحمن ۲/۳۳.

فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَ

پس هر کله چه ئے وڅکله ونه، ښکاره شوے دواړو ته، عورتونه د دوي، او

طَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ ؕ وَ

شروع ئے وکړه، راټختولے ئے په ځانونو، د پاڼو د جنت نه، او

نَادٰىهُمَا رَبُّهُمَآ اَلَمْ اَنْهَكُمَا عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ

اواز وکړه دوي ته رب د دوي، آیا نه وو منع کړي تاسو دواړه، د دے ونے نه

وَاَقُلْ لَّكُمَآ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿٢٢﴾

او نه وو ویلي تاسو ته، چه یقینًا شیطان، تاسو لره دښمن ښکاره دے.

قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا ۫ وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَ

دوئ دواړو وویل اے ربه زمونږ، ظلم کړے دے مونږ په نفسونو خپلو، او که چرے ته مونږ ته بخښنه ونکړے، او

تَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٢٣﴾ قَالَ

رحم را باندے ونکړے، نو یقینًا شو به مونږ، د تاوانیانو نه. ووئیل الله تعالیٰ،

اهْبِطُوْا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۚ وَلَكُمْ فِى

کوز شئ، بعضې ستاسو د بعضو دپاره دښمنان وئ، او تاسو لره، په

الْاَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَّمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿٢٤﴾ قَالَ

زمکه کښې، ځائے د قرار دے، او نفع وي د یو وخت پورے. ووئیل الله تعالیٰ،

فِيْهَا تَحْيَوْنَ وَفِيْهَا تَمُوْتُوْنَ وَمِنْهَا

په دے زمکه کښې به ژوند تیروئ، او په دے کښې به مرئ، او د دے نه به

تُخْرَجُوْنَ ﴿٢٥﴾ يٰبَنِىْٓ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ

راویستلے شئ. اے اولاده د آدمه! یقینًا پیدا کړي مونږ، تاسو لره

لِبَاسًا يُّوَارِىْ سَوْاٰتِكُمْ وَرِيْشًا ؕ وَلِبَاسُ

جامے، چه پټ کړي عورتونه ستاسو، او ښائست، او جامه

التَّقْوٰى ذٰلِكَ خَيْرٌ ؕ ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ لَعَلَّهُمْ

د پرهیزګارئ، دغه غوره ده، دغه د نښانو د الله تعالیٰ نه دي، د پاره د دے چه دوي

اهْبِطُوْا: د جمع لفظ ئے په دے وجه وویلو چه دوي دواړه اصل او سرچینې د ټولو انسانانو وو. اصل لفظ طه ۱۲۳ کښې دے.

فِيْهَا تَحْيَوْنَ ۲۵: وفرمایل الله تعالیٰ چه په دے زمکه کښې به ژوند تیروئ او په دے کښې به مرئ او د دے نه به راویستلے شئ. وګورئ طه ۵۵. مراد د ژوند نه متعارف ژوند دے. نو د عیسیٰ علیه السلام په آسمان کښې د ژوند تیرولو اعتراض نه راځي (جواب پ ۳ ۲۵۹). د دے مثال موجوده دور کښې دا دے لکه یو تن څو ګهنټو د پاره د زمکے نه جدا شي او هوائي جهاز کښې سفر کوي یا یکښې مړ شي نو هغه د دے آیت سره منافي نه دے. وګورئ عثماني ۲۲۶.

يٰبَنِىْٓ اٰدَمَ ۲۶: (حاشیه د راتلونکي مخ ۲۳۳): دا الفاظ څلور ځلے ذکر دے د بیل بیل مقصد د پاره ۲۷، ۳۱، ۳۵ - قَدْ اَنْزَلْنَا: تفسیر قرطبي ۷/۱۸۴ کښې ئے معنے لیکلې دي. حاصل ئے دا دے چه را لیږلے مو دے باران چه هغه پنبه او کتان

ټوکوي، او حیوانات بربنډ پاتې دي چه دَ هغوی نه وړی، پشم، وغیره پیدا کیږي (۲) یا مُراد ترینه زلبیزل دی دَ جامو دَ آدم او حوا علیهما السلام سره چه دَ نور وو دپاره عشال شي (۳) سعید بن جُبیر رحمه الله ولي

یذکرون (۲۶) یٰبَنِیٓ اٰدَمَ لَا یَفْتِنَنَّکُمُ الشَّیْطٰنُ کَمَآ

نصیحت قبوله کړي. اے بنی آدمه، په فتنه کښې دِ وانه چوي تاسو شیطان، لکه چه

اَخْرَجَ اَبَوَیْکُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ یَنْزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا

وویستل ئي مور او پلار ستاسو، دَ جنت نه، ایستل ئي دَ دواړو نه جامے دَ هغوی،

لِیُرِیَهُمَا سَوْاٰتِهِمَا ؕ اِنَّهٗ یَرٰىکُمْ هُوَ وَقَبِیْلُهٗ مِنْ

چه ښکاره کړي دواړو ته عورتونه دَ هغوی. یقیناً وینی تاسو لره دا او قبیله دَ ده، دَ داسے

حَیْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ؕ اِنَّا جَعَلْنَا الشَّیٰطِیْنَ اَوْلِیَآءَ

طریقے سره چه تاسو ئے نه وینئ، یقیناً موږ ګرځولی دی شیطانان، دوستان،

لِلَّذِیْنَ لَا یُؤْمِنُوْنَ (۲۷) وَاِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً قَالُوْا

دَ هغه کسانو دپاره چه ایمان نه راوړي، او کله چه کوي دوی بے حیائي، وائي

وَجَدْنَا عَلَیْهَآ اٰبَآءَنَا وَاللّٰهُ اَمَرَنَا بِهَا ؕ قُلْ اِنَّ

موندلی دی موږ په دې باندې پلاران خپل، او الله امر کړے موږ ته په دې. ووایه یقیناً

اللّٰهَ لَا یَاْمُرُ بِالْفَحْشَآءِ ؕ اَتَقُوْلُوْنَ عَلَی اللّٰهِ مَا

الله نه امر کوي په بے حیائي باندې، آیا وایئ تاسو په الله تړ باندې، هغه چه

لَا تَعْلَمُوْنَ (۲۸) قُلْ اَمَرَ رَبِّیْ بِالْقِسْطِ ۟ وَاَقِیْمُوْا

تاسو پرے نه پوهیږئ. ووایه امر کړے رب زما په انصاف سره، او برابر کړئ

وُجُوْهَکُمْ عِنْدَ کُلِّ مَسْجِدٍ وَّادْعُوْهُ مُخْلِصِیْنَ

مخونه خپل، په نزد دَ هر جمات، او بلئ الله لره، خالص کونکي

لَهُ الدِّیْنَ ؕ کَمَا بَدَاَکُمْ تَعُوْدُوْنَ (۲۹) فَرِیْقًا هَدٰی

هغه لره دَ دین. څنګه چه پیدا کړي تاسو لره اول ځل، دغسے به دوباره راګرځئ، یوه ډله ئے هدایت کړه

وَفَرِیْقًا حَقَّ عَلَیْهِمُ الضَّلٰلَةُ ؕ اِنَّهُمُ اتَّخَذُوا الشَّیٰطِیْنَ

او بله ډله، ثابته شوه په دوی باندې ګمراهي، یقیناً دوی نیولی دي شیطانان

اَوْلِیَآءَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَیَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ (۳۰)

دوستان، بغیر دَ الله نه، او ګمان کوي چه یقیناً دوی لاره موندونکي دي.

چه دَ انزلنا معنی پیدا کړي شوي جامے ستاسو دَ پاره. (۳) قطرب رحمه الله معنی دا ده چه شو نلے دے موږ دَ تاسو ته کیفیت دَ جوړولو دَ جامو. یعنی دے آیت کریمه کښې دَ جامو دوه ګټے ښودلے چه عورتونه ستاسو پټ کړي او ښائست دے او لباس فرمائي چه جامه دَ تقوی غوره ده. مراد ترینه هغه جامے دي چه دَ شریعت مطابق وي. جناب مفتي صاحب رحمه الله فرمائي چه دَ ظاهري لباس هم اصلي مقصد تقوی حاصلول دي. (معارف ص۵۲۳) وَقَبِیْلُهٗ: قبیله دَ ده مُراد ترینه اولاد دَ شیطان دے. وګورئ سورة کهف ص۵۰. وَاِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً: دَ مشرکانو دَ دلیل رد دے. عام مفسرین (رحمهم الله) لیکي چه دلته دَ فاحشے نه مراد په لغړه طواف دَ بیت الله شریف نه دے دوی په حالت دَ طواف کښې جامے اغوستل په ځان حرام کړي وو. سړو به دَ ورځے او ښځو به دَ شپے طوافونه کول او په عورت به ئے لاس ایښودے وو یا معمولي کپړه به پرے وه او دا ئے هم ویلے چه په دے جامو کښې موږ ګناهونه کړي دي او چا له به ترپښو جامه ورکړه نو په هغه کښې به ئے طواف کولو او که ورته نه کړله نو په بربنډه به ئے طواف کولو. وګورئ مدارک ص۳۰۸، روح ص۱۰۶،

ابن کثیر ص۲۰۸، طبري ص۱۴۹ وغیره. بِالْقِسْطِ ص۲۹۰: ووایه رب زما امر کړے په انصاف سره. دَ پښتو شیم او دَ ښځو شیخ رحمهما الله دواړو معنی داکړي په توحید سره. په دے آیت کریمه کښې دَ دے سورة دریمه دعوی ذکر ده. وَیَحْسَبُوْنَ: او خیال کوي چه یقیناً دوی هدایت موندونکي دي. دا هر مشرک او بدعتي لره شامل دے. وګورئ ص۱۰۴ کهف ❊

كُلُوا وَاشْرَبُوا: خورئ او څښئ. مفتي صاحب رحمه الله ليکي چه قول له اوخکم الشيء قدر د ضرورت فرض دے او امام بخاري رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنه قول را نقل کړے دے چه خوره څه چه دِ خوښه شي او اغوندِه څه چه دِ خوښ وي اِلا دوه خصلتونه څه وي اسراف او تکبر. (بخاري ۲ ج ۸۰۰ کتاب اللباس)

يَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَكُلُوا

اے اولاده د آدم! واخلئ ښائست خپل په نزد د هر جمات، او خورئ

وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا ۚ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ ﴿٣١﴾

او څښئ، او د حد نه مه تيرېږئ يقيناً الله تعالى نه خوښوي حد نه تيرېدونکي.

قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّهِ الَّتِي أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ

ووايه چا حرام کړے ښائست د الله هغه چه راويستے دے هغه د بندګانو خپلو

وَالطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ ۚ قُلْ هِيَ لِلَّذِينَ آمَنُوا

او پاکيزه د رزق نه، ووايه دا د پاره د هغه کسانو چه ايمان راوړے

فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ كَذَٰلِكَ

په ژوند د دنيا کښې غير خالص (او) خاص به خالص وي په ورځ د قيامت، دغه رنګے

نُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٣٢﴾ قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ

تفصيل سره بيانوو ايتونه د هغه قوم د پاره چه پوهيږي. ووايه يقيناً حرام کړي دي

رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالْإِثْمَ

رب زما د بے حيائۍ کارونه هغه چه ښکاره وي د دے نه او هغه چه پټ وي او ګناه

وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَأَن تُشْرِكُوا بِاللَّهِ مَا لَمْ

او ظلم کول په ناحقه، او دا چه شريک جوړ کړئ تاسو د الله تعالى سره، هغه څيز چه نه دے

يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَأَن تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ

نازل کړے په هغه څه دليل، او دا چه ووايئ، په الله تعالى باندے

مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٣﴾ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ۖ فَإِذَا

هغه چه تاسو پرے نه پوهيږئ. او د هر يو امت د پاره يو نيټه ده، پس کله چه

جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا

راشي نيټه د دوي نو هغوي به وروستو کيدے نه شي يو ساعت، او نه به

يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٣٤﴾ يَا بَنِي آدَمَ إِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ

مخکښې کيدے شي. اے اولاده د آدم! کله چه راشي تاسو ته، رسولان

تجاوز وکړي نشه وروه خصلتونه اسراف او تکبر. (بخاري ۲ ج ۸۰۰ کتاب اللباس). فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا: تفسير مدارک رحمه الله د دے عبارت کښې تقدير را وستلے دے يعني داشوه چه دا اختونه غير خالص دي ايماندارو له په ژوند د دنيوي کښې کافر ورسره شريک دي او خالص دي په ورځ د قيامت کښې. قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ: په دے ايت کريمه کښې د تحريمات الهيه بيان دے په مقابله د تحريمات العباد کښې او پخوا تحريمات پکښې ذکر دي. إثم صفت دے چه په حقوق الله کښې وي او بغي چه په حقوق العباد کښې وي. شيخ القرآن رحمه الله به فرمايل چه په دے ايت کريمه کښې د تکميل انسانيت څلور اصول ذکر دي (۱) عفت (۲) حلم (۳) شجاعت (۴) علم فواحش ئے حرام کړي دي چه عفت راشي. ګناه او ظلم ئے حرام کړے چه حلم راشي او شرک ئے حرام کړے ځکه شرک د بيولۍ وي چه شجاعت راشي او په الله تعالى د بغير د دليل په نا پوهۍ سره ئے حرام کړي دي چه علم حاصل شي. وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ: دلته اشکال دے چه د عذاب مقرر وخت راشي نو بيا روستو والے ممکن دے ليکن مخکښې والے ممکن نه دے. نو جواب لا نه دے ترجمه کښې شو شوے چه د إِذَا جزاء محذوف ده چه ضد ايب وکړے شي او وروستو والي دوار جملے د هغے تاکيد دے. دويم جواب جناب مفتي صاحب رحمه الله کړے دے چه مقصد ئے خبر ورکول دي چه نشي روستو کيدے او د تقديم خبر په طور د محاورے د عوامو ذکر دي (ج۳ ص۵۵ معارف). يَا بَنِي آدَمَ د ايت کريمه کښې بشارت دے او د بل ايت کښې ورپسے تخويف دے.

مِّنكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ آيَاتِي فَمَنِ اتَّقَىٰ وَأَصْلَحَ
ستاسو له جنس نه، چه بيانوي به په تاسو باندې آيتونه زما، نو چا چه ځان وساتلو (له كفر) او نيك عمل وكړو

فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٥﴾ وَالَّذِينَ
پس نشته به وي هيڅ ويره په هغوي باندې او نه به خفګان كوي. او هغه كسان چه

كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَاسْتَكْبَرُوا عَنْهَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ
دروغ ګڼلي وي دوي زمونږ آيتونه او ځان غټ ګڼلي وي د دې نه، دغه كسان خاوندان د

النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٣٦﴾ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ
اور دي، دوي به په دې كښې هميشه وسيږي. پس څوك دى غټ ظالم، د هغه چا نه چه

افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ ۚ أُولَٰئِكَ
تړي په الله تعالى باندې دروغ، او يا دروغ ګڼي آيتونه د هغه. دغه كسان

يَنَالُهُمْ نَصِيبُهُم مِّنَ الْكِتَابِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا جَاءَتْهُمْ
وبه رسيږي دوي ته برخه د دوي چه ليكل شوي ده، تر دې چه راشي دوي ته

رُسُلُنَا يَتَوَفَّوْنَهُمْ قَالُوا أَيْنَ مَا كُنتُمْ تَدْعُونَ
استازي زمونږ چه ساه اخلي د دوي نه، وبه وائي چرته دي هغه چه وئي تاسو چه بللو تاسو

مِن دُونِ اللَّهِ ۖ قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا وَشَهِدُوا عَلَىٰ
سوا د الله تعالى نه، وبه وائي دوي، ورك شو زمونږ نه، او ګواهي به وكړي په

أَنفُسِهِمْ أَنَّهُمْ كَانُوا كَافِرِينَ ﴿٣٧﴾ قَالَ
نفسونو خپلو، چه يقيناً دوي وو كفر كونكي. وبه وائي الله تعالى

ادْخُلُوا فِي أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِكُم مِّنَ
داخل شئ په هغو ډلو كښې چه تيرې شوې دي، مخكښې ستاسو نه، د

الْجِنِّ وَالْإِنسِ فِي النَّارِ ۖ كُلَّمَا دَخَلَتْ أُمَّةٌ
پيريانو او انسانانو نه په اور كښې، هر وار چه ننوځي يوه ډله،

لَّعَنَتْ أُخْتَهَا ۖ حَتَّىٰ إِذَا ادَّارَكُوا فِيهَا جَمِيعًا
لعنت به وائي په ملګرې خپلې، تر دې چه راجمع شي په اور كښې، ټول

فَمَنْ أَظْلَمُ[۳۷]: د دې نه خاطه نه وړ، ګيم باب مسے، نو نه وي په دې ټه. وكښې هم پنځه امور دي (۱) زجر ص[۳] (۲) تخويف اخروي ص[۳] نه (۳) بشارت ص[۳] (۴) غير رحل خبرې اتره د جنتيانو او دوزخيانو او اعراف والو په مابين كښې ص[۴۶] تر ص[۵۳] (۵) نفي د شفاعت تهري ص[۵۳].

مكلب د آيت كريمه دا دى چه مفتريانو ته مكذبينو كښې لوے ظالم دے. رُسُلُنَا: استازي زمونږ. ملك الموت او د هغه معاونين ترينه مراد دي. معلومه شوه چه د قبض كولو د پاره اګر ملائك دي. مخكښې نسا آيت ص[۶۱] كښې هم ذكر شوي وو.

أُخْتَهَا[۳۸]: لعنت به وائي په هم جنس ـــ ولے خپلے. حَتَّىٰ إِذَا ادَّارَكُوا فِيهَا: چه راجمع كړے شي دوي په دوزخ كښې (قرطبي ص[۳]) د روستني ولے نه مراد تابعداري او د مخكني ولے نه مراد ليډران او سرداران دي ۞ (روح ص[۱۱۶]) ۞

لِكُلٍّ ضِعْفٌ: دَ هر یو دپاره دوچند عذاب دے. سوال وارد شو چه دَ بدئی بدله خو یو چند دی وه لکه شوری سے کښی راغی نو ولے دوچند عذاب څنګه وشو؟ جواب دا دے چه ولے دَ هر یو ډلے عملونه دوه دوه دی دَ تابعدارو دَ کفر او کفر کښی تقلید

قَالَتْ أُخْرَاهُمْ لِأُولَاهُمْ رَبَّنَا هَٰؤُلَاءِ أَضَلُّونَا فَآتِهِمْ

وبه وائی روستنی ډله دَ ابتدائی ډلے دپاره ای ربه زمونږه! دغو کسانو ګمراه کړی وو مونږ پس ورکړه دوی ته

عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ النَّارِ ۖ قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَلَٰكِن

عذاب دوچند دَ اور نه، وبه وائی الله دَ هر یو دپاره دوچند دے او لیکن

لَّا تَعْلَمُونَ ﴿٣٨﴾ وَقَالَتْ أُولَاهُمْ لِأُخْرَاهُمْ فَمَا

تاسو نه پوهیږئ. وبه وائی اولنی ډله دَ دوی نه روستنئ ډلے دَ دوی ته، پس نه

كَانَ لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍ فَذُوقُوا الْعَذَابَ

تاسو لره، په مونږ هیڅ غوره والے، پس وڅکئ عذاب

بِمَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٣٩﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا

په سبب دَ هغے چه تاسو کول. یقیناً هغه کسان چه دروغجن ګڼلی دی دوی زمونږ آیتونه

وَاسْتَكْبَرُوا عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ

او ځان غټ ګڼلے دے دَ هغو نه، به به نه کړے شی دوی ته دروازے دَ آسمان،

وَلَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّىٰ يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ

او داخل به نشی جنت ته، ترڅو چه ننوزی اوښ په سوری

الْخِيَاطِ ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُجْرِمِينَ ﴿٤٠﴾ لَهُم

دَ ستنے کښی، او دغه رنګ بدله ورکوو، مجرمانو ته. دپاره دَ دوی

مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِن فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ۚ وَ

دَ دوزخ نه، تو لاپا ئی دی او دَ پاسه دَ دوی نه پوښونه (دَ اور دی)، او

كَذَٰلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ ﴿٤١﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا

دغه رنګ بدله ورکوو، ظالمانو ته. او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے

وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا

او عمل ئے کړی دَ نیکو، تکلیف نه ورکوو هیڅ نفس ته مګر دَ وسع مطابق دَ هغه،

أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٤٢﴾

دغه کسان، خاوندان دَ جنت دی، دوی به په هغه کښی همیشه او سیدونکی وی

ع ٥ / ١١

او دَ هغوی ګمراه ګیدل او ګمراه کول دی. شاه ولی الله رحمه الله په فتح الرحمن ص٢ کښی دا جواب لیکلے دے کوم چه مخکښی عرض شو، او قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله تفسیر مظهری ص٣٢٥ کښی هم دغه جواب لیکلے دے. حَتّٰى يَلِجَ الْجَمَلُ ٤٠: ترڅو چه ننوزی اوښ په سوری دَ ستنے کښی مطلب چه اوښ خو مره غټ دے نو دا ګنهګار دَ ستنے په سوری کښی داخلیدے نشی دغه رنګه کافر مشرک جنت ته تلے نشی. شاه صاحب رحمه الله فرمائی یعنی محال دی (نشی تللے جنت ته) (فتح ص١٦٩، مائده ص٩٦ وګورئ). لَهُمْ مِنْ جَهَنَّمَ: دوی لره به دَ جهنم نه بسترے وی او دَ پاسه دَ دوی نه پوښونه دَ اور وی (ابن کثیر ص٢١٥). غَوَاشٍ: سائبانونه دَ اور به وی (جواهر، سورة زمر ص١٦ وګورئ). دا تخویف اخروی دے او راروان آیتونو کښی بشارت اخروی دے. لَا نُكَلِّفُ ٤٢: نه تکلیف کوو هیڅ نفس ته مګر حسب توان او طاقت دَ هغه. قرطبی رحمه الله لیکی چه دا کلام جمله معترضه ده او زمونږ شیوخ رحمهم الله ورته اد خال الهی وائی. مِنْ غِلٍّ: احاسب دَ ذهن (مخزن ص٣١). خفګان. شاه عبد القادر رحمه الله فرمائی چه معلومه شوه چه دَ نیکانو په زړونو کښی هم خیل مابین کښی خفګان راځی. جنت ته چه ترځی نو مابین کښی به ئے زړونه صاف شی بیا به جنت ته ځی (جواهر ص٢). حضرت علی رضی الله عنه فرمائی چه زه امید لرم چه زه او عثمان او طلحه او زبیر به دغه شان یو (مظهری ص٣٢٣، قرطبی ص٢٠٨، کبیر ص٥٢، ابن کثیر ص٢١٥، ابن جریر ص١٣٣). وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ ٤٣: وبه وائی ټول حمد ونه هغه الله تعالیٰ لره دی چه مونږ ئے جنتونو ته راوړ سولو. دلته حمد ذکر شوے پس

وَختمتو لره. سورة فاطر ۳۵ هم وګورئ. بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ: په سبب د هغه عملونو چه تاسو کول. دلته ظاهري سبب د عملونو جنت ذکر شو، او حقیقي سبب لره د الله تعالی فضل او کرم دے. حکیم القرآن رحمه الله فرمایلي چه دا

وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ تَجْرِي مِن
او لرې به کړو هغه څه چه سینو د دوی کښې دي (د) کینو نه، بهیږي به لاندې د
تَحْتِهِمُ الْأَنْهَارُ ۖ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي هَدَانَا
دوی نه ویالې. او وائي به: حمد وثنا دی الله لره هغه ذات لره چه هدایت کړے
لِهَٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَا أَنْ هَدَانَا اللَّهُ ۖ
مونږ ته دې، او نه وو مونږ چه راسیدلي وے دې ته که چرته دې رسولے مونږ ته هدایت الله تعالی،
لَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ۖ وَنُودُوا أَن
یقیناً راغلي وو استازي د رب زمونږ په حقه سره، او اواز به وکړے شي دوی ته چه
تِلْكُمُ الْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾
دغه جنت په میراث کښې درکړے تاسو ته په سبب د هغه عملونو چه تاسو کول.
وَنَادَىٰ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ أَصْحَابَ النَّارِ أَن قَدْ
او اواز به وکړي خاوندان د جنت خاوندان د اور ته چه یقیناً
وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدتُّم مَّا
مونږ وموندلو هغه چه وعده کړې وه مونږ سره رب زمونږ په حقه، پس ایا تاسو وموندلو هغه
وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا ۖ قَالُوا نَعَمْ ۚ فَأَذَّنَ مُؤَذِّنٌ
چه وعده کړې وه رب ستاسو په حقه، او به وائي: او. پس اعلان به وکړي یو اعلان کونکے
بَيْنَهُمْ أَن لَّعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ ﴿٤٤﴾ الَّذِينَ
په مینځ د دوی کښې چه لعنت د الله تعالی دی په ظالمانو باندې. هغه کسان چه
يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا
منع کوي د لارې د الله تعالی نه او لټوي په هغې کښې کوږوالے،
وَهُم بِالْآخِرَةِ كَافِرُونَ ﴿٤٥﴾ وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ ۚ
او دوی په اخرت انکار کونکي وي. او په مینځ د دوی کښې به پرده وي،
وَعَلَى الْأَعْرَافِ رِجَالٌ يَعْرِفُونَ كُلًّا بِسِيمَاهُمْ ۚ
او په اعراف باندې به سړي وي، پیژني به هر یو لره په علامو د هغوی

ذکر نه دی وړلی چه تاسو به ویلے نیولے په ذوات فی نفسهم باندې بلکه نیک عمل نے ذکر کړے. سورة مومنون ۱۱۱ هم وګورئ.

وَنَادَىٰ: د دے ځائے نه ځلور اوازونه د دوزخیانو، جنتیانو او اعرافیانو په مابین کښې ذکر کولے شي ځکه چه ځلښن ځلا کښې ذکر شوي دي. امام رازي رحمه الله لیکي چه هر کله الله تعالی بیان د وعید د کفارو او د ثواب د ایماندارو وکړو نو بیا یے ذکر د هغه مناظرو وکړو چه راځي په مابین د دواړو ډلو کښې. (کبیر).

الَّذِينَ يَصُدُّونَ ﴿٤٥﴾: د دے ایت کریمه کښې دریے صفات د ظالمانو کافرانو ذکر شوي دي. سورة ابراهیم ۳ هم وګورئ. وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا: شاه صاحب رحمه الله فرمائي چه غواړي چه په شبهاتو د الله دین باطله جوړه کړي. (فتح).

وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ: او مابین د جنت او دوزخ کښې به پرده وي او هغے ته اعراف ویلے شي. (فتح ۱۹۰) سورة حدید ۱۳ کښې ورته سُور: دیوال ویلے شوے دے. د ينكو في شيخ رحمه الله فرمائي چه اعراف د جنت او دوزخ په مابین کښې د حجاب او حاجز یا سنئ حصه ده. د اعراف والو په باره کښې تحقیقي قول دا دے چه دوی به بالاخره په جنت کښې داخلیږي. (ج ۲ ص ۳۶۱ جواهر). ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه دوی دا سے قوم دے چه نیکۍ او بدۍ نے برابرے شوے وي (ج ۲ ص ۲۱۶). بابا سعدي رحمه الله وائي: ـــ

حوران بهشتی را دوزخ بود اعراف ❊ واز دوزخیان پرسس که اعراف بهشت است ❊

وَإِذَا صُرِفَتْ: او کله چه واړولی شی نظرونه د دوی. په دیکښې اشاره ده چه دوی به په خپله خوښې سره نظر دوزخ طرفته نکوی. أَهٰؤُلَاءِ: دا کلام د اعراف والو دے چه کفارو ته به ووائی او اشاره به وکړی جنتیانو ته چه آیا دا هغه کسان دی چه

وَنَادَوْا أَصْحَابَ الْجَنَّةِ أَنْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ لَمْ
او اواز به وکړی دوی خاوندانو د جنت ته، چه سلام دے وی په تاسو باندې، نه به وی
يَدْخُلُوهَا وَهُمْ يَطْمَعُونَ ﴿٤٦﴾ وَإِذَا صُرِفَتْ
داخل شوی جنت ته او دوی به طمع لری. او کله چه واړولی شی
أَبْصَارُهُمْ تِلْقَاءَ أَصْحَابِ النَّارِ قَالُوا رَبَّنَا لَا
نظرونه د دوی په طرف د خاوندانو د اور، وبه وائی دوی اے ربه زمونږه، مه
تَجْعَلْنَا مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٤٧﴾ وَنَادَىٰ
ګرځوه مونږ سره د قوم ظلم کوونکو سره (په اور کښې). او اواز به وکړی
أَصْحَابُ الْأَعْرَافِ رِجَالًا يَعْرِفُونَهُمْ بِسِيمَاهُمْ قَالُوا
خاوندان د اعراف، سړو ته چه پیژنی به هغوی په علاماتو د هغوی، او به وائی
مَا أَغْنَىٰ عَنْكُمْ جَمْعُكُمْ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ ﴿٤٨﴾
څه نکړو فائده تاسو ته جمع کولو ستاسو او هغه چه وئ تاسو چه لوئی به موکوله.
أَهٰؤُلَاءِ الَّذِينَ أَقْسَمْتُمْ لَا يَنَالُهُمُ اللَّهُ بِرَحْمَةٍ
آیا دا هغه کسان دی چه قسمونه کول تاسو چه و به نه رسوی دوی ته الله څه رحمت.
ادْخُلُوا الْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمْ وَلَا أَنْتُمْ تَحْزَنُونَ ﴿٤٩﴾
(او به ویلے شی دوی ته) داخل شئ جنت ته نه به وی څه ویره په تاسو باندې او نه به تاسو په غم کښې کیږئ.
وَنَادَىٰ أَصْحَابُ النَّارِ أَصْحَابَ الْجَنَّةِ أَنْ
او اواز به وکړی، خاوندان د اور، خاوندانو د جنت ته، چه
أَفِيضُوا عَلَيْنَا مِنَ الْمَاءِ أَوْ مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ
راتوی کړئ په مونږه څه اوبه، او یا له هغه څیزه چه درکړی تاسو ته الله
قَالُوا إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى الْكَافِرِينَ ﴿٥٠﴾
وبه وائی دوی یقیناً الله تعالیٰ حرام کړی دا دواړه، په کافرانو باندې.
الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَهُمْ لَهْوًا وَلَعِبًا وَ
هغه کسان دی چه نیولے دے دوی دین خپل په توګه د لهو، او لوبو سره، او

تاسو به ویلے چه د دیٔ غریب سوی الله نه دوی ته مهربانی خپله. ادْخُلُوا الْجَنَّةَ: دوی ته خو ویلے شو به چه داخل شئ جنت ته نه به وی څه ویره په تاسو او نه به تاسو غمژن کیږئ. (جواهر ص٣٦٥) او دا مطلب دا دے چه دوی به په دے خبرو واورو کښې وی چه اعراف والو ته به اوویلے شی داخل شئ جنت ته. مید ارک ۲۵۵ بیکی. فَيُقَالُ لِأَصْحَابِ الْأَعْرَافِ: پس وبه ویلے شی اعراف والو ته. أَوْ مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ: دلته لفظ د الْقَوْ پټ دے. معنی ئے دا ده او یا راغورزوئ دی هغه نه چه درکړیدی تاسو ته الله تعالیٰ. وګورئ جواهر ص٣٦٥ لَهْوًا وَلَعِبًا: په ټوکو او لوبو سره دا، حرام شوی هغه چه لے خوبنه شی او حلال وی هغه چه لے خوبنه شی. (قرطبی ص٢٥١) نن صبا د قوالئ په نوم سیتارونه او ډولکی او د نورو ربابونو استعمال هم په لهوا ولعب کښې داخل دی کوم چه د نن صبا د دین او شریعت نه بے برخے او د روحانیت نه راندی صوفیان ئے مین عبادت ګنړی (جواهر ص٣٦٦) نَنْسٰهُمْ (مماشی د ناتلو نکی موږ ښه پرے به د دو دوی لره په عذاب کښې خنګه چه دوی پریخے دے عمل د پاره د پیښی د ورځے د دوی چه داده (کبیر ص٢٦ جواهر) بِكِتٰبٍ: دیکښې ترغیب دے قرآن ته. هَلْ يَنْظُرُوْنَ: په دے ایت کریمه کښې زجر او نفی د شفاعت قهری ده. إِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ: د دے ځائے نه د سورت دریم قسم یا دویمه حصه تر اخره پورے ده. دا قسم د دریٔ بابونو

اول باب ترغیب پورے (۱) وکیس پېغمبر لیږلے شوی دی (۲) دعوی د توحید ۵۹ (۳) ذکر د قتال ۸۵ (۴) پېغمبر واقعات دلائل نقلیه ۶۸ ۸۸ ۹۳ چه واستعلق دی د درېیمے دعوے سره ۱۲۰ واستعلق دی
دلوانساء ۔

غَرَّتۡهُمُ الۡحَیٰوةُ الدُّنۡیَا ۚ فَالۡیَوۡمَ نَنۡسٰهُمۡ كَمَا نَسُوۡا
غولولی وو دوی لره ژوند د دنیوی ۔ پس نن به هېر کړو موږ دوی لره لکه چې هېر کړی وو دوی
لِقَآءَ یَوۡمِهِمۡ هٰذَا ۙ وَ مَا كَانُوۡا بِاٰیٰتِنَا یَجۡحَدُوۡنَ ﴿۵۱﴾
[illegible] دوی ۔ او سبب د دې چې وو دوی به ایتونو زمونږ انکار کوونکی.
وَ لَقَدۡ جِئۡنٰهُمۡ بِكِتٰبٍ فَصَّلۡنٰهُ عَلٰی عِلۡمٍ هُدًی وَّ
او یقینًا راوړی دی موږ دوی ته کتاب چه تفصیل بیان کړی دی مونږ [illegible] هدایت دی او
رَحۡمَةً لِّقَوۡمٍ یُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿۵۲﴾ هَلۡ یَنۡظُرُوۡنَ اِلَّا
رحمت دی د هغه قوم د پاره چه ایمان لری ۔ انتظار نه کوی دوی مګر د
تَاۡوِیۡلَهٗ ؕ یَوۡمَ یَاۡتِیۡ تَاۡوِیۡلُهٗ یَقُوۡلُ الَّذِیۡنَ نَسُوۡهُ
[illegible]
مِنۡ قَبۡلُ قَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُ رَبِّنَا بِالۡحَقِّ ۚ فَهَلۡ
[illegible]
لَّنَا مِنۡ شُفَعَآءَ فَیَشۡفَعُوۡا لَنَاۤ اَوۡ نُرَدُّ فَنَعۡمَلَ
[illegible]
غَیۡرَ الَّذِیۡ كُنَّا نَعۡمَلُ ؕ قَدۡ خَسِرُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ
[illegible]
وَ ضَلَّ عَنۡهُمۡ مَّا كَانُوۡا یَفۡتَرُوۡنَ ﴿۵۳﴾ اِنَّ رَبَّكُمُ
[illegible] یقینًا رب ستاسو
اللّٰهُ الَّذِیۡ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضَ فِیۡ
الله هغه ذات دی چه پیدا کړی اسمانونه او زمکه په
سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اسۡتَوٰی عَلَی الۡعَرۡشِ ۟ یُغۡشِی
شپږ ورځو کښی [illegible] په عرش باندې، [illegible]
الَّیۡلَ النَّهَارَ یَطۡلُبُهٗ حَثِیۡثًا ۙ وَّ الشَّمۡسَ وَ الۡقَمَرَ
شپه ورځ ته [illegible] او پیدا کړه نمر او سپوږمۍ

ع ۱۳

د دوېیمے او درېیمے دعوے سره ۵۶ واستعلق د دوېیمه درېیمے دعوے سره [illegible] ابتلاء په مشتونو او هغه ایونو سره ۵۸ (۵) متعلقات د درېمے و اسره دعوګانو سره دمشانه ۔ فی ستة ایام ، شیخ القرآن رح په فرمایل : پېښیږو ولمحو او ساعتونو کښی ۔ او تمې رحمه الله لیکی په غیږ و ساعتونو کښی ۔ روح ۸ ۳ او مظهری ۳ کښی وی په اندازه د شپږو ورځو د ورځو د دنیا نه ۔ تیلیډ په خپل عمل کښی ذکر دی ثم استوی علی العرش برابر شو په عرش باندې څنګه چه د هغه د شان مطابق دی ۔ (شیخ القرآن ۳) (فضل التراجم) کښی هم دی ۔ څنګه چه لائق دی د هغه شان سره ۔ او احسن الکلام ۹۹ کښی دی : د خپل شان مناسب ، مفسرینو رحمهم الله د امام ابوحنیفه او امام مالک او حسن بصری رحمهم الله د غیرو قول را نقل کړے دے چه استوی معلوم او کیفیت ئے نامعلوم دے او سوال کول د دے نه بدعت دے ۔ وګورئ تسهیل ۳ ، مظهری ، قرطبی ، معارف ، الهام الرحمن ، د غړوا ، (حاشیه د اتوګی) ، شیخ القرآن رحمه الله په فرمایل : د دعا مختلف ارکان دی (۱) چه الله په صالک کارساز ګنړی (۲) د نقصان فی صفاتو نه به ئے پاک ګنړی (۳) ځان به ورته محتاجه ګنړی ۔ سورة انبیاء کښی د یونس علیه السلام په دعا کښی ذکر دی (۴) په عاجزئ به ئے بلی (۵) او په پټه به ئے بلی ۔ د لته داد واړه ذکر دی ۔ فائده : د حسن بصری رحمه الله نه نقل دی چه ادب په دعا کښی دا دے چه پټه دې وی او د ورو او په زوره ما بین کښی او ګیا چند ۲

فرق دے. (روح ۱۳۹ ، خازن ۲) د ابو موسیٰ اشعری رضی اللہ عنہ نه روایت دے چه رسول الله صلی اللہ علیه وسلم پِه
زوره ذکر والوته وویلی فرمائیل: چه د ځان سره نرمی وکړئ تاسو څوک کوڼ او غائب نه بلکې تاسو
بلنئی اوریدونکی ---- او لیدونکی او هغه تاسو سره دے او هغه ډیر نزدے دے یوکس ستاسو ته
د څټ د سورلئی د ورځ نه زیات
(روح ۱۳۹ ، ابن کثیر ۲۲۲ ، ابن جریر ۲۰۶)

وَالنُّجُوْمَ مُسَخَّرٰتٍۭ بِاَمْرِهٖؕ اَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْاَمْرُؕ
او ستوری تابع کړے شوی په حکم د هغه. خبردار الله لره دے پیدا کول او حکم چلول.
تَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۵۴﴾ اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا
برکت والا دے الله چه پالونکے د مخلوقاتو دے. بلئ رب خپل په عاجزئ
وَّخُفْیَةًؕ اِنَّهٗ لَا یُحِبُّ الْمُعْتَدِیْنَ ﴿۵۵﴾ وَلَا تُفْسِدُوْا
او پټه. یقیناً الله نه خوښوی زیاتی کوونکی. او فساد مه کوئ
فِی الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا وَادْعُوْهُ خَوْفًا وَّ
په زمکه کښې پس د اصلاح د هغے نه (توحید سره) او بلئ هغه په ویره او
طَمَعًاؕ اِنَّ رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِیْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۵۶﴾
په طمع. یقیناً رحمت د الله نزدے دے نیکانو ښه عمل کوونکو ته.
وَهُوَ الَّذِیْ یُرْسِلُ الرِّیٰحَ بُشْرًۢا بَیْنَ یَدَیْ
او الله هغه ذات دے چه رالیږی بادونه زیری ورکونکی مخکښې د رحمت
رَحْمَتِهٖؕ حَتّٰۤی اِذَاۤ اَقَلَّتْ سَحَابًا ثِقَالًا سُقْنٰهُ
خپل نه. تر دے چه را پورته کړی دغه بادونه وریځے درنے بیا یوسو ورته چلوو
لِبَلَدٍ مَّیِّتٍ فَاَنْزَلْنَا بِهِ الْمَآءَ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ مِنْ
ښار مړ ته. پس را نازل کړو په هغه کښې اوبه پس را اوباسو په هغے سره د
كُلِّ الثَّمَرٰتِؕ كَذٰلِكَ نُخْرِجُ الْمَوْتٰی لَعَلَّكُمْ
هر قسمه میوه جات نه. دغسے را اوباسو مړی. د دے د پاره چه تاسو
تَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَالْبَلَدُ الطَّیِّبُ یَخْرُجُ نَبَاتُهٗ
نصیحت قبول کړئ. او ښار زمکه پاکه راوزی شینکی د هغے
بِاِذْنِ رَبِّهٖۚ وَالَّذِیْ خَبُثَ لَا یَخْرُجُ اِلَّا نَكِدًاؕ
په حکم د رب د هغے، او هغه زمکه چه ابله خوره وی نه راوزی مګر بے کاره.
كَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰیٰتِ لِقَوْمٍ یَّشْكُرُوْنَ ﴿۵۸﴾ ع
دغسے بار بار بیانوو آیتونه د هغه قوم د پاره چه شکر وباسی.
ع ۱۴

منزل ۲

فائده: یقیناً دلیل نیولے دے اصحابو د ابوحنیفه رحمه الله په دے باندے چه ورو ویل د آمین بهتر دی د زوره نه ځکه چه دا دعا ده. (قرطبی ۲۲۶/۷ ، کبیر ۱۳۱ ، جصاص ۳۳/۳) اِنَّهٗ لَا یُحِبُّ الْمُعْتَدِیْنَ: یقیناً الله تعالیٰ مینه نه لری د زیاتی کوونکو سره. امام قرطبی رحمه الله لیکی چه زیاتے کول په دعا کښې په څو طریقو سره دی. بعض ترینه ویره په زوره او چغو کول دی. او بعض ترینه دا دی چه دعا وکړی انسان چه ده لره د مرتبے د نبی شی او یا دعا په محال کښې کوی او د اقسم پوره زیاتے دے. او بعض ترینه دا ده چه دعا وکړی د طلب کولو د ګناه او غیره د دے نه. او بعض ترینه دا دی چه دعا وکړی په داسے الفاظو چه کتاب او سنت کښې نه وی الخ (قرطبی ۲۲۶/۷)

فائده: ګڼ شمیر مفسرینو رحمهم الله لیکلی دی چه زیاتے په دعا کښې پورته والے او چغے کول دی په دعا کښې او د ابن جریر رحمه الله قول نقل کوی چه چغے په دعا کښې مکروه او بدعت دے. وګورئ مظهری ۳۷۱/۳ ، ابن کثیر ۲۲۲/۲ ، در منثور ۹۶/۳ ، خازن ۲۰۰/۲ ، بیضاوی ۳۲/۲ ، مدارک ۵۵/۲ ، ابو السعود ۲۳۵/۳ ، الهام الرحمٰن ۱۰۳/۱. فائده: ابن بطال رحمه الله لیکی چه ظهور وارو مذاهب په دے دی چه په زوره دعا، ذکر مستحب نه دے. وګورئ حاشیه بخاری ۹۴۴/۲ البدایة و النهایة ۲۹۵/۱۰. فائده: شاه اسحاق رحمه الله فرمائی چه ذکر جهری په مذهب حنفیه کښې بدعت دے مګر په هغه ځایونو کښې چه ذکر جهری راغلے دے لکه اذان وغیره (مائة مسائل ص۳۰) فائده: او هغه چه بعضو احادیثو کښې ذکر جهری راغلے دے بغیر د ځایونو مقرر نه نو هغه په تعلیم باندے بناء دی. وګورئ عمدة

سره بیا نه تعصبا نقل شه ،مدخل مکہ . نو ولې تم وصلو صب . دوی سیلے د تحقیق ذیارو د آخر الهام الرحمن د
مثل نه اوز د بیعات مثل نه ذکوری . هُوَ اَلَّذِی یُرۡسِلُ : دے ایت کښ دلیل عقلی او مثال دے او اثبات د
قیامت پطور د مثال دے .

لَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا نُوۡحًا اِلٰی قَوۡمِهٖ فَقَالَ یٰقَوۡمِ اعۡبُدُوا

[illegible]

اللّٰهَ مَا لَكُمۡ مِّنۡ اِلٰهٍ غَیۡرُهٗ ؕ اِنِّیۡۤ اَخَافُ عَلَیۡكُمۡ

[illegible]

عَذَابَ یَوۡمٍ عَظِیۡمٍ ٥٩ قَالَ الۡمَلَاُ مِنۡ قَوۡمِهٖۤ

[illegible]

اِنَّا لَنَرٰىكَ فِیۡ ضَلٰلٍ مُّبِیۡنٍ ٦٠ قَالَ یٰقَوۡمِ لَیۡسَ

[illegible]

بِیۡ ضَلٰلَةٌ وَّلٰكِنِّیۡ رَسُوۡلٌ مِّنۡ رَّبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ٦١

[illegible]

اُبَلِّغُكُمۡ رِسٰلٰتِ رَبِّیۡ وَاَنۡصَحُ لَكُمۡ وَاَعۡلَمُ مِنَ

[illegible]

اللّٰهِ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ ٦٢ اَوَعَجِبۡتُمۡ اَنۡ جَآءَكُمۡ

[illegible]

ذِكۡرٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ عَلٰی رَجُلٍ مِّنۡكُمۡ لِیُنۡذِرَكُمۡ

[illegible]

وَلِتَتَّقُوۡا وَلَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُوۡنَ ٦٣ فَكَذَّبُوۡهُ

[illegible]

فَاَنۡجَیۡنٰهُ وَالَّذِیۡنَ مَعَهٗ فِی الۡفُلۡكِ وَاَغۡرَقۡنَا

[illegible]

الَّذِیۡنَ كَذَّبُوۡا بِاٰیٰتِنَا ؕ اِنَّهُمۡ كَانُوۡا قَوۡمًا

[illegible]

عَمِیۡنَ ٦٤ وَاِلٰی عَادٍ اَخَاهُمۡ هُوۡدًا ؕ قَالَ یٰقَوۡمِ

[illegible]

ع ١٥

منزل ٢

وَالۡبَلَدُ الطَّیِّبُ : په دې کښ اشاره ده چه زمکه په دوه قسمه ده . ذیوه نه په باران ذ فائدے نیولی میوے غله ، گلان راخیژی او دبل قسم نه بیکاره خس وخاشاک کاریزے وغیره راټوکیږی . وقد رقیل په قرآن پاک بعضو ته فائده رسی او بعضو ته نقصان . بقره ٢٦ کښ تیر شوی ، دا لوغنم اسرا ٨٢ کښ ذکوری . باباسعدی رحمه الله فرمائی :
باران که در لطافت طبعش خلاف نیست
در باغ لاله روید و در شوره بوم خس
وَلَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا : دوے ځائے نه والانبیاء تفصیلی اوله واقعه د نوح علیه السلام ده دلته ٥٩ او ٢٥ هود ، ٧١ یونس ، ٢٣ مؤمنون ، ١٠٥ شعراء ، ١٤ عنکبوت ، ٩ قمر ، نوح سورت کښ ذکور دی . د نوح علیه السلام اصلی نوم شاکر او بعض روایاتو کښ او بعض کښ عبد الغفار راغلے دے او ددوی بعثت صرف دخپل قوم د پاره ذو . دعا سره دنیا د پاره نه ذو او ددوی قوم په عراق کښ آباد ذو په ظاهر کښ مهذب به مگر په شرک کښ مبتلا ذو . (معارف ٥٧٩) ددوی د پلار نوم لامک ، د نیکه نوم متوشلخ ذو (ابن کثیر ٢/٢٢٣) اِنَّا لَنَرٰىكَ فِیۡ ضَلٰلٍ مُّبِیۡنٍ : یعنی مونږ ته ویښو تا لره په گمراهئ بیکاره کښ په پیلے ستا مونږ لره یو صد دهکار رتاه . (قرطبی ٢٣٢) وَاِلٰی عَادٍ : دوهمه واقعه د هود علیه السلام ذکر ده دلته په ٦٥ او ٥٠ هود ، ٤١ ذاریات ، ١٢٣ شعراء ، ٦ حاقه ، ٢١ احقاف ، ١٥ حٰم سجده ، ١٨ قمر نه ذکوری . اَخَاهُمۡ : یعنی د دوی نه او په ورور نسبی ذده وی . او ددوی طرف ته ختلي ورو نخو ذو ارفخشد ذو . د دوی مرکزی ځائے احقاف ذو . وگورئ احقاف ٢١ . مفتی صاحب رحمه الله لیکلی دی چه د قوم د عاد د ٣٣ رانسه خاندانه ذو ...

مسه وخت ان نه حضرموت او یمنه پورې دَ دوی کلي وو۔ دَ دوی زمکې ډېرې سرسبزه اوښه وې دَ باغاتو سره
هرقسمه باغات ئې لرل او دَ اُوسېدو دَ پاره ئې لوئې لوئې ښارونه ، عمارات جوړ کړي وو . او دَ لوئې لوئې قد
او دَ قوي جثې خاوندان وو

اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ (۶۵)
بندګي وکړئ دَ الله تعالیٰ نشته تاسو دَ پاره هیڅ معبود بغیر دَ هغه نه ، آیا پس ولې تاسو نه ډارېږئ [illegible]

قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ
وویل غټانو ، هغه کسانو چه کفر ئې کړے وو ، دَ قوم دَ هغه نه ، یقیناً مونږ خامخا وینو تاله

فِي سَفَاهَةٍ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكَاذِبِينَ (۶۶) قَالَ
په بې وقوفئ کښې او یقیناً مونږ خامخا ګمان کوو ستا دَ دروغژنو نه . وویل هغه

يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي سَفَاهَةٌ وَلَٰكِنِّي رَسُولٌ مِّن
اے قومه زما ! نشته په ما باندې هیڅ کم عقلي او لیکن زه استازے یم دَ طرفه دَ

رَّبِّ الْعَالَمِينَ (۶۷) أُبَلِّغُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَأَنَا لَكُم
رب دَ مخلوقاتو نه ، رسوم زه تاسو ته پیغامونه دَ رب خپل ، او یقیناً زه تاسو دَ پاره

نَاصِحٌ أَمِينٌ (۶۸) أَوَعَجِبْتُمْ أَن جَاءَكُمْ ذِكْرٌ مِّن
خیر خواه ، امانتدار یم . آیا او تعجب کوئ تاسو چه راغلې تاسو ته نصیحت دَ جانب دَ

رَّبِّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنكُمْ لِيُنذِرَكُمْ ۚ وَاذْكُرُوا
رب ستاسو په یو سړي دَ جنس ستاسو ، چه ویروي تاسو لره ، او یاد کړئ

إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاءَ مِن بَعْدِ قَوْمِ نُوحٍ وَزَادَكُمْ
کله چه کړئ ئې تاسو آبادوونکي د زمکې پس دَ قوم دَ نوح نه ، او زیات کړے ئې تاسو لره

فِي الْخَلْقِ بَسْطَةً ۖ فَاذْكُرُوا آلَاءَ اللَّهِ
په پیدائش کښې فراخي لره ، پس یاد کړئ نعمتونه دَ الله تعالیٰ

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (۶۹) قَالُوا أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللَّهَ
دَ پاره دَ دې چه کامیاب شئ . وویل دوی آیا راغلے ئې مونږ ته چه عبادت کوو دَ الله

وَحْدَهُ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُنَا ۖ فَأْتِنَا
یوازې ، او پرېږدو هغه چه عبادت ئې کولو پلارانو زمونږ ، پس راوړه مونږ ته

بِمَا تَعِدُنَا إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ (۷۰) قَالَ
هغه عذاب چه وعده ئې کوې دَ هغې زمونږ سره که یئې ته دَ ربښتونو نه . وویل هغه

(معارف ۳۰/۲) إِنَّا لَنَرَاكَ فِي سَفَاهَةٍ : یقیناً مونږ وینو تا لره په بې وقوفتوب کښې ، چه ګرځې دَ دین دَ پلارانو نه خیلو .

فِي أَسْمَاءٍ سَمَّيْتُمُوهَا : اسماء دَ کوم دي .

فَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا : دَ قوم عاد پشانې قوم ثمود هم دولتمند ، قوي او بهادر قوم وو او په کښتوکلو او په فن دَ آبادئ کښې ماهر وو او په کلاو دَ زمکه باندې به دَ لوئې لوئې محلات جوړولو نه علاوه غرونه به ئې کنستل او په دغه کښې به ئې قسم قسم آبادئ جوړولې (معارف ۲/۵۹۵) . صالح علیه السلام هم دَ عُبید وو (روح ۱۶۴/۸) دَ شیخ القرآن رحمه الله دَ وینا مطابق دَ دوی واقعه ولسه او ۶۱ هود ، ۸۰ حجر ، ۱۴۱ شعراء ، ۴۵ نمل ، ۲۳ قمر نه ذکر شوي ده .

فائده :- دَ دے ټولو واقعاتو نه معلومه شوه چه انبیاء علیهم السلام اولني مسئله دَ توحید کړے ده .

نَاقَةُ اللَّهِ : دا اوښه دَ الله تعالیٰ ده چه ویکښې معنیٰ دَ تشریف او تخصیص ده . (قرطبی ۲۳۰/۷)
قُصُورًا : (حاشیه دَ ۵۷۵ شروع شوه) جوړوي هموارو زمکو نه بنګلې . قرطبی رحمه الله لیکلي دي

چه ودیل نیولے وشه په وینے اییت با من هغه چه په نور سے ابادې د خو کنری لګ بېګلے او چه مثل ددے...
او مکروهه نے ګنړی نو ژمانان چه د هغو کښ حسن بمعنی او نور دی او دیل نے نیولے وشه چه دی

قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَغَضَبٌ
یقیناً واقع شوے په تاسو باندے د رب ستاسو عذاب او غضب
أَتُجَادِلُونَنِي فِي أَسْمَاءٍ سَمَّيْتُمُوهَا أَنتُمْ
آیا جګړه کوئ تاسے ما سره په باره د هغه نومونو کښ چه ایښی دی تاسو هغه
وَآبَاؤُكُم مَّا نَزَّلَ اللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَانٍ فَانتَظِرُوا
او پلارانو ستاسو نه دے راکوز کړے الله په هغه هیڅ دلیل، پس انتظار کوئ
إِنِّي مَعَكُم مِّنَ الْمُنتَظِرِينَ (٧١) فَأَنجَيْنَاهُ وَالَّذِينَ
یقیناً زه تاسے سره د انتظار کوونکو نه یم. پس نجات ورکړو مونږ هغه لره او هغه کسانو چه
مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَقَطَعْنَا دَابِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا
د هغه ملګری وو په رحمت زمونږ، او پرې مو کړو بیخ د هغه کسانو چه دروغ ګڼلی وو
بِآيَاتِنَا وَمَا كَانُوا مُؤْمِنِينَ (٧٢) وَإِلَىٰ ثَمُودَ
په ایتونو زمونږ، او نه وو هغوی ایمان راوړونکی. او لیږلے وو مونږ ثمود والو ته
أَخَاهُمْ صَالِحًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم
رور د هغوی صالح، وے وییل اے قومه زما! عبادت کوئ د الله، نشته تاسے لره
مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ قَدْ جَاءَتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ
هیڅ معبود برحق سوا د هغه نه، یقیناً راغلے تاسو ته ښکاره معجزه د طرف د رب ستاسے نه
هَٰذِهِ نَاقَةُ اللَّهِ لَكُمْ آيَةً فَذَرُوهَا تَأْكُلْ
دا اوښه د الله ده تاسو لره نښه، پس پریږدئ دے چه خوراک کوی
فِي أَرْضِ اللَّهِ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوءٍ فَيَأْخُذَكُمْ
په زمکه د الله کښې، او مه رسوئ هغے ته هیڅ تکلیف، پس ونیسی تاسو لره
عَذَابٌ أَلِيمٌ (٧٣) وَاذْكُرُوا إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاءَ
عذاب دردناک. او یاد کړئ کله چه ګرځولی دی تاسو لره اباد کوونکی د زمکے
مِن بَعْدِ عَادٍ وَبَوَّأَكُمْ فِي الْأَرْضِ تَتَّخِذُونَ
پس د عادیانو نه، او ځائے ورکړے ستاسو ته په زمکه کښې، چه جوړوئ تاسو

قول د نبی ﷺ چه کله اراده وکړی الله تعالیٰ په بنده د ځان نو حلال کړی مال د هغه په خنثو او ګیه خنثو کښی، (خنثی وایی چه په وینے باندے هم قول کوم. (مظهری)

قَالَ الْمَلَأُ: د وسل ختیار نو هغه کسانو چه ځان نے غټ ګڼلو د دوی د قوم نه. فائده: - امام رازی رحمه الله لیکلی دی چه دا ایت د لوی هغه دلائلو نه دے چه دلیل پرے نیولے کیږی چه غریبی غوره ده د مالدارئ نه او دا ځکه چه تکبر پیدا کیږی د بډیروالی د مال او د مرتبے نه او کمزوروالے پیدا کیږی د لږوالی د دواړو نه (کبیر). قَالُوا إِنَّا بِمَا أُرْسِلَ بِهِ مُؤْمِنُونَ: دوی وویل یقیناً مونږ په هغه چه ورسره لیږلے شوے یے په هغه ایمان راوړونکی یو. شیخ القران رحمه الله به فرمایل چه تو ثیق د خپل شیخ استاذ د یعقوب ثبوت نه وے لکه چه د صالح علیه السلام ملګرو وویل چه ښی علم نه لکه د هغه په راوړی شوی پیغام ایمان لرو. فَعَقَرُوا النَّاقَةَ ...

پس زخمی نے کړه اوښه. د دلته نے نسبت د زخمی کیدلو ټولو ته وکړو اګرچه زخمی کونکے یو وو. سورة شمس کښ وګوره ځکه چه دا ټول په دے راضی وو. (مدارک، شوکانی، علامه الوسی رحمه الله

فرمائي چه دا اولنو بد بختو: زخمي کوونکے د اونښے وو او د روستنو بد بخته قاتل د علي کرم الله وجهه وو۔ بيا د روح المعاني د عمران بن حطان خارجي الشعار ذکر کړې کوم نے چه د عبد الرحمن خوې د ملجم باره کښې

مِنْ سُهُولِهَا قُصُورًا وَتَنْحِتُونَ الْجِبَالَ بُيُوتًا

د هوارو زمکو څخه ماڼۍ، او تراشئ د غرونو نه، کورونه

فَاذْكُرُوا آلَاءَ اللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ

پس ياد کړئ نعمتونه د الله، او مه ګرځئ په زمکه کښې

مُفْسِدِينَ ﴿۷۴﴾ قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا

فساد کوونکي. ووئيل سردارانو هغه کسانو چه ځان ئې لوئے ګڼړلے وو،

مِنْ قَوْمِهِ لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِمَنْ آمَنَ

د قوم د ده نه، هغه کسانو ته چه کمزوري ګڼړلي شوي وو، هغه چا ته چه ايمان ئې راوړے وو

مِنْهُمْ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صَالِحًا مُرْسَلٌ مِنْ

د دوي نه، آيا تاسو په دې پوهيږئ چه يقيناً صالح ‹ع› رالیږلے شوے دے، د جانبه د

رَبِّهِ ۚ قَالُوا إِنَّا بِمَا أُرْسِلَ بِهِ مُؤْمِنُونَ ﴿۷۵﴾

رب خپل نه. ووئيل هغوي چه يقيناً موږ په هغه دين چه د هغے سره رالیږلے شوے دے ايمان راوړونکي يو

قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا بِالَّذِي آمَنْتُمْ

ووئيل هغه کسانو چه ځان ئې لوئے ګڼړلو: يقيناً موږ په هغه څه چه تاسو ايمان راوړے

بِهِ كَافِرُونَ ﴿۷۶﴾ فَعَقَرُوا النَّاقَةَ وَعَتَوْا عَنْ

په هغه کفر کوونکي يو. پس زخمي ئې کړه اوښه، او تجاوز ئې وکړو، د

أَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُوا يَا صَالِحُ ائْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا

امر د رب خپل نه، او ووئيل دوي اے صالح، راوړه موږ ته هغه عذاب چه ته ئې موږ ته وعده کوے

إِنْ كُنْتَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿۷۷﴾ فَأَخَذَتْهُمُ

که چرته ئې ته د ليږلے شوو نه .... پس ونيوه دوي لره،

الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ ﴿۷۸﴾

زلزلے، پس وګرځيدل دوي په کورونو خپلو کښې، نسکور په زنګونو.

فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَا قَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ

پس وګرځيدو د دوي نه، او وئيل: اے قومه زما، يقيناً ما رسولي تاسو ته

چه قاتل د علي رضي الله عنه وو وئيلي وو. او بيا ئې د يو شاعر رحمه الله قصيده د هغه په جواب کښې ذکر کړې ده. اخير کښې يو شعر دا دے:

إِنِّي لَأَذْكُرُهُ يَوْمًا فَأَلْعَنُهُ

لَعَنْتُ لَا أَلْعَنُ عِمْرَانَ بْنَ حِطَّانَا

يقيناً چه څه کله عبد الرحمن ياد وم پس لعنت پرے وايم او څه رنګے لعنت وايم په عمران بن حطان باندے. (روح المعاني) وَقَالَ

يٰقَوْمِ: او وئيل اے قومه زما يقيناً ما رسولي تاسو ته پيغام د رب خپل او خير خواهي مې کړه تاسو لره. د ئيلمي شيخ رحمه الله فرمائي چه دلته حرف ندا او د خطاب ضمير ونو د تباه او برباد شوي قوم سره خطاب کول او هغوي ته آورول مقصود نه دي بلکه دا ندا او خطاب محض د قوم په بد بختئ باندے د افسوس ظاهرولو او د تحسر د پاره دي. (لوطا ئف حاشيه د راتلونکي صفحه ۲۵۵) او

راليږلے وو موږ لوط عليه السلام لره. د اتحسر مطلب واقعه د دے دوي د پلار نوم هاران وو د حضرت سيدنا ابراهيم عليه السلام وراره وو او د هغوي سره ئے هجرت کړے وو - (ابن کثير صفحه ۲۳۰) د اردن او بيت المقدس په مابين کښې د مقام سدوم د خلقو د

هدايت د پاره راليږلے شوے وو. دا علاقه په پنځو ښارونو باندے مشتمل وه چه د هغو نومونه: سدوم، عموره، ادمه، صبوبيم او بالع يا صوغر وو. د دغو مجموعے لره قرآن پاک مؤتفکة

یا متفکات الفاظو سره په کتب وغیره کښې بیان کړیدی. سدوم مرکزي ښار وو دارالحکومت او مرکز
ګڼلے شو. او لوط علیه السلام وغلته ورسید او زمکه سرسبزه او ښاره وه او د هر قسم غلو او میوو ډیره ولاړه

رِسَالَةَ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُحِبُّونَ
پیغام د رب خپل، او خیرخواهي مې وکړه تاسو ته، او لیکن مینه نه ساتئ تاسو

النَّاصِحِينَ ﴿٧٩﴾ وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَتَأْتُونَ
د خیرخواهانو سره. او لیږلے وو موږ لوط کله چې وویل قوم خپل ته، آیا راځئ تاسو

الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ
بې حیایۍ ته، چې نه دی کړې دا مخکې له تاسو نه هیڅ یو کس د

الْعَالَمِينَ ﴿٨٠﴾ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ شَهْوَةً
مخلوق نه. یقیناً خامخا تاسو راځئ سړو ته، د پاره د شهوت

مِّن دُونِ النِّسَاءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿٨١﴾
سوا د زنانو نه، بلکه تاسو قوم زیاتي کوونکي یئ.

وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَن قَالُوا أَخْرِجُوهُم
او نه وو جواب د قوم د هغه مګر دا چې وویل، وباسئ دوی لره

مِّن قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴿٨٢﴾
د کلي خپل نه، یقیناً دوی، داسې خلق دي چې ځان پاک ګڼړي.

فَأَنجَيْنَاهُ وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ كَانَتْ
پس بچ موکړو هغه او اهل د هغه، مګر ښځه د هغه، وه د

مِنَ الْغَابِرِينَ ﴿٨٣﴾ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ
پاتې کېدونکو نه. او اوروو موږ په دوی باندې باران د کاڼو

ع ۱۰ / ۱۴ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ ﴿٨٤﴾
پس وګوره، څنګه وو انجام د جرم کوونکو.

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۗ قَالَ يَا قَوْمِ
او لیږلے وو موږ، مدین والو ته رور د دوی شعیب، وویل، اې قومه زما

اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ قَدْ
عبادت وکړئ د الله، نشته تاسو لره هیڅ معبود بغیر د الله نه، یقیناً

ؤو. (معارف ج۳ ص۹۲) ددوی واقعه ولته او ۸۲ هود، ۷۱ حجر، ۶۴ انبیاء، ۱۶۰ شعراء، ۵۴ نمل، ۲۸ عنکبوت، ۱۳۳ صٰفٰت، ۳۳ قمر ته کښې شته. مِّن دُونِ النِّسَاءِ: سوا د زنانو نه. تیري کوونکي د زنانو وو. شیخ القرآن رحمه الله فرمائي په دوی کښې قاعده دا وه چې مخکښې ذو دے نه منعه کړي. او روستني سراوو لګه دا قاعده په مِّن دُونِ اللهِ کښې هم ده (عقد المرجان ج۱) وَأَمْطَرْنَا: سورة هود ۸۲ وګورئ.
فائده: تهانوي رحمه الله مسائل السلوك ۲۶۰ کښې لیکلي دي چه د لوط علیه السلام په وینا کښې چه ستاسے نه مخکے په دے بے حیایۍ کښې مخکښې شوی نه دی دلالت دے چه ایجاد کول د منکراتو سخت دی د اقتداء نه په دیکښې او معلوم کړه ددے نه کول د بدعاتو. وَإِلَىٰ مَدْيَنَ: مدین د حضرت خلیل الله علیه السلام صاحبزاده ؤو او د هغه نسل او اولاد هم د مدین په نوم سره مشهور شوی ؤو او په کوم کلي کښې چه ددوی قیام ؤو هغه ته هم مدین ویلے شو ګویا کہ مدین د یو قوم نوم هم ؤو او د یو ښار هم دا ښار نن هم د
اُردن مشرقي بندرګاه د معان ته نږدے موجود دے. (ج۳ ص۶۲ معارف) ددوی واقعه ولته او ۸۴ هود ۸۸ حجر، ۱۷۶ شعراء، ۳۶ عنکبوت، ۳۸ فرقان، ۱۲ ق ته کښې شته. او دوی ته په خطیب الانبیاء ویلے کیدل د وجے د وضاحت د خبرو د دوی او د پوره والي د وعظ د دوی نه. (ابن کثیر ج۲ ص۲۲۷)

جَآءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاَوْفُوا الْكَيْلَ
راغلے تا سو ته، ښکاره معجزه د ربه ستا سو نه، پس پوره ورکوئ پیمانه،
وَالْمِيْزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ
او تله، او مه کموئ، د خلقو نه، حقونه د هغوی،
وَلَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا ط
او فساد مکوئ، په زمکه کښې، پس د اصلاح د هغې نه،
ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٨٥﴾
دا کارونه، غوره دي تا سو له، که چرے یاستئ، ایمان راوړونکي۔
وَلَا تَقْعُدُوْا بِكُلِّ صِرَاطٍ تُوْعِدُوْنَ
او مه کینئ، په هره لاره، چه ویروئ،
وَتَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ
او منع کوئ، د لارے د الله تعالیٰ نه، هغه چا لره چه ایمان راوړی
بِهٖ وَتَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ج وَاذْكُرُوْٓا اِذْ كُنْتُمْ
په هغه، او لټوئ په هغې کښې کوږ والے، او یاد کړئ، کله چه وئ تاسو،
قَلِيْلًا فَكَثَّرَكُمْ ص وَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ
لږ، پس زیات کړي تاسو لره، او وګورئ، څرنګ دے، انجام
الْمُفْسِدِيْنَ ﴿٨٦﴾ وَاِنْ كَانَ طَآئِفَةٌ مِّنْكُمْ
د فساد کوونکو.... او که چرے وي، یوه ډله، ستاسو نه۔
اٰمَنُوْا بِالَّذِيْٓ اُرْسِلْتُ بِهٖ وَطَآئِفَةٌ لَّمْ
چه ایمان راوړي په هغه څه چه رالیږلے شوے یم په هغه، او بله ډله، چه ایمان
يُؤْمِنُوْا فَاصْبِرُوْا حَتّٰى يَحْكُمَ اللّٰهُ بَيْنَنَا ج
نه راوړي، پس صبر کوئ، ترو پورے چه فیصله وکړي الله تعالیٰ، په مینځ زمونږ کښې
وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿٨٧﴾
او هغه غوره، فیصله کوونکے دے۔

بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ: ښکاره معجزه اګر که په قران کښې نه ده ذکر شوے (مدارک ٦٣/٢ روح ١/٩)

وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ: او مه کموئ د خلقونه حقونه د هغوی.

فائده: روح المعاني کښې دي چه د شیونو نه مطلقًا حقونه مراد دي شي او دوی یقینًا ټیکس اخستونکي وو، نه بغیر د برینبو د هیڅ شے مګر ټیکس به ئے ترینه اخستلو رحمه الله، امام رازی رحمه الله فرمائي چه دا فلیږي په دې کښې غصب او غلا او رشوت اخستل او لارے شوکول او را وګیستل د مالونو په طریقے د حیلو سره - (کبیر ص١٣٢ ج ١٤) ❁

ولو اننا اٹھم پاره په درځ د سه شنبے ٢٣ مئی ٢٠٠٦ء — ٢٤ ربیع الثانی ١٤٢٧هـ په ٥/٥ بجے د ماز یګر نه مخکښې ختمه شوه — او نظر ثاني ئې په ١٩ ستمبر ٢٠٠٦م پېښور د پیښمني کښې ختمه شو ❁ او تصحیح ئے په درځ د یکشنبے ٢٧ مئی ٢٠٠٧ء په ٢/٣٣ بجے ختمه شوه فلله الحمد علیٰ ذلك - خالق ❁

اَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِیْ مِلَّتِنَا ۔ ولتہ اشکال وشہ او ھغہ دا چہ عَوْد رجوع کولو ته وئیلے شی نو ... دہ پہ حق د شعیب علیہ السلام کښی ښکارہ چہ انبیاء علیہم السلام معصوم دی ... کفر ... د دے اشکال ګڼې

جواب نه دی ... پہ جواب اوشہ چہ ولتہ عَوْد پہ معنی د رِجُوع دے ۔ شیخ القرآن رحمہ اللہ پہ فرمایل چہ معنی د اودا او دا یا بہ شا تہ راتښی تا ... چہ دین زموږ کښی ۔ ابوبکر رازی رحمہ اللہ پہ مسائل ... کښی او ابن الجوزی پہ تسهیل ... کښی او الوسی پہ روح المعانی ... کښی عَوْد پہ معنی د صیرورت ... راوړے ګرزی پہ دین زموږ کښی

رَبَّنَا افْتَحْ بَیْنَنَا : اے رب زموږه فیصلہ وکړه زموږ ... کښی ۔ ابن عباس رضی اللہ عنہما فرمائی چہ شعیب علیہ السلام بہ ډیر مونځ کولو کلہ چہ تهیګوالے وکړه قوم د دعوی پہ کفر خپل کښی او سرکشی خپلہ کښی او نا امیده شو د اصلاح د دعوی نه نو بیرته وکړے پہ دعوی ... باس وئے فرمایل : رَبَّنَا افْتَحْ بَیْنَنَا وَبَیْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَاَنْتَ خَیْرُ الْفٰتِحِیْنَ ۔ پس اللہ تعالیٰ دعا قبولہ کړه پس هلاک ئے کړل پہ زلزلے سره ۔ (قرطبی ۲۵ / ۷ ، بحر ... ۳۰۵)

قَالَ الْمَلَاُ الَّذِیْنَ اسْتَکْبَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ
وویل مشرانو هغو کسانو چہ لوئی ئے کړے وه ... د قوم د ده ...
لَنُخْرِجَنَّکَ یٰشُعَیْبُ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مَعَکَ مِنْ
خامخا یقیناً اوباسو تا لره اے شعیبہ او هغه کسان چہ ایمان ئے راوړے دے تا سره د کلی
قَرْیَتِنَآ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِیْ مِلَّتِنَا ؕ قَالَ اَوَلَوْ کُنَّا
خپل نه او یا بہ خامخا راشئ پہ دین زموږ کښی ۔ وویل هغه آیا اګرچہ یو مونږه
کٰرِهِیْنَ ۸۸ قَدِ افْتَرَیْنَا عَلَی اللّٰهِ کَذِبًا اِنْ عُدْنَا
بد ګڼونکی ۔ یقیناً تړلے به وی مونږه پہ اللہ تعالیٰ دروغ کہ راشو
فِیْ مِلَّتِکُمْ بَعْدَ اِذْ نَجّٰنَا اللّٰهُ مِنْهَا ؕ وَمَا یَکُوْنُ
پہ دین ستاسو کښی پس د هغے نه چہ ... ئے کړی یو مونږ لره اللہ تعالیٰ د هغے نه او نه دی مناسب
لَنَآ اَنْ نَّعُوْدَ فِیْهَآ اِلَّآ اَنْ یَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّنَا ؕ وَسِعَ
مونږ لره چہ راشو پہ هغے کښی مګر که وغواړی اللہ تعالیٰ رب زموږه ۔ فراخ دے
رَبُّنَا کُلَّ شَیْءٍ عِلْمًا ؕ عَلَی اللّٰهِ تَوَکَّلْنَا ؕ رَبَّنَا
رب زموږه د هر شی نه پہ علم کښی ۔ خاص پہ اللہ توکل کړے دے مونږه ۔ اے رب زموږه
افْتَحْ بَیْنَنَا وَبَیْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَاَنْتَ خَیْرُ
فیصلہ وکړه مینځ زموږه او مینځ د قوم زموږ کښی پہ حق سره او ته غوره د
الْفٰتِحِیْنَ ۸۹ وَقَالَ الْمَلَاُ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا مِنْ
فیصلہ کوونکو یے ۔ او وویل مشرانو هغه کسانو چہ کفر ئے کړے وو د قوم
قَوْمِهٖ لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ شُعَیْبًا اِنَّکُمْ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ۹۰
د ده خو که تابعداری وکړه تاسو د شعیب یقیناً تاسو به دغه وخت کښی تاوانیان
فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا فِیْ دَارِهِمْ
پس ونیول دوی لره زلزلے ۔ پس وګرزیدل دوی پہ کورونو خپلو کښی
جٰثِمِیْنَ ۹۱ الَّذِیْنَ کَذَّبُوْا شُعَیْبًا کَاَنْ لَّمْ یَغْنَوْا
پہ ګونډو پراتہ ۔ هغه کسان چہ دروغژن ئے ګڼلے وو شعیب ګنی ئے نه وو اوسیدلی دوی

لطیفه :- اوس هم بعض امامان د مونځ نه پس دا وائی او مقتدیان وائی آمین او دوکره دوی پہ دے نه پوهیږی چہ دا دعا نه ده بلکہ ښیرے دی ۔ کَاَنْ لَّمْ یَغْنَوْا : ولتہ غَنُوْا مقدر دے ۔ معنی دا شو کہ چہ فانی شو دوی ختم شو دوی ۔ ابن قتیبہ رحمہ اللہ تعالیٰ فرمائی ګویا کہ نه وو اوسیدلی دوی پہ دغه کلی کښی ۔ (البحر المحیط)

وَقَالَ يٰقَوْمِ: او وې ويل اے قومه زما ... عباس رضي الله عنه لاندې
دَ گورئ - وَمَا اَرْسَلْنَا: دَ پېغمبر ... ته ... د اهل مکه ... موجود

فِيْهَا ۛ اَلَّذِيْنَ كَذَّبُوْا شُعَيْبًا كَانُوْا هُمُ
الْخٰسِرِيْنَ (92) فَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَقَالَ يٰقَوْمِ لَقَدْ
اَبْلَغْتُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ وَنَصَحْتُ لَكُمْ ۚ فَكَيْفَ
اٰسٰى عَلٰى قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ (93) وَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْ قَرْيَةٍ
مِّنْ نَّبِيٍّ اِلَّآ اَخَذْنَآ اَهْلَهَا بِالْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ
لَعَلَّهُمْ يَضَّرَّعُوْنَ (94) ثُمَّ بَدَّلْنَا مَكَانَ السَّيِّئَةِ
الْحَسَنَةَ حَتّٰى عَفَوْا وَّقَالُوْا قَدْ مَسَّ اٰبَآءَنَا
الضَّرَّآءُ وَالسَّرَّآءُ فَاَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ
لَا يَشْعُرُوْنَ (95) وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰٓى اٰمَنُوْا
وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ
وَالْاَرْضِ وَلٰكِنْ كَذَّبُوْا فَاَخَذْنٰهُمْ بِمَا
كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ (96) اَفَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰٓى اَنْ

منزل ٢

شیخ القرآن دَ پنجپیر رحمه الله
فرمائی چه دَ الله نه ابتلاء
په نعمتونو او تکلیفونو ده.
حَتّٰى عَفَوْا: ابن عباس رضي الله عنه
وائی چه زیات شو مالونه او
اولاد دَ دوی (قرطبی) وَلَوْ اَنَّ
اَهْلَ الْقُرٰٓى: په دغه باندې
سورت مائده ۶۶ او جن ۱۶
وگورئ - اَفَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰٓى
ولته استفهام دَ انکار د پاره
دے او دَ کلو نه مراد مکے والا
او چاپیره دی - او یا عام کلی
توپته مراد دی - قرطبی ۲۵۳
معنی دا شوه آیا بچ به شی
کلو والا چه راشی دوی ته
عذاب زمونږ - اَفَاَمِنُوْا مَكْرَ اللّٰهِ
(حاشیه دَ راتلو نکی مخ ملاحظه)
آیا بے وېرې دی - راغب اصفهانی
رحمه الله فرمائی چه اصل دَ امن
طمانینت دَ نفس او زائله کېدل
دَ وېرې دی (مفردات ۲۵)
شیخ الهند رحمه الله معنی کوی
آیا بے وېرې دی دوی دَ تدبیر
دَ الله تعالی نه - پس نه بے وېره
کیږی دَ تدبیر دَ الله تعالی نه
مگر تاوانی قوم - (جواهر
۲۷۰ - مثانی ۱۰۹) اَوَلَمْ يَهْدِ
ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی آیا
نه ده واضح شوے دوی ته
(ابن کثیر ۲۳۲) تِلْكَ الْقُرٰى
تیرو موذکر شو کلو طرف ته
اشاره ده چه دَ خو مره

انبیاء علیهم السلام او دَ خومره قومونو واقعات مخکښ تیر شوی دی - دَ دے نه دا خبره هم
معلومیږی چه اسم اشاره دَ محسوس لیدلی شوی څیز دَ پاره استعمالېدل ضروری نه دی بلکه

د معلوم دهغې صرف دغه هم پرته شو دکمیدے شي لپاره د مه تقول فرعون ا دعي په د بد عتبو
وهغوی حضرت موسیٰ علیه السلام په قبر کښې سامنه لوی دی وهیس بیول غښتا دی د موسیٰ علیه السلام سورة هود

يَأْتِيَهُم بَأْسُنَا بَيَاتًا وَهُمْ نَائِمُونَ ﴿٩٧﴾ أَوَأَمِنَ أَهْلُ

راشي دوئ ته زمونږ عذاب په شپه او دوئ به ویده وي. او آیا بې غمه شو کلو

الْقُرَىٰ أَن يَأْتِيَهُم بَأْسُنَا ضُحًى وَهُمْ يَلْعَبُونَ ﴿٩٨﴾

والا. چه راشي دوئ ته عذاب زمونږ په وخت د څاښت کښې او دوئ به لوبه کوي

أَفَأَمِنُوا مَكْرَ اللَّهِ ۚ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ

آیا بې غمه شوي دوئ د تدبیر د الله نه پس نه بې غمه کیږي د تدبیر د الله نه مګر قوم

ع ١٢ الْخَاسِرُونَ ﴿٩٩﴾ أَوَلَمْ يَهْدِ لِلَّذِينَ يَرِثُونَ الْأَرْضَ

تاوان کونکي. او آیا نه دی معلوم شوې هغو کسانو ته چه میراث کښي اخلي د مکه

مِن بَعْدِ أَهْلِهَا أَن لَّوْ نَشَاءُ أَصَبْنَاهُم بِذُنُوبِهِمْ ۚ

پس د اوسیدونکو د هغې نه چه که وغواړو مونږ نو به رسوو دوئ ته عذاب په سبب د ګناهونو د دوئ

وَنَطْبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿١٠٠﴾ تِلْكَ

او مهر به ولګوو په زړونو د دوئ باندې پس دوئ حق نه اوري. دغه

الْقُرَىٰ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنبَائِهَا ۚ وَلَقَدْ

کلو واله بیان کوو مونږ تا ته د خبرونو د هغو نه. او یقیناً

جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَمَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا

راغلي وو دوئ ته استازي د دوئ په واضحو دلائلو پس نه وو دوئ چه ایمان به راوړے وے

بِمَا كَذَّبُوا مِن قَبْلُ ۚ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ اللَّهُ

په سبب د هغه دروغ ګڼلو چه کړي وو دوئ مخکښې د دینه. دغه رنګ مهر لګوي الله تعالیٰ

عَلَىٰ قُلُوبِ الْكَافِرِينَ ﴿١٠١﴾ وَمَا وَجَدْنَا لِأَكْثَرِهِم

په زړونو د کافرانو. او نه دي موندلي مونږ د ډیرو د دوئ له

مِّنْ عَهْدٍ ۖ وَإِن وَجَدْنَا أَكْثَرَهُمْ لَفَاسِقِينَ ﴿١٠٢﴾

څه لوظ. او یقیناً موندلي دي مونږ ډیر د دوئ خامخا فاسق کونکي.

ثُمَّ بَعَثْنَا مِن بَعْدِهِم مُّوسَىٰ بِآيَاتِنَا إِلَىٰ

بیا ولیږلو مونږ پس د دوئ نه موسیٰ علیه السلام په معجزو خپلو

ع ١٣ ربع

وَمَا وَجَدْنَا لِأَكْثَرِهِم مِّنْ عَهْدٍ او نه مو موندلو د ډیرو د دوئ د پاره څه لوظ. حسن بصري رحمه الله فرمائي چه د عهد نه مراد عهد (لوظ) د توحید دے چه د هغو انو امتونو نه په ذریعه د انبیاء علیهم السلام اخستے شوے وو. (جواهر القرآن)

ثُمَّ بَعَثْنَا مِن بَعْدِهِم مُّوسَىٰ د دے ځائے نه تر ١٧١ پورې دوېم باب د دویم قسم دے. په دیکښې تفصیلي واقعه د حضرت سیدنا موسیٰ علیه السلام ده د د پاره د تسلي د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم چه مشتمله ده په اتو واقعاتو د ژوندګۍ د موسیٰ علیه السلام. اول تمهید تر ١٠٨ پورې بیا اوله واقعه تر ١٢٦ دوېمه واقعه ١٢٩، دریمه واقعه تر ١٣٧، څلورمه واقعه تر ١٤١، پنځمه تر ١٤٩، شپږمه تر ١٥٠، اوومه تر ١٥٩، اتمه تر ١٧١ پورې. د دے نه علاوه دویمه خبره ترغیب دے اطاعت د نبي علیه السلام ته په ١٥٧ کښې. دریمه بیان د توحید نه په ١٥٨ کښې

دریمه خبره ذکر د انعاماتو دے په بني اسرائیلو باندې ١٦٠ کښې او د عذابونو دے په ١٦٢ کښې. څلورم تخویف دنیوي دے په ذکر د اصحابو د سبت باندې په ١٦٣ کښې ؛

فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهٖ فَظَلَمُوْا بِهَا ۚ فَانْظُرْ كَيْفَ
فرعون او قوم د هغه ته، پس ظلم ئے وکړو په هغو پس وګوره څنګه

كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۱۰۳﴾ وَقَالَ مُوْسٰى
وو انجام د فساد کوونکو . او وویل موسیٰ ؑ

يٰفِرْعَوْنُ اِنِّيْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۴﴾
اے فرعونه یقیناً زه استازے یم د رب د مخلوقاتو نه

حَقِيْقٌ عَلٰٓى اَنْ لَّآ اَقُوْلَ عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ ؕ
لائق یم په دے چه نه به وایم په الله تعالیٰ مګر حق خبره،

قَدْ جِئْتُكُمْ بِبَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاَرْسِلْ مَعِيَ
یقیناً راغلے یم تاسو ته په ښکاره دلیل، د رب ستاسو نه، پس را آزاد کړه د خما سره

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۱۰۵﴾ قَالَ اِنْ كُنْتَ جِئْتَ بِاٰيَةٍ
بنی اسرائیل . وویل فرعون که چرے یه ته راوړے ته معجزه،

فَأْتِ بِهَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۱۰۶﴾ فَاَلْقٰى
پس راوړه دغه، که چرے یه ته د رښتینو نه ، پس وغورځوله

عَصَاهُ فَاِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۰۷﴾ وَّنَزَعَ يَدَهٗ فَاِذَا هِيَ
همسا خپله پس ناګهانه هغه خامار وو ښکاره . او راوښکلو لاس خپل پس ناګهانه هغه

ع
بَيْضَآءُ لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿۱۰۸﴾ قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ
تک سپین وو لیدونکو ته . وویل ښتانو د قوم د فرعون نه،

اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۰۹﴾ يُّرِيْدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ
یقیناً دا خامخا جادوګر پوهه دے . اراده لری چه وباسی تاسے لره د زمکے

اَرْضِكُمْ ۚ فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ قَالُوْٓا اَرْجِهْ وَاَخَاهُ وَ
خپلے نه، پس څه امر کوئ تاسو ما ته . وویل دوی مهلت ورکړه دغه لره او ورور د ده

اَرْسِلْ فِي الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ﴿۱۱۱﴾ يَاْتُوْكَ بِكُلِّ سٰحِرٍ
لره او ولیږه په ښارونو کښې راجمع کوونکی، راب به دے تا ته هر جادوګر

منزل ۲

حَقِيْقٌ: لائق یم په دے (افضل الرحیم) عَلٰٓى به په دے بانو (جواهر) لائق یم په دے بانو (ابن کثیر)، حریص یم په دے بانو (قرطبی)، یو بل قرأت کښې عَلَيَّ دے معنی ئے بیا دا ده واجب دی په ما بانو چه نه به وایم په الله تعالیٰ بانو مګر حقه خبره. اوګورئ ابن کثیر ص۲۳۴ . ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ: خامار ښکاره وو. او په سورة شعراء ۳۲ کښې ثُعْبَانٌ دے او په سورة نمل ۱۰ کښې جَآنٌّ چیچه مار ذکر دے او ۳۱ قصص کښې هم جَآنٌّ دے او سورة طٰهٰ ۲۰ کښې حَيَّةٌ مار ذکر دے. تطبیق ئے دا دے چه حَيَّةٌ مار ته وئیلے شی دا شامل دے خامار او چیچه مار دواړو ته. نو په ... کښې چیچه مار او په جثه کښې خامار وو او ګیا په حالتونو بیلو بیلو کښې دا وو. مطلب کله به خامار وو او کله به نری مار وو. وګورئ روح المعانی ص۲۲. بَيْضَآءُ: تک سپین وو او څه برګے یا بل مرض به پرے نه وو. وګورئ ۳۳ شعراء ۱۲ نمل. قَالُوْٓا اَرْجِهْ: اصل کښې اَرْجِئْهُ دے. معنی ئے دا ده روستو کړه دهٔ لره او مهلت ورله ورکړه. او بعض وائی چه قید کړه دهٔ لره او جیل ته ئے کړه. او ګیا د اِرْجَاءٌ نه ماخوذ دے. معنی دا چه طمعه ورله ورکړه وظیفه ورله ورکړه. شیخ القرآن رحمه الله به دا دے واړه معنی ځلے کولے او فرمائیل به ئے چه انګریزانو هم دا دے واړه کار د علماؤ سره کړی دی. (ختم المرجان ص۱۰۰، ابام الرحمن ص۱۹۶) وګورئ کبیر ص۱۹۶ ج ۱۴

وَجَآءَ السَّحَرَةُ: سورة طٰه ۱ کښې دی چه موسیٰ علیه السلام ورته د مقابلې وخت خاص ... او د اختر ورځ مقرر کړه.
اِنَّ لَنَا لَاَجْرًا: یقیناً موږ ته به ... اجر وی. د باطل پرستو هیڅ ... نه وی. فرعون ورته وویل

عَلِيْمٍ ﴿۱۱۲﴾ وَجَآءَ السَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ قَالُوْٓا اِنَّ لَنَا لَاَجْرًا

پوهه لرونکی. او راغله جادوګر فرعون ته، وویل دوی یقیناً موږ لره ... مزدوری

اِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿۱۱۳﴾ قَالَ نَعَمْ وَاِنَّكُمْ لَمِنَ

که چیرې شو موږ غالب. وویل هغه: او، او یقیناً تاسو به خامخا

الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿۱۱۴﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِمَّآ اَنْ تُلْقِىَ وَاِمَّآ

نزدې کړی شوو نه یئ. وویل دوی ای موسیٰ! یا خو ته وغورځوه همسا، او یا به

اَنْ نَّكُوْنَ نَحْنُ الْمُلْقِيْنَ ﴿۱۱۵﴾ قَالَ اَلْقُوْا فَلَمَّآ

شو موږ وغورځونکي. وویل هغه: وغورځوئ. پس هر کله چه

اَلْقَوْا سَحَرُوْٓا اَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوْهُمْ وَجَآءُوْ

وغورځول دوی، جادو وکړو په سترګو د خلقو او وویرول دوی هغوی او راوړو دوی

بِسِحْرٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۱۶﴾ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنْ اَلْقِ

جادو لوی. او وحی وکړه موږ موسیٰ ته، چه وغورځوه

عَصَاكَ ۚ فَاِذَا هِىَ تَلْقَفُ مَا يَاْفِكُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ فَوَقَعَ

همسا خپله، پس ناګاه هغه تیرولو هغه چه دروغ جوړول دوی. پس ښکاره شو

الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۱۸﴾ فَغُلِبُوْا

حق، او باطل شو هغه چه دوی کول. پس کمزوري کړی شو دوی

هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوْا صٰغِرِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ وَاُلْقِىَ السَّحَرَةُ

په دغه ځای کښې او وګرځیدل دوی ذلیله. او وغورځولي شو جادوګر

سٰجِدِيْنَ ﴿۱۲۰﴾ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۲۱﴾ رَبِّ

سجده کوونکي. وویل دوی ایمان راوړو موږ په رب د مخلوقاتو باندې، چه رب د

مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿۱۲۲﴾ قَالَ فِرْعَوْنُ اٰمَنْتُمْ بِهٖ

موسیٰ او هارون دے. وویل فرعون: آیا ایمان راوړو تاسو په ده باندې

قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۚ اِنَّ هٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوْهُ فِى

مخکښې د اجازت نه ما تاسو ته، یقیناً دا خامخا تدبیر دے چه جوړ کړے تاسو ...

تش اجرت بلکه تاسو به د مقربینو نه شئ او ارچت به مو درله ورکړم.

قَالُوْا يٰمُوْسٰى: دغوی د دې وجې نه چه په خپل سحر اعتبار وو او بیا د وجې د ادب نه وویل چه اے موسیٰ! یا ته خپله همسا وغورځوه، او یا به موږ د غورځولو نه شو. قَالَ بَلْ اَلْقُوْا: موسیٰ علیه السلام ورته وویل چه بلکه تاسو خپلې همسا ګانې او رسۍ وغورځوئ. د موسیٰ علیه السلام مقصد ابطال د جادو د دوی وو لکه چه تفسیر کبیر کښې دی. فائده: مفسرینو رحمهم الله لیکلی دی چه جادوګرو د رسو او همسا ګانو د پاسه په مختلفو رنګونو د ماران نو غوندې نقشې جوړې کړې وې او د پاسه ئې پرې پاره اچولے وو او همسا ګانې د ... وې د دغوی په ماښین کښې هم پاره اچولے وو په کله چه په میدان کښې وغورځول شو د نمر د ګرمۍ د وجې نه په وکښې حرکت پیدا شو او د دې وېل ... د شوا ... لکه ... په ټول میدان د ماران نه ډک شو ... (جواهر ...).

وَجَآءُوْ بِسِحْرٍ عَظِيْمٍ: او را تلله دے وکړو په جادو لوئے باندې خکه د اچیر وو خو په حقیقت کښې لوئے نه وو. (قرطبي ...). تَلْقَفُ: تیرے کړو. (مظهري ...) غورځولي کړو تو سختي نے کړو. (غریب القرآن ...). فَوَقَعَ الْحَقُّ: پس ښکاره شو حق. سٰجِدِيْنَ: او وغورځولي شو جادوګر الله تعالیٰ ته سجده کوونکي. دا د دوی نیک بختي وه چه د حق د ښکاره کیدو سره په ایمان مشرف شو، ځکه چه دوی د موسیٰ علیه السلام ادب کړے وو نو الله تعالیٰ ورته ایمان نصیب کړو. بیا ورته فرعون خفه

د باؤ وکړه چه لاس او پښې به درله اړول بدل پریکړم او بیا به مو ټول په دار کړم (قسم) ... د
فرعون ظالمانه شروع شوي ده په ... قالوا ... دا د ساحرانو تشبث او بهادري ده. وق ...

الْمَدِينَةِ لِتُخْرِجُوا مِنْهَا أَهْلَهَا ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿١٢٣﴾

په ښار کښې چه ... ددې نه اهل ئې، پس زر ده چه پوهه به شئ.

لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَافٍ ثُمَّ

خامخا یقیناً پرېکوم به زه لاسونه ستاسو، او پښې ستاسي، اړول بدل، بیا به

لَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٢٤﴾ قَالُوا إِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا

خامخا یقیناً به سولئ کړم تاسو ټول په دار. دوی ووئیل یقیناً مونږ به رب خپل ته

مُنقَلِبُونَ ﴿١٢٥﴾ وَمَا تَنقِمُ مِنَّا إِلَّا أَنْ آمَنَّا بِآيَاتِ

واپس شو. او نه دې عیب لګولے تا زمونږ نه، مګر دا خبره چه ایمان راوړے مونږ په

رَبِّنَا لَمَّا جَاءَتْنَا ۚ رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَتَوَفَّنَا

آیتونو د رب زمونږ کله چه راغلل مونږ ته. اے ربه زمونږ راتویه کړه په مونږ باندې صبر او وفات کړه

مُسْلِمِينَ ﴿١٢٦﴾ وَقَالَ الْمَلَأُ مِن قَوْمِ فِرْعَوْنَ

مونږ مسلمانان. او ووئیل سردارانو د قوم د فرعون نه.

أَتَذَرُ مُوسَىٰ وَقَوْمَهُ لِيُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ

آیا پرېږدې ته موسیٰ او قوم د ده لپاره د دې چه فساد وکړي په زمکه کښې.

وَيَذَرَكَ وَآلِهَتَكَ ۚ قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبْنَاءَهُمْ وَ

او پرېږدي عبادت ستا او د معبودانو ستا، ووئیل هغه زر دے چه قتل به کړو ځامن د دوي او

نَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ وَإِنَّا فَوْقَهُمْ قَاهِرُونَ ﴿١٢٧﴾

ژوندۍ به پرېږدو ښځې د دوي، او یقیناً مونږ په دوي باندې زور آور یو.

قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ اسْتَعِينُوا بِاللَّهِ وَاصْبِرُوا ۖ

ووئیل موسیٰ قوم خپل ته، مدد وغواړئ په الله تعالیٰ، او صبر کوئ،

إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَاءُ مِنْ

یقیناً زمکه د الله ده، په میراث کښې ورکوي چا له چه وغواړي د بندګانو

عِبَادِهِ ۖ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٢٨﴾ قَالُوا أُوذِينَا

خپلو نه، او ښه انجام د پرهېزګارانو دے. دوي ووئیل مونږ ته تکلیف رسیدلے شو مونږ

اوته به نه کړې ستاسې زمونږ د نه
مګر دا چه مونږ ایمان راوړو
په آیتونو د رب خپل. مطلب
دا چه دا خو د ګناه قابل
نه دی، ورته ته صدقه شا په
د ده وښیلے شي. وګورئ طه
... بروج ... شعراء ...
... ربنا افرغ، بقره ...
کښې د طالوت صاحب د ملګرو
دعا کښې هم راغلے دی. د
یذرک وآلهتک، چه پرېږدي
عبادت ستا او د معبودانو
ستا ځکه چه فرعون مشرک وو،
نو مراد د آلهه نه هغه بتان یا
ستوري دي، یا بتان د ...
قوم لره ئې جوړ کړي وو چه
د هغو عبادت کوي او د ځان
په مقابله کښې ویلی وو: انا
ربکم الاعلیٰ؛ او که د هغې
وی نو بیا د آلهتک نه مراد
دا دے چه دا خپل مجسمې
جوړې کړې وې او خلقو
به ئې ورېل چه د دې عبادت
کوي. وګورئ روح ... موضح
... جواهر ... (٣) یوبل
قرأت وإلاهتک دے معنی
دا شوه چه پرېږدي ستا او
عبادت ستا، قرطبی ...
... یورثها من یشاء؛ په
میراث کښې ورکوي چا له ئې چه
خوښه شي. حضرت موسیٰ
علیه السلام تسلي ورکوي چه امداد
د الله تعالیٰ نه غواړئ او
صبر کوئ. بقره ... وګورئ
او بیا فرمائي چه زمکه
د الله تعالیٰ ده - ذدے د
حکمرانۍ اختیار —— د هغه دے. فائده - په دې کښې د هغه منظور دے وُ شو چه
نن صبا واقع ، خپله خاوره خپل اختیار. ❖

فَيَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ: پس ګوري چه څنګه عمل کوئ. ـ وګشاه و پور شيخ رحمة الله فرمائي: صفا خبره ده چه ورته وکړه چه مشري به ورله باري تعالی ورکړي خو بيا به ګوري. (الفضل الرحيم ص۲۳۶) مفتي صاحب رحمة الله فرمائي چه حکومت او سلطنت د حکمرانه طبقې دپاره امتحان دی رسالې نيت). بِالسِّنِينَ: جمع د سنة ده. او مراد ترې کال د قحط دی او په دې کښې غالب استعمال ئې دې ته روشه چه ګرزي لې د قحط سالئ دپاره. (روح ج۹) دوېم خالئ ته د ريه واقع ده. يَطَّيَّرُوا: بد فالي به ئې نيوله، سپېره ئې ولې ګڼل. دوې ته معلوم شوه چه باطل پرستو په حق پرستو هميشه بد فالي نيولې ده ګورئ نمل ۴۷، يس ۱۸. أَلَا إِنَّمَا طَائِرُهُمْ: مطلب ئې دا دې چه دا ئې د خپل بد عملو نتيجه ده خو دوي نه پوهيږي.

وَقَالُوا مَهْمَا ۱۳۲: دا د قوم د فرعون خبره ده چه کوم علامې موسی ته پېش کړې چه په موسی جادو وکړې نو ايمان پرې نه راوړو. فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوفَانَ ۱۳۳: چه معجزات ئې ونه منل نو د هلاکت اسباب هم ورته وخودل، طوفان: سخت باران (کبير) او جوهر ۳۸ کښې دي حاصل ئې دا دې چه اته شوا روزه مسلسل په دوي باران ورېدو او باران ورېدو حتی دا چه کورونه ئې ډوب نه ولاړ شول او د دوي اوګو اوبه وختلې بيا ئې د عذاب د لرې کيدو درخواست وکړو نو د موسی عليه السلام په دعا سره طوفان بند شو او هر څه ښه شو او دوي عهد شکني وکړه

مِنْ قَبْلِ أَنْ تَأْتِيَنَا وَمِنْ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ۚ قَالَ

مخکښې د راتلو ستا نه موږ ته او پس د راتلو ستا نه موږ ته. ووېل هغه

عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَنْ يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ

نږدې ده چه رب ستاسو هلاک کړي دشمن ستاسو او روستو آباد به کړي تاسو

فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴿١٢٩﴾ وَلَقَدْ

په زمکه کښې، پس ګوري چه څنګه عمل کوئ تاسو ..... او يقيناً

۱۵ ع ۳

أَخَذْنَا آلَ فِرْعَوْنَ بِالسِّنِينَ وَنَقْصٍ مِنَ

ونيول موږ د فرعون يان په کلونو د قحطونو او په کموت د

الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣٠﴾ فَإِذَا جَاءَتْهُمُ

ميوه جاتو ددې دپاره چه دوي نصيحت قبول کړي. پس کله چه به راغله دوي ته

الْحَسَنَةُ قَالُوا لَنَا هَٰذِهِ ۖ وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ

خوشالي نو ويل به دوي موږ له دا حق دې او که ورسيده دوي ته تکليف نو

يَطَّيَّرُوا بِمُوسَىٰ وَمَنْ مَعَهُ ۗ أَلَا إِنَّمَا طَائِرُهُمْ

بد فالي به ئې نيوله په موسی او په هغه چا چه ده سره وو. خبردار يقيناً سپېره توب د دوي

عِنْدَ اللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٣١﴾ وَقَالُوا

په نزد د الله دې او ليکن ډېرو د دوي نه پوهيږي. او وېل به دوي

مَهْمَا تَأْتِنَا بِهِ مِنْ آيَةٍ لِتَسْحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحْنُ لَكَ

هر هغه چه راوړې موږ ته نښه دپاره د دې چه جادو وکړې په موږ په هغې، پس نه يو موږ

بِمُؤْمِنِينَ ﴿١٣٢﴾ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوفَانَ وَالْجَرَادَ

ايمان راوړونکي. پس رالېږلو موږ په دوي باندې طوفان او ملخان

وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ آيَاتٍ مُفَصَّلَاتٍ

او سپږې او چينګښې او وينې، نښې بيلې بيلې کړې شوې.

فَاسْتَكْبَرُوا وَكَانُوا قَوْمًا مُجْرِمِينَ ﴿١٣٣﴾ وَلَمَّا

پس تکبر ئې وکړو او وو دوي قوم مجرم ګناهګار. او هر کله چه

او وې ويل چه دا خو نعمت وو، نو الْجَرَادَ: ملخان پرې الله تعالی راولېږل، هر څه ئې وخوړل او د کرونده نو پورې وختل. نو بيا ئې درخواست وکړو نو ملخان لرې شو. نو الْقُمَّلَ: نو سپږې پرې مسلطې شوې بيا چينګښې پرې مسلط شوې. هر څه به ترې نه ولاړ وو بيا وينې، خوراک څکاک به ئې وينه

مه وینو نه ټولو ته ولاړه . أٰيٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ : نښے بیلے بیلے یا ښیے واضح . قرطبی رحمه الله [illegible] کښې لیکلي دي چه
دَ هرو دوو نښو په مابین کښې اته ورځے یا [illegible] میاشت وه [illegible] . لَئِنْ كَشَفْتَ : که چرے لرې کړې

وَقَعَ عَلَيْهِمُ الرِّجْزُ قَالُوا يٰمُوسَى ادْعُ لَنَا رَبَّكَ
راغے په دوی عذاب ، وئیل دوی ، اے موسیٰ ! وغواړه دَ موږ دپاره دَ رب خپل نه

بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ ۚ لَئِنْ كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ
په سبب دَ هغه لوظ کوم چه کړے دے تا سره (دَ دعا) ، که چرے لرې کړو تا (په دعا) زموږ نه عذاب

لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ ﴿١٣٤﴾
ضرور به ایمان راوړو تا ته او خامخا به یې لیږو تا سره بنی اسرائیل .

فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الرِّجْزَ إِلٰىٓ أَجَلٍ هُمْ بٰلِغُوهُ
پس هر کله چه لرې کړو موږ دَ دوی نه عذاب ترمودې پورې چه دوی رسیدونکي دي هغې ته

إِذَا هُمْ يَنْكُثُونَ ﴿١٣٥﴾ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنٰهُمْ
ناڅاپه هغوی به ماتول لوظ ، پس بدله واخسته موږ دَ دوی نه ، پس ډوب کړل موږ هغوی

فِي الْيَمِّ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا بِأٰيٰتِنَا وَكَانُوا عَنْهَا
په دریاب کښې په سبب دَ دې چه دروغ ګڼلي وو دوی آیتونه زموږ او وو دَ هغو نه

غٰفِلِينَ ﴿١٣٦﴾ وَأَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِينَ كَانُوا
غفلت کوونکي . او په میراث کښې مو ورکړه قوم هغه ته چه وو

يُسْتَضْعَفُونَ مَشٰرِقَ الْأَرْضِ وَمَغٰرِبَهَا
کمزوري ګڼلے شوي ، مشرقونه دَ زمکې ، او مغربونه دَ زمکې ،

الَّتِي بٰرَكْنَا فِيهَا ۖ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ
هغه چه برکت اچولے دے موږ په هغې کښې ، او پوره شوے دے وعده دَ رب ستا ،

الْحُسْنٰى عَلٰى بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ ۙ بِمَا صَبَرُوا ۖ وَ
ښائسته ، په بنی اسرائیلو باندې په سبب دَ صبر دَ دوی . او

دَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُ
هلاک کړو موږ هغه ، چه جوړول ، فرعون ، او قوم دَ هغه ،

وَمَا كَانُوا يَعْرِشُونَ ﴿١٣٧﴾ وَجٰوَزْنَا بِبَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ
او هغه څه چه دوی به جوړول او ودانول ، او پورې ویستل موږ بنی اسرائیل ،

زموږ نه عذاب په دعا ستا إِلٰه خپل ته . (قرطبی [illegible])
فَلَمَّا كَشَفْنَا : پس هر کله چه لرې کړو موږ دَ دوی نه عذاب په دعا دَ موسیٰ علیه السلام باندې (سراج منیر [illegible]) وَأَوْرَثْنَا الْقَوْمَ : او په میراث کښې مو ورکړه قوم هغه ته چه کمزوري ګڼلے شوي وو . دَ زمکې نه مراد دَ مفسرینو رحمهم الله دَ قول مطابق دَ ملک شام او مصر سرزمین مراد دے چه په هغې باندې الله تعالیٰ بنی اسرائیلو ته دَ فرعون دَ قوم او دَ عمالقو دَ قوم دَ هلاکت نه پس قبضه او حکومت ورکړے وو (معارف [illegible]) وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ : او پوره شوه کلمه دَ رب ستا چه ښائسته ده . مراد ترې وعده ده دَ الله تعالیٰ دَ دوی سره دَ امداد او دَ اقتدار ورکولو چه دَ نبی دَ دوی علیه السلام په ژبه [illegible] وه . (روح [illegible])
عَلٰٓى أَصْنَامٍ لَّهُمْ (حاشیه دَ راتلونکي مخ [illegible]) دَ دې آیت نه خلق رسید واقعه ده [illegible] دَ بنی اسرائیلو په مصر کښې دَ قبطیانو نه دَ خلاصون په باره کښې عقیده جوړه شوې وه مشهور مثل دے [illegible] بلا په [illegible] الله نه [illegible] . دَ فرعون دَ [illegible] نه پس او دَ دوی دَ خلاصی او نجات موندلو نه بعد دوی په یو قوم ورغله چه خپلو بتانو عبادت ئے کولو او په هغو را جوخت شوی وو . نو دوی هم دَ شرک مطالبه وکړه . موسیٰ علیه السلام ئے تردید وکړو . عامه مفسرین رحمهم الله لیکي چه اصنام بتان دَ غواګانو شکلونه وو . (تفسیر کبیر [illegible] ، خازن [illegible] ، مظهري [illegible] ، قرطبي [illegible] ، روح [illegible] ، ابن کثیر [illegible] ، ابن جریر [illegible] ، سراج منیر [illegible] ، الهام الرحمن [illegible] ، منیر [illegible] : هلاکه کړے شي

تبار هلاکت ته وبیلے شی (قرطبی ص۲۷۲) وَبٰطِلٌ: او باطل به شی یا لکل ختم شی (روح ص۴۵) وَإِذْ أَنْجَيْنٰكُمْ: موسیٰ علیه السلام بنی اسرائیلو ته د باری تعالیٰ نعمتونه وریادوی. بقره ص۴۹ وګوری. وَوٰعَدْنَا: د انجمه، واتعده

الْبَحْرَ فَأَتَوْا عَلٰى قَوْمٍ يَّعْكُفُوْنَ عَلٰى

په دریاب، پس راغلل دوی په یو قوم چه را جمعت شوی وو په

أَصْنَامٍ لَّهُمْ قَالُوْا يٰمُوْسَى اجْعَلْ لَّنَا إِلٰهًا كَمَا

بتانو د دوی، وویل دوی ای موسیٰ! وګرځوه موږ له الٰه، لکه چه

لَهُمْ اٰلِهَةٌ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ ﴿۱۳۸﴾ إِنَّ

دوی لره دی معبودان، وویل هغه: یقیناً تاسو قوم جاهلان یئ. یقیناً

هٰؤُلَاءِ مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ فِيْهِ وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا

دا خلق برباد دی هغه چه دوی په کښی دی، او باطل دی هغه عمل چه دوی به

يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳۹﴾ قَالَ أَغَيْرَ اللّٰهِ أَبْغِيْكُمْ إِلٰهًا وَّهُوَ

کوی، وویل موسیٰ: آیا غیر د الله، ولټوم تاسو لره بل الٰه، او هغه

فَضَّلَكُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۴۰﴾ وَإِذْ أَنْجَيْنٰكُمْ مِّنْ

غوره کړی تاسے لره په خلقو د زمانے ستاسو، او کله چه خلاص کړو موږ تاسے لره د

اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ يُقَتِّلُوْنَ

فرعونیانو نه چه رسول به تاسو ته ناکاره عذاب، وژل به ئے

أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ وَفِيْ ذٰلِكُمْ

ځامن ستاسو، او ژوندۍ به ئے پریښودلے ښځے ستاسو، او په دے کښی

بَلَآءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ﴿۱۴۱﴾ وَوٰعَدْنَا مُوْسٰى

نعمت وو د رب ستاسے نه لوئے. او وعده وکړه موږ د موسیٰ سره

ثَلٰثِيْنَ لَيْلَةً وَّأَتْمَمْنٰهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيْقَاتُ

د دیرشو شپو، او پوره ئے کړه موږ هغه په لسو ورځو، پس پوره شو وخت مقرر د

رَبِّهٖٓ أَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً وَقَالَ مُوْسٰى لِأَخِيْهِ

رب د هغه په څلویښتو شپو، او وویل د موسیٰ خپل ورور خپل ته

هٰرُوْنَ اخْلُفْنِيْ فِيْ قَوْمِيْ وَأَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ

هارون ته: خلیفه شه زما په قوم زما کښی، او اصلاح کوه، او مه ځه

(جواهر) حضرت موسیٰ علیه السلام په مصر کښی بنی اسرائیلو سره وعده کړے وه چه کله اللّٰه ستاسو دشمن هلاک کړو نو خدای به د اللّٰه پاک له طرفه یو کتاب راوړم، نو هغوی د فرعون د غرقیدو نه پس اللّٰه ته د کتاب د پاره التجا وکړه. (جواهر ص۳۹۴) اول ئے ورته د دیرشو شپو د عبادت حکم کړے وو بیا ئے پرے لس نورے زیاتے کړے وے. یا به تیاری تیاری کښی یا د زیادت مجاهدے د وجے نه. مفتی صاحب رحمة الله لیکلی دی چه د نفس په اصلاح کښی څلویښتو ورځو شپو له خاصه دخل وه. (معارف ص۴۳)

وَقَالَ مُوْسٰى لِأَخِيْهِ: او ویلے د موسیٰ خپل ورور ته. مفتی صاحب لیکلی دی چه د ضرورت په وخت نائب مقرر کول او خپل قائم مقام جوړول وکړه. (معارف ص۳۹)

لِمِيْقَاتِنَا: وخت موعود ته یعنے تا کلے شوے او مقرر شوے وخت ته. لَنْ تَرٰىنِيْ: (حاشیه د رانتونکی ص۳۲۲): مطلب دا دے چه ما په دنیا کښی نشے لیدلے ځکه چه آخرت کښی خو دیدار په قرآن پاک ثابت دے وګوری سورة قیٰمة ص۲۲، ۲۳. او احادیث پرے تواتر ته رسیدلی دی د رسول اللّٰه صلی الله علیه وسلم نه چه مومنان به اللّٰه پاک لره وینی په ګورو د آخرت کښی. (ابن کثیر ص۲۴۴) فَلَمَّا تَجَلّٰى: کله چه تجلی وکړه

ټوټے ټوټے کړو، وراړاے ئے وکړه، به هغه غره. دَكًّا: په معنیٰ د مدکوکا: ټوټے ټوټے یا هموار د زمکے سره. سُبْحٰنَكَ: پاکی دے نوم ستا لره، او توبه د ځکه ناسته. امام قرطبی رحمة الله فرمائی چه دا توبه د ګناه د وجے نه وه ځکه چه انبیاء علیهم السلام د ګناهونو نه معصوم دی (ص۲۷۹) یا مطلب دا دے چه توبه

وُیا سره ثابت ده. د سوال کولو د رویت نه هم دا نه مراد دی چه په دغه طریقه دا ثابت او عاجزي سره د باري تعالی نه. وَأَنَا أَوَّلُ الْمُؤْمِنِينَ: او زه اول د ایماندارو نه یم د بني اسرائیلو نه.

سَبِيلَ الْمُفْسِدِينَ ﴿١٤٢﴾ وَلَمَّا جَاءَ مُوسَىٰ لِمِيقَاتِنَا

په لاره د فساد کوونکو. او هر کله چه راغلو موسیٰ (علیه السلام) د وخت مقرر زمونږ ته

وَكَلَّمَهُ رَبُّهُ قَالَ رَبِّ أَرِنِي أَنظُرْ إِلَيْكَ قَالَ لَن

او خبرې وکړې ورسره رب د ده، وې ویل ای ربه! ما ته ځان راوښایه چه وګورم تا ته، وې فرمایل هیڅکله

تَرَانِي وَلَٰكِنِ انظُرْ إِلَى الْجَبَلِ فَإِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهُ

به ونه وینې ما، لیکن ته وګوره غره ته، که چرته ټینګ شو په ځای خپل

فَسَوْفَ تَرَانِي فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُ دَكًّا

نو ژر به ووینې ما، پس کله چه ښکاره کړه رب د ده تجلي غره ته، وګرځوه غر ریزه ریزه

وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقًا فَلَمَّا أَفَاقَ قَالَ سُبْحَانَكَ تُبْتُ

او پریوتو موسیٰ بې هوښه، پس کله چه په هوش راغی وې ویل پاکي ده تا لره، توبه وباسم

إِلَيْكَ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٤٣﴾ قَالَ يَا مُوسَىٰ إِنِّي

تا ته، او زه اول د مومنانو یم. وې فرمایل الله ای موسیٰ! یقیناً ما

اصْطَفَيْتُكَ عَلَى النَّاسِ بِرِسَالَاتِي وَبِكَلَامِي

غوره کړې ته په خلقو باندې په پیغامونو خپلو، او په خبرو خپلو،

فَخُذْ مَا آتَيْتُكَ وَكُن مِّنَ الشَّاكِرِينَ ﴿١٤٤﴾ وَ

پس واخله هغه کتاب چه درکړی ما تا ته، او شه د شکر کوونکو نه. او

كَتَبْنَا لَهُ فِي الْأَلْوَاحِ مِن كُلِّ شَيْءٍ مَّوْعِظَةً

لیکلي وو مونږ ده ته په تختو کښې د هر ضروري شي نه، وعظ

وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ وَأْمُرْ

او تفصیل د هر ضروري حکم، پس واخله دا په قوت (کوشش) سره، او امر کوه

قَوْمَكَ يَأْخُذُوا بِأَحْسَنِهَا سَأُرِيكُمْ دَارَ

قوم خپل ته چه عمل کوي په ښائسته خبرو د دې، زر دی چه وبه ښایم تاسو کور (ځای)

الْفَاسِقِينَ ﴿١٤٥﴾ سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ

د فاسقانو. یقیناً واړوم زه د آیتونو خپلو نه هغه کسان چه

(ابن کثیر ۲۴۴/۲)، او دا ابن عباس رضی الله عنهما او ابو العالیه نه نقل دي چه څه اول د ایماندارو نه یم په دې چه نه شي لیدلے تا دنیا کښې مخلوق ستا نه تر ورځې د قیامت پورې. (ابن کثیر ۲۴۴/۲، درمنثور ۱۲۰/۳).

مِن كُلِّ شَيْءٍ: ولته لفظ د كُلِّ شَيْءٍ دوه ځله ذکر دے. دا كُل استغراق عرفي دے. مراد تري نه هغه احکام دي چه ضروري وو او دوی ورته محتاج وو د دیني امورو نه. (مظهري ۲۰۷/۳، خازن ۲۵۴/۲).

دَارَ الْفَاسِقِينَ: کورونه د فاسقانو. شاه صاحب رحمه الله فرمائي چه مراد ترې نه د فرعونیانو به ورانه کړے شوي ویني. (فتح ۲۴۳).

سَأَصْرِفُ: زر دے چه واړوم زه ډیر زیاته د آیتونو خپلو نه. ذو النون قدس الله سره فرمائي چه انکار کړے دے الله تعالیٰ په عزتمند کړي زړونه د باطل پرستو په رازونو د حکمت د قرآن پاک (مدارک ۴۰/۲). علماء کرامو دلته صفات ذکر کړي دي چه هغه منع کوونکي دي د پوهې د قران نه. برهان (سيوطي) کښې زرکشي رحمه الله او ده نه نقل په اتقان ۱۸۳/۲ کښې سیوطي رحمه الله کړي دے او اختصار تي ابا الرحمن ۴۰۴ کښې او انعام الرحمن ۳۴۳ کښې ذکر کړي دي: په هغې چه یقیناً نه حاصلیږي د کتاب پاک پوهه د معانیو د وحي حقیقت کښې او نه ظاهریږي ده لره رازونه د بیت معرفت سره ځان

داوي چه په زړه د ده کښې بدعت او یا تینګوالے په ګناه وي او یا نے په زړه کښې تکبر وي او یا خواهش وي او یا مینه د دنیا وي او یا غیر مضبوط ایمان والا وي، یا کمزوري تحقیق والا وي او یا اعتماد کوي په قول د دائے مفسر چه هغه سره علم نه وي، ظاهر کښې نه وي او یا رجوع کوونکے وي خپلې عقلي خبرې ته.

عه اود انو لې پرمے او موانتم دی د فهم د قرآن نه او بعضے مضبوط دی د بعضو نه (انعام الرحمن ص۱۸۱) ◆
وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوسٰى مِنْ بَعْدِهٖ: ابوبکر رازی رحمه الله د سوال په جواب کښې لیکی: ځکه موږ په دې معنٰی لے

يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَإِنْ يَرَوْا

تکبر کوی ، په زمکه کښې ، په ناحقه سره ، او که وګوري دوی

كُلَّ آيَةٍ لَا يُؤْمِنُوا بِهَا وَإِنْ يَرَوْا سَبِيلَ الرُّشْدِ

هره نښه ، ایمان نه راوړی په هغے ، او که وګوری دوی لاره د هدایت ،

لَا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا وَإِنْ يَرَوْا سَبِيلَ الْغَيِّ يَتَّخِذُوهُ

نو نه نیسی هغه لاره ، او که وینی لاره د ګمراهئ ، نو نیسی هغه

سَبِيلًا ۚ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَكَانُوا عَنْهَا

لاره ، دا په دې وجه چه یقیناً دوی دروغ ګڼلی دی زموږ آیتونه ، او وو دوی د هغو نه

غَافِلِينَ ﴿١٤٦﴾ وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَلِقَاءِ الْآخِرَةِ

غفلت کوونکی ، او هغه کسان چه دروغ یې ګڼلی زموږ آیتونه ، او ملاقات د آخرت ،

حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ ۚ هَلْ يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا

برباد شو دی عملونه د دوی ، بدله به ورکړے شی دوی ته ، مګر په هغه عملونو چه وو دوی

يَعْمَلُونَ ﴿١٤٧﴾ وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوسٰى مِنْ بَعْدِهٖ

چه کول ..... او جوړ کړو ، قوم د موسٰی ، پس د تللو د هغه نه طور ته ،

مِنْ حُلِيِّهِمْ عِجْلًا جَسَدًا لَهُ خُوَارٌ ۚ أَلَمْ يَرَوْا أَنَّهُ

د ګاڼو د خپلو نه ، خیے یو جسد لره هغه لره آواز وو ، آیا نه وینی دوی چه یقیناً دا

لَا يُكَلِّمُهُمْ وَلَا يَهْدِيهِمْ سَبِيلًا ۘ اتَّخَذُوهُ وَ

خبرے نه شی کولے دوی سره او نه ښودنه کولے شی دوی ته لاره (د فائدے) ، جوړ کړے دی دوی هغه خدائی او

كَانُوا ظَالِمِينَ ﴿١٤٨﴾ وَلَمَّا سُقِطَ فِي أَيْدِيهِمْ وَرَأَوْا

وو دوی ، ظلم کوونکی ، او هر کله چه غورزیدل د شو په لاسونو د دوی کښې ، او وې کتل دوی

أَنَّهُمْ قَدْ ضَلُّوا قَالُوا لَئِنْ لَمْ يَرْحَمْنَا رَبُّنَا

چه یقیناً دوی ګمراه شو دی ، وویل دوی که رحم ونکړه په موږ ، رب زموږ ،

وَيَغْفِرْ لَنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿١٤٩﴾ وَلَمَّا

او بخنه ونکړی موږ لره نو خامخا یقیناً شو به موږ د تاوان مونو نه . او هر کله چه

ع

دا ده چه ونیولو قوم د موسٰی پس د تللو د هغه نه غر ته. (مسائل ص۲۱) اتَّخَذُوهُ: دویم مفعول دلته حذف دے. معنٰی دا شوه چه ونیولو خسی لره په خدائی اختیار او وو دوی ظالمان. وَلَمَّا سُقِطَ: کله چه غورزول وشو په لاسونو د دوی کښې. دلته د سُقِطَ نسبت ظرف ته چه فِي أَيْدِيهِمْ ته شوے دے او دا کنایه ده د سخت خپیمانتیا نه ځکه چه نادم افسوس کوونکے لاس د غم د وجه نه چیچی نو لاسونے په خله کښې ورغورزیږی او زجاج رحمه الله وائی چه معنٰی ئے دا ده چه پښیمانتیا ورغورزیده په لاسونو یعنی زړونو د دوی کښې. (مظهری ص۲۱۲) شاه ولی الله رحمه الله فرمائی چه کله چه پښیمانه شو. (فتح ص۲۱) د شاه صاحب شیخ رحمه الله معنٰی لیکی: او هر کله چه ارتا ذکرے شو هغه د دوی په مخکښی (الفضل الرحیم ص۳۳۳)

ترتیب د واقعې: د پنج پیری شیخ رحمه الله فرمائی د قوم د پښیمانتیا واقعه په اصل کښې هغه وخت را غله چه کله حضرت موسٰی علیه السلام خسی لره

وسوزولو او ایره ئے والوزوله. اصل ترتیب سورة طٰه کښې ص۹۶ نه قوم سره خطاب بیا ص۹۲ نه هارون سره خطاب بیا ص۹۵ نه سامری سره خطاب نو بیا ئے خسے وسوزولو نو په دوی خپله غلطی ښکاره شوه چه دوی شرک کړے او لوئے ظلم ئے کړے او پښیمانه شو. (جواهر ص۳۸۶) ◆

وَلَمَّا رَجَعَ: شتون، واقعه. خَلَفْتُمُونِي: معنیٰ ئې دا ده چه جوړ کړې تاسو زما روستو د تللو نه ما نه، چونکه روستو مِنْ بَعْدِي هم ذکر دے، لهٰذا د خَلَفْتُمُونِي حاصل معنیٰ دا شوه چه جوړ کړے ایجاد کړے تاسو. مِنْ بَعْدِي: د روستو څخه نه. وَ

رَجَعَ مُوسَىٰ إِلَىٰ قَوْمِهِ غَضْبَانَ أَسِفًا ۙ قَالَ

واپس شو موسیٰ (ع) قوم خپل ته غصه ناک، غمژن، وے ویل،

بِئْسَمَا خَلَفْتُمُونِي مِن بَعْدِي ۖ أَعَجِلْتُمْ أَمْرَ

بد دے هغه کار چه جوړ کړے تاسو روستو زما نه، آیا تلوار وکړو تاسو د حکم د

رَبِّكُمْ ۖ وَأَلْقَى الْأَلْوَاحَ وَأَخَذَ بِرَأْسِ أَخِيهِ

رب ستاسو نه، او کېښودے تختې، او وے نیولو سر د ورور خپل،

يَجُرُّهُ إِلَيْهِ ۚ قَالَ ابْنَ أُمَّ إِنَّ الْقَوْمَ اسْتَضْعَفُونِي

راکښلو ئې خان ته، او ویل هغه ای ځویه د مور، یقیناً دے قوم کمزورے کړے وو ما لره،

وَكَادُوا يَقْتُلُونَنِي فَلَا تُشْمِتْ بِيَ الْأَعْدَاءَ

او نزدے وو چه وژلے ئې وے ما لره، پس مه خوشالوه په ما دښمنان،

وَلَا تَجْعَلْنِي مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿١٥٠﴾ قَالَ

او مه ګرځوه ما لره سره د قوم ظالمانو سره نه. وویل موسیٰ (ع)

رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِأَخِي وَأَدْخِلْنَا فِي رَحْمَتِكَ ۖ وَ

ای ربه زما بخښنه وکړه ما ته او ورور زما ته، او داخل کړه مونږ لره په رحمت خپل کښې، او

أَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴿١٥١﴾ إِنَّ الَّذِينَ اتَّخَذُوا

ته ډیر رحم کوونکے ئې د رحم کوونکو نه. یقیناً هغه کسان چه نیولے دے

الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ

سخی (معبود) ئې، زر دے چه رسیږي به دوی ته غضب د طرف د رب د دوی نه او ذلت،

فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ ﴿١٥٢﴾

په ژوند د دنیا کښې، او همدغسې سزا ورکوو مونږ دروغ جوړونکو ته.

وَالَّذِينَ عَمِلُوا السَّيِّئَاتِ ثُمَّ تَابُوا مِن

او هغه کسان چه عملونه کړی بد، بیا توبه وکړي، پس د

بَعْدِهَا وَآمَنُوا إِنَّ رَبَّكَ مِن بَعْدِهَا

دغو نه، او ایمان راوړے وي یقیناً رب ستا، پس د توبې نه،

منزل ۲

أَلْقَى الْأَلْوَاحَ: دلته دا معنیٰ نه ده چه وے غورځولے تختې العیاذ بالله. دا د نبي د شان سره مناسبه نه ده بلکه تهانوي رحمہ الله لیکي چه تختې سره دے یو طرفته کېښودے (بیان القرآن ص ۹۵، معارف ص ۶۷، او شیخ القرآن رحمہ الله به فرمایل چه کېښودو دے تختې قرآن کریم کښې ئے تائید سورة یوسف ص ۷۵ کښې وکوری او کو مسلم شریف ص ۲۸۶ کښې او بیړه د حدیث کښې راغلي چه د غزوه تبوک په سفر کښې نبي علیه السلام اوده شو، لمر رالتو، نو رحمه (؟) او د بلال بیا اوبو لاسونه ئې ترے (؟) دا وینیتل و القی الجنة علی منکبه او کېښوده ئې د اوږه (؟) مشکوة ص ۶۶. وَأَخَذَ بِرَأْسِ أَخِيهِ: او وے نیولو سره د ورور خپل چه راکښلو ئے خان طرفته امام قرطبي رحمہ الله دلته څلور وجې ذکر کړې دي اوله دا ده چه دا متعارف وه د دوي په نزد لکه چه عرب هم داسې چه سره نیږه د ورور او د ملګري نیسي د ییاره د اکرام او د تعظیم لپاره، نو دا په طریقې د دلیل کولو. دوهمه وجه دا ده چه دا کار ئے وکړو چه په جرګه ورسره وکړي د نزول د تختو په روښانتیا الخ (؟) ابن آدم په دیکښې ترجمه دے (شیخ القرآن ص ۲)، وَكَادُوا يَقْتُلُونَنِي: اندلسي رحمہ الله فرمائي چه دا آیت دلیل دے په دے چه هارون علیه السلام پوره کوشش کړے وو د دوي انکار کولو کښې په هغوي باندې سخت (؟)

انکار کولو کښې په هغوي باندې سخت کړدے چه هغوي قصد کړے وو د هغه د وژلو د دوه (کرخی ص ۳۰۳) شیعه امامانو له د پیغمبرانو نه زیات معصوم، مامور من الله او واجب الاطاعة مني. مکر دا دے باوجود په دغه بزرګانو باندې د تنقیص په حقله کښې د اسلام امامانو اقسام احکامو د پیتولو الزام هم لګوي (رجراهی ص ۳۸۹) عمت

سه وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِيْنَ ۱۵۲: مفسرینو رحمہم اللہ لیکلی دی چه سفیان ثوری او عیینه رحمهما الله
فرمائی چه هر څوک بدعت کوی ذلیل به وی (ابن کثیر ۲۴۴، ابن جریر ۳۰، روح ۷۳) په

لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۵۳﴾ وَلَمَّا سَكَتَ عَنْ مُّوْسَى الْغَضَبُ

خامخا بخښونکی مهربان دے ۔ او هرکله چه آرام شو د موسیٰ نه غصه

اَخَذَ الْاَلْوَاحَ ۖ وَفِيْ نُسْخَتِهَا هُدًى وَّرَحْمَةٌ

را واخستے تختے ، او په لیکلے شوی مضمون د هغو کښې هدایت او رحمت وو ،

لِّلَّذِيْنَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُوْنَ ﴿۱۵۴﴾ وَاخْتَارَ

د هغه کسانو دپاره چه هغوی خاص د رب خپل نه ویریږی ۔ او غوره کړه

مُوْسٰى قَوْمَهٗ سَبْعِيْنَ رَجُلًا لِّمِيْقَاتِنَا ۚ

موسیٰ ، د قوم خپل نه ، اویا سړی ، د پاره د وخت ټاکلی زمونږ ،

فَلَمَّآ اَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ قَالَ رَبِّ لَوْ شِئْتَ

پس هرکله چه ونیول دوی لره زلزلے ، وے ویل اے ربه که چرے تا غوښتلے نو

اَهْلَكْتَهُمْ مِّنْ قَبْلُ وَاِيَّايَ ۖ اَتُهْلِكُنَا بِمَا

هلاک کړی به دوی لره مخکښې د دے نه او ما لره ، آیا هلاکوے مونږ ۲ په هغه کار

فَعَلَ السُّفَهَآءُ مِنَّا ۚ اِنْ هِيَ اِلَّا فِتْنَتُكَ ۖ

چه کړے دے بیوقوفو زمونږ نه ، نه دے دا مګر امتحان ستا دے ،

تُضِلُّ بِهَا مَنْ تَشَآءُ وَتَهْدِيْ مَنْ تَشَآءُ ۖ

بے لارے کوے ته په دے چا لره چه وغواړے ، او هدایت کوے چا لره چه وغواړے ،

اَنْتَ وَلِيُّنَا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ

ته مدد ګار زمونږ یے پس بخښنه وکړه مونږ ته او رحم وکړه په مونږ ، او ته

خَيْرُ الْغَافِرِيْنَ ﴿۱۵۵﴾ وَاكْتُبْ لَنَا فِيْ هٰذِهِ

غوره د بخښونکو یے ۔ او ولیکه مونږ لره په دے

الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ اِنَّا هُدْنَآ

دنیا کښې نیکی او په آخرت کښې هم ، بیشکه مونږ رجوع کړے

اِلَيْكَ ۚ قَالَ عَذَابِيْٓ اُصِيْبُ بِهٖ مَنْ اَشَآءُ ۚ

تا ته ، وفرمایل الله عذاب خپل رسوم هغه چا ته چه او غواړم

اَخَذَ الْاَلْوَاحَ (حاشیه ۱۵۴ د مخ): او ظاهر د دے ایت دلالت کوی چه هیڅ حصه د تختونه مات شوے نه وه. (روح، کبیر) د اختیار موسیٰ:
او دوه واقعه: او غوره کړه موسیٰ علیه السلام د خپل قومه اویا کسان. د دولس کورنو نه شپږ شپږ کسان: خو کالب او یوشع ترینه جدا کړه. د دوی استحباب د قوم له طرفه د خپل د عبادت نه غند رغوښتل وو. بیا هم دوی وویل: لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى نَرَى اللّٰهَ جَهْرَةً (۵۵ بقره) نو د الله پاک له طرفه د دوی په دغه دی سوال زلزله راغله او دوی ئے ختم کړه. نو موسیٰ علیه السلام درخواست وکړو نو الله تعالیٰ را ژوندی کړل. (۵۶ بقره)

وَرَحْمَتِيْ وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ (حاشیه د رانلونکی مخ ۲۷۰): مطلب دا دے چه خدا رحمت د یولو نه لوئے او زیات دے او د دے څه انتها نشته او په هر مستحق باندے حاوی دے او دا مطلب نه دے چه هر شی لره شامل دے.

اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ ۱۵۷: په دے ایت کریمه کښې د آخری نبی علیه السلام لس صفات ذکر شوی دی. رسول استاذے، نبی د اوچتے مرتبے والا، امی چه لیکل لوستل نه کوی او یا ام القریٰ ته منسوب دے او یا خپلے مور ته ګویا که په هغه حالت دے چه مور ئے پیدا کړے وو (دګورئ روح مظہری) په معروف به امر کوی او د منکر نه به منع کوی من

مسه خازن لیکی: صـ۳ یعنی چه الله تعالیٰ باندې په ایمان او دهغه په توحید باندې او منع به کوی دَ نمرانه دَ الله تعالیٰ سره او یا معروف هغه دی چه شریعت او سُنت کښې معلوم وی او منکر هغه دی چه شریعت او

وَرَحْمَتِىْ وَسِعَتْ كُلَّ شَىْءٍ ۚ فَسَاَكْتُبُهَا لِلَّذِيْنَ

او رحمت زما، فراخه ده، دَ هر شی ته، پس زر ده چه ومے لیکم هغه دې دپاره

يَتَّقُوْنَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَالَّذِيْنَ هُمْ

د هغه کسانو چه ځان ساتی دَ شرک نه، او ورکوی زکوٰة لره، او هغه کسان چه هغوی

بِاٰيٰتِنَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۵۶﴾ اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ

په ایتونو زمونږ ایمان راوړی - دا هغه کسان دی چه پیروی کوی، دَ رسول،

النَّبِىَّ الْاُمِّىَّ الَّذِىْ يَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ

نبی، اُمی، هغه چه بیا مومی دوی دَ ذکر دهغه لیکلے شوے، دوی سره،

فِى التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِيْلِ ۫ يَاْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ

په تورات کښې، او انجیل کښې، امر به کوی دوی ته، په هره نیکئی،

وَيَنْهٰىهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبٰتِ وَ

او منع کوی به دوی لره، دَ هر بدئی نه، او حلالوی دوی دپاره، پاک څیزونه، او

يُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبٰٓئِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ

حراموی دوی باندې، گنده څیزونه، او لرے کوی به، دَ دوی نه،

اِصْرَهُمْ وَالْاَغْلٰلَ الَّتِىْ كَانَتْ عَلَيْهِمْ ۭ

دَرانه حکمونه دَ دوی، او طوقونه، هغه چه وو، په دوی باندې،

فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِهٖ وَعَزَّرُوْهُ وَنَصَرُوْهُ

پس هغه کسان چه ایمان ئے راوړو په دغه پیغمبر، او تعظیم ئے وکړو دده، او امداد ئے وکړو دده،

وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِىْٓ اُنْزِلَ مَعَهٗٓ ۙ اُولٰٓئِكَ

او تابعداری ئے وکړه دَ هغه رڼا چه نازل شوې ده سره دده باندې، نو دغه کسان،

هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۵۷﴾ قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ

هم دوی کامیاب دی ---- و وایه، اے خلقو!

اِنِّىْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا الَّذِىْ لَهٗ

یقیناً زه رسول دَ الله تعالیٰ یم، تاسو، ټولو ته، دَ هغه الله چه خاص هغه لره

سُنت کښې معلوم نه وی، وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبٰتِ: دلته نسبت دَ تحلیل او تحریم نبی علیه السلام ته شوے حالانکه حراموونکے او حلالوونکے فقط یو الله تعالیٰ دے. لکه چه یو اوږد حدیث دَ مسلم شریف صـ کښې راغلی چه کله خیبر فتح شو او خلق ډیر وږی وو نو ډیر اوګے نه ئے خره خوراک وکړه. پیغمبر علیه السلام وفرمائیل چه بیا دَ دے نه څوک نه خوراک کړی وی پس ټرزړه کیږی مونږ ته په جُمات کښې نو خلقو اوویل اوګه حرامه شوه. حرامه شوه. پس نبی علیه السلام ته خبر راورسید نو پس وے فرمایل اے خلقو! شاتی دا دے نشته مالره تحریم دهغه چه الله تعالیٰ حلال کړی دی لاکن دا یو بوټے دے خه بد گنړم بوئی دَ دے. دَ دے وجے نه دَ پیغمبر شیخ رحمه الله فرمائی چه دا نسبت نبی علیه السلام ته مجازی دے (جواهر صـ۳۰) او شیخ القرآن نور الله مرقده به فرمایل چه بیان دَ حلالوالی دَ طیباتو او دَ حراموالی دَ خبائثو وکړی په دوی باندې.

قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ: په دے ایت کریمه کښې بیان دَ عموم رسالت دے او مسئله دَ توحید ده.

وَمِنْ قَوْمِ مُوْسٰى: د دې خاصې نه اتمه واقعه ده. د واقعې د موسٰی علیه السلام نه او ذکر د نعمتونو د الله تعالٰی دے په بنی اسرائیلو باندې. د یعقوب علیه السلام دولس ځامن وو او د هغو دولسو اولاد دولس قبیلې وې. وَاَوْحَیْنَآ: د انعمتونه هم سورة بقره کښ ذکر شوی دی.

وَاِذْ قِیْلَ لَهُمْ: حاشیه وړاندې شروع شوې: د نعمتونو نه بعد د بنی اسرائیلو د سرکشئ او بغاوت ذکر کړے شوے. د حضرت موسٰی علیه السلام د وفات نه بعد حضرت یوشع علیه السلام د هغوی جانشین شو. د هغوی په قیادت کښ بنی اسرائیلو د شام ملک فتح کړو: نو الله تعالٰی حکم وکړو چه بیت المقدس ښار ته لاړ شئ او هلته چه لاړ شئ نو خشوع سره عبادت وکړئ. د باب نه د بیت المقدس دروازه مراد ده. (جواهر ۲۹۱، بقره ۵۹ وګورئ). وَاسْئَلْهُمْ: د قصو په اختتام کښ تخویف دنیوی د هغه دپاره چه حرام شوی شیونو د حیلو سره د حلال کولو کوشش کوي. (جواهر ۲۹۲) عَنِ الْقَرْیَةِ: د اکثرو

مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ

باچاهي ده د اسمانونو او د زمکې، نشته حق دار د بندګئ بغیر د هغه نه

يُحْيٖ وَيُمِيْتُ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ النَّبِيِّ

ژوندی کوي او مړه کوي، پس ایمان راوړئ په الله او په رسول د هغه، چه نبي دے

الْاُمِّيِّ الَّذِيْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَكَلِمٰتِهٖ وَاتَّبِعُوْهُ

امي دے، هغه چه ایمان لري په الله او په حکمونو د هغه، او تابعداري د هغه وکړئ

لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۵۸﴾ وَمِنْ قَوْمِ مُوْسٰٓى اُمَّةٌ

دپاره د دې چه هدایت یاب شئ. او بعض د قوم د موسٰی نه یو ډله ده چه

يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ ﴿۱۵۹﴾ وَقَطَّعْنٰهُمُ

ښوونه کوي د حق، او په حق سره انصاف کوي. او تقسیم موکړل دوي لره

اثْنَتَيْ عَشْرَةَ اَسْبَاطًا اُمَمًا وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى

دولس کورنئ، ډلې، او وحي مو کړې وه موسٰی

مُوْسٰٓى اِذِ اسْتَسْقٰىهُ قَوْمُهٗٓ اَنِ اضْرِبْ

ته، کله چه طلب د اوبو وکړو د ده نه قوم د ده، چه او وهه

بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ فَانْۢبَجَسَتْ مِنْهُ اثْنَتَا

په همسا خپله د غه کاڼی، پس روانې شوې د هغه نه

عَشْرَةَ عَيْنًا قَدْ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ

دولس چینې، یقیناً وپیژندو هرې ډلې ځائ د څښلو د ځان

وَظَلَّلْنَا عَلَيْهِمُ الْغَمَامَ وَاَنْزَلْنَا عَلَيْهِمُ

او سیوری کړے مونږ په دوي باندې وریځې، او رالیږلی وو مونږ په دوي باندې

الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا

ترنجبین او مړزان او ویل وو مونږ چه خورئ د هغه پاکو نه چه

رَزَقْنٰكُمْ وَمَا ظَلَمُوْنَا وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

مونږ درکړی دی، او نه وو کړے دوي ظلم په مونږ، ولیکن وو دوي چه ځانونو خپلو

منزل ۲

مفسرینو رحمهم الله په نزد د دغه کلي نه ښار د ایلیٰ مراد دے چه د قلزم دریاب په غاړه د مدین او طور په مابین کښ واقع وو (عثمانی ص۲۹۶) د دا واقعه په زمانه د داؤد علیه السلام

کښې وه (قرطبی) کلي واله دریم قسمه شوي وو. یو قسم ښکار کولو. او بل قسم دغه نه منعه کوله او بل قسم نه ښکار کولو او نه یې دغه نه منعه کوله. (فتح الرحمن ص۲۱۸) فائده: دې نه

يَظْلِمُونَ ﴿١٦٠﴾ وَإِذْ قِيلَ لَهُمُ اسْكُنُوا هَٰذِهِ
چه ظلم یې کولو. او کله چه دوي ته وویلې شو. دا ودي ته. او اوسیږئ په دې

الْقَرْيَةَ وَكُلُوا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ وَقُولُوا
کلي کښې، او خورئ د دغه. د کوم ځائے نه مو چه خوښه شي، او وایئ چه (سوال د

حِطَّةٌ وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا نَّغْفِرْ لَكُمْ
د معافئ دے) او داخل شئ دروازه ته عاجزي کوونکي. بخښنه به وکړو تاسو لره،

خَطِيئَاتِكُمْ ۚ سَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٦١﴾ فَبَدَّلَ
د ګناهونو ستاسو. زیاتي به ورکړو نیکي کوونکو ته. پس بدل کړې وا خستنه،

الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ قَوْلًا غَيْرَ الَّذِي قِيلَ
هغه کسانو چه ظلم یې کړے وو د دوي نه. وینا غیر د هغه نه چه وئیلې شوې وه،

لَهُمْ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِجْزًا مِّنَ السَّمَاءِ
دوي ته. پس راولېږلو مونږ په دوي باندې عذاب، د بره نه،

بِمَا كَانُوا يَظْلِمُونَ ﴿١٦٢﴾ وَاسْأَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ
د سبب د هغې چه وو دوي چه ظلم یې کولو. او تپوس وکړه د دوي. د کلي د هغه په باره

الَّتِي كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ إِذْ يَعْدُونَ فِي
کښې چه وو. په غاړه د دریاب، کله چه به زیاتے کولو په ښکار د

السَّبْتِ إِذْ تَأْتِيهِمْ حِيتَانُهُمْ يَوْمَ سَبْتِهِمْ
خالي کښې، کله چه راتلې به دوي ته مهیانې د دوي، په ورځ د خالي د دوي،

شُرَّعًا وَيَوْمَ لَا يَسْبِتُونَ ۙ لَا تَأْتِيهِمْ ۚ
په ډاګه او ښکاره، او کله چه به ورځ د خالي کښې نه وو، نو نه به راتلې دوي ته.

كَذَٰلِكَ نَبْلُوهُم بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿١٦٣﴾
دغه رنګې امتحان کولو مونږ د دوي، په سبب د هغې چه وو دوي فسق کوونکي.

وَإِذْ قَالَتْ أُمَّةٌ مِّنْهُمْ لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا ۙ
او کله چه ووئیل یو ډلې د دوي نه، ولې وعظ کوئ تاسو هغه قوم ته چه

معلومه شوه چه کوم سړي ته حلاله روزي نه ملاویږي او حرامه خواري نو ملاویږي نو هغه یې خود د ده د پاره ازمائښت دے، آخر دغه روزي وبال شي او معلومه شوه چه حیله د الله تعالیٰ په دربار کښې په کار نه راځي (مرقع القرآن ص۱۷۲) د دې نه معلومه شوه چه د احکامو د شریعت د مخالفت د پاره حیلے کول سخت ضد هم دي (مسائل السلوک ص۲۰۵) فائده: بعض عنایونو کښې خلق حیله اسقاط کوي د مړو د پاره او حکمت شرعي پرے باطلوي او د مسکینانو حق غصبوي نو دا ناجائزه ده. اختر په زړه عات (کښې د یې نه خلاف شرع کار روانه دو نه ذکر کړي دي. وګورئ زړه عات د ښت نه تر ص۱۸۱ پورے.

فائده: ټول اکابرین دیوبند رحمهم الله ټولو دغه حیلے ته بدعت او ناجائز وئیلي دي وګورئ رشیدیه ص۱۹۱، اصلاح الرسوم ص۱۳۳، احسن الفتاوي ص۱۲۵، امداد المفتین ص۹۵، دلیل الخیرات ص۷، عزیز الفتاوي ص۲۲۲، خو شیخ القرآن علامه محمد طاهر رحمه الله تعالیٰ د دې په رد کښې بهترین کتاب "النشاط" لیکلے دے. صفه په غور سره مطالعه کړئ.

اَنْجَیْنَا الَّذِیْنَ ١٦٥: حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه الله تعالیٰ وضاحت وکړه په نجات د منع کوونکو او په هلاکت د ظالمانو او چپ شوو چپ پاتې کیدونکو نه ئې جزا. د چپ د عمل نه وي. پس دوی حقدار د مدحې

اللّٰهُ مُهْلِكُهُمْ اَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِیْدًا

الله هلاکوونکی د دوی دی او عذاب ورکوونکی دوی ته عذاب سخت

قَالُوْا مَعْذِرَةً اِلٰى رَبِّكُمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿١٦٤﴾ فَلَمَّا

وویل هغوی: دا عذر پیش کول دي رب ستاسو ته او چه دوی په شي د ګناه. پس هرکله چه

نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖۤ اَنْجَیْنَا الَّذِیْنَ يَنْهَوْنَ

هیر کړه هغه چه پند ورکړے شوے وو هغوی ته. خلاص مو کړل هغه کسان چه منع ئې کوله

عَنِ السُّوْٓءِ وَاَخَذْنَا الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا بِعَذَابٍۭ

د بدئ نه او رانیولي مو هغه کسان چه ظلم ئې کړے وو په عذاب

بَئِیْسٍۭ بِمَا كَانُوْا یَفْسُقُوْنَ ﴿١٦٥﴾ فَلَمَّا عَتَوْا عَنْ

سخت سره په سبب د دے چه وو دوی فسق کول. پس هرکله چه تجاوز ئې وکړو د

مَّا نُهُوْا عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِـِٕیْنَ ﴿١٦٦﴾

هغه چه دوی منع شوي وو د هغه. وویل مونږ دوی ته شئ شادوګان ذلیله.

وَاِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكَ لَیَبْعَثَنَّ عَلَیْهِمْ اِلٰى یَوْمِ

او کله چه اعلان وکړو رب ستا، خامخا به ئې مسلط کړي په دوی باندې تر ورځې د قیامته

الْقِیٰمَةِ مَنْ یَّسُوْمُهُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ ؕ اِنَّ

پورې هغه څوک چه رسوي به دوی ته بد عذاب. یقیناً

رَبَّكَ لَسَرِیْعُ الْعِقَابِ ۖۚ وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ﴿١٦٧﴾

رب ستا خامخا جلد عذاب راولونکے دے، او یقیناً هغه خامخا بخښونکے مهربان دے.

وَقَطَّعْنٰهُمْ فِی الْاَرْضِ اُمَمًا ۚ مِنْهُمُ الصّٰلِحُوْنَ

او ویشلي کړل مونږ دوی په زمکه کښې ډلې ډلې، ځینې د دوی نه نیکان دي.

وَمِنْهُمْ دُوْنَ ذٰلِكَ ؗ وَبَلَوْنٰهُمْ بِالْحَسَنٰتِ

او ځینې د دوی نه بیوا د دے نه دي، او ازمیښت وکړو مونږ د دوی په نیکو سره

وَالسَّیِّاٰتِ لَعَلَّهُمْ یَرْجِعُوْنَ ﴿١٦٨﴾ فَخَلَفَ

او په بدو سره. دپاره د دے چه دوی راوګرځي. .... پس پیدا شو

نه دي. چه عذاب نه وشي او نه ګناه وکړے دا چه د م ګړي خوبره د دے نه یقیناً اعتراف کړے دے ما نو په وکښې چه ایا سره د هلاکیدو نکو د او که د نجات مونډ ونکو نه دي قول دی (١٦٥) سورت بقره کښې تیر شوي دي چه درګړے ورځې ژوندي وو او بیا ختم شو ګر چه د مسخ شوي قوم نسل نه چلیږي د کورنۍ لانه صحیح ایت ١٦٦ نه. په ایت ١٦٧ کښې تخویف دنیوي دے او په ١٦٧ کښې هم دے. په اِنَّ رَبَّكَ لَسَرِیْعُ الْعِقَابِ ١٦٧ د سورة انعام ١٦٥ اخر نه را واخستلو.

وَقَطَّعْنٰهُمْ ١٦٨: په دے ایت کریمه کښې هم ویره د دنیوي ده چه د دغه خیلو نه بعد هم په دوی کښې تخلیط ولے پیدا کړے. او بیا امتحان دے په ختو نو او عذابونو سره.

فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ: د دے ځائے نه تر اخر د سورت پورے دریم باب دے. خلاصه ئې شپږ خبرے دي (١) رد د یو قبیح قول د دوی او جواب ئې په څلور طریقو سره ١٦٩ ١٧٠ ١٧١ (٢) ایتونه متعلق د ډرګے وار دعوی سره ١٧٢، ١٧٣ د اولے سره ١٧٤ د دویمے سره ١٧٥ ډرګے سره (٣) نفي د شرکونو د فی التصرف ١٩١ کښې. د

فی العصمه ١٩٧ کښې. د فی الخ ما ورپه ١٩٨ کښې او نفي د علم غیب د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ١٨٨ کښې. (٤) اداب د بیان په ١٩٩ کښې (٥) ترغیب قرآن ته ٢٠٣ ٢٠٤ کښې (٦) نقلي دلیل د ملائکو نه ٢٠٦ کښې. چه

خَلْفٌ: ناکاره اولاد. عَرَضَ هٰذَا الْاَدْنٰى: چه اخستلو به ئے سامان د کمزورے دنیا. مطلب دا چه حرام مال به ئے اخستلو او وابه ئے ویل چه الله تعالیٰ غفور رحیم دے بخښنه به راته وکړی او بیا به ئے هم اخستلو او توبه به ئے نه ویستله. آلوسی رحمه الله

مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَّرِثُوا الْكِتٰبَ يَاْخُذُوْنَ

روستو د دوی نه، ناکاره اولاد، میراث ئے واخست کتاب لره، اخلی سامان،

عَرَضَ هٰذَا الْاَدْنٰى وَيَقُوْلُوْنَ سَيُغْفَرُ لَنَا ۚ

(حرام مال) د دے کمزوری دنیا، او وائی دوی: زر دے چه بخښنه وکړے شی مونږ ته،

وَاِنْ يَّاْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهٗ يَاْخُذُوْهُ ؕ اَلَمْ يُؤْخَذْ

او که راشی دوی ته سامان د دے په شان د دے، نو هم اخلی هغه لره، آیا نه دے اخستے شوے

عَلَيْهِمْ مِّيْثَاقُ الْكِتٰبِ اَنْ لَّا يَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ

په دوی لوظ کلک د کتاب، چه نه به وائی دوی په الله تعالیٰ باندے

اِلَّا الْحَقَّ وَدَرَسُوْا مَا فِيْهِ ؕ وَالدَّارُ الْاٰخِرَةُ

مګر حقه خبره، او لوستے دی دوی هغه څه چه په کتاب کښی دی، او کور د روستنی

خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ (۱۶۹) وَالَّذِيْنَ

غوره دے د هغه کسانو دپاره چه ځان ساتی د وېرے د الله، آیا د عقل کار نه اخلئ (۱۶۹) او هغه کسان چه

يُمَسِّكُوْنَ بِالْكِتٰبِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّا لَا

منګولے لګوی دی په کتاب د الله تعالیٰ، او ودروی لمونځ لره، یقیناً مونږ به نه

نُضِيْعُ اَجْرَ الْمُصْلِحِيْنَ (۱۷۰) وَاِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ

بربادوو اجر د دا اصلاح کوونکو. او کله چه پورته کړو مونږ غر لره

فَوْقَهُمْ كَاَنَّهٗ ظُلَّةٌ وَّظَنُّوْا اَنَّهٗ وَاقِعٌۢ بِهِمْ ۚ

د پاسه د دوی ګویا که چهتری وه، او یقین ئے وکړو چه یقیناً دا غورځیدونکے دے په دوی،

خُذُوْا مَا اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّاذْكُرُوْا مَا فِيْهِ

واخلئ هغه چه درکړے مونږ تاسو ته په مضبوطیا سره او یاد کړئ هغه چه په دے کښی دی،

لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ (۱۷۱) وَاِذْ اَخَذَ رَبُّكَ مِنْۢ

د پاره د دے چه تاسو تقوی اختیار کړئ... او کله چه واخستله رب ستا د

بَنِيْٓ اٰدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَاَشْهَدَهُمْ

بنی آدم نه، د شا ګانو د دوی نه، اولاد د دوی، او ګواهان ئے کړل،

الوسی رحمه الله: یکی چه مراد په دے سامان حرام مال دے چه دوی به په رشوت سره په فیصلو کښی او په تحریف د کتاب الله باندے اخستو (روح المعانی).

اَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِمْ: د دے ځائے نه د دوی د دے ناکاره قول تردید په ډیر غلو طریقو سره دے (جواهر ص۳۹۶) دا اول وجه د کا حاصل ئے دا دے چه آیا نه دو اخستے شوے په دوی باندے مضبوط لوظ د کتاب د الله تعالیٰ چه نه به وائی په الله تعالیٰ مګر حقه خبره او دوی کتاب کښی درس هم کوی او د هغه احکام لولوی. په ۱۶۹ آخیر کښی ترغیب دے او په ۱۷۰ کښی بشارت دے. وَاِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ: دا دویم رد د دوی په قول باطل باندے مطلب دا چه کېدے تاسے بخښلی شوی یاستئ نو بیا دربانو غر ولے د پاسه نیولے شوے وو. بقره ع۸ هم وګورئ. وَاِذْ اَخَذَ رَبُّكَ: دا د یهودو د باطل قول دریم رد دے چه کېدے بخښلی شوی یاستئ نو د تولو بنیادمو نه خو د ربوبیت لوظ ولے اخستلو. (جواهر ص۳۹۶)

فائده: دا عهد کله اخستے شوے وو. عام مفسرین لیکلی دی چه دا عهد عالم ارواح کښی اخستے شوے وو په دا طریقه چه د حضرت آدم علیه السلام د شا نه ئے د هغه د تمام اولاد روحونه راوویستل او اقرار ئے تربے واخستلو. حضرت شیخ رحمه الله فرمائی چه دا عهد د هر انسان نه د هغه د پیدائش په وخت کښی اخستے شوے دے. دغه وجه ده چه هر کس د خپل فطرت په لحاظ سره موحد پیدا کیږی لکه ارشاد د ربانی دے: فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِيْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا (الروم ۳۰) دغه رنګے په بل ځائے کښی فرمائی: وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَهُمْ زخرف. (جواهر ص۳۹۵) مِنْ ظُهُوْرِهِمْ: دا د مِنْ

سے مِنۢ بَنِیۡۤ اٰدَمَ نه بدل دے. معنیٰ دا شوه او که چې واخستو رب ستا د اولاد د آدم علیه السلام یعنی د
شاګردانو د هغوی نه واتل علیهم روف : د اخذ ذریت وجه د هغوی د باطن تو اوړود کیږدے دوی تختیل شوی

عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوْا بَلٰى شَهِدْنَا

په نفسونو د هغوی (ایا نه یم زه رب ستاسو؟ وویل دوی: ولې نه) ګواهي کوو (چې)

اَنْ تَقُوْلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِنَّا كُنَّا عَنْ هٰذَا

و نه وایئ په ورځ د قیامت یقیناً مونږ وو د دے نه

غٰفِلِيْنَ ﴿١٧٢﴾ اَوْ تَقُوْلُوْٓا اِنَّمَآ اَشْرَكَ اٰبَآؤُنَا مِنْ

ناخبره. او یا و نه وایئ چې یقیناً شرک کړے وو پلارانو زمونږ مخکښې

قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِّنْ بَعْدِهِمْ اَفَتُهْلِكُنَا

د دوی نه، او مونږ اولاد وو روستو د هغوی نه، ایا نو هلاکوې مونږ

بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿١٧٣﴾ وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ

په هغه چې کړی وو باطل پرستو خلقو. او دغسې تفصیل بیانوو مونږ

الْاٰيٰتِ وَلَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿١٧٤﴾ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ

ایتونه، او دپاره د دې چې دوی راوګرځي. او ولوله په دوی باندې

نَبَاَ الَّذِيْٓ اٰتَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَاَتْبَعَهُ

خبر د هغه کس چې ورکړي وو مونږ هغه ته ایتونه خپل پس ووتلو د هغې نه، پس راپسې کړو

الشَّيْطٰنُ فَكَانَ مِنَ الْغٰوِيْنَ ﴿١٧٥﴾ وَلَوْ شِئْنَا

هغه لره شیطان، پس شو هغه د سرکشو نه. او که غوښتلي وو مونږ

لَرَفَعْنٰهُ بِهَا وَلٰكِنَّهٗٓ اَخْلَدَ اِلَى الْاَرْضِ

نو خامخا اوچت کړے به مو وو هغه په دې ایتونو او لیکن هغه مائل شو د ځمکې ته

وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ الْكَلْبِ اِنْ

او روان شو په خواهش خپل پس مثال د هغه په شان د سپي دے، که

تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ اَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ

حمله کوې ته په هغه باندې، هو کیږي، او که پریږدې هغه لره، هو کیږي

ذٰلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا

دغه مثال، د قوم هغه کسانو دے چې دروغ ثابت کړي وو په ایتونو زمونږ

وشه نو د دوی بونیله بعیکلو انسان بلعم بن باعورا یعنی چې وجه په ذلت کښې د لے په پیغ تلو. (بواهر ملا) یعنی بلعم بن باعورا کتب الهیه لوستلی وو. پس د هغه نه په کمراه کولو د بنی اسرائیلو چې د حضرت موسیٰ علیه السلام د ضرر رسولو قصد وکړو نو سلب شو (فتح الرحمن ملا) فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ الْكَلْبِ: پس مثال لے د سپي دے کله چې حمله کوې په هغه، نو هم شړلے نو هو کیږي، هس هس کوي؛ ژبه ئے راوبهلے وي او خوله ځوروی. شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل چې حیوانات تول مطمئن نفس والا وي مګر په حالت اضطراري کښې او سپے هر وخت پریشانه وي هس هس کوي ځکه چې د دې په کلمو کښې هیڅ رګ چې سا ئے بند وي نو لیو لے کیږي. نو دغه رنګے تارک د حق، مشرک، پې عتی هر وخت وږے وي. د بل ولاس، جیب یعحوری انګو مړیږي. فائده ۲: علامه طیبي رحمه الله ذکر کړې دي چې یقیناً بیا چې فکر وکړه په دې مثال او نورو مثالونو بیا چې کیږي شوي په قرآن کښې په حق د مشرکانو او بیانو کښې، د کورو د عنکبوت او په چې د ا نقص او ثابت به شي دا چې نا کاره ملایان چې پرینږ او تشبیه دي د دغو نه الخ (روح چې) او د امثال په قول د چې اهل علمو د تاویل کښې عام دے په هر هغه چا کښې چې قرآن ورکړے شوے وي پس عمل په دې نه کوي (قرطبي ٣٢٣) او شاه صاحب رحمه الله فرمائي چې تابع د شهوات نفساني ته عالم نشي ویلے کیدے. (فتح ملا) یا الله: خما ګناهګار په حال رحم وکړه او د دے مثال مصداق م مه ګرځوه. آمین ثم آمین (خالق) فائده ۳: په دے مثال کښې د دنیا پرست عالم عمل

دَ سپي سره په مشابهت کښې ډير وجوه دي. امام رازي رحمه الله تردينه وجوه ذکر کړي دي تبيين القرآن رحمه الله
په ډ ابن قيم رحمه الله په حواله کښې ے وجې ذکر کړي. الهام الرحمن کښې شپږ ذکر کړي (ص) ي

فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٧٦﴾ سَاءَ

پس بيان کړه دا بيانونه ددې دپاره دوئ چې دوئ فکر وکړي. بد دے

مَثَلًا الْقَوْمُ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَأَنفُسَهُمْ

په مثال کښې قوم هغه کسان چې دروغ ئې وګڼلې آيتونه زمونږ او په ځانونو خپلو

كَانُوا يَظْلِمُونَ ﴿١٧٧﴾ مَن يَهْدِ اللَّهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِي ۖ

وو دوئ ظلم کونکي چا ته چې هدايت وکړي الله پس هغه لاره موندونکے دے

وَمَن يُضْلِلْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿١٧٨﴾ وَلَقَدْ

او چا له چې بے لارې کړي پس دغه کسان دوئ تاوان کونکي دي. او يقيناً

ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ ۖ لَهُمْ

پيدا کړي مونږه دَ جهنم دپاره ډير د پيريانو او انسانانو نه، دي دوئ لره

قُلُوبٌ لَّا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُونَ

زړونه چې نه پوهيږي په هغې سره او دي دوئ لره سترګې چې نه ويني حق

بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَّا يَسْمَعُونَ بِهَا ۚ أُولَٰئِكَ

په هغې او دي دوئ لره غوږونه چې نه اوري حق په هغې سره، دغه کسان

كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ ﴿١٧٩﴾

په شان دَ څاروو دي بلکه دوئ زيات ګمراه دي دغه کسان دوئ غافلان دي.

وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا ۖ وَذَرُوا

او خاص الله لره دي نومونه ښائسته دي پس بلئ الله په هغو سره، او پريږدئ

الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَائِهِ ۚ سَيُجْزَوْنَ

هغه کسان چې کږوږي کوي په نومونو دَ الله کښې، ژر دے چې بدله به ورکړے شي

مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٨٠﴾ وَمِمَّنْ خَلَقْنَا أُمَّةٌ

دَ هغه عملونو چې دوي به کوي. او دَ هغه چا نه چې مونږ پيدا کړي ډله ده

يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِ يَعْدِلُونَ ﴿١٨١﴾ وَالَّذِينَ

چې ښودنه کوي په حق سره او په حق سره انصاف کوي. او هغه کسان چې

مَنْ يَهْدِ اللَّهُ الآية ١٧٨: دا تعلق لري دَ سورت دَ اول دعوے سره او دَ لوم دعوے کښې ذکر دي. وَلَقَدْ ذَرَأْنَا: دا تعلق لري دَ سورت دَ دويمے دعوے سره. فرمائي چې مونږه دَ جهنم دپاره دا مخلوق پيدا کړي دي چې دَ زړونو، سترګو، غوږونو نه فائده نه اخلي بالکل په شان دَ حيواناتو دي دَ حق او دَ باطل څه امتياز ورسره نشته دے بلکه دَ څاروو نه هم زيات بدتر دي.

سوال: دلته فرمائي چې ډير پيريان او انسانان مو دَ جهنم دپاره پيدا کړي دي او سورت ذاريات ٥٦ کښې فرمائي چې ما نه دي پيدا کړي پيريان او انسانان مګر دَ خپلې عبادت دپاره. جواب: دلته غايه تکويني ده. مطلب دا چې کفار مشرکان په کفر شرک باندې وژلي او ايمان نه راوړي نو دَ هغوي پيدائش دَ جهنم دپاره دے. او سورة ذاريات کښې غايه تشريعي ده مطلب دا چې پيريانو او انسانانو دَ پيدائش حکمت په شرع کښې دَ باري تعالى عبادت کول دي کوي او که نه کوي. وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ: امام رازي رحمه الله ليکلي دي وه اقول والله تعالى وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ: ذکر شو يدلے په څلورو سورتونو کښې: اول دا سورت دے، دويم په آخره دَ سورة بني اسرائيل ١١٠ او دريم په اول دَ طه ٨ او څلورم په آخره دَ حشر ٢٤ کښې (کبير). فائده: امام ابو يوسف رحمه الله دَ امام ابو حنيفه رحمه الله نه نقل کوي چې نه دي مناسب

هيچا دپاره چې دعا کوي دَ الله تعالى نه مګر په هغه سره. (در مختار ٦ تاتارخانيه، قدوري) (صيانة الانسان ص)
علامه شامي رحمه الله فرمائي يعني دَ الله تعالى په ذات او دَ هغه په صفاتو او په نومونو دَ هغه ١ منه ٢ او آيت
١٨١ دليل دے چې تر قيامته پورے به په دے امت کښې دَ حق دعوت کونکي موجود وي. او ١٨١ دَ هغه

سه اَولے دَعوے سره تعلق لري او مکا ئے ... : زورنه دمنکر ... يَسْـَٔلُوْنَكَ شوا : (حاشيه د ...
دا زورنه او تخويف دے - د بندې شيخ رحمته فرمائي: چه کله تاسو د قيامت نه ويره وركوئ نو دَ منکرو په

كَذَّبُوا بِاٰيٰتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِّنْ حَيْثُ لَا
دروغ نیولي دي ايتونو زمونږ، زر به ورو ورو بوځو دوي لره، د داسے ځائے نه چه نه
يَعْلَمُوْنَ ۝١٨٢ وَاُمْلِيْ لَهُمْ ۚ اِنَّ كَيْدِيْ مَتِيْنٌ ۝١٨٣
پوهيږي. او مهلت ورکوم دوي ته، يقيناً تدبير زما مضبوط دے.
اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا ۫ مَا بِصَاحِبِهِمْ مِّنْ جِنَّةٍ ۭ اِنْ هُوَ
اَيا دوي سوچ نکوي، نشته په ملګري د دوي ... لیونتوب، نه دے دا
اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝١٨٤ اَوَلَمْ يَنْظُرُوْا فِيْ مَلَكُوْتِ
مګر ويروونکے ښکاره - اَيا دوي نه ګوري، په بادشاهئ د
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ ۙ
اسمانونو، او زمکے کښ، او په هغه کښ چه پيدا کړي الله ده، د هر څه شي نه،
وَّاَنْ عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ قَدِ اقْتَرَبَ اَجَلُهُمْ ۚ
او په دے چه يقيناً، وي به چه نزدے راغلے وي، نيټه د دوي،
فَبِاَيِّ حَدِيْثٍۢ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ ۝١٨٥ مَنْ يُّضْلِلِ
پس په کومه خبره به، پس د قران نه، دوي ايمان راوړي. چا لره چه لار ورکه کړي
اللّٰهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ ۭ وَيَذَرُهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ
الله نو پس نشته لار ښودونکے هغه لره، او پريږدي دوي لره په سرکشئ د دوي کښ چه
يَعْمَهُوْنَ ۝١٨٦ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ
ډانډه په سرګردانه ګرځي. تپوس کوي تا نه، د قيامت په باره کښ، چه کله به وي
مُرْسٰىهَا ۭ قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّيْ ۚ لَا يُجَلِّيْهَا
قائميدل د هغے، ووايه يقيناً علم د قيامت خاص زما ربسره دے، نه ښکاره کوي هغے لره
لِوَقْتِهَآ اِلَّا هُوَ ۘ ثَقُلَتْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ
په وخت د هغے کښ، مګر هو الله، دروند خبره ده په اسمانونو او زمکه کښ،
لَا تَاْتِيْكُمْ اِلَّا بَغْتَةً ۭ يَسْـَٔلُوْنَكَ كَاَنَّكَ حَفِيٌّ
نه به راځي تاسو ته مګر ناڅاپه، تپوس کوي تا نه، ګويا که ته پلټنه کونکے ئے

(بين السطور: نه دے غني د نبي ... دعوى ... د قرآن ...)

خائے الله د صدق او عناد د وجے نه په سوال کولو کښ لګي چه قيامت به راځي کله؟ نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه د قيامت د علم نفي په او څرګند شوے ده (جواهر ...) ثَقُلَتْ: دروند شوے دے قيامت. خازن رحمه الله ليکي يعني دروند شوے امر د قيامت او مخفي شوے دے په اسمانونو او زمکه والو بانديو. پس هر شے چه پټ وي پس هغه دروند وي. (خت ... ١٥) كَاَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا: قرطبي رحمه الله په ... ٣٤٣ کښ فرمائي يعني خبر ئے په قيامت او ښه تپوس کونکے ئے د دے په باره کښ. ابن فارس رحمه الله وائي چه الحفي عالم په شي باندي او مبالغه کونکے په تپوس کښ وي ٭

قُلْ لَّاۤ اَمْلِكُ: (حاشيه د الوکي ... ٣): الوسي رحمه الله فرمائي چه دا ايت چليدلے دے د باره د اثبات د عجز د نبي صلى الله عليه وسلم د علم د قيامت نه په کامله توګه سره (روح ...) اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ: لاکن هغه چه وغواړي الله تعالى - دا استثنا منقطع ده (ابو السعود ...) وَلَوْ كُنْتُ: او که چرے وے زه چه په غيبو پوهيدلے نو خامخا ډيره به مې حاصل کړے وے خير د دنيا او نه به رسيدلے ما ته څه تکليف. مطلب دا دے چه د خير نه

مراد دنياوي خير دے چه هغه مال دے او ترتيب د اسبابو او دفع د موانعو ده او هر چه اخرت دے نو هغه خو نبي عليه السلام ته په تمامه او کامله توګه حاصل وو - او د سوء نه مراد دنيوي

تکالیف دی. وګورئ جواهر ص۳۹۵، روح ص۱۳۰. هُوَ الَّذِیْ ص۱۱۹: دا آیتونه ذو وجهین او د دریمې وجې سره تعلق لري. دا آیت مشکل دے. ولهٰذا ورے تفسیر ونه وی. ځیرو د اکثرو مفسرینو چه عبدالصمد د عمر بن

عَنْهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ اللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ

د هغې نه، ووایه: یقیناً علم د قیامت خاص دے نزد د الله تعالیٰ، او لیکن زیات

النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨٧﴾ قُلْ لَّا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا

خلقو نه په دې نه پوهیږي. ووایه: نه یم واکدار زه د نفس خپل د هیڅ نفع

وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ ۚ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ

او نه د ضرر، لیکن هغه چه خوښ وي الله تعالیٰ، او که چرې وے زه چه پوهیدے په غیبو نو به

لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ ۚ إِنْ أَنَا

خامخا ما ډیر حاصل کړي وے خیره د دنیا، او نه به رسیدلے ما ته تکلیف، نه یم زه مګر

إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿١٨٨﴾ هُوَ الَّذِي

مګر ویروونکے او زیرے ورکوونکے د هغه قوم چه ایمان لري. ځکه الله هغه ذات دے چه

خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا

پیدا کړي تاسو لره د یو نفس نه، او پیدا کړې یې د جنس د هغه نه جوړه د هغه

لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا ۖ فَلَمَّا تَغَشَّاهَا حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِيفًا

چه آرام حاصل کړي هغه سره، پس کله چه نژدې شو هغه ته حمل یې واخست حمل سپک

فَمَرَّتْ بِهِ ۖ فَلَمَّا أَثْقَلَت دَّعَوَا اللَّهَ رَبَّهُمَا لَئِنْ

پس تله راتله کوله په هغه سره، پس هر کله چه درنه شوه، نو دعا او کړه دواړو د رب خپل که چرې

آتَيْتَنَا صَالِحًا لَّنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ ﴿١٨٩﴾ فَلَمَّا

راکړے تا مونږ ته روغ صورت بچے نو خامخا به شو مونږ د شکر کوونکو نه. پس هر کله چه

آتَاهُمَا صَالِحًا جَعَلَا لَهُ شُرَكَاءَ فِيمَا آتَاهُمَا ۚ

ورکړو دواړو ته روغ بچے، وګرځول دواړو د الله لره شریکان په هغه کښې چه ورکړے دے الله دوی ته

فَتَعَالَى اللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿١٩٠﴾ أَيُشْرِكُونَ مَا

پس لوی دے الله د هغه چه دوی ورسره شریکوي. آیا شریکوي دوی هغه چا لره چه

لَا يَخْلُقُ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ ﴿١٩١﴾ وَلَا

نه شي پیدا کولے هیڅ شے، او دوی پیدا کړے شوي دي ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ او طاقت

ابراهیم د قتادة د ۲۳ نه د حسن د سمرة رضی الله عنه نه نقل کړي دي د نبي صلی الله علیه وسلم نه چه حوا رضی الله عنها بچي نه پاتے کیدل نو شیطان ورته وویل چه عبدالحارث نوم ورله کیږده نو پاتے به شي او حارث د شیطان نوم دے. د ترمذی ۲ په کتاب التفسیر کښې ذکر کړیدی او نورو مفسرینو رحمهم الله هم، لاکن حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه دا حدیث معلول دے په دریو طریقو سره. یو دا چه عمر شوق د ابراهیم بصري دے اګرچه توثیق کړے امام ابن معین کړے دے لاکن ابو حاتم رازی ۲ وائي چه حجت پرے نشي پیش کیدے. دوېم دا چه دا مرفوع حدیث نه دے د سمرة ۲ قول دے. دریم دا چه حسن بصري رحمه الله په خپله ددے آیت تفسیر په بل طریقه سره کوي. که چرے دا روایت د سمرة نه د هغه په نزد ثابت وے نو عدول به ئے ترینه نه کولے (رضی الله عنه) چونکه په دغه واقعه کښې نسبت د شرک آدم علیه السلام ته دے لهٰذا دا صحیح نه دے. مفسرینو رحمهم الله په دے رد کړیدے. وګورئ روح ص۱۴۳، مرغوب ص۲۲۲، جواهر ص۱۵۲، مدارک ص۸، ابوالسعود ص۲۳۲، بیضاوی ص۲۶، مناجی ص۲۳ .

دریم تفسیر محققینو کړے دے چه لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا پورے دا آدم او حوا علیهما السلام بیان دے او بیا د خبرے مخ د دنیا د مور طرف ته ګرځولے شوے دے او د تثنیې د صیغو نه ئے په اولاد کښې مشرک سړے او ښځه مراد دي. دریم تفسیر د شیخ المشائخ مولانا حسین علی رحمه الله دے چه د ضمیر نفس واحده نه مرا د سړے دے او د مِنْهَا نه مراد مِن جِنْسِهَا دے یعنې تاسے تول نے د خپل پلار نه پیدا کړي یئ او د هغه جوړه ئے د هغه د جنس نه پیدا کړے ده. (جواهر ص۲۹۰) حاصل دا چه

سره چه ورشریکوی . يُشْرِكُونَ دَ جمع صيغې راتلل دليل دے په دے چه آدم او حوا عليهم السلام ذوالعه
شرکي نوم ايخودونکي نه بري دی . تَعَالَى : ولاد . يَجِي ، روح رحمته وَ إِلَى مثل خوَهشُم ، (حاشيه ذوشې صبغ)

يَسْتَطِيعُونَ لَهُمْ نَصْرًا وَّلَا أَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُونَ ﴿١٩٢﴾

نه لري دوی ، دَ شرکانو دپاره دَ امداد ، او نه خپلو ځانونو سره امداد کولے شي -

وَإِنْ تَدْعُوهُمْ إِلَى الْهُدَى لَا يَتَّبِعُوكُمْ سَوَاءٌ

او که تاسو رابلئ دَ شرکانو طرف دَ هدايت ته ، نو تابعداري به ستاسو ونه کړي ، برابر دي

عَلَيْكُمْ أَدَعَوْتُمُوهُمْ أَمْ أَنْتُمْ صَامِتُونَ ﴿١٩٣﴾ إِنَّ

په تاسو ، آيا رابلئ تاسو دوی ، او که تاسو چپ ياست ، بيشکه

الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ

هغه چه ، تاسو يې بلئ سوا دَ الله نه ، بندګان دي ستاسو غوندې (مخلوق)

فَادْعُوهُمْ فَلْيَسْتَجِيبُوا لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٩٤﴾

پس رابولئ دوی ، پس قبوله دې کړي دوی ستاسو دعا ، که چرې ياست رښتوني -

أَلَهُمْ أَرْجُلٌ يَمْشُونَ بِهَا أَمْ لَهُمْ أَيْدٍ يَبْطِشُونَ

آيا دوی لره پښې دي چه ګرځي په هغو ، آيا دوی لره لاسونه دي چه نيسي ، که

بِهَا أَمْ لَهُمْ أَعْيُنٌ يُبْصِرُونَ بِهَا أَمْ لَهُمْ آذَانٌ

په هغو ، آيا دوی لره سترګې دي چه ليدل کوي په هغو ، آيا دوی لره غوږونه دي

يَسْمَعُونَ بِهَا قُلِ ادْعُوا شُرَكَاءَكُمْ ثُمَّ كِيدُونِ

چه اوريدل کوي په هغو ، ووايه رابولئ شريکان خپل ، بيا تدبير وکړئ ماته ،

فَلَا تُنْظِرُونِ ﴿١٩٥﴾ إِنَّ وَلِيِّيَ اللَّهُ الَّذِي نَزَّلَ

پس مهلت مه راکوئ ماته - يقيناً امداد دی زما الله هغه ذات دے چه رالېږلے يې دے

الْكِتَابَ وَهُوَ يَتَوَلَّى الصَّالِحِينَ ﴿١٩٦﴾ وَالَّذِينَ

کتاب ، او هغه مدد کوي نيکانو لره . او هغه کسان چه

تَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَكُمْ

تاسو يې بلئ ، سوا دَ هغه نه ، طاقت نه لري ، دَ مدد کولو ستاسو ،

وَلَا أَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُونَ ﴿١٩٧﴾ وَإِنْ تَدْعُوهُمْ

او نه خپلو ځانونو سره مدد کولے شي - او که چرې تاسو رابولئ دوی لره ،

خطاب مشرکانو ته دے صحيح
نه دا ده کيږي را وبلئ تر څو
خپل . يا خطاب مسلمانانو ته دے
او صحابه کرامو ته په ده وسره
متبع دا شوه چه کيږي او بلئ
دا مشرکان طرف دَ هدايت ته
او په دے ايتونو کښې نفي
دَ شرک في الدعاء ده او دفع
دَ شبهه سره تعلق ساتي . په
ايت ١٩٢ کښې ورسره نفي دَ
شرک في التصرف ده او په
ايت ١٩٥ ، ١٩٦ کښې هم رد دَ
شرک في الدعاء دے .

خُذِ الْعَفْوَ ١٩٩ ، (حاشيه
دَ راتلونکي مخ منه) ، دَ دے
ځائے نه آداب دَ مبلغ دی .
په دے ايت کښې درے آداب
په ١٩٩ کښې څلورم ادب ،
٢٠٠ کښې پنځم ، په ٢٠١ کښې شپږم
په ٢٠٢ کښې اووم او اتم او
په ٢٠٣ کښې نهم او لسم ادب ،
جعفر صادق رحمه الله فرمائي چه
نشته په قرآن کښې ډيره ايت
جامع په جامع توګه دے
شو خو ډيونو دله (قرطبي ج٧ ص٣٤٤)
نزغ : وسوسه . طَائِفٌ : دَ دے
مراد هم وسوسه ده . وَ
إِخْوَانُهُمْ : او ورونه دَ
شيطانانو چه فاجران انسان
دي . مرسته کوي دَ دوی سره
شيطانان په سرکشۍ کښې .
(قرطبي ج٧ ص٣٥٣) ، وَإِذَا لَمْ تَأْتِهِمْ :
په دے ايت کښې زجر دے
په فرمائشي معجزو غوښتلو
باندے . وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ ،
ترغيب دے قرآن ته او آداب دی . امام احمد رحمه الله فرمائي چه اجماع کړي ده خلقو چه دا ايت دَ
مانځه په باره کښې دے (مظهري ج٣ ص٤٤٥) امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائي چه اجماع ده په

وشه چه دا ایت نازل شو په باره د ماښځه کښې او اجماع ئے ذکر کړیده په دے — هاں چه قرأت په مقتدی واجب نه دے په حالت د جهری مانځه کښې (الفتاوی ابن تیمیه ص) امام قرطبی رحمه الله فرمائی چه صحیح دا دے چه دا عام دے په باره د خطبے او مانځه کښې (ص) د بنوری شیخ رحمه الله فرمائی چه احناف د دے ایت نه دلیل نیسی چه د امام نه روستو په ټولو جهری او سری مونځونو کښې مقتدی له قرأت لوستل جائز نه دی، نه سورة فاتحه او نه بل سورت ځکه چه په دے ایت کښې د لوستلو د قرأت په وخت کښې دوه حکمونه ورکړے شوی دی: اول فاستمعوا له یعنی په غور سره غوږ ونیسئ یعنی کله چه امام جهری قرأت وائی. دویم وانصتوا: یعنی خاموش وسیږئ، دا په هغه وخت کښې چه کله امام ورو قرأت وائی (جواهر القرآن ص) واذکر ربک: دا امام دے په ټولو اذکارو، قرأت او دعا گانو او نورو کښې. (سراج منیر ص) خطاب یکښې نبی علیه السلام ته دے او اهل علم یکښې نور امت د هغه هم ځکه چه دا امام دے ټولو مکلفینو له. (خازن ص) ان الذین: (حاشیه د راتلونکی مخ ملاحظه) دلیل نقلی د ملائک علیهم السلام نه او د عند ربک نه مراد دا دے چه نزدے دی الله تعالی ته په مرتبه کښې او د هغه په رضاء کښې. (روح ص۱۵۵) ❊

إِلَى الْهُدَىٰ لَا يَسْمَعُوا ۖ وَتَرَاهُمْ يَنظُرُونَ

طرف د هدایت ته، نو دوی نه اوری، او وبه وینې ته دوی لره، چه گوری په

إِلَيْكَ وَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ﴿١٩٨﴾ خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ

تا ته، او دوی هیڅ نه وینی. (او واخله معافی لره، او امر کوه)

بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ ﴿١٩٩﴾ وَإِمَّا

په نیکئ، او مخ واړوه د جاهلانو نه. او که چرے

يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ ۚ

خامخا ورسیږی تا ته د شیطان نه څه وسوسه، پس پناه غواړه په الله تعالی،

إِنَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٠٠﴾ إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَوْا إِذَا مَسَّهُمْ

یقینا هغه اوریدونکے او پوهه دے. یقینا هغه کسان چه پرهیزگاری کوی کله چه ورسیږی دوی ته

طَائِفٌ مِّنَ الشَّيْطَانِ تَذَكَّرُوا فَإِذَا هُم مُّبْصِرُونَ ﴿٢٠١﴾

څه وسوسه د شیطان نه، نو یادوی (الله) دوی، پس ناڅاپه دوی صحیح لیدونکی وی.

وَإِخْوَانُهُمْ يَمُدُّونَهُمْ فِي الْغَيِّ ثُمَّ لَا يُقْصِرُونَ ﴿٢٠٢﴾ وَ

او ورونه د دوی، مدد کوی شیطانان د دوی لره په سرکشئ کښې بیا دوی کمے نه کوی (په گمراهئ کې)

إِذَا لَمْ تَأْتِهِم بِآيَةٍ قَالُوا لَوْلَا اجْتَبَيْتَهَا ۚ قُلْ

او کله چه نه راوړے ته دوی ته یو معجزه نو وائی ولے دے نه ده جوړه کړے، ووایه

إِنَّمَا أَتَّبِعُ مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ مِن رَّبِّي ۚ هَٰذَا بَصَائِرُ

یقینا تابعداری کوم زه، د هغه څه چه وحی کیږی ما ته د طرف د رب زما نه، دا قرآن د بصیرت خبرے دی

مِن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠٣﴾ وَ

د طرف د رب ستاسو نه او هدایت او رحمت دے، د هغه قوم د پاره چه ایمان لری. او

إِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا

کله چه لوستلے شی، قرآن، پس غوږ کیدی ئ، د هغه ته، او چپ شئ،

لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٢٠٤﴾ وَاذْكُر رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ

د پاره د دے چه په تاسو رحم وکړے شی. او یادوه، رب خپل، په زړه خپل کښې،

امتیازات: (۱) تشریح واقعات د انبیاء علیهم السلام (۲) بیان د اعراف والو ص۲ نه (۳) واقعه تفصیلی د موسی علیه السلام (۴) واقعه د اصحاب سبتو ص۱۶۳ (۵) رد د شرک فی التسمیه ص۱۸۹ ❊ (الحمد لله سورة اعراف په ورځ د جمعې ۳ بجے ۵ جمادی الاولی ۱۴۲۵ھ ختم شو) ❊ او نظر ثانی تصحیح بروز سه شنبه بعد از ظهر ۲ جمادی الثانیه ۱۴۲۶ھ وشو. فالحمد لله علی ذلک. خاکی غفرله.

تسمیه: لفظ دَ انفال په اول آیت کښې دَ دے ځائے راخلے وے. **دعوے:** ترغیب قتال فی سبیل الله ته دَ پاره دَ دفع دَ شرک په ملت کښې او ذکر دَ قواعد و دَ جهاد د حفظ الحدود ملت، أولیٰ دعویٰ الانفال لله والرسول (۲) من یطونه؟

تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ

په عاجزۍ، او ویره سره، او ښکته دَ زوره دَ وینا نه،

بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ وَلَا تَكُن مِّنَ الْغَافِلِينَ ﴿٢٠٥﴾

په سحر او بیګاه کښې، او مه کیږه دَ غفلت کوونکو نه.

إِنَّ الَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ

یقیناً هغه کسان چه نزدې دي په دربار دَ رب ستا کښې، لوئي نکوي دَ عبادت

عِبَادَتِهِ وَيُسَبِّحُونَهُ وَلَهُ يَسْجُدُونَ ﴿٢٠٦﴾

دَ هغه نه، او پاکي بیانوي هغه لره او خاص هغه ته سجده کوي.

سُورَةُ الْأَنفَالِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ خَمْسٌ وَسَبْعُونَ آيَةً وَعَشْرُ رُكُوعَاتٍ

سورة انفال مدینه کښې نازل شوی دی (۷۵) آیتونه او لس (۱۰) رکوعګانې دي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنفَالِ قُلِ الْأَنفَالُ لِلَّهِ

تپوس کوي دوی ستا نه دَ غنیمتونو په باره کښې، او وایه غنیمتونه الله لره دي

وَالرَّسُولِ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ

او رسول ﷺ لره دي، پس ویریږئ دَ الله نه، او اصلاح وکړئ په منځ خپل کښې،

وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١﴾

او اطاعت وکړئ دَ الله او دَ رسول ﷺ دَ هغه، که چیرې یئ تاسو ایمان لرونکي.

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ

یقیناً مؤمنان، هغه کسان دي چه کله یاد کړے شي الله نو ویریږي

قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ

زړونه دَ هغوی، او کله چه ولوستے شي په دوی باندې آیتونه دَ هغه، زیات کړي دوی لره

إِيمَانًا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٢﴾ الَّذِينَ

ایمان، او خاص په خپل رب باندې، توکل کوي. دوی هغه کسان دي چه

هر کله چه دَ سره دَ توحید ثابته شوه په مخکښو سورتونو کښې په عقلي نقلي دلائلو سره نو اوس دلته ذکر دَ قتال ته دَ پاره دَ دفع دَ شرک او خوږو لو دَ ترغیب (۲) هر کله چه مقاصد په مخکښو سورتونو ذکر شو او سورة اعراف پورے ختم شو نو دلته قواعد مؤسسه دَ جهاد ذکر کولے شي دَ پاره دَ بلندۍ دَ اسلام او عزت دَ دے امت. (۳) اعراف کښې شپږ واقعات ذکر شو دلته شپږ قواعد په لفظ دَ یٰایها الذین آمنوا سره. (۴) اعراف کښې دَ پخوانو پیغمبرانو ذکر سره دَ قومونو خپلو سره ذکر شو په دے سورت کښې ذکر دَ نبي علیه السلام سره دَ امت خپل نه (۵) هلته امر شوے په اوریدلو دَ قرآن نو دلته حال دَ مؤمنانو دے په وخت دَ اوریدلو دَ قرآن کښې.

خلاصه: دا سورت دوه حصے دے اوله تر رکوع پورے، دویمه تر اخره پورے. او اوله کښې دوه بابه اول باب تر ۱۵ پورے، دې کښې څلور امور (۱) دعوی دَ تقسیم دَ غنیمتونو (۲) پنځه صفات دَ مؤمنانو سره دَ بشارت نه (۳) هیڅ ملتونه دَ پاره دَ دعوے: ۵-۶-۷-۸ (۴) اول قاعده ۱۵.

يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنفَالِ: — **تشریح:** غنیمت په جنګ سره حاصل شوے وي. فئ چه بے جنګه حاصل شوے وي. نفل عام دے نفل وائي زائد شي ته. نو معلومه شوه چه مقصود دَ جهاد نه اعلاء دَ کلمة الله ده او غنیمت زائد شے دے. (انفل التراجم ملخصاً)، **فائده:** په دے سورت کښې حالات دَ غزوه بدر دي چه هغه په دویم کال دَ هجرت دَ رمضان په میاشت کښې وو په هغه کښې درے سوه دیارلس صحابه کرام وو او تقریباً زر کسان کافران وو. په دے غزوه

کښ اوکېن مؤمنانو فتح حاصل کړه او ډېر غنیمتونه ئې په لاس راغلل هر کله چه د غنیمتونو باره کښې د یو شئ حکم شرعي نه ؤ نو دا وو چه نه دوی په مینځو کښې اختلاف راغې. بیا وو وله ورته چه هغې جنګ کړې دی

يُقِيمُونَ الصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ③

قائموي مانځه لره، او بعض د هغه نه چه ورکړي مونږ دوئ لره، خرچ کوي.

أُولَٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا ۚ لَّهُمْ دَرَجَٰتٌ عِندَ

دغه کسان خاص دوي، مؤمنان دي، په حقه توګه، دوي لره درجې دي په نزد

رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ④ كَمَآ أَخْرَجَكَ

د رب د دوي او بخښنه ده، او رزق عزتمند دے. لکه چه راوویستے وے تا لره

رَبُّكَ مِنۢ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنَ

رب ستا، د کور ستا نه، په حقه سره، او یقینا یوه ډله، د

الْمُؤْمِنِينَ لَكَٰرِهُونَ ⑤ يُجَٰدِلُونَكَ فِى الْحَقِّ

ایمان داروند، خامخا ناخوښه وو (طبعا)، بحث کوي دوي تا سره په حق خبره کښې،

بَعْدَ مَا تَبَيَّنَ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى الْمَوْتِ

پس د هغه نه چه واضح شو لکه چه دوي چلولي شو، مرګ طرف ته،

وَهُمْ يَنظُرُونَ ⑥ وَإِذْ يَعِدُكُمُ اللَّهُ إِحْدَى

او دوي ورته ګوري. او کله چه وعده کوله تاسو سره الله تعالی، د یوې

الطَّآئِفَتَيْنِ أَنَّهَا لَكُمْ وَتَوَدُّونَ أَنَّ غَيْرَ

د دواړو ډلو نه، چه دا به ستاسو لپاره وي، او تاسو خوښوله چه یقینا، غیر

ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُونُ لَكُمْ وَيُرِيدُ اللَّهُ أَن

د اسلحې والا، شي تاسو لره، او اراده لري الله تعالی، چه

يُحِقَّ الْحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَيَقْطَعَ دَابِرَ الْكَٰفِرِينَ ⑦

ثابت کړي حق لره په حکمونو خپلو، او بېخ کړي، ځوټ، د کافرانو.

لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَٰطِلَ وَلَوْ كَرِهَ

چه غالب کړي حق لره، او برباد کړي باطل لره، او اګرچه بد ئې ګڼړي،

الْمُجْرِمُونَ ⑧ إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ

مجرمان کافران. کله چه فریاد کولو تاسو، رب خپل ته، پس قبول ئې کړه

منزل ٢

هغې وويل دا زمونږ د حق دے او دويمه ډله چه هغوي د جنګ کښې نه روستو ولاړ وو په نیت د امداد کولو. هغې وویل چه په رکښې زمونږ هم حصه ده او دریمې ډلې چه هغې د رسول الله صلی الله علیه وسلم حفاظت کولو او هغې هم د حصې دعوی کوله نو الله تعالی په دے اول ایت کښې وفرمایل چه تقسیم د غنیمتونو ستاسو اختیار کښې نه دے، نو د کورنئ د اختلاف نه ځان وساتئ او د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم د حکم مطابق ئې تقسیموی (احسن الکلام ص۳۶۳) تفصیل ئې ایت ۴۱ کښې دے. قُلِ الْأَنْفَالُ لِلّٰهِ: الوسی رحمه الله فرمائي چه مراد په دے سره خاص والے د امر او د حکم د غنیمت په الله تعالی او په رسول د هغه پورے دے. پس تقسیموی به نبي صلی الله علیه وسلم څنګه چه رضا د الله تعالی امر کوي په هغې دے. نه چه داخل شي پکښې رائے د چا (روح ص۱۶۴) وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ: چه عاجزه شي او ویرېږي او نرم شي زړونه د دوي (خازن ص۱۵۳) وګوري ص۴۵ ج۱۰ زمر رقم ماتن. زَادَتْهُمْ إِيمَانًا: ایمان دوه قسمه دے. یو ایمان مطلق دے چه هغه صرف یقین د زړه دے. په هغه کښې زیاتوالے یا نقصان راتلل اختلافي مسئله ده او دویم ایمان متین دے یعنې سره د عمل نو په هغې کښې زیاتے کمے راتلل په سبب د زیاتوالي د عمل او د نقصان د عمل اتفاقي خبره ده. ظاهره دا ده چه په دے ایت کښې دویم قسم ایمان مراد دے. (احسن الکلام ص۳۶۵) كَمَا أَخْرَجَكَ: (حاشیه دوم ص۳۶۴) دا حالت اول دے چه غنیمت حق د الله تعالی دے څنګه چه دا کار د نه خو الله تعالی کړی وو چه سبب د غلبې وو. (نقل التراجم ص۳۰۴) مولانا حسین علی رحمه الله فرمائي چه کاف د تعلیل د پاره دے (جواهر) يُجَادِلُونَكَ فِي الْحَقِّ: جګړه کوي تا سره په باطل بنګاره او د اقتحه

مصیبت کښې (ابراهیم) غَیْرَ ذَاتِ الشَّوْکَةِ: غیر اسلحې والا۔ اسلحې ته شوکت (ښکته) ځکه وائي چه تېره وي معنی
داشوه چه مینه ساتئ چه ملاؤ شي ډله چه لږه سره وي چه اسلحه ورسره نشته چه هغه قافلې والا دي۔ (تسهیل ص ۲)

لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُمْ بِأَلْفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُرْدِفِينَ ﴿٩﴾
ستاسو د پاره چه یقیناً زه امداد کوونکے یم ستاسو په زرو ملائکو سره چه روان به وي پسې یو بل پسې۔

وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ إِلَّا بُشْرٰى وَلِتَطْمَئِنَّ بِهٖ قُلُوبُكُمْ
او نه دے ګرځولے دا امداد الله تعالیٰ مګر زیرے او د دې د پاره چه کلک شي پرې زړونه ستاسو،

وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ إِنَّ اللّٰهَ عَزِيزٌ
او نشته امداد مګر د طرفه د الله تعالیٰ نه، یقیناً الله غالب زورور او

حَكِيمٌ ﴿١٠﴾ إِذْ يُغَشِّيكُمُ النُّعَاسَ أَمَنَةً مِّنْهُ وَ
حکمت والا دے۔ کله چه پټوله ئې په تاسو لږه خوب، د امن د پاره د طرف د خپل نه او

يُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً لِّيُطَهِّرَكُمْ بِهٖ
رالېږلے ئې په تاسو باندې د بره نه اوبه، چه پاک کړي تاسو لره په هغه سره

وَيُذْهِبَ عَنْكُمْ رِجْزَ الشَّيْطٰنِ وَلِيَرْبِطَ عَلٰى
او لرې کړي له تاسو نه پلیتي د شیطان، او چه ټینګ ولګوي په

قُلُوبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ الْأَقْدَامَ ﴿١١﴾ إِذْ يُوحِي رَبُّكَ
زړونو ستاسو او مضبوط کړي په سبب د دې قدمونه ستاسو، کله چه وحي کوله رب ستا،

إِلَى الْمَلٰٓئِكَةِ أَنِّي مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِينَ
ملائکو ته چه یقیناً زه ستاسو سره یم پس کلک کړئ هغه کسان چه

اٰمَنُوا سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا
ایمان ئې راوړے دے، زه به واچوم په زړونو د هغه کسانو کښې چه کفر ئې کړے دے،

الرُّعْبَ فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ وَاضْرِبُوا
وېره، پس وهئ بره د څټونو نه، او ووهئ

مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ ﴿١٢﴾ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَاقُّوا
د دوی نه هر بند د ګوتو۔ دا په دې وجه چه یقیناً دوی خلاف کړے

اللّٰهَ وَرَسُولَهُ وَمَنْ يُّشَاقِقِ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ
د الله تعالیٰ او د رسول د هغه، او څوک چه خلاف کوي د الله تعالیٰ او د رسول د هغه

ع ۱۰
۱۵

فائده ۱: په غزوه بدر کښې د قافله د ابوسفیان نه وه چه د تجارت د پاره شام ته تلې وه، او واپس راتله۔ د مدینې منورې نه چه مخوا کښې په ساحل د سمندر باندې او هغوي سره سامان د تجارت وو او سامان ئې چنګ وو۔ او دوي ته لښکر د ابوجهل وو چه پوره تیارے ئې کړے وو د پاره د جنګ او مقام بدر ته د جنګ د پاره راورسیدلو او دوي سره اسلحې د جنګ ډېرې وې۔ (احسن الکلام ص ۱۳) إِذْ تَسْتَغِيثُونَ: مطلب ئې کښې دي چه د دعا په وخت يَا غِيَاثَ الْمُسْتَغِيثِينَ أَغِثْنَا۔ وَمَا النَّصْرُ: (حاشیه ده ص) او نه دے امداد مګر د طرفه د الله تعالیٰ نه چه تفسیر سراج المنیر ج ۲ کښې دي چه نه دے بل چا د طرف نه بیرو روح المعاني ج ۹ کښې دي چه یقیناً امداد د الله تعالیٰ نه دے تاسو ته او ملائکو ته نو بنا پرې دے باندې هیڅ دخل نشته ملائکو له په ایکل۔ إِذْ يُغَشِّيكُمُ النُّعَاسَ: د ځلور مرعلت دے۔ أَمَنَةً: مفعول له دے او د مِنْهُ ضمیر الله تعالیٰ ته راجع دے حاصل ئې دا دے چه په میدان د بدر کښې په صحابه کرامو د خوب راغے او دا ګټه شوه چه نه خوف راغے او نه بل دا چه شیطان وسوسې واچولے چه تاسو سره اوبه نشته او په شکو کښې پښې نو تاسو جنګ څنګه وکړئ نو الله تعالیٰ باران پرې کالاوسته چه دوي چه په هیڅ سره نه ترشه

خوف لرې کړ او باران نے اووریدلو چه په هغه سره پاکوالے حاصل شو او د شیطان نه وسوسې لارې۔ إِذْ يُوحِي رَبُّكَ: بدل دے، اِنِّي مَعَكُمْ: معنی وا ده چه د ایمان مومنانو ته چه تاسو سره یم په امانت کلکوالو مضبوطو سره۔ فَوْقَ الْأَعْنَاقِ: د پاسه د څټونو نه (ر) یا مراد سرونه دي ځکه چه د څټونو د پاسه سرونه دي (۲) یا فوق زیاتي دے۔ (تسهیل ص ۲) كُلَّ بَنَانٍ: هر ګوته

ذٰلِكُمْ فَذُوْقُوْهُ: دلته فذوقوا امر دے او اَنَّ نه مخکښې وَاعْلَمُوْا پټ دے. معنی واشوه اُوْدَ اُوبِی ... دا عذاب
تاسو ته وايم وخکلی او پوهه شئ چه یقینًا د کافرانو دپاره عذاب د اور دے. ايوهر يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا، دا

فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۱۳﴾ ذٰلِكُمْ فَذُوْقُوْهُ

وَاَنَّ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۴﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

اٰمَنُوْٓا اِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا زَحْفًا فَلَا

تُوَلُّوْهُمُ الْاَدْبَارَ ﴿۱۵﴾ وَمَنْ يُّوَلِّهِمْ يَوْمَىِٕذٍ

دُبُرَهٗٓ اِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ اَوْ مُتَحَيِّزًا اِلٰى

فِئَةٍ فَقَدْ بَآءَ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَمَاْوٰىهُ جَهَنَّمُ

وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۶﴾ فَلَمْ تَقْتُلُوْهُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ

قَتَلَهُمْ وَمَا رَمَيْتَ اِذْ رَمَيْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ

رَمٰى وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِيْنَ مِنْهُ بَلَآءً حَسَنًا

اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۷﴾ ذٰلِكُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ

مُوْهِنُ كَيْدِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۸﴾ اِنْ تَسْتَفْتِحُوْا

فَقَدْ جَآءَكُمُ الْفَتْحُ وَاِنْ تَنْتَهُوْا فَهُوَ

او له قاعده دا چه د ضعیف ابن جهاد نه تیخته گناه کبیره ده البته دوه صورتونه جائز دی په حدیث کښې ذکر کړی، یو هنر او طریقه د جنګ د پاره چه وړل چه د دشمن ته شا ورزوی او ناڅاپه بیرته ور واپس شی او حمله پرې وکړی. دوهم چه د خپلې ډلې نه مخکښې تللې وی او خان بیرته خپلې ډلې ته راوسوی. ترکیب دلته وَمَنْ يُّوَلِّهِمْ اسم شرط دے او فَقَدْ بَآءَ بِغَضَبٍ اسم ئے جزاء ده او اِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ د جزاء نه استثناء مقدم دی. شیخ القرآن رحمه الله فرمایلی چه جهاد کښې خپل ذات د توحید نه دے او خوا چه د جهاد نه ګرزی نو غضب پرې کوله شی نو چه خوله د شرک او بدعت کوله وخت کښې چپ شی او زړه ئے نکوی نو ابا دا په مغضوب علیه نه دی. فَلَمْ تَقْتُلُوْهُمْ: مجاهد رحمه الله فرمائی چه صحابو د بدر په غزوه کښې وویل چه ما فلانے وژلے، بل ویل ما فلانے وژلے نو الله تعالی دا آیت نازل کړو (تفسیر ابن کثیر ۲/۲۹۴) مطلب دا چه اسبابو د کمولی باوجود د توفیق الله تعالی ورکړے دے. وَمَا رَمَيْتَ: میدان بدر کښې نبی صلی الله علیه وسلم د الله تعالی په حکم د کفارو طرف ته یو موټے کنړی وغورزولے. الله تعالی خپل کمالي قدرت سره د هر کافر سترګو ته ورسولې (جواهر ۱/۳۴) سوال: په دے آیت کښې نسبت د ویشتلو نبی صلی الله علیه وسلم ته شوے او نفی هم. جواب: شیخ القرآن رحمه الله فرمایلی چه اول نه مراد انتهاء ده او دوهم نه مراد ابتداء ده. معنی ئے دا ده

چه نا کامیدل د کفارو سترګو ته او نه رسیدل کله چه وکړې د لاس خپل، نو چه یو رشیج رحمه الله شعر دلته ذکر کړے. مَا رَمَيْتَ اِذْ رَمَيْتَ گفت حق ... (الشرح ...) وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِيْنَ: او چه ورکړی
الله تعالی مومنانو ته د خپل طرف نه ورکړه چنده. اِنْ تَسْتَفْتِحُوْا: حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکلی دی چه ابو جهل ...

صه وَ بے ربه غم اکیں دوېیل چه الله ! کوم یو چه زمونږ نه تعلیم کړ دَ دصل جنتي وي او د دے وین لے راوړے وی چه معروف نه وي پس صباتے هلاک کړه . او دا طلب دَ فتح دَ هغه نه وُو نو دا آیت نازل شو (ابن کثیر ج۲) آیت ۱۸ کښي دوېمه قاعده ده . دَ مشله نه وروسته دا مسا فقانو لره چه یاایها الذین امنوا ۱۸ . دَ دے عاقلے نه ترتره ګی پورے دُوېیمه باب

خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَإِن تَعُودُوا نَعُدْ وَلَن تُغْنِيَ عَنكُمْ

غوره ده تاسو لره، او که بیرته راګرځئ نو مونږ به هم راګرځو، او هیڅ کښی به دفع نه کړي له تاسو نه

فِئَتُكُمْ شَيْئًا وَلَوْ كَثُرَتْ وَأَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٩﴾

ډلي ستاسو څه هم اګرکه ډېره وي او یقیناً الله تعالیٰ ملګرے دے د مؤمنانو دے.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ

اے دَ ایمان خاوندانو ! تابعداري وکړئ دَ الله تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه،

وَلَا تَوَلَّوْا عَنْهُ وَأَنتُمْ تَسْمَعُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَا تَكُونُوا

او مه ګرځئ دَ هغه نه او حال دا چه تاسو اورئ حق لره . او مه کېږئ

كَالَّذِينَ قَالُوا سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿٢١﴾ إِنَّ

په شان دَ هغه کسانو چه وائي اورېدي دي مونږ، او دوي نه اوري په زړه سره . یقیناً

شَرَّ الدَّوَابِّ عِندَ اللَّهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِينَ

ډېر بد کاره دَ زمکې خوځنده په نزد دَ الله تعالیٰ ، کانړه ګونګیان دي هغه کسان دي

لَا يَعْقِلُونَ ﴿٢٢﴾ وَلَوْ عَلِمَ اللَّهُ فِيهِمْ خَيْرًا لَّأَسْمَعَهُمْ

نه پوهېږي . او که معلوم وے الله ته په دوي کښي خیر نو ضرور اوراوے به ئې دوي ته حق:

وَلَوْ أَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوا وَّهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾ يَا أَيُّهَا

او که چرے واوروي دوي ته نو خامخا ګرځي دوي، او دوي اعراض کوونکي وي . اے

الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا

دَ ایمان خاوندانو ! قبول ئې وکړئ الله لره او رسول دَ هغه لره ، کله چه

دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ۖ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ

رابللی تاسو لره هغه شي ته چه ژوندي کوي تاسو لره، او پوه شئ چه یقیناً الله پرده واچوي

بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾

په مینځ دَ سړي او دَ زړه دَ هغه کښي، او یقیناً خاص هغه ته به راجمع کړے شئ .

وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا

او وېرېږئ دَ هغه عذاب نه چه نه به رسي خاص هغه کسانو ته چه ظلم ئې کړے دے

او عتیق خبرے : (۱) علو رقابئ (۲) بانئ ملتو نه ۱۸ (۳) زجرهٔ منکرینو دَ عذ ولو ۱۸ (۴) ترغیب جهاد ته او آثار دَ تقوی ۱۸ (۵) تخویف اخروی (۶) دعوی دَ شورت ۲۰ لاَ تَسْمَعُوا : مفتی صاحب رحمه الله په معارف القرآن کښي فرمائي چه دَ تکښي سماع او ریب دَ سمراد دَ قبولو الی او دَ نفع والا او دویم لګه او دو ویم مراد خالي اوریدل دی . معنی دا شوه چه که معلوم وے الله تعالیٰ ته په دوي کښي څه خیر نو خامخا اوروکي به ئې دے دوي ته حق او بیا به ئې قبول کړي او که چرے ظاهري اوریدل وکړي دوي ته نو خامخا ګرځي به دوي او دوي اعراض کوونکي دي . شیخ القرآن رحمه الله په فرمائیل چه اوله سماع په معنی دَ منلو او دویمه په معنی دَ اوریدلو ده . لِمَا يُحْيِيكُمْ ۲۴ دلته نه دریمه قاعده ده . اے دَ ایمان خاوندانو قبولیت وکړئ الله تعالیٰ لره او رسول دَ هغه لره کله چه رابللي تاسو لره هغه شي ته چه تاسو لره ژوندي کوي . دلته دَ ژوند مطلب دي ځکه چه ایمان حیات دَ زړه دے او کفر مرګ دے او دلیل په دے قول دَ الله تعالیٰ دے يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ : چه راوباسي مؤمن لره دَ کافر نه (۲) قرآن ځکه چه قرآن سبب دَ علوم دے او علوم حیات دے (۳) جهاد او دا دَ اکثرو قول دے . وګوری کبیر ج۱۵ . تائید ورته (۲۳) ۳۱ مجادله

يَحُولُ ۲۴: او یو معنی چه الله تعالیٰ حائل کیږي په مابین دَ سړي او دَ زړه دَ هغه کښي . بیو مطلب ئې دا دے چه کله دَ نیک کار توفیق او دَ ګناه نه دَ بچ کېدلو موقعه راشي نو فوراً ئې وکړئ او دا دَ فرصت وخت غنیمت وګڼئ . دویم مطلب دا کیدے شي چه په دې کښي الله تعالیٰ خپل بنده ته ډېر نږدے

نرږګر الے وخوره. (خذ ق) یعنی د انسان په زړونو هر وخت خاص تصرف وی کله چه هغه د کوم بنده د ګناه نه
حفاظت کول غواړی نو د هغه د زړه او د ګناه هوس تر منځه پرده حائل کیږی. د کوره معارف ښه. تحفظ د اشرو

مِنكُمْ خَآصَّةً ۖ وَاعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٢٥﴾

ستاسو نه په تاسو. او پوهه شئ چه یقیناً الله تعالیٰ، سخت عذاب ورکوونکے دے.

وَٱذْكُرُوٓا۟ إِذْ أَنتُمْ قَلِيلٌ مُّسْتَضْعَفُونَ فِى ٱلْأَرْضِ

او یاد کړئ کله چه وئ تاسو لږ، کمزوری ګڼلے شوی، په مکه زمکه کښې،

تَخَافُونَ أَن يَتَخَطَّفَكُمُ ٱلنَّاسُ فَـَٔاوَىٰكُمْ وَأَيَّدَكُم

ویریدلئ چه ونه تختوی تاسو لره خلق، پس ځائے ئے درکړو تاسو ته، او مضبوط ئے کړئ

بِنَصْرِهِۦ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٢٦﴾

په امداد خپل او رزق ئے درکړو تاسو لره د پاکیزه څیزونه، دپاره د دے چه تاسو شکر وباسئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَخُونُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ

اے د ایمان خاوندانو! خیانت مکوئ د الله تعالیٰ سره او د رسول د هغه سره

وَتَخُونُوٓا۟ أَمَٰنَٰتِكُمْ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٧﴾ وَٱعْلَمُوٓا۟

او خیانت مکوئ په امانتونو خپلو کښې او تاسو په دے پوهیږئ. او پوهه شئ چه

أَنَّمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَأَوْلَٰدُكُمْ فِتْنَةٌ وَأَنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ

یقیناً مالونه ستاسو، او اولاد ستاسو، امتحان دے، او یقیناً الله تعالیٰ چه دے د هغه سره

أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿٢٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِن تَتَّقُوا۟ ٱللَّهَ

اجر لوئے دے. اے ایماندارو! که چرے ویریږئ تاسو د الله نه،

يَجْعَل لَّكُمْ فُرْقَانًا وَيُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ وَيَغْفِرْ

ویه ګرزوی تاسو لره فیصله، او لرے به کړی ستاسو نه بدی ستاسو، او بخنه به وکړی

لَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٢٩﴾ وَإِذْ يَمْكُرُ

تاسو ته، او الله تعالیٰ، خاوند د فضل، لوئے دے. او کله چه تدبیر کولو

بِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ

تا باندے، هغه کسانو چه کفر ئے کړے وو، چه قید کړی تا لره، یا مړ کړی تا لره،

أَوْ يُخْرِجُوكَ ۚ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ ٱللَّهُ ۖ وَٱللَّهُ

یا وشړی تا لره، او تدبیر کړی دوی، او تدبیر کوی الله تعالیٰ، او الله تعالیٰ،

په الله تعالیٰ په ورله توفیق ورکوی
د الکوئ فِتْنَةٌ، د فتنے ترجمه سخت
دی. شاه صاحب رحمه الله فرمائی
او هغه فتنه ظهور د چه عنت د
(تعم عقله) لا صلی تنا. الله جل شانه
فرمائی چه ځکه په نژدو مراد د
فتنے نه ترک د جهاد دے او ناسکر
په وخت د تغیر امر کښې (مظهری)
د چپ نه شیم (تفسیر) وشت. واشیع
ځے اوب تنبیه: خوره د اشت چه
چه د ښه ویجب آفاق ...
(مواهب رحمه) په مقا ایت کښې ترغیب
ورکړے دے. ... کښې تعلم عمه تا عملاً دو
لَا تَخُونُوا اللهَ: احاشیه د دے نه
خیانت مکوئ د الله تعالیٰ سره چه
فرائض نه پریږدئ او د رسول د
هغه سره چه د سنتو پیروی نه کړئ
(مدارک منته) اولاد کم فتنة
منشا: او پوهه شئ چه یقیناً مالونه
ستاسو او اولاد ستاسو فتنه ده،
ځکه د اسبب د وقوع دے په
ګناه او عتاب کښې او یا امتحان
دے د الله عز وجل له طرف چه
امتحان وکړی په تاسو په ځینو
پس ایا ستاسو ... د ستاسو لره ...
د وا او وید خیانت باندے (ابو السعود
٢/٢) ایت ... قاعده
ده. فُرْقَانًا: د فرقان نه
فتح او نصرت مراد دے (جوابی)
وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ منت: د ایت
علت دے د او لے دعوے د پاره
مفسرینو رحمهم الله دلته لیکی
کړی دے. حاصل ئے دا دے چه دوی
په دار الندوه کښې جرګے په قلعه
کښې راجمع شو. چا وئیل چه دا
پیغمبر قید کړئ. چا وئیل چه د
ملک نه ئے وباسئ. ابو جهل وئیل چه د هر قوم نه یو زلمے مقرر کړئ او په شریکه به ئے
مړ کړی وینه به ئے خوره شی تو قریش به د بنو هاشم مقابله نشی کولے نو دیت به قبول کړی. شیطان لعنتی چه
شکل د شیخ نجدی راغلے وو، د ابو جهل دا رائے ئے تائید ئے وکړو او د دے تائید ئے وکړو، وے وئیل

ته چه دا صحیح راځي دا او (القول ما قال الفقي) نو په دے فیصله وشوه. وګورئ ابن کثیر ص۳۰۳، ابن جریر ص۲۲۸، معارف ص۲۳۴، جواهر ص۱۸۵، الهام ص۵۲۲. شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل چه د قتل فیصله

خَيْرُ الْمَاكِرِينَ ﴿٣٠﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا قَالُوا قَدْ
غوره دے د تدبیر کوونکو نه. او کله چه لوستلے شي په دوی باندې آیتونه زمونږ، وائي دوی یقیناً
سَمِعْنَا لَوْ نَشَاءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هَٰذَا إِنْ هَٰذَا إِلَّا
واورېدل مونږ، که وغواړو مونږ نو خامخا ووایو مونږ په شان د دې، نه دے دا قرآن، مګر
أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ
قصې د پخوانو دي۔ او کله چه ووئیل دوی اے الله! که چرے وي
هَٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا
دا قرآن دا حق، د طرف ستا نه، پس راووروه په مونږ باندې
حِجَارَةً مِنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٢﴾ وَ
کاڼي، د بره نه، او یا راکړه مونږ ته عذاب، دردناک. او
مَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ وَمَا كَانَ
نه دے الله تعالیٰ چه عذاب ورکړي دوی ته او ته چه دوی کښې یې، او نه دے
اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴿٣٣﴾ وَمَا لَهُمْ
الله عذاب ورکوونکے دوی لره او دوی بخښنه غواړي. او څه دي دوی لره
أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللَّهُ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ الْمَسْجِدِ
چه عذاب نه ورکوي دوی لره الله او دوی منعه کوي خلق، د جمات
الْحَرَامِ وَمَا كَانُوا أَوْلِيَاءَهُ إِنْ أَوْلِيَاؤُهُ
محترم نه، او نه دي دوی والیداران د هغه، نه دي والیداران د جمات
إِلَّا الْمُتَّقُونَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٤﴾
مګر پرهیزګاران، ولاکن، زیات د دوی نه نه پوهیږي.
وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَاءً وَتَصْدِيَةً
او نه وه مونځ د دوی، په خوا د بیت الله کښې، مګر شپېلي او لاس پړقول،
فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٣٥﴾ إِنَّ الَّذِينَ
پس وڅکئ عذاب لره په سبب د هغه چه تاسو کفر کوئ. یقیناً هغه کسان چه

په آخر کښې شوے ده خو په ما بین کښې ذکر کړے شوه چه فیصله په دے شوے ده.
وَإِذَا قَالُوا: دکښې ښودل دي چه دوی منکرین وو ته. وَمَا كَانَ اللهُ: په دے آیت کریمه کښې د دوؤ سوالونو جواب دے. اول دا چه هر کله دوی عذاب غوښتلو نو ولے پرے رانغلو. جواب: چه پیغمبر په دوی کښې موجود وو نو په هغوی عذاب نه راځي. دویم سوال دا دے چه هر کله چه هغوی هجرت وکړو نو بیا ولے عذاب نه راتلو. جواب: کله چه یو قوم کښې استغفار کوونکي وي نو عذاب نه راځي. امام بخاري رحمه الله تاریخ کبیر کښې د ابو موسیٰ اشعري رضي الله عنه نه نقل کوي چه دوه امانه وو په زمانه د رسول الله ﷺ کښې، یو پوره شو او دویم باقي شو. قسم ۳: په ۳۴ آیت کښې بیان د سبب د عذاب دے په دوی کښې.
وَمَا كَانُوا أَوْلِيَاءَهُ: یعني نه دي دوی حقداران د ولایت د مسجد حرام سره د شرک د دوی نه. (روح ص۲۰۲). اِلَّا الْمُتَّقُوْنَ: مګر ځانساتونکي د شرک نه هغه کسان چه عبادت نکوي په دکښې غیر د الله تعالیٰ نه او مراد په دوی مسلمانان دي. (روح ص۲۰۲). مجاهد فرمائي: هر څوک چه وي او هر چیرې کښې چه وي (شوکاني

۳) اِلَّا مُكَاءً وَتَصْدِيَةً: مګر شپېلي او لاس پړقول. (ابن کثیر ص۳۰۶) په دے آیت کښې زور نه ده او په
۳: آیت کښې هم زور نه ده منکرینو ته چه تقویٰ پکښې نه وي. او د آیت په اخر او ورپسے آیت کښې تخویف اخروي دے او په آیت ۳۸ کښې ترغیب دے ایمان راوړلو ته.

كَفَرُوا يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَن سَبِيلِ

کفر یې کړی، خرچ کړي، مالونه خپل، چې وا ړوي خلق، د لارې د

اللَّهِ ۚ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ

الله، پس زر دی چې خرچ به کړي بیا به شي په دوی باندې، افسوس، بیا به

يُغْلَبُونَ ۗ وَالَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ ﴿٣٦﴾

مغلوب به شي دوی، او هغه کسان چې کفر یې کړی، دوزخ ته به راجمع کړے شي۔

لِيَمِيزَ اللَّهُ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ

چې بیل کړي الله تعالیٰ، پلیتو لره، د پاکو نه، او کېږدي

الْخَبِيثَ بَعْضَهُ عَلَىٰ بَعْضٍ فَيَرْكُمَهُ جَمِيعًا فَيَجْعَلَهُ

پلیت، بعضې د پاسه د بعضو، پس ونډ ای په کم ټولو لره، پس وا یې چوي

فِي جَهَنَّمَ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٣٧﴾ قُل لِّلَّذِينَ

په دوزخ کښې، دغه کسان، هم دوی تاوانیان دي۔ ووایه هغه کسانو ته چې

كَفَرُوا إِن يَنتَهُوا يُغْفَرْ لَهُم مَّا قَدْ سَلَفَ وَإِن

کفر یې کړے، که چرې دوی منع شي د کفر نه، بخښنه به وشي دوی ته، د هغه چې تیر شوي دي، او که

يَعُودُوا فَقَدْ مَضَتْ سُنَّتُ الْأَوَّلِينَ ﴿٣٨﴾ وَ

راو ګرځي بیا دوی، پس یقینًا تیر شوي دي، قانون، د مخکنو، او

قَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ

جنګ کوئ تاسو دوی لره، تر دې چې پاتې نشي، فتنه، بګړول، او شي، دین،

كُلُّهُ لِلَّهِ ۚ فَإِنِ انتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ

ټول یو الله لره، پس که چرې منعه شو دوی، پس یقینًا الله په هغه عملونو چې دوی کوي

بَصِيرٌ ﴿٣٩﴾ وَإِن تَوَلَّوْا فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ

لیدونکے دے۔ او که چرې وګرځېدو دوی، پس پوهه شئ یقینًا الله تعالیٰ،

مَوْلَاكُمْ ۚ نِعْمَ الْمَوْلَىٰ وَنِعْمَ النَّصِيرُ ﴿٤٠﴾

مولیٰ ستاسو دے، ښه مولیٰ دے، او ښه امداد کوونکے دے۔

وَقَاتِلُوهُمْ: په دې ایت کښې دعویٰ د صورت او حکمت د قتال دے۔ د فتنې نه مراد کفر او شرک دے۔ وګورئ قرطبي ص۲۷، ابو السعود ص۱، ماجدي ص۳۲۳، ابن کثیر ص، الهام ص۲۲۳۔ وَإِن تَوَلَّوْا: د دې ایت کریمه مطلب دا دے چې که کفار د جنګ نه منعه کیږي نو تاسو ورسره قتال وکړئ ځکه چې الله تعالیٰ ستاسو مولیٰ (حمایتي) دے او ښه مدد ګار دے۔

فائده: سورة انفال نیمه پاره اول پکښې دوه بابه او دعویٰ د قتال ده۔ او د دې لره قواعد تفصیلي او د غنیمت بیان اجمالي: دوئیم پاره کښې هم دوه بابه او دواړه دعوې دی خو د غنیمت بیان تفصیلي دے۔

۞ ۞ ۞ ۞

الحمدلله نهمه پاره د ماز یګر نه بعد په ورځ د چهارشنبې ۷ جون ۲۰۰۶ء موافق ۱۰ جمادی الاولیٰ ۱۴۲۷ھ

ختم شوه ۞

(خاکسار غفرله ۞)

وَاعْلَمُوْٓا: دوے غازیانو ته د ولجې حصه اخرت پورے او په دیکښې هم دوه بابه اول تر ۵۹ پورے او په دیکښې شپږ امور (۱) تفصیل د اولجې دغوے لئ (۲) پنځه مستونه ۵۳ ۵۴ ۵۵ ۵۶ ۵۷ ۵۸ (۳) وعده د قتال په مقابله کښې (۴) تخویف اخروی ۵۹ (۵) تخویف دنیوی ۵۳ (۶)

زجر ۵۵ ۔ دغنیمت نه مراد هغه مال دے چه کافرانو پرے شی مؤمنانو په وجه د غلبے او زور باندے (قرطبی ۹۸) بیا د تقسیم طریقه داده چه خمس یعنی پنځمه حصه به ترینه بیله شی څلور حصے به د غازیانو وی او پنځمه حصه به پنځه ځایه کیږی ۔ د اصحابو او د نبی علیه السلام په دور کښې څنګ چه په دے ایت کریمه کښې دی او د الله نوم تبرکا ذکر شوے دے ۔ د نبی کریم ﷺ د تشریف وړلو نه بعد د هغوی حصه او د ذوالقربٰی مستقل حصه ساقط شوه البته که ذوالقربٰی کښې یتیمانان، مساکین او مسافروی نو بیا ئے د نورو د قسمو نو نه برخه شته ۔ د فقهے مشهور کتاب هدایه ۲۶۵ کښې دی چه څلور خلفائے راشدینو پنځمه حصه په درے برخو تقسیم کړے وه ۔ او الوسی رحمه الله فرمائی: د تکفی بهم قد وه: چه دوی د هغو مرسره د اقتداء د پاره کافی دی (روح ۲۲)

يَوْمَ الْفُرْقَانِ: د دے ورځ نه مراد ورځ د بدر ده چه الله تعالیٰ پکښې د حق او د باطل فرق کړے دے دا د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دی (شرکانی ۲۶۵) اِذْ اَنْتُمْ: دا علت دے کله چه وی تاسو په نزدے کناره مدینے منوره ته او هغوی په لرے کناره د مدینے نه ۔ دا د میدان جنګ نقشه بنائی ۔ اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا: چه فیصله کړی الله تعالیٰ هغه کار چه کړے شوے مقرر شوے وو ۔ چه افتراء

واعلموا انما غنمتم من شيء فان لله

او پوهه شئ یقینا هغه چه غنیمت کړئ تاسو د هر شی نه پس یقینا الله ته دے

خمسه وللرسول ولذي القربى واليتمى و

پنځمه حصه د هغه او رسول ته او خپلوانو د هغه ته او یتیمانانو ته او

المسكين وابن السبيل ان كنتم امنتم بالله

مسکینانو ته او مسافرو ته که چرے یئ تاسو چه ایمان مو راوړے دے په الله

وما انزلنا على عبدنا يوم الفرقان يوم التقى

او په هغه چه نازل کړے مونږ په بنده خپل باندے ورځ د فیصلے، کله چه مخامخ شوے

الجمعن والله على كل شيء قدير (٤١) اذ انتم

دوه ډلے، او الله تعالیٰ په هر شی باندے قادر دے ۔ کله چه وئ تاسو په

بالعدوة الدنيا وهم بالعدوة القصوى

نزدے کناره (د مدینے) او دوی وو په کناره لرے باندے

والركب اسفل منكم ولو تواعدتم لاختلفتم

او قافله وه لاندے ستاسو نه، او که چرے وعده مو کړے وے نو ضرور به اختلاف مو کړے وو

في الميعد ولكن ليقضي الله امرا كان

په وعده کښې او لیکن د دے د پاره چه فیصله کړی الله تعالیٰ د هغه کار چه وو

مفعولا ليهلك من هلك عن بينة ويحيى

مقرر شوے د دے د پاره چه هلاک شی هغه څوک چه هلاک شوی پس د دلیل نه او ژوندی وی

من حي عن بينة وان الله لسميع عليم (٤٢)

هغه څوک چه ژوندی شی پس د دلیل نه او یقینا الله تعالیٰ خامخا اوریدونکے پوهه دے

اذ يريكهم الله في منامك قليلا ولو اركهم

کله چه وخودل تا ته دوی الله تعالیٰ په خوب ستا کښې لږ، او که چرے خودلی وے تا ته دوی

كثيرا لفشلتم ولتنازعتم في الامر و

ډیر نو خامخا کمزوری به شوی وئ تاسو او خامخا اختلاف به مو کړے وو تاسو په کار کښې او

کذب د الله تعالیٰ دے او پیرته وال د کلمے د هغه دے (مدارک ۲۷۵) اِذْ يُرِيْكَهُمُ اللّٰهُ: دا بدل علت دے ۔ مطلب ئے دا دے چه الله تعالیٰ خپل نبی علیه السلام ته په خوب کښې لږ وښودل څکه چه بعض د هغوی زړل کیدل او بعض روستو ایمان راوړونکی وو ۔

وَإِذْ يُرِيكُمُوهُمْ : كله چه وخودل الله تعالىٰ تاسو ته دوى لږ په سترګو ستاسې كښې لږ او لږ يې كړئ تاسو لره په سترګو د هغوى كښې . امام قرطبي رحمه الله فرمائي چه دا په شروع د جنګ كښې وو (مظهري) . دا تاچيرۀ واقع چه د سورة آل عمران ايت ۱۳ په آخر سر د جنګ كښې وو لهذا دواړه ضميرونو كښې اختلاف نشته . هلته هم دوه ځله شوې وو . يَا أَيُّهَا الَّذِينَ : شپږم سه قاعده د پاره د جهاد ، دلته څلور اوامر او دوه نواهي . اول امر ثابت قدم وتلو او دويم يا د دوى الله پاك لره ډير ډير . څو كافر رحمه الله واي چه مناسب دا چه وى ذكر په تكبيرات په هغه دعا سره چه ملګرو د طالوت رحمه الله ويلى وه : رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا الخ : منه ۲۵۰ بقره (فتح القدير) — جاهليت كښې به به په وخت د جنګ كښې د خپلو معشوقو ذكر كولو شعر چه د هغوى اشعار ډير دې دلالت كوى نو الله تعالىٰ د دې مقابله كښې وفرمايل چه د خپل محبوب حقيقي ذكر كوئ . دريم امر اطاعت د الله تعالىٰ او د رحمت د رسول عليه السلام وكړئ . څلورم صبر . حافظ ابن كثير رحمه الله ليكي : پس امر وكړو الله تعالىٰ په ثابت قدمئ باندې په وخت د جنګ د دښمنانو كښې او په صبر كولو لره مقابله د هغوى كښې (ابن كثير ص ۲) . وَلَا تَنَازَعُوا : او اختلافات او جګړې مه كوئ سره او له تيږو . د دې دوه نقصانونه دي يو دا چه تيږ دله به شئ او بل دا چه هوا به مو لاړه شي او د بد به مو ختمه شي . وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ يعني قوت او نصر به مو لاړ شي (قرطبي ص ۲) قوت او تيزي به مو لاړه شي (ابن كثير ص ۲) . وَلَا تَكُونُوا : دا بله نهي ده چه د كافرانو سره مشابهت مه كوئ په دې صفتونو كښې . وَإِذْ زَيَّنَ لَهُمُ : دا بل ملت دې . شيطان د ډيرو د سردار سراقه بن مالك

لٰكِنَّ اللّٰهَ سَلَّمَ ۗ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٤٣﴾

لېكن الله تعالىٰ بچ كړئ تاسې ، يقينًا الله ښه خبردار دې په رازونو د سينو باندې .

وَإِذْ يُرِيكُمُوهُمْ إِذِ الْتَقَيْتُمْ فِي أَعْيُنِكُمْ قَلِيلًا وَ

او كله چه وخودل تاسو ته دوى لږ ، كله چه مخامخ شوئ په سترګو ستاسې كښې لږ ، او

يُقَلِّلُكُمْ فِي أَعْيُنِهِمْ لِيَقْضِيَ اللّٰهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولًا ۗ

لږ كړئ تاسې لږ په سترګو د هغوى كښې لره د دې چه پوره كړي الله هغه كار چه وو كړي شوے

وَإِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿٤٤﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

او خاص الله تعالىٰ ته راګرځولې شي ټول كارونه . اے هغه كسانو چه ايمان يې راوړے

إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوا وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيرًا

كله چه ملاقات وكړئ تاسو د كافرانو سره پس ثابت قدم اوسئ او ياد وئ الله تعالىٰ لره ډير

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٤٥﴾ وَأَطِيعُوا اللّٰهَ وَرَسُولَهُ

د پاره د دې چه تاسو كامياب شئ . او اطاعت وكړئ د الله تعالىٰ او د رسول د هغه .

وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ ۖ

او جګړې مه كوئ ، نو بزدله به شئ (كمزوري به شئ) او لاړه به شي د بد به ستاسو .

وَاصْبِرُوا ۚ إِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴿٤٦﴾ وَلَا

او صبر كوئ ، يقينًا الله تعالىٰ ملګرے د صابرانو دے ..... او مه

تَكُونُوا كَالَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ

كيږئ په شان د هغه كسانو چه ووتل ، د كورونو خپلو نه ،

بَطَرًا وَرِئَاءَ النَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَنْ

په سركشۍ او په خود ښودنه خلقو ته ، او چه منع كړي خلق ، د لارې

سَبِيلِ اللّٰهِ ۚ وَاللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿٤٧﴾

د الله تعالىٰ نه ، او الله تعالىٰ په هغه عملونو چه دوى يې كوي ، احاطه كوونكے دے .

وَإِذْ زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ وَقَالَ

او كله چه ښائسته كړل دوى ته ، شيطان ، عملونه د دوى ، او وے ويلے ،

ع ۱ — ۳

كنانۍ په صورت كښې راغے او د شيطانانو فوج يې راوستے او په ميدان جنګ كښې ښكاره شو او ويلې چه نن تاسو د اصحابو د پاره راغلے يم او زه ستاسو حفاظت كوم . غالب كيدے نشي . كله چه يې د جبرئيل عليه السلام جماعت وليدو نو لاس يې د يو مشرك په لاس كښې وو هغه يې خلاص كړو او تختيده . چه په دے مړه مشركانو كمزوري شو . د كورى ص

مسه جواهر ص۲۸ ، ابن کثیر ص۳ ، ابن جریر ص۳ وغیره - ف ۵۱ ۸ ، - دَ دے ایت کریمه نه معلومه شوه چه شیطان دَ انسان په شکل راتلے شی اَوْ شیطان ملائکو له ویرې او دا هم معلومه شوه چه خوف طبعی کار آمد نه دے بلکه خوف ایمانی فائده مند دے - شیخ القرآن رحمة الله - فرمایل چه خو اَزرسی کمال نه دے بلکه اطاعت دَ کتاب او سُنت کمال دے - هسے خو شیطان هم ویره وو. اِنِّیْٓ اَخَافُ اللّٰهَ : سورة حشر ۳ هم دگوری ۔

لَا غَالِبَ لَكُمُ الْيَوْمَ مِنَ النَّاسِ وَاِنِّيْ جَارٌ

لَكُمْ ۚ فَلَمَّا تَرَآءَتِ الْفِئَتٰنِ نَكَصَ عَلٰى عَقِبَيْهِ

وَقَالَ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّنْكُمْ اِنِّيْٓ اَرٰى مَا لَا

تَرَوْنَ اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ ۚ وَاللّٰهُ شَدِيْدُ

الْعِقَابِ ﴿۴۸﴾ اِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ

فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ غَرَّ هٰٓؤُلَآءِ دِيْنُهُمْ ۗ وَ

مَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ

حَكِيْمٌ ﴿۴۹﴾ وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ يَتَوَفَّى الَّذِيْنَ كَفَرُوا ۙ

الْمَلٰٓئِكَةُ يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَاَدْبَارَهُمْ ۚ

وَذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿۵۰﴾ ذٰلِكَ بِمَا

قَدَّمَتْ اَيْدِيْكُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ

لِّلْعَبِيْدِ ﴿۵۱﴾ كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ

(تاسو ته نن د خلقو نه، او یقیناً زه مدد کوونکے یم ستاسو، نو کله چه مخامخ شوے دواړه ډلې، واپس وګرځیدو په پونډو خپلو، او وے ویل یقیناً زه بیزاره یم ستاسو نه، یقیناً زه وینم هغه څه چه تاسو نه وینئ، یقیناً زه ویریږم د الله نه، او الله سخت دے عذاب ورکوونکے. کله چه ویل منافقانو او هغه کسانو چه په زړونو د هغوی کښې مرض دے، دهوکه کړې ده دې کسانو له دین د دوی، او چا چه توکل وکړو په الله تعالیٰ، پس یقیناً الله تعالیٰ زور اور حکمت والا دے. او که ته وګورې کله چه روحونه اخلی د کافرانو ملائکې، وهی دوی مخونه د هغوی او شاګانې د هغوی او وائی، وڅکئ عذاب د اور سوزونکی. دا عذاب په سبب د هغه څه چه مخکښې کړی لاسونو ستاسو، او یقیناً الله تعالیٰ نه دے هیڅ ظلم کوونکے په بندګانو، په شان د حال د فرعونیانو او د هغه کسانو دے چه)

ع ۲

اِذْ یَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ ۱ - (حاشیه دَ دے مخ) : دا بل علت دے دَ پاره دَ اولے دعوے ؛ چه منافقانو تاسو پیسے خندل خو الله دَ هغوی خند په خفګان بدله کړو -

وَ الَّذِیْنَ فِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ : یا وضاحت دَ ما قبل دے . او یا مراد دَ اول نه منافقان او دَ مرضیانو نه دَ باهر اطرافو والا مراد دی . وَلَوْ تَرٰٓی : دیکښې تخویف دے په وخت دَ مرګ کښې او برزخ کښې . او په ملائکو کښې ورله دوه وجے دی یو لے خپل عملونه او بل دَ الله تعالیٰ انصاف . كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ : حال نے پشان دَ فرعونیانو دے . دیکښې تخویف دُنیوی او برزخی دے ❁

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ الخ: دې کښې سبب د هلاکئ عذاب دے. سورۃ رعد ۱۱ هم وګورئ. اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ: دې کښې
زجر دے. ناکاره د زنده سرو نه په نزد د الله تعالیٰ کافران دی. سورۃ بقره کښې هم دی ۱۷۱. اَلَّذِیْنَ عٰهَدْتَّ
مِنْهُمْ: ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چې

مِنْ قَبْلِهِمْ كَفَرُوا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاَخَذَهُمُ
مخکښ د دوی نه دوی کفر کړے کړے وو په آیتونو د الله تعالیٰ، پس ونیول هغوی لره
اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ شَدِيْدُ
الله تعالیٰ په سبب د ګناهونو د هغوی، یقیناً الله تعالیٰ طاقت والا، سخت عذاب
الْعِقَابِ ﴿٥٢﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا
ورکونکے دے. دا عذاب په دې وجه چې یقیناً الله تعالیٰ نه دے بدلونکے د هغه
نِّعْمَةً اَنْعَمَهَا عَلٰى قَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا
نعمت چې کړے ئې دے په یو قوم، تر دے چې دوی بدل کړی هغه څیز چې
بِاَنْفُسِهِمْ وَاَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٥٣﴾ كَدَاْبِ
په زړونو د دوی کښې دی. او یقیناً الله تعالیٰ اوریدونکے پوهه دے (حال د دوی) په شان د حال د
اٰلِ فِرْعَوْنَ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ كَذَّبُوْا
فرعونیانو، او د هغه کسانو دے چې مخکښ د دوی وو، دروغ ئې ګڼل
بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ فَاَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ وَاَغْرَقْنَا
د آیتونو د رب خپل، پس هلاک مو کړل هغوی په سبب د ګناهونو د هغوی، او ډوب مو کړل
اٰلَ فِرْعَوْنَ وَكُلٌّ كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿٥٤﴾ اِنَّ
فرعونیان، او ټول وو ظلم کونکی. یقیناً
شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
ورناکاره د زنده سرو نه په نزد د الله تعالیٰ هغه کسان دی چې کفر ئې کړے دے،
فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٥٥﴾ اَلَّذِيْنَ عٰهَدْتَّ
پس دوی ایمان نه راوړی. دا هغه کسان دی چې لوظ کړے دے تا
مِنْهُمْ ثُمَّ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَهُمْ فِيْ كُلِّ
د دوی سره بیا ماتوی، لوظونه خپل، په هر
مَرَّةٍ وَّهُمْ لَا يَتَّقُوْنَ ﴿٥٦﴾ فَاِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ
ځل کښې، او دوی ځان نه ژغوری د ګناه نه. پس که بیا مومے دوی لره

دا بنو قریظه دی، مات کړے ئې
وو لوظ د نبی علیه السلام سره او امداد
ئې د مشرکانو سره کړے وو د نبی علیه السلام
په مخالفت باندې. اسلحه ورکړې وه
سره په ورځ د بدر کښې. بیا ئې
ووئیل چې مونږ خطا شوی یو
بیا عهد ئې ورسره وکړو بل
ځل پس هغه ئې هم مات کړو
د خندق په واقعه کښې (کبیر ۱۴۲/۱۵)

فَاِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ الخ: د دې ځائے
نه دوئیم باب دے د دې سورت
حصے تر آخره پورې. په دې کښې
درے څیزونه ذکر دی: اول شپږ
قوانین د پاره د امیر د جهاد دوه
نه ۵۷ تر ۶۲ پورے. دوئیم
قانون د پاره د مومنانو نه ۶۵
دریم ترغیب دے هجرت او
جهاد ته ۷۲، او تقسیم د خلقو
څلورو ډلو ته (۱) مهاجرین (۲)
انصار - دوی به د یو بل سره پوره
دوستی کوی (۳) مؤمنان غیر
مهاجرین، دا درے ډلے په
۷۲ کښې ذکر دی (۴) څلورمه
ډله کافران: دوی په ۷۳ کښې
ذکر دی۔

فَشَرِّدْ بِهِمْ: (حاشیه د
راتلونکی مخ ۲۹۳): پس ویروه
په دوی سره، د ترهوه په دوی
سره هغه کسان لره چې روستو
رازی د دوی نه. تشرید:
عبارت دے تو تو کو نه سره
اضطراب نه (کبیر ۱۴۵/۱۵) شیخ القرآن
رحمه الله په معنی کوله د ترهوه
په دوی سره هغه کسان چې
روستو د دوی نه دی. فَانْۢبِذْ اِلَيْهِمْ عَلٰى سَوَآءٍ: ظاهره معنی دا ده چې لوظ ورته وغورزوه چې شی
برابر په لوظ ماتولو او خیانت کښې، او دا د نبی علیه السلام د شان سره مناسب نه ده. نسفی رحمه الله د دې اشکال
په جواب کښې فرمائی چې برابر شی ستاسو او د دوی په علم کښې په ماتولو د عهد کښې (مدارک)

او شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل چه دا دے سورت یو دعوی قتال فی سبیل الله دے او بله دعوه یوول سورت راغونډ دے . نو معنی دا شوه چه شی برابر په قتال او په جنګونو کښ . ذ ځمکے او آسمانونو ، او تیار کړی ذ کفارو ذ مقابله ذ پاره هغه چه ستاسو وس رسیږی ستا سے ذ قوت نه . یعنی کوم آلوسی رحمه الله فرمائیلی ذ هر هغه شی نه چه قوت پرے حاصلیږی په جنګونو کښ هر هغه چه وی (روح المعانی) ذ پښتو شیخ رحمه الله فرمائی چه ظاهره ذ غشو ، چوټلے او ذ نیزو او تورو زمانه وه نو په هغه زمانه کښ ذ دغو اسلحو تیاری حکم او ذ دے ذ استعمال ذ تربیت ضرورت وو ، او س چه کله ذ مشین ګنو ، توپ ، ټینک او ذ بمبار جهازونو زمانه ده نو په دے وخت کښ ذ دے اسلحو حاصلول او ذ دے ذ استعمال تربیت لازمی دے ذ دے ذ پاره چه ذ الله تعالی دین اوچت شی او ذ مسلمانانو دشمنان مرعوب شی . (جواهر القرآن) لا تعلمونهم ، دے نه معلومه شوه چه پیغمبر علیه السلام او صحابه کرام رضی الله عنهم به غیبونه نه پوهیدل . سورة توبه ۱۰۱ هم اوګورئ . وَإِن جَنَحُوا : که چرے دوی مائله شو صلح ته (احکام القرآن ذ جنګ ، کله ذ صلحے کولو اجازت دے او په سورة محمد کښ ذ صلحے نه منع راغلے ده لاکن هلته ذ صلحے نه مراد هغه

24

فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِم مَّنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ
په جنګ کښې ، پس وشړوه په سبب ذ دوی هغه خلق چه روستو ذ دوی دی ، دے ذ پاره چه دوی
يَذَّكَّرُونَ ﴿٥٧﴾ وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوْمٍ خِيَانَةً
پند حاصل کړی . او که چرے خائف وے ته ذ یو قوم نه ، ذ خیانت (او خلاف ورزئ) نه
فَانبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَىٰ سَوَاءٍ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ
پس وغورځوه دوی ته (لوظ) چه شئ برابر (ډول کښې) یقیناً الله تعالیٰ مینه نه کوی
الْخَائِنِينَ ﴿٥٨﴾ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا
ذ خائنانو سره . او هیچرے دې خیال نه کوی هغه کسان چه کفر یے کړے دے
سَبَقُوا ۚ إِنَّهُمْ لَا يُعْجِزُونَ ﴿٥٩﴾ وَأَعِدُّوا لَهُم
چه مخکښې شو (ذ الله نه) ، یقیناً دوی نشی عاجز کولے الله لره . او تیار کړئ ذ دوی ذ مقابلې ذ پاره
مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ
هغه چه توان لرئ ، ذ سامان ذ جنګ او ذ سا تلو ذ آسونو نه ، چه
تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ
ویرولے شئ پرے ، دشمن ذ الله تعالیٰ او دشمن ستاسو ، او نور کسان
مِن دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ ۚ
سوا ذ دوی نه چه تاسو نه پیژنئ هغوی لره ، الله تعالیٰ پیژنی هغوی لره ،
وَمَا تُنفِقُوا مِن شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ
او هغه چه لګوئ ، ذ هر څه شی نه ، په لاره ذ الله تعالیٰ کښې ،
يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴿٦٠﴾ وَإِن
پوره پوره به درکړے شی تاسو ته بدله ذ هغه او تاسو به ظلم نشی کیدے . او که چرے
جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى
مائله شو دوی صلح ته پس ته هم مائله شه صلح ته او توکل وکړه په الله تعالیٰ
اللَّهِ ۚ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٦١﴾ وَإِن يُرِيدُوا
باندے یقیناً الله خاص دا اوریدونکے ، پوهه دے . او که اراده وکړی دوی

ع ۳

صلح ده چه ذ هغے منشاء بزدلی او ذ الله تعالیٰ په لاره کښ ذ جهاد کولو نه تیخته وی . ذ کورئ معارف ص ۲۹ ، الهام منه ص ۵۵) ÷

اَنْ يَّخْدَعُوْكَ فَاِنَّ حَسْبَكَ اللّٰهُ هُوَ الَّذِیْٓ

چه چل وکړی تاسره ، پس یقیناً کافی دے تاله ، الله ، الله هم هغه دے

اَيَّدَكَ بِنَصْرِهٖ وَبِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۶۲﴾ وَاَلَّفَ

چه کلک کړے تاله په امداد خپل ، او په مومنانو ، او پیدا یئ کړه الفت

بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ لَوْ اَنْفَقْتَ مَا فِی الْاَرْضِ

په مینځ د زړونو د دوی کښی ، که چیرے خرڅ کړے تا هغه چه په زمکه کښی دی

جَمِيْعًا مَّآ اَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ

ټول ، نه به دے پیدا کړے الفت په مینځ د زړونو د دوی کښی ولیکن ، الله تعالیٰ

اَلَّفَ بَيْنَهُمْ اِنَّهٗ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۶۳﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِیُّ

مینه پیدا کړه په مینځ د دوی کښی یقیناً هغه زورور حکمت والا دے ، اے نبی !

حَسْبُكَ اللّٰهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۶۴﴾

کافی دے تاله ، الله تعالیٰ ، او هغه چا لره چه تابعداری کړیده ستا ، د مومنانو نه

يٰٓاَيُّهَا النَّبِیُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلَى الْقِتَالِ

اے نبی ! تیزی ورکړه مومنانو لره ، په جنګ کولو باندی

اِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ عِشْرُوْنَ صٰبِرُوْنَ يَغْلِبُوْا

که چیرے وی ستاسو نه ، شل صبر کونکی ، زورور به شی په

مِائَتَيْنِ وَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ يَّغْلِبُوْٓا

دوه سوو باندی ، او که چیرے وی ، ستاسو نه ، سل ، غالب کیږی به په

اَلْفًا مِّنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ

زرو باندی ، د هغه کسانو چه کفر ئے کړے دے په سبب د دے چه یقیناً دوی داسے قوم دے

لَّا يَفْقَهُوْنَ ﴿۶۵﴾ اَلْـٰٔنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ

چه نه پوهیږی ، اوس ، آسانی راوستله الله تعالیٰ ، ستاسو نه

وَعَلِمَ اَنَّ فِيْكُمْ ضَعْفًا فَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ

او پوهه شو چه یقیناً ستاسو کښی کمزوری ده ، پس که چیرے وی ، ستاسو نه

ع ۹ ۲

منزل ۲

فَاِنَّ حَسْبَكَ اللّٰهُ : پس یقیناً کافی دے تاله الله تعالیٰ ۔ سورة زمر ۳۶ وګورئ ۔ وَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ : په دے ایت کریمه نه معلومه شوه چه د صحابه کرامو رضی الله عنهم په مابین کښی مینه او محبت وو او هم تاریخ نه چه دشمنی معلومیږی هغه د قرآن پګله په مقابله کښی قابل قبول نه دے ۔ وَمَنِ اتَّبَعَكَ : ولله واو په معنیٰ د مع دے معنیٰ دا شوه چه اے نبی صلی الله علیه وسلم کافی دے تاله الله تعالیٰ او هغه چا ته چه تابعداری کړیده ستا د مومنانو نه ۔ مطلب دا چه تاله هم الله تعالیٰ کافی دے او ستا تابعدارو مومنانو لره هم الله تعالیٰ کافی دے ۔ وګورئ جواهر ص ۱۸۸ ۔ او فتاویٰ د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله ص ۳۵ ج ۴ ۔ يٰٓاَيُّهَا النَّبِیُّ : عمومی قانون دے اول مسلمانان کم وو او همت ئے زیات وو نو دا حکم وو چه یو په لسو باندی مسلمانان جنګ کوی یعنی د لسو کافرانو نه به یو مسلمان نه تختی ، بیا مسلمانان زیات شو نو همت ئے کم شو نو دویم حکم راغے چه د دوو کافرانو نه به یو مسلمان نه تختی یعنی که دوه مسلمان په مقابله کښی کافران د دوو نه زیات شو نو جنګ به مسلمانان نه کوی ۔ سرة لاز مرته د نکته د تعین عدد دا ده چه مسلمانان اول کم وو نو دا رنګه د هغو شغل وو او جنګ د هغو شل کسه وو بیا زیات شو نو دا ره شل او جنګ زر کسه شو ۔ (افضل التراجم صفحه ۲۵) ۔ شاه عبدالقادر رحمه الله فرمائی لیکن که د دوو نه په زیاتو حمله وکړی نو لوئی اجر دے ۔ د حضرت علی رضی الله عنه په وخت کښی زر مسلمانانو د اتیا زرو سره جنګ کړے دے ۔ (تحفۃ موضح قرآن) مَا كَانَ لِنَبِیٍّ : د (تلو تکی عم ص ۱۹۵ حاشیه) : دا عمومی قانون دے د نبی د شان سره لایق نه دی چه وی د لره قیدیان ترو دے چه وینے توبه کړی په زمکه کښی ۔ تُرِيْدُوْنَ : په دیکښی د صحابه کرامو سره خطاب دے ۔ لَوْلَا كِتٰبٌ : دا جواب د سوال دے چه هر کله د دوی نه فدیه واخستلے شوه نو ګناه رد ۲ چه

په دوی عذاب راغلے وے؟ نو جواب حاصل دا دے کۀ الله تعالیٰ د مخکښې نه قانون نۀ وے ایخودے نو واقعی عذاب به راغلے وے لیکن الله تعالیٰ قانون ایخے وے چه عذاب چالره نۀ ورکوی تر هغے چه مخکښې د

مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ وَإِن يَكُن

سل، صبر کونکی، غالبه به شی، په دوه سوؤ باندې، او که وی

مِّنكُمْ أَلْفٌ يَغْلِبُوا أَلْفَيْنِ بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ

ستاسو نه، زر، غالبه به شی، په دوه زره باندې، په حکم د الله تعالیٰ، او الله تعالیٰ

مَعَ الصَّابِرِينَ ۝٦٦ مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ

ملګرے د صابرانو دے، نۀ دی مناسب، نبی لره، چه وی

لَهُ أَسْرَىٰ حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ تُرِيدُونَ

هغه لره، قیدیان، تر دې پورې چه ډیرې وینې توئې کړی، په زمکه کښې، اراده کوئ تاسو

عَرَضَ الدُّنْيَا وَاللَّهُ يُرِيدُ الْآخِرَةَ وَاللَّهُ

د سامان د دنیا، او الله تعالیٰ، اراده کوی د اخرت، او الله تعالیٰ

عَزِيزٌ حَكِيمٌ ۝٦٧ لَّوْلَا كِتَابٌ مِّنَ اللَّهِ سَبَقَ

زورور او حکمت والا دے، که چرې نۀ وے حکم، د الله تعالیٰ، چه فیصله مخکښې شوې وه

لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ۝٦٨

نو خامخا رسیدے به تاسو ته په هغه څیز کښې چه تاسو اخستے، عذاب، لوی

فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلَالًا طَيِّبًا ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ

پس خورئ د هغه څه چه غنیمت کښې وخستے، حلال پاکیزه، او ویریږئ د الله تعالیٰ نه

إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝٦٩ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ

یقیناً الله تعالیٰ، بخښونکے، مهربانه دے، اے نبی!

قُل لِّمَن فِي أَيْدِيكُم مِّنَ الْأَسْرَىٰ

ووایه، هغه چا ته چه په لاسونو ستاسو کښې دی، د قیدیانو نه

إِن يَعْلَمِ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمْ خَيْرًا يُؤْتِكُمْ

که معلوم کړو، الله تعالیٰ، په زړونو ستاسو کښې، خیر (ایمان)، ورکړی به تاسو ته

خَيْرًا مِّمَّا أُخِذَ مِنكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۗ وَاللَّهُ

غوره د هغه مال نه چه اخستے شوے ستاسو نه، او بخښنه به وکړی تاسو ته، او الله تعالیٰ

منزل ۲

صفه نه ئے منعه نۀ وی کړے او دا د سورة توبے ۱۱۵ کښې وی. بل دا قانون دے چه الله تعالیٰ به د دے امت د پاره مالِ غنیمت حلال کړی. بل دا قانون وو چه الله تعالیٰ بدر والا مجاهدین تول بخښلی دی (احسن الکلام ۲۹۱ ـ ۳۹۲) او دا په احادیثو کښې دی او مدارک ۲۲ کښې بیره توجیه دا هم ده چه الله تعالیٰ عذاب هیچا لره په عمل کولو د اجتهاد سره نۀ ورکوی او دا د هغوی نه اجتهاد د وو. فَكُلُوا: کله چه صحابه کرامو ویریدل چه د دے فدیے نه به لاس نۀ اخلو نو الله تعالیٰ ورته تسلی ورکړه چه مالِ غنیمت او کومه فدیه چه تاسو اخستے ده دا حلاله او پاکیزه ده، د استعمال کړئ او وے خورئ (جواهر)

فائده: دا ایت نازل شوے دے په واقعه د بدر کښې چه کله په هغے کښې د کافرانو نه اویا کسان په قید کښې راوستے شو او تر دغه وخته پورے د قیدیانو په باره کښې حکم شرعی نۀ وو نازل شوے. نو نبی علیه السلام د صحابه کرامو سره مشوره وکړه نو بعضو رائے پیش کړه چه دا تول قتلول پکار دی او بعضو رائے پیش کړه چه د دوی نه به فدیه واخلو او په هغے به ئے ازاد کړو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په دے دوستئی رائے اتفاق وکړو او د هغوی نه فدیه واخستے شوه نو دا ایت نازل

شو چه دا ستا نه وو پکار. يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ: دا هم قانون دے. بعض قیدیانو د اسلام اظهار کړے وو. د هغوی په باره کښې نبی علیه السلام ته حکم وشو چه تاسو دوی ته ووایئ که چرے واقعی تاسو د زړه د خلوص نه ایمان قبول کړے وی نو غم مکوئ. (جواهر ۴۰۲) په صحیح مسلم کښې دی چه کله نبی علیه السلام ته د بحرین مال راغے نو عباس رضی الله عنه

مه ورته وویل چه ما ته ځان او د عقیل فدیه ورکړه ولا نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چه ولاړ شه پس
کوړه ئې وغوړوله او ورلنه خښته شوه مړه چه وچتوله شو ئې (قرطبي ...) ۱. إِنَّ الَّذِينَ (حاشیه د ...) د مومنانو
درې قسمونه د دلته ذکر کوي.

غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٧٠﴾ وَإِن يُرِيدُوا خِيَانَتَكَ فَقَدْ

بخښونکي رحم والا دے. او که اراده وکړي دوی د خیانت کولو ستا سره، پس یقیناً

خَانُوا اللَّهَ مِن قَبْلُ فَأَمْكَنَ مِنْهُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ

دوی خیانت کړے دے الله تعالی سره مخکښې دنه پس قدرت ورکړو ستا دوی باندې او الله تعالی پوهه او

حَكِيمٌ ﴿٧١﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا

حکمت والا دے. یقیناً هغه کسان چه ایمان ئې راوړے، او هجرت ئې کړے، او جهاد ئې کړے

بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ

په مالونو خپلو او په نفسونو خپلو په لار د الله کښې، او هغه کسان چه

آوَوا وَّنَصَرُوا أُولَٰئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ

ځاے ئې ورکړے او مدد ئې کړے، دغه کسان، بعض د دوی دوستان د بعضو دي،

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا مَا لَكُم مِّن

او هغه کسان چه ایمان ئې راوړے او هجرت ئې نه دے کړے، نشته تاسو لره، د

وَلَايَتِهِم مِّن شَيْءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا ۚ وَإِنِ

دوستئ د هغوی نه هیڅ شے (حق) تر دې چه هجرت وکړي، او که

اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلَّا

مدد وغواړي ستا سو نه په باره د دین کښې پس لازم دي په تاسو باندې مدد کول، مګر

عَلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ ۗ وَاللَّهُ بِمَا

په هغه قوم باندې چه ستا سو او د هغوی په مینځ کښې معاهده وي، او الله تعالی په هغه څه چه

تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٧٢﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ

تاسو کوئ لیدونکے دے. او هغه کسان چه کفر ئې کړے، بعض د هغوی

أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ۚ إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُن فِتْنَةٌ فِي

دوستان د بعضو دي، که تاسو دا ونه کړئ نو پیدا به شي فتنه په

الْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ ﴿٧٣﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَ

زمکه کښې او فساد لوئے. او هغه کسان چه ایمان ئې راوړے او

إِلَّا تَفْعَلُوهُ: که چرې ونه کړئ امر لو نو پیدا به شي فتنه په زمکه کښې او فساد لوئے. ځکه چه مسلمانان
به لاس ونه کړي په مقابله د شرک
باندې نو شرک به ښکاره شي: او
فساد به زیات شي (مدارک ...)
او په دې ایت کښې غلو رد شوے
وه. وَالَّذِينَ آمَنُوا: په دې
ایت کریمه کښې بشارت دے او د
مومنانو صفات ذکر کوي چه دا په
حقه ایماندار دي او په دې کښې
د هغه صحابه کرامو ذکر دے چه
پس د فتح نه ئې ایمان راوړے
چه دا هم ستاسو په جماعت کښې
شمار دي + وَأُولُوا الْأَرْحَامِ:
(حاشیه د راتلونکي مخ ...): او
خاوندان د خپلوئ بعض د دوی
نه لائق دي د نورو بعضو نه
په میراث ورلو کښې د پردو نه
(روح ...) مطلب ئې دا دے چه
میراث په سبب د نسب سره
دے نه په سبب د دوستئ
سره + امتیازات:
(۱) حکمت د جهاد ... (۲) شپږ
قواعد په لفظ د يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا
سره (۳) تفصیل د مصارفو د
غنیمتونو ... (۴) ذکر د دوه
امانونو د عذاب نه ... (۵)
حکم د قیدیانو د بدر ...
الاسماء: د دې سورت
ډیر نومونه دي
(سراج منیر ...) نسفي رحمه الله
ورله یوولس نومونه ذکر کړي دي
(...)، دیو نوم ئې براءة هم دے
په اول ایت کښې ذکر دے بل
نوم ئې توبه دے په ... کښې د توبې ذکر دے. وجه د نه
ذکر کولو د بسم الله: د حضرت علي او ابن عباس رضي الله عنهم نه نقل دے چه بسم الله امان
دے او براءت نازل شوېدے د دفع د امان د پاره (مدارک ... روح ...) بلکه و جنګونو ...

او محمد ﷺ ته ئې ذکر کړې وه چه حضرت عثمان رضی الله عنه د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ته جواب کښې ویلي دي چه انفال د اولو هغو سورتونو نه ده چه په مدینه کښې نازل شوې وو او براءة په آخري نزول د قرآن کښې ده او قصه

هٰجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَالَّذِیْنَ

هجرت ئې کړې او جهاد ئې کړې په لاره د الله تعالیٰ کښې او هغه کسان چه

اٰوَوْا وَّنَصَرُوْۤا اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ؕ لَهُمْ

ځائ ئې ورکړې او امداد ئې کړې دې دغه کسان هم دوي مؤمنان دي یقیناً دوي ته بخښنه ده

مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِیْمٌ ﴿٧٤﴾ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا

بخښنه او رزق د عزت دې او هغه کسان چه ایمان ئې راوړې

مِنْۢ بَعْدُ وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا مَعَكُمْ

پس د دې نه او هجرت ئې کړې او جهاد ئې کړې په ملګرتیا ستاسو کښې

فَاُولٰٓئِكَ مِنْكُمْ ؕ وَاُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ

پس دغه کسان ستاسو دي او خاوندان د نسب (خپلوان) بعض د دوي نه

اَوْلٰى بِبَعْضٍ فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

لائق دي په میراث د بعضو باندې په کتاب د الله تعالیٰ کښې یقیناً الله تعالیٰ

بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ ﴿٧٥﴾

په هر شي باندې پوهه دې.

سُوْرَةُ التَّوْبَةِ مَدَنِیَّةٌ وَّهِیَ مِائَةٌ وَّتِسْعٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰیَةً وَّسِتَّ عَشَرَةَ رُكُوْعًا

سورة توبه مدني ده او (١٢٩) آیتونه او (١٦) رکوعګانې دي.

بَرَآءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖۤ اِلَى الَّذِیْنَ عٰهَدْتُّمْ

(دا اعلان د) بیزارۍ دې د الله تعالیٰ او د رسول د هغه نه هغه کسانو ته چه تاسو ورسره لوظ کړې

مِّنَ الْمُشْرِكِیْنَ ﴿١﴾ فَسِیْحُوْا فِی الْاَرْضِ اَرْبَعَةَ

د مشرکانو نه. پس وګرځئ په زمکه کښې څلور

اَشْهُرٍ وَّاعْلَمُوْۤا اَنَّكُمْ غَیْرُ مُعْجِزِی اللّٰهِ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ

میاشتې او پوهه شئ چه یقیناً تاسو نه شئ عاجزه کولې الله تعالیٰ لره او یقیناً الله تعالیٰ

مُخْزِی الْكٰفِرِیْنَ ﴿٢﴾ وَاَذَانٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖۤ

رسوا کونکې د کافرانو دې. او اعلان دې د جانبه د الله تعالیٰ او د رسول د هغه نه

د مشابه ده قصې د ګیل سره ده او رسول الله ﷺ وفات شو او مونږ ته ئې بیان نکړو چه براءت د انفال نه دې؟ او په دې وجه نه مې دواړه پیوسته کړه او د بسم الله الرحمن الرحیم کرښه مې او نه لیکله او په آخر اوږدو سورتونو کښې مې کېښوده (مشکوٰة ص١٩٣ ج١) په الهام الرحمن ص٢٢ کښې د قرطبي ص٦٢، درمنثور ص٢٠٨، ابن کثیر ص٣٣٣ وغیره حوالې کړې شوي. فائده: بعض خلق دلته د بسم الله په ځائې یو خود ساخته عبارت: اعوذ بالله من النار ومن غضب الجبار ومن شر الکفار، ادا کوي. جناب مفتي صاحب رحمه الله فرمائي چه قدرې ثبوت د نبي ﷺ او د صحابه کرامو نه نشته (رسالت ص٢٦) دعوی: تیزې ورکول دي مومنانو ته په جهاد او اقسام د جهاد د مشرکانو، اهل کتابو او منافقانو سره. (سطع الدر ص٣٥، وګورئ ص٥، ص١٦٣، ص١٣٣) دغه رنګې دعوی د توحید په ص٢٣ ص٣٢ کښې ذکر ده. ربطونه: (١) انفال کښې اعلان د قتال تبعاً او اجمالاً وو او په دې کښې اصالةً او تفصیلاً دې. (٢) هلته حکم د قتال وو دلته هغه جماعتونه ذکر کړي چه قتال ورسره کیږي (٣) هلته بیان د قتال الله جوابات د موانعو د قتال نه هې (٤) هلته قواعد د قتال دلته هغه کسان چه قتال ورسره کول پکار دي (٥) هلته قواعد د قتال نو دلته اذن عام په قتال. **اجمالي خلاصه:** دې سورت کښې څلور قسمونه: اول تر ٣٦ پورې، په دې کښې بیان د مشرکانو دې. دویم قسم تر ٣٧ پورې: په دې کښې بیان د اهل کتابو دې. دریم تر ١٠٥ پورې: په دې کښې بیان د منافقانو دې. څلورم تر آخره ٢ ص

مه پوره ے : په دیکښې بیان د مؤمنانو دے. **تفصیلي خلاصه :** په اولنی قسم کښې پنځه غټې خبرے (۱) ورے ولے د کفارو : محاربین، معاهدین، مستأمنین د (۲) جوابات د غلو رو موانعو د جهاد نه مشکلات (۳) د منافقانو رد (۴) ترغیب جهاد

إِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ أَنَّ اللَّهَ بَرِيءٌ

خلقو ته په ورځ د حج لوی کښې چه یقیناً الله تعالیٰ بیزار دے،

مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ۙ وَرَسُولُهُ ۚ فَإِن تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ

د مشرکانو نه ، او رسول د هغه هم. پس که توبه وباسئ تاسو (اوس) دا غوره ده

لَّكُمْ ۖ وَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللَّهِ ۗ

تاسو لره، او که وګرځیدئ تاسو (ترې) نو پوه شئ چه یقیناً تاسو نه شئ عاجز کولے الله تعالیٰ لره،

وَبَشِّرِ الَّذِينَ كَفَرُوا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣﴾ إِلَّا الَّذِينَ

او زیرے ورکړه هغه کسانو لره چه کفر ئې کړے دے په عذاب دردناک سره. مګر هغه کسان چه

عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ثُمَّ لَمْ يَنقُصُوكُمْ شَيْئًا

لوظ کړے تاسو د هغوی سره د مشرکانو نه ، بیا ئې نه دے کم کړے تاسو سره هیڅ شے،

وَلَمْ يُظَاهِرُوا عَلَيْكُمْ أَحَدًا فَأَتِمُّوا إِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ

او مدد ئې نه دے کړے ستاسو په مقابله کښې د هیچا، پس پوره کړئ د هغوی سره لوظ د هغوی،

إِلَىٰ مُدَّتِهِمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ ﴿٤﴾ فَإِذَا

تر مودې د هغوی پورے، یقیناً الله تعالیٰ خوښوی پرهیزګاران. پس کله چه،

انسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ

تیرے شی میاشتې د حرمت، پس مرګ کړئ مشرکانو لره،

حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ

چرته چه ئې مومئ تاسو هغوی لره، او نیسئ دوی لره، او بند ئې کړئ دوی لره،

وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ ۚ فَإِن تَابُوا وَأَقَامُوا

او کینئ دوی لره په هره مورچه کښې، پس که توبه وکړه دوی او قائم ئې کړو

الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ ۚ

مانځه، او ورکړو ئې زکوٰة، پس خالی کړئ لاره د دوی،

إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥﴾ وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ

یقیناً الله تعالیٰ بخښونکے مهربان دے. او که یو کس د

جهاد نه مشکلات (۳) خوارق علتونه د جهاد د (۴) بشارت (۵) ترغیب جهاد ته. **بَرَآءَةٌ :** دا براءت دے د الله تعالیٰ له طرفه. د شیخ الهند رحمه الله فرمائی چه دا حکم شوال سنه ۹ کښې نازل شوے وو او د څلورو میاشتو نه شوال، ذوالقعده، ذوالحجه، محرم مراد دی (جواهر). **يَوْمَ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ :** (حاشیه د مع): یا ورځ د عرفې ده حدیث کښې راغلی چه الحج عرفة چه لوئی رکن د حج وقوف په عرفات دے (معارف). یا ورځ د لوئے اختر ده. حضرت علی کرم الله وجهه فرمائی چه ما تپوس وکړو د نبی علیه السلام نه د ورځې د حج اکبر. نو هغوی وفرمایل: ورځ د لوئے اختر ده. حج اصغر عمره د خفه قول کال کیږی (الفضل الزم لرسی) عوامو کښې چه دا مشهوره ده چه په کوم کال عرفه په ورځ د جمعې واقعه شی صرف هغه حج اکبر وی. د دے اصلیت د دے نه سوا نشته چه اتفاقی طور د نبی کریم صلی الله علیه وسلم حجة الوداع شوے ؤ په دغه کښې عرفه د جمعې په ورځ وه. دا په خپل ځائے یو فضیلت ضرور دے مګر د ذکر شوی آیت د مفهوم سره د دے تعلق نشته (معارف القرآن). **إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدتُّمْ :** د دے نه بنو ضمره او بنی کنانه مراد دی (مواهب). **فَإِن تَابُوا :** که دوی توبه

وکړه د شرک نه په ایمان سره. (ابوالسعود وغیره) **وَإِنْ أَحَدٌ :** دیکښې د دریمے ډلے ذکر دے چه هغه مستأمنین وی. **فائده :** د اسلام حقانیت په دلائلو سره د خلقو په سمجھ کښې راوستل د علماء دین فریضه ده. (معارف القرآن)

الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتّٰى يَسْمَعَ كَلٰمَ

مشرکانو نه پناه (امن غواړي) له تا نه، پس امن ورکړه ده ته تر دې چې واوري کلام د

اللّٰهِ ثُمَّ أَبْلِغْهُ مَأْمَنَهُ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا

الله، بیا ورسوه ده لره د امن ځای د ده، دا (حکم) ځکه چې بیشکه دوی داسې قوم دي چې نه

يَعْلَمُونَ ⑥ كَيْفَ يَكُونُ لِلْمُشْرِكِينَ عَهْدٌ عِنْدَ

پوهیږي ... څنګه به وي، مشرکانو لره لوظ، په نزد

اللّٰهِ وَعِنْدَ رَسُولِهِ إِلَّا الَّذِينَ عٰهَدْتُّمْ عِنْدَ

د الله او په نزد د رسول د هغه، مګر هغه کسان چې تاسو ورسره لوظ کړی، په خوا د

الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ فَمَا اسْتَقَامُوا لَكُمْ فَاسْتَقِيمُوا

مسجد حرام کښې، پس څو چې برابر اوسي دوی تاسو لره پس تاسو هم برابر اوسئ

لَهُمْ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ ⑦ كَيْفَ وَإِنْ

هغوی لره، بیشکه الله تعالیٰ خوښوي پرهیزګاران، څنګه به وي لوظ د دوی او که

يَظْهَرُوا عَلَيْكُمْ لَا يَرْقُبُوا فِيكُمْ إِلًّا وَّلَا ذِمَّةً

زور کور شي په تاسې باندې، نو لحاظ نکوي دوی ستاسې کښې، د خپلولۍ او نه د لوظ،

يُرْضُونَكُمْ بِأَفْوَاهِهِمْ وَتَأْبٰى قُلُوبُهُمْ وَ

راضي کوي تاسې لره په خلو خپلو، او انکار کوي زړونه د دوی، او

أَكْثَرُهُمْ فٰسِقُونَ ⑧ اِشْتَرَوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا

زیات د دوی نه، فاسقان دي، اخیستې دی دوی په ایتونو د الله تعالیٰ، قیمت

قَلِيلًا فَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِهِ إِنَّهُمْ سَآءَ

لږ، پس ایسار کړي خلق، د لارې د الله تعالیٰ نه، بیشکه دوی چې دي، بد دي

مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ⑨ لَا يَرْقُبُونَ فِي مُؤْمِنٍ

هغه عمل چې دوی کوي ..... لحاظ نکوي، په هیڅ مؤمن کښې،

إِلًّا وَّلَا ذِمَّةً وَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُعْتَدُونَ ⑩

د خپلولۍ او نه د لوظ، او دغه کسان، هم دوی زیاتی کوونکي دي۔

كَيْفَ يَكُونُ، د دې ځای نه جوابات د سوالونو د قتال شروع شو. اول مانع عهد ته کیږي جواب: د مشرک عهد لره څه اعتبار نشته۔ إِلًّا وَّلَا ذِمَّةً د إِلّ معنیٰ قرابت، خپلولي، قسم او د ذمه معنیٰ عهد، لوظ، او ګوری ابن کثیر ص ٣٣٣ د دې ایات نه هم راتلل علمونه د پاره د جهاد. د دې په مخه کیږي، د دې په ملا کیږي، د دې په مخ کیږي، د دې په ملا کیږي۔

اِشْتَرَوْا: اخیستې دی دوی په ایتونو د الله تعالیٰ بانډې قیمت لږ. الوسي رحمه الله فرمائي یعني سپک شي د سامان د دنیا نه. (روح ج ١٠)۔

إِلًّا وَّلَا ذِمَّةً: حسان رضی الله عنه فرمائي کوم چې د دربار نبوي ﷺ شاعر و وو: ـــ

وَجَدْنَا كَالْفِطْرِ كَالَذِي بَا إِلٰهَهُمْ۔

وَذُو الإلِّ وَالْعَهْدِ لَا يَنْكُثُ

ترجمه: بیا موند ل مونږ د هغوی لره د دروغژن په قرابت کښې او خاوند د قرابت او د لوظ د روغ نه والي ✧

(ابن کثیر ص ٣٣٨ ج ٢)

✧ ✧ ✧

فَقَاتِلُوٓا اَئِمَّةَ الْكُفْرِ : د شیخ الهند رحمه الله فرمائي چه ګړے دَدے آیت نه بنوکنانه او بنوضمره مراد
دی کوم چه په عهد باندې قائم وو نه. آګې به چې صلح په سر صلح کړه باندې به دی او ګړے دَدے نه لوط ماتونکی

فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ

پس که دوی توبه وویستله او قائم ئے کړو مونځ، او ورکړو زکوة،

فَاِخْوَانُكُمْ فِي الدِّيْنِ ۭ وَنُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ

پس دوی ورونه ستاسو دی په دین کښې، او تفصیل سره بیانوو آیتونه دَ هغه قوم دپاره

يَّعْلَمُوْنَ ۝ وَاِنْ نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ عَهْدِهِمْ

چه پوهیږی. او که ماتے کړی قسمونه خپل، پس دَ لوظ دَدوی نه،

وَطَعَنُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ فَقَاتِلُوْٓا اَئِمَّةَ الْكُفْرِ ۙ اِنَّهُمْ

او عیب وګڼلو په دین ستاسو کښې پس جنګ کوئ دَ مشرانو دَ کفر سره، یقیناً دوی لره

لَآ اَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُوْنَ ۝ اَلَا تُقَاتِلُوْنَ

نشته هیڅ قسمونه دوی لره، دَ دې دپاره چه دوی منع شی دَ کفر نه. ولے نه جنګ کوئ

قَوْمًا نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ وَهَمُّوْا بِاِخْرَاجِ

دَ هغه قوم سره چه مات کړی ئے قسمونه خپل، او قصد ئے کړے په راویستلو

الرَّسُوْلِ وَهُمْ بَدَءُوْكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ ۭ اَتَخْشَوْنَهُمْ ۚ

دَ رسول، او دوی شروع کړے ده جنګ ستاسو سره اول ځل، آیا ویریږئ دوی نه،

فَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشَوْهُ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝

پس الله لائق دے چه ویریږئ دَ هغه نه، که چرے یاستئ تاسو ایمان لرونکی.

قَاتِلُوْهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ بِاَيْدِيْكُمْ وَ

وجنګیږئ دوی سره چه عذاب ورکړی دوی ته الله تعالی په لاسونو ستاسو، او

يُخْزِهِمْ وَيَنْصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ

شرموی به دوی لره، او امداد به کوی ستاسو په دوی باندې، او شفاء به ورکړی

صُدُوْرَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِيْنَ ۝ وَيُذْهِبْ غَيْظَ

زړونو دَ قوم ایماندارو لره، او لرے به کړی غصه دَ

قُلُوْبِهِمْ ۭ وَيَتُوْبُ اللّٰهُ عَلٰى مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ

زړونو دَدوی، او مهربانی به وکړی الله تعالی په هغه چا چه رضا ئے وشی،

مشرکان مراد شی نو بیا اِنَّ په
معنی دَ اِذَا به وی څکه چه په دے
صورت کښې لوظ ماتول مستقبل کښې
وی. (جواهر ص ۳۱۴) فائده: چه
دارالاسلام کښې غیر مسلم ذمیانو
لره په اسلام باندې دَ علمی تنقید
اجازت خو شته مګر دَ طعن او دَ
تشنیع اجازت نشته (معارف ص ۳۳۲)
زجاج رحمه الله فرمائی چه دا آیت
واجبوی قتل دَ هغه ذمی چه
طعنه په اسلام کښې ظاهروی ځکه
لوظ دَ ذمی مشروط دے په دے
چه طعنه به نکوی په اسلام
کښې، ګړے طعنه ئے وکړه پس
وعده خلافی ئے وکړه او لوظ
ئے مات شو. (کبیر ص ۲۳۳)
لَآ اَيْمَانَ لَهُمْ : نشته قسمونه
دوی لره. مطلب دا دے چه
اعتبار ورله نشته او په حقیقت
کښې دَ دوی قسمونه څه شے
نه دے. فَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ
تَخْشَوْهُ : دا آیت دلالت کوی
په دے باندې چه مؤمن لره پکار
دی چه دَ رب خپل نه ویریږی
او دَ هغه نه سوا دَ بل چا نه نه
ویریږی (کبیر ص ۲۳۳) قَاتِلُوْهُمْ
: دیکښې اعلان دَ قتال دے
پس دَ ترغیب نه او په دیکښې
څلور فائدے او په دریم آیت
کښې دوه نورے فائدے دَ جهاد
ذکر کوی. او په دے کښې هم
ترغیب دے. بیا ص ۱۰ هم ذکر کوی.
وَلِيْجَةً (حاشیه دَ راتلونکی مخ
ص ۱۰۷): رازدار دوست او صاحب
دَ راز. (ابوالسعود ص ۴۹) مَا كَانَ
لِلْمُشْرِكِيْنَ : دلته — دَ دوی
مانع جواب دے چه جماعت نه جوړوی

مانع جواب دے چه جماعت نه جوړوی او خدمت دَ حاجیانو کوی. جواب دا دے چه دَ مشرکانو دا عمل
قبول نه دی. شٰهِدِيْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ : امام رازی رحمه الله فرمائی چه په تفسیر دَدے شهادت کښې
مفسرینو توجیهات ذکر کړی دی. اوله توجیه او هغه ډیره صحیح ده دا ده چه دوی اقرار کوی په ځانونو

عملو باندې په عبادت د بتانو او په نکښ یې د قرآن او په انکار د نبوت د محمد علیه الصلوة والسلام. او د اقول کفر دے پس خوک چه گواهي کوي یعنیل ځان په دے خبرو شیونو بس دغه گواهي وکړه په ځان

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۱۵﴾ اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تُتْرَكُوْا

او الله تعالی پوهه حکمت والا دے. ایا گمان کوئ تاسو چه پریخودے شئ تاسو (امتحان)

وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جٰهَدُوْا مِنْكُمْ وَلَمْ

او لا نه دي جيل کړي الله تعالی هغه کسان چه جهاد ئے کړے ستاسو نه، او نه ئے دي

يَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلَا رَسُوْلِهٖ

نیولي ، — سوا د الله تعالی نه ، او نه د رسول د هغه نه ،

وَلَا الْمُؤْمِنِيْنَ وَلِيْجَةً ۭ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌ ۢ بِمَا

او نه د مؤمنانو نه رازدار دوست ، او الله تعالی خبردار دے په هغه عملونو چه

تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶﴾ مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ اَنْ

تاسې کوئ . — نه دی مناسب ، مشرکانو لره ، چه

يَّعْمُرُوْا مَسٰجِدَ اللّٰهِ شٰهِدِيْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ

جوړ کړي ، جماتونه د الله تعالی ، چه گواهي (اقرار) کوي په ځانونو خپلو ،

بِالْكُفْرِ ۭ اُولٰۗىِٕكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ ښ وَفِي النَّارِ

په کفر سره ، دغه کسان برباد شوي دي عملونه د دوی ، او په اور کښې به

هُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿۱۷﴾ اِنَّمَا يَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ

دوی همیشه وسیږي . — یقیناً جوړ وي ، جماتونه ، د الله تعالی

مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَقَامَ

هغه څوک چه ایمان راوړي په الله تعالی او په ورځ د روستنۍ ، او قائم ساتي ،

الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ وَلَمْ يَخْشَ اِلَّا اللّٰهَ

مونځ لره ، او ورکوي زکوٰة لره ، او نه ویریږي ، مگر د الله نه ،

فَعَسٰٓى اُولٰۗىِٕكَ اَنْ يَّكُوْنُوْا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ﴿۱۸﴾

پس قریب دی ، دغه کسان چه وي ، د هدایت موندونکو نه .

اَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاۗجِّ وَعِمَارَةَ

ایا گرځولي دي تاسې خړوبول ، د حاجیانو ، او اباد ول ،

ع ۱۰

خپل په هغه شي چه هغه کفر دے په نفس الامر کښې (کبیر ۳۰۳). اِنَّمَا يَعْمُرُ : دے ایت کریمه کښې پنځه صفات د مومنانو ذکر کوي چه جمات جوړول د هغه چا قبول دي چه دا پنځه صفات پکښې وي. فائده : د جماتونو جوړول په دوه قسمه دي ظاهري اباد ول او هم باعث د لوی ثواب دے. د حضرت سیدنا عثمان رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چا چه جوړ کړو د الله تعالی د رضا د پاره ورله جمات ، جوړ به کړي الله تعالی د هغه د پاره یو کور په جنت کښې (متفق علیه مشکوة ص ۶۸). دویم ئے حقیقي اباد ول دي په عبادت سره. قاضی ثناء الله رحمه الله لیکي چه مراد په اباد ولو د جمات سره همیشه د عبادت او د ذکر دے په دے کښې او درس د علم او د قرآن دے. (مظهري ۱۴۸) او الوسي رحمه الله هم لیکي چه اباد ئے همیشگي د عبادت او د ذکر او د درس د علوم شرعیه دے په جماتونو کښې. (روح ص ۶۸) قاسمي ۲۴۳۳ او سراج منیر ۵۹ او الهام الرحمن ۲۴۳ هم لیکلے شي. د شاه ولي الله شیخ رحمه الله فرمائي: مشرکان او بد عتیان که ظاهري تعمیر کوي لیکن روحاني تخریب کوي (افضل التراجم ص ۲۴۳) اَجَعَلْتُمْ

سِقَايَةَ الْحَاۗجِّ : دا د ماقبل جواب سره متعلق دے چه د مشرک نیک عملونه برباد دي ، د دغه عمل په وجه د ، ما ئے ار سره نشي برابریدے ؛

الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ
درجات عز تيمن پشان د ايمان د هغه چا چه ايمان ئے راوړے په الله او په ورځ
الْآخِرِ وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ لَا يَسْتَوُونَ
روستني او جهاد ئے کړے په لاره د الله تعالی کښ، نه دي برابر
عِنْدَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿١٩﴾
په نزد د الله او الله نه هدايت کوي قوم ظالمانو ته
الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ
هغه کسان چه ايمان ئے راوړے او هجرت ئے کړے او جهاد ئے کړے په لاره د
اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ أَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ
الله په مالونو خپلو او په ځانونو خپلو، لوئے درجے والا دي په نزد
اللَّهِ ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ ﴿٢٠﴾ يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ
د الله او دغه کسان دوی کامياب دي، زيرے ورکوي دوی ته رب د دوی
بِرَحْمَةٍ مِنْهُ وَرِضْوَانٍ وَجَنَّاتٍ لَهُمْ فِيهَا
په رحمت سره د طرف خپل نه او په رضامندئ سره او په باغونو دوی ته په هغو کښ
نَعِيمٌ مُقِيمٌ ﴿٢١﴾ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۚ إِنَّ اللَّهَ
نعمت هميشه دي، هميشه وسيدونکي به هغو کښ تل تر تله، يقيناً الله تعالی
عِنْدَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿٢٢﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا
د هغه سره اجر لوئے دے، اے هغه کسانو چه ايمان مو راوړے
لَا تَتَّخِذُوا آبَاءَكُمْ وَإِخْوَانَكُمْ أَوْلِيَاءَ
مه نيسئ پلاران خپل او وروڼه خپل دوستان
إِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ عَلَى الْإِيمَانِ ۚ وَمَنْ
که خوښ کړي دوی کفر په ايمان باندے، او چا چه
يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿٢٣﴾
دوستي ورسره وکړه ستاسو نه پس دغه کسان يقيناً ظالمان دي

کمن: د لته مضاف پټ دے يعنی كَإِيمَانِ مَنْ آمَنَ: (اول حج) معنی دا شوه: آيا گرزولي تا سو خروبول د حاجيانو او آبادي د مسجد حرام برابر د ايمان د هغه چا چه ايمان ئے راوړے په الله تعالی. الَّذِينَ آمَنُوا: په دے آيت کريمه کښ ئے علت د ما قبل وخوده او وئ ده چه په اخري حصه او ژوندون دوا ړو ايتونو مثلا کښ زيرے د آخرت دے. يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا (٢٣): دا جواب د دريم مانع د جهاد دے چه وے مشرکانو سره زموږ خپلوئي دي نو صله رحمي ورسره پکار ده نو جواب راغلو چه د کفر په وجه د دوی سره دوستانه کول منع دي. فائده: د ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل دي چه خوله په شرک باندے راضي شو هغه مشرک دے.

الهام الرحمن ص ٣٣٢ کښ د قرطبي ص ... کبير ص ... عبارتونه کتلي شي. مفتي صاحب رحمه الله معارف ص ٣٣٥ کښ دا شعر ليکلے دے:

هزار خويش که بيگانه از خدا باشد
فدائے يک تن بيگانه کآشنا باشد

✣ ✣ ✣ ✣ ✣

قُلْ إِنْ كَانَ اٰبَآؤُكُمْ: دا ایت د مخکښې ایت سره تعلق لري او زړورنه یکښې ده او اٰتنه شوي نه یکښې ذکر کوي چه که
د تاسو ته محبوب وي د الله تعالیٰ او د رسول د هغه نه او د جهاد د هغه لاره د الله نه ګرځي، پس انتظار د عذاب وکړئ.

قُلْ إِنْ كَانَ اٰبَآؤُكُمْ وَاَبْنَآؤُكُمْ وَاِخْوَانُكُمْ
ووایه، که چرې وي پلاران ستاسې او ځامن ستاسې او وروڼه ستاسې
وَاَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيْرَتُكُمْ وَاَمْوَالُ ۨاقْتَرَفْتُمُوْهَا
او ښځې ستاسې او کورنۍ ستاسې او هغه مالونه چه ګټلي دي تاسې هغه
وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ
او هغه تجارت چه وېرېږئ د کوټه کېدو د هغې نه او هغه کورونه چه تاسې خوښوئ هغه
اَحَبَّ اِلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَجِهَادٍ فِيْ
ډېر خوږ دي تاسو ته د الله تعالیٰ او رسول د هغه او د جهاد نه په
سَبِيْلِهٖ فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ؕ وَاللّٰهُ
لاره د هغه کښې پس انتظار وکړئ تر دې چه راولېږي الله تعالیٰ فیصله خپله او الله تعالیٰ
لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۲۴﴾ لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ
هدایت نه کوي فاسقانو ته. یقیناً امداد کړې ستاسې الله تعالیٰ
فِيْ مَوَاطِنَ كَثِيْرَةٍ ۙ وَّيَوْمَ حُنَيْنٍ ۙ اِذْ اَعْجَبَتْكُمْ
په ځایونو ډېرو کښې او په ورځ د حنین کښې کله چه عجب کښې واچولو تاسو لره
كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْـًٔا وَّضَاقَتْ عَلَيْكُمُ
ډېروالي ستاسو پس فائده ونه کړه تاسو ته د هېڅ شي او تنګه شوه په تاسې
الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُمْ مُّدْبِرِيْنَ ﴿۲۵﴾
زمکه سره د فراخوالي د هغې نه بیا وګرځېدئ تاسې شا کوونکي.
ثُمَّ اَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَعَلَى
بیا رالېږله الله تعالیٰ تسلي خپله په رسول خپل باندې او په
الْمُؤْمِنِيْنَ وَاَنْزَلَ جُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا ۚ
ایماندارو باندې او رالېږلې لښکرې چه تاسو نه لیدلې هغه
وَعَذَّبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ وَذٰلِكَ جَزَآءُ
او عذاب ئې ورکړو هغه کسانو ته چه کفر ئې کړې وو او دغه بدله ده سزا د

ع ۸
۹

فَلَمْ تُغْنِ: علامه خازن رحمه الله فرمائي چه دا اسره د زورنه او د وېرې کولو باره وه (خازن). لَقَدْ نَصَرَكُمُ: په دې ایت کښې اشارت دی د الله تعالیٰ په امداد او بیل یکښې دا خبره ده چه توکل په الله تعالیٰ کوي نه په تحصیل د ډېروالي. وَيَوْمَ حُنَيْنٍ: حنین د مکې او د طائف په مابین کښې د مکې نه درې میله په فاصله باندې د یو میدان نوم دی. د الله د فتح مکې نه پس د هوازن، ثقیف وغیره قبائلو د مشرکانو سره د مسلمانانو جنګ شوی وو، مشرکان شلور زره وو او مسلمانان دولس زره وو (جواهر ۲۳۲). د بعضې مسلمانانو په زړونو کښې راغلل چه نن مونږه د کموالي په وجه نه شو مغلوب نو الله تعالیٰ تنبیه ورکړه. د پیتوئي شیخ رحمه الله فرمائي چه نبي علیه السلام سره د څو ملګرو تقریباً شل یا اتیا وو سره د دشمن په مقابله کښې ثابت قدم پاتې شو. (جواهر ۲۳۳) مولانا عثماني فرمائي چه نبي علیه السلام په سپینه قچره سور وو او حضرت عباس رضی الله عنه یو طرف د رکاب نه او ابو سفیان بن حارث بل طرفته ونیوو زړه ئې د الله تعالیٰ سره لګېدلې وو او په ژبه ئې په ډېره استغناء او اطمینان سره دا ویلې: أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ، أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ (جواهر ۲۳۳). ثُمَّ اَنْزَلَ اللّٰهُ: په دې ایت کریمه کښې ذکر د امداد د الله تعالیٰ دی په غزوه حنین کښې. ثُمَّ يَتُوْبُ اللّٰهُ: (حاشیه رانولي مونږ تعلیق ۲۳۴) په دې ایت کښې اشاره ده دې طرفته چه د غزوه حنین نه پس الله تعالیٰ ډېرو خلقو ته توفیق د ایمان راوړلو ورکړو. يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا: د دې ایت کریمه په اول سر کښې د مشرکانو سره د بېزارۍ یو قسم ذکر شو چه مسجد حرام او خانه ور د هغه ته

په ننه واخلیږي او وجه ئې دا وه چه دوی نجس او پلیت دي. نَجَسٌ: مُراد ترینه باطني نجاست دے چه کفر او شرك دے او یا ظاهري نجاست دے پر ته هم دے. وَاِنْ خِفْتُمْ عَیْلَةً: او که چرے ویریږئ د غریبئ نه. د دې خائف نه د علوم مانع جواب دے.

الْکٰفِرِیْنَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ یَتُوْبُ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ

د کافرانو دا. بیا مهرباني وکړي الله تعالیٰ، پس د دغه نه،

عَلٰی مَنْ یَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ﴿٢٧﴾ یٰٓاَیُّهَا

په هغه چا چه خوښه ئې وي، او الله تعالیٰ بښونکے مهربانه دے ...... اے

الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا الْمُشْرِکُوْنَ نَجَسٌ فَلَا

ایمان والو! یقیناً مشرکان پلیت دي، پس نه دې

یَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا ۚ

نزدے کیږي (داخلیږي) د جمات حرام ته، پس د کال د دوی نه چه دا دے،

وَاِنْ خِفْتُمْ عَیْلَةً فَسَوْفَ یُغْنِیْکُمُ اللّٰهُ

او که چرے ویریږئ د غریبئ نه، پس زر دے چه مالداره به کړي تاسو لره الله تعالیٰ

مِنْ فَضْلِهٖٓ اِنْ شَآءَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِیْمٌ حَکِیْمٌ ﴿٢٨﴾

د فضل خپل نه که چیرے وغواړي، یقیناً الله تعالیٰ پوهه حکمت والا دے.

قَاتِلُوا الَّذِیْنَ لَا یُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْیَوْمِ

جنګ کوئ د هغه کسانو سره چه ایمان نه راوړي په الله تعالیٰ او نه په ورځے

الْاٰخِرِ وَلَا یُحَرِّمُوْنَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ

روستنۍ، او حرام نه گنړي هغه چه حرام کړي الله تعالیٰ او رسول د هغه،

وَلَا یَدِیْنُوْنَ دِیْنَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِیْنَ

او تابعداري نه کوي د دین حق، د هغه کسانو نه چه

اُوْتُوا الْکِتٰبَ حَتّٰی یُعْطُوا الْجِزْیَةَ عَنْ

ورکړے شوې دے کتاب، تر دے چه ورکړي دوی جزیه، په لاس

یَّدٍ وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ ﴿٢٩﴾ وَقَالَتِ الْیَهُوْدُ

خپل سره، او دوی به ذلیلان وي. او وائي یهودیان،

عُزَیْرُ ابْنُ اللّٰهِ وَقَالَتِ النَّصٰرَی الْمَسِیْحُ

عزیر علیه السلام ځوئ د الله دے، او وائي نصاری، مسیح (عیسیٰ علیه السلام)

چه د تجارت مال به بند شي، اقتصادي پابندئ به ولګوي. الآیة: بحث الکلي دی چه الله تعالیٰ خپله وعده پوره کړه باران ئې په دوی باندې شیلي راولیږلو او د نجد اهل قبائلو او د جرش خلقو ته ئې توفیق ورکړو اسلام ئې راوړو او دوی ته ئې طعام او نور د ژوند د احتیاج شیونه راوړل بیا پرے الله تعالیٰ ښارونه او غنیمتونه فتح کړه او راتوجه شو دوی ته خلق د لرے لرے ځایونو نه (روح ج٦). قَاتِلُوا الَّذِیْنَ: د دے ایت مبارکه نه تر ختمه پورے د دریم قسم دے. وکښې درے امور دي (١) اعلان قتال د اهل کتابو سره. (٢) شپږ قبائح د هغوی چه دا سببونه د قتال د هغوی دي. د دریم ۳٢ او څلورم په ۳۳ پنځم په ۳٤، شپږم په ۳٤ کښې. (٣) رد د رسمونو باطله په ۳٥-۳٦ کښې. وَلَا یَدِیْنُوْنَ: او عقیده نه ساتي د دین اسلام چه هغه حق دے (مدارك ج۲). حَتّٰی یُعْطُوا الْجِزْیَةَ: جزیه په لغت کښې بدله او جزاء ده او د شرعے په اصطلاح کښې د دے نه مراد هغه رقم دے چه د کفارو نه د قتل په بدل کښې اخستے شي (معارف ج۳) او تفصیلي احکام د جزیے په احادیثو کښې او په کتابونو د فقهې کښې ذکر دي (احسن الکلام ج۱) کافران چه جزیه ورکړي د هغوی وینه او مال محفوظ شي لکه د مسلمانانو. البته د هغوی ژوند به په دار الاسلام کښې په عزت نه وي (افضل التراجم ج۲٦). عَنْ یَّدٍ: د عن یب حاصل دا دے چه د هغوی شوکت (دبدبه) پاتے نشي او د صٰغِرُوْنَ حاصل دا دے چه د شریعت سره متعلقه معاملات او سیاسیات تو لره به خپلے ذمے کیدي. (بیان القرآن ص ٥٨٦ ج١)

ذٰلِكَ قَوْلُهُمْ: دا وینا د دوی خلو د دوی په تسبیل سره کښی دی چه دلیل ورسره نشته. دیکښی یقیناً خالی مالی دعوی ده،
یُضَاهِئُوْنَ: دلته ورته توجیه کولے دی (۱) مشابهت کوی د یهود د وینا د دوی د مشرکانو سره چه کفر نے کړے مخکښی ددې نه چه مشرکانو وئیلے ملائک

ابْنُ اللّٰهِ ۚ ذٰلِكَ قَوْلُهُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ ۚ يُضَاهِئُوْنَ
ځوی د الله تعالیٰ دی، دا وینا د دوی ده په خلو د دوی په دے. مشابهت کوی دوی
قَوْلَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ ۚ قَاتَلَهُمُ اللّٰهُ ۚ
د وینا د هغه چا سره چه کفر نے کړے مخکښی د دوی نه، هلاک دې کړی دوی الله تعالیٰ،
اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿۳۰﴾ اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ
کوم طرف ته اړولے شی دوی. نیولی دی دوی ملایان خپل او پیران خپل
اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَالْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ ۚ
خدایان سوا د الله تعالیٰ نه، او مسیح ځوی د مریم لره،
وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوْٓا اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ لَآ
او حکم نه و کړے شوی دوی ته مګر دے چه عبادت وکړی د معبود یو، نشته لائق
اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ سُبْحٰنَهٗ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۳۱﴾ يُرِيْدُوْنَ
د بندګئ مګر الله تعالیٰ دے، پاک دے هغه د هغه څه نه چه دوی ئے ورسره شریکوی. اراده کوی دوی
اَنْ يُّطْفِئُوْا نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ وَيَاْبَى
چه مړ کړی رڼا د الله تعالیٰ په خلو خپلو، او انکار کوی
اللّٰهُ اِلَّآ اَنْ يُّتِمَّ نُوْرَهٗ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۳۲﴾
الله تعالیٰ مګر چه پوره کړی رڼا خپله، او اګر چه بد ګڼی کافران.
هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَ
الله تعالیٰ هغه ذات دے چه رالیږلے ئے دے رسول خپل، په هدایت، او په
دِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ۙ وَ
دین حق باندے، چه غالب ئے کړی، په دینونو ټولو باندے، او
لَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ﴿۳۳﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا
اګر چه بد ګڼی مشرکان. اے ایماندارانو!
اِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ الْاَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَاْكُلُوْنَ
یقیناً ډیر د ملایانو، او پیرانو نه، خامخا خوری،

ته چه مشرکانو وئیلے ملائک د الله تعالیٰ لونړه دی (۲) مشابهت کوی نصارئ چه وائی عیسیٰ علیه السلام د الله تعالیٰ ځوئے دے د وینا د یهودو سره چه عزیر علیه السلام د الله تعالیٰ ځوئے دے (۳) مشابهت کوی دا نصارئ د وینا د مشرانو خپلو سره یعنی دا عقیده ئے د مخکښنو نه اخستے ده. وګوری کبیر ص ... اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ: نیولی دی ملایان خپل او پیران خپل خدایان سوا د الله تعالیٰ نه. اګر کښی رحمه الله وائی چه دوی به ورته سجدے کولے ځکه چه الله تعالیٰ ته سجدے کوی او سجده نشته مګر د الله تعالیٰ د پاره (کبیر ص ...) (۲) او په حدیث د عدی رضی الله عنه کښی راغلی چه ما ووئیل چه دوی خو ئے عبادت نه و کړے نو نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه ملایانو او پیرانو به دوی له حرام شوی حلال او حلال شوی به ئے ورله حرام او دوی به ئے تابعداری کوله پس دغه عبادت وو د دوی هغوی لره. (ابن کثیر رحمه الله، ابن جریر رحمه الله) فائده ۱: ځکه چه د جاهلانو عادت دے چه کله ئے تر مخه کوم درسو نونه نو مخکښی لکوی په قول د مشائخو خپلو. (مسائل السلوک ...) او اوس هم دغه کښی اشاره ده په والی د تقلید خالی صالی رحمه الله ته (ابطال اشارات ...) فائده ۲: د ناواقفه عوامو د پاره د علماؤ فتوو اتباع یا اجتهادی مسائلو کښی د اماماًنو مجتهدینو اتباع ددے ایت سره هیڅ تعلق نشته. (معارف ...) شیخ القرآن رحمه الله

به فرمایل چه غولا وائی چه مراد تر ینه مقلدین د اماماًنو دی نو دا زنادقه دی تحریف د کتاب د الله تعالیٰ کوی.
یُرِیْدُوْنَ: (۵) ... صف وګوری. یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا: په دے ایت کښی بل سبب د قتال د اهل کتابو دے.
فائده ۶: حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکی چه مقصود ورنه ویرول دی د ناکاره ملایانو او ګمراه عابدانو نه لکه چه

عه سفیان بن عیینه رحمه الله فرمائي خلق چه برباد شي د عالمانو زمونږ نه نو په دغه کښې شبه د یهودو ده
او خلق چه برباد شي د عابدانو زمونږ نه نو په دغه کښې شبه د نصارا وو ده (ابن کثیر ص۳۰۲) ۲۴ وَالَّذِیْنَ یَکْنِزُوْنَ
او هغه کسان چه خزانه کوي راجع کوي —

اَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَیَصُدُّوْنَ عَنْ
مالونه د خلقو په باطله طریقه باندې او اړوي خلق له د

سَبِیْلِ اللّٰهِ ۭ وَالَّذِیْنَ یَکْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَ
لارې د الله تعالی نه او هغه کسان چه جمع کوي سره د زرو او

الْفِضَّةَ وَلَا یُنْفِقُوْنَهَا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ۙ فَبَشِّرْهُمْ
سپین زر او نه خرچ کوي هغه په لارې د الله تعالی کښې پس زیرې ورکړه دوی له

بِعَذَابٍ اَلِیْمٍ ﴿۳۴﴾ یَّوْمَ یُحْمٰی عَلَیْهَا فِیْ نَارِ جَهَنَّمَ
په عذاب دردناک سره په کومه ورځ چه تودولی شي دغه په اور د جهنم کښې

فَتُکْوٰی بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوْبُهُمْ وَظُهُوْرُهُمْ ؕ
بیا داغې به شي په دغو سره تندې د دوی او اړخونه د دوی او شاګانې د دوی

هٰذَا مَا کَنَزْتُمْ لِاَنْفُسِکُمْ فَذُوْقُوْا مَا کُنْتُمْ
به دا هغه څه دي چه جمع کړي وو تاسو د ځانونو د پاره پس وڅکئ سزا د هغه څه چه تاسو

تَکْنِزُوْنَ ﴿۳۵﴾ اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا
جمع کول درته بیشکه شمیر د میاشتو په نزد د الله تعالی دوولس

عَشَرَ شَهْرًا فِیْ کِتٰبِ اللّٰهِ یَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ
میاشتې دي په کتاب د الله تعالی کښې په هغه ورځ چه پیدا کړي دي اسمانونه

وَالْاَرْضَ مِنْهَاۤ اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ؕ ذٰلِکَ الدِّیْنُ
او زمکه چه د دغو نه څلور میاشتې عزتمندې دي دغه دین

الْقَیِّمُ ۙ فَلَا تَظْلِمُوْا فِیْهِنَّ اَنْفُسَکُمْ وَقَاتِلُوا
سم دے پس ظلم مه کوئ په دغو میاشتو کښې په ځانونو خپلو او جنګ کوئ

الْمُشْرِکِیْنَ کَآفَّةً کَمَا یُقَاتِلُوْنَکُمْ کَآفَّةً ؕ
د مشرکانو سره ټول سره لکه څنګه چه جنګ کوي دوی تاسو سره ټول سره

وَاعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِیْنَ ﴿۳۶﴾ اِنَّمَا النَّسِیْٓءُ
او پوهه شئ چه بیشکه الله تعالی ملګرے د متقیانو دے بیشکه وروستو کول د میاشتو

په وکښې ډو دیسے ولے ذکر دے چه مالداران دي ځکه چه خلق محتاجه دي عالمانو ته او عابدانو ته او مالدارو ته ځکه چه خراب شي احوال د دوی نو خرابیږي احوال د ټولو خلقو. ځکه چه ابن المبارک رحمه الله فرمائیلي دي: وَهَلْ اَفْسَدَ الدِّیْنَ اِلَّا الْمُلُوْکُ وَاَحْبَارُ سُوْءٍ وَّرُهْبَانُهَا (ابن کثیر) او اغاثه ص۱۳ او علم او علماء وغیره د علیه اباوي هم وګوره. کنز خزانه هغه مال ته ویلے شي چه زکوٰة ترینه ورنکړے شي. ځکه چه د ابن عمر رضي الله عنه په روایت کښې دي (ابن کثیر ص۲۰) اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ: د څلورو عزتمند میاشتو نه مراد رجب، ذو القعده، ذو الحجه، محرم مراد دي. او اسلامي کال د محرم نه شروع کیږي. اِنَّمَا النَّسِیْٓءُ: نسي: تاخیر د حرمت د یوے میاشتے ورے بلے میاشتے ته (مدارک ص۱۲۵ تسهیل ص۶۹) الوسي رحمه الله. لیکي عرب چه ولو که به چه عزتمنده میاشت راغله او دوي به جنګ کولو نو هغه به ئے حلاله کړه او د هغې په ځائے به ئے بله حرامه کړه. پس د محرم میاشت به ئے حلاله کړه او که حاجت به ئے پیښ شو نو صفر به ئے هم حلاله کړه او ربیع الاول به ئے حرامه کړه او دغه رنګے به ئے کول تر دے چه تحریم به د کال په ټولو میاشتو کښې وګرځیدو او دوي به په حرامو کښې تصرف د شمیر اعتبار کولو نه د خصوصیت سره معلوم (روح ص۹۴) مفتي صاحب رحمه الله لیکلي دي خبره خو مختصره ده چه د میاشتے نوم بدل شي او ځکه ئې روستو شي محرم. صفر او صفر محرم شي لیکن دوي چه څه کښې په دے نو شرعي احکام بدل شوي او په هغو عمل کول برباد دي. د قرآن مجید په دے دوو ایتونو کښې د دغه رسم جاهلیت د خرابۍ او مسلمانانو نه د دغے نه د ځان ساتلو وصایت دے (معارف ص۲۷) د شاه پور شیخ رحمه الله وائي چه دوي دوه قصا نه ذکر کړه

حرام ئے حلال کړه او حلال ئے حرام کړه (افضل التراجم ٣٦٥) په يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا، کښې د دے څائے نه
تر دوکوع ختمېدو پورے درېم قسم دے يو ځنے مقبر ے پکښې شپږ دی (١) زواجر منافقانو ته د حلے نه (٢) تربيه

زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ يُضَلُّ بِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُحِلُّونَهُ
زياتوالے دے په كفر كښې، ګمراه كولے شي په دې سره هغه كسان چه كافر شوي دي حلالوي دا مياشت
عَامًا وَيُحَرِّمُونَهُ عَامًا لِيُوَاطِئُوا عِدَّةَ مَا حَرَّمَ
يو كال او حراموي ئے بل كال، چه برابر كړي شمېر د هغو چه حرمت وركړے
اللَّهُ فَيُحِلُّوا مَا حَرَّمَ اللَّهُ ۚ زُيِّنَ لَهُمْ سُوءُ أَعْمَالِهِمْ ۗ
الله، نو حلال كړي هغه چه حرام كړے الله، ښائسته كړے شوي دي دوي ته بد عملونه د دوي
وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ ﴿٣٧﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ
او الله تعالى هدايت نه كوي قوم كافرانو ته.. اے د ايمان
آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ
خاوندانو! څه شوي دي تاسو ته چه كله ووئيلے شي تاسو ته، ووځئ په لاره د الله كښې
اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ ۚ أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا
نو درانه شئ تاسو زمكے ته، آيا راضي كېږئ تاسو په ژوند د دنيا سره؟
مِنَ الْآخِرَةِ ۚ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ
په بدله د آخرت كښې، پس نه دے ګټه د ژوند د دنيا په بدله د آخرت كښې
إِلَّا قَلِيلٌ ﴿٣٨﴾ إِلَّا تَنْفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا
مګر لږ. كه چرے ونه وځئ تاسو نو عذاب به دركړي تاسو ته، عذاب دردناك،
وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئًا ۗ
او په بدل كښې به راولي قوم، غير ستاسو نه، او ضرر نشئ رسولے تاسو الله ته، هيڅ شے،
وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ إِلَّا تَنْصُرُوهُ
او الله تعالى په هر شي باندې، قدرت والا دے. كه چرے امداد ونكړئ تاسو د رسول الله ﷺ
فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا
نو هغه پورته ضرور يقيناً امداد كړے دے د هغه الله، كله چه راويستے وو هغه لره، هغه كسانو چه كافران وو،
ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ
دويم د دوو نه، كله چه دواړه په غار كښې وو، كله چه ووئيل،

ع ٨ ٧

جهاد ته نه وتلو باندې (٣) تخويف منافقانو ته (٤) تذكره د ترغيب قسمه منافقانو ته (٥) تخويف منافقانو ته (٦) تذكره د بېره شپږمه قباحتونه د منافقانو (په ١٠)
بيان د معذورينو. فائده: په ذکر شوو آيتونو کښې د نبي کريم ﷺ د غزا کانو نه د تبوک د غزا ذکر دے او آخري غزا بيان دے او د دے په ضمن کښې ډېر احکام او هدايات دي او دا غزا د تبوک په غزا باندې نامداره ده او د نبي کريم ﷺ تقريباً آخري غزا ده.
تبوک د مدينے په شمال کښې د شام په سرحد باندې د يو مقام نوم دے (معارف القرآن) په دې کښې اشاره ده رجب ٩ سنه د تبوک غزا ته. (٢) الَّا تَنْصُرُوهُ، الرسول ﷺ فرمائي چه جواب ئے محذوف دے او سبب ئے په ځائے ذکر شوے دے. حاصل ئے دا دے، إِلَّا تَنْصُرُوهُ فَيَنْصُرُهُ اللَّهُ: كه چرے امداد ونكړئ ددۀ نو الله به ئے امداد وكړي څكه چه امداد ئے وکړو الله تعالى هغه ذات چه امداد ئے کړے وو ددۀ په ډېر سخت ضروري وخت کښې كله چه راويستلو كافرانو. (روح ٩٦/١٠) (١) إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ مفسرين رحمهم الله فرمائي چه دا آيت کريمه د ابوبكر صديق رضي الله عنه په فضيلت دلالت كوي او په دے باندې چه څوک د هغوي د صحابيت نه منكر شي نو هغه كافر دے څكه چه د صريحي نص نه منكر شو. د كورئ: قرطبي ١٣٦/٩، خازن ٢٢٦/٢، مظهري ٢٠٧/٣، كبير ٦٥/١٦، الهام الرحمٰن ٢٣٦/٣ ❖

سَکِیْنَتَهٗ عَلَیْهِ، پس راولیږله الله تعالی تسلی خپله په نبي ﷺ (۲) یا په ابوبکر رضي الله عنه (ابن عربي)، قرطبي رحمه الله فرمائي چه (زموږ) د عالمانو وائي چه قوي دا ده چه په ابوبکر رضي الله عنه نے تسلي راولیږله ځکه هغه په نبي ﷺ ویریدو.

لِصَاحِبِهٖ لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا ۚ فَاَنْزَلَ

ملګري خپل ته: مه غمجن کیږه یقیناً الله تعالی زموږ سره دے، پس راولیږله

اللّٰهُ سَکِیْنَتَهٗ عَلَیْهِ وَاَیَّدَهٗ بِجُنُوْدٍ لَّمْ تَرَوْهَا

الله تعالی تسلي خپله په هغه باندې او مضبوط ئے کړو هغه په لښکرو چه نه وو لیدلي تاسو هغه

وَجَعَلَ کَلِمَةَ الَّذِیْنَ کَفَرُوا السُّفْلٰی ؕ وَکَلِمَةُ

او وګرځوله کلمه د هغه کسانو چه کفر ئے کړے وو لاندې، او کلمه

اللّٰهِ هِیَ الْعُلْیَا ؕ وَاللّٰهُ عَزِیْزٌ حَکِیْمٌ ﴿۴۰﴾ اِنْفِرُوْا

د الله تعالی هغه اوچته ده، او الله تعالی زورور او د حکمت والا دے. ووځئ

خِفَافًا وَّثِقَالًا وَّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِکُمْ وَاَنْفُسِکُمْ

سپک یئ او که درانه، او جهاد وکړئ په مالونو خپلو او نفسونو خپلو

فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِکُمْ خَیْرٌ لَّکُمْ اِنْ کُنْتُمْ

په لار د الله تعالی کښې، دا تاسو ته غوره دي، که چرے یئ تاسو چه

تَعْلَمُوْنَ ﴿۴۱﴾ لَوْ کَانَ عَرَضًا قَرِیْبًا وَّسَفَرًا

پوهیږئ. که وے (غزوۀ تبوک) سامان نزدے، او سفر

قَاصِدًا لَّاتَّبَعُوْكَ وَلٰکِنْۢ بَعُدَتْ عَلَیْهِمُ

درمیانه، خامخا دوی به تابع شوي وو ستا، ولیکن لرے شو په دوی باندې

الشُّقَّةُ ؕ وَسَیَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَوِ اسْتَطَعْنَا

سفر (تبوک)، او زر دے چه قسمونه به وکړي دوی په الله تعالی که مونږ طاقت لرلے مونږه

لَخَرَجْنَا مَعَکُمْ ۚ یُهْلِکُوْنَ اَنْفُسَهُمْ ۚ وَاللّٰهُ

نو خامخا وتلي به وو مونږ تاسو سره، هلاکوي دوی ځانونه خپل، او الله تعالی

یَعْلَمُ اِنَّهُمْ لَکٰذِبُوْنَ ﴿۴۲﴾ عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ ۚ

پوهیږي چه یقیناً دوی خامخا دروغژن دي. معاف کړے الله تعالی ستا نه

لِمَ اَذِنْتَ لَهُمْ حَتّٰی یَتَبَیَّنَ لَكَ الَّذِیْنَ

ولے اجازه کړے تا دوی ته، تر هغه پورې چه ښکاره شوي وو تا ته هغه کسان چه

ع ۵ / ۱۳

منزل ۲

نو الله تعالی په ده تسلي او اطمینان راولیږلو او په دے مامون کیدلو نبي ﷺ (۱۳۸/۱)

خِفَافًا وَّثِقَالًا، په دے کښې امر دے د پاره د فرضیت د قتال او تقریباً لس اقوال د مفسرینو په دے کښې دي. الکهاد نے ئے آخر اُن لاندې نقل کړي دي. مجتهد ته ئے دادي (۱) سپک یعني په تګ کښې چه خوشحاله یئ او درانه یعني بوج وي په تاسے (۲) سپک یعني عیال مو کم وي او که درانه عیال مو زیات وي (۳) سپک یعني د اسلحے نه او که درانه یعني اسلحے والا (۴) سواره یعني که پیدل. وګورئ کبیر ۲۲/۱۳، مدارك ۲۲/۲. لَوْ کَانَ، تمهت وي هغه چه دوی ورته بللے شي لکه غزوه د تبوك شوه، سامان او غنیمت نزدے او اسانه.

عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ، مجاهد رحمه الله فرمائي چه بعضے خلق منافقانو ووے وبل چه اجازه په تربینه وغواړو په ټیپا شتو کښې که اجازه ئے وکړه او که ئے نه کړه کینوبه (قرطبي ۱۵۵/۸). الله تعالی په دے لطیف انداز کښې عتاب وفرمایه صرف د خپل دوست د لغزش معاف کړے مکر تاسو د پاره کیدو اجازت ورکړے وے (جواهر ۲۳۹).

علامه ابن جزي رحمه الله فرمائي چه عفوه نے په عتاب باندې مخکښې کړه د پاره د اکرام د نبي صلی الله علیه وسلم او ویلے شوي دي چه عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ نه دی د پاره د ګناه او د ملامتیا بلکه شروع د کلام ده لکه چه خولك وائي اَصْلَحَكَ اللّٰهُ. (تسهیل ۷۶/۲) ❁

صَدَقُوا وَتَعْلَمَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿٤٣﴾ لَا يَسْتَأْذِنُكَ
رشتیا وائی، او پیژنے تہ کړے دروغژن ... اجازه نه غواړی ستا نه،
الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ اَنْ
هغه کسان چه ایمان راوړی، په الله تعالی او په ورځ روستنۍ، چه
يُّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ۗ وَاللّٰهُ
جهاد وکړی دوی، په مالونو خپلو، او نفسونو خپلو، او الله تعالی
عَلِيْمٌۢ بِالْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٤﴾ اِنَّمَا يَسْتَأْذِنُكَ الَّذِيْنَ
پوهه دے په متقیانو باندے. بیشکه اجازه غواړی تا نه، هغه کسان، چه
لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَارْتَابَتْ
ایمان نه راوړی، په الله او ورځ آخرت باندے، او شک کړے
قُلُوْبُهُمْ فَهُمْ فِيْ رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُوْنَ ﴿٤٥﴾ وَلَوْ
زړونه د دوی، پس دوی په شک خپل کښې دی، چه حیرانتیا کوی. او که چرے
اَرَادُوا الْخُرُوْجَ لَاَعَدُّوْا لَهٗ عُدَّةً وَّلٰكِنْ
اراده کولے دوی د وتلو جهاد ته نو خامخا به تیار کړے وے دوی د هغه دپاره سامان، او لیکن
كَرِهَ اللّٰهُ انْۢبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيْلَ اقْعُدُوْا
ناخوښه کړه الله پاڅیدل د دوی، پس ستړی کړل دوی، او وئیلے شو [illegible] کیني
مَعَ الْقٰعِدِيْنَ ﴿٤٦﴾ لَوْ خَرَجُوْا فِيْكُمْ مَّا زَادُوْكُمْ
سره د کیناستونکو. که چرے وتلی وے دوی په تاسو کښې، نو زیاتی به نه کړے وے دوی تاسو ته
اِلَّا خَبَالًا وَّلَاَاوْضَعُوْا خِلٰلَكُمْ يَبْغُوْنَكُمُ
مگر نقصان، او خامخا به منډے وهلے دوی په منځ ستاسو کښې، په لټولو به لټوی تاسو ته
الْفِتْنَةَ ۚ وَفِيْكُمْ سَمّٰعُوْنَ لَهُمْ ۗ وَاللّٰهُ
فساد (نفاق)، او په تاسو کښې جاسوسان دی، دوی لره، او الله تعالی
عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿٤٧﴾ لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ
پوهه دے په ظالمانو باندے. بیشکه لټولے وو دوی فتنه،

لَا يَسْتَأْذِنُكَ: دا تنبیه خاص ده واقعے د تبوک په باره کښې نازله شوی ده عامه نه ده. په قرینه د فَأْذَنْ لِمَنْ شِئْتَ ص۲۲ نور. (جواهر ص۲۳۹) مطلب دا دے چه غزوه تبوک کښې د نفیر عام اعلان شوے وو په دے وجه اجازه غوښتل دا د منافقانو کار وو — سورة نور په عام حالتونو محمول دے. اِلَّا خَبَالًا: لاکن فساد او چغلی، او غور زول د اختلاف. (قرطبی ج۸ ص۱۵۶) وَّلَاَاوْضَعُوْا: او چلول به وکړی په مینځو ستاسو کښې او لاړ به شی په مابین ستاسو کښې په غورزولو د چغلئ سره. (خازن ص۲۶۱) وَفِيْكُمْ سَمّٰعُوْنَ: او په تاسو کښې ډیر اوریدونکی دی د هغوی دپاره. یعنی جاسوسان دی چه آوری خبرے ستاسو د پاره د ډرلو هغوی ته. (مظهری ص۲۲۳، ۲۲۵/ ۳۵)

مِنْ قَبْلُ وَقَلَّبُوا لَكَ الْأُمُورَ حَتَّىٰ جَاءَ الْحَقُّ

مخکښې (د دې نه) او اړولي دي دوی ستا د خلاف د (کارونو) تر دې چه راغلو حق،

وَظَهَرَ أَمْرُ اللَّهِ وَهُمْ كَارِهُونَ ﴿٤٨﴾ وَمِنْهُم

او ښکاره شو امر د الله تعالیٰ او دوی لا بد گڼونکي دي. او بعض د دوی نه،

مَّن يَقُولُ ائْذَن لِّي وَلَا تَفْتِنِّي ۚ أَلَا فِي

هغه څوک دی چه وائي اجازت وکړه ما ته او په فتنه کښې مه اچوه ما، خبردار په

الْفِتْنَةِ سَقَطُوا ۗ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ

فتنه کښې خو پریوتلي دي دوی، او یقیناً دوزخ، خامخا احاطه کونکې ده،

بِالْكَافِرِينَ ﴿٤٩﴾ إِن تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ ۖ وَ

په کافرانو باندې. که چرې ورسیږي تا ته، خوشحالي، نو خفه کوي دوی لره، او

إِن تُصِبْكَ مُصِيبَةٌ يَقُولُوا قَدْ أَخَذْنَا أَمْرَنَا

که چرې ورسیږي تا ته مصیبت نو وائي دوی، یقیناً نیولې وه مونږ، تدبیر خپل،

مِن قَبْلُ وَيَتَوَلَّوا وَّهُمْ فَرِحُونَ ﴿٥٠﴾ قُل لَّن

مخکښې د دې نه، او گرځي دوی ستا نه او دوی خوشحالي کونکي وي. ووایه هیڅکله نه

يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَانَا ۚ وَعَلَى

رسیږي مونږ ته، مگر هغه چه مقرر کړې الله تعالیٰ مونږ لره، هغه مولیٰ زمونږ دے او خاص په

اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾ قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ

الله تعالیٰ، توکل دې اوکړي ایمان والو. ووایه، انتظار کوئ تاسو په

بِنَا إِلَّا إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ ۖ وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ

مونږ باندې، مگر د یو د دوو خوشحالو (فتح یا شهادت) او مونږ انتظار کوو ستاسو باندې،

أَن يُصِيبَكُمُ اللَّهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِندِهِ أَوْ

چه ورسوي تاسو ته الله تعالیٰ، عذاب د طرف خپل نه، او یا

بِأَيْدِينَا ۖ فَتَرَبَّصُوا إِنَّا مَعَكُم مُّتَرَبِّصُونَ ﴿٥٢﴾

په لاسو زمونږ، نو تاسو انتظار کوئ، یقیناً مونږ تاسو سره انتظار کونکي یو.

وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ: جد بن قیس او وئیل چه زما قوم ته پته ده چه زه ښځو سره ډیر مینه لرم او یقیني خبره ده چه د روم ښځې به ډیرې ښکلې وي، نو زه به صبر نه شم کولے او زه به فتنه کښې شم نو ما ته اجازت وکړه. (ابن کثیر، قرطبي، مظهري، جواهر). دا شان نزول کښې دا لازمه نه ده چه هغه به د یو شخص سره خاص شي بلکه دا حکم عام دے هر هغه چا ته شامل دے چه دا صفات لري. إِن تُصِبْكَ حَسَنَةٌ: که تا ته خوشحالي حاصله شي نو دوی خفه کیږي او که مصیبت درته ورسي نو دوی خوشاله شي او وائي چه شکر دے چه مونږ مخکښې خپل تدبیر کړے دے چه غزا له لاړو. (انفع الترجم) دے ایتونو کښې زورنه د منافقانو لره. قُل لَّن يُصِيبَنَا دا اول جواب دے منافقانو ته. قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَا: دا دویم جواب د قول د منافقانو دے. معنی دا ده چه ووایه چه تاسو انتظار کوئ په مونږ، مگر د یو د دوو خوشالو نه. شاه ولي الله رحمه الله فرمائي: یعنی فتح یا شهادت (فتح الرحمن). د شاه صاحب پور شپږ رحمه الله فرمائي چه ته ورته ووایه چه زمونږ دوه خوښۍ دي، که شکست وشو نو بیا ثواب دے او که غنیمت وشو نو بیا مزه ده. (انفع الترجم)

طَوْعًا أَوْ كَرْهًا: (حاشیه در اتلو صفحه ٣) په خوښۍ او په ناخوښۍ (فتح ص٣٣) طَوْعًا په غیر د لازموالي نه د الله تعالیٰ او د هغه د رسول له طرفه نه. وَكَرْهًا او په لازموالي سره. (مدارک ٢/١٣٠)

وَمَا مَنَعَهُمْ أَنْ تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَاتُهُمْ الخ: په دے آیت کریمه کښې ذکر دوی د نفقې، خیرات د نه قبلېدو دیته وجه ذکر شوې ده. یو کافر دی. دوېم سونړو ورته ځي نه، بېکاري او درېیمه خرچ په خوشحالۍ سره نه کوي. إِلَّا وَهُمْ كُسَالَىٰ: ناراسته، سُست، سو ناره. دلته تأکید کښې کیڅلي هغه ذکر شوې ده. وجه مراد د سستۍ نه اعتقادي سستي ده. فَلَا تُعْجِبْكَ الخ: او په تعجب کښې وانه چوي تا لره مالونه د دوي او نه اولاد د دوي. د شاه پور شیخ رحمه الله فرمایلي دي د منافقانو مالونو او اولاد ته حسب ځیره کړي، دا د دوي عذاب دے. معلومه شوه چه مال او اولاد په دین سره رحمت ګرزي او چه دین یکښې نه وي نو بیا عذاب دے. (افضل الترجم) لَوْ يَجِدُونَ: که چرے بیا مومي دوی مَلْجَأً: ځائے د پناه. أَوْ مَغَارَاتٍ: او یا غارونه. أَوْ مُدَّخَلًا: او یا ځائے کښې ننوتونه نو و ګرزي دوي هغې ته. (جوا پرشتا). وَمِنْهُمْ مَنْ يَلْمِزُكَ: قتاده رحمه الله وائي او بعض د دوي نه هغه څوک دي چه طعنه لګوي تا. حسن صاحب وائي عیب لګوي تا. (قرطبي) عیب لګوي تا په تقسیم د صدقو کښې او طعنه لګوي تا. (مدارک ۲/۸۳) د دے آیتونو کښې نور هم د منافقانو ذکر دے. او د هغوي صفات قبیحه بیانوي. د شاه پور شیخ رحمه الله فرمائي: د منافقان په تا اعتراض کوي چه په تقسیم د صدقو کښې انصاف نه کوے نو چه دوي ته حصه ملاؤ شي نو خوشاله وي او که ورکړے نه شي نو بیا خفګیږي، دوي خو د مال دي. (افضل الترجم)

قُلْ أَنْفِقُوا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا لَنْ يُتَقَبَّلَ مِنْكُمْ

ووایه خرچ کوئ په خوشۍ او که په خوشۍ نه (هیڅ) چرے به قبول کړے نه شي ستاسو نه،

إِنَّكُمْ كُنْتُمْ قَوْمًا فَاسِقِينَ ﴿۵۳﴾ وَمَا مَنَعَهُمْ أَنْ

یقیناً تاسو یئ قوم فاسق کونکي. او نه دي منع کړي دوي لره، چه

تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَاتُهُمْ إِلَّا أَنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَ

قبول کړے شي نه دوي نه نفقې د دوي، مګر دا خبره چه یقیناً دوي کفر کړے په الله تعالیٰ، او

بِرَسُولِهِ وَلَا يَأْتُونَ الصَّلَاةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالَىٰ

په رسول د هغه، او نه راځي دوي، مانځه ته مګر په داسے حال کښې چه دوي سُست وي

وَلَا يُنْفِقُونَ إِلَّا وَهُمْ كَارِهُونَ ﴿۵۴﴾ فَلَا تُعْجِبْكَ

او خرچ نه کوي دوي، مګر په داسے حال کښې چه دوي نه خوښونکي وي، پس تعجب کښې دے نه واچوي تا لره

أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُمْ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ

مالونه د دوي او نه اولاد د دوي، یقیناً اراده لري الله تعالیٰ چه عذاب ورکړي دوي لره

بِهَا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنْفُسُهُمْ

په هغې سره په ژوند د دنیاوي کښې، او وزي ساګانې د دوي،

وَهُمْ كَافِرُونَ ﴿۵۵﴾ وَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ إِنَّهُمْ

او دوي کافران وي. او قسمونه کوي دوي په الله تعالیٰ، یقیناً چه دوي،

لَمِنْكُمْ وَمَا هُمْ مِنْكُمْ وَلَٰكِنَّهُمْ قَوْمٌ

خامخا ستاسو د ډلے نه دي، او نه دي دوي ستاسو نه، او لاکن دوي، داسے قوم دے چه

يَفْرَقُونَ ﴿۵۶﴾ لَوْ يَجِدُونَ مَلْجَأً أَوْ مَغَارَاتٍ أَوْ

ډرېږي. که چرے بیا مومي دوي، ځائے د پناه، او یا غارونه، او یا

مُدَّخَلًا لَوَلَّوْا إِلَيْهِ وَهُمْ يَجْمَحُونَ ﴿۵۷﴾ وَمِنْهُمْ مَنْ

ځائے د ننوتو، نو خامخا به وګرزي دوي هغې ته، په داسے حال کښې چه منډې وهي. او بعض د دوي نه هغه څوک دي

يَلْمِزُكَ فِي الصَّدَقَاتِ فَإِنْ أُعْطُوا مِنْهَا رَضُوا وَ

چه عیب لګوي تا ته په تقسیم د صدقو کښې، که چرے ورکړے شي دوي ته د هغې نه، نو خوشاله شي او

وَلَوْ أَنَّهُمْ رَضُوا: (د دغه آیت سره متعلق دي)، جواب د لَوْ محذوف دے "لکان خيرا لهم" وادے. وَلَوْ أَنَّهُمْ رَضُوا الخ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ: که چرے دوي خوشاله شوے وے نو دا به غوره د دوي دپاره وه (مدارک) وَرَسُولُهُ: چه ورکړي غنیمت نه (مدارک) - د صدقې او غنیمت نه. (مظهري) إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ: بیان د مصارفو

د زکوٰة وے چه د منافقانو اعتراض ختم شی. د فقیر هغه دے چه نصاب د زکوٰة د سره نه وی. مسکین هغه
دے چه هیڅ د سره نه وی یا عکس دے. عامل چه حکومت اسلامی د زکوٰة د وصولولو دپاره مقرر کړے وی نو هغه
به خپله تنخوا او د زکوٰة نه اخستے شی. مؤلفة القلوب هغه دی چه زکوٰة ورله ورکولے شی چه مسلمانان شی یا په
اسلام ټینګ شی یا د دوی په مثل
بل مسلمان شی یا د مسلمانانو ملګرتیا
کوی. عام فقهاء وائی چه دا قسم
منسوخ دے. البته امام احمد بن
حنبل رحمه الله فرمائی چه منسوخ نه
په وخت د ضرورت اوس هم دوی ته
ورکولے شی زکوٰة. او رقاب چه
مریٔ ته نے ورکوی چه هغه مکاتب
وی چه خپله غاړه آزاده کړی.
غارم قرضدار چه خپل مال کے
نه وی. فی سبیل الله په اعلاء د کلمة
الله کښې. ابن السبیل مسافر چه
ورسره مال نه وی اګرچه ورسره
په کور کښې مال وی. (اشرف الحواشی)
مفتی صاحب رحمه الله فرمائی چه لیکن
تحقیق او صحیح خبره دا ده چه غیر
مسلمانانو ته د صدقاتو وغیره نه
په هیڅ وخت او هیڅ زمانه کښې حصه
نه ده ورکړے شوے او نه هغوی
په مؤلفة القلوب کښې داخل دی
د کوم ذکر چه په مصارفو د صدقاتو
کښې راغلے دے. (معارف مفتی)
فی سبیل الله: مراد د دے نه
په نزد د ابو یوسف رحمه الله منقطع
الغزاة یعنی غازیان او د محمد رحمه الله
په نزد منقطع الحاج یعنی حاجیان دی
او ویلے شی چه مراد ترینه طالبان د
علم او په دے اقتصار شوے په
فتاوی ظهیریه کښې او د تفسیر نه
کیږی په بدائع کښې په ټولو قربتونو
پسې داخلیږی په دیکښې هر هغه
څوک چه کوشش کوی په طاعت د
الله تعالیٰ کښې او په لار د خیر کښې
(روح معانی) فقراء مجاهدین او هغه
حاجیان چه د سفر توښه ئے ختم
شوے وی او طالبان د دینی
علوم ترینه مراد دی. (ص ٣٢٢ جواهر)

إِنْ لَّمْ يُعْطَوْا مِنْهَا إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ ﴿٥٨﴾ وَلَوْ
که ورنکړے شی دوی ته د دغو صدقاتو نه نو دوی خفه کیږی. او که چرے
أَنَّهُمْ رَضُوا مَا آتَاهُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَقَالُوا
دوی خوشحاله شوے وے په هغه چه ورکړے دے دوی ته الله تعالیٰ او رسول د هغه او دا ئے ویلے وے او
حَسْبُنَا اللَّهُ سَيُؤْتِينَا اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَرَسُولُهُ
کافی دے مونږ ته الله تعالیٰ زر به ورکړی مونږ ته الله تعالیٰ د فضل خپل نه او رسول د هغه یقیناً
إِنَّا إِلَى اللَّهِ رَاغِبُونَ ﴿٥٩﴾ إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ
مونږ الله تعالیٰ ته رغبت کوونکی یو. یقیناً زکوٰة ئے ورکولے شی فقیرانو ته
وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ
او مسکینانو ته او کارکوونکو باندے او هغه چه دپاره د پخولا د زړونو د هغوی
وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَ
او د آزادولو د غاړو کښې او قرضدارو ته او په لار د الله تعالیٰ کښې او
ابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ
مسافرو لره فرض کړے شوے حکم د الله تعالیٰ د طرف او الله تعالیٰ پوهه
حَكِيمٌ ﴿٦٠﴾ وَمِنْهُمُ الَّذِينَ يُؤْذُونَ النَّبِيَّ وَ
حکمت والا دے او بعض د دوی نه هغه کسان دی چه ضرر ورکوی نبی صلی الله علیه وسلم ته او
يَقُولُونَ هُوَ أُذُنٌ قُلْ أُذُنُ خَيْرٍ لَكُمْ
وائی چه دے غوږ غوږ دے. ووایه دا غوږ د خیر د پاره ستاسو دے
يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِينَ وَرَحْمَةٌ
یقین کوی په الله تعالیٰ او خبره منی د ایماندارو او رحمت دے
لِلَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ
د هغه کسانو دپاره چه ایمان ئے راوړے ستاسو نه او هغه کسان چه ضرر ورکوی
رَسُولَ اللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦١﴾ يَحْلِفُونَ
رسول د الله تعالیٰ ته دوی دپاره عذاب دردناک دے. قسمونه کوی دوی

فائده: مسئله تملیک: جمهور فقهاء په دے متفق دی چه
د زکوٰة معینه اته مصارفو کښې هم د زکوٰة د ادا کیدلو دپاره دا شرط دے چه د دے مصارفو کوم یو مستحق
ته د زکوٰة په مال مالکانه قبضه ورکړے شی بغیر د مالکانه قبضے نه په ورکولو کښې اګرچه کوم مال خرڅ

دَ دے خلقو د فائدے دَپاره خرچ کولے شي، زکوٰة نه اداکیږي. (معارف ۴/۴۰۸) بیا روستو فرمائي: هاںٓ! دا کیدے شي
چه رقم دَ زکوٰة کوم غریب مستحق ته ورکړے شي او دے په خپله خوښي سره دے رقم لره دَ لاوارث مړي په
کفن باندې خرچ کړي. وغیره.

بِاللّٰهِ لَكُمْ لِيُرْضُوكُمْ وَاللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَحَقُّ أَنْ
په الله تعالیٰ تاسو لره چه راضي کړي تاسو لره، او الله تعالیٰ او رسول دَ هغه احق (ډیر لائق) دي چه

يُرْضُوهُ إِنْ كَانُوا مُؤْمِنِينَ ﴿٦٢﴾ أَلَمْ يَعْلَمُوا أَنَّهُ
راضي کړي دوی هغه لره که دي دوی ایمانداران. آیا نه پوهیږي دوی چه شان دا دے

مَنْ يُحَادِدِ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ فَأَنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ
چا چه خلاف وکړو دَ الله تعالیٰ نه او دَ رسول دَ هغه نه، پس یقیناً دَ هغه لره اور دَ جهنم دے،

خَالِدًا فِيهَا ذٰلِكَ الْخِزْيُ الْعَظِيمُ ﴿٦٣﴾ يَحْذَرُ
همیشه به وي په هغه کښې، دغه رسوائي لویه ده. ویریږي

الْمُنَافِقُونَ أَنْ تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ سُورَةٌ تُنَبِّئُهُمْ
منافقان، چه نازل کړے شي په مسلمانانو باندې یو سورت چه خبر ورکړي مسلمانانو لره

بِمَا فِي قُلُوبِهِمْ قُلِ اسْتَهْزِءُوا إِنَّ اللّٰهَ مُخْرِجٌ
په هغه چه زړونو دَ منافقانو کښې دي، ووایه چه ټوکې کوئ، یقیناً الله تعالیٰ راوېستونکے دے

مَا تَحْذَرُونَ ﴿٦٤﴾ وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا
دَ هغه چه تاسو ترې ویریږئ، او که ته تپوس وکړې دَ دوی نه (چه ولې ملنډې وهئ) نو خامخا یقیناً وائي دوی چه

كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ قُلْ أَبِاللّٰهِ وَآيَاتِهِ وَ
یقیناً وو مونږ مشغولیدو او لوبې مو کولې، ووایه آیا په الله تعالیٰ او په آیتونو دَ هغه او

رَسُولِهِ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِءُونَ ﴿٦٥﴾ لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ
رسولانو دَ هغه پورې، وئ تاسو چه ټوکې کولې. بهانې مه کوئ، یقیناً

كَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ إِنْ نَعْفُ عَنْ طَائِفَةٍ
کفر کړے تاسو پس دَ ایمان نه، که مونږ عفوه وکړو یوې ډلې ته (توبې ته توفیق ورکړو) دَ

مِنْكُمْ نُعَذِّبْ طَائِفَةً بِأَنَّهُمْ كَانُوا مُجْرِمِينَ ﴿٦٦﴾
ستاسو نه، نو عذاب به ورکړو بلې ډلې لره په سبب دَ دې چه دوی وو مجرمان.

الْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ بَعْضُهُمْ مِنْ بَعْضٍ
منافقان سړي، او منافقانې ښځې، بعض دَ دوی، دَ بعضو نه دي،

کفن باندې خرچ کړي. وغیره یعنې
بلکه دے دَ مړي په ذمه باندې
قرضه وي نو وغیره قرض لره دَ
زکوٰة دَ رقم نه براه راست نشي
اداکولے، هاں! که چرے دَ دغه
وارث غریب مستحق دَ زکوٰة وي نو
هغه ته مالکانه طور ورکولے شي
هغه به دَ مړه رقم مالک شي
نو په خپله رضامندۍ سره ترینه
دَ مړي قرض اداکولے شي.
(معارف ۴/۴۰۸) وَمِنْهُمُ الَّذِيْنَ ملا:
(حاشیه دَ ۳۱۳ مخ) په دیکښې
زورنه دَه منافقانو لره او
قبیح صفتونه دَ هغوی دي. دا
دَ منافقانو دَ یو شرارت
ذکر دے چه هغوی به نبي کریم
صلی الله علیه وسلم ته په بدزبانۍ او طعن
او تشنیع سره ضرر ورکولو او
ویل به ئے چه دا نبي خو غوږ
دے یعنې چه غوږ هره خبره
اوري دَ ټولو دا هره او ریدلے
شوې خبره مني. قُلْ اُذُنُ
خَیْرٍ لَّکُمْ: دا ئے جواب
دے. (جواهر ۲۲۳) ایندا ایتونو
کښې هغوی ته دَ هغوی په ناکاره
صفاتو باندې زورنے او تخویفونه
دي. وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ ملا: ۲۱۳ مخ
په دیکښې دَ هغه منافقانو ذکر دے
چه دَ منافقینو وجه غزوه تبوک
کښې شریک شوي وو او ویلے
چه دا سره دَ شام او دَ روم دَ
محلاتو فتح کولو خوبونه ویني نو
الله تعالیٰ دَ وحی په ذریعه هغوی ته
اطلاع ورکړه نو دوی وویلے چه
مونږ محض دَ زړه لګولو په خاطر
ګپ شپ لګولو. (کوردی جواهر ۲۳۶)

اِنْ نَّعْفُ عَنْ طَآئِفَةٍ مِّنْکُمْ: که چرے عفوه وکړو دَ یوې ډلې ستاسو نه یعنې توبې دَ هغوی سره او په خالص ایمان راوړلو سره
پس دَ نفاق دَ هغوی نه (مدارک ۲/۱۲۲) په ایت مخه کښې نور قبا حتونه او په ملا کښې ورته تخویف اخروي دے.

يَأْمُرُونَ بِالْمُنكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوفِ
امر کوي، په ناروا او، او منعه کوي، د نېکئ نه،
وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْ ۚ نَسُوا اللَّهَ فَنَسِيَهُمْ ۗ إِنَّ
او بندوي، لاسونه خپل، هېر کړي دوي الله تعالىٰ، پس هېر کړي دي دوي لره،
الْمُنَافِقِينَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿٦٧﴾ وَعَدَ اللَّهُ الْمُنَافِقِينَ
یقیناً منافقان، دوي دي، فاسقان. وعده کړې ده الله تعالىٰ د منافقانو سره،
وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ
او منافقانو ښځو سره، او د کافرانو سره، د اور د جهنم، همېشه به پېدي په هغه کښې،
هِيَ حَسْبُهُمْ ۚ وَلَعَنَهُمُ اللَّهُ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٦٨﴾
هغه کافي سزا ده دوي لره، او لعنت کړې په دوي الله، او دوي لره، عذاب همېشه دے.
كَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ كَانُوا أَشَدَّ مِنكُمْ قُوَّةً وَ
(تاسو) ایشان د هغه کسانو په شان چې مخکښې ستاسو وو، دوي ډېر زيات وو تاسو نه په قوت کښې، او
أَكْثَرَ أَمْوَالًا وَأَوْلَادًا فَاسْتَمْتَعُوا بِخَلَاقِهِمْ
زيات وو په مالونو او اولادو کښې، پس فائده اخستې وه دوي په برخو خپلو،
فَاسْتَمْتَعْتُم بِخَلَاقِكُمْ كَمَا اسْتَمْتَعَ الَّذِينَ
پس تاسو هم فائده اخستې په برخو ستاسو، لکه چې فائده اخستې وه هغه کسانو چې وو
مِن قَبْلِكُمْ بِخَلَاقِهِمْ وَخُضْتُمْ كَالَّذِي
مخکښې ستاسو نه، په برخو خپلو، او مشغول شوي يئ تاسو په شان د هغه کسانو
خَاضُوا ۚ أُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا
چې هغوي مشغول شوي وو، دغه کسان، برباد شوي، عملونه د دوي، په دنيا،
وَالْآخِرَةِ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٦٩﴾ أَلَمْ يَأْتِهِمْ
او په آخرت کښې، او دغه کسان، دوي دي تاوانيان. آيا نه دي راغلې دوي ته
نَبَأُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ
خبر د هغه کسانو، چې مخکښې ژدوي وو، قوم د نوح ؑ او عاديان، او ثموديان،

كَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ الخ: په دې ایت کریمه کښې تشبیه ده د منافقانو او کافرانو ده د مخکښې کافرانو سره په ناکاره صفتونو کښې او په سزا کښې. خه سورة احقاف وګورئ. أَلَمْ يَأْتِهِمْ الخ: دا د عذاب دنياوي بيان دے يعني دا قومونه په دنيا کښې هلاک شوي وو، دوي په خپلو ظلمونو يعني نافرمانئ کولو، الله تعالىٰ په چا ظلم نکوي. (افضل التراجم ص۳۰۹) دا آيت تفسير د مخکښې ۶۸ ايت دے۔

وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ الخ: (حاشيه د راتلونکي مخ ص۳۱۴ شروع شوه) — حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائي چې کله الله تعالىٰ ناکاره صفات د منافقانو ذکر کړو نو عطف په دے کړو چې ستايلي شوي صفات د مومنانو. (ابن کثير ۳/۲) په دے ايت کريمه کښې شپږ صفات د مومنانو سره او بيان ذکر کوي. د بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ نکته دا ده چې د مومنانو زړونه په محبت او په شفقت کولو کښې د يو بل سره يو شان وي په خلاف د منافقانو چې د هغوي په زړونو کښې اختلاف دے لکه هغه وويل بَعْضُهُم مِّن بَعْضٍ لا يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ: امر کوي په نيکئ باندې. قرطبي رحمه الله وائي چې په دے کښې نيکي په عبادت د الله تعالىٰ او په توحيد د هغه باندې. وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ: تفسير مظهري ص۲۶۳ کښې دي: منع کوي د شرک نه او د منافقت نه او نافرمانئ د رسول ﷺ او د تابعدارئ د خواهشاتو نه. فائده ۲: ابن باز رحمه الله ليکي دي چې بنځه په منزله د سړي ده په هغه کښې چې واجب وي په هغې باندې، په دعوت الی الله کښې او په امر بالمعروف او نهي عن المنکر کښې او دليلونه د قرآن او سنت عام دي تولو لره مګر هغه چې خاص لے کړي دليل او کلام د اهل علمو په هغه دے په دې کښې او تحقيق د دليلونو د قرآن نه په دې کښې دا قول د الله تعالىٰ دے — وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ الخ: کذا ذي ابن باز ص۲۲۳ اردو صفحه هم کتلے شئ: ص۱۶۱ ص۲۳۸ ص۳۰۴ ص۳۲۵ ج۷. احقر عفي عنه وائي چې دا ايت په هم دليل دے:

قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ اِلخ. سورة یوسف ۱۰۸، تکمله. وَمَنِ اتَّبَعَنِیْ: دے او لفظ دَ مَنْ عام دے نارینه او زنانو دواړو ته شامل دے. وَعَدَ اللّٰهُ الخ: دَشاه عبدالعزیز صاحب رحمه الله فرمائی او بیا له دَ مؤمنانو

وَقَوْمِ اِبْرٰهِيْمَ وَاَصْحٰبِ مَدْيَنَ وَالْمُؤْتَفِكٰتِ ؕ

او قوم دَ ابراهیم ؑ دے او اوسیدونکو دَ مدین، او دَ نسکورو کلو دَ (قوم د لوط) ؑ

اَتَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۚ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ

راغلی وو دوی ته رسولان دَ دوی په ښکاره دلیلونو، پس نه وو الله تعالیٰ چه ظلم کړے وے په دوی

وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۷۰﴾ وَالْمُؤْمِنُوْنَ

لیکن وو دوی چه په ځانونو خپلو ظلم کولو. او ایماندار سړی

وَالْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۘ يَاْمُرُوْنَ

او ایماندارے ښځے، بعض دَ دوی دوستان دَ بعضو دی، امر کوی

بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيْمُوْنَ

په نیکئ سره، او منع کوی دَ بدئ نه، او پابندی کوی

الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَيُطِيْعُوْنَ اللّٰهَ

دَ مانځه، او ورکوی به زکوٰة، او اطاعت کوی دَ الله تعالیٰ

وَرَسُوْلَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ

او دَ رسول دَ هغه، دغه کسان، ضرور رحم به وکړی په دوی باندے یقیناً الله تعالیٰ (زورور)

حَكِيْمٌ ﴿۷۱﴾ وَعَدَ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ

حکمت والا دے. وعده کړے ده الله تعالیٰ دَ مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو سره

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

دَ باغونو، چه بهیږی لاندے دَ هغو نه ویالے، همیشه به وسیږی

فِيْهَا وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ؕ وَ

په هغو کښے او دَ ځایونو دَ وسیدو پاکیزه، په باغونو دَ همیشوالی کښے، او

رِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ اَكْبَرُ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۷۲﴾

رضامندی دَ الله تعالیٰ ډیره لویه ده، دغه هم دغه کامیابی لویه ده.

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَاغْلُظْ

اے نبی ﷺ جهاد وکړه دَ کافرانو سره او دَ منافقانو سره، او سختی وکړه

منزل ۲

رحم دَ الله تعالیٰ دے او ډانګونو وی او اعلیٰ بنګلے او همیشه وسیدل به جنت کښے او لوئی بره دَ الله تعالیٰ رضا ده. (افضل التراجم وقسم)

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ الخ: دلته ترغیب دے جهاد ته. امام قرطبی رحمه الله فرمائی چه خطاب دے نبی علیه السلام سره او داخل دی په دے کښے امت دَ هغوی پس دَ هغوی نه وروسته شوی دی چه جهاد وکړی په مؤمنانو دَ کفارو سره او ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه امر ورته وکړے شو په جهاد سره دَ کفارو نه په توره او سره دَ منافقانو نه په ژبه او په رټلو او سختئ کولو سره. (قرطبی ج ۸ ص ۲۰۴) شاه ولی الله رحمه الله فرمائی چه جهاد وکړه دَ کفارو سره په توره او دَ منافقانو سره په ژبه. (فتح الرحمٰن) غلظت په مقابل دَ شفقت کښے ــــ سختوالے دَ زړه دے په معامله کښے ــــ مطلب دا شو چه دوی دواړو لو سره هیڅ شفقت او نرمی مکوه.

يَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ مَا قَالُوْا الخ: دَ دیوبند شیخ رحمه الله فرمائی چه په دے ایت کښے دَ دوو قصو طرف ته اشاره ده. غزوهٔ تبوک کښے نبی علیه السلام بیان وکړو او دَ هغه منافقانو ذکر ئے وکړو چه په جهاد کښے شریک شوی نه وو او هغوی نه ئے رخصت اوناپاک وویل. دا ئے چه واوریدل نو یو منافق جلاس بن سوید وویل که چرے محمد ﷺ رښتیا

وائی نو موږ دَ خرو نه هم بد تر یو. دا خبره یو مخلص مؤمن عامر بن قیس واوریده. هغوی نبی علیه السلام ته ذکر وکړو. هغوی جلاس راوغوښتلو او تپوس ئے تر ینه وکړو نو هغه قسم وخوړلو او انکار ئے وکړو چه ما دا خبره نه ده کړے. په دے الله تعالیٰ وفرمایل: وَلَقَدْ قَالُوْا كَلِمَةَ الْكُفْرِ: بعضو ویلی دی چه دا دَ

نه ويراو د عبدالله بن أبي قول دے کوم چه په سورة منافقون کښې ذکر دے يعني: لَئِن رَّجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ. دويم قصه په وَهَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا کښې ذکر شو يعنې په غزا د تبوک کښې منافقانو د نبي عليه السلام د هلاکولو تيارے منصوبه جوړه کړے وه.

عَلَيْهِمْ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿٧٣﴾

په دوی باندے، او ځائے د اوسيدو د دوی دوزخ دے او بد ځائے د واپسۍ دے جهنم دے

يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ مَا قَالُوا وَلَقَدْ قَالُوا كَلِمَةَ

قسمونه کوی دوی په الله چه دوی نه دی ويلی (هغه خبره)، او يقيناً ويلی ده دوی کلمه د

الْكُفْرِ وَكَفَرُوا بَعْدَ إِسْلَامِهِمْ وَهَمُّوا بِمَا

کفر، او کافران شو پس د اسلام خپل نه، او قصد ئے کړے وو په هغه کار چه

لَمْ يَنَالُوا وَمَا نَقَمُوا إِلَّا أَنْ أَغْنَاهُمُ اللَّهُ وَ

نه ئے حاصل کړے شو دوی، او بدنه گنړلی دوی هيڅ خبره مگر دا چه مالداره کړی دی دوی لره الله تعالیٰ او

رَسُولُهُ مِنْ فَضْلِهِ فَإِنْ يَتُوبُوا يَكُ خَيْرًا لَهُمْ

رسول د هغه په تقسيم کولو د فضل د الله، پس که توبه وباسی دوی نو دا به غوره وی دوی لره

وَإِنْ يَتَوَلَّوْا يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ عَذَابًا أَلِيمًا فِي

او که وگرځيدل دوی عذاب به ورکړی الله تعالیٰ دوی ته عذاب دردناک په

الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمَا لَهُمْ فِي الْأَرْضِ مِنْ

دنيا کښې او آخرت کښې، او نشته دوی لره په زمکه کښې هيڅ

وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٧٤﴾ وَمِنْهُمْ مَنْ عَاهَدَ اللَّهَ

دوست او نه امداد کوونکے. او بعض د دوی نه هغه څوک دی چه لوظ ئے کړے دے الله سره

لَئِنْ آتَانَا مِنْ فَضْلِهِ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ

چه که راکړو مونږ ته د فضل خپل نه، نو خامخا به مونږ صدقے ورکړو او خامخا به شو

مِنَ الصَّالِحِينَ ﴿٧٥﴾ فَلَمَّا آتَاهُمْ مِنْ فَضْلِهِ

مونږ د نيکانو نه. پس هر کله چه ورکړے ئے دوی ته د فضل خپل نه

بَخِلُوا بِهِ وَتَوَلَّوْا وَهُمْ مُعْرِضُونَ ﴿٧٦﴾

نو بخل ئے وکړو په هغه سره او وگرځيدل او دوی دی مخ اړوونکی.

فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِي قُلُوبِهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ

پس پيدا کړو الله دوی لره منافقت په زړونو د دوی کښې، تر هغه ورځ پورے چه

ئے د نبي عليه السلام په وخت کښې هغه جوړه کړے وه. په لاره کښې په يو مقام باندے ئے دولس کسان مقرر کړی وو چه کله هغوی دے ځائے ته نيږدی شو نا څاپه به پرے حمله وکړی او هغوی به قتل کړی ليکن الله تعالیٰ په ذريعه د جبرئيل عليه السلام هغوی ته د دے پروگرام اطلاع ورکړه. (جواهر ص ٢٣٣) وَرَسُولُهُ، د الله رسول عليه السلام ته د غنی کولو نسبت د دے د مال غنيمت نه. (جواهر ص ٢٣٣) فَإِنْ يَتُوبُوا، د پښتو شيخ رحمه الله ليکلی دی چه جلاس توبه وويستله او په صدق د زړه سره ئے ايمان راوړو. (جواهر ص ٢٣٣) وَمِنْهُمْ مَنْ عَاهَدَ اللَّهَ، په دے آيت کريمه کښې بل قسم د منافقانو ذکر دے چه د مال غوښتنه کوی چه که ورته الله تعالیٰ مال ورکړی نو بخل پرے کوی او وعده وکړی د الله تعالیٰ سره او د هغے نه خلاف کوی. فائده: په دے آيت کښې د ثعلبه بن حاطب نومے منافق واقعے طرف ته اشاره ده. (جواهر معارف وغيره) امام قرطبي رحمه الله فرمائی چه هغه وايم چه ثعلبه بدری دے انصاري دے او د هغه چا نه دے چه گواهی ورله کړے ده الله تعالیٰ او د هغه رسول عليه السلام په ايمان باندے (انتهی) بعض مفسرينو سبب د نزول د دے آيت کښې ثعلبه بن حاطب انصاري ليکلے دے ليکن هغه صحيح نه دے ځکه چه هغه بدري صحابي دے او هغه منافق نشي کيدے. (احسن الکلام ص ٣٤٣) ناقدالرجال جناب مولانا خان بادشاه صاحب په دے مستقل کتاب ليکلے دے چه نوم ئے "التنبيه المطالب" دے او په ٢٨٥ صفحو مشتمل دے او هغوی دا ثابته کړے ده چه دا مفسرين کښې خو بيانوی ... دی او د صفت نه ليکی چه په حقيقت کښې دا الزامات د ايجاد د شيعو نه دے. ... نه فرمائی چه الزام د نفاق په ثعلبه بن حاطب رضی الله عنه ...

باندې د ابي جارود کذاب شيعه نه دے چه متوفي دے په مابين د ١٥٠ نه تر ١٦٠ پورې. او په محلیٰ ١٢٦/١١
ءہا کښې ابن حزم رحمه الله په حواله ليکي چه خوک دا وائي چه دا ايت د ثعلبه بن حاطب په باره کښې نازل شوے دے

يُلْقَوْنَهُ بِمَا أَخْلَفُوا اللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا
ملاقات به شي دوي د هغه سره په سبب د هغه چه خلاف وکړو دوي د الله سره، هغه وعده چه کړې وه دوي هغه سره او په سبب د هغه
كَانُوا يَكْذِبُونَ ﴿٧٧﴾ أَلَمْ يَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ
چه وو دوي چه دروغ وائي. ايا نه پوهېږي دوي په دې چه يقيناً الله تعالىٰ پوهېږي
سِرَّهُمْ وَنَجْوَاهُمْ وَأَنَّ اللَّهَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴿٧٨﴾
په پټو خبرو د دوي او په سرګوشو د دوي او يقيناً الله تعالىٰ ښه پوهه دے په ټولو غيبونو باندې.
الَّذِينَ يَلْمِزُونَ الْمُطَّوِّعِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ
دا منافقان هغه کسان دي چه عيب لګوي په رغبت کونکو د مؤمنانو نه،
فِي الصَّدَقَاتِ وَالَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهْدَهُمْ
په صدقو کښې، او په هغه کسانو باندې چه نه مومي هيڅ څيز مګر محنت د دوي خپله
فَيَسْخَرُونَ مِنْهُمْ ۙ سَخِرَ اللَّهُ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ
پس مسخره کوي په هغوي پورې، جزا د مسخرې ورکړې الله تعالىٰ دوي ته او دوي لره عذاب
أَلِيمٌ ﴿٧٩﴾ اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِنْ
دردناک دے. بخښنه غواړه دوي لره او يا بخښنه مه غواړه دوي لره (دا برابر دي) که چرې
تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ ۚ
بخښنه غواړې دوي لره، اويا ځله، پس هيڅ بخښنه نه کوي الله تعالىٰ دوي لره،
ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ۗ وَاللَّهُ
دا د دې وجې نه چه يقيناً دوي کفر کړے دے الله تعالىٰ سره او د رسول د هغه سره، او الله تعالىٰ
لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ﴿٨٠﴾ فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ
هدايت نه کوي قوم، فسق کونکي ته. خوشاله شو، روستو کړې شوي
بِمَقْعَدِهِمْ خِلَافَ رَسُولِ اللَّهِ وَكَرِهُوا
په کېناستو خپلو، خلاف د رسول الله ﷺ نه، او بد ګڼړي
أَنْ يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي
چه جهاد وکړي دوي په مالونو خپلو او په ځانونو خپلو په

ع ٨ / ١٦

دا باطل دے ځکه چه هغه معروف بدري دے. د کورني التنبيه للطالب على جهم نفاق ثعلبة بن حاطب. د ربيح علامه سليم بن عيد الهلالي حفظه الله کښې کتاب الشهاب الثاقب ليکلے دے او په دغ کښے سند او متن کلا منکر بوے دے.

فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا: يعنې الله تعالىٰ د دوي په زړونو کښې منافقت کېښولو (روح المعاني).

الَّذِينَ يَلْمِزُونَ: په دے ايت کريمه کښې هم زورنه د منافقانو لره چه څوک د پېر مال خرچ کوي نو دوي وائي دا رياکار دے او چه څوک لږ مال لګوي د وجې د غريبۍ نه نو په هغه پسې مسخرې کوي.

سَخِرَ اللَّهُ مِنْهُمْ: يعنې الله تعالىٰ به بدله ورکړي دوي ته د مسخرو د دوي. (خازن صفحه ٤ ج ٢)

اسْتَغْفِرْ لَهُمْ: په دے ايت کښې ارشاد دے چه د منافقانو د پاره استغفار ښه نه لګېږي. شيخ القرآن رحمه الله به فرمايل چه د ورځو انتها په اوه ورځو او د شمېر انتها په لسو او د زرو په اويا شو. دا کنايه ده د کثرت او د ډېروالي نه. مطلب دا شو چه که ډېره بخښنه ورله هم وغواړے الله تعالىٰ دوي ته بخښنه نه کوي.

فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ، مُخَلَّف، پرېښودل شوي ته ويلے شي. يعنې الله تعالىٰ روستو کړي دي او کېنولي دي. (قرطبي ٢١٦/٨) ❊

سَبِيْلِ اللهِ وَقَالُوْا لَا تَنْفِرُوْا فِي الْحَرِّ قُلْ
لاره د الله کښې، او وائي دوي نورو ته، مه وزئ په گرمۍ کښې، دوا به
نَارُ جَهَنَّمَ اَشَدُّ حَرًّا لَوْ كَانُوْا يَفْقَهُوْنَ ﴿٨١﴾
اور د جهنم، ډیر سخت دے په گرمۍ کښې، ارمان چه دوي پوهیدے.
فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا وَّلْيَبْكُوْا كَثِيْرًا جَزَآءً بِمَا
پس دې خاندي، لږ زمانه، او دې ژاړي، ډېره زمانه، بدله په سبب د
كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٨٢﴾ فَاِنْ رَّجَعَكَ اللهُ اِلٰى طَآئِفَةٍ
هغه عملونو چه دوي کول. که چرې واپس راوستے تا الله تعالیٰ یوې ډلے ته،
مِّنْهُمْ فَاسْتَاْذَنُوْكَ لِلْخُرُوْجِ فَقُلْ لَّنْ تَخْرُجُوْا
د دوي نه، پس اجازت دې وغوښته ستا نه د وتلو (جهاد ته)، پس دوي ته ووایه هیچرے به نه وزئ،
مَعِيَ اَبَدًا وَّلَنْ تُقَاتِلُوْا مَعِيَ عَدُوًّا اِنَّكُمْ
زما سره هیچرے، او هیچرے به جنګ نه کوئ، زما سره ملګرتوب کښې دښمن سره، یقیني تاسو
رَضِيْتُمْ بِالْقُعُوْدِ اَوَّلَ مَرَّةٍ فَاقْعُدُوْا مَعَ
راضي شوي یئ په کیناستلو، اول ځل، پس کینئ، سره د
الْخٰلِفِيْنَ ﴿٨٣﴾ وَلَا تُصَلِّ عَلٰٓى اَحَدٍ مِّنْهُمْ
پاتې کیدونکو سره. او مه کوه د جنازے مونځ په یو کس، د دوي نه،
مَّاتَ اَبَدًا وَّلَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهٖ اِنَّهُمْ
چه مړ شي، هیچرے، او مه اودریږه په خوا د قبر د هغه کښې (دعا لره) یقیني دوي،
كَفَرُوْا بِاللهِ وَرَسُوْلِهٖ وَمَاتُوْا وَهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٨٤﴾
کفر کړے دے په الله تعالیٰ، او په رسول د هغه، او مړه دي دوي په داسې حال کښې چه دوي نافرمانه دي.
وَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ وَاَوْلَادُهُمْ اِنَّمَا
او تعجب کښې دې نه اچوي تا لره، مالونه د دوي، او اولاد د دوي، یقیناً،
يُرِيْدُ اللهُ اَنْ يُّعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الدُّنْيَا وَ
اراده لري الله تعالیٰ، چه عذاب ورکړي دوي لره په دغه څیزونو سره، په دنیا کښې، و

منزل ٢

فَلْيَضْحَكُوْا ﴿٨٢﴾: دا دواړه جملے د امر دي خو مراد ترینه خبر ورنه دي. شاه ولی الله رحمه الله فرمائي چه وبه خاندي لږ به دنیا کښې او وبه ژاړي ډیر په اخرت کښې. (فوز ص) فَاِنْ رَّجَعَكَ اللهُ ﴿٨٣﴾ په دې ایت کښې هم زور نه ده منافقانو لره.
او دا ایتونه په غزوه او سفر د تبوک کښې راغلي دي. مطلب دا دے چه په اینده زمانه کښې به هم ما سره نه وزئ جهاد ته. وَلَا تُصَلِّ عَلٰٓى اَحَدٍ ﴿٨٤﴾: په دې کښې منعه ده د مانځه د جنازے نه په منافقانو باندې او د قبر په خوا کښې د دعا کولو نه هغوي لره.
حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه دا حکم عام دے په هر هغه چا کښې چه منافقت ئے معلوم شوے وي اگرچه سبب نزول د ایت په عبد الله بن اُبَيّ بن سلول کښې دے چه سردار د منافقانو وو. (ص ٣٣٣ ج ٢)
فائده ١:- د عثمان رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم چه کله به فارغ شو د دفن کولو د مړي نه ودریدو به او وبه ئے فرمایل: اِسْتَغْفِرُوْا لِاَخِيْكُمْ وَاسْئَلُوْا لَهُ التَّثْبِيْتَ فَاِنَّهُ الْاٰنَ يُسْئَلُ: (ابن کثیر ج ٢ ابوداؤد ٤٥٩/١، مشکوٰة ص ٢٦، مرقات ص ٨، مدخل ص ٢٢٤، الهام ص ٢٢٤).
فائده ٢:- د جنازے د سلام گرځولو نه پس اجتماعي دعاء نه ده ثابته او مکروه ده. اختصار رد بدعات کښې پرے ډیرے حوالے ذکر کړیدي او الهام الرحمن کښې هم بعض دي. وګورئ مرقات ص ٢، بزازیه د پاسه د هندیه نه ص ٣، خلاصه ص ١٢٥، مالابد منه ص ٥٠، سراجیه سره د قاضي خان نه ص ١٣، بحر الرائق ص ١٨٣، التعليق الصحيح ص ٩، در مختار مع الشامي ص ٦٢٢.

ترمنځو ايادَنْ يَّكُونُوْا مَعَ الْخَوَالِفِ مثلاً ؛ خوشاله دي چه شي سره د ښځو نه . جمع د خالفه ده يعني د هغو ښځو سره چه پاتې شوي وي په کورونو کښې . وګورئ ابن جرير مبهٔ ، جلالين مثلاً - او دا مبالغه ده په

تَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿٨٥﴾ وَاِذَآ اُنْزِلَتْ

وځي روحونه د دوي ، او دوي کافران به وي . او کله چه نازل کړے شي ،

سُوْرَةٌ اَنْ اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَجَاهِدُوْا مَعَ رَسُوْلِهِ

يو سورت دا چه ايمان راوړئ په الله او جهاد وکړئ ؛ په ملګرتيا د رسول د هغه کښې ،

اسْتَاْذَنَكَ اُولُوا الطَّوْلِ مِنْهُمْ وَقَالُوْا ذَرْنَا

اجازت غواړي ستا نه خاوندان د طاقت (مالداران) د دوي نه او وائي پرېږده مونږ لره

نَكُنْ مَّعَ الْقٰعِدِيْنَ ﴿٨٦﴾ رَضُوْا بِاَنْ يَّكُوْنُوْا مَعَ

چه شو سره د کيناستونکو نه ، خوشاله دي چه شي سره د پاتې کيدونکو

الْخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ ﴿٨٧﴾

ښځو سره ، او مهر لګولے شوے په زړونو د دوي باندي ، پس دوي نه پوهيږي .

لٰكِنِ الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ جٰهَدُوْا

لاکن ، رسول صلی الله علیه وسلم او هغه کسان چه ايمان ئے راوړ د هغه سره ملګري دي ، جهاد کړے

بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ؕ وَاُولٰٓئِكَ لَهُمُ الْخَيْرٰتُ ؗ

په مالونو خپلو او په ځانونو خپلو ، او دغه کسان دوي لره نيکئ (خوشالي) دي او

وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿٨٨﴾ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ جَنّٰتٍ

دغه کسان ، دوي کامياب دي . تيار کړے الله تعالیٰ دوي لره باغونه چه

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ

بهيږي به لاندي د هغو نه ويالے ، هميشه به وسيږي په هغو کښې ،

ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿٨٩﴾ وَجَآءَ الْمُعَذِّرُوْنَ

دغه ، کاميابي لويه ده . او راغلل ، عذر غوښتونکي ،

مِنَ الْاَعْرَابِ لِيُؤْذَنَ لَهُمْ وَقَعَدَ الَّذِيْنَ

د باندېچيانو نه ، چه اجازت ورکړے شي دوي ته او ناست دي هغه کسان چه ،

كَذَبُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ

دروغ ئے ويلي وو الله تعالیٰ او رسول د هغه ته ، زر دے چه ورسيږي هغه کسانو ته چه

منزل ٢

ذم د دوي کښې چه دوي خان ګرځولي دي په منزله د ښځو . (بحر ، ماجدي مثلاً ٣١٩)

لٰكِنِ الرَّسُوْلُ : په دے آيتونو کښې صفات د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د صحابه کرامو رضي الله عنهم دي او هغوي لره بشارت دے .

وَجَآءَ الْمُعَذِّرُوْنَ : په دے آيت کريمه کښې د دوؤ ډلو ذکر دے ، د معذرو - او د دروغژنو . تفسير ماجدي مثلاً ٣١٩ کښې د لغاتو د کتابونو په حواله ليکي چه معذرے هغه ناني وائي چه حقيقت کښې ئے عذر نه وي او شعدر هغه چاته وائي چه عذر ئے صحيح وي يا غلط . حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائي چه دلته ئے بيان کړے حال د خاوندانو د عذرونو په ترک د جهاد کښې (رطبي) .

لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَآءِ : (حاشيه د رانلونکي مخ مثلاً) د شاه عبدالقادر شيخ رحمه الله فرمائي دا د صحيح عذر خلق دي ، د دوي عذر په دربار الٰهي کښې منظور دے (افضل التراجم مثلاً) د پښتو شيخ رحمه الله فرمائي چه دلته د هغه عذرونو بيان دے چه د هغو د وجے نه په جهاد کښې نه شريکيدل دغه دائمي معذور وي . الضُّعَفَآءِ : يعني بوډاګان ،

ماشومان او ښځے ، دغه رنګے ګډ او ړانده او شل هم په دے کښې شامل دي . وَلَا عَلَى الَّذِيْنَ الخ : مخکښې د هغو خلقو ذکر وو چه د جسماني طاقت د نه موندلو له عذره ناتوان وي چه د چاسره سامان د جنګ او د سفر د خرچے د پاره روپئ نه وي هغه هم معذور دے . (جواهر مثلاً ٣١٩) اِذَا نَصَحُوْا : يعني په دے شرط چه هغوي

په بنا کښې وسېږي فتنه او فساد نکوي او د مجاهدینو په باره کښې د دروغو خبرونه نه خوروي.
(جواهر ص۲۴۹) تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ: چه ستر ګے ئے دارے وهي د اوښکو نه. په دې کښې مبالغه ده.

كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٩٠﴾ لَيْسَ عَلَى
کفر ئے کړے، دَ دوی نه، عذاب دردناک ـــ. نشته په

الضُّعَفَاءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضَىٰ وَلَا عَلَى
کمزورو باندې، او نه په ـ ناجوړو باندې، او نه په

الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ حَرَجٌ
هغه کسانو باندې چه نه ئې موندلې هغه شئ چه خرچ ئے کړي دوی، هیڅ ګناه،

إِذَا نَصَحُوا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ ۚ مَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ
کله چه خیرخواهي کړي الله تعالیٰ لره او رسول د هغه لره، نشته په احسان کوونکو باندې،

مِن سَبِيلٍ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٩١﴾ وَلَا عَلَى
هیڅ ملامتیا، او الله تعالیٰ بخښونکے، مهربانه دے، او نشته ګناه په

الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ
هغه کسانو چه کله راشي تاته، د دې دپاره چه سواره کړې ته دوی لره، دوی ته ووې

لَا أَجِدُ مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوا وَّأَعْيُنُهُمْ
نه ئې مومم هغه څه چه سواره کړم تاسو په هغې، نو واپس شي دوی، او ستر ګے ئے

تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا
دارے وهي، د اوښکو نه د وجے د غم له دې وجے نه چه نه ئې موندلې دوی،

مَا يُنفِقُونَ ﴿٩٢﴾ إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ
هغه شے چه خرچ ئے کړي دوی. یقیناً ملامتیا په هغه کسانو چه

يَسْتَأْذِنُونَكَ وَهُمْ أَغْنِيَاءُ ۚ رَضُوا بِأَن
اجازت غواړي له تانه، او دوی غنیان وی، خوشاله دي په دے چه،

يَكُونُوا مَعَ الْخَوَالِفِ وَطَبَعَ اللَّهُ عَلَىٰ
شي دوی، سره د هغه ګیناتو، او مهر لګولے الله تعالیٰ، په

قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٩٣﴾
زړونو د دوی، پس دوی نه پوهیږي.

خکه چه اوښکے دارے وهي د ستر ګو نه، نه ستر ګے د اوښکو نه. فَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ، پس دوی نه پوهیږي چه په جهاد کښې څومره خیر دے په دُنیا او اخرت کښې ـ (خازن ص۲۵۲ج۲) فائده ۲: په دے أیت کښې درے قسمه معذوران ذکر دي :- (۱) ضعفاء (۲) مریضان (۳) چه خرچه د جهاد نه لري او په مخکښې څلورم قسم ذکر دے چه د سفر کولو د پاره سورلی نه مومي ⁘

⁘ ⁘ ⁘

(الحمدلله نن په ورځ د منګل ۵/۲۳ بجے، ۱۹ ر جون ۲۰۰۶ء ۲۲ ر جمادی الاولیٰ ۱۴۲۷ھ د الله تعالیٰ په فضل او امداد سره لسمه پاره چه تقریباً څلورمه میاشت د شروع کولو د لیک ده ختمه شوه. یا الله! په خپل فضل او کرم د باقي لیک توفیق هم راکړے امین ثم امین.
والعبد محمد عبدالجبار غفرله،
ترهیه آباد زرد ترخو ا جوړ.)

(والحمدلله نن په ورځ د پنجشنبې ۲۷ ر شعبان ۱۴۲۷ هـ، ۲۱ ر ستمبر ۲۰۰۶ء باندې نظر ثاني ختم" شو ـ خاکي غفرله)

يَعْتَذِرُونَ إِلَيْكُمْ إِذَا رَجَعْتُمْ إِلَيْهِمْ ۚ قُل

دَ دروغو بهانې به کوي دوی: تاسو ته کله چه واپس شئ تاسو دوی ته: اووايه

لَا تَعْتَذِرُوا لَن نُّؤْمِنَ لَكُمْ قَدْ نَبَّأَنَا اللَّهُ مِنْ

بهانې مه کوئ تاسو: هيڅکله باور نه کوو مونږ تاسو لره: يقيناً خبر ورکړې مونږ ته الله تعالیٰ د

أَخْبَارِكُمْ ۚ وَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ ثُمَّ

خبرونو ستاسو: او زر دی چه وبه ويني الله تعالیٰ عملونه ستاسو او رسول د هغه: بيا به

تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُم

واپس کړې شئ تاسو هغه ذات ته چه پوهيږي په پټو او ښکاره ګانو: پس خبر به درکړي

بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٤﴾ سَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ إِذَا

تاسو ته په هغه عملونو چه تاسو کوئ: زر دی چه قسمونه به اوکړي دوی: په الله تعالیٰ تاسو ته

انقَلَبْتُمْ إِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوا عَنْهُمْ ۖ فَأَعْرِضُوا

کله چه واپس شئ تاسو دوی ته د دې دپاره چه مخ واړوئ ددوی نه: پس تاسو واړوئ: د

عَنْهُمْ ۖ إِنَّهُمْ رِجْسٌ ۖ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ جَزَاءً بِمَا

دوی نه: يقيناً دوی پليت دی: او ځائ ددوی جهنم دے: بدله د هغه ورکړے شي په

كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٩٥﴾ يَحْلِفُونَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا

سبب د هغه عملونو چه دوی کول: قسمونه کوي دوی تاسو ته: چه راضي شئ تاسو د دوی

عَنْهُمْ ۖ فَإِن تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا

نه: کۀ چرته تاسو راضي شئ د دوی نه: پس يقيناً الله تعالیٰ نه

يَرْضَىٰ عَنِ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ ﴿٩٦﴾ الْأَعْرَابُ

راضي کيږي: د قوم فسق کونکي نه: بانډو چيان

أَشَدُّ كُفْرًا وَنِفَاقًا وَأَجْدَرُ أَلَّا يَعْلَمُوا

ډير سخت دي په کفر کښې او په منافقت کښې: او لائق دی په دې چه نه پوهيږي

حُدُودَ مَا أَنزَلَ اللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ ۗ وَاللَّهُ

په حدودو د هغه چه نازل کړي دي الله تعالیٰ: په رسول خپل باندې: او الله تعالیٰ

يَعْتَذِرُونَ ٩٤: په آيت کريمه کښې زورنه د منافقانو لره چه کله تاسو د تبوک د غزوې نه واپس شئ نو د دروغو بهانې به درته کوي۔

وَسَيَرَى اللَّهُ

او زر دے چه وبه ويني الله تعالیٰ عملونه ستاسو او رسول د هغه خازن رحمه الله ليکي: يعني تا زر وان وختونو کښې چه توبه اوباسي د منافقت نه خپل نه او که کلک پرې پاتې کيږي۔ (صفحه ٢٥٠) او دا نه چه نبي عليه السلام حاضر ناظر دے او د خلقو د عملونو نه خبريږي۔ اوګورئ ٤٥ سورة توبه۔

فائده: په مسلم شريف ٥٣ کښې د ابوذر غفاري رضي الله عنه نه نقل دي چه نبي عليه السلام فرمائي چه زورانده کړے شو په ما باندې عملونه د اُمت زما، ښه د هغوی او بد د هغوی، پس بيا مونده ما په ښو عملونو د هغوی کښې ضرر اړونکے چه لرې کړے شي د لارې نه ... او بيا م مونده په بد عملونو د هغوی کښې تُرسکے چه وي په جمات کښې او دفن کړے شوے نه وي۔ د پښتون خپل رحمه الله په جواهر ٣٥٥ کښې فرمائي چه مراد ترې نه عرض اجمالي دے... او علامه کشميري رحمه الله فيض الباري ٣٠٦ کښې فرمائي چه عرض ورانده ولسه مستلزم د علم نه دے۔ عرض بل شئ دے او علم (پوهه) بل شئ: اوګورئ بقره ٢٣: په ٩٥، ٩٦ کښې هم زورنے دي او د منافقانو صفات قبيحه ذکر کوي۔ د ٩٧ په کښې دي چه په کفر او نفاق کښې سخت دي او د قرآن او سنت د احکامو نه بے خبره دي۔

مَغْرَمًا: علامه خازن رحمه الله فرمائي يعني اميد نه ساتي په خرڅ كولو د ثواب او ويره نه لري په نه ورکولو د مال د عقاب نو داوګڼي خرڅ کول نوښه د ريا او د پاره خرڅ كوي ... اَلدَّوَآئِرَ: د هغه مصائب وي چه خاتي د خلاصي ترېنه نه وي احاطه کوي په انسان څنګه چه احاطه کوي پېر دائره (کرمانی ...)

عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٩٧﴾ وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يَّتَّخِذُ

پوهه حکمت والا دے. او بعض د باندرو والو. هغه څوک دي چه ګڼړي هغه

مَا يُنْفِقُ مَغْرَمًا وَّيَتَرَبَّصُ بِكُمُ الدَّوَآئِرَ ؕ

چه خرڅ کوي په لاره د الله کښې تاوان او انتظار کوي په تاسو باندے د مصيبتونو

عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٩٨﴾

په دوي د بدي مصيبتونو دي. او الله تعالیٰ اوريدونکے پوهه دے.

وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ

او بعضے د باندرو چيانو نه. هغه څوک دي چه ايمان لري په الله تعالیٰ باندے او په ورځ

الْاٰخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنْفِقُ قُرُبٰتٍ عِنْدَ اللّٰهِ

وروستني. او ګڼړي هغه چه خرڅ کوي په لاره د الله کښې سبب د نزديکت په دربار د الله

وَصَلَوٰتِ الرَّسُوْلِ ؕ اَلَآ اِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ ؕ

کښے او سبب د دعا ګانو د رسول علیه السلام. خبردار يقيناً هغه سبب د نزديکت دي دوي له.

سَيُدْخِلُهُمُ اللّٰهُ فِيْ رَحْمَتِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

زر ده چه داخل به کړي دوي لره الله تعالیٰ په رحمت خپل کښے. يقيناً الله تعالیٰ بخښونکے

رَّحِيْمٌ ﴿٩٩﴾ وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ

مهربان دے. او مخکښے کيدونکي ايمان ته اولني د مهاجرينو

وَالْاَنْصَارِ وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ ۙ

او انصارو نه. او هغه کسان چه تابعداري نے کړيده د دوي په نيکئ کښے.

رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ

راضي دے الله تعالیٰ د دوي نه او راضي دي دوي د هغه نه. او تيار کړي يے دي دوي لره

تَجْرِيْ تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ

باغونه بهيږي به لاندے د هغو ويالے. هميشه به اوسي په هغو کښے هميشه.

ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١٠٠﴾ وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِّنَ

دغه کاميابي لويه ده. او بعضے هغه کسان چه چاپيره دي ستاسو

ع ١

وَصَلَوٰتِ الرَّسُوْلِ: او ذريعه د دعاګانو د پيغمبر صلی الله علیه وسلم (ذکر ... ثانيه ... التوبه ...) کښے ثابت شو. په دے کښے د مومنانو زميندارو ذکر په مقابله د منافقانو کښے. وحضوري ... بشارت او ورکړې شوه. وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ: شيخ القرآن رحمه الله فرمائيلي دي چه کوم شے خدائي شتمن قسم منه تر اخره سورة پورې شوه ... (١) وړمبے قسم د مومنانو مخلصينو (٢) قاعدين د وجه د توبے والا ... قاعدين د ... توبے والا ... (٣) ترغيبات جهاد ... (٤) ترديد په بعضو افعالو د منافقانو د پاره د وير ولو د مومنانو ... (٥) منع د استغفار نه مشرکانو ... (٥) ترغيبات تابعداري د رسول الله صلی الله علیه وسلم ... (٦) اختتام د سورة په ... توحيد چه جهاد ... د پاره د ...

فائده ۵: د شاه ولي الله رحمه الله فرمائي: بهترين قسم د ... مهاجرين چه هغوي ... دا الله تعالیٰ د پاره ... انصار ... د دوي تابعداران چه د هجرت او نصرت کښے ...

فائده ۶: د ... چه ... شوي دي ... او باقي د دوي تابع دي ...

فائده ۷: د السّٰبِقُوْنَ معنیٰ دا ده چه تر ... مخکښے ايمان ... او د هجرت تابعداري يے کړيده او هجرت او نصرت يے کړيدے او د ... مراد دے چه د دوي د ... ايمان

راوړلو د ... (محقق ... فائده ۸: په اَلسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ کښے دا راوړلے شوے الف لام د استغراق او جنس د پاره دي او مِنْ د تبعيض د پاره نه دے د تبيين د پاره ... هغه چه ... کوم ... مصداق تول صحابه دي ... وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ: اول د دے نه هغه صحابه کرام ... باقي په بل مخ)

(بقيه) مراد دي چه هغوي د نيکانو صحابو ؓ تابعداري کړې وه - يا هغه کسان مراد دي چه تر قيامته پورې به د صحابه کرامو ؓ تابعداري کړي (احسن الکلام ص) (ياغا خان) چه اقتدا د کوي په هغوي پسې په نياسته عملونو د هغوي کښې او اقتدا نه کوي په هغوي پسې

الْأَعْرَابِ مُنَٰفِقُونَ ۖ وَمِنْ أَهْلِ ٱلْمَدِينَةِ ۖ
د بانډو والو خلقو نه منافقت کونکي دي: او بعضي د اهل د مدينې نه :
مَرَدُوا۟ عَلَى ٱلنِّفَاقِ لَا تَعْلَمُهُمْ ۖ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ۚ
ماهره (پخه) شوي دي په منافقت کښې: ته نه پيژنې دوي لره: مونږ ئې پيژنو دوي لره
سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَىٰ عَذَابٍ
زر ده چه عذاب به ورکړو دوي ته دوه ځله: بيا به دوي ورګرزولے شي عذاب
عَظِيمٍ ﴿١٠١﴾ وَءَاخَرُونَ ٱعْتَرَفُوا۟ بِذُنُوبِهِمْ خَلَطُوا۟
لوي ته : او نور کسان دي: اقرار ئې کړے دے په ګناهونو خپلو او ګډ کړے ئې دے
عَمَلًا صَٰلِحًا وَءَاخَرَ سَيِّئًا عَسَى ٱللَّهُ أَن يَتُوبَ
کړے عمل ښه : او نور بد عمل لره: نزدے ده چه الله تعالی به توبه قبوله کړي د
عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٠٢﴾ خُذْ مِنْ أَمْوَٰلِهِمْ
دوي : يقيناً الله تعالی بخښونکے مهربان دے. واخله د مالونو د دوي نه
صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ۖ
صدقه لره: چه پاک کړي دوي لره: د ګناهونو او زياتے کړي دوي لره مال په سبب د دې او دعا
إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ ۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٣﴾
کوه دوي ته: يقيناً دعا ستا آرام دے دوي لره: او الله تعالی اوريدونکے پوهه دے.
أَلَمْ يَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ يَقْبَلُ ٱلتَّوْبَةَ عَنْ
آيا نه پوهيږي دوي چه يقيناً الله هغه قبلوي توبه لره د بندګانو
عِبَادِهِۦ وَيَأْخُذُ ٱلصَّدَقَٰتِ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ
خپلو نه: او اخلي صدقو لره : او يقيناً الله تعالی هغه
ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٤﴾ وَقُلِ ٱعْمَلُوا۟ فَسَيَرَى
ډير توبه قبلونکے مهربان دے : او وايه عمل کوئ : پس زر ده چه وويني
ٱللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُۥ وَٱلْمُؤْمِنُونَ ۖ وَسَتُرَدُّونَ
به الله تعالی عمل ستاسو او رسول د هغه: او مومنان: او زر ده چه به ورګرزولے شئ

په غيره و غونه (يعني تکړه کوم اجتهادي خطا ترې نه شوي دي) او د ويلے کيږي چه مراد دا دے چه تابعداري کښې کوي په ايمان او په اسلام او په نورو ښو کارونو د هغوي کښې په دې شرط چه څوک په هغوي پسې طعن نه کوي او په عملونو کښې چه هغوي پرې اقتدا کړيده (ابن ...)

فائده: په کتاب (مکانة الامام ابي حنيفة فيما بين المحدثين ص) کښې ليکلي دي چه صحيح دا خبره ده چه امام ابو حنيفة ؒ انس ؓ ليدلے دے او ... د سيرا اعلام النبلاء ص ... او تاريخ الاسلام ص ... او العبر ص ... دي بيا ليکلي دي چه اکثر محدثين په دې دي چه تابعي هغه څوک دے چه ملاقات ئې د صحابي سره شوے وي اګرچه مجلس ئې يو ځل وي. ابن عبد البر رحمه الله په مقدمه د (الاستيعاب) کښې ليکلي دي چه الله تعالی پرې راضي شو او ... انشاء الله تعالی (مقام صحابه د مفتي محمد شفيع ص) ... (د اعد لهم جنت) په آيت کښې دوه زيري دي الله تعالی ترې راضي دے او دوي لره ئې جنتونه تيار کړي دي. جناب مفتي صاحب فرمائي چه صحابه کرام ټول په دې قول بغير د استثنا نه جنتيان او د الله تعالی د رضا مستحق دي (معارف ص)

فائده: نو معلوم شو عظيم فخر د هغه چا چه د صحابو کرامو ؓ تابعداري ... د صحابه کرامو ذکر او ... نقصان کوي (...)

ص ٣٢٣ ذکر کوي. (ددے نه) مَرَدُوا عَلَى النِّفَاقِ: ماهره شوي په منافقت کښې (مدارک ص) واده شوي په منافقت باندے او ... چه ښکاره شوي په ... (تسهيل ص) (وَءَاخَرُونَ): ددے آيت په تفسير کښې ... صحابه کرامو ... ډېر ... ونړول تر ستنو پورې تر هغه وخته پورے چه توبه ئې قبوله شوه. لکه ابو لبابه او د هغه ملګري. د ابو عثمان نه روايت دے (...)

إِلَىٰ عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ

خدائے ته چه پوهه دے په پټو او ښکاره و باندے نو بیا به خبر درکړی تاسو ته په هغه څیز

تَعْمَلُونَ ﴿١٠٥﴾ وَآخَرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ اللَّهِ إِمَّا

چه تاسو به کولو او نور دی چه وروستو کړے شوی دی فیصلے د الله تعالیٰ ته یا به

يُعَذِّبُهُمْ وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيْهِمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٠٦﴾

عذاب ورکړی دوی لره او یا به توفیق د توبے ورکړی دوی لره او الله خبر پوهه حکمت والا دے

وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَكُفْرًا وَتَفْرِيقًا

او بعضے منافقان هغه کسان دی چه جوړ کړے ئے جومات د پاره د ضرر ورکولو او د کفر او د پاره

بَيْنَ الْمُؤْمِنِينَ وَإِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللَّهَ

د جدائی په مینځ د مومنانو کښې او د پاره د موسے د هغه چا چه جنګ کړے د الله تعالیٰ

وَرَسُولَهُ مِن قَبْلُ ۚ وَلَيَحْلِفُنَّ إِنْ أَرَدْنَا إِلَّا

او د رسول د هغه سره د مخکښے نه او خامخا قسمونه به کوی دوی چه نه دے اراده

الْحُسْنَىٰ ۖ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿١٠٧﴾ لَا تَقُمْ

کړے مونږ مګر د نیکئ او الله تعالیٰ ګواهی کوی چه یقیناً دوی خامخا دروغژن دی مه

فِيهِ أَبَدًا ۚ لَّمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَىٰ مِنْ أَوَّلِ

اودریږه ته په دے جومات کښې هیڅکله خامخا هغه جومات چه بنیاد ئے ایښودے شوے په پرهیزګارئ د

يَوْمٍ أَحَقُّ أَن تَقُومَ فِيهِ ۚ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ

اولنی ورځے نه لائق دے چه ودریږے ته په هغه کښې د پاره د مونځ په هغه کښې سړی دی چه خوښوی

أَن يَتَطَهَّرُوا ۚ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ ﴿١٠٨﴾ أَفَمَنْ

پاکی چه پاک اوسی دوی او الله تعالیٰ خوښوی پاکی کوونکو لره آیا هغه څوک

أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ تَقْوَىٰ مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ

چه ایښے دے بنیاد د ابادئ خپلے په ویرے د الله تعالیٰ او په رضا د هغه غوره دے

أَمْ مَّنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ

که هغه څوک چه ایښودے ئے بنیاد د ابادئ خپلے په غاړه د کندے د اوبو چه غورزیدونکے ده نو غورزیدله

منزل ۲

۱۰۵ او بعضے د دوی نور کسان دی چه وروستو کړے شوی فیصلے د الله تعالیٰ ته (قرطبی ص۲۵۲) او په تفسیر کبیر ص۱۹۰ کښے دی چه فرق په مینځ د دویم قسم او د دے دریم کښے دا دے چه هغوی جلدی کښے وه توبے ته او دوی جلدی نه وه کړے هغه ته. ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه دوی کعب ځوئ د مالک او مرارة ځوئ د ربیع او هلال ځوئ د امیة وو. (رضی الله عنهم)

وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا: او بعضے د دوی نه هغه کسان دی چه جوړ کړے ئے جومات د پاره د ضرر ورکولو (قرطبی ص۲۵۳) په دے ایت کریمه کښے منافقانو د جومات جوړولو ذکر دے په مقابل د مسجد قبا کښے او خلو قبا خرشیه ورکړی.

فائده: د تفسیر د ځینو شیخ رحمه الله نیکی چه جنګ حنین کښې چه کله مشرکانو شکست اوخوړو نو هغوی وتلے ابو عامر شام طرف ته تښتیدو او منافقانو د مدینے ته اوئیلی چه د دے مسلمانانو خلاف د قیصر روم نه د فوځی امداد حاصلولو کوشش کوم. تاسو د جومات په نوم یو ابادی جوړه کړئ چه په وخت کښې په اطمینان سره د اسلام خلاف جنګی منصوبه بندی کولے شی د دے د دوی طرف نه کوم قاصد رائی هغه به په دغه ابادئ کښے اقامت کوی نو که هغوی د ابو عامر په اشاره جومات جوړ کړو او د نبی صلی الله علیه وسلم نه ئے د هغه د ښکلو درخواست اوکړو چه د هغوی تعریف راوړلو د هغوی په منافقت پرده او غورزیری دغه وخت کښے هغوی د تبوک غزا د پاره تللو د دے وجه نه هغوی په واپسئ باندے د دوی په جومات کښے د مانځه کولو وعده اوکړه په واپسئ کښے هغوی ته دغه یاد شو نو الله تعالیٰ په ذریعه د وحی هغوی لره د اصل حقیقت حال نه خبر کړو لو هغه جومات ئے ډالولو ته منع کړو (روح وغیره ج۲ ص۲۰۴) فائده ۶: او ویلے شویدی چه هر هغه جومات چه د فخر او د ریا او د سمعت او یا د الله د غرض نه د پاره چه د الله تعالیٰ رضا کښے نه وی او یا په مال چه حلال نه وی جوړ شی نو دا پیوستہ دے په مسجد ضرار پورے (مدارک ص۲۳۴) ابصار الطالبین (روح المعانی ج۲) (کرم بیان)

(ابتدء) هم کېدلې شي. لَمَسْجِدٌ ... وَدَ ... مسجد قبا مراد دے جولفظ مِنْ اَوَّلِ يَوْمٍ وَ ... ډېر ... وائي ... ابن کثير رحمه الله فرمائي چه
په صحيح حديث کښې دي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي چه په قبا کښې ... مؤمن ... پښتانه ... [illegible] ... په ايت ١٠٩ ... والله ...

بِهٖ فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ ۗ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٠٩﴾

سره دوزخ ... په جهنم کښې، او الله تعالىٰ هدايت نه کوي قوم ظالمانو ته.

لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِيْ بَنَوْا رِيْبَةً فِيْ قُلُوْبِهِمْ اِلَّآ

هميشه به وي ابادي د دوي ... چه جوړه کړې ده سبب د شک ... په زړونو د دوي ...

اَنْ تَقَطَّعَ قُلُوْبُهُمْ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿١١٠﴾ اِنَّ

مګر دا چه ټوټې شي زړونه د دوي، او الله تعالىٰ ښه پوهه حکمت والا دے. يقيناً

اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ

الله تعالىٰ اخستي دي د مؤمنانو نه ... نفسونه د هغوي او مالونه د هغوي

بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ۗ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيَقْتُلُوْنَ

په بدله د دې چه يقيناً دوي لره جنت دے، جنګېږي به په لاره د الله تعالىٰ کښې، پس به وژني کافران

وَيُقْتَلُوْنَ ۫ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِيْلِ وَ

او وژلے به شي دوي، وعده کړې ده الله تعالىٰ وعده لازمه ... ثابته په تورات او انجيل او

الْقُرْاٰنِ ۗ وَمَنْ اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ مِنَ اللّٰهِ فَاسْتَبْشِرُوْا

قرآن کښې، او څوک دے ډېر وفادار په لوظ خپل ... د الله تعالىٰ نه، پس خوشحاله شئ په

بِبَيْعِكُمُ الَّذِيْ بَايَعْتُمْ بِهٖ ۗ وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١١١﴾

بيعه خپله ... هغه چه سودا کړې ده تاسو په هغې، او دغه هم دا کاميابي لويه ده. (دا خلق)

اَلتَّآئِبُوْنَ الْعٰبِدُوْنَ الْحٰمِدُوْنَ السَّآئِحُوْنَ

توبه ايستونکي دي الله تعالىٰ ته، عبادت کوونکي دي، ثناء وئيونکي دي، ګرځېدونکي دي د پاره د جهاد

الرّٰكِعُوْنَ السّٰجِدُوْنَ الْاٰمِرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ

رکوع کوونکي دي، سجده کوونکي دي، امر کوونکي دي په نېکئ سره، او

النَّاهُوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَالْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللّٰهِ ۗ

منع کوونکي دي د بدو نه، او حفاظت کوونکي دي د پولو د الله تعالىٰ

وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١١٢﴾ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ

او زيرے ورکړه ... مؤمنانو ته. نه دي مناسب د پاره د نبي صلى الله عليه وسلم او هغه کسانو لره چه

ع ١١ — ٢ — ... (margin)

منزل ٢

(commentary, left column:)

... مابين کښې تقابل ذکر کړي ... لَا ... شاه ولي الله رحمه الله ... کوي ... په غاره د زړګي ... الله ... خوړلي دي (قرطبي ...).
لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمْ: د مسجد ضرار جوړول د منافقانو په زړونو کښې ... چه ابي عامر ... د هغوي خوړلو ... شکونو زيات ... د هغوي کفر او نفاق نور هم زيات شو ... اِلَّآ اَنْ تَقَطَّعَ: مګر په هغوي حالت کښې چه ... ټوټې شي زړونه ... (فتح ...)
اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى: په دې ايت کښې ترغيب دے قتال في سبيل الله ته او قتل تاکيدات کښې د ... او دلته دې ... او ... او سورة صف ... کښې ... حسن بصري رحمه الله فرمائي چه قسم په الله تعالىٰ چه نشته په ځمکه باندې څوک مؤمن مګر داخل دے په دې بيع کښې (قرطبي ...) او دا د الله تعالىٰ محض کرم دے ځکه چه نفسونه او مالونه د مؤمنانو هم د الله تعالىٰ دي، د دې مثال داسې دے لکه مالي د بادشاه د باغ نه ګلان او ميوې بادشاه له يوسي او هغه ورله انعام ورکړي. بابا سعدي رحمه الله فرمائيلي دي: ...
برد باغبان زبستان شاه ...
به تحفه ثمر ز بوستان شاه ...
اَلتَّآئِبُوْنَ: د ... رقم د هغه د پاره ده. مدارک دا ... هغه
اَلتَّآئِبُوْنَ دوي توبه ايستونکي دي (...) اَلسّٰٓئِحُوْنَ: روژه دار، د ابن مسعود او ابن عباس نه نقل دي (قرطبي ...) او په حديث کښې راغلي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي

چه زما د امت سياحت جهاد في سبيل الله دے (ابن ...، حاکم، معارف ...) (٣) عکرمه رحمه الله فرمائي چه دوي طالبان د علم دي يعني هغه کسان چه سياحت کوي په ځمکه کښې د پاره د طلب د علم (مظهري ...). فائده: په دې ايت کريمه کښې نهه صفات د مؤمنانو دي. مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ: د دې صفاتو نه بعد براءت دے د مشرکانو نه چه بخښنه به ورله نه غواړي.

اٰمَنُوْٓا اَنْ یَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِیْنَ وَلَوْ كَانُوْٓا اُولِیْ
ایمان یې راوړی دی چه بخښنه وغواړی د پاره د مشرکانو، اګرچه وی هغوی خپلوان
قُرْبٰی مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَیَّنَ لَهُمْ اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ الْجَحِیْمِ ﴿۱۱۳﴾
د خپلوانو؛ پس د هغه نه چه ښکاره شوه دوی ته چه یقیناً دوی خاوندان د جهنم دی
وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ اِبْرٰهِیْمَ لِاَبِیْهِ اِلَّا عَنْ مَّوْعِدَةٍ
او نه وه بخښنه غوښتل د ابراهیم د پاره د پلار خپل، مګر د سبب د وعدې نه
وَّعَدَهَآ اِیَّاهُ ۚ فَلَمَّا تَبَیَّنَ لَهٗٓ اَنَّهٗ عَدُوٌّ لِّلّٰهِ تَبَرَّاَ مِنْهُ ؕ
چه کړې وه ده هغه ته، پس هر کله چه ښکاره شوه هغه ته چه یقیناً هغه دښمن د الله دی
اِنَّ اِبْرٰهِیْمَ لَاَوَّاهٌ حَلِیْمٌ ﴿۱۱۴﴾ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِیُضِلَّ
بیزاره شو هغه. یقیناً ابراهیم ډیر زړه سواند، زغم کوونکی وو. او نه دی الله چه ګمراه کړی یو قوم
قَوْمًۢا بَعْدَ اِذْ هَدٰىهُمْ حَتّٰی یُبَیِّنَ لَهُمْ مَّا یَتَّقُوْنَ ؕ
پس د هغه نه چه هدایت اوکړی هغوی ته ترڅو چه بیان کړی دوی ته هغه څیزونه چه ځان ترې ساتی
اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ ﴿۱۱۵﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ
یقیناً الله تعالی په هر شی ښه پوهه دی. یقیناً الله تعالی خاص هغه لره دی بادشاهی
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ یُحْیٖ وَیُمِیْتُ ؕ وَمَا لَكُمْ مِّنْ
د آسمانونو او د زمکې، ژوندی کوی او مړه کوی، او نشته تاسو لره
دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِیٍّ وَّلَا نَصِیْرٍ ﴿۱۱۶﴾ لَقَدْ تَّابَ اللّٰهُ
سوا د الله تعالی نه هیڅ دوست او نه مددګار. یقیناً مهربانی کړې الله تعالی
عَلَی النَّبِیِّ وَالْمُهٰجِرِیْنَ وَالْاَنْصَارِ الَّذِیْنَ اتَّبَعُوْهُ
په نبی او په مهاجرو او په انصارو، هغه کسان چه تابعداری یې وکړه
فِیْ سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْۢ بَعْدِ مَا كَادَ یَزِیْغُ قُلُوْبُ
هغه په ساعت د سختئ کښې، پس د هغه نه چه نزدې وو چه کږې شی زړونه د
فَرِیْقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَیْهِمْ ؕ اِنَّهٗ بِهِمْ رَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ ﴿۱۱۷﴾
یوې ډلې نه د دوی، بیا یې مهربانی اوکړه په دوی باندې، یقیناً الله په دوی شفقت کوونکی، رحم کوونکی دی

وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ: په دې کښې دفع د سوال دی چه ابراهیم علیه السلام وئیلی دی د شرک پلار د پاره بخښنه غوښتې وه لکه په سورة ابراهیم ۱۶ او شعراء ۲۷ کښې دی. حاصل د جواب دا دی چه دا په وجه د وعدې کړې وه لکه په سورة مریم ۳۲ کښې دی چه کله ورته واضحه شوه چه دا دشمن د الله دی نو بیزاره شو د هغه نه لکه ولاړ دی.

وَمَا كَانَ اللّٰهُ: دا دفع د سوال دی چه کومو کسانو استغفار غوښتې وی نو د هغوی څه حکم دی. جواب دا دی چه څو پورې الله تعالی حکم نه وی بیان کړی نو د هغې په وجه الله پاک مؤمن قوم نه ګمراه کیږی.

اِنَّ اللّٰهَ کښې دعوی د توحید او ما قبل علت دی چه قانون ساز یو الله دی. لَقَدْ تَّابَ اللّٰهُ عَلَی النَّبِیِّ: یقیناً مهربانی اوکړه الله تعالی په نبی علیه السلام باندې.

آلوسی رحمه الله فرمائی: چه کله دی توبه د الله تعالی په بنده باندې رجوع د حالت د طاعت نه زیاتې کامل درجې ته او دغه توبه په دې آیت کښې ده په نبی علیه السلام باندې چه هغوی رجوع اوکړی په دې سره دغه حالت ته چه نه کښې د دې غزا او د دې د مشقت برداشت کولو نه وګړا سی حالت نه چه دیر کامل وی د هغه حالت نه پس د دې غزا نه.

(بحر ص ۳ ج ۵)

وَعَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا حَتّٰٓى اِذَا ضَاقَتْ

او خصوصًا په هغو درېو کسانو: هغو چه وروسته کړے شوي وو تر دې چه هغوي، تر دې چه تنګه

عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ اَنْفُسُهُمْ

شوه په هغوي باندے زمکه، سره د فراخئ د هغې نه، او تنګ شو په هغوي زړونه د هغوي

وَظَنُّوْٓا اَنْ لَّا مَلْجَاَ مِنَ اللّٰهِ اِلَّآ اِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ

او يقين يې اوکړو چه نشته ځائ د پناه ځئ د عذاب د الله نه مګر هغه ته، بيا توفيق د توبے

لِيَتُوْبُوْا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿١١٨﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

ورکړو هغوي ته چه توبه اوباسي، يقينًا صرف هغه توبه قبلوونکے مهربان دے، اے ايمان والو!

اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿١١٩﴾ مَا كَانَ

ويرېږئ د الله تعالى نه، او شئ ملګري د ذوات صادقانو سره، نه دي مناسب د پاره

لِاَهْلِ الْمَدِيْنَةِ وَمَنْ حَوْلَهُمْ مِّنَ الْاَعْرَابِ

د اهل د مدينے او هغوي چه چاپېره دي نه دي، او د بانډيچيانو نه

اَنْ يَّتَخَلَّفُوْا عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ وَلَا يَرْغَبُوْا بِاَنْفُسِهِمْ

چه وروستو پاتے شي د رسول د الله ځانے نه، او نه دي خوښه کړي ځانونه خپل

عَنْ نَّفْسِهٖ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ لَا يُصِيْبُهُمْ ظَمَاٌ وَّلَا

د نفس د هغه نه، دا حکم په دې وجه دے چه يقينًا دوي چه دي نه رسېږي دوي ته تنده او

نَصَبٌ وَّلَا مَخْمَصَةٌ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا يَطَـُٔوْنَ

نه ستړيا، او نه لوږه، په لاره د الله تعالى کښې، او نه ګرځي دوي په يو

مَوْطِئًا يَّغِيْظُ الْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُوْنَ مِنْ عَدُوٍّ

ځائ د پائے ايښودو، چه غصه کړي کافران، او نه حاصلوي دوي د دشمن نه څه شے د

نَّيْلًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ بِهٖ عَمَلٌ صَالِحٌ اِنَّ اللّٰهَ

حاصلېدو، مګر ليکلے شي دوي له په هغه عمل نيک، بېشکه الله تعالى

لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٢٠﴾ وَلَا يُنْفِقُوْنَ

نه بربادوي اجر د نېکي کوونکو، او نه خرڅ کوي دوي

وَعَلَى الثَّلٰثَةِ:

او خصوصًا په هغو درېو کسانو چه وروستو کړے شوي د قبلېدا د توبه نه، د هغو درېو صحابه کرامو مراد دي چه په ايت ٦٠ کښے تېر شوي، د حضرت کعب رضي الله عنه په نقل يو اوږد حديث مفسرينو ذکر کړے دے او امام بخاري رحمه الله هم ذکر کړے دے. اوګورئ ابن کثير ص ٣٩٧، ٣٩٠ و ص ٣٩٤ ج ٢، بخاري ص ٦٣٤ ج ٢. چه د نبي ﷺ ورځو د بائيکاټ نه پس توبه قبوله شوه کعب رضي الله عنه فرمائي چه زما د په الله تعالى قسم دي چه زه نه پېژنم د مسلمانانو نه چه الله تعالى چرته امتحان کړے وي د رښتيا د خبرو کښے لکه چه ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ته رښتيا خبره اوکړه د هغه نه چه په ما ئے امتحان اوکړو. (ابن کثير ص ٣٩٦)

فائده: تفسير ماجدي ص ٤٣٨ د جصاص او تفسير مدارک او دکبير په حواله ليکلي دي چه د اجماع د امت شرعي دليل والي باندے دا ايت يو مستقل دليل دے.

مَا كَانَ لِاَهْلِ الْمَدِيْنَةِ ١٢١ د دے ځائ نه زجرونه او تنبيه کانے دي چه مسلمانانو له دا روا نه دي چه د پيغمبر عليه السلام نه روستو پاتے شي او خپل مال او ځان په هغه باندے قربان نه کړي، تير ښوونکې اجواهر ص ٤٣، او د جهاد د هر تکليف برداشت کول اجر ذکر کوي او دوا ره ايتونو کښے تقريبًا اته عملونه د مجاهد ذکر کوي. چه په هغو به ورته اجر ملاوېږي.

نَفَقَةً صَغِيرَةً وَّلَا كَبِيرَةً وَّلَا يَقْطَعُوْنَ
نفقه وړه : او نه لویه : او نه غوڅوي دوی :
وَادِيًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحْسَنَ
یو میدان : مګر لیکلې شي دوی لره ، چې بدله ورکړي دوی ته الله تعالیٰ ښائسته
مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٢١﴾ وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُوْنَ
بدله د هغه عملونو چې دوی به کول : او نه دي مناسب چې مؤمنان ووځي اوزي
لِيَنْفِرُوْا كَآفَّةً ۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ
ټول جهاد ته : پس ولې نه اوزي : د هرې ډلې : د دوی نه :
طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوْا فِي الدِّيْنِ وَلِيُنْذِرُوْا
ټولګی : چې ښه پوهه حاصله کړي : په دین کښې : او چې ویروي
قَوْمَهُمْ اِذَا رَجَعُوْٓا اِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُوْنَ ﴿١٢٢﴾ ع ١٥
قوم خپل : کله چې واپس شي دوی ته : د پاره د دې چې دوی ځان بچ کړي
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَاتِلُوا الَّذِيْنَ يَلُوْنَكُمْ
اے اهل د ایمان وو : او جنګ کوئ : د هغه کفارو سره : چې نزدې دي تاسو
مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوْا فِيْكُمْ غِلْظَةً ۚ وَاعْلَمُوْٓا
ته : د کفارو : او دې ومومي دوی په تاسو کښې سختوالی او پوهه شئ :
اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿١٢٣﴾ وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ
یقیناً الله تعالیٰ ملګری دی د متقیانو : او کله چې نازل کړې شي یو
سُوْرَةٌ فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ اَيُّكُمْ زَادَتْهُ هٰذِهٖٓ
سورت : پس بعضې د دې منافقانو نه داسې وائي : چې کوم یو د تاسو نه زیات کړو دې
اِيْمَانًا ۚ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَزَادَتْهُمْ اِيْمَانًا
د سورت ایمان : پس هغه کسان چې ایمان یې راوړی : پس زیات کړو دوی لره ایمان :
وَّهُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿١٢٤﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ
او دوی خوشحالي کوي په دې باندې : او هغه کسان چې په زړونو د هغوی کښې :

وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُوْنَ ١٢٢ : په دې ایت کریمه کښې ترغیب ورکړی شوی د علم حاصلولو ته ، امام قرطبي رح فرمائي چې دا ایت د دین د پوهې په وجوب د طلب د علم کښې ... معنی دا ده چې نه دي مناسب ایمان دارو ته چې ټول اوزي ... او ... پرېږدي ... حاصل دا دے چې ټول کسان جهاد ته نه اوزي ځکه چې جهاد فرض کفایه دی بلکه بعضې کسان د جهاد ته اوزي او بعضې کسان د علم دین د پاره ځان وقف کړي (احسن التفاسیر).

لِيَتَفَقَّهُوْا فِي الدِّيْنِ : چې ښه پوهه حاصله کړي په دین کښې دا تفقه د مزید وصف ذکر کړی دے د باب تفعل چې په معنی کښې محنت او مشقت دے نو مراد دا دے چې د علم دین حاصلولو د پاره محنت او مشقت برداشت کړي او مهارت حاصل کړي ... کښې د علم دین نصاب ذکر شوے ، وَلِيُنْذِرُوْا قَوْمَهُمْ : ... فرائض ذکر شو دي ... معارف القرآن ...

لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُوْنَ : په دې کښې د قوم ذمه واري ذکر شوه - تفسیر ماجدي کښې دا معنی لیکلې ده چې د پاره د دې چې محتاط اوسیږي (ماجدي) ، يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ ١٢٣ کښې دعوي د قتال ده او په ١٢٤ ایت کښې رد شوے د منافقانو چې په کوم سورت کښې د جهاد ذکر وي نو دوی اعتراض کوي او دا ایت په اخري حصه کښې مؤمنانو لره بشارت ورکړے شوے او په ١٢٥ ، ١٢٦ ، ١٢٧ کښې بیان د منافقو او هغوی لره زورنه او تحریفات دي.

مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا إِلَىٰ رِجْسِهِمْ

مرض دے، پس زیاتوی هغوی لره پلیتی، سره د پلیتی د دوی نه:

وَمَاتُوا وَهُمْ كَافِرُونَ ﴿۱۲۵﴾ أَوَلَا يَرَوْنَ

او مره به شی او دوی به کفر کونکی وی: او آیا نه گوری دوی؟ چه

أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً أَوْ

یقینا چه دوی باندے امتحان راوستے شی؛ په هر کال کښے یو ځل یا

مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿۱۲۶﴾

دوه ځله، بیا توبه نه اوباسی دوی، او نه دوی نصیحت قبلوی:

وَإِذَا مَا أُنزِلَتْ سُورَةٌ نَّظَرَ بَعْضُهُمْ إِلَىٰ

او کله چه نازل کړے شی یو سورت؛ نو اوگوری بعض د دوی نه؛ نورو

بَعْضٍ هَلْ يَرَاكُم مِّنْ أَحَدٍ ثُمَّ انصَرَفُوا

بعضو ته؛ آیا وینی تاسو لره هیڅ کس؛ بیا اوگرزی دوی (د مجلس نه)؛

صَرَفَ اللَّهُ قُلُوبَهُم بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا

اوگرزوی الله تعالیٰ زړونه د دوی؛ په دے وجه چه دوی یو قوم دے چه نه

يَفْقَهُونَ ﴿۱۲۷﴾ لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ

پوهیږی ...... یقینا راغلے تاسو ته؛ رسول — د جنس

أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ

ستاسو نه؛ گران دے په هغه باندے تکلیف ستاسو؛ حریص دے ،

عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿۱۲۸﴾ فَإِن

ستاسو په خیر خواهئ؛ په مؤمنانو؛ ډیر مهربانی کونکے، رحم کونکے دے، که چرے دوی

تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ

مخ واړوی؛ پس او وایه پوره دے ماته الله تعالیٰ؛ نشته هیڅوک مستحق د عبادت بغیر د هغه نه

عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ﴿۱۲۹﴾

په هغه باندے ما خان سپارلے، او هغه رب د عرش لوئی دے

رکوع ۱۶

لَقَدْ جَاءَكُمْ: په دے آیت کښے ترغیب دے اتباع د نبی علیه السلام ته.

مِنْ أَنفُسِكُمْ: ستاسو د جنس نه دے یعنی بشر دے. حریص عَلَیْکُمْ: حریص دے ستاسو په نیکئ باندے (رشد الهدی) ستاسو په هدایت (دین محمد) ستاسو په باره د هدایت

فَإِن تَوَلَّوْا: نظم القرآن کښے فرمائی چه په سورتونو کښے نظام کړے دے توحید ته او په هر یو کښے اشاره دی دے ته چه قتال او انفاق ذریعه دی مقصد اصل د پاره دی. (بسط الید، مـ۲۳)

امتیازات: (۱) په دے سورة کښے بسم الله نه دے ذکر شوے. (۲) په دے کښے تفصیلی وجوهات د قتال د اهل کتاب وو دی (۳) په دے سورة کښے ډیر اوصاف قبیحه د منافقانو دی. (۴) په دے سورة کښے ذکر د غزوۂ تبوک او د حنین دے. (۵) په دے سورة کښے جوابات د شبهاتو د منافقانو د جهاد دی:

الحمد لله سورة توبه په توفیق د باری تعالیٰ په ورځ د پنجشنبے ۲۳ جون ۲۰۰۵ء ۲۰ جمادی الاولیٰ ۱۴۲۰ھ پهالش منته او خلورینے په مقام سکونت توحید آباد کښے ختم شو. انشاء الله: تعالیٰ دے خپل دربار کښے قبول او منظور کړی. او د باقی بیکی توفیق په احسنه طریقے سره راکړی. او د چاپ کولو انتظام یے اوکړی او د تلچیز د پاره یے صدقه جاریه اوگرزوی. آمین ثم آمین. خاک تقریله (المقلازقی) په ۲۰ شعبان ۱۴۲۶ھ اوشو

(د اننده صفحے حاشیه یونس) سورة یونس

تسمیه: په آیت ۹۸ کښے دا الّا قَوْمَ یُونُسَ: دعوی: نفی

د شرک اعتقادی ۳ او فعلی ۵۹ او په آخر کښے نفی د شرک فی العبادات، فی الدعاء، فی التصرف تفریع ۱۰۴ لطا ۱۰۶ او نفی د شفاعت قهری ۱۰۷ ربطونه: (۱) دا سورة چلیدلے دے د پاره د تفصیل د آخر سره د سورة توبه ۱۲۵.

(١) مخکښې ترغيب ورکړے شو جهاد ته نو دلته ئے اُو فرمائيل چه يقيناً جهاد د پاره د توحيد دے. (٢) ما قبل کښې براءة اُو شو
د کفارو نه نو دلته د دعوى د سوال جواب اُو شو چه مونږ د خوئے سفارشيان کړو. الهان يے نه کړو. (٣) هلته په

آياتها ١٠٩ (١٠) سورة يونس مكية (٥١) نزلت بعد الاسراء (رکوعاتها ١١)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ○

الٓرٰ تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡكِتٰبِ الۡحَكِيۡمِ ①

الله خبر دے په معنى ددې حروفو. دا آيتونه د کتاب دی د حکمت والا دی. آيا شو اهلغو ته د پاره

اَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا اَنۡ اَوۡحَيۡنَاۤ اِلٰى رَجُلٍ مِّنۡهُمۡ اَنۡ اَنۡذِرِ

تعجب دے دا خبره چه وحی مو اُو کړه یو سړی ته د جنس د دوی نه چه ويره ورکړه

النَّاسَ وَبَشِّرِ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اَنَّ لَهُمۡ قَدَمَ

خلقو لره او زيرے ورکړه هغه کسانو ته چه ايمان ئے راوړے چه يقيناً د دوی مرتبه

صِدۡقٍ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ‌ ؕ قَالَ الۡكٰفِرُوۡنَ اِنَّ هٰذَا

د رشتينو ده په دربار د رب د دوی کښې. وائی کافران يقيناً دا خامخا

لَسٰحِرٌ مُّبِيۡنٌ ② اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِىۡ خَلَقَ

جادوګر ښکاره دے. يقيناً رب ستاسو الله هغه ذات دے چه پيدا کړی

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ فِىۡ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسۡتَوٰى

آسمانونه او زمکه په شپږو ورځو کښې بيا برابر شوے په

عَلَى الۡعَرۡشِ‌ يُدَبِّرُ الۡاَمۡرَ‌ ؕ مَا مِنۡ شَفِيۡعٍ اِلَّا

عرش باندے (د شان مناسب) تدبير کوی د ټولو کارونو. نشته هيڅ سفارشی مګر

مِنۡۢ بَعۡدِ اِذۡنِهٖ‌ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمۡ فَاعۡبُدُوۡهُ‌ ؕ اَفَلَا

پس د اجازت د هغه نه. دا صفتونو والا الله دے رب ستاسو. پس عبادت اُو کړئ د هغه

تَذَكَّرُوۡنَ ③ اِلَيۡهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيۡعًا‌ ؕ

آيا پس ولے نصيحت نه قبلوئ تاسو. خاص هغه ته واپسی ستاسو د ټولو ده.

وَعۡدَ اللّٰهِ حَقًّا‌ ؕ اِنَّهٗ يَبۡدَؤُا الۡخَلۡقَ ثُمَّ

وعده کړے ده الله وعده د حق. يقيناً هغه اول پيدا کوی خلق بيا به ئے

د ... نه مخکښې ترغيب ورکړے شو. بعد د رسول عليه السلام ته نو دلته په دے کښې د دعوى صداقت بيان شوے. (٥) د هغه سورت په آخر کښې دعوى د توحيد ده. نو دلته په شروع کښې عقلی دلائل ذکر کوی. خلاصه: په دے سورة کښې دوه بابونه دی په هر باب کښې دليل عقلی او په هغه باندے ثمره د توحيد تفريع ده. اول باب تر (٢٠) آياته پورے او په دے کښې ترغيب الی القرآن، صداقت رسول، دليل عقلی او ثمره د توحيد (٢) او اثبات د قيامت سره د بشارت او تخويف نه. تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡكِتٰبِ الۡحَكِيۡمِ: دا آيتونه د داسے کتاب دی چه د حکمت نه ډک دی. سورة هود (١) کښې اُو کوری. په حکيم کښې اشاره ده چه په دے سورة کښې زيات تر دلائل عقليه د حکمت نه ذکر دی بيان شوی. اَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا: آيا شته د خلقو د پاره تعجب؟ دا استفهام د توبيخ د پاره دے. (قرطبی ج ٨) د کفارو تعجب کولو وجه دا وه چه الله تعالی لوئی دے. د دے نه چه رسول ئے بغير د شي. (اعانت الجبرين ج ٢) اَنَّ لَهُمۡ قَدَمَ صِدۡقٍ: چه دوی لره قدم د رشتيا يعنی مرتبه او چته ده. مفتی صاحب فرمائی چه د قدم د آسانت د سعی او د عمل او د دے د سببونو د ترقی ذريعه قدم وی. د دے وجے نه مجازاً او چتے مرتبے ته قدم وئيلے کيږی. (معارف ج ٥) اِنَّ رَبَّكُمۡ: په دے آيت کريمه کښې دليل عقلی او نفی د شفاعت قهری او ثمره د توحيد ده په لفظ عبادت سره. ثُمَّ اسۡتَوٰى عَلَى الۡعَرۡشِ په سورة اعراف (٥٤) کښې محقق تفسير شوے. هغه دلته کښې يے مطالعه کړئ. اِلَيۡهِ مَرۡجِعُكُمۡ: په دے آيت شريفه کښې اثبات د قيامت دے چه ايماندارو او نيک عملو لره جزا او کافرانو لره سزا ورکړی.

يُعِيدُهُ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ
دوباره به يې پيدا كوي چې بدله وركړي هغه كسانو ته چې ايمان يې راوړى او ښه عملونه يې كړي

بِالْقِسْطِ ۚ وَالَّذِينَ كَفَرُوا لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ
په انصاف سره، او هغه كسان چې كفر يې كړى دى دوى لره څښل دي د ګرمو اوبو نه

وَعَذَابٌ أَلِيمٌ بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ ④ هُوَ الَّذِي
او عذاب دردناك دى په سبب د هغه چې دوى به كفر كوو. الله تعالى هغه ذات دى چې

جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاءً وَالْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُ
جوړ كړى يې دى لمر ځلانده او سپوږمۍ رڼا ورځنه او اندازه

مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوا عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ ۚ مَا
كړي يې دي منزلونه د هغې لپاره چې تاسو پوهه شئ په شمير د كلونو او حساب، نه دى

خَلَقَ اللّٰهُ ذٰلِكَ إِلَّا بِالْحَقِّ ۚ يُفَصِّلُ الْآيٰتِ
پيدا كړي الله تعالى دغه مګر په باره د اظهار د حق، تفصيل بيانوي آيتونه

لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ⑤ إِنَّ فِي اخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَ
د هغه قوم د پاره چې پوهېږي. يقيناً په بدلون د شپې او د

النَّهَارِ وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ
ورځې كښې او په هغه څه كښې چې پيدا كړي الله تعالى په آسمانونو او زمكه كښې

لَآيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَّقُونَ ⑥ إِنَّ الَّذِينَ لَا
خامخا نښې دي د هغه قوم د پاره چې ويريږي. يقيناً هغه كسان چې

يَرْجُونَ لِقَاءَنَا وَرَضُوا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا
اميد نه لري د مونږ سره د ملاقات، او راضي شوي په ژوند د دنيا

وَاطْمَأَنُّوا بِهَا وَالَّذِينَ هُمْ عَنْ آيٰتِنَا
او زړه يې پرې لګولى دى او هغه كسان چې هغوى د آيتونو زمونږ نه

غٰفِلُونَ ⑦ أُولٰٓئِكَ مَأْوٰىهُمُ النَّارُ بِمَا كَانُوا
غافل دي، دغه كسان ځاى د اوسيدو د دوى اور دى په سبب د هغه

هُوَ الَّذِي جعل:
د دې نه په دوهم باب كښې ... دليل عقلي ... حال د نيك عملو او بد عملو ... كښې او (٢) ثمره د توحيد ... او (٣) زجر منكرينو اخرت ته ... او معرضينو د قرآن لره ...
(معارف ...)

ضياء:
ضياء هغه رڼا ده چې خپل مستقل حقيقت لري. نور هغه رڼا ده چې د ضياء نه سوالي اخيستې شوې وي او د هغې انعكاس وي (... ص ٣٢٣)

إِلَّا بِالْحَقِّ:
مګر د پاره د بيان د حق او د باطل (عزيز التفاسير ...)

لآيات:
په دې آيت كښې ثمره د دوهم دليل عقلي ده (جواهر)

لآيات: علامې دي د وحدانيت د رب تعالى (عزيز ...)

إِنَّ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ:
تخويف اخروي دى او ... كښې ثمره د توحيد ده.

یَهْدِیْهِمْ: ښودنه به اوکړي دوی ته رب د دوی په صراط باندې جنت ته او ګرځوي دوی لره نزاعي په وخت سره (خازن صحیح)، دَعْوٰىهُمْ: بلنه د دوی به دا وي. دلته حمد او ستاینه د نعمتونو ذکر شوي دي. په تفسیر کښې سورة فاطر حمد او ګوري ۲۴.

یَكْسِبُوْنَ ۝ اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

یقیناً هغه کسان چې ایمان یې راوړی او عملونه یې نیک کړي

یَهْدِیْهِمْ رَبُّهُمْ بِاِیْمَانِهِمْ ۚ تَجْرِیْ مِنْ

ښودنه به ورته کوي رب د دوی په سبب د ایمان د دوی. بهیږي لاندې

تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ فِیْ جَنّٰتِ النَّعِیْمِ ۝ دَعْوٰىهُمْ

د دوی نه ویالې په باغونو د نعمتونو کښې. بلنه د دوی به

فِیْهَا سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَتَحِیَّتُهُمْ فِیْهَا سَلٰمٌ ۚ وَ

جنت کښې دا وي پاکي ده تا لره اې الله او تحیه د دوی به په دغه کښې سلام وي او

اٰخِرُ دَعْوٰىهُمْ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۝ وَ

آخري بلنه د دوی به دا وي چې حمد وثنا دی الله لره چې رب د مخلوقاتو دی او

لَوْ یُعَجِّلُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسْتِعْجَالَهُمْ

که جلدي کوي الله خلقو ته عذاب لره لکه څنګه چې جلدي غوښتونکي دي دوی د جلدي غوښتلو د

بِالْخَیْرِ لَقُضِیَ اِلَیْهِمْ اَجَلُهُمْ ۭ فَنَذَرُ الَّذِیْنَ

خیر لره نو خامخا پوره شوې به وه دوی ته نیټه د دوی. پس پریږدو هغه

لَا یَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا فِیْ طُغْیَانِهِمْ یَعْمَهُوْنَ ۝

کسان چې نه لري د ملاقات زموږ وېره په سرکشۍ د دوی کښې چې سرګردانه ګرځي

وَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنْۢبِهٖۤ

او کله چې اورسیږي انسان ته ضرر نو بلل کوي موږ لره په اړخ خپل

اَوْ قَاعِدًا اَوْ قَآىِٕمًا ۚ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهٗ

او یا ناست او یا ولاړ. پس هرکله چې لرې کړو ترې نه ضرر د ده

مَرَّ كَاَنْ لَّمْ یَدْعُنَاۤ اِلٰى ضُرٍّ مَّسَّهٗ ۭ كَذٰلِكَ

نو ځي لکه چې نه یې وي بللي موږ لره هغه تکلیف ته چې رسیدلی وو ده ته. همدارنګې

زُیِّنَ لِلْمُسْرِفِیْنَ مَا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ۝

ښائسته شوي مشرکانو ته هغه عملونه چې دوی به کړي

وَلَوْ یُعَجِّلُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ: دا آیت کریمه منفي دی او په دې کښې تقدیري عبارت دی. قاضي ابوالسعود رحمه الله هغه پټ عبارت داسې فرمائي چې تقدیري به دا وي: که چرې جلدي ورکولی الله تعالیٰ دوی ته عذاب په وخت د جلدي غوښتلو د دوی هغه لره. په دا ډول چې جلدي سره یې ورکوي دوی لره خیر په وخت د جلدي غوښتلو د دوی کښې خیر لره. لَقُضِیَ اِلَیْهِمْ اَجَلُهُمْ: نو فیصله شوې به وه دوی ته نیټه د دوی (ابوالسعود رحمه الله).

وَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ: دلته انسان نه مراد کفار دي. امام قرطبي رحمه الله فرمائي چې دا ایم چه دا صفت د ډېرو کسانو دی موحد هم شوی چه کله ورته عافیت ورسي نو خپل ربه ته شکر هم نه باسي. پس دا آیت عام دی کافرانو او غیر کافرانو لره. مثلاً اوګورئ سورة هود ۹-۱۰ او د انسان ورسته حالت وي. په تفسیر کښې الله تعالیٰ فرمائي چې «آبی» او د مصیبت ترسته نه ورسته کړو نو بیا ترې انسان ناشکري کوي. او دا شان په صفحه تنبیه.

وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ: په دې کښې تخویف دی او د ظلم نه مراد شرک دی. تاشي نه ۱۳ لقمان دی. ثُمَّ جَعَلْنٰكُمْ خَلٰٓىِٕفَ: بیا ګرځولي دي موږ تاسو لره خلیفه ځان په ځمکه کښې. یعنې بیا پسې راتلونکي. او سید ولګي په ځمکه کښې پس د هغوی نه چې اوګوره چې څنګه عمل کوئ تاسو. او ګورئ انعام ۱۶۵.

وَاِذَا تُتْلٰى عَلَیْهِمْ: زمونږ دغه منکرینو د قرآن لره. د شیخ التفسیر رحمه الله فرمائي چې کله مشرکانو خپل پیغمبر ته آیتونه واضحه بیان شوي. په کوم کښې چې دلائل د توحید او رد د شرک بیان کیږي. او په کوم کښې چې د دوی د معبودانو د عاجزۍ او بې چارګۍ بیان دی. نو دوی وائي چې دا قرآن زمونږ د مشرانو پالنه نه شو. البته که د دې قرآن په ځای

بل قرآن راوړے یا په دے کښے ترمیم اوکړے. الغرض په قرآن کښے زمونږ د معبودانو د توهین او د تحقیر مضمون نه وے. او نه په دے کښے د حشر او نشر ذکر وی نو مونږ به ئے په زړه وچے قبول کړو ته تیار وو. (جواهر القرآن ص ...)

قُلْ مَا یَکُوْنُ لِیْ: په دیکښے یے جواب دے چه ما له جائز نه دی چه د ځان نه تبدیل کړم. زه خو هغے تابع یم چه ما ته یے وحی کیږی.

قُلْ لَّوْ شَآءَ اللّٰهُ:

دا د ما قبل دلیل دے چه د نزول د قرآن نه مخکښے زه په تاسو کښے یوه اوږده زمانه څلویښت کاله اوسیدلے یم. ځما امانت او دیانت تاسو ته پیژنئ. او تاسو ته دا هم معلومه ده چه ما د چا نه سبق لوستلے هم نه دے ازده کړی. نو معلومه شوه چه زه اوس کوم قرآن ستاسو په مخکښے پیش کوم ځما د ځان نه جوړ کتاب نه دے. بلکه د الله تعالٰی کلام دے. او د الله جل شانه په حکم یے پیش کوم. (جواهر القرآن ص ...)

وَلَآ اَدْرٰىكُمْ بِهٖ:

او نه به پوهه کړے وے تاسو لره الله تعالٰی په قرآن باندے په ژبه زما باندے (...)

فَمَنْ اَظْلَمُ:

پس څوک دے لوئی ظالم الخ: مطلب دا چه په مفتریانو او تکذیب کوونکو کښے لوئی ظالم هغه څوک دے چه په الله تعالٰی دروغ تړی او د هغه د ایتونو تکذیب کوی. ——

وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَمَّا ظَلَمُوْا

او یقیناً هلاک کړی دی مونږ په چړو والا مخکښے ستاسو کله چه ظلم اوکړو

وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ وَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا ۚ

او راغلی وو دوی ته رسولان د دوی په ښکاره دلیلونو او نه وو دوی چه ایمان راوړی

كَذٰلِكَ نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِيْنَ ۝۱۳ ثُمَّ جَعَلْنٰكُمْ

دغه شان بدله ورکوو مونږ قوم مجرم کوونکی ته. بیا اوګرځولی مونږ تاسو

خَلٰٓئِفَ فِي الْاَرْضِ مِنْ ۢ بَعْدِهِمْ لِنَنْظُرَ كَيْفَ

اوسیدونکی په زمکه کښے پس د هغوی نه چه اوګورو مونږ چه څنګه

تَعْمَلُوْنَ ۝۱۴ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيَاتُنَا بَيِّنٰتٍ ۙ قَالَ

عمل کوئ تاسو. او کله چه اولوستلے شی په دوی باندے ایتونه زمونږ واضحه، وائی

الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا ائْتِ بِقُرْاٰنٍ غَيْرِ هٰذَآ

هغه کسان چه عقیده نه لری د ملاقات زمونږ، راوړه قرآن غیر د دے نه

اَوْ بَدِّلْهُ ۚ قُلْ مَا يَكُوْنُ لِيْ اَنْ اُبَدِّلَهٗ مِنْ

او یا بدل کړه په دیکښے. اووایه نه دی مناسب ما لره چه بدل یے کړم په دیکښے د

تِلْقَآئِ نَفْسِيْ ۚ اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ ۚ اِنِّيْ

طرفه خپل نه. تابعداری نه کوم زه مګر د هغه چه وحی کړے شی ما ته

اَخَافُ اِنْ عَصَيْتُ رَبِّيْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ۝۱۵

یقیناً زه ویریږم که چرے نافرمانی اوکړم د رب خپل نه د عذاب د ورځ لوئی

قُلْ لَّوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا تَلَوْتُهٗ عَلَيْكُمْ وَلَآ اَدْرٰىكُمْ

او وایه که چرے خوښه وے الله تعالٰی نو نه به مے لوستلے په تاسو باندے او نه به یے خبر کړی الله

بِهٖ ۖ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيْكُمْ عُمُرًا مِّنْ قَبْلِهٖ ۭ اَفَلَا

تاسو لره په دے. پس یقیناً تیر کړے ما په تاسو کښے د عمر مخکښے د دے نه. ایا پس

تَعْقِلُوْنَ ۝۱۶ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ

دے عقل نه لرئ. پس څوک دے لوئی ظالم د هغه چا نه چه تړی په الله دروغ باندے

وَيَعْبُدُونَ (۱): ۞ دَ دے حاۍ نه دریم باب دَ [illegible] ورت وے (۱) په دیکښے دلائل عقلیه [illegible] نفی دَ
شفاعت قهری او تقریر دَ توحید په لفظ دَ تسبیح [illegible] او زجر دی [illegible] ترهیب دَ دنیا نه
[illegible] سره دَ تخویف نه [illegible] بشارت

كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِـَٔايَـٰتِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿١٧﴾
[illegible]
وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا
[illegible]
يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَـٰٓؤُلَآءِ شُفَعَـٰٓؤُنَا عِندَ
[illegible]
ٱللَّهِ ۚ قُلْ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ
[illegible]
وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ سُبْحَـٰنَهُۥ وَتَعَـٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿١٨﴾
[illegible]
وَمَا كَانَ ٱلنَّاسُ إِلَّآ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَٱخْتَلَفُوا۟ ۚ
[illegible]
وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِىَ بَيْنَهُمْ
[illegible]
فِيمَا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٩﴾ وَيَقُولُونَ لَوْلَآ أُنزِلَ
[illegible]
عَلَيْهِ ءَايَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ ۖ فَقُلْ إِنَّمَا ٱلْغَيْبُ لِلَّهِ
[illegible]
فَٱنتَظِرُوٓا۟ إِنِّى مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُنتَظِرِينَ ﴿٢٠﴾ وَإِذَآ
[illegible]
أَذَقْنَا ٱلنَّاسَ رَحْمَةً مِّنۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُمْ
[illegible]
إِذَا لَهُم مَّكْرٌ فِىٓ ءَايَاتِنَا ۚ قُلِ ٱللَّهُ أَسْرَعُ مَكْرًا ۚ إِنَّ
[illegible]

اوتخویف أخروی [illegible]
(۲) بیزاری دَ [illegible] دَ مشرکانو
نه [illegible] وَيَقُولُونَ
هَـٰٓؤُلَآءِ شُفَعَـٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ:
امام رازی رحمه الله په شو رحمه
توجیه کښے فرمائیلی دی چه
یقینا دوی جوړ کړی وو دغه
شکلونه او بتان په شکلونو دَ
نبیانو خپلو او مشرانو خپلو باندی
او خیال یې کولو چه دوی کله
مشغوله شی په عبادت دَ دغه
شکلونو، پس یقینا دغه مشران
کیږی سفارشیان دَ دوی زیات
او نظیر یې په دے زمانه کښے
مشغولیدل دَ ډیرو خلقو دی په
تعظیم دَ قبرونو دَ مشرانو په دے
عقیده دَ اولو چه کله یې دوی
دَ قبرونو تعظیم اوکړی نو دغه
مشران کیږی سفارش کوونکی
دوی لره په دربار دَ الله تعالیٰ کښے
(کبیر [illegible]) او دګوری جواهر
[illegible] ، ماجدی [illegible] او سراج
منیر [illegible] او الهام الرحمن [illegible]

قُلْ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ:
امام رازی رحمه الله فرمائی چه
مراد دَ علم دَ الله نه په دے
تاتول دَ نفی دَ دے په نفی
الامر کښے او بیان دَ دے دے
[illegible] وجود ورله بالکل نشته، او
دا څکه چه که څیز دے موجود
نو معلوم به وے الله تعالیٰ ته او
هر کله چه معلوم نه دے الله
تعالیٰ ته نو لازمه شوه چه موجود
نه دے [illegible] کبیر.

فائده: شیخ القرآن رحمه الله به فرمائیل چه دلیل دَ معظمے شبهے دَ مشرکانو په رد دے امام رازی
دا تفصیل کړیدے. وَمَا كَانَ ٱلنَّاسُ: جواب دَ شبهے دے چه دا دَ قول پیغمبرانو دین دے خلقو کښے
(باقی په بل مخ)

(بقیه) اختلاف پیدا کړے. داقسم سفارش په ښتوانو دینونو کښے هم منع وو. په ۲۰ آیت کښے زوزنه دوه زیاتی معجزو غوښتلو باندے په ۱۲ کښے زوزنه ده ته بیرګونکو ته. او په ۲۱ کښے هم زوزنه ده مشرکانو ته.

رُسُلَنَا يَكْتُبُونَ مَا تَمْكُرُونَ ﴿٢١﴾ هُوَ الَّذِي يُسَيِّرُكُمْ

استازی زمونږ ورلیکی هغه چه تاسو مکر کوئ. الله هغه ذات دے چه بیوځی تاسو

فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ حَتَّىٰ إِذَا كُنتُمْ فِي الْفُلْكِ وَجَرَيْنَ

په وچه او سیند کښے، تر دے چه شئ تاسو په کشتو کښے، او روانے وی دا

بِهِم بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُوا بِهَا جَاءَتْهَا رِيحٌ

کشتئ په دوی سره په سیلئ ښه، او خوشحاله وی په هغه، راشی دوی ته سیلئ

عَاصِفٌ وَجَاءَهُمُ الْمَوْجُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّوا

تیزه، او راشی دوی ته څپے د هر طرف نه، او یقین اوکړی دوی

أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ

چه یقیناً دوی احاطه اوشوه په دوی، بللی الله لره خالص کونکی هغه لره

الدِّينَ لَئِنْ أَنجَيْتَنَا مِنْ هَٰذِهِ لَنَكُونَنَّ مِنَ

دین کښے، او وائی که چرے خلاص وکړے ته مونږ د دے مصیبت نه خامخا به شو مونږ د

الشَّاكِرِينَ ﴿٢٢﴾ فَلَمَّا أَنجَاهُمْ إِذَا هُمْ يَبْغُونَ فِي

شکر ایستونکو نه. پس هر کله چه خلاص کړی دوی نو ناڅاپه دوی شرارت کوی په

الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا بَغْيُكُمْ

زمکه کښے ناحقه. اے خلقو! یقیناً شرارت ستاسو

عَلَىٰ أَنفُسِكُم مَّتَاعَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ

په نفسونو ستاسو دے، نفع واخلئ د ژوند د دنیا نه، بیا مونږ ته واپس ستاسو

فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٣﴾ إِنَّمَا مَثَلُ الْحَيَاةِ

دے، پس خبر به درکړو تاسو ته هغه چه وئ تاسو چه کوئ به. یقیناً مثال د ژوند

الدُّنْيَا كَمَاءٍ أَنزَلْنَاهُ مِنَ السَّمَاءِ فَاخْتَلَطَ بِهِ

د دنیاوی په شان د اوبو دے چه راکوزې کړو دا د بره نه، پس ګډ شو په دے سره

نَبَاتُ الْأَرْضِ مِمَّا يَأْكُلُ النَّاسُ وَالْأَنْعَامُ

شنکی د زمکے د هغه نه چه خوری خلق او چارپایان

ثُمَّ فُصِّلَتۡ: څنګه چې بيل بيل شوي اصولونه په بيښن قيمتي ملغلرو باندې چې دلائل د توحيد دي او احكام او مواعظ او قصص دي (معارف ۴/۶۰۹)

اَلَّا تَعۡبُدُوۡۤا: مسئله په كښې دا ده چې عبادت مه كوئ مګر د الله تعالیٰ. اِلَّا اللّٰهَ: چې ايكی يو وحده شريك له نشته (بي ص ۱۲۳)

وَّيُؤۡتِ كُلَّ ذِىۡ فَضۡلٍ فَضۡلَهٗ: مفتي صاحب رحمه الله فرمائي چې مطلب يې دا دی چې د هر نيك عمل والا ته به الله تعالیٰ د خپل فضل يعنې جنت عطا كړي (معارف ۴/۶۰۰) اَلَاۤ اِنَّهُمۡ يَثۡنُوۡنَ: د ابن عباس نه نقل دي چې ځينې خلق به چې جامې به يې كوزولې نو ډېر شرمېدل چې لوڅ به مخ ته د آسمان شي، د دې په باره كښې دا آيت نازل شو (بخاري كتاب التفسير) ځينو نور هم توجيه په باره كښې فرمائي چې دا صحيح ترين خبره ده. (جواهر)

وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا

او نشته هیڅ زنده سر په زمکه کښې مګر په الله ده به یقینه رزق د هغه او

وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا ۚ كُلٌّ فِي كِتَابٍ

او پوهیږي الله په ځای د قرار د هغه او په ځای د امانت د هغه، دا ټول په کتاب

مُّبِينٍ ﴿٦﴾ وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ

واضحه کښې دي. او الله هغه ذات دے چه پیدا کړي اسمانونه او زمکه په

فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ لِيَبْلُوَكُمْ

شپږو ورځو کښې او وو عرش د هغه په اوبو باندې، چه امتحان اوکړي

أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۗ وَلَئِن قُلْتَ إِنَّكُم مَّبْعُوثُونَ

ستاسو چه کوم یو ستاسو ښه دے په عمل کښې، او که چرې او وائې ته چه یقیناً تاسو راپورته کیدونکي

مِن بَعْدِ الْمَوْتِ لَيَقُولَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ

یئ پس د مرګ نه، نو خامخا یقیناً وائي هغه کسان چه کافران دي: نه دے دا

هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٧﴾ وَلَئِنْ أَخَّرْنَا عَنْهُمُ

غیر د مګر جادو ښکاره. او که چرې وروستو کړو مونږ د دوی نه

الْعَذَابَ إِلَىٰ أُمَّةٍ مَّعْدُودَةٍ لَّيَقُولُنَّ مَا

عذاب د وخت تر مودې شمارلے شوې پورې، نو خامخا یقیناً وائي دوی چه

يَحْبِسُهُ ۗ أَلَا يَوْمَ يَأْتِيهِمْ لَيْسَ مَصْرُوفًا

څه شی بند کړو دا؟ خبردار کله چه راشي دوی ته عذاب نه به وي اړولے شوې د

عَنْهُمْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٨﴾ ع ۱

دوی نه، او راچاپیره به شي په دوی هغه شی چه وو دوی په هغه پورې به یې ټوقې کولے

وَلَئِنْ أَذَقْنَا الْإِنسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ

او که چرې وڅکوو مونږ انسان ته د خپل طرف نه څه رحمت، بیا لرې

نَزَعْنَاهَا مِنْهُ ۚ إِنَّهُ لَيَئُوسٌ كَفُورٌ ﴿٩﴾ وَلَئِنْ

کړو هغه لره د دوی نه، یقیناً دا خامخا ناامیده ناشکره وي. او که چرې

إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا: صدا لله ولا فرمائي چه په الله ذمه باندې رزق د هر ژوندي مخلوق دے، دا د وجوب نه په وعده باندې دے چه شيخ القرآن رحمه الله په طور د تفسير فرمائيلي چه دا نسخه دي، و معني چه إِلَّا فِي الْإِسْقَاطِ رِزْقُهَا - او فرمائيلي دي چه

(تفسير جلالين ۱۸۰) مُسْتَقَرَّهَا: ځای د قرار د هغه په زمکه کښې او مُسْتَوْدَعَهَا: ځای د امانت کښخودو مخکښې د استقرار نه چه ملا د پلار يا رحم د مور دے (مدارک ۱۲۶ ج ۲)

وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ: او وو عرش د هغه په اوبو باندې شے. الصاوي رحمه الله فرمائي چه دا دلالت دي لکه خلق د اسمان په زمکه دے او نه دے دا په شے طريقه چه پيوست وي په بل پورې (کرخي ۲۰۵ ج ۲). شاه ولي الله رحمه الله فرمائي چه دا بيان د قدرت د ښه صنعت (فضل التراجم ۲۹). امام بخاري رحمه الله په کتاب بدء الخلق ص ۴۵۳ ج ۱ کښې د سوال په جواب کښې وائي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه الله وو او هيڅ شے نه وو د هغه نه مخکښې او عرش د هغه په اوبو باندې وو. أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا: حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائي چه هر عمل نه ښه دے، ښکلے عمل نه وي ښه تر څو پورې چه عمل نه وي خالص د الله د پاره چه مخلص او لوي وشي په شريعت د رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې نه شي، پس کله ورک کړه عمل يو د دے دواړو شرطونو لره نو برباد

شي او باطل شي (ابن کثير) وَلَئِنْ قُلْتَ: واضح الغيبوبة زور نه ده چه قرآن نه جادو وائي او په اعلان د عذاب پورې ټوقې کوي که نعمت ترې واخلو نو ناشکره شي او نا اميده شي، تر نه هيڅ شي او که مهرباني ورته اوکړو نو بيا تکبر کوي دا دواړه کار بلکه صحيح په وخت کښې د باري تعالى څخه امان غوښتل دي او د راحت اميد پکار دے او د نعمت په وخت د باري تعالى شکريه پکار ده (فضل التراجم ص ۲۹)

أَذَقْنَٰهُ نَعْمَآءَ بَعْدَ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ

او څکوو دوئ ته نعمت پس د تکلیف نه چه رسیدلے وی دوئ ته نو ضرور به وائی چه لاړل

ٱلسَّيِّـَٔاتُ عَنِّىٓ ۚ إِنَّهُۥ لَفَرِحٌ فَخُورٌ ﴿١٠﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ

ټول تکلیفونه زما نه. یقیناً دا ډیر خوشحالیدونکے فخر کوونکے دے. مگر هغه کسان چه

صَبَرُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُم مَّغْفِرَةٌ

صبر کوی، او عمل کوی د نیکو، دغه کسان دوی لره بخښنه

وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿١١﴾ فَلَعَلَّكَ تَارِكٌۢ بَعْضَ مَا يُوحَىٰٓ

او اجر لوئی دے. پس شاید چه پریښودونکے یې د بعضے هغه چه وحی کولے

إِلَيْكَ وَضَآئِقٌۢ بِهِۦ صَدْرُكَ أَن يَقُولُوا۟ لَوْلَآ

شی تاته او تنگیدونکے دے په دے سره سینه ستا چه وائی دوی ولے نه شی

أُنزِلَ عَلَيْهِ كَنزٌ أَوْ جَآءَ مَعَهُۥ مَلَكٌ ۚ إِنَّمَآ أَنتَ

نازل کړے شوے په دۀ باندے خزانه او یا راغلے وے د دۀ سره ملائک یقیناً ته یو ویروونکے

نَذِيرٌ ۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ وَكِيلٌ ﴿١٢﴾ أَمْ يَقُولُونَ

یې او الله تعالیٰ په هر شی باندے ذمه وار دے، آیا دوی وائی چه

ٱفْتَرَىٰهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا۟ بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهِۦ مُفْتَرَيَٰتٍ

د خان نه یې جوړ کړے دے قرآن، او وایه پس راوړئ لس سورتونه په شان د دے جوړ کړے شوی

وَٱدْعُوا۟ مَنِ ٱسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن

شوی او اوبلی هغه چا ته چه توان لری، بیرته د الله تعالیٰ نه، که یئ

كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٣﴾ فَإِلَّمْ يَسْتَجِيبُوا۟ لَكُمْ فَٱعْلَمُوٓا۟

رښتینے ـ و پیشنگی، پس که جواب ونه کړ دوی تاسو ته پس پوهه شئ

أَنَّمَآ أُنزِلَ بِعِلْمِ ٱللَّهِ وَأَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ

چه یقیناً نازل کړے شوے دے په علم د الله تعالیٰ سره، او دا چه نشته معبود بغیر د هغه نه

فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٤﴾ مَن كَانَ يُرِيدُ

پس آیا تاسو حکم منونکی یئ؟ څوک چه اراده لری د

إِلَّا ٱلَّذِينَ: لاکن هغه کسان چه صبر کوی او نیک عملونه کوی په دواړو حالتونو د نعمت او د محنت کښے (قرطبی ص ۹ ج ۹) صبر کوی په وخت د محنت او د مصیبت کښے او شکر وباسی په نعمت او خوشحالی کښے (مدارک ص ... ج ۲)

فَلَعَلَّكَ تَارِكٌۢ: دا د سورة د دریم مقصد دے یعنی دا مسئله ـــ چه غیب دان او کارساز صرف الله تعالیٰ دے نه مخلوق ... ورسره او که دوی اعتراض کوی تو نبی ته مه تنګیږه (افضل الترجمه ص ...)

أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ: دا زورنه دے منکرانو د قرآن بیا ذکر د اعجاز د قرآن دے ولے د لسو سورتونو او لسو ... کښے ذکر سورت د مطالبه وجه هغه ذکر شوے وه هلته یې ذکر کړی

فَإِلَّمْ يَسْتَجِيبُوا۟ لَكُمْ: دا هم جواب دے او صداقت د قرآن دے چه زما خود ساخته کتاب نه دے. بلکه الله تعالیٰ په خپل علم سره نازل کړی دے. او مسئله کښے دا ... چه نشته معبود کارساز د الله نه آیا تاسو مسلمانان یئ.

مَن كَانَ يُرِيدُ

دا ترهیب دے د دنیا نه یعنی د الله تعالیٰ حکم او منئ او د دنیا د وجے نه د باری تعالیٰ د حکم نه مه واپس کیږئ. څوک چه د دنیا غواړی نو باری تعالیٰ به یې ورله ورکړی د هغه په دربار کښے هغه کسے نشته خو هغه به د آخرت د ... شی ....

(افضل الترجمه ص ...)

الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا نُوَفِّ اِلَيْهِمْ اَعْمَالَهُمْ
ژوندون د دنیا دی او ښائست ددې، پوره به ورکړو دوی ته بدله د عملونو ددوی
فِيْهَا وَهُمْ فِيْهَا لَا يُبْخَسُوْنَ (۱۵) اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ
په دنیا کښې او دوی به په دغه کښې کمی نه شي کولے. دا هغه کسان دي چه
لَيْسَ لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا النَّارُ ۖ وَحَبِطَ مَا
نشته دوی لره په آخرت کښې مګر اور؛ او برباد شو هغه څیز
صَنَعُوْا فِيْهَا وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ (۱۶) اَفَمَنْ
عمل چه دوی کړے وو په دنیا کښې. او باطل دے هغه عمل چه دوی به کولو. آیا پس هغه
كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ وَيَتْلُوْهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ
کس چه وي په ښکاره دلیل د طرفه د رب خپل نه او ورپسے شي ګواهي کونکے د طرفه د
وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰٓى اِمَامًا وَّرَحْمَةً ۭ اُولٰٓئِكَ
ده او مخکښے ددے کتاب د موسیٰ دے پیشوا او رحمت. دغه کسان
يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ۭ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ مِنَ الْاَحْزَابِ
ایمان راوړی په دے باندے. او چا چه کفر اوکړو په دے باندے د ډلګو نه
فَالنَّارُ مَوْعِدُهٗ ۚ فَلَا تَكُ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْهُ ۤ اِنَّهُ
پس اور ځائے د وعدے د ده دے، پس مه کیږه په شک کښے ددے نه. یقیناً دا
الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا
حق دے له طرفه د رب ستا نه؛ او لیکن زیات د خلقو نه ایمان
يُؤْمِنُوْنَ (۱۷) وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى
نه راوړی. او څوک دے لوئی ظالم د هغه چا نه چه تړی په
اللّٰهِ كَذِبًا ۭ اُولٰٓئِكَ يُعْرَضُوْنَ عَلٰى رَبِّهِمْ وَ
الله تعالیٰ دروغ؛ دغه کسان پیش به کړے شي په رب خپل باندے؛ او
يَقُوْلُ الْاَشْهَادُ هٰٓؤُلَاۗءِ الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلٰى رَبِّهِمْ ۚ
وَبه وائی ګواهان چه دا هغه کسان دي چه دروغ تړلی وو په رب خپل باندے

اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ، دا خلورم مطلب د سورت دے. یعنی دا مسئله چه حاجت صرف د الله نه غوښتل پکار دي صافه ده عقل دا غواړی او قرآن هم ددے تائید کوی. او کتاب د موسیٰ علیه السلام هم ددے شاهدی کوی. نو بیا هم څوک په دے کښے شک اوکړی څوک چه شرپ ته انکار کوی نو هغه دوزخی دے نو شک پکښے پکار نه دے لیکن بیا هم ډیر بختان پے نه منی (فصل الخطاب صفحه ۳۱)

علامه نسفی رحمه الله فرمائی حاصل دا دے چه آیا څوک چه اراده د ژوند د دنیاوی لری یقینا د هغه چا شان دے چه په واضح دلیل وی د رب خپل نه. بیا وستو فرمائی چه واضح دلیل د عقل دے. او ورپسے شی په دغه دلیل پسے شاهد چه ګواهی کوی په صحت ددے چه هغه قرآن دے. مِنْهُ د طرفه د الله نه. وَمِنْ قَبْلِهٖ او مخکښے د قرآن نه كِتٰبُ مُوْسٰى چه تورات دے. یعنی ورپسے شی په دغه دلیل پسے هم مخکښے د قرآن نه کتاب د موسیٰ علیه السلام (مدارک صفحه ۱۰۳ ج ۲)

وَمَنْ يَّكْفُرْ، تعریف اضافی دے. وَمَنْ اَظْلَمُ په دے کښے زجر مفتری ته دے یعنی په دروغ ترلو کښے لوئی ظالم هغه څوک دے چه په الله دروغ تړی. وَيَقُوْلُ الْاَشْهَادُ او وائی ګواهان یعنی د ملائکو او نبیانو نه (مدارک صفحه ۱۰۴/۲). الشعبی وائی ملائک. ضحاک وائی نبیان او رسولان او ویلے شوی دی چه ملائک او نبیان او عالمان هغه

چه پیغامونه یے رسولی دی. قتاده وائی چه مراد ترینه ټول خلق دی. (قرطبی صفحه ۱۸ ج ۹)

أَلَا لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ ۝ الَّذِينَ يَصُدُّونَ

خبردار لعنت د الله تعالىٰ ده په ظالمانو باندې . دا هغه کسان دي چه اړوي

عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا وَهُم بِالْآخِرَةِ

خلق د لارې د الله تعالىٰ نه ، او لټوي په دې کږوالې ، او دوی په اخرت باندې

هُمْ كَافِرُونَ ۝١٩ أُولَٰئِكَ لَمْ يَكُونُوا مُعْجِزِينَ فِي

دوی کفر کوونکي دي ، دغه کسان نه دي دوی چه عاجزه کړي الله تعالىٰ

الْأَرْضِ وَمَا كَانَ لَهُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِنْ

په زمکه کښې ، او نه به وي دوی لره سوا د الله تعالىٰ نه هيڅ

أَوْلِيَاءَ ۘ يُضَاعَفُ لَهُمُ الْعَذَابُ ۚ مَا كَانُوا يَسْتَطِيعُونَ

دوستان ، زيات به کړی شي دوی لره عذاب ، نه دي دوی چه طاقت اوريدو د

السَّمْعَ وَمَا كَانُوا يُبْصِرُونَ ۝٢٠ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ

اوريدو او نه دو دوی چه وينی حق لره ، دا هغه کسان دي چه

خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ۝٢١

تاوان کښې غورزولي دي ځانونه خپل ، او ورک به شي ددوی نه هغه چه دوی به جوړول

لَا جَرَمَ أَنَّهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْأَخْسَرُونَ ۝٢٢

خامخا يقيناً دوی به اخرت کښې دوی تاوانيان دي

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَخْبَتُوا

يقيناً هغه کسان چه ايمان يې راوړی او عمل کوي نيک په طريقه د عاجزۍ او ورجوع

إِلَىٰ رَبِّهِمْ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا

کوي رب خپل ته ، دغه کسان خاوندان د جنت دي ، دوی په دغه کښې به

خَالِدُونَ ۝٢٣ مَثَلُ الْفَرِيقَيْنِ كَالْأَعْمَىٰ وَالْأَصَمِّ

هميشه اوسيدونکي دي ، مثال د دواړو ډلو په شان د ړوند او کوڼ

وَالْبَصِيرِ وَالسَّمِيعِ ۚ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا ۚ أَفَلَا

او ليدونکي او اوريدونکي دی ، آيا برابر دي دواړه په مثال کښې ؟ آيا پس ولې

الَّذِينَ يَصُدُّونَ : په دې آيت کريمه کښې درې صفات د ظالمانو دي . سورة ابراهيم ٣ کښې او ګورئ

يُضَاعَفُ لَهُمُ الْعَذَابُ : زيات به کړی شي د دوی د پاره عذاب . تهانوی رحمه الله فرمائي ډېر خپله کافر کيدو په وجه او بل د نورو د کافر جوړولو په وجه . بيان القرآن ٢/٣٣ ، ٤/١٣ او ګورئ

أُولَٰئِكَ : ٥ او ١٦ د عذاب د اخرت نه دي .

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا : د اخرت زيرے دے چه ايمان او نيکي او تواضع وي نو هغه جنتي دے هميشه . احسن التراجم ٣٢

مَثَلُ الْفَرِيقَيْنِ : دلته زيری کښې داخل دے . د شاه عبدالقادر رحمه الله فرمائي دا د مشرک او د موحد تقابل دے . يعنې مشرک ړوند او کوڼ دے او موحد بينا او اوريدونکے دے ، دواړه نه دي برابر . خرد دی سوچ نه کوي . احسن التراجم ٣٢

دا سورتونه هم اوګورئ : ٣٢ ، يونس ١٩ ، فاطر ٥٢ ، ٥٣ ، روم ٥ ، انعام ...

Scanned by CamScanner

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا ... دَ دې نه خلاصه ترمه ... سورت کې دوهم باب او په دې کې اووه واقعات په طور د لاسل
نقلیه دي. او واړه ترتیب د دعوت کاتو سره ذکر شوي دي په عکس د سورة اعراف او آیت سلګم او ... متعلق دي
د دې دواړو واقعاتو سره او آیت دغه
د حضورﷺ دعوت سره او د او
واقعه ... روستو د آخرت تعریف د
... او بشارت ...
د شاه ولي ... رحمه الله فرمائي چه
دا اوله قصه ده د اول مقصد سره
تعلق لري چه د کل ماسوا الله
نه حاجات مه غواړئ صرف او صرف
د الله نه غواړئ حاجات خوارق دا
توحید مسئله نه ده. نوح علیه السلام
هم دا مسئله خپل قوم ته کړې ده
او دا اولیه مهتم بالشان مسئله ده. د
دې مسئلې د پاره نوح علیه السلام
ورځمت کړې دے او د دې مسئلې
منکرې الله تعالیٰ تباه کړي دي او د مشرکې
الله په غرق کړي دي. (اضل الرحمٰن)
علامه قرطبي رحمه الله فرمائي دي
چه الله سبحانه وتعالیٰ ذکر کوي قصې د
انبیاء علیهم السلام نبي ﷺ ته
د پاره د صبر ورکولو هغوی ته په
پیوستون د صبر سره په ضرر د کفارو
ترو سره چه شه کړي دي دوي او الله هم
د امره هغوي ته (قرطبي)

هُمْ أَرَاذِلُنَا چه دوي کمزوري
دي په موږ کښې. بَادِيَ الرَّأْيِ
مولانا حسین علي رحمه الله فرمائي
چه تابعداري یې کړې ده په بشکاره
کښې یعني بې فکره او یا په ظاهر
کښې نه په حقیقت کښې (تبیان فی شرح
فی ندوه)... اختلاف کړې شه علماؤ
په تعیین د حکمتو د دې لیکنې په دېره
قولونو سره. پس ابن المبارک ... د
سفیان نه نقل کوي چه ذلیل هغه
کسان دي چه استقبال به د دولیانو
کوي او د قاضیانو او د بچیانو ورله
ته ورځي. او کړي هم طبري. او خطیب

تَذَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ إِنِّي

نصیحت نه قبلوئ. او یقیناً لیږلے وو موږ نوح قوم خپل ته (وې ویل) یقیناً

لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢٥﴾ أَن لَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ إِنِّي

زه تاسو له ویره کې ښکاره یم. چه عبادت مه کوئ د هیچا سوا د الله نه یقیناً

أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿٢٦﴾ فَقَالَ الْمَلَأُ

زه ویریږم په تاسو باندې د عذاب د ورځې دردناکې نه. پس او وې ویل مشرانو هغه

الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ مَا نَرَاكَ إِلَّا بَشَرًا

کسانو چه کفر یې کړے وو د قوم د ده نه. نه وینو موږ تا مګر انسان

مِّثْلَنَا وَمَا نَرَاكَ اتَّبَعَكَ إِلَّا الَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا

زموږ په شان او نه وینو تا چه تابعداري کړې شي مګر هغه کسانو چه هغوی

بَادِيَ الرَّأْيِ وَمَا نَرَىٰ لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍ

کمزوري دي په موږ کښې په ښکاره سره بې فکره او نه وینو موږ تاسو له په موږ باندې هیڅ غوره والے

بَلْ نَظُنُّكُمْ كَاذِبِينَ ﴿٢٧﴾ قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِن

بلکه ګمان کوو موږ په تاسو دروغژن. او وې ویل هغه اے زما قومه خبر راکړئ که

كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَآتَانِي رَحْمَةً مِّنْ

چیرته یم زه په واضحه دلیل د طرفه د رب خپل نه. او راکړې یې وي ما ته رحمت (نبوت)

عِندِهِ فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ أَنُلْزِمُكُمُوهَا وَأَنتُمْ

د طرفه خپل نه. پس پټه شوې وي په تاسو باندې آیا لازموو موږ په تاسو هغه او حال دا چه تاسو

لَهَا كَارِهُونَ ﴿٢٨﴾ وَيَا قَوْمِ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا إِنْ

ورته ناخوښه ګڼونکي یئ. او اے زما قومه نه غواړم زه له تاسو په دې تبلیغ مال. نه

أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ وَمَا أَنَا بِطَارِدِ الَّذِينَ آمَنُوا

دے اجر زما مګر په الله. او نه یم زه شړونکے د هغه کسانو چه ایمان یې راوړے

إِنَّهُم مُّلَاقُو رَبِّهِمْ وَلَٰكِنِّي أَرَاكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ ﴿٢٩﴾

یقیناً دوي ملاقات کوونکي دي د رب خپل سره او لاکن زه وینم تاسو قوم چه ناپوهي کوئ

فرمائي د ابن الاعرابي نه چه ذلیله هغه کسان دي چه خوري د دنیا په دین خپل باندې او دوي نه او وویلے شو چه ذلیله د ذلیلانو نه
څوک دي؟ نو و وې ویل چه هغه کس چه ترمیزوي د دنیا د بل په فساد د دین خپل باندې. او د علي نه تپوس اوشو د
(باقی حاشیه مخ بل کښې)

(بقیه) د ذیلو په باره کښے پس هغوی اوفرمائیل چه کله جمع شی نو ورته ... شی او چه بیل بیل شی نو بیا نه پیژندلے شی -
او ... الک جانس ... او وئیلے شو چه ذلیل ... وی وے فرمائیل هغه کس چه صحابو ... (روح المعانی ۲۲/۹)

وَيٰقَوْمِ مَنْ يَّنْصُرُنِيْ مِنَ اللّٰهِ اِنْ طَرَدْتُّهُمْ

او اے زما قومه څوک به امداد اوکړی زما د عذاب د الله نه که چرته زه اوشړم دوی لره

اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٣٠﴾ وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَآئِنُ

آیا پس ولے پند نه قبلوئ تاسو؛ او نه وایم تاسو ته چه ما سره خزانے د الله

اللّٰهِ وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَآ اَقُوْلُ اِنِّيْ مَلَكٌ وَّلَآ

تعالٰی دی، او نه پوهیږم زه په غیبو باندے، او نه وایم چه یقینًا زه ملائک یم او نه

اَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ تَزْدَرِيْۤ اَعْيُنُكُمْ لَنْ يُّؤْتِيَهُمُ

وایم په باره د هغه کسانو کښے چه سپک ګوری سترګے ستاسو چه هیچرے به ورنکړی دوی ته

اللّٰهُ خَيْرًا ؕ اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا فِيْۤ اَنْفُسِهِمْ ۚۖ اِنِّيْۤ

الله تعالٰی خیر، الله تعالٰی ښه پوهه دے په هغه څه چه د دوی په زړونو کښے دی یقینًا

اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٣١﴾ قَالُوْا يٰنُوْحُ قَدْ جٰدَلْتَنَا

زه په دغه وخت کښے خامخا د ظالمانو نه یم. او وئیل دوی: اے نوحه یقینًا جګړه اوکړه تا

فَاَكْثَرْتَ جِدَالَنَا فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ

مونږ سره، پس زیاته دے کړه جګړه زمونږ، پس راوړه مونږ ته هغه عذاب چه تا وعده کوے کهٔ چرے

مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿٣٢﴾ قَالَ اِنَّمَا يَاْتِيْكُمْ بِهِ اللّٰهُ

ئے ته د ریښتینو نه. او وئیل نوح: یقینًا راوړی به تاسو ته دا عذاب الله تعالٰی

اِنْ شَآءَ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿٣٣﴾ وَلَا يَنْفَعُكُمْ

که اوغواړی او نه یئ تاسو عاجزه کوونکی (الله تعالٰی لره)، او نفع نه رسوی تاسو ته

نُصْحِيْۤ اِنْ اَرَدْتُّ اَنْ اَنْصَحَ لَكُمْ اِنْ كَانَ

نصیحت زما که اراده اوکړم چه خیرخواهی اوکړم تاسو لره که چرته وی

اللّٰهُ يُرِيْدُ اَنْ يُّغْوِيَكُمْ ؕ هُوَ رَبُّكُمْ ۟ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٣٤﴾

الله تعالٰی غواړی چه ګمراه کړی تاسو لره، هغه رب ستاسو دے او هغه ته به واپس کړے شئ تاسو

اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ قُلْ اِنِ افْتَرَيْتُهٗ فَعَلَيَّ اِجْرَامِيْ

آیا وائی دوی چه دا قرآن ئے جوړ کړے دے او وایه که چرے دا ما جوړ کړے وی پس په ما باندے دی ګناه زما

معارف هم اوګورئ ص۲۶۶ ج۳)

فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ: پس پټ کړے شویدے په تاسو باندے.

اَنُلْزِمُكُمُوْهَا: آیا د مخلوق مونږه په تاسو پورے شهادت د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ. او وئیلے شویدی چه دا رحمت او یا دا بینه (واضح دلیل) دے.

(یونس ۹/۱۵) - **لَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا**: یونس ۷۲ اوګورئ. **وَمَآ اَنَا بِطَارِدِ**: ۱۱۴ شعراء وګورئ.

(د دے مخ حاشیه)

وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ: دا د دے سوالونو جوابونه دی کوم چه اوئیل که چرے نوح علیه السلام رښتونے پیغمبر وے نو د هغوی سره د دولت خزانے ولے نه وے. او هغوی د غیبو خبرو نه ولے ئے نه ښودل او هغه هم ډوډۍ او خوراک څښاک نه هم کوی (عرایس ...) په دے آیت کښے جواب دی د مخلوقو اعتراضونو د منکرینو چه د هغے تفصیل په سورة انعام کښے آیت کښے تیر شویدے. (حسن الکلام ...)

قَالُوْا يٰنُوْحُ: دا د منکرینو د طرف طعن وے چه د نوح علیه السلام خیرخواهی ته به جګړه وئیل. **وَلَا يَنْفَعُكُمْ**: او نفع نه درکوی تاسو ته خیرخواهی زما. مطلب دا دے چه څنګه عذاب د الله په اختیار کښے دے نو د غه رنګے ګمراه کول او هدایت هم د هغه په اختیار کښے دے.

اَمْ يَقُوْلُوْنَ:

دا د نوح علیه السلام د قصے سره لګی یا د نبی علیه السلام سره.

(فصل الخطاب ...)

په دے کښے توجیه سره دا دخال المهی شی.

وَاُوْحِیَ اِلٰی نُوْحٍ: په سورة عنکبوت ۱۴ کښې راغلي دي چې نوح علیه السلام نهه سوه ۹۵۰ کاله تبلیغ اوکړو. په سورة نوح ۲۳ کښې دي چې قوم یې د بتانو عبادت نه پرېښو او د نوح علیه السلام خبره یې اونه منله. دلته ۳۶ کښې فرمائي چې دې وړه

وشوه چې د دومومنانو نه غیر نور ایمان نه راوړي نو هغوی ما یوسه شو. نو معلوم شوه چې هغوی خبیث دي پس د نا امیدۍ د ایمان راوړلو د قوم خپل نه وروسته. سورة قمر ۱۱ سورة نوح ۲۶ اوګورئ.

وَاصْنَعِ الْفُلْكَ: او جوړه وه کشتۍ زمونږ د نګرانۍ او زمونږ د وحی مطابق. وَیَصْنَعُ الْفُلْكَ: او ده جوړوله کشتۍ

سَخِرُوْا مِنْهُ: مسخرې به یې کولې په هغه پسې. مفسرین فرمائي چې وئیلي به یې دوی ته لګه شو چې نبي وې. (مرشد) ب ملتک

وَفَارَ التَّنُّوْرُ: د دې ترجیحه دلته دي (۱) چې غضب الٰهي په جوش کښې راشي. (نقل د جواهر) (۲) مخ د زمکې (قرطبی ۹/۳۳ ابن جریر) (۳) مراد د تنور نه تنوره دوه دی دے په نزد د جمهورو علماؤ. (روح ۱۲/۵۲) او ترو شے مراد چې او به د تنور نه د هغو نه چې هغه ځایونه د اور دي او دا اقوال د جمهورو سلفو او علماؤ د خلفو (ابن کثیر ج ۲) تائید — مؤمنون.

وَمَاۤ اٰمَنَ مَعَهٗۤ اِلَّا قَلِیْلٌ: او ایمان نه وو راوړی ده سره مګر لږو. په دې کښې ډیر اقوال دي. (۱) د ابن عباس نه نقل دي چې اتیا کسان وو. (۲) د کعب الاحبار نه نقل دي چې دوه اویا ۷۲ دي. ویلے شوي دي چې اتیا کسان وو. ابن کثیر د دې کښې ډیر اقوال دي. ادنیٰ د هغو نه شپږ کسان دي او اعلیٰ اتیا کسان دي (احسن الکلام ۹۲) تقریباً اتیا کسان وو (فصل الرحمٰن ۳۱۵) شیخ القرآن رحمه الله فرمائي دي چې اصل کښې درې ځامن او درې انګور یعنې ښځې وې نور شپږ شو. وَقَالَ ارْكَبُوْا فِیْهَا ... جناب مفتي صاحب (باقي په بل مخ)

ع ۳

وَاَنَا بَرِیْٓءٌ مِّمَّا تُجْرِمُوْنَ ۝۳۵ وَاُوْحِیَ اِلٰی نُوْحٍ

او زه بری یم له هغه چې تاسو یې جرم کوئ. او وحی وشوه نوح علیه السلام ته

اَنَّهٗ لَنْ یُّؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ اِلَّا مَنْ قَدْ اٰمَنَ فَلَا

چې شان دا دی چې هیڅکله به ایمان نه راوړي د قوم ستا نه مګر هغه څوک چې ایمان یې راوړی دی پس مه

تَبْتَىٕسْ بِمَا كَانُوْا یَفْعَلُوْنَ ۝۳۶ وَاصْنَعِ الْفُلْكَ

غمژن کېږه په هغه څه چې دوی یې کوي. او جوړه وه کشتۍ

بِاَعْیُنِنَا وَوَحْیِنَا وَلَا تُخَاطِبْنِیْ فِی الَّذِیْنَ

نګرانۍ زمونږ او په وحی زمونږ او خبرې مه کوه له ما سره په باره د هغو کسانو

ظَلَمُوْا ۚ اِنَّهُمْ مُّغْرَقُوْنَ ۝۳۷ وَیَصْنَعُ الْفُلْكَ ۟ وَكُلَّمَا

چې ظلم یې کړی دی یقیناً دوی به ډوب کړی شي. او جوړوله ده کشتۍ او هر کله

مَرَّ عَلَیْهِ مَلَاٌ مِّنْ قَوْمِهٖ سَخِرُوْا مِنْهُ ۭ قَالَ اِنْ

چې تیریدل په ده باندې ډلې د قوم د ده نه مسخرې به یې کولې په ده پورې. او وئیل ده که چیرې

تَسْخَرُوْا مِنَّا فَاِنَّا نَسْخَرُ مِنْكُمْ كَمَا تَسْخَرُوْنَ ۝۳۸

مسخرې کوئ تاسو زمونږ پس یقیناً مونږ به هم مسخرې وکړو ستاسو نه لکه چې تاسو یې کوئ

فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ یَّاْتِیْهِ عَذَابٌ یُّخْزِیْهِ

پس زر دی چې پوه به شئ په هغه چا به راشي عذاب چې رسوا به یې کړي

وَیَحِلُّ عَلَیْهِ عَذَابٌ مُّقِیْمٌ ۝۳۹ حَتّٰۤی اِذَا جَآءَ اَمْرُنَا

او نازل به شي په هغه عذاب همیشه. تر دې چې راغی حکم زمونږ

وَفَارَ التَّنُّوْرُ ۙ قُلْنَا احْمِلْ فِیْهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَیْنِ

او جوش اوکړو تنور او وئیل مونږ چې سواره کړه په دې کښې د هر قسم نه جوړه (جفت)

اثْنَیْنِ وَاَهْلَكَ اِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَیْهِ الْقَوْلُ

دوه (نر او ماده) او اهل خپل هم مګر هغه چې مخکښې شوې ده په هغه باندې فیصله

وَمَنْ اٰمَنَ ۭ وَمَاۤ اٰمَنَ مَعَهٗۤ اِلَّا قَلِیْلٌ ۝۴۰ وَقَالَ

او هغه څوک چې ایمان یې راوړی دی او ایمان نه وو راوړی ده سره مګر لږو. او وئیل هغه

(بقیه) رحمه الله په عنوان دا لیکلي دي چه په کشتۍ او نورو سورلو باندې د سورېدو آداب: او بل عنوان سره دا لیکلي دي چه د هر شي سورلي تګ او دریدل صرف د الله تعالی په قدرت کښې دي. (معارف ۲۵ ج ۴)

ارْكَبُوا فِيهَا بِسْمِ اللَّهِ مَجْرَاهَا وَمُرْسَاهَا ۚ إِنَّ

په سورلو شئ په دې کښې په نوم د الله سره چلیدل د دې او دریدل د دې. یقیناً

رَبِّي لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٤١﴾ وَهِيَ تَجْرِي بِهِمْ فِي مَوْجٍ

رب زما خامخا بخښونکې مهربان دې. او دا چلیده له دوی باندې په داسې چپو کښې چه

كَالْجِبَالِ وَنَادَىٰ نُوحٌ ابْنَهُ وَكَانَ فِي مَعْزِلٍ

په شان د غرونو وې. او اواز وکړو نوح خپل ځوی ته او دې وو په یو طرف باندې

يَا بُنَيَّ ارْكَب مَّعَنَا وَلَا تَكُن مَّعَ الْكَافِرِينَ ﴿٤٢﴾

اې بچوړیه! سورشه زمونږ سره او مه کیږه ملګرې د کافرانو سره.

قَالَ سَآوِي إِلَىٰ جَبَلٍ يَعْصِمُنِي مِنَ الْمَاءِ ۚ

او وئیل هغه چه زه به ځان ورسوم یو غره ته چه وبه ساتي ما د اوبو نه.

قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ إِلَّا مَن

او وئیل نوح چه نشته بچ کونکې نن ورځ د عذاب د الله تعالی نه، مګر هغه ذات چه

رَّحِمَ ۚ وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِينَ ﴿٤٣﴾

رحم کوي. او حائل شوه په مینځ د دوی کښې چپه، پس شو د ډوب کیدونکو نه.

وَقِيلَ يَا أَرْضُ ابْلَعِي مَاءَكِ وَيَا سَمَاءُ أَقْلِعِي وَ

او وئیلې شو اې زمکې تیر کړه اوبه خپلې، او اې اسمانه بند کړه اوبه، او

غِيضَ الْمَاءُ وَقُضِيَ الْأَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَى

وچې کړې شوې اوبه، او فیصله اوشوه د کار د دوی، او ودریده کشتۍ په

الْجُودِيِّ ۖ وَقِيلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٤٤﴾ وَ

جودي غره باندې، او وئیلې شو هلاکت دې وي د قوم ظلم کونکي د پاره. او

نَادَىٰ نُوحٌ رَّبَّهُ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ابْنِي مِنْ أَهْلِي

اواز کړې دې نوح رب خپل ته، پس وئیلې وې اې ربه یقیناً ځوی زما د اهل زما نه دې

وَإِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَأَنتَ أَحْكَمُ الْحَاكِمِينَ ﴿٤٥﴾

او یقیناً وعده ستا حقه ده، او ته ښه فیصله کونکې د فیصله کونکو نه یې.

(دوسته بقیه حاشیه)

وَنَادَىٰ نُوحٌ ابْنَهُ: او اواز اوکړو نوح ځوی خپل ته، د شاه ولي الله رحمه الله فرمائي چه نوح علیه السلام خپل ځوی ته اواز اوکړو چه مسلمان شه او بیا جهاز ته راشه. (فضل التراجم ص۳۰۳)

(۲) او دا اواز په ورته تنکه اوکړو چه ځوی ورسره منافقت کولو، نو د نوح علیه السلام ګمان دا وو چه دا مؤمن دې او دا توجیه ډیرو محققینو غوره کړیده. (روح ص۵۹، قرطبي ص۳۹، مدارک ۲/۹۱ هم اوګورئ).

وَكَانَ فِي مَعْزِلٍ: او دې به غاړه د دین د پلار خپل نه. او دغه شوې چه دې په دغه د کشتۍ نه (قرطبي ص۳۹)

لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ (۳) ابن جوزي رحمه الله دلته درې توجیه ګانې کړې دي. منجمله ترنه دا دي: (۱) چه نشته بچ کونکې نن ورځ د عذاب د الله تعالی نه مګر رحم کونکې چه الله تعالی دې. (۲) نشته ساتونکې عذاب (یعني بچ کیږي څوک) مګر هغه څوک چه الله تعالی پرې رحم اوکړي. (تسیر ۲/۷۶، الهام الرحمن ص۲۶۵) کښې غلورم توجیه کانې لیکلې دي.

وَاسْتَوَتْ عَلَى الْجُودِيِّ

قتاده رحمه الله او نورو وئیلي دي چه دوی د رجب په لسم سواره شو او پوره شپږ میاشتې روان وو او کشتۍ پرې ودریده په جودي غره یوه میاشت او وتل نه د کشتۍ نه دا د محرم د عاشوره په ورځ وو (ابن جریر ص۲۹، ابن کثیر ص۴۴۲). سعدي بابا صاحب فرمائي:

پسر نوح با بدان بنشست

خاندان نبوتش ګم شد

لَيْسَ مِنْ اَهْلِكَ: نه دے ستا د اهل نه. ځکه چه هغه د اهليت د قرابت دپاره نه دے او واقعه شویدے په سبب د کفر د نیسته. پس هيڅ علاقه نشته په مينځ د مسلم او د کافر کښے (… ح ٣٩ …) …. نوح کړيکاره نه خوا باشه ….

قَالَ يٰنُوْحُ اِنَّهٗ لَيْسَ مِنْ اَهْلِكَ ۚ اِنَّهٗ عَمَلٌ غَيْرُ

او ويل الله اے نوحه يقيناً دا (ځوئے) نه دے د اهل ستا نه. يقيناً دا خاوند د عمل غير

صَالِحٍ ۖ فَلَا تَسْـَٔلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ۗ اِنِّيْٓ اَعِظُكَ

صالح دے. پس سوال مه کوه زما نه د هغه څيز چه نشته تا ته پوهه پرے. يقيناً زه نصيحت کوم تا ته

اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿٤٦﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّيْٓ اَعُوْذُ

چه شے نه د ناپوهانو نه. او ويل هغه اے ربه زما يقيناً زه پناه غواړم

بِكَ اَنْ اَسْـَٔلَكَ مَا لَيْسَ لِيْ بِهٖ عِلْمٌ ۗ وَاِلَّا تَغْفِرْ لِيْ

په تا بانده د چه سوال او کړم ستا نه د هغه څيز چه نه دے ما له پوهه پرے. او که بخښنه

وَتَرْحَمْنِيْٓ اَكُنْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٤٧﴾ قِيْلَ يٰنُوْحُ اهْبِطْ

او نه کړے ما ته او رحم او نه کړے په ما شم به زه د تاوانيانو نه. او ويلے شو اے نوحه کوز شه په

بِسَلٰمٍ مِّنَّا وَبَرَكٰتٍ عَلَيْكَ وَعَلٰٓى اُمَمٍ مِّمَّنْ مَّعَكَ ۗ

سلامتيا زمونږ د طرفه او په برکتونو زمونږ په تا بانده او په هغه امتونو چه بيا کيږي د هغه

وَاُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ ثُمَّ يَمَسُّهُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٤٨﴾

نه چه تا سره دي. او نور امتونه دي چه فائده به ورکړو هغوی ته بيا به اورسيږي دوی ته زمونږ د طرف عذاب دردناک.

تِلْكَ مِنْ اَنْۢبَاۤءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهَآ اِلَيْكَ ۚ مَا كُنْتَ

دغه د خبرونو د غيبو نه دي وحي کوو مونږ دا هغه تا ته. نه وے ته چه

تَعْلَمُهَآ اَنْتَ وَلَا قَوْمُكَ مِنْ قَبْلِ هٰذَا ۛ فَاصْبِرْ ۛ

پوهيدلے په هغه بانده ته او نه قوم ستا د دے نه وړاندے. پس صبر کوه

اِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٩﴾ وَاِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا ۗ

يقيناً انجام ښه د پاره د متقيانو دے. او لېږلے وو مونږ عاد ته ورور د هغوی هود

قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۗ

او ويل هغه اے قومه زما بندګي کوئ د الله. نشته تاسو ته هيڅ معبود د کار رسيدونکے غير د هغه

اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا مُفْتَرُوْنَ ﴿٥٠﴾ يٰقَوْمِ لَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ

نه يئ تاسو مګر دروغ تړونکي. اے قومه زما نه غواړم تاسو نه په دے تبليغ باندے

لَيْسَ مِنْ اَهْلِكَ: نه دے ستا د اهل نه ….
اِنَّهٗ عَمَلٌ: يقيناً دا خاوند د عمل غير صالح دے (ابو السعود، …).
اِنِّيْٓ اَعِظُكَ: يقيناً زه وعظ کوم تا ته چه شے نه د ناپوهو نه.

فائده: بعضو خلقو ويلي دي چه نوح عليه السلام چه خوئے د پاره درخواست کړے وو نو دا په هغوی پسے په د جاهليت الخ دا خبره صحيح نه ده ځکه انبياء عليهم السلام د دے نه پاک او معصوم دي. ځکه ابن جوزي رحمه الله وائي چه معنی د اعظک دا ده فرمائي وعظ کوم تا ته د وجے د بد ګمانۍ زما د شے نه چه لره پسے څيز چه شي د ناپوهانو نه او نه د شے به د دے په وصف د هغوی په جهل باندے بلکه په دے کښے ملاحظه (مرض او ګرځه (عزت) د هغه دے (التسهيل … ج ٢)

(ونو) کابت: د شاه پور شيخ رحمه الله فرمائي چه باري تعالی فرمائي چه نوح عليه السلام کوز شه د غره نه په دا خيال مه کوه چه په کښے د جهاز کښے په تکليف ملا د شي بلکه په خير او عافيت سره به کوز شي او دا خيال هم کوه چه زمکه خو د اسباب د ژوند نه خالي ده بلکه او س کښے هم برکات شته او دا خيال هم مکوه چه اوس د عزت دا حاجت ختم دے ځکه چه مشرکان ختم شو بلکه وس هم مشرکان وي. (افضل ترجم …)

تِلْكَ مِنْ اَنْۢبَاۤءِ الْغَيْبِ: او دا آيت کريمه کښے صداقت د رسول صلی الله عليه وسلم دے او هغوی لره تسلي ده. د زړه تا بخو نه پس صداقت د هغوی ذکر کړي او کړي دي يوسف ١٠٢، قصص ٤٥،

بقره ٢٥٢. وَاِلٰى عَادٍ: دا دويمه قصه ده د سورة د اول مقصد سره تعلق لري چه اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ: يعني د مسئله حاجات صرف د الله تعالی نه غوښتل نو دے مسئله ده. هود عليه السلام خپل قوم ته کړے وه دا د ټول نبيانو دعوت دے (… … …)

(بقيه) (احسن الترجمه ص۲۱) لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا. علامه نسفي رحمه الله ليکلي دي چه نشته هيڅ يو رسول مگر قوم ته ئې دا خبره کړې ده، ځکه چه هغه ان ته خیرخواهي وه او خیرخواهي نه خالصه کوي مگر قطع کول د طمعو او بل شي چه هغه هم د طمع شوی. نه کامیابه کیږي او نه قبولیږي (مدارک ص۱۹۱ ج۲) هود علیه السلام په خپل بیان کښې ترغیب هم ورکړ لیکن قوم ورته جواب کښې وویل چه تا هيڅ دلیل موږ ته نه دی پیش کړی. او خپل معبودان ستا د ویناله وجې نه پرېږدو ...

أَجْرًا ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى الَّذِي فَطَرَنِي ۚ أَفَلَا

اجر، نه دی اجر زما مگر په هغه ذات چه پیدا کړی یم ما لره، آیا نو ولې د عقل

تَعْقِلُونَ ﴿٥١﴾ وَيَا قَوْمِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا

نه کار نه اخلئ. او ای زما قومه بخښنه اوغواړئ د رب خپل نه، بیا توبه اوباسئ

إِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَىٰ

ته، را به لیږي باران په تاسو باندې پرله پسې، او زیات به کړي تاسو لره قوت سره

قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِينَ ﴿٥٢﴾ قَالُوا يَا هُودُ مَا

د قوت ستاسو، او مه گرځئ مجرمان کوونکي. او وویل دوی ای هوده نه ئې

جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ وَمَا نَحْنُ بِتَارِكِي آلِهَتِنَا عَنْ قَوْلِكَ

راوړې مونږ ته هیڅ ښکاره دلیل، او نه یو مونږ پرېښودونکي معبودانو خپلو د وینا ستا د

وَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ ﴿٥٣﴾ إِنْ نَقُولُ إِلَّا

وجې نه، او نه یو مونږ تا لره ایمان راوړونکي. نه وایو مونږ تا ته بل څه مگر دا

اعْتَرَاكَ بَعْضُ آلِهَتِنَا بِسُوءٍ ۗ قَالَ إِنِّي أُشْهِدُ

خبره چه رسولې ده تا ته بعضې معبودانو زمونږ ضرر لیونتوب، او وویل هغه یقینا زه گواه کوم

اللَّهَ وَاشْهَدُوا أَنِّي بَرِيءٌ مِمَّا تُشْرِكُونَ ﴿٥٤﴾ مِنْ

الله تعالی، او گواه شئ تاسو چه یقینا زه بیزاره یم د هغه چا نه چه تاسو ئې شریکوئ بیا

دُونِهِ ۖ فَكِيدُونِي جَمِيعًا ثُمَّ لَا تُنْظِرُونِ ﴿٥٥﴾ إِنِّي

د الله نه، پس تاسو ټول چل اوکړئ ما له بیا مهلت مه ورکوئ ما ته، یقینا ما

تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ رَبِّي وَرَبِّكُمْ ۚ مَا مِنْ دَابَّةٍ

توکل کړی دی په الله تعالی باندې چه رب زما او رب ستاسو دی، نشته هیڅ ژوندی سر

إِلَّا هُوَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا ۚ إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ صِرَاطٍ

مگر الله نیولې ده اوچتې د هغه، یقینا رب زما په لاره د برابر

مُسْتَقِيمٍ ﴿٥٦﴾ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ مَا أُرْسِلْتُ

باندې دی. پس که تاسو مخ واړوئ پس یقینا رسولي دي ما تاسو ته هغه پیغام چه

(حاشيه)

أَلَّا اعْتَرَاكَ بَعْضُ آلِهَتِنَا بِسُوءٍ: نه وایو ستا په باره کښې مگر دا خبره چه رسولې ده تا ته بعض خدایانو زمونږ مرض لیونتوب، امام رازي رحمه الله لیکي چه یقینا تا کنځلې کړې زمونږ خدایانو ته، پس هغوی لیونی کړې او رباد کړې دې عقل ستا (الحیاة الرسل ص۱۳۲)

فائده: - آکثر جاهلان هم د توحید بیانونکي ته همدا وائي چه دا بابا گانو وهلی لیونی کړی دی ځکه دا سې کوي.

إِنَّ رَبِّي: مدارک ص۱۹۲ کښې دي. یقینا رب زما په حق دی عدول ترې نه کوي. او یا رب زما دلالت کوي په سمه لاره باندې د شاه پورخیخ رحمه الله فرمائي یعنی دین د رب زما برابره لاره ده که بیا هم نه منئ نو پرېږدئ ستاسو خپله خاره اراده کړه: او چه تاسو ئې نه منئ نو تاسو لره به باري تعالی هلاک کړي: او ستاسو په ځای به بل قوم خلیفه کړي تاسو الله تعالی ته نقصان نه شئ رسولی ستاسو ټول حالات الله تعالی ته معلوم دي نو تاسو له به پوره پوره سزا ورکړي یعنی ستاسې گناه د ستاسو تاوان دی (احسن الترجمه ص۲۱)

وَتِلْكَ عَادٌ: او دغه عادیان وو چه انکار ئے کړے وو په ایتونو د رب خپل باندے. د دے اشاره ورته په دے وجه شوے وه
چه د هغوی د هلاکت واقعه مشهوره وه او دا ئے وه چه د هغوی منازل ښکاره وو. په دے ایت کریمه کښے د هغوی د
عذاب وجه بیان شوې ده (۱) انکار د توحید د ایتونو نه. (۲) مخالفت د رسول علیه السلام نه (۳) تابعداري د هر سرکش عنادي.

بِهِۦٓ إِلَيْكُمْ ۚ وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّى قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا

در ته ستاسو طرف ته او راولي به رب زما قوم غیر ستاسو نه او ضرر نه

تَضُرُّونَهُۥ شَيْـًٔا ۚ إِنَّ رَبِّى عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ حَفِيظٌ ﴿٥٧﴾

شئ رسولے تاسو هغه ته هیڅ شی یقیناً رب زما په هر شی باندے ساتونکے دے

وَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا هُودًا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟

او هر کله چه راغے امر زمونږ نو خلاص مو کړو هود او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے وو

مَعَهُۥ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَنَجَّيْنَـٰهُم مِّنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٥٨﴾

ورسره په رحمت خپل او بچ مو کړل دوی د عذاب سخت نه

وَتِلْكَ عَادٌ ۖ جَحَدُوا۟ بِـَٔايَـٰتِ رَبِّهِمْ وَعَصَوْا۟ رُسُلَهُۥ

او دغه عادیان وو چه انکار ئے کړے وو په ایتونو د رب خپل او نافرمانی ئے کړے وه د رسولانو

وَٱتَّبَعُوٓا۟ أَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ﴿٥٩﴾ وَأُتْبِعُوا۟ فِى هَـٰذِهِ

د هغه او تابعداری ئے کړے وه د حکم د هر سرکش عناد کونکی او وروپسے شو په دے

ٱلدُّنْيَا لَعْنَةً وَيَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ ۗ أَلَآ إِنَّ عَادًا كَفَرُوا۟

دنیا کښے لعنت او په ورځ د قیامت خبردار عادیانو کفر کړے وو د رب

رَبَّهُمْ ۗ أَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ قَوْمِ هُودٍ ﴿٦٠﴾ وَإِلَىٰ ثَمُودَ

خپل سره خبردار هلاکت دے عادیانو لره چه قوم د هود دے او لیږلے وو مونږ ثمود ته

أَخَاهُمْ صَـٰلِحًا ۚ قَالَ يَـٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم

ورور د هغوی صالح وویل اے قومه زما عبادت وکړئ د الله نشته تاسو

مِّنْ إِلَـٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ وَٱسْتَعْمَرَكُمْ

لره حاجت پوره کونکے بغیر د هغه نه هغه پیدا کړی تاسو له زمکے نه او اباد کړی ئے تاسو

فِيهَا فَٱسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوٓا۟ إِلَيْهِ ۚ إِنَّ رَبِّى قَرِيبٌ

په دغے کښے پس بخښنه وغواړئ د هغه نه بیا توبه ورته وباسئ یقیناً رب زما نزدے دے

مُّجِيبٌ ﴿٦١﴾ قَالُوا۟ يَـٰصَـٰلِحُ قَدْ كُنتَ فِينَا مَرْجُوًّا قَبْلَ

قبلونکے دے. او وئیل دوی اے صالحه یقیناً وے ته په مونږ کښے امید کړے شوے ترے د دې

وَعَصَوْا رُسُلَهُ: د دے سوال راځي چه دوی خو د یو رسول علیه السلام نه خلاف کړے وو چه هود علیه السلام وو. جواب دا دے چه د یو رسول علیه السلام نه انکار د ټولو رسولانو علیهم السلام نه انکار دے ځکه چه په وجوب د ایمان راوړلو کښے د دوی په مابین کښے فرق نشته. ذکر دی ابن کثیر ۲/۳۷۵ سراج منیر ... تائید د لا نفرق بین احد من رسله ۲۸۵ بقره

وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا. دا د سورت دریمه قصه او واقعه ده د صالح علیه السلام او دا هغه اولنے دعوت سره نکلی چه أن لا تعبدوا إلا الله: چه بندګی او عبادت مه کوئ مګر د یو الله تعالی. صالح علیه السلام پس د بیانولو د مسئلے د توحید نه، دوه انعامات ذکر کړل او دوه امرونه د پاره د ترغیب ذکر کړل او دوه صفتونه د الله تعالی. قَدْ كُنْتَ فِينَا مَرْجُوًّا یقیناً وے ته په مونږ کښے امید کړے شوے. تفسیر مظهری ۹۶/۵ کښے دی چه مونږ د امید سات چه ته به سردار شے په مونږ کښے. او ځینے وئیلی دی چه مونږ امید لرلو چه ته به موافقت وکړے زمونږ سره په دین زمونږ کښے او ورته زمونږ په دین کښے. تفسیر تسهیل ... کښے دی چه مونږ د امید لرلو چه نفع به حاصله کړو په تا باندے شے نو دے چه ته وائی هغه چه وائی. فائده: او ځینو علماؤ وئیلی چه حق عالم ته وائی چه صاحب حق مونږه تا ته ستر ګے نیولے وے چه لوئی به شے عالم به شے. نو په تبلیغ کړے شے. ته خو په نورو مسئلو سر شوے.

لې خفګان دی. ته نافرماني وکړه دغې، په رسولو دینغام د خدای کړ. او دغه گناه کو لو سره بهانه حساب د دې سره
[illegible] ... پس زخمي یې کړه او ووژله. قرطبي رحمه الله فرمایي چې زخمي کړه بعضو د هغوی

هٰذَآ اَتَنۡهٰنَآ اَنۡ نَّعۡبُدَ مَا يَعۡبُدُ اٰبَآؤُنَا وَاِنَّنَا لَفِيۡ
مخکې د دې ... ایا منع کوې موږ لره چې عبادت وکړو د هغه چا چې عبادت به ئې کولو پلارانو زموږ او یقیناً موږ
شَكٍّ مِّمَّا تَدۡعُوۡنَاۤ اِلَيۡهِ مُرِيۡبٍ ﴿٦٢﴾ قَالَ يٰقَوۡمِ
شک کې یو د هغه څه نه چې ته موږ ورته بلنه کوې په شک کې اچوونکي ... ده وویل ای قومه
اَرَءَيۡتُمۡ اِنۡ كُنۡتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنۡ رَّبِّىۡ وَاٰتٰٮنِىۡ
خبر راکړئ که چیرته زه یم په ښکاره دلیل باندې د طرف د رب خپل نه او راکړې ئې ما ته
مِنۡهُ رَحۡمَةً فَمَنۡ يَّنۡصُرُنِىۡ مِنَ اللّٰهِ اِنۡ عَصَيۡتُهٗ
د طرف خپل نه رحمت، پس څوک به مدد کوي زما د الله نه که زه نافرماني وکړم
فَمَا تَزِيۡدُوۡنَنِىۡ غَيۡرَ تَخۡسِيۡرٍ ﴿٦٣﴾ وَيٰقَوۡمِ هٰذِهٖ نَاقَةُ
پس نه زیاتوئ زما لپاره بغیر د تاوان نه. او ای قومه زما دا اوښه د
اللّٰهِ لَـكُمۡ اٰيَةً فَذَرُوۡهَا تَاۡكُلۡ فِىۡۤ اَرۡضِ اللّٰهِ وَ
الله ده تاسو لره نښه، پس پریږدئ دا چې خوراک کوي په زمکه د الله کې او
لَا تَمَسُّوۡهَا بِسُوۡۤءٍ فَيَاۡخُذَكُمۡ عَذَابٌ قَرِيۡبٌ ﴿٦٤﴾ فَعَقَرُوۡهَا
مه رسوئ دې ته تکلیف، پس ونه نیسي تاسو لره عذاب نږدې. پس پښې ئې ورله پرې کړې
فَقَالَ تَمَتَّعُوۡا فِىۡ دَارِكُمۡ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ‌ ؕ ذٰلِكَ وَعۡدٌ غَيۡرُ
نو وویل: فائده واخلئ په کورونو خپلو کې درې ورځې، دا وعده ده بغیر د
مَكۡذُوۡبٍ‏ ﴿٦٥﴾ فَلَمَّا جَآءَ اَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا صٰلِحًا وَّالَّذِيۡنَ
دروغو نه. پس هر کله چې راغی حکم زموږ بچ کړو صالح او هغه کسان
اٰمَنُوۡا مَعَهٗ بِرَحۡمَةٍ مِّنَّا وَمِنۡ خِزۡىِ يَوۡمِئِذٍ‌ ؕ اِنَّ
چې ایمان ئې راوړی و د هغه سره په رحمت زموږ او د رسوائی د هغې ورځې نه. یقیناً
رَبَّكَ هُوَ الۡقَوِىُّ الۡعَزِيۡزُ‏ ﴿٦٦﴾ وَاَخَذَ الَّذِيۡنَ ظَلَمُوا
رب ستا دی طاقت والا غالب. او ونیول هغه کسان چې ظلم ئې کړی و
الصَّيۡحَةُ فَاَصۡبَحُوۡا فِىۡ دِيَارِهِمۡ جٰثِمِيۡنَ ۙ‏ ﴿٦٧﴾ كَاَنۡ لَّمۡ
چیغې، پس شول په کورونو خپلو کې پراته، ګواکې نه وو

هغوی او نسبت ئې ټولو ته وشو
ځکه چې ټول په دې راضي وو ...
سوره شمس ...
او پوره قصه په ... کې.

تَمَتَّعُوۡا فِىۡ دَارِكُمۡ
نفع حاصل کړئ په کورونو خپلو
کې د درې ورځو ...
... معارف ...
مخکې دې چې زخمي کړې شوه، د
چار شنبې ورځې، پس و ویل
دوی ته ... او بیا ...
... د عذاب ...

وَاَخَذَ الَّذِيۡنَ ظَلَمُوا: هر کله چې
دوی ... او هغوی
سره د صالح علیه السلام ...
...

فائده:
دغه آیت نه معلومه شوه چې
د صالح علیه السلام قوم د چیغې
او آواز په ذریعه هلاک کړې شوي
وو، لیکن په سورة اعراف کې
د دوی متعلق د زلزلې ذکر دی
فَاَخَذَتۡهُمُ الرَّجۡفَةُ ...
دوی لره زلزلې ... معلوم
شوه چې په دوی د زلزلې عذاب
راغلی وو. قرطبي رحمه الله فرمایي
چې په دې کې ...
... زلزله ...
بیا سخت آواز ... هلاک کړې
شو. (معارف ...)

كَاَنۡ لَّمۡ يَغۡنَوۡا فِيۡهَا
شیخ القرآن رحمه الله فرمائیلي
چې فاني او ختم شو ګویا که نه
وو او سیدلي په دغه کلي کې.

وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ دا د سورت هود په وقعه دی. شیخ القرآن رحمه الله فرمائی چه دا او د لوط علیه السلام قصه
د نفی د حکم غیب د پاره دی چه ابراهیم او لوط علیهما السلام د ملائکو نه حال پوهه نه وو او د دې نه نفی د شرک
وه من د آیة

يَغْنَوْا فِيهَا ۗ أَلَآ إِنَّ ثَمُودَا۟ كَفَرُوا۟ رَبَّهُمْ ۗ أَلَا بُعْدًا
نه وو اوسیدلی په هغو کښې. خبردار! یقیناً ثمود وو کفر کړے وو په رب خپل. خبردار هلاکت دې
لِّثَمُودَ (۶۸) وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ إِبْرَٰهِيمَ بِٱلْبُشْرَىٰ قَالُوا۟
ثمود لره. او یقیناً راغلی وو استازی زمونږ ابراهیم ته په زیری سره او ووئیل دوی
سَلَٰمًا ۖ قَالَ سَلَٰمٌ ۖ فَمَا لَبِثَ أَن جَآءَ بِعِجْلٍ حَنِيذٍ (۶۹)
په سلام د اچولو سره ووئیل هغه سلام دی پس پاتے نه شو چه راوړے يې سخے وریت کړے شوے
فَلَمَّا رَءَآ أَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَأَوْجَسَ
پس هر کله چه وکتل لاسونه د دوی چه نه رسیدل خوراک ته نو نا اشنا ئې وګڼل دوی او په زړه کښې
مِنْهُمْ خِيفَةً ۚ قَالُوا۟ لَا تَخَفْ إِنَّآ أُرْسِلْنَآ إِلَىٰ قَوْمِ
ئې احساس وکړو د دوی نه ویره ووئیل هغوی مه ویریږه یقیناً مونږ رالیږلے شوی یو قوم د لوط
لُوطٍ (۷۰) وَٱمْرَأَتُهُۥ قَآئِمَةٌ فَضَحِكَتْ فَبَشَّرْنَٰهَا
علیه السلام ته. او بی بی د هغه ولاړه وه پس وخندل پس زیرے ورکړو مونږ هغې ته
بِإِسْحَٰقَ وَمِن وَرَآءِ إِسْحَٰقَ يَعْقُوبَ (۷۱) قَالَتْ
په اسحاق او روستو د اسحاق نه په یعقوب سره او ووئیل هغې
يَٰوَيْلَتَىٰٓ ءَأَلِدُ وَأَنَا۠ عَجُوزٌ وَهَٰذَا بَعْلِى شَيْخًا ۖ إِنَّ
اے ارمان زما آیا زه به بچے راوړم او زه بوډۍ یم او دا خاوند زما زوړ دے یقیناً
هَٰذَا لَشَىْءٌ عَجِيبٌ (۷۲) قَالُوٓا۟ أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ
دا خامخا شے عجیبه دے ووئیل ملائکو آیا ته تعجب کوے د حکم د
ٱللَّهِ ۖ رَحْمَتُ ٱللَّهِ وَبَرَكَٰتُهُۥ عَلَيْكُمْ أَهْلَ ٱلْبَيْتِ ۚ
الله نه رحمتونه د الله او برکتونه د هغه په تاسو دی اے اهل بیتو د ابراهیم
إِنَّهُۥ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ (۷۳) فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ إِبْرَٰهِيمَ ٱلرَّوْعُ
یقیناً الله ستائیلے شوے بزرګي والا دے پس هر کله چه لاړه د زړه د ابراهیم نه ویره
وَجَآءَتْهُ ٱلْبُشْرَىٰ يُجَٰدِلُنَا فِى قَوْمِ لُوطٍ (۷۴) إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ
او راغے هغه ته زیرے بحث ئې کولو مونږ سره په باره د قوم د لوط کښې یقیناً ابراهیم

فعل هم دوه سوال دی
فائده: په دې کښې د مسلمانو د پاره د مهمان داري طریقه ذکر ده دا اصول دي ((معارف ۲۴۰ ج ۴))
دلته په حنیذ وئیلے شوے او په ذاریات کښې ئې سمین وئیلے شوے د دواړو جمع کولو معنی دا شوه چه غوښه ئې غوړه وریت کړے شوے.
لَا تَصِلُ إِلَيْهِ: چه نه رسیدل دا کنایه ده د نه خوراک کولو نه دے. نَكِرَهُمْ: نا اشنا ئې وګڼل روح المعاني د علامه ضحاک رحمه الله نه نقل کوی چه هغه دوی ګرځیدل دا ملائکو د خوراک نه کولو. دا حال فرض شو په حاضر ولے د هغوی نه طعام نه خوړو.
خِيفَةً: او په زړه کښې پیدا کړه ئې ویره خیال کښې د هغوی نه ویره نو هغوی او وئیل مه ویریږه.
دلته سوال راځی چه هغوی د زړه د ابراهیم نه خبر شو. جواب دا دے چه هغوی ورته او وئیل إِنَّا مِنكُمْ وَجِلُونَ نو یقیناً مونږه ستاسو نه ویریږو.
فَضَحِكَتْ: پس وخندل.
دلته هم سوال راځی چه د ابراهیم علیه السلام بی بی ولے وخندل او په څه شي وخندل. جواب دا دے چه امام رازی رحمه الله فرمائی چه فراء رحمه الله وائی چه دا عبارت په تقدیم او تاخیر سره دے معنی دا شوه چه زیرے ورکړو مونږ په اسحاق باندے. پس وخندل د خوشحالۍ نه په سبب د دغه زیری. خندا اسیے
خلکو ذکر کړیده او په معنی کښے روستو دے ((کبیر ص ۲۳ ج ۱۸)) دا توجیه د شیخ القرآن رحمه الله په نزد هم غوره او پسند ده.

لَحَلِيمٌ أَوَّاهٌ مُّنِيبٌ ﴿٧٥﴾ يَا إِبْرَاهِيمُ أَعْرِضْ عَنْ
زغم ناک، آه کوونکی (زړه نرمی) رجوع کوونکی دی حق ته. اې ابراهیمه! مخ واړوه ته ددې خبرې

هَٰذَا ۖ إِنَّهُ قَدْ جَاءَ أَمْرُ رَبِّكَ ۖ وَإِنَّهُمْ آتِيهِمْ
نه، یقیناً شان دا دی چې یقیناً راغلی حکم د رب ستا، او یقیناً دا خلق راتلونکی دی

عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُودٍ ﴿٧٦﴾ وَلَمَّا جَاءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا
دوی ته عذاب نه بېرته واپس کېدونکی. او هر کله چې راغلل استازي زمونږه لوط ته

سِيءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالَ هَٰذَا يَوْمٌ
خفه کړی شو په دوی او تنګ شو په دوی کې زړه د هغه او ویلې دا ورځ

عَصِيبٌ ﴿٧٧﴾ وَجَاءَهُ قَوْمُهُ يُهْرَعُونَ إِلَيْهِ وَمِن
سخته ده. او راغله ده ته قوم دده چې رازغلېدونکي شول ده ته. او مخکې

قَبْلُ كَانُوا يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ ۚ قَالَ يَا قَوْمِ هَٰؤُلَاءِ
د دې نه وو دوی چې کول به یې کارونه خراب نه. او وویل دده اې زما قومه دا زما

بَنَاتِي هُنَّ أَطْهَرُ لَكُمْ ۖ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ
لوڼې دي دا ډېرې پاکې دي تاسو لره، پس وېرېږئ د الله نه او مه شرموئ ما

فِي ضَيْفِي ۖ أَلَيْسَ مِنكُمْ رَجُلٌ رَّشِيدٌ ﴿٧٨﴾ قَالُوا
په میلمنو زما کې. آیا نشته ستاسو نه یو سړی هوښیار؟ او وویل دوی:

لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِي بَنَاتِكَ مِنْ حَقٍّ
یقیناً ته پوهېږې چې نشته مونږ لره په لوڼو ستا کې هیڅ حاجت (غرض)

وَإِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِيدُ ﴿٧٩﴾ قَالَ لَوْ أَنَّ لِي
او یقیناً ته خامخا پوهېږې په هغه څه چې مونږ یې اراده لرو. او وویل هغه: چې وای زما

بِكُمْ قُوَّةً أَوْ آوِي إِلَىٰ رُكْنٍ شَدِيدٍ ﴿٨٠﴾
ستاسو مقابله کې قوت، او یا پناه حاصله کړې شوې وای (قبیله) محکم ته

قَالُوا يَا لُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَن يَصِلُوا إِلَيْكَ
او وویل هغوی: اې لوطه! یقیناً مونږ استازي د رب ستا یو، هیڅکله به نشي رسېدلی دوی تا ته

وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا

ذرعًا د نسبت تمیز دی د فعل نه فاعل ته اصل کې فاعل وو. معنی دا شوه چې تنګه شوه سینه د ده په راتلو د دوی باندې.

يُهْرَعُونَ إِلَيْهِ

ضیاء القرآن په معنی کوله چې رازغلېدونکي شو دوی نه یعنې خواهش په دوی باندې غالب شوی وو چې ګویا که دوی رابرګ کېدل او دوی له ورګ ورکوي.

هٰؤُلَاءِ بَنَاتِي

د هغې نه ستاسو زما لوڼې دي والے مطلب لوقر ماتیل چې هر نبي علیه السلام د امت پلار وي. او کوروش ابن کثیر وغیره الهام دی.

لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ

تسهیل صفت کېدې دی چې جواب د لو محذوف دی تقدیر داسې دی. لو کان لي قدرة على دفعكم لدفعت کله چې مالره قدرت ستاسو په دفع وای نو دفع به مې کړې وی. او دا احتمال هم لري چې لو د تمنی دی. یعنې ارمان چې ما لره طاقت وی. حدیث کې راغلي چې رحمت د الله دی په لوط علیه السلام باندې چې پناهي حاصوله کړې محکمه. یعنې الله ته پس نه د لیږلې پس د ده نه هیڅ نبي مګر په قوي قوم د هغه کې. ابن کثیر ۲۵۳ ج ۲ / ابن جریر ۵۳ / ۲ مشکوة ۵۰۲ ج ۲. ضیاء القرآن

رحمت الله په قرار تیل چې شپه دعا یې کړې ده. یعنې امطلب ښه دې چې لو نه د عشو ډیره ...

فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ وَلَا يَلْتَفِتْ
پس بوزه اهل خپل په یوه حصه کې د شپې نه او نه دې ګوري شا ته
مِنكُمْ أَحَدٌ إِلَّا امْرَأَتَكَ إِنَّهُ مُصِيبُهَا مَا
ستاسو نه یو کس ؛ مګر ښځه ستا ؛ یقیناً شان دا دی رسیدونکې ده دې ته
أَصَابَهُمْ إِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ أَلَيْسَ الصُّبْحُ
هغه عذاب چې رسیدلی دوی ته ؛ یقیناً وخت د عذاب د دوی صباح دی ؛ آیا نه دی صبا
بِقَرِيبٍ ﴿٨١﴾ فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا
نږدې ؛ پس هر کله چې راغی حکم زمونږ ؛ وګرځوله مونږ بره طرف ئې کوز ښکته ئې
وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ مَّنضُودٍ ﴿٨٢﴾
او راوورولې مونږ په دې باندې کاڼي د خټې پخې شوي چې پرله پسې دي
مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ وَمَا هِيَ مِنَ الظَّالِمِينَ
نښان لګولي شوي په نزد د رب ستا ؛ او نه ده دا کلي د دې ظالمانو نه
بِبَعِيدٍ ﴿٨٣﴾ وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا قَالَ
لرې ؛ او لیږلی وو مونږ مدین ته ؛ ورور د هغوی شعیب ؛ او وئیل
يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ
اې قومه زما بندګي اوکړئ د الله ؛ نشته تاسو لره هیڅ معبود بغیر د هغه
وَلَا تَنقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِنِّي
او مه کموئ ؛ پیمانه ؛ او تله ؛ یقیناً زه
أَرَاكُم بِخَيْرٍ وَإِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ
وینم تاسو لره په مالدارۍ سره ؛ او یقیناً زه وېرېږم په تاسو باندې د عذاب
يَوْمٍ مُّحِيطٍ ﴿٨٤﴾ وَيَا قَوْمِ أَوْفُوا الْمِكْيَالَ
د ورځې راګیرونکې نه ؛ او اې قومه زما ؛ پوره ورکړئ پیمانه
وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ
او تله ؛ په انصاف سره ؛ او مه کموئ د خلقو نه

ع ۸

إِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ

لوط علیه السلام به چې پرښتګی کړې وو نو درخواست ئې اوکړو چې د دوی د تباهۍ وخت به کله وي نو ملائکو اووئیل صباح مالې ، نو هغه اووئیل چې نه اراده لرم جلد د دې نه نو هغوی اووئیل آیا نه دی صباح نږدې (د کوزې مظهري ص ۹۳ سراج منیر ص ۸ ج ۲)

مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ

په هر کاڼي د یو کافر نوم لیک وو او هغه کافر به د هغې کاڼي هلاک شو (فصل التراجم ص ۳۳۲)

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ

دا شپږمه قصه ده د سورت د اول مطلب سره پیوسته ده (فصل التراجم ص ۳۳۲)

فائده

پوهه شه چې انبیاء علیهم السلام شروع کړې ده اول سرګښې په دعوت ورکولو سره د توحید نه له دې وجې نه شعیب علیه السلام اوفرمائیل :

مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ

پس وروسته د دعوت د توحید نه شروع کړې په اهم ګټې او په اهم ګټې .

(کبیر ص ۸ ج ۸)

بَقِيَّتُ اللّٰهِ، والله ډېر ښه معنا ګڼلې تفسير قرطبي کښې دي. پوره ترجمه دا ده چې هغه چې پاتې شي ګټه د الله تعالىٰ ستاسو له پاره ... ډېره ورکوونکې ... اشرف ... برکت ... انبياء والا دي ...

أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٨٥﴾

شيونه د خلکو او مه ګرځئ په ځمکه کښې فساد کوونکي.

بَقِيَّتُ اللّٰهِ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ۚ وَمَا أَنَا

پاتې شوې د الله غوره ده تاسو لره که يئ تاسو ايمان راوړونکي؛ او نه يم زه

عَلَيْكُم بِحَفِيظٍ ﴿٨٦﴾ قَالُوا يَا شُعَيْبُ أَصَلَاتُكَ تَأْمُرُكَ

پر تاسو باندې ساتونکی. اوويل دوی: اې شعيبه! آيا مونځ ستا امر کوي تا ته

أَن نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا أَوْ أَن نَّفْعَلَ فِي

چې پرېږدو هغه شی چې عبادت يې کاوه پلرونو زمونږ او يا دا چې وکړو په

أَمْوَالِنَا مَا نَشَاءُ ۖ إِنَّكَ لَأَنتَ الْحَلِيمُ الرَّشِيدُ ﴿٨٧﴾

مالونو خپلو کښې هغه چې خوښه زمونږ وي؛ بېشکه ته خامخا صبرناک او هوښيار يې.

قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي

اوويل شعيب: اې قومه زما! خبر راکړئ ماته که چېرې يم زه په ښکاره دليل باندې له رب خپل

وَرَزَقَنِي مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا ۚ وَمَا أُرِيدُ أَنْ

او رزق يې راکړی وي ماته له طرفه خپل رزق ښه نو څنګه ... او نه اراده کوم زه چې

أُخَالِفَكُمْ إِلَىٰ مَا أَنْهَاكُمْ عَنْهُ ۚ إِنْ أُرِيدُ إِلَّا

خلاف وکړم ستاسو هغه چې منع کوم تاسو له هغه. نه اراده کوم زه مګر

الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ ۚ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللّٰهِ ۚ

اصلاح کول څومره چې قدرت لرم؛ او نه دی توفيق زما مګر په الله باندې

عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴿٨٨﴾ وَيَا قَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ

خاص په هغه توکل کړی دی ما او خاص هغه ته رجوع کوم. او اې قومه زما! تاسو دې نه راکاږي

شِقَاقِي أَن يُصِيبَكُم مِّثْلُ مَا أَصَابَ قَوْمَ نُوحٍ

دښمني زما دې ته چې ورسېږي تاسو ته مثل د هغه چې رسېدلی و قوم د نوح ته

أَوْ قَوْمَ هُودٍ أَوْ قَوْمَ صَالِحٍ ۚ وَمَا قَوْمُ لُوطٍ مِّنكُم بِبَعِيدٍ ﴿٨٩﴾

يا قوم د هود ته او يا قوم د صالح ته؛ او نه دی قوم د لوط له تاسو لرې.

نه چې تاسو ته ... ښودلي د غيب ... خاوندانو د پاره ... ګټه ... په جبر او ظلم سره ...

أَصَلَاتُكَ: روايت کړی شوی دی چې شعيب عليه السلام به ډېر مونځونه کول ... او قوم به يې چې کله ليده ... کوي ... او بويل ... ته خندا او ټوکې ... قول د ... آيا نه ... ستا مونځ ... او ... دا ...

إِن كُنتُ ... ښه واضح دليل ... ښه ... اورزق ... ستا ... د دې جواب ... ايا صحيح ... کېږي ... ما لره چې امر ... په ... بت پرستۍ او په ... داسې حال کښې چې انبياء عليهم السلام نه دي ... شوي ... ګټه د پاره ...

وَمَا أُرِيدُ ... او اراده ... چې مخالفت وکړم ستاسو ... حال کښې چې دعوت ... چې تاسو ته ... منع کوم ...

فائده: ... آيت کريمه کښې ... آداب دي د داعي ... د پاره ... وَمَا أُرِيدُ ... إِنْ أُرِيدُ ... وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللّٰهِ ... عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ... وَإِلَيْهِ أُنِيبُ.

وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللّٰهِ

او نشته توفيق زما مګر په الله ... په بخاري او مسلم کښې حديث ... د ابو موسى اشعري رضي الله عنه روايت دی چې ... رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي ... دا ... د ... ده ... رسول الله ... لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ ... وَيَا قَوْمِ ... په دې آيت کريمه کښې ... د شعيب عليه السلام ... قوم ... قوم د نوح، قوم د هود، قوم د صالح، قوم د لوط.

واستغفروا : په دې ایت کریمه کښې ترغیب دی ... او توبې سره یې ذ ترهیب نه . قالو یشعیب
په دې ایت کریمه کښې تکذیب د قوم ... د شعیب علیه السلام او توهین د ضعف د شه په
... طریقه ...

وَاسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ إِنَّ رَبِّي رَحِيمٌ

او بخښنه وغواړئ د رب خپل نه بیا توبه وباسئ هغه ته بېشکه رب زما مهربان

وَدُودٌ ﴿٩٠﴾ قَالُوا يَا شُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيرًا مِمَّا تَقُولُ

محبت کوونکی دی . او ویل دوی اې شعیبه نه پوهېږو مونږ ډېرو خبرو چه ته یې وایې

وَإِنَّا لَنَرَاكَ فِينَا ضَعِيفًا وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنَاكَ

او یقیناً مونږ وینو تا په مونږ کښې کمزوری او که نه وې کورنۍ ستا نو سنګسار به مونږ کړی وې ته

وَمَا أَنْتَ عَلَيْنَا بِعَزِيزٍ ﴿٩١﴾ قَالَ يَا قَوْمِ أَرَهْطِي أَعَزُّ

او نه یې ته په مونږ غالب . او وویل هغه اې قومه زما آیا کورنۍ زما زیاته عزتمنه ده

عَلَيْكُمْ مِنَ اللَّهِ وَاتَّخَذْتُمُوهُ وَرَاءَكُمْ ظِهْرِيًّا

په تاسو د الله نه او ګرځولی دې تاسو هغه شاته د ملا غورځولی

إِنَّ رَبِّي بِمَا تَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿٩٢﴾ وَيَا قَوْمِ اعْمَلُوا

یقیناً رب زما هغه څه چه تاسو یې کوئ احاطه کوونکی دی . او اې قومه زما عمل کوئ

عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّي عَامِلٌ سَوْفَ تَعْلَمُونَ مَنْ

په خپل طریقه بېشکه زه هم عمل کوونکی یم زر به پوهه شئ چه څوک دی

يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَمَنْ هُوَ كَاذِبٌ وَارْتَقِبُوا

چه راشي په هغه عذاب چه رسوا کړي هغه او څوک دی چه هغه دروغژن دی او انتظار کوئ

إِنِّي مَعَكُمْ رَقِيبٌ ﴿٩٣﴾ وَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا

یقیناً زه تاسو سره انتظار کوونکی یم . او هرکله چه راغی حکم زمونږ خلاص کړو مونږ

شُعَيْبًا وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِنَّا

شعیب او هغه کسان چه ایمان یې راوړی وو سره د هغه په رحمت زمونږ

وَأَخَذَتِ الَّذِينَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَأَصْبَحُوا

او ونیول هغه کسان چه ظلم یې کړی وو سختې چغې پس او ګرځېدل

فِي دِيَارِهِمْ جَاثِمِينَ ﴿٩٤﴾ كَأَنْ لَمْ يَغْنَوْا فِيهَا

په کورونو خپلو کښې پرمخ پراته ګویا که دوی نه وو اوسېدلي په کورونو کښې

قال یٰقوم

په دې ایت کریمه کښې ... وړکول دي د شعیب علیه السلام قوم لره چه د قوم ... کوي او د الله تعالیٰ ... کوي

ویقوم اعملوا علی مکانتکم

په دې ایت کریمه کښې اعلان د مقابلې او ... حق ... وګوره سورة فرقان ... زخرف ... هود

ولما جآء امرنا

چه ... او ... هلاک کړی د اهل ... ذکر وکړه شعیب علیه السلام ته ... کښې ... او په ... کښې ... او ... هلاک کړل شو او ... د هغه ... شو ... سبب ... او ... اسباب ... خو په طریق ... او ... د ... شوه ... اعراف ٢٢ ... عنکبوت ٣٧ .

قَبْلُ فَاللَّهُ خَيْرٌ حَافِظًا وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴿٦٤﴾
مخکښې د دې، پس الله غوره حفاظت کونکے دے او هغه زیات رحم کونکے د رحم کونکو نه دے۔
وَلَمَّا فَتَحُوا مَتَاعَهُمْ وَجَدُوا بِضَاعَتَهُمْ رُدَّتْ
او هر کله چې پرانستلو سامانونه خپل بیا یې موندله پانګه (قیمت) خپل چې واپس کړے شوې وه
إِلَيْهِمْ قَالُوا يَا أَبَانَا مَا نَبْغِي هَٰذِهِ بِضَاعَتُنَا
دوی ته، او وئیل دوی اے پلاره زمونږه نور څه غواړو، دا ده پانګه (قیمت) زمونږ چې
رُدَّتْ إِلَيْنَا وَنَمِيرُ أَهْلَنَا وَنَحْفَظُ أَخَانَا وَنَزْدَادُ
واپس کړے شوې ده مونږ ته او غله به راوړو اهل خپل ته او حفاظت به کوو د ورور خپل او زیات به راوړو

د یوسف علیه السلام د رویه حاضر ولو طریقه ده او دا الله چه کوی په حکم د الله تعالی کوی. ولیکه ګنړ ترجمه کړلے دی. (۱) چې دوباره راشي چه کله یې بوری واپکه خپله. ځکه چه یوسف نه پته وه چه دوی نه قیلوی طعام مګر په ثمن باندې (۲) چه امید حاصل کړو په دې باندې د دوباره راتللو پاره د استلو د غله (۳) یا ئے ګنړلو چه پلار او رونړو خپلو نه ثمن د طعام واخلي (۴) چه رونړه په احسان وپیژني ورته وکړي په واپسی جوړه دے (ازفی ص۳۳)
فَلَمَّا رَجَعُوا: هر کله چه د غلے راوړلو نه مخلص شو او یوسف علیه السلام په وخت د بنیامین رالیږلو شرط کړی وو نو ځکه ئے د بار ونو د پرانستلو نه مخکښې د ورور د بوتللو مطالبه وکړه.
قَالَ هَلْ آمَنُكُمْ: آیا اعتبار وکړم په تاسو. د پیښتوردمشن دلته چه مار چیچلے د هغې نه ځکه ویریږي.
وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ: مدارك ص۲۲۹ ج۲ کښې لیکلي دي چه امید لرم چه انعام به وکړي په ما باندې په حفاظت د ده او نه به راجمع کړي په ما باندې دوه مصیبتونه.
وَلَمَّا فَتَحُوا: هر کله چه دوی ته د والی صاحب د طرفه تسلی حاصله شوه او باړونه یې پرانستل نو په خوشحالی کښې ئے او وئیل مَا نَبْغِي نه غواړو زیات د دې احسان نه، دا زمونږ سرمایه ده چه واپس شوي د مونږ ته. دلته ګنړ ترجمه کړلے دي. (۱) بله ترجمه ئے کړې ده دوی.
واچه نه غواړو دروغ نه او قیمت درکړ نه غواړو د غله قیمت بیرا دغه نه چه زمونږ سره ئے احسان وکړو او کوی حوالګ صرف ص۳۳ وَنَمِيرُ أَهْلَنَا
او غله به راوړو اهل خپل لره. راغب رحمه الله وئیلي چه میره طعام ته وایی چه راوړی انسان (مفردات ص۵۹) فتح القرآن په فرمائیل چه ما ئر
د غلو حوالت ته وئیلے شي

ذٰلِكَ كَيْلٌ يَسِيرٌ [illegible] دا [illegible] کیل لږ دے [illegible]
[illegible] یوسف (عزیز) [illegible]

كَيْلَ بَعِيرٍ ذٰلِكَ كَيْلٌ يَسِيرٌ ﴿٦٥﴾ قَالَ لَنْ أُرْسِلَهُ

بار د اوښ، دا [illegible] اووئیل یعقوب [illegible] هیڅکله به نه لیږم دے

مَعَكُمْ حَتّٰى تُؤْتُونِ مَوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ لَتَأْتُنَّنِي بِهٖٓ

تاسو سره تر هغې چې راکړئ ماته پوخ لوظ د الله په نوم، چې خامخا راولئ ماته دے

إِلَّآ أَنْ يُّحَاطَ بِكُمْ ۚ فَلَمَّآ اٰتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ قَالَ اللّٰهُ

مګر که ګیر شئ [illegible] تاسو، پس هرکله چې ورکړو هغه ته لوظ پوخ خپل، نو اووئیل الله

عَلٰى مَا نَقُولُ وَكِيلٌ ﴿٦٦﴾ وَقَالَ يٰبَنِيَّ لَا تَدْخُلُوا

په هغه [illegible] چې وایو مونږ [illegible] اووئیل ای ځامنو زما مه ورننوځئ

مِنْۢ بَابٍ وَّاحِدٍ وَّادْخُلُوا مِنْ أَبْوَابٍ مُّتَفَرِّقَةٍ ۚ

د دروازې یو نه، او ورننوځئ [illegible] د دروازو جدا جدا نه

وَمَآ أُغْنِي عَنْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ۚ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا

او نه شم بچ کولے تاسو [illegible] د الله نه هیڅ شے، نشته واک اختیار مګر

لِلّٰهِ ۚ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۚ وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ ﴿٦٧﴾

د الله [illegible] په هغه توکل کړے دے ما او په هغه دې توکل وکړي [illegible]

وَلَمَّا دَخَلُوا مِنْ حَيْثُ أَمَرَهُمْ أَبُوهُمْ ۚ مَا كَانَ

او هرکله چې داخل شول هغوی [illegible] چې امر کړے وو دوی ته پلار د دوی، نه وو چې

يُغْنِي عَنْهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا حَاجَةً فِي

[illegible] د حکم د الله نه هیڅ شے، لاکن یو حاجت وو په

نَفْسِ يَعْقُوبَ قَضٰىهَا ۚ وَإِنَّهٗ لَذُو عِلْمٍ لِّمَا

زړه د یعقوب کښې، پوره یې کړو، او یقیناً هغه خاوند د علم وو د هغه

عَلَّمْنٰهُ وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٦٨﴾ وَ

چې علم ورکړے وو مونږ هغه ته، ولاکن زیات د خلقو نه پوهیږي، او هر

لَمَّا دَخَلُوا عَلٰى يُوسُفَ اٰوٰٓى إِلَيْهِ أَخَاهُ قَالَ

کله چې داخل شول په یوسف، ځان ته یې راکړو ځان سره رور خپل، او وئیل

منزل ۳

هغه به لوړ [illegible] تسهیل [illegible]

لَا تَدْخُلُوا مِنْۢ بَابٍ وَّاحِدٍ چې کله هغوی مصر ته داخلیدل نو [illegible] یعقوب علیه السلام ورته [illegible] د داخلیدو طریقه اوخودله. مفسرین لیکي چې یعقوب علیه السلام پیرته [illegible] نظر لګیدو نه ویریدلو، [illegible] نظر لګیدل حق دي. (روح المعاني [illegible]، [illegible]، جصاص [illegible]، قرطبي [illegible]، روح المعاني [illegible]، ابن جریر [illegible]، ابن کثیر [illegible]، مظهري [illegible]، الهام الرحمٰن [illegible] تقریباً د ټولو تفسیرونو حوالے ذکر دي). د شاه [illegible] القرآن رحمه الله فرمائي یعقوب علیه السلام چې د بد نظر نه ویریدلو معلومه شوه چې بد نظر حق دے [illegible] د هغه [illegible] سبب دے [illegible] او [illegible] په بد نظر [illegible] دے [illegible] د بد نظر نه [illegible] په وخت به سړي [illegible] چې الله تعالیٰ د [illegible] برکت ورکړي او چې نظر ولګي نو بیا به دغه سړے [illegible] اوږدو [illegible] مستعمل [illegible] مریض [illegible] او [illegible] به [illegible] (الفتح [illegible])

وَلَمَّا دَخَلُوا مِنْ حَيْثُ أَمَرَهُمْ أَبُوهُمْ [illegible] د دے ایت نه [illegible] پلار حال [illegible] وصیت مطابق مصر ته داخل شو او یوسف [illegible] خپل ورور [illegible] حکمت سره [illegible] کړو. [illegible] جواب [illegible] ای [illegible] ما قضی الله [illegible] شوه هغه چې [illegible] (البحر [illegible])

إِلَّا حَاجَةً لاکن یو حاجت وو په زړه د یعقوب علیه السلام کښې. قَضٰىهَا چې ښکاره یې کړو. پس وصیت [illegible] (مظهري [illegible]) [illegible] ایت کریمه کښې [illegible] د [illegible] په [illegible] ایت کښې [illegible] او [illegible] وَلَمَّا دَخَلُوا [illegible] په دے ایت کریمه کښې د یوسف علیه السلام د رور [illegible] داخل [illegible] هغوی [illegible] ښکاره [illegible] دي.

جَعَلَ السِّقَايَةَ: سقايه او صواع د پيالې دوه نومونه دي څکه چې په دې سره دا پاچا اوبه څښلې او ورسره به يې غله هم تلله. او په ځينو تفسيرونو کې راغلي چې دواړه يو شي دي، پيالې ته سقايه او صواع وايي. إِنَّكُمْ لَسَارِقُونَ:
ابوبکر رازي رحمه الله وايي:

إِنِّي أَنَا أَخُوكَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٦٩﴾
يقيناً زه ورور ستا يم، پس مه خفه کېږه په هغه کارونو چې دوى به کول
فَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ السِّقَايَةَ فِي رَحْلِ
پس هر کله چې تيار کړ دوى لره سامان د دوى (او کېښوده) جام په بار د
أَخِيهِ ثُمَّ أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ أَيَّتُهَا الْعِيرُ إِنَّكُمْ لَسَارِقُونَ ﴿٧٠﴾
ورور خپل کښې، بيا اعلان وکړو اعلان کوونکي چې اے قافلې والو يقيناً تاسو خامخا غله کوونکي ياست
قَالُوا وَأَقْبَلُوا عَلَيْهِم مَّاذَا تَفْقِدُونَ ﴿٧١﴾ قَالُوا نَفْقِدُ
او وئيل دوى او مخامخ شول هغوى ته: څه شے ورک کړى دے تاسو؟ او وئيل هغوى ورکه
صُوَاعَ الْمَلِكِ وَلِمَن جَاءَ بِهِ حِمْلُ بَعِيرٍ وَأَنَا بِهِ
کړې مونږ پيمانه د پاچا، او هغه چا ته چې راوړي هغه بار د اوښ دے، او زه په هغه
زَعِيمٌ ﴿٧٢﴾ قَالُوا تَاللَّهِ لَقَدْ عَلِمْتُم مَّا جِئْنَا لِنُفْسِدَ
ضامن يم، او وئيل دوى: قسم په الله چې يقيناً تاسو پوهه يئ چې نه يو راغلي مونږ چې فساد
فِي الْأَرْضِ وَمَا كُنَّا سَارِقِينَ ﴿٧٣﴾ قَالُوا فَمَا
وکړو په زمکه کښې او نه يو مونږ غلا کوونکي، او وئيل هغوى پس څه دے
جَزَاؤُهُ إِن كُنتُمْ كَاذِبِينَ ﴿٧٤﴾ قَالُوا جَزَاؤُهُ مَن
بدله سزا د هغه که چرته يئ تاسو دروغژن، او وئيل دوى: بدله د هغه څوک
وُجِدَ فِي رَحْلِهِ فَهُوَ جَزَاؤُهُ كَذَٰلِكَ نَجْزِي
چې بيا موندے شي پيمانه په بار د هغه کښې، پس هغه بدله ابزار د هغه دے، همدغسې بدله ورکوو
الظَّالِمِينَ ﴿٧٥﴾ فَبَدَأَ بِأَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَاءِ أَخِيهِ
ظالمانو ته، پس شروع وکړه په بارونو د دوى مخکښې د بار د ورور خپل نه،
ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَا مِن وِعَاءِ أَخِيهِ كَذَٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ
بيا راوويستله هغه د بار د ورور خپل نه، همدغسې تدبير جوړ کړو مونږ د يوسف دپاره،
مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ الْمَلِكِ إِلَّا أَن يَشَاءَ
نه وو هغه چې نيولے يې وے ورور خپل په قانون د پاچا کښې، مګر کېدے شي چې هغه اوغواړي

ترجمه کښې کړې دي دوه ترجيح دي: (١) دا ترجيح ده د هغه چې دوى د يوسف عليه السلام سره کړې وو، معنى دا شوه: يا تاسو غله يئ چې يوسف مو د پلار نه پټ کړے وو. (٢) دا قول د مؤذن وو بغير د امر د يوسف عليه السلام نه. (مطلب دا چې دا الزام د غلا هغه په ګمان غالب سره وکړو) (السراج المنير) وَأَنَا بِهِ زَعِيمٌ: حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائي چې دا خبره د باب د ضمان او کفالې نه ده. (ابن کثير) قَالُوا تَاللَّهِ: ديکښې دوى خپله صفائي ذکر کړې. جَزَاؤُهُ مَن وُجِدَ: يعنې غلا ګر به د مالک د غلا مرئي ګرزي په عوض د غلا کښې (احسن التراجم) فَبَدَأَ بِأَوْعِيَتِهِمْ: د دوى نه مخکښې د ورور نه بارونه لټون وکړو چې شکيات نه شي. كَذَٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ: دلته سوال دا دے چې په دې کار سره خو يعقوب عليه السلام ته ډېر تکليف ورسيده؟ نو جواب او شو چې دغه رنګې تدبير مونږ د يوسف عليه السلام نه جوړ کړے وو. ابن کثير فرمائي چې دا تدبير محبوب او مراد دے کوم چې الله تعالى ته محبوب او پسند دے، څکه چې په دې کښې حکمت او مصلحت مطلوبه وه. (ابن کثير) يعنې د يوسف د ورور پاتې کېدو تدبير خدائي تعالى وفرمائيلو چې هم دا طرز عمل او هغه تعالى قادر بادشاه هم دغسې وکړل خدائ تعالى د خپلو ګرانو حاجت پوره کوي. (احسن التراجم)

مَا كَانَ لِيَأْخُذَ: د بادشاه قانون دا هم او دغه چې د غلا بدله تاوان وو. (ايضاً)

اِنْ يَّسْرِقْ خامنو د یعقوب علیه السلام چه دا واقعه اولیده نو د شرم نه یې سرونه ښکته کړل او ورته وئیل که چرته بنیامین غلا کړې وي نو ورله د ده د مور ورور هم غلا کړې ده (مظهری ۳۲۳/۵)، فَاَسَرَّهَا يُوْسُفُ

اللّٰهُ ۭ نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ ۭ وَفَوْقَ كُلِّ ذِيْ عِلْمٍ

الله، اوچتوو درجې د هغه چا چې زمونږ خوښه شي، او د پاسه د هر خاوند د علم نه

عَلِيْمٌ (٧٦) قَالُوْٓا اِنْ يَّسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ اَخٌ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ ۚ

عالم شته، او وئیل دوی که دې غلا کړې ده نو تحقیق غلا کړې وه ورور د ده مخکښې

فَاَسَرَّهَا يُوْسُفُ فِيْ نَفْسِهٖ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ ۚ قَالَ

نو پټه کړه دا خبره یوسف په زړه کښې او ښکاره یې نکړه دوی ته، او و وئیل

اَنْتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۚ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا تَصِفُوْنَ (٧٧) قَالُوْا

تاسو ناکاره یئ په مرتبه کښې، او الله ښه پوهیږي په هغه چه تاسو یې بیانوئ، او وئیل

يٰٓاَيُّهَا الْعَزِيْزُ اِنَّ لَهٗٓ اَبًا شَيْخًا كَبِيْرًا فَخُذْ اَحَدَنَا

اے عزیزه یقیناً د ده پلار دے ډیر زوړ، نو واخله یو زمونږ

مَكَانَهٗ ۚ اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ (٧٨) قَالَ مَعَاذَ

په ځائي د ده، یقیناً مونږ وینو تا له د احسان کوونکو نه، او وئیل هغه پناه غواړم

اللّٰهِ اَنْ نَّاْخُذَ اِلَّا مَنْ وَّجَدْنَا مَتَاعَنَا عِنْدَهٗٓ ۙ اِنَّآ

په الله چې ونیسو مونږ بغیر د هغه چا نه چې موندلی دے مونږ سامان خپل د هغه سره یقیناً مونږ

اِذًا لَّظٰلِمُوْنَ (٧٩) فَلَمَّا اسْتَيْـَٔسُوْا مِنْهُ خَلَصُوْا

په دغه وخت کښې ظالمان یو، پس هر کله چې نا امیده شو دوی د هغه نه نو جدا شو

نَجِيًّا ۭ قَالَ كَبِيْرُهُمْ اَلَمْ تَعْلَمُوْٓا اَنَّ اَبَاكُمْ قَدْ

مشوره کړے، او وئیل مشر د دوی آیا تاسو نه پوهیږئ چې یقیناً پلار ستاسو اخستے

اَخَذَ عَلَيْكُمْ مَّوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ وَمِنْ قَبْلُ مَا

وو ستاسو نه پوخ لوظ د الله په نوم، او مخکښې د دې نه هم هغه

فَرَّطْتُّمْ فِيْ يُوْسُفَ ۚ فَلَنْ اَبْرَحَ الْاَرْضَ حَتّٰى

قصور کړے تاسو په باره د یوسف کښې، پس هرګز به نه ځم د دې زمکې نه تر دې

يَاْذَنَ لِيْٓ اَبِيْٓ اَوْ يَحْكُمَ اللّٰهُ لِيْ ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ (٨٠)

چې اجازه راکړي ما ته پلار زما، او یا فیصله وکړي الله زما، او الله ښه فیصله کوونکے دے

منزل ۳

لخه فرمائي چه دا ضمیر د هغه ستنې خبرې ته راجع ده، اَنْتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا (ابن کثیر ۲۳۵/۲)، معنیٰ دا شوه چه پټه کړه دا خبره یوسف علیه السلام په زړه کښې او ښکاره یې نکړه دوی ته، او زړه کښې یې اووئیل چه تاسو بدې مرتبه کښې یئ. وَاللّٰهُ اَعْلَمُ، دا جمله یې ښکاره اووئیله.......

فائده، یوسف علیه السلام ته د غلا چه نسبت کښې د دوی ورونړو له طرفه کړے شو اقوال ذکر شوي دي (۱) مولانا عثمانی رحمه الله فرمائي چه دا اشاره نه یوسف علیه السلام طرفته ده، د جمله یکبارګي تابتولو د پاره محض په تعصب او عناد سره یې بنیامین باندې جرم پوخ کړو او دوسره خبره ته یې هم په یوسف علیه السلام معصوم باندې د دروغو تهمت لګولو سره د ده شرمیدل. (ص ۳۲۳ عثمانی)

(۲) سعید بن جبیر فرمائي چه یوسف علیه السلام د مور له طرفه نیکه کافر وو د بتانو عبادت به یې کولو نو مور یې یوسف ته امر کړے وو چه دغه بتان تری پټ کړه او مات یې کړه شاید چه هغه په بت پرستئ پریږدي نو دا فعل یې کړے وو او دا سرقه وه (کرماني ص ۱۰۱ مظهري، فتح الرحمٰن به حواله ذکر الحر ص ۳۷۵) او نوره اقوال دا دي (مختصر الکلام ص ۲۲۵) نو دا خو حقیقت کښې غلا نه وه بلکه بت شکني وه. قَالُوْا يٰٓاَيُّهَا الْعَزِيْزُ، دوی اوس عزیز نه د رحم خواست وکړو چه د ده پلار ډیر زیات بوډا دے، د ده صدمه به برداشت نکړي. د ده په ځائي دا زمونږ یو ورور د ده په ځائي زمونږ نه بل څوک ایسار کړه. قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ، نو یوسف

علیه السلام اوفرمائیل چه د ظلم نه پناه د خدائي غواړم، مونږ خو به هغه صرف هغه ایسار کړو چه زمونږ مال د هغه سره شوے دے. اِلَّا په معنیٰ د بیرون د (مظهری ۳۲۳/۵)، فَلَمَّا اسْتَيْـَٔسُوْا او دې ته ښائي نه د وللم حال ده ته پرې پورته شي. یعنی کله چه دوی د بنیامین د واپسئ نه نا امیده شو نو څانله مشوره نے وکړه نو مشر ورور د دوی زما مانجری قوله بیان کړه او د پیائے د ورونړو لاړل او پلار له حالات بیان کړل (باقی په بل مخ)

(بقیه) او هغوی ورته په ورېښم غل د مصر د ټللو حکم اوکړو. فَلَنْ أَبْرَحَ الْأَرْضَ: پس هېڅکله به زه اوله نشم د زمکې د مصر نه تر دې چه اجازه اوکړي ماته پلار زما او یا فیصله وکړي الله تعالیٰ ما لره د با عزت واپس کېدلو یعنې عزیز مصر ما سره زور پرېږدي.

ارْجِعُوٓا إِلَىٰٓ أَبِيكُمْ فَقُولُوا يَٰٓأَبَانَآ إِنَّ ٱبْنَكَ سَرَقَ
واپس شئ پلار خپل ته، پس او وایئ اے پلاره زمونږ! یقیناً خوئ ستا غلا وکړه،
وَمَا شَهِدْنَآ إِلَّا بِمَا عَلِمْنَا وَمَا كُنَّا لِلْغَيْبِ حَٰفِظِينَ ﴿٨١﴾
او ګواهي نه کوو مونږ مګر په هغه چه مونږ ته خبر شو او نه یو مونږ د غیبو ساتونکي.
وَسْـَٔلِ ٱلْقَرْيَةَ ٱلَّتِى كُنَّا فِيهَا وَٱلْعِيرَ ٱلَّتِىٓ أَقْبَلْنَا
او تپوس وکړه د کلي هغه نه چه مونږ وو په کښې دغه او د قافلې هغه نه چه راغلي یو مونږ په
فِيهَا ۖ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿٨٢﴾ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ
هغې کښې، او یقیناً مونږ رښتوني یو. او وئیل یعقوب بلکه ښائسته کړي تاسو ته
أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ عَسَى ٱللَّهُ أَن
نفسونو ستاسو یو کار، پس (ما لره) ده صبر ښه. زیات امید دے چه الله تعالیٰ راولي ...
يَأْتِيَنِى بِهِمْ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٨٣﴾
ماته ... دوي ... ټول، یقیناً هغه هم پوهه د حکمت والا دے.
وَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ وَٱبْيَضَّتْ
او اوګرځېده د دوي نه، او وئیل اے افسوس زما په یوسف، او سپینې شوې
عَيْنَاهُ مِنَ ٱلْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيمٌ ﴿٨٤﴾ قَالُوا تَٱللَّهِ
سترګې د هغه د غم او خپګان نه، پس هغه ډک شو د خپګان نه. او وئیل دوي قسم په الله
تَفْتَؤُا تَذْكُرُ يُوسُفَ حَتَّىٰ تَكُونَ حَرَضًا
همېشه به ته یادوې یوسف تر دې چه شې به ... رنځور
أَوْ تَكُونَ مِنَ ٱلْهَٰلِكِينَ ﴿٨٥﴾ قَالَ إِنَّمَآ أَشْكُوا
او یا به شې د مړو ... نه. او وئیل هغه یقیناً شکایت کوم زه د
بَثِّى وَحُزْنِىٓ إِلَى ٱللَّهِ وَأَعْلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا
درد خپل او غم خپل الله ته، او پوهېږم زه د الله تعالیٰ د طرف نه په هغه چه
تَعْلَمُونَ ﴿٨٦﴾ يَٰبَنِىَّ ٱذْهَبُوا فَتَحَسَّسُوا مِن
تاسو پرې نه پوهېږئ. اے ځامنو زما لاړ شئ، او ... د لټوئ

(د ښکته حاشیه) ارْجِعُوٓا إِلَىٰٓ أَبِيكُمْ: واپس شئ پلار خپل ته او د هغه په خدمت کښې عرض وکړئ چه ګټه بابا زمونږ مجبوري د غلا اوکړه او ګواهي نه کوو مونږ مګر په هغه چه مونږ ته خبر شو یعنې د اصل حقیقت مونږ ته علم نشته او نه مونږ د غیب پېژندونکي یو او ګوري (وَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ): او مخ یې واړولو د دوي نه. او وئیل: هائے افسوس دے په یوسف باندې او سپینې شوې سترګې د ده د غم (د ژړا) نه. ابن عباس رضي الله عنهما وائي چه د حزن نه مراد ژړا ده ځکه چه غم د ژړا سبب وي (اساس). سوال: ولې چه دے وخت کښې خوئ بنیامین د جدائي غم وو؟ جواب: واقع چه دے غم د یوسف علیه السلام تازه کړو په نوي غم زوړ غم یاد وي. قائل دے او رو اوي نبي علیه السلام لره چه ورسره د لره غم خو انسان ته ځکه انسان پیدا شوي دے چه ما لک د نفس نه وي په وخت د غم کښې له دې ده ځنه سپي ستائنه اوکړه د صبر ده. او یقیناً ژړلي دي نبي علیه السلام په خوئ خپل ابراهیم باندې او فرمائيلي وو: (العين تدمع والقلب يحزن ولا نقول الا ما يرضى الرب وانا عليك يا ابراهيم لمحزونون) او یقیناً ناکاره ... کوئل دي او سینه او زړه او ... دي او جامې شلول دي (امداد الرحمٰن) او کولو روح مېشته حرضا: یعنې تر دې چه مړ شي (خازن) إِنَّمَآ أَشْكُوا بَثِّى وَحُزْنِىٓ إِلَى ٱللَّهِ: یقیناً شکایت کوم د غم خپل الله ته یعنې نه نه شکایت کوم ستاسو نه او نه غیر ستاسو نه (مظهر و ...) بَثِّى وَحُزْنِىٓ: پرېشاني (اضطراب) او غم خپل (شیخ الهند). فَتَحَسَّسُوا: پس تپوس اوکړئ د یوسف د ښه پورې یعنې یوه د الله تعالیٰ د رحمت امید او د هغه د غضب وېره ایمان دے (احسن الترکیم ۳۲).

فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَيْهِ: د دے ځائې نه تر ۹۲ پورې د دریم ځل حال دے ... په دریم ځل داخل د ورونړو د
یوسف علیه السلام دی مصر ته. او د غلے د غلو خواست کول او د تصدق مطالبه کول او د یوسف علیه السلام حال

يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلَا تَايْـَٔسُوا مِنْ رَّوْحِ اللَّهِ
یوسف ۳ او ورور د هغه او مه نا امیده کیږئ د رحمت د الله تعالیٰ
إِنَّهُ لَا يَايْـَٔسُ مِنْ رَّوْحِ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكٰفِرُونَ ﴿٨٧﴾
یقیناً شان دا دے چې نه ناامیده کیږي د رحمت د الله تعالیٰ نه مګر قوم کفر کوونکي
فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَيْهِ قَالُوا يٰٓأَيُّهَا الْعَزِيزُ مَسَّنَا وَ
پس هر کله چې راننوتل په هغه او وئیل اے عزیزه رسیدلے دے مونږ ته او
أَهْلَنَا الضُّرُّ وَجِئْنَا بِبِضٰعَةٍ مُّزْجٰةٍ فَأَوْفِ
اهل زمونږ ته تکلیف او راوړے ده مونږ پانګه کمه کړه نو پوره راکړه
لَنَا الْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَا إِنَّ اللَّهَ يَجْزِي
مونږ ته پیمانه او صدقه وکړه په مونږ سره یقیناً الله تعالیٰ بدله ورکوي
الْمُتَصَدِّقِينَ ﴿٨٨﴾ قَالَ هَلْ عَلِمْتُمْ مَّا فَعَلْتُمْ
خیرات ورکوونکو ته. او وئیل یوسف ۳ آیا تاسو خبر یئ په هغه چې کړي وو تاسو
بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذْ أَنْتُمْ جٰهِلُونَ ﴿٨٩﴾ قَالُوٓا
د یوسف ۳ او د ورور د هغه سره کله چې تاسو ناپوهه وئ. او وئیل دوی
أَءِنَّكَ لَأَنْتَ يُوسُفُ قَالَ أَنَا يُوسُفُ وَهٰذَآ أَخِي
آیا یقیناً ته خامخا ته یوسف یې وے وئیل زه یوسف یم او دا مې ورور دے
قَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا إِنَّهُ مَنْ يَّتَّقِ وَيَصْبِرْ فَإِنَّ
یقیناً احسان کړے الله تعالیٰ په مونږ یقیناً شان دا دے چې څوک تقوی کوي او صبر کوي نو بې
اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٩٠﴾ قَالُوا تَاللَّهِ
یقیناً الله تعالیٰ نه بربادوي اجر د نیک عمل کوونکو. او وئیل دوی قسم دے په الله
لَقَدْ اٰثَرَكَ اللَّهُ عَلَيْنَا وَإِنْ كُنَّا لَخٰطِـِٔينَ ﴿٩١﴾
یقیناً غوره کړے ته الله تعالیٰ په مونږ باندې او یقیناً یو مونږ خامخا خطا کوونکي
قَالَ لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ
او وئیل هغه نشته ملامتیا په تاسو باندې نن ورځ. بخښنه دې وکړي الله تعالیٰ تاسو ته

وښیل او د هغه په فضیحت دوی اقرار کول دی. مَسَّنَا وَأَهْلَنَا الضُّرُّ: او خبرو نه ختم وکړه د یوسف علیه السلام په دوی ترس واخلی (معارف ...). بِبِضٰعَةٍ مُّزْجٰةٍ: معیوب، ناقص او برابر. (روح المعاني) وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَا: د دے کلمه توجیه حاشیه کې لیکلے دی. (۱) احسان او کړه په مونږ په رعایت کولو سره په نرخ کښے. (۲) صدقه ما لاو کړه او لږ قیمت را نه قبول کړه. (۳) زیاتی راله راکړه په حق زمونږ کښې باندې. (۴) صدقه وکړه په مونږ په بیا واپس کولو د ورور زمونږ د مانیے. (اکثر روح المعاني، قرطبي) قَالَ هَلْ عَلِمْتُمْ: علامه سلف او نور لیکلی دی چې کله دوی او وئیل مَسَّنَا وَأَهْلَنَا الضُّرُّ او د عاجزی اظهار وکړه هغه ته او مطالبه یے وکړه د هغه نه په صدقه کولو په دوی باندې نو ستر ګے یے ډ اوښکو نه ډکے شوے او قابو یے د انشو چه ځان په ورته اوښودلو. (معارف القرآن)
لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ: حضرت اقرا وکړو په بهترین د یوسف علیه السلام او د خپل خطائی نو حضرت اوفرمائیل چې په تاسو څه ملامتیا نشته وئیلی یے نبی علیه السلام هم د فتح مکے په وخت کښې هم فرمائیلي دي. یقیني زه دا هم هغه څه وایم چه زما ورور یوسف علیه السلام وئیلی وو. لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ. (در منثور ص ۳۴ ج ۴)
(د را تسلونکی څو حاشیه ۲)
إِذْ هَبُوا بِقَمِيصِي: د دے ځائې نه تر اخره حال. یوسف علیه السلام خپل

قمیص اولیږو او په یعقوب علیه السلام ئے خوشخبري اولګیدله او هغه بینا شو. محققین فرمائي چه پوهه شو چې یوسف علیه السلام
چه کړے دل د دے قمیص په څنګ د یعقوب علیه السلام موجب د وایي د نظر د هغه دی دا په وحی د الله تعالیٰ او هغه ته ...

یقین دی او وئیلي چې زه د هغه قمیص د شفاء ... ځکه چې هم د هغه د قمیص د شفاء (مدارک ص۲۳۵) إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ
یقیناً زه بیا مومم خوشبوئي د یوسف. فائده: د ښار د مصره کنعان ته پورې د ابن عباس رضی الله عنهما د روایت مطابق
د اته ورځو د مسافت لاره وه.

وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴿٩٢﴾ اذْهَبُوا بِقَمِيصِي هَٰذَا
او هغه ډېر رحم کوونکی د ټولو رحم کوونکو دی. بوځئ قمیص زما دا

فَأَلْقُوهُ عَلَىٰ وَجْهِ أَبِي يَأْتِ بَصِيرًا وَأْتُونِي
بیا واچوئ دا په مخ د پلار زما، شي به لیدونکی، او راولئ ما ته

بِأَهْلِكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٩٣﴾ وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيرُ قَالَ
کورنۍ خپله ټوله. او کله چې جدا شوه قافله (د مصره) او وئیل

أَبُوهُمْ إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ ۖ لَوْلَا أَن تُفَنِّدُونِ ﴿٩٤﴾
پلار د دوی: یقیناً زه خامخا بیا مومم خوشبوئي د یوسف که تاسو ما ته بې عقل او بېوقوفه نه وایئ

قَالُوا تَاللَّهِ إِنَّكَ لَفِي ضَلَالِكَ الْقَدِيمِ ﴿٩٥﴾ فَلَمَّا
او وئیل دوی: قسم دی په الله، یقیناً ته خامخا په محبت پخواني کښې یې. پس هرکله چې

أَن جَاءَ الْبَشِيرُ أَلْقَاهُ عَلَىٰ وَجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيرًا ۖ
راغلو زېری ورکوونکی، واچوه هغه قمیص په مخ د هغه، پس وګرزېده لیدونکی

قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا
وئیل: ایا نه وو وئیلي ما تاسو ته؟ یقیناً زه پوهېږم له طرفه د الله تعالی هغه چې

تَعْلَمُونَ ﴿٩٦﴾ قَالُوا يَا أَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا
تاسو پرې نه پوهېږئ. وئیل دوی: ای پلاره زمونږ! بخښنه وغواړه مونږ ته د ګناهونو

إِنَّا كُنَّا خَاطِئِينَ ﴿٩٧﴾ قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ
زمونږ، یقیناً مونږ وو خطاکاران. او وئیل هغه: زر دی چې بخښنه به وغواړم تاسو ته

رَبِّي ۖ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿٩٨﴾ فَلَمَّا دَخَلُوا
له ربه خپله، یقیناً هغه ښه بخښونکی مهربان دی. پس هرکله چې داخل شول

عَلَىٰ يُوسُفَ آوَىٰ إِلَيْهِ أَبَوَيْهِ وَقَالَ ادْخُلُوا
دوی په یوسف، ځای ورکړو هغه ځان سره مور او پلار خپل ته، او وئیل: داخل شئ

مِصْرَ إِن شَاءَ اللَّهُ آمِنِينَ ﴿٩٩﴾ وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ
مصر ته که غواړي الله تعالی امن والا. او پورته کړل مور او پلار خپل

او حضرت حسن فرمائي چې اتیا فرسخه یعنې تقریباً دوه نیم سوه میله فاصله وه الله تعالی د دومره لرې نه د یوسف علیه السلام د قمیص بوئ ور ورسولو. او هغوی خوشبوئي د یعقوب علیه السلام دماغ ته ورسوله. او دا د هغې نه دوه چې کله یوسف علیه السلام د کنعان په کوهي کې پروت وو د ډېرو ورځو نزدې وو نو په هغه وخت کې دا خوشبوئي نه وه رسولې. د دې نه معلومه شوه چې معجزه د پیغمبر په اختیار کې نه وي بلکه درحقیقت معجزه د پیغمبر قول او فعل نه وي دا راساً د الله تعالی فعل وي چې کله الله تعالی اراده وکړي نو معجزه ظاهره کړي او چې کله اذن خداوندي نه وي نو نزدې شی هم لرې کېږي (معارف ص۱۹۰) لَفِي ضَلَالِكَ الْقَدِيمِ یقیناً ته په مینه د یوسف کښې خطا یې چې هېڅ شی نه هېروې او نه ترې غافله کېږې.

(کرمني) فَلَمَّا أَنْ جَاءَ الْبَشِيرُ زېری والا چې کله ورته زېری ورکړو نو یعقوب علیه السلام او ورته پوښتنه وکړه چې یوسف څنګه دی او په کوم دین دی هغه ووئیل په اسلام نو هغوی وفرمایل الآن تمت النعمة (قرطبي ص۲۶۰)

سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ ابن عباس رضی الله عنهما فرمائي چې دا روستو کړو دعا لپاره د شپې نه (قرطبي ص۲۶۲)

فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَىٰ يُوسُفَ د داخلېدو حال دا چې کله یعقوب علیه السلام د ټول اهل و عیال سره مصر ته د یوسف علیه السلام خوا ته ورسیدو نو هغه والدین ځان ته ورنیږدې کړل او هغوی استقبال ته د ښار نه بهر ورغلی وو او وې وئیل چې مصر ته داخل شئ که د الله تعالی رضا وي په امن سره. فائده: بعضې مفسرین وائي چې مور یې مړه وه او دویمه ښځه یې مور (خاله) مراد ده. ابن جریر فرمائي چې نه وه قائم شوې دلیل په مرګ د مور د هغه او ظاهر د قرآن ئې دلالت کوي په ژوندي د هغې (ابن کثیر ص۴۹۱)

وَخَرُّوا لَهُ سُجَّدًا، او پریوتل دوی ته سجده کوونکي. فائده: یا معنی ئې دا ده چه خرواله سجدا چه پریوتو دوی ده وجه د سجدې د ده نه سجده کوونکي الله تعالی ته. او یا دا چه دوی یوسف په منزله د قبلې او ګرځولو او ډیر شکر سجده ئې الله تعالی ته اوکړه (ابن کثیر ج ۲)

عَلَى الْعَرْشِ وَخَرُّوا لَهُ سُجَّدًا ۖ وَقَالَ يَا أَبَتِ

په تخت باندې. او پریوتل ټول خلق ده سجده کوونکي او ووئیل ئې اے پلاره زما

هَٰذَا تَأْوِيلُ رُؤْيَايَ مِن قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي

دا تعبیر د خوب زما دے مخکښې د دې نه یقیناً ګرځولو خوب لره ربّ زما

حَقًّا ۖ وَقَدْ أَحْسَنَ بِي إِذْ أَخْرَجَنِي مِنَ السِّجْنِ

رښتیا، او یقیناً نیکی ئې کړې ده ما سره کله ئې چه راوویستلم د جیل خانې نه،

وَجَاءَ بِكُم مِّنَ الْبَدْوِ مِن بَعْدِ أَن نَّزَغَ الشَّيْطَانُ

او راوستلو تاسو لره د بانډو نه، پس د هغې نه چه فساد اچولے وو شیطان

بَيْنِي وَبَيْنَ إِخْوَتِي ۚ إِنَّ رَبِّي لَطِيفٌ لِّمَا يَشَاءُ ۚ

په مینځ زما او مینځ د رونړو زما کښې، یقیناً رب زما ښه تدبیر کوونکے دے د هغې

إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ ۝١٠٠ رَبِّ قَدْ آتَيْتَنِي مِنَ

خبرې، یقیناً هغه په هر څه پوهه او حکمت والا دے ۝ اے ربه زما یقیناً ورکړې تا ما ته حصه

الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِي مِن تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ ۚ

د باچاهۍ نه او ښودلې دې ما ته د حقیقت د خبرو نه،

فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَنتَ وَلِيِّي فِي الدُّنْيَا

اے پیدا کوونکیه د اسمانونو او زمکې! ته امداد دې زما نه په دنیا

وَالْآخِرَةِ ۖ تَوَفَّنِي مُسْلِمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ ۝١٠١

او اخرت کښې، وفات کړې ما لره مسلمان او پیوسته کړې ما د نیکانو سره۔

ذَٰلِكَ مِنْ أَنبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ ۖ وَمَا

دا بعضې د خبرونو د غیب نه دي، چه وحی ئې کوو تا ته — او نه وې

كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ أَجْمَعُوا أَمْرَهُمْ وَهُمْ يَمْكُرُونَ ۝١٠٢

ته د دوی سره، کله ئې چه اتفاق کولو دوی په خپل کار کښې او دوی مکر کوونکي ول:

وَمَا أَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِينَ ۝١٠٣ وَمَا

او نه دي زیات د خلقو نه، او اګر چه ته حرص کوې، ایمان راوړونکي: او نه

حافظ ابن کثیر فرمائي چه دا جائز وه د هغوی په شریعت کښې د زمانې د ادم نه تر شریعت د عیسیٰ پورې او په دې شریعت کښې حرامه شوه او سجده خاصه شوه په دربار د رب سبحانه وتعالیٰ پورې. مبحث دا بحث په سورة بقره کښې ذکر شوے دے او کورئ ایت ۳۴. ولله هُم مفسرین فرمائي چه دا اختنام وو خلکو چه عجمو کښې عادت وو (روح ج ۵۹)

هَٰذَا تَأْوِيلُ رُؤْيَايَ: یوسف علیه السلام د ځان نه د تکبر لرې کولو د پاره دا وفرمائیل چه دا تعبیر د خوب زما دے او بیا احسانات د باري تعالیٰ ذکر کوي. لَطِيفٌ: احسان کوونکے دے د بندګانو سره یا عالم دے په باریکو شیونو باندې.

رَبِّ قَدْ آتَيْتَنِي: په دې ایت کښې په نعمت ظاهري چه بادشاهي ده او په نعمت باطني چه علم دے او په اسماء حسنیٰ سره چه فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ دے توسل نیولے دے د یوسف علیه السلام.

ذَٰلِكَ مِنْ أَنبَاءِ الْغَيْبِ: دې ځائي نه تتمه د سورت ده او په دې کښې شپږ خبرې دي (۱) صداقت د رسول ۱۰۲ (۲) زجر په اعراض د توحید او په دلائلو د توحید باندې او په کړولو د شرک د ایمان سره ۱۰۳، ۱۰۵، ۱۰۶ (۳) انذار په تبلیغ ۱۰۸ (۴) جواب د سوال د مشرکانو ۱۰۹ (۵) تسلي ۱۱۰ ... (۶) صداقت د قرآن ۱۱۱

وَمَا يُؤْمِنُ اَكْثَرُهُمْ: او ايمان نه راوړي زيات د دوی نه مګر حال دا دے چه دوی (د ايمان سره سره) هم شرک کوي. الهام الرحمن ص۲۹۳، ص۴۹۳ کښے احقر تقريباً ۱۰ مصداق په ذکر کړي دي هغه دے مطالعه کړی. حاصل

تَسْـَٔلُهُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۭ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۴﴾

غوښتے د دوی نه په دے تبليغ څه اجر نه دے دا قرآن مګر نصيحت دے د ټولو خلقو

وَكَاَيِّنْ مِّنْ اٰيَةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ يَمُرُّوْنَ

او ډيرے دلائل د توحيد دي په اسمانونو او زمکه کښے، تيريږي دوی په

عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ وَمَا يُؤْمِنُ

دے باندے او دوی د دے نه اعراض کوی او ايمان نه راوړي

اَكْثَرُهُمْ بِاللّٰهِ اِلَّا وَهُمْ مُّشْرِكُوْنَ ﴿۱۰۶﴾ اَفَاَمِنُوْٓا

زيات د دوی په الله مګر دوی شرک کوي ايا امن کښے شو دوی

اَنْ تَاْتِيَهُمْ غَاشِيَةٌ مِّنْ عَذَابِ اللّٰهِ اَوْ تَاْتِيَهُمُ

چه راشي دوی ته پټونکے عذاب د عذاب د الله څخه او يا راشي دوی ته

السَّاعَةُ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ قُلْ هٰذِهٖ

قيامت ناڅاپه او دوی به خبر نه وي او وايه دا

سَبِيْلِيْٓ اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ ۣ عَلٰى بَصِيْرَةٍ اَنَا وَمَنِ

لاره زما ده چه بلنه کوم الله ته په دليل سره زه او هغه چه

اتَّبَعَنِيْ ۭ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ وَمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۰۸﴾

تابعداري کړي زما او پاکي ده الله لره او نه يم زه د شرک کونکو نه

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ

او نه دي ليږلي مونږ ستا نه مخکښے مګر سړي چه وحي کوله مونږ هغوی ته

مِّنْ اَهْلِ الْقُرٰى ۭ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ

د اوسيدونکو د کلو نه ايا پس دوی نه ګرځي په زمکه کښے

فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ

پس وګوري چه څنګه وو انجام د هغه کسانو چه مخکښے د دوی نه وو

وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ اتَّقَوْا ۭ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۰۹﴾

او خامخا کور د آخرت غوره دے د هغه کسانو د پاره چه تقوی کوي ايا پس عقل نه کوئ

نے دا دے چه د هر خلق دا عقيده ده چه الله تعالیٰ خالق، رازق، مالک الملک دے او په مصيبتونو کښے ورته نعرے هم وهي او ځينے عبادتونه هم کوي. خو د دے باوجود شرک هم کوي د بارئ نه سوا نور عالم الغيب، مشکل کشا، مدد ګاران د غيبي چغو حقدار ګڼي. الوسي ﷫ فرمائي چه بعض د دغو نه عبادت کونکي د قبرونو دي چه نذرونه ورله مني. او عقيده د نفع او ضرر لري د ضعيفانو چه الله ﷻ به پوهه شي په حال د دوی او داکسان په دے وخت کښے زيات دي د چيچو نه (روح ص۶۵)

قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ او وايه دا زما لاره چه بلنه کوم توحيد د الله ﷻ او ايمان ته په هغه باندے اخلاص د هغه د پاره. (اکوکب الدراري ص۴ او السعود. عَلٰى بَصِيْرَةٍ: په واضحه بيان او حجت باندے يم (روح ص۶۵). وَمَنِ اتَّبَعَنِيْ: او هغه چه ايمان ئے راوړے په ما باندے (قاسمي ص۹۹)

فائده: په مَنْ کښے نارينه او زنانه دواړه داخل دي ځکه چه مَنْ په معنیٰ د الذي او التي دواړه راځي. ابن باز ﷫ فرمائي چه واجب دي په امر کونکي او منع کونکي باندے چه وي په بصيرت او په علم باندے برابره ده که سړي وي او که ښځه او که داسے نه وي نو بنده به څه وکړي الله ﷻ فرمائي قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ (فتاوی ابن باز ص۳۳)

وَمَآ اَرْسَلْنَا: دا جواب د سوال مقدر دے چه دا څنګه کيدے شي چه د الله ﷻ پيغمبر دے وي او دا بشر هم وي. (جواهر ص۵۳۲)

حَتّٰٓى اِذَا اسْتَيْـَٔسَ الرُّسُلُ: دا د سورة خبر رسره وعده وصلي ده حتي دا انبياء سابقينو ته به دېر ناوخت مصيبتونه راتلل مګر اخري کاميابي به هم د دوی وه. حَتّٰٓى د وَمَآ اَرْسَلْنَا سره متعلق دے (جواهر ص ۵۲۲) په كُذِبُوا كښے دوه قراتونه دي. د عائشه په قرات كښے كُذِّبُوا د تشديد سره. او ظن په معنى د ګمان دے او مراد د تكذيب نه تكذيب تابعدارانو د رسولانو دي. معنى ئے دا شوه چه مصائب به راغلل تر دے چه نا اميده به شو رسولان د ايمان د قومونو څخه او ګمان به وکړو رسولانو چه نسبت د دروغو شو دوى ته د جانبه د تابعدارانو د دوى نه تو راغے دوى ته امداد زمونږ. کوری بخاري ج۲ ص ۶۸۰ او ابن کثیر ص ۴۹۷ جواهر ص ۵۲۲. او په بل قرات كُذِبُوا د ے بے شده. نو معنى دا شوه تر دے چه ګمان يا يقين به وکړو قومونو چه دا پيغمبران چه دي دروغ ورسره اوشو يعني وعده خلاف ورسره اوشوه د جانبه د الله. يا معنى دا شوه چه ګمان به وکړو قومونو چه مونږ سره دروغ اوشو د جانبه د پيغمبرانو نه عذاب خو راغے. اوګوره مدارك ج۲ ص۲۳۰. لَقَدْ كَانَ: په دے ايت كښے تصديق د کتاب الله دے په څلور وجهو سره. (۱) د دروغو واقعه نه ده (۲) تصديق دے (۳) تفصيل دے (۴) هدى (۵) رحمت دے.

امتيازات: (۱) تفصيلي واقعه د يوسف عليه السلام (۲) قرآن احسن القصص دے (۳) د يوسف عليه السلام خوب ليدل (۴) د دوو ځوانانو خوب ليدل (۵) د باچا خوب ليدل ۴۳

سُوۡرَةُ الرَّعۡدِ: وجه د تسميه دا ده چه د رعد لفظ په ايت ۱۳ كښے راغلے دے. دعوى: رد د شرك في الدعاء ۱۴ او دعوى د توحيد څلور ځله ۱۳، ۱۶، ۳۰، ۳۶. ربط ئے: (۱) دعوى د توحيد ثابتوى په عقلي

حَتّٰٓى اِذَا اسْتَيْـَٔسَ الرُّسُلُ وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوْا

(حتى چه) نا اميده شول رسولان او ګمان ئے وکړو چه بيشکه دوى ته دروغ ويلي شوي دي (راغله)

جَآءَهُمْ نَصْرُنَا ۙ فَنُجِّيَ مَنْ نَّشَآءُ ۗ وَلَا يُرَدُّ بَاْسُنَا

راغله دوى ته امداد زمونږ نو خلاص کړے شو هغه څوک چه مونږ اوغواړو او نه شي ګرځولے عذاب زمونږ

عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۱۰﴾ لَقَدْ كَانَ فِيْ قَصَصِهِمْ

عذاب زمونږ د قوم مجرمو نه. يقيناً شته په بيان د دوى كښے

عِبْرَةٌ لِّاُولِي الْاَلْبَابِ ۗ مَا كَانَ حَدِيْثًا يُّفْتَرٰى

عبرت د پاره د خاوندانو د عقلونو. نه دے دا قرآن قصه داسے چه جوړه شوے (وي)

وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيْلَ

او لاکن تصديق د هغه کتابونو دے چه مخکښے د دے نه دي او تفصيل د

كُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۱۱۱﴾

هر شي دے او هدايت دے او رحمت دے د هغه قوم د پاره چه ايمان راوړي

سُوۡرَةُ الرَّعۡدِ ۱۳ — ۹۶ — مدنية — اٰیاتها ۴۳ — رکوعاتها ۶

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الٓمّٓرٰ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ ۗ وَالَّذِيْٓ اُنْزِلَ اِلَيْكَ

الله خبر دے په مراد د دے حرفونو. دا ايتونه د کتاب دي او هغه چه نازل کړے شوے تا ته د

مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا

جانبه د رب ستا نه حق دي او لاکن زيات د خلقو نه ـ ـ ـ ايمان

يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ رَفَعَ السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ

نه راوړي. الله تعالى هغه ذات دے چه اوچت کړي اسمانونه بغير

عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ وَ

د ستنو نه تاسو ئے وينئ دي بيا برابر شو دے په عرش باندے او

دلائلو سره د نقليو نه (۲) هغه نقلي وو د پيغمبرانو نه دلته نقلي د ملائکو نه ۱۳. (۳) هلته صداقت رسول عليه السلام ذکر شو ۱۰۲ دلته د قرآن د هغه شبهو کوي چه راتلي په رسالت باندے ۳۰ (۴) هلته اول او اخر كښے صداقت د قرآن وو او دلته هم اول (باقي په بل مخ)

(بقیه) او په ۳ کښې صداقت د قرآن بیان دے ۔ اجمالی خلاصه، شیخ القرآن رحمه الله، په مطالب د رعد کښې دا سورت په شپږو بابونو تقسیم کړے دے. (۱) تر ۲ پورے (۲) تر ۱۵ پورے (۳) تر ۲۱ پورے (۴) تر ۲۲ پورے (۵) تر ۲۷ پورے (۶) تر آخره پورے. تفصیلی خلاصه،

سَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ
تابع کړے دے لمر او سپوږمۍ هر یو چلیږي — د نیټې
مُّسَمًّى يُدَبِّرُ الْأَمْرَ يُفَصِّلُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُم
مقرر شوي پورے، تدبیر کوي د ټولو کارونو، جدا جدا بیانوي آیتونه دپاره د دے چه
بِلِقَاءِ رَبِّكُمْ تُوقِنُونَ ﴿٢﴾ وَهُوَ الَّذِي مَدَّ الْأَرْضَ
په ملاقات د رب ستاسو یقین وکړئ. او الله هغه ذات دے چه خور کړے ئې ده زمکه
وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنْهَارًا وَمِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ
او ګرځولي ئې دي په دے کښې مضبوط غرونه او ویالې، او د هر قسمه میوو نه
جَعَلَ فِيهَا زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ يُغْشِي اللَّيْلَ
پیدا کړي شوي دي په دے کښې جوړه دوه، پټوي په شپه
النَّهَارَ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٣﴾
ورځ، یقیناً په دے کښې ښکاره دلائل دي د هغه قوم دپاره چه فکر کوي.
وَفِي الْأَرْضِ قِطَعٌ مُّتَجَاوِرَاتٌ وَجَنَّاتٌ مِّنْ
او په زمکه کښې ټکړے شوي دي یو بل سره جوخت، او باغونه دي د
أَعْنَابٍ وَزَرْعٌ وَنَخِيلٌ صِنْوَانٌ وَغَيْرُ صِنْوَانٍ
انګورو، او فصل وَدے او کجورے دي یو بیخ والا او غیر یو بیخ والا،
يُسْقَىٰ بِمَاءٍ وَاحِدٍ وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلَىٰ بَعْضٍ
خړوبیږي ټول په یو قسم اوبو سره، او غوره کړو مونږ بعضے د دغو نه په بعضو باندے
فِي الْأُكُلِ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٤﴾
په خوند کښې، یقیناً په دے کښې ښکاره دلائل دي د هغه قوم دپاره چه عقل لري.
وَإِن تَعْجَبْ فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ أَإِذَا كُنَّا تُرَابًا
او که ته تعجب کوے نو عجیب دے وینا د دوي، آیا کله چه شو مونږ خاورے
أَإِنَّا لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا
آیا مونږ به بیا په نوي پیدائش کښې یو، دا هغه کسان دي چه کفر ئې کړے

منزل ۳

ع

انزل

(۶) تر آخره پورے. تفصیلی خلاصه، په اول باب کښې څلور خبرے دي. (۱) ترغیب کتاب ته (۲) دریم عقلي دلائل سره د شبهه و رکولو نه (۳) زجر په نه منلو د آخرت او عذاب غوښتلو سره (۴) جواب د سوال دے. د الَّذِي أُنزِلَ إِلَيْكَ مفتي صاحب فرمائي چه د کتاب نه مراد قرآن دے او د الَّذِي أُنزِلَ إِلَيْكَ نه واضح کیدے شي چه قرآن ته مراد شي لیکن وا د عطف د اغیاري چه کتاب او الَّذِي أُنزِلَ إِلَيْكَ دوه خبرے جدا جدا وي. په دے صورت کښې د کتاب نه مراد قرآن او د الَّذِي أُنزِلَ إِلَيْكَ نه مراد هغه وحي ده چه د قرآن نه علاوه په رسول کریم صلی الله علیه وسلم باندے نازل وي څکه چه په دے کښې خبر شته کلام نفلي کیدے شي چه په رسول کریم صلی الله علیه وسلم باندے نازل شي وحي معروف په قرآن کښې نشته او نه د وحي غیر متلو صحیح) وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ، وا مثال د قول د الله تعالیٰ دے (وَمَا أَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِينَ) یعنی سره د دے بیان او ښکاره والي او وضاحت نه زیات د دوي نه ایمان نه راوړي ځکه چه په دوي کښې شقاق او عناد او نفاق دے. (ابن کثیر ج ۲) الْكُبْرَىٰ ثُمَّ اسْتَوَىٰ یعنی دا آسمان اوچت کړی دے بغیر د ستنو نه چه تاسو ئې وینئ. د دے ځائی نه عقلي دلائل.

د دے لوي حاشیه

زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ یعنی پیدا کړي دي د هر قسمه د قسمونو د میوو موجودو نه په دنیا کښې دوه قسمونه او دوه صنفونه شیان په رنګ کښې لکه سپینه تورو یا په خوند کښې لکه خوږه او تروه او یا په قدر کښې لکه وړه او لویه او یا په کیفیت کښې لکه ګرمه او یخه او هغه ځا په دي د دوه شمیره (روح ج ۱۳) صِنْوَانٌ: جمع د صنو دے. دا هغه کجورے دي چه د یو جمع کوي ددوي لوړه په یو ستنه او خوریږي په ډیرو ښاخونو کښې وګرځي په پیر کجورے (قرطبي ج ۹) صنوان هغه پیرے کجورے چه ستنه ئې یو وي او غیر صنوان چه جدا جدا وي (تسهیل ج ۲) بعضې په یوه بیخ نه ډیرو ښاخونو والا او بعضې غیر ښاخ شوے نه (فتح الرحمن ج ۲) چه د دیره ونده دوه ښاخونه وتلي وي باقي په بل مخ

(بقیه) او غیر ضروری څه په بناولو غږ دې ... (فضل القرآن ترجمه ۳۳) وَاِنْ تَعْجَبْ که ته ... ډیر عجیب کوئې نو ډیر عجیبه خبره ده
نو د دوی دا خبره چه انکاره دویم ژوندون ... هغه هم تعجب ده (فضل القرآن ترجمه ۳۳۹)۔

بِرَبِّهِمْ ۚ وَأُولَٰئِكَ الْأَغْلَالُ فِي أَعْنَاقِهِمْ ۖ وَأُولَٰئِكَ

په رب خپل باندې او دغه کسان، طوقونه ... په غاړو د دوی کښې ... او دغه

أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ۝٥ وَيَسْتَعْجِلُونَكَ

کسان خاوندان د اور دي، دوی به په دې کښې همیشه اوسیدونکي وي، او جلتي غواړي دوی

بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ وَقَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمُ

ستا نه عذاب مخکښې د نیکئ (راحت) نه او حال دا چه یقیناً تیر شوي دي مخکښې د

الْمَثُلَاتُ ۗ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ لِلنَّاسِ عَلَىٰ

دوی نه عبرتونه، او یقیناً رب ستا خاوند د بخښنې دې د پاره د خلقو سره د

ظُلْمِهِمْ ۖ وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ الْعِقَابِ ۝٦ وَيَقُولُ

ظلم د هغوی نه، او یقیناً رب ستا خامخا ډیر سخت عذاب والا دې، او وائي

الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِنْ

هغه کسان چه کفر یې کړې دې ولې نه دې نازل کړې شوې په ده باندې معجزه د

رَبِّهِ ۗ إِنَّمَا أَنْتَ مُنْذِرٌ ۖ وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ ۝٧ اللَّهُ

رب د ده نه، یقیناً ته وېره ورکونکې یې او د هر قوم د پاره لار ښودونکې دې، الله

يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنْثَىٰ وَمَا تَغِيضُ

پوهېږي په هغه چه بار وړي یې هره ښځه، او په هغه چه کموي

الْأَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ۖ وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ

رحمونه، او په هغه چه زیاتوي یې، او هر شي د الله تعالی سره په

بِمِقْدَارٍ ۝٨ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْكَبِيرُ

اندازه دې، خبر دې په پټو او په ښکاره و باندې، ډیر لوئي

الْمُتَعَالِ ۝٩ سَوَاءٌ مِنْكُمْ مَنْ أَسَرَّ الْقَوْلَ وَ

او چت دې، برابر دي ستاسو نه په علم د الله کښې هغه څوک چه پټه کړي وینا او

مَنْ جَهَرَ بِهِ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍ بِاللَّيْلِ وَ

هغه چه ښکاره کړي وینا، او هغه څوک چه پټېدونکې وي د شپې ... او

(د دې صفحې حاشیه)

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ دا رجوع ده په طلب غوښتلو د کفارو عذاب اېسره او گوره ۳۲ انفال۔ الْمَثُلَاتُ مثلة جمع ده۔ هغه ابرته جمع د مثلة ده۔ د دې معنی دا ده سزا او ده چه انسان د نورو مخکښې عبرت کړي او د نورو د پاره د عبرت ذریعه جوړه شي۔ (معارف ۱۶۳) عَلَىٰ ظُلْمِهِمْ د نبي ﷺ نه روایت دې فرمائي سره د دې چه خلق گناهونه کوي او د الله تعالی نافرماني کوي او چه خپلو ځانونو ظلم کوي، مگر بیا هم الله تعالی د توبه ایستو نه معافي کوي مگر د هغه عذاب هم یرلوئي دې ... د هغه د عذاب ورکولو قدرت هم لري۔ (جواهر ۳۵) وَيَقُولُ الَّذِينَ ... د رحمت کفارو لوړ په غرم اخستي معجزه غوښتلو باندې دې۔

إِنَّمَا أَنْتَ مُنْذِرٌ یقیناً ته خو وېره ورکونکې یې معجزه راوړل ستا په اختیار کښې نه دي۔ وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ دا مستقله جمله ده یعني د هر قوم د پاره لار ښودونکي شته۔ اللَّهُ يَعْلَمُ د دې خاي نه تر ۱۳ پورې دویم باب او په دې کښې هم څلور خبرې دي (۱) عقلي دلیل په دې او ۱۳ کښې (۲) نقلي د ملائکو نه ۱۳ (۳) نقلي د ټیرو نبي الدعاء تفریع په ولا یملکون (۴) مثال د مشرکانو د پاره سره د تخویف نه ۱۳ په دې ۹-۱۰ آیتونو کښې اثبات د علم غیب د الله دې۔ وَمَا تَغِيضُ الْأَرْحَامُ مراد ترې نه شیره اولاد دې ځکه چه رحمونه مشتمل دي په ښو لودو او ورې او نقص گړد باندې۔ او یا مراد

جسد د ولد دې چې کله پوره وي او کله نا تمام (۳) او یا مراد موده د ولادت ده ځکه کم د څو میاشتو نه وي او زیات هم وي
پورې ۲ او ۲ کاله (فتح) ... د ایکسرې نه الله هم د دې حقیقت لره د کولادو نه قاصر ده د دې حقیقي او یقیني علم صرف د الله ﷻ
د کیډ نه شي د دې بیان په یو بل آیت کښې شوې۔ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ ۳۴ لقمان (معارف ۱۶۳، ۱۶۵/۵)۔

لَهٗ مُعَقِّبٰتٌ ، د بنده د پاره مقرر دي ملائک چه نوبت په نوبت په بنده راځي خو کيداري په شپه کښې او خو کيداري په ورځ کښې
(ابن کثير ص۵۰۴) مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ ، (مِنْ سببيه ده يعنې حفاظت ئے کوي د ضرر د نو نه په سبب د امر د الله تعالیٰ دوي ته په دے

سَارِبٌۢ بِالنَّهَارِ ﴿۱۰﴾ لَهٗ مُعَقِّبٰتٌ مِّنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ

[illegible]

وَمِنْ خَلْفِهٖ يَحْفَظُوْنَهٗ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا

[illegible]

يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ ؕ وَاِذَاۤ

[illegible]

اَرَادَ اللّٰهُ بِقَوْمٍ سُوْٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهٗ ۚ وَمَا لَهُمْ

[illegible]

مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّالٍ ﴿۱۱﴾ هُوَ الَّذِيْ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ

[illegible]

خَوْفًا وَّطَمَعًا وَّيُنْشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ ﴿۱۲﴾ وَ

[illegible]

يُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ وَالْمَلٰٓئِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهٖ ۚ

[illegible]

وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيْبُ بِهَا مَنْ يَّشَآءُ

[illegible]

وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ فِي اللّٰهِ ۚ وَهُوَ شَدِيْدُ الْمِحَالِ ﴿۱۳﴾

او دوي جګړه کوي په توحيد د الله تعالیٰ کښې، او الله سخت قوت والا دے۔

لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ ؕ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ

[illegible]

لَا يَسْتَجِيْبُوْنَ لَهُمْ بِشَيْءٍ اِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ اِلَى الْمَآءِ

[illegible]

لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَالِغِهٖ ؕ وَمَا دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ

[illegible]

بانديے راورسي (ص ۲۳۱) اَوْ مَا بِمَعْنٰى لام دے او مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ نه يعنې د دے وجے نه چه الله تعالیٰ امر کړے دے ورته په حفاظت د بنده خپل (مدارک ص۲۳۴)

ف : بل تفسير دا دے چه لَهٗ مُعَقِّبٰتٌ کښې د ضمير راجع دے الله تعالیٰ ته (قرطبي ص۲۹۴) نو معنیٰ دا ده چه الله تعالیٰ لره ملائک دي چه نوبت په نوبت خپرږي حفاظت کله چه د شپے ملائک د ورځے ته ورسره شي ملائک د ورځے۔

اِنَّ اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ : خاص دا د چه د الله تعالیٰ د طرفه د انسانانو حفاظت د پاره د فرښتو پهره په دے دي تر کله چه کوم قوم د الله تعالیٰ د احسان شکر او د هغه اطاعت پريږدي، بد عملي سره کردار او سرکشي اختيار کړي، نو الله تعالیٰ هم خپله حفاظتي پهره وچته کړي بيا د الله تعالیٰ قهر او غضب په دوي راځي چه د هغه نه د بچ کيدو هيڅ صورت نه پاتے کيږي (معارف ص۲۹۸)

الصَّوَاعِقَ : تندرونه۔ د امام احمد په سند راځي د ابو سعيد خدري نه چه نبي صلی الله علیه وسلم فرمائيلي دي چه تندرونه به ډېر شي په وخت د نزدے والي د قيامت کښے (ابن کثير ص۵۰۷)

شَدِيْدُ الْمِحَالِ : او الله تعالیٰ د سخت تدبير او قوت والا دے (غريب القرآن ص۲۹۳) د سخت قوت والا دے (تسهيل ص۲۹۳)

لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ : واپس نيئي د تير شوي ولا نکو ده۔ شاه صاحب ليکي خاص الله تعالیٰ لره ده بلنه حق (فوائد ص۳۲) ف : يعني هر کله چه هر ځه صرف الله تعالیٰ کولے شي او په هر څه صرف هغه پوهه دے نو هغه بلنه د قانون شي ده۔ او د کل ما سوا الله بلنه داسے بے فائدے ده لکه چوتړے او بوټه او زکوي چه ۴/۱ ــ راشی زه تيرے يم نو اوبه دا د دوئي بلنه نه خبرے دي او نه ئے د راتلو طاقت شته دغسے کل ما سوا الله بے طاقته او بے خبره دي عجز او بے خبري د مخلوق سره لازمه ده۔ لکه قدرت کامله او علم محيط چه صرف د الله تعالیٰ صفت دے نو صرف هغه حاجت روا دے په دغه خبره زور او رغبته (افضل التراجم ص۲۳۹) (باقي په بل مخ)

(بقيه)

ف: معلومیږي په دے نا اُمیدي ذهغه چاچه فریاد رسي کوي په غیر الله باندے آگرکه وي ولي ژوندے وي او که مړه او خوره شوے دا بلا او عامه شوے دا بلوا (مسائل سلوک ذ ترها نوي" ص ۱۹۹) (د دے مخ حاشیه)

ضَلٰلٍ (۱۴) وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

گمراهئ کښے دی ۔ او خاص الله ته سجده کوي هغه څوک چه په اسمانونو کښے دي او په زمکه کښے

طَوْعًا وَّكَرْهًا وَّظِلٰلُهُمْ بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ (۱۵) قُلْ

په خوښه او په ناخوښئ سره ۔ او سورے ددوي ۔ په سحر کښے او په بیګا وخت کښے ۔ او وایه

مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ قُلِ اللّٰهُ ؕ قُلْ

څوک دے رب د اسمانونو ۔ او د زمکے ۔ او وایه الله تعالیٰ دے ۔ او وایه

اَفَاتَّخَذْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖۤ اَوْلِيَآءَ لَا يَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ

آیا پس نیولي دي تاسو سوا د هغه نه مددګاران ۔ چه واک نه لري د ځانونو خپلو

نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا ؕ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ۙ

د پاره د ګټے او نه د ضرر ۔ او وایه آیا برابر دي ړوند ۔ او بینا ؟

اَمْ هَلْ تَسْتَوِي الظُّلُمٰتُ وَالنُّوْرُ ۚ اَمْ جَعَلُوْا لِلّٰهِ

آیا څه برابري ۔ تورتمونه ؟ او رڼا ۔ آیا مقرر کړي دي دوي الله تعالیٰ له

شُرَكَآءَ خَلَقُوْا كَخَلْقِهٖ فَتَشَابَهَ الْخَلْقُ عَلَيْهِمْ ؕ قُلِ

شریکان ۔ چه پیدا کړي دي هغوي ۔ په شان د پیدا کولو د الله ۔ پس ګډ وډ شو پیدا کول په دوي باندے

اللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ (۱۶) اَنْزَلَ

او وایه الله تعالیٰ پیدا کوونکے د هر شي دے او هغه ۔ یو ۔ زورور دے ۔ را لیږلے دے

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتْ اَوْدِيَةٌۢ بِقَدَرِهَا فَاحْتَمَلَ

بره نه ۔ اوبه ۔ پس وبهیدي ۔ خوړونه ۔ په اندازه د خپله ۔ پس راوچت کړو

السَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًا ؕ وَمِمَّا يُوْقِدُوْنَ عَلَيْهِ فِي النَّارِ

سیلاب ۔ زګ ۔ اوچت ۔ او د هغه شي نه چه ګرموي دوي هغه لره په اور کښے ۔

ابْتِغَآءَ حِلْيَةٍ اَوْ مَتَاعٍ زَبَدٌ مِّثْلُهٗ ؕ كَذٰلِكَ يَضْرِبُ

د پاره د غوښتلو د ګاڼو ۔ او د سامان ۔ ږګونه وي ۔ مثل د هغه ۔ دغه شان بیانوي

اللّٰهُ الْحَقَّ وَالْبَاطِلَ ؕ فَاَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ

الله تعالیٰ (مثال) د حق او د باطل ۔ پس هر چه زګ دے ۔ پس لاړ شي ۔

ولِلّٰهِ يَسْجُدُ ۔ د دے خاتمه ترو ۲۵ پورے دریم باب دے او په دیکښے څیر خبرے دي (۱) عقلي دلیل ۱۵ (۲) رد د مشرکانو ۱۶ (۳) ذکر د مثالونو د مؤمنانو ۱۸ (۴) مثال د قرآن ۱۹ (۵) آنډه صفتونه د مؤمنانو او بشارت ۲۰ تر ۲۴ (۶) تخویف اخروي او دوے صفتونه د مشرکانو ۲۵ ۔ طَوْعًا په خوښئ سره یعني ملائک او مؤمنان ۔ وَکَرْهًا یعني منافقان او کافران په حالت د سختئ او تنګوالي کښے (او ګوره مدارک ص ۲۲۵)

وَمِمَّا يُوْقِدُوْنَ عَلَيْهِ ۔ مراد ترے سره او سپین زر وغیره دي چه دے آیت کریمه کښے ذکر د دوه مثالونو دے په باره د مقابلے د حق او د باطل کښے ۔ امام قرطبي رحمه الله فرمائي او دا مثالونه الله تعالیٰ بیان کړي د حق په ثابتوالي او د باطل د کمزوروالي د پاره او باطل نه اوچت شي په بعضے احوالو کښے بس ختمیږي شنګه چه زګونه او خیرې دي (ص ۲۸۴) شیخ القرآن رحمه الله په فرمائیلي باران چه کیږي نو اول دوړے وي نو بیا خرڅ نه راشي د باسه نه ماران وي بیا زګونه خخ او زګې وي ، بیا خوټ او به وي او لاندے ترے نه صافے او به وي ۔ قرآن چه بیان شي نو دوړے شروع شي (فتوے) ماران بدعتیان او خخه او زګي او زګونه د شرکي بیان ۔ سپینے پکړئ د ملایانو دي نو چه څوک نزوے د دریاب زګ او خیرې ته او صافے اوبه او سره زر او سپین زر ستا هغه صافه مسئله ده چه قرار بیا موی او علماء ترے نه مستفید کیږي او چه بناشته بناشته خلقو نو باندے شي (سینه ، مخ ، غوږ ونو) بانډے خلق خاني ور کړي ۔ (او ګوره ي الهام ص ۳۰)

جُفَآءً ۚ وَاَمَّا مَا يَنْفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْاَرْضِ ؕ

بې ځایه : او هر چه هغه دی چه نفع ورکوی خلقو ته : پس ورنګ ایساروی په زمکه کښې

كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ ؕ 17 لِلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا

دغه رنګې بیانوی الله تعالی مثالونه لره : د هغه کسانو دپاره چه خبره یې ومنله

لِرَبِّهِمُ الْحُسْنٰى ؕ وَالَّذِيْنَ لَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهٗ لَوْ اَنَّ

د رب خپل : خوشحالی ده : او هغه کسان چه قبول یې نه کړی الله تعالی لره : که چرې یقینًا

لَهُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّمِثْلَهٗ مَعَهٗ لَافْتَدَوْا

شی دوی لره هغه چه په زمکه کښې دی ټول : او مثل د دې ورسره هم : خامخا به ئې فدیه ورکړې

بِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ سُوْٓءُ الْحِسَابِ ۙ وَمَاْوٰىهُمْ

په هغه : دغه کسان دوی لره بد حساب دے : او ځای د اوسیدو د دوی

جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ؒ 18 اَفَمَنْ يَّعْلَمُ اَنَّمَآ

جهنم دے : او ډیر بد ځای دے تیار شوی : ایا پس هغه څوک چه پوهیږی په یقینًا

اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ كَمَنْ هُوَ اَعْمٰىٓ ؕ

هغه چه نازل کړې شو تا ته : د رب ستا نه حق دی : په شان د هغه چا دے چه ړوند وی

اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۙ 19 الَّذِيْنَ يُوْفُوْنَ

یقینًا پند قبلوی : خاوندان د خالصو عقلونو : داهغه کسان دی چه پوره کوی

بِعَهْدِ اللّٰهِ وَلَا يَنْقُضُوْنَ الْمِيْثَاقَ ۙ 20 وَالَّذِيْنَ

لوظ د الله تعالی : او نه ماتوی : پوخ لوظ لره : او داهغه کسان دی چه

يَصِلُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَيَخْشَوْنَ

پیوست کوی هغه چه امر کړې الله تعالی په هغه چه پیوست د کړې شی : او ویریږی

رَبَّهُمْ وَيَخَافُوْنَ سُوْٓءَ الْحِسَابِ ؕ 21 وَالَّذِيْنَ

د رب خپل نه : او ویریږی د بد حساب نه : او داهغه کسان دی چه

صَبَرُوا ابْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ

صبر کوی د پاره د لټولو د رضا د رب خپل : او اودروی مونځ لره :

لِلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا : په دې ایت کښې د اهل حق د پاره بشارت دے او د اهل باطلو د پاره تخویف اخروی دے. د شاه پور شیخ رحمه الله فرمائی چه څوک د باری تعالی حکم نه منی نو که تمامه دنیا او د دې مثل ورسره وی نو دے به دا ټول مال بدله کړی د دې سخت عذاب نه او د هغه د پاره بد حساب دے داخبر التزام ۳ ؛ لَافْتَدَوْا بِهٖ : ستو خامخا خرما شه به ورکړی په دے سره. دا فرضی مثال دے ځکه چه قیامت کښې مال نه وی.

اَفَمَنْ يَّعْلَمُ : په دې ایت کریمه کښې مقابله ده د د وارو ډلو او د قرآن او توحید مخالف ته ړوند ویلے شوی دے. او د دے نه پس صفات د اهل حق ذکر کوی. یوفون : په دې ایت کښې د د وه قسمه کښې ورکړې شو. ۱۲ کښې مخلوق په ۲۲ کښې. وَالَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ : دا ظاهر دے په صله رحمی کښې او دا قول د قتاده دے او اکثرو مفسرینو دے خوښ کړی دے سره ورسره د نه شاملیږی تولو طاعتونو لره هم قرطبی ۳ (د انتن د محو حاشیه)

وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ : د ابن عباس رضی الله عنهما د قول مطابق معنی د خشیت چه تصدیق نه کړی او ایمان نه راوړی او الله تعالی نه پوهیږی دی. (خازن ۳ ، سورة مومنون اوګوری)

وَالَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ : په دې ایت کښې ورسره نا کاره صفتونه د مخالفینو ذکر سره د تخویف اخروی

وَيُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ : امام رازی رحمه الله فرمائی چه د غه

فسادبلنهٔ دغیرد دین الله تعالیٰ ته. او کله په ظلم کولو سره په نفسونو او مالونو او ورانولو د ښارونو سره وی. دکبیر ص ۳۰ ق ۹)، اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ ۲۶ ؛ د دے مخکی نه تر ۲۰ پورے ځلور باب وے او په دے کښے

وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً وَيَدْرَءُونَ

او خرڅ کوی د هغه څه نه چه ورکړی دی مونږ دوی ته پټ او ښکاره ؛ او دفع کوی ؛ په

بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ أُولَٰٓئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ ﴿٢٢﴾

نیکئ سره بدئ لره ؛ دغه کسان دوی لره ښه انجام د کور روستنئ دے.

جَنَّٰتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ مِنْ ءَابَآئِهِمْ

چه باغونه د همیشوالی دی چه داخلیږی به په دے ؛ او هغه څوک چه نیک وی د پلارانو د

وَأَزْوَٰجِهِمْ وَذُرِّيَّٰتِهِمْ وَالْمَلَٰٓئِكَةُ يَدْخُلُونَ

دوی نه او بیبیانو د دوی نه او د اولاد د دوی نه ؛ او ملائک ؛ داخلیږی ؛ په

عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ ﴿٢٣﴾ سَلَٰمٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ

دوی باندے د هر دروازے نه. (وائی به) سلام دے په تاسو په سبب د صبر ستاسو

فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ﴿٢٤﴾ وَالَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ

پس ښه انجام د کور د آخرت دے ؛ او هغه کسان چه ماتوی لوظ ؛ د

اللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقْطَعُونَ مَآ أَمَرَ اللَّهُ

الله تعالیٰ ؛ پس د مضبوطوالی د هغه نه ؛ او پریکوی هغه چه امر کړے الله تعالیٰ

بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِى الْأَرْضِ

پورے ؛ چه پیوسته د کړے شی ؛ او فساد کوی ؛ په زمکه کښے ؛

أُولَٰٓئِكَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوٓءُ الدَّارِ ﴿٢٥﴾

دغه کسان دوی لره لعنت دے او دوی لره ناکاره ؛ کور دے ؛

اللَّهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ

الله تعالیٰ فراخوی ؛ رزق ؛ د هغه چا د پاره چه د خوښوی ؛ او تنګوی ئے.

وَفَرِحُوا بِالْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا وَمَا الْحَيَوٰةُ

او خوشحاله کړی دوی ؛ په ژوند د دنیا ؛ او نه دے ؛ ژوند ؛

الدُّنْيَا فِى الْءَاخِرَةِ إِلَّا مَتَٰعٌ ﴿٢٦﴾ وَيَقُولُ

د دنیا ؛ په مقابله د آخرت کښے ؛ مګر لګخه ؛ او وائی ؛

شپږ امور دی. (۱) دلیل عقلی ۳۰. (۲) جواب د هغه سوال نه چه وارد یږی په رسالت د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے ۳۸. (۳) بشارت دے مؤمنانو ته ۳۹ (۴) دلیل وحی سره د دعوت د توحید نه ۴۰ (۵) زجر د پاره د انکار کونکو د قرآن نه ۴۱. (۶) تسلی ده رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته ۴۳. اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ، په دے کښے د باری تعالیٰ د لوئی قدرت مظاهره ده چه رزق زیاتوی که او کموی ئے صرف باری تعالیٰ دے نه بل څوک روزی رسان شته او نه په روزئ زیاتولو او کمولو کښے په الله تعالیٰ څوک زور او رشته. (۱ فضل القرآن ج ۳۳۵) او کونیئ روم سے الا متاع، مګر معمولی مزه څه ده. دلته زور د نه ده په محبت د دنیا چه دا سبب د تیرو شوو قبا حتونو دے.

وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا ۲۷ په دے آیت کریمه کښے زور د نه ده کفارو لره په فرمائشی معجزو غوښتلو باندے. او په جواب کښے ئے فرمائی چه ضلالت او هدایت د الله تعالیٰ په اختیار کښے دی. نو دغه رنګے معجزے هم د باری تعالیٰ په اختیار کښے دی. او کونیئ سورت مؤمن ۵۸.

الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا أُنزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِّن
هغه کسان چې کفر ئې کړے دے: ولې نه نازلولے شي په دغه (پیغمبر) معجزه د

رَّبِّهِ ۗ قُلْ إِنَّ اللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي
رب د ده نه: او وایه یقیناً الله تعالیٰ بې لارې کوي چاله چې وغواړي او هدایت کوي

إِلَيْهِ مَنْ أَنَابَ ﴿٢٧﴾ الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ
خپل طرف ته هغه چاته چې رجوع کوي: دا هغه دي چې ایمان ئې راوړے دے: او تسلي اخلي

قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللَّهِ ۗ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ
زړونه د دوی: په یاد د الله تعالیٰ: خبردار په یاد د الله تعالیٰ ـ تسلي اخلي

الْقُلُوبُ ﴿٢٨﴾ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ
زړونه: هغه کسان چې ایمان ئې راوړے: او عمل کوي ئې نیک:

طُوبَىٰ لَهُمْ وَحُسْنُ مَآبٍ ﴿٢٩﴾ كَذَٰلِكَ أَرْسَلْنَاكَ
خوشحالي ده دوی له: او ښه ځائ د دے: دغه رنګ رالیږلے مونږ ته تا ته:

فِي أُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهَا أُمَمٌ لِّتَتْلُوَ
په دا امت کښے چې تیر شوی مخکښے د دوی نه: امتونه چې اولولې ته

عَلَيْهِمُ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَهُمْ يَكْفُرُونَ
په دوی باندے هغه کتاب چې وحي کړے مونږ تاته: او دوی ـ کفر کوي:

بِالرَّحْمَٰنِ ۚ قُلْ هُوَ رَبِّي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ
په مهربان: اعلان او وایه هغه رب زما دے: نشته معبود سوا د هغه: خاص په هغه

تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ مَتَابِ ﴿٣٠﴾ وَلَوْ أَنَّ قُرْآنًا
توکل کړے ما: او خاص هغه ته واپسي ده: او که چرے یقیناً وے: قرآن چې

سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ أَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْأَرْضُ
الوزولے شوے په دے سره: غرونه او یا ټوټے ټوټے کولے شوے په دے زمکه:

أَوْ كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتَىٰ ۗ بَل لِّلَّهِ الْأَمْرُ جَمِيعًا ۗ
او یا خبرے کولے شوے په دے سره مړو سره (نو هم ایمان نه راوړی) بلکه خاص الله لره اختیار دے ټول

وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَنْ أَنَابَ:
او په سمه لاره روانوي خپل طرف ته هغه څوک چې هغه د ګرځي د ده نه معلومه شوه چې هدایت هغه چاته کیږي چې په هغه کښے انابت رجوع حق ته وي. اوګوري سورة شوریٰ هم ۱۳.

أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ:
مخکښے تخصیص نه وو نو دا جمله ئے د تخصیص د پاره ذکر کړه. معنیٰ دا شوه خبردار خاص په ذکر د الله تعالیٰ سره تسلي حاصلوي زړونه.

كَذَٰلِكَ أَرْسَلْنَاكَ:
دلته اثبات د رسالت وشو او په لِتَتْلُوَ عَلَيْهِمْ کښے حکمت د رالیږلو د رسول علیه السلام دے او هُوَ رَبِّي دعویٰ د توحید ده.

وَلَوْ أَنَّ قُرْآنًا (۳۱): په دے آیت کریمه کښے جواب دے د مطالبو د کفارو. هغوی به وئیل چې دا قرآن په حق دے په هغه وخت کښے چې ذرے په وجه غرونه لرے کیدے یا زمکه سوری کیدے یا مړي راژوندي کیدے. حاصل د جواب دا دے که چرے دا کارونه هم اوشي نو دوی ایمان نه راوړي. دلته جواب محذوف دے. لَا يُؤْمِنُونَ. بیا هم ایمان نه راوړي (جواب مقدر) تاسو ئے په سورت انعام ۱۱۱ کښے اوګورئ.

اَفَلَمْ يَايْئَسِ: اکثر مفسرین رحمهم الله فرمائی چه معنی ئے داده ایا نه ده معلومه کړے مؤمنانو (خازن ص۳ ج۲) داجواب د سوال د مؤمنانو دے چه دا معجزے د نبی اکرم ﷺ نه ورکړے شی چه قبول خلق مؤمنان شی. حاصل د جواب وما ابرئ ۱۳

اَفَلَمْ يَايْئَسِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْ لَّوْ يَشَآءُ اللّٰهُ

ایا نه ده پوهه شوی هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے چه که چرته غوښتے الله تعالیٰ

لَهَدَى النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ

نو خامخا هدایت به ئے کړے وے خلقو ټولو ته، او همیشه دی هغه کسان چه

كَفَرُوْا تُصِيْبُهُمْ بِمَا صَنَعُوْا قَارِعَةٌ اَوْ تَحُلُّ

کفر ئے کړے چه ورته رسی به دوی ته په سبب د هغه کارونو چه دوی کوی افت او یا به نازله

قَرِيْبًا مِّنْ دَارِهِمْ حَتّٰى يَاْتِىَ وَعْدُ اللّٰهِ ؕ

کیږی نزدے کورونو د دوی ته، تر دے چه راشی وعده د الله تعالیٰ

اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿۳۱﴾ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ

یقینا الله تعالیٰ خلاف نه کوی د وعدے خپلے نه، او یقینا توهین کړے شوے دے

بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَاَمْلَيْتُ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا

په ډیرو رسولانو پورے مخکښے ستا نه، پس مهلت به ورکړم هغه کسانو ته چه کفرئے کړے

ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ ۫ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ﴿۳۲﴾ اَفَمَنْ

بیا ما ونیول دوی لره، پس څنګه وو عذاب زما (دوی لره)؟ ایا هغه ذات چه

هُوَ قَآئِمٌ عَلٰى كُلِّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ ۚ وَجَعَلُوْا

قائم دے په هر نفس باندے په هغه عمل چه کړے ئے دے (بیا ئے هم جوړ کړی دی) او جوړ کړی دی

لِلّٰهِ شُرَكَآءَ ؕ قُلْ سَمُّوْهُمْ ؕ اَمْ تُنَبِّئُوْنَهٗ بِمَا لَا

او مقرر کړی دی دوی الله لره شریکان. ته ووایه اوښایئ نومونه د دوی، ایا خبر ورکوئ الله ته په

يَعْلَمُ فِى الْاَرْضِ اَمْ بِظَاهِرٍ مِّنَ الْقَوْلِ ؕ

هغه چه نه پوهیږی په زمکه کښے؟ یا په سرسری خبرو د وینا نه؟

بَلْ زُيِّنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مَكْرُهُمْ وَصُدُّوْا

بلکه ښائسته کړے شوے دے هغه کسانو ته چه کفر ئے کړے فریب د دوی او اړولے

عَنِ السَّبِيْلِ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ

شوی دی د سمے لارے نه، او چا لره چه بے لارے کړی الله تعالیٰ پس نشته هغه لره

داده چه هدایت په مشیت د الله تعالیٰ پورے تړلے دے. وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا: داتسلی ده مؤمنانو لره او په لَقَدِ اسْتُهْزِئَ الآیة کښے تسلی ده رسول الله ﷺ لره. اَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ ۳۳: د دے خائی نه تر ۳۷ پورے پنځم باب دے. په دیکښے هم شپږ خبرے دی: (۱) عقلی دلیل ۳۳ (۲) زجر مشرکانو ته په مطالبه د دلیل د هغوی نه ۳۳ (۳) تخویف ۳۴ (۴) بشارت ۳۵ (۵) نقلی دلیل ۳۶ (۶) ترغیب کتاب الله ته ۳۷.

فائده: دلته د قیام نه مراد هغه قیام نه دے کوم چه په مقابله د قعود (ناستے) کښے دے بلکه دا په معنیٰ د تولّی (تصرف) کولو کارونو د خلقو دے (قرطبی ص۳۳۲)

فائده: دلته عبارت محذوف دے (مدارک ص۲ ج۲) اَکَمَنْ دی اَفَمَنْ لَيْسَ كَذٰلِكَ، یعنی آیا هغه چا غوندے دے چه دا ئے نه وی.

قُلْ سَمُّوْهُمْ: او وایه څه صفات خو دے د کړی او ذکر کړی چه په هغو کښے ئے دلے ستاسو په هغوی د حقدار د عبادت ګرزی. (روح ص۱۶۱) اَمْ تُنَبِّئُوْنَهٗ بِمَا لَا يَعْلَمُ ۱۵: ایا خبر ورکوئ الله تعالیٰ ته په هغه چه هغه پرے خبر نه دے. دا کنایه ده د عدم وجود د شریک د باری تعالیٰ نه په زمکه کښے. نسفی رحمه الله لیکی چه الله تعالیٰ عالم دے په هغه څه چه په آسمانونو او زمکه کښے دی. پس هر کله چه الله تعالیٰ په شریک نه عالم نه دے نو معلومه شوه چه دوی هیڅ شی نه دی.

او مراد نفی د موجود والی د شریک نه ده (مدارک ص۲ ج۲) اَمْ بِظَاهِرٍ مِّنَ الْقَوْلِ: یا خبر ورکوی په سرسری خبرو باندے. شاه صاحب رحمه الله فرمائی چه تقلید کوی په خبرو به دلیله کښے (فتح ص۳۰۲) او په روح المعانی ص۱۶۱ ج۱۳ کښے دی چه حاصل د آیت نفی د دلیل عقلی او سمعی ده په حقیقت د عبادت د شریکانو د دوی او په نیولو د هغوی سره معبودان.

هَادٍ ﴿٣٣﴾ لَهُمْ عَذَابٌ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَ

لاره ښوونکی. دوی لره عذاب دی په ژوند دنیاوی کې او

لَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَقُّ وَمَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ

خامخا عذاب د اخرت ډېر سخت دی؛ او نشته دوی لره له طرفه د الله

مِنْ وَّاقٍ ﴿٣٤﴾ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ

څخه ساتونکی. مثال د جنت؛ هغه چه وعده ورکړی شوې ده پرهیزګارانو

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ اُكُلُهَا دَآئِمٌ وَّ

بهیږي لاندې د هغو نه ویالې؛ میوې د هغو همیشه دي؛ او

ظِلُّهَا تِلْكَ عُقْبَى الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّعُقْبَى

سیوری د هغو همیشه دی؛ دغه انجام د هغو کسانو دی چه تقوی کوي؛ او انجام د

الْكٰفِرِيْنَ النَّارُ ﴿٣٥﴾ وَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ

کافرانو اور دی. او هغه کسان چه ورکړې مونږ هغوی ته کتاب

يَفْرَحُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمِنَ الْاَحْزَابِ

خوشحالیږي په هغه چه نازل کړی شوی تا ته؛ او بعضې د دغو ډلو نه

مَنْ يُّنْكِرُ بَعْضَهٗ قُلْ اِنَّمَآ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ

هغه دي چه انکار کوي د بعضې حصې د قران نه. ووایه یقیناً امر کړی شوی دی ما ته چه عبادت

اللّٰهَ وَلَآ اُشْرِكَ بِهٖ اِلَيْهِ اَدْعُوْا وَاِلَيْهِ مَاٰبِ ﴿٣٦﴾

وکړم د الله؛ او شریک نه کړم له هغه سره؛ هغه ته بلنه کوم؛ او هغه ته واپس دی.

وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ حُكْمًا عَرَبِيًّا وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ

او دغسې رالېږلی مونږ دا قران فیصله والا په عربي ژبه؛ او که متابعت وکړې ته

اَهْوَآءَهُمْ بَعْدَ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ

د خواهشاتو د دوی، پس د هغه چه راغلی تا ته د علم (قران) نه، نو نشته تا لره

مِنَ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا وَاقٍ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا

د الله نه څوک مرسته کوونکی او نه ساتونکی. او یقیناً لېږلي دي مونږ

[illegible]

[illegible]

وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ ۔ دا دَ دوېم سوال مقدر جواب دے ۔ کله چه معجزه راوړے نو بیا ئے هم مومنان نه شو وشے فرمائیل چه معجزه راوړل دَ پېغمبر په اختیار کښے نه دی ۔ لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ ۔ دا دَ درېم سوال مقدر جواب دے ۔

رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا وَ

او چه رسولان : مخکښے ستانه : او ورکړی وو مونږ هغوی ته بیبیانے : او

ذُرِّيَّةً ۚ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِيَ بِآيَةٍ

اولاد : او نشته طاقت دَ هیڅ رسول دَ پاره چه راوړی معجزه :

إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۗ لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ ﴿٣٨﴾ يَمْحُو

مگر په اذن دَ الله تعالیٰ سره : دَ هرے نیټے دَ پاره لیک شته دے : ورانوی

اللَّهُ مَا يَشَاءُ وَيُثْبِتُ ۖ وَعِندَهُ أُمُّ الْكِتَابِ ﴿٣٩﴾

الله تعالیٰ هغه چه خوښ ئے وی او باقی ئے پرېږدی : او دَ هغه سره اصلی کتاب دے :

وَإِن مَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ أَوْ

او یا خو به تا ته اوښایو مونږ بعضے هغه عذاب چه وعده ئے کوو دَ دوی سره : او

نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ ﴿٤٠﴾

یا به وفات کړو تا لره : پس یقینا په تا باندے رسول دی او په مونږ باندے حساب کول دی :

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَأْتِي الْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ

او آیا دوی نه گوری چه یقینا مونږ راځو مځکے دَ دوی ته چه کموو هغے لره : دَ

أَطْرَافِهَا ۚ وَاللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ ۚ

طرفونو دَ هغے نه : او الله تعالیٰ فیصله کوی : نشته روستو کوونکے دَ فیصلے دَ هغه :

وَهُوَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿٤١﴾ وَقَدْ مَكَرَ الَّذِينَ

او هغه زر حساب کوونکے دے : او یقینا مکرونه کړی وو هغه کسانو چه

مِن قَبْلِهِمْ فَلِلَّهِ الْمَكْرُ جَمِيعًا ۖ يَعْلَمُ مَا

مخکښے دَ دوی نه وو : پس الله تعالیٰ لره دی تدبیرونه ټول : پوهیږی په هغه

تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ ۗ وَسَيَعْلَمُ الْكُفَّارُ لِمَنْ

چه کړی هر نفس : او زر به پوهه شی کافران : چه چا لره دے

عُقْبَى الدَّارِ ﴿٤٢﴾ وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَسْتَ

ښه انجام دَ کور دَ آخرت : او وائی هغه کسان چه کفر ئے کړے دے : نه ئے ته

سوال مقدر جواب دے ۔ چه کله ئے معجزه نه منونو په معجزه باندے عذاب ولے نه راځی ۔ وے فرمائیل چه دَ معجزے په نزد دَ هرشی دَ پاره وخت مقرر دی ۔ يَمْحُوا اللَّهُ ۔ دا دَ څلورم سوال مقدر جواب دے هر کله چه عذاب خامخا راځی نو دَ منلو نه څه فائده ۔ وے فرمائیل چه محو او اثبات دَ مونږ په اختیار کښے دی کله چه ومنله نو عذاب به لرے شی ۔ (جواهر ص ۵۵۶)

(دَ اشاعت حاشیه)

وَمَنْ عِندَهُ عِلْمُ الْكِتَابِ ۔ مراد تر نه شهادت دَ مومنانو دَ اهل کتاب دے ۔ قرینه په ۳۶ آیت دَ دے سورت کښے ۔ قرطبی رحمه الله فرمائی او دغه غوره دی چه شهادت دَ هغوی قطع کوونکی ورک دَ دوی دَ جګړو کوونکو دپاره او دی مومنانو دَ اهل کتاب دی (ص ۳۳۶) یا تر عام مومنان مراد دی ۔ امتیازات : (۱) دَ رعد ذکر ۱۳ (۲) دیر صفات دَ مومنانو دَ ۲۰ نه (۳) دیر مثالونه دَ پاره دَ فرق دَ شرک او توحید ۱۶ (۴) دفع دَ هغو شبهو چه راځی په رسالت دَ نبی علیه السلام ۳۰ نه (ختم شو ۶:۱۶ بجے په ورځ دَ جمعے ۳ شعبان ۱۴۲۵ ه ۱۷ ستمبر ۲۰۰۴ توحید آباد) الحمد لله چه سورة دَ دوږ تفسیر او دَ دیره مصروفیا تر باوجود نظر ثانی په دے کښے یا لی ختم شو په آخری ورځ دَ شعبان ۱۴۲۸ مطابق

ستمبر ۲۰۰۷ ۔ په توحید آباد تر خو کښے (خادی غفرله) ۔

سورة ابراهیم، وجه د تسمیه په دا ول ۔ ایت ۳۵ کښې د ابراهیم علیه السلام ذکر راغلے دے۔ دعوٰی ترغیب دے تبلیغ ته او تذکیر بایام الله دے ۵۰۔ ۳۲، ربط: مخکښې سورت کښې تبلیغ ته دا بیان شو تو دلته تذکیر ۔ واقعاتو د تیاری او اخری زدے

مُرۡسَلًا ؕ قُلۡ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيۡدًۢا بَيۡنِىۡ وَبَيۡنَكُمۡ

لیږلے شوے، او وایه ته کافی دے الله ګواهی کوونکے په مینځ زما او مینځ ستاسو کښې

وَمَنۡ عِنۡدَهٗ عِلۡمُ الۡكِتٰبِ ۝٤٣

او هغه څوک چه هغه سره پوهه د کتاب ده۔

سُوۡرَةُ اِبۡرٰهِيۡمَ ۱۴ ۔ ۷۲ مَكِّيَّةٌ ۔ اٰيَاتُهَا ۵۲ ۔ رُكُوۡعَاتُهَا ۷

نزولت بعد سورة نوح

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

الٓرٰ ۚ كِتٰبٌ اَنۡزَلۡنٰهُ اِلَيۡكَ لِتُخۡرِجَ النَّاسَ

الٓرٰ، معنیٰ ئې خدائے ته معلوم دی۔ دا عظیم الشان کتاب دے۔ رالیږلے مونږ دے تا ته چه راوباسې خلق ترے د

مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوۡرِ ۙ بِاِذۡنِ رَبِّهِمۡ اِلٰى

تورتمونو نه رڼړا ته ۔ په توفیق د رب د دوی، لارے

صِرَاطِ الۡعَزِيۡزِ الۡحَمِيۡدِ ۝١ اللّٰهِ الَّذِىۡ لَهٗ مَا فِى

د زورور او د ستائلے شوی ته۔ د الله هغه ذات چه د هغه په اختیار کښې

السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الۡاَرۡضِ ؕ وَوَيۡلٌ لِّلۡكٰفِرِيۡنَ

دی هغه چه اسمانو کښې دی او هغه چه په زمکه کښې دی، او هلاکت دے یا ده د کافرانو

مِنۡ عَذَابٍ شَدِيۡدِ ۝٢ ۙ الَّذِيۡنَ يَسۡتَحِبُّوۡنَ

د عذاب سخت نه۔ دا هغه کسان دی چه خوره کوی

الۡحَيٰوةَ الدُّنۡيَا عَلَى الۡاٰخِرَةِ وَيَصُدُّوۡنَ

ژوند د دنیاوی په اخرت باندے، او منع کوی (خلقو لره)

عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَيَبۡغُوۡنَهَا عِوَجًا ؕ اُولٰۤئِكَ

د لارے د الله نه او لټوی هغے لره کوږوالے، دا هغه کسان په

فِىۡ ضَلٰلٍۢ بَعِيۡدٍ ۝٣ وَمَاۤ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ رَّسُوۡلٍ

ګمراهئ لرے کښې دی، او نه دی لیږلے مونږ هیڅ یو رسول

منزل ۳

و هلته صداقت رسول ۴۳ کښې و، دلته تشجیع ده په تبلیغ باندے (۳) هلته عقلی دلائل وو او دلته نقلی تفصیلی دلیل دے ۳۵ ته (۴) هلته هم د ذوات الارواح او دا هم (۵) هلته د رعد نه نقلی دلیل وو او دلته د ابراهیم علیه السلام نه نقلی دلیل دے۔ اجمالی خلاصه: په دے سورت کښې شپږ بابونه دی اول تر ۹ پورے دویم تر ۲۱ پورے دریم تر ۲۷ پورے څلورم تر ۳۴ پورے پنځم تر ۴۲ پورے شپږم تر اخره پورے۔ تفصیلی خلاصه: د اول باب په ویکښې څلور خبرے دی (۱) دعوٰی د سورت ده (۲) عقلی مختصر ده (۳) زجریه مضے د دنیا باندے ده (۴) نقلی دلیل موسیٰ علیه السلام نه۔ لِتُخۡرِجَ النَّاسَ: چه راوباسې خلق لره په کتاب سره چه هغه قرآن دے (قرطبی ص ۳۳۸ ج ۹) مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوۡرِ: یعنی د تورتمونو د کفر او ګمراهئ نه رڼړا د ایمان او د علم ته، او دا بشارت دے په تمثیل سره ځکه کفر په منزله د تورتم دے او اسلام په منزله د رڼړا دے او بیخے ښکاره دی چه د بل عمل نه شنت ته او د شک نه یقین ته (قرطبی ص ۳۳۸) لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ: په هغه لره اسمانونو والا او زمکے والا دی د جهته د ملک او پیدا کړل نه دا نزری ص ۵۵ يَسۡتَحِبُّوۡنَ الۡحَيٰوةَ الدُّنۡيَا: یعنی خوره کوی دے په اخرت باندے (قرطبی ص ۳۳۹ ج ۹) بنده ایت کریمه کښې د کافرانو درے صفتونه ذکر شو۔ وَيَبۡغُوۡنَهَا عِوَجًا: شاه صاحب رحمه الله فرمائی چه په شبهیا توئے تاسوی چه کږه ده۔ (فتح ص ۲۵۸) وَمَاۤ اَرۡسَلۡنَا: تاکید دے په دعوٰی د سورت کښې چه هر رسول لیږلے شوے وو په ژبه د قوم خپل د پاره د بیان۔

إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ ۖ فَيُضِلُّ اللَّهُ

مګر په ژبه د قوم د هغه (رسول) چه بیان کړي هغوی ته (احکام) پس بې لارې کوي الله

مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي مَن يَشَاءُ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٤﴾

چاله چه او غواړي؛ او لاره ښائي چاله چه وغواړي؛ او دا الله زورور او د حکمت والا دی

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا أَنْ أَخْرِجْ قَوْمَكَ

او یقینًا رالېږلی مو موسیٰ په ایتونو خپلو، چه راوباسه قوم خپل

مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَذَكِّرْهُم بِأَيَّامِ اللَّهِ ۚ

د تیارو نه رڼا ته، او پند ورکړه هغوی ته په عبرتناکو واقعاتو د الله

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿٥﴾ وَإِذْ

یقینًا په دې کښې خامخا نخښې دي د هر صبر کوونکي شکر ګزار ته؛ او کله

قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ

چه او وئیل موسیٰ قوم خپل ته: چه یاد کړئ نعمت د الله تعالیٰ په تاسو باندې

إِذْ أَنجَاكُم مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوءَ

کله چه خلاص کړئ تاسو له د فرعون نه؛ چه رسول به یې تاسو ته ناکاره

الْعَذَابِ وَيُذَبِّحُونَ أَبْنَاءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ

عذاب، او حلالول به یې ځامن ستاسو، او ژوندي به یې اخستله؛ د

نِسَاءَكُمْ ۚ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَاءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿٦﴾

ښځو ستاسو؛ او په دې کښې تاسو ته وه امتحان؛ د رب ستاسو له لوري لوی وو؛

وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ ۖ

او کله چه اعلان اوکړو رب ستاسو که چیرې شکر اوکړئ تاسو؛ خامخا زیات به درکړم

وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ ﴿٧﴾ وَقَالَ

تاسو ته، او که چیرې ناشکري اوکړه تاسو، یقینًا عذاب زما خامخا سخت دی، او ووئیل

مُوسَىٰ إِن تَكْفُرُوا أَنتُمْ وَمَن فِي الْأَرْضِ

موسیٰ: که ناشکري اوکړه تاسو او هغه چاچه په زمکه کښې دي؛

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا: دا نقل ولېږه د موسیٰ علیه السلام نه او تخصیص پس د تعمیم نه وشا (جواهر)

وَذَكِّرْهُمْ بِاَيَّامِ اللّٰهِ: او پند ورکړه هغوی ته په هغو واقعاتو چه له طرفه د الله تعالیٰ نه وي. (فتح ص۳۱۰) یعني په هغو خطرناکو باندې چه د مخکینو امتونو په لاره وو. او ویلي شوي دي چه په انعامونو د الله تعالیٰ په بني اسرائیلو باندې، او دا لفظ نعمت او نقمت دواړو له عام دی. (تسهیل)

وَاِذْ قَالَ مُوسٰى: په دې ایت کریمه کښې د ما قبل تفصیل دی. سورة بقره ۴۹ او اعراف ۱۴۱ کښې هم تېر شوي دي.

لَئِنْ شَكَرْتُمْ: که چیرې شکر ویستلو تاسو په کوشش کولو سره په طاعت زما کښې نو خامخا یقینًا زیاتي به درکړم — ورکړم تاسو له به ثواب درکولو کښې (مدارک ص۲۵۵).

اِنْ تَكْفُرُوٓا: جزاء یې پټه ده چه دا خبره کړه چه کفر اوکړو نو الله تعالیٰ ته په هغه نقصان نه رسي رسیږي. ځکه چه یقینًا الله تعالیٰ خامخا غني ستائیلي شوی دی. سورت زمر ۷ هم اوګورئ.

جَمِيعًا فَإِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿٨﴾ أَلَمْ يَأْتِكُمْ

ټول نو : پس یقیناً الله خو غنی ستائيلی شوی دی . آیا ندی رارسیدلی تاسو ته :

نَبَأُ الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ

خبره د هغو کسانو - چه مخکښې ستا سو نه وو ، قوم د نوح؛ او د عادیان او د ثمودیان ؛

وَالَّذِينَ مِن بَعْدِهِمْ لَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا اللَّهُ

او د هغه خلق چه روستو د دوی نه وو : نه پیژنی دوی څوک ، مګر الله تعالٰی ؛

جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَرَدُّوا أَيْدِيَهُمْ

راغلل وو دوی ته رسولان د دوی : په واضحو دلائلو باندې . پس واپس کړل دوی لاسونه

فِي أَفْوَاهِهِمْ وَقَالُوا إِنَّا كَفَرْنَا بِمَا أُرْسِلْتُم بِهِ

خپل په خلو د هغوی کښې : او وئیل یقیناً مونږه کفر کړې دې هغه مسئله چه رالیږلې شوی یئ

وَإِنَّا لَفِي شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَنَا إِلَيْهِ مُرِيبٍ ﴿٩﴾

تاسو سره : او یقیناً مونږه یو خامخا په شک کښې یو د هغه مسئلې نه چه تاسو بلئ مونږه طرف ته یې تردد کښې

قَالَتْ رُسُلُهُمْ أَفِي اللَّهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَ

وئیل رسولانو د دوی ، آیا په توحید د الله کښې شک دې ، چه اول پیدا کونکې د آسمانونو

الْأَرْضِ يَدْعُوكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَ

د زمکې دې ، بلی تاسو لره ، چه بخښنه اوکړی تاسو ته ، د ګناهونو ستاسو نه ، او

يُؤَخِّرَكُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى قَالُوا إِنْ أَنتُمْ إِلَّا

روستو به کړی ، د پاره ستاسو لره ، یعنی مقرر شوی وخت ، وئیل دوی ، نه یئ تاسو ، مګر

بَشَرٌ مِّثْلُنَا تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ

انسانان زمونږ په شان ، اراده کوئ چه واړوئ مونږه لره : د هغې نه چه عبادت

يَعْبُدُ آبَاؤُنَا فَأْتُونَا بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿١٠﴾ قَالَتْ

کولو پلارانو زمونږه ، پس راوړئ تاسو مونږ ته معجزه ، واضح ښکاره : او وئیل

لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِن نَّحْنُ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلَٰكِنَّ

دوی ته : رسولانو د دوی : نه یو مونږه ، مګر انسانان په مثل ستاسو ، او لیکن

أَلَمْ يَأْتِكُمْ ﴿٩﴾ : د دې څائې نه تر ۱۲ پورې دوېم باب دې په دیکښې جدال د مشرکانو دې د انبیاء سره په توحید کښې ﴿٩﴾ او دلیل نزول د هغوی دی په اتباع د پلارانو خپلو ﴿١٠﴾ او د توکل (اینه) دې په الله تعالٰی باندې ﴿١١﴾ ﴿١٢﴾ او نزول د عذاب دې په کافرانو باندې ﴿١٣﴾ . **فائده** : د دې سورت کښې لفظ د اَلَمْ تَرَ څلور ځله ذکر شوی دې (۱) په ۹ کښې (۲) په ۱۹ کښې (۳) په ۲۴ کښې (۴) په ۲۸ کښې ،

فَرَدُّوا أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ : علامه ابن جوزی رحمه الله د دې تفسیره ذکر کړی دی . حاصل ئې دا دې چه څوک کفاره لاسونه خپل په خلو باندې د دې د غصې نه (۲) او لاسونه خپل کیښودل په خلو باندې د اشارې پیغمبرانو ته چه چُپ کیږی و باندې (۳) څوک دوی لاسونه خپل په خلو د پیغمبرانو د پاره د چپ کولو د هغوی د دعوت نه (۴) ...

أَفِي اللَّهِ شَكٌّ : آیا په توحید د الله کښې شک دې او لمی الله اوبیا د دعوت دوه قاعدې ذکر کوی او د کفارو د دې شبهې زمونږ غوندې انسانان یئ (۲) زمونږه د پلارانو د طریقې نه منع کوی ، بس فرمائشي معجزې راوړئ په ایت ۱۱ کښې د پیغمبرانو علیهم السلام له طرفه جوابونه دی .

وَمَا كَانَ لَنَا ۔ دَ پېغمبرانو دَ خبرو څخه بايد دَ معجزې دَ پېښېدو مطالبه نه وي مونږ دَ الله دَ پوره کړلو نه قاصره يو ۔ څکه چه زمونږ په اختيار کښې نه دي (موضح القرآن) ۔ دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دے چه يقيناً دا پېرسته دَ په مشيئت دَ الله پورے کړلے پورے کړه

اللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ ۖ وَمَا كَانَ

الله احسان کوي په هغه چا چه وغواړي له بندګانو خپلو نه ؛ او نه دے طاقت

لَنَا أَن نَّأْتِيَكُم بِسُلْطَانٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ وَعَلَى

زمونږ دپاره چه راوړو تاسو ته ؛ معجزه (دليل) مګر په اذن دَ الله ؛ او خاص په

اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ (11) وَمَا لَنَا أَلَّا نَتَوَكَّلَ

الله دې توکل وکړي ؛ مؤمنان ؛ او څه عذر دے مونږ لره چه نه به توکل کوو

عَلَى اللَّهِ وَقَدْ هَدَانَا سُبُلَنَا ۚ وَلَنَصْبِرَنَّ عَلَىٰ

په الله باندے ؛ او حال دا چه ښودلي دي لارې زمونږ ؛ او خامخا يقيناً صبر کوو

مَا آذَيْتُمُونَا ۚ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ (12)

په هغه تکليف راکړی مونږ ته ؛ او خاص په الله دې توکل وکړي توکل کوونکي ؛

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُم

او ووئيل هغه کسانو چه کفر ئے کړے وو رسولانو خپلو ته ؛ خامخا يقيناً وباسو تاسو

مِّنْ أَرْضِنَا أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا ۖ فَأَوْحَىٰ إِلَيْهِمْ

دَ زمکے خپلے نه ؛ او يا به خامخا راشئ ؛ په دين زمونږ کښے ؛ پس وحې وکړه وروته

رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ الظَّالِمِينَ (13) وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ

رب دَ دوي ؛ يقيناً خامخا به هلاک کوو ظالمانو لره ؛ او خامخا يقيناً وبه اوسوو تاسو

الْأَرْضَ مِن بَعْدِهِمْ ۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَافَ

په زمکه کښے ؛ پس دَ هغوي نه ؛ دا وعده دَ هغه چا دپاره ده چه ويرېږي دَ

مَقَامِي وَخَافَ وَعِيدِ (14) وَاسْتَفْتَحُوا وَ

پېښېدو زما نه ؛ او ويرېږي دَ عذاب زما نه ؛ او فيصله ئے وغوښتله هغوي ؛ او

خَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ (15) مِّن وَرَائِهِ جَهَنَّمُ

نا اميده شو هر سرکشه عنادي ؛ اخوا دَ ده نه دوزخ دے ؛

وَيُسْقَىٰ مِن مَّاءٍ صَدِيدٍ (16) يَتَجَرَّعُهُ وَلَا

او سکولے به شي په دغه باندے ؛ دَ اوبو ويرغنو نه ؛ ګوټ ګوټ به ئے کوي او نزدے

ع ١٤

نزدې به او کړه نه لمطفرا پلاتونه به دي ؛ دوهم سوال جواب ئے ذکر کړو ځکه چه ډېر حاجت ورته نه وو ځکه چه غلط پلارانو تبعداري ئے دليل نه دے ۔ وَمَا لَنَا أَلَّا نَتَوَكَّلَ ؛ په دے آيت کريمه کښے دَ انبياء عليهم السلام دَ توکل او دَ صبر بيان دے کوم چه سبب دَ نجات او کاميابئ دي ؛

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا ؛ په دے آيت کريمه کښے لاځے او وه باوژ کافرانو دے چه يا به مونږ ملک نه وباسو او يا به زمونږ دين کښے راځئ ؛ او ګورئ اعراف ٨٨ ؛

فائده ؛ دلته عود په معنیٰ دَ صيرورت دے يعني ګرځئ به زمونږ طرف ته ۔ او يا معنیٰ دا ده چه راځئ به زمونږ په دين کښے ۔

بيا باري تعالیٰ په ١٣ کښے تسلي ورکړه انبياؤ عليهم السلام ته چه خامخا يقيناً ظالمان به هلاک کړو او په ١٤ کښے ئے به تسلي ورکړه چه خامخا يقيناً تاسو به ودسوو په زمکه کښے پس دَ هغوي نه ؛

ذَٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِي ؛ په دے کښے عموم دَ الله تعالیٰ ده ۔ هر موحد او مؤمن لره ۔ معنیٰ ئے دا ده چه دا زيرے دَ هغه چا دپاره دے چه ويرېږي دَ او دريدو وخپلو نه مخے زما ته په ورځ دَ قيامت ۔ او ګورئ سورت رحمان ٤٦ (مظهري ص ٢٤٩ ج ٥) ؛

وَاسْتَفْتَحُوا ؛ او طلب دَ فتح وکړه پېغمبرانو ۔ او ګورئ ٨٩ اعراف ٨٨ يونس ، ١٠ قمر ، ٢٦ نوح ۔ بله معنیٰ طلب دَ فتح وکړه مشرکانو ۔ او ګورئ ١٩ ، ٣٢ انفال ، ٢٩ سجده ، ١٦ ص

نه ٢ يونس کښے تخويف تفصيلي دے ۔ صَدِيدٍ ؛ ويرغنے زوے ۔ يَتَجَرَّعُهُ ؛ ګوټ ګوټ کوي به ئے ۔

وَيَأْتِيهِ الْمَوْتُ. او راځي به ده ته سببونه د مرګ او نه به وي دا مړکيدونکے. مَثَلُ الَّذِينَ: مخکښے بيان د تخويف د کافرانو وشو نو دے ايت کريمه کښے د هغوي د عملونو مثال ورکوي چه هيڅ فائده به ورته ونه رسوي. علامه خازن رحمه الله ليکي چه دا مثال الله تعالیٰ بيان کړيدے د پاره د هغه اعمالو د کافرانو چه نفع به نه حاصليږي ـــ دوئ ته په هغو باندے ايمان.

يَكَادُ يُسِيغُهُ وَيَأْتِيهِ الْمَوْتُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ

نه شي چه تير کړي هغه او راځي به ده ته سببونه د مرګ د هر ځاي نه

وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ۖ وَمِنْ وَرَائِهِ عَذَابٌ غَلِيظٌ ﴿۱۷﴾

او نه به وي دا مړکيدونکے او اخوا د ده نه عذاب سخت دے

مَثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ ۖ أَعْمَالُهُمْ كَرَمَادٍ

مثال د هغه کسانو چه کفر ئے کړے په رب خپل عملونه د دوي پشان د ايرے دي

اشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيحُ فِي يَوْمٍ عَاصِفٍ ۖ لَا يَقْدِرُونَ

چه والوزوي په هغه سيلئ په ورځ د جاکړئ کښے قدرت به ونلري

مِمَّا كَسَبُوا عَلَىٰ شَيْءٍ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الضَّلَالُ الْبَعِيدُ ﴿۱۸﴾

هغه عملونو چه دوي کړي په هيڅ شي باندے دغه هم دغه ګمراهي لرے ده

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ

ايا نه ګورے ته چه يقيناً الله تعالیٰ پيدا کړي اسمانونه او زمکه په حقه سره

إِنْ يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿۱۹﴾ وَمَا

که وغواړي بوبه ئي تاسو او را به ولي مخلوق نوے او نه دے

ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ بِعَزِيزٍ ﴿۲۰﴾ وَبَرَزُوا لِلَّهِ جَمِيعًا

دا کار په الله تعالیٰ باندے ګران او حاضر به شي ټول د وړاندے د الله تعالیٰ ټول

فَقَالَ الضُّعَفَاءُ لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُنَّا

پس وبه وائي کمزوري هغه کسانو ته چه لوئي کړے ده يقيناً مونږ وو

لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنْتُمْ مُغْنُونَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ

تاسو لره تابع پس ايا تاسو لرے کوونکي څه شے د مونږ نه د عذاب د

اللَّهِ مِنْ شَيْءٍ ۚ قَالُوا لَوْ هَدَانَا اللَّهُ لَهَدَيْنَاكُمْ ۖ

الله تعالیٰ نه څه شے لره وبه وائي هغوي که چرے هدايت کړے وے مونږ ته الله تعالیٰ نو مونږ به هم

سَوَاءٌ عَلَيْنَا أَجَزِعْنَا أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِنْ مَحِيصٍ ﴿۲۱﴾

برابر شوے دے مونږ له تاسو ته برابر دي په مونږ که فرياد اوکړو يا صبر وکړو نشته مونږ لره ځاي د خلاصي

اُلله تعالیٰ بيان کړيدے د پاره د هغه اعمالو د کافرانو چه نفع به نه حاصليږي ـــ دوئ ته په هغو باندے ايمان.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ: دے ته تعالی نه د رجوع باب دے تر ۲۳ پورے. په دے کښے دليل عقلي ۱۹ او بيان د بيزاري دے د شفاعانو د مشرکانو د مشرکانو نه دے ۲۱ نه او په ۲۳ کښے بشارت دے مؤمنانو لره. إِنْ يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ: د دے په تائيد کښے ۳۳ انعام ۱۳۳ انبياء ۱۱ فاطر ۱۶ محمد ۳۸ اوګورئ.

وَبَرَزُوا لِلَّهِ جَمِيعًا: په دے ايت کريمه کښے برات دے د باطل پرستو مشرکانو د تابعدار خيلونه. نسفي رحمه الله ليکي چه د اسْتَكْبَرُوا نه مراد هغه سرداران او رئيسان دي چه دوي ئے ګمراه کړي وو. او منع کړے ؤ د خوزګينبرو د ونه اتباع د انبياؤ او اتباع د هغوي نه. (مدارک مختصر ج ۲) قصص ۶۳، ۶۴ اوګورئ (د اُشن ۷ ۲۴ حاشيه).

وَقَالَ الشَّيْطَانُ: دا نبي شيطانانو نه پس د جني شيطان برات د تابعدارانو خپلو نه په دے ايت کريمه کښے په پنځو طريقو سره ذکر شويدے.

فائده:- حسن رحمه الله فرمائي چه ابليس به په ورځ د قيامت کښے خطبه وړونکے و د ږيري په جهنم کښے په منبر د اور باندے ټول خلق به ترے نه اوري (قرطبي ج ۹ ۳۵۶).

إِنِّي كَفَرْتُ: يقيناً ما انکار کړے په هغه چه تاسو شريک کړے وؤ ما لره مخکښے د دے نه دوه مدارک منع کښے دي چه معني ئے بيزاري د هغه ده او انکار د هغه دے. وَأُدْخِلَ الَّذِينَ: په دے کښے بشارت دے نيک عملو ايماندارو لره. د شاه صاحب ترجمه ...

فرمائي دا د مؤمنانو د پاره زیرے دے چه جنت ته به بارئ تعالیٰ د دوئ بوځي او هلته به خوشحاله وي ملائک به ورته سلام کوي او د بارئ تعالیٰ د طرفه به سلام وي او په خپل منځ مؤمنان به یو بل ته سلام کوي (احسن الترجمه)

وَقَالَ الشَّيْطٰنُ لَمَّا قُضِيَ الْاَمْرُ اِنَّ اللّٰهَ وَعَدَكُمْ

او وبه وائي شيطان کله چه فیصله وکړے شي د کار یقیناً الله تعالیٰ وعده کړې وه تاسو سره

وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدْتُّكُمْ فَاَخْلَفْتُكُمْ ؕ وَمَا كَانَ

د وعده حقه او وعده وکړه ما تاسو سره پس خلاف وکړو ما تاسو سره او نه وو

لِيَ عَلَيْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ اِلَّاۤ اَنْ دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ

ماله په تاسو باندې څه غلبه مګر دا چه بلنه مې وکړه تاسو ته پس قبوله مو کړه

لِيْ ۚ فَلَا تَلُوْمُوْنِيْ وَلُوْمُوْۤا اَنْفُسَكُمْ ؕ مَاۤ اَنَا بِمُصْرِخِكُمْ

تاسو زما پس مه ملامت کوئ ما او ملامت کړئ نفسونه خپل نه یم زه فریاد رس ستاسو

وَمَاۤ اَنْتُمْ بِمُصْرِخِيَّ ؕ اِنِّيْ كَفَرْتُ بِمَاۤ اَشْرَكْتُمُوْنِ

او نه یئ تاسو فریاد رس زما یقیناً ما انکار وکړو په هغه چه شریک کړے وو تاسو زه

مِنْ قَبْلُ ؕ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۲۲﴾ وَ

د دې نه مخکې یقیناً ظالمان دوی لره عذاب دردناک دے او

اُدْخِلَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ

داخل به کړے شي هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او عملونه ئے کړي نیک باغونو ته

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا بِاِذْنِ

چه بهیږي لاندې ئے د هغو نهرونه وي به همیشه په هغو کښې په حکم د

رَبِّهِمْ ؕ تَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ ﴿۲۳﴾ اَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ

رب خپل او دعا د دوی به په هغو کښې سلام وي آیا نه ګورے ته څنګه بیان کړو

اللّٰهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ اَصْلُهَا

الله تعالیٰ مثال د کلمې پاکې لکه ونه پاکه چه جرړه ئے کلکه

ثَابِتٌ وَّفَرْعُهَا فِي السَّمَآءِ ﴿۲۴﴾ تُؤْتِيْۤ اُكُلَهَا كُلَّ

دی او څانګې ئے په بره (آسمان طرفته) دي ورکوي میوه خپله هر

حِيْنٍ بِاِذْنِ رَبِّهَا ؕ وَيَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ

وخت په حکم د رب خپل سره او بیانوي الله تعالیٰ مثالونه لره

او ګورئ ۲۱ رعد ۱۷ یس ۲۴ اعراف ۸۰ و قف ۲۱ یونس
اَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللّٰهُ ۲۴ تا
۲۷ پورې په دې آیتونو کښې د تم سره په درېم ځل په دېکښې مثال د توحید او د شرک دے (احسن البیان) په ۲۴ او ۲۵ کښې مثال د توحید او په ۲۶ کښې د شرک او په ۲۷ کښې بشارت او تخویف دے. فائده ۱: بخاري شریف کښې د دې آیت په تفسیر کښې ذکر دي چه حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه فرمائي چه موږ د رسول الله ﷺ سره وو پس هغه وفرمائیل چه خبر راکړئ د یوې ونې نه چه مشابه ده د سړي مسلمان سره چه نه ئے پاڼې تویږي او د ډېرې میوې چه په هر وخت کښې ابن عمر وائي چه زما په زړه کښې راغلل چه دا کجوره ده او ما ولیدل ابوبکر او عمر رضي الله عنهما لره چه خبرې نه کوي نو بد مې وګڼله چه زه خبره وکړم پس هرکله چه دوی څه ونه وئیل نو رسول الله ﷺ وفرمائیل چه هغه کجوره ده پس کله چه پاڅیدو موږ نو ما عمر ته ووئیل اے پلاره قسم په الله تعالیٰ چه زما په زړه کښې راغلي وو چه دا کجوره ده پس هغه ووئیل ته ولې خبره ونه کړه نو ما ووئیل چه ما ولیدل تاسو چه خبرې نه کوئ نو ما هم بده وګڼله چه خبره وکړم او څه ووایم. حضرت عمر وفرمائیل چه وئیلے دې وے نو دا به ما ته

محبوب وو د مانه د دا نعمتونو نه. فائده ۲: ایمان په شان د ونې دے. زبانی تصدیق د ونې قرار دے او څانګې ئے اعمال دي او میوې ئے ثوابونه دي په دوا پوره جهتونو کښے — زمکه: زړه (۱) ۲ زبانی تصدیق (۳) ونه قرار (۴) څانګې عملونه (۵) میوه ثواب. (احسن التراجم صفحه ۲۶۰)

وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ: د مثلٔ نه مراد كلمه د شرك ده په نزد د جمهورو باندې. (التسهيل ص ۳۰). اجْتُثَّتْ: چې نغلولے شوې وي د پاسه د زمكې نه. (شيخ القرآن) د كفر مثال داسې دے لكه بوټي وګیه وونه چې د حنظل ټينګه نه وي نو چه دا ګل بيان وكړي نو ده ته تبرك ختم شي لكه څيه وونه زر مړ شي وسيځي شي په خلاف د ايمان نه. چې د هغه ريښه په زړه كښې مضبوطه شوې وي حتى ايمان زړه د عقل نښي او شرك زړه د عاقلانو نه اخلي (شيخ القرآن). يُثَبِّتُ اللَّهُ ...: مضبوطوي الله ايماندارو لره په دنيا مضبوطه حتى په سبب د توحيد سره په ژوند د دنيا وي كښې په وخت د مقابله د دشمنانو كښې او خطا كوي الله مشركانو لره د دليل نه په دنيا كښې او د جواب نه په قبر كښې. وَفِي الْآخِرَةِ: په قبر كښې د هغه ډيرې روايت شوې د مفسرو سلفو نه (ابن كثير ص ۲۳۵). فائده: په حديث د براء بن عازب رضي الله عنه كښې دي چې مراد د آخرت نه قبر دے. او ګورئ بخاري ص ۲۳۵، مشكوٰة ص ۲۲، قرطبي ص ۲۳۳. فائده: د قبر عذاب او ثواب د قرآن مجيد په مثلو آيتونو كښې اشارة او د رسول كريم صلي الله عليه وسلم او ډيرو احاديث متواترو كښې په ډير صراحت او وضاحت سره ذكر دي چې په هغه كښې كوم مسلمان لره د شك او شبهې هيڅ ګنجائش نشته (معارف ص ۲۳۳). أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ: لفظ د الم په شلورم محل او تر دې ځاى ځايونو نه پنځم باب په ۲۸ او ۲۹، ۳۰ كښې زجر دے او تخويف او په ۳۱ كښې امور مصلحه او په ۳۲، ۳۳ كښې عقلي دلائل. بَدَّلُوا: د دې آيت كښې دوه ناكاره صفتونه ذكر شوي دي. په آيت ۳۰ كښې د ماقبل تفسير دے يعني د بَدَّلُوا تفسير په جَعَلُوا لِلَّهِ أَندَادًا سره او د أَحَلُّوا تفسير په لِيُضِلُّوا عَن سَبِيلِهِ سره دے. قُل لِّعِبَادِيَ: او دا په بنده ګانو ايماندارو ته چې دوه ډوله مالي او بدني اصل كښې عبادات دے. يُقِيمُوا ... ذكر كړي. او ګورئ دوهم ص ۱۹۷. اللَّهُ الَّذِي: دليل عقلي دے. او پنځه صفات فعليه د باري تعالى كښې ذكر كړي دي او ۳۳ كښې شلور شي نه

لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٥﴾ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ

د خلقو دپاره دې دوى پند واخلي. او مثال د كلمې پليتې

كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ اجْتُثَّتْ مِن فَوْقِ الْأَرْضِ مَا لَهَا

په شان د ونې پليتې دے چې نغلولے شوې وي د پاسه د زمكې نه نه دي هغې لره

مِن قَرَارٍ ﴿٢٦﴾ يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ

څه قرار. مضبوطوي الله هغه كسان چې ايمان ئې راوړے په وينا ټينګه سره

فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ وَيُضِلُّ اللَّهُ

په ژوند د دنيا كښې او په آخرت كښې او خطا كوي الله تعالى

الظَّالِمِينَ وَيَفْعَلُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ ﴿٢٧﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى

ظالمان (د جواب ورکولو کښې) او کوي الله تعالى هغه چې اوغواړي. آيا نه ګورې ته هغه

الَّذِينَ بَدَّلُوا نِعْمَتَ اللَّهِ كُفْرًا وَأَحَلُّوا قَوْمَهُمْ

كسانو ته چې بدل كړې ئې ده نعمت د الله تعالى په كفر سره او نازل كړې ئې ده قوم خپل

دَارَ الْبَوَارِ ﴿٢٨﴾ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا وَبِئْسَ الْقَرَارُ ﴿٢٩﴾

كور د هلاكت ته. چې جهنم دے ننوځي به دوى هغې ته او بد ځاى د قرار دے

وَجَعَلُوا لِلَّهِ أَندَادًا لِّيُضِلُّوا عَن سَبِيلِهِ قُلْ

او جوړ كړي دوى الله تعالى لره حصه داران چې ګمراه كړي خلقو لره د لارې د الله تعالى نه. ووايه

تَمَتَّعُوا فَإِنَّ مَصِيرَكُمْ إِلَى النَّارِ ﴿٣٠﴾ قُل لِّعِبَادِيَ

نفع حاصله كړئ. پس يقيناً واپسي ستاسو اور ته ده. ووايه بنده ګانو زما ته

الَّذِينَ آمَنُوا يُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُنفِقُوا مِمَّا

هغه كسانو ته چې ايمان ئې راوړے چې ودروي مونځ او خرچ دې كړي د هغه نه

رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ

چې روزي كړې مونږ دوى ته په پټه او ښكاره، مخكښې د دې نه چې راشي

يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خِلَالٌ ﴿٣١﴾ اللَّهُ الَّذِي

يوه ورځ چې نه به وي خرڅول په هغې كښې او نه دوستي. الله تعالى هغه ذات دے چې

وَآتَاكُمْ مِنْ كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ: ابن كثير رحمه الله فرمائي تيار كړي تاسو لره هر هغه څه چه تاسو ورته حاجت لرئ په تولو احوالو ستاسو كښې د هغو نه چه تاسو ئې غواړئ په حال ستاسو او په قال ستاسو (ابن كثير) وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ: دا دے څلورم حكم ...

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ

پیدا کړی آسمانونه او زمکه او راوروی د بره نه

مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ وَسَخَّرَ

اوبه، پس راوباسی په هغو سره د میوو نه خوراک ستاسو د پاره، او تابع کړے ئې

لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ وَسَخَّرَ

تاسو لره کشتئ چه چلیږی په دریاب کښې په حکم د هغه او تابع کړی ئې

لَكُمُ الْأَنْهٰرَ ﴿٣٢﴾ وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ

تاسو لره (سیندونه) او تابع کړے ئې تاسو لره نمر او سپوږمئ

دَآئِبَيْنِ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ﴿٣٣﴾ وَآتٰكُمْ

روان دی همیشه، او تابع کړی ئې تاسو لره شپه او ورځ، او ورکړی ئې تاسو

مِنْ كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَتَ

د هر هغه نه چه تاسو غوښتی دی، او که شمیره تاسو کړئ د نعمتونو د

اللّٰهِ لَا تُحْصُوهَا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴿٣٤﴾

الله نو نشئ شمیرلے هغو لره، یقینا انسان خامخا ډیر ظالم ډیر ناشکره دے

وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا الْبَلَدَ

او یاد کړه چه کله ووئیل ابراهیم: اے ربه زما! او ګرځوه دا ښار لره

آمِنًا وَاجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَنْ نَعْبُدَ الْأَصْنَامَ ﴿٣٥﴾

امن والا او بچ وساته ما او ځامن زما د عبادت د بتانو نه

رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ فَمَنْ

اے ربه زما! یقینا دوی ګمراه کړل ډیر د خلقو نه، پس هغه څوک چه

تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ

تابعداری وکړه زما، پس یقینا هغه زما دے، او چا چه نافرمانی وکړه زما پس یقینا ته

رَّحِيمٌ ﴿٣٦﴾ رَبَّنَا إِنِّي أَسْكَنْتُ مِنْ ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ

بخښونکے مهربانه ئې، اے ربه زمونږه! یقینا ما اوسولی دی د اولاد خپل نه په میدان

شپږم باب دے تر آخره پورې په دې کښې نقلی دلیل د ابراهیم علیه السلام او وسیله د هغې په ربنا سره اثبات شوه او د ملا نه تخویف تفصیلی او په رد کښې ترغیب قرآن ته او مسئله د توحید. هٰذَا الْبَلَدَ بقره ۱۲۶ کښې اوګورئ. وَاجْنُبْنِي وَبَنِيَّ: بچ کړه ما لره او ځامن زما د بندګئ د بتانو نه. د صنم معنی د سورة انعام ۷۴ آیت لاندې ذکر شوې ده. فائده: او مراد د لته بناء په قول د زجاج رحمه الله طلب د ثبات او د دوام دے په دې باندې یعنی مضبوط کړه مونږه په هغه عقیده د توحید او ملة اسلام باندې چه مونږه پرې یو او په دې دلیل دعا دت د بتانو باندې وګه چرته دا سے نشی نو انبیاء علیهم السلام معصوم دی د کفر او د عبادت د غیر الله نه (ابن جریر). رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ: اے ربه زما! دغه بتانو یعنی عبادت د دے د دا اسناد مجازی دی یعنی سبب د ګمراهئ د خلقو جوړ شو. قرطبی رحمه الله فرمائی: فَمَنْ تَبِعَنِي چا چه زما تابعداری وکړه په توحید کښې نو دا د اهل دین زمانه دے. وَمَنْ عَصَانِي او چا چه نافرمانی وکړه زما بغیر د شرک نه نو ته یقینا بخښونکے مهربانه یې (قرطبی ۳). إِنِّي أَسْكَنْتُ: د ابن عباس رضی الله عنهما نه په اوږده حدیث کښې راغلی فرمائی چه کله ابراهیم علیه السلام روان شو نو د اسمٰعیل علیه السلام مور ورپسې شوه او وئیل چه ته چرته مونږه په دے وادی کښې پریږدې چه نه پکښې څوک انس شته او نه څه شی ...

اونه څه شی او بار بار ئې دا وئیل، پس او وئیل آیا الله ته درته امر کړے په دے؟ نو هغه وفرمائیل آو، نو هغے او وئیل: إِذًا لَا يُضَيِّعُنَا (بخاری ۳۳۶۴، ابن جریر ۱۶۱/۱۳، ابن کثیر ۱۸۹/۱، سراج منیر ۲۳۰/۳) فائده: غیر ذی زرع والا ئې او وئیل او غیر ذی ماء الله ئې ونه وئیل

(باقی په بل مخ)

(بقیه) ځکه چه یقینی ئے د حضرت ابراهیم علیه السلام په دعا نه ضائع کوی ، بلکه د دوی د پاره به اوبه ضرور مهیا کوی ، دغه وجه ده چه مکه مکرمه کښے د کرکیلے انتظام نشته مګر د ټولے دنیا نه ورته میوے او د هر قسم ثمرات ورته دومره راځی چه په نورو ښارونو کښے دومره ملاویدل مشکل وی . (معارف ص ٢٥٣ ج ٥)

غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُوا

غیر فصل والا کښے ؛ چه نزد د کور ستا عزتمند شوی ؛ اے ربه زمونږه چه قائم کړی

الصَّلَاةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي

مانځه لره ؛ پس وګرزوه زړونه ؛ د بعضے خلقو ؛ چه میلان وکړی

إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُم مِّنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ ﴿٣٧﴾

دوی ته ؛ او روزی ورکړه دوی ته ؛ د میوه جاتو نه ؛ د پاره د دے چه دوی شکر وباسی ستا ؛

رَبَّنَا إِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِي وَمَا نُعْلِنُ ۗ وَمَا يَخْفَىٰ

اے ربه زمونږه یقیناً پوهیږے ؛ په هغه چه مونږه ئے پټوو او په هغه چه مونږه ئے ښکاره کوو ؛ او نه

عَلَى اللَّهِ مِن شَيْءٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ ﴿٣٨﴾

پټیږی په الله تعالیٰ باندے هیڅ شے په زمکه کښے ؛ او نه په اسمان کښے ؛

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى الْكِبَرِ

ټول صفتونه الله تعالیٰ لره دی ؛ چه راکړے ئے دی ما ته ؛ په بوډا توب باندے

إِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ ۚ إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ الدُّعَاءِ ﴿٣٩﴾

اسماعیل ؑ او اسحاق ؑ ؛ یقیناً رب زما خامخا اوریدونکے د دعا دے ؛

رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلَاةِ وَمِن ذُرِّيَّتِي ۚ

اے ربه زما ؛ وګرزوه ما لره ؛ پابندی کړونکے د مانځه ؛ او د اولاد زما نه هم ؛

رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاءِ ﴿٤٠﴾ رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ

اے ربه زمونږه ؛ او قبوله کړه دعا زما ؛ اے ربه زمونږه بخښنه وکړه ما ته ؛ او مور پلار زما ته

ع ١٤ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ ﴿٤١﴾ وَلَا

او مؤمنانو ته ؛ په هغه ورځ چه قائمیږی حساب ؛ او هیڅ کله

تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ ۚ

خیال مه کوه چه الله تعالیٰ دے غافل د هغے نه چه کوی ظالمان ؛

إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الْأَبْصَارُ ﴿٤٢﴾

یقیناً روستو کوی دوی لره ؛ هغه ورځے ته چه ټکے به راتلی په هغے کښے سترګے ؛

(دوهم حاشیه)

مِّنَ النَّاسِ : د بعضو خلقو ځکه ئے وفرمائیل چه که دے فرمائیلے نو د ټولے دنیا مسلم او غیر مسلم به مکے ته راغلی وے نو باعث د زحمت به وے (معارف ٥/٢٥٣)

وَلِوَالِدَيَّ : دا دعا ئے د پلار د وعدے نه کړے وه ... ځکه چه لا ورته ښکاره نه وه چه پلار ئے د الله تعالیٰ دشمن دے ایمان نه راوړی ، کله ورته معلومه شوه نو بیزاره ترے شو . او ګوری توبه ص ١١٤ .

وَلِلْمُؤْمِنِينَ : او ټولو مؤمنانو مرد او عورت مؤمنانو ته بخښنه وکړه (تنویر المقباس ص ١٤٣) وَلَا تَحْسَبَنَّ : دا د ظالمانو د پاره تخویف تفصیل دے . مُهْطِعِينَ : جلدی کونکی منډے وهونکی به وی طرف د بلونکی ته . مُقْنِعِي رُءُوسِهِمْ : اوچتونکی به وی سرونو خپلو لره . وَأَفْئِدَتُهُمْ هَوَاءٌ : او زړونه به ئے خالی وی د پوهے نه .

نُجِبْ دَعْوَتَكَ: په دې کښې اشاره ده چې مخالفت د هغوی په دوو طریقو سره وو د دعوت د توحید نه او د متابعت د رسولانو نه. مَا لَكُمْ مِّن زَوَالٍ: امام قرطبي رحمه الله دوه تاویله ذکر کړي (۱) نشته تاسو لره زوال انتقال د دنیا نه آخرت ته یعنې تاسو به نه راژوندي کېږئ او نه به راجمع کړی شئ (۲) نشته تاسو لره زوال د عذاب نه (قرطبي)

مُهْطِعِينَ مُقْنِعِي رُءُوسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ

منډې وهونکي به وي، اوچتونکي به وي سرونو خپلو لره، نه به راګرځي دوی ته

طَرْفُهُمْ ۖ وَأَفْئِدَتُهُمْ هَوَاءٌ ﴿٤٣﴾ وَأَنذِرِ النَّاسَ

سترګې د دوی، او زړونه د دوی به خالي وي (۴۳) او وېروه خلقو لره

يَوْمَ يَأْتِيهِمُ الْعَذَابُ فَيَقُولُ الَّذِينَ

د هغې ورځې نه چې راشي دوی ته عذاب، پس وبه وايي هغه کسان چې

ظَلَمُوا رَبَّنَا أَخِّرْنَا إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ نُّجِبْ

ظلم یې کړی، اې ربه زموږ، وروسته کړه موږ لره تر نېټې نژدې، قبوله به کړو

دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ ۗ أَوَلَمْ تَكُونُوا أَقْسَمْتُم

بلنه ستا، او تابعداري به وکړو د رسولانو، آیا او نه وئ تاسو چې قسمونه مو کول

مِّن قَبْلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ ﴿٤٤﴾ وَسَكَنتُمْ فِي

مخکې د دې نه، چې نشته تاسو لره هېڅ زوال (۴۴)، او اوسېدلي وئ تاسو په

مَسَاكِنِ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ وَتَبَيَّنَ لَكُمْ

ځایونو د هغه کسانو کې چې ظلم یې کړی و په ځانونو خپلو، او ښکاره شوې وه تاسو ته

كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا لَكُمُ الْأَمْثَالَ ﴿٤٥﴾

چې څرنګ کار کړی وو موږ د هغوی، او بیان کړي موږ تاسو لره مثالونه (۴۵)

وَقَدْ مَكَرُوا مَكْرَهُمْ وَعِندَ اللَّهِ مَكْرُهُمْ

او یقیناً تدبیر کړی وو هغوی تدبیر خپل، او الله سره دی دلیل د تدبیر د هغوی،

وَإِن كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ الْجِبَالُ ﴿٤٦﴾

او نه وو تدبیر د دوی چې زائل به شي د هغې نه — غرونه (۴۶)

فَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ مُخْلِفَ وَعْدِهِ رُسُلَهُ ۚ

پس هېڅ خیال مه کوه د الله نه خلاف کوونکي د وعدې خپلې نه رسولانو خپلو سره،

إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ ذُو انتِقَامٍ ﴿٤٧﴾ يَوْمَ تُبَدَّلُ

یقیناً الله دی زورور، خاوند د بدلې اخستلو (۴۷) کله چې بدل کړې شي

انتقال د دنیا نه آخرت ته یعنې تاسو به نه راژوندي کېږئ او نه به راجمع کړی شئ (۲) نشته تاسو لره زوال د عذاب نه (قرطبي) وَسَكَنتُمْ (۴۵) په دې آیت کریمه کښې زورله ورکړې ده چې تېرو ظالمانو کورونو کښې تاسو اوسېدلي یئ او عبرت مو ترې نه اخستلو. تو ستاسو د انکار هېڅ عذر نشته. وَإِن كَانَ مَكْرُهُمْ: دوه توجیه دلته دي. د پنجپیري شیخ رحمه الله فرمائي دلته إِنْ مخففه د مثقله نه ده. معنی دا شوه اګر چې تدبیرونه د دوی دلته محکم او مکمل وو چې د دې نه غرونه هم د خپل ځای نه زائل شوي وې (۲) إِنْ نافیه ده معنی دا شوه چې د دوی تدبیر هېڅ یو هم نه وو چې د دې نه غرونه زائل شي (جواهر ص۵۵۴) ابو سعود ص۴۹ قرطبي ص۳۴ او کوري الهام الرحمن ص۴۰) يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ: کله چې بدله شي دا ځمکه په بله سره یعنې دا به فاني شي او دا ځای به نوې پیدا کړې شي او یا تبدیل د صفتونو به پکښې راشي په ص۴۹ ده کښې هم تعریف شته.

(د اشدی د نو حاشیه)

مِّن قَطِرَانٍ: د ګوګړو نه ځکه چې ګوګړ د اور تېزوي (احسن الرحیم ص۳۳) او قطران راتېروي درې په دې سره او شان عزيز ذلیل په وخت د مرض د خارښت کښې. نو په دې کښې اشاره ده چې په جهنمیانو به نو به عذاب د خارښت وي.

او ورباندې راځي په سبب د تېز ډول د اور وسه (احسن الکلام ص۴۴) شیخ الهند معنی کړې د ګندهک. د پنجپیري شیخ رحمه الله فرمائي چې دا څیز هغه دی چې د سوز ډول په وخت کښې مه برېښ خورندوي (جواهر ص۵۵۶) هٰذَا بَلَاغٌ لِّلنَّاسِ: یعنې دا قرآن کفایت دی په وعظ او تذکیر کښې (قرطبي ص۳۴) یعنې کافي دې خلقو لره ځکه چې په دې کښې وعظ او تذکیر دی (آلوسي ص۲۸۳)

يعني نازل شوی کړي د پاره د تبليغ (فتح ش) ۲ په دې آیت کريمه کښې ترغيب دی قرآن باندې او غلو فائدې دې ذکر شوي دي او د سورة د اول سره مکمله وې احقاف ۳۵ هم دکوري. اقتباسات: (۱) لفظ د الله خور خلي (۲) ذکر د تولو انبيا (۳) اجمالاً ۹۰ (۳) مناظره د

الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمٰوٰتُ وَبَرَزُوا

د زمکه : غير د دې زمکې نه : او اسمانونه هم، او په ميدان کښې

لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿٤٨﴾ وَتَرَى الْمُجْرِمِينَ

و دريږي دوی الله يو زورور ته : او وبه وينې مجرمانو لره :

يَوْمَئِذٍ مُقَرَّنِينَ فِي الْأَصْفَادِ ﴿٤٩﴾ سَرَابِيلُهُمْ

په دغه ورځ : تړلي شوي به وي په زنځيرونو کښې، قميصونه د دوی به

مِنْ قَطِرَانٍ وَتَغْشَى وُجُوهَهُمُ النَّارُ ﴿٥٠﴾

د گوگړو نه وي : او پټوي به : مخونه د دوی لره — اور :

لِيَجْزِيَ اللّٰهُ كُلَّ نَفْسٍ مَا كَسَبَتْ ۚ إِنَّ

چه بدله ورکړي الله تعالیٰ : هر نفس ته د هغه چه ده کړي : يقيناً

اللّٰهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿٥١﴾ هٰذَا بَلَاغٌ لِلنَّاسِ

الله تعالیٰ د جلد حساب والا دی. دا قرآن رسولو والا دی د پاره د

وَلِيُنْذَرُوا بِهِ وَلِيَعْلَمُوا أَنَّمَا هُوَ إِلٰهٌ

خلقو او د پاره د دې چه وډاره کړی شي دوی په دې سره (قرآن) او چه پوهه شي چه يقيناً الله اِله

وَاحِدٌ وَلِيَذَّكَّرَ

يو دی : او چه پند حاصل کړي :

أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿٥٢﴾

خاوندان د خالص عقلونو :

ركوعاتها	اٰياتها	مكية	سورة الحجر
۶	۹۹		۱۵

نزلت بعد سورة يوسف

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

الٓرٰ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ وَقُرْاٰنٍ مُبِينٍ ﴿١﴾

الٓر پوهه ده الله ته : دا ایتونه د کتاب : او قرآن بیانونکي دی :

شيطان ۲۲ (۴) خلاصه واقعه د ابراهیم علیه السلام ۳۵ نه (۵) تذکير بايام الله ۳۹ (الحمد لله نه پوري) ذکر د رمضان ۲۷ د سورة ابراهيم تفسير ختم شو په ورځ د شپږ شنبه چه د رمضان المبارک د مياشت (د سورة ابراهيم او سورة د حجر) توحيد او د تنبيه لفظ د الحجر نه اخستل شوي دي. (ربطونه): (۱) مخکښې تذکير بايام الله ورکړي شوي نو دې سورت کښې نمونې د هلاک شوي قومونو ذکر کوي (۲) سورة ابراهيم په توحيد ختم شوي او دلته د قرآن نه چه منکرين د توحيد به ارمانونه کوي ۲ (۳) هذا اخر کښې ترغيب قرآن ته وو او دلته اول کښې هم. (۴) هذا هم سر کښې ترغيب قرآن ته وو دلته هم. (۵) هذا هم تقوی د ابراهيم عليه السلام وو نو دلته هم د هغه نه. اجمالي خلاصه د دې سورت کښې درې بابه دي. اول تر ۱۵ پورې دويم تر ۴۸ پورې دريم تر اخره پورې. دعوی تخويف مجرمانو لره په اول کښې به ذکر د مخکښې قومونو ... په اول باب کښې اول ترغيب قرآن ته ۱ (۲) دعوی د سورت ۲ (۳) زجر منکرينو د قرآن ته ۶ او منکرينو د رسول ته ۷ د ... نه. تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ: مولانا حسين علي رحمه الله فرمائي چه د سورة حجر ابتدا کښې د الکتاب سره لفظ د قرآن هم راغلي دې وجه نه د الکتاب نه تورات او انجيل مراد دي او مطلب دا دې چه د دې بعض بيانات مخکښو کتابونو کښې نازل شوي دي مثلاً د تخويف د نيري او لنډ ذکر نمونې او څه خبرې داسې دي چه د هغوی ذکر مخکښو کتابونو کښې نه دی راغلي او هغه صرف قرآن کښې ذکر دي مثلاً د تخويف د نياري اخري دوه نمونې (اصحاب حجر) او صحاب اخر دې وړ ... د قرآن حسن ... براعة الاستهلال ته اشاره ده.

رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ كَانُوْا مُسْلِمِيْنَ (۲)

ډېر کرته به ارمان کوي هغه کسان چې کفر کړے دے چې ارمان وي دوی مسلمانان.

ذَرْهُمْ يَأْكُلُوْا وَيَتَمَتَّعُوْا وَيُلْهِهِمُ الْأَمَلُ فَسَوْفَ

پرېږده دوی چې خوراک وکړي او نفع حاصله کړي او غافله کړي دوی لره امید، نو ژر ده چې

يَعْلَمُوْنَ (۳) وَمَا أَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ إِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ

پوهه به شي دوی. او نه دی هلاک کړي مونږ هیڅ کلی مګر د هغه دپاره لیک دے

مَّعْلُوْمٌ (۴) مَا تَسْبِقُ مِنْ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسْتَأْخِرُوْنَ (۵)

مقرر (معلوم شوے). نه مخکښې کیږي هیڅ یو امت د نیټې خپلې نه او نه روستو کیږي.

وَقَالُوْا يٰٓأَيُّهَا الَّذِيْ نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ إِنَّكَ

او وایي دوی، اے هغه سړیه چې نازل کړے شوے په هغه باندې ذکر (کتاب) یقیناً ته خو

لَمَجْنُوْنٌ (۶) لَوْ مَا تَأْتِيْنَا بِالْمَلٰٓئِكَةِ إِنْ كُنْتَ

خامخا لیونے یې. ولې نه راولې مونږ ته ملائکې که چرې یې ته

مِنَ الصّٰدِقِيْنَ (۷) مَا نُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ إِلَّا

د رښتینو نه. نه نازلوو مونږ ملائکو لره مګر په

بِالْحَقِّ وَمَا كَانُوْٓا إِذًا مُّنْظَرِيْنَ (۸) إِنَّا نَحْنُ

حق (عذاب) سره او نه به وي دوی په دغه وخت کښې مهلت ورکړے شوي. یقیناً مونږ

نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ (۹) وَلَقَدْ

رالیږلے دے نصیحت کتاب او یقیناً مونږ د دې حفاظت کوونکي یو. او یقیناً

أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ فِيْ شِيَعِ الْأَوَّلِيْنَ (۱۰) وَ

لیږلي وو مونږ (رسولان) مخکښې ستا نه په ډلو د پخوانو کښې. او

مَا يَأْتِيْهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ إِلَّا كَانُوْا بِهٖ

نه راتلو دوی ته هیڅ یو رسول، مګر وو دوی به په هغه پورې

يَسْتَهْزِءُوْنَ (۱۱) كَذٰلِكَ نَسْلُكُهٗ فِيْ قُلُوْبِ

ټوقې کولے. دغه شان ننباسو مونږ دا ټوقې په زړونو د

رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا: په دې آیت کریمه کښې د عود د سورت دوه چې تخویف وو چې په وخت د عذاب کښې به مشرکان ارمان کوي چې ارمان مونږ د مسلمانان وو. په ۳ کښې زجر دے په محبت د دنیا باندې. په ۴ کښې تخویف دنیاوي دے. تائید د نه لې په ۴۹ یونس، ۳۴ اعراف، ۶۱ نحل کښې دی. په ۶ کښې زجر دے په استهزاء باندې. ابوبکر رازي رحمه الله فرمائي چې دا وئیل په استهزاء او مسخره وو چې نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ (مسائل ...) لکه فرعون وئیلي وو ۲۷ شعراء. او جواب د دې صورت ۱۱ کښې دے. په آیت ۷ کښې د فرمائشي معجزو مطالبه ده. په ۸ کښې جواب دے. په ۹ کښې صداقت د قرآن او تسلي ده. دغه شان په ۱۰ ۱۱ کښې تسلي ده. په ۱۲ ۱۳ کښې زجر دے چې دوی پښتنې د مکذبو دي. فائده: د حفاظت قرآن په وعده کښې حفاظت د حدیث هم داخل دے (معارف ...). علامه خازن رحمه الله فرمائي چې مونږ دے لره حفاظت کوونکي یو د زیاتوالي نه پرې کښې او د نقصان د دې نه او د تغییر او تبدیل او تحریف نه. پس قرآن عظیم محفوظ دے د ټولو شیونو نه. پس قدرت نلري یو کښې د ټولو خلقو د پیریانو او انسانانو نه چې زیاتے وکړي په دیکښې او یا ئې کم کړي یو حرف او یو کلمه او دا خاص دے په قرآن عظیم پورې بخلاف د باقي نازل شوو کتابونو. پس داخل شوے دے په بعضو باندې تحریف او تبدیل او زیادت او نقصان (ملخصاً). په ۱۳ ۱۴ آیتونو کښې زجر دے په انکار د معجزاتو سره ۶ ۞

الْمُجْرِمِينَ ⑫ لَا يُؤْمِنُونَ بِهٖ وَقَدْ خَلَتْ

د مجرمانو په زړونو کښې ـــــ ایمان نه راوړي په دې قرآن، او یقیناً تیر شوې ده

سُنَّةُ الْاَوَّلِينَ ⑬ وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا مِّنَ السَّمَآءِ

قانون د مخکنو. او که چرته پرانیزو مونږ په دوی باندې دروازه د آسمان نه،

فَظَلُّوْا فِيهِ يَعْرُجُونَ ⑭ لَقَالُوْٓا اِنَّمَا سُكِّرَتْ

پس ورځ ورځ دوی په دې کښې ختلی. نو خامخا به دا ووائی دوی، یقیناً بند کړے شوی،

اَبْصَارُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُوْرُوْنَ ⑮ وَلَقَدْ

نظرونه زمونږه، بلکه مونږ قوم یو چه جادو کړے شوے ..... او یقیناً

جَعَلْنَا فِي السَّمَآءِ بُرُوجًا وَّزَيَّنّٰهَا لِلنّٰظِرِينَ ⑯

پیدا کړی مونږ په آسمان کښې غټ ستوري او ښائسته کړے مونږ دا، د پاره د کتونکو.

وَحَفِظْنٰهَا مِنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ رَّجِيمٍ ⑰ اِلَّا مَنِ

او ساتلی مونږ دا د هر شیطان رټلی شوی نه. مگر هغه چه

اسْتَرَقَ السَّمْعَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ مُّبِينٌ ⑱ وَ

غوږ غلا کړي د خبرې، نو ورپسې شی شغله ځلیدونکې ..... او

الْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَاَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ وَ

زمکه، غوړولې مونږ دا او غورزولی مونږ په دې کښې مضبوط غرونه، او

اَنْۢبَتْنَا فِيهَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُوْنٍ ⑲ وَ

زرغون کړی مونږ په دې کښې د هر شی، اندازه کړے شوی نه ... او

جَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ وَمَنْ لَّسْتُمْ لَهٗ

پیدا کړی مونږ تاسو لره په دې کښې ذریعې د گذران، او هغه چه نه یئ تاسو، هغه لره

بِرٰزِقِينَ ⑳ وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا عِنْدَنَا

رزق ورکونکی. او نشته هیڅ شي، مگر مونږ سره

خَزَآئِنُهٗ وَمَا نُنَزِّلُهٗٓ اِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ㉑ وَ

خزانې د هغه دی، او نه نازلوو هغه لره، مگر په اندازه معلومه باندې. او

إِنَّمَا سُكِّرَتْ أَبْصَارُنَا: مطلب دا دے چه زمونږ په سترگو باندې پردے غورځولې شوي دي. بیا ئے ترقی وکړه او وئیلے چه دا ئے نه دي بلکه خاص په مونږ باندې جادو کړے شوے دے یا سُكِّرَتْ أَبْصَارُنَا نه په سترگو باندې جادو کول او وَنَحْنُ قَوْمٌ نه په عقل او فهم باندې جادو کول مراد دي. (جواہر ۵۵۵)

وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَآءِ وغیره: دا دویم شان نه ترمنځه پورے دویم باب دے، په دې کښې اثبات د دلائل عقلیه، د علم مقام د توحید او د قیامت سره ستا سره. (۲) د انعام ذکر هغه بیا چه شکر ئے کړے شی. (۳) تخویف اخروی مثلاً (۴) بشارت اخروی مثلاً ختم په ترغیب مثلاً او ترهیب مثلاً باندې شوے دے. په دې دلائلو کښې اثبات د صفتونو د قدرت او د علم د باری تعالیٰ ذکر شوی دی. بُرُوجًا: غټ ستوري د ستورو درې فائدے ذکر دی (۱) زینت (۲) حفاظت (۳) هدایت د لارو. د کوری صفت نه ملک د غرو.

وَمَن لَّسْتُمْ لَهُ: او هغه خوک چه نه یئ تاسو هغوی لره رزق ورکونکی. شاه صاحب رحمه الله فرمائی، یعنی غلامان او څناور او نور.

(ص ۱۳۲) إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُ: حافظ ابن قیم رحمه الله فرمائی چه هر هغه شی طلب کول ئے مگر د هغه چا نه چه د هغه سره ئے خزانې دی او د هغه چا نه چه کنجیانے د دغو خزانو ئے په لاس نو کښې وی او طلب ئے د بل چا نه طلب د هغه چا نه دے چه نه ورسره څه شته او نه پرے قدرت لری. (التفسیر القیم ص ۳۳۵)

وَلَقَدْ عَلِمْنَا: دېکښې صفت دَ علم دَ باري تعالیٰ دے پس دَ صفاتو دَ قدرت نه. صَلْصَالٍ ٢٦: دا الفخوته دړے مخا دکرشوي ئي مخا مذ، معروف کښ. دَ شاه پور رشتیه رحلته. نیکي دَ اواز کوز کي مجح خمیره نه. (افضل

أَرْسَلْنَا الرِّيٰحَ لَوَاقِحَ فَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

او لیږلي مونږ بادونه ... راوړونکي د وریځو، پس نازل کړو مونږ له آسمانه اوبه

فَأَسْقَيْنٰكُمُوهُ وَمَآ أَنْتُمْ لَهُ بِخٰزِنِينَ (٢٢) وَإِنَّا لَنَحْنُ

پس څکولې مونږ تاسو ته، او نه یئ تاسو هغه لره جمع کونکي. او یقیناً خامخا مونږ

نُحْيِي وَنُمِيتُ وَنَحْنُ الْوٰرِثُونَ (٢٣) وَلَقَدْ عَلِمْنَا

ژوندي کوو او مړه کوو، او مونږ وارثان یو. او یقیناً پیژنو مونږ

الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنْكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَـْٔخِرِينَ (٢٤)

مخکښي ستاسو، او یقیناً پیژنو مونږ وروستني خلق.

وَإِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ إِنَّهُ حَكِيمٌ عَلِيمٌ (٢٥) وَلَقَدْ

او یقیناً رب ستا هغه راجمع به کړي دوئ، یقیناً هغه حکمت والا پوهه دے. او یقیناً

خَلَقْنَا الْإِنْسٰنَ مِنْ صَلْصٰلٍ مِنْ حَمَإٍ مَسْنُونٍ (٢٦)

پیدا کړے مونږ انسان د دې چه خاوره د اخځ شوي، خمیره کړے شوي نه.

وَالْجَآنَّ خَلَقْنٰهُ مِنْ قَبْلُ مِنْ نَارِ السَّمُومِ (٢٧) وَإِذْ

او پیرلار (پیریان) پیدا کړي مونږ هغه مخکښي د اور نه د اور سوزوونکي نه. او کله چه

قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ إِنِّي خٰلِقٌ بَشَرًا مِنْ

وویل رب ستا ملائکو ته، یقیناً زه پیدا کوونکے یم بشر لره، د دې چه

صَلْصٰلٍ مِنْ حَمَإٍ مَسْنُونٍ (٢٨) فَإِذَا سَوَّيْتُهُ

خاوره د اخځ شوي خمیره کړے شوي نه. پس کله چه برابر کړم هغه،

وَنَفَخْتُ فِيهِ مِنْ رُوحِي فَقَعُوا لَهُ سٰجِدِينَ (٢٩)

او پوکړم په هغه کښې روح د طرف خپله، پس پریوزئ هغه ته سجده کوونکي.

فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ (٣٠) إِلَّآ

پس سجده وکړه ملائکو ټولو، په جمع سره، مګر

إِبْلِيسَ أَبٰٓى أَنْ يَكُونَ مَعَ السّٰجِدِينَ (٣١)

ابلیس، انکار ئې وکړو چه شي سره د سجده کوونکو نه.

الترجمه ص ٣١٣)، شیخ القرآن رحمة الله به فرمایل: دَ وچې خاورې، اخځ شوي، خمیره کړے شوي نه.

مِنْ نَارِ السَّمُومِ ص ٢٧: - اضافت بیانیه دے. السموم هغه اور چه ډیر سخت ګرم وي او دَ هغه حرارت دَ بدن په مساماتو کښې فوراً نفوذ کوي. یا اضافت دَ موصوف دے صفت ته یعني اور سوزوونکے. (جواهر ص ٥٤٩)

مِنْ رُوحِي: او چه پوک کړم په هغه کښې روح دَ طرف خپل نه.

فائده :-

په روح کښې دَ حکماؤ اقوال زیروت رسیدي. ټول قیاسات او تخمینې دي. امام غزالي رحمة الله، امام رازي رحمة الله او دَ عام صوفیاؤ او فلاسفو قول دا دے چه روح جسم نه دے بلکه "جوهر مجرد" دے او دَ جمهور علماء اهل حق روح یو جسم لطیف مني. نو بناء په دې دَ یو کو لو معنیٰ

ظاهره ده دے دَ بدن سره تعلق پیدا کیدل دي. (حاصل معارف ص ٢٨٦ ج ٥)

دکورئ اسراء ع ٨٥ ❁

بِمَا أَغْوَيْتَنِي: وګورئ اعراف ۱۶. هٰذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ: اخلاص يعني عبادت او عمل
کښې اخلاص او د شرک او ریا کارئ نه بچ کېدل لار د رسېدو ده ماته (جواهر ص ۱۸۵ ج ۲)

قَالَ يَا إِبْلِيسُ مَا لَكَ أَلَّا تَكُونَ مَعَ السَّاجِدِينَ ﴿٣٢﴾
ووے الله: اے ابلیسه! څه ګمرو دے تا لره چه نه شوے سره د سجده کوونکو.

قَالَ لَمْ أَكُن لِّأَسْجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقْتَهُ مِن صَلْصَالٍ
وویل: نه یم زه چه سجده وکړم بشر ته چه پیدا کړے تا هغه د وچې خاورے

مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٣٣﴾ قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ
تورې شوې، خټې کړے شوې نه. وفرمایل الله: نو ووځه د دے ځائے نه، پس یقیناً ته

رَجِيمٌ ﴿٣٤﴾ وَإِنَّ عَلَيْكَ اللَّعْنَةَ إِلَىٰ يَوْمِ الدِّينِ ﴿٣٥﴾
رټلے شوے یې. او یقیناً په تا باندې لعنت دے، د ورځې د بدلے پورې.

قَالَ رَبِّ فَأَنظِرْنِي إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿٣٦﴾ قَالَ
وویل هغه: اے ربه زما! پس مهلت راکړه ماته، تر هغې ورځې پورې چه دوی به راپاڅولے شي. ووې الله

فَإِنَّكَ مِنَ الْمُنظَرِينَ ﴿٣٧﴾ إِلَىٰ يَوْمِ الْوَقْتِ
یقیناً ته د مهلت کړے شوو نه یې، تر ورځې د وخت

الْمَعْلُومِ ﴿٣٨﴾ قَالَ رَبِّ بِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأُزَيِّنَنَّ
معلوم پورې. وویل هغه: اے ربه زما! په سبب د دې چه ګمراه دې کړم زه، خامخا به ښائسته کړم

لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٣٩﴾
دوی ته په زمکه کښې، او خامخا به ګمراه کړم دوی ټول.

إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ ﴿٤٠﴾ قَالَ هَٰذَا
مګر بندګان ستا د دوی نه چه خالص کړے شوی دی. وفرمایل الله: دا اخلاص

صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ ﴿٤١﴾ إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ
لار ده ماته، برابره. یقیناً بندګان زما، نشته

لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ إِلَّا مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ
تا لره په دوی باندې غلبه، مګر هغه څوک چه تابعداری کوي ستا د

الْغَاوِينَ ﴿٤٢﴾ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٣﴾
سرکشانو نه. او یقیناً دوزخ ځائے د وعدې د دوی، د ټولو دے.

حسن بصري رحمه الله فرمائي چه
عَلَيَّ په معنی د إِلَيَّ ده (قرطبي
ص ۲۸ ج ۱۰، خازن ج ۳ بحر ج ۵)

لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ: د دے
ځائے نه حاشیه د ۱۳ شروع
شوه: دے آیتونو کښې تخویف
اخروي دے. فائده ۱: اول
جهنم، بیا لظی، بیا حطمه
بیا سعیر، بیا سقر، بیا
جحیم، بیا هاویه (ابن کثیر، روح)
په دېکښې چه کوم طبق ري د
عصاة ذکر سورة نساء ۱۴۵
لاندې شوې دے. فائده ۲:
د جهنم د اوو دروازو ذکر
په دے سورت امتیاز دے
او د جنت د اتو دروازو ذکر
احادیثو کښې راغلے دے چه
ترمذی واحدیث دے. سهل
بن سعد رضی الله عنه وائی چه رسول
الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی: په
جنت کښې اته دروازې دی
یوه د هغوئ نه دروازه ده چه
نامه ئې ریان ده په ریان سره
نه داخلیږی پرے مګر
روژه داران (متفق علیه،
مشکوٰة ص ۱۷۳). إِنَّ الْمُتَّقِينَ
۴۵: دے آیت کریمه نه
بشارت تفصیلي دے هغه چا
لره چه د شیطان د تابعداری
نه ځان بچ ساتی پس د
د تخویف نه تابعداری کوونکی
د شیطان نه. مِنْ غِلٍّ: وګورئ
اعراف ۴۳. نَبِّئْ عِبَادِي: دا
ترغیب دے او وړاندې کښې ترهیب
دے لاکن لف او نشر غیر
مرتب دے.

وَنَبِّئْهُمْ عَن ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ ۵۱: د دے ځائے نه د دے سورت دریم باب
دے تر آخره پورے. اول دلیل نقلی دے د ابراهیم علیه السلام نه ترمخه پورے د پارې د تمهید.

(۲) بیا پنځه نمبر لې د مهلکینو په ... کښې. (۳) تسلي په ... کښې په بنګلي انداز
سره (۴) او بیا توحید، ... کښې بشارت د محمدي سورت - سورة ابراهیم ... نه هم ذکور دي

لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ لِكُلِّ بَابٍ مِنْهُمْ جُزْءٌ مَقْسُومٌ ﴿۴۴﴾

د دې لره اووه دروازې دي، د هرې دروازې لره د دوی نه حصه تقسیم کړې شوې ده.

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿۴۵﴾ ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ

یقیناً پرهیزګاران به په باغونو کښې او چینو کښې وي، ... ننوځئ دې ته په

آمِنِينَ ﴿۴۶﴾ وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِمْ مِنْ غِلٍّ

سلامتیا سره بې وېرې. او وباسو موږ هغه چې په سینو د دوی کښې دي، د خفګان نه،

إِخْوَانًا عَلَىٰ سُرُرٍ مُتَقَابِلِينَ ﴿۴۷﴾ لَا يَمَسُّهُمْ فِيهَا نَصَبٌ

ورونه به وي، په تختونو باندې به مخامخ ناست وي. نه به رسیږي دوی ته په هغې کښې ستړیا،

وَمَا هُمْ مِنْهَا بِمُخْرَجِينَ ﴿۴۸﴾ نَبِّئْ عِبَادِي أَنِّي أَنَا

او نه به دوی د هغې نه وېستلی شي. خبر کړه بندګان خما، چه یقیناً څه،

الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿۴۹﴾ وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ الْعَذَابُ الْأَلِيمُ ﴿۵۰﴾

بښونکې مهربانه یم. او یقیناً عذاب خما، دا عذاب دردناک دے.

وَنَبِّئْهُمْ عَنْ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ ﴿۵۱﴾ إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ

او خبر کړه دوی ته د مېلمنو د ابراهیم نه. کله چه راننوتل په هغه،

فَقَالُوا سَلَامًا قَالَ إِنَّا مِنْكُمْ وَجِلُونَ ﴿۵۲﴾ قَالُوا

پس وې ویل سلام دې وي، وویل هغه یقیناً موږ ستاسو نه وېرېږو. وویل هغوی،

لَا تَوْجَلْ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ عَلِيمٍ ﴿۵۳﴾ قَالَ

مه وېرېږه، یقیناً موږ زېرے درکوو تا ته د هلک پوهه سره. وویل هغه،

أَبَشَّرْتُمُونِي عَلَىٰ أَنْ مَسَّنِيَ الْكِبَرُ فَبِمَ

آیا زېرے راکوئ ماته، سره د دې چه رارسېدلې ماته بوډاوالے، پس په څه

تُبَشِّرُونَ ﴿۵۴﴾ قَالُوا بَشَّرْنَاكَ بِالْحَقِّ فَلَا

زېرے راکوئ ماته. وویل هغوی زېرے درکوو تا ته په حقه رښتیا، پس مه

تَكُنْ مِنَ الْقَانِطِينَ ﴿۵۵﴾ قَالَ وَمَنْ يَقْنَطُ

کېږه د نا امېدي کوونکو نه. وویل هغه او څوک نا امېده کېږي

ع ۱۹ ۳

منزل ۳

علت هم دا دلیل نقلي ذکر شو
ذو او هود هم د ... نه
ذکور دي او ذاریات هم ...
نه ذکور دي. الحاصل په
ټولو کښې اداب مجلس او
اداب مهمان نوازي ذکر
شوي دي. فَقَالُوا سَلٰمًا،
جواب ئې ذاریات ۲۵، هود
۶۹ کښې ورکړ. قَالَ سَلٰمٌ
دے. اِنَّا مِنْكُمْ وَجِلُوْنَ، د
دې نه ځکني؛ وَاَوْجَسَ
مِنْهُمْ خِيْفَةً، سورة هود
۷۰ کښې. فَاَوْجَسَ مِنْهُمْ
خِيْفَةً، ذاریات ۲۸ کښې دي.
وَمَنْ يَّقْنَطُ: نه نا امیده
کیږي. د شاه پور شیخ
رحمه الله فرمائي، د الله تعالى
د رحم نه نا امید کافر دے
ځکه چه کوم باري تعالى په حمل
بانو موقوف نه دے (افضل
التراجم ص ۳۶۹).
قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ: (حاشيه
د راتلو څه غرض ...): هر کله
چه زېرې ورکولو د پاره یو
ملائکه هم کافي ده نو ځکه
ابراهیم علیه السلام وفرمائیل
چه څه د دے لوئے کاروان
رالیږلو شوي استاذ و
نو هغوی بیا جواب ورکړو.
لَمُنَجُّوْهُمْ: دا قول د

لاندې دے: اِنَّا اَرْسَلْنَآ یعني مونږ لیږلی شوي یو. نو مطلب دا دے چه دا د الله تعالى پیغام
دے چه مونږ به بچ خلاص کړو. دلیل په دې دا آیت دے ۵۹ د نمل، فَاَنْجَيْنٰهُ: الله تعالى فرمائي

مطلب دا دے چہ استثناء منه ده. استثناء د إِلَّا امْرَأَتَهُ : د استثناء
بچونکو نجات ورکړو لوط ؑ او اهل د هغه لره. فَلَمَّا جَاءَ آلَ لُوطٍ : د دے خائے نه
دا شو چه آل د لوط ؑ ته پرښتو خو تول نه .بلکه بیخے هلاکیږی.

مِن رَّحْمَةِ رَبِّهِ إِلَّا الضَّالُّونَ ﴿٥٦﴾ قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ
د رحمت د رب خپل نه، مگر گمراهان. ووئیل هغه: پس څه کار دے تاسو
أَيُّهَا الْمُرْسَلُونَ ﴿٥٧﴾ قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَىٰ قَوْمٍ
اے رالیږلو شوو. ووئیل دوی: یقیناً مونږه لیږلی شوی یو یو قوم
مُّجْرِمِينَ ﴿٥٨﴾ إِلَّا آلَ لُوطٍ إِنَّا لَمُنَجُّوهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٥٩﴾
جرم کوونکی ته. مگر کورنئ د لوط ؑ یقیناً خامخا مونږ بچ کړو هغوی ټولو لره.
إِلَّا امْرَأَتَهُ قَدَّرْنَا ۙ إِنَّهَا لَمِنَ الْغَابِرِينَ ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا
مگر ښځه د هغه، مقرر کړے مونږ، یقیناً دا (به) وی د پاتے کیدونکو (په عذاب کښ) پس هرکله چه
جَاءَ آلَ لُوطٍ الْمُرْسَلُونَ ﴿٦١﴾ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ
راغلل کورنئ د لوط ؑ ته رالیږلی شوی. وے وئیل: یقیناً تاسو قوم
مُّنكَرُونَ ﴿٦٢﴾ قَالُوا بَلْ جِئْنَاكَ بِمَا كَانُوا فِيهِ
نا آشنا گرځی شوی یئ. ووئیل دوی: بلکه راوړی مونږ تا ته هغه عذاب چه (دوی) په کښ
يَمْتَرُونَ ﴿٦٣﴾ وَأَتَيْنَاكَ بِالْحَقِّ وَإِنَّا لَصَادِقُونَ ﴿٦٤﴾
چه شک به کولو. او راوړی مونږ تا ته حقه خبره، او یقیناً مونږ خامخا رښتونی یو.
فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ اللَّيْلِ وَاتَّبِعْ أَدْبَارَهُمْ
پس بوځه اهل خپل په یوه حصه د شپے کښ، او روان شه روستو د هغوی نه
وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ وَامْضُوا حَيْثُ
او نه دے گوری شاته ستاسو نه هیڅوک، او لاړ شئ هغه ځائے ته چه
تُؤْمَرُونَ ﴿٦٥﴾ وَقَضَيْنَا إِلَيْهِ ذَٰلِكَ الْأَمْرَ
تاسو ته امر کولے شی. او فیصله کړے وه مونږ دے ته دغه .... خبره چه
أَنَّ دَابِرَ هَٰؤُلَاءِ مَقْطُوعٌ مُّصْبِحِينَ ﴿٦٦﴾ وَ
یقیناً مونږ د دے کسانو بیخ کولے شی صبا طلوع (چه دوی به په وخت د صبا کښ). او
جَاءَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿٦٧﴾ قَالَ إِنَّ
راغلل کلی والا چه خوشالی به کوله. ووئیل لوط ؑ: یقیناً

اول نمونه د هلاکینو شروع شوه. وگورئ آیت ۵۹. قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ : ـ
وفرمائیل لوط علیه السلام یقیناً تاسے قوم نا آشنا یاستئ. د دے نه معلومه شوه چه لوط علیه السلام غیب دان نه وو.
قَالَ بَلْ جِئْنَاكَ : د پښتو شیخ رحمه الله فرمائی د لته عبارت محذوف دے. مَا جِئْنَاكَ لِنَضُرَّكَ : چه نه یو رالیږلی سونږ ستا د ضرر د پاره بلکه په هغه عذاب راغلی یو چه دوی پکښ شک کولو. هغوی دا هم فرمائی چه د لوط علیه السلام اصل واقعه پخپل ترتیب سره سورۃ هود کښ ذکر شوے ده. ولته د قصے مختلفو ټکړو کښ تقدیم او تاخیر دے.
(جواهر ص ۶۲) وَجَاءَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ ۶۷ : دا واقعه مخکښ وه او په ذکر کښ روستو ده (انفس التراجم ص ۳۴۷) فائده : (معارف ص ۲۹۳) کښ دی چه د اخپل میلمانه دی نو ما لره په دا مو خلقو کښ مه رسوا کوئ (ځکه د میلمه توهین د کوربه توهین دے) او د الله تعالیٰ نه ووېرېږئ
او ما لره (د دے میلمنو په نظر کښ) مه رسوا کوئ چه دوی به دا وگنړی چه د خپل کلی په خلقو کښ ئے هم وقعت نشته.

قَالُوٓا اَوَلَمْ نَنْهَكَ : الوسی رحمه الله لیکی، دوی پلے دوی او ایا نه وو مونږ منعه کړے تا له د چنانی دکولو
دَ یو تن د دوی نه او د حاصل کیدو د ستا د زمونږ او د هغوی په ما بین کښ (روح ۳۵) هٰٓؤُلَآءِ بَنٰتِیٓ :
ذکر یې په سورة هود شوے .
لَعَمْرُكَ : دا ادخال اللام او جمله قسمیه ده لعمرك مبتدا او قسمی، د دے خبر وجوبًا محذوف د ے
په دیکښ الله تعالیٰ د نبی اکرم ﷺ په ژوند کا نی ها نبی قسم خوړلے دے. (جواهر ص ۳۹۹)
فائده : په انعام الرحمن کښ (ص ۲۱۶) نه د قسمونو خلور قیمونه ذکر شوی دی، هلته ئے مطالعه کړئ.
ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه الله تعالیٰ نه دے پیدا کړے یو نفس وبرزخ مخلوق چه هغه بانو د محمد ﷺ نه او مانه دی او نه دی اوریدلی د
الله سبحانه نه چه قسم ئے په ژوند د چا کړے غیر د هغه نه (روح ص ۵۴)
مُشْرِقِيْنَ : په قرطبی ج ۱۰ کښ دی چه اول سر عذاب د صبا په وخت کښ شو او اوږد شو تر نمر ختلو پورے پس پوره واله د هلاکت په دغه وخت کښ شو. والله اعلم.
لِلْمُتَوَسِّمِيْنَ : معنٰی، تفسیر مظهری ص ۲۸۳ کښ څلور معنے لیکلے دی :
۱: د پاره د کتونکو. ۲: د پاره د فراست حاصلونکو. ۳: د پاره د عبرت اخستونکو. ۴: د پاره د فکر کونکو. (انعام الرحمن ص ۲۱۵)
وَاِنْ كَانَ اَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ : دا د ولڼه د وچه نمونه ده او د ونو جنګلی والا قوم د شعیب علیه السلام وو (کبیر ص ۱۲۳)
لَبِاِمَامٍ مُّبِيْنٍ : او دا دواړه کلی په لاره واقع دی (دا په لاره د پاسه کو)

هٰٓؤُلَآءِ ضَيْفِىْ فَلَا تَفْضَحُوْنِ ۝٦٨ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَلَا
دا میلمانه زما دی، پس ما مه شرموئ ما له ترے . او ویریږئ د الله تعالیٰ نه او مه
تُخْزُوْنِ ۝٦٩ قَالُوْٓا اَوَلَمْ نَنْهَكَ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ۝٧٠
رسوا کوئ ما . وویل دوی: ایا نه یو مونږ منعه کړے تا، د حمایت د خلقو نه .
قَالَ هٰٓؤُلَآءِ بَنٰتِىْٓ اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ۝٧١ لَعَمْرُكَ
وویل هغه: دا لوڼه زما دی، که چرته یئ تاسو کوونکی (د څه کار) . قسم دے په ژوند ستا
اِنَّهُمْ لَفِىْ سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ۝٧٢ فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ
یقینًا دوی په نشه خپله کښ بے خوده دی . پس ونیول دوی لره چغه، خرے ما ل کو
مُشْرِقِيْنَ ۝٧٣ فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَاَمْطَرْنَا
په دوی کښ نمر ختونکی، پس وګرځوله مونږ برنه طرف د هغوی لاندې او اوورول
عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّنْ سِجِّيْلٍ ۝٧٤ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ
په دوی باندې کانړي، د کنګو کانړو نه . یقینًا په دے کښې
لَاٰيٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِيْنَ ۝٧٥ وَاِنَّهَا لَبِسَبِيْلٍ مُّقِيْمٍ ۝٧٦
نښے دی د پاره د عبرت حاصلونکو . او یقینًا دا کلی واقع دی په لاره برابر باندې .
اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۝٧٧ وَاِنْ كَانَ
یقینًا په دیکښ خامخا نښه ده د پاره د ایماندارو . او یقینًا وو
اَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ لَظٰلِمِيْنَ ۝٧٨ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ ۘ
خاوندان د ځنګل ظالمان کونکی . پس بدله واخسته مونږ د دوی نه
وَاِنَّهُمَا لَبِاِمَامٍ مُّبِيْنٍ ۝٧٩ وَلَقَدْ كَذَّبَ
او یقینًا دا دواړه کلی په لاره ښکاره باندې دی . او یقینًا دروغژن ګڼلی وو
اَصْحٰبُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِيْنَ ۝٨٠ وَاٰتَيْنٰهُمْ اٰيٰتِنَا
خاوندانو د حجر، لیږلی شوی پیغمبران او ورکړے مونږ دوی ته نښے خپلے
فَكَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ۝٨١ وَكَانُوْا يَنْحِتُوْنَ
پس وو دوی د هغو نه مخ اړوونکی . او وو دوی چه توږل به ئے

مکے او الهند چه کله به شام ته تلل. ابن قتیبه رحمه الله فرمائی چه لارے ته امام ځکه ویلے شی چه مسافر پرے اقتدا کوی. (غریب القرآن ص ۲۳۵)
وَلَقَدْ كَذَّبَ اَصْحٰبُ الْحِجْرِ : د دے ځائے نه دریمه نمونه شروع شوه او دا قوم د صالح علیه السلام وو په دیکښ د سورة وجه د تسمیه هم ذکر شوے ده.

[illegible]

وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ: دا دلیل عقلی دے او دَ ماقبل علت دے چه آسمانونه او زمکه دَ عدل دَ پاره پیدا شوی دی او دَ عدل تقاضا په دُنیا او آخرت کښې ښکاره ده۔ (العذب الفرات التراجم ملک) کښې دی چه حقه مسئله دَ توحید ثابته شی او کله واضحه چا وَ منله او کله ونه منله نو دَ دوارو فریقو دَ فیصلے دَ پاره قیامت راروان دے۔

مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا آمِنِينَ ﴿٨٢﴾ فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ

[illegible]

مُصْبِحِينَ ﴿٨٣﴾ فَمَا أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٨٤﴾

[illegible]

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا إِلَّا

[illegible]

بِالْحَقِّ ۗ وَإِنَّ السَّاعَةَ لَآتِيَةٌ ۖ فَاصْفَحِ الصَّفْحَ

[illegible]

الْجَمِيلَ ﴿٨٥﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْخَلَّاقُ الْعَلِيمُ ﴿٨٦﴾ وَ

[illegible]

لَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنَ

[illegible]

الْعَظِيمَ ﴿٨٧﴾ لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا

[illegible]

بِهِ أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَاخْفِضْ

[illegible]

جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٨﴾ وَقُلْ إِنِّي أَنَا النَّذِيرُ

[illegible]

الْمُبِينُ ﴿٨٩﴾ كَمَا أَنزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِينَ ﴿٩٠﴾

[illegible]

الَّذِينَ جَعَلُوا الْقُرْآنَ عِضِينَ ﴿٩١﴾ فَوَرَبِّكَ

[illegible]

لَنَسْأَلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٩٢﴾ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٩٣﴾ الربع

[illegible]

فَاصْفَحْ: دَ دے جملے نه دَ تبلیغ آداب دَ پاره دَ مبلغ مکی او تنګی ده۔ یو دا او اِنَّ رَبَّكَ خبه دلیل دَ ماقبل دے او ۸۵ علت دَ فَاصْفَحْ دے، په ۸۵ کښې ورکړے او ۸۶ کښې یو، په ۸۷ کښې دوه، په ۸۸ کښې دوه، په ۸۹ کښې یو دے۔ فائده: دَ سبع مثانی او قرآن عظیم نه فاتحه شریفه مراد ده ځکه چه باربار په مانځه کښې وئیلے شی۔ او دا اووه آیتونه دی او دَ ټول قرآن دَ مضامینو خلاصه پکښې ده او دَ دے مصداق سورة فاتحه په صحیح حدیث کښې راغلے دے وګورئ بخاری، مشکوٰة، ابن جریر، روح۔ كَمَا أَنزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِينَ ۔ راغلو مونږ عذاب لکه چه مو نازل کړے په مقتسمینو باندے۔ دا دَ خلورمه نمونه دَ تخویف شوه۔ په دے کښې قوی قول دا دے چه ۱۲ کسان وو، ولید بن مغیرة په وخت دَ حج کښې مقرر کړی وو او دوی ئې اوګمارلی وو او لارے دَ مکے به ئې تقسیم کړے وے او ویلے به ئې چه هغه دهوکه ګیر شی به دے سړی چه مونږ کښې پیدا شوے او دعوه دَ نبوت کوی، پس بعضو به ویلے دے جادو ګر دے او بعضو به ویلے شاعر دے او بعضو به ویلے دا کاهن دے (قرطبی، وګورئ جواهر، الهام)۔ لَنَسْأَلَنَّهُمْ:

قیامت کښې مختلف ځایونه دی بعضو کښې به تپوس کیږی او بعضو کښې به نه کیږی۔ وګورئ تفسیر [illegible] او [illegible] رحمن۔ فَاصْدَعْ: پس صاف او ښکاره بیان کړه۔ راغب رحمه الله فرمائی چه صدع ماتولو ته وائی دی په سختو لکه شیشه او اوسپنه او دَ دے په معنی شو (مفردات) سورة [illegible] کښې هم دَ مداهنت نه منعه

دا ۹۵ . إِنَّا كَفَيْنَٰكَ الْمُسْتَهْزِءِينَ : د کیس تسلی ده او خفه نبوت د تقویه ده او دا دے شمار هغه پنځه یا کم او یا زیات کسان دی د مشرکینو ټولګے نو چه هر وخت به ئې قرآن او رسول الله صلی الله علیه وسلم په د استهزاء او مسخرو نوی نوی صورتونه راویستل او د عقوبت په هر سے خبرے پسے بدل توبې راکولے . (بحر ص ۹۳ ، جواهر ص ۵۰۸)

فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ ﴿۹۴﴾

پس ښکاره بیان کړه هغه څه چه درته حکم کولے شي او مخ واړوه (او پروا مه کوه) د مشرکانو نه .

إِنَّا كَفَيْنَٰكَ الْمُسْتَهْزِءِينَ ﴿۹۵﴾ الَّذِينَ يَجْعَلُونَ

یقیناً مونږ کافی یو تا ته د مقابل د ټوقو کوونکو ، هغه کسان دی چه جوړوي ،

مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ ۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿۹۶﴾ وَلَقَدْ

د الله تعالی سره معبود بل ، پس زر دی چه پوهه به شي ... او یقیناً ،

نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ﴿۹۷﴾

په دې پوهیږو مونږ چه یقیناً تنګیږي سینه ستا په هغه وینا چه دوی ئې وائي .

فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ ﴿۹۸﴾

پس تسبیح وایه په ستائنه د رب خپل او شه د سجده کوونکو نه .

وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ ﴿۹۹﴾

او عبادت کوه د رب خپل ، تر دے چه راشي تا ته مرګ ...

سُورَةُ النَّحْلِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَثَمَانٌ وَعِشْرُونَ آيَةً وَسِتَّ عَشَرَ رُكُوعًا

سورة نحل مکی ده او (۱۲۸) آیتونه او (۱۶) رکوعګانې دي .

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

أَتَىٰ أَمْرُ اللَّهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ ۚ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ

راغلو حکم د الله تعالی ، پس جلتی مکوئ د هغه نه ، پاک دے الله تعالی ، او اوچت دے

عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿۱﴾ يُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ بِالرُّوحِ

د هغه څه نه چه دوی ئې ورسره شریکوي ، رالیږي ملائک ، په روح سره ،

مِنْ أَمْرِهِ عَلَىٰ مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ أَنْ

د امر خپل نه ، په هغه چا چه رضا ئې وشي ، د بندګانو خپلو نه ، چه

أَنذِرُوا أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاتَّقُونِ ﴿۲﴾

خبر کړئ خلق چه نشته (الٰه) د بندګۍ سوا زما نه پس ویریږئ ما نه .

الْيَقِينُ : د دے نه مراد مرګ دے لکه الحدیث کښي او د بخاری کتاب الجنائز کښي . وَاحْأَحَمَ لَقَدْ جَاءَهُ الْيَقِينُ . او لغات او کتابونه تفسیرونو (روح ۳ ، ابن کثیر ، بحر کښي دی - وګورئ ماجدی ص ۵۴۳) او مرګ ته یقین ځکه وائي چه دا نو امر یقینی دے (سراج منیر طبع)

فائده : هر چه ملحدان وائي چه د دے نه مراد معرفت دے چه کله انسان ته وغ ته ورسیږي نو د هغه نه تکلیف شرعی ساقط شي او عبادت کول ورته معاف شي نو دا کفر ، ضلال او جهل او الحاد دے ، علماؤ په دے رد کړے دے . آلوسی رحمه الله دا دے کسانو ته ملحدان وائي . وګورئ روح ص ۴۸۸ مسائل السلوک ص ۹۸ . او حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي دا دے عقیده ساتل کفر او ضلال او جهل دے (ص ۳۹۰) نور حوالے الهام ص ۳۱۵ ، ۳۱۸ کښي وګورئ .

امتیازات : (۱) پیغمبر نبوت د هلاک شوو قومونو (۲) وعده د حفاظت د قرآن ص ۹ (۳) د انسان ناشو د پلار پیدائش ص ۲۶ او د ټولو پلار پیدائش ص ۲۹ (۴) خاصه تسلی (۵) د جهنم د اووه دروازو ذکر ص ۴۴ .

وجه د تسمیه : آیت ص ۸۰ کښي د اصحاب الحجر لفظ راغلے .

دعوی : نزول د عذاب په موجوده او آینده علم .

ربطونه : (۱) مخکښي سورت کښي احوال د امتونو تکذیب کوونکو ذکر شو نو دلته وائي راځئ او عذاب تلوار ترینه محروم (۲) هلته ختم په تسبیح شو نو دلته سر کښي تسبیح بیا نوي (۳) هغه سورت ختم په توحید شو نو دلته چرے کفر دلائل عقلیه ذکر کوي (۴) مخکښي سورتونو کښي نقلی دلائل ذو نو دلته عقلی دلائل ذکر کوي (۵) هلته نقلی دلیل

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۭ تَعٰلٰى عَمَّا
پیدا کړی دی آسمانونه او زمکه په حقه سره، لوئے دے الله ډیر ده هغه څه
يُشْرِكُوْنَ ③ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ فَاِذَا
چه دوی ورسره شریکوی. پیدا کړے ده الله انسان د نطفې نه. پس ناګهانه
هُوَ خَصِيْمٌ مُّبِيْنٌ ④ وَالْاَنْعَامَ خَلَقَهَا ۚ لَكُمْ
هغه جګړه کوونکے ښکاره دے. او څاروی ئے پیدا کړی دی دپاره ستاسو
فِيْهَا دِفْءٌ وَّمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ⑤ وَلَكُمْ
په هغوی کښی سامان د ګرمی دے او نور فائدے دی او د هغوی نه خورئ او تاسو لره
فِيْهَا جَمَالٌ حِيْنَ تُرِيْحُوْنَ وَحِيْنَ تَسْرَحُوْنَ ⑥
په هغوی کښی ښائست دے کله چه ئے بیرته راولئ او کله چه ئے سحر خر ته بیائی.
وَتَحْمِلُ اَثْقَالَكُمْ اِلٰى بَلَدٍ لَّمْ تَكُوْنُوْا بٰلِغِيْهِ
او بار وړی دروند بوجونه ستاسو، هغه ښار ته چه نه وئ تاسو رسیدونکی هغه ته
اِلَّا بِشِقِّ الْاَنْفُسِ ۭ اِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ⑦
مګر په مشقت د نفسونو سره. یقیناً رب ستاسو خامخا مهربان او رحم کوونکے دے.
وَّالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيْرَ لِتَرْكَبُوْهَا
او آسونه، او قچرې او خرونه ئے پیدا کړی دی چه سورلی وکړئ په هغوی
وَزِيْنَةً ۭ وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ⑧ وَعَلَى
او دپاره د ښائست او پیدا کوی هغه څه چه تاسو پرې نه پوهیږئ. او په الله تعالی
اللّٰهِ قَصْدُ السَّبِيْلِ وَمِنْهَا جَاۗىِٕرٌ ۭ وَلَوْ
باندې ښودل د سیده لارے دی او ځینې د لارو کږې دی، او که چرته اراده
شَاۗءَ لَهَدٰىكُمْ اَجْمَعِيْنَ ⑨ هُوَ الَّذِيْٓ
الله نو خامخا هدایت به وکړی تاسو ټولو ته. الله هغه ذات دے چه
اَنْزَلَ مِنَ السَّمَاۗءِ مَاۗءً لَّكُمْ مِّنْهُ شَرَابٌ
رالیږلے ئے دے د بورګې نه اوبه، ستاسو دپاره د هغوی نه څښل دی

د دې ذ ابراهیم علیه السلام نه ولنه ته ذ النحل نه مخ. اجمالی خلاصه: سورت کښی دوه حصے، اوله تر مخ ۱۱ پورے. په دیکښی اوه بابونه اول تر ۲۳ پورے، دویم تر ۳۴ پورے، دریم تر ۵۰ پورے، څلورم تر ۶۵ پورے، پنځم تر ۸۳ پورے، شپږم تر ۱۰۰ پورے، او وم تر ۱۱۰ پورے. دویمه حصه تر آخره پورے او یو باب. د اول باب خلاصه: په دیکښی دریے خبرے دی: (۱) دعوه د سورت سره ذ دعوے د توحید عنه (۲) دلائل عقلیه نه تر ۱۶ پورے (۳) شبه د توحید دفعه نه. اَتٰى اَمْرُ اللّٰهِ: راغلو حکم د الله تعالی. په ماضی سره تعبیر دے دپاره د تحقیق او د یقین نه دے. قرطبی رحمه الله فرمائی چه د امر الله نه مراد عذاب د هغه دے د هغه چا دپاره چه تېښتی دی په شرک او په تکذیب د رسول د الله تعالی باندې. يُنَزِّلُ الْمَلٰۗىِٕكَةَ: د روح نه مراد وحی ده. ۵. ملاد شوری. امام رازی رحمه الله فرمائی چه معنی ئے دا ده د الله ملائک په وحی سره چه خبر کړی خلق چه اَنْذِرُوْٓا اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا او انذار خبر ورکول دی سره د تخویف نه. (الکبیر ص۱۹۵ ج۲۰).

دِفْءٌ: په حاشیه د وضخ (دالوم ذ هغه چا مور دے چه ګرمایش پرے راځی چه جوړے شوے د وړو یا د پشم یا د ویښتو نه (مرک ...). تُرِيْحُوْنَ: کله چه ئے ماښام کورته راولئ. چونکه دغه وخت کښی ما ډیر اخوړ شوی وی نو د زیات ښائست به وجه ئے تُرِيْحُوْنَ مخکښی ذکر کړو. وَزِيْنَةً: عطف دے په وَالْاَنْعَامَ عطف باندې یعنی پیدا کړی دا د پاره د سورلئ او د ښائست (مدارک ...). وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ: او په آینده زمانه کښی نور شیزونه پیدا کول لکه لاری او موټرې او جهازونه وغیره (افضل تراجم ص...). فائده: په قران کښی د ریل، موټرو، هوائی جهازونو ذکر (معارف ص...). دغه شانے د سورة یٰس آیت ۴۲ لاندې مفتی صاحب فرمائی: په قرآن کښی د هوائی جهاز ذکر (معارف ص...). وَعَلَى اللّٰهِ قَصْدُ السَّبِيْلِ: ...

او په الله تعالیٰ باندې بیان د سمې لارې دے (قرطبی ص) اشاره ده فائدے د دلائلو ته خو بیا هم فرمائي چه هدایت د الله تعالیٰ په قبضه کښې دے. وَمِنْهَا جَآئِرٌ: و بعض د لارو نه کږې دي لکه د یهودیت او نصرانیت او د نورو کفري ملتونو لارے شوے (خازن) قرطبي رحمه الله د تستري رحمه الله نه ذکر کړي چه سمه لاره لاره د سنت ده او کږې يعني اوړے د نورو ملتونو او بدعاتو دي. (فتح ص ۵۹ ج ۲) وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ: (حاشیه د ترجمې) او هغه چه پیدا کړي تاسو لره په زمکه کښې يې کښې حال کښې چه مختلف دي رنګونه د هغوی. د تفصیل د پاره سورۃ فاطر ۲۷ وګورئ. وَلِتَبْتَغُوا: نسفي رحمه الله فرمائي چه داعطف دے په عنوف باندې اي لتعتبروا چه عبرت حاصل کړئ او ولټوئ فضل د الله (مدارک ص ۲۹۲) وَعَلٰمٰتٍ: او نورې علامې نښانې ئې پیدا کړي: يعنې موښو ۲ په زمکه کښې د لار ښئو د پاره ډیرے علامې غرونه دریابونه، ونې اسمانونه وغیره د ذریعے قائمے کړيدي (معارف ص ۳۴۷) اَفَمَنْ يَّخْلُقُ ۱۷: زجر د کفارو لره چه د خالق او مخلوق فرق نکوي او د دے خائے نه شروع دے ذکر کوي ایک ۱۹ کښې د الله تعالیٰ د ډیرو والي د نعمتونو ذکر دے او د منعم حال ئې آخر کښې ذکر کړیدے. په ۱۹ کښې نفي د شرک في العلم او په ۲۰ ۲۱ کښې نفي د شرک في الدعاء او في التصرف ده، په ۲۲ کښې تفریع د دعوے د توحید او زجر متکبرینو لره په ۲۳ کښې نفي د شرک في العلم او زجر دے. اَمْوَاتٌ ۲۱: مړه دي، نه دي ژوندي. مولانا شبیر احمد عثماني رحمه الله

وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ ﴿١٠﴾ يُنْۢبِتُ لَكُمْ بِهِ
او د هغه نه (ونې دي) په هغو کښې څروئ څاروي لره. راز غونوي د تاسو لره په دغه اوبو سره
الزَّرْعَ وَالزَّيْتُونَ وَالنَّخِيلَ وَالْأَعْنَابَ وَمِنْ كُلِّ
فصل، او زیتون، او کهجورے، او انګور، او د هر قسم
الثَّمَرَاتِ ۗ إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُونَ ﴿١١﴾
میوه جات نه، یقیناً په دې کښې، خامخا نښه ده، د هغه قوم د پاره چه فکر کوي.
وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۙ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ
او تابع کړے ئې ستاسو د پاره شپه او ورځ، او نمر، او سپوږمۍ،
وَالنُّجُومُ مُسَخَّرَاتٌ ۢ بِأَمْرِهٖ ۗ إِنَّ فِي ذٰلِكَ
او ستورې تابع کړے شوې په امر د الله تعالیٰ، یقیناً په دے کښې،
لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُونَ ﴿١٢﴾ وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ فِي
خامخا دلیلونه دي د هغه قوم د پاره چه عقل کاروي او هغه چه پیدا کړي تاسو لره په
الْأَرْضِ مُخْتَلِفًا أَلْوَانُهٗ ۗ إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَاٰيَةً
زمکه کښې، مختلف دي رنګونه د هغو، یقیناً په دې کښې، خامخا نښه ده،
لِّقَوْمٍ يَّذَّكَّرُونَ ﴿١٣﴾ وَهُوَ الَّذِي سَخَّرَ الْبَحْرَ
د هغه قوم د پاره چه پند حاصلوي. او الله تعالیٰ هغه ذات دے چه تابع کړے ئې دریاب،
لِتَأْكُلُوا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا وَّتَسْتَخْرِجُوا مِنْهُ
چه وخورئ د هغه نه غوښه، تازه، او رااوباسئ د هغه نه
حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا ۚ وَتَرَى الْفُلْكَ مَوَاخِرَ
ګاڼه چه اغوندئ ئې، او وینے به ته کشتۍ شلونکې د اوبو
فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٤﴾
په هغې کښې او چه ولټوئ د فضل د هغه نه، او د دې د پاره چه تاسو شکر وباسئ.
وَأَلْقٰى فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَنْ تَمِيدَ بِكُمْ
او اچولي دي په زمکه کښې مضبوط غرونه، چه و نه خوځوي په تاسو سره،

فرمائي یعنې کوم خیزونو لره چه د الله تعالیٰ نه سوا عبادت کوي بتول مړه دي لاله بے ساه دي دوامًا: مثلاً بتان یا في الحال مثلاً کوم بزرګان چه مړه شوي دي او د هغوی عبادت کولے شي یا

وَاَنْهٰرًا وَّسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿١٥﴾ وَعَلٰمٰتٍ

او ويالې، او لارې، د پاره د دې چې تاسې لاره بيا مومئ. - او پيدا كړې يې نښې،

وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿١٦﴾ اَفَمَنْ يَّخْلُقُ

او په ستورو سره، دوى لاره بيا مومي. - ايا پس هغه څوك چې پيدا كول كوي،

كَمَنْ لَّا يَخْلُقُ ۗ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿١٧﴾ وَاِنْ تَعُدُّوْا

په شان د هغه چا دى چې پيدا ئې نشي كولى، آيا پس تاسې نصيحت نه قبلوئ تاسې. - او كه شمېرئ

نِعْمَةَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا ۗ اِنَّ اللّٰهَ لَغَفُوْرٌ

نعمتونه د الله تعالىٰ، نشئ حساب كولى هغه، يقينًا الله تعالىٰ خامخا بخښونكى،

رَّحِيْمٌ ﴿١٨﴾ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُسِرُّوْنَ وَمَا

مهربانه دے. او الله تعالىٰ پوهېږي په هغه چې تاسې پټ كوئ، او په هغو چې

تُعْلِنُوْنَ ﴿١٩﴾ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ

ښكاره ئې كوئ. او هغه كسان چې بللې ئې دوى، سيوا د الله تعالىٰ

اللّٰهِ لَا يَخْلُقُوْنَ شَيْـًٔا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ ﴿٢٠﴾ ط

نه، نشي پيدا كولى هيڅ شي لره، او دوى پيدا كړے شوي دي.

اَمْوَاتٌ غَيْرُ اَحْيَآءٍ ۚ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ۙ اَيَّانَ

دا مړه دي، نه دي ژوندي، او نه پوهېږي دوى، چې كله به

يُبْعَثُوْنَ ﴿٢١﴾ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَالَّذِيْنَ لَا

راپورته كولے شي. معبود ستاسې معبود يو دے، پس هغه كسان چې ايمان

يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ قُلُوْبُهُمْ مُّنْكِرَةٌ وَّهُمْ

نلري، په آخرت بانې، زړونه د دوى انكار كونكي دي د توحيد، او دوى،

مُّسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٢٢﴾ لَا جَرَمَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ

لوئي كونكي دي. خامخا، يقينًا الله تعالىٰ پوهېږي،

مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ

په هغه چې دوى پټ كوي او په هغه چې ښكاره ئې كوي. يقينًا الله تعالىٰ، مينه نه لري ٢

ربع ع ١٢ / ٨

د انجام او مآل په اعتبار، مثلًا حضرت مسيح ؑ، روح القدس، او ملائكې د الله تعالىٰ د كوم چې بعض خلق عبادت كوي (عثماني ص٣٦٥) فائده: شاه صاحب رحمه الله فرمائي: شايد دا ئې هغه خلقو ته وفرمائيل چې د مړو شوو بزرگانو عبادت كوي. (موضح القرآن ص٣٤٣)

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ ص٢٤: (حاشيه د ناتلونكي مخ ص٢٩) كډه خاطے نه ترص٣٥ پورے دوېيم باب دے. په ديكښې زواجر بار بار دي، ص٢٤ ص٢٣ ص٣٥، وغيره شاني تخويفات ص٢٥ ص٢٦ ص٢٧ ص٢٨ ص٢٩ ص٣٣ ص٣٤ بار بار او بشارات، ص٣٠ ص٣٢ بار بار. دے آيت كريمه كښې زجر دے په انكار د قرآن بانې چې دوى به ورته د دروغو قصے د پخوانو ويلے. وګورئ ص٥ فرقان، ص٣١ انفال، ص٢٥ انعام او په ص٢٥ كښې ورله تخويف د چې د خپلے ګمراهئ او د نورو ګمراه كولو پيټے به بار كړي ص٣٨ اعراف هم وګورئ او ص١٣ عنكبوت هم.

قَدْ مَكَرَ الَّذِينَ الخ : دلته کښې تخویف دنیوی دے چه پخوانو تدبیرونه کول، الله تعالیٰ پرے چتونه راوغورزول او عذاب ئې ورله ورکړو۔ ۳۵ ج، ۴۵ نحل وگورئی۔ یا دا تمثیل دے یعنی دوی منصوبے تیارے کړے چه د رسولانو په مقابله کښې مکرونه وکړی، پس الله تعالیٰ ئې هلاکت په دغه منصوبو کښې وگرځولو لکه چه یو قوم آبادی وکړی او ستنے ورله تالے کړی نو د بیخ نه کړوپ شی او چت پرے راوغورزیږی او مړه او هلاک شی۔ (مدارک ۳۸۳). ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ الخ: په دغه آیت کریمه کښې ورله تخویف اُخروی دے یعنی بیا په ورځ د قیامت کښې به ئے رسوا کړی۔ تُشَاقُّوْنَ: چه جگړے به مو کولے د انبیاؤ او مؤمنانو سره د هغوی په شان کښې الخ (ابوالسعود ۵۰۳) په ۳۵ ف ۲ کښې هم تخویف دے۔ فائده: قیامت کښې مختلف اوقات دی کله به منکر شی لکه ۲۳ انعام، ۲۸ مؤمن، ۲۲ حٰمٓ سجده، ۳۲ انعام کښې او کله به غلی شی لکه دلته ۳۲ کښې۔

الْمُسْتَكْبِرِينَ ﴿٢٣﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُم مَّاذَا أَنزَلَ

د لوئی کوونکو سره ... او کله چه ووئیلی شی دوی ته چه څه رالیږلی دی

رَبُّكُمْ قَالُوا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٢٤﴾ لِيَحْمِلُوا

رب ستاسو، وائی دوی، قصے د پخوانو دی، انجام ئې دا دے چه پورته کړی دوی

أَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمِنْ أَوْزَارِ

بوجونه خپل پوره په ورځ د قیامت، او د بوجونو د هغه

الَّذِينَ يُضِلُّونَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ أَلَا سَاءَ مَا

کسانو چه گمراه کوی دوی هغوی لره په نه پوهیدو، خبردار! بد دی هغه چه

يَزِرُونَ ﴿٢٥﴾ قَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَى

دوی ئې بار وړی۔ یقیناً مکرونه کړی وو هغه کسانو چه مخکښې د دوی نه وو، پس راغلو

اللَّهُ بُنْيَانَهُم مِّنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ

الله (حکم) بنیادونو د عمارتونو ته د ستنو نه، پس راپریوته په دوی باندی چت

مِن فَوْقِهِمْ وَأَتَاهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ

د پاسه د دوی نه، او راغلو دوی ته عذاب، له داسے ځائے نه چه

لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُخْزِيهِمْ

دوی به پرے نه پوهیدل: بیا په ورځ د قیامت، رسوا به کړی دوی (الله)

وَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَائِيَ الَّذِينَ كُنتُمْ

او وائی به، کوم دی شریکان زما، هغه چه وئ تاسو

تُشَاقُّونَ فِيهِمْ قَالَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ

جگړه کوله د هغوی په باره کښې، وبه وائی هغه کسان چه ورکړی شوی علم

إِنَّ الْخِزْيَ الْيَوْمَ وَالسُّوءَ عَلَى الْكَافِرِينَ ﴿٢٧﴾

یقیناً رسوائی نن ورځ او بدی، په کافرانو ده۔

الَّذِينَ تَتَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنفُسِهِمْ

هغه کسان دی چه وفات کوی دوی ملائک په داسے حال کښې چه ظلم کوونکی وو په ځانونو خپلو

فَأَلْقَوُا السَّلَمَ : راوبه غورزوي صلحه، چه نه وو موږ. دچه عمل مو د بدئ کولو - دا تخویف د ختمکړو د وخت دے. او مقصود به شو چه د روح د قبض کولو والا اکثر ملائك دي. سورة انفال ۵۰، اعراف ۳۷، نساء ۹۷ وګورئ. وَقِيلَ لِلَّذِينَ : دا د مشرکانو د قول مقابل کښې د موحدینو قول دے او دوي ته بشارت دے دنياوي هم او اخروي هم. سورة يونس وګورئ په ۶۴ ايت کښې درلږ د جنت د خیرونو ذکر کوي. اَلَّذِينَ تَتَوَفَّاهُمُ ۳۲ : دا د ۲۸ ايت په مقابله کښې دے او په ختمکدن يا په قيامت کښې به ورته ملائك وائي چه ننوزئ جنت ته. طَيِّبِينَ ۳۲ : امام قرطبي رحمه الله پکښې شپږ اقوال ذکر کړيدي وګورئ الهام الرحمن ۳۲۵. اوله قول دا دے چه پاك وي د شرك نه (قرطبي ۱۰۱) تائيد ورته سورة رعد ۲۳، حج ۵۰، طور ۲۸، مخ سجده ۹۹ کښې دے. هَلْ يَنْظُرُونَ ۳۳ : تخويف دے مشرکانو لره - حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائي چه انتظار نه کوي کافران مګر چه راشي ورته ملائك د قبض کولو د روحونو د پاره او يا راشي ورته عذاب د رب ستا.

فَأَلْقَوُا السَّلَمَ مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِنْ سُوٓءٍ ۚ بَلٰىٓ إِنَّ

پس راوبه غورزوي، صلحه، چه نه وو موږ چه عمل موکولو د بدئ، ولے نه، یقینا

اللّٰهَ عَلِيمٌۢ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿۲۸﴾ فَادْخُلُوٓا أَبْوَابَ

الله پوهه دے په هغه عملونو چه تاسې به کولو. پس ننوزئ، دروازو د

جَهَنَّمَ خٰلِدِينَ فِيهَا ۖ فَلَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِينَ ﴿۲۹﴾

د جهنم ته همیشه به یئ په هغې کښې، پس ناکاره ځائ د اوسیدو د لوئي کوونکو دے.

وَقِيلَ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا مَاذَآ أَنْزَلَ رَبُّكُمْ ۚ قَالُوا

او ووئیلے شی هغه کسانو ته چه پرهیزګاري کوي، څه رالیږلے دے رب ستاسو، وائي

خَيْرًا ۗ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۚ

خیر لره، د پاره د هغه کسانو چه نیکي کړے، په دے دنیا کښې، ښائسته ژوند دے

وَلَدَارُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ ۚ وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِينَ ﴿۳۰﴾

او یقینا کور د اخرت غوره دے، او یقینا ښه دے کور د متقیانو.

جَنّٰتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا

باغونه د همیشه اوسیدو، ننوزي به هغو ته، بهیږي به لاندے د هغو نه

الْأَنْهٰرُ ۖ لَهُمْ فِيهَا مَا يَشَآءُونَ ۚ كَذٰلِكَ

ویالے، د دوي د پاره به په هغو کښې هغه چه دوي غواړي، د غه رنګ

يَجْزِي اللّٰهُ الْمُتَّقِينَ ﴿۳۱﴾ الَّذِينَ تَتَوَفّٰىهُمُ

بدله ورکوي الله تعالیٰ متقیانو ته ... هغه کسان چه، روحونه قبضوي د هغوي

الْمَلٰٓئِكَةُ طَيِّبِينَ ۙ يَقُولُونَ سَلٰمٌ عَلَيْكُمُ ۙ

ملائك په داسې حال کښې چه پاك وي د شرك نه، وائي به ملائك سلام دے په تاسې

ادْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿۳۲﴾

داخل شئ جنت ته په سبب د هغه عملونو چه تاسې کول.

هَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّآ أَنْ تَأْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ

انتظار نه کوي دوي، مګر چه راشي دوي ته، ملائك

(فتح ص۳۲٦)

وَقَالَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا ﴿٣٥﴾: په دے آیت کریمه کښې زجر دے مشرکانو ته په دلیل د هغوی. امران ځ کښې هم ذکر شوی وو. او آخری سرکښې تسلی ده رسول اکرم صلی الله علیه وسلم لره. ۱۱ باسعدی رحمه الله واف ،

پر سوالات جلا ۱ اشد وبسۃ

وَلَقَدْ بَعَثْنَا ﴿٣٦﴾: دوه آیت نه ترتیب پوره دے دریم باب دے په دے کښې اول دلیل نقلی اجمالی اجمالی د پیغمبرانو ﴿٣٦﴾ سره د تسلی نه مخکښې (۲) زجر منکرینو د آخرت لره او جواب سره د حکمت شرح ﴿٣٩﴾ ﴿٤٠﴾ (۳) بشارت سره د صفاتو د مؤمنانو ﴿٤٢﴾ (۴) صدق د رسول علیه السلام سره د جواب د شبهے نه چه را تللو په رسالت بانديې ﴿٤٤﴾ . (۵) تخویف دنیاوی په ﴿٤٥﴾ ﴿٤٧﴾ .

الطَّاغُوتَ: دا شیطان دے او هر هغه څوک چه بلونکی گمراهئ ته (ابوالسعود ﷺ) یعنی پرستش کړے شوی هر معبود سوا د الله تعالیٰ نه لکه شیطان او کاهن او بت او هر هغه څوک چه دعوت ورکوی گمراهئ ته. (قرطبی ﷺ) ، د اجماعی نقلی دلیل بل مثال ﴿٣٦﴾ انبیاء کښې هم دے - د پیغمبرانو علیهم السلام نه بعد چا کښې چه انابت وو هغوی ته الله تعالیٰ هدایت وکړو او چا کښې چه ضد وو نو په هغوی گمراهی ثابته شوه ؛ إِن تَحْرِصْ ﴿٣٧﴾ (حاشیه د راتلونکی مخ ﴿٣٧﴾) ؛ تسلی ده نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لره. یوسف ﴿١٠٣﴾ هم وگورئ. - د

أَقْسَمُوا بِاللَّهِ ﴿٣٨﴾: دا زجر دے

أَوْ يَأْتِيَ أَمْرُ رَبِّكَ ۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ الَّذِينَ مِن

او یا راشی حکم د رب ستا ، دغه رنگے فعل کړے وو هغه کسانو چه مخکښې

قَبْلِهِمْ ۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللَّهُ وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ

د دوی نه وو ، او ظلم نه دے کړے په دوی الله تعالیٰ اولیکن وو دوی په نفسونو خپلو ،

يَظْلِمُونَ ﴿٣٣﴾ فَأَصَابَهُمْ سَيِّئَاتُ مَا عَمِلُوا وَ

چه ظلم به ئے کولو . پس ورسیدو دوی ته بدئ د هغه عملونو چه کړل ئے او

حَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٣٤﴾

نازل شو په دوی هغه عذاب چه وو دوی په هغه پسے چه ټوقے به ئے کولے .

وَقَالَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا

او وائی هغه کسان چه شرک ئے کړے ، که چرے رضا شوے وے الله نو مونږ به

عَبَدْنَا مِن دُونِهِ مِن شَيْءٍ نَّحْنُ وَلَا

عبادت نه وو کړے ، سوا د هغه نه ، د هیڅ شی ، مونږ او نه

آبَاؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِن دُونِهِ مِن شَيْءٍ ۚ

پلارانو زمونږ ، او نه به وو حرام کړے مونږ سوا د الله نه هیڅ شے ؛

كَذَٰلِكَ فَعَلَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ فَهَلْ

دغه رنگے کار کړے وو هغه کسانو چه مخکښې د دوی نه وو ، پس نشته ،

عَلَى الرُّسُلِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ﴿٣٥﴾ وَلَقَدْ بَعَثْنَا

په رسولانو باندې ، مگر رسول ، ښکاره . او یقیناً لیږلے دے مونږ

فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَ

په هر امت کښې ، استازے ، په دے چه عبادت وکړئ د الله تعالیٰ ، او

اجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ ۖ فَمِنْهُم مَّنْ هَدَى اللَّهُ

ځان بچ کړئ د بندگئ د طاغوت نه ، پس بعضے د دوی نه هغه څوک دی چه هدایت کړے الله

وَمِنْهُم مَّنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلَالَةُ ۚ فَسِيرُوا فِي

او بعضے د دوی هغه دی چه ثابت شوے په هغه باندې گمراهی ، پس وگرځئ ، په

کفارو ته په منلو د قیامت او په نه منلو د بیا ژوندی کولو . په ﴿٣٩﴾ کښې علت د قیامت د قائم کیدلو دے . ﴿٤٠﴾ سبا هم وگورئ . په ﴿٤٠﴾ کښې فرمائی چه د قیامت قائمول په باری تعالیٰ گران نه دی ؛ بس چه روائی شوه نو شی به . یٰس ﴿٨٢﴾ ، ﴿١١٧﴾ بقره . وَالَّذِينَ هَاجَرُوا ﴿٤١﴾ : اندلسی رحمه الله فرمائی چه عام دے په

مهاجرینو کښې هم څوک چه ورپسې شا مليري اولنو او روستنو مهاجرينو لره. (بکر ص۲۹۳) فائده: جناب مفتي صاحب رحمة الله د هجرت کنز قسمونه ذکر کړيدي. دريم قسم د دارالبدعة نه وتل دي. ابن قاسم

الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ۝۳۶

زمکه کښې، پس وګورئ، څنګه — وه انجام د تکذیب کونکو.

اِنْ تَحْرِصْ عَلٰى هُدٰىهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ

که ته حرص کوې په هدایت د دوی، پس یقیناً الله تعالیٰ هدایت نکوي،

مَنْ يُّضِلُّ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ۝۳۷ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ

هغه چا ته چه لارې ګمراه کړي، او نشته دوی لره هیڅوک مدد ګار. او قسمونه کوي دوی په الله

جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ ۙ لَا يَبْعَثُ اللّٰهُ مَنْ يَّمُوْتُ ۭ بَلٰى

مضبوط قسمونه خپل، چه رابه نه ژوندي کړي الله هغه څوک چه مړ شي، ولې نه،

وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝۳۸

وعده ده په الله باندې ریښتیا، او لیکن زیات د خلقو نه پوهیږي.

لِيُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِيْ يَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ وَلِيَعْلَمَ

چه بیان کړي دوی ته هغه څیز چه اختلاف کوو دوی په هغې کښې، او چه پوهه شي

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰذِبِيْنَ ۝۳۹ اِنَّمَا

هغه کسان چه کفر کړے دے چه یقیناً دوی وو دروغ ویونکي. یقیناً

قَوْلُنَا لِشَيْءٍ اِذَآ اَرَدْنٰهُ اَنْ نَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ

زمونږ وینا څیز ته کله چه اراده وکړو د هغه، چه ووایو هغه ته چه شه،

فَيَكُوْنُ ۝۴۰ وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا فِي اللّٰهِ مِنْۢ

نو شي هغه. او هغه کسان چه هجرت ئې کړے د الله تعالیٰ د پاره، پس د

بَعْدِ مَا ظُلِمُوْا لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ۭ

هغه چه ظلم پرې شوے (ضرور) ځائې ورکړو دوی لره په دنیا کښې ښه ځایه،

وَلَاَجْرُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ۝۴۱

او خامخا بدله د آخرت لویه ده، که چرے وی دوی چه پوهیږي.

الَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ۝۴۲

دوی هغه کسان دی چه صبر ئې کړے، او په رب خپل باندې توکل کوي.

رحمه الله وائي چه ما د امام مالك رحمه الله نه اوریدلي دي چه هیڅ یو مسلمان لره جائز نه دي په هغه مقام کښې اوسیدل چه هلته په سلفو صالحینو پسې پورته بد وے کنځلے کولے شي. ابن عربي رحمه الله وائي چه دا بالکل صحیح ده ځکه د منکر ازاله نشے کولے نو ځکه تړینه او آیت ۶۸ د انعام نے ذکر کړيدے (معارف ص۳۳۴) التنبیه تشبیه الخ د لیو بهائے جامع لفظ دے (معارف ص۳۳۶) ؛ ومآ ارسلنا ص۳۳: (حاشیه دوالتلو کی مخ ص۳۳۲) ؛ دیکښې صداقت د رسول ﷺ دے او د ختم نبوت دلیل هم دے او د کفارو د شبهې جواب هم دے چه بشر رسول کیدے نشي. سورة یوسف ۱۰۹ هم وګورئ او دے انبیاء. فائده: په دې آیت کښې دلیل دے په وجوب د تقلید کولو علماؤ نه په هغه کښې چه علم ئې پرے نه وي (ابو السعود ص۳۲ بیضاوی ص۴۵۵، مظهري ص۳۳۷). فائده: تقلید اتباع د غیر د نصوص کولو د دلیل نه (اصاس السلوك ص۳۲)، د آیت د عموم نه دا مسئله راوزي چه غیر اهل علم د اهل علم نه معلومات وکړي او عمل په پرے وکړي. علماؤ دا د تقلید د اماماتو په دلیل کښې پیش کړيدے. (عثماني ص۳۵۶) کوم څوك چه د تقلید نه منکر دي هغوی هم د دے تقلید نه انکار نکوي چه کوم خلق ناپوهان نه وي هغوی د علمائو نه فتوی اخلي او عمل په پرے کوي (معارف ص۳۳۳) د دے نه معلوم شو وجوب د مطلق تقلید: په تقدیر د عدم تحقیق سره: د تقلید فردین دي (۱) شخصي (۲) غیر شخصي. تقلید شخصي باندې قائل دي احناف، شوافع، حنابله، مالکیان. او په غیر شخصي باندې قائل دي اهل حدیث. دا پنځه واړه فرقے اهل سنت والجماعة دي (ترجمان ص۳۳۲) د خاص عالم غیر

چه مني هغه غلو فرقه دي. حنفيان، شوافع، مالکيان، حنبليان او چه خاص عالم پورې ځان نه تړي هغه اهل حديث دي. ۰ دا پنځه واړه اهل سنت والجماعة دي. ۰ دا پنځه واړه به دي خو چه ځينو ته ګوري او ځينې فرقې ګمراه شوې. (افضل ترجمه)

وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِىٓ إِلَيْهِمْ

او مونږ نه دي رالېږلي له تانه مخکښې ... مګر سړي، چه وحي کوو مونږ دوي ته.

فَسْـَٔلُوٓا۟ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٤٣﴾

پس تپوس وکړئ تاسو د اهل علم نه که چېرې تاسو ... نه پوهېږئ.

بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِ ۗ وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ

په ښکاره دليلونو او په کتابونو سره، او نازل کړې مونږ تا ته نصيحت کتاب چه بيان کړې

لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٤﴾

خلقو ته هغه چه نازل کړې شوې دي دوي ته، او دې دپاره چه دوي فکر وکړي.

أَفَأَمِنَ ٱلَّذِينَ مَكَرُوا۟ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن يَخْسِفَ ٱللَّهُ

آيا پس په امن شول هغه کسان چه مکر وکړو د بدو کارونو، چه ډوب به نه کړي الله تعالیٰ

بِهِمُ ٱلْأَرْضَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ ٱلْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ

دوي په زمکه کښې، او يا به راشي دوي ته عذاب د داسې ځائ نه،

لَا يَشْعُرُونَ ﴿٤٥﴾ أَوْ يَأْخُذَهُمْ فِى تَقَلُّبِهِمْ فَمَا هُم

چه دوي پرې نه پوهېږي. او يا به ونيسي دوي لره الله په تلو راتلو د دوي کښې پس نه دي دوي

بِمُعْجِزِينَ ﴿٤٦﴾ أَوْ يَأْخُذَهُمْ عَلَىٰ تَخَوُّفٍ فَإِنَّ

عاجزه کوونکي الله تعالیٰ لره. او يا به ونيسي دوي لره په ويره (کمولو سره)، پس يقيناً

رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٤٧﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ إِلَىٰ مَا خَلَقَ

رب ستاسو خامخا شفقت کوونکي مهربان دي. آيا نه ګوري دوي هغه څيزونو ته چه پيدا کړي

ٱللَّهُ مِن شَىْءٍ يَتَفَيَّؤُا۟ ظِلَٰلُهُۥ عَنِ ٱلْيَمِينِ وَ

الله تعالیٰ د هر څيز نه، ګرځي (ميلان کوي) سورې د هغه، د ښي طرف، او د

ٱلشَّمَآئِلِ سُجَّدًا لِّلَّهِ وَهُمْ دَٰخِرُونَ ﴿٤٨﴾ وَ

ګس طرفونو نه، سجده کوونکي الله تعالیٰ لره، او دوي عاجزه دي. او خاص

لِلَّهِ يَسْجُدُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ

الله تعالیٰ لره سجده کوي هغه چه په آسمانونو کښې دي، او هغه چه په زمکه کښې دي،

(أَفَأَمِنَ الَّذِينَ مَكَرُوا ۴۵) د دې نه مخکښې تخويفات دي په سبب د شبهاتونو د کافرانو نه. خسف: امراف (استعاره د ګوريف. فِي تَقَلُّبِهِمْ: په وخت د ګرځېدو راګرځېدو د دوي کښې په څايونو د تللو او په ځايونو د تجارتونو د دوي کښې. (ابو السعود ۱۲۴). عَلَىٰ تَخَوُّفٍ: د شاه صاحب او شيخ رحمهما الله ليکي سره د ويرې نه. (انفعل الترجمه ص ۳۵۳) شاه صاحب رحمه الله ليکي يعني پس د بيانولو د قرآن د هغه کت نه (فتح ص ۳۳۶) او غريب القرآن ص ۲۳۲ کښې دي: ای علی تنقص، يعني په کمولو سره. ترقلم رحمه الله فرمائي چه په کمولو د مالونو او نفسونو او ميوو د دوي. او هغوي دا هم فرمائي چه تخوف په معنی د تنقص، دا لغت د بني هذيل کوري دې (تفسير ۱۱۳) معارف القرآن د ګوري ص ۳۳۴. (أَوَلَمْ يَرَوْا ۴۸): د دې ځائ نه تر ۶۵ پورې خلورم باب دې. په اول باب کښې دلائل په دې دي چه خالق د امورو عظامو الله تعالیٰ دې او په دويم باب کښې داسې دلائل دي چه ټول شيونه الله تعالیٰ ته منقاد دي. حاصل د باب پنځه خبرې دي: (۱) عقلي دلائل ۴۸، ۴۹، ۵۰، ۵۳، ۶۵ (۲) دليل وحي سره د دعوې د توحيد ۵۱ (۳) زجرونه ۵۵، ۵۶، ۶۲ سره تخويف ۶۱ (۴) تيري په تبليغ سره د تخويف نه ۶۳ (۵) ترغيب قرآن ته سره د حکمت د نزول د دې ۶۴. يَتَفَيَّؤُا ظِلَالُهُ ۴۸: يعني ګرځي سورې د هغه او واپس کېږي د يو جانب نه بل ته. (غريب القرآن ص ۲۳۲) فائده: د نبي اکرم صلی الله عليه وسلم سورې وو او که نه؟ شيخ القرآن رحمه الله به فرمائيل دوران درس کښې چه په طبقات د ابن سعد رحمه الله کښې د حضرت عائشې رضي الله عنها نه نقل دي: فِي ذَاتِنَا عنه

سه يظلّ رَسُولِ اللهِ: چه ناڅاپه په ما اولیدئ سوری د رسول الله ﷺ لره، جناب مفتی صاحب رحمه الله
فرمائي چې نقل صحیح سره دا ثابته نه ده چې په طور د معجزې د رسول الله ﷺ سورې په زمکه نه پریوته

مِنْ دَآبَّةٍ وَّالْمَلٰٓئِكَةُ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۴۹﴾

د هر زنده (ژوندي) ښويدونکي، او ملائکې هم، او دوی لوئي نه کوي د حکم د الله تعالىٰ نه.

يَخَافُوْنَ رَبَّهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ﴿۵۰﴾ ۩

ويريږي د رب خپل نه چې د پاسه د دوی دی، او کوي هغه څه چې دوی ته پرې امر کړے شي.

وَقَالَ اللّٰهُ لَا تَتَّخِذُوْٓا اِلٰهَيْنِ اثْنَيْنِ ۚ اِنَّمَا

او فرمائيلي دي الله تعالىٰ مه نيسئ معبودان، دوه، يقيناً

هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَاِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ ﴿۵۱﴾ وَلَهٗ مَا فِي

هغه معبود دی يو، پس خاص زما نه ويريږئ. او خاص هغه لره دي اختيار کړي

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَهُ الدِّيْنُ وَاصِبًا ۚ اَفَغَيْرَ

هغه څه چې په اسمانونو او زمکه کښې دي، او خاص هغه لره ده تابعداري لازمه دائمه، آيا پس بې له د

اللّٰهِ تَتَّقُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَمَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ

الله نه ويريږئ تاسو؟ او هغه چې تاسو سره نعمت دی، پس د الله تعالىٰ د طرف نه دی،

ثُمَّ اِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فَاِلَيْهِ تَجْـَٔرُوْنَ ﴿۵۳﴾ ثُمَّ اِذَا

بيا چې کله ورسيږي ضرر تاسو ته، پس هغه ته چغې کوئ تاسو، بيا چې کله

كَشَفَ الضُّرَّ عَنْكُمْ اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْكُمْ بِرَبِّهِمْ

لرې کړي ضرر ستاسو نه، ناڅاپه يوه ډله ستاسو نه د رب خپل سره

يُشْرِكُوْنَ ﴿۵۴﴾ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ۚ فَتَمَتَّعُوْا ۫

شريکان جوړوي، انجام ئې دا شو چې کفر وکړي په هغه چې موږ ورکړي دي، پس نفع واخلئ،

فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۵۵﴾ وَيَجْعَلُوْنَ لِمَا لَا يَعْلَمُوْنَ

پس زر دے چې پوهه به شئ. او مقرروي دوی، هغو لره چې لوئي ئې نه پوهيږي دوی،

نَصِيْبًا مِّمَّا رَزَقْنٰهُمْ ۭ تَاللّٰهِ لَتُسْـَٔلُنَّ عَمَّا كُنْتُمْ

برخه د هغو چې ورکړي موږ دوی ته، قسم په الله چې خامخا يقيناً تپوس به وکړے شي ستاسو نه د

تَفْتَرُوْنَ ﴿۵۶﴾ وَيَجْعَلُوْنَ لِلّٰهِ الْبَنٰتِ سُبْحٰنَهٗ ۙ

هغه چې درواغ جوړولو تاسو. او مقرروي دوی الله لره لوڼې، پاکي ده هغه لره،

توکوم مسلمان وړے په منلو کښې تامل نکوي ليکن نقل صحيح په دې باب کښې هيڅ موجود نه دے البته خصائص کبرىٰ کښې سيوطي رحمه الله په دے مضمون يو مرسل حديث روايت کړے دے ليکن هغه روايت په څو وجهو سره معتبر او ثابت نه دے. وګورئ امداد المفتين ص۱۳۲ وضاحت: وَلَهُ الدِّيْنُ وَاصِبًا: (حاشيه ورپسې صفحه): او خاص الله تعالىٰ لره بلنه، عبادت، تابعداري، طاعت، اخلاص. واصبًا: هميشه، خالصه، ثابته، واجبه. وګورئ قرطبي ۱۰/۱۱۳ مدارک ۲/۲۹۹ - فَاِلَيْهِ تَجْـَٔرُوْنَ ۵۳: پس هغه الله ته چغې وهئ. الوسي رحمه الله فرمائي چې په دے آيت کښې دليل دے چې عمل د اکثرو عوامو نن ورځ چې چغې وهي غير د الله تعالىٰ ته هغه چا ته چې واکدار نه وي ده د دوی د پاره او نه د ځان د پاره د نفع او نه د ضرر په وخت د رسيدو د ضرر دوی ته او نه د زوال — د دوی د پيلي د الله نه بالکل لرې دے قرني لويه ګمراهي نوي ده ليکن دا زيات نه ده د ګمراهي چوخانئ نه. (روح ۱۴/۱۷۷) بيا ئې آخوا په دے کې تفصيل ليکلي دے وګورئ الجامع ص۳۴۲ وَيَجْعَلُوْنَ لِمَا لَا يَعْلَمُوْنَ ۵۶: په دے کښې زجر دے په نذر منلو لره غير الله پاتي. شاه عبد القادر رحمه الله فرمائي چې دا ئې هغه خلقو ته وفرمائيل چې پخپل فصل کښې چارپايانو کښې نذر د بتانو کښې د الله تعالىٰ نه سوا د بل چا نذر مقرروي الخ (موضح ص۳۲۴) وَيَجْعَلُوْنَ لِلّٰهِ الْبَنٰتِ: په دے کښې زجر د مشرکينو لره په صلاة ښکو سره. وګورئ زخرف ۱۶، صفٰت ۱۴۹، طور ۳۹ ۞

وَلَهُمْ مَّا يَشْتَهُونَ ﴿۵۷﴾ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالْأُنْثَىٰ
او دوی لره هغه دی چه خوا یې کا دوی. او کله چه زیری ورکړے شی یو تن ته د دوی په جینۍ سره،
ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿۵۸﴾ يَتَوَارَىٰ
شی مخ د ده تور، او ده وی ډک د غصے نه. پټیږی د
مِنَ الْقَوْمِ مِنْ سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ ۚ أَيُمْسِكُهُ
قوم نه او وجه د بدئ د هغه چه زیری ورکړے شو ده ته په هغه، آیا ساتی به دا لور
عَلَىٰ هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ ۗ أَلَا سَاءَ
په ذلت سره، او یا ښخوی به دے، په خاوره کښی، خبردار! بد دے هغه
مَا يَحْكُمُونَ ﴿۵۹﴾ لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ
فیصله چه دوی کوی. دپاره د هغه کسانو چه ایمان نه راوړی په آخرت باندی،
مَثَلُ السَّوْءِ ۖ وَلِلَّهِ الْمَثَلُ الْأَعْلَىٰ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ
مثال بد دے، او الله تعالیٰ لره مثال اوچت دے، او الله تعالیٰ زورور دے،
الْحَكِيمُ ﴿۶۰﴾ وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ النَّاسَ بِظُلْمِهِمْ
حکمت والا دے. او که چرے نیولے الله تعالیٰ خلقو لره په ظلم د هغوی،
مَا تَرَكَ عَلَيْهَا مِنْ دَابَّةٍ وَلَٰكِنْ يُؤَخِّرُهُمْ
نه به ئے پریخودے په زمکه باندی هیڅ ژوندے سرے، او لیکن روستو کوی دوی لره
إِلَىٰ أَجَلٍ مُسَمًّى ۖ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا
تر نیټے مقرری پورے، پس کله چه راشی نیټه د دوی، نه به
يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿۶۱﴾ وَ
روستو کیږی یو ساعت، او نه به مخکښی شی. او
يَجْعَلُونَ لِلَّهِ مَا يَكْرَهُونَ وَتَصِفُ أَلْسِنَتُهُمُ
ګرځوی دوی الله تعالیٰ لره هغه چه بد ګنړی ئے دوی لره، او بیانوی ژبے د دوی
الْكَذِبَ أَنَّ لَهُمُ الْحُسْنَىٰ ۖ لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ النَّارَ
دروغ چه یقیناً دوی لره خوشالی ده، خامخا یقیناً، دوی لره اور دے،

ع ۷ ۱۳

وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ ۶۱ : دے آیت کښی تخویف دُنیاوی دے. سورة فاطر ۴۵ هم وګورئ. په ۶۲ کښی زجر دے. امام قرطبی رحمه الله د مَا يَكْرَهُونَ نه لونړه اخلی (ص ۱۲۰ ج ۱۰) او تهانوی رحمه الله تر ینه شرکت په ریاست کښی. (حاشیه بیان القرآن) ❖ ❖

تَاللَّهِ ۶۳ (حاشیه د راتلونکی مخ): په دے کښی صداقت د نبی ﷺ او تسلی ده هغه ته او کفارو لره زورنه او تخویف دے. او په ۶۴ کښی تیزی ده په تبلیغ باندی او حکمت د نزول د قرآن دے چه بیان کړے شوی ته هغه خبرے چه دوی پکښی اختلاف کړے یعنی قرآن پاک د اختلافی مسئلو بیان او د هدایت او رحمت د پاره راغلے دے

وَاللَّهُ أَنْزَلَ ۶۵ : د دے ځائے نه ترکوع پورے پنځم باب دے. په دے کښی درے قسمه دلائل ذکر دی په

بیان د هغه نعمتونو کښې چې الله تعالی راولیږلی دی تا سره لره د ځمکې نه او د ګیاه د حیواناتو نه او د
(احسن الدرر ص ۲۶) ...
خولو د خوشو نه پس ولې د غیر عبادت کوی او ځنې لره بلنې.

وَ اَنَّهُمْ مُّفْرَطُوْنَ ﴿٦٢﴾ تَاللّٰهِ لَقَدْ اَرْسَلْنَاۤ اِلٰۤى اُمَمٍ

او یقیناً دوی ... وړاندې لېږل شوي دي. قسم دی په الله، یقیناً لېږلي وو موږ ... امتونو ته،

مِّنْ قَبْلِكَ فَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ فَهُوَ

مخکې ستا نه رسولان، پس ښائسته کړل دوی ته شیطان عملونه د دوی، پس هغه

وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ وَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٦٣﴾ وَ مَاۤ اَنْزَلْنَا

دوست د دوی دی نن، او دوی لره عذاب دردناک دی. او نه دی رالیږلی موږ

عَلَيْكَ الْكِتٰبَ اِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِى اخْتَلَفُوْا

پر تا باندې کتاب، مګر د پاره د بیان کولو دوی ته هغه څه چې دوی اختلاف کړی

فِيْهِ ۙ وَ هُدًى وَّ رَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٦٤﴾ وَ اللّٰهُ

په هغې کې، او هدایت دی، او رحمت دی د هغه قوم د پاره چې ایمان لري. — او الله تعالی

اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ

رالېږلی دی د بره طرف نه اوبه، پس تازه کړې په هغو سره ځمکه،

بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿٦٥﴾

پس د مړه کېدو د هغې نه، یقیناً په دې کې لوی دلیل دی د هغه قوم د پاره چې حق اوري.

وَ اِنَّ لَكُمْ فِى الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ؕ نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا

او یقیناً تاسو لره په څاروو کې عبرت دی، څښوو تاسو ته د هغې نه چې

فِىْ بُطُوْنِهٖ مِنْۢ بَيْنِ فَرْثٍ وَّ دَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا

په خېټو د هغې کې دي، د مینځ د غولو او وینې نه، شودې، صفا،

سَآئِغًا لِّلشّٰرِبِيْنَ ﴿٦٦﴾ وَ مِنْ ثَمَرٰتِ النَّخِيْلِ

تېرېدونکې د پاره د څښونکو. او د میوو د کجوروو،

وَ الْاَعْنَابِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْهُ سَكَرًا وَّ رِزْقًا

او انګورو نه، جوړوی تاسو د هغې نه د خوشالۍ څیز، او رزق

حَسَنًا ؕ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿٦٧﴾

ښه، یقیناً په دې کې خامخا دلیل دی د هغه قوم د پاره چې د عقل نه کار اخلي.

ع ٥

عقلیه کښې د دلائل عقلیه دي.
(۲) په ... کښې مثالونه
دي، په ... کښې زجرونه په
غلط مثال بیانولو، په ... کې
کښې اثبات د علم غیب د
باری تعالی او تخویف. مِمَّا
فِیْ بُطُوْنِهٖ: څښوو تاسو له
د هغه نه چې په ګېډو د هغو
کښې دي. د اضمیر په تاویل
د کل راجع سره دے او په
سورة مؤمنون کښې په
اعتبار د ظاهري جمع سره
دے. شیخ القرآن رحمه الله به
فرمایل، د ښکرو خوړلی دی
وابنه، او څکلی دی اوبه، او د
طرفنه وینه ده او بل طرفته
دی خاشتره او راروان دی
په مابین کښې سپین خواږه
شودې. سَکَرًا: د سکر نه
مراد د نشې څیز یعنې شراب
او رزق حسن نه مراد نورة حلال
څکاک څیزونه دي او دا جمع
په مابین د عتاب، عقاب
او احسان کښې ده او دا ایت
مخکښې دے په حرامولی د
شرابو باندې. وګورئ مدارک
۲/۲۹۱، ابو السعود ۵/۱۲۵. او
شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل
چه رزق حسن نه تفسیر دے
معنی دا شوه چه جوړوی د
نه د خوشالۍ څیز اور رزق
ښه، خاشته به. وَ اَوْحٰی رَبُّکَ
حاشیه د راتلونکې مخ ۲۸: وحی به معنی د الهام ده او د
سورة وجه د تسمیه هم په
نحل سره ده چه دے ایت کښې ئے ذکر دے. فَاسْلُکِیْ سُبُلَ رَبِّکِ: پس ځه په لارو د رب خپل په دے
حال کښې چه تابعداره شوی به وی او اسانه کړے شوے. د ښکتي شیخ رحمه الله فرمائی، و پلی فی چه د
ګبینه مچئی کله د ګلونو او د میوو رس وچوپی نو سیدها پورته والوزی بیا خپلې خپلې چتې طرفته

خوا مستقیم کښې روانې دي و رسېږي . (جواہر مختصر) فائده ۵ : د گبینه د مچو د نظم او فراست اندازه د هغې د نظام حکومت نه ښه معلومېږي . دا دې ضعیف حیوان نظام د زمکې د انسانانو سیاست او حکمرانۍ په

وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِي مِنَ

او الهام وکړو ربِ ستا د گبینه مچۍ ته ، چه جوړ کړه د غرونو

الْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ ﴿٦٨﴾

نه کورونه او د ونو نه او د هغو نه چه دوی چترې جوړوي .

ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ فَاسْلُكِي سُبُلَ

بیا خوره د هر قسم میوو نه ، پس ځه په لارو د

رَبِّكِ ذُلُلًا ۚ يَخْرُجُ مِن بُطُونِهَا شَرَابٌ

رب خپل چه تابع شوې دي ، راوځي د گېډو د دوی نه د څښلو څیز چه

مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيهِ شِفَاءٌ لِّلنَّاسِ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ

مختلف دي رنگونه د هغې ، په هغې کښې شفا ده د پاره د خلقو ، یقیناً په دې کښې

لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٦٩﴾ وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ

نښانې دي د هغه قوم د پاره چه فکر کوي . او الله تعالیٰ پیدا کړي تاسو ،

ثُمَّ يَتَوَفَّاكُمْ ۚ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰ أَرْذَلِ الْعُمُرِ

بیا به وفات کوي تاسو ، او بعض ستاسو نه هغه دي چه واپس کولې شي ناکاره عمر ته د انجام

لِكَيْ لَا يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ شَيْئًا ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴿٧٠﴾

د دې د پاره چه پس د پوهې نه هیڅ شې نه پوهیږي ، یقیناً الله پوهه ، قدرت والا دے .

وَاللَّهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ فِي الرِّزْقِ ۚ فَمَا

او الله تعالیٰ بهتر کړي بعض ستاسو په بعضو باندې په رزق کښې ، پس نه دي

الَّذِينَ فُضِّلُوا بِرَادِّي رِزْقِهِمْ عَلَىٰ مَا

هغه کسان چه غوره کړې شوي ، ورکوونکي د رزق خپل ، هغه چا ته چه

مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَهُمْ فِيهِ سَوَاءٌ ۚ أَفَبِنِعْمَةِ

مالکان دي ایمان لاسونه د دوی ، پس دوی به په هغې کښې برابر شي ، آیا په نعمت د

اللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٧١﴾ وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم

الله تعالیٰ ، دوی انکار کوي ؟ او الله تعالیٰ گرځولي دي تاسو لره ،

مسرل ۳

مسولو با نو چلیږي . هغه نظم او نسق د دې وړې لوې مچۍ په لاس کښې دی چه د ټولو مچو حکمرانه وي او د هغې د تنظیم او تقسیم کار په وجه ټول نظام صحیح سالم چلیږي . د دې عجیب او نا اشنا نظام او مضبوطو قوانینو او ضوابطو چه وینې نو انساني عقل ورته حیرانه پاتې شي الخ (معارف ۳۵۱/۵) .

فائده ۶ : د شاتو مقدار خوراک ، مزاج مریض او نوعیت د مرض ته په کتلو سره د دې استعمال بکار دی . د شاتو په شفا کښې تو با نیا د مچو انو او تمامو طبیبانو اتفاق دی دغه وجه ده چه په اکثرو طبي جوړو شوو دوایانو کښې شات شامل شي (جواہر).

۷) أَرْذَلِ الْعُمُرِ : ناکاره عمر ، کمزورے عمر چه قوتونه ئې ناقص شي . حدیث شریف کښې د دې عمر نه نبي ﷺ پناه غوختې ده . اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ وَالْكَسَلِ وَأَرْذَلِ الْعُمُرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ وَفِتْنَةِ الدَّجَّالِ وَفِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ . (بخاري ۲/۶۰۳)

فائده ۸ : بعض باران ، غاروي ، کجورے ، انگور ، مچۍ ، انسانان شا وجود باري تعالیٰ د وحدانیت دلائل دي . (افضل التراجم ص۳۵)

وَاللّٰهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ : د آیت کریمه په اول سر کښې دا دي چه الله تعالیٰ بعض په بعضو باندې په رزق کښې بهتر کړي یعني نظام د هغه په قدرت کښې دے ، څوک ئې فقیران پیدا کړي او څوک ئې غنیان ، مساوات نشته . وگورئ ص۳۲۰ انعام او زخرف ۳۲ او مثال د رد د شرک هم دے . حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه الله تعالیٰ انکار کوي په خلقو باندې چه تاسو نه راضي کیږئ چه خپل مریونه برابر کړئ په هغه کښې چه ما در کړي ، نو څنگه راضي شئ الله تعالیٰ په برابر د لوړ

مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنْ
دَ جنس ستاسو نه ، بيبياګانې ، او پيدا كړي تاسو لره ، دَ
أَزْوَاجِكُم بَنِينَ وَحَفَدَةً وَرَزَقَكُم مِّنَ
بيبيانو ستاسو نه ، ځامن ، او نمسي ، او خوراك يې دركړے تاسو ته ، دَ
الطَّيِّبَاتِ ۚ أَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَتِ اللَّهِ
پاكيزه ؤ نه ، ايا په باطل باندې ايمان راوړي دوي ، او په نعمت دَ الله ،
هُمْ يَكْفُرُونَ ﴿٧٢﴾ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ
دوي كفر كوي . — او عبادت كوي دوي ، سوا دَ الله تعالىٰ نه ،
مَا لَا يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ
دَ هغه چا چه واك نلري دوي لره ، دَ رزق دَ اسمانونو ، او دَ زمكے نه ،
شَيْئًا وَلَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٧٣﴾ فَلَا تَضْرِبُوا لِلَّهِ
دَ هيڅ شي ، او نه يې طاقت لري . — پس مه بيانوئ تاسو ، الله تعالىٰ لره
الْأَمْثَالَ ۚ إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٧٤﴾
مثالونه ، يقيناً الله تعالىٰ پوهيږي ، او تاسو نه پوهيږئ .
ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوكًا لَّا يَقْدِرُ
بيان كړے الله تعالىٰ ، مثال دَ بنده ، چه مملوك وي ، قدرت نلري ،
عَلَىٰ شَيْءٍ وَمَن رَّزَقْنَاهُ مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا
په هيڅ شي باندې ، او دَ هغه چا چه رزق وركړے مونږ ، دَ خپل طرفه ، رزق ښائسته ،
فَهُوَ يُنفِقُ مِنْهُ سِرًّا وَجَهْرًا ۖ هَلْ
پس هغه خرڅ كوي ، دَ هغه نه ، پټ ، او ښكاره ، ايا
يَسْتَوُونَ ۚ الْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا
برابر كيدے شي ؟ ټول حمد ، الله تعالىٰ لره دي ، بلكه زيات دَ دوي نه ، نه
يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾ وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ
پوهيږي . او بيان كړے ، الله تعالىٰ ، مثال ، دَ دوو سړو ،

فَلَا تَضْرِبُوا لِلَّهِ الْأَمْثَالَ : په دے ایت كريمه كښ دَ بتو او مشركانو ، كافرانو رد دے چه وائي چه څنګه
شهنشاه ته پخپله دَ خلكو حاكمو ته رسيدل نا كيږي نو دغه رنګے مونږ لره وسيلے ، سفارشيان پكار دي .
نو الله تعالىٰ فرمائي چه الله پاك
لره دا قسم مثالونه مه بيانوئ ،
په مخلوق يے مه قياسوئ څكه
چه الله تعالىٰ په هر څه پوهيږي
او تاسو نه پوهيږئ كه بيشانه داسې
الله پاك ځان رسول وزير دے ،
څه ؤ وزير په واسطه پاچا ته څه ؟
فائده : دَ شاه پور فيض رحلش
فرمائي ، كافرانو وے چه څنګ
په دنيا كښ يو شاه وي او هغه
ته رسائي نشي كيدے بے دَ
لانديني حاكمانو نه نو دغسے
رموږ په خبره مونږ ته نه رسي
بے دَ دے ذرائعو نه . نو باريتعالىٰ
جواب كوي چه دا مثالونه مه
ټينګوئ دَ دنيا خلق نه پوهيږي
او زمونږ ته تعلق نه هر څه معلوم
دي ، هغه ته چه درخواست
رسوي نو دَ ذرائعو او وسائلو
ضرورت نشته البته شفاعت
په قيامت كښ په شرطونو سره
جائز دے ، (افضل التراجم ص٣٦٣)
دَ دے قياس فاسد رد معارف
القرآن ، مرضم ص٣٩٥ او كبير ص
كښ هم ليك دے . وكوري
الهام الرحمن ص٣٢٦ . ضَرَبَ اللَّهُ
مَثَلًا ص٥ : په دے ايت كريمه
كښ بل مثال دے يعني تاسو
الله تعالىٰ لره مثالونه مه بيانوئ
بلكه دَ الله تعالىٰ طرفه مثالونو ته
متوجه شئ . حاصل دا چه دا
دواړه كسان برابر نشي نو
دغه رنګ غير الله چه هيڅ قدرت
نلري دَ الله تعالىٰ سره څنګه برابر
كيدے شي ؟ وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا :
دا دويم صحيح مثال دے چه
غير الله په خپل مولیٰ بوج دے نو غير به څنګه حاجت پوره كړي او الله تعالىٰ حاكم دے نو
دا دواړه كله برابر دي ؟؟ (افضل التراجم ص٣٦٣) ۞

Scanned by CamScanner

أَحَدُهُمَآ أَبْكَمُ لَا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ وَّهُوَ كَلٌّ
یو ګونګ دی نه چارا وی، قدرت نه لری په هیڅ شی، او هغه پیټی دی،
عَلٰى مَوْلٰهُ ۙ أَيْنَمَا يُوَجِّههُّ لَا يَأْتِ بِخَيْرٍ ۖ هَلْ
په مولی خپل، هر چیرته چه لیږی هغه لره، نه راوړی هیڅ خیر، آیا
يَسْتَوِي هُوَ ۙ وَمَنْ يَّأْمُرُ بِالْعَدْلِ ۙ وَهُوَ عَلٰى
برابر دے دے، او هغه څوک چه امر کوی په انصاف سره، او هغه دی په
صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٧٦﴾ وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۗ
لارے نیغے باندے. او خاص الله تعالیٰ لره غیب د اسمانونو او د زمکے دی،
وَمَآ أَمْرُ السَّاعَةِ إِلَّا كَلَمْحِ الْبَصَرِ أَوْ هُوَ أَقْرَبُ ۗ
او نه دے کار د قیامت، مګر په شان د رپ د سترګے، بلکه او نزدے دے د دے نه،
إِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٧٧﴾ وَاللّٰهُ أَخْرَجَكُمْ
یقینًا الله تعالیٰ په هر شی باندے قدرت والا دے. او الله تعالیٰ راویستلی تاسو لره،
مِّنْ بُطُوْنِ أُمَّهٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ شَيْئًا ۙ وَّجَعَلَ
د ګیډو د میندو ستاسو نه، په داسے حال کښے چه نه پوهیدلئ په هیڅ شی، او پیدا کړی
لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ ۙ لَعَلَّكُمْ
تاسو لره غوږونه او سترګے، او زړونه، د پاره د دے چه تاسو
تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٨﴾ أَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرٰتٍ
شکر وباسئ. آیا نه ګوری دوی مرغو ته، تابع کړے شوی دی،
فِيْ جَوِّ السَّمَآءِ ۗ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا اللّٰهُ ۗ إِنَّ
په فضا د اسمان کښے، نه حصاروی دوی لره مګر الله تعالیٰ، یقینًا
فِيْ ذٰلِكَ لَآيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٧٩﴾ وَاللّٰهُ
په دے کښے خامخا دلیلونه دی د هغه قوم د پاره چه ایمان لری. او الله تعالیٰ
جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ بُيُوْتِكُمْ سَكَنًا وَّجَعَلَ لَكُمْ
پیدا کړی تاسو لره، د کورونو ستاسو نه، ځائے د ارام، او پیدا کړی تاسو لره،

ع ۱۶

وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ عقیده تتمه د فکین مثال دے. الوحی رحمانی فرمائی خاص الله تعالیٰ لره غیب د اسمانونو او د زمکے دی، نه د هیچا د پاره غیر د هغه نه، نه استقلالًا او نه اشتراکًا.

ربط ۲ (۷۸) وَاللّٰهُ أَخْرَجَكُمْ

مثک، د دے ځائے نه تر مثک پورے هغه مرابا ت خلور قسم دلائل کښے دی چه الله تعالیٰ ورله ستا سے د ضرورت مشاعر، مسکونه سامانونه ذکر کړی دی. په دیکښے خلور عقلی هلا شل علائق مثک مثک مثک دی. په مثک کښے دریے قوتونه د انسانا چه سبب د علم دے، ذکر دی. په مثک کښے د مرغو او په مثک کښے کورونو د خیمو د ورو د کمرو د پشم اوبنانو او د وچڼو د بزو او د څخونه جوړ شوے د نقلے سامان، او په مثک کښے د سورو، قمیصونو، زغره ذکر دے. فائده ۱، اصواف وریځ د ګډو، او بار، پشم د اوبنانو، اشعار، وچڼے د بزو

تَسْتَخِفُّونَهَا: شاه صاحب رحمه الله معنی لیکی چه سپک ئے بیا مومئ. (فتح ص۳۳۳) تَقِيكُمُ الْحَرَّ: چه بچ کوی تاسو، حفاظت کوی ستاسو د گرمئ نه. ولته دویم مقابل حذف دے. شاه صاحب رحمه الله فرمائی

مِّن جُلُودِ الْأَنْعَامِ بُيُوتًا تَسْتَخِفُّونَهَا يَوْمَ

د څرمنو د څارویو کورونه، چه سپک ئے بیا مومئ تاسو په ورځ د

ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ إِقَامَتِكُمْ ۙ وَمِنْ أَصْوَافِهَا وَ

کوچ ستاسو کښی، او په ورځ د دیره کیدو ستاسو، او د وړیو د هغو نه، او د

أَوْبَارِهَا وَأَشْعَارِهَا أَثَاثًا وَمَتَاعًا إِلَىٰ حِينٍ ﴿٨٠﴾

پشمونو د هغو، او د وېښتو د هغو نه، سامانونه او د فائدې څیزونه، تر وخته پورې.

وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّمَّا خَلَقَ ظِلَالًا وَجَعَلَ لَكُم

او الله تعالی پیدا کړی دی تاسو له د هغو څیزونو نه چه پیدا کړی ئے دی سوری، او پیدا کړی ئے دی تاسو له

مِّنَ الْجِبَالِ أَكْنَانًا وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ

د غرونو نه پټ ځایونه، او پیدا کړی دی تاسو له قمیصونه چه بچ کوی تاسو له

الْحَرَّ وَسَرَابِيلَ تَقِيكُم بَأْسَكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ يُتِمُّ

د گرمئ نه، او قمیصونه چه بچ کوی تاسو له د جنګ ستاسو نه، دغسی پوره کوی

نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُونَ ﴿٨١﴾ فَإِن تَوَلَّوْا

نعمت خپل په تاسو باندې، د پاره د دې چه تاسو غاړه کیږدئ حکم ته. پس که چیرې دوی وګرځیدل

فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ﴿٨٢﴾ يَعْرِفُونَ نِعْمَتَ

پس یقیناً په تا باندې رسول ښکاره دی. پیژنی دوی نعمت د

اللَّهِ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا وَأَكْثَرُهُمُ الْكَافِرُونَ ﴿٨٣﴾

الله تعالی، بیا انکار کوی د هغه نه، او زیات د دوی کفر کوونکی دی.

وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا ثُمَّ

او کله چه راپورته کړو مونږ د هر امت نه، ګواهی کوونکی، بیا به

لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا وَلَا هُمْ

اجازه ورکړے شی هغه کسانو ته چه کفر ئے کړے، او نه به دوی

يُسْتَعْتَبُونَ ﴿٨٤﴾ وَإِذَا رَأَى الَّذِينَ ظَلَمُوا

رضا ته غوښتے کړے شی. او کله چه ووینی هغه کسان چه ظلم ئے کړے

و الاسرائیل تیرا او یعنی نه هم (فتح ص۳۳۳) تفسیر القرآن رحمه الله فرمائیلی، چونکه عرب گرم ملکونو کښی اوسیدل نو خکه ئے د گرمئ ذکر وکړو او یعنی چه قیاس دے. نظیر ئے ص۲۲ آل عمران کښی. فَإِن تَوَلَّوْا ص۸۲: دوی ته خائے نه ترص۸۳ پورې او شپږ باب دی په دیکښی تم اهم امور دی: (۱) تسلی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ص۸۲ (۲) تخویف د دنیا تر ص۸۸ پورې. (۳) دلیل وحی او عظمت د قرآن ص۸۹ (۴) امور مصلحه ص۹۰ (۵) امر په پوره والی د عهد وفا او منع د اعمالو د مشرکانو د ص۹۱ نه. (۶) زور نه هغه چا له چه دنیا غوره کوی ص۹۵ (۷) ترغیب کتاب الله ته او وعده د حیات طیبه مؤمنانو له د ص۹۷ نه (۸) زجر او جوابونه د طعنو د مخالفینو د ص۱۰۳ نه. (۹) امر په مضبوطوالی سره په وخت د ابتلاء کښی ص۱۰۶ (۱۰) سبب د اعراض منه د دنیا ده ص۱۰۷ (۱۱) بشارت ص۱۱۰ سره د تخویف اخروی ص۱۱۱ او دنیاوی نه ص۱۱۲. فَإِن تَوَلَّوْا: جزاء ئے محذوف ده، معنی دا شوه چه کله چه دوی وګرځیدل نو تا باندې ذمه داری د جواب ورکولو په دیکښی نشته ځکه چه پتا ظاهری تبلیغ دے او هغه تا کړے دے. (مدارک ص۲۹۱)

يَعْرِفُونَ نِعْمَتَ اللَّهِ: یعنی دوی پیژنی چه انعام کوونکے او مهربانی کوونکے په دوی باندې الله تعالی دے او سره د دے نه انکار کوی او د غیر عبادت کوی او د نصر او رزق نسبت غیر ته کوی. (ابن کثیر ص۵۸۳)

إِنَّكُمْ لَكٰذِبُونَ ﴿۸۶﴾: شاه عبد القادر رحمه الله فرمائي كوم خلق چه عبادت د بزرګانو كوي هغوى به منكر شي. يعني شيطان خان لره هغه نوم كيدي د هغه عبادت كوي اله د هغه وجې نه به ورته دروغژن بيشي (موضح ۳۵۶)

الْعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿۸۵﴾

عذاب لره، پس سپك به نكرے شي دوى نه عذاب او نه به دوى ته مهلت وركولى شي.

وَإِذَا رَءَا الَّذِينَ أَشْرَكُوا شُرَكَآءَهُمْ قَالُوا رَبَّنَا

او كله چه ووينې هغه كسان چه شرك ئې كړے، شريكان خپل، دوى به وائي اے ربه زمونږه!

هٰٓؤُلَآءِ شُرَكَآؤُنَا الَّذِينَ كُنَّا نَدْعُوا مِن

دا هغه شريكان زمونږ دي، هغه چه مونږ به بلل بلونكي مونږ، سوا

دُونِكَ فَأَلْقَوْا إِلَيْهِمُ الْقَوْلَ إِنَّكُمْ لَكٰذِبُونَ ﴿۸۶﴾

ستا نه، پس راوبه غورځوي دوى ته وينا چه يقيناً تاسې خامخا دروغژن يئ.

وَأَلْقَوْا إِلَى اللَّهِ يَوْمَئِذٍ السَّلَمَ وَضَلَّ عَنْهُم

او وبه غورځوي الله تعالى ته، په دغه ورځ صلحه، او ورك به شي د دوى نه

مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿۸۷﴾ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا

هغه چه دوى به دروغ جوړول. هغه كسان چه كفر ئې كړے، او منع كوي خلق

عَن سَبِيلِ اللَّهِ زِدْنَٰهُمْ عَذَابًا فَوْقَ

د لارے د الله تعالى نه، زيات به كړو دوى لره عذاب، د پاسه د

الْعَذَابِ بِمَا كَانُوا يُفْسِدُونَ ﴿۸۸﴾ وَيَوْمَ

عذاب نه په سبب د دې چه دوى به فساد كوى...... او كله چه

نَبْعَثُ فِي كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا عَلَيْهِم مِّنْ

راپورته كړو به هر امت كښې، ګواهي كونكے په دوى باندے، د جنسه

أَنفُسِهِمْ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيدًا عَلَىٰ هٰٓؤُلَآءِ

د دوى نه، او راوبه ولو تا لره ګواهي كونكے په دے موجودو (اُمتيانو)

وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَٰبَ تِبْيَٰنًا لِّكُلِّ شَيْءٍ

او نازل كړے مونږ په تا باندے كتاب، واضح بيان كونكے د هر ضروري شي،

وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ﴿۸۹﴾

او هدايت، او رحمت، او زيرے دے، زيرے د مسلمانانو

ربع

رکوع ۱۲ ۱۸

زِدْنَٰهُمْ: زيات به كړو دوى لره عذاب د پاسه د عذاب يعني د خپله ګمراهئ او د نورو د ګمراه كولو (روح ۶۶۴ / ۴۳۳) اعراف كښې هم تير شوي دي.

وَجِئْنَا بِكَ شَهِيدًا: ۸۹، ۴۱ نساء هم كوري. ترغيب دے كتاب الله ته او خپور نومونه ئې نور ذكر شوي به ۸۹ كښې.

تِبْيَٰنًا لِّكُلِّ شَيْءٍ: واضح بيان دے د هر شي يعني د كار د دين. د حلال او د حرامو، د هغو امورو چه دوى ورته محتاجه دى. وګورئ مدارك ۲/۲۲۰، ابو السعود ۵/۲۳۵، قرطبي ۱۰/۱۶۴، جامع البيان ۲۳۶، جواهر ۱/۴۱۵، (الم الرحمن ۳۲۶).

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ: حاشيه د اتقان کی ۲/۱۳۵، د خلاصه د كلي شي وده ده اودا كښې امور مصلحه د تړلے او امر او د ټولے نواهي ذكر كړى. د عدل نه مراد توحيد دے (جواهر) د عقيدے اعتدال د عمل اعتدال، د اخلاقو اعتدال. (معارف ۵/۳۸۹). او احسان كښې د عبادت احسان، او د تمام اعمالو اخلاقو، عادات احسان يعني د مطلوبه طريقے مطابق صحيح او درست كول هم داخل دي او تمام مخلوق ته خو سره د بنه سلوك هم داخل دے خواه مسلمان وي يا كافر، انسان وي يا حيوان. (معارف ۲/۳۹۰) حتى دا چه مرغئ په پنجره ستا كښې پيشو په كور ستا كښې وي

فحشاء (قرطبی ص ١٦٧) . والبغی: هر قبیح عمل قولی وی که
فعلی . منکر: چه په ئے گیتری شریعت یعنی کبر، ظلم، کینه، تعدی کول او د داخل دی په منکر کښی

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ

بیشکه الله امر کوی ، په انصاف ، او احسان کولو ، او ورکولو حق

ذِي الْقُرْبَىٰ وَيَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ

د خپلوانو ته ، او منع کوی ، د بے حیائی ، او بد کار نه ،

وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿٩٠﴾ وَأَوْفُوا بِعَهْدِ

او ظلم کولو نه ، وعظ کوی تاسو ته دے دپاره چه تاسو نصیحت قبول کړئ ، او پوره کړئ لوظ د

اللَّهِ إِذَا عَاهَدْتُمْ وَلَا تَنْقُضُوا الْأَيْمَانَ بَعْدَ

الله تعالیٰ کله چه لوظ وکړے تاسو ، او مه ماتوئ ، قسمونو لره ، پس د

تَوْكِيدِهَا وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللَّهَ عَلَيْكُمْ

کلکوالی د هغوی نه ، او حال دا چه گرځولے دے تاسو الله تعالیٰ ، په خپل ځان

كَفِيلًا إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ ﴿٩١﴾

ذمه وار ، بیشکه الله ، پوهیږی په هغه چه تاسو کوئ .

وَلَا تَكُونُوا كَالَّتِي نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِنْ

او مه کیږئ ، په شان د هغه ښځے چه مات ئے کړو ، سینږلے شوے وړی خپلے ، پس د

بَعْدِ قُوَّةٍ أَنْكَاثًا تَتَّخِذُونَ أَيْمَانَكُمْ

مضبوط والی نه ، ټوټے ټوټے ، گرځوئ ، قسمونه خپل ذریعه د فساد ،

دَخَلًا بَيْنَكُمْ أَنْ تَكُونَ أُمَّةٌ هِيَ أَرْبَىٰ مِنْ

په مینځ خپل کښے ، د دے وجه نه چه شی یو ډله ، هغه زیاته ، د بلے

أُمَّةٍ إِنَّمَا يَبْلُوكُمُ اللَّهُ بِهِ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ يَوْمَ

ډلے نه ، یقیناً امتحان کوی ستاسو الله په دے سره ، او خامخا بیانوی به تاسو ته په ورځ

الْقِيَامَةِ مَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٩٢﴾ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ

د قیامت ، هغه شے چه تاسو په هغے کښے اختلاف کوئ ، او که غوښتلے الله تعالیٰ

لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَٰكِنْ يُضِلُّ مَنْ يَشَاءُ

خامخا گرځولی به ئے تاسو یو امت ، او لیکن گمراه کوی هغه چا لره چه وغواړی ،

نه وی مناسب چه تقصیر ئے په احسان کښے وکړے
خو د اهتمام د وجه نه ئے
خاص ذکر کړو ځکه چه ضرر
ئے سخت دے (قرطبی ص ١٦٧).
فائده: په قرآن کښې چه
چرته د عذاب ورکولو ذکر وی
نو وروستو د عذاب د پاره د
امور ذکر کړلی شی . شرک مکوئ
احسان وکړئ ، ظلم مکوئ .
(جواهر ص...) وګورئ د عذاب نه
اسراء تر ص... پورے . فائده:
عبد الله بن مسعود رضی الله عنه
فرمائی چه دا ډیر جامع آیت
دے په قرآن کښی خیر لره چه
عمل پرے وشی او شر لره چه
اجتناب ترے وشی (قرطبی ص...)
مدارک ص... او ابو السعود ص...
او قاسمی ص... هم ذکر کړی . د
دے وجے نه عمر ثانی د عبد
العزیز رحمه الله خطیبانو ته امر
کړے وو چه دا آیت په خطبو
کښی وائی چه دا لوئے تر نن
باقی ما ندے د عمر ثانی رح و
(محاسن التاویل ص...) ولا تکونوا
په دے آیتونو کښی منعه ده د
لوظ ماتولو نه او مثال او سبب
ورله ذکر کړیدے . دا مثال دے
د یو لوظ ماتی . په مکه مکرمه کښی
یوه ښځه وه خرقاء نامے هغه
به د ورځے سینږلے تار کړل
او بیا به ئے ماښام ورشکول
نو تاسو دا سے بے عقل مکوئ
چه د نبی صلی الله علیه وسلم سره لوظ
کړیدے او بیا ئے ماتوئ چه د
کافرانو ترقی وینئ . دا د کافرانو
ترقی خو ډیره کمه شے ده او په
دیکښی باری تعالیٰ د مؤمنانو
امتحان کوی چه دوی څومره په خپل ایمان کښی مضبوط دی په قیامت کښی به باری تعالیٰ فیصله عملی وکړی په هغے کښی چه
[illegible] کښی اختلاف کولو (افضل التراجم ص...) شیخ القرآن رحمه الله فرمائیلی چه ریشتلی مه ورانوئ . دخلاً: ذریعه د
فساد او خیانت (قرطبی ص...) په [illegible] کښی د تاکید د پاره بیا مکرر کړے . ان تکون: په سبب د دے چه وی یو ډله

سه وله زیاته ذبیلا وه لے نه (روح ۲۳) ۶ ولاتشتروا ... دے ایت کښ هم منع ده عهد ماتولو نه د
مال او جاه د حرص په وجه . فائده ۲ : رشوت اخستل سحت حرام دی او د الله تعالیٰ سره عهد ماتول دی

وَيَهْدِي مَنْ يَّشَاۤءُ ؕ وَلَتُسْـَٔلُنَّ عَمَّا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٣﴾
او هدایت کوی چاله وغواړی ، او خامخا به تاسو نه پوښتنه وشی د هغو عملونو نه چه تاسو ئے کوئ .
وَلَا تَتَّخِذُوْۤا اَيْمَانَكُمْ دَخَلًاۢ بَيْنَكُمْ فَتَزِلَّ قَدَمٌۢ
او مه نیسئ ، قسمونه خپل د فریب د فساد په مینځ خپل کښ پس ښویږی به قدم
بَعْدَ ثُبُوْتِهَا وَتَذُوْقُوا السُّوْۤءَ بِمَا صَدَدْتُّمْ
پس د کلکوالی د هغی نه او وبه څکئ عذاب په سبب د هغه چه منع کوئ خلق
عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿٩٤﴾ وَلَا
د لارے د الله تعالیٰ نه او تاسو لره عذاب لوئے دے . او مه
تَشْتَرُوْا بِعَهْدِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ اِنَّمَا عِنْدَ
اخلئ په لوظ د الله تعالیٰ بیعه لږ ، یقیناً هغه چه الله تعالیٰ
اللّٰهِ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٩٥﴾ مَا عِنْدَكُمْ
سره دی هغه غوره دی تاسو لره که چرے یئ تاسو چه پوهیږئ . هغه چه تاسو سره دی
يَنْفَدُ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ ؕ وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِيْنَ
ختمیږی او هغه چه الله تعالیٰ سره دی باقی دی ، او خامخا یقیناً به بدله ورکړو هغه کسانو ته
صَبَرُوْۤا اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٦﴾
چه صبر کوی ، اجر د دوی ، په عوض د ښه عمل هغه چه دوی کولے .
مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ
چا چه عمل وکړو ، نیک ، نارینه وی ، او که زنانه ، او هغه
مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً ۚ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ
مؤمن وی ، پس ژوندی به ئے کړو ، ژوند ښه پاک ، او خامخا یقیناً بدله به ورکړو دوی لره
اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٧﴾ فَاِذَا
اجر د دوی په عوض د ښه عمل چه دوی کولے ...... پس کله چه
قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ
اراده وکړے چه ولولے قرآن ، پس پناه وغواړه په الله تعالیٰ سره د شیطان ،

(روح ۲۳) ، د ابن عطیه په وینا جامع تعریف بحر محیط ۳۳۳ کښ داسے راغلے دے چه نقل شوے مالونو په کلو کښ هغه څه چه په اخستو ئے کول واجب وی او یا په کولو د هغے په ځوئیدلو ئے پرے واجب وی (معارف ۴۸۳) ماعندکم : دے ایت کښ ترهیب دے د دنیا نه او ترغیب دے نیک عمل ته . او شاطبه ۱۶۳ نساء ، هم مؤمن ذکور شو چه د نیک عمل د قبلیدو د پاره شرط ایمان دے . فلنحیینه حیوة طیبة : الوسی حنفی فرمائی چه مراد د حیات طیبه نه هغه ژوند دے چه جنت کښ دے ځکه هلته ژوند دے بغیر د مرګ نه او غناء دے بغیر د فقر نه او صحت دے بغیر د بیمارئ نه او ملک دے بغیر د هلاکت نه او سعادت دے بغیر د شقاوت نه (روح ۲۳) یا د حیات طیبه نه مراد حلال رزق ، قناعت ، توفیق د طاعاتو دے چه کله ئے زړه ته د الذت د طاعاتو داخل شی نو بیا د هرڅه قربانولو ته تیار دی په دنیا کښ . شیخ القرآن رحمه الله فرمائیلی دی چه دیر خلق غلط غوښتی په معنی د حیات طیبه کښ پس وائی موږ وینو چه دیر علماء ربانیین په ولږه او غریبی کښ او دوی حیات طیبه کړ ژوند کوے دے په دیر والی د

عیش حاصلولو په مالونو او اولاد او خوراک څښاک او لباس او د غلبے په دښمنانو او شهوتونو حاصلولو او شلک نشته چه دا خو شریک دی په چارپایانو او د خوشوکښ بلکه چارپایانو لره لویه برخه ده د دنیا الخ (ضیاء النور ۳۸۴) . فاذا قرأت ۲۶ : متعلق دے د ایت ۸۹ سره . او معنے ئے دا ده چه کله اراده ک

حسه وکړه د لوستلو د قرآن. (تسهيل ص۹۱) اعراف ص۲۰۴ وګوره. دغه آداب د لوستلو د قرآن دي. انعام الرحمن ص۱۵ کښې وایه ادابو کښې ذکر شوي دي چه مخکښې تیر شو. اعوذ باللّٰه ویل پکار دي. سُلْطٰنٌ: غلبه کول دي په شر لره یا په داسې ګناه چه توبه ترې نه شي کیدای لکه بدعت.

الرَّجِیْمِ ﴿۹۸﴾ اِنَّهٗ لَیْسَ لَهٗ سُلْطٰنٌ عَلَی الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا

ژغلی شوی نه. یقیناً دی، نشته ده لره غلبه، په هغه کسانو چه ایمان ئې راوړی

وَعَلٰی رَبِّهِمْ یَتَوَکَّلُوْنَ ﴿۹۹﴾ اِنَّمَا سُلْطٰنُهٗ عَلَی الَّذِیْنَ

او په رب خپل، توکل کوی دوی. یقیناً غلبه (دغه) د ده ده په هغه کسانو چه

یَتَوَلَّوْنَهٗ وَالَّذِیْنَ هُمْ بِهٖ مُشْرِکُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ وَاِذَا

دوستي کوی ورسره او په هغه کسانو چه هغوی په سبب د ده شرک کونکی وی. ع او کله چه

بَدَّلْنَآ اٰیَةً مَّکَانَ اٰیَةٍ ۙ وَّاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا یُنَزِّلُ

بدل کړو مونږ یو آیت په ځائې د بل آیت، او اللّٰه ښه پوهه دی په هغه چه رالیږی ئې،

قَالُوْٓا اِنَّمَآ اَنْتَ مُفْتَرٍ ۭ بَلْ اَکْثَرُهُمْ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۱﴾

وائی دوی یقیناً ته د ځان نه جوړونکی ئې، بلکه زیات د دوی نه پوهیږی.

قُلْ نَزَّلَهٗ رُوْحُ الْقُدُسِ مِنْ رَّبِّکَ بِالْحَقِّ

ووایه نازل کړی دی قرآن، روح پاک، د جانب د رب ستا نه په حق سره،

لِیُثَبِّتَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَهُدًی وَّبُشْرٰی لِلْمُسْلِمِیْنَ ﴿۱۰۲﴾

چه مضبوط کړی هغه کسان چه ایمان ئې راوړی، او هدایت دی او زیری دی د پاره د مسلمانانو.

وَلَقَدْ نَعْلَمُ اَنَّهُمْ یَقُوْلُوْنَ اِنَّمَا یُعَلِّمُهٗ بَشَرٌ ۭ

او یقیناً په تحقیق پوهیږو چه دوی وائی، یقیناً ښودنه کوی ده ته بشر. (انسان)

لِسَانُ الَّذِیْ یُلْحِدُوْنَ اِلَیْهِ اَعْجَمِیٌّ وَّهٰذَا

ژبه د هغه سړی چه دوی غلط نسبت کوی هغه ته، عجمی ده. او دا قرآن

لِسَانٌ عَرَبِیٌّ مُّبِیْنٌ ﴿۱۰۳﴾ اِنَّ الَّذِیْنَ لَا یُؤْمِنُوْنَ

ژبه عربی واضحه ده. یقیناً هغه کسان چه ایمان نه راوړی،

بِاٰیٰتِ اللّٰهِ ۙ لَا یَهْدِیْهِمُ اللّٰهُ وَلَهُمْ عَذَابٌ

په آیتونو د اللّٰه تعالیٰ توفیق د هدایت به ورنکړی دوی ته اللّٰه، او دوی لره، عذاب

اَلِیْمٌ ﴿۱۰۴﴾ اِنَّمَا یَفْتَرِی الْکَذِبَ الَّذِیْنَ لَا

دردناک دی. یقیناً تړی دروغ لره، هغه کسان، چه ایمان

دا داسې ګناه چه توبه ترې نه شي کیدای لکه بدعت. یَتَوَلَّوْنَهٗ: په مشرکانو (حاشیه د صحیح) په سبب د وسوسې د شیطان سره شرک کوي. (مدارک ص۲۹۹)

وَاِذَا بَدَّلْنَآ اٰیَةً: ربط: په دې کښې زجر دی هغه چا لره چه په نسخ اعتراض کوي. ص۱۰۶ بقره. شاه صاحب رحمه الله فرمائي یعنې چه یو آیت لره په بل آیت منسوخ کړو. (فتح ص۳۳۲) وَاللّٰهُ اَعْلَمُ: او اللّٰه تعالیٰ ښه پوهه دی په هغه چه نازلوي ئې. دا جمله معترضه او ادخال الٰهي دی. قُلْ نَزَّلَهٗ: دا جواب دی او دریم حکمتونه او فوائد د نسخ ذکر کوي. سورة شعراء ص۱۹۳ سره وګورئ. وَلَقَدْ نَعْلَمُ ص۱۰۳ دا تسلي ده او د بل اعتراض جواب دی چه نو مسلم رومي نصراني غلام ورته تعلیم ورکوي. وګورئ ماجدي ص۵۶۱. تائید کښې انعام ص۱۰۵ وګورئ. مَنْ کَفَرَ بِاللّٰهِ: (حاشیه د راتلونکي مخ ص۴۴۴): په دې کښې امر دی په تثبت سره په وخت د ابتلاء کښې (ص۱۵ الدرر ص۵۵). ترکیب: دا آیت مشکل دی. زمونږ شیخ رحمه الله فرمائي: مَنْ کَفَرَ الخ شرط دی او فَعَلَیْهِمْ غَضَبٌ الخ د دې جزاء ده پته دې چه هغه د مَنْ شَرَحَ بِالْکُفْرِ الخ جواب ولالت کوونکی دی.

اِلَّا مَنْ اُکْرِهَ د جزاء مقدر دې د مضمون نه استثناء ده. وَلٰکِنْ مَّنْ شَرَحَ د ماقبل نه استدراک دی. او فَعَلَیْهِمْ غَضَبٌ الخ د مَنْ شَرَحَ جواب دی. (جواهر ص۱۹۶) حاصل دا شو چه

يُؤْمِنُونَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ﴿۱۰۵﴾

نه راوړي په ايتونو د الله تعالىٰ او دغه کسان همدوى دروغ ويونکي دي.

مَنْ كَفَرَ بِاللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ اِيْمَانِهٖٓ اِلَّا مَنْ اُكْرِهَ وَ

چا چه کفر وکړه په الله تعالىٰ پس د ايمان خپل نه، لاکن هغه څوک چه زوروکړے شي (په کفر) او

قَلْبُهٗ مُطْمَئِنٌّۢ بِالْاِيْمَانِ وَلٰكِنْ مَّنْ شَرَحَ

زړه د هغه په قرار وي په ايمان باندې، لاکن هغه څوک چه پرانستله

بِالْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ اللّٰهِ ۚ وَلَهُمْ

په کفر باندې سينه خپله، پس په دوى غضب د الله تعالىٰ دے، او دوى لره

عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۰۶﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ اسْتَحَبُّوا الْحَيٰوةَ

عذاب لوئے دے. دا عذاب په سبب د دې چه بيشکه دوى غوره ګڼلے ژوند

الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ

د دنيا وي په اخرت باندې، او بيشکه الله تعالىٰ هدايت نه کوي قوم

الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۰۷﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ

کافرانو لره. دا هغه کسان دي چه مهر وهلے الله تعالىٰ په زړونو د دوى

وَسَمْعِهِمْ وَاَبْصَارِهِمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ﴿۱۰۸﴾

او په غوږونو د دوى او په سترګو د دوى، او دغه کسان همدوى غفلت کوونکي دي.

لَا جَرَمَ اَنَّهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۰۹﴾

خامخا يقيناً دوى، په اخرت کښې همدوى، تاوانيان دي.

ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِيْنَ هَاجَرُوْا مِنْۢ بَعْدِ

بيا يقيناً رب ستا، د هغه کسانو دپاره چه هجرت ئے کړے، پس د هغه نه چه

مَا فُتِنُوْا ثُمَّ جٰهَدُوْا وَصَبَرُوْٓا ۙ اِنَّ رَبَّكَ مِنْۢ

ګرولے شوي وو، بيا جهاد ئے وکړو، او صبر ئے وکړو، يقيناً رب ستا، پس د

بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۱۰﴾ يَوْمَ تَاْتِيْ كُلُّ نَفْسٍ تُجَادِلُ

دې نه خامخا بخښونکے مهربان دے. په هغه ورځ چه راشي هر نفس، چه جګړه کوي.

ع ۱۰

منزل ۳

چا چه کفر وکړه په الله تعالىٰ پس د ايمان نه پس په دوى غضب دے د الله تعالىٰ له طرفه مګر هغه څوک چه مجبور کړے شي او زړونه ئے ټينګ وي په ايمان سره، لاکن هغه څوک چه برسيره د کړي په کفر سينه پس په دوى غضب دے د الله تعالىٰ له طرفه نه. ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ ۱۰۷: دا ايت کښې سبب د ماقبل ذکر دے چه دنيائے په اخرت غوره کړې ده. په ۱۰۸ کښې نتيجه د دنيا او په ۱۰۹ کښې نتيجه د اخرت ئے ذکر ده. سورة ابراهيم ۳ او بقره ۸۶ کښې تېر شوي. ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ: بيا يقيناً رب ستا د هغه کسانو دپاره چه هجرت ئے کړے پس د هغه نه چه اکراه پرے شوے ده. دا اشارت شو او ثم د تعقيب ذکري دپاره دے. په ۱۱۱ کښې تخويف دے چه جګړه به کوي د خپل نفس له طرفه او خفه به نه وي، بيشکه کوي ګټه به دا نه وي او په هغه وخت به ورته هيڅ د عذر پيش کولو اجازت نه وي. ۱۱۲ مسرلات شکه چه دنيا مختلف حالات دي. ضَرَبَ اللّٰهُ (حاشيه د راتلونکي مخ ۱۱۲): دا تخويف دے او دعوىٰ د سورة ده او اول سره ئے تعلق سانى. ديوبندي شيخ رحمه الله فرمائي چه مَثَلًا قَرْيَةً په معنىٰ د مَثَلَ دے او قرية سره د صفت نه مفعول اول موخر دے (جواهر ۶۱۳، ۶۱۵) معنىٰ دا شوه چه ګرځولے دے الله تعالىٰ حالت چه امن والا او مطمئن وو الخ عبرت دپاره، مراد ترينه مکے والا دي چه د الله تعالىٰ د نعمتونو ناشکري ئے وکړه نو الله تعالىٰ پرې قحط راوستلو. قرطبي رحمه الله فرمائي چه سوې صدو کے او ضردارے او مره سپي وژلے ئے خوړلے (۱۹۴). فَاَذَاقَهَا اللّٰهُ: پس وڅکوله الله تعالىٰ دوى ته جامه د لوږې او د ويرې. ابن جوزي رحمه الله فرمائي چه لوږه او ويره ته ئے جامه ووئيله د وجه د احاطے د دے نه چه دوى باندې پشان د احاطے د جامے په بدن باندې (تسهيل ۲/۱۶۳).

وَلَقَدۡ جَآءَهُمۡ: په دے ایت کښې د هغه لوئے نعمت ذکر دے چه دوی ترے ناشکری کړے وه چه هغه رسول د الله تعالیٰ دے وګورئ آل عمران ۱۶۴. فَكُلُوا ۱۱۴: د دے نه ټولے سورت باب په زړه د شرک لپاره لعلی کښې دے. حاصل لے دا دے

عَنۡ نَّفۡسِهَا وَتُوَفّٰى كُلُّ نَفۡسٍ مَّا عَمِلَتۡ وَهُمۡ

د ځان نفس نه . او پوره به ورکړے شی هر نفس ته بدله د هغه عمل چه ئے کړے وی ، او دوی

لَا يُظۡلَمُوۡنَ ﴿۱۱۱﴾ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا قَرۡيَةً كَانَتۡ

به ظلم نه کړے شی . او بیان کړے الله تعالیٰ مثال د یو کلی ، چه وو

اٰمِنَةً مُّطۡمَئِنَّةً يَّاۡتِيۡهَا رِزۡقُهَا رَغَدًا مِّنۡ كُلِّ

امن والا ، په قرار وو ، راتلو به هغه ته خوراک د هغه پریمانه ، د هر طرف

مَكَانٍ فَكَفَرَتۡ بِاَنۡعُمِ اللّٰهِ فَاَذَاقَهَا اللّٰهُ لِبَاسَ

ځائ نه ، پس کفر ئے وکړو په نعمتونو د الله تعالیٰ ، پس وڅکولو هغه ته الله تعالیٰ جامه د

الۡجُوۡعِ وَالۡخَوۡفِ بِمَا كَانُوۡا يَصۡنَعُوۡنَ ﴿۱۱۲﴾ وَلَقَدۡ

لوږے ، او د ویرے ، په سبب د هغه کار چه دوی کولو ئے . او یقیناً

جَآءَهُمۡ رَسُوۡلٌ مِّنۡهُمۡ فَكَذَّبُوۡهُ فَاَخَذَهُمُ الۡعَذَابُ

راغلی وو دوی ته رسول د جنس د دوی نه ، پس دروغژن ئے ګڼړلو هغه ، پس ونیول دوی لره عذاب

وَهُمۡ ظٰلِمُوۡنَ ﴿۱۱۳﴾ فَكُلُوۡا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ حَلٰلًا

او دوی ظالمان وو . پس خورئ د هغه نه چه درکړے ئے تاسو ته الله تعالیٰ ، حلال ،

طَيِّبًا ۪ وَّاشۡكُرُوۡا نِعۡمَتَ اللّٰهِ اِنۡ كُنۡتُمۡ اِيَّاهُ

پاکیزه ، او شکر کوئ د نعمت د الله تعالیٰ ، که چرے یئ تاسو چه خاص هغه لره

تَعۡبُدُوۡنَ ﴿۱۱۴﴾ اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ الۡمَيۡتَةَ وَالدَّمَ

بندګی کوئ . یقیناً حرام کړے الله تعالیٰ په تاسو باندے مرداره ، او وینه ،

وَلَحۡمَ الۡخِنۡزِيۡرِ وَمَاۤ اُهِلَّ لِغَيۡرِ اللّٰهِ بِهٖ ۚ فَمَنِ

او غوښه د خنزیر ، او هغه چه اواز کړے شی تقرب د غیر الله په هغه ، پس هر څوک

اضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۱۱۵﴾

محتاج شی ، نه وی خوند لټوونکے ، او نه زیاتی کوونکے ، پس یقیناً الله بخښونکے ، مهربان دے .

وَلَا تَقُوۡلُوۡا لِمَا تَصِفُ اَلۡسِنَتُكُمُ الۡكَذِبَ هٰذَا

او مه وایئ هغه ته چه بیانوی ژبے ستاسو ، دروغ ، چه دا

په دے ۱۱۰ او ۱۱۱ کښې زړه دے په شرعیاتو د غیر الله په ۱۱۵ کښې زړه دے په نذر لغیر الله بانی. په ۱۱۶ کښې جواب د سوال دے. په ۱۱۹ کښې ترغیب دے توبے ته او بشارت دے. د ۱۲۰ نه دلیل نقلی د ابراهیم علیه السلام نه. د ۱۲۵ نه طریقه د بیان او تبلیغ ده. په ۱۲۶ کښې آداب د مبلغ او ختم د سورت په بشارت سره دے. فَكُلُوا: امام رازی رحمه الله فرمائی یعنی چه تاسو ایمان راوړو او کفر مو پریښودو پس حلال پاکیزه خورئ الخ (کبیر ۲۰) اِنَّمَا حَرَّمَ: تائید ئے د ۱۷۳ بقره، ۳ مائده، ۱۴۵ انعام، ۳۰ حج. وَلَا تَصِفُ: دا خطاب هغه کسانو ته دے چه بحیره او سائبه ئے حرام ګڼړل (قرطبی ۱۷) او داخل دی په دے کښې هغه خلق چه ایجاد کړی بدعت لره چه نه وی دلیل په هغه سند شرعی. (ابن کثیر ۵) وَعَلَى الَّذِيۡنَ هَادُوۡا: حاشیه د اتلویشتم ۳۰) او دا جواب د سوال دے. سوال دا دو چه دا شیونه حلال وو نو بیا په یهودیانو ولے حرام شوی وو. (جواب ۱۶۰ نساء، ۱۴۶ انعام وګورئ). بِجَهَالَةٍ ۱۱۹: سوء کفر او ګناهونو دواړو لره عام دے (مظهری ۵/۳۰۰) خطاء چه د الله تعالیٰ نافرمانی وکړی هغه جاهل دے. (ابن کثیر ۲/۵۹۰) ۱۷ نساء، ۵۴ انعام. اِنَّ

اِبۡرٰهِيۡمَ: نقلی دلیل د ابراهیم علیه السلام او د هغه پنځه صفات ذکر دی او بیا د اُمَّةً ، د امت دوه معنے دی - د لته ترینه مقتدا او مراد دے لکه بقره ۱۲۴ کښې ورته امام ویلے شوے دے . وګورئ مدارک

ص۳۰۳ (روح ص۲۲) . ځينې په معنى د جماعت يعنى دا يوائے يو اُمت د اُمتونو نه وو ځکه دا کامل ووځه تولو صفاتو د خير کښې . دغوړى روح . مدارك . معارف ص۳۹۲ ج۵ . نامروالی ، و كُنتُ على خير مَنكَبُوه

حَلَٰلٌ وَهَٰذَا حَرَامٌ لِّتَفْتَرُوا عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ ۚ
حلال دی ، او دا حرام ، چه وتړی ، په الله تعالی باندې ، دروغ ،
إِنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ لَا
يقيناً هغه کسان چه تړی ، په الله تعالی باندې ، دروغ ، نه
يُفْلِحُونَ ﴿۱۱۶﴾ مَتَاعٌ قَلِيلٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿۱۱۷﴾
کامیابیږی . (دا دی) ګټه لږه ده ، او دوی لره عذاب دردناك دے .
وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا مَا قَصَصْنَا عَلَيْكَ
او په هغه کسانو باندې چه یهودیان دی ، حرام کړی مونږ ، هغه څیزونه چه بیان کړی مونږ تا ته
مِن قَبْلُ ۖ وَمَا ظَلَمْنَاهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ
مخکښ د دے نه ، او نه دے ظلم کړے مونږ په دوی ، او لیکن دوی وو هغوی چه په ځانونو خپلو
يَظْلِمُونَ ﴿۱۱۸﴾ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُوا السُّوءَ
ظلم کولو . بیا یقیناً رب ستا د هغه کسانو د پاره چه عمل نه کوی ، بد
بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا
په نا پوهئ سره ، بیا توبه وباسی ، پس د دے نه ، او اصلاح وکړی ،
إِنَّ رَبَّكَ مِن بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿۱۱۹﴾ إِنَّ
يقيناً رب ستا ، پس د دے نه ، خامخا بخښونکے رحم کونکے دے . يقيناً
إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِّلَّهِ حَنِيفًا وَلَمْ يَكُ
ابراهيم وو ، مُقتدا ، عاجزی کونکے الله لره ، مائل د باطل نه ، او نه وو هغه ،
مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿۱۲۰﴾ شَاكِرًا لِّأَنْعُمِهِ ۚ اجْتَبَاهُ وَهَدَاهُ
د مشرکانو نه ، شکر کونکے د نعمتونو د الله ، غوره کړے وو ، او هدایت ئے
إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿۱۲۱﴾ وَآتَيْنَاهُ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ
کړے وو هغه ته ، طرف د لارې سیدهې ته . او ورکړے وو مونږ هغه ته په دنیا کښې ښائسته ژوند
وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ ﴿۱۲۲﴾ ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ
او يقيناً هغه په آخرت کښې ، خامخا د کامیابو نه وو . بیا وحی کړے مونږ تا ته ،

ركوع ۱۶ آيات ۱۶

أَن يَجْمَعَهُمْ فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ چه په الله تعالی باندې نا آشنا او ګرانه ده دا چه راجمع کړی ما تولو له په يو ځائے کښې . شیخ القرآن رحمته الله علیه فرمائیلی چه بے غیرته ملك چه لوئې نه راوړی نو وائی هغه د دے ملګرے یم او غیرتی وائی چه خدائے خولے ملګری دی . شر خوان ورد شرکانو دربار ونه ئے په شان کړی وو . وګوري انبیاء د ملامه . إِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ ، حاشیه د راتلونکی مخ ص۲۳ ، دا جواب د سوال دے . پکار دے محمد صلی الله علیه وسلم د ملت ابراهيمي تابعدار نو جمعې ته خاص ئے نه د خیالی تعظیم کولے ځکه چه ابراهيم علیه السلام د خیالی تعظیم کولو نو جواب ورکړے شو چه ابراهيم علیه السلام د خیالی نه بلکه د جمعې تعظیم کولو او بیا موسی علیه السلام ته هم د جمعې د تعظیم حکم ورکړے شوے وو مګر یهود قوم د دې نه بغاوت وکړو بیا پیغمبر سره جګړه شروع کړه چه مونږ د جمعې نه بلکه د خیالی تعظیم کوو نو مونږ ته پرے د خیالی تعظیم فرض کړه . (جواهر ص۴۱۶)

أُدْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ : دلته ئے تخصیص په تبلیغ او طریقه د تعلیم او تبلیغ ده . بِالْحِكْمَةِ په حکمت سره . دا سے دلیل سره چه واضحه کونکے د حق وی او زائله کونکے وی شبهې لره لا

په قرآن سره یعنی دعوت ورکړه دوی لره په کتاب هغه سره چه هغه حکمت او موعظت دے . مدارك ص۳۵۶ . په دا سے حقو خبر وسره چه واقع کیږی د نفس نه په ښائسته واقع کیږی سره (معارف ص۳۵۶ ج۵).

وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ: دَ موعظے او وعظ لغوی معنیٰ دا دہ چہ دَ چا دَ خیر خواهئ خبرے لرکہ پہ داسے طریقہ وویلے شی چہ دَ هغے نہ دَ مخاطب زرۂ دَ قبلولو دَپارہ نرم شی مثلاً دَ غے سرہ دَ قبلولو ثواب او فائدے او دَ نہ کولو عذاب او مفاسد ذکر کرے شی او دَ الحسنۃ معنیٰ دا دہ چہ بیان او عنوان هم داسے وی چہ دَ هغے نہ دَ مخاطب زرۂ مطمئن شی او دَ هغۂ شکوک او شبهات لرے شی او مخاطب دا محسوس کری چہ ستاسو پکښ څۂ غرض نشتہ صرف دَ هغۂ دَ خیر خواهئ دَپارہ ئے وایئ وکوری معارف ص ۴۰۸ ج ۵).

وَجَادِلْهُم: یعنی مناظرہ کوہ دَ معاندینو سرہ دَ خلقو نہ. (ابو السعود ص ۱۶۱) او دا زد دے پہ صغہ چا چہ انکار کوی دَ مناظرے نہ پہ دین کښ (مظہری ص ۳۹۶) او دا ئے ژرندہ وییل.

فَالْجِدَالُ الْحَسَنُ: ځکہ چہ جدال دَ باب دَ دعوت نہ نہ دے بلکہ مقصد دَ دے نہ بل غرض دی سوا دَ دے نہ چہ هغہ الزام او چپ کول دی (روح ص ۲۵۴) پہ آیت ۱۲۵ کښ اشارہ دہ مشکلاتو دَ دعوت تہ او پہ دَ دوو طریقو سرہ ئے علاج، پہ ۱۲۶ کښ در ئے آداب دَ داعی دی او آخری آیت کښ بشارت دے هغۂ تہ.

امتیازات:

(۱) نقلی دلیل دَ نحل نہ دے (۲) ۱۲۳ دلائل عقلیہ (۳) کسر شانونو دَ مشرک او موحد (۴) صفات دَ ابراهیم علیہ السلام دَ ۱۲۰ نہ ۔

والحمد للہ دَ سورۃ نحل تفسیر پہ وخت ۳/۴ بجے لیلۃ القدر پیښمنی کښ ختم شو. لہٰذا وخت هم ورلہ فارغہ کرو. پہ عشرہ رمضان دورہ تفسیر ختمہ شوہ او دَ هغے نہ علاوہ دَ ۲۳ رمضان نہ دَ ۲۹ درسونو دَ مسلکو ختمونہ وشو. فالحمد للہ علی ذالک.

أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ حَنِيفًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ

چہ تابعداری کوہ دَ دین دَ ابراهیم چہ حنیف وو، او نۂ وو دَ

الْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٣﴾ إِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ عَلَى الَّذِينَ

شرک کوونکو نہ. یقیناً مقرر کرے شوے وو تعظیم دَ خالی پہ هغہ کسانو باندے چہ

اخْتَلَفُوا فِيهِ ۚ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ

اختلاف ئے کرے وو پہ هغے کښ، او یقیناً رب ستا خامخا فیصلہ وکری بہ مینځ دَ دوی کښ پہ ورځ

الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٢٤﴾ ادْعُ

دَ قیامت کښ پہ هغہ کښ چہ دوی پکښ اختلاف کولو ۔ بلنہ کوہ

إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ ۖ

لارے دَ رب خپل تہ پہ حکمت سرہ، او پہ وعظ ښہ سرہ،

وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ

او مناظرہ کوہ دَ دوی سرہ پہ هغہ طریقہ سرہ چہ ښہ وی، یقیناً رب ستا، دا

أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ ۖ وَهُوَ أَعْلَمُ

پوهہ دے پہ هغہ چا چہ گمراہ شوے دَ لارے دَ هغۂ نہ، او هغہ پوهہ دے

بِالْمُهْتَدِينَ ﴿١٢٥﴾ وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ

پہ لارہ موندونکو باندے. او کہ بدلہ اخلئ تاسو نو بدلہ واخلئ پہ مثل دَ هغے چہ

مَا عُوقِبْتُم بِهِ ۖ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ

تکلیف درکرے شوے تاسو پہ هغے، او کہ چرے صبر وکرو تاسو نو خامخا دا غورہ دے

لِّلصَّابِرِينَ ﴿١٢٦﴾ وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِاللَّهِ ۚ وَلَا تَحْزَنْ

دَ صبر کوونکو. او صبر کوہ، او نۂ دے صبر ستا مگر پہ امداد دَ اللہ، او مہ خفہ کیږہ

عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِي ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ ﴿١٢٧﴾ إِنَّ اللَّهَ

پہ دوی باندے او مہ کیږہ پہ تنگئ کښ، دَ هغہ نہ چہ دوی مکرونہ کوی. یقیناً اللہ تعالیٰ

مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ ﴿١٢٨﴾

خاص ملگرے دے دَ هغہ چا چہ تقویٰ کوی، او دَ هغہ چا سرہ چہ دوی ښہ عملونہ کوی.

ع ۱۶ ۲۲

تسمیه: په دې نوم ئے اسراء دے او احسن دے وائسریٰ چه په اول آیت کښې ذکر دے. بل نوم ئے بني اسرائیل دے. د الفاظ په ... ایتونو کښې ذکر دے. **دعوىٰ د سورت:** ... حصه خلورو اصولو چه فاعل ئے خفدار د عذاب وي ... (۱) انکار د توحید نه کوي ... (۲) انکار د معجزاتو ... (۳) اخراج د رسولانو ... (۴) استهزاء په رسولانو پسے ... **ربطونه:**

(۱) مخکښې سورت کښې نزول د عذاب ... نو دلته هغه خلور اصول ذکر کړي چه مرتکب ئے حقدار د عذاب وي. (۲) هلته تخویف دنیوی ذکر ... نو دلته تخویف اخروی ذکر کړي. (۳) هلته هم سرګښي د دعوىٰ د توحید وه نو دلته هم سرګښي د دعوىٰ د توحید ... (۴) هلته تخویف ذکر دے نو دلته معجزه د اسراء ذکر ده ... (۵) هلته ذکر د عذاب و او دلته په سرګښي هغه مشل ... ده چه دا مشل ئے سبب د عذاب ...

اجمالي خلاصه: دا سورت خلور حصے دے. اول ... ترکوع پورے ... دویمه ... پورے. ... تفصیلي خلاصه ... دا چه ... اول ... دعوىٰ د توحید ده ... د عقلی، نقلی ... (۱) تخویف دنیوی ... (۲) ترغیب قرآن ته ... (۳) ... (۴) تخویف اخروي مع البشارة ...

سُبْحٰنَ الَّذِيْٓ: پاکي ده هغه ذات لره چه بوتلو ئے ... بنده خپل په یوه حصه د شپے کښې د حدودو د ... مسجد اقصیٰ (بیت المقدس) پورے. امام قرطبي رحمه الله فرمائي چه ... معنیٰ تنزیه او براءت د الله عزوجل ... نقصان نه ... ذکر دے ... د الله ... صلاحیت ... بل ځاے ... د شپے ... لیلا: نکره ده مراد ... یوه حصه د شپے ده. خطیب شربیني رحمه الله فرمائي چه د

سُوْرَةُ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّاِحْدٰى عَشْرَةَ اٰيَةً وَّاِثْنَا عَشَرَ رُكُوْعًا

سورة بني اسرائیل مکي ده نازل شوې او دا (۱۱۱) آیتونه او (۱۲) رکوعګانے لري.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُبْحٰنَ الَّذِيْٓ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ

پاکي ده هغه ذات لره چه بوتلو ئے بنده خپل په یوه حصه د شپے کښې له (حدودو) د

الْحَرَامِ اِلَى الْمَسْجِدِ الْاَقْصَا الَّذِيْ بٰرَكْنَا حَوْلَهٗ

مسجد حرام نه تر مسجد اقصیٰ ... هغه چه برکت اچولے مونږ چاپېره د هغه

لِنُرِيَهٗ مِنْ اٰيٰتِنَا ۭ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ۝۱ وَ

چه وښایو هغه ته بعضے د نښو زمونږ، بیشکه الله هم دے اورېدونکے، لیدونکے (او خبردار دے) او

اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَجَعَلْنٰهُ هُدًى لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ

ورکړے وو مونږ موسیٰ ته کتاب او ګرځولے وو مونږ هغه هدایت د پاره د بني اسرائیلو

اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِيْ وَكِيْلًا ۝۲ ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا

چه مه نیسئ بغیر زما نه کارساز ... اولاده د هغه چا چه سواره کړي وو مونږ

مَعَ نُوْحٍ ۭ اِنَّهٗ كَانَ عَبْدًا شَكُوْرًا ۝۳ وَقَضَيْنَآ اِلٰى

سره د نوح ... بیشکه هغه وو بنده شکر ایستونکے. او فیصله کړے وه مونږ بني

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ فِي الْكِتٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِي الْاَرْضِ

اسرائیلو ته ... په کتاب کښې چه خامخا به تاسو فساد کوئ په زمکه کښې

مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيْرًا ۝۴ فَاِذَا جَاۗءَ وَعْدُ

دوه ځله، او خامخا به تاسو سرکشي کوئ ... لویه. پس کله چه راغله وعده د اولني

اُوْلٰىهُمَا بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَّنَآ اُولِيْ بَاْسٍ

د دواړو فسادونو، راولېږل مونږ په تاسو بندګان زمونږ خاوندان د جنګ

شَدِيْدٍ فَجَاسُوْا خِلٰلَ الدِّيَارِ ۭ وَكَانَ وَعْدًا

سخت، پس ورګډ شول په مینځ د کورونو کښې، او وه دا وعده

خفیه ... نه مراد محمد ﷺ دے چه بنده کلونو مطلق د زیات شرافت والا دے او حق اړیه اضافت دے الله تعالیٰ ته. (سراج منیر) ... فرمائي چه ... د نبي ﷺ ... بل نوم زیات شرافت والا د دے نه نو الله تعالیٰ په ... ورلته یاد کړے دے ... او حالت کښې. (قرطبي) **لِنُرِيَهٗ مِنْ اٰيٰتِنَا:** چه وښایو هغه ته بعضے د قدرت خپل. **فائده:** ...

معراج په لغت کښې پوړۍ (زینې) ته وئیلے شي. د اسراء استعمال په ځائے د معراج او د معراج په ځائے د اسراء باندې هم کیدلے شي.
د پښتو تفسیر رحمه الله فرمائي چه د معراج دوه حصې دي. یوه حصه د مسجد حرام نه واخله تر مسجد اقصیٰ پورې، او دویمه
د مسجد اقصیٰ نه واخله تر ماشاء الله پورې. اوله حصه دلته ذکر شویده او دویمه حصه سورة النجم او احادیث صحیحو
کښې ذکر ده (جواهر ص ٢٣٠) فائده ٣: د معراج د بیدارۍ په حالت کښې په بدن او روح دواړو سره واقع کیدل عقیده ده او په جسد دواړو نوم دے او په دے د قرآن او سنت دلائل او اجماع د امت موجود ده. وګورئ معارف ج ٥. جمهور علماء په دے دي چه معراج په ویښه په بدن او روح دواړو سره ؤ. وګورئ روح المعاني، مدارك ج ٢، قرطبي ج ٩. فائده ٤: ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه متواتر ته رسیدلي دي روایتونه په حدیث د اسراء کښې چه ډیرو صحابه کرامو نقل کړي دي. په اخر کښې فرمائي
فحدیث الاسراء اجمع علیه المسلمون
واعرض عنه الزنادقة والملحدون.
چه په حدیث د معراج باندې اجماع کړے مسلمانانو او اعراض ترینه کړے زندیقانو او ملحدانو (ابن کثیر) ٤: وکیلا: ذمه دار: یعنې د الله رب چه څوک کارونه ورته سپاري (کبیر ١٣/٢٠) وګورئ المزمل ٩. ذریة من: اے اولاده د هغو خلقو چه سواره کړي وو موږ سره د نوح علیه السلام سره شکر ویستو هغه چه ستاسو نیکه شکر ایستونکے بنده ؤ. وقضینا ٥: او فیصله مو اوروله وه بني اسرائیلو ته په کتاب د هغوی کښې چه تورات دے. لتفسدن في الارض: امام رازي رحمه الله لیکي چه مراد ترینه معاصي او خلاف د احکامو د تورات نه دے (کبیر ج ١٥٥) اول ځل چه کله بني اسرائیلو د تورات د احکامو نه تلفت وکړو، توحید ئے پریخودو، په شرک او کبائرو، شو، محرمات ئے حلال کړل او انبیاء علیهم السلام ئے قتل کړل. الله تعالیٰ په

مَفْعُولًا ﴿٥﴾ ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ وَأَمْدَدْنَٰكُم
کړے شوے. بیا واپس موږ کړو تاسو ته غلبه په هغوی باندې، او امداد موږ وکړو تاسو
بِأَمْوَٰلٍ وَبَنِينَ وَجَعَلْنَٰكُمْ أَكْثَرَ نَفِيرًا ﴿٦﴾ إِنْ أَحْسَنتُمْ
په مالونو، او په ځامنو او وګرځولو تاسو زیات لښکر والا. که نیکي کوئ تاسو
أَحْسَنتُمْ لِأَنفُسِكُمْ وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا فَإِذَا جَآءَ
نو نیکي کوئ د ځانونو د پاره او که بدي کوئ نو هم هغوی ته ده. نو کله چه راشي وخت
وَعْدُ الْأٓخِرَةِ لِيَسُۥٓـُٔوا۟ وُجُوهَكُمْ وَلِيَدْخُلُوا۟
د وعدې د اخري ځل (نو راولېږو بندګان) چه بد کړي مخونه ستاسو او چه ننوځي
الْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَلِيُتَبِّرُوا۟ مَا
جومات ته لکه چه داخل شوي وو اول ځل، او چه هلاک کړي هغه څه چه
عَلَوْا۟ تَتْبِيرًا ﴿٧﴾ عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يَرْحَمَكُمْ
غالب شوي وو په هلاکولو، نزدې دے چه رب ستاسو رحم وکړي په تاسو
وَإِنْ عُدتُّمْ عُدْنَا وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ
او که واپس شوئ تاسو (شر ته) واپس به شو موږ (عذاب ته) او مقرر کړے موږ دوزخ
لِلْكَٰفِرِينَ حَصِيرًا ﴿٨﴾ إِنَّ هَٰذَا الْقُرْءَانَ يَهْدِى
د کافرانو د پاره جیل خانه. یقیناً دا قرآن، ښودنه کوي
لِلَّتِى هِىَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ
هغه لارې ته چه هغه ډیره سمه ده او زیرے ورکوي مؤمنانو هغه کسانو ته چه
يَعْمَلُونَ الصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا ﴿٩﴾
عمل کوي نیک، چه یقیناً د هغوی د پاره اجر لوئے دے.
وَأَنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْأٓخِرَةِ أَعْتَدْنَا
او یقیناً هغه کسان چه ایمان نه راوړي په اخرت باندې، تیار کړے موږ دے
لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٠﴾ وَيَدْعُ الْإِنسَٰنُ بِالشَّرِّ
د هغوی د پاره عذاب دردناك. او غواړي انسان بدي لره
منزل ٤

دوی باندې بخت نصر مسلط کړو چه بني اسرائیل ئے قتل کړل او ډیر تورات ئے وسوزولو او بیت المقدس ئے خراب کړو.
په دویم ځل چه شر او فساد شروع کړو، حضرت زکریا او یحییٰ علیهما السلام ئے قتل کړل نو الله تعالیٰ تا تار لره په دوی مسلط
کړو هغه لښکر ولېږو د بخت نصر پشان په بني اسرائیلو کښې خون خرابه وکړه. وګورئ جواهر ص ١٢٥. لیسوا وجوهکم: ٤

ضد معنیٰ هم کیږی، یعنی گاه خپل بچو ورانه ورباندے کیږی اوښیرے ورته کوی او دا دعا وړ جلا او تیزه پیدا کوی او ... چه دا تفریق هم په
هغو نېستا سورهٔ بقرهٔ ... وغیره. اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ: ترغیب دے قرآن بانديے ته او حکمت د نزول دَ هغه دے چه دَ بشارت او ویرولو

دُعَآءَهٗ بِالْخَيْرِ ۭ وَكَانَ الْاِنْسَانُ عَجُوْلًا (۱۱) وَجَعَلْنَا

بلنه دَ خیر دَ دوه غوښتلو ، او دے ، انسان ، تلوار کوونکے . او گرځولی دی مونږ

الَّيْلَ وَالنَّهَارَ اٰيَتَيْنِ فَمَحَوْنَآ اٰيَةَ الَّيْلِ وَجَعَلْنَآ

شپه ، او ورځ ، دوه نښے ، پس کمه کړه مونږ نښه دَ شپے ، او گرځولے مو ده

اٰيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً لِّتَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ وَ

نښه دَ ورځے ، رڼا ورکوونکے ، چه ولټوئ تاسو ، فضل ، دَ رب خپل ، او

لِتَعْلَمُوْا عَدَدَ السِّنِيْنَ وَالْحِسَابَ ۭ وَكُلَّ شَيْءٍ

چه پوهه شئ په شمیر ، دَ کلونو ، او دَ حساب ، او هر شے

فَصَّلْنٰهُ تَفْصِيْلًا (۱۲) وَكُلَّ اِنْسَانٍ اَلْزَمْنٰهُ طٰۗىِٕرَهٗ

واضح بیان کړے مونږ ، په وضاحت سره ، او هر انسان ، لازم کړے مونږ ورته عمل دَ هغه

فِيْ عُنُقِهٖ ۭ وَنُخْرِجُ لَهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ كِتٰبًا يَّلْقٰىهُ

په څټ دَ هغه کښی ، او راوبه باسو مونږ ورته په ورځ دَ قیامت کښی ، یو کتاب چه مخامخ به شی ورسره

مَنْشُوْرًا (۱۳) اِقْرَاْ كِتٰبَكَ ۭ كَفٰى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ

خور اور ، ولوله عملنامه خپله ، کافی دے نفس ستا ، نن ورځ ، په تا باندے

حَسِيْبًا (۱۴) مَنِ اهْتَدٰى فَاِنَّمَا يَهْتَدِيْ لِنَفْسِهٖ ۚ

حساب کوونکے . چا چه هدایت حاصل کړو پس یقیناً هدایت موندے ، دَ پاره دَ ځان خپل ،

وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۭ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ

او څوک چه گمراه شو پس یقیناً گمراه کیږی په ضرر دَ نفس دَ هغه ، او نه اوچتوی بار وړونکے بار دَ بل

اُخْرٰى ۭ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا (۱۵) وَ

دَ بل نفس ، او نه یو مونږ عذاب ورکوونکی ترو پورے چه ولیږو رسول لره . او

اِذَآ اَرَدْنَآ اَنْ نُّهْلِكَ قَرْيَةً اَمَرْنَا مُتْرَفِيْهَا فَفَسَقُوْا

کله چه اراده وکړو مونږ چه هلاک کړو یو کلے والا ، امر وکړو مالدارانو هغه ته پس فسق وکړی

فِيْهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنٰهَا تَدْمِيْرًا (۱۶) وَكَمْ

په هغه کښی پس ثابت شی په هغوی ، خبره دَ عذاب ، پس هلاک یے کړو هلاکول . او ډیر

زبانه راغلے دے . فائده : دَ معجزه دَ اسراء په ځائے والقرآن هو معجزه دے چه نبی ﷺ ته ورکړے شو بیاده (جواهر ۱۲۸) وَيَدْعُ الْاِنْسَانُ : او خواری انسان عذاب لره په ځان غوښتلو دَ خیر لره . او دے انسان جلدی کوونکے . وگوری انبیاء ۳۷ - دا زجر دے په جلد غوښتلو باندے دَ عذاب لره . تائید : ۳۲ انفال ، ۱۱ یونس ، ۴۸ الرعد ۶ . په هغے کښی عقلی دلیل دے په اٰيَتَيْنِ : (دوه صفحے عماشیه) ، یعنی شپه او ورځ دوه علامے دی په وحدانیت زمونږ او په کمال دَ علم زمونږ (قرطبی ۲۲۹) تَکْثِیْرًا فِی الْمِلْکِ ۱۵ ، او هر انسان لازم کړے ... (جواهر) یعنی هغه عمل چه اولوی دے دَ دوه نه دَ خیر او شر (صفوة ۱۴۳) داعبارت دے دَ لزوم نه لکه قلاده دَ څټ سره لازم وی (قرطبی ۲۳۰) مَنِ اهْتَدٰى : یعنی چاچه دنیا کښی لاره دَ هدایت اختیار کړه دَ هغه فائده به هغه ته رسیږی او چا چه گمراهی اختیار کړه دَ هغے وبال به په هغه باندے وی او هیڅوک دَ بل چا په جرم کښی نشی نیولے - (جواهر ۲۲۵) او زمونږ دا سنت جاریه ده او دے چه تر څو عذاب ورکوونکی په دنیا کښی ترو پورے چه رسول را ولیږو . وگوری هود اسماء ۱۶۵ - فائده : او دا دلیل دے چه احکام نه ثابتیږی مگر په شرع سره (قرطبی ۲۳۱) سورة نساء ۱۶۵ ، ۵۹ قصص ولو وَاِذَآ اَرَدْنَآ اَنْ نُّهْلِكَ ۱۶ ، دا

تخویف دے او دَ ما قبل آیت تفصیل دے . لفظ دَ اَمَرْنَا یا دَ اَمَرَ نه دے چه یائے دوه معنے دی : (۱) امام قرطبی رحمه الله
فرمائی چه اَمر دکر دَ ما لدارانو دَ هغه کلی ته په طاعت سره د پاره دَ عذر زائله کولو او وېرولو دَ هغوی (قرطبی ۲۳۲)
(۲) زیات کړو مالداران دَ هغوی عرب وائی : اَمَرَ بَنُوْ فُلَانٍ یا اَمَرُوْا اَمْرًا : کله چه زیات شی . (غریب القرآن ۲۴۳)

سے پاؤ باب تفصیل ته متعدی دے ۔ یعنی امیران کړو مالداران دَهغه پس فسق شروع کړی په وجه کښې (مظهری ص۴۴۴)
دَکوزی معارف ص۳۳ په ﴿وَکَمۡ أَهۡلَكۡنَا﴾ دریم ایت سره تعلق ۔ اشاره ده تخویف دنیوی ته دَ پیغمبرانو مونږ په هلاکت

أَهۡلَكۡنَا مِنَ ٱلۡقُرُونِ مِنۢ بَعۡدِ نُوحٖۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ
هلاک کړی مونږ ډیر قومونه روستو د نوح علیه السلام نه ۔ او کافی دے رب ستا
بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرٗا ۝١٧ مَّن كَانَ يُرِيدُ
په ګناهونو د بندګانو خپلو خبردار لیدونکے ۔ څوک چه وی چه اراده لری
ٱلۡعَاجِلَةَ عَجَّلۡنَا لَهُۥ فِيهَا مَا نَشَآءُ لِمَن نُّرِيدُ ثُمَّ جَعَلۡنَا
د دنیا زر ورکړو مونږ ده ته په دغه کښې هغه چه مونږ یې غواړو د هغه چا دپاره چه اراده یې کوو بیا ګرځولے دے مونږ
لَهُۥ جَهَنَّمَ يَصۡلَىٰهَا مَذۡمُومٗا مَّدۡحُورٗا ۝١٨ وَمَنۡ أَرَادَ
ده ته دوزخ ننوځی په هغه کښې بد کړے شوے رټلے شوے ۔ او څوک چه اراده لری
ٱلۡأٓخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعۡيَهَا وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ
د اخرت او کوشش کوی د هغې دپاره مناسب کوشش او دے مؤمن وی ۔ پس دغه کسان
كَانَ سَعۡيُهُم مَّشۡكُورٗا ۝١٩ كُلّٗا نُّمِدُّ هَٰٓؤُلَآءِ وَهَٰٓؤُلَآءِ
دے کوشش د دوی قبول کړے شوے ۔ هریو ته مدد ورکوو دغو ته او دغو ته
مِنۡ عَطَآءِ رَبِّكَۚ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحۡظُورًا ۝٢٠
د بخشش د رب ستا نه ۔ او نه دے بخشش د رب ستا منع کړے شوے ۔
ٱنظُرۡ كَيۡفَ فَضَّلۡنَا بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ وَلَلۡأٓخِرَةُ
اوګوره څنګه غوره کړی مونږ بعضے د دوی په بعضو باندے ۔ او یقیناً اخرت
أَكۡبَرُ دَرَجَٰتٖ وَأَكۡبَرُ تَفۡضِيلٗا ۝٢١ لَّا تَجۡعَلۡ مَعَ
لوئے دے په درجو کښې او لوئے دے په فضیلت کښې ۔ مه ګرځوه د الله تعالی
ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتَقۡعُدَ مَذۡمُومٗا مَّخۡذُولٗا ۝٢٢ وَ
سره بل معبود ۔ پس کینے به ته بد کړے شوے بے مدده کړے شوے ۔ او
قَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ
فیصله کړے ده رب ستا چه عبادت مه کوئ مګر د هغه او نیکی کوئ د مور او پلار سره
إِحۡسَٰنًاۚ إِمَّا يَبۡلُغَنَّ عِندَكَ ٱلۡكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوۡ كِلَاهُمَا
نیکی کول ۔ که چرته اورسی تا سره زړښت ته یو د دوی نه او یا دواړه

سره ۔ مونږ ګان کړل ۔ تخویف اخروی دے هغه چا ته چه دین د پاره نه کوی ۔ شیخ القرآن رحمة الله علیه فرمایل څوک چه دا ۱۹ ورځ د ستړی کوی دنیا په عمل د اخرت باندې دا یې هم وکړو ص۳۱ آل عمران ص۲۳ سورت نساء ۔ وسعی لها سعیها ص۱۹ اشارت دے ۔ معنی دے دا ده کوشش کوی د اخرت دپاره لاق کوشش د هغه چه صحیح عقیده وی او د سنت کرام مطابق وی ۔ امام رازی رحمه الله فرمائی چه پوره طلبګار تقرب حاصلوی الله تعالی ته په اعمال باطنو سره لکه کفار تقرب حاصلوی په بتانو سره ۔ (کبیر ص۳۳) کوم نیک عمل چه خپلے رائے او منکرات طریقو سره کولے شی په هغو کښې دیر خاتو عام رسمونه شامل دی په لیدلو کښې چه څومره ښه او ښائسته په نظر راځی ۔ منکر اخرت د پاره ثواب نه دی ۔ په دے وجه نه چه د الله تعالی په نزد مقبول دی او نه به اخرت کښې کار آمد ۔ معارف ص۲۳ ایات ستړه او دغه لا تجعل مع الله ص۲۲
دا دویم باب دے ترڅه پورے چه په دے باب کښې شپږ خبرے دی : (۱) اول دے امور دفع د عذاب دپاره ۔ شرک مکوی ص۲۲ ۔ ص۲۳ ۔ احسان وکړئ د مخلوق سره او د هغه شکر نعمتونه ص۲۳ ۔ ص۲۸ ۔ ظلم مکوئ او د هغه شپږ نمونے ص۳۱ ص۳۷ ص۲۹ ۔ دویم زجر په شرک ص۳۸ ص۴۰ ۔ دریم دعوی د توحید ص۴۱ سره د دلیل نقلی نه څلورم زواجر منکرینو د شرکو مقاصدو نه ص۴۲ ص۴۷ ص۲۸ ص۵۲ پنځم

دلیل عقلی ص۴۴ ص۵۳ شپږم رد د شرک فی التصرف ص۵۵ نه بالفاظ دیګر د دے ځائے نه ترخاتم پورے ص۲۲ او امر او ۱۴ نواهی دی چه بتول ۲۳ جوړیږی ۔ فائده ۱ : چونکه د معجزه د اسرا نه بعد په انکار توحید باندے عذاب الهی راتلونکے دے ۔ د دے وجے نه اول د دفع د عذاب دپاره دریے امور ذکر کړے شو چنی شرک مکوی ۔

حته احسان وکړئ او ظلم مه کوئ (جواهر ﷺ) وَلَا تَقُل: خطاب د سړي دی چې نبي ﷺ ته او هر یو ته شامل دی. هغه نه دی
اوړېدل شوي چې سپين ږيرو ته اُف وايي... ده ته خطاب دی، انسان ته ... ادا ترلي ده. (خازن ١٦٠/٣)

34

فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا

پس مه وایه دوی ته اُف ټکی او مه رټه دواړه او وایه دوی ته خبره

كَرِيمًا ٢٣ وَٱخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحْمَةِ

عزتمنده. او ښکته کړه دواړو ته وزرونه د عاجزۍ او د بچې د مهربانۍ نه،

وَقُل رَّبِّ ٱرْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِى صَغِيرًا ٢٤ رَّبُّكُمْ

او دوا یه ای ربه رحم کړه په دواړو، لکه چې پالنه کړې ده زما، واړه وم. رب ستاسې

أَعْلَمُ بِمَا فِى نُفُوسِكُمْ ۚ إِن تَكُونُوا۟ صَـٰلِحِينَ فَإِنَّهُۥ

ښه عالم دی په هغه څه چې ستاسو په نفسونو کې دي. که چیرې یئ تاسې نېکان، پس یقیناً الله

كَانَ لِلْأَوَّٰبِينَ غَفُورًا ٢٥ وَءَاتِ ذَا ٱلْقُرْبَىٰ حَقَّهُۥ

دی راجع کېدونکو ته بخښونکی. او ورکړه خپلوانو ته حق د هغوی او

وَٱلْمِسْكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا ٢٦

او مسکین ته او مسافر ته، او بې ځایه خرچ مه کوه فضول.

إِنَّ ٱلْمُبَذِّرِينَ كَانُوٓا۟ إِخْوَٰنَ ٱلشَّيَـٰطِينِ ۖ وَكَانَ

یقیناً بې ځایه خرچ کوونکي دي، رونړه د شیطانانو، او دی

ٱلشَّيْطَـٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورًا ٢٧ وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ

شیطان د رب خپل ډېر ناشکري کوونکی. او که چېرې ته مخ واړوې د دوی نه،

ٱبْتِغَآءَ رَحْمَةٍ مِّن رَّبِّكَ تَرْجُوهَا فَقُل لَّهُمْ

د لټولو د رحمت د جانب د رب ستا نه، چې امید ئې کړې، پس وایه دوی ته

قَوْلًا مَّيْسُورًا ٢٨ وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ

وینا نرمه کړې شوې. او مه ګرځوه لاس خپل تړلی شوی مخې ستا ته،

وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ ٱلْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا ٢٩ إِنَّ

او مه فراخوه هغه په پوره فراخۍ سره، پس کېنې به ملامت کړی شوی ستړی شوی. یقیناً

رَبَّكَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ

رب ستا فراخوي رزق لره چا لره چې وغواړي، او تنګوي ئې. یقیناً الله دی

وَالْحِكْمَةُ: او نیکي کول د مور او پلار سره نیکي. وګورئ بخاري ... نساء ٣٦، انعام ١٥١. وَاخْفِضْ لَهُمَا: (حاشیه د سند ...): او ښکته کړه دوارو ته وزرونه د عاجزۍ د روحې د مهربانۍ نه. امام رازي رحمه الله فرمائي چې مقصود دا دی چې مبالغه ده په تواضع کولو کې (کبیر). وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا: او بې ځایه خرچ مه کوه په بې ځایه خرچ کولو سره. راغب اصفهاني رحمه الله فرمائي تبذير پیلولو ته وائي او اصل ئې تخم شیندل دي او شیندل د هغه دي (مفردات ...) او ابن مسعود او ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي چې خرچ کول د مال دي په غیر د حق کې (مظهري ...، ابن کثیر ...) په دې ایت کریمه کې د مور او پلار د حق نه بعد د نورو حقدارانو ذکر شوی. فائده: مُبذّرين ته ئې د شیطان ورونه ځکه ویلي، ځکه چې مال او دولت لره په ناجائزه او خلاف شریعت کارونو کې خرچ کول د شیطان دی ځکه چې د شیطانانو کار دی شر او فساد خورول نو دغه رنګ مبذرین هم د شر او فواحشو او منکراتو د عام کولو د پاره په هغه ملک کې شر او فساد خوروي (جواهر ...). قَوْلًا مَّيْسُورًا: وینا نرمه کړې شوې. ... په بیه طریقه سره وګورئ بقره ٢٦٣. وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ ...: په دې ایت کریمه کې د خرچ کولو طریقه بیانوي

په ...ایت کې دفع د سوال ده چې په خرچ کولو سره روزي نه کمېږي او د ما قبل علت دی چې الله تعالی په
مصلحتونو ښه پوهېږي چې د چا روزي ډېره کوي او د چا له کمه. وګورئ رعد ٢٦، روم ٣٧ ...

وَلَا تَقْتُلُوٓا: او د دے مخالف نه ورپسے خبره ده چه ظلم مکوئ او د ظلم شپږم نمونے، اول دا چه د وجے د ولږے نه خپل اولاد مه وژنئ - قتلی خاندانی منصوریدو ... هم دربوه معنی ... قتل اولاد لانبو دا خطه ده - د دے وجه نه دا آیت د دے نه راهم شامل دے.

بِعِبَادِهٖ خَبِيْرًاۢ بَصِيْرًا ﴿۳۰﴾ وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ

په بندګانو خپلو خبردار، لیدونکے. او مه وژنئ اولاد خپل د وجے د ویرے

اِمْلَاقٍ ۭ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَاِيَّاكُمْ ۭ اِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ

د لوږے، مونږ روزی ورکوو دوی ته او تاسو ته، یقیناً وژل د دوی، خطا

خِطْاً كَبِيْرًا ﴿۳۱﴾ وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰٓى اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً ۭ

لویه ده. او مه نږدے کیږئ زنا ته، یقیناً دا ده بے حیائی

وَسَاۗءَ سَبِيْلًا ﴿۳۲﴾ وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ

او بده لاره. او مه وژنئ نفس هغه چه حرام کړی الله تعالیٰ

اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ ۭ وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُوْمًا فَقَدْ جَعَلْنَا

او ژل ئے مګر په حقه، او هغه څوک چه قتل شو په ظلم سره پس یقیناً مقرر کړی مونږ،

لِوَلِيِّهٖ سُلْطٰنًا فَلَا يُسْرِفْ فِّي الْقَتْلِ ۭ اِنَّهٗ كَانَ

وارث د هغه ته اختیار پس زیاتے دې نه کوی په وژلو کښې، یقیناً دا دے

مَنْصُوْرًا ﴿۳۳﴾ وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ

امداد کړے شوے. او مه نږدے کیږئ مال د یتیم ته، مګر په هغه طریقه چه هغه

اَحْسَنُ حَتّٰى يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ ۠ وَاَوْفُوْا بِالْعَهْدِ ۚ اِنَّ

ښائسته وی تر دے چه ورسیږی ځوانئ خپلے ته، او پوره کړئ لوظ خپل، یقیناً

الْعَهْدَ كَانَ مَسْـُٔـوْلًا ﴿۳۴﴾ وَاَوْفُوا الْكَيْلَ اِذَا كِلْتُمْ

لوظ دے پوښتنه کړے شوے. او پوره ورکړئ پیمانه، کله چه پیمانه کوئ.

وَزِنُوْا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيْمِ ۭ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّ

او تول کوئ په تله برابره، دا غوره ده او

اَحْسَنُ تَاْوِيْلًا ﴿۳۵﴾ وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ۭ

ښائسته ده په انجام کښې. او مه پسے ګرځه د هغه خبرے پسے چه نه وی تا له په هغے علم،

اِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ اُولٰۗىِٕكَ كَانَ عَنْهُ

یقیناً غوږ او سترګے او زړونه، دا هر یو د دوی نه، د دے به تپوس کیږی،

دا هم ظلم دے چه خوګ هر څه، خپل اولاد چه ئی قتل ظلم دے نو دغه رنګ بے حقه قتل ئے هم ظلم دے. (جواہر ص۶۳۱) اتم هم دے هم وګورئ - وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰٓى: دا هم ظلم دے څکه چه پردئ زوئ ئی او ارث نه دئ او نیسی د مور و پلار شفقت نه محرومیږی نه ئی - دلته مبالغه ده چه هیڅ نږدے کیږئ زنا ته چه ټول اسباب د زنا نه بند کړل ... وګورئ قرطبی (۲۵۳) مظهری (۳۳)

وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ: دا د دریم ظلم نه منع ده. یعنی چا ته بے حقه مه وژنئ. فَلَا يُسْرِفْ فِّي الْقَتْلِ: پس زیاتے دې نه کوی په وژلو کښې چه غیر قاتل هم وژنی یا د یو په ځائے دوه وژنی یا ئی ګونګی چه په مړی کوی. وړنګه دې چه د مقتول مثله کړی یعنی ټوټے ټوټے کړی او دا قول مراد دی چه هر یو زیاتے دے نو نهی ترینه شوے ده. وګورئ قرطبی (۲۵۰/۱۰)

وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ: دا څلورم ظلم دے، مه نږدے کیږئ مال د یتیم ته مګر په هغه طریقه چه هغه ورله ښائسته وی. احکام ئے وګورئ. وَاَوْفُوا الْكَيْلَ: پوره ورکوئ پیمانه، کله چه پیمانه کوئ. په دے کښې د پنځم ظلم نه ردے یعنی تجارت کولو کښې په پوره حقوقو نه ورکول. وَلَا تَقْفُ: او مه پسے ګرځه په هغه خبره پسے چه تا له پرے علم نه وی. (قرطبی ۲۵۲/۱۰) د کوم شی په باره کښې چه پوره علم نه وی په هغے کښې محض په ګمان او اټکل باندے عمل مه کوه او کوم مسلمان ته تکلیف مه ورکوه او محض په اورېدلو شو خبرو اعتماد د کړے چاله نشته نه دا ظلم مه جوړوه. (جواہر ص۶۳۳)

وَلَا تَمْشِ: او مه ګرځه په زمکه کښې په مستئ او ویاړ سره، هر کله چې د دنیا دی مال او دولت او جاه و جلال د وجې نه انسان کښې غرور او سکتر پیدا کیږي نو بیا هغه هر قسم ظلم او ستم او نافرماني او سرکشي ته تیاریږي د الله وجې

مَسْـُٔوْلًا ﴿۳۶﴾ وَلَا تَمْشِ فِی الْاَرْضِ مَرَحًا ۚ اِنَّكَ لَنْ

پوښتنه کیدونکې. او مه ګرځه په زمکه کښې په مستئ سره، یقیناً ته هیڅکله هم

تَخْرِقَ الْاَرْضَ وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُوْلًا ﴿۳۷﴾ كُلُّ ذٰلِكَ

نشې شلولې زمکه، او هیڅکله نشې رسیدې غرونو ته په اوږدوالي کښې. ټول دغه

كَانَ سَیِّئُهٗ عِنْدَ رَبِّكَ مَكْرُوْهًا ﴿۳۸﴾ ذٰلِكَ مِمَّاۤ اَوْحٰۤی

دي، بد د هغه د دغه، په نزد د رب ستا بد کړې شوي. دا د هغو خبرو نه دي چې وحې کړې

اِلَیْكَ رَبُّكَ مِنَ الْحِكْمَةِ ؕ وَلَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا

تا ته رب ستا، د حکمت نه. او مه ګرځوه د الله تعالی سره الٰه (معبود) دکار

اٰخَرَ فَتُلْقٰی فِیْ جَهَنَّمَ مَلُوْمًا مَّدْحُوْرًا ﴿۳۹﴾ اَفَاَصْفٰىكُمْ

بل، پس وبه غورزولی شې په جهنم کښې ملامت کړې شوی شړلی شوی. آیا پس غوره کړي دي تاسو لره

رَبُّكُمْ بِالْبَنِیْنَ وَاتَّخَذَ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ اِنَاثًا ؕ اِنَّكُمْ

رب ستاسو په ځامنو، او نیولي دي ملائکو لره لونړه. یقیناً تاسو

لَتَقُوْلُوْنَ قَوْلًا عَظِیْمًا ﴿۴۰﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِیْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ

خامخا وایئ وینا لویه. او یقیناً بار بار بیان کړي دي مونږ د توحید دلائل په دې قرآن کښې،

لِیَذَّكَّرُوْا ؕ وَمَا یَزِیْدُهُمْ اِلَّا نُفُوْرًا ﴿۴۱﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ

چې پند حاصل کړي، او نه زیاتوي دوی لره مګر نفرت. ووایه: که چرې وی، د الله تعالی

مَعَهٗۤ اٰلِهَةٌ كَمَا یَقُوْلُوْنَ اِذًا لَّابْتَغَوْا اِلٰی ذِی

سره، حقداران د بندګئ لکه چې دوی وائي په دې وخت کښې خامخا به لټولې دوی خاوند د

الْعَرْشِ سَبِیْلًا ﴿۴۲﴾ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰی عَمَّا یَقُوْلُوْنَ

عرش ته لار. پاکي ده الله تعالی لره او لوړ دے د هغه نه چې دوی وائي،

عُلُوًّا كَبِیْرًا ﴿۴۳﴾ تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوٰتُ السَّبْعُ وَالْاَرْضُ

په لوړتیا ډیره سره. پاکي بیانوي الله لره اسمانونه اووه او زمکه،

وَمَنْ فِیْهِنَّ ؕ وَاِنْ مِّنْ شَیْءٍ اِلَّا یُسَبِّحُ

او هغه چې په دوی کښې دي، او نشته هیڅ شے، مګر پاکي وائي

ته د غرور او لویئ کولو نه منع وکړه (جواهر ص ۲۷ ج ۱) لقمان ۱۸ هم وګورئ. ذٰلِكَ: دیکښې اشاره ده مخکښې ټولو ذکر شوو اوامرو او نواهیو ته. بعضې نه مراد د امر و نو په ځیز عمل او د نواهیو پاتي عمل کول دي. وَلَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ: په دیکښې نهي د شرک نه ده. اَلْوَحْيُ: مخکښې فرمائي چې د الٰهیت دوباره مکرر کړو دپاره د تنبیه وکړو او پید هغه خبرو باندې چې توحید شروع د ټولو کارونو او منتهاء د هغو ده او اسرار د حکمت دے او د دارومدار د هغه دے (روح ص ۷۷) دغه رنګ ابوالسعود هم لیکلي دي (ص ۲۷ ج ۳). امام رازي لیکي په دیکښې تنبیه ده چې مقصود د ټولو احکامو نه معرفت د توحید دے او بیو هغه نو تل دي په دیکښې (کبیر ص ۲۳ ج ۱۱). اَفَاَصْفٰىكُمْ: رد دے په مشرکینو باندې چې ملائکو ته یې د الله تعالی لونړه ویل. مریم ۸۸، صٰفٰت ۱۴۹ وګورئ. په ۴۱ کښې ترغیب دے قرآن ته او رټنه ده نفرت کولو نه د قرآن نه. په ۴۲ کښې رد دے په هغه چا چې د الله تعالی سره نور الٰهه نیسي. په ۴۲ م ۴۳ کښې دعوی د توحید ده په لفظ د تسبیح سره. اِلَّا یُسَبِّحُ: مګر تسبیح وائي په ستائینه د الله تعالی. یا مراد ترینه تسبیح حالی دی یعنې هر شے ګواهي کوي په حال چې الله عزوجل خالق، قدرت والا دے یا تسبیح حقیقۍ ده. او هر شے علی العموم د الله تعالی پاکي بیانوي

[illegible]

لیکن انسان ئې نه اوري او نه پرې پوهیږي. وګورئ قرطبي ص ۲۶۶ ج ۱۰) بابا صاحب رحمه الله فرمائي:

نه بلبل بر ګلش تسبیح خوانے است ⁂ که هر خارے به تسبیحش زبانے است

وَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ: دیکښې زجر دے منکرینو ته د قرآن ته. په دغه کښې زجر دے منکرینو د توحید له. په دغه کښې زجر دے منکرینو د رسول له. د مشا نه زجر دے منکرینو د قیامت له. فائده: د دریابادی رحمه الله لیکی:

بِحَمْدِهٖ وَلٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِيْحَهُمْ ۭ اِنَّهٗ كَانَ

سره د حمد د هغه، او لیکن نه پوهیږئ تاسو په تسبیح د دوی، یقیناً الله دے

حَلِيْمًا غَفُوْرًا ﴿۴۴﴾ وَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ

صابره، بخښونکے. او کله چه لولې ته قرآن لره، گرځوو مونږ په مینځ ستا

وَبَيْنَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ حِجَابًا مَّسْتُوْرًا ﴿۴۵﴾

او په مینځ د هغه کسانو چه ایمان نه راوړی په آخرت، پرده پټه کړے شوے.

وَّجَعَلْنَا عَلٰي قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ

او گرځولی دی مونږ په زړونو د دوی پردے د دے چه پوهه شی دوی په ده، او په غوږونو د دوی کښې

وَقْرًا ۭ وَاِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِي الْقُرْاٰنِ وَحْدَهٗ وَلَّوْا

دروندوالے دے، او کله چه یادوې ته رب خپل په قرآن کښې، یواځې، گرځی دوی

عَلٰٓي اَدْبَارِهِمْ نُفُوْرًا ﴿۴۶﴾ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُوْنَ

په شاگانو خپلو، نفرت کوونکی. مونږ ښه پوهه یو په هغه څیز چه غوږ نیسی دوی

بِهٖٓ اِذْ يَسْتَمِعُوْنَ اِلَيْكَ وَاِذْ هُمْ نَجْوٰٓى اِذْ يَقُوْلُ

په هغه، کله چه غوږ نیسی دوی تاته، او کله چه دوی سرگوشی کوی، کله چه وائی

الظّٰلِمُوْنَ اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا رَجُلًا مَّسْحُوْرًا ﴿۴۷﴾ اُنْظُرْ

ظالمان: تابعداری نه کوئ تاسو، مگر د سړی جادو کړے شوی. اوگوره

كَيْفَ ضَرَبُوْا لَكَ الْاَمْثَالَ فَضَلُّوْا فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ

څنګه بیان کړی دی تاله مثالونه، بیا گمراه شو دوی، پس طاقت نلری

سَبِيْلًا ﴿۴۸﴾ وَقَالُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّرُفَاتًا ءَاِنَّا

د لارے. او وائی دوی: آیا کله چه شو مونږ هډوکی او ریزه ریزه، آیا مونږ

لَمَبْعُوْثُوْنَ خَلْقًا جَدِيْدًا ﴿۴۹﴾ قُلْ كُوْنُوْا حِجَارَةً

خامخا راپورته کړے شو په پیدائش نوی سره. ووایه: شئ تاسو کاڼی

اَوْ حَدِيْدًا ﴿۵۰﴾ اَوْ خَلْقًا مِّمَّا يَكْبُرُ فِيْ صُدُوْرِكُمْ ۚ

او یا اوسپنه، او یا مخلوق د هغه څیز نه چه لوئ وی په سینو ستاسو کښې،

او سخت افسوس وے چه د اعمال د شرک صفاتو مبتلا نه بیدا مانو کلمه ویونکو هم شوی دے. د کومو بزرگانو سره چه د ځان اعتقاد شوے وی گویا که بیوله توجه د عقیدے مرکز د هغه ذات وی او د الله سره ئے تعلق برائے نام پاتے شی. (ماجدی ص۵۹۵) وگورئ ص۳۲۵ صفت شرحق، ص۳۵ زمر. فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا: پس طاقت نلری د سمے لارے. فَسَيُنْغِضُوْنَ اِلَيْكَ: (حاشیه ورانتو نکی محمو ص۴۳): شیخ القرآن رحمه الله په معنی کوله پس ژر به خوځوی تاته سرونه خپل، او وبه وائی کله به واقیامت وی؟ ابن قتیبه رحمه الله لیکی چه وبه خوځوی تاته سرونه خپل څنګه چه خوځوی نا امیده د شی نه او بعید گنړونکے د شی سرونه (غریب القرآن). تَسْتَنْطِقُوْنَ بِحَمْدِهٖ: پس قبولئ به کوئ ستائنه د الله تعالیٰ. آلوسی رحمه الله د ابن جریر رحمه الله نه نقل لیکی چه کله راوزی د قبرونو خپلو نه نو وائی به سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ: او ستاینه ئې لرے والے په صد در دوے کښې د کافرانو به ورځ د قیامت اگرچه فائده ورته نه رسوی (روح المعانی)، د قُلْ لِّعِبَادِيْ ص۵: د مخلوره امسلو د منکرینو د زواجرو نه بعد طریقه د بیان او د تبلیغ: معنی وادوه. او ووایه اے پیغمبره! بندگانو خپلو یعنی مومنانو ته چه وائی شعبوکو امام رازی رحمه الله فرمائی چه کلام او اده د پیش کولو د دلیل په مخالفینو کوله نو ذکر کوئ دغه دلائل په ښائسته طریقے سره (کبیر ص۲۲) او گورئ ص۱۲۵ نحل، ص۴۶ عنکبوت. اویا دا معنی شوه چه ووایه اے پیغمبره! بندیانو خپلو ته چه د الله تعالیٰ دغه رکوع د وجه د شو منو شوی. دغلو د شومنې دا د مشرکان او کافران دی چه دوائی بنائسته کلمه د توحید یعنی دعوت د توحید ورکوه: په ص۳۵ کښې

غیب واله د باری تعالیٰ دی - او بشارت او تخویف ته اشاره ده - وَآتَيْنَا دَاوُودَ زَبُورًا ، د هر چا په حال باندې
اشتنا عالم دے او مرتبو کښې اختلاف شته او بعض نبیان مو غوره کړي دي په بعضو باندې په سبب د ډېر

فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَا ۖ قُلِ الَّذِي فَطَرَكُمْ
پس زر به وائي دوی، څوک به واپس کړي مونږ، ووایه هغه ذات چې پیدا کړي يئ تاسو لره،

أَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ فَسَيُنْغِضُونَ إِلَيْكَ رُءُوسَهُمْ وَ
اول ځل، پس زر به وښوروي دوی، تا ته، سرونه خپل، او

يَقُولُونَ مَتَىٰ هُوَ ۖ قُلْ عَسَىٰ أَن يَكُونَ قَرِيبًا ﴿٥١﴾
به وائي دوی، کله به وي دا؟ ووایه کیدے شي چې وي دا، نزدې -

يَوْمَ يَدْعُوكُمْ فَتَسْتَجِيبُونَ بِحَمْدِهِ وَتَظُنُّونَ إِن
کله چې راوبلي تاسو لره، پس قبول به کړئ تاسو بلنه ئې په حمد وئيلو د هغه سره او ګمان به کوئ تاسو چې

لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٥٢﴾ وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُوا الَّتِي
نه يئ اوسيدلي تاسو مګر لږ - او ووایه بندګانو ما ته چې ووائي دوی هغه خبره

هِيَ أَحْسَنُ ۚ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنزَغُ بَيْنَهُمْ ۚ إِنَّ
چې هغه ډېره ښائسته ده، یقیناً شیطان، فساد اچوي په مینځ د دوی کښې، یقیناً

الشَّيْطَانَ كَانَ لِلْإِنسَانِ عَدُوًّا مُّبِينًا ﴿٥٣﴾ رَّبُّكُمْ
شیطان، دے، د انسان دپاره، دشمن، ښکاره - رب ستاسو

أَعْلَمُ بِكُمْ ۖ إِن يَشَأْ يَرْحَمْكُمْ أَوْ إِن يَشَأْ يُعَذِّبْكُمْ ۚ
ښه پوهه دے په تاسو، که اوغواړي رحم به وکړي په تاسو، او یا که اوغواړي عذاب به ورکړي تاسو ته

وَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ وَكِيلًا ﴿٥٤﴾ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ
او نه يئ لیږلے مونږ ته په دوی، ذمه دار - او رب ستا ښه پوهه دے

بِمَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۗ وَلَقَدْ فَضَّلْنَا
په هغه چا، چې په اسمانونو کښې دي، او په زمکه کښې، او یقیناً غوره کړي دي مونږ،

بَعْضَ النَّبِيِّينَ عَلَىٰ بَعْضٍ ۖ وَآتَيْنَا دَاوُودَ
بعض، نبیانو له، په بعضو باندې، او ورکړے مونږ، داود ته

زَبُورًا ﴿٥٥﴾ قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن
زبور لره - ووایه، راوبلئ هغه کسان چې، خیال کړے تاسو، سیوا د

اسماني او کتاب رحماني سره لکه چې ورکړے د مونږ داود ته زبور لره. فائده ۲: امام بغوی رحمه الله خپل تفسیر کښې ذکر کړي دي: په دے ځائے کښې چې زبور د الله تعالیٰ کتاب دے چې په حضرت داود علیه السلام باندې نازل شوے وو او په دے کښې یو سل پنځوس سورتونه وو او په ټول سورتونو کښې صرف د دعا، حمد او ثنا باندې مشتمل وو په دے کښې د حلال او حرام او فرائضو او حدود وو بیان نه وو. (معالم ۱۲۴)

قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُم: په دے کښې شرک فی الدعا او فی التصرف باندې ردّ دے او متعلق دے د آیت ۵۲ سره. او وایه: راوبلئ هغه کسان چې تاسو ورته خیال کوئ د معبودانو او مراد ترینه نیکان بندګان دي لکه ملائک او عزیر او مسیح علیهم السلام شو. دګوري السراج المنیر ۲، مدارک ۲ او په صحیح مسلم ۲ کښې دي چې ابن مسعود رضی الله عنه فرمائي چې یو ډله د جناتو نه اسلام راوړو او د هغوی عبادت به کولے شو. پس پاتې شو هغه کسان چې د دوی عبادت به کولو هغه حال دا وو چې اسلام راوړے ؤ هغه ډله د پیریانو. (قرطبي ۱۰)

فَلَا يَمْلِكُونَ كَشْفَ الضُّرِّ: (حاشیه) د رالکولو نه نو مراد پس واخلی لرې کول د لیکلو مقرر تکلیف لکه مرض، فقر، قحط وغیره او نه د دے مالکان دي چې د یو ځائے نه نقل کړي بل ته (اوګوره روح ۱۵، مدارک ۲، ابو السعود ۲)

أُولَٰئِكَ: هغه کسان چې دوی ورته رالبلي، وشي والي او خوی رب ته. الْوَسِيلَةَ: قربت په طاعت او عبادت سره - وګوره ابن کثیر ۳، ابو السعود ۲، روح ۱۵، سراج منیر ۲ - فائده ۱۲: د وسیلے ضروري بحث د سورة مائده په ۳۵ آیت باندې ذکر شوے دے - وَإِن مِّن قَرْيَةٍ: دلته تخویف دے مشرکانو لره ۲، په وخت د عذاب کښې ئې

خیل نه وسیله قربت او حاجت غواړي کوم نیکو دوی نه زیات نزدې دے رب خپل ته - الْوَسِيلَةَ: قربت په طاعت او عبادت

معبودان نشي خلاصولے. شاه عبد القادر رحمه الله لیکي: دغه بنار خلق دي مقرر کړي بزرګان عبادت کوي چه مونږه
ذ دوی په رعیت کښ یو. دوی په پټ ذ کڅر ذ خو په رحمت راشلو بیا هیڅوک پناه نشي ورکولے. (جواهر ص۳۴۳).

دُونِهٖ فَلَا یَمْلِكُوْنَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَا تَحْوِیْلًا ﴿۵۶﴾

نه سوا ددې نه پس نه لري اختیار دوی ذ لرې کولو د ضرر ستاسو نه او نه ذ بدلولو.

اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ یَبْتَغُوْنَ اِلٰی رَبِّهِمُ

دوی هغه کسان دي چه دوی غواړي دوي دوي رب خپل ته

الْوَسِیْلَةَ اَیُّهُمْ اَقْرَبُ وَیَرْجُوْنَ رَحْمَتَهٗ

نزدې والے چه کوم یو ددوی نه زیات نزدې وي او امید ساتي د رحمت د الله نه

وَیَخَافُوْنَ عَذَابَهٗ ؕ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ

او ویریږي د عذاب د هغه نه. یقینا عذاب د رب ستا دے

مَحْذُوْرًا ﴿۵۷﴾ وَاِنْ مِّنْ قَرْیَةٍ اِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوْهَا

د ویرې کړے شوے. او نشته هیڅ یو کلے والا مګر مونږ به هلاک کوو ددغه

قَبْلَ یَوْمِ الْقِیٰمَةِ اَوْ مُعَذِّبُوْهَا عَذَابًا شَدِیْدًا ؕ

مخکښ د ورځې د قیامت نه او عذاب ورکوو به دوی ته عذاب سخت

كَانَ ذٰلِكَ فِی الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ﴿۵۸﴾ وَمَا مَنَعَنَآ

دے دا خبره په کتاب کښ لیکلے شوے. او نه دي منع کړي مونږ لره

اَنْ نُّرْسِلَ بِالْاٰیٰتِ اِلَّآ اَنْ كَذَّبَ بِهَا

د رالیږلو د معجزو نه مګر دې خبرې چه دروغ ګڼلي دي دغه

الْاَوَّلُوْنَ ؕ وَاٰتَیْنَا ثَمُوْدَ النَّاقَةَ مُبْصِرَةً فَظَلَمُوْا

مخکنو خلقو. او ورکړې وه مونږ قوم د ثمود ته اوښه ښکاره دلیل پس ظلم وکړو دوی

بِهَا ؕ وَمَا نُرْسِلُ بِالْاٰیٰتِ اِلَّا تَخْوِیْفًا ﴿۵۹﴾ وَاِذْ

په هغې باندې. او نه رالیږو مونږ معجزې مګر د پاره د ویرولو. او کله چه

قُلْنَا لَكَ اِنَّ رَبَّكَ اَحَاطَ بِالنَّاسِ ؕ وَمَا جَعَلْنَا

ووئیل مونږ تا ته یقینا رب ستا احاطه کړې ده خلقو باندې. او نه دے ګرځولے مونږ

الرُّءْیَا الَّتِیْۤ اَرَیْنٰكَ اِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ وَالشَّجَرَةَ

هغه ننداره چه تا ته مو ښودلې وه مګر ازمیښت د خلقو د پاره او هغه ونه

وَمَا عَطٰٓئُكَ مِنْهُ: دوی ته خدای نه
علاوه پورته وي په دغه د سورت ذ
تعلیم القرآن صفحه فرمائي چه په
دیکښ دوه اصل وي چه خداوند
حق داره د عذاب دي چه هغه انکار
د معجزاتو نه دي. (صوله، ص)
چه پس کښ شبه کښ شي دی
انکاره معجزاتو سبب د عذاب ذ
۲: واقعه د اوم علیه السلام او شیطان
سرکشي ص۳: عقلي دلیل او زجر
مشرکانو لره ص۵. ۴: تخویفات
د نیوي ص۶. ۵: بشارت او
تخویف اخروي ص۷. تخصیص
په تبلیغ وعید وعده لعنت نه ذ ته
ته. اِلَّا تَخْوِیْفًا: او نه رالیږو
مونږ معجزې مګر د پاره ذ
ویرې ورکولو. (قب ص) لیکي
چه تخویف د شدت عذاب تعجیل
ورکول دي په دغه باندې تنوینه
(مفردات ص). وَمَا جَعَلْنَا الرُّءْیَا:
او نه دے ګرځولے مونږ کتابه او رایه
هغه چه لعنت کړے شوې په قرآن
کښ مګر امتحان د پاره د خلقو.
د لته یو اشکال رازی چه صحیح خبره
داده چه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم معراج
په روح او بدن دواړو سره حالت
د بیده ارۍ کښ وو. نو د لته خنګه
ورته رؤیا ووئیلے شوه؟ نو جواب
داوے چه رؤیا اګرچه د خوب
په معنی راځي لاکن د لته قرینه مراد
واقعه عجیبه ده چه د بید ارۍ په حالت
کښ نه لیدلے وه. د کور د معارف القرآن
ما جدي کښ د لته د عکرمه حواله
لیکي چه واقعه عجائب وو چه په شپه
د اسراء کښ لیدلي وو. رشته فی اینا نه
هم چه یو نا آشنا کار وو پس نو واقع
شوے د خوب لیدل وو. دویم اشکال داوے چه اَلشَّجَرَةَ الْمَلْعُوْنَةَ: واو جعلنا مفعول په اول دے نو دویم مفعول نے
څه شو؟ جواب داوے چه د لته تقدیم او تاخیر دے. واو عطف په الرؤیا دے او فتنة په معنی کښ مونږ هم دے او
دویم مفعول د دوی دے. خنګه چه معنی کښ ورته اشاره شوے ده. وګورئ مدارک ص۲۱، قرطبي ص۲۸. کلا ورویه عسه

سه امتحان کولو چه ونه په دوزخ کښې شنه څنګه شو کیدې شي نو جواب دا دے چه معجزه ګرځولې ده امتحان د پاره
د خلقو. د دغې ونې ذکر ... صفت ... د بعث کښی د ... لَأَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُ: ... سم، بیخ ... سم د

الْمَلْعُوْنَةَ فِي الْقُرْاٰنِ ؕ وَ نُخَوِّفُهُمْ ۙ فَمَا يَزِيْدُهُمْ اِلَّا

هغه ونه چه بیان شوې ده په قرآن کښې، او ویروو دوی لره، پس نه زیاتوي دوی لره مګر

طُغْيَانًا كَبِيْرًا ﴿٦٠﴾ وَ اِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ

سرکشي لویه. او کله چه وویل مونږ ملائکو ته چه سجده وکړئ آدم ته،

فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ قَالَ ءَاَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقْتَ

پس سجده وکړه دوی، مګر ابلیس ونکړه، وې ویل: آیا سجده وکړم هغه چا ته چه پیدا کړې تا له

طِيْنًا ﴿٦١﴾ قَالَ اَرَءَيْتَكَ هٰذَا الَّذِيْ كَرَّمْتَ عَلَيَّ ؗ

خټې نه. وې ویل: خبر راکړه ما ته دا هغه سړی دے چه تا عزتمند کړ په ما

لَئِنْ اَخَّرْتَنِ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَاَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهٗ

که ما ته ځنډ راکړې تر ورځې د قیامت پورې، نو زه به ضرور له بیخه وباسم اولاد دده

اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٦٢﴾ قَالَ اذْهَبْ فَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ

مګر لږ. وویل الله تعالی: ولاړ شه، پس چا چه تابعداري وکړه ستا، د دوی نه،

فَاِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ جَزَآءً مَّوْفُوْرًا ﴿٦٣﴾ وَ

پس یقیناً دوزخ بدله ستاسو ده، بدله پوره کړې شوې. او

اسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ بِصَوْتِكَ وَ

راوخوځوه هغه څوک چه توان رسي ستا، د دوی نه په آواز خپل، او

اَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَ رَجِلِكَ وَ شَارِكْهُمْ

راولیږه په دوی باندې سواره خپل، او پیاده خپل، او شریک شه د دوی سره

فِي الْاَمْوَالِ وَ الْاَوْلَادِ وَ عِدْهُمْ ؕ وَ مَا يَعِدُهُمُ

په مالونو، او اولادو کښې، او وعدې کوه د دوی سره. او وعده نکوي د دوی سره

الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا ﴿٦٤﴾ اِنَّ عِبَادِيْ لَيْسَ لَكَ

شیطان، مګر د دهوکې. یقیناً بندګان خما، نشته تا لره،

عَلَيْهِمْ سُلْطٰنٌ ؕ وَ كَفٰى بِرَبِّكَ وَكِيْلًا ﴿٦٥﴾

په دوی باندې، غلبه، او کافي دے رب ستا، کارساز.

رکوع ۷ ... (margin)

اولاد د ده له ګه وباسي: احتنك
الجراد ما على الارض كله
چه ختم کړه ملخانو هغه چه
په زمکه وو هغه ول: کله چه تول
وخوري. (غریب القرآن ۲۵۹)
یقینًا: ... دے آیت کریمه کښې
د ابلیس د ګمراه کولو خلقو له
بېخله طریقې دي: اول په آواز خپل
سره او آواز د ابلیس هر هغه
داعي دے چه دعوت ورکوي
نافرماني د الله ته او غنا
کانا بجانا، لهو او لعب پکښې هم
شامل دي. وګورئ قرطبي ...
معارف ... دوېمه طریقه
وَاَجْلِبْ عَلَيْهِمْ ...: او راوچلوه
په دوی باندې سواره خپل او پیاده
خپل. مراد ترینه هر سور او
پیاده لښکر دے د نافرمانۍ د
الله تعالی ته که انسان دی او که
پیری. پس دغه زیات لوا د
سوارو د شیطان نه دي (وګورئ
جصاص ...) دریمه طریقه او
شاورهم: شریك شه ورسره
په مالونو او اولاد کښې. په مال
کښې شرکت دا دے چه د غیر الله
نذرونه مني او معاصیو کښې ئې
لګوي، او په اولاد کښې شرکت
دا دے چه شرکي نومونه ورله
ږدي او د هغوی د حفاظت د پاره
مشرکانه رسمونه کوي. وګورئ
موضح القرآن ... او معارف القرآن
...)، وَعِدْهُمْ: او وعده ئې
ورسره کوه د خلاصید لو په شرکي
طریقې سره. وَمَا يَعِدُهُمُ
الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا: او وعده

نکوي د دوی سره شیطان مګر د دهوکې. وګورئ نساء ۱۲۰، ابراهیم ۲۲. دا پنځمه طریقه د شیطان
د ګمراه کولو د خلقو لره ده.

رَبُّكُمُ الَّذِیْ یُزْجِیْ لَكُمُ الْفُلْكَ فِی الْبَحْرِ لِتَبْتَغُوْا
رب ستاسو هغه دے چې چلوي تاسو لره کشتۍ په دریاب کښې، چې ولټوئ تاسو،
مِنْ فَضْلِهٖؕ اِنَّهٗ كَانَ بِكُمْ رَحِیْمًا ۶۶ وَ اِذَا مَسَّكُمُ
د فضل د الله نه، یقیناً الله دے په تاسو باندې مهربان ښه. او کله چې ورسیږي تاسو ته
الضُّرُّ فِی الْبَحْرِ ضَلَّ مَنْ تَدْعُوْنَ اِلَّاۤ اِیَّاهُۚ
ضرر په دریاب کښې، ورکیږي هغه چې بلئ تاسو سوا د الله تعالیٰ نه،
فَلَمَّا نَجّٰىكُمْ اِلَى الْبَرِّ اَعْرَضْتُمْؕ وَ كَانَ الْاِنْسَانُ
پس هر کله چې خلاص کړي تاسو لره وچې ته نو مخ اړوئ تاسو (د توحید نه) او دے انسان
كَفُوْرًا ۶۷ اَفَاَمِنْتُمْ اَنْ یَّخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ الْبَرِّ
ناشکره. آیا بې وېرې یئ تاسو، چې ننوځي تاسو لره الله په طرف د وچې زمکې کښې،
اَوْ یُرْسِلَ عَلَیْكُمْ حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوْا لَكُمْ وَكِیْلًا ۶۸
او یا او لیږي په تاسو باندې باران د کاڼو بیا به ونه مومئ تاسو د ځان دپاره، ذمه دار.
اَمْ اَمِنْتُمْ اَنْ یُّعِیْدَكُمْ فِیْهِ تَارَةً اُخْرٰى فَیُرْسِلَ
آیا بې وېرې یئ تاسو چې واپس به بوځي تاسو لره په دریاب کښې بل ځلې، پس را به لیږي،
عَلَیْكُمْ قَاصِفًا مِّنَ الرِّیْحِ فَیُغْرِقَكُمْ بِمَا كَفَرْتُمْ ۙ ثُمَّ لَا
په تاسو باندې تیزه ماتوونکې سیلۍ. پس ډوب به کړي تاسو لره په سبب د کفر ستاسو،
تَجِدُوْا لَكُمْ عَلَیْنَا بِهٖ تَبِیْعًا ۶۹ وَ لَقَدْ
بیا به ونه مومئ تاسو د ځان دپاره په مونږ باندې په دې باندې تاوان غوښتونکے. او یقیناً
كَرَّمْنَا بَنِیْۤ اٰدَمَ وَ حَمَلْنٰهُمْ فِی الْبَرِّ وَ
مونږ عزت ورکړے اولاد د آدم ته، او سواره کړي مونږ دوی لره، په وچه، او
الْبَحْرِ وَ رَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّیِّبٰتِ وَ فَضَّلْنٰهُمْ
دریاب کښې، او روزي مونږ ورکړې دوی ته د پاکیزه رزقونو نه، او غوره کړي مونږ دوی،
عَلٰى كَثِیْرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِیْلًا ۷۰ یَوْمَ
په ډیرو د هغو نه چې پیدا کړي دي مونږ، په غوره والي سره. کله چې
ع ۷

ضَلَّ مَنْ تَدْعُوْنَ اِلَّاۤ اِیَّاهُ، حافظ ابن کثیر رحمه الله ذکر کړي دي حاصل ئے دا دے چې کله عکرمه رضي الله عنه د فتح په وخت حبشې ته تښتیدو او کشتۍ کښې سور شو، تیزه سیلۍ راغله بعض خلقو ورته وویل چې نشي خلاصولے تاسو لره مګر دا چې خفه وکړئ یو الله تعالیٰ ته نو دوی په زړه کښې وویل چې هر کله په دریاب کښې بل څوک نفع نشي ورکولے نو په وچه کښې هم غیر د الله هم نه بل څوک نفع نشي ورکولے یا الله تا لره په ما باندې عهد دے که ته د وړ ولیستم د دریاب نه نو خامخا زه به اولاس به په لاس د محمد ﷺ کښې کېدم او خامخا به ئے نرمي کوونکے رحیم کوونکے بیا مومم چې را ووتل د دریاب نه واپس شو رسول الله ﷺ ته پس اسلام ئے راوړو او ښه ئے کړو اسلام خپل، رضي الله عنه و ارضاه (منه). حَاصِبًا: سیلۍ کاڼي وروونکې. (تشریح القرآن ۲)

قَاصِفًا مِّنَ الرِّیْحِ: تیزه سیلۍ چې ونې ماتوي. (غریب القرآن ص ۲۵۹)

بِاِمَامِهِمْ: په مشهور قول سره دَ دوی سره اوځي مقتدا او پیشوا دَ دوی سره - ۱۲ یس، ۱۸ هود، ۱۲۳ بقره، ۱۳ الم سجده، وګورئ معارف ۴۹۶/۵ - وَمَنْ كَانَ فِي هٰذِهٖ أَعْمٰى: او څوک چه په روند وئ دَ عبرت حاصلولو او دَ لیدلو دَ حق او دَ قرآن نه - وګورئ طٰهٰ ۱۲۳.

فائده: اول به روند راپاڅي بیا به ترینه روندوالے لرے شي چه احوال دَ قیامت او دوزخ ښه وګوري - وګورئ ق ۲۲، مریم ۳۸.

وَاِنْ كَادُوْا: تیزي وړکول دَي په تبلیغ او منعه دَ دوی دَ بلهئ او ډیرے امور دی ۱۴۳ - وګورئ قلم ۹، یونس ۱۵، حٰم سجده ۲۶ - ضِعْفَ الْحَيٰوةِ: ځکه چه دَ مقربانو دَ دربار محمول غوښتی غلطی لویه ګڼلے شي (معارف ۵۰۳) وګورئ احزاب ۳۰ - وَاِنْ كَادُوْا لَيَسْتَفِزُّوْنَكَ: دوی کوښښ نه وو په مکه کښے دا ده چه اخراج الرسل، سبب دَ عذاب دے (مظهری ۵۰۰) خلاصه: څلور خبرے دی: اول ذکر شرو، دویم څلور اصول مصطلحہ ۸۲ ۸۶ ۸۸ - دریم ترغیب قرآن کریم نه ۴۱، ۸۹ - څلورم زواجر ۹۳ ۹۴ ۹۵ ۹۶ ۹۷ - پنځم تخویف ۹۸ ۱۰۱ - شپږم دلیل عقلی ۱۱۱ - سُنَّةَ مَنْ: ځکه چه دَ الله تعالیٰ دا قانون په ځمکه کښے چه هغوی سزا ورکوي (مظهری ۵۰۲)

اِنَّ قُرْاٰنَ الْفَجْرِ: (حاشیه دَ راتلونکی مخ ۷۸): یعني مونځ دَ سبا ته حاضریږي ملائک دَ شپے او ملائک دَ ورځے ځکه

يَوْمَ نَدْعُوْا كُلَّ اُنَاسٍۢ بِاِمَامِهِمْ ۚ فَمَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ

(ورځ چه راوبلو مونږ ټول خلق په امام دَ دوی سره، پس هغه څوک چه ورکړے شي ورته کتاب دَ هغه)

بِيَمِيْنِهٖ فَاُولٰٓئِكَ يَقْرَءُوْنَ كِتٰبَهُمْ وَلَا يُظْلَمُوْنَ

(په ښي لاس دَ هغه، پس دغه کسان به لولي کتاب دَ دوی او ظلم به پرے نشي په اندازه دَ)

فَتِيْلًا ﴿۷۱﴾ وَمَنْ كَانَ فِيْ هٰذِهٖٓ اَعْمٰى فَهُوَ فِي

(تار دَ زړي، او څوک چه وي په دے دنیا کښے روند دَ قرآن نه، پس هغه به په)

الْاٰخِرَةِ اَعْمٰى وَاَضَلُّ سَبِيْلًا ﴿۷۲﴾ وَاِنْ كَادُوْا

(آخرت کښے روند وي او زیات خطا به وي دَ لارے نه، او نزدے وو دا چه)

لَيَفْتِنُوْنَكَ عَنِ الَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ لِتَفْتَرِيَ

(وښويوي تا لره دَ هغه نه چه وحی کړے مونږ تا ته، چه افترا وتړے ته)

عَلَيْنَا غَيْرَهٗ ۖ وَاِذًا لَّاتَّخَذُوْكَ خَلِيْلًا ﴿۷۳﴾ وَلَوْلَآ

(په مونږ باندے غیر دَ دے، او په دغه وخت کښے به نیولے وے تا لره دوست، او که چرے نه وے)

اَنْ ثَبَّتْنٰكَ لَقَدْ كِدْتَّ تَرْكَنُ اِلَيْهِمْ شَيْئًا

(مضبوط کړے مونږ تا لره، یقیناً نزدے وے چه میلان به دے کړے وے دوی ته، میلان)

قَلِيْلًا ﴿۷۴﴾ اِذًا لَّاَذَقْنٰكَ ضِعْفَ الْحَيٰوةِ وَضِعْفَ

(لږ، په دغه وخت به مونږ څکولے تا لره دوچنده عذاب دَ ژوند او دوچنده عذاب)

الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيْرًا ﴿۷۵﴾ وَاِنْ

(پس دَ مرګ نه، بیا به نه وے مونده تا لره په مونږ باندے مددګار، او نزدے)

كَادُوْا لَيَسْتَفِزُّوْنَكَ مِنَ الْاَرْضِ لِيُخْرِجُوْكَ

(وو دوی چه راولړزوی تا لره دَ مکے دَ ځمکے نه، چه راوباسي تا لره)

مِنْهَا وَاِذًا لَّا يَلْبَثُوْنَ خِلٰفَكَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۷۶﴾

(دَ دے نه، او په دغه وخت به نه شي اوسیدلے وروستو ستا نه مګر لږ وخت)

سُنَّةَ مَنْ قَدْ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنْ رُّسُلِنَا

(طریقه دَ هغه چا چه یقیناً رالیږلي مو وو مخکښے ستا نه، دَ رسولانو خپلو نه)

بو هریره رضی الله عنه دَ نبی علیه السلام نه نقل کوي (قرطبي ۳۰۷) او دَ سحر دَ مونځ نه تعبیر خصوصاً په قرآن سره وکړه دَ نور و ارکانو نه ځکه چه قرآن پکښے اوږدے کړے دے ځکه چه قرائت نے اوږد دے، جهر پرے کولے شي (قرطبي ۳۰۵)

فائده: د دُلُوکِ نه زوال مراد دے. نو دیکښې د ما سپخین ماسپښین ماذیګر، ماښام او ماخوستن مونځونو ته اشاره ده او د قرآن الفجر نه د سحر مونځ مراد دے. وګورئ جواهر ۲۳۳. فَتَهَجَّدْ بِهٖ: پس بے خوابي کوه په قرآن سره. (مظهري ۵/۳). نَافِلَةً لَّكَ: یو معنیٰ دا ده چه فریضه زیاتي ده تا له په نورو فرائضو (خازن ۴/۱۷۰) بله معنیٰ عبادت زیاتي دے تا له (مظهري ۲۳) بله معنیٰ دا ده چه تطوع او فضیلت زیاتي دے تا له. جصاص ۳/۲۰۷. بله معنیٰ دا ده کرامت زیاتي دے تا له. (قرطبي ۱۰/۳۰۸)

فائده: په نفل کولو د امت ګناهونه معاف کیږي او د نبي ﷺ درجے پورته ز یاتیږي ځکه چه هغه مغفور دے او خطاب نبي ﷺ ته د درجے د شرافت د وجه نه دے. وګورئ قرطبي ۳۰۸. معارف ۵۱۳. مَقَامًا مَّحْمُوْدًا: مقام ستائلي شوي ته جمهور علماء فرمائي چه دا مقام د شفاعت کبرىٰ دے (مدارک ۲۳۹) جواهر ۲۳۳ معارف ۵۱۵ کوم چه د اذان نه بعد دُعا کښې دي: وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا الَّذِيْ وَعَدْتَّهٗ. (مشکوٰة ۶۵) وَقُلْ رَّبِّ اَدْخِلْنِيْ: د مکے مکرمے نه د تلو په وخت کښې دا دُعا وايه (جواهر ۲۳۳) کثیر معنی دي خو ابن عطیه غوره کړے ده چه دا عام دے په ټولو کارونو کښې (تسهیل ۲/۱۷۷) وَقُلْ جَآءَ الْحَقُّ: دا د غلبے د اسلام بشارت او پیشګوئي ده کومه چه الله په فتح مکه سره پوره کړه. (جواهر ۲۳۳) وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ: ترغیب دے قرآن ته او د ده مومنانو د پاره منور ذکر کوي او حکمت د نزول دے دے چه شفا

وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِيْلًا ﴿۷۷﴾ اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ

او نه به مومې ته زمونږ په طریقه کښې بدلون. قائموه مانځه لره د زوال د

الشَّمْسِ اِلٰى غَسَقِ الَّيْلِ وَقُرْاٰنَ الْفَجْرِ ۖ اِنَّ

نمر نه تر تیارے د شپے پورے، او مونځ د صبا لره، یقینًا

قُرْاٰنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا ﴿۷۸﴾ وَمِنَ الَّيْلِ فَتَهَجَّدْ

قرآن لوستل د صبا، دي حاضرکړے شوے ملائکو. او د یو برخے نه د شپے تهجد کوه

بِهٖ نَافِلَةً لَّكَ ۖ عَسٰٓى اَنْ يَّبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا

په ده سره زیاتي ده تا له. نزدے ده چه ودروي تا رب ستا، خائے

مَّحْمُوْدًا ﴿۷۹﴾ وَقُلْ رَّبِّ اَدْخِلْنِيْ مُدْخَلَ صِدْقٍ

ستائلي شوي ته. او وایه: اے ربه! ننه باسه ما لره په داخلیدو رښتینو سره

وَّاَخْرِجْنِيْ مُخْرَجَ صِدْقٍ وَّاجْعَلْ لِّيْ مِنْ لَّدُنْكَ

او وباسه ما لره په ایستلو رښتینو سره، او وګرځوه ما لره د دربار خپل نه

سُلْطٰنًا نَّصِيْرًا ﴿۸۰﴾ وَقُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ ۖ

غلبه امداد کوونکے. او وایه راغئ حق او ورک شو باطل،

اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا ﴿۸۱﴾ وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ

یقینًا باطل دے ورکیدونکے. او نازلوو مونږ د قرآن نه

مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۙ وَلَا يَزِيْدُ

هغه څه چه هغه شفا دي او رحمت د پاره د مومنانو، او نه زیاتوي

الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا ﴿۸۲﴾ وَاِذَآ اَنْعَمْنَا عَلَى

ظالمانو لره مګر تاوان. او کله چه انعام وکړو مونږ په

الْاِنْسَانِ اَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ۚ وَاِذَا مَسَّهُ

انسان باندې نو اعراض وکړي او جدا کوي اړخ خپل، او کله چه ورسیږي ده ته

الشَّرُّ كَانَ يَـُٔوْسًا ﴿۸۳﴾ قُلْ كُلٌّ يَّعْمَلُ عَلٰى شَاكِلَتِهٖ ۖ

تکلیف نو دي نا امیده. او وایه: هر یو عمل کوي په خپل طریقے سره،

او رحمت دے او د ضدي او عنادي د پاره نقصان او تاوان زیاتوي. ۵۷ یونس، ۴۴ حٰمٓ سجده وګورئ. او ۲۶ بقره، ۳۱ مدثر هم وګورئ. وَاِذَآ اَنْعَمْنَا: د دے ځائے نه زواجر شروع شو. ۲۱ یونس ۱۰ هود وګورئ.

﴿وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ﴾ : په دے ایت کښې زجر دے په عنادي سوال باندې . د پښتو شیخ رحمه الله فرمائي ، دا
مشرکان ستاسو نه د روح (ساه) د حقیقت تپوس کوي خو دا دے ځنه ضرورت دے ؟ ستاسو د صداقت او رښتیني

فَرَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَنْ هُوَ أَهْدَىٰ سَبِيلًا ﴿٨٤﴾ وَيَسْأَلُونَكَ
پس رب ستاسو ، ښه پوهېږي په هغه چا چې هغه ښه سموونکي دلارے دے ، او تپوس کوي دوی ستا نه
عَنِ الرُّوحِ ۖ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتِيتُم
د روح په باره کښې ، ووايه روح د حکم د رب ځما نه دے ، او نه دے درکړے شوے تاسو ته
مِّنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٨٥﴾ وَلَئِن شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ
د علم نه ، مګر لږ . او که چرته وغواړو مونږ ، خامخا یقیناً بوځو
بِالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهِ عَلَيْنَا
هغه څه چې وحې کړے مونږ ، تاته ، بیا به نه مومې ، د خپل ځان د پاره په دے ، په مونږ
وَكِيلًا ﴿٨٦﴾ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ إِنَّ فَضْلَهُ كَانَ
ذمه وار ، (نه بوځو) مګر د رحمت د رب ستا نه ، یقیناً فضل د هغه ، دے
عَلَيْكَ كَبِيرًا ﴿٨٧﴾ قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنسُ وَ
په تا باندې لوئی . ووايه که چرے ، راجمع شي ، انسانان ، او
الْجِنُّ عَلَىٰ أَن يَأْتُوا بِمِثْلِ هَٰذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ
پیریان ، په دے چې ، راوړي ، په مثل د دے ، قرآن ، را به نه وړي
بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا ﴿٨٨﴾ وَلَقَدْ
په مثل د دے ، او که چرته شي ، بعض د دوی ، د بعضو د پاره ، امداد ورکونکي ، او یقیناً
صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ مِن كُلِّ مَثَلٍ
بیا بیا مونږ بیان کړے دی خلقو له ، په دے ، قرآن کښې ، د هر قسم ، مثال نه ،
فَأَبَىٰ أَكْثَرُ النَّاسِ إِلَّا كُفُورًا ﴿٨٩﴾ وَقَالُوا لَن
پس انکار کړے دے ډیرو د خلقو نه ، سوا د ناشکرۍ نه ، او وایې دوی ، هیچرے
نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفْجُرَ لَنَا مِنَ الْأَرْضِ
ایمان نه راوړو ستا باندې ، تر څو چې روانه کړې ، مونږ له ، د زمکې نه ،
يَنبُوعًا ﴿٩٠﴾ أَوْ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَعِنَبٍ
چینه ، او یا شي ، تا له ، باغ ، د کجورو ، او انګورو نه

ثابتولو او د اعجز کولو د پاره معجزه د اسرا د کافي نه ده ؟ او دیا قرآن په خانګه څېل ډیره زیاته بلکه د ټولو نه لویه معجزه ده چې د هغې حضرت ﷺ د ټولو نه لوئے دلیل دے . قرآن داسے بے نظیر معجزه ده چې که چرے ټول پیریان او انسانان یو ځائے شي هم د دے مقابله وکړي نو د دے مثل نشي پیش کولے . دا سوال د یهودو د مشرانو په ښودنه مشرکینو د مکے کړے ؤ . په جواب کښې صرف دا او فرمایل چې روح یو امر ربي دے چې د الله تعالیٰ د حکم نه ظاهر شي . یا مطلب دا دے چې دا داسے یو څیز دے چې د دے علم الله پورے خاص دے او د الله نه سیوا د دے حقیقت لا څوک نه پیژني . (جواهر ص ٤٣١ ، جمل ص ٦٣٤ ، تسهیل ص ٤٩ ، مدارک ج ٢) وغیره وګورئ . ﴿إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ﴾ : لاکن نه غواړو دا د وجے د رحمت د رب ستا نه . (قرطبي) ﴿لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ﴾ : را نه شي وړے ، مثل د دے په بلاغت او ښائسته نظم او تالیف د دے کښې . (مدارک ج ٢) ﴿وَقَالُوا لَن نُّؤْمِنَ﴾ : د دے نه تر ... پورے زجر دے په فرمائشي معجزو غوښتلو باندې او د ایتونو کښې دا نو ذکر دے . ﴿وَلَن نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ﴾ : او هیچرے مونږ به نه منو ستا ختلو لره (روح المعاني)
ترو تو چې را نه دے نازل کړے په مونږ باندې لیکلے شوے کتاب هر یو ته زمونږ چه
چه مونږ به دے ولولو . (قرطبي ١٣٣/٥) .

فَتُفَجِّرَ الْاَنْهٰرَ خِلٰلَهَا تَفْجِيْرًا ﴿٩١﴾ اَوْ تُسْقِطَ السَّمَآءَ

بیں روانے کړے ورے په منځ د هغو کښې په روانولو سره ۔ او یا راوغورځوے ته د اسمان نه

كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا اَوْ تَاْتِيَ بِاللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ

ټکړے ټکړے لکه چه ګومان کړے په مونږ باندے ټکړے، او یا راوړے الله تعالیٰ او ملائکے

قَبِيْلًا ﴿٩٢﴾ اَوْ يَكُوْنَ لَكَ بَيْتٌ مِّنْ زُخْرُفٍ اَوْ

مخامخ ۔ او یا دی وي تا لره کورونه د سرو زرو، او یا

تَرْقٰى فِي السَّمَآءِ ۭ وَلَنْ نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتّٰى

وخیژے ته اسمان ته ۔ او هیچرے یقین نه کوو مونږ په ختلو ستا، تر دے چه

تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتٰبًا نَّقْرَؤُهٗ ۭ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّيْ هَلْ

نازل کړے په مونږ باندے کتاب چه ولولو مونږ هغه، ووایه پاکي ده رب لره زما، نه یم

كُنْتُ اِلَّا بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴿٩٣﴾ وَمَا مَنَعَ النَّاسَ اَنْ

زه مګر بشر پیغمبر شوے ۔ او نه دی منع کړی خلقو لره د ایمان

يُّؤْمِنُوْٓا اِذْ جَآءَهُمُ الْهُدٰٓى اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اَبَعَثَ

راوړلو نه، کله چه راغلی دوی ته هدایت، مګر د ویلو نه چه وائی دوی، آیا لیږلے

اللّٰهُ بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴿٩٤﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ فِي الْاَرْضِ

الله تعالیٰ بشر استازے ۔ ووایه که چرے وے، په زمکه کښې

مَلٰٓئِكَةٌ يَّمْشُوْنَ مُطْمَئِنِّيْنَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ

ملائک چه تګ کړی په آرام سره (او سیدلے)، نو خامخا نازل کړے به مونږ په دوی باندے

مِّنَ السَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُوْلًا ﴿٩٥﴾ قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ

د اسمان نه ملائک استازے ۔ ووایه کافی دے الله تعالیٰ

شَهِيْدًۢا بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۭ اِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرًۢا

ګواه کوونکے په مینځ زما او په مینځ ستا کښې یقیناً الله تعالیٰ دے په بندګانو خپلو خبردار

بَصِيْرًا ﴿٩٦﴾ وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۚ وَمَنْ

لیدونکے ۔ او هغه څوک چه هدایت ورکړی الله تعالیٰ، نو هم دغه هدایت موندونکے دے، او هغه څوک چه

قُلْ سُبْحٰنَ رَبِّيْ: دا د هغوئ جواب دے لکه د پښتو متل دے شل پاچم ډیوالی. حاصل د جواب دا دے چه دا څیزونه په اختیار کښې نه دی، ځکه نه یم مګر انسان لیږلے شوے. وګورئ ۵۰ انعام، ۳۸ رعد، ۷۸ مؤمن. وَمَا مَنَعَ النَّاسَ: دا حکم زجر دے په نه منلو د بشر رسول په ۹۵ آیت کښې جواب دے او په ۹۶ کښې هم جواب دے چه الله تعالیٰ کافی دے ګواه زما او ستاسو په مینځ کښې. وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ: د اثبات د رسالت نه بعد د منونکو او نه منونکو ذکر دے او نه منونکو د پاره تخویف دے. كُلَّمَا خَبَتْ: (حاشیه د راتلونکی مخ ۳۶۵) دلته سوال رازی چه دوزخ په عذاب کښې خو سړیکولے نه راځی بلکه زیاتیږی. وګورئ ۱۵۳ بقره، ۸۸ نحل. جواب دا دے چه دلته د خَبَتْ معنیٰ دا نه ده چه کم شی دا اور ـــ شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل هر کله چه لوږے اندازے ته ورسیږی نو زیات به کړم دوی لره سوزول اور. په آیت ۹۸ کښې د دوه سببونه د عذاب د دوی ذکر کړی دی. اَوَلَمْ يَرَوْا اَعْلاه: په دے آیت کریمه کښې دلیل عقلی دے د پاره د توحید او جواب دے منکرینو د قیامت نه. ۸۱ یٰسٓ، ۳۳ احقاف هم وګورئ. قُلْ لَّوْ اَنْتُمْ: په دے آیت کریمه کښې عاجزی د مخلوقاتو ذکر کوی چه

دَ خزانو مالک اللّٰه تعالٰی دے خو تاسی نه یئ۔ ... الحجر۔ که بالفرض تاسو ما لکان دَ خزانو شئ نو خرڅه به نکړئ دَ ویرے نه چه خلاص به شی۔ قَتُوۡرًا: کنجوس او بخیل (جواهر)۔ تنګ زړے بخیل۔ (غریب القرآن ...)۔

يُّضۡلِلۡ فَلَنۡ تَجِدَ لَهُمۡ اَوۡلِيَآءَ مِنۡ دُوۡنِهٖ ؕ وَنَحۡشُرُهُمۡ

بے لارے کړی، پس هیچرې به بیا ونه مومے ته دوی لره دوستان (مددګاران) سوا دَ الله تعالٰی نه، او راجمع به کړو مونږ دوی لره

يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ عَلٰى وُجُوۡهِهِمۡ عُمۡيًا وَّبُكۡمًا وَّصُمًّا ؕ

په ورځ دَ قیامت، په مخونو دَ دوی، ړانده، او ګونګیان، او کاڼه

مَاۡوٰٮهُمۡ جَهَنَّمُ ؕ كُلَّمَا خَبَتۡ زِدۡنٰهُمۡ سَعِيۡرًا ۝97

ځائے دَ اوسیدو دَ دوی دوزخ دے، هر وخت چه سوړ شی اور ... زیاته به کړو دوی لره تیز اور۔

ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمۡ بِاَنَّهُمۡ كَفَرُوۡا بِاٰيٰتِنَا وَقَالُوۡۤا

دغه بدله دَ دوی ده، په سبب دَ دې چه دوی کفر کړے و په آیتونو زمونږ او وئیل دوی چه

ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّرُفَاتًا ءَاِنَّا لَمَبۡعُوۡثُوۡنَ خَلۡقًا

کله چه شو مونږ هډوکی او ریزه ریزه، آیا مونږ به بیا راپاڅولے شو ... پیدا ئش

جَدِيۡدًا ۝98 اَوَلَمۡ يَرَوۡا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِىۡ خَلَقَ

نوے سره۔ آیا نه ګوری دوی چه یقیناً الله هغه ذات دے چه پیدا کړی ئې

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ قَادِرٌ عَلٰٓى اَنۡ يَّخۡلُقَ مِثۡلَهُمۡ

آسمانونه، او زمکه، قادر دے په دې چه پیدا کړی مثل دَ دوی

وَجَعَلَ لَهُمۡ اَجَلًا لَّا رَيۡبَ فِيۡهِ فَاَبَى الظّٰلِمُوۡنَ

او مقرر کړے ئې دے دوی لره نیټه، شک نشته په هغې کښې، پس انکار وکړو ظالمانو

اِلَّا كُفُوۡرًا ۝99 قُلۡ لَّوۡ اَنۡتُمۡ تَمۡلِكُوۡنَ خَزَآئِنَ

سوا دَ ناشکرئ نه۔ ووایه ته که چرے تاسو مالکان وئ دَ خزانو

رَحۡمَةِ رَبِّىۡۤ اِذًا لَّاَمۡسَكۡتُمۡ خَشۡيَةَ الۡاِنۡفَاقِ ؕ وَ

دَ رحمت دَ رب زما، په دې صورت کښې به ... ساتلے، دَ ویرے دَ خرچ کولو نه، او

كَانَ الۡاِنۡسَانُ قَتُوۡرًا ۝100 وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا مُوۡسٰى تِسۡعَ

دے انسان بخیل کونکے۔ او یقیناً ورکړی وو مونږ موسٰی ته نهه

اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ فَسۡـَٔلۡ بَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ اِذۡ جَآءَهُمۡ

معجزے واضحے، پس تپوس وکړه ته دَ بنی اسرائیلو نه، کله چه راغلے وو دوی ته

وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا مُوۡسٰى ...: دَ دے ځائے نه تر آخره پورے خلور حصے دی دَ سورت۔ په دیکښې څلور خبرے شلوردی: ۱: تخلوم اصل ذرا تحلو دَ عذاب چه حضرت استهزاء دی په رسولانو پسے دَ فت ... ۲: صداقت دَ قرآن او دَ رسول او حکمت دَ نزول دَ قرآن دے ... ۳: نقلی دلیل دَ حق په ثبوت اهل کتاب نه ... ۴: بیا اختتام دَ سورت دے په توحید سره ... او دَ شروع دَ سورت سره لګی ... شروع هم په توحید سره شوے وه او ختم هم په توحید سره شو۔ تِسۡعَ اٰيٰتٍ: او یقیناً ورکړے وے مونږ موسٰی علیه السلام ته نهه معجزے ښکاره۔ هغه دَ سورة اعراف ... ایتونو کښې ذکر دی۔ ابن کثیر رحمه الله فرمائی چه هغه همسا او ید بیضاء، او قحط سالی او دَ میوو لږ والے او طوفان او ملخان او سپږې او چنګښې او وینه۔ ... واضحه دے۔ واخبره ابن عباس رضی الله عنهما کړیده ... مَسۡحُوۡرًا: دَ ... محاشیه: جادو کړے مفعول په معنٰی دَ فاعل۔ ... دوکه کړے شوے یا ... کړے شوے وغیره۔ دَ کورتی قرطبی ... لَقَدۡ عَلِمۡتَ: یقیناً ته پوهیږے ... معلومه شوه چه فرعون کفر عنادی کولو لکه سورت نمل ... کښې په راغلی۔ مَثۡبُوۡرًا: هلاک کړے شوے (غریب القرآن ...)، لعنتی کړے شوے ...

مولانا روم رحمه الله فرمائی: ... صاحب ... چه حدیث قدسی کښی راغلی الله تعالٰی فرمائی: مَنۡ عَادٰى لِیۡ وَلِیًّا فَقَدۡ اٰذَنۡتُهٗ بِالۡحَرۡبِ: څوک چه دَ دشمنی کوی زما دَ دوست سره ...

پس ځه ورسره اعلان جنګ کوم. (مشکوٰة ۵۳۱) زخرف ۵۶ دا پېښه ذکر ده. فَأَغْرَقْنَٰهُ پس ډوب مو کړ فرعون او هغه چه کوم ورسره ملګري ؤو هغوئ. ذکر ئې د یونس ۹۰ قصص ۴۰ شعراء ۶۶. وَقُلْنَا مِنۢ بَعْدِهِۦ: په دیکښې

فَقَالَ لَهُۥ فِرْعَوْنُ إِنِّى لَأَظُنُّكَ يَٰمُوسَىٰ مَسْحُورًا ﴿١٠١﴾

پس ووئیلو ده ته فرعون: یقیناً زه ګمان کوم تا ته اے موسیٰ جادو کړے شوی.

قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَ

ووئیل هغه: یقیناً پوهه ئې ته چه نه دی نازل کړی دا دلیلونه مګر رب د اسمانونو او

ٱلْأَرْضِ بَصَآئِرَ وَإِنِّى لَأَظُنُّكَ يَٰفِرْعَوْنُ مَثْبُورًا ﴿١٠٢﴾

زمکې، د پوهې دلیلونه، او یقیناً زه ګمان کوم تا ته اے فرعونه هلاک کړے شوی.

فَأَرَادَ أَن يَسْتَفِزَّهُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ فَأَغْرَقْنَٰهُ وَ

پس اراده ئې وکړه چه راوباسي دوی لره د زمکې نه، پس ډوب مو کړ هغه او

مَن مَّعَهُۥ جَمِيعًا ﴿١٠٣﴾ وَقُلْنَا مِنۢ بَعْدِهِۦ لِبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ

هغه چه ملګري ؤو د هغه سره ټول. او ووئیلو مونږ روستو د هغه نه بنی اسرائیلو ته

ٱسْكُنُوا۟ ٱلْأَرْضَ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ ٱلْءَاخِرَةِ

وسیږئ په زمکه کښې، پس هر کله چه راشي وعده د اخرت

جِئْنَا بِكُمْ لَفِيفًا ﴿١٠٤﴾ وَبِٱلْحَقِّ أَنزَلْنَٰهُ وَبِٱلْحَقِّ

راوبه ولو تاسو لره غونډ. او په حقه نازل کړے مونږ دا قرآن، او په حقه سره

نَزَلَ وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا مُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴿١٠٥﴾ وَ

نازل شوی دے، او نه دے لیږلے مونږ ته مګر زیرے ورکونکے او وېرونکے. او

قُرْءَانًا فَرَقْنَٰهُ لِتَقْرَأَهُۥ عَلَى ٱلنَّاسِ عَلَىٰ مُكْثٍ

قرآن بیل بیل کړے مونږ دا د پاره د دې چه ولولې ته دا په خلقو باندې په دمه دمه،

وَنَزَّلْنَٰهُ تَنزِيلًا ﴿١٠٦﴾ قُلْ ءَامِنُوا۟ بِهِۦٓ أَوْ لَا تُؤْمِنُوٓا۟

او نازل کړے مونږ دا په تدریج سره. ووایه: ایمان راوړئ په دې قرآن او یا ایمان مه راوړئ،

إِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ مِن قَبْلِهِۦٓ إِذَا يُتْلَىٰ

یقیناً هغه کسان چه ورکړے شوی دے هغوئ ته علم مخکښې د دې نه، کله چه لوستے شي قرآن په

عَلَيْهِمْ يَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ سُجَّدًا ﴿١٠٧﴾ وَيَقُولُونَ

دوی باندې، پرېوځي په زنو خپلو باندې سجده کونکي، او وائي دوی،

ذکر د نعمتونو دے په بنی اسرائیلو باندې پس د هلاکت د فرعونیانو نه وګورئ ۱۳۷ اعراف، ۵۹ شعراء، ۲۸ دخان. لِتَقْرَأَهُۥ عَلَى ٱلنَّاسِ: امام رازی رحمه الله فرمائي چه بیل بیل ئې نازل کړے چه یاد ئې اسان شي. (کبیر ۵۲) ۳۲ فرقان وګورئ. يَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ: حاشیه د ۲ تلونکي مخ (۱۵۱) :- آلوسی رحمه الله فرمائي چه مناسب دی چه ورته داخل د عالمانو روح ۱۵/۱۹۷ مائده ۷ وګورئ. آيٰتٍ تَنزِيلًا: هر یو چه ځاني پس الله لره بنا ئست نومونه دي. اعراف ۱۸۰، طٰه ۸، حشر ۲۴. فائده: امام ابو یوسف رحمه الله وائي چه امام ابو حنیفه رحمه الله فرمائیلي دی چه ډېر دی مناسب صیغه د الله تعالیٰ لره ذکر په نومونو د هغه باندې (اقامة البرهان ۲۱۵) واخیره ځکښی د سورت اعراف ۱۸۰ آیت فی الله وګښی هم ذکر شو ورکړ. يَٰصَٰلِحُ تَكَلَّمَ: یو معنیٰ دا ده چه په قراءت د مانځه سره. وګورئ مدارک ۲/۳۱۰، ابن کثیر ۳/۶۹. بله معنیٰ دا ده چه ځنې مشرکو په د مانځه کښې او غذب بی پېښوالے کوی په وخت باندې او لیتهوا په مسجد د وسے کښې لار۲. حدیث کښې د عائشې رضی الله عنها په نقل راغلي چه نازل شوے دا آیت د دعا په باره کښې. تاریخ کبیر ۱۵۱/۱، بخاری شریف ۲/۹۳۹، روح ۱۵/۱۹۳، نشر المرجان ۴/۳۸، قرطبي ۱۰/۳۴۳، مظهري ۵/۵۰۲، جواهر ۹/۴۳۳، الرحمٰن ۱/۴۳۳.

امتیازات

۱: ذکر د صفت عظمت او ځواکونو په تصرف کښې حق د ازدعا اب دے. ۲: معجزه د اسراء ۱۳. ۳: کثیر امور مصلحه او د اوامرو او نواهي د ۲۲. ۴: ذکر صلوات خمسه مع التهجد ۷۸ ته ۸۰. ۵: اداب د دعا ۱۱۰.

(الحمد لله تن بروز جمعه ۸/۵ ۶ بجے ۱۸ شوال ۱۴۲۰ھ ۳. نومبر ۲۲۰۰ بمقام حجره جات حجب فضیلت تفسیر کښې سورة اسراء ختم شو خان غفرله)

سُورَةُ الکهف: وجه د تسمیې په کهف سره دا دے وجے نه دا چه لفظ د کهف پکښې شپږ ځله راغلے دے حواله ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۶، ۱۷، ۲۵. **دعوے د سورت:** ۱: نفی د علم غیب د نیکانو نه مثلا ۔ په دے شلورو لا نل دی (۱۳، ۲۲) ۔ ۲: خساست د دُنیا په ډیرو طریقو سره چه دا دُنیا به واخلے نی ستا سو نه ختمیږی چه د باغ والو نه واخستے شوه دے ۳۲ نه ۔ دوکم وخت به لړ دے د ۴۵ نه ۔ دریم و بال به شی پیا دے هانی د ۴۷ نه رسط المدد هکم

ربطونه: ۱: دهغه سورت سر کښې سُبْحٰنَ ذکر دی او دلته سرکښې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ذکر دے ۔ حاصل وا چه ذات د باری تعالیٰ د نقصانی صفتونو نه پاک دے او کامل صفتونه هغه له ثابت دی ۔ ۲: هغه سورت ختم شو په اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ او دا شروع شو په اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ۔ ۳: یا دو ډیمه حصه ختمه شوه نو او دریمه درعیه کښې شروع و شوه ۔ ۴: هلته ترغیب و هجرت ته نو دلته مثالونه د هجرت ذکر کوی ۔ ۵: کله چه د نزول سوال کړۀ به تسبیح سره او پاک شولو د حضرو و د شرک نه نو حمد د الله تعالیٰ روایه چه و حضرے بلند ی د کمال ته ۔

اجمالی خلاصه: په دے سورت کښې مقدمه ده تر ۸ پورے بیا شلور حصے دی اوله تر ۴۶ پورے دوېمه تر ۵۹ پورے، دریمه تر ۸۲ پورے، څلورمه ۸۳ نه تر ۱۱۰ پورے ۔ دریاستمه ده تر آخره پورے ۔

تفصیل: په مقدمه کښې پنځه خبرے دی ۱: دعویٰ د توحید ده ۔ ۲: حکمت نزول القرآن ۔ ۳: زجر په اتخاذ الولد د شرک ۔ ۴: تسلی ده ۔ ۵: ترغیب د دنیا نه او تخویف د بیوی د شرک ۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ: دے ځائے نه دریمه

سُبْحٰنَ رَبِّنَاۤ اِنْ كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُوْلًا ﴿۱۰۸﴾ وَ

